سره د حوالو او تخریجه

مکمله او مدلله

فتاوی یوسفیه

مشهوره په

ستاسو جدید مسائل او د هغې حل

دریم جلد

تالیف

حضرت مولانا محمد یوسف لدهیانوي رحمه الله

مفتي اعظم پاکستان

تقریظونه

شیخ الحدیث حضرت مولانا

سید شیر علی شاه مدني رحمه الله

سابق شیخ الحدیث دار العلوم حقانیه اکوړه خټک

شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد ادریس صاحب مدظله

شیخ الحدیث دار العلوم نعمانیه اتمانزئی

جدید مکتبه رشیدیه

جاده میوند سر چوک مارکیت مرحوم حاجي حسین گل کابل

0782690850 | 0775681606

بسم الله الرحمن الرحيم

فتاوی یوسفیه

مشهوره په

ستاسو جدید مسائل او دهغې حل

۳

مکمل او مدلل

سره د حوالو او تخریجه

تالیف

حضرت مولانا محمد یوسف لدهیانوی رحمه الله

مفتي اعظم پاکستان

تقریضونه

شیخ الحدیث حضرت مولانا

سید شیر علی شاه مدني رحمه الله

سابق شیخ الحدیث دار العلوم حقانیه اکوړه ختک

شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد ادریس صاحب مدظله

شیخ الحدیث دار العلوم نعمانیه اتمانزئی

د دریم جلد اجمالي فهرست

جدید مکتبه رشیدیه

جاده میوند سر چوک مارکیت مرحوم حاجي حسین گل کابل

0782690850 | 0775681606

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب نوم : ستاسو جدید مسائل او د هغې حل

مؤلف : حضرت مولانا محمد یوسف لدهیانوی رحمه الله

ترجمه کونکي : دار الترجمه عبدالغني مارکیټ پشاور

جلد : دریم

صفحات : ۵۸۴

تاریخ : ۲۰۱۷ء

د چاپ زیار : مولانا سید محمد پرواني

جدید مکتبه رشیدیه

جاده میوند سر چوک مارکیت مرحوم حاجي حسین گل کابل

0782690850 | 0775681606

د کتاب تر لاسه کولو ځایونه

- پشاور
- اکوړه خټک
- کوټه
- پروان
- کندوز
- غزني
- جلال آباد
- قندهار
- بغلان
- لوگر
- خوست

فهرست

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

❖ اذان او اقامت ❖

صفحه	مضمون

❖ دلمانځه شرطونه ❖

مضمون	صفحه

❖ د لمونځ ادا کولو طریقه ❖

مضمون	صفحه

❖ په لمانځه کې څه لوستل پکاردي؟ ❖

صفحه	مضمون

❖ دلاوډ سپیکر استعمال ❖

❖ د جمعې صف جوړول ❖

❖ د امام مسائل ❖

صفحه	مضمون

صفحه	مضمون

❖ مقتدي ❖

مضمون	صفحه

❖ د لمانځه په دوران کې یا وروسته دعا او ذکر ❖

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

❖ د مسبوق او لاحق مسائل ❖

مضمون	صفحه

❖ د لمونځ کونکي مخې ته تیریدل ❖

مضمون	صفحه

❖ په کوم شیا نوسره لمونځ فاسدیږي؟ ❖

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

❖ وتر لمونځ ❖

❖ د سنت لمونځو نو اداکول ❖

مضمون	صفحه

صفحه	مضمون
۴۸۸	ایا دمقتدي په غلطي په نومړي سجده سهوه شته؟
۴۸۸	په اخري ناسته (قعده) کې شریک مقتدي به له امام سره سجده سهوه کوي؟
۴۸۹	که مقتدي په گمان سره په دویم رکعت کې یې ثناء وویله یا یې لومړی رکعت دویم وگاڼه او ثناء یې ونه ویله: نو سجده سهوه پرې نه شته
۴۸۹	دجمعې په لمانځه کې دمقتدي په هیره د التحیات په ځای سورت فاتحه ویل
۴۸۹	ایا په قضایي لمونځونو کې هم سجده سهوه شته؟
۴۸۹	د سجده سهوه له پاره نیت کول
۴۹۰	په سجده سهوه کې څو سجدې کول پکار دي؟
۴۹۰	سجده سهوه څو ځله کیدلای شي؟
۴۹۰	په لمانځه کې غلطي سره څو ځله سجده سهوه کول پکار دي؟
۴۹۰	که ثناء لوستل ترې هیر شي: نو بیا هم لمونځ وشو
۴۹۱	ایا په یو سورت پرېښودو وړاندې بل سورت لوستو سره سجده سهوه لازمیږي؟
۴۹۱	په ایتو هیرونکي باندې سجده سهوه
۴۹۱	دفرضو په اخري دوه رکعتونو کې سورت یو ځای کولو سره سجده سهوه نه لازمیږي
۴۹۲	که په لمانځه کې سورت لوستل هیر شي: نو سجده سهوه واجبیږي؟
۴۹۲	که په اول او دویم رکعت کې سورت یو ځای کول هیر شي
۴۹۲	او په دریم او څلورم کې یوځای کړل شي: نو کافي ده
۴۹۲	که په لمانځه کې سورت فاتحه په هیره پاتې شي
۴۹۲	او سجده سهوه وکړي: نو د لمانځه حکم
۴۹۳	د نفل او سنت لمانځه په دویم، یا دریم رکعت کې دفاتحه
۴۹۳	یاد یو بل سورت هیریدونکي دلمانځه حکم
۴۹۳	که دسنتو په دریم یا څلورم رکعت کې د سورة فاتحې
۴۹۳	نه وروسته سورة لوستل هیر شي: نو سجده سهوه کافي ده
۴۹۳	په یو رکعت پاتې کیدونکي د الحمد سره سورت نه یو ځای کولو باندې سجده سهوه
۴۹۴	په قیام کې په هیره تشهد (التحیات) لوستو باندې به کله سجده سهوه لازم کیږي
۴۹۴	په قیام کې تشهد یا تسبیح لوستل او په رکوع او سجده کې قرات کول
۴۹۴	که په اخري دوو رکعتونو کې د الحمد نه وروسته
۴۹۴	بسم الله ولوستل شي: نو سجده سهوه واجب نه ده
۴۹۵	په الحمد یا بل سورت پرېښودو سره سجده سهوه واجب ده

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

❖ د مسافر لمونځ ❖

صفحه	مضمون

صفحه	مضمون

❖ د جمعې لمونځ ❖

بسم الله الرحمن الرحیم

❖ د جومات متعلق باقي مسئلې ❖

د دفترونو په جوماتونو کې د لمانځه ثواب

سوال: ما د یو سړي نه واورېدل چې د لمانځه وغیره پابندۍ چې په یو بلډنګ(د کاروباري دفترونو بلډنګ)کې د ننه یو کمره د لمانځه له پاره خاص شوې وي. نو په هغه کې لمونځ کولو سره دومره ثواب نه شته. څومره چې په یو جومات کې لمونځ کولو باندې ورکول کیږي.

جواب: په بلډنګ کې چې کومه کمره د لمونځ له پاره خاص شوې ده هغه جومات نه دی او نه په هغه کې د جومات ثواب شته.[1]

په دویم جومات کې د لمونځ کولو رخصت

سوال: زه د یو جامع مسجد سره اوسیږم په جومات کې پنځه وخته لمونځ او د جمعې لمونځ باقاعده کیږي اوزه هم په پابندي سره نور لمونځونه او د جمعې لمونځ کوم. څلور لمونځونه په نژدې جومات کې کوم ،خو د ماسخوتن لمونځ او د جمعې لمونځ په یو بل جومات کې کوم یوازې په دې وجه چې د هغه ځای مولوی صاحب د جمعې په ورځ هم ښه وعظ کوي او د ماسخوتن د لمانځه نه وروسته هم د قرآن کریم تفسیر کوي. نو زه هلته ښو خبرو اوریدلو له پاره ځم او په نژدې جومات کې دا شیان نشته او ځیني خلک وایي چې خپل نژدې جومات آباد ساتئ که نه ګناه ده.تاسو د قرآن کریم او احادیثو په رڼا کې وضاحت وکړئ چې زه څه وکړم؟ دویم جومات ته تلو کې زما غرض یوازې د دین زده کول دي.

جواب: حق خو د نژدې جومات دی. خو که په دویم جومات کې ښه عالم وي. نو هلته په تلو کې هم څه باک نشته.[2]

---

[1] ولو اتخذ فی بیته موضعاً للصلوة فلیس له حکم المسجد اصلاً.(حلبی کبیر ص:٦١٤،فصل فی احکام المساجد،طبع سهیل اکیدمی لاهور،بحر الرائق ج:٢ ص:٦٤،طبع رشیدیه)ـ

[2] وذکر قاضیخنان وصاحب منیة المفتی وغیرهما ان الاقدام افضل فان استویا فی القدم فالاقرب افضل .... والافضل ان یختار الذی امامه اصلح وافقه فان الصلاة مع الافضل افضل..........ومسجد استاده لدرسه او سماع الاخبار افضل بالاتفاق.(حلبی کبیر ص:٦١٣،فصل فی احکام المساجد،طبع سهیل اکیدمی)ـ

جومات ته وچې څپلۍ وړولو سره نه ناپاکه کیږي

سوال: موږ څپلۍ وړولو سره بیت الخلاء ته ځو او هم هغه څپلۍ موږ جومات ته راوړو او اکثر وروسته دا څپلۍ د جومات په فرش باندې ږدي .ځکه چې په ځینې ځایونو کې د څپلیو له پاره د لرګي بکسه نه وي. په داسې صورت کې ایا جومات ناپاکه کیږي نه؟ که څپلۍ لمونځ ګزار د خپل ځان سره نه ږدي. نو د غلا ویره وي.

جواب: که څپلۍ وچې وي. نو جومات نه ناپاکه کیږي

د جومات متولي لمونځ کونکي جومات ته د څپلیو راوړلو نه منع کول

سوال: عرض دادی چې د سیشن کورټ په احاطه کې یو جومات دی .دکوم وخت نه چې دا جومات جوړ شوی دی. نو د جومات د متولي حکم دی چې هیڅ یوکس دې هم څپلۍ دننه جومات ته مه راوړي. که یو بې خبره کس جومات ته دننه څپلۍ یوسي. نو هغه په دې خبره مجبوریږي. چې څپلۍ بهر کیږدي. هغه کس مجبور شي او څپلۍ بهر کیږدي. بهر غله په انتظار کې وي. نو له دې وجې نه وخت په وخت بهر څپلۍ غلا کیږي. چې کله یو کس متولي ته ووایي چې بهر به دا څپلۍ غلا شي. نو متولي صاحب وایي چې بهر څپلۍ کېږده او بهر ورته لمونځ وکړه. نو له دې وجې نه خلک مجبور شي او بهر لمونځ کوي. ددې په نتیجه کې خلک د اول صف د ثواب نه محروم پاتې شي. سوال دا دی چې ایا د جومات دننه حصه کې څپلۍ کېښودل جائز دي؟

جواب: په جومات کې د څپلیو د کېښودلو لپاره د ډبو انتظام وي. ستاسو د جومات متولي صاحب ته هم دا انتظام کول پکار دي او دا قانون غلط دی چې څوک به هم جومات ته دننه څپلۍ نه راوړي او څوک چې لمونځ کوي. نو هغه دې بهر لمونځ وکړي. متولي ته دداسې غلط قانون د نافذ کولو هیڅ حق نشته.

جومات ته داخلېدلو وخت کې سلام کول پکار دي؟

سوال: زموږ په محله کې ځینې خلک وایي چې جومات ته د داخلېدلو وخت کې السلام علیکم ویل پکار دي او موږ اورېدلي دي چې جومات ته د داخلېدلو وخت کې خاص دعا کومه چې د حدیث نه ثابته ده ویل پکار دي کومه خبره حق او افضله ده؟

جواب: جومات ته د داخلېدلودعا ویل پکار ده ،یوازې دا دعا ویل چې ..اللهم افتح لی ابواب رحمتک،، نه دې ویل پکار، بلکې له دې نه مخکې په رسول الله ﷺ باندې سلام ویل پکار دي یا دا دعا ویل هم سنت ده: بسم الله اللهم صل علی محمد،..چې ډیره آسانه دعا ده، بیا که خلک فارغ ناست وي. نو هغوی ته دې سلام وکړي او که تول مشغول وي، نو په

دومره زور سره سلام كول چې د لمونځ كونكو په لمانځه كې خلل راشي صحيح نه دي [۱]

د لمونځ كونكو په ذمه د سلام جواب نشته

سوال: كه لمونځ گزار د لمانځه نيت تړلی ولاړ وي. يو سړی لمونځ ادا كولو له پاره جومات ته داخل شو. نو هغه سړي ته سلام كول پكار دي يا چپتيا سره نيت تړل پكار دي؟ كه السلام عليكم لازمي وي. نو لمونځ گزاروته جواب په زړه كې وركول پكار دي او كه نه؟

جواب: كه يو سړی فارغ نه وي. نو راتلونكي ته السلام عليكم ويل نه دي پكار او كه څه ووايي. نو د لمونځ گزارو په ذمه د هغه جواب نشته. په دې وجه په زړه كې هم د جواب وركولو ضرورت نشته [۲]

جومات ته داخلېدلو او وتلو په وخت درود شريف لوستل

سوال: جومات ته د داخليدلو په وخت كې او جومات نه د وتلو په وخت ,,**السلام عليك ايها النبى ورحمة الله و بركاته**،، لوستل جائز دي او كه نه؟

جواب: جومات ته د داخلېدلو په وخت كې دې نبی پښه مخكې كړي او بيا دې دا دعا وايي ,,**بسم الله والصلاة والسلام على رسول الله اللهم افتح لى ابواب رحمتك**،

او جومات نه د وتلو په وخت دې دا دعا لولي

بسم الله والصلاة والسلام على رسول الله اللهم افتح لى ابواب رزقك[۳] **اللهم اعصمنى من الشيطان الرجيم**..[۴]

په دې موقع باندې په سوال كې ذكرشوې دعا نه ده نقل..

د جومات كومې برخې ته د داخلېدلو په وخت كې دعا ويل پكار دي؟

سوال: جومات ته د داخليدلو په وخت كې دعا كول او نبی پښه مخكې كول سنت طريقه ده تاسو وضاحت وكړئ چې دعا د جومات بهر دروازه باندې كول پكار دي يا د هغه دننه برخې ته د داخليدلو په وخت كې كوم ځای چې لمونځ كيږي؟ سنت طريقه څه ده؟

---

[۱] (قوله سلامک مکروه)ظاهره التحريم(قوله ذاكر)...فيكره السلام على مشتغل بذكرالله تعالى باى وجه كان ...الخ(فتاوى شامية ج:۱ص:۶۱۶،باب ما يفسد الصلوة وما يكره فيه،مطلب المواضع التى يكره فيها السلام)

[۲] وقد نظم الجلال السيوطى التى لا يجب فيها ردالسلام ونقلها عنه الشارح فى هامش الخزائن:فقال ردالسلام واجب الاعلى من فى الصلوة اوباكل شغلا(فتاوى شامية ج:۱ص:۶۱۸مطلب المواضع التى لايجب فيها رد السلام)

[۳] كنز العمال ج:۸ ص:۳۲۲حديث نمبر:۲۳۱۱۰،طبع مؤسسة الرسالة،بيروت۔

[۴] ابن ماجة، عن ابى هريرة،ص:۵۶باب الدعاء عند دخول المسجد،طبع نور محمد كراچى۔

جواب: کومه برخه چې د لمانځه له پاره خاصه ده او په کوم ځای چې د جومات احکام جاري کیږي،مثلا د جنابت والا انسان جومات ته نه داخلیدل او د اعتکاف والا یوازې د ضرورت نه بهر قدم نه ایښودل،په هغه حصه کې داخلیدو سره دعا کول پکار دي. جومات ته د داخلیدلو په وخت کې ښی پښه مخکې کول پکار دي او دا دې وایي

,, بسم الله والصلاه والسلام علی رسول الله اللهم افتح لی ابواب رحمتک......[۱]

جومات ته د حفاظت په خاطر تاله(قفل) لګول جائز دي

سوال: جومات چې د الله پاک کور دی ددې د بندولو اوخلاص ساتلو په باره کې ستاسو څه رایه ده؟ ځکه چې جومات خو د الله پاک کور دی ،خو ځینې خلک د ماسخوتن د لمانځه نه وروسته جومات ته تاله واچوي کوم چې زما په خیال غلط کار دی،ځکه چې یو مسافر نوی وي او لاره ترې غلطه شوي وي او په هغه شپه شي. نو هغه ته هر طرف ته دروازه بنده ښکاري. نو د هغه خیال جومات طرف ته ځي. نو هغه هم بند ښکاري هغه بهر په یو ځای کې ویده شي او د هغې نتیجه دا راوځي چې هغه پولیس غل وګڼي او بندي یې کړي کومه چې سراسر بې انصافي ده، خو که د نن سبا حالات وکتل شي، نو هر طرف ته بې ضمیره خلک هم په نظر راځي کوم چې د جومات شیان هم نه پریږدي کوم چې د الله پاک د کور شیان دي. نو زه دا ګڼم چې په داسې خلکو باندې چې د الله پاک د کور شیان هم نه پریږدي په هغوی دې د الله پاک لعنت وي هم دا وجه ده چې خلک مجبورا جوماتونو ته تالي اچوي

جواب: د حفاظت له پاره جومات ته تالة لګول صحیح دي.[۲]

د جومات جمع شوې چنده باندې د امام کمره یا استنجا خانې وغیره جوړول

سوال: د جومات لپاره چې کومه چنده جمع کیږي یا جمع شوې ده.هغو باندې د جومات لپاره غسل خانې،استنجا خانې یا د اوبو تالاب یا د امام صاحب لپاره کمره جوړول یا کوهی

---

[۱] عن ابی اسید قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:اذا دخل احدکم المسجد فلیقل:اللهم افتح لی ابواب رحمتک،واذا خرج فلیقل:اللهم انی اسئلک من فضلک.رواه مسلم.(مشکوة ص:٦٨).وعن فاطمة بنت الحسین عن جدها فاطمة الکبری رضی الله عنها قالت:کان النبی صلی الله علیه وسلم اذا دخل المسجد صلی علی محمدوقال:رب اغفرلی ذنوبی وافتح لی ابواب رحمتک،واذا خرج صلی علی محمد وقال:رب اغفرلی ذنوبی وافتح لی ابواب فضلک.رواه الترمذی واحمد وابن ماجة وفی روایتهما:قالت: اذا دخل المسجد وکذا اذا خرج قال: بسم الله والسلام علی رسول الله بدل صلی علی محمد.(مشکوة ص:٧٠،الفصل الثانی،طبع قدیمی کتب خانه)

[۲] وکما کره(غلق باب المسجد) الاّ لخوف علی متاعه،به یفتی(وفی ردلامحتار) (قوله الا لخوف علی متاعه)هذا اولی من التقیید بزماننا،لانّ المدار علی خوف الضرر،فان ثبت فی زماننا فی جمیع الاوقات ثبت کذلک الا فی اوقات الصلوة اولا فلا اولی بعضها ففی بعضها...الخ.(فتاوی شامیة ج:١ ص:٦٥٦.مطلب فی احکام المسجد،طبع ایچ ایم سعید)۔

وغیره یعنې جومات ته چې د کوم شي ضرورت دی، کومې روپۍ چې د جومات لپاره جمع شوې وي، نو دې شیانو باندې دغه روپۍ خرج کول جائز دي او که نه؟

جواب: د چندې والاوو په اجازې سره جائز دي.[1]

د جومات په احاطه کې د امام کور جوړول

سوال: د جومات په احاطه کې اودس خانې دپاسه د امام کور جوړول جائز دي او که نه؟ چې خپل کوروالو سره دغه ځای کې اوسیږي، دجومات دوه دروازې دي او وروستنی دروازه باندې د امام صاحب د کوروالا لار وي او لمونځ کونکي په دواړو دروازو باندې ځي او راځي؟

جواب: د جومات په اودس خانه باندې د امام کور جوړول جائز دي ځکه چې دا اودس خانه په جومات کې شامل نه ده.

د جومات په چندې د کمیټې دفتر جوړول

سوال: زموږ په محله کې یو جومات جوړیږي جومات پوره کېدلو ته نږدې دی اوس انتظامیې دا فیصله کړې ده چې د اودس په ځای باندې دې انتظامیې له پاره یو دفتر جوړ شي چې په هغه کې ناستې سره به انتظامیه میټنګ او فیصلې کوي ایا د انتظامیې له پاره داسې کول، یعنې د جومات د چندې نه یو دفتر جوړول صحیح دي او که نه؟

جواب: که د چندې ورکونکو اجازه وي، نو صحیح ده.[2]

د ارام له پاره په جومات کې د پنکې استعمالول له اجازې پرته صحیح نه دي

سوال: دا ځل رمضان شریف په ګرمي کې ژاروان دی، موږ له دې نه په مخکې رمضان کې اکثر کتلي دي چې مقامي سړي د ماسپخین نه مخکې جومات ته راتلو سره ویده شي او د بجلی پکې چالو کړي په جومات کې په دری، یا پوزکي باندې هیڅ جامه نه وي ددې خلکو خولې د جومات په دری، باندې راځي او بدبویه کیږي یا یو سړی د ماسپښین لمونځ کولو نه وروسته سنت د پکي لاندې راتلو سره کوي او بیا څه ساعت وروسته هغه هم هلته څملي او ویده شي په داسې حالت کې د جومات بجلي استعمالوي د داسې سړي له پاره څه حکم دی؟ دی د جومات نه پورته کړل شي یا ورته پکی بند کړل شي؟ او د جومات د ادابو مطابق د هغه دا کار څنګه دی؟

[1] لا یجوز لاحد ان یتصرف فی ملک غیره بلا اذنه او وکالة او ولایة وان فعل کان ضامناً.(شرح المجلة،لسلیم رستم باز،ج:۱ ص:۶۱،رقم المادة:۹۶،طبع حبیبیه کوئته).

[2] لا یجوز لاحد ان یتصرف فی ملک غیره بلا اذنه او وکالة او ولایة وان فعل کان ضامنًا.(شرح المجلة لسلیم رستم باز،ج:۱ ص:۶۱،رقم المادة:۹۶،مکتبه حبیبیه کوئته)۔

جواب: د جومات بجلي وغيره د لمانځه په وخت کې استعمالول پکار دي په نورو ختونو کې د چندې والا دا انسان منع کولی شي[۱] په جومات کې ويده کېدل د معتکف اومسافرله پاره جائز دي د نورو خلکو له پاره مکروه دي[۲] کوم خلک چې په جومات کې خوب کوي هغوی له په پوزکو او درو باندې جامه خورول پکار دي چې په خولو سره فرش خراب نه شي او د خوب په حالت کې د ناپاکه کېدلو خطره هم نه وي

جومات کې د غلا د بجلي استعمال

سوال: زموږ د محلې په جومات کې د بجلي د لوی لاټن نه د ميټر نه پرته درې مرکري برقونه د ماښام نه سحر پورې استعماليږي، اهل محله د جومات انتظاميې ته د دې سلسلې د ختمولو لپاره ووېل، نو د هغوی جواب دا وو چې سابقه کونسلر صاحب دا لګولې وو، ايا په دې طريقې سره اخستل شوې بجلي په جومات کې استعمالول صحيح دي يا کټ کول غوره دي؟

جواب: که د حکومت له طرفه ددې اجازه شوې وي، نو جائز دي که نه جائز نه دي.[۳]

جومات کې چاته د ويده کيدو اجازه ده؟

سوال: د يوې محلې مقامي خلک په دغه خپل جومات کې په کوم کوم حالت کې د شپې پاتې کيدای شي؟ ايا په دغه صورتونو او حالتونو کې دا حالت هم شامل دی چې د اعتکاف په نيت سره د ديني دعوت په سلسله کې يستره واچوي او شپه تيره کړي اوکه نه؟

جواب: په جومات کې اوسيدل، ويده کيدل او خوراک څښاک د معتکف لپاره جائز دي[۴] او د جومات اعتکاف ډير غوره عبادت دی، په مسلمانانو کې د رمضان المبارک د اعتکاف کولو رواج خو شته، کوم چې سنت مؤکده دی. خو د رمضان المبارک نه پرته په کې د اعتکاف کولو رواج نشته کوم چې سنت مستحبه دی[۵] ددې اعتکاف رواج پيدا کول پکار دي. څنګه چې د رمضان المبارک په اعتکاف کې د معتکف لپاره په جومات کې اوسيدل. ويده کيدل او

---

[۱]]ولو وقف على دهن السراج للمسجد لا يجوز دهنه جميع الليل بل بقدر حاجة المصلين...الخ.(عالمگيری ج:۲ ص:۴۵۹،كتاب الوقف،الباب الحادى عشر فى المسجد وما يتعلق به،الفصل الاول)_

[۲]]والنوم فيه(المسجد)لغير المعتكف مكروه وقيل لا باس للغريب ان ينام فيه.والاولى ان ينوى الاعتكاف ليخرج من الخلاف.(حلبى كبير ص:۶۱۲،فصل فى احكام المساجد)_

[۳]]لا يجوز لاحد ان يتصرف فى ملك الغير بغير اذنه.(قواعد الفقه ص:۱۱۰،ايضا:شرح المجلة ج:۱ ص:۶۱)

[۴]]وخص المعتكف باكل وشرب ونوم عقد احتاج اليه لنفسه او عياله...الخ.وفى الشامية:ان المعتكف مقصور على الاكل ونحوه فى المسجد لا يحل له فى غيره.(رد المحتار على الدر المختار ج:۲ ص:۴۴۸).

[۵]]اما تفسيره فهواللبث فى المسجد مع نية الاعتكاف وينقسم الى واجب وهو المنذورتنجيزًا اوتعليقا والى سنة مؤكدة وهوفى العشرالاخيرمن رمضان والى مستحب وهو ما سواهما.(عالمگيری ج:۱ ص:۲۱۱،الباب السابع فى الاعتكاف)

خوراک څښاک جائز دی، نو هم دا حکم د نفل اعتکاف هم دی او د نفلي اعتکاف هم هغه اداب دي کوم چې د رمضان د اعتکاف دي.

په جومات کې د ویده کیدو لپاره د رحیل (د قرآن کریم میز) نه تکیه جوړول

سوال: په جومات کې د ویده کیدو دوران کې که څوک د تکیې په طور رحیل(ریل) د سر لاندې کیږدي، نو ګناه خو به نه وي؟

جواب: رحیل ددې مقصد لپاره وقف شوی نه دی.[1]

د اعتکاف کونکي نه پرته نورو خلکو ته په جومات کې د ویده کیدلو اجازه نشته

سوال: زه په یوه اداره کې ملازم یم د خوراک او لمانځه د وقفې دوران کې زموږ څه ملګری ډوډۍ زر خوړولو سره په جومات کې د لمانځه نه مخکې ویده شي تاسو په تفصیل سره بیان کړئ چې ایا هم داسې په جومات کې ویده کېدل جائزدي یا په کومو حالاتو کې په جومات کې د ویده کیدلو اجازت دی؟

جواب: په جومات کې د ویده کېدلو یوازې اعتکاف کونکي ته اجازه ده عامو خلکو ته نه ده دا خلک که د اعتکاف نیت کولو سره جومات ته لاړ شي، نو هلته ویده کېدلی هم شي.[2]

لمونځ پریښودونکي انسان د جومات په انتظامیه کې اخستل

سوال: د جومات په انتظامیه کې او د زکات په انتظامیه کې لمونځ پریښودونکی صدر جوړول یا یو ممبر جوړول جائز دي او که نه؟

جواب: کوم سړی چې د لمانځه پابند نه وي د هغه د جومات او زکات سره څه تعلق؟

که زه په کمیټۍ کې شامل نه شوم نو زه به جومات بند کړم" ددې وینا ویونکی په کمیټۍ کې شاملول

سوال: که یو مقتدي په جومات کې د امام په موجودګي کې د خلکو په وړاندې دا خبره وکړي چې که ماته په انتظامیه کې برخه رانکړل شوه، نو زه به دا جومات بند کړم،د شریعت مطابق دداسې سړي په باره کې څه ویل کېدای شي؟دا کوم قسم مسلمان دی؟وضاحت وکړئ.

---

[1] شرط الواقف کنص الشارع فی وجوب العمل به،وفی المفهوم والدلالة.(قواعد الفقه ص:۵۸،طبع صدف پبلشرز کراچی،الاشباه والنظائر،کتاب الوقف،الفن الثانی،الفوائد ج:۲ ص:۱۰۶،طبع ادارة القرآن کراچی).

[2] والنوم فیه(المسجد)لغیر المعتکف مکروه وقیل لا باس للغریب ان ینام فیه،والاولی ان ینوی الاعتکاف لیخرج من الخلاف.(حلبی کبیر ص:۶۱۲،فصل فی احکام المساجد)۔

جواب: داسې سړی فاسق دی.د جومات په معاملاتو کې یې بالکل شاملول پکار نه دي [۱]

په جوماتونو کې حرامې روپۍ استعمالول جائز نه دي

سوال: په ځینو علاقو کې بعضې جوماتونه داسې دي چې په هغو کې د معاشرې انتظامات وي،په جوماتونو کې دکانونه وغیره وي،د هغو نه خرچې پوره کیږي څو ورځې وړاندې راته معلومه شوه چې په ځینې جوماتونو کې د دکانونو کرایه ایډوانس او د پګړۍ پیسې وغیره په بینک کې ډپازټ اسکیم سره کېښودل کیږي او بیا چې ددې نه کوم سود په لاس راځي د هغه نه د جومات اخراجات پوره کیږي .په دې سلسله کې د جومات انتظامیه مختلف عذرونه بیانوي،چې په هغو کې څه عذرونه د بینکونو غیرسودي کېدل.او ددې منافع د حلال کېدو او د الله تعالی د معاف کولو والا عذرونه هم شته.په بیت الله شریف کې د بتانو په موجودګۍ کې لمونځ کیده.په دې جومات کې به هم وشي او داسې نور دغه شان دې جومات والاوو د جومات دکانونه وډیو او فوټوګرافرانو ته هم په کرایه باندې ورکړي دي.اوس سوال دا دی چې دا پیسې په جومات کې استعمالیدای شي او که استعمال شي، نو په دې جوماتونو کې د لمونځ کونکو څه حکم دی؟دداسې کمیټۍ په سلسله کې د امام،خطیب او د لمونځ کونکو لپاره څنګه رویه ساتل پکار دي؟

جواب: په دې سوال کې د کمیټۍ والاوو دا رویه ډیره د افسوس لائقه ده یو کس وویل چې په انګلینډ کې یو سک ماته وویل چې تاسو مسلمانان د حرامې غوښې یو دکان خلاص کړئ او په هغه باندې ولیکئ"د اسلامي غوښې دکان"مسلمان هغه سك ته ددې خبرې جواب ورکړ ،نو هغه وویل چې تاسو مسلمانان سود خورئ، نو د اسلامي بینکارۍ په نوم یې خورئ او نور خرافات چې کوئ ،نو د اسلام په نوم یې کوئ.داسې معلومیږي چې ددې جوماتونو د انتظامیې غرض صرف پیسو سره دی،دین او ایمان سره غرض نشته.که دا واقعات صحیح دي کوم چې په خط کې لیکل شوي دي، نو ددې خلکو مسلمانیدل هم په شك کې دي او داسې خلکو ته جومات حواله کول داسې دي لکه چې بیت الله شریف مشرکانو ته حواله شي.

په موجوده سودي نظام کې ددې خبرې کوشش د یوې پېړۍ نه شروع دی چې دا نظام حلال شي. خواوسه پورې دا حلال نه شو .بلکې الله پاك دا د خدای او د هغه رسول سره جنګ بنودلی دی[۲] او د خدای پاك او د هغه رسول سره د جنګ کولو نتیجه د پاکستان هر سړی ویني

د جوماتونو په دکانونو کې دټي وي او د ریډیو دکانونه جوړول.دا هم حرام دي او هغه ملایان صاحبان کوم چې په دې جوماتونو کې کارونه کوي.په سوال کې چې کوم شیان (مدونه) ذکر

---

[۱] [ومن اظلم ممن منع مسجدالله ان یذکر فیها سمه وسعی فی خرابها (البقرة:١١٤).

[۲] [یایها الذین امنوا اتقوا الله وذروا ما بقی من الربوا ان کنتم مؤمنین،فان لم تفعلوا فاذنوا بحرب من الله ورسوله (البقرة:٢٧٨،٢٧٩).

شوي دي او ددې نه ورته کومه تنخواه ورکول کیږي .نو دا هم حلاله نه ده [۱]

لمونځ کونکو ته پکار دي چې د جومات د عملې انتظام خپلې چندې سره وکړي.د جوماتهغه روپۍ کومې چې د سود نه حاصليږي هغه دې د جومات کارکنانو ته نه ورکول کیږي

د جومات دکان غیرمسلم ته ورکول یا سودي کاروباري ته ورکول

سوال: د جومات یا د مدرسې دکان يو غیرمسلم یا داسې سړی ته چې د سود کاروبار کوي په کرايه باندې ورکول جائز دي او که نه ؟

جواب: مسلمان یا غیرمسلم هرچاته دکان په کرايه باندې ورکول جائز دي .خوپه دې کې دې حرام کار نه کوي،کوم سړی چې سود اخلي.د هغه د سود د ګټې نه کرایه وصولول جائز نه دي او ددې وبال به په جومات والاوو باندې هم وي.[۲]

د جومات دوکانونه غیرمسلم ته ورکول

سوال: دجامع جومات مکي لاندې يو شاپنګ سنټردی.چې دهغه کرايه دچندې په طورجمع کیږي، دې چندې سره د جومات رنګ روغن او د مرمت کار وغیره کیږي،مؤذن او امام صاحب ته تنخواه هم ددې چندې ته ورکول کیږي،په دې شاپنګ سنټر کې د هندوانو دکانونه هم دي،اوس سوال دادی چې کومه کرايه د چندې په طور هندوان جومات ته ورکوي،هغه د جومات لپاره جمع کیدای شي او که نه؟ ايا هندوانو او غیرمذهبو ته په دې شاپنګ سنټر کې دکانونه ورکول جائز دي او که نه؟

جواب: که غیرمذهبو خلکو ته دکانونه ورنه کړل شي، نو غوره ده.پاتې دا چې د هغوی نه کومه کرايه حاصليږي، نو هغه د جومات په ضرورتونو کې استعمالول جائز دي

ايا د جومات د دکان مرمت وغیره د کرايه دارپه ذمه دی؟

سوال: که د جومات د دکانونو چت خراب شي یا دیوال وغیره پریوځي .نو ددې د ابادولو ذمه داري به په چا باندې وي؟ماته يوه داسې مسئله پيښه شوه.زه خياط يم.زما د دوکان چت خراب شوی دی،د جومات انتظاميه مې په دې باره کې خبردار کړه .نو هغوی وويل چې تاسو يې په خپله صحيح کړئ ،ځکه چې دا زمونږ ذمه داري نه ده.کله چې باران وشي، نو هغه وخت چې کوم مال دکان کې دننه پروت وي هغه خراب شي.دجومات امام چې ددې کميټې سيکرټري هم دی. هغه ته مې په دې باره کې وويل. نو هغه هم تولله ذمه داري په کرايه دار

---

[۱] [لا تصح الاجارة لعسب التيس وهو........ولا لاجل المعاصي مثل الغناء والنوح والملاهي.(الدر المختار ج:٦ ص:٥٥،باب الاجارة الفاسدة).

[۲] [يايها الذين امنوا اتقوا الله وذروا ما بقي من الربوا ان كنتم مؤمنين،فان لم تفعلوا فاذنوا بحرب من الله ورسوله (البقرة:٢٧٨،٢٧٩).

باندې واچوله حالانکې په نورو کارونو کې موږ ګورو چې که څوك د چا کرایه دار وي. نو په دې صورت کې د دکان یا دمکان دمرمت او تعمیر ذمه دار دمکان مالك یا د دکان مالك وي؟

جواب: دا دکان تاسو په خپله جوړ کړئ او ددې دتعمیر خرچه په کرایه کې کټ کړئ.

سوال: عام طورباندې د جومات دکانونه د ایډوانس نه پرته په کرایه باندې ورکول کیږي. کرایه دارچې کله څې. نو روپۍ اخستلو سره یې بل چاته ورکوي او نوم نه بدلوي. دغسې خپل منځ کې لین دین کوي. د جومات کمیټۍ د جومات کرایه دارو ته اجازه ورکړې ده چې تاسو دغسې خپل دکان ورکولی شئ، د رسید بدلولو په وخت روپۍ اخستلو سره د عطیه رسید کټ کیږي، ایا دا صحیح ده؟ که غلط دی. نوکومې روپۍ چې په دې مد کې وصولیږي او په جومات باندې خرچ کیږي ددې ازاله به څنګه کیږي؟

جواب: که دا دکانونه د جومات دي او دکان داران د جومات کرایه دار دي. نو هغوی له پاره ددې دکانونو پیسې اخیستل او د خپل طرف نه بل چاته حواله جائز نه ده[1] او که تاسو دا برداشت کوئ، نو تاسو به هم ګناهګار یئ ځکه چې تاسو ددې دکانونو مالکان یئ.

د جومات په دکان کې د ویډیو کاروبار

سوال: د جومات دوکان د ویډیو او د فلمونو کاروبار والاته په کرایه باندې ورکول یا پرې خرخول څنګه دي؟ دغه شان ددې دکان کرایه په جومات کې خرچ کول جائز دي؟

جواب: د جومات دوکان د ویډیو او فلمونو کاروباري سړي ته ورکول جائز نه دي،ددې کرایه هم جائز نه ده. [2]

په جومات کې د دنیا خبرې کول مکروه دي

سوال: نن سبا عامه خبره ده چې اکثر خلک په جومات کې ناست په ملکي حالاتو یا بین الاقوامي حالاتو یا د دنیا (د پولي او پټي)خبرې کوي حال دا چې داسې کول منع دي که منع یې کړو. نو وایي سیاست ددین نه بیل خو نه دي تاسو دواړه شیان بیل ولې ګڼئ او دلیل دا پیش کوي چې په مسجد نبوي ﷺ کې به رسول الله ﷺ مسائل حل کول هغه ته به ډلې راتلې او هغوی به خبرې بیانولې او مولایانو دین ډیر تنګ کړی دی په دې وجه موږ غلط نه یو ایا په جومات کې داسې خبرې کول صحیح دي او که غلطي؟

---

[1] والودیعة لا تودع ولا تعار ولا تواجر ولا ترهن وان فعل شیئا منهن ضمن.(عالمګیری ج:٤ ص:٣٣٨، کتاب الودیعة،طبع رشیدیه کوئته).

[2] لا تصح الاجارة لعسب التیس وهو.........ولا لاجل المعاصی مثل الغناء والنوح والملاهی.(الدر المختار ج:٦ ص:٥٥،باب الاجارة الفاسدة).

جواب: په حديث کې دي چې جوماتونه يوازې د الله پاک د ذکر او تلاوت او د لمانځه له پاره جوړ شوي دي په جومات کې د دنيا خبرې کول مکروه دي[1]. دا خبره صحيح ده چې دين او سياست جدا شی نه دي. خو د سياست نه مراد ديني سياست دی د نن سبا سياست نه دی مراد د ځينو بزرګانو ارشاد دی چې صحابه کرامو رضوان الله عليهم د ذکر د کثرت له وجې نه د بازار نه جومات جوړ کړی و او تاسو د جومات نه بازار جوړ کړی دی. خود ضرورت خبره په جومات کې کول صحيح دي

سوال: په جومات کې دنياوي او ددين د خبروحدد کوم ځای پورې دي؟ زما مطلب دا دی چې موږ د لمانځه د فراغت نه وروسته د يو بل خيريت معلومو د يو بل دحال پوښتنه کوو دويم سړی په جواب کې خپله قصه شروع کړي چې کومه سراسر د دنيا متعلق وي مثلا د بچو په سکول کې د داخلولو مسائل کمه ګټه او په سوداګرۍ کې تاوان دخپلوانو جګړې وغيره اوس کوم ځای چې د سلام او دعا او خيريت خبره وه دهغه ددين سره تعلق کيدل خو په پوهه کې راځي. خو ذکر شويو خبرو ته څه درجه ورکړل شي؟ او څنګه دا تميز باقي وساتل شي چې کوم ځای مخاطب په يو داسې اړخ باندې خبرې شروع کړي. نو هغه ته دا وويل شي چې اوس به موږ بهر تللو سره خبرې کوو اوس موږ د حد نه تير شو.تاسو موږ ته داسې پيمانه وښيئ کومه چې زموږ د نيکۍ د خرابيدو سبب جوړ نه شي؟

جواب: خير خيريت پوښتنه او څه ضروري خبره کول ددې ممانعت خو نشته. خو فضول قصې کولو سره ناسته ددې اجازه نشته په جومات کې د دنيا غير ضروري خبرې کول ځينې حضراتو دې ته مکروه ويلي دي اوځينو ورته حرام ويلې دي[2]

په جومات کې سوال کول جائز نه دي

سوال: په جومات کې که يو سوال کونکی څه وغواړي. نو هغه ته څه ورکول جائز دي اوکه نه؟ ځکه چې ما د يو خپلوان نه اورېدلي و چې څوک په جومات کې سوالګر ته يو پيسه ورکړي، نو دهغې کفاره به اووه سوه پيسې ورکول پکار وي ددې صحيح حل څه دی؟

جواب: په جومات کې غوښتل جائز نه دي،يو فقير ته په جومات کې څه ورکول خو جائز دي، خو په دې سره به د هغه په جومات کې د غوښتنې عادت پيدا شي په دې وجه د جومات نه

۱] فالحاصل ان المساجد بنيت لاعمال الآخرة مما ليس فيه توهم اهانتها وتلويثها مما ينبغي التنظيف منه ولم تبن لاعمال الدنيا ولولم يكن فيه توهم تلويث واهانة على ما اشار اليه قوله عليه الصلاة والسلام فان المساجد لم تبن لهذا فما كان فيه نوع عبادة وليس فيه اهانة ولا تلويث لا يكره والاكره.(حلبى كبير ص:۶۱۱،فصل فى احكام المساجد)

۲] الجلوس فى المسجد للحديث لا يباح بالاتفاق،لان المسجد ما بنى بامور الدنيا.(عالمگيرى ج:۵ ص:۳۲۱)۔

بهر ورکول پکار دي باقي ستا د خپلوان بیان کړې مسئله صحیح نه ده.[۱]

جومات کې د ننه سوال کول (خیرغوښتل)

سوال: اکثر فقیران جومات ته دننه راشي او سوال کوي او خلک ورته پیسې وغیره ورکوي. ایا دوی ته په جومات کې دا خیر ورکول جائز دي یا ناجائز؟ که ناجائز دي. نو د خیر غوښتونکي او ورکوونکي لپاره څه حکم دی؟

جواب: که واقعي او حقیقي څوك مستحق وي، نو هغه ته ورکول جائز دي ،که نه خیر غوښتل اوعادتي خیرمارانو ته ورکول دواړه ناجائز دي.[۲]

جومات کې ذاتي سوال کول او د مدرس چنده کول

سوال: اکثر لیدل کیږي چې په جومات کې د لمونځ ختمیدو نه وروسته فوراً سوالګر حضرات خپل سوال او د خپلې مجبورۍ اظهار شروع کړي او دغه وخت لمونځ کونکي سوالګر په دې الفاظو سره رټي چې چپ شه چپ شه جومات دی اوداسې نور... دې سره د لمونځ کوونکو په لمونځ کې خلل هم واقع کیږي. ایا دغه شان په جومات کې سوال کول جائز دي؟ دغه شان په رمضان المبارك کې د لمونځ نه وروسته د مدرسو د چندې اعلان کیږي. ددې په باره کې شرعي حکم څه دی؟ ایا د جومات نه بهر کیدو نه وروسته دې خلکو ته ورکول جائز دي؟

جواب: عادتي سوالګرو له پاره په جومات کې خیر غوښتل جائز نه دي، بلکې دوی ته ورکول هم جائز نه دي[۳] البته دلته چې کوم رواج شوی دی چې سوالګر پورته شي سوال کوي، نو خلك ورته دا نعرې شروع کړي چې چپ شه چپ شه. دې سره لمونځ کونکو ته هم تکلیف وي او د هغوی په لمونځونو کې خلل واقع شي، نو دا کار صحیح نه دی.[۴]

دجومات انتظامیه ته داسې انتظام کول پکار دي چې دې سوالګرو او خیرغوښتونکو ته جومات کې د سوال کولو موقع ورنکړي.

۲: د یو سړي د ضرورت لپاره د جومات امام یا په مشرانو کې څوك سوال یا اعلان وکړي. نو

---

[۱] وعلم مما تقدم حرمة السؤال فى المسجد،لانه كنشدان الضالة والبيع ونحوه وكراهة الاعطاء،لانه يحمل على السؤال،وقيل لا اذالم يتخط الناس ولم يمر بين يدى مصل والاول احوط.(حلبى كبير ص:٦١٢،فصل فى احكام المساجد،طبع سهيل اكيدمى لاهور)۔

[۲] ولا يحل ان يسال شيئا من القوت من له قوت يومه بالفعل او بالقوة كالصحيح المكتسب ويأثم معطيه ان علم بحاله لاعانته على المحرم.(الدر المختار ج:٢ ص:٣٥٤،كتاب الزكاة،باب المصرف).

[۳] ايضاً تیری شوی حاشیې اوګورئ!

[۴] عن ابن عباس عمر ان عمر نهى عن اللغط فى المسجد وقال:ان مسجدنا هذا لاترفع فيه الاصوات.(كنز العمال ج:٨ ص:٣١٥،طبع مؤسسة الرسالة،بيروت).

دا صحیح دي[1] لکه نبي کریم ﷺ د ځینو هغه ملګرو لپاره په جوماتِ کې چنده کړې ده کوم چې مستحق وو او صحابه کرامو رضي الله عنهم ته يې د مدد او تعاون کولو ترغيب ورکړ[2]

۳. دغه شان ديني مدرسو له پاره يا جوماتونو له پاره او ديني ضرورتونو لپاره په جومات کې اعلان کول جائز دي، نبي کريم ﷺ د جيش العسرة لپاره د چندې اعلان کړی و[3]

په جومات کې سوال کول صحيح نه دي. د يو محتاج له پاره که بل سړی درخواست وکړي نو جائز ده

سوال: په اکثر جوماتونو کې د لمانځه نه وروسته سوال کونکي خپلې مختلفې مجبورۍ بيانوي او بيا د امداد طلب کوي پوښتنه داده چې ايا په جوماتونو کې د خپل خان له پاره سوالونه کول او د لمونځ ګزارو امداد کول کوم ځای پورې مناسب دي يا نامناسب دي؟

جواب: په جومات کې سوال کول منع دي داسې خلکو ته د جومات نه بهر دريدل پکار دي او په جومات کې غوښتونکو ته ورکړه هم نه ده پکار. خو که د يو محتاج د امداد له پاره بل سړی درخواست وکړي، نو جائز ده.[4]

په جومات کې د جنازې اعلان صحيح او د ورکشوي شي غلط دی

سوال: ايا د جنازې يا د ورکشوي شي اعلان د جومات په لاؤډ سپيکر باندې کول څنګه دي؟

---

[1] قال فى النهر:والمختار ان السائل ان كان لايمر بين يدى المصلى ولا يتخطى الرقاب ولا يسال الحافا بل لا بدمنه فلا باس بالسؤال والاعطاء اهـ ومثله فى البزازية،وفيها ولا يجوز الاعطاء اذا لم يكونوا على تلك الصفة المذكورة.(رد المحتار ج:۲ ص:۱۶۴،باب الجمعة،مطلب فى الصدقة على سؤال المسجد).

[2] عن عياض بن عبدالله قال:سمعت ابا سعيد الخدرى يقول:جاء رجل يوم الجمعة والنبى صلى الله عليه وسلم يخطب بهياة بذة فقال له رسول الله صلى الله عليه وسلم:اصليت؟ قال: لا. قال:صل ركعتين وحث الناس على الصدقة فالقوا ثيابهم فاعطاه منها ثوبين فلماكانت الجمعة الثانية جاء ورسول الله صلى الله عليه وسلم يخطب فحث الناس على الصدقة قال:فالقى احد ثوبيه،فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم:جاء هذا يوم الجمعة بهياة بذة فامرت الناس بالصدقة فالقوا ثياباً فامرت له منها بثوبين،ثم جاء الآن فامرت الناس بالصدقة فالقى احدهما فانتهره وقال خذ ثوبك. (سنن النسائى ج:۱ ص:۲۰۸،باب حث الامام على الصدقة يوم الجمعة فى خطبته.طبع قديمى كتب خانه كراچى).

[3] عن عبدالرحمن بن خباب قال:شهدت النبى صلى الله عليه وسلم وهو يحث على جيش العسرة فقام عثمان فقال:يا رسول الله! على مائة بعير باحلا سها واقتابها فى سبيل الله،ثم حض فقام عثمان فقال:على ثلاثمائة بعير باحلاسها واقتابها فى سبيل الله،فانا رايت رسول الله صلى الله عليه وسلم ينـــزل عن المنبر وهو يقول:ما على عثمان ما عمل بعد هذه ما على عثمان ما عمل بعد هذه.رواه الترمذى.(مشكوة ص:۵۶۱،باب مناقب عثمان رضى الله عنه).

[4] وعلم مما تقدم حرمة السؤال فى المسجد لانه كنشدان الضالة والبيع ونحوه وكراهة الاعطاء لانه يحمل على السؤال...الخ.(حلبى كبير ص:۶۲،فصل فى احكام المساجد)۔

جواب: دجنازي د لمانځه اعلان خو د لمونځ ګزارو د اعلان له پاره صحیح دی.خو د ورک شوي شي د تلاش له پاره اعلان کول جائز نه دي [١]

د جومات د مدرسي له پاره د قربانۍ د څرمنو اعلان کول جائز دي

سوال: زموږ په جومات کې هر قسمه اعلانونه کیږي مثلا یو شی ورک شو.څوک پیدا شو.د چا چیلۍ ورکه شوې ده.د چا ګړۍ، د چا سایکل اوداسې نور او د غټ اختر په ورځ د قربانۍ څرمنې په جومات کې واقع د مدرسې له پاره چنده جمع کولو کې شپه ورځ اعلانونه کیږي د شریعت په رڼا کې مو خبر کړئ چې دا اعلان په جومات کې جائز دی یا ناجائز دی ځکه چې په دې طریقه د اعلانونو نه انسان بیزاره شي الله پاک دې موږ په صحیح معناوو کې په شریعت باندې روان کړي

جواب: که یو شی په جومات کې پروت پیداشي دهغه اعلان په جومات کې کول جائز دي،که بهر د چا شی ورک شوی وي، نو دننه دهغه اعلان کول ناجائز دي رسول الله ﷺ د هغه له پاره بد دعا کړې ده،(لا رد الله علیک)یعنی الله پاک دې تا ته دغه ورک شوي شي واپس نه کړي[٢]د مدرسې له پاره د قربانۍ د څرمنو له پاره اعلان کول صحیح دي خو دا ضروري ده چې په دې اعلان سره د لمونځ ګزارو په لمانځه کې خلل رانشي.

په جومات کې د ورک شوي ماشوم اعلان کول د انساني نفس د اهمیت په وجه جائز دي

سوال: په جومات کې په لاوډ سپیکر باندې مختلف قسمه اعلانونه کیږي د جلسې د منعقد کېدو، دضروري کاغذونو، د ورکو شویو پیسو، د ماشوم د ورکېدو، د جنازې د لمانځه او د ځناور د ورکېدو مثلا :د فلاني صاحب چیلۍ ورکه شوې ده، په اسلام کې دا کارونه څنګه دي؟ او کوم قسم اعلانونه صحیح دي؟

جواب: په جومات کې دیوورک شوي شي له پاره اعلان کول صحیح نه دي په حدیث شریف کې ددې سخت ممانعت راغلی دی[٣]خو د ورک شوي ماشوم اعلان کول د انساني نفس د اهمیت په وجه جائز دي او کوم شی چې په جومات کې پیداشوی وي لکه د چا نه ګړۍ(ساعت) پاتې شوې وي ددې اعلان کول جائز دي چې فلانی شی په جومات کې پیداشوی دی چې د چا وي، نو هغه دې واخلي د جنازې د لمانځه اعلان هم جائز دی له دې نه پرته نور اعلانونه ناجائز دي

١] عن ابی هریرة قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:من سمع رجلاً ینشد ضآلة فی المسجد فلیقل:لا ردها الله علیک،فان المساجد لم تبن لهذا.رواه مسلم.(مشکوة ص:٦٨)۔

٢]مشکوة ص:٦٨،کتاب الصلاة،باب المساجد وموضع الصلاة،الفصل الاول،طبع قدیمی کتب خانه)۔

٣]ایضا)۔

د مختلفو اعلانونو له پاره د جوماتو لاوډ سپیکر استعمالول

سوال: زموږ په محله کې د هر کار له پاره د جومات لاوډ سپیکر استعمالوي مثلا د بکر میلمانه راغلي دي هغه دې زر د هغوی سره ملاقات وکړي، د يو شي د ورکيدو د خبر له پاره د معمولي کارونو له پاره هم لاوډ سپیکر استعماليږي ايا دا جائز دي؟

جواب: د جومات د ضرورتونو نه پرته د لاوډ سپیکر استعمالول جائز نه دي. جومات د دې شيانو نه پاک ساتل ضروري دي د ورک شوي شي اعلان په جوماتو کې کول صحیح نه دي[۱] خو که په جومات کې د چا نه يو شي پاتې شوی وي د هغه اعلان کول جائز دي او د ورک شوي ماشوم اعلان هم د ضرورت په وخت جائز دی.

د جوماتو لاوډ سپیکر د ګناه د کارونو له پاره استعمالول جائز نه دي

سوال: د آزادۍ په ورځ یعنی (۱۴ اګست) باندې ما د جوماتو ایمپلي فائر او لاوډ سپیکر د موسيقۍ له پاره استعمالېدونکی وليده. بلکې ددې نه مخکې هم د تهوار والا ورځ باندې داسې کيږي، زما دا خبره ناخوښه شوه چې هغه لاوډسپيکر چې په هغه کې اذان کيږي نن په هغه کې موسيقي غږيږي. کله چې مې ددې ذکر د خپل يونټ د يو سړي سره وکړ. نو د جواز له پاره هغه دا وجه بيان کړه چې دا پراپرټي په اصل کې د جوماتو نه ده سوا د خاص ورځو يا د ښادۍ د ورځو نه دا لاوډسپيکر فارغ وي په دې وجه دا په جوماتو کې استعماليږي .او کله چې ضرورت راشي، نو موږ خپل مطلب حاصلو مهرباني وکړئ دا مسئله د قرآن او سنت په رڼا کې واضحه کړئ.

جواب: کوم لاوډ سپيکرچې په جوماتو کې استعماليږي هغه دګناه په کار کې استعمالول جائز نه دي[۲] او که هغه لاوډ سپيکر د جوماتو نه وي. نو هغه دې په جوماتو کې نه استعمالوي

په شب برات کې د جوماتو په لاوډسپيکر باندې تقريرونه او نعتونه

سوال: په شب برات باندې زموږ په محله کې د شپې ناوخته پورې په لاوډ سپيکر باندې د تقريرونو او نعتونو محفل وي، چې په وجه يې د محلې والا په ښې طريقې سره په کورونو کې عبادت نه شي کولی. نه خوب کولی شي تاسو دا بيان کړئ چې د جوماتو والا خلکو دا کار صحيح دی؟

جواب: په جوماتو کې که تقرير په وړو شپو کې وي او که په لويو کې د هغه له پاره يوازې د

۱] عن ابي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من سمع رجلاً ينشد ضآلة في المسجد فليقل: لا ردها الله عليك، فان المساجد لم تبن لهذا. رواه مسلم. (مشكوة ص: ۶۸)۔

۲] ولا تعاونوا على الاثم والعدوان (المائدة: ۲)۔

دننه لاؤډسپیکر استعمالول پکار دي چې آواز د جومات په حدود کې وي او د محلې والا ته چې په هغوی کې بیماران هم وي تکلیف نه وي د اورولو فائده هغه وخت وي چې چې کله یې اوریدونکي په شوق سره اوري په دې وجه کوموخلکوته چې اورول مقصود دي هغه دې په ترغیب ورکولوسره جومات ته راوغوښتل شي

د جومات د لاؤډ سپیکر آواز څومره پکار دی؟

سوال: زموږ د محلې په یو جومات کې بې حسابه تېز لاؤډسپیکر لګیدلې دی،هغه سره د اذان شریف آواز دومره زور سره راځي چې ګیرچاپیره ټول دیوالونه ښوروي،ددې جومات موذن ته ادب سره عرض شوی دی چې د اذان آواز لږ کم کړئ .خو هغه داکار غیراسلامي ګڼي او بحث مباحثه کوي چې په اسلام کې کوم قانون او قاعده ده چې د اذان اواز دې محیط شي،ستاسو په خدمت کې ګزارش دی چې دې کم علم انسان ته ستاسو د رهنمائی ضرورت دی چې دی څه داسې حوالو نه خبر شي کوم چې دې موذن صاحب ته اوښودل شي چې د اذان اصل مقصد "شوروغوغا"ده یا انسانان د لمانځه طرفته رابلل دي"؟چې د هغه په آواز اوریدلو سره زموږ په زړونو کې خوشحالي.راحت او سکون راتلل پکار دي.که ددې آواز په اوریدلو سره په زړه او دماغو کې منفي خیالات راشي، نو ددې شي نه څنګه پرهیز وکړل شي.

جواب: د لاؤډسپیکر استعمال ضرورت دی د شوق شی نه دی،د لاؤډسپیکر آواز دومره پکار دی چې هغه سره خلکو ته د څه وجې نه پرته تکلیف نه وي.

په جوماتونو کې لاؤډسپیکر باندې د تلاوت کیسټ لګول

سوال: **جومات** کې د جمعة المبارك په ورځ د جُمعې د لمانځه نه وړاندې په لاؤډسپیکر باندې د تلاوت کیسټ لګوي او محلې والاوو ته آواز رسوي،لوړ آواز سره په لاؤډسپیکر باندې د قرآن پاك تلاوت کول شرعاً څنګه دي؟لګول یې پکار دي اوکه بندول ؟د ژوندي انسان نه دقرآن اوریدل او کیسټ نه د قاریتلاوت اوریدل،دواړه په ثواب کې برابر دي؟

جواب: **جومات** کې په لاؤډسپیکر باندې کیسټ لګول ډیرزیات غیرمناسب دي،دې سره محلې والو ته تکلیف وي.

لاؤډسپیکر باندې وعظ کول شرعاً څنګه دي؟

سوال: سوال دا دی چې زموږ په محله کې کور سره نژدې یو جامع جومات دی،چې په هغه کې مولوي صاحب د شپې پورې په لاؤډسپیکر کې وعظ کوي، د هغه له وجې نه خلک کافي تنګ دي څکه چې کیدای شي چې څوك مریض وي، او ورته د آرام ضرورت وي، یا د یو ماشوم سحر امتحان وي،سوال دا دی چې ایا دا طریقه صحیح ده چې زبردستی سره د یو سړي په غوږ کې د خدای پاك ذکر و شي؟

جواب: د لاؤډسپيکر داسې استعمال صحيح نه دی چې هغه سره محلې والاوو ته تکليف وي.

د جومات د کوهي نه څښلو، جامو وينځلو او داسې نورو... لپاره اوبه اوړل

سوال: زموږ په کلي کې جومات دی،هغه نه عام خلک د څښلو ،جامو وينځلو لپاره او يا نژدې ځوك آبادي کوي. نو هغې لپاره ددې نه اوبه استعمالوي په دې کې د اوبو راويستلو لپاره مشين لګيږي .د جومات بجلي هم خرچ کيږي.تاسو ته عرض دا دی چې ايا ددې اوبو استعمالول جائز دي او که نه؟بيا کومو خلکو چې استعمال کړي دي، نو هغوی لپاره څه حکم دی؟ ايا د آينده استعمالولو نه يې منع کړو يا يې استعمالولی شي؟

جواب: د کومو خلکو په چندو سره چې دا مشين لګيدلی دی که هغوی عامو خلکو ته د دې کوهي نه د اوبو اخستلو اجازت کړی وي (که لفظاً وي يا حالاً وي) نو بيا جائز دي [١]

د سکول سامان په جومات کې استعمالول

سوال: يو هائي سکول کې د يو جومات تعمير شروع دی،ددې هائي سکول د آبادۍ څۀ برخه د حکومت له طرفه بيکاره ګرځول شوې ده،مسئله دا ده چې ددې بيکاره ګرځول شوې برخې د چت سامان مثلاً ټي آر ،ګارډر او داسې نور... په جومات باندې اچول کيدای شي؟

جواب: که د حکومت له طرفه اجازه وي،نو بيا دا سامان په جومات کې استعمالول صحيح دي

د جومات په ديوال باندې سياسي نعرې ليکل

سوال: اکثر ليدل شوي دي چې د جوماتونو په ديوالونو باندې هم سياسي نعرې ليکل شوې وي،ايا داسې کول ګناه نه ده ځکه چې د جوماتونو تعظيم او عزت فرض دی؟

جواب: د جومات ديوالونه ددې شيانو لپاره استعمالول د جومات د حرمت او د تعظيم نه خلاف دی.[٢]

د جومات د اودس خانې نه د عام استعمال له پاره اوبه اخستل جائز نه دي

سوال: د اودس خانې د نلکې نه دکانداران روزانه اوبه وړي ايا دا شرعا جائز دي؟

جواب: د اودس خانې(سبيل) اوبه د اودس له پاره خاصې دي ،ددې وړل صحيح نه دي[٣] .

---

[١] لا يجوز لاحد ان يتصرف فی ملک الغير بغير اذنه.وفی الحاشية: والاذن عام سواء كان صراحة او دلالة. (قواعد الفقه،ص:١١٠،القواعد الفقهية،طبع صدف پبلشرز کراچی).

[٢] عن عائشة قالت:امر رسول الله صلی الله عليه وسلم ببناء المسجد فی الدور وان ينظف ويطيب.رواه ابو داؤد والترمذی وابن ماجة.(مشكوة ص:٦٩،باب المساجد مواضع الصلاة).

[٣] شرط الواقف كنص الشارع ای فی المفهوم والدلالة ووجب العمل به.(ردالمحتار ج:٤ ص:٤٣٣،كتاب الوقف) لا يجوز لاحد ان يتصرف فی ملک الغير بغير اذنه.وفی الحاشية:..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

خوکه د محلې والا نلکه د عامو خلکو له پاره لګولي وي او دکاندارانو ته د اوبو وړلو اجازه وي ،نو بياجائز دي

په جومات کې د خاورو تيل سوځل مکروه دي

سوال: د بجلۍ د نه شتون په وجه په جومات کې د خاورو د تيلو لالټين استعمالول صحيح دي؟ او که په شمع يا بل شي سره رڼاا وکړو؟ سره له دې چې د خاورو تيل جومات ته راوړل نه دي پکار ځکه په دې سره بدبويي وي او د بدبويي والا شی جومات ته راوړل منع دي ددې ګناه به په چا وي؟ په لالټين روښانه کونکي باندې اوکه د جومات په انتظاميه باندې؟

جواب: په جومات کې د خاورو تيل د بدبويي له وجې نه سوخول مکروه دي [۱]

د جومات په ديوال باندې اشتهار لګول

سوال: جومات د الله پاک کور دی، په هر مسلمان باندې يې احترام واجب دی. خو موږ وينو چې چې خلک د جوماتونو په ديوالونو باندې اشتهار لګوي، بلکې هره خبره او اعلانات هم په غټو حروفو کې ليکي مولانا صاحب!مهرباني وکړئ او دا بيان کړئ چې د جوماتونو دديوالونو سره داسې کول تر کوم ځای پورې جائز دي؟ او اشتهار لګونکو ته په دې کار څه سزا يا جزا ورکول پکار دي؟

جواب: د جومات په دروازو او ديوالونو باندې اشتهار لګول د دوه وجو نه ناروا دي.يو دا چې د جومات دديوال استعمال د خپل ذاتي مقصد له پاره حرام دي .فقهاء کرامو ليکلي دي چې د جومات د ګاونډي له پاره جائز نه دي چې د جومات په ديوال باندې خپل تير کيږدي [۲]

دويمه وجه داده چې د جوماتونو دپاکوالي او تعظيم حکم شوی دی [۳] او د جومات په ديوال باندې اشتهار لګول بې ادبي اوناپاکي ده .ايا يو سړی د ګورنر هاوس په دروازه باندې د اشتهار لګولو زړورتيا کولی شي؟ او هغه ته به ددې اجازه ورکړل شي؟ او ايا په خپل کور باندې به داسې مختلف قسمه اشتهار لګول خوښ کړي؟ ايا د مسلمانانو په نظر کې د الله پاک د کور لوی والی د خپل کور برابر هم پاتې نه شو؟ افسوس دا دی چې د جومات په دروازو

...بقيه د تيرمخ]..والاذن عام سواء كان صراحة او دلالة. (قواعد الفقه.ص:١١٠،القواعد الفقهية.طبع صدف پبلشرز كراچى)_

١] يحرم فيه (اى للمسجد)...واكل نحو ثوم، ويمنع منه وكذا كل موذ...ومما له رائحة كريهة(درمختار ج١ ص٦٦١)

٢] قلت:وبه علم حكم ما يصنعه بعض جيران المسجد من وضع جذوع على جداره فانه لا يحل ولو دفع الاجرة.(ردالمحتار ج:٤ ص:٣٥٨،كتاب الوقف،مطلب فى احكام المساجد)_

٣]عن انس قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:البزاق فى المسجد خطيئة وكفارتها دفنها.متفق عليه.وعن عائشة قالت:امر رسول الله صلى الله عليه وسلم ببناء المسجد فى الدور وان ينظف ويطيب.رواه ابوداؤد والترمذى وابن ماجة.(مشكوة ص:٦٩،كتاب الصلاة،باب المساجد ومواضع الصلاة)_

او ديوالونو باندې د اشتهار لګولو مرض زياتيږي. نه يوازې اشتهار لګونکې د الله د کورله بې ادبي نه منع کړې بلکې علماوو ته خلک په دې خبره خبرول پکار دي چې د الله د کور آبادوالی د ښار او د محلې د آبادۍ ذريعه ده او د الله پاک د کور ورانول زموږ د ښارونو او د محلو د ورانېدو سبب دی [۱]

جومات ته نژدې فلم غږول او نور لهو لعب کول سخته ګناه ده

سوال: زموږ په محله کې ځينې جومات ته نژدې د فنکشن په نوم باندې د راګ رنګ محفلونه(فلم شو وغيره)کوي.په دې کې د لاؤډ سپيکر استعمال هم آزاد کيږي.په دې صورت حال کې زموږ د جومات او مدرسې منتظمينو لومړی دې خلکونه غوښتنه وکړه چې هغوی دې د جومات احترام اوساتي.خو هغوی دا درخواست قبول نه کړ .نو په قانوني ذريعې سره مو هغه سلسله بنده کړه.دهغې سلسلې د بنديدلو په وجه اوس هغه خلک انتقامي هلې ځلې کوي. هغوی د جومات او مدرسې د منتظمينو خلاف يو دستخطي تحريک شروع کړی دی او د ويرې فضاء قائمول غواړي.ايا داسې خلکو ته د مدرسې د منتظمينو او د امام خلاف شرعا د مداخلت اجازه شته اوکه نه؟ او دا هم چې ددې دستخطي تحريک شرعي حيثيت څه دی؟ او دا خلک چې د فلم له پاره کومه چنده جمع کوي دهغې په باره کې څه حکم دی؟

جواب: کوم صورت چې په سوال کې بيان شوی دی دهغه مطابق د هغو خلکو د جومات د انتظاميه او امام خلاف تحريک چلول شرعا او اخلاقا غلط دي.هغوی ته په خپل کار باندې توبه ويستل پکار دي.د مسلمان شان دا دی چې کله هغه د يو ګناه نه بند کړل شي. نو په دې باندې ضد نه کوي. بلکې په خپله غلطۍ باندې دې د پښيمانتيا اظهار وکړي.د ګناه د کار له پاره چنده وغير ه کول حرام دي [۲] .په جومات کې شورکول حرام دي [۳] . او د ګانې وغيره آواز او د بهر شور د لاؤډ سپيکر په ذريعه جومات ته رسول د جومات بې عزتي ده.چې دهغې په وجه په داسې کار کونکو باندې فرښتې لعنت راليږي،او د لمونځ ګزارو په لمونځ او ذکر کې هم خلل پيدا کيږي، په دې وجه داسې خلک د داسې حرکت نه منع کول پکار دي. که نه د الله پاک له طرفه به ددې خلکو په کورونو باندې مصيبت نازل شي [۴]

....

۱] ومن اظلم ممن منع مساجدالله ان يذكر فيها اسمه وسعى فى خرابها اولئک ما كان لهم ان يدخلوها الا خائفين، لهم فى الدنيا خزى ولهم فى الاخرة عذاب عظيم (البقرة: ١١٤)ـ

۲]ولا تعاونوا على الاثم والعدوان (المائدة: ٢)ـ

۳]عن الحسن مرسلاً قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ياتى على الناس زمان يكون حديثهم فى مساجدهم فى امر دنياهم فلا تجالسوهم فليس لله فيهم حاجة.رواه البيهقى فى شعب الايمان.(مشكوة ص: ٧١)

٤] ومن اظلم ممن منع مساجدالله ان يذكر فيها اسمه وسعى فى خرابها (البقرة: ١١٤)ـ

جومات کې دلارې جوړول د آدب او احترام منافي دي

سوال: دا خبره ترکوم ځای پورې صحیح ده،چې په جومات کې لاره جوړوی؟ که دا صحیح وي ،نو په کراچی کې ډېر جوماتونه داسې دي چې دا شي موږ وینو مثلاً د نیو میمن د جومات مثال تاسو واخلئ حال دا چې هغه ته مخامخ یوه محله شته. خلک په هلته د تیریدلو په ځای په جومات کې تیریږي.

جواب: د جومات نه دلارې جوړول د جومات د ادب او احترام منافي دی او د جومات د بې ادبی سزا ډېر سخته ده مسلمانانو ته له دې سزا نه ویریدل پکار دي.[۱]

د جومات نه د سیل ځای جوړول او په هغه کې تصویرونه ویستل جائز نه دي

سوال: د ټهټهه په یو جومات کې غیر ملکي سیل کونکو چې په هغو کې نیمې لوڅې ښځې هم وې منبر او محراب ته نژدې په ناسته او ولاړه تصویرونه وېستل .نو یو صاحب د یو هفت روزه مذهبي کالم لیکونکي نه پوښتنه کړې وه چې ایا دا د جومات بې حرمتي نه ده؟ نو په جواب کې هغه ویلي و چې تاسو فکر مه کوئ دا څه خاص مسئله نه ده سیل کونکي کله هم بې ادبي نه کوي، بلکې د تصویر په ذریعه یادګاري لمحات محفوظوي.مولانا صاحب!ایا دا په نیم لوڅ لباس کې د ښځو په مختلفو زاویو باندې په جومات کې تصویرونه ویستل د جومات بې حرمتي نه ده؟ بلکې زموږ په زمانه کې خو که زنانه په لباس کې پټه هم وي. نو دهغې جومات ته تلل عیب ګڼل کیږي.

جواب: اول خو جومات نه د تفریح ځای او د سیل او سیاحت موضوع جوړول نه دي پکار ،بیا د نیم لوڅو کافرانو ښځونخرې کول بې حده ناروا خبره ده.،چې د هغوی په باره کې دا خبره هم معلومه نه ده چې هغوی به د جنابت غسل کړی وي او که نه؟ او بیا په جومات کې تصویرونه اخستل ددې نه هم بده ګناه ده په دې وجه دا کار د څو حرامو کړونو مجموعه ده[۲] او بالکل د جومات د احترام منافي دی،د انتظامیې فرض دي چې دا کار منع کړي

۱] الاول فیما تصان عنه المساجد یجب ان تصان عن..........المرور فیها لغیر ضرورة...............وروی ابن ماجة انه علیه الصلاة والسلام قال خصال لا تنبغی فی المسجد لا یتخذ طریقا ولا یشهر فیه سلاح...الخ. (حلبی کبیر ص:٦١١،٦١٠).ومن اعتاد المرور فیه یاثم ویفسق.(الاشباه والنظائر ج:٢ :٢٣٤،القول فی احکام المساجد)_

۲]فالحاصل ان المساجد بنیت لاعمال الآخرة مما لیس فیه توهم اهانتها وتلویثها مما ینبغی التنظیف منه ولم تبن لاعمال الدنیا ولولم یکن فیه توهم تلویث واهانة علی ما اشار الیه قوله علیه الصلوة والسلام فان المساجد لم تبن لهذا.(حلبی کبیر ص:٦١١).ایضا:ومنها انه یحرم علیهما وعلی الجنب الدخول فی المسجد سواء کان للجلوس او للعبور وهکذا فی منیة المصلی.(عالمگیری ج:۱ ص:۳۸،الفصل الرابع فی احکام الحیض والنفاس والاستحاضة)_

د جوماتفنډ په ذاتي امورو کې استعمالول جائز نه دي

سوال: يو سړي د خپلو ذاتي تعلقاتو په بنياد د بل سړي نه د جومات د تعمير له پاره څه پيسې وصول کړې. اوس پيسې وصولونکي سړي د مسجد په تعمير کې څه پيسې خرچ کولو نه وروسته پاتې پيسې په خپل کار کې خرچ کړي په دې حالت کې شرعًا ددې سړي متعلق څه حکم دی؟ په پيسې ورکونکي سړي باندې او نورو دمحلې والاوو او د جومات لمونځ ګزارو باندې شرعًا څه ذمه داري راځي په تفصيل سره جواب راکړئ او د زړه تسلي راکړئ.

جواب: د جومات پيسې ددې سړي له پاره په خپل کار کې لګول شرعًا جائز نه وو[۱] لهذا هغه ته پکار دي چې توبه او استغفار وکړي او کومې پيسې چې هغه استعمال کړي دي د هغو تاوان دې ورکړي[۲] د محلې والاو لمونځ ګزارو ذمه داري هم داده چې ددې سړي نه تاوان واخلي.[۳]

په غير قانوني ځای باندې د جومات جوړول او د نورو کارونو کټه حاصلول

سوال: مخکې ورځو کې مې په اخبار کې يو مضمون له نظر تير شوی و چې په غير قانوني بې ترونه ځای باندې که حکومت اعتراض ونکړي. نو هغه جومات قانوني حيثيت اختيار وي زموږ په محله کې د ګټې شوقيانو په بې ترونه غير قانوني طريقې سره ځای ګيرولو سره د جومات بنياد اچولی دی او ورو ورو يې کافي ځای ګيرولو سره يو جامع مسجد جوړ کړ. ددې څلورو واړو اړخونو ته يې ناجائزه زياتې ځايونه کورونه او کارخانې وغيره د جومات له پاره نه. بلکې د خپلې ګټې ذريعه پيدا کړې ده.د جامع مسجد سره يو اوږد او پلن د اوسيدلو ډيلاټ وغيره ځای و. هغه يې د عيد ګاه په نوم سره نامدار کړ. منارد يې هم جوړ کړه. کوم ځای چې د دواړو اخترونو لمونځونه کيږي.اوس د عيد ګاه ځای هسې په نوم پاتې شو. په هغه ځای باندې کارخانې جوړولو سره په کرايه باندې ورکړل شو چې دهغه يوازې يو سړی کرايه وصولوي خپل ذاتي ملکيت ورته وايي ځمکه د کې ډی اې (K.D.A) ده.

جواب: ددې جومات د تعمير په وخت کې د حکومت د يوې محکمې له طرفه اعتراض نه و شوی او جومات هسې هم د مسلمانان يو ضرورت دی په دې وجه جومات خو صحيح دی.

۱]متولی المسجد ليس له ان يحمل سراج المسجد الى بيته وله ان يحمله من البيت الى المسجد كذا فى فتاوى قاضيخان.(عالمگيرى ج:۲ ص:٤٦٢،كتاب الوقف،الباب الحادى عشر فى المسجد وما يتعلق به)_

۲]اكار تناول من مال الوقف فصالح المتولى على شىء فهذا على وجهين اما ان يكون الاكار غنيا او فقيرا ففى الوجه الاول لا يجوز الحط من مال الوقف.(التاتار خانية،كتاب الوقف ج:۵ ص:۷٦۰،طبع ادارة القرآن كراچى، ايضا عالمگيرى ج:۲ ض:٤٦٤،كتاب الوقف،الباب الحادى عشر فى المسجد وما يتعلق به)_

۳] وللمتولى ان يستاجر من يخدم المسجد يكنسه ونحو ذالک باجر مثله او زيادة يتغابن فيها فان كان اكثر فالاجارة له وعليه الدفع من مال نفسه ويضمن لودفع من مال الوقف.......كذا فى فتح القدير.(عالمگيرى ج:۲ ص:٤٦١)

باقي کوم ځای باندې چې ناجائزه قبضه ده هغه دې لیرې کړل شي او په جومات باندې که غلط خلک مسلط وي. نو حکومت دې د هغوی تسلط ختم کړي او جومات دې محکمه اوقاف ته حواله کړي .

د جومات د زیاتي شیانو د خرڅولو نه وروسته دې داپیسې د جومات په ضروریاتو کې ولګول شي

سوال: ملک کوآپریټو هاوسنګ سوسائټي پاکستان (رجسټرډ) په کراچی کې په سپرهایې وے باندې د سوسائټي د جومات تعمیر شروع کېدونکی دی. ددې جومات له پاره د سوسائټي د ممبرانو او د ملکانو خیراتونه د پیسو په شکل کې د ورکولو درخواست کړی و او ددې له پاره یې باقاعده مسجد فنډ قائم کړی و. د پیل نه وروسته د ملکانو د افرادو له طرفه د پیسو په شکل کې او د شیانو په صورت کې ورکړې شروع شوې. د شیانو په صورت کې چې کوم شیان وصول شو هغه دادي: ددیوال ګړی (ساعت)، د چت پنکې، صفونه او جانماز وغیره. د جومات په تعمیر کې به لاوخت لګیږي او د کراچی د موسمي حالاتو مطابق ددیوال د ګړیو او د پنکو د زنګ کیدلو خطره ده. نو ایا سوسائټي ددې شیانو د خرڅولو نه وروسته دا شیان په فنډ کې شاملولی شي او که نه؟ یا دا شیان په نورو ضرورت مندو جوماتونو کې تقسیم کړل شي؟ ترڅو چې ددې سوسائټي د جومات تعمیر شروع شي څنګه صورت چې غوره وي د شریعت په بنیاد فتوا راکړئ.

جواب: دا شیان دې خرڅولو سره په جومات کې خرچ کړل شي. کوم شیان چې د جومات له ضرورت نه زیات وي او هغه نه خرڅیږي. هغه دې په یو بل جومات ته ورکړل شي[1]

د جومات نه استعمالیدونکی سامان د موذن په کمره کې استعمالول څنګه دي؟

سوال: د اوقاف له لوري په جومات کې چې د موذن له پاره کومه کمره جوړه شوې ده په هغه کې د جومات په نوم وقف هغه قالین یا د اوبو کولر چې دهغه جومات والو ته بالکل ضرورت نشته که هغه استعمال نه کړل شي. نو هغه به ضائع شي او داسې قالین پخوانیو اوقاف والو هم په لیدلو سره په جومات کې نه وې شمار کړې او نه یې د هغه اندراج کړی وي، هغه د موذن په کمره کې د استعمالولو څه حکم دی؟ دلته د نورو جوماتونو والا هم د داسې قسمه سامان نه

---

[1] ونقل فی الذخیرة عن شمس الائمة الحلوانی انه سئل عن مسجد اوحوض خرب ولا یحتاج الیه متفرق الناس عنه هل للقاضی ان یصرف اوقافه الی مسجد او حوض آخر.فقال:نعم....الخ.(شامی ج:٤ ص:٣٥٩، کتاب الوقف، عالمگیری ج:٢ ص:٣٤٩،نظام الفتاوی ج:١ ص:٣٧١، خیر الفتاوی ص٨٠٣)۔

بي پرواه دي او چرته ليرې صحرا وغيره ته وړلو څه رواج او انتظام هم نشته
جواب: كه د اوقاف اجازه وي. نو دا قالين او د اوبو د كولر د مؤذن په كمره كې استعمالولو كې هيڅ باک نشته [۱]

د جومات د فنډ ذاتي استعمال

سوال: زيد ديو جومات تعميراتي كار كوي او ټول فنډ كوم چې خلک وركوي هغه له زيد سره وي.اوس زيد د كور د څه پريشاني له وجې نه د جومات دغه تعميراتي فنډ نه وخت په وخت د قرض په نيت سره پيسې اخلي.حساب وكړل شو. نو د زيد په ذمه تقريباً دوه ويشت،۲۲ زره روپۍ جوړيږي.اوس د زيد امدن هم دومره نه دی چې قرض خلاص كړي.نو اې زيد د خلكو نه د زكات پيسې واخلي او د جومات فنډ ادا كړي او خلكو نه د زكات پيسو اخستلو سره دا وايي چې د زكات پيسې ماته راكړئ. نو ايا دا صحيح ده؟
جواب: دا سړى كه هرقسم عنوان سره چې وي د زكات پيسې دې واخلي او د جومات روپۍ دې پوره كړي او اينده دې د لوړې نه مړ شي .خود جومات پيسې دې نه اخلي [۲]

د جومات له روپو نه قرض اخستل

سوال: زه د جومات خزانچي يم.د جومات ټول حساب ماسره امانت دی او زه په خپله هم يو كاروباري سړی يم. ماته اكثر خلک د قرض غوښتلو له پاره راځي او زه يې ورته وركوم.څينې وخت خلک په قرض واپس كولو كې تاخير وكړي او كله كله ماسره خپلې پيسې نه وي. نو مجبوراً زه د جومات روپۍ هم استعمال كړم.خو د جومات والو باره كې مې دا خيال وي چې كله هم څوك د څه كار له پاره پيسې وغواړي. نو هغه وخت به ورته د څېرته نه وركړم او ماسره اكثر روپۍ ځي راځي.ايا زه په خپل كاروبار كې د جومات روپۍ استعمالولی شم. يا يو ايماندار سړی ماته راشي او ووايي چې د جومات روپۍ تاسو سره دي په هغه كې ماته څه راكړه.چې كله يې وغواړې. نو بيا به يې دركړم. نو ايا زه ورته وركولی شم اوكه نه؟ايا د جومات چې كومې روپۍ راشي هم دغه حالت كې يې جدا كيږدم. لاس ورته نه لګوم؟جواب راكولو سره زما پريشاني ختمه كړئ.
جواب: د جومات روپۍ امانت دي.دا بعينه محفوظ ساتل پكار دي.دا په خپل ذاتي استعمال كې راوستل يا قرض وركول جائز نه دي والله اعلم![۳]

۱]لايجوز لاحد ان يتصرف فى ملک الغيربغير اذنه والاذن عام سواء كان صراحة اودلالة(قواعد الفقه ص:۱۱۰)
۲]رجل جمع مالا من الناس لينفقه فى بناء المسجد فانفق من تلک الدراهم فى حاجته........لا يسعه ان يفعل ذلک فان فعل.......الضمان واجب.(عالمگيری ج:۲ ص:۴۸۰،طبع بلوچستان).
۳]رجل جمع مالا من الناس لينفقه فى بناء المسجد فانفق من تلک الدراهم فى حاجته[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

جومات کې د یو خاص کار له پاره ورکړل شوې روپۍ په بل مد کې استعمالول

سوال: که یو سړی د جومات صحن د سنګ مرمر نه جوړولو لپاره چنده ورکړي. نو ایا انتظامیې ته دا حق حاصل دی چې هغوی دا روپۍ په نورو کارونو کې خرچ کړي؟

جواب: که چنده یې د فرش جوړولو لپاره ورکړې وي او نورو ضرورتونو کې د خرچ کولو نه یې منع کړې وي. نو ددې چندې یوازې په فرش کې لګول پکار دي. د هغه د رضامندۍ نه پرته دا چنده په بل ضرورت کې د خرچ کولو حق هیچاته هم نشته.[1]

په یو حدیث شریف کې د نبي کریم ﷺ ارشاد مبارک دی چې کوم سړی دا غواړي چې د ټولو نه زیات قوي وي هغه دې په الله پاک باندې توکل وکړي[2] او څوک چې دا غواړي چې د ټولو نه زیات غني وي. نو هغه ته پکار دي چې کوم شی الله پاک سره دی په هغه باندې د هغه شي نه زیات اعتماد وکړي څومره اعتماد چې دده په خپل موجوده شي باندې وي.[3]

امام لپاره د جومات سامان استعمالول

سوال: د جومات امام صاحب په خپله حجره کې د جومات سامان یعنې بجلۍ.بادپنکۍ.د ګېس هیټر او نور شیان استعمالولی شي؟

جواب: که د جومات والاوو اجازه وي، نو استعمالولی یې شي.[4]

...بقیه د تیرمخ]........لا یسعه ان یفعل ذلک.فان فعل......الضمان واجب.(عالمگیری ج:۲ ص:٤٨٠).
مع ان القیم لیس له اقراض مال المسجد قال فی جامع الفصولین:لیس للمتولی ایداع مال الوقف والمسجد الا ممن فی عیاله.ولا اقراضه فلو اقرضه ضمن.وکذا المستقرض. (البحر الرائق ج:٥ ص:٤٠١، کتاب الوقف)

[1] وفی الدر المختار:وفی الدرر وقف مصحفا علی اهل مسجد للقراءة ان یحصون جاز...الخ.وفی الشامیة:قوله ان یحصون جاز هذا الشرط مبنی علی ما ذکره شمس الائمة من الضابط وهو انه اذا ذکر للوقف مصرفاً لا بد ان یکون فیهم تنصیص علی الحاجة حقیقة کالفقراء او استعمالاً بین الناس کالیتامی.(ردالمحتار ج:٤ ص:٣٦٥،کتاب الوقف).

[2] من سره ان یکون اقوی الناس فلیتوکل علی الله.ابن ابی الدنیا فی التوکل عن ابن عباس.(الجامع الصغیر ص:٥٢٩.طبع دار الکتب العلمیة.بیروت).

[3] وقال صلی الله علیه وسلم:من سره ان یکون اغنی الناس فلیکن بما عندالله اوثق منه بما فی یدیه.(احیاء علوم الدین للغزالی،ج:٤ ص:٢٤٤،کتاب التوحید والتوکل،بیان فضیلة التوکل).

[4] وفی الدر المختار:وفی الدرر وقف مصحفا علی اهل مسجد للقراءة ان یحصون جاز...الخ.وفی الشامیة:قوله ان یحصون جاز هذا الشرط مبنی علی ما ذکره شمس الائمة من الضابط وهو انه اذا ذکر للوقف مصرفا لا بد ان یکون فیهم تنصیص علی الحاجة حقیقة کالفقراء او استعمالاً بین الناس کالیتامی.(ردالمحتار ج:٤ ص:٣٦٥،کتاب الوقف).

د چندې ورکونکو په اجازې سره د جومات په مصرفونو کې پيسې خرچ کيدلی شي

سوال: د جومات په نوم باندې چې کومه چنده جمع کيږي . يا جمع شوې ده. په دې پيسو سره د جومات غسل خانې، د استنجاء ځايونه يا د اوبو تالاب يا د امام صاحب له پاره کمره جوړول يا کوهی وغيره يعنې د جومات سره چې د کوم شي ضرورت دی ايا په دې پيسو سره چې کومې د جومات له پاره جمع شوي دي په دې باندې خرچ کول جائز دي اوکه نه؟

جواب: د چندې ورکونکو په اجازې باندې جائز دي [۱]

د سير، تفريح او کتلو لپاره جومات ته د غيرمسلمو داخليدل

سوال: مسئله داسې ده چې نن سبا ملك ته د نورو ملکونو حکومتي وفدونه راځي په هغو کې غيرمسلم هم وي، دا خلک د حکومتي مشرانو او صدر اسلامي جمهوريه پاکستان په رضامندۍ سره د جوماتونو تفريح کوي. خاص طور باندې د اسلام اباد جومات "شاه فيصل مسجد" په دې وفدونو کې ښځې هم وي، نو په داسې صورت حال کې ددې ښځو او د غيرمسلمو داخليدل جومات ته جائز دي؟

جواب: يو څو خبرې د توجه قابل دي

۱ جوماتونه د عبادت ځايونه دي. د تفريح ځايونه نه دي. دا د تفريح ځايونه ګرځول ډيره بده خبره ده. ۲ جومات ته د غيرمسلم تلل خو جائز دي ،خودا راتلونکي خلک اکثر داسې وي چې دوی نازك لباس اغوستی وي، عورت يې ښکاري. ښځې بې پردې وي او په دوی کې ډيره ممکنه ده چې ډيرو خلکو به د جنابت غسل هم نه وي کړی، نو په داسې حالت کې جومات ته ددې خلکو راتلل حرام[۲] او د مسلمانو لپاره ډيره د نفرت خبره ده

۳ ډيرې ښځې داسې دي چې هغوی دناپاك حالت له وجې نه جومات ته د راتلو اهل او قابل نه وي، د حيض و نفاس په حالت کې دي، يا د ماشوم پيدا کيدو په حالت کې دي يا د جنابت په حالت کې دي او هغوی خو جاهلان دي هغوی ته دا مسئله معلومه نه ده نه د هغوی په زړونو کې د الله پاك د کورونو احترام شته، له دې وجې نه هغوی هم د څه تکلف نه بغير راځي. نو داسې ښځو ته د راتلو اجازه ورکول او د هغوی راتلل د لعنت سبب دي

۱] وفى الدرالمختار: وفى وقف مصحفا على اهل مسجد للقراءة ان يحصو جاز ..الخ. وفى الشامية: قوله ان يحصون جازهذا الشرط مبنى على ما ذكره شمس الائمة من الضابط وهوانه اذا ذكرللوقف مصرفا لا بد ان يكون فيهم تنصيص على الحاجة حقيقة كالفقراء او استعمالاً بين الناس كاليتامى. (ردالمحتار ج: ٤ ص: ٣٦٥. كتاب الوقف)

۲]ومنها انه يحرم عليهما وعلى الجنب الدخول فى المسجد سواء كان للجلوس او للعبور وهكذا فى منية المصلى. (عالمگيرى ج: ۱ ص: ٣٨، الفصل الرابع فى احكام الحيض والنفاس والاستحاضة).

۴ ډیر خلک داسې دي چې خپل ځان سره د لوبو سامان ګرځوي. کیمرې یې په غاړه کې ځوړندې وي او د خوراك څښاك نه څه پرهیز نه وي. واړه ماشومان په لوبو کې مشغول شي. غرض دا چې جومات د ډیرو بې حرمتیو ښکار شي. له دې وجې نه ددوی راتلل صحیح نه دي
۵ حکومت که غیرمسلم ته اجازه ورکوي، نو ددې مقصد دا دی چې د هغوی په زړونو کې د اسلام عظمت قائم شي. خو حکومت ته پکار دي چې ددوی د داخلې لپاره څه شرطونه مقرر کړي

په جوماتونو کې تصویر ویستل او فلم جوړول ناجائز دي

سوال: ایا په جومات کې تصویرویستل، اخبار لوستل، د ټي وي والا فلم جوړول، چیغې وهل وغیره جائز دي؟

جواب: په جومات کې ټول دغسې کارونه ناجائز دي [۱]

د جومات بې عزتي د عذاب سبب دی

سوال: صاحبه! په اسلام کې د جومات احترام لازمي دی. خو د کراچۍ ډیفنس سوسائټی مسجد طوبی کې د جومات هیڅ احترام نشته. هلته روزانه غیر ملکي او ملکي ښځې او سړي راځي، مسلمانانې ښځې دجومات احترام پیژني. خو غیرمسلمې ښځې د احترام سره نابلدې وي. دڅه ښځو حیض وي په هغو ورځو کې دښځو جومات ته راتګ مناسب نه وي او غیر مسلمه ښځه د پاکوالي او د پاکوالي د لفظ نه هم ناخبره وي. اکثر کتل شوي دي چې نیم اسکرټ اغوستلو سره جومات ته راځي او یوازې انډویېر یې لاندې وي او کله چې په دروازه کې څپلۍ وغیره اوباسي، نو ټولې پښې یې تر ځنګونونو پورې لوڅې وي او د راتلو سره تصویرونه ویستل شروع کړي چې په هغه سره د جومات احترام ختم شي. د جومات انتظامیه او حتی چې د جومات امام هم دا تماشه ګوري او څوک هم څوک نه منع کوي. پوښتنه داده چې دا ذمه داري په چا باندې راځي؟ په انتظامیه باندې یا د جومات په امام باندې؟ څوک ګناهګار دي؟ ایا دا غیر مسلمه په خپلو عبادت خانو کې هم داسې کوي؟ زما دا خیال دی چې دوی به د خپلو ګرجو ضرور احترام کوي بیا دوی د مسلمانانو د عبادت خانو خیال ولې نه ساتي؟ ایا یو مسلمان ملک کې- هغه هم پاکستان چې په هغه کې د اسلامي نظام د نفاذ کوششونه کیږي - دداسې کولو اجازه شته؟ ما د هغه ځای کاکوونکوته وویل، نو وې ویل موږ څه کولی شو؟ موږ خو ملازمان یو ایا په ملازمانو باندې د جومات احترام قائم ساتل ضروري

۱] فالحاصل ان المساجد بنيت لاعمال الآخرة مما ليس فيه توهم اهانتها وتلويثها مما ينبغي التنظيف منه ولم تبن لاعمال الدنيا ولولم يكن فيه توهم تلويث واهانة على ما اشار اليه قوله عليه الصلوة والسلام فان المساجد لم تبن لهذا(حلبي كبير ص: ٦١١، فصل في احكام المساجد)عن ابي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من سمع رجلاً ينشد ضالة في المسجد فليقل: لا ردها الله عليك، فان المساجد لم تبن لهذا، (مشكوة ص: ٦٨)_

نه دي؟ خاص طور سره په غیر مسلمو ښځو باندې پابندي ضروري ده څکه چې معلومه نه ده چې دوی په کوم حالت کې یعنې په ناپاکه حالت جومات ته راځي؟ ایا د تصویر ویستلو له پاره یوازې جوماتونه پاتې شول؟ او هغه هم په لوڅ حالت کې په ولاړه. د الله خطر وکړی په دې مسئله باندې قلم وچت کړی.

جواب: د جومات کومه بې حرمتي چې تاسو لیکلې ده دا د عذاب سبب دی جومات د سیل ځای یا د تماشې ځای نه دی. ما اوریدلي دي چې په بیت المقدس باندې د قبضې نه مخکې د قبله اول نه هم د سیل ځای او د تماشې ځای جوړ شوی و. هلته به جمع هسې د نوم له پاره کیده خو د کتونکو یو غوبل به لګیدلی و. هم ددې وبال دی چې هغه جومات د مسلمانانو نه واخیستل شو. د حکومت فرض دي چې هغوی د جومات پاکوالی بحال کړي د تماشا کونکو په داخلیدلو باندې پابندي ولګوي او د جومات په احاطې کې تصویر ویستل منع کړي [۱]

د جومات د علامې له پاره یو مناره هم کافي ده

سوال: موږ د خپلې محلې جومات د شهید کولو نه وروسته په دویم ځل تعمیر کړ او د جومات یوه مناره مو هم د وسائلو مطابق جوړه کړه، خو څینوخلکو اعتراض وکړ چې دا د وهابیانو مناره ده د منارې د عظمت او حیثیت وضاحت وکړئ؟

جواب: مناره د جومات د علامې له پاره وي که د منارې نه د جومات. جومات کېدل معلوم شي. نو یوه مناره هم کافي ده په دې کې د وهابي یا غیر وهابي هیڅ مسئله نشته

د جومات نه قرآن کریم وړل جائز نه دي

سوال: له جومات نه که یو سړی قرآن کریم د لوستلو له پاره یوسي او خپل خان سره یې کیږدي په دې صورت کې هغه ته د قرآن کریم قیمت په دې جومات کې ورکول صحیح دي او که نه؟

جواب: د جومات نه قرآن کریم وړل جائز نه دي. دا دې دوباره په جومات کې کیږدي یا دې د هغه په ځای بل کیږدي. [۲]

۱] عن ابی سعید الخدری عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: من رای منکم منکرًا فلیغیره بیده، فان لم یستطع فبلسانه، فان لم یستطع فبقلبه، وذالک اضعف الایمان. (مشکوة ص: ۴۳۶. باب الامر بالمعروف). وفی المرقاة: وقال بعض علمائنا الامر الاول للامراء، والثانی للعلماء (مرقاة ج: ۵ ص: ۳. باب الامر بالمعروف، طبع بمبئی)

۲] وقف مصحفاً علی اهل مسجد للقراءة ان یحصون، جاز وان وقف علی المسجد جاز ویقرا فیه ولا یکون محصورًا علی هذا المسجد وبه عرف حکم نقل کتب الاوقاف من محالها للانتفاع بها والفقهاء بذلک مبتلون فان وقفها علی مستحقی وقف لم یجز نقلها. (الدر المختار مع الرد ج: ۴ ص: ۳۶۵. کتاب الوقف)۔

که په جومات کې قرآن مجیدونه زیات وي نو دې سره څه کول پکار دي؟

سوال: زموږ په جومات کې ۷۰۰ قرآن پاکونه دي، روزانه تلاوت کوونکي یوازې دیارلس (۱۳) کسان وي، په رمضان المبارك کې خلك نوي قرآن مجیدونه راوړي، په الماری کې ځای نه وي، لهذا د تیر کال قرآن پاکونه په بوری کې واچوو دې له پاره چې سمندر کې واچول شي، په هرجومات کې کم وبیش هم دا حال دی، قرآنونه له ضرورت نه زیات دي، دا که په بوری کې د اچولو په ځای د خلکو په کورونو تقسیم کړل شي، نو خلك منع کوي چې د جومات مال په کورونو ولې تقسیموی؟ سوال دا دی چې ایا موږ د جومات دا قرآن مجیدونه خلکو باندې تقسیمولی شو؟ دې له پاره چې په بورو کې د اچولو او د ضائع کیدو نه وساتل شي؟

جواب: کوم قرآن مجیدونه چې د ضرورت نه زیات دي، بهر دې وړو وړو کلو ته ولیږل شي چېرته چې د قرآن پاك کمی وي.[1]

جومات د الله پاک شاهي دربار دی د دې بې ادبي ګناه ده

سوال: په جوماتونو کې دنیاوي خبرې شرعا څنګه دي؟ او سره د بار بار منع کولو نه خلك بیا هم خبرې کوي، په جومات کې ګپ شپ لګول او په زور زور سره خبرې کول، د جومات په لاؤډ سپیکر باندې هر قسمه اعلانات کول، په واده وخیرات کې د ډوډۍ اعلان کول، که یو شی ورک شي، نو دهغه اعلان کول او داسې نور...ایا دا ټول جائز دي؟ ایا داسې کونکي ګناه ګاریږي هم اوکه نه؟

جواب: دا ټول کارونه ناجائز دي، همدغه شان هغه ټول کارونه چې د جومات د ادب خلاف دي ناجائز دي، جومات د الله پاك دربار دی ایا په شاهي دربار کې داسې په زور زرو سره چیغې وهل د ادب خلاف نه ګڼل کیږي؟ د مولانا محمد شفیع صاحب رحمه الله رساله آداب مساجد دې وکتل شي.[2]

د جومات فرش ماتول او ګټرلائن (د بیت الخلاء پائپ) تیرول

سوال: د جومات فرش ماتول او د ګټر لائن تیرول څنګه دي؟

جواب: د جومات لاندې ګټرلائن بوتلل صحیح نه دي.[3]

---

[1]]ایضا.

[2]] امداد الفتاوی ج۲ ص۶۳۵، طبع دارالعلوم کراچی)۔

[3]]فالحاصل ان المساجد بنیت لاعمال الآخرة مما لیس فیه توهم اهانتها وتلویثها مما ینبغی التنظیف منه.(حلبی کبیر ص: ۶۱۱،فصل فی احکام المساجد،طبع سهیل اکیدمی لاهور).

جومات ته بدبويه او نجس شيان راوړل جائز نه دي

سوال: څوک چې جومات ته د نشې والا شيان راوړي مثلا پان، سګريټ او نور نشې والا شيان ايا دا شيان جومات ته راوړل صحيح دي؟

جواب: نجس يا بدبودار شيان جومات ته راوړل صحيح نه دي او کوم شی چې نجس نه وي بدبودار وي. نو د هغه راوړل هم ناجائز دي [۱]

په جومات کې د شرعي غلطۍ صحيح کولو اجازه چاته حاصل ده؟

سوال: په جومات کې د شرعي غلطي صحيح کولو جائز مجاز څوک دي؟

جواب: کوم کار چې د شريعت خلاف وي.نو هر سړي ته د هغه د اصلاح کولو حق حاصل دی. خودوو شرطونو سره: يو دا چې لهجه د حاکميت نه وي، بلکې د نصيحت او د شفقت انداز وي. دويم دا چې ددې خبرې اميد وي چې زما نصيحت به بداثر نه کوي [۲]

په جومات کې قصدا څپلی بدلول سخته ګناه ده

سوال: په جوماتونو کې بالعموم او په جامع مسجد کې بالخصوص او په حرمين شريفين کې خاص الخاص باندې پيښيږي کوم ته چې د څپليو د بدليدلو نوم ورکول کيږي.په حرمين شريفين کې خو اکثر خلک خپلې څپلی کينبودلو سره هيرې کړي چې کوم طرف ته يې کينبودلي وي؟ او بيا صفايي کونکي خادمان هم څپلی وچتولو سره بهر وغورځوي يا يې پټې کړي په دې حالت کې د خپلو څپليو پيژندل ډيره ګرانه خبره ده زيات خلک د خپل ناپ څپلی هر څنګه چې وي د هر چا چې وي په پښو کړي چې په هغه کې زه هم شامل يم.خو زه اکثر هوايي څپلی په پښو کولو سره ځم او په واپسې باندې هم هوايي څپلی په پښو کوم او کوشش کوم چې د بيکارو نه بيکاره څپلی په پښو کړم د دواړو څپليو رنګ که مختلف نه وي.خو ليدل شوي دي چې خلک د خپلو بې کاره څپليو په بدل کې ښې څپلی په پښو کړي

جواب: قصدا څپلی بدلول سخته ګناه ده [۳] او کومې څپلی چې بيکاره پرتې وي او د هغه مصرف له غورځولو نه پرته بل هيڅ نه وي د هغو په په پښو کولو کې هيڅ باک نشته

۱] ويكره دخوله لمن اكل ذا ريح كريهة ويمنع منه وكذا كل موذ فيه.(الاشباه والنظائر لابن نجيم مع شرح حموى ج:۲ ص:۲۳۲)،يجب ان تصان عن ادخال الرائحة الكريهة لقوله عليه السلام من اكل الثوم والبصل والكراث فلا يقربن مسجدنا فان الملائكة تتاذى مما يتاذى منه بنو آدم.متفق عليه.(حلبي كبير ص:۶۱۰)_

۲] تفصيل لپاره اوګورئ "اصلاحي مواعظ"،ج۳، ص۱۴۶تا۱۶۲،تاليف:حضرت لدهيانوي شهيد رحمه الله.

۳] لا يجوز لاحد ان ياخذ مال احد بلا سبب شرعي.(قواعد الفقه ص:۱۱۰)_

د لمونځ کولو په وخت کې شمع ځان ته بالکل مخامخ ایښودل مکروه دي

سوال: اکثر په جومات کې د بجلي د تللو نه وروسته شمع بلیږي دا بیان کړئ چې د لمونځ کولو په وخت مخې ته شمع کیښودلو سره لمونځ کول څنګه دي؟ او په تیاره کې لمونځ کول جائز دي اوکه نه؟

جواب: شمع بالکل مخامخ کیښودل مکروه دي که لږ ښي اوچپ اړخ ته وي. نو هیڅ ګناه نشته. په تیاره کې لمونځ روا دی په دې کې هیڅ باک نشته په دې شرط چې د تیارې په وجه د قبلې اړخ غلط نه شي[۱]

غیر مسلم که په خپله چنده ورکړي نو په جومات کې یې لګول صحیح دي

سوال: په بهټ شاه ښار کې یو جومات جوړیږي، چې د هغه له پاره زموږ د ښار ټولو خلکو چنده ورکړه په دې کې ډیر بې شمیرغیر مسلم هم شامل دي. ایا د یو غیر مسلم نه د جومات له پاره چنده اخستل کیږي؟

جواب: د جومات له پاره د غیر مسلم نه چنده غوښتل، خو د مسلمانانو د غیرت خلاف ده خو که هغه پخپله دا یو نیک کارګڼي اوپه دې کې شرکت کول غواړي، نو د هغه چنده په جومات کې لګول صحیح دي[۲]

د جومات په تعمیر کې د غیرمسلم تعاون قبلول

سوال: ایا یوغیرمسلم د مسلمانانو د جومات په تعمیر کې څه قسمه مالي تعاون کولی شي یا جومات جوړولی شي؟که یوغیرمسلم جومات جوړکړی وي، نوپه هغه کې لمونځ کول څنګه دي؟

جواب: که هغه د جومات کار د ثواب کار ګڼي، نو د هغه جوړشوی جومات صحیح دی او په دې کې لمونځ کول جائز دي په دې شرط چې هغه جومات د جوړولو نه وروسته مسلمانانو ته حواله کړي [۳]

۱] وفی الدر المختار:او شمع او سراج او نار توقد،لان المجوس انما تعبد الجمر لا النار الموقدة قنية.وفی ردالمحتار تحت قوله او شمع وعدم الكراهة هو المختار.......وینبغی الاتفاق علیه فیما لو كان علی جانبیه كما هو المعتاد فی لیال رمضان بحر.ای فی حق الامام اما المقابل لها من القوم فتلحقه الكراهة علی مقابل المختار رملی.(فتاوی شامی ج:۱ ص:۶۵۲)۔

۲] وفی ردالمحتار ج:۴ ص:۴۳۱وان یكون قربة فی ذاته.........ان شرط وقف الذمی ان یكون قربة عندنا وعندهم كالوقف علی الفقراء او علی مسجد القدس...الخ.ایضا:امدا الفتاوی ج:۲ ص:۶۶۳تا۶۶۶)۔

۳] وشرط صحة وقف أن یكون قربة عندنا وعندهم.(مجمع الانهر ..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

د غیر مسلم له طرفه تحفه شوې ځمکه باندې جومات جوړول

سوال: شهدادپور کې یو هندو ډیر وخت وړاندې د څه مالي اجرت نه پرته خپله ځمکه د جومات له پاره ورکړې وه.بیا وروسته هلته جومات جوړ شو.اوس جومات شهیدیږي او په دویم ځل بیاجوړیږي.نو دا خبره د خلکو ذهن ته راغله چې ددې متعلق د عالمانو طرفته رجوع وکړي چې د هندو له طرفه جومات لپاره کومه ځمکه د تحفې په طور ورکړې دده. نو په دې باندې جومات جوړیدای شي اوکه نه؟خلک اوس هم دغه ځای کې لمونځ ادا کوي.په دې باره کې څه حکم دی؟

جواب: که د هندو په نزد جومات جوړول د ثواب کار وي، نو د جومات لپاره د هغه ځای وقف کول صحیح دي او په دې کې لمونځ کول هم صحیح دي یوځل جومات جوړ شوی دی. نو له دې وجې نه که په دویم ځل هم د تعمیر ضرورت وي. نو صحیح دی [۱]

ناپوه ماشومان جومات ته راوستل نه دي پکار

سوال: جومات ته د ماشومانو داخلیدل څنګه دي؟ واړه ماشومان جومات پښې ابله او ګنده پښو سره راځي شور کوي د اودس په ځایونو باندې ګندګي خوروي چې په هغه سره د اودس والاځایونه ناپاک شي اودس په ناپاک ځای باندې نه کیږي.

جواب: واړه ماشومان چې د هغوی د د تشو او ډکو متیازو د کولو ویره وي.جومات ته راوستل نه دی پکار.پوه ماشومان دې جومات ته راځي. خو هغوی ته د جومات اداب او تعلیم ورکول پکار دي [۲]

...بقیه د تیرمخ] ..ج:۲ ص:۵٦۸ کتاب الوقف).(وشرطه شرط سائر التبرعات) کحریة وتکلیف.وان یکون قربة فی ذاته معلوما...ای بان یکون من حیث النظرالی ذاته وصورته قربة.......بخلاف الذمی...الخ (ردالمحتار ج:٤ ص:۳٤۱). واما الاسلام فلیس من شرطه،فصح وقف الذمی بشرط کونه قربة عندنا وعندهم. (البحر الرائق ج:٥ ص:۳۱٦).

۱]قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی:شرط وقف الذمي ان یکون قربة عندنا وعندهم کالوقف علی الفقراء او علی القدس.(ردالمحتار، کتاب الوقف،مطلب:قد یثبت الوقف بالضرورة ج:٤ ص:۳٤۱،طبع ایچ ایم سعید).واما الاسلام، فلیس من شرطه،فصح وقف الذمي بشرط کونه قربة عندنا وعندهم.(البحر الرائق، کتاب الوقف ج:٥ ص:۳۱٦،طبع رشیدیه).

۲] ویحرم ادخال صبیان ومجانین حیث غلب تنجیسهم والا فیکره (وفی الشامی)قوله ویحرم...الخ لما اخرجه المنذری مرفوعا جنبوا مساجدکم صبیانکم...الخ.(الدر مع الرد ج:۱ ص:٦٥٦مطلب فی احکام المساجد)۔

سرتور سر لمونځ کول په ځای په صفا سوتره د لوخو خولی سره لمونځ کول صحیح دي

سوال: زه په تار ګهر کراچی کې ملازم یم. ما څو ورځې مخکې مادتار ګهر جومات ته خولی ورکړې. چې د لوخو نه جوړې وې د جومات امام هغه خولی واپس کړې او ویې ویل چې په جوماتونو کې دخولیو کېښودل جائز نه دي څوک چې داسې کوي غلط کوي په دې جواب سره ډیر خلک په شک کې دي او ددې نه مخکې چې کومې خولی په جومات کې وې هغه امام صاحب وسوځولې.

جواب: په جوماتونو کې د خولیو کېښودلو عام رواج دی او دا رواج په دې وجه پیدا شو چې عام طورسره خلک سرتور سر بازارونو او دفترونو ته ځي. حال دا چې سرتور سر بازارته وتل د سړیتوب خلاف خبره ده. مسلمانانوته د کورنه سر تورسرنه دي وتل پکار او که د جومات خولی پاکې وي. نو دهغې په سرولو سره لمونځ کیږي او که شلیدلې او خیرنه وي. نو بیا دهغې په سرولو سره لمونځ کول مکروه تحریمي دی، اصول دا دي چې په داسې لباس کې لمونځ کول مکروه دي د کوم په اغوستلو سره چې سړی په عام مجلس کې شرکت نه شي کولی[۱]

د جومات د ژوندي کیدو او مړ کیدو فلسفه صحیح نه ده

سوال: ځینې حضرات فرمایي چې د جومات ځمکه ژوندی ده په دې باندې ګرم چاینک یا یو بل شی کېښودل صحیح نه دي .ددې په باره کې موږ ته بیان کړئ چې دا صحیح دي؟ او وایي چې د جومات ځمکه په ذکر او لمانځه سره ژوندی کیږي

جواب: دجومات ځمکه محترمه ده، خو د ژوندی او د مړې فلسفه صحیح نه ده دا هسې دروغ خبره ده.

د موسیقی د آلاتو په جومات کې لګول صحیح نه دي

سوال: نن سبا په ډیرو جوماتونو کې د موسیقی والا ګړی(ساعت) استعمالیږي چې په هغه کې تقریبا هرپنځلس منټه وروسته موسیقي غږیږي .کومه چې تقریبا دپنځلسونه شلو منټو پورې وي ایا په جوماتونو کې د داسې موسیقی والا ګړی استعمالول جائزدي چې په هغې کې موسیقي وي؟

جواب: دموسیقی آلات په جومات کې لګول صحیح نه دي، بلکې په کور کې لګول یې هم صحیح نه دي[۲]

۱] وکذالک یکره الصلاة فی ثیاب البذلة...الخ.(تاتار خانیة ج:۱ ص :۵۶۳)۔

۲] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال:ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال:..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

د الارم والا ساعت په جوماتکې لګول

سوال: نن سبا د دیوال والا ګړیو رواج عام شوی دی. په هغو کې الارم هم وي چې بالکل داسې غږیږي لکه څنګه چې مجوسیان یا عیسایان ټالی غږوي. یا ساز وغیره وي. په اسلام کې د ساز اوریدل جائز نه دي، نو ددې وجې نه ایا دا شی په جوماتکې لګول صحیح دي؟

جواب: داسې الارم والا ساعت لګول جائز نه دي. او جومات د الله پاك کور ناجائز شي سره ملوث کول نوره هم ډیره بده خبره ده.[1]

د جومات زیاتي شیان اخستونکی پخپله استعمالولی شي

سوال: زموږ په کلي کې یو جومات و چې د لرګیو نه جوړ و. په هغه کې لرګي ډیر زاړه شوي وو او موږ کلي والو په شریکه چنده جمع کړه او جومات مو نوی جوړ کړ. او په دې جومات کې مو نوي لرګي اچولي دي او موږ دا زاړه لرګي خرڅولو سره په دې جومات باندې پیسې لګول غواړو. او د کلي مولوی صاحب فرمايي چې د جومات لرګي په کورکې استعمالول نه دي جائز اونه په کورکې سوځېدلی شي.

جواب: د جومات کوم شیان چې په جوماتکې نه استعمالیږي ،نو د هغو خرڅول او قیمت یې په جومات باندې لګول نه یوازې جائز بلکې ضروري دي[2]او کوم سړي چې دا شیان اخستي وي هغه بیشکه دا استعمالولی شي او لرګي که د سوځولو وي. نو سوځولی یې هم شي ستاسو د مولوي صاحب خبره صحیح نه ده.

په لږه آبادۍکې که د لوی جومات تعمیر وشي، نو ایا دا به صدقه جاریه وي؟

سوال: څو ورځې مخکې رحیم یار خان سره نژدې یو وړوکی کلی بهونګ ته د تلو اتفاق وشو. د بهونګ د جومات مې ډیر صفتونه اوریدلي وو او هغه جومات کافي مشهور دی چې هغه جومات د تعمیر د فن او آرټ یو عجیبه او ښکلې نمونه ده. خو زه په دې خبره ډیر سخت خفه شوم څکه چې دا جومات په داسې ځای کې جوړشوی دی چې ډیر د کمې آبادۍ والااو غریبان دي. او افسوس ددې خبرې دی چې د لکونو روپیو په خرچې سره جوړ شوی، دې لوی ، ښکلي او د کتلو قابل جومات کې د لمونځ کوونکو تعداد زیات نه زیات دولس کسان دی. او هغه هم

...بقیه د تیرمخ]... الجرس مزامیر الشیطان.رواه مسلم.(مشکوة ص:٣٣٨باب آداب السفر)۔

[1]]عن ابی هریرة رضی الله عنه قال:ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال:الجرس مزامیر الشیطان.رواه مسلم. (مشکوة ص:٣٣٨،باب آداب السفر،طبع قدیمی).

[2]](وصرف)الحاکم او المتولی حاوی،(نقضه)او ثمنه ان تعذر اعادة عینه(الی عمارته ان احتاج والا حفظه لیحتاج)الا اذا خاف ضیاعه فیبیعه ویمسک ثمنه لیحتاج.(قوله لیحتاج)الاولی للاحتیاج کما عبر فی الکنز ...الخ. (درمختار مع ردالمحتار ج:٤ص:٣٧٧کتاب الوقف،مطلب فی الوقف اذا خرب ولم یکن عمارته)۔

خواران څو بې تعلیمه کلی وال خلک دي.باتې ټول جومات غیر آباد او وران وي کاش چې دا جومات په یو غټ ښار کې آباد وی د لیرې لیرې نه راتلونکي خلک د جومات جوړونکي د سخاوت صفتونه کوي او دې ته صدقه جاریه وایي کومه چې به د مرګ نه وروسته هم جاري وي. خو محترمه زه په حیثیت د یو طالب علم دا صدقه جاریه نه منم بلکې هغه په لکونو روپۍ چې په دې جومات لګیدلي دي دې ته فضول خرچي وایم صدقه جاریه به په هغه صورت کې وه چې د مقامي آبادي او د لمونځ کوونکو د تعداد مطابق جوړ شوی وای. که د جومات جوړونکي صاحب مراد هم دا وي چې یو داسې نیک کار وکړي چې صدقه جاریه وي. نو دا جومات به یې په یو لوی ښار کې جوړ کړی و، که هغه په خپله علاقه یعنی بهونګ کې یو نیک کار غوښتل هم نو یو هسپتال،سکول یا کالج به یې جوړ کړی و چې د هغو نه به په لکونو خلکو فائده اخستله.اوس سوال دا دی چې ډیر په سخاوت سره د دولت په خرچ کولو باندې څو کاله تعمیر باندې خرچ کیدو نه وروسته چې دا ډیر لوی جومات جوړ شوی دی کوم چې د ضرورت نه ډیر زیات دی، نو ایا دا به په صدقه جاریه کې شمیرل کیږي؟

جواب: که دا پوښتنه د جومات له جوړیدلو نه مخکې شوې وی .نو کیدای شی چې څه بل څه خبره به مې عرض کړې وه.اوس چې هر کله هغه جومات جوړ شوی دی. نو هغه ته د صدقه جاریه نه پرته څه وویل شي؟ باقي د باطن خبرې الله ته سپارل پکار دي. هغه د خپلو بندګانو زړونه او نیتونه پیژني،دا محکمه نه ما ته سپارل شوې ده او نه تاسو ته.

د حرامو په ګټه باندې هیڅ عبادت نه قبلیږي

سوال: که څوک د رشوت او د سود په ذریعه حاصل شوی ناجائز او حرام دولت باندې جومات جوړ کړي، نو ایا دا جومات به هم په صدقه جاریه کې شمارل کیږي؟

جواب: نعوذ بالله،رشوت او سود ته صدقه جاریه ویل کفردي[1]. د حرامو په ګټه باندې چې هر یو عبادت وشي هغه نه قبلیږي، بلکې د کونکي له پاره د لعنت سبب وي.[2]

د جومات له پاره وقف شوې پلاټ (ځمکه) باندې که خلکو لمونځ شروع نه کړ، نو هغه بدلیدلی شي

سوال: موږ یوه ځمکه د جومات له پاره مقرر کړې ده، چې د جومات په نوم وقف شوې ده او د هغې بنیاد هم کنستل شوی دی او د بنیاد مزدوري مو هم ورکړې ده،اوس د څه خلکو خیال

۱]استحلال المعصية كفر اذا ثبت كونها معصية بدليل قطعي.(ردالمحتار ج:۲ ص:۲۹۲)_

۲] عن ابي هريرة قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:ان الله طيب لايقبل الا طيبا...الخ.(مشكوة ص: ۲٤۱،باب الكسب وطلب الحلال).لوبنى من الحرام مسجدًا ونحوه مما يرجوبه التقرب لان العلة رجاء الثواب فيما فيه العقاب ولا يكون ذالک الا باعتقادحله.(ردالمحتار ج:۲ ص:۲۹۲،مطلب في التصدق من المال الحرام)

دی چې جومات باید بل ځای کې جوړ شي چې په هغه ځای کې د لمونځ کونکو تعداد ډیر وي او بل د خلکو د ډیر تګ راتګ ځای وي،تاسو نه پوښتنه داده چې د دویم ځای په اول ځای بدنول شي که د لومړي په خرڅولو باندې دویم واخلي؟ په لومړۍ ځای کې موږ لاخبنتې نه دي لګولي یوازې بنیاد کنستل شوی دی په دې ځای باندې سجده هم نه ده شوې.

جواب: د جومات له پاره دځمکې له وقف کیدو نه وروسته چې کله خلکو ته په کې د لمانځه کولو اجازه ورکړل شي او خلک لمونځ شروع کړي هغه ته د جومات حکم ورکول کیږي، که تعمیریږي شوی وي او که نه وي، دا ځای د جومات له پاره اخیستل شوی دی په دې کې اوسه پورې لمونځ نه دی شروع شوی دا جومات نه دی، په دې وجه تاسو د لومړي پلاټ په ځای بل ځای د جومات له پاره اخیستلی شئ.[1]

د جومات لپاره وقف شوی ځای بدلول

سوال: یو سړي خپل کور د جومات لپاره وقف کړی دی او په دغه ځای یې د جومات جوړولو له پاره یو ترسټ هم جوړ کړ او مکان یې د خالي کولو نه وروسته د ترسټ والاوو په قبضه کې ورکړ، خوپه محله کې اسماعیلي (شیعه ګان) اوسیدونکي ډیردي،د هغوی مطالبه دا ده چې دلته جومات جوړ نه کړل شي، بلکې دا ځای خرڅ کړل شي او بل ځای کې جومات جوړ شي، جومات جوړیدو سره به د مسلمانانو له پاره سهولت پیدا شي، خود وقف کوونکي له پاره او د هغه د کونۍ لپاره د کراچۍ د حالاتو مطابق ډیر خطرات او اندیښنې دي،په داسې صورت حال کې ایا وقف کوونکی سړی دا دواپس په خپل ملکیت کې اخستلی شي، حال دا دی چې وقف شوی ځای تردې وخت پورې بعینه د مکان په شکل کې دی؟ایا دا موقوفه ځای خرڅیږي ؟ هرکله چې په جومات جوړولو کې د فساد خطره او ویره وي،ایا ددې د خرڅولو نه وروسته ددې په ځای بل ځای کې جومات جوړولی شي؟حالانکې ګیرچاپېره د جومات د نه موجود کېدو له وجې لمونځ کونکو لپاره پریشاني هم ده؟

جواب: کله چې یوځای وقف کړل شي او خلک په هغه کې لمونځ کول شروع کړي، یعنې باقاعده په کې اذان او جمعه شروع شي، نو هغه جومات شو او که دې وخت پورې په دې کې لمونځ شروع شوی نه وي، نو دا ځای د هغه سړي ملکیت دی څه چې پرې غواړي، نو هغه پرې کولی شي.واللّٰه اعلم![2]

١] وشرط محمد والامام الصلاة فيه بجماعة ومقتضى هذا انه لا يحتاج الى قوله وقف ونحوه وهو كذالک وانه لوقال وقفته مسجدًا،ولم ياذن بالصلاة فيه ولم يصل فيه احدانه لايصيرمسجدًا.(فتاوى شامي ج:٤ ص:٣٥٦)

٢]وشرط محمد والامام الصلاة فيه بجماعة وفى الشامية ومقتضى هذا انه لايحتاج الى قوله وقفت ونحوه وهو كذلک وانه لوقال وقفته مسجدًا،ولم ياذن بالصلاة فيه ولم يصل فيه احد انه لايصير مسجدًا بلاحكم...الخ. (ردالمحتار مع الدر المختار ج: ٤ ص:٣٥٦).ايضا:لوجعل رجلا واحدًا مؤذنا..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

د جومات حیثیت د وقف وي

سوال: دلته په انګلستان کې خلکو د عاموخلکو په چندو باندې جوماتونه او ادارې جوړې کړي دي.اوس دا د هغوی ذاتي ملکیت دی.ددې له پاره شرعي حکم څه دی؟

جواب: د جومات حیثیت د وقف وي،ددې هیڅوك مالك نه وي او نه دا په ذاتي مصرف کې استعمالیږي .له دې وجې نه په کاغذاتو کې د چا د نوم په موجودګي کې ددې په حیثیت کې څه فرق او تبدیلي نه راځي.[۱]

کرایه باندې اخستل شوې ځمکه باندې جومات جوړول او د هغه شرعي حکم

سوال: (الف) د خپلې ځمکې یو ټکړه (ب) ته د اوسېدلو لپاره یو معینه مده مثلاً: ۳۰ کلنو له پاره په کرایه باندې مثلاً ۱۰۰روپۍ سالانه باقاعده د تحریري معاهدې مطابق ورکړه (ب) د معاهدې خلاف ورزي وکړه او د (الف) د اجازې نه پرته .بلکې په پټه یې د ځمکې دا ټکړه جومات لپاره زباني یا تحریري طور سره وقف کړه.اوس دا لاندې پوښتنې پیدا کیږي:

۱: ایا داسې وقف شرعاً صحیح دی اوکه باطل دی؟

۲: اوس که (ب) په داسې ځمکه باندې جومات جوړ کړي، نو هغه عمارت به شرعاً جومات شمېرل کیږي اوکه نه؟

۳: د جوړولو پرمهال که د (الف) پوهې ته دا خبره راغله او هغه دا تعمیر د معاهدې د خلاف ورزي له وجې نه ورانول غواړي، نو ایا هغه داسې کولی شي؟

جواب: کومه ځمکه چې په کرایه باندې اخستل شوې وي،که لږ وخت لپاره وي یا د زیات وخت لپاره وي،کرایه دار ددې مالك نه دی او د کوم شي چې مالك نه وي، نو هغه وقف کولی هم نه شي.لهذا د ځمکې دابرخه جومات لپاره وقف کول صحیح نه دي.ددې برخې مالك د ټاکلې میعاد ختمیدو نه وروسته چې څنګه ددې ځمکې استعمالول غواړي، نو استعمالولی یې شي.والله اعلم.[۲]

ایا په حویلۍ(انګړ) کې د ننه د لمانځه لپاره جوړ شوی ځای جومات شو؟

سوال: یو سړي حویلۍ اخیستې ده، په هغه کې د میوو باغ دی، ټوله حویلۍ او باغ یو فصیل نما قلعه په شان ده، په دې کې یو لوی ګیټ (لویه دروازه) لګیدلې ده.د باندې خلک د

...بقیه د تیرمخ] .. واماما فاذن واقام وصلى وحده صار مسجد بالاتفاق كذا في الكفاية.(الفتاوى العالمگيرى، كتاب الوقف،الباب الحادى عشر في المسجد ج:۲ ص:٤٥٥ طبع رشيديه).

[۱] وعندهما حبس العين على حكم ملك الله تعالى على وجه تعود منفعته الى العباد فيلزم ولا يباع ولا يوهب ولا يورث.......وانما يزل ملك الواقف عن الوقف عند ابى حنيفة رحمه الله تعالى.(عالمگيرى ج:۲ ص:۳۵۰).

[۲] ولا يجوز وقف البناء في ارض هي اعارة او اجارة كذا في فتاوى قاضيخان.(عالمگيرى ج:۲ ص:۳٦۲).

اجازې نه پرته نه شي داخلېدی،په دې کې یو جومات و،د هغه چاردیواري موجود وه ،خوچت یې نه و،غالباً بالکل وران جومات و،سابقه مالکان وایي چې دا جومات زموږ یو بیوقوف ورور جوړ کړی دی چې د هغه له وجې نه زموږ مینځ کې جنګ هم وشو. په دې کې لمونځ نه دی شوی،که موږ باقاعده جومات جوړ کړ،نو ددې د ورانوالي نه ویرېږو ځکه چې په دې کې د کور یو کس یا یو مسافر لمونځ کولی شي،ددوی نه پرته د بهر نه چاته اجازه نشته. باقاعده جماعت نه شي کېدای او نه په کې انفرادي طور خوك لمونځ کولی شي،دا باقاعده جومات جوړ کړل شي یایوازې چاردیواري جوړه کړل شي یا بالکل د عامې ځمکې په شان استعمال کړل شي؟

جواب: دا شرعي جومات نه دی،له دې وجې نه خریدار ته اختیار دی چې هغه له دې باقاعده جومات جوړوي یا یې هواروي،که جومات جوړ کړل شي. نو ددې لاره د احطې نه بهر ویستل کېدای شي.[1]

په میل کې د ننه د جومات شرعي حکم

سوال: دلته یو سړي د میل دپاسه یو پوخ جومات جوړ کړی دی،په هغه کې باقاعده پنځه وخته اذان اوپه جمعې سره لمونځ کیږي،ددې جومات لپاره باقاعده موذن او امام مقرر دي ،خو دجومات په برابري لاندې بیت الخلا او استنجاخانې جوړې شوي دي او د جومات د خینو برخو لاندې د میل خپل کار شروع وي،محترمه!ددې جومات شرعي حیثیت څه دی؟ایا دا به قیامت پورې جومات وي؟کومې استنجاخانې او بیت الخلا چې جوړ شوي دي. نو په دې کې څه حرج خو نشته؟

جواب: جومات هغه ته ویل کیږي چې د ځمکې مالك د جومات لپاره وقف کړی وي او عامو خلکو ته یې په کې د لمونځ کولو اجازه ورکړې وي او که یو میل والا یا کمپنی یا دفتر والاوو ته د لمونځ کولو اجازه کړې وي او دیته یې د جومات شکل هم ورکړی وي، نو دا شرعاً جومات نه دی بلکې د لمونځ ځای دی،په دې باندې به د جومات احکام نه جاري کیږي،غرض دا چې د جومات لپاره شرط دا دی چې مالك دا ځای د جومات په نیت سره وقف کړی وي.[2]

عیدګاه خرڅول

سوال: زموږ په کلي کې یوه زړه عیدګاه ده. هلته به موږ داخترونو لمونځ کاوو،د کلي د ابادۍ د زیاتوالي له وجې نه هغه عیدګاه وړوکې شوه،کلي والو فیصله وکړه او یو لویه

[1] ولو اتخذ فی بیته موضعاً للصلاة فلیس له حکم المسجد اصلاً.(حلبی کبیر ص:٦١٤) لو جعل وسطُ داره مسجدًا واذن للصلاة فیه حیث لا یکون مسجدًا.(درمختار ج:٤ ص:٣٥٨،کتاب الوقف).

[2] (ویزول ملکه عن المسجد والمصلی)بالفعل و(بقوله جعلته مسجدًا)عند الثانی (وشرط محمد)والامام(الصلاة فیه).(درمختار ج:٤ ص:٣٥٦).

عیدګاه یې له کلي نه بهر جوړه کړه. هلته اوس د اختر لمونځ کیږي.د زړې عیدګاه نه ګیر چاپیره کورونه جوړ شوي دي.اوس هغه یوازې د یو پلاټ په شان پاتې ده. سوال دا دی چې ددې عیدګاه برابر روپۍ د جومات په کار کې لګولو سره دا ځای په کور کې شاملیږي ؟

جواب: که دا عیدګاه یې وقف کړي وي، نو ددې خرڅول جائز نه دي او که هسې د لمانځه لپاره ځای جوړ شوی و. نو ددې ګنجائش شته چې دا خرڅه شي او دا روپۍ په جومات کې خرج کړل شي [۱]

د لمونځ کمره یا جومات

سوال: زموږ په ښار کې د مالوچو یوه کارخانه وه. مالکانو هغه په کباړیانو باندې خرڅه کړه، کومو خلکو چې دغه کارخانه واخسته.نو هغه یې ورانه کړه او مشینونه او خښتې وغیره ټول شیان یې خرڅ کړل.په دې کارخانه کې یو جومات و. چې د هغه ځای د مزدورانو لپاره جوړ شوی و او په کارخانه کې دننه و.د هغه نه میناري وې بس یوازې یو کمره وه. چېرته چې به مزدورانو لمونځ کاوو او هرکله چې کارخانه چلیده. نو په جمعې سره لمونځ کیده او بیا رو رو د دریو کالو نه کارخانه بنده شوه او هغه جومات هم وران شو.اوس چې هرکله مالکانو ټوله کارخانه په کباړیانو باندې خرڅه کړه او کباړیانو هغه کارخانه ورانه کړه او خښتې وغیره ټول هرڅه یې خرڅ کړل.یوازې هغه جومات پاتې شو.کباړي زموږ د جامع جومات امام صاحب ته راغی او ویې ویل چې د جومات خښتې. پنکې او څه چې په کې لګیدلي دي هغه زه جامع جومات ته ورکوم ځکه چې دا قیمتي شیان دي او جومات هم وران دی. نو هسې به ضائع او خراب شي.د جامع جومات امام صاحب وویل چې دا شیان زموږ په جومات کې نه لګیږي او تاسو جومات شهید کولی هم نه شئ. ځنګه چې دی نو هم هغه شان یې پریږدئ. حالانکې کارخانهِ مالکانو د دغه پلاټ سرد په کباړیانو باندې خرڅه کړې ده.اوس مسئله دا ده چې څه وکړل شي؟د امام خبره ومنل شي یا د کباړي؟

جواب: که کارخانې والا- دا ځای د شرعي جومات له پاره وقف کړی نه وي. بلکې یوازې د مزدورانولپاره یې دلمونځ کولوعارضي ځای جوړ کړی و،نوبیا خو ددې حکم بالکل د جومات نه دی او که هغوی دا ځای همیشه له پاره د جومات په نیت سره وقف کړی وي. نو دا شرعاً جومات دی.که نژدې د مسلمانانو ابادي وي. نو په هغوی فرض دي چې دا جومات اباد کړي اوکه نژدې ابادي نه وي اوجومات وران وي،نوددې سامان بل جومات ته منتقل کیدای شي.[۲]

---

[۱]]ویزل ملکه عن المسجد والمصلی بالفعل وفی الشامیة:اما مصلی العید لا یکون مسجدًا مطلقاً...الخ. (ردالمحتار مع الدر المختار ج:٤ ص:٣٥٦).ایضا:اذا صح الوقف لم یجز بیعه ولا تملیکه.(هدایة ج:٢ ص:٦٤ کتاب الوقف).

[۲]]وفی الشامیة:ولو خرب المسجد وما حوله وتفرق الناس عنه لایعود الی ..[بقیه حاشیه په راتلونکي صفحه..

یو جومات کې دوه جمعې

سوال: زموږ دکان صدر بازار کریم سینټر کې دی.په هغه کې اول چت باندې د لمانځه له پاره خاص ځای دی د هغه نقشه د پوره جومات ده. یعني محراب او منبر وغیره موجود دي.مینار نشته ، د انتظامیې له طرفه دې ته جومات لیکل شوي نه دي.جمعه په کې پنځه وخت باقاعده طور سره کیږي او امام یې هم مقرر دی.نن سبا د زیات رش له وجې نه د ماسپښین جمعه دوه ځله کیږي ،تقریباً درې پاوه وخت فاصلې سره

الف سوال دا دی چې دا ځای د جومات په حکم کې دی او که نه،کوم چې موږ جومات ګڼو

ب یو وخت کې دوه ځله جمعه جائز ده او که نه؟

پ دویمه جمعه کې د شریکو کسانو لمونځ کیږي او که نه؟

ت که نه کیږي،نو کومو خلکو چې خپل لمونځونه کړي دي.د هغوی د تیرو لمونځونو به څه کیږي؟

جواب: جومات هغه ځای ته ویل کیږي کوم ځای چې د جومات په نیت سره وقف شوی وي. پرایبوټ ادارو کې چې کوم ځای د لمانځه لپاره خاص کیږي. نو دا جومات نه دی ځکه چې ددې ځای نه خپل ملکیت ثوک نه ختموي او دغه شان دا د جومات په نیت سره نه وقف کوي.لهذا په دې ځای باندې د شرعي جومات احکام نه جاري کیږي او په دې کې دوه یا زیات تعداد کې جمعې کیدای شي، خوکه د یوې ادارې مالکانو څه برخه د جومات لپاره وقف کړې وي او ددې نه یې دخپل ملکیت حق لیرې کړی وي، نو بیا دا شرعي جومات دی.[۱]

دله اجازې نه پرته په جومات کې سامان کیښودل

سوال: زموږ په ښار کې دوه جوماتونه دي او د دواړو انتظامیه جدا جدا ده او د قبرستان انتظامیه جداده،د قبرستان انتظامیه د جومات د انتظامیې له اجازې پرته د جومات په کمره کې د قبرستان تختې وغیره ږدي. حالانکې د قبرستان انتظامیې سره دومره روپۍ موجودې دي چې په کرایه باندې د قبرستان د سامان کیښودلو لپاره ځای واخلي.په دې صورت حال کې ستاسو نه فتوا طلب کوو چې د جومات د کمیټۍ له اجازې پرته د قبرستان سامان په جومات کې کیښودل جائز دي؟

...بقیه د تیرمخ]:ملک الواقف عند ابی یوسف فیباعَ نقضه باذن القاضی ویصرف ثمنه الی بعض المساجد. (شامی ج:٤ ص:٣٥٦). (ویزول ملکه عن المسجد والمصلی)بالفعل و(بقوله جعلتهُ مسجدًا)عند الثانی (وشرط محمد)والامام(الصلاة فیه).(درمختار ج:٤ ص:٣٥٦).

[۱] (ویزول ملکه عن المسجد والمصلی)بالفعل و (بقوله جعلته مسجدًا)عند الثانی (وشرط محمد)والامام (الصلاة فیه).(الدر المختار ج:٤ ص:٣٥٦).

جواب: د قبرستان لپاره د جومات کمره استعمالول صحیح دي په دې شرط چې مسلمانانو ته څه اعتراض نه وي د قبرستان انتظامیه جدا ده له دې وجې نه دې خلکو لپاره د جومات کمره استعمالول صحیح نه دي.د قبرستان په یو کوټ کې دې حجره (کمره) جوړه کړي او هلته دې سامان ږدي

د لمانځه لپاره د محلې د جومات حق زیات دی

سوال: زموږ کور ته مخامخ یو جومات دی.هلته به ما لمونځ کاو. خود څه وخت نه د امام د طرزعمل نه مې نفرت پیدا شو او د امام د ذات سره زما په زړه کې اختلاف پیدا شو.د هغه نه وروسته روزانه زه لمونځ په بل جومات کې کوم،په دې باره کې د جومات امام صاحب ماسره رابطه هم وکړه چې په دې جومات کې ولې لمونځ نه کوې؟ما ورته هرڅه صاف صاف ووېل او هغه څه اعتراض ونکړ.څه وخت وروسته د هغه دویم جومات امام چې زه اوس چېرته لمونځ کوم د جمعة المبارك په خطبه کې داوېناوکړه چې کور سره نژدې کوم جومات وي، نو د هغه حق زیات دی لهذا لمونځ کونکي ته نژدې خپل جومات ته ترجیح ورکول پکار دي (دلته د ذکر وړ خبره دا ده چې کور سره نژدې کوم جومات دی، نو هلته په پنځه وخته لمونځونو کې د کسانو تعداد ډېر زیات کم تقریباً د پنځو نه لسو پورې وي)

جواب: د محلې د جومات حق زیات دی[1] د امام مقام او مرتبه ډېره لوړه وي.د هغه ډېر زیات احترام کول پکار دي.د ذاتي نوعیت اختلاف هیڅ اهمیت او اعتبار نه لري،البته په امام صاحب کې که چېرته څه شرعي کمي او کوتاهي وي او د خبرداري باوجود منع نه شي، نو جدا خبره ده.

په زوړ او نوي جومات کې د ثواب فرق

سوال: مولانا صاحب همیشه په خپل تقریر کې وایي چې د ښار زوړ او جامع جومات او زما نوي جومات کې د ثواب په اعتبار سره هیڅ فرق نشته.یعنې په ثواب کې دواړه برابر دي. حالانکې شامي کې چې کوم احادیث دي، نو د هغو نه معلومیږي چې د ښار د اولني او د زوړ جومات ثواب.د نورو جوماتونو په اعتبار سره زیات دی؟

جواب: که هغه هم جامع جومات وي، نو د نوي او د زوړ څه فرق نشته. بلکې د دواړو ثواب یوبرابر دی، خو که دا زوړ جومات جامع جومات وي، نو بیا ددې ثواب زیات دی ځکه چې په جامع جومات کې لمونځ کول پنځه سوه درجې ثواب لري.[2]

---

[1]]ومسجد حیه وان قل جمعه افضل من الجامع وان کثر جمعه.(حلبی کبیر ص:۶۱۳).

[2]]عن ابن عمر ان النبی صلی الله علیه وسلم قال:الصلاة فی المسجد الجامع تعدل الفریضة یعنی حجة مبرورة، والنافلة کحجة متقبلة وفضلت الصلاة فی المسجد الجامع علی ما..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

د جرمانې پیسې د جومات په چنده کې ورکول

سوال: ما او زما ورور په لډو ګیم کوو،دا یو قسم لوبه ده، او خپل مینځ کې مونږ دا خبره کړې وه چې څوك شکست(ماته) وخوري، نو هغه باندې به ډبل جرمانه وي او د جرمانې په پیسو باندې به مونږ د خوراك څه شې اخلو. بیا مونږ په دې خبره باندې ناراضه او خفه شو او ما سره تقریباً دیارلس(۱۳) روپۍ وې، زه لازم هغه پیسې مې د جومات په چنده کې ورکړې.ایا دې سره د ثواب امید کیدای شي یا د ګناه؟

جواب: دا یو قسم جواري وه،د جواري پیسې حرامې دي[۱] او حرامې پیسې په جومات کې لګول ګناه ده[۲]،اوس چې تاسو کومې پیسې په جومات کې ورکړې دي. نو دا نیت وکړئ چې دا خو ستاسو له طرفه شوې او د هغه ورور خپلې پیسې واپس کړه

د جومات په حدودو کې د قرآن پاك په تعلیم باندې اجرت اخستل

سوال: جومات په حدودو کې اجرت اخیستلو باندې ماشومانو ته د قرآن پاك تعلیم ورکول څنګه دي؟

جواب: ماشومانو ته جومات کې اجرت باندې تعلیم ورکول مکروه دي. **والله اعلم**.[۳]

د جومات په چت باندې د امام صاحب د کوروالو د کپړو چل ښودل

سوال: دجومات په چت باندې چېرته چې د جمعة المبارك لمونځ کیږي د امام صاحب د کوروالا د کپړوچل ښودل صحیح دي اوکه نه؟په داسې حال کې چې لمونځ کونکي ښکته ښکته(تیټ تیټ)ځي راځي؟

جواب: دا ځائ که په جومات کې شامل وي، نو په دې کې د ښځو کپړې ښودل صحیح نه دي خصوصاً که ښځه د خپلې بیمارۍ په ورځو کې وي، نو د هغې خو بیا جومات ته بالکل راتلل جائز نه دي.[۴]

...بقیه د تیرمخ]..سواه من المساجد بخمس مائة صلاة.رواه الطبرانی فی الاوسط.(مجمع الزوائد ج:۲ ص:۱۳۷،باب فضل الصلاة فی المسجد الجامع وغیره،ایضا:مشکوة ص:۷۲ الفصل الثالث،باب المساجد ومواضع الصلاة).

[۱] یایها الذین امنوا انما الخمر والمیسر والانصاب والازلام رجس من عمل الشیطن فاجتنبوه لعلکم تفلحون (المائدة: ۹۰).

[۲] قال تاج الشریعة:اما لو انفق فی ذلک مالا خبیثا ومالاً سببه الخبیث والطیب فیکره لان الله تعالی لا یقبل الا الطیب فیکره تلویث بیته بما لایقبله.(شامی ج:۱ ص:۶۵۸).

[۳] ومعلم الصبیان فان کان باجرة یکره وان کان حسبة فقیل لایکره.(حلبی کبیر ص:۶۱۲،فصل فی احکام المساجد)

[۴] ومنهاانه یحرم علیها وعلی الجنب الدخول فی المسجدسواءکان للجلوس اوللعبور.(عالمگیری ج :۱ص :۳۸)

❖ اذان او اقامت ❖

....

د اذان د شروع کولو نه مخکې بسم الله ویل

سوال: د مسنون کار د شروع کولو نه مخکې د برکت له پاره بسم الله ویل کیږي ایا د اذان په شروع کې یا د لمانځه د نیت تړلو په وخت بسم الله ویل پکار دي او که نه؟

جواب: د صحابه کرامو، تابعینو او تبع تابعینو وغیره نه نقل نه دي نه امامانو او فقهاء کرامو ددې ذکر کړی دی ،نوعمل ددې په نه ویلو راروان دی (نو لوستل یې نه دي پکار)

په محراب کې ولاړې سره اذان کول

سوال: سوال دادی چې نن سبا په جوماتونوکې پنځه وخته اذانونه کیږي په ځینوجوماتونوکې محراب کې دننه او په ځینوکې د محراب نه بهر یعنې امام چې کوم ځای دریږي او لمونځ ورکوي هغه ځای کې موذن اذان کوي، یعنې په هغه مخکې ځای کې اذان کوي ایا دا صحیح ده؟ او د محراب نه بهر یعنې دومره مخکې ځای په کوم ځای کې چې امام فرض لمونځ ورکوي هغه ته برابر په لاؤډ سپیکر کوم چې د امام د حد نه مخکې وي د هغه ځای نه هم اذان کول صحیح دي او که نه؟

جواب: د جمعې په ورځ اذان کول ،خو د خطیب مخکې په جومات کې مسنون دي[۱] ،ددې نه پرته د اذانونو له جومات نه بهر کیدل غوره دي او په جومات کې جائز، خو خلاف اولی دي په محراب کې چې کوم ځای د لاؤډ اسپیکر له پاره جوړیږي که د هغه په جومات کې د شاملولو نیت نه وي شوی، نو په هغه کې اذان کول له کراهت پرته صحیح دي.[۲]

موذن اذان په کوم ځای باندې کولی شي؟

سوال: جومات کې موذن کوم ځای باندې دریدلو سره اذان کولی شي؟اوایا په ناسته یا په غوړونو کې دواړو لاسونو نه ورکولو سره اذان کیږي ؟

جواب: د جومات په کوم طرف کې چې هم اذان وشي، نو صحیح دی ،خواذان د جومات نه

۱]اواذاصعدالامام المنبرواذن الموذن بین یدی المنبربذالک جری التوارث.(فتح القدیرج:۱ص:۴۲۱)۔

۲] وینبغی ان یوذن علی الماذنة اوخارج المسجدولایوذن فی المسجدکذافی فتاوی قاضیخان والسنة ان یوذن فی موضع عال یکون اسمع لجیرانه ویرفع صوته ولایجهد نفسه کذافی البحر...الخ.(هندیة ج:۱ص:۵۵،کتاب الصلاة، الباب الثانی فی الاذان،الفصل الثانی،ایضا:شامی ج:۱ص ۳۸۴)۔

بهر کول پکار دي[۱]، په ناسته باندې اذان کول مکروه دي[۲] او په غوږونو کې گوتې ورکول مستحب دي اوکه په غوږونوکې د گوتو ورکولو نه پرته اذان وکړل شي. نو هیڅ حرج نشته[۳]

په جوماتکې اذان کول مکروه دي

سوال: زموږ په محلې کې یو جامع مسجد دی چې دهغه د تعمیر کار شروع دی څه برخه یې جوړه شوې ده او باقي لاتېر کار دی .خو اوس د څه ورځو نه یو سړي وویل چې په جومات کې دننه اذان کول جائز نه دي په دې وجه د اذان له پاره باید یوه خاتته کمره په انګړ کې جوړه کړل شي لمونځ کوونکوا عتراض وکړ چې لاتر اوسه خو د جومات کافي کار پاتې دی او دویمه وجه داده چې د جومات په انګړ کې به د کمرې جوړولو سره د جومات په ښکلا کې فرق راشي. خو هغه سړی ضد کوي چې په جومات کې اذان ورکول شرعا صحیح نه دي. تاسو ددې په باره کې زر جواب راکړئ هسې خو په هر جومات کې دننه اذان کیږي

جواب: په جومات کې اذان کول مکروه تنزیهي دي. هغه صاحب دا صحیح وایي چې د اذان ځای دې له جومات نه بهر جوړ کړل شي[۴]خودهغه دا وینا غلطه ده چې جومات کې اذان ناجائزدی، ناجائز خو نه دی ،خو مکروه تنزیهي دی او د الله تعالی په کور کې یو مکروه تنزیهي عمل هم نه دي کول پکار او د جمعې په ورځ دویم اذان له دې نه مستثنی دی کوم چې د خطیب مخکې په جومات کې کیږي[۵]

اذان باید په کوم ځای کې وکړل شي؟ په دې باندې علمي بحث

سوال: د یو سوال په جواب کې تاسو ویلي دي چې په جومات کې اذان کول مکروه تنزیهي دي او تاسودجواب په اخرکې ویلي دي خو د جمعې په ورځ دویم اذان له دې نه مستثنی دی کوم چې د خطیب مخکې په جومات کې کیږي...

ددې لیک په ذریعه دا درد مندانه اپیل دی چې تاسو پرته د شرعي تحقیق نه کله هم د فتوا ورکولو کوشش مه کوئ،ځکه چې تاسو په جومات کې اذان کولو ته مکروه تنزیهي ویلي دي،حال دا چې د تنزیهي وضاحت خو د فقه په هیڅ معتبر کتاب کې نشته او د کراهیت الفاظ شته او تاسو به د کراهیت مشهوره قاعده لوستلې وي چې د احنافو په نزد د مطلق کراهت نه

---

[۱] وینبغی ان یوذن علی المأذنة اوخارج المسجدولایوذن فی المسجد.(عالمگیری ج:۱ص:۵۵،کتاب الصلاة).

[۲] ویکره الاذان قاعداوان اذن لنفسه قاعدافلاباس به.(عالمگیری ج:۱ص:۵٤،کتاب الصلاة،الباب الثانی).

[۳] عن عبدالرحمن بن سعد........ان رسول الله صلی الله علیه وسلم امربلالاان یجعل اصبعیه فی اذنیه،قال:انه ارفع لصوتک.رواه ابن ماجة.(مشکوة ج:۱ص:٦٤باب الاذان).ایضا:یجعل اصبعیه فی اذنیه فحسن لانه لیس بسنة اصلیة وانماسرع لاجل المبالغ فی الاعلام.(عالمگیری ج:۱ص:۵٦).

[٤] وینبغی ان یوذن علی المأذنة اوخارج المسجدولایوذن فی المسجد.(عالمگیری ج:۱ص:۵۵،کتاب الصلاة)

[۵] واذا صعد الامام المنبر جلس واذن المؤذن بین یدی المنبر بذلک جری التوارث (فتح القدیر ج۱ص۴۲۱)

کراهت تحریمي مراد وي نه تنزیهي او د شوافعو په نزد تنزیهي وي، علامه عبدالغني نابلسي حدیقة الندیة کې لیکي

الکراهیة عند الشافعیة اذا اطلقت تنصرف الی التنزیهیة لا التحریمة بخلاف مذهبنا....

ترجمه:..... د کراهیت لفظ چې کله مطلق وویل شي، نو د شوافعو په نزد ترې تنزیهي مراد وي نه تحریمي په خلاف زمونږ د مذهب...(چې زمونږ په نزد ترې کراهت تحریمي مراد وي)

ایا تاسو ته دا هم نه ده معلومه چې د مکروه تنزیهي ارتکاب به رسول الله ﷺ کله کله د جوازد بیان له پاره هم کاو، خو اذان یې کله هم په جومات کې نه دی کړی او نه د خلفاء راشدینو په زمانه کې داسې شوي دي او بیا په دې باندې زیاتي دا چې تاسو دویم اذان په جومات کې کول د کراهت تنزیهي نه هم مستثنی کړ، که تاسو د **بین یدی** د الفاظو نه ګڼلې وي، نو تاسو په غلطي باندې یې، ځکه چې د **بین یدی** معنی مخامخ ده نه په مینځ کې یا د خطیب نه د یو فټ په فاصله کې ولاړې سره چې د هغه په خوله کې خوله ورکړل شي چې کله په جومات کې علی الاطلاق د اذان کولو کراهت دی، نو تاسو په کومه قرینه دویم اذان مستثنی کړ؟ اوزه تاسو ته دا بیان کړم چې **بین یدی** هم یوازې د احنافو په نزد سنت دي که نه مالکیان خو دې ته بدعت وایي، خلیل بن اسحاق مالکي فرمائي:

اختلف اهل النقل هل کان یوذن بین یدیه صلی الله علیه وسلم او علی المنار؟ الذی نقله اصحابنا انه کان علی المنار.... **ترجمه:**..... د نقل کونکو په دې کې اختلاف دی چې ایا اذان به د رسول الله ﷺ مخې ته کېده که په مناره باندې؟ کومه خبره چې زمونږ اصحابو رانقل کړې ده **هغه داده چې اذان به په مناره کېده...**

علامه یوسف بن سعید ثقفي مالکي په حاشیه د (الجواهر الذکیة) کې فرمایي:

الاذان الثانی کان علی المنار فی الزمن القدیم وعلیه اهل المغرب الی الان وفعله بین یدی الامام مکروه..الخ

ترجمه:.....په مخکې زمانه کې به دویم اذان په مناره باندې کیده او د اهل مغرب عمل تر اوسه هم په هغه باندې دی او د امام مخکې اذان کول مکروه دي.

په هر صورت زه تفصیلي دلائلو طرف ته تلل نه غواړم چې تاسو زما لیکل شوې خبرې د ردي شیانو د ټوکرۍ سامان جوړ نه کړئ، مهرباني وکړئ تاسو د ذکر شویو دلائلو په رڼا کې که دا ثابت شوی حقیقت منلی وي چې واقعي هر اذان کول په جومات کې د احنافو په نزد مکروه تحریمي دی، نو تاسو خپل عذر لوستونکو ته پیش کړئ، که نه ماته د حق ثابتیدل مقصود دي زما د سوالونو مطمئن جواب راکړئ.

جواب: اول څو روایات نقل کوم:

۱... فتاوى عالمگيري کې دي (ج ۱ ص ۵۵) د فتاوي قاضي خان نه يې نقل کړی دی.

,,وينبغي ان يؤذن على المأذنة او خارج المسجد ولا يوذن فى المسجد....

ترجمه: او مناسب ده چې اذان په مناره باندې وکړل شي يا د جومات نه بهر او په جومات کې دې دننه اذان نه کيږي

۲... په هدايه کې دي: **واذا صعد الامام المنبر جلس واذن الموذن بين يدى المنبر بذالک جرى التوارث...** (فتح القدير ج ۱ ص ۴۲۱)

او کله چې امام په منبر باندې کيني، نو موذن دې د منبرمخې ته اذان وکړي د مسلمانانو عمل هم داسې رارواں دی.

۳... فتح البارى شرح بخارى کې دي: **قال المهلب: الحكمة فى جعل الاذان فى هذا المحل ليعرف الناس بجلوس الامام على المنبر فينصتون له اذا خطب. كذا قال وفيه نظر فان فى سياق ابن اسحاق عند الطبرانى وغيره عن الزهرى فى هذا الحديث ان بلالا رضی الله عنه كان يوذن على باب المسجد فالظاهر انه كان مطلق الاعلام لا لخصوص الانصات نعم لما زيد الاذان الاول كان للاعلام وكان الذى بين يدى الخطيب للانصات..**

مهلب فرمايي: په دې ځای کې (يعنې د منبر مخې ته) په اذان کولو کې دا حکمت دی چې خلکو ته د امام په منبر باندې کيناستل معلوم شي، چې کله هغه خطبه شروع کړي. نو د خطبې له پاره به خاموشي اختيار کړي د مهلب په دې قول کې اختلاف دی. په دې وجه چې په دې حديث کې د طبراني وغيره په روايت کې ابن اسحاق د زهري نه نقل کړي دي چې بلال رضی الله عنه به د جومات په دروازه باندې اذان کاو. ظاهره داده چې دا اذان مطلقا د اعلان له پاره شو يوازې د خلکو د خاموش کولو له پاره نه! او چې کله د لومړيي اذان زيادت وکړل شو، نو لومړی اذان د عوامو د خبرولو له پاره و او کوم اذان چې د خطيب مخې ته کيده هغه دخلکود خاموش کولو له پاره کيده.

د لومړي روايت نه معلومه شوه چې د اذان په مناره باندې يا د مسجد نه بهر کول پکار دي، په جومات کې دننه اذان کول مناسب نه دي او هم دا مفهوم د کراهيت تنزيهي دی، ځکه چې کراهت تحريمي د **لا ينبغى** (مناسب نه ده) الفاظو سره نه شي تعبير کولی بلکې **لا يجوز** (يعنې جائز نه دی) په لفظ سره تعبير کول پکار دي او دا هم معلومه شوه چې د کومو فقهاء کرامو په لفظ کې د مکروه لفظ راغلی دی هغه نه مراد د **لا ينبغى** (يعنې مناسب نه دی) والا کراهت دی کراهت تحريمى نه دی.

او دا قاعده پخپل ځای صحيح ده چې کله د مکروه لفظ مطلق ذکر شي، نو مراد ترې کراهت تحريمي وي، خو دا قاعده عامه نه ده، بلکې ډير ځله د مکروه لفظ د مکروه تنزيهي له

پاره هم استعمالیږي په دې وجه کوم ځای چې د مکروه لفظ عام ذکر شي هلته به په قرآئنو او دلائلو کې غور کیږي چې دلته مکروه تحریمي مراد ده که تنزیهي؟ لکه چې د مکروهات صلاة په شروع کې شیخ ابن نجیم رحمة الله علیه په البحر الرائق کې او علامه شامي په ردالمحتار کې ذکرکړي دي ،وګورئ البحر الرائق ج۲ص ۲۰ ردالمحتار ج۱ص۶۳۹)[۱]

په جوماتِ کې د اذان کولو په باره کې په کتاب الاصل کې د امام محمد رحمة الله علیه وضاحت لاندې لیکل کیږي

قلت ارایت الموذن اذا لم یکن له منارة والمسجد صغیر این احب الیک ان یوذن؟ قال:احب ذالک الی ان یوذن خارجا من المسجد واذا اذن فی المسجد اجزاه...(کتاب الاصل ج ۱ ص ۱٤۱)

ترجمه:....ما وویل:ما ته خبر راکړئ چې کله د موذن له پاره منارہ نه وي او جومات وړوکی وي. نو ستاسو په نزد به کوم ځای کې اذان کول صحیح وي؟ ایا هغه د جومات نه بهر اذان وکړي چې خلک یې واوري یا په جومات کې اذان وکړي؟ ویې فرمایل:زما په نزد غوره داده چې د جومات نه بهر اذان وکړي او که په جومات کې اذان وکړل شي، نو بیا به هم جائز وي.

د امام محمد رحمة الله علیه د وضاحت نه معلومه شوه چې په جومات کې اذان کول غوره نه دي خو که وکړل شي، نو بیا هم څه باک نشته.

د دویم روایت نه معلومه شوه چې د جمعې دویم اذان د منبر مخکې کیږي او د امت عمل هم په دې طریقه راروان دی فقهاء د منبر دا اذان په مختلفو تعبیراتو سره ذکر کوي کله د خطیب مخکې په لفظ سره، کله د منبر سره خوا کې لفظ سره، کله دهغه سره نژدې او کله په منبر باندې ددې ټولو تعبیراتو نه په دې شرط چې پوهه او انصاف وي هم دا ګنړل کیږي چې د جمعې دویم اذان دې منبر سره په جومات کې وي.

د دریم روایت نه معلومه شوه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د شیخینو ابوبکر صدیق رضي الله عنه او عمر فاروق رضي الله عنه په زمانه کې به د نورو لمونځونو په شان د جمعې له پاره هم یو اذان کیده، په دې سره په یو وخت کې دوه مقصدونه وو،یو خو د جومات نه بهر خلکو ته د لمانځه اطلاع ورکول دویم خطبې ته حاضر شویو خلکو ته د خطبې د شروع کېدو خبر ورکول چې هغوی خاموشي سره خطبې ته متوجه شي. په دې وجه د دواړه اړخونو رعایت ساتلو سره به دا اذان د جومات په دروازه کې کېده،خلیفه راشد عثمان غني رضي الله عنه په دور کې د لومړي اذان اضافه وشوه کوم چې به په زوراء مقام باندې کېده او دویم اذان یوازې د خطبې له پاره خاص شو، کوم چې د

۱] والمکروه فی هذا الباب نوعان احدهما ماکره تحریماً وهو المحمل عند اطلاقهم الکراهة کما ذکره فی فتح القدیر........ثانیهما المکروه تنزیهاً ومرجعه الی ماترکه اولی وکثیرًا ما یطلقونه کما ذکره العلامة الحلبی فی مسئلة مسح العرق فحینئذ اذا ذکروا مکروها فلا بد من النظر فی دلیله فان کان نهیاً ظنیا یحکم بکراهة التحریم...الخ.(بحر ج:۲ ص:۲۰ ،ردالمحتار ج:۱ ص:۶۳۹)۔

منبر سره ويل شروع شو .له دې نه دا هم معلومه شوه چې صاحب هدايه او نورو فقهاء کرامو چې د کوم توارث حواله ورکړې ده د هغه نه هغه توارث قديم مراددی کوم چې د دور عثماني نه راروان دی ځکه چې توارث حادث خپله حجت نه دی دا په دليل کې پيش کول د فقهاء کرامو د شان نه ليرې خبره ده.تر څو پورې چې ماته معلومه ده مذاهب اربعه په دې باندې متفق دي چې د جمعې دويم اذان دې منبر ته مخامخ وي.لکه چې زمونږ شيخ علامه سيد محمد يوسف بنوري رحمة الله عليه په معارف السنن ج۴ ص۴۰۲ کې نقل کړي دي[۱].که څينې مالکيانو ددې سره اختلاف کړی دی. نو د تعامل او توارث په مقابله کې د هغوی رايه زمونږ له پاره حجت نه ده. ليکونکي ته چې د فقه د کتابونو نه کوم تحقيق وشو هغه يې عرض کړ. که د يو صاحب تحقيق بل څه وي هغه دې په خپل تحقيق باندې عمل کوي.

په ناسته اذان کول د سنت خلاف دي

سوال: ايا په ناسته باندې اذان کيږي؟

جواب: په ناسته اذان کول د سنت خلاف او مکروه تحريمي دي د داسې اذان په دويم ځل کول مستحب دي[۲]

په اذان کې زيادت

سوال: ايا په اذان کې مخکې وروسته دڅه کلماتو اضافه کولوسره به اذان د شريعت مطابق شي؟

جواب: شرعي اذان خو هغه دی کوم چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه په تواتر سره نقل دی[۳]په دې کې د نورو کلماتو زياتول صحيح نه دي او دزيادت نه وروسته به هغه شرعي اذان نه وي. بلکې د يو نوي دين نوی اذان به جوړ شي[۴]

د اذان نه وړاندې او وروسته درود او سلام لوستل

سوال: ددين مفتيان په دې مسئله کې څه فرمايي . چې نن سبا د دورد شريف سلسله شروع شوې ده لکه د اذان نه مخکې يا وروسته لوړ اوازسره درود او سلام لوستل اود جمعة المبارک

۱]واما كون الاذان الثانى عند الخطبة فهل يكون داخل المسجد او خارجه؟فظاهر كتب المذاهب الاربعة ان يكون داخله بين يدى الخطيب.(معارف السنن للمحدث البنورى ج:٤ ص:٤٠٢،طبع مكتبة بنورية كراچى)

۲] ويكره اذان جنب (الى قوله)وقاعد،وفى الشامية (قوله ويعاد اذان جنب الخ)زاد القهستانى والفاجر والراكب والقاعد والماشى والمنحرف عن القبلة وعلل الوجوب فى الكل بانه غير معتد به والندب بانه معتد به الا انه ناقص قال وهو الاصح كما فى التمر تاشى.(ردالمحتار مع الدر المختار ج:١ ص:٣٩٢،٣٩٣مطلب فى المؤذن اذا كان غير محتسب فى اذانه)_

۳]كما فى رواية عبدالله بن زيد الانصارى رضى الله عنه.(مشكوة ص:٦٤،باب الاذان)_

٤] كما فى رواية عائشة رضى الله عنها قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:من احدث فى امرنا هذا ماليس منه فهو رد.(مشكوة ص:٢٧)،ولا يجب ان يزاد فى النداء مالم يكن منه.(مؤطا امام محمد ص:٤٦)_

په ورځ د سهار او د جمعې لمانځه نه وروسته په ولاړه حلقه جوړول او په لاوډسپیکر باندې لوستل لازمي ګرځول شوي دي، که دوی ته وویل شي چې دداسې وینا څه ثبوت راکړئ چې د نبی کریم ﷺ په زمانه کې یا د صحابه کرامو رضی الله عنهم په زمانه کې تردې چې د امام ابوحنیفه رحمه الله په زمانه کې هم داسې لوستل کېدل؟نو دا خلق د قرآن پاك د دې آیت کریمه "ان الله وملائکته ....الخ" حواله ورکوي

۱ ایا د دوی دا کار صحیح دی اوکه نه؟

۲ ایا دوی سره شرکت کول پکار دي اوکه نه؟

۳ ایا دوی د خپل جومات نه منع کول پکار دي اوکه نه؟

غرض دا دی چې د فقه حنفیه د اهل سنت والجماعت د عقیدې مطابق د قرآن او حدیث یا د یو مستند کتاب حواله پیش کولو سره مفصل جواب راکړئ شکریه

جواب: د اذان نه مخکې یا وروسته چې کوم انداز سره د درود او سلام لوستلو رواج عام شوی دی، نو دا بدعت دی[1] دغه شان حلقه جوړولو سره چې په لاوډسپیکر باندې د درود او سلام په نوم سره څه کیږي، نو دا یوازې ریاکاري ده.

درود شریف بیشکه افضل ترین او لوی عبادت دی، خوپه لاوډسپیکر باندې د لوستلو او د حلقې جوړولو حکم نه د قرآن اونه د حدیث نه ثابت دی، نه په فقه اسلامي کې شته، که دوی خامخا درود شریف لوستل غواړي، نو د جومات یا د کور په یو ګوټ کې دې کیني او ډیر زیات ادب او عاجزۍ سره سره دې ولولي، خلکو ته خپل خواږه اوازونه اورول څه عبادت نه دی. والله اعلم

د صلاة او سلام مسئله

سوال: د اذان نه مخکې صلاة او سلام لوستل څنګه دي؟ زموږ د جومات د لمونځ ګزارو وینا ده چې د اذان نه مخکې دا لوستل نه دي پکار سره له دې چې زه دا ضرور لولم.

جواب: اذان خو د رسول الله ﷺ د بابرکته زمانې نه شروع دی ،خو د اذان نه مخکې د صلاة او سلام رواج اوس د څو کلنو نه شروع شوی دی، که دا ددین خبره وي، نو رسول الله ﷺ به ضرور امت ته ددې تعلیم ورکړی وای او صحابه کرام او تابعین عظام او ددین نورو بزرګانو به په دې عمل کړی وای، چې کله سلف صالحین په دې باندې عمل ونکړ، نه رسول الله ﷺ ددې تعلیم ورکړ، نو د اذان نه مخکې صلاة او سلام لوستل بدعت شو او رسول الله ﷺ فرمايي چې

[1]]وضع الحدود والتزام الکیفیات والهیئات المعینة فی اوقات معینة لم یوجد فی الشریعة.(الاعتصام للشاطبي ج:۱ ص:۳۹طبع بیروت).

څوک زموږ په دین کې نوی کار پیدا کړي هغه مردود دی[۱] د رسول الله ﷺ ارشاد د بیان کړې طریقې مطابق دی ،خو شریعت د اذان نه وروسته د درود شریف لوستلو او د وسیلې د دعا د لوستلو حکم کړی دی[۲]

د اذان صحیح تلفظ

سوال: په اذان کې خلک (اشهد) کې هاء نه ادا کوي (حی علی الصلاة) کې عین نه ادا کوي په (اشهدان محمدرسول الله) کې (ان) نه وروسته الف راکاږي په (قد قامت الصلاة) کې د لوی قاف په ځای وړوکی کاف لولي دا عام عمل دی .ددې مسئلې وضاحت کولو سره مو مشکور کړئ

جواب: دا ډیره غټه غلطي ده ددې اصلاح کول پکار دي د (ان) سره د الف په زیادت معنی بالکل بدلیږي[۳]

د اذان غلط تلفظ

سوال: زموږ په محله کې کافي خلک د مسلک حنفي بریلوي سره تعلق لري زموږ د جومات امام صاحب به چې مخکې کله اذان کاو، نو څنګه به چې په هر ځای کې په هر جومات کې یې څنګه اذان وارید، هغه شان اذان به یې وکړ،خو اوس تقریبا د یوې میاشتې نه زموږ امام صاحب چې کله اذان کوي، نو د اذان لومړي الفاظ داسې لولي (**الله اکبر الله اکبر الله اکبر**) په اخرکې را او لام یوځای لولي او د الله الف نه لولي داسې یې لولی **اللهأکبَرَ اللهأکبَر**...

جواب: په اذان کې اصل سنت خو دا دي چې په لومړی الله اکبر کې "راء خوساکن وساتل شي اودویم لفظ د الله د همزي سره ولوستل شي او جائز دا هم ده چې د لومړي تکبیر په راء باندې زبر ولوستل شي او د الله نوم همزې حذف کولو سره را لام سره یو ځای کړل شي او داسې ولوستل شي: **الله اکبرَ الله اکبر**...[۴]

۱]عن عائشة رضی الله عنها قالت:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:من احدث فی امرنا هذا مالیس منه فهو رد.متفق علیه.(مشکوة ۲۷،کتاب الایمان باب الاعتصام بالکتاب والسنة،طبع قدیمی)۔

۲] عن عبدالله بن عمروبن العاص قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:اذا سمعتم المؤذن فقولوا مثل ما یقول،ثم صلوا علی فانه من صلی علیّ صلوة صلی الله علیه وسلم بها عشرًا،ثم سلوا الله لی الوسیلة فانها منزلة فی الجنة لا تنبغی الا لعبد من عبادالله،وارجوا ان اکون اناهو،فمن سال لی الوسلیة حلت علیه الشفاعة.رواه مسلم.(مشکوة ص:۶۵،باب فضل الاذان)۔

۳]ویکره التلحین وهوالتغنی بحیث یؤدی الی تغیر کلماته.(عالمگیری ج:۱ ص:۵۶،کتاب الصلاة،باب الاذان)

۴] وحاصلها ان السنة ان یسکن الراء من الله اکبر الاول او یصلها بالله اکبر الثانیة فان سکنها کفی وان وصلها نوی السکون فحرک الراء بالفتحة فان ضمها خالف السنة.(درمختار مع ردالمحتار ج:۱ ص:۳۸۶)۔

ایا د کلمه شهادت په شان په اذان کې هم نون ساکن وي؟

سوال: په کلمه شهادت کې نون ساکن دی.په اذان کې هم ځینې حضرات فرمایي "نون" استعمالول پکار نه دي

جواب: د نون اواز راتلل پکار نه دي د "نون" په "لام" کې ادغام کیږي

چې صحیح تلفظ نه شي کولی ددا سې کس اذان، اقامت او امامت

سوال: د یوې سرکاري ادارې په جومات کې امام صاحب مقرر دی .خوموذن نشته لهذا د اذان او اقامت فریضه د ادارې یو ملازم کمزوری او مشر سړی ادا کوي.څه حضراتو ته په دې خبره باندې اعتراض دی چې دی صحیح الفاظ نه ادا کوي.دا غیرمناسب خبره ده ځکه چې د هغه د ژبې نه د لفظ "قد" په خای(کد) او د فلاح په خای(پلاه) راوځي چې کله د غه مشر ته دا خبره وکړل شوه. نو هغه وویل چې زه کوشش خو پوره کوم .خود غابښونو د نه موجودګۍ له وجې نه د مخارجو اهتمام نه کیږي.په داسې صورت کې دا سړی د اذان او د اقامت فریضه سرته رسولی شي اوکه نه ؟که د څه مجبورۍ له وجې نه یو وخت کې امام صاحب رانه شي. نو ددوی په اقتداء کې لمونځ کیږي اوکه نه؟

جواب: که یو صحیح تلفظ والاانسان موجود وي.نو اذان او اقامت هغه ته کول پکار دي.که نه دی معذوردی چې هرکله دی د کوشش کولو باوجود صحیح تلفظ نه شي ادا کولی.هم دا حکم ددوی د امامت هم دی چې که چېرته څوك صحیح لوستونکی(د شریعت مطابق انسان) موجود وي، نو امامت له پاره هغه وړاندې کوئ .که نه ددوی په اقتداء کې دې لمونځ وکړل شي.[1]

د اذان صحیح تلفظ

سوال: ستاسو مسائل او د هغې حل صفحه نمبر ۱۶۲کې لیکلي دي چې د اذان په تلفظ کې "را"د وصل په صورت کې لوستل د سنت نه خلاف دي، ستاسو په خدمت کې عرض دی چې د"الله اکبر"په "را"باندې شرعي طور باندې فتحه لوستل سنت دي؟له دې د وجې نه به ضمه لوستل خلاف سنت وي. باقي په "را"باندې د وقف په صورت کې به "را"ساکن لوستل کیږي. که نه وقف به نه وي.لهذا د علامه شامي رحمه الله په حوالې سره چې تاسو څه لیکلي دي د هغه وضاحت وکړئ.د قواعدو (ګرامر)په لحاظ سره خو"الله"مبتدا ده"اکبر"خبر دی.مبتدا او خبر دواړه مرفوع وي، یعنې د هر یو په اخره کې ضمه وي.د وقف په صورت کې په "را"باندې فتحه څنګه شوه؟ حالانکې اصل حرکت ضمه موجود ده.که ضمه نه وه. نو بیا د فتحې سوچ کیدای

---

[1]]وینبغی ان یکون المؤذن رجلا عاقلاً صالحاً تقیًا عالما بالسنة کذا فی النهایة.........والاحسن ان یکون امامًا فی الصلاة کذا فی معراج الدرایة.(عالمگیری ج:۱ ص:۵۴،۵۳).

شو.د ګرامرو د کتابونو د مطالعې نه وروسته په حوالې سره په "را" باندې کسره (زیر) هم کیدای شي.د عربي ژبې قاعده ده چې کله دوه ساکنان یوځای شي (په دواړو کې څه حرف علت نه وي) نو اول ساکن ته د کسرې حرکت ورکول کیږي لکه **قدیرٌ (قدیرُنِ الذی)** وضاحت وکړئ

جواب: د علامه شامي رحمه الله په حوالې سره چې ما څه لیکلي دي. نو د هغه وضاحت دا دی چې د اذان په هره کلمه باندې وقف کول سنت دي.لهذا په "را" باندې به ضمه نه لوستل کیږي.اوس دوه صورتونه دي. یا خو به په "را" باندې سکون وي.یا که یوځای لوستل وي. نو په "را" باندې به فتحه لوستل کیږي.دلته به دا وصل د فصل په نیت سره وي او د فتحې لوستلو وجه دا ده چې فتحه اخف الحرکات ده یعنې په ټولو حرکتونو کې سپک حرکت دی.له دې وجې نه د "**الساکن اذا حرك حرك بالکسر**" والا قاعدې مطابق به دلته کسره نه شي ورکولی[1].د یو عالم نه په دې باندې زباني طور سره ځان پوه کړئ. **والله اعلم!**

الله اکبر کې د را تلفظ

سوال: د اذان په شروع کې الله اکبر الله اکبر دواړه که یو ځای ولوستل شي. نو په را باندې چې کوم پیش راځي هغه د لام سره یو ځای لوستل کیږي او که نه؟

جواب: علامه شامي لیکي چې غوره داده چې د لومړي الله اکبر راء ساکنه ولوستل شي او که یو ځای کولو سره لوستل کیږي ، نو په را باندې دې د وقف په نیت سره فتحه ولوستل شي په ضمې سره یو ځای لوستل د سنت خلاف دي[2]

د الصلاة خیر من النوم نه پرته اذان کول

سوال: که د سهار په اذان کې الصلاة خیر من النوم هیرشي: نو اذان وشو یا په دویم ځل یې وکړي؟ او که څوک یې په قصد پریږدي، نو اذان وشو که په دویم ځل یې وکړي؟

جواب: دسهار په اذان کې الصلاة خیر من النوم لوستل مستحب دي[3] په قصد خو پریښودل نه دي پکار.خوکه یادنه شو یا یې په قصد پریښودلو.نوبیا هم اذان وشو په دویم ځل به یې نه کوي

د الصلاة خیر من النوم ثبوت

سوال: اوس مې د السیدمحمد صدیق صاحب په کتاب کشف الاسرار کې لوستل هغه د مشکوة ص ۲۳_۱۱۴ په حوالې سره لیکلي دي چې په اذان کې الصلاة خیر من النوم دا

1]وحاصلها ان السنة ان یسکن الراءِ من الله اکبر الاول او یصلها بالله اکبر الثانیة.فان سکنها کفی وان وصلها نوی السکون فحرک الراء بالفتحة. فان ضمها خالف السنة.(درمختار مع ردالمحتار ج:۱ ص:۳۸٦)۔

۲] وحاصلها ان السنة ان یسکن الراء من الله اکبر الاول او یصلها بالله اکبر الثانیة،فان سکنها کفی وان وصلها نوی السکون فحرک الراء بالفتحة.(شامی ج:۱ ص:۳۸٦)۔

۳]ویزید بعد فلاح اذان الفجر الصلوة خیر من النوم مرتین کذا فی الکافی.(عالمگیری ج:۱ ص:۵۵)۔

الفاظ د رسول الله ﷺ د دور نه دي او تراويح هم.خو مشهوره ده چې دا اضافه د عمر فاروق رضی الله عنه د زماني نه شوې ده مهرباني وکړئ په تفصيل سره مو خبرکړئ چې خلکو ته د حقيقت حکم وشي

جواب: صحيح داده چې په اذان کې د الصلاة خير من النوم د الفاظو اضافه عمر رضی الله عنه نه ده کړې. بلکې دا په ډيرو احاديثو کې د رسول الله ﷺ نه خپله ثابت دي[1] په موطا امام مالک کې روايت دی چې موذن عمر رضی الله عنه ته د سهار د لمانځه د خبر ورکولو له پاره راغی. نو ويې کتل چې هغه ويده دی هغه ووېل الصلاة خيرمن النوم يا امير المومنين عمر رضی الله عنه وفرمايل دا جمله د سهار په اذان کې وايه...[2]

شيخ مولانا محمد زکريا کاندهلوي رحمه الله په اوجز المسالک شرح د موطا امام مالک کې ددې حديث لاندې ليکي

د عمر رضی الله عنه په دې وينا باندې شک کېدلی شي ځکه چې ددې فقرې د سهار په اذان کې کېدل خو خپله د رسول الله ﷺ نه په ډيرو رواياتو کې نقل دي. د عمر رضی الله عنه په باره کې دا ګمان نه شي کېدلی چې ددې فقري د سهار په اذان کې لوستل دي معلوم نه وي. د ټولو نه غوره توجيه داده چې ددې وينانه مقصود د عمر رضی الله عنه دا و چې د فقرې محل د سهار اذان دی د امير دروازه نه. ګويا هغه د امير المومنين په دروازه باندې ددې فقرې په دويم خل ويل خوښ نه کړل او موذن ته يې حکم وکړ. چې هغه دې ددې فقرې د سهار په اذان کې ويلو باندې اکتفاء کوي. دا توجيه حافظ ابن عبدالبر رحمه الله او علامه باجي رحمه الله اختيار کړې ده او علامه زرقاني رحمه الله فرمايي چې هم دا توجيه برابره ده او زما په نزد هم دا توجيه ډير غوره ده.(ج١ص١٩٢ مطبوعه کتاب خانه يحيوی سهارنپور)[3]

---

[1] وعن ابي محذورة رضى الله عنه قال:قلت: يا رسول الله! علمنى سنة الاذان.قال:فمسح مقدم راسه قال: تقول الله اكبر الله اكبر........فان كان صلوة الصبح قلت:الصلوة خير من النوم،الصلوة خير من النوم. (مشكوة المصابيح ص:٦٣باب الاذان،الفصل الثانى).ايضا:عن عبدالعزيز بن رفيع قال:سمعت ابا محذورة قال: كنت غلاما صبيا فقال لى رسول الله صلى الله عليه وسلم:قل:الصلوة خير من النوم،الصلوة خير من النوم. (شرح معانى الآثار ج:١ ص:١٠٣، باب قول المؤذن فى اذان الصبح الصلوة خير من النوم.طبع مكتبه حقانية)

[2] عن مالک بلغه ان المؤذن جاء عمر يؤذنه لصلوة الصبح فوجده نائما فقال:الصلوة خير من النوم،فامره عمران يجعلها فى نداء الصبح.رواه فى المؤطا.(مشكوةالمصابيح ص:٦٤باب الاذان،الفصل الثالث،طبع مكتبه قديمى)

[3] وقد يشكل قوله رضى الله عنه هذا لان كون هذه الكلمة فى اذان الصبح عن النبى صلى الله عليه وسلم ثابت فى عدة روايات فلا يمكن ان يظن بعمر رضى الله عنه انه لم يعلم بعد كونها من الاذان.فالاوجه ان يقال ان مقصوده رضى الله عنه ان محل هذه الكلمة هو نداء الصبح فقط لا باب الامير.فكانه كره ان ينادى به على بابه،وامره باقتصاره على نداء الصبح فقط،واختارهذا التوجيه ابن عبدالبروالباجى،وقال الزرقانى هو المتعين، وهو الاوجه عندى.(او جز المسالک شرح مؤطا امام مالک ج:٢ ص:٣٠،طبع مكتبة امدادية،مكة المكرمة)

له دې نه وروسته شیخ صاحب نور هم ډیر توجیهات نقل کړي دي بهر حال دا خبره ده چې د سهار په اذان کې د الصلاة خیر من النوم ویلو حکم لومړی خل عمر رضی الله عنه نه دی ورکړی. بلکې دا معمول د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بابرکته زماني نه راروان دی عمر رضی الله عنه ددې تاکید فرمایلي دی

هم دغه شان د تراویح لمونځ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زمانې نه راروان و[۱] عمر رضی الله عنه په دې کې دوه اهتمامه وکړل یو د جمعې دویم د شلو رکعاتونو.[۲]

د اذان په اخر کې محمد رسول الله ویل خلاف سنت دي

سوال: زمونږ په ښار کې امام صاحب چې کله اذان کوي. نو د اذان د اخري الفاظو الله اکبر الله اکبر لااله الاالله سره محمد رسول الله هم وايي سره له دې چې د اذان اخري الفاظ د پوره کلمې طیبې په طور نه شي لوستل کېدای ایا په دې طریقې سره اذان صحیح دی؟

جواب: ستاسو امام صاحب د سنت خلاف کوي اذان په لااله الاالله باندې ختمیږي.[۳]

ایا په اذان کې مد کول جائز دي

سوال: موذنین حضرات اذان دومره اوږد لولي چې مد متصل هم لویوي.ایا دا اذان جائز دی حال داچې په حی علی الصلاة او حی علی الفلاح باندې هیڅ مد نشته دا حضرات یې ولې دومره راکاږي؟

جواب: په حی علی الصلاة او حی علی الفلاح باندې د وقف په وجه مد صحیح دی د اذان کلمات دومره راښکل صحیح نه دي چې په حروفو او الفاظو کې خلل واقع شي.[۴]

۱]کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یرغب فی قیام رمضان من غیر ان یامرهم فیه بعزیمة فیقول:من قام رمضان ایمانا واحتسابا غفرله له ما تقدم من ذنبه.فتوفی رسول الله صلی الله علیه وسلم والامر علی ذالک...الخ.(جامع الاصول ج:۹ ص:۳۳۹).ایضا:ان الله فرض صیام رمضان وسننت لکم قیامه.فمن صامه وقامه ایمانا واحتسابا خرج من ذنوبه کیوم ولدته امه.(جامع الاصول ج:۹ ص:۴۴۱)_

۲] ان عمر بن الخطاب امره (ای ابی بن کعب)ان یصلی باللیل فی رمضان،فقال:ان الناس یصومون النهار ولا یحسنون ان یقرؤا فلو قرات علیهم باللیل،فقال:یاامیر المؤمنین!هذا شیء لم یکن.فقال:قد علمت ولکنه حسن،فصلی بهم عشرین رکعة.(کنز العمال ج:۸ ص:۴۰۹،حدیث نمبر:۲۳۴۷۱.طبع بیروت).ایضا:وروی اسد بن عمر عن ابی یوسف قال:سالت ابا حنیفة رحمه الله عن التراویح وما فعله عمر رضی الله عنه......

....ولقد سن عمر هذا وجمع الناس علی ابن کعب فصلاها جماعة،والصحابة متوافرون...الخ. (الاختیار لتعلیل المختار ج:۱ ص:۶۸)_

۳] کما فی اذان عبدالله بن زید بن عبد ربه الانصاری.(مشکوة ص:۶۴).ایضا: کما فی اذان ابی محذورة.(ابو داؤد ج:۱ ص:۷۲،باب کیف الاذان ؟ طبع ایچ ایم سعید)_

۴] ویکره التلحین وهو التغنی بحیث یؤدی الی تغیر کلماته کذا فی شرح المجمع لابن الملک وتحسین الصوت للاذان حسن مالم یکن لحنا کذا فی السراجیة.وهکذا فی شرح الوقایة. ..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

د اذان نیمګړې فقرې په دویم ځل لوستل

سوال: زموږ د محلې د جومات مولانا اوس څو ورځې مخکې د سهار د اذان کولو په وخت کې زما د نظر مطابق یوه غلطي کړې وه مولانا د سهار اذان کولو چې هغه ته په دې نیمګړې جمله باندې توجې راغلو او په تیوخو شو او بیا هغه په دویم ځل دا جملې د سرنه ولوستلې زما په خیال د دې جملو تعداد درې شو. اوس زه دا معلومول غواړم چې په دې کې د مولانا صاحب غلطي شته او که نه؟ که وه، نو هغه له اذان په دویم ځل کول پکار و؟ که ستاسو جواب هو وي، نو اوس چې هغه د سهار وخت تېر شوی دی مولانا صاحب د هغه څه کفاره ورکړي بیان یې کړئ؟

جواب: چې هر کله یې پوره جمله نه وه لوستلې، نو د هغه په دویم ځل کول پکار و په دې وجه هیڅ غلطي نه ده شوې

د سحر په اذان کې "الصلوة خير من النوم" لوستل هېر شو

سوال: د سهار په اذان کې د چا "**الصلوة خير من النوم**" لوستل هیر شي او ټول اذان وکړي، نو بیا به څه کوي؟ د غه شان که په نورو اذانو کې یو کلمه یا دوه کلمې پاتې شي، نو بیا به څه صورت وي؟

جواب: د سهار په اذان کې "**الصلٰوة خيرٌ من النّوم**" (دوه ځله) لوستل مستحب دي[۱]. که هیر شي ،نو هیڅ حرج نشته،په نورو اذانونو کې که څه کلمې پاتې شي. نو هغه کلمات دې په دویم ځل ولوستل شي،په دویم ځل له سر نه د اذان ویلو ضرورت نشته.[۲]

په اذان کې د ترجيع څه حکم دی؟

سوال: ایا په اذان کې ترجيع جائز ده؟

جواب: مکروه ده.[۳]

...بقيه د تيرمخ]..(عالمگيرى ج:۱ ص:۵۶زالفصل الثانى فى كلمات الاذان والاقامة وكيفيتهما)_

[۱] [قال فى شرح التنوير:ويقول ندبا بعد فلاح اذان الفجر الصلوة خير من النوم مرتين.فيه رد على من يقول محله بعد الاذان بتمامه...الخ.(شامى ج:۱ ص:۳۸۸).

[۲] [ولو قدم فيهما مؤخرًا اعاد ماقدم فقط (قوله اعاد ما قدم فقط)كما لو قدم الفلاح على الصلاة يعيده فقط اى ولا يستانف الاذان من اوله.(الدر المختار مع الرد المحتار ج:۱ ص:۳۸۹.باب الاذان).

[۳] [قوله بلا ترجيع اى ليس فيه ترجيع...الخ.(البحر الرائق-ج:۱ ص ۲۶۹.طبع بيروت).ايضا:واما الترجيع فليس هو عندنا من صلب الاذان.وذالک لانه ليس فى اذان عبدالله بن زيد رضى الله عنه الذى يرويه عبدالرحمن بن ابى ليلى عن اصحاب النبى صلى الله عليه وسلم فى قصة الاذان ترجيع.(شرح مختصرالطحاوى ج:۱ص۵۵۰.طبع دارالسراج)

د دویمې محلې نه راتلل او جومات کې د سهار اذان کول

سوال: یو جومات ښار کې واقع دی او په هغه کې له جمعې سره ځلور لمونځونه کیږي. خو نه په کې د سهار اذان کیږي او نه لمونځ. خو یو جاهل سړی د خپلې محلې نه راشي یوازې اذان وکړي او بیا د لمانځه لپاره خپل جومات ته لاړ شي. ایا دده لپاره دا صحیح دي؟

جواب: د دویمې محلې نه راتللو او اذان کولو والا ډیر لوی اجروثواب مستحق دی. خو هغه ته پکار دي چې لمونځ هم دلته کوي او محنت وکړي او دوه ځلور کسان ځان سره جمعې کولو لپاره شریک کړي.[1]

د اذان په جملو کې ساه اخستل

سوال: د اذان په ویلو کې که په یو جمله باندې ساه واخستل شي، نو غلطه خو نه ده؟

جواب: که وقفه زیاته نه وي، نو اذان صحیح دی، خو د اذان جملې دومره راښکل چې په مینځ کې د ساه اخستلو ضرورت راشي صحیح نه دي.[2]

د اذان په وخت په غوږونو کې ګوتې ورکول

سوال: ایا د اذان په وخت کې د ګوتو په غوږونو کې کېښودل ضروري دي؟ او دا فرض دي که واجب که سنت؟ که څوک داسې اذان کوي لکه چې څنګه لاس د لمونځ په وخت کې وي، نو اذان کیږي او که نه؟

جواب: د اذان کولو په وخت په غوږونو کې ګوتې ورکول سنت دي، چې اواز زیات لوړ شي، خو اذان له دې نه بغیر هم کیږي.[3]

د سهار له اذان نه وروسته خلک د لمانځه له پاره راغوښتل

سوال: زموږ د محلې په جومات کې د سهار د مانځهٔ په وخت د لمونځ ګزارو تعداد ډیر کم وي په دې سوچ کولو سره زه خپل لمونځ ګزار ملګري پورته کوم او د محلې والا ته اواز کولو سره تیریږم، لمونځ ته راځئ، په دې طریقې سره د لمونځ ګزارو تعداد په جومات کې ډیر شو او

---

[1] اولى الكنـــز وكره خروجه من مسجد اذن فيه حتى يصلى.(اعلاء السنن ج:۷ ص:۸٤).

[2] وجعل اصبعيه فى اذنيه سنة الاذان ليرفع صوت بخلاف الاقامة.(عالمگيرى ج:۱ ص:٥٦،فتح القدير ج:۱ ص:۲۱۳البحرالرائق ص:۲٦۰)ويكره للمؤذن ان يرفع صوته فوق الطاقة كذا فى المضمرات.(ج:۱ ص:٥٦)

[3] عن عبدالرحمن بن سعد..........ان رسول الله صلى الله عليه وسلم امر بلالا ان يجعل اصبعيه فى اذنيه،قال:انه ارفع لصوتک.رواه ابن ماجة.(مشكوة ج:۱ ص:٦٤باب الاذان).ايضا:وجعل اصبعيه فى اذنيه سنة الاذان ليرفع صوته بخلاف الاقامة.(عالمگيرى ج:۱ ص:٥٦،فتح القدير ج:۱ ص:۲۱۳،البحر الرائق ص:۲٦۰).ويكره للمؤذن ان يرفع صوته فوق الطاقة كذا فى المضمرات.(عالمگيرى ج:۱ ص:٥٦)

زه هم خوشحاله شوم. زموږ ملګري هم په دې خوشحالیدل چې هغوی ته به د جمعې لمونځ یوځای ادا کولو له پاره ملاو شو. کېدای شي چې ډیر خلک په دې باندې خفه کیږي هم چې هغوی مو سهار وختي راپورته کړل. خو وایي څوک هم نه. خو زموږ د جومات امام صاحب ویل چې دا خو بدعت دی بس اذان کیږي دا کافي ده کوم خلک چې راځي هغوی به په خپله راځي په دې اوریدلو باندې ما خپل ملګري ویښول پریښودل او هغوی هم سستوالی اختیار کړی دی چې په هغه سره لمونځ ګزار ډیر کم شوي دي.

جواب: د ویدو خلکو راپورته کول خو بدعت نه دي او متاخرینو د اذان نه وروسته د خلکو لمانځه طرف ته راغوښتلو ته مستحسن هم ویلي دي [۱]

د اذان نه وروسته خلکو ته د لمانځه یادګیرنه کول

سوال: ما اوریدلي دي چې د اذان نه وروسته د لمانځه دعوت ورکول (اذان په خپله یو دعوت دی) غلط دي. څنګه چې د سهار په وخت کې بار بار اعلان کیږي. زه چې کله لمانځه ته ځم. نو په لاره کې ملاویدونکو کسانو ته د لمانځه دعوت ورکوم. ایا زما دا اقدام صحیح دی؟

جواب: د سهار په لمانځه کې لمونځ کونکو ته دعوت ورکولو سره راتلل ښه خبره ده او په نورو لمونځونو کې داسې کول مکروه دي **والله اعلم**. [۲]

لمانځه لپاره بار بار اعلان کول څنګه دي؟

سوال: دمحلې په یو جومات کې (بلکې څو جوماتونو کې) د سهار له اذانه وروسته اعلان کیږي چې "د سهار لمانځه ته لس دقیقې باقي دي"له دې نه وروسته "پنځه دقیقې باقي دي"دا جملې درې درې خله ویل کیږي او د دې جوماتونو د دې بار بار اعلاناتو له وجې نه په محله کې په نورو جوماتونو کې چېرته چې خلک په سنتو. د قرآن پاك په تلاوت یا کورونو کې ښځې د لمانځه په ادا کولو کې مصروفې وي. متاثره کیږي. دغه شان ځینې کسان چې جومات ته لمانځه لپاره ځي. نو دې اعلان کولو سره تیریږي چې "وروښو! د لمانځه وخت شوی دی. پورته شئ "دا صحیح کارونه دي؟

جواب: د لمونځ د اطلاع لپاره شریعت اذان جائز ګرځولی دی او د اذان په ذریعې سره د لمانځه د وخت اعلان کیږي. د اذان نه وروسته چې دا دویم اعلان کیږي. نو دې ته "تثویب" ویل کیږي او د امت فقهاء کرامو دا بدعت او مکروه ګرځولی دی[۳] او دا چې که یو سړی په څه

---

[۱] والتثویب حسن عند المتاخرین فی کل صلوة الا فی المغرب...الخ.(عالمگیری ج:۱ ص:۵٦)۔

[۲] والتثویب فی الفجر حی علی الصلاة حی علی الفلاح مرتین بین الاذان والاقامة حسن لانه وقت نوم وغفلة وکره فی سائر الصلوات.(هدایة ج:۱ ص:۸۹باب الاذان،طبع مکتبه شرکت علمیه،ملتان).

[۳] ایضاً تیره شوی حاشیه.

ديني کار کې سخت مشغول وي. نو هغه ته د لمانځه اطلاع ورکول جائز دي [۱] غرض دا چې تاسو سره نژدې چې کوم رواج شروع دی. نو دا شرعا جائز نه دی او دا بندول پکار دي [۲]

که په جوماتکې موذن نه وي نو هم د اذان اهتمام دې کوي

سوال: ايا په جوماتکې د ماسپښين په وخت اذان کول ضروري دي؟ دلته څوک موذن مقرر نه دی کوم کس چې مخکې راشي هغه اذان کوي او څينې وخت يې هير کړي دامې بغير د اذان نه لمونځ کيږي او موږ هم په يقين کې يو چې اذان نه دی شوی ايا د اذان نه پرته زموږ د جماعت لمونځ ادا کيږي؟

جواب: د اذان نه پرته لمونځ کيږي. خو د سنت خلاف به وي او د سنت د پرېښودلو ګناه به وي په جوماتکې د اذان اهتمام ضروري دي فقهاء کرامو ليکلي دي چې کوم جمعه له اذان نه پرته وي هغه معتبره نه ده. خلکوته پکار دي چې د اذان سره جمعه وکړي [۳]

د تهجد لمانځه له پاره اذان او اقامت

سوال: د شب برات او ليله القدر په موقع باندې ډيرخلک د عبادت اهتمام کوي. نو څه حضرات وايي چې د تهجدو لمونځ په جمعې سره وکړو. خو ما انکار وکړ او ومې وويل چې مخکې به پوښتنه کوو بيا به عمل کوو. حال دا چې په سعودي عرب کې د جمعې سره تهجد ادا کيږي چې کوم اکثر په روژه کې د پيشمني وخت کې په ريډيو باندې اورو. نو ايا د تهجدو لمونځ په جمعې سره کيږی او که نه؟ که کيږي. نو د اذان او اقامت څه حکم دی؟

جواب: د تراويحو نه پرته د نفلونو په جمعې سره کول مکروه دي. په دې وجه د تهجدو لمونځ په جمعه سره ادا کول مکروه دي [۴]. او نفلي لمونځ له پاره اذان او اقامت نشته اذان او اقامت يوازې د پنځه وخته لمانځه او جمعې خصوصيت دی [۵]

۱] (قوله للكل)وخصه ابو يوسف بمن يشتغل بمصالح العامة كالقاضى والمفتى والمدرس واختاره قاضيخان وغيره نهر .(شامى ج:۱ ص:۳۸۹،مطلب فى اول من بنى المنائر للاذان).

۲]عن ابى هريرة رضى الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده...الخ.(مشكوة ص:۱۵،كتاب الايمان).

۳] الاذان سنة لاداء المكتوبات بالجماعة........ويكره اداء المكتوبة بالجماعة فى المسجد بغير اذان واقامة.(عالمگيرى ج:۱ ص:۵۳،۵۴،كتاب الصلاة،الباب الثانى فى الاذان)۔

۴]التطوع بالجماعة اذاكان على سبيل التداعي يكره.(عالمگيرى ج:۱ ص:۸۳،كتاب الصلاة،الباب الخامس)

۵] وليس لغير صلوات الخمس والجمعة نحو السنن والوتر والتطوعات والتراويح والعيدين اذان ولا اقامة.كذا فى المحيط.(عالمگيرى ج:۱ ص:۵۳،كتاب الصلاة،الباب الثانى فى الاذان،الفصل الاول)۔

د يو ناڅاپه مصيبت وخت كې اذان كول

سوال: په اورنګي ټاون په كمزورو خلكو باندې د دهشت ګردو خلكو ويره داسې غالبه شوه چې ټولې محلې والا د الله پاک نه امداد غوښتل شروع كړل او تقريبا د شپې يولس بجې په ټوله محله كې اذانونه و شول او ددې اذان ددې نه پرته بله هيڅ وجه نه وه چې الله پاک په دې ناڅاپي مصيبت كې ددې خلكو امداد وكړي د جوماتونو مائكونه ددې له پاره استعمال شول چې اواز د ليرې ليرې پورې لاړ شي اود دهشت ګردو زړونه ووېرېږي د رحمانيه ټاون د امام وينا ده چې دا غلط حركت دى او د اذان نه وروسته د جماعت لمونځ فرض دى سره له دې چې دا د لمانځه وخت نه دى په دې كولو سره څه ګناه وشوه؟ مشوره راكولو سره احسان وكړئ دا قسمه ناڅاپي بلا او مصيبت روزانه نه نازليږي په دې وجه ددې د رواج جوړيدلو هيڅ امكان نشته.

جواب: علامه شامي رحمه الله ليكلي دي چې خير الدين رملي رحمه الله په حاشيه د بحر كې فرمايلي چې ما د شوافعو په كتابونو كې ليدلي دي چې د لمانځه نه پرته هم ډيرو موقعو باندې اذان كول سنت دي،مثلا:د ماشوم په غوږ كې،د پريشاني موقع،د ميرګو،د غصې نه ډک. بداخلاقه انسان يا څاروي په غوږ كې د يو لښكر د حملې په وخت كې د اور لګيدلو په موقع باندې.(شامي درمختارج۱ ص ۳۵۸)[1]

د خير الدين رملي رحمه الله له دې عبارت نه معلومه شوه چې د دهشت ګردو ددې حملې په موقع باندې اذان كول د احنافو په كتابونو كې په هيڅ ځاى كې ذكر نه دي،خو د شوافعو په كتابونو كې يې دې ته مستحب ويلي دي،په دې وجه د داسې پريشاني په موقع باندې موږ د اذان كولو ترغيب خو نه وركوو، خو كه څوک يې وكړي، نو دې ته به بالكل غلط حركت هم نه وايو او د پيدا شوي ماشوم په غوږ كې اذان كول د احاديثو نه ثابت دي او په فقه حنفي كې هم ددې وضاحت شته [2].اذان كه د لمانځه له پاره كيږي.خو بې وخته وكړل شي بيا هم په دې سره لمونځ نه فرض كيږي. بلكې د لمانځه د راتلو په وخت به د اذان په دويم ځل كولو حكم وي،ځكه چې بې وخته اذان په شان د نه اذان دى.[3]

۱] وفى حاشية البحر للخير الرملى:رايت فى كتب الشافعية انه قد يسن الاذان لغير الصلاة،كما فى اذن المولود، والمهموم، والمصروع،والغضبان،ومن ساء خلقه من انسان او بهيمة،وعند مزدحم الجيش،وعند الحريق)

۲]ويستحب للوالد ان يوذن فى اذن المولود اليمنى،وتقام فى اليسرى حين يولد لما روى ابو رافع ان النبى صلى الله عليه وسلم اذن فى اذن الحسن حين ولدته فاطمة.........وعن ابن عباس ان النبى صلى الله عليه وسلم اذن فى اذن الحسن بن على يوم ولد واقام فى اليسرى.(الفقه الاسلامي وادلته ج:۳ ص: ٦٤٠،العقيقة واحكام المولود،طبع دار الفكر،بيروت)۔

۳] تقديم الاذان على الوقت فى غير الصبح لا يجوز اتفاقاً وكذا فى الصبح عند ابى حنيفة ومحمد رحمهما الله تعالى وان قدم يعاد فى الوقت هكذا فى شرح مجمع البحرين لابن الملک وعليه الفتوى هذا فى التتارخانية ناقلا عن الحجة.(عالمگيرى ج:۱ ص:۵۳،الفصل الاول فى صفته واحوال المؤذن)۔

اووه اذانونه

سوال: زموږ د محلې په جومات کې د روژې په اوويشتمه شپه د ماسخوتن د لمانځه په وخت کې اووه اذانونه کيږي، تاسو ته درخواست دی چې ددې کار شرعي حيثيت د قرآن کريم او احاديثو په رڼا کې بيان کړئ؟

جواب: رمضان المبارک کې په اوويشتمه شپه اووه اذانونه د حديث او فقه نه ثابت نه دي. نو په دې وجه دې ته به بدعت ويل کيږي.[1]

د ډيرو جوماتونو په اذانونو سره ارام يا تکليف

سوال: نن سبا په جوماتونو کې څو څو لاؤډ سپيکرې لګيدلي دي او اذان کيږي. نو د څلور واړو طرفو دجوماتونو اواز د يو بل سره جنګيږي او موږ اوريدلي دي چې د جومات اواز دې دومره وي چې د بل جومات د اواز سره نه جنګيږي او سره ددې حال دادی چې زموږ په علاقه کې ډير جوماتونه دي په هر دويمه کوڅه کې جومات دی کله چې اذان کيږي يا وعظ کيږي. نو د جومات سره نژدې کورونو کې اواز دومره تيز وي. چې نعوذ بالله پريشاني محسوسيږي کله په ټيلي فون باندې خبرې کوو او اذان کيږي. نو خبرې کول ګران شي يا د چا طبيعت خراب وي يا څوک د امتحان تياری کوي، نو د وعظ دومره تيز اواز وي چې لوستل ګران شي او تکليف وي، تاسو دا بيان کړئ چې د جومات د اوازونو دومره وچتولو سره اسلام خوريږي يا مسلمانان زياتيږي؟ ايا په اسلام کې داسې د ضد بحث د يو بل سره جائز دی؟

جواب: اذان خو په لاؤډ سپيکر باندې کول پکار دي چې د اذان اواز د ليرې ليرې پورې رسول مطلوب دی، خو د اذان نه پرته وعظ وغيره له پاره د لاؤډ سپيکرفضول استعمال چې په هغه سره دمحلې والا سکون برباد شي نه ددين تقاضا ده نه د عقل. د وعظ له پاره يا د لمانځه له پاره که د لاؤډ سپيکر ضرورت وي، نو دهغه اواز د مسجد د حده پورې ساتل پکار دي.

د اذان نه وروسته لاس پورته کولوسره دعا کول

سوال: د اذان نه وروسته لاس پورته کولوسره دعا کول ضروري دي او که نه؟

جواب: د اذان نه وروسته په دعا کې لاس پورته کول نقل نه دي. يوازې په ژبه ويلوسره نقل

۱] (البدعة)ما احدث على خلاف الحق الملتقى عن رسول الله صلى الله عليه وسلم من علم او عمل او حال بنوع شبهة او استحسان وجعل دينا قويما وصراطا مستقيما.(ردالمحتار ج:۱ ص:۵۶۰،باب الامامة،مطلب فى اقسام البدعة).وفى البخارى (ج:۱ ص:۳۷۱)من احدث فى امرنا هذا ماليس منه فهو رد.(ما ليس منه)اى رايا ليس له فى الكتاب او السنة عاضد ظاهر او خفى ملفوظ او مستنبط (فهو رد)اى مردود على فاعله لبطلانه.(فيض القدير للمناوى ج:۱۱ ص:۵۵۹۴،طبع نزار مصطفى)۔

شوي دي. دعا دې ولولي او دعا داده چې لومړی دې درود ولولي بيا دې د وسيلې دعا ولولي[۱] بيا دې څلورمه کلمه ولولي او بيا دې دا دعا ولولي رضيت بالله ربا و بمحمد رسولا وبالاسلام دينا....[۲]

د اذان له پاره خوږ اواز ضروري نه دی

سوال: د زيد سوال دی چې موږ په خوږ اواز سره اذان نه شو کولی ولې موږ دا سې ونکړو چې کله په ريډيو باندې اذان راشي او د اذان وخت هم وي، نو موږ ريډيو د لاوډ سپيکر مخې ته کيږدو او بيا دلاوډ سپيکر نه پرته اذان وکړو ايا داسې کول شرعي لحاظ سره جائز دي؟

جواب: د اذان له پاره ريډيو دلاوډ سپيکر مخې ته کيښودل فضول حرکت دی، ځکه چې د ريډيو نه کوم اذان نشر کيږي هغه اکثر مخکې نه ريکارډ شوی وي په دې وجه دهغه حکم د اذان نه دی[۳]. د اذان الفاظ صحيح ادا کول پکار دي که خوږ اواز نه و. نو په ثواب کې کمی نه راځي.

د موذن په موجوديت کې د بل سړي اذان کول

سوال: زموږ په جومات کې د جمعې اذان دوه سړي کوي لومړی اذان د جومات موذن صاحب کوي. خو دويم اذان کوم چې د خطبې نه مخکې کيږي هغه بل سړی کوي. سره له دې چې موذن صاحب موجود دي ايا دا اذان صحيح کڼل پکار دي؟

جواب: صحيح دی هرڅوک که يې کوي په دې شرط چې په دې سره دموذن زړه ماتول نه راځي[۴]

د ړيره وړو نکي يا نابالغه اذان

سوال: زما مسئله داده چې ايا د نابالغه اذان کيږي اوکه نه؟ او د نابالغ په شريعت کې څومره عمر دی؟ بيان يې کړئ او زما دويمه مسئله داده چې د هغه سړي اذان کيږي چې چا

---

[۱] عن عبدالله بن عمروبن العاص قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:اذا سمعتم المؤذن فقولوا مثل ما يقول، ثم صلوا على فانه من صلى على صلوة صلى الله عليه بها عشرًا،ثم سلوا الله الوسيلة،فانها منزلة فى الجنة لا تبغى الا لعبد من عبادالله،وارجو ان اكون انا هو،فمن سال لى الوسيلة حلت عليه الشفاعة.رواه مسلم. (مشكوة المصابيح ص:٦٥،كتاب الصلاة،باب فضل الاذان واجابة المؤذن،الفصل الاول.طبع قديمى كتب خانه)

[۲] عن سعد بن ابى وقاص قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:من قال حين يسمع المؤذن:اشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريک له وان محمدًا عبده ورسوله رضيت بالله ربا وبمحمد رسولاً وبالاسلام دينا،غفرله ذنبه.رواه مسلم. (مشكوة المصابيح ص:٦٥،كتاب الصلاة،باب فضل الاذان واجابة المؤذن،الفصل الاول)_

[۳] وينبغى ان يكون المؤذن رجلاً عاقلاً صالحًا تقيا عالمًا بالسنة كذا فى النهاية.(عالمگيرى ج:۱ ص:۵۳)_

[٤] وان اذن رجل واقام آخر ان غاب الاول جاز من غير كراهة وان كان حاضر او يلقه الوحشة باقامة غيره يكره وان رضى به لايكره عندنا كذافى المحيط(عالمگيرى ج:۱ ص:٥٤.كتاب الصلاة.الباب الثانى فى الاذان.الفصل الاول)

ږيره پريښې وي، خو نيمګړې وي، يعنې يو موټى نه وي، نو ايا د هغه اذان كيږي اوكه نه؟ دې سړي ته لسونخ هم پوره نه ورځي او قرآن كريم يې هم نه دى لوستلى

جواب: د ږيره وړونكي اذان او اقامت مكروه تحريمي دى هم دغه شان د كوم سړي ږيره چې د كټ كولو له وجې نه د يو موټي نه كمه وه د هغه اذان او اقامت هم مكروه تحريمي دى[۱] اذان دې په دويم ځل وكړل شي، خو اقامت دې په دويم ځل نه كيږي.نابالغ هلك كه پوهيږي اوهوښيار وي، نو د هغه اذان صحيح دى خو خلاف اولى دى[۲] د بلوغ د علامو په ذريعه پته لګيږي ،كه دبالغ كيدوځه علامه ښكاره نه شي، نود پنځلس كالو هلك اوانجيلى به شرعابالغ ګڼل كيږي [۳]

ږيره خريلى د اذان او اقامت نه مه منع كوئ

سوال: د ږيره خريلي اذان او اقامت مكروه تحريمي دى.زموږ د محلې په جوماتې كې اكثر چې كوم سړى اذان كوي.نوهغه ږيره خريلي كوي او اقامت هم اكثر ږيره خريلي كوي.اوس موږ هغه له ذې وجې نه نه منع كوو چې د هغه زړه مات نه شي او كه د اذان نه يې منع كړو، نو دى لمونځ پريږدي.لهذا مهرباني وكړئ او د قرآن اوحديث په رڼا كې موږ ته ددې مسئلې حل وښيئ

جواب: د اذان او د اقامت نه يې مه منع كوئ.خودا مسئله ورته ويل ضروري دي [۴]

د ږيره كټ كوونكي اذان او اقامت

سوال: د يو جومات امام صاحب فرمايي چې د كومو كسانو ږيره كټ شوي وي.يو موټى (مشت)نه وي، نو هغوى نه اذان كولى شي او نه اقامت.دا خبره د حديثو په رڼا كې تر كومه حده پورې صحيح ده؟

جواب: امام صاحب صحيح فرمايي،د ږيره خريلي او د ږيره كټ كوونكي سړي اذان او اقامت مكروه تحريمي دى[۵] زما رساله "داړهي كا مسئله" وګورئ **والله اعلم**

۱]ويكره اذان الفاسق ويستحب اعادة...الخ.(الفقه الاسلامى وادلته ج ۲ ص:۵۴۲).ايضا ويكره اذان جنب واقامته واقامة محدث لا اذانه......واذان.....فاسق وفى الرد تحت قوله ويكره اذان جنب.....وظاهر ان الكرهة تحريمة. (الدر مع الرد ج:۱ ص:۳۹۲).الفسق:فى اللغة عدم اطاعة امرالله وفى الشرع:ارتكاب المسلم كبيرة قصدًا،او صغيرة مع الاصرار عليها بلا تاويل.(قواعد الفقه ص:۴۱۲.التعريفات الفقهية)_

۲]اذان الصبى العاقل صحيح من غير كراهة وفى ظاهر الرواية ولكن اذان البالغ افضل...الخ.(عالمگيرى ج:۱ ص:۵۴،كتاب الصلوة الباب الثانى فى الاذان)_

۳] فان لم يوجد فيهما شيء فحتى يتم لكل منهم خمس عشرة سنة به يفتى (وفى الرد) هذا عندهما وهو روايه عن الامام وبه قالت الائمة الثلاثة.(الدر مع الرد ج:۶ ص:۱۵۳،كتاب الحجر)_

۴]ادع الى سبيل ربك بالحكمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتى هى احسن (النحل:۱۲۵).

۵]ويكره اذان الفاسق ويستحب اعادة...الخ.(الفقه الاسلامى ..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

د شپاړسو کالو د هلک اذان

سوال: که د چا عمر د شپاړسو کالو نه زيات وي او هغه لمونځ کوي، نو ايا د موذن په اجازه باندې اذان کولې شي، يا د امام نه اجازه اخستل هم ضروري دي؟

جواب: د موذن اجازه کافي ده، ځکه چې د شپاړسو کالو د هلک اذان صحيح دی او د اذان تعلق د موذن سره دی.

د خپل ځان ګناه ګار ګڼلو والا انسان اذان کول

سوال: ايا يو سړی چې هغه چېرته هم په جومات کې اذان نه وي کړی او بيا يو ورځ د جومات امام هغه ته د اذان له پاره ووايي په داسې حال کې چې د امام او ددې سړي نه پرته هلته هيڅ څوک نشته. نو ددې سړي اذان کول پکار دي؟ سره له دې چې هغه ځان ګناهګار ګڼي لمونځ هغه په وخت باندې کوي ددين طرف ته يې شوق وي خو خپل ځان ګناهګار ګڼي.

جواب: اذان هر مسلمان کولې شي، خو کوم سړی چې په يو ګناه کبيره کې اخته وي مثلاً ږيره خريل او وړول د هغه اذان مکروه تحريمي دی پاتې خپل ځان نيک او پاک څوک ګڼي. خپل ځان خامخا ګناهګار ګڼل پکار دي.[1]

د وخت نه مخکې د اذان کولو وبال به په چا باندې وي؟

سوال: زيد په يو جومات کې موذن دی، موذن په خپل وخت باندې اذان کوي، خو کميټۍ والا اصرار کوي چې اذان هغه وخت کوه کوم وخت چې درته موږ وايو. د کميټۍ والاوو بنودل شوی وخت د وخت داخليدو نه مخکې دی. مثال په طور نن سبا د مازديګر وخت د فقه حنفي مطابق ديارلس دقيقه دپاسه څلور بجې داخليږي. خو د کميټۍ والا وينا ده چې د پاو باندې څلور بجې په ځای څلور بجې اذان کوه او د ماسخوتن وخت په لس دقيقه دپاسه اووه بجې داخليږي او د کميټۍ والا وينا ده چې اذان اووه بجې کوه او دغه شان د سهار وخت نهه دقيقه کم شپږ بجې باندې داخليږي او کميټۍ والا وايي چې پنځه نيمې بجې اذان کوه دا مسئله چې کله امام

...بقيه د تيرمخ]..وادلته ج:۲ ص:۵٤۲).ايضا ويكره اذان جنب واقامته واقامة محدث لا اذانه....... واذان......فاسق وفى الرد تحت قوله ويكره اذان جنب......وظاهر ان الكرهة تحريمة.(الدر مع الرد ج:۱ ص:۳۹۲).الفسق:فى اللغة عدم اطاعة امرالله وفى الشرع:ارتكاب المسلم كبيرة قصدًا،او صغيرة مع الاصرار عليها بلا تاويل.(قواعد الفقه ص:٤١۲،التعريفات الفقهية)_

۱ [ويكره اذان الفاسق ويستحب اعادة...الخ.(الفقه الاسلامى وادلته ج:۲ ص:۵٤۲).ايضا ويكره اذان جنب واقامته واقامة محدث لا اذانه.......واذان......فاسق وفى الرد تحت قوله ويكره اذان جنب......وظاهر ان الكرهة تحريمة.(الدر مع الرد ج:۱ ص:۳۹۲).الفسق:فى اللغة عدم اطاعة امرالله وفى الشرع:ارتكاب المسلم كبيرة قصدًا،او صغيرة مع الاصرار عليها بلا تاويل.(قواعد الفقه ص:٤١۲،التعريفات الفقهية)_

صاحب ته ورسیده. نو هغه هم وینا وکړه. چې کمیټی والا څنګه وایي. نو هغه شان کوه او س
په دې صورت حال کې د دې مسئلو حل معلومول دي
۱ ایا د وخت نه مخکې اذان کول صحیح دي؟ یا یې په دویم خل کول ضروري دي؟
۲ د کمیټی والا د غه شان بې ځایه اصرار کول صحیح دي؟ ۳ په دې صورت کې که موذن
اذان وکړ. نو د دې وبال به په چا باندې وي؟ په کمیټی والا و که په امام باندې؟
۴ د امام صاحب د کمیټی والو تایید کول څنګه دي؟ ایا دا د حق پلولو په زمره کې نه راځي؟

جواب: ۱: د وخت نه مخکې اذان کول صحیح نه دي ځکه چې اذان د لمانځه د وخت د اطلاع
له پاره کیږي او د وخت نه مخکې لمونځ نه کیږي لهذا د وخت نه مخکې اذان کول غلط او د
تلبیس موجب دی، که څینې وخت کې د غلطي له وجې نه داسې وشي. نو د وخت شروع کیدو
نه وروسته دې په دویم ځل اذان وکړل شي، که نه دا لمونځ به له"اذن نه پرته"شمارل کیږي.[۱]
۲ د وخت نه مخکې قصداً اذان کول د دیني امانت خلاف کار دی او دې سره د خلکو د
لمونځونو د ضائع کیدو خطره ده. له دې وجې نه د جومات د کمیټی والو د وخت نه مخکې
اذان کولو باندې اصرار کول غلط دي او ګناه ده.
۳ د دې وبال به په موذن باندې هم وي، په امام باندې هم او د جومات په انتظامیه باندې
هم، که دا خلک د خپلې غلطۍ اصلاح ونکړي. نو امام د امامت اهل نه دی او انتظامیه د
جومات د معاملاتو د انتظام کولو اهل نه ده.
۴ پورته ذکر شوي دي چې د انتظامیې یو داسې فیصله چې شرعاً غلطه وي. نو د داسې
فیصلې تایید کول د امام د نااهلي دلیل دی. امام ته د داسې غلطې فیصلې تایید کول بالکل
پکار نه دي.[۲]

د ماښام د اذان او د لمانځه مینځ کې څومره وقفه کول پکار دي؟

سوال: د ماښام د اذان نه وروسته د څو دقیقو وقفه هم نه کیږي او جمعه دریږي. په داسې
صورت کې د ډیرو کسانو نه تکبیر اولی او د څینې وخت کې یو رکعت لاړ شي. ایا د ماښام د
اذان او د جمعې په مینځ کې د پنځو نه لس دقیقو پورې وقفه کول جائز نه دي په حالاتکې په
رمضان المبارک کې داسې کیږي؟

---

[۱]]ولا یؤذن لصلاة قبل دخول وقتها،فان فعل اعاد في الوقت،لان الاذان للاعلام وهو قبل دخول الوقت تجهیل...الخ.(الجوهرة النیرة ص:٤٤). ایضا: قال ابو جعفر:ولا یؤذن لشيء من الصلوات الا بعد دخول وقتها في قول ابي حنیفة ومحمد.......الحجة لابي حنیفة.........عن ابن عمر ان بلالاً رضي الله عنه اذن قبل طلوع الفجر فامره النبي صلی الله علیه وسلم ان یرجع فینادی:الا ان العبد نام.(شرح مختصر الطحاوی ج:۱ ص:٥٥٩،٥٥٨، باب الاذان).

[۲]]ولا تعاونوا على الاثم والعدوان (المائدة:۲).

جواب: د ماښام په لمانځه کې د اذان نه وروسته بس دومره وقفه کول پکار دي چې د اذان دعا ولوستل شي[۱] په رمضان المبارک کې د روژه دارو په انتظام کې وقفه کيږي.اوکوم حضرات چې تاخير سره راځي. نو هغوی ته پکار دي چې د خپل کوشش او طاقت مطابق د اذان په وخت کې جومات ته راشي که جمعه تاخير سره کيږي.نو بيا به هم د دوی د بې وخته راتلو دا عادت ختم نه شي

د وخت نه مخکې اذان کول معتبر نه دي

سوال: ايا هغه لمونځ کيږي چې هغه ته اذان له وخت نه مخکې شوی وي سره له دې چې زيات نه زيات مقتديان په جمعه کې شامل شي؟

جواب: که اذان له وخت نه مخکې وشي. نو په وخت کيدلو سره دې اذان په دويم خل وکړل شي که نه لمونځ به له اذان نه پرته وي او له اذان نه پرته لمونځ کول د سنت خلاف او مکروه دي.[۲]

د لمر د پريوتلو نه مخکې د ماښام لمونځ او اذان صحيح نه دی

سوال: د ماښام د اذان نه مخکې سجده جائز ده يا ناجائز؟ د اذان نه پنځه منټه مخکې مو د لمانځه نيت وتړلو او وروسته اذان وشو. نو څه وکړو؟

جواب: که لمر پريوتی وي، نود ماښام دلمانځه نه مخکې سجده جائزده اوکه پريوتی نه وي.نو جائزنه ده.کله چې اذان ته پنځه منټه پاتې وو.نودلمانځه وخت نه و.لمونځ ماتول پکار دي.[۳]

د وخت نه مخکې د ماسخوتن اذان

سوال: زموږ په علاقه کې يو جومات دی او دلته د ماسخوتن اذان په پاو باندې اووه بجې کيږي او د ماسخوتن وخت په پنځه ويشت منټه کم اته بجې شروع کيږي تاسو بيان کړئ چې د

---

[۱] واما اذا كان فى المغرب فالمستحب ان يفصل بينها بسكتة يسكت قائماً مقدار ما يتمكن من قراءة ثلاث آيات قصار هكذا فى النهاية.(عالمگيرى ج:۱ ص:۵۷.كتاب الصلاة.الباب الثانى فى الاذان.الفصل الثانى).

[۲] تقديم الاذان على الوقت فى غير الصبح لا يجوز اتفاقا وكذا فى الصبح عند ابى حنيفة ومحمد رحمهما الله تعالى وان قدم يعاد فى الوقت هكذا فى شرح مجمع البحرين لابن الملك وعليه الفتوى.هكذا فى التتار خانية ناقلا عن الحجة.(عالمگيرى ج:۱ ص:۵۳.كتاب الصلاة.الباب الثانى). ايضا: ولا يؤذ لشىء من الصلوات الا بعد دخول وقتها........عن ابن عمر ان بلالاً رضى الله عنه اذن قبل طلوع الفجر.فامره النبى صلى الله عليه وسلم ان يرجع فينادى:الا ان العبد نام.(شرح مختصر الطحاوى ج:۱ ص:۵۵۸.۵۵۹.طبع دار البشائر.بيروت)_

[۳] (وكره)تحريما.وكل مالا يجوز مكروه (صلاته)مطلقاً (ولو)قضاءا او واجبة او نفلاً او (على جنازة وسجدة تلاوة وسهو) لا شكر.قنية (مع شروق).......(وغروب ،الا عصر يومه)فلا يكره فصله لا دائه كما وجب.(درمختار مع الشامى ج:۱ ص:۳۷۰-۳۷۲.كتاب الصلاة)_

وخت نه مخکې کوم اذان کيږي دا څنګه دی؟ او ددې ځای په امام باندې څه ذمه داري راځي سره له دې چې موږ امام صاحب ته عرض هم وکړ. خو هغه ځان خلاص کړ

جواب: کوم اذان چې د وخت نه مخکې وشي. هغه معتبر نه دی په دويم ځل په خپل وخت کې اذان کول ضروري دي که نه لمونځ به له اذان نه پرته ګڼل کيږي [۱]

په رمضان المبارک کې د ماسخوتن اذان د وخت نه مخکې کول

سوال: د رمضان شريف په مياشت کې څه خلک وختي د تراويح کولو له پاره د ماښام په وخت کې د ماسخوتن اذان وکړي اوس لا د ماسخوتن وخت شروع شوی هم نه وي او هغوی د ماسخوتن اذان وکړي او له دې نه وروسته د ماسخوتن لمونځ کوي ايا د هغوی لمونځ پرته له اذان نه وشو اوکه اذان يې وشو؟ د هغوی کار څنګه دی او نورو خلکو ته څه کول پکار دي هغوی د نورو جوماتونو حواله ورکوي نور جوماتونه زموږ له پاره حجت دي اوکه نه؟

جواب: د کوم اذان چې يوه جمله هم دوخت نه مخکې وويل شوه هغه اذان نه دی شوی دوخت داخلېدو وروسته په دويم ځل اذان کول پکار دي ،که نه لمونځ به بغير د اذان نه وي او کوم لمونځ چې د اذان نه بغير وي هغه د سنت خلاف وشو. [۲]

په هېره باندې دويم ځل اذان کول

سوال: که اذان شوی وي او يو سړي په هېره کې بغير د پوښتنې کولو نه اذان وکړي او هغه نيم اذان ته ورسيږي اوهغه ته يادشي،نوهغه په دې صورت کې اذان مکمل کړي يا يې پريږدي؟

جواب: چې هر کله يو اذان شوی دی، نو بيا د اذان کولو ضرورت نشته هغه دې پريږدي. [۳]

په ريډيو او ټي وي باندې د اذان شرعي حکم

سوال: وايي چې د لمونځ له وخت نه پرته بې وخته اذان نه دي کول پکار يا يوازې هغه وخت اذان ول پکار دي چې کله يو ماشوم پيدا شي يا د څه لوی افت نه ځان خلاصول وي مثلا زيات باران وغيره،خودلته په ټي وي باندې کله چې په لاهور کې اذان کيږي، نو اذان په ټول پاکستان کې نشرکيږي حال داچې کله په لاهور کې د ماسخوتن وخت وي، نو په کراچۍ کې د ماسخوتن په لمانځه کې يوه ګنټه وي. هم دغه شان د پاکستان په يو ښار کې د اذان وخت وي، نو په نورو

۱] حتى لو اذن قبل دخول الوقت لا يجزئه ويعيده اذا دخل الوقت...الخ.(البدائع الصنائع ج:۱ ص:۱۵٤، ايضا: شرح مختصر الطحاوى ج:۱ ص:۵۵۸،طبع دار السراج،بيروت)_

۲] اوګورئ تيره شوی حاشيه (حتى لو اذن قبل دخول الوقت...الخ.(البدائع الصنائع ج:۱ ص:۱۵٤، ايضا: شرح مختصر الطحاوى ج:۱ ص:۵۵۸،طبع دار السراج،بيروت)

۳] ولو صلى فى مسجد باذان واقامة هل يكره ان يؤذن ويقام فيه ثانيا.......وان صلى فيه اهله باذان واقامة او بعض اهله يكره...الخ.(البدائع الصنائع ج:۱ ص:۱۵۳،كتاب الصلاة،فصل فى بيان محل وجوب الاذان)_

ښارونو کې نه وي خو اذان په ټولو سټیشنو باندې یو شان نشر کيږي. نو ایا دا ګناه نه ده؟

جواب: ستاسو خيال صحيح دی اذان د لمانځه له پاره وي په ريډيو او ټي وي باندې چې کوم اذان کيږي هغه د لمانځه له پاره نه. بلکې هسې د شوق له پاره وي هغه د شريعت د هيڅ قاعدې لاندې نه دی [۱]

د غلط اذان کفاره

سوال: د غلط اذان يا په دې کې غير ارادي طور سره الفاظ شاملولو باندې څه کول پکار دي؟ ١ د موذن ليرې کول صحيح دي؟

٢ موږ چې اوسه پورې (زما په نظر) غلط اذانونه اوريدلي دي د هغو څه کفاره يا ګناه شته؟

جواب: تاسو چې کوم صورت ليکلی دی په فقهي اصطلاح کې دي ته لحن وايي او دا ناجائز او مکروه تحريمي دی ،فقهاء کرامو ليکلي دي چې د داسې اذان اوريدل هم جائز نه دي [۲]، په دې وجه د جومات انتظاميه باندې لازمه ده چې داسې موذن بدل کړي.

او اوسه پورې چې کوم غلط اذانونه اوريدل شوي دي که د هغه د اصلاح په تاسو کې قدرت و. نو بيا خو ګناه ده چې د هغه مخ نيوی په ا ستغفار سره کېدلی شي او که ستاسو په اصلاح کولو باندې قدرت نه و. نو په تاسو هيڅ ګناه نشته.

که اذان صحيح په پوهه کې نه راځي نو جواب ورکړو که نه؟

سوال: که د اذان اواز د هوا په وجه صحيح نه راځي يو لفظ اورو او يو نه. نو څه کول پکار دي؟

جواب: که الفاظ په پوهه کې راتلل نو جواب ورکوئ. که نه جواب ورکول نه شته. [۳]

د ټي وي او ريډيو د اذان جواب ورکول

سوال: په ټي وي او ريډيو باندې چې کوم اذانونه کيږي. نو ايا د هغه په اوريدلو باندې جواب ورکول کيږي ؟

جواب: په ټي وي او ريډيو باندې کيدونکی اذان، اذان نه دی، بلکې د اذان اواز دی کوم چې ريکارډ کيږي او د اذان په وخت هم هغه وخت هغه ريکارډ ولګول شي له دې وجې د هغه حکم د اذان نه دی او د دې جواب ورکول هم مسنون نه دي. [۴]

١] (باب الاذان)هو لغة الاعلام......وشرعاً اعلام مخصوص فى وقت مخصوص...الخ.(البحر الرائق ج:١ ص:٢٦٧)،وايضا:قوله وشرعا اعلام مخصوص اى اعلام بالصلاة.(شامى ج:١ ص:٣٨٣،باب الاذان)_

٢]واشار الى انه لايحل سماع المؤذن اذا لحن كما صرحوابه،ودل كلامه انه لايحل فى القراءة ايضا بل اولى قراءة وسماعًا...الخ.(البحر الرائق ج:١ ص:٢٧٠،كتاب الصلاة،باب الاذان)_

٣] (قوله من سمع الاذان)يفهم منه انه لو يسمع لصمم او لبعد انه لا يجيب...الخ.(شامى ج:١ ص:٣٩٦)_

٤] واما اذان الصبى الذى لا يعقل فلا يجزئ ويعاد لان ما يصدر لا ..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

د اذان په دوران کې تلاوت کول یا لمونځ کول

سوال: د اذان دوران کې د قرآن کریم تلاوت یا لمونځ کول صحیح دي؟

جواب: قرآن کریم بندولو سره د اذان جواب ورکول پکار دي او که لمونځ یې له مخکې نه شروع کړی وي، نوپوره دې کړي که نه د اذان د ختمیدو نه وروسته دې ووکړي.[۱]

د اذان دوران کې په جومات کې سلام اچول

سوال: کله چې موذن اذان کوي، نو جومات ته د داخلېدو په وخت کې السلام علیکم ویل پکار دي یا په خاموشي سره کیناستل پکار دي یا که د اذان د اوریدو له پاره درېدل پکار دي؟

جواب: هغه وخت کې سلام نه دي کول پکار بلکې په خاموشي سره کیناستل پکار دي.[۲]

د خطبې د اذان جواب او دعا

سوال: د جمعې په ورځ د خطبې د اذان جواب په ژبې سره ورکول او له دې نه وروسته دعا کول صحیح دي ددې څه حکم دی؟

جواب: دخطبې د اذان جواب نه ورکول کیږي نه له دې نه وروسته دعا شته[۳]

ایا د اذان جواب ورکول ضروري دي؟

که ضروري وي نو څنګه به ورکول کیږي؟

سوال: کله چې موذن د لمانځه لپاره اذان کوي، نو موږ باندې د اذان جواب ورکول پکار دي او که نه؟

جواب: ژبې سره د اذان او د اقامت جواب ورکول مستحب دي، موذن چې کوم کلمات وایي، نو جواب ورکوونکی دې هم هغه کلمات لولي او د "**حی علی الصلوة**" او "**حی علی الفلاح**" په ځای

...بقیه د تیرمخ]..عن عقل لا یعتد به کصوت الطیور. (البدائع الصنائع ج:۱ ص:۱۵۰،کتاب الصلاة،فصل فی بیان سنن الاذان)۔

۱] ولو کان فی منزله یترک القراءة ویجیب...الخ.(البحر الرائق ج:۱ ص:۲۷۳). (قوله فیقطع قراءة القرآن) الظاهر ان المراد المسارعة للاجابة وعدم القعود لاجل القراءة لا خلال القعود بالسعی الواجب... الخ........(قوله ولو بمسجد لا)ای لایجب قطعها بالمعنی الذی ذکرناه آنفا.(شامی ج:۱ ص:۳۹۸،وایضا فی البحر الرائق ج:۱ ص:۲۷۳)

۲] ولا یسلم ولا یرد السلام...الخ.(البحر الرائق ج:۱ ص:۲۷۳،کتاب الصلاة،باب الاذان)۔

۳]وفی المجتبی فی ثمانیة مواضع اذا سمع الاذان لا یجیب:فی الصلاة،واستماع خطبة الجمعة...الخ.(البحر الرائق ج:۱ ص:۲۷٤،کتاب الصلاة،باب الاذان،طبع دار المعرفة،بیروت)۔

دي "لا حول ولا قوة الا بالله" لولي. د سهار په اذان کې دې د "الصلوة خير من النوم" په جواب کې "صدقت و بررت" لولي او په اقامت کې دې د "قد قامت الصلوة" په جواب کې "اقامها الله وادامها" لولي [۱]

ایا د اذان جواب ورکول په اوداسه ضروري دي؟

سوال: د اذان د جواب ورکول په اوداسه ضروري دي؟

جواب: اودس سره جواب ورکول غوره دي. بې اودسه جائز دي [۲]

د کوم اذان جواب ورکول پکار دي؟

سوال: په یو محله کې څو جوماتونه وي. هلته اکثر په یو وخت کې په لاؤډسپیکر باندې اذان کیږي چې د هغه اواز لیرې لیرې رسیږي. اوس سوال دادی چې په دې صورت کې د کوم جومات د اذان جواب ورکول پکار دي؟

جواب: د محلې د نژدې جومات د اذان جواب ورکول پکار دي په دې شرط چې دغه اذان د سنت مطابق لوستل کیږي [۳]

د اذان په وخت کې اوبه څښل

سوال: یو ورځ د ماښام د اذان په وخت کې ما اوبه څښل شروع کړل. زما یو دوست وریل چې د اذان په وخت اوبه څښل سخته ګناه ده ما وختي طوز د هغه خبره ومنله. خو په زړه کې مې دا لوظ وکړ چې دا مسئله به ستاسو په خدمت کې پیش کوم امید دی چې تاسو به ددې د حل کولو هم ضرور کوشش کوئ.

جواب: د ماښام د اذان یا د هر وخت د اذان په وخت کې اوبه څښل جائز دي ستاسو د دوست خیال غلط دی.

---

[۱] وفی فتاوی قاضیخان اجابة المؤذن فضیلة وان ترکها لایاثم.......وفی المحیط یجب علی السامع للاذان الاجابة ویقول مکان حی علی الصلاة:لا حول ولا قوة الا بالله،وکذا اذا قال الصلاة خیر من النوم فانه یقول:صدقت وبررت...وفی غیره انه یقول اذا سمع قد قامت الصلاة:اقامها الله وادامها.(البحر الرائق ج:۱ ص:۲۷۳،باب الاذان)

[۲] څکه چه بې اودسه اذان ورکول جائزدی نود اذان جواب ورکول به په درجه اولی جائزوی. (وینبغی ان یؤذن ویقیم علی الوضوء)فان ترک الوضوء فی الاذان جاز وهو الصحیح لانه ذکر ولیس بصلاة فلا یضره ترکه.(الجوهرة النیرة ج: ص٤٤،باب الاذان،طبع دهلی).

[۳] فان سمعهم معا اجاب معتبراً کون جوابه لمؤذن مسجده...الخ.(فتح القدیر ج:۱ ص:۱۷٤،طبع بیروت).

د اذان دوران کې د تلاوت بندولو حکم

سوال: اوریدلي مو دي چې د اذان د اوریدلو په وخت کې تلاوت بندول پکار دي. پوښتنه داده چې د مختلفو جوماتونو نه په وقفې وقفې سره د نیمې گنټې پورې د اذان اوازونه راځي. نو ایا تر کومې چې د اذان اواز راځي تر هغه پورې تلاوت بند کړي؟

جواب: غوره داده چې د اذان وخت کې تلاوت بند کړي[۱] د خپلې محلې د اذان جواب ورکول ضروري دي له هغه نه وروسته د مختلفو اذانونو جواب ورکول ضروري نه دي[۲] او ځینې حضرات فرمایي چې په دې کې کوم اذان د ټولو نه مخکې وي لومړي دې د هغه جواب ورکړي

د اذان په وخت د ریډیو نه تلاوت اوریدل

سوال: یو طرف ته جومات کې اذان یا تلاوت کیږي او بل طرف ته په ریډیو باندې اذان یا تلاوت کیږي، نو موږ ته پکار دي چې ریډیو بنده کړو او که نه؟

جواب: د ریډیو تلاوت کوم چې عموما په ریډیو باندې د نشر کېدو نه مخکې ریکارډ کیږي. د تلاوت حکم نه لري په له دې وجه د اذان له اوریدلو سره د ریډیو بندول پکار دي[۳] هسې هم د اذان اوریدلو په وجه د تلاوت د بندولو حکم دی.[۴]

اقامت کونکی سړی به کوم ځای کې دریږي؟

سوال: ددې مسئلې وضاحت وکړئ چې اقامت کونکی سړی به په امام پسې کوم ځای کې او په کوم صف کې دریږي؟

جواب: شریعت کې په دې هیڅ پابندي نشته چې کوم ځای غواړي دریدلی شي.[۵]

د جمعې په ورځ که مقتدي په لوړ اواز سره تکبیر وایي نو؟

سوال: د جمعې د لمونځ ورکولو په وخت د امام سره د موذن د الله اکبر ویلو څه وجه ده؟ او که څوک په هیره د موذن سره الله اکبر ووایي نو څه کفاره ده؟

۱]ولو كان فى القراءة ينبغى ان يقطع ويشتغل بالاستماع والاجابة...الخ.(عالمگیری ص:۵۷)،ایضا ولو كان السامع يقرا القراءة ويجيب...الخ.(البحر الرائق ج:۱ ص:۲۷۳،كتاب الصلاة،باب الاذان)_

۲]وسئل ظهير الدين عمن سمع فى وقت من جهات ماذا عليه؟ قال: اجابة اذان مسجده بالفعل......الخ (البحرالرائق ج::۱،ص:۲۷۳)ایضاً اذا كان فى المسجد اكثر من مؤذن واحد اذنوا واحدا تعد واحد فالحرمة للاول كذا فى الكفاية(عالمگیری ج::۱،ص:۵۷،كتاب الصلوة،الباب الثانى،الفصل الثانى)_

۳]واما اذان الصبى الذى لا يعقل فلا يجزى ويعاد لان ما يصدر لاعن عقل لايعتد به كصوت الطيور....الخ (البدائع الصنائع ج::۱،ص:۱۵۰،كتاب الصلوة،فصل فى بيان سنن الاذان)

٤] ولو كان السامع يقرا يقطع القراءة ويجيب....الخ (البحرالرائق ج::۱،ص:۲۷۳)_

۵]ويقيم على الارض هكذا فى القنية فى المسجد هكذا فى البحرالرائق(عالمگیری ج:۱ص:۵۶،كتاب الصلوة)

جواب: د امام تکبیرونه نورو خلکو ته د رسولو له پاره موذن په لوړ اواز سره تکبیر وایي که بل څوک یې هم وواېي. نو په دې باندې هیڅ کفاره نه لازمیږي نه په دې کې څه گناه شته. خو له ضرورت پرته مقتدیانو ته په لوړ اواز تکبیر ویل نه دي پکار چې بغیر د څه وجې نه شک پیدا نه شي، کوم حضرات چې د تکبیر د ویلو له پاره مقرر شوي دي هم هغوی ته تکبیر ویل پکار دي.

ایا موذن د خپل ځان لپاره ځای خاص کولی شي؟

سوال: امام صاحب له پاره خو په محراب کې جای نماز اچول ضروري دي.ایا اقامت کوونکي له پاره جای نماز اچول ضروري دي اوکه نه؟دا د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم ،تابعینو یا تبع تابعینو نه ثابت دي؟

جواب: جای نماز اچول ضروري نه دي،بلکې د مسئلې په رڼا کې که د اقامت کوونکي په جای نماز باندې څوک کیني .نو هغه ته د پورته کولو او د هغه ځای نه د لیرې کولو هیڅ حق نشته.[۱]

د اقامت ویلو حق دار څوک دی؟

سوال: د اقامت ویلو جائز حقدار څوک دی؟که موذن په خپله امام هم وي، نو تکبیر څوک ویلی شي؟جواب لږ وضاحت سره راکړئ.

جواب: اقامت خو د هغه چا حق دی چاچې اذان کړی وي که د هغه له طرفه اجازه وي، نو هر سړی اقامت کولی شي په دې شرط چې صحیح اقامت کوي او که موذن په خپله امام هم دی، نو په خپله اقامت هم کولی شي هیڅ حرج په کې نشته.[۲]

د اقامت په وخت کیناستل او"حي على الصلوة"سره پورته کېدل

سوال: کله چې اقامت کیږي، نو نیم تکبیر پورې ناست وي اوکله چې"حي على الصلوة" او"حي على الفلاح"ته ورسیږي، نو ټول پورته شي،ددې په باره کې زموږ رهنمایي وکړئ چې دا شرعاً جائز دي اوکه نه؟

جواب: اقامت شروع کیدو سره پورته کېدل او صفونه برابرول پکار دي .اقامت ختمېدو پورې ناست اوسیدل نامناسب دي.[۳]

---

[۱] يكره للانسان ان يخص لنفسه مكاناً فى المسجد يصلى فيه(عالمگيرى ج:۱،ص: ۱۰۸،كتاب الصلوة)

[۲] والافضل ان يكون المؤذن هو المقيم كذا فى الكافى (عالمگيرى ج:۱،ص: ۵۴)

[۳] عن عبدالرزاق عن ابن جريج عن ابن شهاب ان الناس كانوا ساعة يقول المؤذن الله اكبر يقومون الى الصلوة فلاياتى النبى صلى الله عليه وسلم مقامه حتى تعتدل الصفوف(فتح البارى ج:۲،ص:۱۲۰ طبع لاهور)

اقامت څومره لوړ اواز سره کول پکار دي؟

سوال: امام صاحب پسې یو سړی ولاړ وي او دومره ورو اواز سره اقامت کوي چې بس امام صاحب او نژدې یو دوه کسان یې اوري، نورو خلکو ته اواز نه رسیږي. نو دا څنګه دی؟ ایا د اقامت د تکبیر مقصد جومات کې ټولو خلکو ته اواز رسول نه دي؟

جواب: اقامت دومره لوړ اواز سره کیدل پکار دي چې لمونځ کونکي یې واوري که خوا کې یې یو یو سړی اوري، نو دا اقامت صحیح نه دی.[1]

له اذان نه وروسته د لمانځه له پاره اواز کول

سوال: زموږ په محله کې د سهار له اذانه وروسته څه حضرات د جمعې لس پنځلس منټه مخکې اوازونه کوي چې د جمعې وخت شوی دی جومات ته تشریف راوړئ لمونځ د ویده کېدلو نه غوره دی او داسې نور... پوښتنه داده چې دا الفاظ له اذان نه وروسته کول صحیح دي او که نه؟ ایا داسې الفاظ ویلو سره د اذان اهمیت کمیږي نه؟ او ایا د اذان اواز جومات ته د راغوښتلو له پاره کافي نه دی؟

جواب: له اذان نه وروسته خلک لمانځه ته راغوښتلو ته تثویب وایي د جمهور متقدمینو په نزد دا د سهار نه پرته په نور لمونځونو کې مکروه دی، خو متأخرینو په ټولو لمونځونو کې دا جائز کړی، بلکې مستحسن کړی دی، ځکه د خلکو په دین کې سستي او کمزوري پیدا شوې ده په دې وجه هغوی ته د لمانځه دعوت ورکول ښه خبره ده.[2]

د ځانته فرض لمانځه له پاره د اقامت لوستل مستحب دی

سوال: ایا د ځانته فرض لمونځ کولو له پاره هم اقامت ویل پکار دي؟

جواب: که په کور کې ځانته لمونځ کوي، نو د هغه له پاره اقامت مستحب دی.[3]

د نفل لمانځه له پاره اقامت

سوال: دا بیان کړئ چې که د سهار لمانځه نه وروسته هم په هغه جانماز باندې ناست وي او اشراق وکړي، نو د اشراق لمانځه له پاره اقامت کول پکار دي او که نه؟

---

[1] ومن السنة ان یاتی بالاذان والاقامة جهراً رافعاً بهما صوته الا ان الاقامة اخفض منه (عالمگیری ج: ۱، ص: ۵۵)

[2] وأفاد أنّهُ لا يَخُصُّ صلاةً بَلْ هُوَ في سائر الصّلوات وهُو اختيارُ الْمُتأخّرين لزيادة غفْلة النّاس وقلّما يقُومُون عنْد سماعِ الْأذانِ وعنْد الْمُتقدّمين هُو مكْرُوهٌ في غيْرِ الْفجْرِ وهُو قوْلُ الْجُمْهُور.....الخ (البحر الرائق ج: ۱، ص: ۲۷۵)

[3] (وندباً لهما) أيْ الْأذان والْإقامة للْمُسافرِ والْمُصلّي في بيْته في الْمصْرِ ليكُون الْأداءُ على هيْئة الْجماعة (البحر الرائق ج: ۱، ص: ۲۸۰، كتاب الصلوة، باب الاذان، طبع دار المعرفة، بيروت)۔

جواب: د نفل لمانځه له پاره اقامت نه وي اذان او اقامت يوازې د پنځه وخته لمونځ او د جمعې د لمانځه له پاره وي [۱]

دويمې جمعې لپاره اقامت

سوال: يو ځل جومات کې جمعه وشوه، بيا وروسته درې څلور کسان په دويم ځل جمعه کوي ايا اقامت ويل ضروري دي؟ يا په يو کور کې جمعه کوونکي به اقامت کوي او که نه؟

جواب: يوځل چې جومات کې لمونځ وشو، نو په دويم ځل جمعه کول په جوماتو کې پکار نه دي، که په يو بل جومات کې د جمعې دموندلو اميد وي، نو صحيح ده يا که کور کې بال بچ سره لمونځ کيږي، نو هم صحيح ده که نه د اقامت نه پرته دې په يو کونج کې جمعه وکړي او اقامت دې نه کوي[۲]، په کور کې د جمعې په صورت کې به اقامت کوي

په اقامت کې "حي على الصلوة" او "حي على الفلاح" بانديې ښي او ګس طرفته مخ ګرځول

سوال: د جمعې نه مخکې چې د اقامت لپاره کوم تکبير وويل شي، دا سنت دی که دا ادا نه کړل شي، نولمونځ کيږي؟ او د حي على الفلاح په وخت مخ ښي او ګس طرفته ګرځول پکار دي او که نه؟

جواب: جمعې له پاره اقامت ويل سنت مؤکد دي او ددې پريښودل بده خبره ده، حي على الصلوة او حي الفلاح ويلو دوران کې په اقامت کې هم ښي او ګس طرفته ته مخ ګرځول مستحب دي.[۳]

په ريل ګاډي کې د هر لمانځه لپاره اقامت ضروري دی

سوال: په ريل ګاډي کې د سفر دوران کې د لمانځه په وخت کې اذان کوي او پنځلس شل ملګري وي، درې يا څلور کسان په يوځای جمعه وکړي، دغه شان يو بل بسې څو جمعې

---

۱ [وسن للفرائض اى سنن الْأَذانُ للصَلَوات الْخمْس والْجمْعة سُنَّةٌ مُؤكَدَةٌ قويّةٌ قريبةٌ منْ الْواجب (البحرالرائق ج:۱،ص: ۲۶۹، كتاب الصلوة،باب الاذان،طبع دارالمعرفة،بيروت)_

۲ [اما لو كان له امام ومؤذن معلوم فيكره تكرار الجماعة فيه باذان واقامة عندنا......وعن ابى يوسف اذا لم تكن على الهيئة الاولى لايكره(حلبى كبير ص:۶۱۵) (وندباً لهما) أيْ الْأَذان والْإقامة للْمُسَافرِ وَالْمُصَلّي في بَيْته في الْمصْر لِيَكُونَ الْأَدَاءُ عَلَى هَيْئَة الْجَمَاعَة (البحرالرائق ج۱،ص۲۸۰ كتاب الصلوة،باب الاذان،طبع دارالمعرفة، بيروت)

۳ [والاقامة مثله اى مثل الاذان فى كونه سنة الفرائض فقط(البحرالرائق ج: ۱،ص:۲۷۰) عن الغنية انه يحول فى الاقامة ايضاً (البحرالرائق ج:۱،ص:۲۷۲،كتاب الصلوة،باب الاذان،طبع دارالمعرفة،بيروت)

کیږي، ایا هرځل اقامت کول ضروري دي؟

جواب: د هر یو جماعت لپاره اقامت سنت دی .[۱]

په کور کې د لمونځ کولو دوران کې اقامت څومره اواز سره لوستل پکار دي؟

سوال: له جمعې کیدو نه وروسته یو سړی په کور کې یا جومات کې څه وخت لمونځ کوي. نو ده ته اقامت کول پکار دي اوکه نه؟که ویل غواړي نو ایا جهري او سري دواړو لمونځونو کې زور سره ویل پکار دي؟

جواب: یواځې لمونځ کوونکي لپاره هم اقامت لوستل سنت دي.دومره اواز سره دې وایي چې په خپله یې اوري.[۲]

غلام احمد قادیاني ته د نیکاو د صالح منونکي سړي اذان او اقامت

سوال: که یو سړی دې لاندې خیالاتو او عقیدو باندې ایمان لري. نو د هغه اذان کولو یا اقامت کولو سره د امام یا د مقتدیانو په لمانځه کې څۀ خلل (نقصان) راځي اوکه نه ؟

الف: مرزا غلام احمد قادیاني ډیر نیك او صالح سړی و.هغه د نبی کریم ﷺ ډیر زیات تعریف کړی دی.

ب: په نبي کریم ﷺ باندې به یې درود لوست

ج: هغه د نبوت دعوه هیڅکله نه وه کړې.

د: د نبوت د دعوې کولو دروغ الزام خو قبرپرستو لګولی دی او د هغه خلاف یې د دروغو پروپېګنډه (تُهمت) کړی ده.

جواب: د مرزاغلام احمد قادیاني په باره کې چې څوك دا خیالات لري. نو دا غلط دي.ددې ثبوت او قطعي ثبوت موجود دی چې مرزاقادیاني کافر،مرتد،کذاب او دجال و.هغه د نبوت دعوه کړې وه[۳] او د قادیانانو یو لویه ډله هغه نبي مني.نه دا د دروغو الزام دی او نه پروپیګنډه ده،دا کس ماته راولیږئ، زه به ده ته د مرزا کتابونه وښایم.

---

[۱] والاقامة مثله ای مثل الاذان فی کونه سنة الفرائض فقط(البحرالرائق ج: ۱،ص:: ۲۷۰)

[۲] وندباً لهما ای الاذان والاقامة للمسافر والمصلی فی بیته فی المصر(البحرالرائق ج:۱،ص: ۲۸۰)

[۳] د نبي نوم موندلو لپاره زه خاص شوم او نور ټول خلک د دې لپاره مستحق نه دي (حقیقت الوحی ص:۳۹۱،خزائن ج:۲۲،ص:۴۰۶، ۴۰۷) دغه شان: الله تعالی زه د ټولو پیغمبرانو مظهر ګرځولی یم او د ټولو پیغمبرانو نومونه یې ماته منسوب کړي دي (حاشیه حقیقت الوحی ص:۷۳، خزائن ج:۲۲،ص:۷۶) دغه شان: مبشراً برسول یاتی من بعداسمه احمد د دې مصداق زه یم. (ازاله اوهام طبع اول ص:۶۷۳، ج:۳،ص:۴۶۳)

ترڅو چې دې سړي له دې خیالاتو نه توبه نه وي کړې، نو ده ته اقامت او اذان مه ورکوئ، که نه د ټولو خلکو لمونځ به د اذان او اقامت نه پرته ګڼل کیږي او امام او جومات والا ټول به ګناهګار وي. د مرزاغلام قادیاني د خدای دښمن کیدل او د رسول دښمن کیدل دومره واضح دي چې کوم سړی هغه مسلمان ګڼي، نو هغه هم قطعي کافر دی.[1]

د جوماتِ روپۍ غلا کونکي موذن اقامت او امامت

سوال: د دین علماء کرام په دې مسئله کې څه فرمایي چې زمونږ د جومات موذن چې نائب امام هم دی، د جومات د ګلې نه به یې پیسې غلا کولې. هغه د لس دولسو کسانو په موجودګۍ کې د دې خبرې اقرار هم کړی دی او په دې خط باندې د ټولو خلکو دستخط هم دی. د دې اقرار کولو نه وروسته دا سړی د امامت، اذان او د اقامت اهل دی؟

جواب: د دې سړي په ځای دې بل څوک د جومات د خادم او نائب امام په حیثیت سره وساتل شي. والله اعلم.[2]

د ښځې اذان

سوال: ایا ښځه اذان کولی شي؟

جواب: ښځې ته د اذان کولو اجازه نشته.[3]

یو جومات کې اذان کول او دویم جومات کې لمونځ کول

سوال: یو سړی په یو جومات کې موذن دی. خو د هر اذان کولو نه وروسته هغه دویم یا د محلې دریم جومات کې لمونځ کوي او د جومات امام سره یې څه اختلاف هم نشته او رهائش یې هم په دې جومات کې دی کوم جومات کې چې اذان کوي. د قرآن او حدیث په رڼا کې د دې مسئلې حل راکړئ.

جواب: که بل جومات کې د جمعې انتظام سره متعلق وي، نو بیا داسې کول جائز دي که نه مکروه دي.[4]

---

[1] وكل مسلم ارتد فتوبته مقبولة الا الكافر بسب نبي) من الانبياء.....ومن شك في عذابه وكفره كفر(الدرالمختار ج:٤،ص:٢٣١، ٢٣٢،باب المرتد)

[2] واما الفاسق فقد عللوا كراهة تقديمه بانه لا يهتم لامر دينه،وبان في تقديمه للامامة تعظيمه وقد وجب عليهم اهانته شرعا(شامي ج:١،ص:٥٦٠،كتاب الصلوة،باب الامامة،مطلب في تكرار الجماعة في المسجد)

[3] وليس على النساء اذان ولا اقامة،لان من سنة الاذان رفع الصوت وهي منهية عن ذلك (الجوهرة النيرة ص:٤٤،كتاب الصلوة،باب الاذان طبع دهلي)ويكره اذان المرأة لما امرهن النبي صلى الله عليه وسلم بالتصفيق وامر الرجال بالتسبيح فدل على انها منهية عن رفع الصوت (شرح مختصر الطحاوي ج:١،ص:٥٦٣)

[4] اذا كان ينتظم به امر جماعة اخرى،بان كان اماما اومؤذنا في مسجد آخر،فلا يكره له.(حلبي كبير ص:٦١٤)

ایا په منی کې په هره خیمه کې اذان وشي؟

سوال: د حج په دوران کې په منی کې په هره خیمه کې خانته خانته اذان او اقامت کیږي. یو ځل زه د خپل دوست خیمې ته لاړم د ماسخوتن وخت و هغه بغیر د اذان نه جمعه وکړه او امامت یې په ما وکړ ما د اذان نه کولو وجه وپوښتله. نو هغه دا تاویل وکړ چې د اذان کولو مقصد یوازې د وخت معلومول دي او موږ لونځ دخوا کې خیمې اذان اوریدلو سره کوو. تاسو بیان کړئ چې ایا داسې له اذان پرته د جمعې لمونځ ادا کیږي؟په یاد ستل پکاردي چې په منی کې درې ورځې تیرول او پنځه وخته لمونځونه د جمعې سره ادا کول وي او د یو بل ځای په اذان اوریدو باندې موږ جمعه کولی شو له اذان پرته او زما امامت کول څنګه دي؟

جواب: که دمحلې په جومات کې اذان شوی وي. نو له اذان نه پرته جمعه کیږي .یوازې اقامت کول کافي دي،همدا حکم په منی کې په خیمو کې د کیدونکو جماعتونو دی چې کله خوا کې خیمه کې اذان وشو. نو په بله خیمه کې اذان کول ضروري نه دي.یوازې اقامت کافي دی.[1]

ښځه د اذان جواب کله ورکړي؟

سوال: ایا ښځوته هم د اذان جواب ورکول پکار دي؟

جواب: هو! خو کله چې په حیض او نفاس کې وي. نو بیا دې جواب نه ورکوي.[2]

د ماشوم په غوږ کې د اذان کولو طریقه

سوال: د ماشوم په غوږ کې د اذان کولو څه طریقه ده؟ یعنې په ښي غوږ کې پوره اذان او په ګس(چپ) غوږ کې پوره اذان او اقامت دواړه ؟

جواب: لومړی دې په ښي غوږ کې اذان وکړل شي بیا دې په ګس کې اقامت په ښې او ګس غوږ کې اذان او اقامت یو ځل کیږي دوه ځله نه.[3]

....

۱] (قوله للفرائض الخمس).....لکن لا یکره ترکه لمصلی فی بیته فی المصر لان اذان الحی یکفیه...الخ.(شامی ج:۱ ص:۳۸٤)_

۲] ویجیب....من سمع الاذان.....لا حائضًا ونفساء(در)وفی الشامیة (قوله لا حائضًا ونفساء)لانهما لیسا من اهل الاجابة بالفعل فکذا بالقول...الخ.(شامی ج:۱ ص:۳۹٦.کتاب الصلاة،باب الامامة)_

۳] قال الملا علی القاری:وقال ابن حجر......الاذان الذی یسن لغیر الصلاة کالاذان فی اذن المولود الیمنی والاقامة فی الیسری...الخ.(مرقاة شرح المشکوة ج:۱ ص:٤١٤،باب الاذان، ایضا:الفقة الاسلامی وادلته ج:۳ ص:٦٤٠)_

❖ د لمانځه شرطونه ❖

....

د عام محفل د نه اغوستلو وړ جامو کې لمونځ کول

سوال: دلته په سعودی عرب کې ما عموما کتلي دي چې خلک سر تور سر لمونځ کوي او د هغوی په لېدو سره زموږ پاکستاني خلک هم سر تور لمونځ کوي تر دې چې په یو بنین (زیرپراني) پرتوګ او لنګ کې لمونځ کوي بنین هم بغیر لستونړو والا او خینې داسې کوي چې سحر غسل کولو سره لنګ ووهي او یو تولیه(څان پاک) چې په هغې سره هغوی خپل سر وچوي په خپل سره باندې اچولو سره لمونځ کوي،سره له دې چې د اغوستلو له پاره خولۍ او جامې هم موجودې وي، خو نه یې اغوندي،تاسو د قرآن کریم او سنتو په رڼا کې دا بیان کړئ چې ایا په دې طریقې سره لمونځ ادا کیږي او که نه؟

جواب: لمونځ د الله پاک په دربار کې حاضریدل دي په دې وجه د لمانځه په وخت کې ښې جامې اغوستل پکار دي، په داسې جامو کې لمونځ مکروه دس چې دهغو په اغوستلو سره انسان عام محفل ته نشي تلی، سرتورسرلمونځ کول هم دغه شان داوګو او لوخو ځنګلوسره لمونځ کول مکروه دي[1]

په خیرنو جامو کې لمونځ کول مکروه دي

سوال: کوم خلک چې په ګیراج کې کار کوي، هغوی چې کله جومات ته لمونځ کولو له پاره راځي ،نو هغوی هماغه خیرنو او د تیل والاجامو اغوستلو سره د لمانځه د ادا کولو له پاره راځي. تاسو بیان کړئ چې ایا په دې جامو کې د دې خلکو لمونځ کیږي؟

جواب: په داسې جامو کې لمونځ مکروه دی، د لمانځه له پاره بیلې جامې پکار دي په ګیراج کې کار کونکو ته د لمانځه له پاره بیلې جامې ساتل پکار دي.[2]

۱] ویکره ان یصلی حاسرا ای حال کونه کاشفًا راسه تکاسلاً ای لاجل الکسل.....وکذا یکره ان یصلی فی ثیاب البذلة......او فی ثیاب المهنة......وهی الخدمة والعمل تکمیلاً لرعایة الادب فی الوقوف بین یدیه تعالی بما امکن من تجمیل، الظاهر والباطن وفی قوله تعالی خذوا زینتکم عند کل مسجد اشارة الی ذلک...الخ. (ایضا ولو صلی رافعًا کمیه الی المرفقین کره کذافی فتاوی قاضی خان.(حلبی کبیرص:۳۴۹،طبع سهیل اکیدمی،عالمگیری ج:۱ ص:۱۰٦)

۲] وتکره الصلوة فی ثیاب البذلة کذا فی معراج الدرایة.(عالمگیری ج:۱ ص:۱۰٦)_

په کومو جامو چې مچان کيني هغو کې هم لمونځ کيږي

سوال: موږ لیتیرین ته ځو، هلته مچان ډیر زیات وي کوم چې زموږ په جامو او بدن باندې کيني هغه مچان ناپاک وي په دې سره زموږ جامې هم ناپاکه کيږي له دې جامو سره موږ لمونځ ادا کولی شو او که نه؟

جواب: له دې نه ځان ساتل ممکن نه دي په دې وجه شریعت په دې جامو کې د لمونځ کولو اجازه ورکړې ده، خو دا مستحب ده چې سړی بیت الخلاء ته لاړ شي، نو د لمانځه د جامو نه پرته په نورو جامو کې لاړ شي، که نورې جامې نه وي، نو د نجاست نه د بچ کیدو له پاره دې هر ممکن کوشش وشي[1]

له نوم(ناف) نه واخله تر ځنګنو پورې جامو کې لمونځ کول

سوال: زموږ یو تره دی هغه زه د نیمو لستونو والا قمیص کې په لمانځه باندې ولیدم، نو هغه وویل چې د لستونو والا قمیص کې لمونځ کول پکار دي په دې باندې لمونځ مکروه کيږي او ما په یو کتاب کې لوستلي دي چې سړی ته ځان د نوم نه لاندې تر ځنګنو پورې پټول پکار دي.

جواب: ستاسو تره چې کومه مسئله بیان کړې ده هغه صحیح ده. کومه مسئله چې تاسو په کتاب کې لوستلې ده هغه هم صحیح ده، خو د هغه مطلب باندې تاسو پوه شوی نه یئ د نوم نه ترځنګنو پورې پټول فرض دي له هغه نه بغیر لمونځ نه کيږي[2] او که څنګلې او سر لوڅ وي، نو لمونځ به مکروه وي[3]

د هغه چا لمونځ چې پنډۍ یې ښکاري

سوال: د سړي پښې کوم ځای پورې ښکاره کول جائز دي؟ که پنډۍ ښکاري، نو لمونځ جائز دی که ناجائز؟ په پنډۍ ښکاره کیدو باندې لمونځ خو نه ماتیږي؟

جواب: په پنډۍ ښکاره کیدو باندې نه اودس ماتیږي او نه لمونځ، بلکې دواړه صحیح دي ځکه چې د سړي له پاره له نوم نه واخله تر د دواړو څنګنو پورې پټول ضروري دي له دې نه پرته

۱] ذهاب المستراح اذا جلس على ثوب لا يفسده الا ان يغلب ويكثر...الخ.(عالمگیری ج:۱ ص:٤٧،کتاب الطهارة،الباب السابع،الفصل الثانى فى الاعيان النجبية،طبع رشيديه)۔

۲] والرابع ستر عورته ووجوبه عام ولو فى الخلوة على الصحيح.....وهى للرجل ما تحت سرته الى ما تحت ركبته...الخ.وفى وَأَمَّا لَوْ صَلَّى فِي الْخَلْوَةِ عُرْيَانًا وَلَوْ فِي بَيْتٍ مُظْلِمٍ وَلَهُ ثَوْبٌ طَاهِرٌ لَا يَجُوزُ إجْمَاعًا كَمَا فِي الْبَحْرِ .(رد المحتار على الدر المختار ج:۱ ص:٤٠٤،مطلب فى ستر العورة)۔

۳] ولو صلى رافعًا كميه الى المرفقين كره كذا فى فتاوى قاضى خان.(عالمگیری ج:۱ ص:۱۰٦،الفصل الثانى فيما يكره فى الصلاة).ويكره (ان يصلى حاسرًا)اى حال كونه كاشفًا(راسه تكاسلا). (حلبى كبير ص:٣٤٨)۔

د باقي برخې پټول فرض نه دي، خو مسنون دي او نيمه پنډۍ لوڅه ساتل سنت دي.[۱]

د نيم لستوني والا قميص يا بنين کې لمونځ کول

سوال: ځينې دوستان پرته له عذر نه د نيم لستوني والا قميص يا بنين کې لمونځ کوي په دې باره کې څه حکم دی؟

جواب: پرته له عذر نه داسې کول مکروه دي.[۲]

د جارجټ لوپټې(ټيکري) سره لمونځ کول

سوال: د جارجټ ټيکري په باره کې څه حکم دی، ايا دې سره لمونځ کيږي؟سره له دې چې په دې کې خو هرڅه ښکاري، يا د ململ ټيکرۍ استعمال پکار دی؟د ټيکري صحيح مقدار او دجامې قسم راته خامخا وښيئ.

جواب: که جامه دومره نرۍ(باريکه) وي چې دننه بدن، ويښته وغيره ترې ښکاري، نوله دې سره لمونځ نه کيږي، د لمانځه لپاره پريړه جامه اغوستل ضروري دي.[۳]

داسې جامه کې لمونځ کول چې بدن يا ويښته ترې ښکاري

سوال: ښځو ته په لمانځه کې څومره بدن پټول ضروري دي؟ ايا که څوك باريکې جامې سره لمونځ وکړي چې په هغه کې بدن يا ويښته په نظر راځي اګرچې يوازېتوب کې وي، نو ايا له دې سره لمونځ يا طواف کيږي اوکه نه؟ځکه چې ما اوريدلي دي چې په نرۍ(باريکه)جامه کې لمونځ نه کيږي؟

جواب: ښځې لپاره دمخ، لاس او پښو نه پرته نور ټول بدن پټول ضروري دي، که نه لمونځ يې نه کيږي[۴] نرۍ جامه چې په هغه کې بدن يا ويښته ښکاري، نو لمونځ په کې نه کيږي.[۵]

---

[۱] عن ابن عمر رضی الله عنهما قال:مررت برسول الله صلی الله علیه وسلم وفی ازاری استرخاء فقال:یا عبدالله! ارفع ازارک،فرفعته،ثم قال:زد! فزدت فما زلت اتحراها بعد،فقال بعض القوم:الی این؟قال:الی انصاف الساقین.رواه مسلم.(مشکوة ص:۳۷۶،کتاب اللباس الفصل الثانی،طبع قدیمی)۔

[۲] ولو صلی رافعًا کمیه الی المرفقین کره کذا فی فتاوی قاضی خان.(عالمگیری ج:۱ ص:۱۰۶،الفصل الثانی فیما یکره فی الصلاة).ویکره (ان یصلی حاسرًا)ای حال کونه کاشفًا(راسه تکاسلاً). (حلبی کبیر ص:۳۴۸)۔

[۳] وفی شرح شمس الائمة السرخسی اذا کان الثوب رقیقًا بحیث یصف ما تحته ای لون البشرة لا یحصل به سترة العورة اذلاسترمع رؤیة لون البشرة..الخ.(حلبی کبیرص:۲۱۴،شرائط الصلاة،الشرط الثالث،طبع سهیل اکیدمی لاهور)

[۴] وبدن المرأة الحرة کلها عورة.......الا وجهها وکفیها......وقدمیها.......(حلبی کبیر ص:۲۱۰).

[۵] اذا کان الثوب رقیقًا بحیث یصف ما تحته ای لون البشرة لا یحصل به سترة العورة.(حلبی کبیر ص:۲۱۴).

لمانځه لپاره د ښځې لاسونه تر څنګلو پورې پټول ضروري دي

سوال: ځینې ښځې وایي چې د لمونځ کولو له پاره د ښځې لاس څنګلو پورې پټیدل ضروري دي او مړوند پورې ضروري نه دي

جواب: د ښځې ټول بدن، لاسونه مړوندونو سره او پښې ګیټو سره پټول ضروري دي او دا عورت دی. د مړوندونو ښکاره کول جائز نه دي. [۱]

نیم لستوني والا قمیص کې د ښځې لمونځ

سوال: ایا نیم لستوني والا قمیص چې د څنګلو نه پورته وي. خوپرېږ او لوی څادر سره ټول بدن مړوندو پورې پټ شوی وي. ایا داسې صورت کې د ښځې لمونځ کیږي او که نه؟

جواب: که د بدن څه حصه لمانځه کې خلاصه نه شي. نو لمونځ کیږي.

که د ښځې څنګل ښکاره پاتې شي نو د لمانځه حکم

سوال: که لستوني د څنګل نه پورته وي او څنګل ښکاره وي. نو لمونځ کیږي؟

جواب: د ښځوکه د پښو. لاسونو او مخ نه پرته بل اندام ښکاره پاتې شي. نو لمونځ نه کیږي. [۲]

د ګرمي له وجې نه نریو جامو کې لمونځ کول

سوال: نرۍ جاموا غوستلو سره لمونځ کول جائز نه دي. خود ګرمي په شدت کې د (لیلون) جوړې شوې پوره جوړه اغوستل کیږي. چې په هغه کې معمولي پښې هم ښکاري. ایا دا جائز دي او که نه؟

جواب: جامه که رنګداره وي، نو بدن په کې نه ښکاري په هرحال چې دومره نرۍ وي چې بدن په کې ښکاري، نو هغې سره لمونځ نه کیږي [۳] او که د پاسه پرې غټ څادر واغوستل شي او په هغه کې لمونځ وکړل شي. نو صحیح ده.

ایا یوازې د لمانځه له پاره پرتوګ د ښنګرو نه پورته کړو؟

سوال: مسئله دا اورېدل کیږي چې د لمانځه دوران کې پرتوګ د ښنګرو نه پورته کول پکار دي او په عامه توګه سره کتل شوي دي چې د کومو خلکو پرتوګ زیات لاندې وي هغوی هغه پورته کړي او بیا لمونځ کوي، خو زموږ د جومات امام صاحب ددې نه منع کول کوي، هغه وایي که ستاسو پرتوګ لاندې وي، نو تاسو هغه پورته مه خیژوئ، په داسې کولو باندې لمونځ

---

[۱] وذراعها عورة كبطنها في ظاهر الرواية عن اصحابنا الثلاثة.(حلبي كبير ص: ۲۱۰، الشرط الثالث).

[۲] وبدن المرأة الحرة كلها عورة.....الا وجهها وكفيها.....وقدميها.......(حلبي كبير ص: ۲۱۰).

[۳] اذا كان الثوب رقيقًا بحيث يصف ما تحته اى لون البشرة لا يحصل به سترة العورة.(حلبي كبير ص: ۲۱۴).

کیږي او اوس موږ هم لمونځ د هغه له بیان کړې طریقې سره سم کوو. یعنې پرتوګ مو د ښنګرو د پاسه پروت وي او موږ لمونځ ادا کوو زموږ په داسې لمونځ کولو باندې ډیر خلک اعتراض کوي. تاسو د دې مسئلې په بیانولو سره زموږ رهنمایي وکړئ؟

جواب: پرتوګ د ښنګرو ګښتهو، نه لاندې ساتل حرام دي[۱] او د حرام کار کول په لمانځه کې نور هم منع دي په دې وجه د لمانځه نه مخکې پرتوګ پورته کول نور هم ضروري دي او مسلمانانو ته د رسول الله ﷺ د حکم تعمیل کولو سره پرتوګ همیشه د ښنګرو نه پورته ساتل پکار دي[۲]

له ښنګرو لاندې پرتوګ او لنګ وغیره ځوړندول ګناه ده

سوال: د ښنګرو ښکاره ساتل .بلکې د پرتوګ یا پاجامې د پنډۍ د نیمایي پورې ساتلو کې د کوم حدیث نه حکم شوی دی؟ بیا دا چې داسې یوازې د لمانځه دوران کې کول ضروري دي؟ په هندوستان او پاکستان کې چې څومره جامې رواج دي په ټولو کې ښنګرې پټ وي او د لمانځه د شروع کولو نه مخکې په دې باندې ډیر په سختۍ سره عمل کیږي، چې جامې په بلټ کې اینښتلو سره جامه پورته کیږي او دلته په خلیج، سعودي او نورو ملکونو کې ددې هیڅ لحاظ نه کیږي.

جواب: له ښنګرو نه لاندې لنګ.پرتوګ ځوړندول.کبیره ګناه ده.په احادیثو کې ددې ډیر سخت وعیدونه راغلي دي په یو حدیث کې دي چې د هغه لمونځ نه قبلیږي[۳] او فرمایي چې د مومن پایڅې دې د نیمایي پنډۍ پورې وي[۴] د ښنګرو پورې که وي، نو هیڅ باک نشته .خو کوم پرتوګ چې د ښنګرو نه لاندې وي هغه په دوزخ کې دی[۵] او د پرتوګ د ښنګرو نه د لاندې

۱]وعن ابی سعید الخدری قال:سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول:ازرة المؤمن الی انصاف ساقیه،لا جناح علیه فیما بینه وبین الکعبین،وما اسفل من ذلک ففی النار.قال ذلک ثلاث مرات:ولا ینظرالله یوم القیامة الی من جر ازارة بطراً.رواه ابو داؤد وابن ماجة.(مشکوة ص:۳۷۴،کتاب اللباس،الفصل الثانی)_

۲] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال:بینما رجل یصلی مسبل ازارة قال له رسول الله صلی الله علیه وسلم:اذهب فتوضا!فذهب وتوضا ثم جاء فقال رجل:یا رسول الله!مالک امرته ان یتوضا؟قال:انه کان یصلی وهو مسبل ازاره،وان الله لا یقبل صلوة رجل مسبل ازاره.رواه ابو داؤد.(مشکوة ج:۱ ص:۷۳،باب الستر،الفصل الاول)_

۳] اوګورئ تیره شوی حاشیه (عن ابی هریرة رضی الله عنه قال:بینما رجل یصلی مسبل ازارة قال له رسول الله صلی الله علیه وسلم...الخ)

٤]وعن ابی سعید الخدری قال:سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول:ازرة المؤمن الی انصاف ساقیه،لا جناح علیه فیما بینه وبین الکعبین،وما اسفل من ذلک ففی النار.قال ذلک ثلاث مرات:ولا ینظرالله یوم القیامة الی من جر ازاره بطراً.رواه ابو داؤد وابن ماجة.(مشکوة ص:۳۷۴،کتاب اللباس،الفصل الثانی)_

۵]عن ابی هریرة قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:ما اسفل من الکعبین من الازارفی النار.(مشکوة ص:۳۷۳)

ساتلو منع یوازې د لمانځه سره خاص نه ده. بلکې په هیڅ حال کې هم د پرتوګ له ښنګرو نه لاندې ساتل جائز نه دي او کوم شی چې د لمانځه نه بهر منع وي هغه به په لمانځه کې هم منع وي په دې وجه که د چا پایڅې د ښنګرو نه لاندې وي. نو هغه نه د لمانځه د شروع کولو نه مخکې پایڅې پورته کول ضروري دي. دخلیج والا یا د یوبل ملک والاعمل زموږ له پاره حجت نه دی، یو مسلمان ته خو دا کتل پکار دي چې د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ څه حکم دی؟

په لمانځه کې پرتوګ له ښنګرو پورته ساتل ولې ضروري دي؟

سوال: دلمانځه په دوران کې خلک خپلې جامې یا پاجامې وغیره له ښنګرو ولې پورته کوي؟

جواب: ددې وجه دا ده چې نیمایي پنډۍ (سپینې) پورې پایڅې پورته کول د نبي کریم ﷺ سنت دي او ښنګرو پورې ساتلو اجازه ده او دومره ښکته ساتل چې ښنګري پټ شي. نو دا حرام او لويه ګناه ده[1] په لمانځه کې خلک له دې وجې نه پایڅې پورته کوي چې کم نه کم په لمانځه کې په حرام کار کې مبتلا نه شي.

ښنګرو پټولو ته ولې حرام ویل کیږي؟

سوال: د یو سوال په جواب کې تاسو لیکلي دي چې په لمانځه کې د ښنګرو پټ ساتل حرام دي، موږ ته دا ویل شوي دي چې حرام یوازې هغه وي کوم چې په قرآن کې واضح الفاظو کې منع شوي وي، لکه سود، مردراه خوړل او هغه غوښه په کومه باندې چې د الله پاك د نوم مبارك نه پرته د بل چا نوم اخستل شوی وي، دا هم ویل شوي دي چې داسې هرشي مه حرام کوئ. قرآن کې فکر کوئ، غور کوئ

جواب: ستاسو دا جذبه خو ماشاء الله ډیره د قدر وړ ده چې هر سړي ته په قرآن پاك باندې په خپله پوهیدل پکار دي، خو په دې کې دومره د زیاتوالي کولو اجازه غواړم چې د قرآن کریم کوم مطلب او مفهوم باندې چې صاحب قرآن (رسول الله) ﷺ پوه شوی و او خپل امت ته یې ښوده، هغه بایدله ټولو نه اول نمبر باندې وساتل شي، بیا صحابه کرام رضي الله عنهم څوك چې د قرآن پاك د ټولو نه اولني حافظان او اولني مخاطب خلک وو، د هغوی بیان کرده معنی او مفهوم د نظر لاندې وساتل شي، که تاسو اضافه قبول کړئ. نو دا ګزارش به وکړم چې ډیر شیان داسې دي کوم چې قرآن کریم وضاحت سره حرام کړي نه دي، خو صاحب قرآن (رسول الله) ﷺ د قرآن کریم نه اخذ کړي دي او د هغو د حرام کېدو اعلان یې کړی دی مثلاً په قرآن کریم کې چېرته نه دي لیکل شوي چې سپی حرام دی، خو د نبي کریم ﷺ د ارشاد مبارك له وجې نه موږ سپی

---

[1]]عن ابي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله: ما اسفل من الكعبين من الازار ف النار. رواه البخارى. (مشكوة ص: ٣٧٤، كتاب اللباس، الفصل الثانى).

حرام ګڼوا[1] بالکل هم دا صورت حال ددې هم دی چې پایڅې دښنګرو نه لاندې ساتل څنګه دي په مبارکو حدیثونو کې دې ته حرام ویل شوي دي او په دې باندې د دوزخ وعید اوړول شوی دی.دلته د نمونې په طور دوه حدیثونه ذکر کوم

۱ د حضرت ابوهریره رضی اللہ عنہ نه روایت دی چې یو سړي څادر د ښنګرو نه ښکته کړی و او لمونځ يې کاو.نبي کریم صلی اللہ علیہ وسلم وفرمایل چې الله تعالی ددا سې سړي لمونځ نه قبلوي چې د هغه څادر دښنګرو نه لاندې وي (ابوداؤد:ج،۱:۹۳)[2]

۲ حضرت ابوسعید خدري رضی اللہ عنہ فرمايي چې نبي کریم صلی اللہ علیہ وسلم وفرمایل چې د مؤمن اغوستل شوې جامه نیمایي پنډۍ پورې کیدل پکار دي او د نیمایي پنډۍ نه ښنګرو پورې ساتلو کې څهٔ ګناه نشته او کومه چې د ښنګرو نه لاندې او ښکته وي. نو هغه به په جهنم کې وي او کوم سړی چې دتکبر او غرور له وجې نه خپل څادر راکشولو سره ګرځي. نو د قیامت په ورځ به الله تعالی دې سړي طرفته درحمت په نظر نه ګوري

(مؤطا امام مالك،مسنداحمد،ابوداؤد،ابن ماجه،جامع الاصول،مشکوة،ص:۳۷۴)[3]

او ستاسو دا نظریه چې حرام یوازې هغه دي کوم چې قرآن پاك واضحو الفاظو سره منع کړې وي. نو دا نظریه صحیح نه ده.ډیر شیان حرام دي.خو په قرآن کریم کې د هغه د حرام کیدو ذکر نشته.مثلاً سپی.پیشو.مار.لړم.خر.خچرا[4]اوداسې نور.....ددې شیانو د حرام کېدو ذکر په قرآن پاك کې وضاحت سره نشته.خو نبي کریم صلی اللہ علیہ وسلم ددې د حرام کېدو اعلان کړی دی.

لمانځه باندې د پرتوګ دښنګرو نه د ښکته ساتلو اثر

سوال: لمانځه کې پرتوګ یا پاجامه د ښنګرو نه ښکته ساتلو سره ایا په لمانځه کې څه نقصان پیدا کیږي یا لمونځ فاسد یږي؟ځکه چې د ځینې خلکو وینا ده چې له دې سره لمونځ

---

[1]]عن ابی هریرة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:کل ذی ناب من السباع فاکله حرام.(مشکوة ص:۳۵۹،باب ما یحل اکله وما یحرم،طبع قدیمی).

[2]]عن ابی هریرة رضی الله عنه قال:بینما رجل یصلی مسبلاً ازاره اذ قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:اذهب فتوضأ، انه کان فتوضأ ثم جاء،ثم قال:اذهب فتوضا.فذهب فتوضا ثم جاء.فقال له رجل:یا رسول الله!مالک امرته ان یتوضا؟ قال:انه کان یصلی وهو مسبل ازاره وان الله جل ذکره لا یقبل صلوة رجل مسبل ازاره.(ابو داؤد ج:۱ ص:۹۳).

[3]]عن ابی سعید الخدری رضی الله عنه قال:سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول:ازرة المؤمن الی انتصاف ساقیه، لا جناح علیه فیما بینه وبین الکعبین، وما اسفل من ذالک ففی النار. قال ذالک ثلاث مرات. ولا ینظرالله یوم القیامة الی من جر ازاره بطرا.(مشکوة ص:۳۷۴،کتاب اللباس.الفصل الثانی).

[4]]عن جابر قال:حرم رسول الله صلی الله علیه وسلم یعنی یوم الخیبر الحمر الانسیة ولحوم البغال وکل ذی ناب من السباع وکل ذی مخلب من الطیر.رواه الترمذی.(مشکوة ص:۳۶۱).وعن جابر ان النبی صلی الله علیه وسلم نهی عن اکل الهرة واکل ثمنها.رواه ابو داؤد والترمذی.(مشکوة ص:۳۶۱،باب ما یحل اکله وما یحرم).

نه کیږي او داسې کول حرام دي؟

جواب: ښنګري پټ ساتل حرام دي او په لمانځه کې د حرامو کول زيات سخت دي.اوس دا په خپله ځګوری چې په کوم لمانځه کې حرام کار کيږي. نو هغه د قبليدو وړ دی او که نه؟[۱]

ایا د لمانځه دوران کې پرتوګ د ښنګرو نه پورته ساتل ضروري دي؟

سوال: ایا د لمانځه کولو په وخت کې د پرتوګ پایڅې د ښنګرونه پورته ساتل ضروري دي؟

جواب: د لمانځه نه پرته هم پرتوګ دښنګرو نه پورته ساتل پکار دي.دښنګرو نه ښکته ساتونکو لپاره په حديث شريف کې وعيد او عذاب ذکر شوی دی[۲]

پینټ (پتلون) اغوستلو سره لمونځ کول مکروه دي

سوال: پینټ (پتلون) اغوستلو سره لمونځ نه کیږي.که شرټ د پینټ (پتلون) نه را وویستل شي او لمونځ وکړل شي. نو ایا لمونځ کیږي او که نه؟حالانکې هر سړی داسې کوي؟

جواب: شرټ ویستلو سره پرې څه فرق پریوځي؟وضع قطع(چال چلن،رنګ ډهنګ)کې خو مشابهت اغیارو سره دی،له دې وجې نه په هرحال کې به لمونځ مکروه وي.[۳]

د کجورې ټوپی (خولۍ) په سرولو سره لمونځ کول

سوال: اکثر خلک د کجورې ټوپی په سرکړي اوله دې سره لمونځ کوي.ایا دا جائز دي؟دغه شان د کجورې ټوپی حاصلولو لپاره خلک د لمونځ کونکو مخې ته تیریږي،په دې صورت کې یوازې دلمونځ کونکي مخې ته تیریدونکی سړی ګناهګاردی یا ټوپی(خولۍ) کیښودونکی هم؟

جواب: په جوماتونو کې چې کومې خولۍ کیښودل کیږي،هغه اکثر بیکاره او زړې وي او د هغه په سرکولو سره انسان هیڅکله یو شريف مجلس ته نه ځي،له دې وجې نه په دې کې لمونځ کول مکروه دي[۴]او د خولۍ راخستلو لپاره د لمونځ ګزار مخې ته تیریدل هم ګناه ده.[۵]

---

[۱]]عن ابي هريرة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:ما اسفل من الکعبین من الازار فی النار.رواه البخاری.(مشکوة ص:۳۷۳،کتاب اللباس،الفصل الثانی،طبع قدیمی).

[۲]]ایضا.

[۳]]عن ابن عمر رضی الله عنهما قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:من تشبه بقوم فهو منهم.رواه احمد وابو داؤد.(مشکوة ص:۳۷۵،کتاب اللباس،الفصل الثانی).

[۴]]وکذا یکره ان یصلی فی ثیاب البذلة...او فی ثیاب المهنة...الخ.(حلبی کبیر ص:۳۴۹،طبع سهیل اکیدمی).

[۵]]ان زید بن خالد الجهنی ارسله الی ابی جهیم یساله ماذا سمع من رسول الله صلی الله علیه وسلم فی المار بین یدی المصلی فقال ابو جهیم:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:لو یعلم المار بین یدی المصلی ما ذا علیه لکان ان یقف اربعین خیرله من ان یمر بین یدیه.(ابو داؤد ج:۱ ص:۱۰۲،باب ما ینهی عنه المرور بین یدی المصلی، طبع ایچ ایم سعید).ایضا:ان المار آثم لقوله علیه السلام:لو علم المار بین ..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

جرابو سره لمونځ کول

سوال: هر کله چې پرتوګ له ښنګرو پورته کول پکار دي. نو کوم خلک چې په جرابو کې لمونځ کوي. د دې څه حکم دی؟

جواب: جرابې اغوستل صحیح دي. پورتنی جامه لاندې راټيل صحیح نه دي [۱]

د پینڅې پایڅې راماتولو سره لمونځ کول

سوال: د لمانځه دوران کې د پرتوګ یا د پینټ له ښنګرونه لاندې ساتل مکروه تحریمي دي او دا مو اوریدلي دي چې پرتوګ قولبه کول. یعنې راماتول هم مکروه تحریمي دي او که چا په مکروه تحریمي باندې راتګ وکړ. نو هغه ته لمونځ په دویم ځل کول پکار دي او نن سبا خو دا خبره عامه ده چې تقریبا هر سړي د پرتوګ یا پینټ پایڅې ماتوي او ما به هم داسې کول. نو ایا کوم لمونځونه چې ما د پرتوګ په ماتولو سره کړي دي هغه به دویم ځل ادا کول پکار وي؟

جواب: پرتوګ له ښنګرونه ښکته کول د تکبر علامه ده رسول اللهﷺ دیر په سختئي سره له دې نه منع کړې ده[۲] په دې وجه که پاجامه. پرتوګ له ښنګرو نه لاندې وي. نو د لمانځه نه مخکې دهغه پورته کول پکار دي او د پینټ د پاسه که څه نه وي. نو په دې کې لمونځ مکروه دی[۳] او که دهغه پایڅې د ښنګرو نه لاندې وي. نو نور هم مکروه دی اود (**ظلمات بعضها فوق بعض**) مصداق دی.

د ګیا خولۍ او لنګکې لمونځ کول

سوال: زموږ امام صاحب په جومات کې د ګیا خولۍ کومې چې عموما په جوماتونو کې وي په هغه کې لمونځ کولو ته مکروه ویلي دي ددې دلیل دا دی چې دا موږ په یو عام ځای کې نه استعمالوو، نو په جومات کې یې ولې استعمال کړو؟ او کله چې موږ هغه ته وویل چې بیا خو موږ د لنګ په اغوستلو سره هم چېرته نه شو تللی بیا د لنګ سره جمع ولې کیږي؟ ددې هغه څه صحیح جواب رانکړ، تاسو په دې سلسله کې صحیح خبره وکړئ چې ایا دګیا والا ټوپۍ په سرکولو سره لمونځ کول مکروه دي؟

...بقیه د تیرمخ]..یدی المصلی ماذا علیه وزرا لو قف اربعین.(هدایة ج:۱ ص:۱۳۸).

[۱] عن المغیرة بن شعبة قال:رایت النبی صلی الله علیه وسلم یمسح علی الخفین علی ظاهرهما.(مشکوة ص:۵٤)

[۲] وعن ابن عمر ان النبی صلی الله علیه وسلم قال:من جر ثوبه خیلاء لم ینظر الله الیه یوم القیامة.فقال ابوبکر:یا رسول الله!ازاری یسترخی الا ان اتعاهده؟فقال له رسول الله صلی الله علیه وسلم:انک لست ممن یفعله خیلاء.رواه البخاری.(مشکوة ص:۳۷٦،کتاب اللباس،الفصل الثالث)_

[۳] ویکره ان یصلی فی ازار واحد او فی سراویل فقط...الخ.(حلبی کبیر ص:۳٤۸)،ایضا وان صلی فی ازار واحد یجوز ویکره.(عالمگیریة ج:۱ ص:۵۹،کتاب الصلاة،الباب الثالث فی شروط الصلاة)_

جواب: په يو لحاظ سره امام صاحب صحيح هم فرمايي په لمونځ کې لباس داسې پکار دی چې هغه کې د شريفانو مجلس ته تک کېدای شي. خو زمونږ رواج د لوڅ سر د ګرځېدو او په محفلونو کې د تللو دی، دا رواج د مغرب د معاشرې دی کوم چې شرعا غلط دی په دې وجه په لوڅ سر د لمونځ کولو په ځای د جومات ټوپۍ غنيمت ده[1]. په لنګ کې لمونځ مکروه .خو نه دي. بلکې د سنت نه ثابت دي رسول الله ﷺ به هيمشه لنګ استعمالاو او د لنګ اغوستلو سره انسان د شريفانو مجلس ته تللی شي[2]

سرتور سر لمونځ کول مکروه دي

سوال: اکثر ليدل کيږي چې بغير د ټوپۍ يا رومال نه خلک لمونځ کوي. ايا سر تور سر لمونځ کول صحيح دي؟

جواب: سر تور سر لمونځ کول مکروه دي. حضوراکرم ﷺ به هميشه لپاره ټوپۍ يا پټکي سره لمونځ کاو.[3]

لمونځ کولو لپاره خولۍ په سر کول يا د پټکي تړل

سوال: د لمانځه لپاره په سر باندې خولۍ کېښودل پکار دي او که پټکی وهل؟ کوم عمل غوره دی؟

جواب: خولۍ جائز ده او دستار (پګړۍ) غوره ده.[4]

سرتور سر لمونځ کوونکي ته په سر باندې خولۍ کيښودل

سوال: که له يو کس نه هير شي او خولۍ په سر نه کړي .يا له سر نه ترې خولۍ ولوېږي. نو ايا يو بل سړی د لمانځه دوران کې ده ته خولۍ په سرولی شي؟

جواب: هيڅ ګناه په کې نشته.

له خولۍ پرته لمونځ کول

سوال: د لمونځ کولو دوران کې خولۍ په سر کول ضروري دي اوکه نه؟ کله چې سړی په سفر کې وي، نو په دې صورت کې څه کول پکار دي؟

۱]ويکره(ان يصلى حاسرًا)اى حال کونه کاشفًا (راسه تکاسلاً)...الخ.(حلبى کبير ص:۳۴۸)۔

۲] عن ابى بردة قال:اخرجت الينا عائشة کساء ملبدًا وازارًا غليظًا فقالت:قبض رسول الله صلى الله عليه وسلم فى هذين.متفق عليه.(مشکوة ص:۳۷۳.کتاب اللباس.الفصل الاول)۔

۳]ويکره ان يصلى حاسرًا اى حال کونه کاشفا رأسه تکاسلاً.(حلبى کبير ص:۳۴۸).

۴]تفصيل لپاره وګورئ:مرقاة المفاتيح ج:۸ ص:۲۵۰،کتاب اللباس،او حلبى کبير ص:۳۰۳کراهية الصلاة.

جواب: خولۍ سره لمونځ کول سنت دي که په سفر وغیره کې خولۍ وغیره نه وي. نو له خولۍ پرته لمونځ ادا کیږي

له خولۍ یا رومال نه پرته لمونځ ادا کول

سوال: ایا د مجبوري په حالت کې د خولۍ یا رومال نه موجود کیدو له وجې نه لمونځ کیږي؟ اوکه وروسته له جمعې نه بیالمونځ کول غوره دي؟او که جمعة المبارك وي چې د هغې نه جمعه بغیر نه کیږي؟

جواب: دا مجبوري زما پوه کې نه راځي.مسلمان له پاره خو سرتورسر په بازار کې ګرځیدل هم صحیح نه دي سرتور سر په بازارونو کې ګرځیدل.دا د انګریز ملعون سنت دی

عینکو(چشمو) لګولو سره لمونځ کول څنګه دي؟

سوال: عینکو (چشمو) لګولو سره لمونځ کول یا لمونځ ورکول شرعي طورسره صحیح دي؟ ځینې وخت دې سره دا ویره وي چې معلومه نه ده چې تندې او پوزه صحیح طور سره ځمکه باندې لګیږي اوکه نه؟ایا په داسې صورت کې عینکې (چشمې) لیرې کول ضروري دي اوکه نه؟

جواب: که د نظر عینکې (چشمې) وي او ددې نه پرته ځمکه وغیره په نظر نه راځي.نو عینکو (چشمو) سره لمونځ کول هم صحیح دي او که د عینکو (چشمو) نه پرته د سجدې وغیره ځای لیدلو کې څه مشکل نه وي یا د نظر عینکې (چشمې) نه وي. نو لیرې کول یې غوره دي. عینکو (چشمو) لګولو سره هم لمونځ ادا کیږي.په دې سره لمانځه کې څه خلل نه راځي.خو د عینکو (چشمو) لګولو په صورت کې که سجده صحیح طور سره نه ادا کیږي.پوزه او تندی په ځمکې باندې نه لګیږي. نو عینك (چشمې) لیرې کول ضروري دي.په هرحال عینکو (چشمې لګولو سره لمونځ کولو کې که چېرته په سجده وغیره کې خلل نه واقع کیږي. نو لمونځ صحیح دی .خوکه د عینکو (چشمو) نه پرته د سجدې وغیره ځای په نظر راځي. نو په دې صورت کې عینکې (چشمې) لیرې کول غوره او افضل دي.[1]

عینکو(چشمو) لګولو سره لمونځ کول

سوال: ایا عینکو (چشمو) لګولو سره لمونځ کول صحیح دي؟اګر که د لمر وي؟

جواب: په لمانځه کې عینکې (چشمې) لیرې کول پکار دي.خو که سجده صحیح طور سره ادا کیږي. نو لمونځ کیږي.

---

[1] وكمال السنة في السجود وضع الجبهة والانف جميعا ولو وضع احدهما فقط ان كان من عذر لا يكره.(عالمگيرى ج:۱ ص:۷۰،الباب الرابع في صفة الصلاة).

په لمانځه کې له پوزې دجوړې شوې خولۍ استعمال

سوال: په عامه توګه په جوماتونو کې چې کومې د پوزې خولۍ وي چې خلک يې يوازې د لمانځه له پاره استعمالوي چې په هغه کې خينې ډيرې شليدلې هم وي او اکثر خيرنې هم وي او د چا په سر وړې او د چا په سر غټې وي چې د هغه په استعمال سره انسان ګوډاګی ښکارې او د کومو په استعمال سره چې د ښکلا هيڅ اړخ په نظر نه راځي او د لمانځه نه وروسته يې خلک يو منټ هم په خپل سر باندې نه برداشت کوي او څوک هم ددې استعمال سره بازار وغيره يا د يو لوی سړي ځای ته تلو سره شرم محسوسوي په داسې سپکه خولۍ کې لمونځ کول جائز دي اوکه نه؟

جواب: په داسې لباس کې لمونځ کول مکروه دي چې سړی په عامه مجمع کې نه اغوستل کيږي[۱] او د پوزې خولۍ خو واقعي خينې وخت د انسان حليه ورانه کړي.په اصل کې زموږ په معاشره کې سرتور سر ګرځيدل د تولو خرابيو جرړه ده.مسلمان له پاره په هيڅ حالت کې هم سرتور سر ګرځيدل نه دي پکار.خو د انګريز لعنتي تهذيب د سړو سرونه خو لوڅ کړي و. ښځې يې هم سرتورې کړې او دا عمل په اصل کې دانساني غيرت خلاف دی الله پاک دې زموږ ورونو ته عقل او ايمان ورنصيب کړي

د ځناورو د تصوير والا جامه کې لمونځ کول

سوال: ايا په داسې جامه کې لمونځ جائز دی چې په هغه باندې د يوې مرغۍ يا ځناور تصوير وي؟

جواب: لمونځ مکروه دی. د تصوير والاجامو کې بالکل لمونځ نه دي کول پکار.[۲]

د ځناور څرمن اغوستلو سره لمونځ کول

سوال: زموږ په علاقه کې د ګډو بيزو(وزو) څرمنې ته د ډيرو ناروغيو نه د شفاء ذريعه ويل کيږي. يعنې کوم وخت کې چې د ځناور نه څرمن وويستل شي او هغه وخت هغه څرمن واغوستل شي،ايا په دې څرمن کې يو سړی لمونځ کولی شي؟ ايا په دې څرمن کې هغه سړی امامت کولی شي؟

۱]وكذايكره ان يصلى فى ثياب البذلة.....او فى ثياب المهنة.....وهى الخدمة والعمل تكميلاً لرعاية الادب فى الوقوف بين يديه تعالى بما امكن من تجميل الظاهر والباطن وفى قوله تعالى:خذوا زينتكم عند كل مسجد اشارة الى ذلك.(حلبى كبير ص:۳۴۹،كراهية الصلاة،سهيل اكيدمى لاهور،عالمگيرى ج:۱ ص:۱۰۶)_

۲] (ولو لبس ثوبًا فيه تصاوير يكره)لانه يشبه حامل الصنم والصلاة جائزة فى جميع ذلك لاستجماع شرائطها وتعاد على وجه غير مكروه وهو الحكم فى كل صلوة اديت مع الكراهة.(هداية ج:۱ ص:۱۲۲)_

جواب: څرمن که د ذبحه شوي څناوروي یا هغه رنګ کړل شي بیا په هغه کې لمونځ جائز دی[۱]

دا نډو یېر (جانګي) سره لمونځ کول

سوال: د پرتوګ یا پاجامي لاندي انډویېر یا جانګي اغوستلو سره لمونځ جائز دی او که نه؟

جواب: چې پاک وي، نو جائز دی[۲]

په څپلیو کې لمونځ کول

سوال: سعید بن یزید ازدي خبر ورکړی دی چې ما د انس بن مالک رضي الله عنه نه پوښتنه وکړه ایا رسول الله صلی الله علیه وسلم به په پڼو کې لمونځ کاو؟ هغه وفرمایل هو! ابن بطال ویلي دي چې څپلی که پاکې وي، نو لمونځ په کې کیږي،زه وایم مستحب دی ،ځکه د ابوداؤد او حاکم په روایت کې دي چې د یهودیانو خلاف کوئ هغوی په څپلیو کې لمونځ نه کوي او عمر رضي الله عنه به په لمانځه کې څپلی ویستل مکروه ګڼل ددې متعلق وضاحت وکړئ.
شوکاني ویلي دي:صحیح او قوي مذهب هم دادی چې د پیزار اغوستلو سره لمونځ کول مستحب دي او په پیزار کې که نجاست وي، نو په ځمکه باندې مږلو سره هغه پاکیږي که هغه هر قسمه نجاست وي که جوسې والاوي او که بې جوسې وي په دې کې د جوسې والا نه څه مراد دي؟

جواب: په پیزار کې لمونځ کول صحیح دي په دې شرط چې هغه پاکې وي[۳] خو په دې کې دا کارونه د لحاظ قابل دي:

اول.....په سجده کې د ګوتو په ځمکه لګیدل ضروري دي[۴] د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې چې کوم قسم پیزار استعمالیده نعال او چپل وغیره هغه په ځمکه باندې د ګوتو د لګیدلو نه مانع نه و ،که چا دا قسمه څپلی پښو کړې وي، نو هغه له پاره په هغه کې په لمانځه کولو کې هیڅ باک نشته.خو که پیزار سخت او بند وي کوم چې د ګوتو په ځمکه د لګیدلو نه مانع وي، نو په هغه کې لمونځ کول د اشکال ځای دی.

۱] وکل اهاب دبغ فقط طهر وجازت الصلوة فيه...الخ.(هداية ج:۱ ص:۲٤)_

۲] تطهير النجاسة من بدن المصلي وثوبه والمكان الذى يصلى فيه واجب...الخ.(عالمگيرى ج:۱ ص:۵۸)_

۳] عن ابى سعيد الخدرى رضى الله عنه قال:بينما رسول الله صلى الله عليه وسلم يصلى باصحابه اذخلع نعليه فوضعهما عن يساره فلما راى ذلك القوم،القوا نعالهم،فلما قضى رسول الله صلى الله عليه وسلم صلاته قال:ما حملكم على القائكم نعالكم؟قالوا:رايناك .....اذا جاء احدكم المسجد فلينظر فان راى فى نعليه قذرا فليمسحه وليصل لها.(مشكوة ج:۱ ص:۷۳،باب الستر،كتاب الصلاة)_

٤]ومنها السجود بجبهته وقدميه ووضع اصابع واحدة منهما شرط.(قوله وقدميه)يجب اسقاطه،لان وضع اصبع واحدةمنهما يكفى كما ذكره بعده.وافاد انه لولم يضع شيئًا من القدمين لم يصح السجود.(شامى ج:۱ ص:٤٤۷)_

دويم......د رسول الله ﷺ په زمانه کې د جومات فرش پوخ نه و. بلکې په فرش باندې واړه واړه کانړي و په دې وجه به هغه حضرات د پيزار سره په هغه کانو ګرځيدل او دې ته په عرف کې بې ادبي نه وايي لکه اوس هم چې کوم جومات جوړيږي د هغه په خام فرش باندې ګرځيدل عادت دي. دهغه په خلاف نن سبا د جوماتونو پاخه فرشونه دي او په هغه باندې درې او د قالين وغيره فرش وي او داسې فرش ته په پيزار سره پيماله کول عرفا بې ادبي ګڼل کيږي. په دې سره که دا اضافه هم وکړل شي چې د مدينې منورې کوڅې د رسول الله ﷺ په زمانه کې دومره پاکې وې په هغه باندې ګرځيدلو سره به پيزارنه ګنده کيده. ددې په خلاف نن سبا په دې بازارونو او کوڅو کې د پيزار پاک پاتې کيدل ډير زيات ګران دي له دې وجې نن سبا جومات ته د داسې څپليو سره راتګ او هم په هغه پيزار سره قالين او فرش باندې تيريدل او بيا هم په هغه ګنده پيزار کې د لمونځ ادا کولو اجازه ورکول ډير ګران دي.

دريم......لکه څنګه چې په سوال کې ذکر شوي دي چې په پيزار کې د لمونځ کولو حکم د يهوديانو د مخالفت له پاره شوی و[1] ګويا په پيزار کې لمونځ کول پخپله څه نيک کار نه دی. خو د خپل مقصد يعنې د يهوديانو د مخالفت له وجې دې ته مستحب وويل شو. نن سبا د يهوديانو پيزار ويستل يا نه ويستل چاته معلوم هم نه دي. خو د نصرانيانو په بوټانو کې عبادت خانې ته تلل هر چاته معلوم دي. څنګه چې د يهوديانو د مخالفت په بنياد دا کار مستحب و نن سبا د انګريزانو د تقليد په بنياد دا کار مکروه کيدل پکار دي.

څلورم......علامه شوکاني په پيزار کې لمونځ کولو ته مستحب ويلي دي د حديث مطابق زمونږ په نزد هم مستحب دي. په دې شرط چې د پورته ذکر شويو کارونو لحاظ وساتل شي. که نه دا کار به مکروه وي. ځينو اکابرينو (صحابه وو، تابعينو او ددين امامانو) ورته ددې شرطونو نه پرته مکروه ويلي دي. دهغو اقوالو تفصيل د شيخ کوثري په مقالات (ص ۱۷۰ او له هغه نه وروسته) کتل پکار دي.

پنځم......په پيزار که نجاست ولګيږي هغه جسم والا وي او هغه وچ شي. نو په مړلو سره به پاک شي خو که نجاست د جوسې والا نه وي لکه شراب او متيازې يا د جوسې والا وي. خو وچ نه وي. بلکې لوند وي. نو بيا زې په مړلو سره نه پاکيږي ځکه چې په دې صورت کې په مړلو سره نجاست نه ليرې کيږي[2]. په دې وجه د علامه شوکاني دا وينا چې په مړلو سره به هر نجاست پاکيږي د عقل او نقل دواړو خلاف ده.

---

۱ [عن شداد بن اوس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: خالفوا اليهود، فانهم لا يصلون فى نعالهم ولا خفافهم. رواه ابو داؤد. (مشکوة ج: ۱ ص: ۷٤، باب الستر)۔

۲]ومنها الحت والدلک الخف اذا اصابته النجاسة ان كانت متجسدة كالعذرة والروث والمنى يطهر بالحت اذا يبست وان كان رطبة فى ظاهرالرواية لايطهرالا بالغسل...الخ. (عالمگيرى ج: ۱ ص: ٤٤، الفصل الاول فى تطهير الانجاس)

په ناپاکه جامه کې لمونځ کول

سوال: یو ورځ د مازدیگر په وخت کې زه په کور کې ناست وم چې په دې کې زمونږ د محلې تبلیغي جماعت دروازه وټکوله چې کله زه بهر ورغلم، نو د جماعت یو سړي ماته وویل چې تاسو مونږ سره جومات ته لاړ شئ هلته د الله او رسول ﷺ خبرې کیږي هغه به واورئ. ما انکار ونه کړو او زه ور سره روان شوم. خو څو قدمه وروسته ماته رایاد شو چې زما جامې ناپاکې دي ډېر کوشش مې وکړ چې جومات ته د تلو نه مخکې مولانا صاحب ته ووایم. خو همت مې ونکړای شو او ما د الله پاک نوم واخست او جومات ته داخل شوم تللو سره مې اودس وکړ او د مازدیگر څلور رکعاته فرض مې ادا کړل او بیا د ټولو سره د مولاناصاحب خبرو اوریدلو ته کیناستلم څه ساعت وروسته د ماښام وخت شو. نو لمونځ مې ادا کړ او بیا د لمانځه نه وروسته مې د بل مولانا وعظ واوریده او بیا د لمانځه نه تقریبا نیمه گنټه د دعا کولو نه وروسته د ټولو سره یو ځای کور ته راغلم. مهرباني وکړئ په داسې وخت کې څه کول پکار دي؟ او ما چې کوم وخت هلته تیر کړی دی ما ښه کړي دي؟ او که ما په داسې حالت کې تللو سره غلطي کړې ده، نو ددې مخ نیوی څنگه ممکن دی؟

جواب: په ناپاکه جامه کې لمونځ نه دی شوی تاسوته پاکې جامې اغوستلو سره جومات ته تلل پکار و او د جامو د بدلولو په اجازه کې هیڅ گرانه خبره نه وه. په هرحال اوس هغه لمونځونه راوگرځوئ او په دې غلطي باندې د الله پاک نه ښښنه وغواړئ.[۱]

د مجبوري پرمهال ناپاکه جامه کې د لمانځه اجازه

سوال: انسان په داسې ځای کې موجوددی چې هلته اوبه بالکل نه پیدا کیږي لمونځ وغیره په تیمم سره کیږي او په هغه ځای کې انسان ته احتلام راشي د هغه سره د اغوستلو جامو نه پرته نورې جامې نشته. په تیمم سره انسان خو پاکیږي اوس په هغه ځای کې کوم ځای کې چې د جامو وینځلو له پاره اوبه نه پیدا کیږي څه کول پکار دي؟

جواب: په څو مسئلو باندې ځان پوه کړه!

اول: د سړي عورت د نوم نه واخله تر زنگونونو پورې دی[۲] چې د هغه پټول د سړي له پاره په لمانځه کې فرض دي[۳]، که لنگ یا پرتوگ وغیره ناپاک شو. خو قمیص یا څه بله جامه موجود ده چې په هغه سره عورت پټ کړي کوم چې پورته لیکل شوي دي. نو په لنگ او پرتوگ

---

۱ تطهير النجاسة من بدن المصلى وثوبه......واجب...الخ.(عالمگيرى ج:۱ ص:۵۸)۔
۲ العورة للرجل من تحت السرة حتى تجاوز ركبتيه...الخ.(عالمگيرى ج:۱ ص:۵۸)۔
۳ ستر العورة شرط لصحة الصلاة اذا قدر عليه...الخ.(عالمگيرى ج:۱ ص:۵۸)۔

ویستلو سره دې په هغه جامه باندې خان پټ کړي او هغه سره دې لمونځ وکړي په داسې صورت کې ناپاک لنګ او پرتوګ کې لمونځ کول صحیح نه دي[1]

دویم که د فرض مقدار د پټولو له پاره جامه نه وي او د ناپاکه جامې د پاکولو هم څه صورت نه وي، نو د هغه درې صورته دي

۱ هغه جامه ¼ یا ددې نه زیاته پاکه ده، نو په دې صورت کې په دې ناپاکه جامه کې لمونځ کول ضروري دي د لوڅ لمونځ کولو اجازه نشته[2]

۲ هغه جامه پوره ناپاکه ده په دې صورت کې دې لوڅ لمونځ وکړي[3] خو په ناسته دې وکړي او د رکوع او سجدې په ځای دې اشاره وکړي[4]

۳ هغه جامه د څلورمې برخې نه کمه پاکه ده، نو په دې صورت کې ورته اختیار دی که په جامه کې لمونځ کوي یا د جامې په ویستلو سره په ناسته باندې لمونځ کوی[5]

چې جامې ناپاکې وي نو د نیت د صحت سره سره لمونځ صحیح نه دی

سوال: زما جامې ناپاکې وې او زما نیت صفا و او ما لمونځ ادا کړ، نو زه ستاسو نه پوښتنه کوم چې زما لمونځ وشو او که نه؟

جواب: د لمانځه له پاره یوازې د نیت پاکي کافي نه ده جامې پاکېدل هم ضروري دي[6] په دې وجه ستاسو لمونځ نه دی شوی، ددې مثال داسې دی چې یو سړی د یو اعلی افسر په دربار کې د جامو ګندګي یوسي او دا اوایي چې زما په جامو کې خو خیر ګندګي لګیدلي ده او د هغه نه بدبویي هم راځي او سوړ بوی تري هم ځي، خو زما نیت بالکل صفا دی او زه په ډیر صفا نیت سره دې جامو اغوستلو سره ستاسو په دربار کې حاضر شوي یم، نو ظاهره ده چې دا سړی یا خو به لیونی ګڼل کیږي یا بې ادبه او ګستاخ دی، ددې مثال نه به تاسو پوه شوي یئ چې کله شریعت مطهره د الله پاک په دربار کې حاضریدو ،یعنی لمانځه له پاره د بدن د جامو او د ځای پاکیدل شرط کړي دي، نو که څوک د شریعت ددې حکم خلاف کولو سره د خپل نیت د پاکولو

۱] تطهیر النجاسة من بدن المصلی وثوبه......واجب...الخ.(عالمگیری ج:۱ ص:۵۸)_

۲]وان کان ربعه طاهرًا وثلاثه ارباعه نجسًالم تجز الصلاة عریانًا..الخ.(حلبی کبیرص:۱۹۷،ایضا عالمگیری ج:۱ ص:۶۰)

۳]وان کان اقل من ربعه طاهر اوکله نجسا خیر بین ان یصلی عاریا قاعدا بایماء وبین ان یصلی فیه قائما برکوع وسجود وهو افضل.کذا فی الکاف.(عالمگیری ج:۱ ص:۶۰)_

٤] وان صلی عریانًا لعدم الثوب او لنجاسة فانه یصلی قاعدًا یؤمی بالرکوع والسجود ایماء براسه...الخ.(حلبی کبیر ص:۱۹۹)_

٥]ان کان اقل من ربع الثوب طاهرًا فهوبالخیار...ان شاء صلی به وان شاء صلی عریانًا..الخ.(حلبی کبیرص:۱۹۷)

٦] تطهیر النجاسة من بدن المصلی وثوبه......واجب...الخ.(عالمگیری ج:۱ ص:۵۸)_

حواله ورکوي، نو هغه ته به هم یا لیونی ویل کیږي یا گستاخ الغرض په ناپاکو جامو کې چې تاسو کوم لمونځ کړی دی هغه لمونځ نه دی شوی هغه دوباره راگرځول ضروري دي.[۱]

په ناپاکه جامو کې اودس کولو سره په پاکو جامو کې لمونځ کول

سوال: که یو سړی په ناپاکه جامو کې اودس وکړي او بیا پاکې جامې واغوندي او لمونځ وکړي، نو ایا دا لمونځ او اودس صحیح شو؟

جواب: صحیح دي خو په دې شرط چې د جامو نجاست بدن سره ونه لگیږي مثلا ناپاکه جامه وچه وي.

په ناپاکه جامو کې په هیره باندې لمونځ کول

سوال: که په بدن یا جامه باندې ناپاکي لگیدلې وي د لمانځه په وخت یې هیره شي او لمونځ وکړي، نو ایا هغه لمونځ به بیا راگرځوي؟

جواب: که د ناپاکي وزن درې نیمې ماسې و یا که نجاست کلک نه و. نو د هغه خپربدل د یوې روپۍ برابر و، نو لمونځ وشو په دویم ځل کولو ته ضرورت نشته. که د دې نه زیات و. نو لمونځ به په دویم ځل کوی.[۲]

د بنګي انسان په وینځل شویو جامو کې لمونځ

سوال: که یو بنګي سړی یا ښځه جامې ووینځي، نو په هغه کې لمونځ کیږي او که نه؟

جواب: د بنګي سړي یا ښځې په وینځلو سره، خو جامې نه ناپاکه کیږي .نو له دې وجه نه په دې جامو کې لمونځ کول صحیح دي.

د غلا په جامو کې لمونځ کول

سوال: جناب مفتي صاحب! که یو سړی یوه جامه غلا کړي او بیا دغه جامه د یوې بلې جامې سره بدله کړي که هغه د قمیص بدل کې د یو بل سړي نه اخلي. نو ایا په دې بدله شوې جامه کې لمونځ ادا کیږي؟

جواب: څنګه چې د غلا شی خرڅولو سره د هغې پیسې حلالې نه وي همدغه شان که په جامې سره جامه بدله شي، نو هغه هم حلاله نه ده او د غلا په جامو کې لمونځ کول مکروه دي.[۳]

۱] واشار باشتراطه طهارة الثوب الى انه لوحمل نجاسة مانعه فان صلوته باطلة..الخ.(البحر الرائق ج:۱ ص:۲۸۱)

۲] وقدر الدرهم وما دونه من النجس المغلظ.....جازت الصلوة معه وان زادلم تجز...الخ.(هداية ج:۱ ص:۵۸، عالمگیری ج:۱ ص:۴۵)۔

۳] (فرع)تكره الصلاة في الثوب المغصوب وان لم يجد غيره لعدم جواز ..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

د بې اودسه لمانځه کفاره

سوال: ما د ښار په یو وړوکي شان جومات کې په یو امام پسې لمونځ وکړ. زه په مخکې صف کې وم. د قیام په حالت کې کله امام صاحب **ولا الضالین** پورې ورسید، نو ماته رایاد شو چې زما اودس نشته او ماته ددې خبرې هم علم و چې بغیرله اودس نه سجده کول سخته ګناه ده او جومات وړوکی شان دی دهغه صفونه د بازار د سړکه پورې رسیږي. او زما د هغه ځای نه راوتل ډیر ګران و ځکه زه په مخکې صف کې وم ما له د اوداسه نه پرته په امام پسې لمونځ وکړ او د سلام اړولو نه وروسته دویم ځل مې لمونځ د اودس کولو سره کړی دی، مسئله داده چې له اوداسه پرته لمونځ کول څومره ګناه ده؟ او د بیا له پاره څه کول پکار دي؟ زه ددې ګناه څه کفاره ورکړم؟

جواب: اودس د لمانځه له پاره شرط دی له اوداسه پرته لمونځ کول سخته ګناه ده تاسو لمونځ په دویم ځل راوګرځولو په دې وجه ستاسو لمونځ وشو، خوله اوداسه پرته لمونځ کول سخته ګناه ده که د جومات نه د وتلو موقع نه وي، نو د سلام اړولو نه وروسته هم هلته ناسته پکار ده او تاسو له اوداسه پرته لمونځ وکړ ددې کفاره توبه او استغفار دی.[1]

د ناپاک سړي دلمانځه حکم

سوال: که دشپې په خوب کې جامې ناپاکه شي او یو سړي ته په سهار کې ددې علم نه وي او هغه لمونځ هم وکړي او ورسره قرآن شریف هم ولولي ایا ددې لمانځه اوتلاوت به څه کفاره ادا کوي؟

جواب: د هغه لمونځ او تلاوت نه دی شوی[2] په دویم ځل دې وکړي کفاره یې هم داده چې په دې غلطي باندې استغفار وکړي.

د جنابت پر مهال د اغوستل شویو جامو سره د لمانځه حکم

سوال: چې د جنابت په حالت کې موږ پاکې جامې واغوندو او د پاکیدلو نه وروسته په هغو جامو کې له وینځلو پرته لمونځ کیږي اوکه نه؟

جواب: که په هغو کې څه نجاست نه وي، نو لمونځ کول په کې جائز دي.

...بقیه د تیرمخ]..الانتفاع بملک الغیر قبل الاذن. (حاشیه الطحطاوی ص:۱۹۷،فصل فی المکروهات،طبع میر محمد کتب خانه)_

۱] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:لا تقبل صلوة من احدث حتی یتوضا.رواه مسلم.(مشکوة ص:۴۰)_

۲]تطهیر النجاسة من بدن المصلی وثوبه والمکان الذی یصلی علیه واجب...الخ.(عالمگیری ج:۱ ص:۵۸). ایضا:یجب علی المصلی ان یقدم الطهارة من الاحداث والانجاس علی ما قدمناه قال الله تعالی:وثیابک فطهر،وقال الله تعالی:وان کنتم جنبًا فاطهروا.(هدایة ج:۱ ص:۹۲باب شروط الصلوة التی تتقدمها)_

د وړو یا غټو میتیازو له ضرورت سره لمونځ کول

سوال: که یو سړی خاتته لمونځ کوي د لمانځه په دوران کې هغه ته د تشو متیازو ضرورت پېښ شو یا یې په خېټه کې سخت درد پیدا شو چې د هغه په وجه لیتېرین ته د تلو ضرورت محسوس شي ایا په داسې صورت کې د لمونځ ختمولو سره د حاجت نه فارغ شي. یعنی لمونځ پرېښودل شي؟ د پوښتنه کولو مقصد دا دی چې که د برداشت کولو سره لمونځ پوره کړي، نو لمونځ به وشي؟

جواب: که د وړو یا غټو بولو ضرورت ډېر زیات وي. نو لمونځ پرېښودل پکار دي په داسې حالت کې لمونځ کول مکروه تحریمي دی[۱] او د دې راګرځول ضروري دي.[۲]

د لویو نوکانو سره لمونځ کول

سوال: که یوازې نوکونه غټ کړل شي او له هغو کې لمونځ وشي. نو په دې سره په لمانځه کې څه خرابي راځي او که نه؟

جواب: نوکونه غټول مکروه او د فطرت خلاف دي[۳] د لمانځه حکم دا دی چې که په نوکانو کې داسې یو شی کلک شي چې د هغه په وجه اوبه دننه نشي تللي. نو نه یې او دس کیږي او نه یې لمونځ کیږي او که نوکونه د دننه نه بالکل صفا وي. نو لمونځ یې صحیح دی[۴] د نوکانو لویولو رواج پته نه لګیږي په مسلمانانو کې د کوم تقلید له وجې نه راغلي دی، خو دا رواج د ډیر نفرت وړ دی.

غټو نوکونو سره لمونځ کول

سوال: ایا نوکونه غټول واقعي لویه ګناه ده؟ خو "اخبار جهان" او نورو اخبارونو کې لیکل شوي دي چې دا ګناه نه ده، بس دومره یې ویلي دي چې مکروه دي، نوکونو غټولو سره لمونځ کیږي؟ چې ډیر زیات لوی شوی نه وي بس درمیانه انداز کې وي نو بیا څه حکم دی؟

۱]وفى اثر عبدالله بن ارقم......قال:سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول:اذا وجد احدكم الغائط فليبدا به قبل الصلاة.(نسائى ص:١٣٧)،ايضا ويكره(ان يدخل فى الصلوة وقد اخذه غائط وبول)لقوله عليه الصلوة والسلام:لا صلوة بحضرة الطعام ولا وهو يدافعه الاخبثان.متفق عليه...الخ.(حلبى كبير ص:٣٦٦)۔

۲] كل صلاة اديت مع كراهة التحريم تجب اعادتها.وفى الشرح:الظاهر انه يشمل نحو مدافعة الاخبثين مما لم يوجب سجود اصلا.(شامى ج:١ ص:٤٥٧،مطلب كل صلاة اديت مع كراهة التحريم تجب اعادتها)۔

۳]عن عائشة رضى الله عنها قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:عشر من الفطرة...وقص الاظفار.(مشكوة ص:٤٤)

٤] وما تحت الاظافيرمن اعضاء الوضوء حتى لوكان فيه عجين يجب ايصال الماء الى ما تحته..الخ.(عالمگيرى ج:١ ص:٤)

جواب: د مکروه نه مراد "مکروه تحریمي" دی کوم چې عملاً حرام وي[۱] دې ته ناجائز ویل کیږي. نن سبا چې کومې ښځې د څناورو په شان نوکونه ساتي، ددې په حرام کیدو کې څه شك دی؟ په دې نوکونو باندې پلیتي هم لګیدلې وي، جراثیم ترینه هم پیدا کیږي. افسوس دی چې د مغربي معاشرت د تقلید له وجې نه مسلمانانو ته داسې لویې لویې خبرې په پوهه کې نه راځي. نبي کریم ﷺ نوکونو کټ کولو ته "فطرت" ویلې دي[۲]. له دې وجې نه د وحشي څناورو په شان او د درندګانو په شان نوکونه غټول "د فطرت خلاف" عمل دی چې یو سلیم الفطرت انسان ته ددې نه نفرت کول پکار دي.

دجامې نجاست دې ووینځي خو غیر ضروري وهم دې نه کوي

سوال: زما شپږ بچې دي مشره لور مې د اتو کالو ده زه لمونځ کوم خو زما جامې پاکې نه پاتې کیږي چې کله د اوبو یو څاڅکي پریوځي، نو زه جامې بدلې کړم خو بیا مې هم په زړه کې شك وي خلك وایي چې د ښځې لمونځ کیږي اګر که د جامې یو طرف یې پاك وي.

جواب: د جامو پاکوالی د لمانځه له پاره شرط دی په ناپاکه جامو کې لمونځ نه کیږي. خو په دې کې د وهم د حده پورې مبالغه کول غلطه خبره ده. که په یقیني طور سره نجاست ولګیږي، نو هغه ووینځئ ددې نه زیات وهم دی اودا خیال غلط دی چې د ښځې لمونځ کیږي اګر که دجامې یو طرف پاك وي د جامې پاکیدل چې څنګه دسړي له پاره په لمانځه کې شرط دي همدغه شان دښځې له پاره هم شرط دي.[۳]

په تیاره کې لمونځ کول

سوال: زه تاسو نه دا پوښتنه کول غواړم چې ایا په تیاره کې لمونځ کیږي او که نه؟ زما ملګري وایي چې په تیاره کې لمونځ کیږي ایا دا خبره صحیح ده؟

جواب: که د تیارې له وجې نه د قبلې اړخ نه غلطیږي، نو هیڅ باك نشته لمونځ کیږي.

د لمونځ ګزار مخې ته چې پیزاروي نو د لمانځه څه حکم دی؟

سوال: په جوماتو کې اکثر خلك خپل پیزار د صفونو نه مخکې ږدي او عام طور سره چې خلك سجده کوي، نو مخکې پیزار کیښودل شوي وي په داسې صورت کې لمونځ کیږي او که نه؟

جواب: لمونځ کیږي په څپلیو که نجاست لګیدلی وي، نو دهغو پاکولو سره جوماتو ته راوړل پکار دي.

---

[۱] وعلى المكروه تحريمًا وهو ماكان الى الحرام اقرب...الخ.(شامي ج:۱ ص:۱۳۱).

[۲] عن ابي هريرة رضي الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:الفطرة خمس: الختان، والاستحداد. وقص الشارب،وتقليم الاظفار،ونتف الابط.متفق عليه.(مشكوة ص:۳۸۰).

[۳] تطهير النجاسة من بدن المصلي وثوبه والمكان الذى يصلي عليه واجب...الخ.(عالمگيري ص:۵۸).

د غلا له وجې نه چپل مخې ته کینبودلو سره لمونځ کول

سوال: که د چپلو د غلا کېدو ویره وي، نو ایا خپلې مخې ته یې کینبودلو سره لمونځ کیږي؟چې دویم داسې ځای نه وي یا یو خاص موقع باندې لکه د اختر په ورځ اکثر خلک چپل یا څپلې وغیره مخې ته ږدي او لمونځ کوي،په دې باره کې څه حکم دی؟
جواب: هو! چپل خپلې مخې ته کینبودلو سره لمونځ کول صحیح دي.بلکې غوره خبره ده چې خپلې مخې ته کینبودل شي ددې له پاره چې د انسان زړه پریشانه نه وي

د کور سامان ته مخامخ لمونځ کول

سوال: زموږ په کور کې درې کمرې دي په درې واړو کې سامان دی موږ ټول کور والا چې لمونځ کوو، نو د کور سامان مو مخې ته وي، مثلاً شوکیس، ټي وي وغیره څه خلک وايي چې د لمانځه په وخت کې دې هیڅ شی مخې ته نه وي یوازې دیوال دې وي،خو موږ مجبور یو کور وړوکی دی ما چې دا واوریدل ډیره پریشانه یم
جواب: که مخامخ سامان وي، نو په لمانځه کې هیڅ باک نشته خلک بالکل غلط وايي، خو د ټي وي په کور کې ساتل ګناه ده.

د لمونځ ګزار مخې ته د اور حکم

سوال: چې اور مخې ته وي، نو لمونځ کول جائز دي او که نه؟
جواب: مکروه دي[۱]

د لوبو او ټوکو په ځای کې لمونځ کول

سوال: په کومه کمره کې چې ټي وي، ریډیو، ټیپ ریکارډ یا ددې قسمه د موسیقي محفلونه کیږي یا نه کیږي او هغه ځای ددې کارونو له پاره خاص وي، نو ایا په هغه ځای کې لمونځ کول یعنې په هغه کمره کې لمونځ کول د قرآن کریم تلاوت کول جائز دي او که نه؟
جواب: کومه کمره چې د فضول کارونو له پاره خاص وي هلته لمونځ کول مکروه دي[۲] همدغه د فضول کارونو په وخت کې مکروه تحریمي که نه مکروه تنزیهي دي.

۱] ومن توجه فی صلاته الی تنور فیه نار تتوقد او کانون فیه ناریکره...الخ.(عالمگیری ج:۱ ص:۱۰۸)۔
۲] تکره فی اماکن کفوق کعبة وفی طریق ومزبلة ومجزرة ومقبرة ومغتسل وحمام وبطن واد ومعاطن ابل وغنم...الخ.(الدر المختار مع الرد ج:۱ ص:۳۷۹)،ایضا مطلب تکره الصلاة فی الکنیسة تنبیه:یوخذ من التعلیل بانه محل الشیاطین کراهة الصلاة فی معابد الکفار لانها ماوی الشیاطین...الخ.(شامی ج:۱ ص:۳۸۰)۔

د بتانو مخې ته لمونځ کول

سوال: د پلاسټکد ګډا ، هاتي، شير وغيره د ځناورو تصويران د بتانو په شکل کې وي دامخې ته کيښودلو سره مونږ لمونځ کيږي ؟

جواب: دا د بت پرستانو په شان دي په دې وجه جائز نه دي[۱] او ددې ګډاوو اخستل او خرڅول هم ناجائزدي.[۲]

د تصويرونو والا مال په دکان کې لمونځ ادا کول

سوال: زه په يو ميډيکل ستهور باندې کار کوم د الله پاک په فضل باندې فرض لمونځ په جومات کې ادا کولو نه وروسته سنت او نفلونه په دکان کې ادا کوم څه مشران خلک وايي چې په دکان کې ستا لمونځونه نه کيږي ځکه په دکان کې د پيو په ډبو باندې او د دوايانو په پيکنګ باندې د ځناورو او حيواناتو او نور قسمه تصويران جوړ شوي وي،زما په شان ډير ورونړه به په دکانونو کې لمونځونو ادا کوي په دې سلسله کې وضاحت وکړئ؟

جواب: لمونځ خو به وشي، خو چې تصويران مخې ته وي، نو لمونځ مکروه دی[۳]که دا ډبي داسې کيښودل شي چې تصويران يې بل اړخ ته شي، نو کراهت به يې هم لاړ شي.

تصويروالا بټن سره لمونځ کول

سوال: که په قميص باندې داسې بټن(چې پرې د ځناورو تصوير جوړ شوی وي)لګيدلي وي او په دې قميص کې لمونځ وکړل شي، نو ادا به شي؟

جواب: که تصوير صفا طور سره ښکاري، نو دې سره لمونځ کول مکروه دی.[۴]

د ټي وي والا کمره کې لمونځ کول يا تهجد

سوال: ايا په کومه کمره کې چې ټي وي کيښودل شوی وي اودماښام نه وروسته ټي وي بندکړل شي، نو د شپې لمونځ يا د تهجدو لمونځ پکې کول جائز دي؟ يعنی په کومه کمره کې

۱]ويكره ان يصلي وبين يديه اوفوق راسه او على يمينه او على يساره او فى ثوبه تصاوير......واشدها كراهة ان تكون امام المصلى ثم فوق راسه ثم يمينه ثم يساره ثم خلفه هكذا فى الكافى.(عالمگيرى ج:۱ ص:۱۰۷)۔

۲] عن جابر رضى الله عنه ان سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول عام الفتح وهو بمكة:ان الله حرم بيع الخمر والميتة والخنزير والاصنام.(مشكوة ص:۲٤۱).والحاصل ان جواز البيع يدور مع حل الانتفاع.(الدر المختارمع رد المحتار ج:۵ ص:٦۹،باب البيع الفاسد)۔

۳] ويكره ان يصلي وبين يديه.....اوفى ثوبه تصاوير.(عالمگيرى ج:۱ ص:۱۰۷)۔

۴]ويكره ان يصلي وبين يديه......اوفى ثوبه تصاوير......وهذا اذا كانت الصورة كبيرة تبدو للناظر من غير تكلف،ولو كانت صغيرة بحيث لا تبدو للناظر الا بتامل لا يكره.(عالمگيرى ج:۱ ص:۱۰۷).

چې تې وې پروت دی

جواب: په کور کې تې وي سائل ګناه ده او ځومره پورې چې د مسئلي تعلق دی، نو په کوم وخت کې چې تاسو لمونځ کوئ او هغه وخت تې وي بندوي، نو په دې کمره کې لمونځ له کراهت پرته جائز دی اوکه تې وي شروع وي، نو په داسې ځای کې لمونځ کول مکروه دي او کوم ځای چې په فضول کارونو پورې خاص وي هلته هم لمونځ کول مکروه دي [۱]

د غیر مسلم په کورکې په فرش باندې لمونځ کول

سوال: د یو غیر مسلم په کور کې په فرش باندې د لمانځه د وخت کېدو په صورت کې لمونځ ادا کیږي؟ چې کله د لیرې لیرې پورې جومات نه وي او د لمونځ قضاء کیدلو ویره وي؟

جواب: د ځمکې د وچیدلو نه وروسته هغه د لمونځ له پاره پاکه وي [۲] او ځای چې کله پاک وي، نو هلته لمونځ کیږي په دې وجه د غیر مسلم په کور کې په خالي فرش باندې په لمونځ کولو کې هیڅ باک نشته او که پاکه جامه یې خوره کړه، نو نوره هم غوره ده. [۳]

په قبضه شوې ځمکه باندې په جومات کې لمونځ کول

سوال: د چا په ځمکه باندې ذ قیمت ادا کولو نه پرته جومات جوړ شو، نو جائز ده؟

جواب: دا قبضه ده او په قبضه شوي ځای کې جومات جوړول صحیح نه دي په دې وجه په قبضه شوي ځای کې چې کوم جومات جوړ شوی دی تر څو چې د هغه مالک هغه وقف نه کړي په هغه باندې به د جومات احکام نه جاري کیږي [۴] او هلته لمونځ کول ګناه ده اګر چې لمونځ کیږي. [۵]

د کور نه خالي کونکي کرایه دار لمونځ

سوال: موږ تقریبا د پنځلس کلنو نه په یو کور کې د کرایه دار په حیثیت اوسیږو تقریبا د لسو کلنو پورې به موږ کرایه مالک ته لاس په لاس ادا کوله، خو وروسته د کور مالک وویل

۱] ویکره ان یصلی وبین یدیه......اوفی ثوبه تصاویر.......وهذا اذا کانت الصورة کبیرة تبدو للناظر من غیر تکلف،ولو کانت صغیرة بحیث لا تبدو للناظر الا بتامل لا یکره.(عالمگیری ج:۱ ص:۱۰۷)_

۲]الارض تطهر بالیبس...الخ.(عالمگیری ج:۱ ص:٤٤)_

۳] تطهیر النجاسة واجب من بدن المصلی وثوبه والمکان الذی یصلی علیه...الخ.(هدایة ج:۱ ص:٥٤)_

٤] افاد ان الواقف لا بد ان یکون مالکه وقت الوقف ملکًاباتا ولو بسبب فاسد وان لایکون محجورًا عن التصرف حتی لو وقف الغاصب المغصوب لم یصح وان ملکه بعد بشراء او صلح.(فتاوی شامی ج:٤ ص:۳٤۹،کتاب الوقف،مطلب قد یثبت الوقف بالضرورة)_

٥] وکذا تکره فی اما کن:کفوق کعبة وفی طریق ومزبلة......وارض مغصوبة او للغیر.(الدر المختار)وفی الواقعات:بنی مسجدًا علی سور المدینة،لا ینبغی ان یصلی فیه،لانه حق العامةفلم یخلص لله تعالی کالمبنی فی ارض مغصوبة......فالصلاة فیها مکروهة تحریمًا فی قول وغیر صحیحة له فی قول آخر.(ردالمحتار ج:۱ ص:۳۸۱،مطلب فی الصلاة فی الارض المغصوبة)_

چې کور خالي کړئ موږ د کور خالي کولو نه انکار وکړ تر دې چې مالک په کورټ کې په موږ باندې د کور خالي کولو کیس چلاو په کیس چلیدلو کې تقریبا شپږ کاله وشو کرایه موږ په کورټ کې جمع کوو. جناب عالي!اوس ستاسو نه پوښتنه داده چې خینو خلکو موږ ته وویل چې په کوم کور کې تاسو لمونځ کوئ. نو ستاسو لمونځ له اجازې پرته ناجائز دی د لمونځ کولو له پاره د مالک نه د لمانځهٔ اجازه غوښتل ضروري دي اوکه نه،دویم دا چې د کور د مالک موږ سره خبرې هم بندې دي تاسو بیان کړئ چې زموږ لمونځ جائز دی اوکه نه؟ او موږ چې څومره لمونځونه په کور کې ادا کړي دي هغه ټول ضائع شو؟

جواب: د شریعت مطابق د کرایه دار په ذمه باندې د مالک په مطالبه باندې کور خالي کول لازمي دي او د نه خالي کولو په صورت کې هغه قبضه کونکی (غاصب) دی[۱] او د قبضې په ځمکه کې لمونځ نه قبلیږي[۲] ستاسو لمونځونه فقهي فتوا سره خو صحیح دي. خو د قبضې په کور کې د اوسیدلو په وجه تاسو ګنهګار یئ د کور مالک راضي کول او کور هغه ته سپارل واجب دي.

په قبرستان کې جوړشوي جومات کې لمونځ کول جائز دي

سوال: حدیث نبوی ﷺ دی چې په قبر کې دننه او د قبر د پاسه لمونځ نه کیږي.دا حدیث ما په بخاري شریف کې ولوست ددې په رڼاکې تاسومهرباني وکړئ تاسودا بیان کړئ چې په دې جوماتونو کې د کومو نه لاندې چې قبرونه دي خو د ستنو په ذریعه څو فټه وچت فرش جوړولو سره د جومات تعمیر شوی دی لمونځ جائز دی اوکه نه؟ په دې جوماتونو کې د لمونځ ګزار تعداد هم ډیر وي.

جواب: په قبرستان کې لمونځ کول مکروه دي ،خو که هلته جومات وي چې په هغه کې د لمونځ کونکي مخې ته قبرونه نه وي. نو لمونځ له کراهت پرته صحیح دی. ځکه په داسې جوماتونه چې په په سوال کې ذکرشوي دي په هغه کې لمونځ له کراهت پرته جائز دی او د حدیث شریف منعه دې ته شامله نه ده.[۳]

۱] وعلى الغاصب ردالعين المغصوبة معناه مادام قائمًا لقوله عليه السلام على اليد مااخذت حتى ترد،وقال عليه السلام:لا يحل لاحد ان ياخذمتاع اخيه لاعباولا جادا فان اخذه فليرده عليه.(الهداية ج:۳ ص:۳۷۱، كتاب الغصب،طبع شركت علميه ملتان،تبيين الحقائق ج:٦ ص:۳۱۵،كتاب الغصب)۔

۲] اوګورئ تیره شوی حاشیه (وكذا تكره فى اما كن:كفوق كعبة وفى طريق ومزبلة......الخ (الدر المختار) وفى الواقعات:بنى مسجدًا ...الخ (ردالمحتار ج:۱ ص:۳۸۱،مطلب فى الصلاة فى الارض المغصوبة)۔

۳] ولاباس بالصلوة فيها اذاكان فيها موضع اعد للصلاة وليس فيه قبر ولانجاسة كما فى الخانية ولا قبلته الى قبر حلية.(شامى ج:۱ ص:۳۸۰)۔

د جمعې په لمانځه کې د فرضو او سنتو نیت

سوال: د جمعې د لمانځه د فرضو او سنتو د دواړو نیت د جمعې کوو یا یوازې د فرضو نیت د جمعې کوو او د سنتو نیت د ماسپښین کوو؟

جواب: په فرض او سنت دواړو کې د جمعې د فرضو او د سنتو نیت کیږي، خو په سنتو کې د مطلق لمونځ نیت کول کافي دي ددې له پاره د وخت مقررولو ضرورت نشته.[۱]

که مقتدي په نیت کې د غلط وخت نوم واخیست نو څه به کیږي؟

سوال: که مقتدي له امام سره د جمعې په لمانځه کې د وخت په یادولو کې غلطي وکړي، یعنې وخت د ماسپښین دی او دی په جمعه کې په لومړي رکعت کې د رکوع نه مخکې شامل شو، خو د ماسپښین په ځای یې د مازدیگر نوم واخیست ، په دې صورت کې به اوس دا لمونځ کونکی څه کوي؟ د هغه دا لمونځ وشو یا به یې په دویم ځل کوي؟

جواب: نیت د زړه کار دی[۲]، که په زړه کې یې اراده د ماسپښین دلمانځه وه، خو په غلطي سره یې د خولې نه د ماسپښین په ځای مازدیگر ووت، نو لمونځ صحیح شو.[۳]

په فاسد لمونځ کې څنګه نیت پکار دی

سوال: د لمونځ په دویم ځل کولو څه طریقه ده؟ لمونځ گزارو دا محسوسه کړه چې غلطي وشوه لمونځ دې دویم ځل وشي، که هغه دویم یا دریم رکعت کوي او لمونځ څلورم رکعت دی په دې صورت کې هغه څه وکړي کوم لمونځ چې هغه غلط کړی دی کله چې هغه یې په دویم ځل کوي، نو په نیت کې د هغه ذکر کول ضروري دي چې زه لمونځ په دویم ځل کوم؟

جواب: که په لمانځه کې داسې غلطي وشي چې په هغه سره لمونځ فاسد شي، نو بیا د هغه په دویم ځل کولو ضرورت پیښیږي او کله چې لومړی لمونځ فاسد شو، نو فرض به د هغه په ذمه وي[۴]

دفرضو نیت کول پکار دي،ددویم ځل لمانځه نیت یې خپله کیږي.[۵]

۱] ویکفیه مطلق السنة للنفل والسنة والتراویح هو الصحیح کذا فی التبیین.(عالمگیری ج:۱ ص:۶۵)_

۲]والشرط ان یعلم بقلبه ای صلاة یصلی...الخ.(البحر الرائق ج:۱ ص:۲۹۲)_

۳] وفی القنیة عزم علی صلاة الظهر وجری علی لسانه نویت صلاة العصر یجزئه...الخ.(البحر الرائق ج:۱ ص:۲۹۳)_

٤] واما بیان مایفسد الصلاة فالمفسد لها انواع منها الحدث العمد قبل تمام ارکانها بلا خلاف حتی یمتنع علیه البناء.(بدائع الصنائع ج:۱ ص: ۲۲۰،فصل بیان ما یفسد الصلاة)_

۵] والشرط ان یعلم قلبه ای صلاة یصلی...الخ.(البحر الرائق ج:۱ ص:۲۹۲)_

د نيت الفاظ د زړه د متوجه کولو له پاره په خولې ادا کول

سوال: ايا په ژبې سره د لمانځه نيت کول د قرآن کريم او احاديثو نه ثابت دي؟

جواب: په ژبې سره د لمانځه نيت ويل نه د قرآن کريم او احاديثو نه ثابت دي او نه د مخکې امامانو نه. په دې وجه اصل نيت يوازې د زړه دی[۱]،خو په خلکو باندې د وسوسو خيالونو او فکرونو غلبه وي چې دهغه په وجه يې د نيت په وخت کې زړه متوجه نه وي.د زړه د متوجه کولو له پاره متاخرينو فتوا ورکړې ده چې د نيت الفاظ په ژبې سره هم ادا کول غوره دي چې د ژبې په وينا سره زړه متوجه شي.[۲]

د جمعې په لمانځه کې د اقتداء او امامت نيت کول په زړه کې کافي دي

سوال: مقتديان د جمعې په لمانځه کې داسې وايي چې په دې امام پسې ،خو امام صاحب چې کله د لمونځ کونکو نه مخکې په مصلی باندې وي ايا هغه ته هم دا ويل پکار دي چې مخکې ددې مقتديانو نه؟ په دې باره کې په تفصيل سره خبر راکړئ؟

جواب: په ژبې سره دوينا ضرورت خو مقتديانو ته هم نشته يوازې دا نيت کول کافي دي چې زه ځانته لمونځ نه کوم د امام سره يې کوم امام له هم نيت کول پکار دي چې زه ځانته لمونځ نه کوم بلکې خلکوته لمونځ ورکوم.

د نيت غلطي په سجده سهوه سره نه صحيح کيږي

سوال: د ماسپښين مازديګر يا ماښام لمونځ په جمعې سره يا ځانته کولو په وخت کې يې د ماسخوتن نيت وکړ،په رکوع کې د تلو په وخت يا په سجده کې يې فکرشو ،ايا په نيت ماتولو سره به په دويم ځل نيت کوي يا سجده سهوه به کوي؟ خو د جمعې سره خو سجده سهوه نه شي کولی په داسې صورت کې څه وکړل شي؟

جواب: نيت په اصل کې د زړه د قصد او ارادې نوم دی[۳]او په ژبې سره يوازې ددې ارادې ترجماني کيږي،که په زړه کې توجه مثلاً:د ماسپښين د لمانځه وه خو د ژبې نه د مازديګر يا ماسخوتن لفظ ووت، نو لمونځ صحيح دی او که په زړه کې يې خيال هم نه و، نو د لمانځه نيت

۱]والحق انهم انما ذكروا العلم بالقلب لافادة ان النية انما هى عمل القلب وانه لايعتبر باللسان...الخ.(البحر الرائق ج:۱ ص:۲۹۲)_

۲]ونقل عن بعضهم ان السنة الاقتصارعلى نية القلب،فان عبر عنه بلسانه جاز...الخ.(البحر الرائق ج:۱ ص:۲۹۳) وفى الاصل النية ان يقصد بقلبه فان قصد بقلبه وذكر بلسانه فهو افضل عندنا.(خلاصة الفتاوى ج:۱ ص:۷۹)_

۳]فالنية هى الارادة للفعل...الخ.(البحر الرائق ج:۱ ص:۲۹۲)_

تړلو سره دې لمونځ له سر نه وکړي د نیت غلطي په سجده سهوې سره نه صحیح کیږي [۱]

د امام د تکبیر نه وروسته د نیت کونکي لمونځ صحیح دی

سوال: زه په جومات کې داسې شامل شوم چې امام تکبیر ویلو سره نیت وتاړه او زما په صف کې ماسره څه لمونځ کونکي داسې دي چې هغوی اوسه پورې نیت نه دی تړلی او ما د هغوی نه مخکې نیت تړلی دی، نو ایا زما دا کار صحیح دی؟

جواب: تاسو د امام د تکبیر نه وروسته نیت تړلی دی، نو ستاسو لمونځ صحیح دی که نورو تړلی وي او که نه وي له هغو سره ستا هیڅ کار نشته. [۲]

د وترو په نیت کې د ماسخوتن ویل ضروري نه دي

سوال: د وترو نیت څنګه کیږي ؟ ایا په وخت کې یې د ماسخوتن وخت وویل شي؟

جواب: د ماسخوتن د ویلو ضرورت نشته، خو دا نیت کول ضروري دي چې زه د نن وترادا کوم. [۳]

نیت کې یوازې د لمونځ تاکل کافي دي د رکعتونو شمیر ضروري نه دی

سوال: د لمانځه نه مخکې چې څومره رکعتونه موږ کوو د هغه تعداد او د نیت الفاظ ادا کول ضروري دي او که یوازې په زړه کې نیت کول کافي دي؟

جواب: نیت خو په زړه کې وي که د زړه د متوجه کولو له پاره په خولې سره نیت وویل شي چې فلانی لمونځ کوم، نو جائز ده د رکعتونو د تعداد بیانولو ضرورت نشته. [۴]

په زړه کې د نیت کولو نه وروسته که د خولې نه غلط نیت ووت نو لمونځ صحیح دی

سوال: ځینې وخت موږ په بیړه کې غلط نیت وتړو لکه موږ څلور سنت کوو، خو موږ د دوو سنتو نیت وکړو. نو په دې صورت کې څه کول پکار دي؟

جواب: نیت په اصل کې له ژبې سره نه کیږي، بلکې دا د زړه کار دی [۵] که په زړه کې اراده د څلورو رکعتونو وه او د ژبې نه د دوو لفظ ووت، نو نیت صحیح دی [۱] او په سنتو کې خو

۱] لونوی الظهر وتلفظ بالعصر فانه یکون شارعا فی الظهر...الخ.(البحر الرائق ج:۱ ص:۲۹۸)_

۲] اذا انتظرتکبیرالامام ثم کبربعد ماکبرالامام یصح شروع فی صلوة الامام..الخ.(خلاصة الفتاوی ج:۱ ص:۸۰)

۳] وفی الوتری ینوی صلاة الوتر کذا فی الزاهدی.(عالمگیری ج:۱ ص:۶۶)_

٤]وفی الاصل النیة ان یقصد بقلبه فان قصد بقلبه وذکربلسانه فهوافضل عندنا(خلاصة الفتاوی ج:۱ ص:۷۹)

۵] والشرط ان یعلم بقلبه ای صلاة یصلی وادناها مالوسئل لامکنه ان یجیب علی البدیهة وان لم یقدر علی ان یجیب الا بتامل لم تجز صلاته...الخ.(عالمگیری ج:۱ ص:۶۵)_

یوازې د لمونځ نیت کول کافي دي که د څلورو په ځای د دوو یا د دوو په ځای د څلور لفظ وویل شي، یا له سره د رکعتونو ذکر ونه شي .بیا هم د سنتو نیت صحیح کیږي [۲]

د لمانځه د نیت الفاظ په هره ژبه کې ویل صحیح دي

سوال: زمونږ د کلي خلک د لمانځه نیت داسې کوي:څلور رکعته د ماسپښین فرض په دې امام پسې د کعبې شریفې په لور او لمونځ شروع کړي د لمانځه دا نیت کول صحیح دي او که یوازې په عربي کې کوم الفاظ دي هغه ویل جائز دي؟

جواب: نیت د زړه کار دی ، یعنې په زړه کې دا خیال برابرول چې د فلاني وخت لمونځ کوم. په ژبې سره نیت کول ضروري نه دي، خو که په ژبې سره یې ووایې که هغه په هره ژبه کې وي جائز دی.[۳]

د قبلې نه په څومره کوږوالي کې لمونځ جائز دی؟

سوال: زمونږ یعنې د ایشیا(اسیا) والا قبله مغرب طرف ته ده. که څوک لږ هم شمال یا جنوب طرف ته شي، نو ایا د هغه لمونځ کیږي؟

جواب: که معمولي کوږ والی وي، نولمونځ یې کیږي اوکه (۲۵ ډګري)یا له دې نه زیات و. نوبیانه کیږي.[۴]

که مسافر ته قبله معلومه نه وي نو څه وکړي

سوال: که مسافر د سفر په دوران کې یو داسې ځای کې قیام وکړي چې هلته د قبلې د طرف اندازه معلومه نه وي، نو بیا څه حکم دی؟

جواب: اول خو دې له چا نه پوښتنه وکړي، که هلته څوک ښودونکی نه وي، نو خپله دې سوچ وکړي د غور او فکر کولو نه وروسته یې چې کوم طرف ته خیال لاړو قبله به هم هغه طرف ته وي هغه طرف ته دې لمونځ وکړي.[۵]

۱]وقید بنیة التعیین لان نیة عدد الرکعات لیست بشرط فی الفرض والواجب،لان قصد التعیین مغن عنه ولو نوی الظهر ثلاثاً والفجر اربعاً جاز...الخ.(البحر الرائق ج:۱ ص:۲۹۸)۔

۲] ویکفیه مطلق النیة للنفل والسنة والتراویح هو الصحیح کذا فی التبیین.(عالمگیری ج:۱ ص:۶۵)۔

۳] النیة ارادة الدخول فی الصلاة والشرط ان یعلم بقلبه ای صلاة یصلی.......ولا عبرة للذکر باللسان فان فعله لتجتمع عزیمة قلبه فهو حسن کذا فی الکافی.(عالمگیری ج:۱ ص:۶۵)۔

٤] وسیاتی فی المتن فی مفسدات الصلوة انها تفسد بتحویل صدره عن القبلة بغیر عذر فعلم ان الانحراف الیسیر لا یضر وهو الذی یبقی معه الوجه او شیء من جوانبه مسامتاً لعین الکعبة او لهوائها بان یخرج الخط من الوجه او من بعض جوانبه ویمر علی الکعبة او هوائها مستقیماً...الخ.(شامی ج:۱ ص:٤۳۰) تفصیل دپاره ارګورئ سمت قبله، بشمول جواهر الفقه ج۱ ص۲۲۷ تا ۲۷۲)۔

۵] وان کان عاجزًا بسبب الاشتباه وهو ان یکون فی المفازة فی لیلة مظلمة..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

ړانده ته د بل سړي نه د قبلې اړخ معلومول ضروري دي

سوال: ړوند سړي که د قبلې په ځای شمال یا جنوب طرف ته لمونځ وکړ. نو د هغه لمونځ کیږي؟او که د لیدونکي له پاره ضروري ده چې د هغه مخ واړوي جواب ضرور راکړئ ستاسو به ډیره مهرباني وي

جواب: د ړوندسړي له پاره ضروري ده چې هغه له بل سړي سره د خپلې قبلې اړخ صحیح کړي، که له پوښتنې پرته یې خپله یو اړخ ته مخ کړ او هغه اړخ د قبلې نه و. نو د هغه لمونځ نه کیږي او که د لمانځه په دوران کې د قبلې د اړخ نه بیرته شي، نو په لمانځه کې دننه دې هغه دقبلې طرف ته کړل شي.[۱]

که د جومات محراب قبلې طرف ته برابر نه وي نو څه کول پکار دي؟

سوال: جومات جوړ شو، خو محراب یې د قبلې نه د(۲۰ډګري) په مقدار کوږ دی. هم په دې حال کې پنځه کاله وشو لمونځونه مو وکړل اوس ایا یوازې محراب بدل کړو یا که محراب او جومات په دویم ځل جوړ کړو؟

جواب: غوره خو داده چې محراب صحیح کړل شي چې لمونځ کونکی بغیر د کوږ والي د قبلې صحیح اړخ ته مخ کړي تر څو چې محراب صحیح شوی نه وي، نو د(۲۰ ډګري)کوږ والي ګنجائش شته کوم لمونځونه چې شوي دي هغه صحیح دي.[۲]

د ناپوهي له وجې د قبلې مخالف طرفته ادا شوي لمونځونه

سوال: شهداد پور کې یو جومات دی چې پنځوس کاله وروسته شهیدشوی دی او اوس دوباره د نوی جومات تعمیر شروع دی،اوس معلومه شوه چې تیره شوې زمانه کې ددې قبله صحیح نه وه او له پوره انتظام او اهتمام سره به جمعه پکې کیده او لمونځ کونکو به د ناپوهي له وجې له قبلې نه غلط طرفته لمونځ کاوو.اوس نوي حیثیت سره د قبلې طرف صحیح شوی دی،تاسو د قرآن او سنت په رڼا کې ووایئ چې پنځوس کالو پورې کوم غلط طرف ته لمونځونه شوي دي. نو ایا دغه لمونځونه به قبول شي او که نهٔ؟

....بقیه د تیرمخ]..او لاعلم له بالامارات الدالة علی القبلة فان کان بحضرته من یساله عنها لایجوز له التحری لما قلنا بل یجب علیه السؤال...فان لم یکن بحضرته احد جاز له التحری..الخ.(البدئع الصنائع ج:۱ ص:۱۱۸)

۱] ومفاده ان الاعمی لا یلزمه امساس المحراب اذالم یجد من یسئله،وانه لوترک السؤال مع امکانه واصاب القبلة جازت صلاته والا فلا.(شامی ج:۱ ص:٤۳٤)_

۲] فعلم ان الانحراف الیسیر لا یضر،وهو الذی یبقی مع الوجه او شیء من جوانبه مسامتا لعین الکعبة او لهوائها، بان یخرج الخط من الوجه او من بعض جوانبه ویمر علی الکعبة اوهوائها مستقیما...الخ.(شامی ج:۱ ص:٤۳۰)_

جواب: اوس یې قبله صحیح کړئ او کوم لمونځونه چې مخکې شوي دي، نو هغه ادا شوي دي د هغو په باره کې د پریشان کیدو ضرورت نشته [۱]

مصلی (جای نماز) د قبلې په طرف خورول پکار دي

سوال: مخکې زما خور په کلی کې اوسیده اوس ښار ته راغلې ده. د لمونځ کولو دوران کې هغه مصلی دیوال سره نژدې بالکل نیغه خوروي او موږ یې چپ طرفته یعنې معمولی کوږوالي سره خوروو، تاسو دوی ته ووایئ چې د دې طریقه صحیح ده او که نه؟

جواب: د قبلې په طرف خورول پکار دي، اوس ماته څه معلومه ده چې ستاسو دیوال د قبلې په طرف دی او که نه دی.

په ریل ګاډي کې هم مخ قبلې ته کول ضروري دي

سوال: ځینې حضرات د ګاډي په برتهـ باندې کیني او شمالاً جنوباً هم د قبلې څه پرواه نه کوي او وایي چې په ګاډي کې مخ قبلې ته کول ضروري نه دي. ایا دا خبره صحیح ده؟

جواب: ګاډي کې د لمونځ کولو دوران کې مخ په قبله درېدل او که په درېدو باندې یې قدرت وي، نو د قیام (درېدلو) په حالت کې لمونځ کول ضروري دي، که نه لمونځ یې نه کیږي، او دا خبره غلطه ده چې په ګاډي کې مخ قبلې ته کول ضروري نه دي [۲]

کوم ځای چې قبله ښوونکی څوک نه وي هلته غلط شوی لمونځ صحیح دی

سوال: موږ په یو تفریح ګاه کې وو، هلته د ماښام اذان وشو، موږ د قبلې معلومولو کوشش وکړ، معلومه نه شوه، نو موږ د خپلې اندازې سره لمونځ وکړ، کله چې لمونځ پای ته ورسید، نو یو کس وویل چې تاسو غلط طرف ته لمونځ وکړ. د قبلې طرف دا دی. اوس معلومه شوه چې موږ د جنوب په طرف باندې لمونځ کړی و، ایا لمونځ په دویم ځل کول پکار دي؟ که په دویم ځل لمونځ کول پکاروي، نو یوازې فرض لمونځ به کوو او که سنت به هم ورسره کوو؟

جواب: که د غه وخت کې څوک قبله ښوونکی موجود نه و او په خپل سوچ او فکر سره تاسو لمونځ کړی وي، نو لمونځ وشو، په دویم ځل د راګرځولو ضرورت نشته [۳]

---

[۱] فعلم ان الانحراف الیسیر لایضر وهوالذی یبقی مع الوجه اوشیء من جوانبه مسامتا لعین الکعبة او لهوائها بان یخرج الخط من الوجه او من بعض جوانبه ویمر علی الکعبة اوهوئهامستقیمًا...الخ.(شامی ج:۱ ص:۴۳۰)

[۲] لایجوزلاحد اداء فریضة ولانافلة ولاسجدة تلاوة ولاصلاة جنازة الامتوجها الی القبلة.(عالمگیری ج:۱ ص:۶۳)

[۳] وان اشتبهت علیه القبلة ولیس بحضرته من یساله عنها،اجتهد وصلی فان علم انه اخطا بعد ما صلی لایعیدها. (عالمگیری ج:۱ ص:۶۴).

كه په بېړۍ(بحري جهاز) كې قبله معلومه نه وي څه وكړل شي

سوال: كه په بېړۍ كې كه قبله معلومه نه وي، نو بيا كوم طرفته لمونځ وكړل شي؟يو كس وايي چې كه ابادي په نظر راشي، نو د ابادي بنى طرفته مخ كولو سره دې لمونځ وكړل شي.ايا دا خبره صحيح ده؟

جواب: د قبله نما يا د قطب نما په ذريعې سره قبله معلومه كړئ.كه څوك ښوونكى موجود نه وي، نوله غور اوفكر كولو سره چې كوم طرف ته د قبلې اړخ معلوم شي، نو هغه طرفته لمونځ وكړئ.د ابادۍ طرفته مخ كول غلط دي.[۱]

ايا په حطيم شريف كې لمونځ كوونكي هرطرفته مخ كولو سره لمونځ كولى شي

سوال: حطيم شريف د خانه كعبې يوه برخه ده،خانه كعبه كې دننه چې سړى كوم طرفته مخ كړي، نو لمونځ كولى شي،ايا په حطيم شريف كې هم ددې خبرې اجازه ده چې كوم طرفته غواړي، نو لمونځ كولى شي؟

جواب: نه!حطيم شريف كې د بيت الله شريف طرفته مخ كول ضروري دي، كه نه لمونځ نه كيږي.[۲]

لومړۍ قبله (بيت المقدس) ته مخ كول ، كيناستل يا سجده كول

سوال: مولانا صاحب! اكثرلمونځ ګزار حضرات د جمعې فراغت نه وروسته لومړۍ قبلې ته مخ كولو سره وظائف كوي او دعا ګانې كوي او لومړۍ قبلې طرف ته سجده هم كوي ايا هغه اړخ ته سجده كول شرعي اعتبار سره صحيح ده، يا هغه اړخ ته سجده كول منع او ګناه ده؟ په دې باندې هم د احاديثو او فقه حنفي مطابق رڼا واچوئ.

جواب: قبلې طرف ته ناسته كولو سره وظائف كول او دعا ګانې لوستل، خو ډيره ښه خبره ده . خو لومړۍ قبلې(بيت المقدس) طرف ته مخ كول يا هغه طرف ته سجده كول غلط دي، ځكه هغه اوس قبله نه ده پاتې، بلكې منسوخ شوې ده.[۳]

۱]وان اشتبهت عليه القبلة وليس بحضرته من يساله عنها اجتهد وصلى.(عالمگيرى ج:۱ ص:٦٤).

۲]ولو صلى مستقبلاً بوجهه الى الحطيم لايجوز.(عالمگيرى ج:۱ ص:٦۳).

۳] ماجعلنا القبلة التى كنت عليها.....الجعل اما متعد الى مفعول واحد......اما متعد الى مفعولين ومفعوله الثانى محذوف اى ماجعلنا القبلة التى كنت عليها منسوخة...الخ.(تفسير مظهرى ج:۱ ص:۱٤۰)۔

قبلې طرف ته پښې کول

سوال: که موږ قبلې طرف ته پښې کړو، نو ایا زموږ به د ځلویښتو ورځو لمونځونه ضائع شي؟

جواب: د قبلې قصدا بې عزتي کول، خو کفر دی او پرته له قصد او ارادې نه هم داسې کار نه دي کول پکار کوم چې د ادب خلاف وي، خو له دې سره لمونځ نه ضائع کیږي.[۱]

په کوم جای نمازباندې چې د رسول الله د روضې تصویر وي په هغه باندې لمونځ کول څنګه دي؟

سوال: تاسو به کتلي وي چې په اکثر جای نمازونو باندې دخانهٔ کعبې او د روضې مبارکې تصویرونه جوړ شوي وي، امامان حضرات د خطبې په وخت په منبر باندې جای نماز خورولو سره په هغه باندې کیني زه خو دا ډیر بده ګڼم. ځکه چې په دې طریقې سره د خانه کعبې او د رسول الله ﷺ د روضې بې ادبي کیږي. زما د ناقص خیال مطابق خو به داسې جای نماز باندې ولاړه هم نه ده پکار. تاسو په دې سلسله کې صحیح جواب راکړئ او دا هم بیان کړئ چې ایا زما هغه لمونځونه وشو اوکه نه؟ په کوم کې چې ما د خطبې د اوریدلو نه زیات د امام صاحب بې ادبۍ ته متوجه وم.

جواب: د نقشې والا جای نماز باندې لمونځ کولو ته فقهاء کرامو خلاف اولی ویلي دي چې خیال دنقش او ښکلا طرف ته لاړ نه شي، باقي د بې ادبۍ تړون په عرف باندې دی ستاسو لمونځونه شوي.[۲]

په جای نمازباندې د بیت الله شریف، مسجد اقصی یا د جومات تصویر جوړول شرعا څنګه دي؟

سوال: په مصلی(جای نماز) باندې چې کوم تصویرونه جوړیږي ایا دا جائز دي؟حالانکې تصویر وېستل په اسلام کې منع دي؟ځینې خلک د خانه کعبې تصویرونه او دغه شان د نورو مقدسو ځایونو تصویرونه مخامخ ساتي،ایا ددې ساتل جائز دي؟ځکه چې دې سره د تصویرانو د عبادت احساس کیږي،دې باره کې څه حکم دی؟

۱] وکذا الاستهزاء علی الشریعة الغراء کفر،لان ذلک من امارات تکذیب الانبیاء، قال ابن الهمام:وبالجملة فقد ضم الی تحقق الایمان اثبات امور الاخلال بها اخلال بالایمان اتفاقاً کالسجودلصنم وقتل نبی او الاستخفاف به اوبالمصحف اوالکعبة...الخ.(شرح فقه الاکبرص:۱۸۶،طبع دهلی)

۲] عن انس رضی الله عنه قال:کان قرام لعائشة سترت به جانب بیتها فقال النبی صلی الله علیه وسلم: امیطی عنا قرامک هذا فانه لاتزال تصاویره تعرض فی صلاتی.(بخاری ج:۱ ص:۵٤)۔

جواب: جائز دي [1]

داسې جای نمازبا ندې لمونځ کول چې د بیت الله شریف تصویر پرې موجود وي

سوال: نن سبا جای نمازونو باندې د کعبې مبارکې او د جومات نبوي نقش جوړ وي. ایا ددې جای نمازونو استعمال صحیح ده؟

جواب: په دې جای نمازونو خو د کعبې مبارکې او د مسجدنبوي تصویرونه وي او موږ په خپله بیت الله شریف او جومات نبوي شریف کې کینو. دې سره مه پریشان کیږئ. ددې جای نمازونو استعمال صحیح دی.

کوم جای نمازبا ندې چې د جومات د گنبد ډیزائن وي هغه با ندې لمونځ کول

سوال: جای نماز باندې د خانه کعبې او د ځینې جوماتونو په صفونو باندې د جومات د گنبد وغیره ډیزائن وي، په دې باندې د لمونځ کونکو پښې هم لګیږي او هسې هم جای نماز په پښو کې کینبودل کیږي، ایا دا جائز دي؟

جواب: د خانه کعبې تصویر یا د بل یوجومات تصویر چې عام طور په جای نمازونو باندې جوړ شوی وي، نو ددې استعمال صحیح ده ځکه چې په خپله په خانه کعبه کې داخلیدل او دغه شان په بل جوماتونو کې داخلیدل جائز دي.[2]

چې مصلی پرته (خوره) وي نو ایا شیطان پرې لمونځ کوي؟

سوال: یواځې والي کې لمونځ کوونکي چې کله لمونځ وکړي، نو د مصلی (جای نماز) د ښي طرف نه څه برخه راواړوي، عام تاویل دادی چې که پوره جای نماز دغه شان خور پرینبودل شي. نو شیطان په دې باندې لمونځ کوي، ددې شرعي حیثیت څه دی؟

جواب: د شیطان دلمونځ کولو خبره غلطه ده، جومات کې خوځلورویشت ساعته صفونه خواره وي.

د جای نماز طرف اړول څنګه دي؟

سوال: ځینې خایونو کې لیدل شوي دي چې د لمونځ ادا کولو نه وروسته د جای نماز یو طرف اړول کیږي، ایا دا هم د څه روایت نه ثابت دي؟

جواب: لمونځ کولو نه وروسته د جای نماز اړول یوازې یو رواج دی، که ضرورت وي، نو راټولول پکار دي او دا کومه خبره چې مشهوره ده چې که جای نماز پرینبودل شي. نو شیطان

---

[1] ولایکره تمثال غیرذی الروح کذا فی النهایة.(عالمگیری ج:۱ ص:۱۰۷).

[2] ولایکره تمثال غیرذی الروح کذا فی النهایة.(عالمگیری ج:۱ ص:۱۰۷).

پرې لمونځ کوي، نو دا خبره فضول ده.

چې د جومات تصویر پرې جوړ شوی وي نو د داسې جاې نماز پاکولو څه طریقه ده؟

سوال: د داسې جاې نماز وغیره څنګه وینځل پکار دي چې جومات پرې جوړ شوی وي؟اوبه وغیره یې چېرته وغورځول شي؟

جواب: که جاې نماز ناپاك شي، نو ښکاره خبره ده چې هرکله دا وینځل کیږي، نو اوبه به ناپاکه وي او د ناپاکه اوبو د ادب هیڅ مطلب نشته.

د زوړ شوي جاې نماز احترام څنګه وکړل شي؟

سوال: که جاې نماز زوړ شي یا وشلیږي، نو له دې سره څه کول پکار دي؟جومات کې ورکړل شي یا کور کې کینبودل شي؟

جواب: دا داسې طریقې سره ضائع کول پکار دي چې بې احترامي یې ونه شي، جومات کې د ورکولو ضرورت نشته، کور کې دې حفاظت سره کینبودل شي یا دې احترام سره ضائع کړل شي.

مشکوک جاې نماز باندې لمونځ کول

سوال: زموږ د علاقې د صوبايي اسمبلۍ ممبر د علاقې مرکزي جامع جومات لپاره کوم چې اوس جوړ شوی دی، هغه له پاره یې کارپټ او جاې نمازونه ورکړي دي، هغه جومات کې خواره کړل شول، مسئله دا ده چې څینې خلک پرې لمونځ نه کوي، د هغوی وینا داده چې دی یوڅو کاله وړاندې ډیر زیات غریب و، خو اوس د کروړونو مالك دی، کوم چې یې ناجائز طریقو سره ګټلي دي، ددې وجې نه دا کارپټ(فرش) وغیره هم حرامو پیسو سره اخستل شوی دی او حرام پیسو باندې اخستل شوي کارپټ باندې لمونځ نه کیږي، لهذا موږ هم په دې باندې لمونځ نه کوو، دې باره کې د شریعت څه حکم دی؟

جواب: که حرامو او ناجائزو پیسو باندې جومات له پاره قالینې اخستل شوي وي، نو په دې باندې لمونځ کول مکروه دي.[1]

په قالینو باندې لمونځ ادا کول څنګه دي

سوال: نن سبا په اکثر جوماتونو کې دصفونو په ځاې قالینې خورول شروع شوي دي او د قالینو پریږ والی هم د صفونو په نسبت ډیر وي ایا په قالینې باندې سجده کول جائز دي او لمونځ

---

[1]]قال تاج الشريعة:اما لوانفق فی ذلک مالا خبيثًا ومالاً سببه الخبيث والطيب فيكره لان الله تعالى لا يقبل الاالطيب فيكره تلويث بيته بمالا يقبله...الخ.(شامی ج:۱ ص:۶۵۸،طبع سعيد).

کیږي او که نه؟ او که مکروه دي،د دې مسئلې د قرآن کریم او احادیثو په رڼا کې جواب راکړئ

جواب: په قالینې باندې لمونځ کول جائز دي [۱]

د حلال شوي ځناور د رنګ شوي څرمنې جا نماز باندې لمونځ کول صحیح دي

سوال: ایا د سوی له څرمنې په جوړشوي جانماز باندې لمونځ کولو کې څه ګناه شته؟

جواب: هیڅ ګناه نشته د ځناورڅرمن د رنګ کولونه وروسته پاکیږي، په دې باندې لمونځ ادا کیږي [۲]

د ډیکوریشن په دریو باندې لمونځ کول

سوال: زموږ د محلې په جومات کې چې د لمانځه له پاره د ډیکوریشن چې کومې درۍ راځي هغه ډیرې ګنده وي او په همدې ټول خلک لمونځ کوي، نو ایا په دې باندې لمونځ کول جائز دي او که نه؟

جواب: د کرایې چې کومې درۍ راځي دهغو پاکوالی معلوم نه وي په دې وجه په هغو باندې جامه خورولو نه پرته لمونځ کول نه دي پکار [۳]

په حرم شریف کې د لمونځ کونکي مخ بالکل د بیت الله طرف ته کول شرط دي

سوال: د لمانځهٔ په نیت کې دا هم شامله ده چې زموږ مخ قبلې طرف ته وي او نظر د سجدې په ځای کې وي، سوال دا دی چې که موږ په خانه کعبه کې لمونځ ادا کوو او کعبه مخامخ ښکاري، نو نظر کعبې ته کول پکار دي یا لاندې د سجدې په ځای جانماز باندې؟

جواب: نظر هلته هم دسجدې په ځای باندې کول پکاردي،خوداکتل ضروري دي چې مخ بالکل بیت الله ته دی او که نه؟ ما ډیر خلک د جمعې سره لمونځ کونکي ولیدل چې کوم طرف ته قالینې غوړیدلي وي هم هغه طرف ته لمونځ شروع کړي،د هغوی مخ بیت الله طرف ته نه وي،د هغوی لمونځ نه کیږي څکه چې کله بیت الله مخامخ وي، نو بیت الله ته بالکل مخامخ کیدل د لمونځ دصحیح کیدلو له پاره شرط دي که مخ یې دبیت الله نه اخواوي،نولمونځ یې نه کیږي [۴]

۱] ولاباس بالصلاة والسجود على الحشيش والحصير والبسط والبوارى.(عالمگيرى ج:۱ ص:۶۳)۔

۲] كل اهاب.....دبغ.....وهويحملها طهر فيصلى به ويتوضا منه.(درمختار مع الشامي ج:۱ ص:۲۰۳)۔

۳] تطهير النجاسة من بدن المصلى وثوبه والمكان الذى يصلى عليه واجب...الخ.(عالمگيرى ج:۱ ص:۵۸)

٤] لايجوز لاحد اداء فريضة ولا نافلة ولا سجدة تلاوة ولا صلاة جنازة ..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

کټ کې لمونځ کول

سوال: کټ کې لمونځ کيږي او که نه؟

جواب: که کټ ښه مضبوط وي (ښه پيرل شوی وي)چې سرې سجدې ته لاړ شي. نو سر يې نه خوځيږي، نو لمونځ پرې جائز ده.[۱]

بالښت او کټ باندې لمونځ ادا کول

سوال: ايا په بالښت او کټ باندې لمونځ ادا کيږي. ځکه چې ما د خلکو نه اوريدلي دي چې کټ باندې لمونځ کولو سره د انسان نه بيزو جوړيږي او نن چې کوم بيزوګان دي. نو دا مخکې انسانان وو؟

جواب: که کټ سخت وي چې سر په کې نه خوځيږي، نو بيا پرې لمونځ جائز دي.[۲]

د کمزورې ښځې په کرسی او ميز باندې سجده کول

سوال: يو کمزورې ښځه په يو کرسۍ باندې کيني او په دويم وړوکي ميز باندې سجده کوي. نو ايا لمونځ کيږي؟

جواب: کوم کس چې په سجده کولو قدرت نه لري، هغه دې د سر په اشارې سره لمونځ کوي او د رکوع د اشارې نه دې سر معمولي زيات ښکته کوي په وړوکي ميز باندې سجده کول فضول دي.[۳]

تصويرانو والا کمره(کوټه) کې لمونځ کول

سوال: په يو کمره کې تصويرونه يا د لوبو شيان(د ځناورو تصويرونه وغيره) وي بيشکه د لمونځ کونکي مخې ته نه وي، نو ددې په موجودګي کې څوك لمونځ کولی شي؟او که په جيب کې کارډ وي چې په هغه کې تصويرونه وي. نو له دې سره لمونځ کيږي؟

.....بقيه د تيرمخ]..الامتوجهًا الى القبلة كذافى السراج الوهاج اتفقوا على ان القبلة فى حق من كان بمكة عين الكعبة فيلزمه التوجه الى عينها كذا فى فتاوى قاضى خان.....وصلى مستقبلاً لوجهه الى الحطيم لايجوز.كذا فى المحيط.(عالمگيرى ج:۱ ص:٦٣،وكذا فى البدائع الصنائع ج:۱ ص:۱۱۸)

[۱] ولوسجد على الحشيش اوالتبن.......او الثلج ان استقرت جبهته وانفه ويجد حجمه يجوز وان لم تستقر لا. (عالمگيرى ج:۱ ص:۷۰).

[۲] ولوسجد على الحشيش اوالتبن.......او الثلج ان استقرت جبهته وانفه ويجد حجمه يجوز وان لم تستقر لا. (عالمگيرى ج:۱ ص:۷۰).

[۳] (وان عجز عن القيام والركوع والسجود وقدر على القعود يصلى قاعدًا بايماء ويجعل السجود اخفض من الركوع.(عالمگيرى ج:۱ ص:۱۳٦).

جواب: که د لمونځ کونکي مخې ته وي، نو لمونځ کول مکروه دي. خو که وروسته وي، نو لمونځ به وشي.[1] خو په کور کې د تصویرونو موجود یت د لعنت شی دی [2]

که یو کمره کې د انسانانو تصویرونه وي هغې کې لمونځ کول

سوال: په کومه کمره کې چې د انسانانو تصویرونه لګیدلي وي په دې کمره کې عبادت کولو سره عبادت قبلیږي او که نه؟ که د ځناورو وي، نو بیا؟

جواب: په کومه کمره، کوټه، کې چې د ساه لرونکي تصویر وي. نو هلته د رحمت فرښتې نه راځي، بلکې هلته لعنت وریږي، داسې ځای کې لمونځ کول پکار نه دي [3]

بند شوي تصویر ته مخامخ لمونځ کول

سوال: موږ چې کوم ځای لمونځ کوو هغه ته مخامخ شوکیس (الماری) کې دننه که جګ، چینك وغیره کې دننه نوټونه کیښنودل شوي وي، نو هلته لمونځ کیږي؟ ځکه چې په نوټ باندې تصویر وي او په دروازو یا بل یو شي کې تصویر وي او هغه بند وي، نو څنګه دی؟

جواب: تصویر که بند وي، نو څه حرج نشته. [4]

هوایي جهاز کې لمونځ

سوال: ایا په هوایي جهاز کې لمونځ کول یا لمونځ ورکول جائز دي؟ د ځینې خلکو رایه ده چې جائز دي، خو ځینې خلک دا دلیل بیانوي چې جهاز په فضا کې وي او په لمانځه کې سجده په ځمکه باندې کول ضروري دي، ایا دا خبره صحیح ده؟

جواب: په دې کې د علماوو اختلاف دی چې په هوایي جهاز کې لمونځ کیږي او که نه؟ حضرت مولانا مفتي محمد شفیع صاحب رحمه الله به فرمایل چې په هوایي جهاز کې لمونځ کیږي او زموږ حضرت مولانا محمد یوسف بنوي رحمه الله به فرمایل چې نه کیږي.

---

[1] یکره ان یصلی وبین یدیه او فوق رأسه تصاویر.......واشدها کراهة ان تکون اَمام المصلی ثم فوق رأسه ثم یمینه ثم یساره ثم خلفه هکذا فی الکافی.(عالمگیری ج:۱ ص:۱۰۷).

[2] عن ابی طلحة رضی الله عنه قال:قال النبی صلی الله علیه وسلم:لاتدخل الملائکة بیتًا فیه کلب ولا تصاویر. متفق علیه.(مشکوة ص:۳۸۵).

[3] تکره کراهة جعل الصورة فی البیت للحدیث ان الملائکة لاتدخل بیتًا فیه کلب او صورة.(فتح القدیر ج:۱ ص:۲۹٤،طبع بیروت،عالمگیری ج:۱ ص:۱۰۷).

[4] ولو کانت الصورة صغیرة بحیث لا تبدو للناظر لایکره.(فتح القدیر ج:۱ ص:۲۹۵،طبع بیروت).لوکان فوق الثوب الذی فیه صورة ثوب ساتر له فانه لایکره ان یصلی فیه لاستتارها بالثوب الآخر.(البحر الرائق ج:۲ ص:۲۹،طبع بیروت).

دا بنده کله د یو بزرگ په قول باندې عمل کولو سره په هوایي جهاز کې لمونځ کوي او کله د بل بزرگ په قول باندې عمل کولو سره لمانځه کې تاخیر کوي. که صفا ځای پیداشي. نو لمونځ کړي او که ځای خراب وي، نو بیا لمونځ نه کوي.

د اوبو په ټینکۍ باندې لمونځ

سوال: زموږ د بلډنګ تاخانه(زېرزمیني) کې د اوبو ټینکۍ ده د هغې له پاسه فرش جوړ شوی دی او په هغه فرش باندې د جمعې کولو انتظام موجود دی، باقاعده مایك باندې اذان کیږي ،شل پنځویشت کسان لمونځ کوي،په رمضان شریف کې تراویح هم کیږي.د ځینو خلکو وینا ده چې د اوبود ټینکۍ له پاسه لمونځ کول جائزنه دي،مهرباني وکړئ په دې مسئله باندې څه وضاحت وکړئ.

جواب: ماته خو څه داسې مسئله معلومه نه ده چې د اوبو په ټینکۍ باندې پوخ جوړ شوي فرش باندې لمونځ نه کیږي.

پلیتي سره نژدې لمونځ کول

سوال: ایا داسې ځای کې د جنازې لمونځ کول صحیح دي چېرته چې ګندګي(ګوبر) پروته وي او بنکاره په نظر راځي،خو وچ وي او روزانه ورته اوبه هم ورکول کیږي، یعنې دا ګندګي زړه وي او ددې نه جدا متبادل ځای هم موجود وي،څه خاص مشکل نه وي؟

جواب: پلیتۍ سره نژدې لمونځ کول مکروه دي.[۱]

❖ د لمونځ ادا کولو طریقه ❖

....

د لمانځه په دوران کې نظر په کوم ځای پکار ده؟

سوال: کله چې موږ د لمانځه له پاره دریږو، نو زموږ کوم ځای ته کتل پکار دي، کله چې رکوع ته ځو، نو نظر په کوم کوم ځای باندې کول پکار دي؟ لږ په تفصیل سره مو خبر کړئ.

جواب: د قیام په حالت کې د سجدې ځای ته کتل پکار دي،په رکوع کې په پښو ته په سجده کې د پوزې څوکې ته په قعده کې پنډیو ته او په سلام کې په ښي اوچپې اوږې ته.[۲]

۱]وتکره الصلوة ایضا فی معاطن الابل......والعلة کونها مواضع النجاسة...الخ.(حلبی کبیر ص:۳۶۳)،لو صلی وبین یدیه عذره او غیرها من النجاسات بلا حائل حیث یکره لذلک.(حلبی کبیر ص:۳۶۶).

۲] (وآدابها)نظره الی موضع سجوده حال القیام والی ظهر قدمیه حالة الرکوع.[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

په لمانځه کي د دواړو پښو تر مينځه فاصله او د غټې ګوتې د ځمکې سره لګول

سوال: کله چي موږ د لمانځه له پاره ودريږو، نو زموږ د پښو فاصله څلور ګوتې پکار ده يا له دې نه زياته؟ او ايا د ښي پښې ګوته د ځمکې سره لګيدل پکار دي او که نه؟ سره له دې چي ډير خلک د يو يو فټ فاصله په مينځ کې ساتي او د ښي پښې ګوته هم په يو ځاى نه ساتي. نو ايا دا دواړه طريقې صحيح دي؟

جواب: د دواړه پښو تر مينځه فقهاوو د څلورو ګوتو فاصله مستحب ليکلې ده[۱]. د ښي پښې ګوته که د خپل ځاى نه ليرې شي، نو په دې سره لمونځ نه مکروه کيږي. خوبېرته له ضرورت نه داسې کول نه دي پکار.

د لمونځ د نيت طريقه

سوال: موږ چي کله د لمونځ کولو لپاره نيت کوو، نو زه داسې وايم "زه نيت کوم د څلور رکعته فرض عين د مازديګر، په دې امام پسې، مخ مې د کعبې شريف په طرف الله اکبر."

۱ ايا يو صحابي يا نبي کريم ﷺ دې الفاظو سره نيت کړى و؟

۲ ايا دا الفاظ په ژبې سره ادا کول بدعت دي؟

۳ تاسو موږ ته ووايئ چي صحيح نيت څنګه دى او څنګه ادا کول يې پکار دي؟

جواب: نيت د زړه کار دى، يعني سړى په زړه کې دا اراده وکړي چي زه فلانى لمونځ کوم. په ژبې سره دا الفاظ ادا کول د نبي کريم ﷺ، صحابه کرامو رضي الله عنهم، تابعينو او تبع تابعينو نه منقول نه دي. خومتاخرينو دا خيال غوره ګرځولى دى، ځکه چي د لمانځه د نيت کولو په وخت نن سبا د خلکو خيالات او سوچونه ډير زيات وي، له دې وجې نه خشوع سره نيت نه کيږي، ددې علاج دا دى چي ژبې سره دا الفاظ ادا کړي ځکه چي ژبې سره د دې الفاظو ادا کولو په صورت کې به زړه متوجه شي. له دې وجې نه په ژبې سره نيت کول په خپله مقصود. خو نه دي نه ضروري دي. بلکې د مقصود لپاره د ذريعه کيدو له وجې متاخرينو غوره ګرځولي دي.[۲]

...بقيه د تيرمخ].. والى ارنبه حالة السجود والى حجره حالة القعود وعند التسليمة الاولى الى منكبه الايمن وعند الثانية الى منكبه الايسر.(عالمگيرى ج:۱ ص:۷۳،۷۲، البدائع الصنائع ج:۱ ص:۲۱۵)۔

[۱] وينبغى ان يكون بينهما مقدار اربع اصابع اليد لانه اقرب الى الخشوع.(شامى ج:۱ ص:٤٤٤)۔

[۲] النية ارادة الدخول فى الصلاة والشرط ان يعلم بقلبه اى صلاة يصلى......ومن عجز عن احضار القلب يكفيه اللسان.(عالمگيرى ج:۱ ص:٦٥).

د لمانځه په نیت کې هیره باندې غلطي

سوال: د فرض نیت کولو په وخت هیره سره سنت یا نفل له ژبې نه ووتل. یا د سنت یا د نفل د نیت کولو په وخت هیره باندې فرض وویل شو او لمونځ یې شروع کړ. نو لمونځ مات کړل شي او په دویم خل نیت وترل شي؟ اوکه په لمانځه کې د نیت اصلاح وکړل شي؟

جواب: نیت د زړه کاردی، په زړه کې چې یې دکوم لمونځ نیت کړی وي. نو هغه لمونځ به وشي.[1]

د سلام ګرځولو په وخت چیرته نظر کول پکار دي؟

سوال: د لمونځ ختمولو په وخت(د سلام ګرځولو په وخت)دواړو اوږو ته کتلو سره سلام ګرځول پکار دي؟

جواب: هو! د سلام ګرځولو په وخت نظر په اوږو باندې ساتل پکار دي.[2]

لمانځه کې ښي او چپ طرفته کتل

سوال: که یو سړی په لمانځه کې ښي او چپ طرفته وګوري.سر واړوي یا د سترګو په کونجوکې وګوري، نو ایا دې سره په لمانځه کې نقصان راځي اوکه لمونځ مات شو؟اوکه د چا سینه واوړي، نو دې سره هم لمونځ ماتیږي او که نه؟

جواب: د سترګو په کونجو کې یوخوا بل خوا کتل مکروه تنزیهي دي.سریوې اوبلې خوا ته اړول مکروه تحریمی دي او که سینه د قبلې نه واوړي، نو دې سره لمونځ فاسدیږي.[3]

د تکبیر تحریمه نه پرته نورتول تکبیرونه سنت دي

سوال: یو مقتدي د مصروفیت له وجې یا د بل څه وجې نه د ارکانو د برابرولو په وخت کې تکبیر ونشوویلی یا یې یو تکبیر وویلې او یو نه.(تکبیر تحریمه یې ضرور ویلی دی)نو ددې نقصان په وجه ایا د هغه لمونځ فاسد شو؟ او دا هم بیان کړئ چې د تکبیر تحریمه نه پرته نور ټول تکبیرونه فرض دي که واجب دي که سنت اوکه مستحب؟

---

[1] النية ارادة الدخول فى الصلاة والشرط ان يعلم بقلبه اى صلاة يصلى.(عالمگيرى ج:۱ ص:٦٥).

[2] وآدابها(الصلاة)نظرة......عند التسليمة الاولى الى منكبه اليمن وعند الثانية الى منكبه الايسر.(عالمگيرى ج:۱ ص:۷۳).

[3] ويكره ان يلتف يمنة او يسرة بان يحول بعض وجهه عن القبلة فاما ان ينظر بموق عينه ولايحول وجهه فلا باس به.(عالمگيرى ج:۱ ص:۱۰٦)ولوحول القادر صدره عن القبلة فسدت صلاته ولوحول وجهه دون صدره لا تفسد.(عالمگيرى ج:۱ ص:۱۰۳).

جواب: تکبیر تحریمه فرض دی[۱] باقي تکبیرونه سنت دي[۲] که یې ونه ویل .نو بیا یې هم لمونځ کیږي [۳]

د تکبیر تحریمه په وخت کې د لاس پورته کولو صحیح طریقه

سوال: د تکبیر تحریمه په وخت کې د لاس پورته کولو دري روایات دي: یو د اوږو برابر، دویم د غوږونو برابر او دریم د سر د ویښتو برابر، سوال دا دی چې رسول الله ﷺ هم د اوږو پورې لاسونه پورته کړي وو اوکه راویانو په قصد باندې د روایت کولو په وخت کې هغه کې بدلون وکړ چې په امت کې اختلاف پیدا شي؟

جواب: درې واړه روایتونه صحیح دي او په دې کې هیڅ تعارض نشته.د لاسونو لاندې حصه د اوږو پورې،غټه ګوته د غوږونو برابر اونورې ګوتې د سر پورې ، دغټې ګوتې د غوږونو یوسکو (نرمو) ته وړل پکار دي.[۴]

د تکبیر په وخت کې د ورغیو مخ کوم طرف ته کول پکار دي

سوال: جناب ! ما یو ځای لوستلي و چې د لمونځ شروع کولو او تکبیرویلو په وخت چې کله لاس غوږونو پورې پورته کیږي .نو هغه وخت د ورغویو مخ قبلې طرف ته کول پکار دي او سره له دې ما خپل کوروالا او ډیر لمونځ کونکي لیدلي دي چې د تکبیر د ویلو په وخت کې د هغوی د لاسونو ورغوي د هغوی د مخ طرف ته وي،تاسو ته درخواست دا دی چې د قرآن اوسنت په رڼا کې جواب راکړئ چې د تکبیر ویلو په دواړو طریقو کې غوره طریقه کومه ده؟

جواب: په درمختار کې دواړه طریقې لیکل شوي دي او دواړه صحیح دي، خو قبلې ته مخ کول یې غوره دي.[۵]

تکبیر تحریمه کې لاسونه کوم ځای پورې پررته کړل شي؟

سوال: دلمونځ شروع کولو په وخت چې لاسونه پورته کیږي ،نو کوم ځای پورې پورته کول یې

۱](الفصل الاول فی فرائض الصلاة)وهی ست(منها التحریمة)...الخ.(عالمگیری ج:۱ ص:٦٨).وایضا من فرائضها التی لا تصح بدونها التحریمة قائمًا وهی شرط.(درمختار)(وفی الشامی)(قوله التحریمة)المراد بها جملة ذکر خالص مثل الله اکبر...الخ.(شامی ج:۱ ص:٤٤٢،باب صفة الصلاة)_

۲](سننها)....وجهر الامام بالتکبیر....وتکبیر الرکوع....وتکبیر السجود...الخ.(عالمگیری ج:۱ ص:۷۲)

۳] ترک السنة لا یوجب فسادًا ولا سهوًا...الخ.(درمختار مع الشامی ص:٤۷۳،٤۷٤)_

٤] (وکیفیتها)اذا اراد الدخول فی الصلاة کبر ورفع یدیه حذاء اذنیه حتی یحاذی بابهامیه شحمتی اذنیه وبرؤس الاصابع فروع اذنیه کذا فی التبیین.(عالمگیری ج:۱ ص:۷۳)_

٥] ویستقبل بکفیه القبلة وقیل خدیه.(در مع الرد ج:۱ ص:٤۸۲)،(وایضا)ذکر الطحاوی انه یرفع یدیه ناشرًا اصابعه مستقبلاً بهما القبلة.......حتی تکون الاصابع نحو القبلة..الخ.(البدائع الصنائع ج:۱ ص:۱۹۹)

پکار دي؟ ځکه چې وروړمې سینې پورې هم لاسونه نه پورته کوي او هغه وایي چې بس معمولي پورته کول یې کافي دي

جواب: په درمختار کې دي چې د ګوتو سرونه د غوږونو نرمیو سره لګېدل پکار دي.[۱]

د تکبیر تحریمه په وخت د ورغویو مخ باید کوم طرفته وی؟

سوال: ما یو رساله ولوسته کومه چې شیخ الاسلام حضرت مولانا مفتي محمدتقی عثماني صاحب لیکلې ده چې د لمونځ شروع کولو په وخت" لاسونه غوږونو پورې داسې پورته کړئ چې د ورغوو مخ د قبلې طرفته وي او د ګوتو سرونه د غوږونو نرمیو سره یا خو بالکل ولګیږي اویا هغو سره برابر شي،او نورې ګوتې پورته طرفته سیدا وي"،عرض دا دی چې زموږ د محلې د جومات امام"الله اکبر"ویلو په وخت د لاسونو مخ د قبلې په ځای بل طرفته وي یعنی د قبلې په طرف نه وي،نو ایا دغه شان لمونځ کیږی؟

جواب: لمونځ کیږي، غوره هغه خبره ده کومه چې مولانامحمدتقي عثماني صاحب لیکلې ده.[۲]

مقتدیانو ته پکار دي چې د امام د تکبیر د ختمیدو انتظار وکړي

سوال: ځینوجوماتونو کې امامِ صاحب تکبیرتحریمه(د لمانځه اولنی تکبیر)ډیر اوږد وایي که امام صاحب د تکبیر یعنی د **الله اکبر** آخري حرف"را"ختم کړی نه وي او مقتدي مخکې تکبیر ختم کړي، نو ایا د مقتدی لمونځ دې امام پسې کیږي؟

جواب: امام ته پکار دي چې تکبیر دومره اوږد نه کړي او مقتدیانو ته پکار دي چې د امام د تکبیر نه د فارغیدو انتظار وکړي، دې له پاره چې ددوی تکبیر د امام د تکبیر نه مخکې ختم نه شي که د امام تکبیر ختم شوی نه وي او د مقتدي تکبیر مخکې ختم شو ،نو دا مقتدي په لمانځه کې شامل نه شو او نه امام پسې دده لمونځ وشو، غرض دا چې د مقتدي د لمانځه د شروع کیدو له پاره دا شرط دی چې دده تکبیر تحریمه د امام د تکبیر تحریمه د ختمیدو نه مخکې ختمه نه شي که نه د مقتدي لمونځ نه کیږي.[۳]

امام تکبیر تحریمه کله ووایي

سوال: زموږ د جومات امام د اقامت د ختمېدو نه مخکې الله اکبر ویلو سره نیت تړي، تاسو بیان کړئ چې کله پوره اقامت وشي موږ هغه وخت نیت وتړواوکه دامام صاحب سره نیت وتړو؟

۱]ورفع یدیه ماسا باهامه شحمتی اذنیه.(ردالمحتار مع الدر المختار ج:۱ ص:۴۸۲).

۲]ورفع یدیه ماسا باهامه شحمتی اذنیه.(ردالمحتار مع الدر المختار ج:۱ ص:۴۸۲).

۳]اجمعوا علی ان المقتدی لوفرغ من قوله الله قبل فراغ الامام من ذلک لایکون شارعا فی الصلوة.(عالمگیری ج:۱ ص:٦۹).

جواب: غوره داده چې امام د اقامت ختمېدلو سره تکبیر تحریمه ووایي چې اقامت ویونکی هم ورسره شریک شي[۱]

امام او مقتدي تکبیر تحریمه کله ووایي؟

سوال: د تکبیرتحریمه صحیح طریقه څه ده؟ ځیني خلک په لوړ آواز سره تکبیر تحریمه وایي. ځیني یې په مزه وایي او ځیني یې بالکل په پټه خوله وایي . له دې نه پرته ځیني امامان تکبیر دومره په راښکلو سره وایي چې ځینو مقتدیانو له مخکې نه نیت تړلی وي لهذا په دې سلسله کې امام او مقتدي او د ښځو لمونځ کونکي له پاره شرعا صحیح طریقه څه ده؟

جواب: تکبیر تحریمه دې په دومره آواز سره وویل شي چې پخپله یې واوري[۲] امام ته پکار دي چې تکبیر زیات نه راکاږي او مقتدیانو ته پکار دي چې د امام د تکبیر شروع کولو نه وروسته تکبیر شروع کړي او د ختمېدو نه وروسته یې ختم کړي[۳] که مقتدي د امام نه مخکې تکبیر تحریمه ختم کړي .نو د هغه لمونځ نه کیږي[۴]

د مقتدی د پاره په تکبیر اولی کې د شریکېدو درجات

سوال: ما اوریدلي دي چې د تکبیراولی درې درجات دي اول دا چې کله امام صاحب الله اکبر ووایي .نو موږ هم الله اکبر ویلو سره لاسونه وتړو. دویمه دا چې کله امام صاحب قرآت شروع کړي د هغه نه موږ مخکې لاسونه وتړو او دریمه دا چې د امام صاحب رکوع ته د تلو نه مخکې موږ لاسونه وتړو. که دا صحیح وي. نو ایا موږ ته به د تکبیر اولی ثواب راکول کیږي او که نه؟

جواب: صحیح خو داده چې د تکبیر اولی فضیلت د هغه سړي له پاره دی چې د امام د تکبیر تحریمه ویلو په وخت کې حاضر وي. ځینوپه دې کې زیات وسعت پیدا کولو سره ویلي دي چې کوم سړی د قرآت د شروع کولو نه مخکې شریک شي. هغه ته به هم فضیلت حاصل شي او ځینونوروسعت هم کړی دی چې څوک د قرآت د ختمیدلو نه مخکې شریک شي د هغه له پاره هم فضیلت دی[۵]

۱] قال ابو یوسف:یشرع اذا فرغ من الاقامة محافظة علی فضیلة متابعة المؤذن واعانة للمؤذن علی الشروع معه.(البحر الرائق ج:۱ ص:۳۰٤)_

۲]ومنها ان الامام یجهر بالتکبیر ویخفی به المنفرد والمقتدی لان الاصل فی الاذکار هو الاخفاء.وانما الجهر فی حق الامام لحاجته الی الاعلام.(البدائع ج:۱ ص:۱۹۹)_

۳]ومنها ان یکبر المقتدی مقارنا لتکبیر الامام فهو افضل باتفاق الروایات عن ابی حنیفة.......وقال ابو یوسف السنة ان یکبربعد فراغ الامام من التکبیر.(البدائع ج:۱ ص:۲۰۰)_

٤] فلو قال الله مع الامام و اکبر قبله.......لم یصح فی الاصح کما لو فرغ من الله قبل الامام.(درمع الرد ج:۱ ص:٤٨٠)_

۵] وتظهر فائدة الخلاف فی وقت ادراک فضیلة تکبیرة الافتتاح فعنده المقارنة..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

تکبیر تحریمه دوه ځله ویلو سره لمونځ نه فاسد یږي

سوال: که لمونځ کونکی قصدا یا په هیره تکبیرتحریمه یا د سلام الفاظ دوه خله ادا کړي په دې سره لمونځ فاسد یږي او که نه؟

جواب: لمونځ کیږي [۱]

په لمانځه کې لاسونه تړل سنت دي

سوال: ځینې خلک د نیت کولو نه وروسته لاسونه نه تړي ایا د هغوی لمونځ کیږي؟ او ایا رسول الله ﷺ هم په مختلفو طریقوسره لمونځ اداکړی دی؟

جواب: لاسونه تړل د سنتو نه ثابت دي په دې وجه د جمهور امت په نزد لاس تړل سنت دي [۲]

رفع الیدین کول څنګه دي

سوال: ایا رفع الیدین جائز دي؟ سره له دې چې ځینې خلک یې کوي او ځینې یې نه کوي

جواب: رفع الیدین دتکبیر تحریمه له پاره بالاتفاق سنت دي. له دې نه پرته په نورو موقعو باندې نه کول غوره دي. [۳]

ایا رفع الیدین ضروري دي؟

سوال: زمونږ په ګاونډ کې څه خلک اوسیږي، هغوی وایي چې له رفع الیدین نه پرته ستاسو لمونځ بالکل نه کیږي او د (سنن الکبری، بیهقي) نه حدیث پیش کوي چې رسول الله ﷺ د مرګ پورې ي رفع الیدین کړي دي او سره له دې چې مونږ رفع الیدین نه کوو مونږ سره څوک عالم هم نشته چې د هغه نه مونږ دا پوښتنه وکړو مهرباني وکړئ او تاسو د دې مسئلې مکمل وضاحت وکړئ

جواب: د رسول الله ﷺ نه د رفع الیدین پریښودل هم ثابت دي [۴] او زمونږ امام ابوحنیفه او

...بقیه د تیرمخ].. وعنهما اذا کبر فی وقت الثناء قیل بالشروع قبل قراءة ثلاث آیات لو کان المقتدی حاضرًا وقیل سبع لو غائبًا، وقیل بادراک الرکعة الاولی وهذا او سع وهو الصحیح. (شامی ج: ۱ ص: ۵۲۶)۔

۱] واذا شک المقتدی انه هل کبر مع الامام او بعده یحکم باکبر رأیه ..... والأحوط ان یکبر ثانیا لیقطع الشک بالیقین. (حلبی کبیر ص: ۲۶۱)۔

۲] فقد قال عامة العلماء ان السنة هی وضع الیمین علی الشمال......ولنا ما روی عن النبی صلی الله علیه وسلم انه قال: ثلاث من سنن المرسلین.....وفی روایة وضع الیمین علی الشمال تحت السرة فی الصلاة...الخ. (البدائع الصنائع ج: ۱ ص: ۲۰۱)۔

۳] اما اصل الرفع فلما روی عن ابن عباس وابن عمر رضی الله عنهما موقوفا علیهما ومرفوعا الی رسول الله صلی الله علیه وسلم انه قال: لا ترفع الایدی الا فی سبع مواطن، وذکر من جملتها تکبیرة الافتتاح.......وعلی هذا اجماع السلف...الخ. (بدائع صنائع ج: ۱ ص: ۱۹۹)۔

۴](وفی شرح معانی الآثار للطحاوی) عن براء بن عازب قال: کان ..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

نورو ددين امامانو هم دا غوره کړې ده[۱] کوم حضرات چې د رفع اليدين قائل دي هغوی هم دې ته مستحب او افضل وايي فرض او واجب ورته نه وايي په دې وجه دا ويل چې د رفع اليدين نه پرته لمونځ نه کيږي خالص جهالت دی.د سنن کبری د کوم روايت چې تاسو ذکر کړی دي هغه ډېر زيات کمزوری دی، بلکې ځينو محدثينو ورته موضوع ويلي دي (اوګوره حاشيه نصب الرايه ج۱ص ٤١٠)

رفع اليدين سنت ګڼلو کې څه حرج دی؟

سوال: زه کوشش کوم چې زيات نه زيات په سنتو باندې عمل وکړم.دې وخت کې زه د بخاري شريف مطالعه کوم.په هغه کې د رفع يدين ذکر دی.ما د سنتو په خيال سره ځينو لمونځونو کې رفع اليدين وکړل ،نو زه ملګرو منع کړم چې موږ حنفيان يو.موږ ته په دې باندې عمل کول پکار نه دي.لهذا اوس ما رفع اليدين پريښې دي.سوال دا دی چې د سنتو په خيال سره که رفع اليدين وکړل شي ،نو په دې کې څه حرج شته؟ستاسو څه رايه ده؟ د قرآن و سنت په رڼا کې وضاحت وکړئ.

جواب: څنګه چې رفع اليدين سنت دي ،نو دغه شان د رفع اليدين پريښودل هم سنت دي[۲] بلکې دا اخري سنت دي، له دې وجې نه د سنتو په خيال باندې رفع اليدين کولو کې څه حرج خونشته،خوکوم سړي چې د حقيقت حال نه خبر نه وي هغه دا خيال کوي چې رفع اليدين سنت دي ، خود رفع اليدين پريښودل سنت نه دي، په دې کې دوه خرابيانې راغلې يوه د سنت عمل د سنت کيدو نفې کول،دويم د رفع اليدين نه کوونکي د سنتو پريښودونکي ګڼل. **والله اعلم**

په نيت او رکوع کې دې لاس نه پريږدي

سوال: د لمانځه نيت کولو سره لاسونه د غوږونو پورې پورته کولو نه وروسته د ګونډو پورې پريښودل او بيا په نوم(ناف) تړل پکار دي يا د غوږونو دنرميو پورې پورته کولو نه وروسته فورا

...بقيه د تيرمخ]..النبي صلى الله عليه وسلم اذا كبر لافتتاح الصلاة رفع يديه حتى يكون ابهاماه قريباً من شحمتى اذنيه ثم لايعود.(ص:١٦٢).عن الاسود قال:رايت عمر بن الخطاب يرفع يديه فى اول تكبيرة ثم لايعود.(ص:١٦٤).(وفى الترمذى)عن ابن مسعود رضى الله عنه قال:الا اصلى بكم صلوة رسول الله صلى الله عليه وسلم؟فصلى فلم يرفع يديه الا فى اول مرة.(ص:٣٥)_

۱]واما رفع اليدين عند التكبير فليس بسنة فى الفرائض عندنا الا فى تكبيرة الافتتاح.(بدائع صنائع ج:۱ ص:٢٠٧)_

۲](وفى شرح معانى الآثار للطحاوى)عن براء بن عازب قال:كان النبى صلى الله عليه وسلم اذا كبر لافتتاح الصلاة رفع يديه حتى يكون ابهاماه من شحمتى اذنيه ثم لايعود. (ص:١٦٢).عن الاسود قال:رايت عمر بن الخطاب يرفع يديه فى اول تكبيرة ثم لايعود.(ص:١٦٤).(وفى الترمذى) عن ابن مسعود رضى الله عنه قال:الا اصلى بكم صلوة رسول الله صلى الله عليه وسلم؟فصلى فلم يرفع يديه الا فى اول مرة.(ص:٣٥)_

د نوم نه لاندې تړل پکار دي؟ همدغه شان رکوع ته د تللو سره لومړی لاسونه پرېښودلو سره څو سیکنډه ولاړوالي نه وروسته رکوع ته تلل پکار دي یا د تړل شویو لاسونو د پرېښودلو نه وروسته فورا رکوع ته لاړ شي؟

جواب: د لاس پرېښودلو ضرورت نشته.د غوږونو د نرمیوپورې لاس پورته کولو نه وروسته دې وتړي همدغه شان رکوع ته د تلو په وخت کې په ولاړه باندې د لاس پرېښودلو ضرورت نشته لاس سمدلاسه دې رکوع ته لاړ شي.

په ولاړه لمونځ شروع کول او په ناسته ختمول

سوال: د کور ښځې چې کله لمونځ کوي، نو اول په ولاړه لمونځ شروع کړي.له دې نه وروسته په ناسته باندې ټول رکعتونه کوي.سنت نفل هم په ناسته کوي.ما هغوی ډیرخل منع کړل او پوه مې کړل،خو هغوی وایي چې مونږ ته حافظ صاحب ویلي دي چې ښځو ته په ناسته باندې لمونځ کول پکار دي،له دې وجې نه مونږ په ناسته باندې لمونځ کوو.ایا دغه شان په ناسته باندې لمونځ کولو سره لمونځ کیږي؟ تردې وخت پورې چې هغوی کوم لمونځونه کړي دي. نو ایا هغه ادا شو؟که ادا شوي نه دي، نو بیاباید څه وکړل شي؟

جواب: په لمانځه کې قیام کول فرض دي[1] او"قیام"دریدلو ته وایي.له دې وجې نه فرض او وتر لمونځ په ناسته باندې نه کیږي، هرکله چې انسان په ولاړه باندې قدرت لري،کوم حکم چې د سړي له پاره دی، نوهغه حکم د ښځې لپاره هم دی. ستاسو د کور ښځو چې په ناسته باندې څومره لمونځونه کړي دي، نو هغه ادا شوي نه دي، هغه دې په دویم ځل وکړي.کوم حافظ صاحب چې دوی ته ویلي دي هغه به څوک جاهل وي،دې حافظ صاحب ته ووایئ چې د کوم کتاب نه تاسو دا مسئله بیان کړې ده؟

دضرورت له وجې په ناسته لمونځ کیږي

سوال: زما د مور بي بي عمر څلوېښت کاله ده. ولاړه باندې لمونځ کولو سره یې ساه بندیږي. اول چې دوه رکعته وکړي بیا په ناسته باندې فرض پوره کړي. نو داسې کولی شي؟

جواب: فرض لمونځ خو په ولاړه باندې کول پکار دي،خوکه یوڅوک دریدیدلی نه شي، نو په ناسته باندې یې کولی شي. ستاسو مور بي بي دې کوشش کوي څومره رکعتونه چې په ولاړه باندې کولی شي هغه دې په ولاړه کوي او کله چې دریدیدلی نه شي، نو په ناسته دې کوي.[2]

---

[1]]ومنها القيام وهو فرض فی صلاة الفرض والوتر.(عالمگیری ج:۱ ص:۶۹). ایضا: ومنها القيام فی فرض وملحق به.......لقادر عليه وعلى السجود.(تنوير الابصار مع الدر المختار ج:۱ ص:۴۴٤).

[2]]ومنها القيام وهو فرض صلاة الفرض والوتر.(عالمگیری ج:۱ ص:۶۹).

رکوع کې په زنګنو باندې د لاسونو کېښودلو کیفیت

سوال: رکوع کې زنګنوباندې د لاسونو کېښودلو په وخت ګوتې خلاصې ساتل پکار دي او بندې؟ او د لاس کېښودلو به څه کیفیت وي؟

جواب: ګوتې خلاصې ساتل پکار دي او لاس سره زنګنونه نیول پکار دي [۱].

ایا د رکوع په حالت کې په زنګنو کې کوږوالی پکار دی

سوال: کله چې څوک رکوع ته ځي، نوپه هغه وخت کې دپښو کږول پکار دي اوکه نیغې ساتل؟ زمونږ یو صاحب وایي چې په دغه وخت کې پوره بدن د لفظ محمد په شان جوړول پکار دي او زه وایم چې سر او ملا یو شان نېغول پکار دي او پښې او زنګنونه یو شان پکار دي او هغه وایي چې په زنګنو کې کوږوالی پکار دی.

جواب: تاسو صحیح وایئ. [۲]

په ناسته لمونځ کونکی په رکوع کې څومره ښکته شي؟

سوال: دناستې په لمانځه کې درکوع په وخت کې څومره ښکته کیدل پکار دي؟

جواب: دومره دې ښکته شي چې سر دزنګنو سره برابر شي. [۳]

ایا امام به هم "ربنا لک الحمد" وایي؟

سوال: ایا امام به هم"ربنا لك الحمد"وایي؟په نه لوستلو سره په لمانځه کې څه کمی راځي؟

جواب: دا امام ته هم ویل پکار دي. [۴]

ایا د رکوع نه معمولي پورته کېدو نه وروسته سجدې ته تلل صحیح دي؟

سوال: د رکوع نه معمولي پورته کیدونه وروسته فوراً سجدې ته تللو کې څه حرج شته او که

---

[۱]]ویضع یدیه فی الرکوع علی رکبتیه معتمدًا بهما ویفرج اصابعه...الخ.(حلبی کبیر ص:۳۱۵).

[۲]] وینصب ساقیه فجعلها شبه القوس کما یفعله کثیر من العوام مکروه بحر.(الشامیة ج:۱ ص:۴۹۴)۔

[۳]] ولوکان یصلی قاعدًا ینبغی ان یحاذی جبهته قدام رکبتیه لیحصل الرکوع اهـ قلت ولعله علی تمام الرکوع والا فقد علمت حصوله باصل طاطاة الراس ای مع انحناء الظهر تامل.(الشامیة ج:۱ ص:۴۴۸،بحث الرکوع والسجود)

[۴]]ان المصلی لا یخلوا اما ان کان اماماً او مقتدیا او منفردا فان کان امامًا یقول:سمع الله لمن حمده،ولا یقول: ربنا لک الحمد فی قول ابی حنیفة،وقال ابو یوسف ومحمد والشافعی یجمع بن التسمیع والتحمید، وروی عن ابی حنیفة مثل قولهما احتجوا بما روی عن عائشة رضی الله عنها انها قالت:کان رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا رفع رأسه من الرکوع قال:سمع الله لمن حمده ربنالک الحمد،وغالب احواله کان هوالامام(بدائع الصنائع ج:۱ص:۲۰۹،طبع سعید)

نه؟که وي، نو صحیح سنت طریقه څه ده؟

جواب: بالکل نیغ درېدل پکار دي او د یو تسبیح په اندازه باندې به ولاړ وي د "**سمع الله لمن حمده**" نه وروسته به اطمینان سره درېږي او "**ربنالك الحمد**" به ووايي ا[۱]

د رکوع نه وروسته نیغ درېدل او د اولې سجدې نه وروسته کېناستل واجب دي

سوال: ډېر لمانځه والا مو کتلي دي چې د رکوع نه وروسته نیغ نه درېږي او فوراً سجدې ته لاړ شي،دغه شان د یوې سجدې نه وروسته نیغ ناست هم نه وي چې دویمې سجدې ته لاړ شي،ایا دغه شان لمونځ صحیح ده؟ د رکوع نه وروسته او دواړو سجدو مینځ کې څومره وقفه کول ضروري دي؟

جواب: د رکوع نه وروسته نیغ درېدل او د دواړو سجدو مینځ کې کېناستل واجب دي.که چا دا واجب پرېښودل، نو په هغه باندې لمونځ بیاکول واجب دي.افسوس دی چې ډېر لمونځ گزار په دې مسئله کې غلطي کوي.[۲]

د سمع الله لمن حمده په ځای که الله اکبر وویل شو نو لمونځ کېږي

سوال: تېرو ورځو کې زمونږ د جومات امام صاحب په رخصتي باندې و. په لمونځ کونکو کې یو صاحب د ماسخوتن د لمانځه امامت وکړ. په اخري دوه رکعتونو کې هغه د رکوع نه د سر پورته کولو پرمهال د سمع الله لمن حمده په ځای د الله اکبر کلمات وویل د لمانځه نه وروسته اکثر مقتدیانو وویل چې لمونځ دې په دویم ځل ادا کړل شي، چا پکې وویل د لمونځ دویم ځل ادا کولو ضرورت نشته. خوبیا لمونځ په دویم ځل ادا نه شو.اکثر مقتدیان غیر مطمئن لاړل. ایا چې کله امام صاحب د رکوع نه د سر پورته کولونه وروسته په هېره باندې الله اکبر ووايي. نو مقتدي ته دفتحې ورکول پکار دي؟ او ایا په دې طریقې سره لمونځ صحیح ده؟

جواب: لمونځ صحیح کېږي د فتحې ورکولو ضرورت نشته.[۳]

د رکوع نه وروسته څه ویل پکار دي

سوال: په لمانځه کې له رکوع نه دپورته کېدو په وخت کې "**ربنا لک الحمد حمدا کثیرا طیبا مبارکا فیه**" پوره ویل پکار دي او هم دغه شان د دوو سجدو مینځ کې په جلسه کې هغه دعا

---

[۱] ثم بعد اتمامه الركوع يرفع رأسه حتى يستوى قائمًا ويقول الامام حال الرفع:سمع الله لمن حمده.......وان كان المصلى مقتديا فانه ياتى بالتحميد...وان كان المصلى منفردًا ياتى بهما(حلبى كبيرص:۳۱۸،طبع سهيل اكيدمى)

[۲] قال الشيخ كمال الدين بن الهمام:وينبغى ان تكون القومة والجلسة واجبتين للمواظبة(حلبى كبيرص. ۲۹٤)

[۳] (قوله مسمعًا)اى قائلا سمع الله لمن حمده،وافاد انه لايكبر خالة الرفع خلافًا لما فى المحيط من انه سنة وان ادعى الطحاوى تواتر العمل به...الخ.(الشامية ج:۱ ص:٤۹٦،مطلب فى اطالة الركوع للجائى)_

کومه چې د لمانځه په رسالو کې عموما لیکل شوي وي ایا هغه هم پوره لوستل پکار دي؟

جواب: دا دعا ګانې عام طور سره په نفل لمونځونو کې لوستل کیږي. که په فرض لمونځ کې یې هم وکړل شي، نو ښه ده. خو که امام وي نو ددې لحاظ دې وساتي چې مقتدیانو ته تکلیف نه وي.[۱]

په سجده کې پوزه په ځمکې باندې لګول

سوال: په لمانځه کې ما ډېر خلک لیدلي دي چې د سجدې په وخت کې یوازې یوځل پوزه ځمکې ته یوسي. بیا د سجدې مکمل کولو پورې یوازې تندی لګوي ایا د هغوی لمونځ کیږي؟

جواب: په سجده کې د تندي او پوزې لګول دواړه ضروري دي. یوازې د تندي لګول او د پوزې نه لګول مکروه تحریمي دي[۲] د داسې لمونځ په دویم ځل راګرځول واجب دي[۳] او یو ځل پوزه لګولو سره بیا نه لګول غلط دي.[۴]

که سجده په ځمکه نه شي کولی نو څنګه یې وکړي؟

سوال: زما پښه د راغورځېدو په وجه کمزورې ده او په زنګون (ګونډه) کې د درد په وجه سجده په ځمکه باندې نه شم کولی او د ځمکې نه لږه پورته سجده کیږي ایا هم داسې سجده کوم یا دخه شي کېښودلو سره سجده کوم؟ مهرباني سره بیان کړئ چې په دې طریقې سره به زما لمونځ وشي؟

جواب: که ستاسو په سجدې باندې قدرت نه وي، نو د سجدې اشاره کول کافي دي[۵] یو شی مخې ته کېښودو سره په هغه باندې سجده کول څه ضروري نه دي.[۶]

۱] (ولیس بینهما ذکر مسنون،وکذا)لیس (بعد رفعه من الرکوع)دُعاء......(علی المذهب)وما ورد محمول علی النفل (درمختار)(وقال الشامی تحت قوله محمول علی النفل)......وقال علی انه ان ثبت فی المکتوبة فلیکن فی حاله الانفراد،او الجماعة والمامو مون محصورون لایتثقلون بذلک...الخ. (الشامیة ج:۱ ص:۵۰۶ قبیل مطلب مهم فی عقد الاصابع عند التشهد)_

۲] وکمال السنة فی السجود وضع الجبهة والانف جمیعًا ولو وضع احدهما فقط ان کان من عذر لایکره وان کان من غیر عذر فان وضع جبهته دون انفه جاز اجماعًا ویکره.(عالمگیری ج:۱ ص:۷۰،طبع بلوچستان)_

۳]کل صلاة ادیت مع کراهة التحریم یجب اعادتها.(الدر المختار مع الرد ج:۱ ص:۴۵۷)_

۴] (وکره اقتصاره)فی السجود(علی احدهما)ومنها الاکتفاء بالانف بلا عذر والیه صح رجوع وعلیه الفتوی...الخ.(الدر المختار مع الرد المحتار ج:۱ ص:۴۹۸،طبع ایچ ایم سعید کراچی)_

۵]وان عجزعن القیام والرکوع والسجود وقدرعلی القعودیصلی قاعدًا بایماء ویجعل السجوداخفض من الرکوع کذا فی فتاوی قاضیخان حتی لوسوی لم یصح .کذا فی البحرالرائق.(عالمگیری ج:۱ ص:۱۳۶،طبع بلوچستان)

۶] ویکره للمؤمی ان یرفع الیه عودا اووسادة لیسجد علیه،فان فعل ذلک ینظر ان کان یخفض راسه للرکوع ثم للسجود اخفض من الرکوع جازت صلاته کذافی الخلاصة.(عالمگیری ج:۱ ص:۱۳۶)_

په سجده کې څنګلي خورول او په پنډو باندې کېښودل

سوال: په سجده کې څه خلک خپلې څنګلې په پنډو باندې کېښودلو سره سجده کوي او پورته شي او څه خلک په سجده کې خپلې څنګلې داسې ښې او ګس اړخ ته خورې کړې چې د نژدې لمونځ کونکي په سینه کې د هغه څنګلې ننوځي ایا دا صحیح دي؟

جواب: په جمعه کې څنګلې زیاتې خورول نه دي پکار چې هغې سره نورو ته تکلیف وي په ګونډو باندې څنګلې کېښودل که ضرورت وي، نو جائز دي.[1]

سجدې ته د تللو طریقه

سوال: سجدې ته د تللو په وخت اول څه کېښودل پکار دي؟ لاس او ګونډې؟ او د سجدې په حالت کې د کوموکوموشیانو په ځمکه باندې کېښودل ضروري دي، چې د هغه نه پرته لمونځ نه کیږي؟

جواب: سجدې ته د تللو په وخت اول ګونډې، بیا لاسونه، بیا د تندي کېښودل پکار دي، سجده په اوو اندامونو باندې کیږي: تندی (له پوزې سره) دواړه لاسونه، دواړه ګونډې او دواړه پنجې (د پښو اولنی برخه). [2]

سجده کې ځمکه باندې د پوزې د کېښودلو شرعي حیثیت

سوال: په سجده کې پوزه په ځمکه باندې کېښودل سنت دي ، واجب دي او که فرض؟ که یو څوک له څه عذر نه پرته سجده کې پوزه کله په ځمکه لګوي او کله یې پورته کوي، نو داسې سجده کولو سره لمونځ صحیح کیږي او که نه؟

جواب: په سجده کې پوزه او تندی دواړه په ځمکه باندې کېښودل واجب دي، پوزه په ځمکه باندې کله کېښودل او کله پورته کول غلط دي، خو هر کله چې یې یوځل پوزه په ځمکه باندې کېښودله، نو واجب ادا شو او لمونځ وشو، خو د سنت خلاف لازم شو. [3]

---

[1] ويبدى ضبعيه لقوله عليه السلام وابد ضبعيک ويروى وابد من الابداد وهو المد والاول من الابداء وهو الاظهار ويجاف بطنه عن فخذيه، لانه عليه السلام كان اذا سجد جافى حتى ان بهمة لو ارادت ان تمر بين يديه لمرت وقيل اذاكان فى الصف لايجاف كى لايؤذى جاره. (فتح القدير ج:۱ ص:۲۱۵، طبع دار صادر، بيروت).

[2] عن ابن عباس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: امرت ان اسجد على سبعة اعظم على الجبهة واليدين والركبتين واطراف القدمين ولانكفت الثياب والشعر. متفق عليه. (مشكوة ص:۸۳، باب السجود و فضله). عن ابن عباس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: امرت ان اسجد على سبعة اعظم على الجبهة واليدين والركبتين واطراف القدمين ولانكفت الثياب والشعر. متفق عليه. (مشكوة ص:۸۳، باب السجود وفضله).

[3] وكمال السنة فى السجود وضع الجبهة والانف جميعًا، ولو وضع احدهما فقط ان كان من عذر لايكره، وان كان من غير عذر فان وضع جبهته دون انفه جاز اجماعًا ويكره وان كان بالعكس فكذلك عند ابى حنيفة رحمه الله، وقالا لا يجوز وعليه الفتوى. (عالمگيرى ج:۱ ص:۷۰، الفصل الاول فى فرائض الصلاة، ومنها السجود).

د دواړو سجدو مینځ کې څومره وخت کیناستل ضروري دي

سوال: د دواړو سجدو مینځ کې څومره وخت ناسته ضروري ده؟ځکه چې خینې خلک لیدل شوي دي چې د یوې سجدې نه مکمل پورته شوي نه وي چې دویمې سجدې ته لاړ شي.که حدیث مبارك کې د دواړو سجدو مینځ کې څه دعا لوستل وي، نو هغه هم ولیکئ.

جواب: د دواړو سجدو مینځ کې بالکل نیغ کیناستل پکار دي او کم نه کم د یو تسبیح په اندازه دې کیني او "**اللهم اغفرلی**" دې لولي.[1]

د سجدې په وخت که دواړه پښې له ځمکې نه پورته شي

سوال: د سجدې کولو په وخت که دواړه پښې له ځمکې نه پورته شي. نو ایا لمونځ ماتیږي؟

جواب: که درې ځله د "**سبحان الله**" ویلو په مقدار باندې پورته شي. نو لمونځ ماتیږي.[2]

که په سجده کې د ښځو د پښو سرونه پورته شي نو د لمانځه حکم

سوال: د ښځو د پښو سرونه(سجده کې د تللو په وخت او د سجدې نه د پورته کیدو په وخت)د ځمکې نه پورته کیږي،نو ددوی لمونځ ماتیږي؟

جواب: لمونځ نه ماتیږي[3].خوښځه چې کله صحیح طریقې سره راغونډه شي او سجده کوي. نو پښې به یې څنګه پورته شي.

ایا سجدهٔ کې د پښو له ځمکې نه پورته کیدو سره لمونځ نه کیږي

سوال: عرض دا دی چې یو څو ورځې وړاندې مې د حضرت مولانازکریا صاحب **رحمة الله علیه** د کتاب"فضائل حج"مطالعه کوله.په هغه کې په صفحه ۵۱(څلورم فصل د حج حقیقت)کې لیکلي دي لمونځ"سجده کې دواړو پښو پورته کولوسرهٔ ضائع کیږي. ځکه چې دا هم د سکون او د وقار نه خلاف دي".

جواب: په سجده کې د دواړو پښو یا د یوې پښې په ځمکې باندې لګول فرض دي،که په سجده کې یې یو پښه هم په ځمکه ونه لګوله، نو لمونځ یې نه کیږي.[4]

---

[1]]وتعدیل الارکان هو تسکین الجوارح حتی تطمئن مفاصله وادناه قدر تسبیحة.(عالمگیری ج:۱ ص:۷۱).

[2]]ولو سجدولم یضع قدمیه علی الارض لایجوز ولو وضع احداهما جاز مع الکراهة ان کان بغیر عذر...الخ. (عالمگیری ج: ۱ ص: ۷۰).ومن شرط جواز السجود ان لایرفع قدمیه فیه،فان رفعهما فی حال سجوده لاتجزیه السجدة. (الجوهرة النیرة ج:۱ ص:٦۳،باب صفة الصلاة،طبع مکتبه حقانیه).

[3]](فلووضع ظهرالقدم دون الاصابع.....تجوز صلاته کما لوقام علی قدم واحد.(عالمگیری ج:۱ ص:۷۰).

[4]]ولو سجد ولم یضع قدمیه علی الارض لایجوز ولو وضع احداهما جاز ..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

كه د سجدې ځاى سره ريډيو (په بند حالت كې) وي نو د لمانځه حكم

سوال: دسجدې له ځاى نه څه فاصله باندې ريډيو په بند حالت كې موجود وي. نولمونځ كيږي؟

جواب: لمونځ كيږي

د سجدې دوران كې د فرش او د تندي مينځ كې خولى راشي

سوال: د سجدې دوران كې كه خولى د فرش او د تندي مينځ كې راشي. نو لمانځه كې خو به څه خلل نه واقع كيږي؟

جواب: هيڅ حرج نشته. [1]

د سجدې په حالت كې كه ماشوم په شاباندې كيني نو څه كول پكار دي؟

سوال: دسجدې په حالت كې كه يوماشوم راشي اوپه ملا يا شاباندې كيني نو په دې صورت حال كې ماشوم غورځولو سره سجدې نه پورته كېدل پكار دي اوكه سجده اوږدول پكار دي؟

جواب: كه يو لاس سره ماشوم كوزكړل شي. نوغوره خبره ده كه نه سجده دې اوږده كړل شي [2]

ښځې به د سړيو په شان سجده كوي كه راټوليدوسره؟

سوال: څه خلك وايي چې ښځو ته لوړه سجده كول پكار دي لكه چې سړي يي كوي، ځكه چې د رسول الله ﷺ ارشاد دى (صلوا كما رايتمونى اصلى) او دا هم وايي چې په مكه مكرمه كې ښځې لوړه سجده كوي څه خلك بياوايي چې ښځو ته داسې سجده كول پكار دي چې په هغې كې د هغوى پښې له ځمكې سره لګيدلي وي او خېټه او پښې يې سره لګېدلې وي. يعنې غنډ انداز كې سجده كول پكار دي، تاسو بيان كړئ په دې باره كې ستاسو څه وينا ده؟ يعنې د قرآن او سنت په رڼا كې ايا صحيح دي؟

...بقيه د تيرمخ]..مع الكراهةان كان بغير عذر. (عالمگيرى ج:۱ ص:۷۰،طبع بلوچستان). ايضا: ومن شرط جواز السجود ان لايرفع قدميه فيه فان رفعهما فى حال سجوده لاتجزيه السجدة.(الجوهرة النيرة ج:۱ ص:۶۳،طبع حقانيه،ملتان).

[1] ومنها ان يسجد على الجبهة والانف من غير حائل من العمامة والقلنسوة ولو سجد على كور العمامة ووجد صلابة الارض جاز عندنا.(بدائع الصنائع ج:۱ ص:۲۱۰،طبع ايچ ايم سعيد).

[2] وعن ابى قتادة قال:رايت النبى صلى الله عليه وسلم يؤم الناس وامامة بنت ابى العاص على عاتقه،فاذا ركع وضعها واذا رفع من السجود اعادها.متفق عليه.(مشكوة ص:۹۰).وفى شرح المشكوة:لعل هذا مخصوص به عليه الصلوة والسلام او وقع قبل ورود قوله عليه الصلوة والسلام ان فى الصلوة لشغلا او لبيان الجواز فانه جائزمع الكراهة كما صرح به فى المنية.(مرقاة شرح المشكوة ج:۲ص:۳۲،باب مالايجوزمن العمل فى الصلاة).

جواب: د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد هرې ښځې ته د ځمکې سره يو ځاى کيدلو باندې د سجدې کولو حکم دى[1] په حديث کې دي چې رسول الله ﷺ ښځو ته هم دا هدايت کړى و[2] (مراسيل ابى داود ص۸، طبع کارخانه کتب کراچى)

د ښځو د سجدې طريقه

سوال: لمانځه کې د ښځو د سجدې کولو طريقه څنګه ده؟ په اسانو الفاظ کې راته ووايئ

جواب: "بهشتي زيور" "جنتي کالي" کې دې وکتل شي، مختصر دا چې ښځه به کيني او دواړه پښې به ښي طرفته وباسي او بيا به راغونډيدو سره سجده وکړي [3]

د ښځو د سجدې طريقه

سوال: ستاسو کالم د ډير وخت نه لولم، څو ځله مې د ليکلو سوچ وکړ، خو نن ستاسو توجه د ۱۴ اکتوبر صفحه باندې ستاسو کالم طرفته ګرځول غواړم، تاسو د ښځو د سجدې په باره کې جواب ليکلى دى چې په ناسته باندې به دواړه پښې ښي طرفته وباسي او بيا به دغه شان راغونډيدو سره سجده وکړي، مهرباني وکړئ په دې باره کې د يو حديث شريف حواله راکړئ کوم چې د بخاري شريف وي، نو غوره به وي، دلته مونږ ښځې په دې باره کې د حديث شريف په تلاش کې يو، خو نن پورې زمونږ له نظره تير شوى نه دى، د "بهشتي زيور" يا د بل کتاب حواله مه راکوئ، يوازې د نبي ﷺ د فرمان باره کې راته ووايئ چې په هغه کې نبي کريم ﷺ ښځو ته جدا طريقې سره لمونځ ښودلى وي.

جواب: بي بي! "بهشتي زيور" د فقه حنفي معتبر کتاب ده او زه د فقه حنفي مطابق مسئلې ليکم. نبي کريم ﷺ په ډيرو کارونو کې د سړيو او د ښځو فرق بيان کړى دى، په مراسيل ابوداؤد صفحه: ۸ کې د نبي کريم ﷺ ارشاد مبارك روايت ده ښځو ته يې وفرمايل چې "کله چې تاسو سجده کوئ، نو د بدن څه برخه ځمکې سره ننښلوئ، ځکه چې ښځه په دې کې د سړي په شان نه ده" (کنزالعمال ج:۴، ص:۱۱۷) [4]

۱](والمرأة تنخفض)فلا تبدى عضديها (وتلصق بطنها بفخذيها)لانه استر...الخ.(الدر المختار مع الرد المحتار ج:۱ ص:۵۰۴،طبع سعيد كراچى).وكذا فى البحر الرائق:(قوله والمرأة تنخفض وتلزق بطنها بفخذيها)لانه استر لها فانها عورةمستورة ويدل عليه مارواه ابو داؤد فى مراسيله انه عليه الصلاة والسلام مرعلى امراتين تصليان فقال:اذا سجدتما فضمابعض اللحم الى الارض فان المرأة ليست فى ذلک کالرجل...الخ.(البحر ج:۱ ص:۳۳۹،طبع بيروت)۔

۲] عن ابن عمر اذاسجدت المرأة الصقت بطنها بفخذها كاستر مايكون لها.(السنن الكبرى للبيهقى ج:۲ ص:۲۲۳،طبع بيروت) ۔

۳] اما المرأة فانها تنخفض....وتلزق بطنها بفخذيها..الخ (حلبى كبير ص:۳۲۲، طبع سهيل اكيدمى لاهور)۔

۴]فقال:اذا سجد فضما بعض اللحم الى الارض فان المرأة ليست فى ذالک ..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه۔

ښځه به د رکوع نه وروسته سجدې ته ځي او که اول به اطمینان سره کیني بیا به سجدې ته ځي؟

سوال: زه چې کله لمونځ کوم، نو د رکوع نه وروسته سجده کوم. خو زما یوه ملګرې ماته وایي چې د رکوع نه وروسته اول کیناستل پکار دي او بیا سجده کول پکار دي. اوس زه په شك کې مبتلا شوې یم، تاسو راته صحیح طریقه وښایئ.

جواب: ستاسو ملګرې چې کومه طریقه ښودلې ده، نو دا صحیح ده. اول کیناستل او بیا ځمکې سره پیوست سجده کول پکار دي.[1]

که په یو رکعت کې یې یوه سجده وکړه نو اوس څه وکړي؟

سوال: په کتاب احسن المسائل (ترجمه د کنزالدقائق دقرآن محل کراچی له لوري شائع شوی) کې د لمانځه په طریقه کې لیکل شوي دي چې که په لمانځه کې یې په یو رکعت کې په غلطي سره یو سجده هم وکړه او د دویم رکعت له پاره دریدلو، نو لمونځ به فاسد نه وي. بلکې ناقص به وي کومه خبره صحیح ده؟

جواب: په هر رکعت کې دوه سجدې فرض دي که په یو رکعت کې یې یوه سجده وکړه. نو لمونځ نه کیږي، په احسن المسائل کې چې کومه مسئله ذکر شوي ده هغه داده چې که دویمه سجده یې ونکړه او د دویم رکعت له پاره دریدلو، نو لمونځ یې فاسد نه ده. خو ددې سجدې کول ضروري دي کله چې هم ورته رایاد شي ددې سجدې قضاء دې وکړي تر دې چې که په التحیات لوستلو سره یې سلام هم اړولی و بیا ورته رایاد شو چې ما خو یوه سجده کړې وه، نو د سلام اړولو نه وروسته که د لمانځه ماتونکی شی و نه موندل شي، نو ددې سجدې قضاء دې وکړي او سجده سهوه دې هم وکړي او که د سلام نه وروسته د لمانځه ماتونکی څه شی وموندل شو. له دې نه وروسته ورته رایاد شو چې سجده پاتې شوې ده، نو لمونځ به په دویم ځل کوي، خلاصه دا چې د دویمې سجدې په تاخیر سره لمونځ نه فاسدیږي، خو دویمه سجده هم ضروري او فرض ده.[2]

...بقيه د تیرمخ].. كالرجل.(مراسيل ابو داؤد مع سنن ابى داؤد ص:٨،طبع ايچ ايم سعيد كراچى، ايضا: كنز العمال ج:٤ ص:١١٧،طبع بيروت).

[1] اما المرأة فانها تنخفض.....وتلزق بطنها بفخذيها...الخ.(حلبى كبير ص:٣٢٢،طبع سهيل اكيدمى لاهور).

[2] حتى لونسى سجدة من الاولى قضاها ولو بعد السلام قبل الكلام لكنه يتشهدثم يسجد للسهو ثم يتشهد لانه يبطل وبالعود الى الصلبيه والتلاوية...الخ.(الدر المختارمع الردالمحتار ج:١ص:٤٦٣،طبع ايچ ايم سعيد كراچى)

د قومې او جلسې شرعي حيثيت

سوال: زموږ د محلې يو سړی وايي چې يوازې رکوع،سجده يا قعده يا قيام د لمانځه ارکان نه دي،بلکې د رکوع نه وروسته څه ساعت ولاړه کول په خپل خای باندې بيل رکن دی او کم نه کم دومره ساعت دريدل پکار دي چې معلومه شي چې دا هم د لمانځه رکن دی. په همدې طريقې د يو سجدې نه وروسته په ارام سره کيناستل دا هم په خپل خای يو رکن دی او دومره ساعت دې کيني چې محسوسه شي چې دا يو رکن دی. وې فرمايل ددې کارونو په ادا کولو کې د مقتدي لوی لاس ده.صاحبه زموږ په جومات کې چې په اکثريت سره څه کيږي هغه دا دي چې امام خو پخپله دا ارکان ادا کوي. خو مقتدي يې نه ادا کوي چې د هغه وجه کيدای شي چې داوي چې امام خو د رکوع نه دپورته کيدو په وخت په نيمه لار کې سمع الله لمن حمده الله اکبر شروع کړي او څو پورې چې مقتدي پورته کيږي تر هغه پورې امام صاحب خپل دا ارکان ادا کړي وي، خو هغه دومره نور نه ايساريږي چې مقتدي يې هم ادا کړي. که هغه له دې مسئلې نه خبر وي اوکه نه وي خبر خپل دا ارکان پوره کړي اوکه د امام د ايساريدلو په وجه د هغه دا ارکان پخپله ادا کيږي؟

جواب: په لمانځه کې د رکوع نه وروسته په اطمينان سره نيغ دريدل او د دواړو سجدو ترمينځه په ارام سره کيناستل(رکن خو نه دی) خو واجب دي. ددې اهتمام يې ضرور کول پکار دي او په امام باندې هم لازم دي چې لمونځ داسې ورکړي چې مقتدي قومه او جلسه په اطمينان سره وکړي.که نه د لمانځه په دويم ځل کول واجب دي.[1]

د لمانځه له غلا نه څه مراد دي؟

سوال: يو مولانا وويل چې نبي کريم ﷺ فرمايي چې د لمانځه نه غلا مه کوئ. موږ ترينه پوښتنه وکړه چې د لمانځه غلا څه ده؟ نو هغه وويل چې فرض خو موږ کوو،خو نوافل موږ پريږدو، موږ ورته وويل چې که نفل موږ وکړو ،خو ثواب ده او که يې ونکړو، نو ګناه نشته .نو دا خو د لمانځه نه غلا نه شوه.

جواب: د لمانځه غلا دا ده چې رکوع، سجده او نور ارکان اطمينان سره ونکړل شي.[2]

---

[1] (وتعديل الاركان)اى تسكين الجوارح قدر تسبيحة فى الركوع والسجود،وكذا فى الرفع منهما على اختاره الكمال،(درمختار)وفى الشامية والحاصل ان الاصح رواية ودراية وجوب تعديل الاركان واما القومة والجلسة وتعديلها فالمشهور فى المذهب السنة وروى وجوبها وهو الموافق للادلة...الخ.(الدر المختار مع الرد المحتار ج:۱ ص:٤٦٤)۔

[2] عن عبدالله بن ابي قتادة عن ابيه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:اسوأ الناس سرقة الذى يسرق صلاته!قالوا:يا رسول الله!وكيف يسرق صلاته؟قال:لا يتم ركوعها ولا سجودها.(الترغيب والترهيب ج:۱ ص:۳۳۵،طبع بيروت).

د لمانځه ارکان څومره اوږدول پکار دي؟

سوال: د لمانځه هر رکن څومره اوږدول پکار دي چې له هغه سره لمونځ صحیح کیږي؟ځکه چې ځیني کسان لیدل شوي دي چې د رکوع نه سم دریدلي نه وي چې سجدې ته لاړ شي او همدغه شان د سجدې نه سم ناست نه وي چې دویمې سجدې ته لاړ شي. ایا د دې خلکو لمونځ کامل دی او که ناقص؟او که د داسې خلکو باره کې څه حدیث وغیره وي. نو هغه هم ذکر کړئ

جواب: د رکوع نه وروسته قومه کې اطمینان سره دریدل پکار دي.له دې نه وروسته دې سجدې ته لاړ شي او د دواړو سجدو مینځ کې اطمینان سره له ناستې نه وروسته دې دویمې سجدې ته لاړ شي، که نه لمونځ به یې ناقص وي، بلکې د داسې لمونځ راګرځول ضروري دي.[1]

د بیرې له وجې لمونځ تیزي سره کول

سوال: که ډیره بیړه وي، نو ایا لمونځ تیزي سره کیږي ؟

جواب: لمونځ اطمینان سره کول پکار دي.[2]

په التحیات(تشهد) کې لاس په کوم ځای کیښودل پکار دي؟

سوال: ما اوریدلي دي چې په التحیات کې لاس په په ګونډو کیښودل نه دي پکار ، ځکه چې زموږ روح به د ګونډو نه وځي؟

جواب: په قعده کې دې دواړه لاسونه په پنډیو باندې کیږدي اوګوتې دې د قبلې طرف ته متوجه وي په داسې طریقې چې د لاسونو ګوتې د ګونډو پوري ورسیږي، خو ګونډې دې نه نیسي، که نه د ګوتو رخ به قبلې طرف ته نه وي،خوکه ګونډې ونیسي. نو بیا هم جائز ده، خو غوره هغه ده کومه چې پورته ذکرشوه[3] او تاسو دالیکلي دي چې زموږ روح به د ګونډو نه وځي دا ما چیرته نه دي لوستلي.

سوال: دا مې هم اوریدلي دي چې په التحیات کې ګوتې ځوړندول نه دي پکار ،ځکه چې په قیامت کې به ځوړندې ګوتي پرې کیږي ایا دا صحیح ده؟

جواب: ما دا خبره نه ده اوریدلې په ظاهره، خو هسې فضول خبره معلومیږي.

---

[1]]قال الشیخ کمال الدین بن الهمام:وینبغی ان تکون القومة والجلسة واجبتین للمواظبة.(حلبی کبیر ص:۲۹٤) ایضاً: کل صلاة ادیت مع کراهة التحریم یجب اعادتها. (درمختار: ج۱، ص۴۵۷، طبع ایچ ایم سعید کراچی).

[2]]قد افلح المؤمنون.الذین هم فی صلاتهم خشعون.(المؤمنون:۱).

[3]](ویضع یمناه علی فخذه الیمنی ویسراه علی الیسری،ویبسط اصابعه)مفرجة قلیلاً (جاعلاً اطرافها عند رکبتیه)ولا یاخذ الرکبة هو الاصح لتتوجه للقبلة.(درمختار)وفی الرد........والنفی للافضلیة لالعدم الجواز...الخ.(فتاوی شامیة ج:۱ ص:۵۰۸،قبیل مطلب مهم فی عقد الاصابع عند التشهد)۔

دتشهد په وخت کومه ګوته پورته کړو؟

سوال: په قعده کې د التحیات نه وروسته زموږ د جومات یو صاحب د ګس لاس د شهادت ګوته پورته کوي، ایا دا صحیح طریقه ده؟ او هغه صاحب به څنګه پوه کړل شي خکه چې هغه د ډیر عمر سړی دی او که څوانان خلک ورته څه وایي، نو دا خلک د څوانانو د عمر حواله ورکولو سره خپل لوی والی ښیي او صحیح خبره نه مني.

جواب: په التحیات کې د ښي لاس ګوته پورته کول پکار دي د چپ لاس نه. دې صاحب ته دې مسئله ضرور بیان کړل شي بیا که پرې هغه عمل کوي اوکه نه دا د هغه کار دی.[1]

که په تشهد کې ګوته پورته نه کړل شي نو ایا لمونځ کیږي

سوال: (الف)د یو عالم نه مې پوښتنه وکړه چې په التحیات کې د شهادت د ګوتې پورته کولو او ښکته کولو شرعي حیثیت څه دی؟ نو هغه په جواب کې وفرمایل چې ددې ضرورت نشته ، مطلب دا چې ددې فعل نه پرته هم لمونځ کیږي، مهرباني وکړئ وضاحت وکړئ چې د حدیث او فقه په رڼا کې ددې فعل شرعي حیثیت څه دی؟ (فرض، سنت موکده وغیره)

(ب)د التحیات په دوران کې کوم ځای ګوته پورته کړل شي او کوم ځای ښکته کړل شي او د ګوتې د ښکته کولونه وروسته لاس نیغ کړي یا د سلام پورې د حلقې په شکل کې دې وي؟

جواب: په تشهد کې د شهادت په ګوته باندې اشاره کول سنت دي، له دې وجې دا وینا غلطه ده چې ددې ضرورت نشته، خو دا صحیح ده چې که ونکړل شي، نولمونځ کیږي د اشارې طریقه داده چې د ,,**اشهدان لا اله الا الله**،، په (لا) باندې دې ګوته پورته کړل شي او په (**الا الله**) باندې دې ښکته کړل شي.[2]

د شهادت ګوته تر سلام پورې د اوچتولو مطلب

سوال: ستاسو فتوا مو د ګوتې د اوچتولو په باره کې ولوستله په دې باره کې ستاسو توجه د مولانا رشید احمد ګنګوهي طرف ته بېول غواړم د کتاب فتاوی رشیدیه په صفحه نمبر ۳۲۰ باندې لیکي چې چې د تشهد په (لا) باندې دې ګوته اوچته کړل شي او ترسلام پورې دې اوچته وي، ستاسو او د ګنګوهي صاحب په فتوا کې بالکل واضح اختلاف دی. لهذا په کومه فتوا باندې عمل وکړل شي ډیر زیات شک پیدا شوی دی او په حدیث شریف کې هم داسې راځي

[1] وصفتها ان يحلق من يده اليمنى عن الشهادة الابهام والوسطى ويقبض البنصر والخنصر،ويشير بالمسبحة ...الخ. (فتاوى شامية ج:۱ ص:۵۰۸، ۵۰۹،طبع ايچ ايم سعيد كراچی)۔

[2] وفي الشرنبلالية عن البرهان:الصحيح انه يشير بمسبحته وحدها يرفعها عن النفي ويضعها عند الاثبات... الخ. (درمختار مع الشامي ج:۱ ص:۵۰۹،قبيل مطلب مهم في عقد الاصابع عند التشهد)۔

چې د لفظ «لا» باندې ګوته اوچته کړئ او د ګوتې د ښکته کولو په باره کې په حدیث کې هیڅ هم نه دي راغلي، جواب د قرآن او حدیث په رڼا کې راکولو سره اجرعظیم حاصل کړئ.

جواب: د دواړو مینځ کې هیڅ اختلاف نشته.په اصل کې دوه مسئلې خاتنه دي یو دشهادت په وخت ګوته اوچتول او ښکته کول ما دا مسئله لیکلې وه چې د «لا» وخت کې دې اوچتوي او د «الا الله» په وخت کې دې ښکته کوي[۱] او دویمه مسئله داده چې د شهادت نه وروسته دې د ګوتو حلقه تر سلام پورې وساتل شي او د شهادت ګوته دې د سلام پورې هم هغه شان جدا وي په فتاوی رشیدیه کې یې دا مسئله بیان کړې ده .دلته د اوچتولو نه مراد دا نه ده چې څنګه په «لا»باندې پورته کړل شي هم هغه شان دې اوچته وي. بلکې مطلب دا دی چې د شهادت نه وروسته دې ګوتې نه خور وي څنګه چې د شهادت نه مخکې خورې وي. بلکې موتې دې سلام پورې یو شان بندساتل پکاردي او د شهادت ګوته دې ترې جدا وي هم دې سره یې په اوچتولوتعبیر کړی ده په سوال اوجواب کې غور کولو سره دامطلب واضح کیږي.[۲]

په کلمه شهادت کې ګوته کله اوچتول پکار دي؟

سوال: په روزنامه جنګ کې تاسو د یو سوال جواب ورکړی ده کوم چې زه نقل کوم:په التحیات کې په« **اشهد ان لا**) باندې ګوته وچتول او په «**الا الله**) باندې ښکته کول سنت دي که ونه کړل شي، نو هیڅ ګناه نشته،نو حضرت د کلام حاصل دا چې ما په کیمیایي سعادت د حجت الاسلام امام غزالي رحمه الله کوم چې د هغه ډېر مشهور تصنیف دی. دهغه په ۱۷۲ ۱۷۳ صفحه په باب الصلاة کې لیکلي دي چې په «**اشهد ان لا**) باندې نه دي اوچتول پکار. بلکې په «**الا الله**) باندې اوچتول پکار دي او هسې هم د ګرامر په لحاظ او د عربي ژبې د اصولو په مناسبت سره، بلکې معنوي طورسره د «**اشهد ان لا**) معنی یوازې د ګواهي یا د شهادت ده او هغه د منفي شهادت یعنې هیڅ خدایې نشته یا هیڅوک الله نشته او د دې د تکمیل له پاره او ددې نیمګړې جملې د تندې د احساس ختمولو له پاره «**الا الله**) یعنې یوازې الله دی لکه څنګه چې د قرآن کریم د ډیرو آیتونو نه ښکاره ده،په سوونو داسې آیتونه دي چې دهغو نښانه کول او هغه هم ستاسو په شان عالم مخکې ګویا لمر ته ډیوه ښودل دي.

جواب: زمونږ په فقهي کتابونو کې یې دا مسئله لیکلې ده کومه چې ما لیکلي ده،یعنې په **لا اله** باندې ګوته اوچتول پکار دي او په «**الا الله**) باندې ښکته کول پکاردي، له دې وجه یې دا

۱] الصحیح انه یشیر بمسبحته وحدها یرفعها عند النفی ویضعها عند الاثبات.(درمع الرد ج:۱ ص:۵۰۹)

۲] الثانی بسط الاصابع الی حین الشهادة فیعقد عندها ویرفع السبابة عن النفی ویضعها عند الاثبات،وهذا ما اعتمده المتاخرون لثبوته عن النبی صلی الله علیه وسلم بالاحادیث الصحیحة...الخ.(الشامیة ج:۱ ص:۵۰۹)

لیکلي دي چې د ګوتې اوچتولو سره اشاره د غیر الله د الوهیت د نفي طرف ته ده او په ګوته کینبودلو سره اشاره د الله پاک د الوهیت د اثبات له پاره ده. لهذا په (لا اله) باندې ګوته اوچتول پکار دي او په (الا الله) باندې کینبودل پکار دي.[۱]

حضرت امام غزالي شافعي المذهب دی او شیخ عبدالقادر جیلاني حنبلي المذهب دی او امام غزالي په خپلو کتابونو کې د شافعي مذهب مطابق مسائل لیکلي او شاه عبدالقادر جیلاني په غنیه الطالبین کې د حنبلي مذهب مسائل لیکلي.احنافو ته په فقهي مسائلو کې د هغوی په کتابونو باندې نه، بلکې د فقه حنفي په کتابونو عمل کول پکار دي.

د مقتدي له پاره (التحیات) پوره لوستل لازمي دي

سوال: که امام سلام واړوي او لمونځ کونکي تر اوسه پورې التحیات پوره نه وي لوستې. نو ایا د امام سره سلام واړوي یا پوره دعا کولو سره سلام واړوي.

جواب: تشهد (التحیات د عبده ورسوله پورې) ویل په دواړو قعدو کې واجب دي.که په لومړۍ قعده کې تشهد پوره شوی نه و چې امام د دریم رکعت له پاره ودرید ، نو مقتدي دې د امام تابعداري نه کوي.بلکې خپل تشهد پوره کولو سره دې ودریږي (عبده ورسوله پورې)هم دغه شان که په اخري قعده کې د مقتدي تشهد پوره شوی نه و چې امام سلام واړاو. نو مقتدي دې له امام سره سلام نه اړوي. بلکې خپل تشهد پوره کولو سره دې سلام واړوي.

که یو سړی په لومړۍ قعده کې راتلو سره په جماعت کې شریک شو او هغه التحیات شروع کړی و چې امام ودرید ، نو دا سړی دې د امام سره نه دریږي، بلکې التحیات....عبده ورسوله پورې لوستلو نه وروسته دې ودریږي. که یو سړی په اخري قعده کې شریک شي اوسه پورې لا التحیات پوره کړي نه ده چې امام سلام واړو. نو دا سړی دې فورا نه دریږي، بلکې التحیات...عبده ورسوله....پورې پوره کولو نه وروسته دې پورته شي.[۲]

په (التحیات) کې د سلام په صیغه د خطاب حکم

سوال: ستاسو په خدمت کې یو سوال سره حاضر شوي یم موږ چې په لمانځه کې کوم التحیات وایو هغه دا ده:

التحیات لله والصلوات والطیبات السلام علیک ایها النبی ورحمة الله وبرکاته السلام علینا وعلی عباد الله الصالحین اشهد ان لا اله الا الله و اشهد ان محمدا عبده ورسوله.

۲] وفی المحیط انها سنة،یرفعها عند النفی،ویضعها عند الاثبات،وهو قول ابی حنیفة ومحمد وکثرت به الآثار والاخبار...الخ.(الشامیة ج:۱ ص:۵۰۸،قبیل مطلب مهم فی عقد الاصابع عند التشهد)۔

۲] اذا ادرک الامام فی التشهد وقام الامام قبل ان یتم المقتدی او سلم الامام فی آخر الصلاة قبل ان یتم المقتدی التشهد،فالمختار ان یتم العشهد کذا فی الغیاثیة.(عالمگیری ج:۱ ص:۹۰،طبع بلوچستان)۔

محترم محمود عباسي په خپل تالیف (تحقیق سید و سادات، کې په یو ځای کې لیکي چې د التحیات دا درود د **صلوا علیه وسلموا تسلیماً** صحیح تعمیل دی. صحابه کرامو د هغه په ژوند کې هم دا لوستلو کله چې هغه وفات شو. نو ضمیر د خطاب یې ترک کړ او **السلام علی النبی رحمة الله و برکاته** لوستل یې شروع کړل په یو بل ځای لیکي چې په فتح الباري شرح د صحیح البخاري **باب التشهد فی الاخیرة**(ص:٤٥٣ مطبوعه انصاری)ابن حجر رحمه الله د سلام علی النبي روایتونه نقل کولو نه وروسته په صحیح سند سره دا روایت نقل کړی ده چې رسول الله ﷺ ثو پورې ژوندی و صحابه کرامو به التحیات لوستو(**السلام علیک ایها النبی**) اې نبي په تا دې سلام وي او کله چې هغه وفات شو .نوبیا به یې لوستلو(**السلام علی النبي**)په نبي دې سلام وي

موږ په لمانځه کې دا الفاظ **السلام علیک ایها النبی** وایو ځکه د لمانځه چې څومره رسالې دي موږ لوستلي دي په هغو کې هم دا الفاظ نقل دي ستاسو نه سوال دا دی چې ایا اوس هم دا الفاظ ویل جائز دي سره له دې چې رسول الله ﷺ وفات شوی دی؟

جواب: د عباسي صاحب دا خبره خو صحیح نه ده چې د التحیات والا درود د آیت **صلوا علیه وسلموا تسلیماً** صحیح تعمیل دی ځکه چې په دې ایت کریمه د درود او د سلام دوه شیانو حکم شوی دی او په التحیات کې یوازې سلام ده درود نشته په دې وجه په التحیات کې د یوې برخې تعمیل کیږي او د دویمې برخې د تعمیل له پاره د التحیات نه وروسته درود شریف کینبودل شوی دی او د فتح الباري په حوالې سره چې کوم روایت نقل شوی دی چې صحابه کرامو به د رسول الله ﷺ په حیات کې **السلام علیک ایها النبی** ویلو او د هغه له وفات نه وروسته به یې **السلام علی النبی** ویلو دا روایت صحیح دی او په صحیح بخاري دویم جلد صفحه نمبر ۲۲۲ باندې موجود دی. حافظ ددې سلسلې روایت نقل کولو نه وروسته د شیخ تاج الدین سبکي رحمه الله په حوالې سره لیکلي دي چې ددې روایت نه معلومیږي ,,**السلام علی النبی**،، ویل هم جائز دي، خو د کوموالفاظوچې رسول الله ﷺ تعلیم ورکړی دی هغه اولی او افضل دي اود امت عمل هم په هغه رار وان دی.

په لمانځه کې د درود شریف څه حیثیت دی؟

سوال: دا خو معلومه ده چې د تشهد نه وروسته درود شریف واجب نه ده، خو ایا دا دواړه درودونه چې موږ یې په لمانځه کې وایو دا مسنون یا مستحب هم دي او که نه؟ فاران....د اپریل شماره کې په ۱۹۸۱ ءکې د جعفر شاه د تحریر مفهوم دا دی چې دهغه مسنون یا مستحب کیدل د صحاح سته نه ثابت نه دي،**صلوا علیه وسلموا تسلیماً** د حکم تعمیل د تشهد داخري

برخې **السلام علیک ایها النبی الخ** نه کیږي. لهذا وروسته په رسول اللهﷺ اود هغه په ال باندې درود ویل صحیح نه دي
.که په صحاح سته کې داسې یو حدیث وي یا احادیث وي چې دهغه په وجه ددرود همدا رواج شوي الفاظ نقل شوي وي، نو مهرباني وکړئ دهغه پوره عبارت سره د حوالې د کتاب او سن اشاعت او د ناشر نه مو خبر کړئ چې د قاران لوستونکو ته ددې صاحب د پیدا کړې غلط فهمي نه د محفوظ ساتلو له پاره ولیکم

جواب: د جعفر شاه تعلق د هغه ملحدینو سره دی کوم چې ددین قطعي او متفق علیه خبرو د مشکوک کولو له پاره دروغ وایي.

په مشکوة شریف ص: ۸۲ کې دصحیح البخاري اوصحیح مسلم په حوالې سره دکعب بن عجرهؓ نه روایت ذکر شوی دی چې موږ رسول اللهﷺته عرض وکړ چې په تاسو باندې د سلام لیږلو طریقه خو موږ ته الله پاک ښودلې ده. یعنې په التحیات کې **السلام علیک ایها النبی** ستاسو په ال باندې موږ درود په څه طریقه ولیږو؟ ویې فرمایل داسې وایئ، **اللهم صل علی محمد وعلی آل محمد.....الخ**.[1]

قرآن کریم امت ته د دوو بیلو بیلو خبرو حکم کړی دی. یو د درود او دویم د سلام د سلام د حکم تعمیل خو په التحیات کې ذکر شوي الفاظ **السلام علیک ایها النبی و رحمة الله و برکاته** ویلو سره ادا کیږي، خو د درود د حکم تعمیل په کومو الفاظو سره ادا کیږي؟ دا خبره صحابه کرامو د رسول اللهﷺ نه وپوښتله او رسول اللهﷺ ددې په جواب کې د درودابراهیمي الفاظ تعلیم ورکړ.

په یو بل حدیث کې دي چې د فضاله بن عبیدؓ نه روایت دی.

سمع رسول الله صلی الله علیه وسلم رجلا یدعو فی صلوته لم یمجد الله ولم یصل علی النبی صلی الله علیه وسلم فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: عجل هذا ثم دعاه فقال له او لغیره: اذا صلی احدکم فلیبداء بتحمید الله عزوجل والثناء علیه ثم لیصل علی النبی(صلی الله علیه وسلم)ثم لیدع بعد الثناء... (ابوداودج۱ص۲۰۸ نسائی ج۱ص۱۸۹ترمذیج۲ص۱۸۶ وصححه سنن کبری ج۲ص۱٤۷ صحیح ابن خزیمه ج۱ص۳۵۱ الاحسان بترتیب صحیح ابن حبان ج ٤ ص۲۰۸ مستدرک حاکم ج۱ص۲۳۰ تا ۲۶۸ وقال صحیح علی شرط مسلم واقره الذهبی).

---

[1] عن عبدالرحمن بن ابی لیلی قال:لقینی کعب بن عجزة رضی الله عنه فقال:الا اهدی لک هدیة سمعتها من النبی صلی الله علیه وسلم؟فقلت:بلی!فاهدها لی،فقال:سالنا رسول الله،فقلنا:یا رسول الله!کیف الصلوة علیکم اهل البیت فان الله قد علمنا کیف نسلم علیک؟قال:قولوا اللهم صل علی محمد وعلی آل محمد...الخ. (مشکوة ج:۱ ص:۸٦باب الصلوة علی النبی صلی الله علیه وسلم)_

ترجمه:....رسول الله ﷺ له یو سړي نه واوریدل چې په خپل لمانځه کې دعا غواړي هغه نه د الله پاک لوی والی بیان کړ. نه یې ثناء وویله او نه یې په رسول الله ﷺ باندې درود ووایه. رسول الله ﷺ وفرمایل دې سړي بیړه وکړه بیا یې هغه راوغوښت. نو ویې فرمایل کله چې په تاسو کې یو سړی لمونځ کوي، نو د دعا نه مخکې دې د الله پاک لویي او ثناء بیان کړي. بیا دې په رسول الله ﷺ باندې درود ووایي بیا دې له حمد او ثناء نه وروسته دعا وکړي

په یو بل حدیث کې د ابومسعود انصاري رضي الله عنه نه نقل دي:

اقبل رجل حتی جلس بين يدي رسول الله صلى الله عليه وسلم ونحن عنده فقال: يا رسول الله! اما السلام عليک فقد عرفناه، فکيف نصلي عليک اذا نحن صلينا عليک في صلاتنا؟ قال فصمت رسول الله صلى الله عليه وسلم حتى احببنا ان الرجل لم يساله ثم قال: اذا صليتم علي فقولوا: اللهم صل على محمد.... الحديث.(صحیح ابن خزیمه ج۱ ص ۳۵۲ الاحسان بترتیب صحیح ابن حبان ج ٤ ص ۲۰۷ موارد الظمان ص ۱۳۸ مستدرک حاکم ج ۱ ص ۲۶۸)

ترجمه:....یو سړی راغی تر دې چې د رسول الله ﷺ مخې ته کیناست هغه عرض وکړ. یا رسول الله! په تاسو باندې د سلام لیږلو طریقه، خو موږ وپیژندله، خو کله چې موږ په خپل لمانځه کې په تاسو باندې درود لیږو، نو څنګه یې ولیږو رسول الله ﷺ په دې اوریدلو باندې خاموش شو تر دې چې زموږ زړه وغوښتل چې دې سړي د رسول الله ﷺ نه دا پوښتنه نه وې کړې. یعنې کیدای شي چې رسول الله ﷺ په دې سوال باندې خفه شوی وي. بیا یې وفرمایل کله چې تاسو په ما درود وایئ نو دا الفاظ وایئ: **اللهم صل علی محمد** د دې الفاظو تعلیم یې ورکړ.

له دې احادیثو په بنیاد باندې د رسول الله ﷺ له زمانې واخله ترنن پورې د امت دا عمل راروان دی چې په اخري قعده کې د التحیات نه وروسته دې درود شریف ولوستل شي بیا دې دعا وکړل شي بیا دې د لمانځه سلام واړول شي. د امام شافعي رحمه الله په نزد په اخري قعده کې درود شریف لوستل غوره دي او د نورو علماءکرامو په نزد سنت دي[1]. خو په امت کې د دې څوک هم قائل نه دي چې په اخري قعده کې دې درود شریف نه لوستل کیږي هسې هم د دعا نه مخکې د الله پاک حمد او ثناء کول او بیا په رسول الله ﷺ باندې درود لیږل د دعا د ادابو نه دي او دا د دعا د قبولیت مضبوطه ذریعه ده، نو د لمانځه په اخره کې د دعا نه مخکې درود شریف لوستل به د دې قاعدې لاندې راشي.

۱]ويتشهد وهو واجب عندنا وصلى على النبي عليه والسلام وهو ليس بفريضة عندنا خلافاً للشافعي فيهما. قوله فيهما اي في التشهد والصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم فانهما من الفرائض عنده.(فتح القدير ج:۱ ص:۲۲۳،طبع دار صادر بيروت). ايضا: قال ابوبكر: وليست الصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم وآله فرضا في الصلاة عند اصحابنا وفقهاء الامصار وهومسيئ بتركها وقال الشافعي: هي فرض فيها،وهذاقول لم يسبقه اليه احد فهوخلاف اجماع السلف والخلف.(شرح مختصر الطحاوي ج:۱ص:٦٤١ كتاب الصلاة،طبع بيروت)

په لوړې قعده کې يوازې تشهد ولوستل شي که درود شريف هم؟

سوال: سنت غيرمؤکده (څلورو رکعتونو کې) اولني دوو رکعتونو کې تشهد لوستلو نه وروسته دربهدل پکار دي او که درود شريف لوستل لازم دي؟

جواب: دواړه طريقې جائزې دي، خو درود شريف لوستلو نه وروسته دريدل غوره دي.[1]

د تشهد او درود شريف نه وروسته د دعاماثوره نه څه مراددي؟

سوال: فرض لمونځ، وتر لمونځ، نفل او سنت لمونځ ادا کوو او په اخري قعده کې تشهد او دورد ابراهيمی وايو، د علماءکرامو او د فقهاء کرامو د کتابونو نه معلومه شوې ده چې د تشهد او درود ابراهيمي لوستلو نه وروسته دې نقل شوې دعا هم ولولي.
اکثر لمونځ ګزار نقل شوې دعا نه پيژني زه او نور ډير ملګری يې پيژنو او نقل شوې دعا نه لولو چا ته دومره وخت نه معلوميږي که په دې وخت کې نقل شوې دعا ونه لولو ،نو په لمانځه کې، خو به څه نقصان نه راځي؟ او لمونځ به ادا شي؟ دا وضاحت هم وکړئ چې نقل شوې دعا په هر فرض لمونځ او وتر او نفلونو او سنتو کې لوستل پکار دي يا يوازې په فرض لمانځه کې؟

جواب: په اخري قعده کې د درود شريف نه وروسته دعا کول سنت دي په قرآن کريم يا احاديثو کې چې کومې دعا ګانې راځي هغو ته نقل شوې دعاګانې وايي په هغو کې هره دعا لوستلو سره سنت ادا کيږي[2] اکثر خلک د قرآن او احاديثو دعا ګانې لولي اګر چې د نقل شوې دعا په مطلب نه پوهيږي او دا دعا کول سنت دي که بالکل يې هم و نه کړي، نو لمونځ يې کيږي، خو په ثواب کې به يې کمی وي.

په اخري قعده کې د درود شريف نه وروسته کومه دعا لوستل پکار دي؟

سوال: په اخري قعده کې د درود شريف نه وروسته او د سلام ګرځولو نه مخکې کومه دعا کول پکار دي؟ يو ځای کې "**اللهم انى ظلمت نفسى ظلما كثيرا**" او په ځينو ځايونو کې "**رب اجعلنى مقيم الصلاة**" د لوستلو له پاره ليکل شوي وي ايا په دې کې به په يو دعا باندې لمونځ وشي؟

جواب: دقرآن اوحديث چې کومه دعالولي لمونځ به يې وشي، په حديث کې دي "**اللهم انى ظلمت نفسى ظلما**" والا دعا د ابوبکرصديق رضي الله عنه په غوښتنه باندې رسول الله ﷺ هغه ته ښودلې وه.[3]

---

[1]]وسنة فى الصلاة،اى فى قعود اخير مطلقًا وكذا فى قعود اول فى النوافل غير الرواتب تامل.(شامى ج:۱ ص:۵۱۸).

[2]]ودعا........بالادعية المذكورة فى القرآن والسنة لا بما يشبه الناس.(الدر المختار ج:۱ ص:۵۲۳)۔

[3]] ومن الادعية المالورة ما روى عن ابى بكر رضى الله عنه انه قال لرسول الله صلى الله عليه وسلم:علمنى دعاء ادعو به فى صلاتى!فقال:قل:اللهم انى ظلمت نفسى...الخ.(عالمگيرى ج:۱ ص:۷۶،طبع بلو چستان)۔

په لمانځه کې څومره دعاګانې کول پکار دي؟

سوال: په اخري قعده کې که لمونځ کونکی ډېرې دعاګانې چې د قرآن او احاديثو نه ثابتې وي ويلو سره سلام واړوي، نو په لمانځه کې څه نقصان خو به نه راځي؟

جواب: څومره دعاګانې چې کول غواړي کولی يې شي[۱]. خو امام ته پکار دي چې دومره يې نه اوږدوي چې مقتديان تنګ شي[۲]

که په غلطي سره يې سلام چپ اړخ ته واړولو نو لمونځ کيږي

سوال: که په غلطي سره يې سلام ګس(چپ) اړخ ته واړاو او فورا په ياد راتلو سره يې ښي اړخ او بيا ګس(چپ) اړخ ته واړوي، نو لمونځ به وشي؟

جواب: کيږي.[۳]

له دې نه څه مراد دی چې خپلې ارادې سره لمونځ ختمول فرض دي؟

سوال: د لمانځه په يو کتاب کې يې د لمانځه څوارلس فرائض ليکل شوي دي.څوارلسم فرض دادی چې خپلې ارادې سره لمونځ ختمول، هر سړی ارادې سره لمونځ ختموي.د بل چا په وينا سره يا د بل چا په ارادې سره خو يې نه ختموي، بلکې جمعې کې چې کله امام صاحب سلام ګرځوي، نو هغه د امام اراده وي.مقتدي خپلې ارادې سره خو سلام نه شي ګرځولی.نو ددې څه مطلب ده چې "خپلې ارادې سره لمونځ ختمول"؟

جواب: "خپلې ارادې سره لمونځ ختمول"ددې مطلب دادی چې د لمانځه ټول ارکان ادا کړي، سلام ګرځول باقي وي چې لمانځه ماتوونکی يو شی د ارادې نه بغير پيښ شو، نو دا لمونځ به په دويم ځل کول ضروري وي ځکه چې په خپلې ارادې سره سلام ګرځول او د لمانځه نه وتل فرض دي.[۴]

۱]واما فی القعدة الاخيرة فيدعو بعد التشهد ويسال حاجته لقوله تعالی:فاذا فرغت فانصب،جاء فی التفسير ان المراد منه الدعاء فی آخر الصلاة ای فانصب للدعاء وقال رسول الله لابن مسعود:اذا قلت هذا او فعلت هذا فقد تمت صلوتک ثم اختر من الدعوات ما شئت.ولکن ينبغی ان يدعوا بما لايشبه کلام الناس حتی يکون خروجه من الصلاة علی وجه السنة.(بدائع الصنائع ج:۱ ص:۲۱۳،طبع ايچ ايم سعيد کراچی)۔

۲] عن ابی هريرة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله عليه وسلم:اذا صلی احدکم للناس فليخفف فان فيهم السقيم والضعيف والکبير،واذا صلی احدکم لنفسه فليطول ماشاء.متفق عليه.(مشکوة ص:۱۰۱،باب ماعلی الامام،الفصل الاول)۔

۳] (قوله ولو عکس)بان سلم عن يساره اولا عامدًا او ناسياً بحر(قوله)فقط ای فلا يعيد التسليم عن يساره...الخ.(الشامية ج:۱ ص:۵۲۴،مطلب فی خلف الوعيد وحکم الدعاء بالمغفرة للکافر...الخ)۔

۴]والسابعة من الفرائض.......وهی الخروج من الصلوة بفعل المصلی فانه..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

که په رکعتونو کې شک شي نو څومره شمار کړي؟

سوال: اکثره هیرشي او ځینې وخت ګمان سره اندازه لګول هم مشکل شي چې څومره رکعتونه شوي دي، کوم رکعت کې کوم سورت لوستل شوی دی؟په دې صورت حال کې موږ څه وکړو؟
جواب: د لمانځه په رکعتونو کې که په دوو او دریو کې شك شي، نو دوه ګڼل پکار دي [۱]

که د ایتونو او رکعتونو د هیرېدو بیماري وي نو هم لمونځ پرېښودل پکار نه دي

سوال: زما والد صاحب ته د هیریدو بیماري ده.د لمونځ کولو په وخت ترینه ایتونه او رکعتونه هېرېږي او هغه د لمونځ کولو نه ویرېږي.ددې خلکو لپاره په دین کې څه حکم دی؟
جواب: د هیریدو له ویرې نه لمونځ پرېښودل ګناه ده، هغه دې لمونځ ادا کوي.په کومو رکعتونو چې یې ګمان غالب وي، نو د هغه مطابق دې رکعتونه پوره کوي،کمی بیشی به ورته الله پاك معاف کړي.[۲]

که دا یاد نه وي چې څو سجدې مې کړي دي نو څه وکړي؟

سوال: زما نه په لمانځه کې هیر شي چې ما دوه سجدې کړي دي او که نه؟په هر رکعت کې ماته ډیره زیاته پریشاني وي،په سنتو او نفلو کې خو سجده سهو وکړم،خو په فرض لمونځونو کې زه په دویم ځل نیت ترم او دا ۴ فرض یا ۳فرض کله ۱۶او ۲۰شي،بیا ماته یقین وشي چې ما په هر رکعت کې دوه سجدې کړي دي،دا ووایئ چې زه څه وکړم؟
جواب: تاسو فرض لمونځ له جمعې سره کولو اهتمام وکړئ. ددې له پاره چې د دریو او څلورو په ځای شپاړس او شل رکعتونه نه کوی او که کله یواځې والي کې د لمونځ کولو ضرورت شي، نو په دویم ځل د نیت کولو ضرورت نشته، بلکې څنګه چې په نفلو او سنتو کې سجده سهو کوئ ،نو همدغه شان په فرض لمانځه کې هم سجده سهو کوئ.[۳]

....بقیه د تیرمخ]..فرض عند ابی حنیفة خلافًا لهما.......وان سبقه الحدث من غیر عمد منه فی هذه الحالة فکذلک تمت صلاته عندهما ولم یبق علیه الا شیء واجب وهو السلام،واما الفرائض فقد تمت جمیعًا،وقال ابو حنیفة یتوضا ویخرج عن الصلوة بفعله قصدًا لکونه فرضًا قد بقی علیه من فرائضها حتی لولم یتوضا ولم یخرج بصنعه بل عمل عملاً ینافی الصلاة من غیر متعلقات الوضوء تبطل صلوته لفعله فرضًا من فرائضها وهو الخروج منها بغیر طهارة.(حلبی کبیر ص:۲۹۲،طبع سهیل اکیدمی لاهور).

[۱] واذاشک فی صلاته ....عمل بغالب ظنه ان کان له ظن للحرج والااخذبالاقل لتیقنه .(الدرالمختارمع الردج:۲ص :۹۳،۹۲،باب سجودالسهو،طبع ایچ ایم سعیدکراچی).

[۲] ایضا.

[۳] وحکم السهوفی الفرض والنفل سواءکذافی المحیط.(عالمگیری ج:۱ص :۱۲۶).

که د رکعتونو په تعداد کې غلطي راشي نو څه کول پکار دي؟

سوال: زما نه د رکعتونو تعداد هيريږي او ماته پوره يقين نه وي چې اوسه پورې ما څومره رکعتونه کړي دي؟دې وخت کې ماته څه کول پکار دي؟

جواب: کوم رکعتونه چې کم وي بس هغه کوئ.[۱]

❖ په لمانځه کې څه لوستل پکار دي؟ ❖

....

د لمانځه له پاره هر مسلمان ته کم نه کم څلور سورتونه يادول پکار دي

سوال: په لمانځه کې که زيات ايتونه ياد نه وي يوازې سورة فاتحه او سورة اخلاص ياد وي او په هر لمانځه کې همدا دوه سورتونه لولي. نو له دې سره دلمانځه په ثواب کې څه فرق خو به نه راځي؟ په ټولو لمونځونو کې د سورة فاتحې او سورة اخلاص ويلو سره ايا لمونځ کيږي اوکه نه؟ او په وترو کې که دا دواړه سورتونه ياد وي هم دا دوه سورتونو په وتر کې لوستلو سره به ايا لمونځ وشي اوکه نه؟

جواب: له سورة فاتحه نه وروسته په هر رکعت کې يو سورت لوستل مکروه دي له دې وجه کم نه کم څلور سورتونه خو هر مسلمان ته يادول پکار دي او څو پورې چې ياد نه وي په هر رکعت کې دې سورة اخلاص لولي لمونځ به يې ادا شي.[۲]

د لمانځه په هر رکعت کې ديو سورت تلاوت کول

سوال: مونږ چې د مشرانو نه کوم لمونځ زده کړی دی،د هغه په لحاظ سره مونږ پوره لمونځ يعنې سنت،فرض او نفل کې په هررکعت کې د الحمدشريف نه وروسته **قل هوالله احد** وايو.څۀ حرج خو په دې کې نشته؟

جواب: حرج خو شته.د لمانځه په هر رکعت کې هميشه يو سورت لوستل مکروه دي.کم نه کم څلور سورتونه، خو چې سړي ته ياد وي. بلکې هر عام او امي مسلمان ته د پاره عم

---

[۱] اذاصلی ولم يدراثلاثاصلی ام اربعا.......يتحری واخذماركن اليه قلبه ...الخ.(خلاصة الفتاوی ج:۱ص:۱۶۹،طبع رشيديه كوئته).

[۲] ويكره تكرار السورة فی ركعة واحدة فی الفرائض،ولا بأس بذلك فی التطوع كذافی فتاوی قاضيختان.(عالمگيری ج:۱ ص:۱۰۷)،وايضا ولاباس ان يقرا سورة ويعيدها فی الثانية.(درمختار)وفی الرد (قوله ولاباس ان يقرأ سورة الخ) افاد انه يكره تنزيها وعليه يحمل جزم القنية بالكراهة.(شامی ج:۱ ص:۵۴۶، مطلب الاستماع للقرآن فرض كفاية)۔

(دیرشمې پارې) اخري پاو یادول پکار دي.[1]

چاته چې یو سورت هم نه وي یاد . هغه به لمونځ څنګه کوي؟

سوال: که چاته یو سورت هم یاد نه وي یا دعاء قنوت ورته یاده نه وي. نو ایا داسې سړی به یوازې تسبیح وغیره لولي. یا به هسې ولاړ وي؟

جواب: د سورتونو دیادولو کوشش دې وکړي ترڅوچې ورته یاد نه وي، نوتسبیح دې لولي.[2]

لمانځه کې قرآن پاک ته کتلو سره تلاوت کول

سوال: یو سړی په خپل لمانځه کې یو خاص سورت تلاوت کول غواړي چې د هغه په باره کې ده ته ویل شوي دي چې په لمانځه کې ددې سورت تلاوت کول لوی فضیلت لري او دا سورت دې سړي ته یاد نه وي، لهذا هغه په جای نماز باندې د کتاب یا د قرآن پاك نسخه خلاصه کیږدي او هغه ته کتلو سره سورة لولي، نو ایا دده دا کار جائز دی؟د ځینو حضراتو خیال دی چې داسې کول جائز نه دي؟ موږ د خپلې رایې نه خبر کړئ.

جواب: لمانځه کې قرآن کریم ته کتلوسره تلاوت کول صحیح نه دي.له دې سره لمونځ ماتیږي.[3]

قرآن پاك لاس کې اخستو سره د تهجدو لمونځ کول

سوال: زه حافظ خو نه یم،خودشپې مې د تهجد کولو شوق دی.ایا په دې صورت کې زه په لمانځه کې قرآن پاك په لاس کې اخستی شم؟

جواب: تهجدو کې قرآن کریم په لاس کې اخستل او ترینه تلاوت کول جائز نه دي.له دې سره لمونځ نه کیږي،خو څومره سورتونه چې یاد وي، نو هغه لولئ.[4]

په فرض لمانځه کې مفصلات لوستل سنت دي

سوال: د قرأت متعلق په سهار او ماسپښین کې طوال مفصل، په ماز دیگر او ماسخوتن کې اوساط مفصل او د ماښام په لمانځه کې قصار مفصل لوستل سنت دي.که په لمانځه کې د

---

[1] وکذا تکرارها فی رکعتین منه بأن قرأها فی الاولی ثم کررها فی الرکعة الثانیة یکره ذکره فی القنیة. (حلبی کبیر ص:۳۵۵)

[2] عن عبدالله بن ابی اوفی قال:جاء رجل الی النبی صلی الله علیه وسلم فقال:انی لااستطیع ان آخذ) ای وردا أو اتعلم واحفظ (من القرآن شیئًا فعلمنی ما یجزئنی)ای عن ورد القرآن او عن القراءة فی الصلوة(قال)وفی نسخه فقال(قل سبحان الله والحمدلله ولا اله الا الله والله اکبر ولا حول ولا قوة الا بالله).(مرقاة المفاتیح ج:۱ ص:۵۳۵،طبع بمبئی).

[3] ویفسدها قرائته من مصحف عند ابی حنیفة...الخ.(عالمگیری ج:۱ ص:۱۰۱).

[4] ایضاً.

قرات همدا معمول وي. نو په دې حالت کې د لومړيو پنځويشت سيپارو سره تعلق نه پاتې کيږي. دومره خو پوهيږم چې که له هر ځای نه يې لولي لمونځ کيږي. خو سوال د ډير ثواب ګټلو دی.

جواب: د قرآن کريم باقي برخه دې په سنت اونفلونوکې ولوستل شي په فرائضو کې د مفصلاتو لوستل افضل دي چې قرات اوږد نه شي [۱]

يادونه د سورة حجرات نه سورت بروج پورې سورتونو ته طوال مفصل وايي. له سورت بروج نه سورت البينه پورې اوساط مفصل او د سورة البينه نه د قرآن کريم اخره پورې ته قصار مفصل وايي [۲]

په ژبې سره د الفاظو ادا کولو نه پرته يوازې په زړه کې لوستلو سره لمونځ نه کيږي

سوال: په زړه کې لوستلو سره لمونځ او تلاوت کيږي او که په ژبې سره د اداکولوضرورت شته؟

جواب: په زړه کې لوستلو سره لمونځ نه ادا کيږي، په ژبې سره الفاظ ادا کول ضروري دي بيا يو قول خو دادی چې په مزه دې وايي چې پخپله يې اوري. خو دويم يې نه اوري او دويم قول دادی چې په ژبې سره د صحيح الفاظو ادا کول شرط دي. خپل ځان ته اورول شرط نه دي. لومړی قول ډير مشهور دی او دويم قول ډير د اعتبار وړ دی. [۳]

په لمانځه کې قرات په څومره اواز سره کول پکار دي

سوال: د لمانځه له پاره هر مسلمان ته دا حکم دی چې په زړه کې دې وايي. (که ځانته يې کوي يا په امام پسې) ځينې خلک خويې دومره په لوړ اواز لولي چې له هغوی سره په ناسته زه خپل لمونځ هم هير کړم او څه يې دومره په ورو اواز سره لولي چې نه معلوميږي چې دوی څه وايي هم که غلي ناست دي؟ تر دې چې شونډې ښورول يې هم نه معلوميږي تاسووضاحت وکړئ چې په زړه کې په کومې طريقې سره لوستل پکار دي؟

جواب: په لمانځه کې قرات داسې کول پکار دي چې د ژبې نه حروف صحيح صحيح ادا شي

۱] واستحسنوا فى الحضر طوال المفصل فى الفجر والظهر، واوساطه فى العصر والعشاء، وقصاره فى المغرب، كذا فى الوقاية. (هندية ج:۱ ص:۷۷)_

۲] وطوال المفصل من الحجرات الى البروج، والاوساط من سورة البروج الى لم يكن، والقصار من سورة لم يكن الى الآخر هكذا فى المحيط والوقاية ومنية المصلى. (هندية ج:۱ ص:۷۷)_

۳] (القراءة وهو تصحيح الحروف بلسانه بحيث يسمع نفسه، وقيل اذا صحح الحروف يجوز وان لم يسمع نفسه). (حلبى كبيرص:۲۷۵، طبع سهيل اكيدمى، شامى ج:۱ ص:۵۳۵، مطلب فى الكلام على الجهر والمخافة)

او اواز نور خلک نه اوري[1] د ورځې په لمانځه کې داسې قرات کول چې اواز نور خلک واوري مکروه دی[2] او که داسې يې لولي چې د ژبې حرکت يې هم نه وي او حروف هم ادا نه شي. نو بيا يې لمونځ نه کيږي[3]

ايا ځانته سړی اوچت قرات کولی شي او که نه؟

سوال: که يوڅوک ځانته لمونځ کوي په خوا کې يې څوک عبادت نه کوي. نو دا سړی په اوچت اوازسره لمونځ کولی شي او که نه؟

جواب: د شپې په لمونځونو کې يې اوچت کولی شي.[4] د شپې د لمونځونو نه سهار. ماښام. اوماسخوتن مراد دي[5]

يوازې لمونځ کوونکی به تکبيرات انتقال ورو لولي

سوال: عام طور باندې ځانته لمونځ کوونکي په کور يا جومات کې سري(خفي) لمونځونو کې د نيت نه وروسته تکبيراولی زور سره وايي او د لاس تړلو نه وروسته ثناء،تسميه او قراءت ورو ويلونه وروسته د رکوع تکبير زورسره وايي او سمع الله هم زورسره وايي اود رکوع او د سجدې تکبير ورو لولي او له دې نه وروسته هر تکبير او سمع الله او سلام زور سره لولي ايا سري لمونځونو کې ټول شيان تکبير اولی او نورتکبيرونه،سمع الله اوسلام ورو لوستل پکار نه دي؟

جواب: لمونځونو کې(کومو کې چې اوچت اواز سره قراءت نه وي)ځانته لمونځ کوونکي ته دا ټول شيان ورو ويل پکار دي.[6]

لمانځه کې کلمات دومره زور سره لوستل چې نورو لمونځ کونکو ته پريشاني وي

سوال: خينې مقتديان لمانځه کې زور سره کلمات لولي چې هغه سره نورو لمونځ کونکو ته

۱] ايضاً پورتنی حواله)_

۲]واما نوافل النهار فيخفی فيها حتمًا.(عالمگيری ج:۱ ص:۷۲)،ويسر فی غيرها کمتنفل بالنهار فانه يسر.(الدر المختار ج:۱ ص:۵۳۳)_

۳] ايضاً اوگورئ تيره شوی حواله ((القراءة وهو تصحيح الحروف بلسانه بحيث يسمع نفسه...الخ (حلبی کبير ص:۲۷۵،طبع سهيل اکيدمی،شامی ج:۱ ص:۵۳۵)_

٤]وان کان منفردا ان کانت صلاة يخافت فيهايخافت حتماهوالصحيح،وان کانت صلاة يجهرفيهافهوبالخيار_

۵] ويجهربالقراء فی الرکعتين الاولين من المغرب والعشاء.(عالمگيری ج:۱ص:۷۲)_

۶]والجهرللامام والاسرارللکل فيمايجهرفيه ويسر.(درمختارمع ردالمحتار ج:۱ص:۴۲۹).والذکر ان کانت وجب للصلاة فانه يجهربه کتکبيرة الافتتاح ومالیس بفرض فماوضع للعلامة فانه يجهربه کتکبيرات الانتقال عندکل حفض ورفع اذا کان اماماواماالمنفرد والمقتدی لايجهران به (عالمگيری ج:۱ص:۸۲،طبع بلوچستان).

پریشاني وي،دې باره کې څه حکم دی؟

جواب: دومره زور سره دې نه لولي چې آواز نورخلک اوري[۱] او د هغوی په لمانځه کې خلل واقع شي،که ورو اواز سره یې نه شي لوستلی، نو نورو لمونځ کونکو سره دې نه دریږي

که په لمانځه کې شونډې حرکت نه کوي نو ایا تلاوت به صحیح وي؟

سوال: نن سبا جوماتونو کې ډیر حضرات داسې لمونځ کوي چې د هغوی شونډې بالکل نه ښوري او ټول لمونځ دغه شان ادا کوي،غالباً په زړه کې یې لولي،ایا داسې لمونځ کیږي؟

جواب: په لمانځه کې قراءت فرض دی[۲]التحیات واجب دی[۳] او نور تسبیحات سنت دي[۴] کله چې سړی قراءت کوي یا څه لولي. نو د هغه شونډې به خامخا حرکت کوي.کوم سړی چې داسې تلاوت کوي چې د هغه شونډې نه ښوریږي. نو د هغه قراءت صحیح نه دی،ګویا په زړه کې یې لولي په ژبې سره نه لولي،دداسې سړي لمونځ نه کیږي.په لمانځه کې ژبې سره لوستل ضروري دي،ځینې حضرات فرمایې چې دومره اوچت اواز کې لوستل فرض دي چې خپل غوږونه یې اوري، که نه لمونځ یې نه کیږي او ځینې حضرات فرمایي چې که ژبې سره صحیح الفاظ ادا شي اګرچې دومره اوچت اواز سره یې ونه لولي، نو بیا به هم لمونځ وشي [۵]

ښځو ته په لمانځه کې په اوچت اواز سره د تلاوت کولو حکم نشته

سوال: زه لمونځ ورو اواز سره نه شم کولی،ورو اواز سره لوستلو کې ماته د تلفظ په ادا کولو کې مشکل وي،کله چې ما علم تجوید زده کړی دی، نو ماته ورو لوستل سخت شوي دي، حالانکې زه کوشش کوم چې آواز ورو کړم،خودعادت جوړیدو له وجې نه غیرشعوري طور

---

[۱] والجهرللامام والاسرارللکل فیمایجهرفیه ویسر.(درمختار ج:۱ص:٤٦٩،طبع ایچ ایم سعید کراچی).

[۲] والثالثة من الفرائض القراءة وهوتصحیح الحروف بلسانه بحیث یسمع نفسه فان صح الحروف من غیر ان یسمع نفسه لایکون ذالک قراءة فی اختیارالهندوائی والفضلی لان مجردحرکة اللسان لایسمی قراءة بلا صوت لان الکلام اسم لمسموع مفهوم وقیل اذاصح الحروف یجوز وان لم یسمع نفسه .(حلبی کبیرص:۲۷۵،طبع سهیل اکیدمی).

[۳] ویجب التشهدفی القعدة الاخیره وکذافی القعدة الاولی وهوالصحیح هکذافی السراج الوهاج وهوالاصح ،کذافی محیط السراخی .(عالمګیری ج:۱ص:۷۱).ایضا:قوله والتشهدان ای تشهدالقعدة الاولی وتشهدالاخیرة والتشهدة المروی عن ابن مسعود لایجب بل هوالفضل من المروی عن ابن عباس وغیره خلافالمابحثه فی البحر. (ردالمحتار ج:۱ ص:٤٦٦،طبع ایچ ایم سعید کراچی).

[۴] اوسننها.......والثناءوالتعوذوالتسمیة والتامین.......وتکبیرالرکوع وتسبیحه ثلاثا........ وتکبیر السجود والرفع وکذا الرفع نفسه وتسبیحه ثلاثا...الخ.(عالمګیری ج:۱ص:۷۲،ایضا الدرالمختارج:۱ص:٤٧٣).

[۵] ان ادنی المخافتة اسماع نفسه اومن بقربه من رجل اورجلین مثلا،واعلاها تصحیح الحروف.(شامی ج:۱ص:۵۳۵)

باندې دوباره اواز تیز شي،دومره تیز چې خوا کې کس یې اسانتیا سره اوري. بلکې په کمره کې که څوك موجود وي، نو هغه یې هم اوري، مسئله داده چې لمونځ یوازې د الله پاك له پاره کیږي او کله چې ماسره نژدې څوك نوی کس مثلاً څوك خپلوان وغیره لمونځ کوي. نو زه کوشش کولو سره اواز ورو ساتم. ښکاره خبره ده همدا خیال به وي چې دی به څه وایي.کله داسې هم شوي دي چې د لمانځه دوران کې څوك کمرې ته داخل شي، نومااواز ورو کړی دی. زه یوه واده شوې(شادي شده) ښځه یم،نن سبا دې مسئلې سره ډیره پریشانه یم چې چېرته دا مسئله د ایمان د خرابي سبب جوړ نه شي؟

جواب: ښځو ته اوچت اواز سره د لوستلو حکم نشته. بلکې ورو اواز سره د لوستلو حکم دی[۱] تاسو اوچت اواز سره د لوستلو عادت پریږدئ او ورو اواز سره د لوستلو،چې دغه اواز نور خلک نه اوری،عادت جوړ کړئ، ستاسو دا خیال صحیح نه دی چې ورو لوستلو سره د تجوید مطابق نه لوستل کیږي،باقي دچا په راتلو سره اواز ورو کولو سره هیڅ هم نه دي شوي، ستاسو په اخلاص کې فرق نه دی راغلی ،له دې وجې نه د پریشانه کیدو ضرورت نشته.

د ماسپښین اومازدیګر قضا لمونځ که د شپې وکړل شي نوایا قراءت به لوړاواز سره کیږي؟

سوال: که د ماسپښین او د مازدیګر لمونځونه قضا شي او د شپې په وخت د دې قضاراوړل کیږي ،نو ایا قراءت به لوړ اواز سره ویل کیږي؟

جواب: که سري لمونځونه د شپې په وخت قضا راوړل کیږي،نو بیا به هم په کې اوچت اواز سره نه. بلکې ورو اواز سره قراءت لوستل کیږي.[۲]

د مازدیګر او ماسپښین لمونځونه په پټه او باقي لمونځونه په تیز اواز سره ولې کیږي؟

سوال: د مازدیګر او ماسپښین لمونځونه په پټه او باقي لمونځونه د سهار ماښام او ماسخوتن په تیز اواز سره ولې کیږي؟ د دې وجوهات په تفصیل سره بیان کړئ.

جواب: داسلسله د رسول اللهﷺله زمانې نه همداسې راروانه ده چې د ماسپښین او مازدیګر

---

[۱] قال علیه الصلوة والسلام :التسبیح للرجال والتصفیق للنساءفلایحسن ان یسمعها الرجل اهـ وفی الکافی : ولاتلبی جهراً لان صوتها عورة، ومشی علیه فی المحیط فی باب الاذان بحر، قال فی الفتح: وعلی هذا لو قیل اذا جهرت بالقراءة فی الصلاة فسدت کان متجها،ولهذا منعهاعلیه الصلوة والسلام من التسبیح بالصوت لاعلام الامام بسهوه الی التصفیق.(ردالمحتار ج:۱ص:٤۰٦).

[۲] والجهرللامام والاسرارللکل فیمایجهرفیه ویسر.(درمختار ج:۱ ص:٤٦۹،طبع ایچ ایم سعید کراچی).

قرات په سر کیږي او د سهار او ماښام او ماسخوتن د لمانځه قرات په جهر کیږي د یو حکم د ثبوت د پاره نه لويه وجه د رسول الله ﷺ نه د هغه ثبوت دی[۱] له دې نه وروسته د بل څه له وجې یو مونږ ته ضرورت نشته، بلکې د عوامو له پاره د شرعي مسائلو وجې پوښتل نقصان ورکوي، اګر چې په هر شرعي حکم کې حکمتونه شته او الحمد لله علماء کرامو ته هغه حکمتونه معلوم هم دي، خو عوامو ته په حکمتونو پسې لګیدل نه دي پکار.

سهار، ماښام او ماسخوتن لمونځ چې قضاء شي نو په ورځ کې به یې قضاء جهري وي او که سري؟

سوال: که د سهار، ماښام او ماسخوتن لمونځ قضاء شي او د ورځې جمعې سره وکړل شي، نو قرأت به یې جهري وي که سري؟

جواب: په دې صورت کې به قضاء په جهري قرات سره کیږي. د دې په خلاف کې که د ورځې د قضاء شوي لمونځ قضاء په شپه کې کیږي، نو قرات به پټې سري وي.[۲]

د جمعې په لمانځه کې به مقتدي قرات کوي که چپ به وي؟

سوال: د جمعې دلمونځ دا داکولو په وخت په قیام کې د ثناء لوستلو نه وروسته مقتدي ته چپ دریدل پکار دي او که تلاوت کول پکار؟ دلته په ابوظبي کې مقامي خلک الحمد شریف ضرور لولي که تلاوت په جهري وي او که سري.

جواب: فاتحه خلف الامام مشهوره اختلافي مسئله ده امام شافعي رحمه الله دا ضروري ګڼي او د اهل حدیث حضراتو هم په دې باندې عمل دی، د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد قرات د مقتدي کار نه دی بلکې د امام کار دی، له دې وجې د احنافو په نزد د امام په اقتداء کې د مقتدي قرات کول جائز نه دي، که تاسو د امام ابوحنیفه رحمه الله مقلد یئ نو چپ دریږئ او په زړه کې په فاتحه باندې سوچ کوئ.

ضروري لیک: د دې مسئلې د تشریح له پاره د ضرورت په اندازه زما د کتاب اختلاف امت او صراط مستقیم د دویمې برخې کتل پکار دي.

فقه حنفي کې امام پسې سورة فاتحه لوستل صحیح نه دي

سوال: روزنامه "جنګ" کراچی تاریخ ۲ ۱جنوري ۱۹۹۰ء بروز جمعه، اسلامي صفحه (اقراء) کې

۱]وكذا واظب على الجهر فيما يجهر والمخافتة فيمايخافت وذالك دليل الوجوب وعلى هذا عمل الامة. (بدائع الصنائع ج:۱ ص:۱۶۱، طبع ايچ ايم سعيد كراچى)۔

۲] اذا ترک صلاة الليل ناسيًا فقضاها في النهار وام فيها وخافت كان عليه السهو وان ام ليلاً في صلاة النهار يخافت ولا يجهر فان جهر ساهيًا كان عليه السهو. (هندية ج:۱ ص:۷۲، طبع بلوچستان)۔

یو مضمون په عنوان د "کلام الهي احکام فضیلت وثمرات" شائع شوي دي. په هغه کې دا لاندې عبارت(کالم نمبر ۷)کې لیکل شوي دي

"سورة فاتحه په لمانځه کې لوستل په لمونځ کونکي .امام او مقتدي دواړو باندې ضروري دي. فرض. نفل. جهري. سري هیڅ یو لمونځ ددې سورت نه بغیر نه قبلیږي"

ستاسو نه دا پوښتنه کول غواړم چې ایا دا مسئله د حنفي مذهب مطابق ده چې په امام او مقتدي دواړو باندې هر فرض. نفل. سري او جهري لمونځونو کې سورت فاتحه لوستل ضروري دي؟

جواب: دا مسئله د حنفي مسلك نه خلاف ده. د امام ابوحنیفه **رحمه الله** په نزد د مقتدي په ذمه قراءت نشته. بلکې ده ته د چوپ دریدلو حکم دی. که لمونځ سري وي یا جهري وي. لکه په قرآن کریم کې دي: "**وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ**"(الاعراف: ۲۰۴)

"او کله چې قرآن پاك لوستل کیږي. نو تاسو دې ته غوږ ږدئ او چوپ اوسیږئ ددې له پاره چې په تاسو باندې رحم وکړل شي".

شیخ الاسلام حافظ ابن تیمیه رحمه الله په خپله فتاوی کې لیکي چې امام احمد رحمه الله ذکر کړي دي چې په دې خبره باندې د اسلافو اجماع ده چې دا آیت د لمانځه په باره کې نازل شوی دی. یعنې کله چې امام قرات کوي نو مقتدي دې چوپ اوسیږي(**فتاوی شیخ الاسلام** ج: ۲۳، ص: ۲۶۹)[1]

او صحیح مسلم شریف کې د حضرت ابوموسی اشعري رضی الله عنه روایت سره د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دا حکم هم نقل دی چې کله امام قرات کوي. نو تاسو چوپ اوسیږئ او کله چې هغه "**ولا الضالین**" وایي، نو تاسو آمین وایئ. (**صحیح مسلم** ج: ۱، ص: ۱۷۴)[2]

ایا مقتدي د توجه برابرولو له پاره په زړه کې قرات یا ترجمه ویلی شي؟

سوال: زه اکثر په امام پسې لمونځ کولو کې خپل خیال د ورانیدلو نه د بچ کولو له پاره داسې کوم چې د امام صاحب قرات په زړه کې پټ پټ وایم یا بیا که د سورت یا آیت ترجمه یاده وي، نو هغه ترجمه وایم تاسودابیان کړئ چې دفقه حنفي مطابق زما دا کارصحیح دی او که غلط؟

---

[1] (واذا قرئ القران فاستمعوا له وانصتوا لعلکم ترحمون)وقد استفاض عن السلف انها نزلت فی القراءة فی الصلاة......وذکر احمد بن حنبل الاجماع علی انها نزلت فی ذالک،وذکر الاجماع علی انه لاتجب القراءة علی الماموم حال الجهر.(مجموع الفتاوی لشیخ الاسلام ابن تیمیة ج:۲۳ ص:۲۶۹،طبع مکتبة المعارف،السعودیة).

[2] عن حطان بن عبدالله الرقاشي قال:صلیت مع ابی موسی الاشعری.......فقال:اذا صلیتم......فاذا کبر فکبروا، واذا قال غیر المغضوب علیهم ولا الضآلین فقولوا:آمین.....وفی روایة من الزیادة واذا قرا فانصتوا...الخ.(مسلم ج:۱ ص:۱۷۴).

جواب: د امام قرات طرف ته متوجه کيدل بالکل مطلوب دي په ژبې سره دې الفاظ نه اداکوي. بلکې امام چې څه وايي هغه دې په توجه سره اوري او خان دې پرې پوهوي [۱]

د مختلفو ځايونو نه قرآت کول

سوال: ايا امام يا ځانته انسان په يو رکعت کې د مختلفو ځايونو نه سورت، رکوع يا آيت د قرات له پاره يو ځاى کولى شي؟ مثلا په شروع کې د سورت بقرې رکوع، له دى سره د سورت يوسف يوه رکوع يا آيت يا د يو بل ځاى نه؟

جواب: جائز دي. [۲]

په لمانځه کې د قرآن کريم دلوستلو ترتيب بايد څه وي؟

سوال: زه ستاسو نه په لمانځه کې د لوستل کيدونکو سورتونو ترتيب معلومول غواړم زه دوه قسمه ترتيب ليکم تاسو بيان کړئ په دې کې کوم قسم ترتيب صحيح دى؟

الف.....اګر چې سنت کول وي، نو په لومړي رکعت کې د سورة نمبر (۱۰۲) په دويم رکعت کې سورة نمبر (۱۰۵) په دريم رکعت کې سورة نمبر (۱۰۹) او په څلورم رکعت کې سورة نمبر (۱۱۳) لوستل کيږي.

ب.....که څلور سنت کول وي، نو په لومړي رکعت کې سورة نمبر (۱۰۲) په دويم رکعت کې سورة نمبر ۱۰۳ په دريم رکعت کې سورة نمبر (۱۰۴) او په څلورم رکعت کې سورة نمبر (۱۰۵) لوستل پکار دي.

جواب: تاسو دواړه صورتونه صحيح ليکلي دي په قرآن کريم کې چې سورتونه په کوم ترتيب سره راغلي دي په هماغه ترتيب سره لوستل پکار دي د ترتيب خلاف لوستل مکروه دي او اخري واړه سورتونه يا خومسلسل لوستل پکاردي ياپه لومړي رکعت کې چې کوم سورتونه لوستل پکاردي دهغو نه وروسته يوسورت پريښودلوسره دې دويم نه لولي. بلکې دوه سورتونه پريښودلوسره دې دريم ولولي. [۳]

د سورتونو بې ترتيبي مکروه ده

سوال: ويل شوي چې په لمانځه کې د سورتونو ترتيب ضروري دى. که هغه د شروع نه يعني

۱] والمؤتم لايقرا مطلقًا ولا الفاتحة فى السرية اتفاقًا.(الدر المختار مع الرد المحتار ج:۱ ص:۵۴۴)_

۲] ولو قرافى ركعة من وسط سورة اومن وسط سورة اخرى اومن اخرسورة اخرى لاينبغى له ان يفعل ذلک على ماهوظاهرالرواية ولکن لوفعل ذلک لاباس به کذافى الذخيرة.(عالمګيرى ج:۲ص:۷۸)_

۳] ايضا:ولوقرافى الركعة الاولى سورة وفى الاخرى سورة فوقهايكره،واذاقرافى الاولى قل اعوذبرب الناس يقرافى الثانية قل اعوذبرب الناس ايضا...الخ.(الجوهرة النيرة ج:۱ص:۶۸).ايضا:لان ترتيب السورفى القراءة من واجبات التلاوة .(فتاوى شامى ص:۵۴۷مطلب الاستماع للقرآن فرض کفاية،ايضاحلبى کبيرص:۴۹۴)

د کوم ځای نه چې یاد وي د هغه ځای نه سورة الناس پورې یا بیا کوم ځای پورې چې یاد وي، که په لمانځه کې د ترتیب خیال ونکړل شي، نو لمونځ مکروه کیږي. که چاته د سورتونو ترتیب یاد نه وي، نو په داسې صورت کې که هغه اولني سورتونه وروسته او وروستي سورتونه مخکې ولولي، نو ایا لمونځ قبول شو او که نه؟

جواب: دلمانځه ضروري مسائل زده کول واجب دي، په هرحال دسورتونو بې ترتیبي مکروه ده.[1]

لمانځه کې د سورتونو کوم ترتیب پکار دی؟

سوال: ماته دا سورتونه یاد دي. سورت قدر، سورت فیل، سورت الکافرون، سورة کوثر، سورة نصر، سورة عصر، سورة لهب. زه په لمانځه کې دا کوم ترتیب سره تلاوت کړم؟

جواب: کوم ترتیب سره چې دا سورتونه په قرآن پاك کې راغلي دي هغه ترتیب سره یې په لمانځه کې لوله.[2]

په لمانځه کې سورتونه د ترتیب نه خلاف لوستل پکار نه دي

سوال: زه لمانځه کې دغه شان سورتونه لولم لکه ماسخوتن څلورو فرضو رکعتونو کې **الم ترکیف**، **لایلاف قریش**، دوه رکعته سنت کې **ارءیت الذی**، **انا اعطینك**، درې رکعته وترو کې **قل یاایها الکافرون**، **اذا جاء**، **تبت**. زه قضا لمونځونه هم کوم، نو د ماسخوتن په قضاشویو څلور رکعته فرضو کې **قل هوالله**، **قل اعوذبرب الفلق** او ۳ وترو کې **قل اعوذبرب الناس**، **الم ترکیف** او **لایلاف قریش**. مخکې به ما قضا لمونځ کې ۴ فرضو کې **قل هوالله** پریښودلو او **قل اعوذبرب الفلق** او **قل اعوذبرب الناس** او په ۳ وترو کې به مې **الم ترکیف**، **لایلاف قریش** او **ارءیت الذی** به مې پریښودلو او **انا اعطینك** به مې لوستلو. ایا دا دواړه طریقې صحیح دي او که نه؟ ماته په دویم ځل د لمونځ کول ضرورت به وي؟

جواب: کوم لمونځونه چې تاسو کړي دي هغه خو ادا شوي، په دویم ځل دهغو د کولو ضرورت نشته. اینده له پاره دا اصول اختیار کړئ چې د سنت، فرض، وتر کوم نیت تړئ، نو هغه کې سورتونه هغه ترتیب سره لولئ کوم ترتیب سره چې قرآن پاك کې لیکل شوي دي، ددغه ترتیب نه خلاف یې مه لولئ.[3]

---

[1]]ویکره ان یقرأفی الثانیة سورة فوق التی قراهافی الاولی لان فیه ترک الترتیب الذی اجمع علیه الصحابه... الخ. (حلبی کبیرص: ٤٩٤، طبع سهیل اکیدمی لاهور).

[2]]ویکره ان یقرأفی الثانیة سورة فوق التی قراهافی الاولی لان فیه ترک الترتیب الذی اجمع علیه الصحابه ...الخ.(حلبی کبیرص: ٤٩٤، طبع سهیل اکیدمی لاهور).

[3]]ویکره ان یقرأفی الثانیة سورة فوق التی قراهافی الاولی ،لان فیه ترک ..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

لمانځه کې قصداً سورتونه ترتيب سره نه لوستل

سوال: تاسو دا خبره ښو خله ليکلې ده چې په لمونځونو کې د سورتونو د ترتيب اهتمام ډير زيات ضروري دی، که په اولني رکعت کې **سورة التّين** ولوستل شي او په دويم رکعت کې هيره باندې يا د بې فکرې له وجې نه **الم نشرح** ولوستل شي. نو لمونځ وشو "که په دويم ځل کول ضروري دي؟ دغه شان که په اولني رکعت کې سورة کوثر او" په دويم رکعت کې سورة کافرون ولوستل شي او دا کار په هيره باندې نه، بلکې قصداً داسې وکړي. نو په لمانځه کې دا جائز دي؟ د لمانځه په کتابونو کې خو دا ليکلي دي چې په اولني رکعت کې لوی سورت او په دويم کې وړوکی سورة لوستل پکار دي او که دواړو کې برابر يوشان سورتونه لوستل پکار دي؟

جواب: لمانځه کې قصداً سورتونه د ترتيب نه خلاف لوستل مکروه دي[۱].خود لمانځه دويم ځل کول په دې صورت کې هم ضروري نه دي او که هيره باندې بې فکرې کې په دويم رکعت کې يې مخکې سورت شروع کړ، نو هيڅ حرج نشته. همدا دې ولولې.ددې په پرېښودلو سره دې اوس بل سورت نه شروع کوي،په اولني رکعت کې دوړوکي سورة لوستل او په دويم رکعت کې اوږد سورة لوستل مکروه دي[۲] خواخري سورتونه د لوی والي او وړوکوالي باوجود نژدې نژدې دي.له دې وجې نه که په اولني رکعت يې سورة الکوثر او په دويم کې يې سورة الکافرون ولوست، نو څه حرج په کې نشته.[۳]

ايا ټولولمونځونو کې د سورتونو ترتيب ضروري دی؟

سوال: ما تاسو ته يو خپله مسئله راوړې ده چې زه په لمانځه کې د سورتونو په ترتيب باندې نه پوهيږم.مور پلار مې نشته او د بل چا نه پوښتنه کولو باندې شرميږم.چې خلک راپورې ټوکې ونکړي،کوم سورت چې هم راته ياد شي، نو هغه لولم زه غواړم چې مکمل معلومات راته حاصل شي چې د سهار په لمانځه کې په اولني رکعت کې کوم او دې ترتيب سره په ماسپښين،مازديګر،ماښام او ماسخوتن کې اولني رکعت نه اخر دا چې په نفلو کې کوم کوم

....بقيه د تيرمخ]`.الترتيب الذى اجمع عليه الصحابه هذا اذاكان قصدا واماسهوًا فلا،(حلبى كبير ص:۴۹٤).ايضا:ويكره الفصل بسورة قصيرة وان يقرامنكوسا،وفى الشامية:.......لان ترتيب السورفى القراءة من واجبات التلاوة .(شامى ج:: ۱ص:۵٤٦).

[۱]]ايضا.

[۲]]قال محمد:احب الى ان يطول الاولى على الثانية فى الصلوات كلها.......فيستحب فيهاتطويل الاولى على الثانية بالاجماع فى الصلوات كلهاوهذافى الفرض .(الجوهرة النيرة ج:۱ص:٦۹،طبع حقانيه ملتان).

[۳]]وطوال المفصل من الحجرات الى البروج،والاوساط من سورة البروج الى لم يكن ،القصارمن سورة لم يكن الى الاخرهكذافى المحيط والوقاية ومنية المصلى .(عالمگيرى ج:۱ص:۷۷،طبع بلوچستان).

سورتونه لوستل کیږي؟او که نفل لمونځ د شکرانې وي. نو په هغه کې به څه ترتیب وي؟څکه چې زما عادت دی چې زه په څه خبره هم پریشانه شم. نو نفل منم.دوه نفل.څلور نفل یا څنګه هم چې خیال راشي چې دومره دومره نفل به کوم. نو هغومره یې کوم که تاسو زما دا مسئله حل کړئ. نو ستاسو به ډیره مهرباني وي.کېدای شي چې دې سره د بل چا بنیګړه هم وشي

جواب: په لمانځه کې د سورتونو د لوستلو ترتیب هم هغه دی کوم چې په قرآن مجید کې لیکل شوی دی[۱].یعنې په قرآن مجید کې چې سورتونه کوم ترتیب سره لیکل شوي دي. نو په هغه ترتیب سره په لمانځه کې هم لوستل کیږي. خودا خبره یاد ساتئ چې یوځل موږ کوم نیت وتړوکه د فرض لمونځ وي یا د سنت یا د نفل دا یو لمونځ دی په دې کې به د ترتیب لحاظ ساتل کیږي،په دویم ځل چې کله نیت تړئ. نو په دې لمانځه کې به د سورتونو جدا ترتیب وي او ددې نه مخکې نیت کې چې کوم سورتونه لوستل شوي دي.د هغو نه مخکېني سورتونه هم لوستل کیدای شي

لمانځه کې د سورتونو پابندي د امام لپاره صحیح نه ده

سوال: جناب روزنامه"جنګ"په تیر شوي اشاعت کې فرمایلي و. په جمعة المبارك کې همیشه لپاره سورة اعلی،سورة الغاشیه او د سورة الجمعه نه پرته د قرآن مجید د نورو برخونه دې هم تلاوت کیږي.زموږ امام صاحب سورة سورة اعلی.غاشیه او سورة جمعه لولي او په ټول کال ددې نه پرته بل سورت نه لولي.وایي چې دا مسنون قرات دی.تاسو ته درخواست دی چې په جمعة المبارك کې د قرآن پاك د نوروبرخو نه د تلاوت کولو چې کوم سند دی د هغه نه موږ خبر کړئ او دا چې آیا د حدیثو نه هم دا ثابتیږي چې نبي کریم ﷺ به ۵۲جمعې هم دا درې سورتونه تلاوت کول؟یا کوم صحابي چې دا حدیث بیان کړی دی. یوازې هغه جمعو کې دا سورتونه تلاوت کړي دي کومو کې چې دغه صحابي موجود و؟

جواب: دنبي کریم ﷺ نه د جمعة المبارك په لمانځه کې سورة الاعلی او سورة الغاشیه لوستل هم ثابت دي او کله سورة جمعه او سورة منافقون لوستل هم ثابت دي.له دې نه معلومه شوه چې په لمانځه کې د یو معین سورة التزام صحیح نه دی چې همیشه همدغه سورت لوستل کیږي. بلکې بدلول یې پکار دي ددې له پاره چې د عوامو خیال نه شي چې په دې لمانځه کې بس دغه سورت لوستل کیږي او کېدای شي چې د بل سورت لوستل صحیح نه وي

خلاصه داچې امام صاحب ته د جمعة المبارك په لمانځه کې د سورة اعلی او د سورة الغاشیه دا سې پابندي کول پکارنه دي چې همیشه هم دا سورتونه لولي.بلکې بدلول یې هم پکار دي [۲]

---

[۱] لان ترتیب السور فی القراءة من واجبات التلاوة .(شامي ج:ص:۵٤٦،طبع سعیدکراچی).

[۲] عن النعمان بن بشیرقال:کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یقرأفی العیدین وفی الجمعة بسبح اسم ربک الاعلی .وهل اتاک حدیث الغاشیة...الخ .(مشکوة ص:۸۰،باب ..)بقیه حاشیه په راروانه صفحه.

د څلور ركعتونو فرض لمونځ په اولنيو دوو ركعتونو كې سورة فلق، سورة ناس لوستل

سوال: كه يو څوک ځانته څلور ركعته فرض لمونځ كوي، نو په اولني ركعت كې د سورة فاتحه نه وروسته سورة فلق او په دويم ركعت كې سورة ناس لوستلى شي او كه نه؟

جواب: هو لوستلى يې شي

په لمانځه كې يوازې (چارقل) لوستل

سوال: زه د شلو كالو راهيسې لمونځ كوم. كله يې له جمعې سره زيات تر په كور كې. قرآن شريف مې ويلى نه دى. يوازې راته چارقل ياد دي. چې ترتيب سره يې پنځه وخته لمانځه كې لولم. ايا لمونځ كيږي؟

جواب: لمونځ خو جمعې سره كول پكار دي. باقي چارقل ترتيب سره لوستل صحيح دي.

په وروستي ركعت كې د لومړي ركعت د سورت نه اوږد سورت لوستل

سوال: ما په (جنتي كالى) كې لوستلي دي چې په لمانځه كې په دويم ركعت كې د لومړي ركعت نه لوى سورت لوستل نه دي پكار ډير خلک څلور ركعته لمونځ د الم تر كيف نه شروع كوي، نو هغوى به په دريم ركعت كې سورت الماعون وايي كوم چې د هغه نه مخكې سورت يعنې سورت القريش نه لوى دى، نو ايا لمونځ صحيح دى؟ په څلور ركعته نفل لمونځ كې خو غالبا په دريم ركعت كې د نوي لمونځ په شان شروع كيږي چې د هغه دا مطلب دى چې د دريم ركعت د وړوكي غټ سورت به د دريم ركعت په سورت باندې څه اثر نه پريوځي. خو دلته هم څلورم ركعت د د دريم ركعت د سورت نه زيات اوږديدل نه دي پكار؟ مولانا صاحب ايا په موكد سنت كې هم دريم يا څلورم ركعت د لومړيو دوو ركعتونو نه جدا وي؟

جواب: دلته څو مسائل دي:

(۱) په فرض لمانځه كې دويم ركعت د لومړي ركعت نه د درې ايتونو په مقدار اوږدول مكروه دي په داسې انداز چې د دواړو سورتونو ايتونه يو بل ته لنډ وي او كه د دواړو ايتونه لوى واړه وي، نو د حروفو او كلماتو اعتبار به كيږي.[۱]

...بقيه د تيرمخ]..القراءفى الصلاة).ايضا:عن عبيدالله بن ابى رافع قال:استخلف مروان اباهريرة على المدينة وخرج الى مكة فصلى لناابوهريرة الجمعة فقرأ سورة الجمعة فى السجدة الاولى وفى الآخرة اذاجائك المنافقون. فقال سمعت رسول رسول الله صلى الله عليه وسلم يقرابهمايوم الجمعة.رواه مسلم.(مشكوة ص:۸۰باب القراءة فى الصلاة ،الفصل الاول).

[۱] وفى بعض شروح الجامع الصغيرلاخلاف ان اطالة الركعة الثانية ..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

(۲) دا حکم خو د فرض لمونځ دی او په نفل لمانځه کې خینود دویم رکعت د لومړي نه اوږدول پرته د کراهت نه جائز کړي دي او خینود نفلو دویم رکعت هم اوږدول مکروه کړي دي [۱]

(۳) د نفلو هر څلورو رکعتو والا لمونځ مستقل لمونځ دی [۲] له دې وجه د نفل لمونځ که دریم رکعت د دويم نه اوږد شي، نو هيڅ ګناه نشته د سنت غير موکده هم دا حکم دی

(۴) د سنت موکد حکم مې ښکاره نه دی ليدلی،غوره داده چې په دې کې هم روستني رکعتونه د لومړنيو نه اوږده نه کړل شي

د وړو سورتونو تر مينځه د څومره سورتونو فاصله پکار ده؟

سوال: يو عالم دين فرمايي چې امام ته د قرات کولو په وخت کې د وړو سورتونو مينځ کې کم نه کم د درې سورتونوو فاصله ساتل ضروري دي د دې څه وجه ده؟ او ايا دا مسئله صحيح ده؟

جواب: فقهاء کرامو ليکلي دي چې په وړو سورتونو کې قصدا يو سورت پريښودلو سره له هغه نه وروسته سورت لوستل مکروه دي، که لوی سورت په مينځ کې پريښودلو سره بل سورت ولوستل شي، نو مکروه نه دي او که دوه واړه واړه سورتونه پريښودل شي، نو هم مکروه نه دي او که په هيره باندې يو وړوکی سورت پريښودلو سره بل شروع کړي، نو بيا هم مکروه نه دي د کراهت وجه داده چې يو وړوکی سورت پريښودلو سره داسې شک پيدا کيږي ګويا چې دا سورت يې خوښ نه دی [۳]

د بالکل وړوکي سورت نه مراد کوم سورت دی؟

سوال: وايي چې په لمانځه يو وړوکی سورت پريښودلو سره بل سورت نه دي لوستل پکار ايا د بالکل وړوکي سورت نه مراد سورت اخلاص ده او که سورت کوثر؟ که چا په دې مسئله باندې عمل ونکړ، نو هغه به ګناهګار وي؟

...بقيه د تيرمخ]..على الاولى مكروهة ان كانت بثلاث ايات اواكثروان كانت باقل من ذالک لايكره كذافى الخلاصة،قال المرغينانى التطويل يعتبربالآية ان كانت متقاربة وان كانت الآيات متفاوتة من حيث الطول والقصريعتبربالكلمات والحروف كذافى التبيين .(عالمگيرى ج:۱ص:۷۸)_

۱] فى الدرالمختار:واطالة الثانية على الاولى يكره تنزيها اجماعاان بثلاث آيات ان تقاربت طولا وقصرا والا اعتبر الحروف والكلمات....واستثنى فى البحرماوردت به السنة واستظهر فى النفل عدم الكراهة مطلقا. (الدرالمختارمع الرد ج:۱ص:۵۴۲، فصل فى القراءة ،طبع ايچ ايم سعيدكراچى)_

۲]امااذاكانت سنة اونفلافيبتدى كماابتدافى الركعة الاولى يعنى ياتى بالثناءوالتعوذ،لان كل شفع صلاة على حدة).(ردالمحتارج:۲ص:۱۶)_

۳] (ويكره الفصل بسورة قصيرة)امابسورة طويلة....فلايكرة....كما اذاكانت سورتان قصيرتان..الخ (شامى ج:۱ص:۵۴۶،).ايضا:لانه يوهم الاعراض والترجيح من غيرمرجح(حلبى كبيرص:۴۹۴،طبع سهيل اكيدمى)

جواب: د سورت لم یکن نه وروسته د قران د اخره پورې ټول سورتونه واړه سورتونه دي[۱] په لومړي رکعت کې چې کوم سورت لوستل شوی وي په دویم رکعت کې قصداً روستنی سورت پریښودل او بل سورت لوستل مکروه دي که په هیره یې شروع کړ، نو هیڅ ګناه نشته اوس دې هغه نه پریږدي[۲]

په لمانځه کې بسم الله په تیزه ویل پکار دي که په ورو؟

سوال: په سورت فاتحه کې ټول اووه ایتونه دي چې په هغه کې بسم الله هم شامله دهٔ ما په ډیرو مولویانو پسې لمونځ ادا کړی دی. هغوی د سورت فاتحې نه مخکې بسم الله نه وایي. د یو مولانا سره زما په دې مسئله باندې بحث شو ما دا ویل: بسم الله الرحمن الرحیم د سورت فاتحې یو جز دی. یو ایت دی. د هغوی دا وینا وه چې موږ د لوی مولانا نه داسې اوریدلي دي. یعنې لوی مولانا هم د سورت فاتحې نه مخکې بسم الله نه وایي د لمونځ په رسالوکې هم بسم الله لیکل شوې ده.

جواب: د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد بسم الله شریف یو مستقل ایت دی کوم چې د سورتونو مینځ کې د فرق راوستلو له پاره نازل شوی دی چې د هر سورت شروع د الله پاک د نوم نه وشي[۳] د سورت فاتحې نه مخکې ددې لوستل لازمي دي، خو بسم الله په جهري لمونځونو کې پټه ویل کیږي[۴] د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د شیخینو: ابوبکر صدیق رضی الله عنه اوعمرفاروق رضی الله عنه هم دا معمول و، چې هغوی به بسم الله په پټه ویله[۵]

۱] والقصارمن سورة لم یکن الی الآخرهکذافی المحیط والوقایة ومنیة المصلی .(عالمگیری ج:۱ص:۷۷)۔

۲] ولوقرافی رکعة سورة وقرافی الرکعة الاخری سورة اخرٰی بینهماسورة اوقرأ سورة فوق تلک السورة فالمختارانه یمضی فی قراءتهاولایترک هکذافی الذخیرة .(عالمگیری ج:۱ص :۷۹،طبع بلوچستان)۔

۳] قال ابوجعفرفهذاعثمان یخبرفی هذاالحدیث ان بسم الله الرحمن الرحیم لم تکن عنده من السور.وانه انما کان یکتبهافی فصل السوروهوغیرهن .(شرح معانی الآثارج:۱ص :۱۳۹،باب قراءة بسم الله .....فی الصلاة).ایضا:وهی آیة من القرآن انزلت للفصل بین السورلیست من الفاتحة ولامن کل سورة بیان للاصح من الاقوال کمافی المحیط وغیره .(البحرالرائق ج:ص :۳۳۰،طبع بیروت ،ایضا:درمختارج:۱ص ٤۹۱،طبع ایچ ایم سعیدکراچی)۔

٤]وفی ذکرالتسمیة بعدالتعوذ اشارة الی محلهافلوسمی قبل التعوذ اعادهابعده لعدم وقوعهافی محلها...الخ.(البحرالرائق ج:۱ص :۳۳۰).ایضا:وسمی سرافی کل رکعة ای ثم یسمی المصلی بان یقول بسم الله الرحمن الرحیم هذا هو المراد بالتسمیة هنا.(البحر الرائق ج:۱ص :۳۲۹،طبع بیروت)۔

۵] عن انس رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم واباابکروعمرکانوایسرون ببسم الله الرحمن الرحیم .(شرح معانی الآثارج:۱ص:۱۳۹،باب قراءة بسم الله ....فی الصلاة ،طبع ایچ ایم سعیدکراچی)۔

له ثناء نه مخکې بسم الله ويل نه دي پکار

سوال: ايا کله چې لمونځ شروع کړو. نو د نيت کولو نه وروسته د **سبحانک اللهم** نه مخکې بسم الله ويل پکار دي او که نه؟

جواب: د **سبحانک اللهم** نه مخکې بسم الله نه لوستل کيږي، بلکې د ثناء نه وروسته اعوذ بالله او بسم الله لوستل پکار دي [1]

د التحيات نه مخکې بسم الله ويل

سوال: دلته ډير خلک په يو خبره باندې متفق دي چې هغوی څلور رکعته لمونځ کې د دوو رکعتونو نه وروسته يعنې په دويم رکعت کې چې کله التحيات لولي. نو هغوی له دې نه مخکې بسم الله وايي .دا خبره کوم حد پورې صحيح ده؟

جواب: د التحيات نه مخکې بسم الله شريف لوستل نشته

د التحيات نه مخکې بسم الله ويل

سوال: التحيات کې مې **بسم الله الرحمن الرحيم** لوستلو نه وروسته التحيات شروع کړه. نو ايا د تاخير له وجې نه سجده سهو کول ضروري شو؟

جواب: له دې سره سجده سهوه نه لازميږي

د دويم رکعت د شروع کولو نه مخکې بسم الله ويل

سوال: د لمانځه دويم رکعت شروع کولو نه مخکې ايا بسم الله لوستل ضروري دي؟ عموما په لومړي رکعت کې لوستل کيږي په دويم،دريم او څلورم رکعت کې هم د لومړي رکعت په شان بسم الله ويل کيږي؟ که ونه ويل شي. نو څه فرق پرېوځي؟

جواب: په لومړي او دويم رکعت کې سورت فاتحه کې بسم الله لوستل د ځينې علماوو کرامو په نزد سنت دي،خوعلامه حلبي رحمه الله دمنيه په شرح کې ليکلي دي چې صحيح داده چې دا واجب ده که هيره شوه تري،نوسجده سهوه واجب ده په دريم اوڅلورم رکعت کې مستحب ده.[2]

---

[1] (وكيفيتها)اذا ارادالدخول فى الصلاة كبر.....ثم يقدم سبحانک اللهم .....لم يتعوذ.....ثم التعوذتبع القراءة دون الثناء.....ثم ياتى بالتسمية ...الخ .(الهندية ج:۱ ص :۷۳،۷٤،طبع بلو چستان)_

[2] (ثم) بعدالتعوذ(يسمى) اى يقرء بسم الله الرحمن الرحيم (فياتى بها)اى بالستسمية فى اول كل ركعة ..... اما الاول فميل الشيخ حافظ الدين النسفى فى كتبه وقاضى خان وصاحب الخلاصة وكثيرالى الماسنة ...... وذكر الزيلعى فى شرح الكنز ان الاصح انهاواجبة ...الخ .....قال الاكثراى يسجوللسهو اذا تركها ساهيا اول كل ركعة تجب فيها القراءة لان اكثر العلما،قالو ابوجوبهاوهذاهو الاحوط .(حلبى كبيرص :۳۰٦،طبع سهيل اكيدمى لاهور)_

ايا د لمانځه په هر رکعت کې تعوذ او تسميه لوستل پکار دي؟

سوال: ايا د لمانځه په هر رکعت کې تعوذ او تسميه لوستل پکار دي؟

جواب: اعوذ بالله يوازې په لومړي رکعت کې د ثناء نه وروسته امام او ځانته لمونځ کونکي لولي[1] بسم الله په هر رکعت کې د سورت فاتحه نه مخکې لوستل کيږي[2]

ايا ثناء او تعوذ به د سنت موکده په دويم رکعت کې هم لوستل پکار دي؟

سوال: د څلور رکعتو سنتو د کولو په وخت په لومړي رکعت کې ثناء، تعوذ، تسميه او له دې نه وروسته سورت فاتحه او سورت اخلاص لوستل کيږي چې کله په دويم دريم او څلورم رکعت کې يې لولو. نو ايا په ټولو رکعتونو کې به يې هم په دې ترتيب لولو کوم چې پورته وليکل شو. يعنې ثناء تعوذ او تسميه له دې نه وروسته سورت فاتحه او سورت اخلاص؟ د دې صحيح ترتيب وليکئ چې ثناء تعوذ او تسميه د کومو کومو رکعتونو پورې لولو. له دې نه وروسته د کوم ځاى نه شروع کوو په کتاب کې صحيح ترتيب نه دى ليکل شوى.

جواب: بسم الله شريف خو د هر رکعت په شروع کې لوستل کيږي[3] او ثناء او تعوذ د فرضو او د سنت موکده يوازې په لومړي رکعت کې لوستل کيږي. په پاتې رکعتونو کې نه[4]، خو سنت غير موکده او نفلو کې دريم رکعت نه د ثناء او تعوذ نه شروع کول غوره دي په دريم رکعت کې که ثناء تعوذ ونه لولي. نو بيا هم څه باک نشته.[5]

د الحمد په هر يو آيت کې سکته کول

سوال: د "اياک" او "نعبد" په مينځ کې سکته کولو سره لمونځ درست دى او که نه؟

جواب: د سکتې معنى اواز اوچتول خو ساه نه ماتول "اياک" او "نعبد" په مينځ کې سکته نشته په له دې وجه دلته سکته کول غلط دي، خو لمونځ کيږي.[6]

۱]وبعدالفراغ من الثناء يتعوذ اماماكان اومنفردا.....والتعوذعند افتتاح الصلوة لاغيرالخ .خلاصة الفتاوى ج:۱ص :۵۲،طبع مكتبه رشيديه كوئته)_

۲] (ثم ياتى بالتسمية)....وياتى بها فى اول كل ركعة...وعليه الفتوى .(الهندية ج:۱ص: ۷٤،طبع بلوچستان)

۳]وسمى سرافى كل ركعة ....وقوله فى كل ركعة اى فى ابتداءكل ركعة .(البحر الرائق ج:۱ ص :۳۳۰)_

٤]لاياتى بالثناء والتعوذفى الشفع الثانى من الفرائض،والواجب كالفرض فى هذا(البحر الرائق ج:۱ص :۳٤٦)

۵] بخلاف النوافل سنة كانت غيرهافانه ياتى بالثناءوالتعوذفيه كالاول لان كان شفع صلاة على حدة ...الخ. (البحرالرئق ج:۱ص:۳٤٦،طبع بيروت)_

٦] اذا وقف فى غيرموضع الوقف او ابتدا فى غيرموضع الابتداء ان لم يتغيرله المعنى تغيرا فاحشا..... لاتفسدبالاجماع بين علمائنا هكذافى المحيط.(الهندية ج:۱ص :۸۱،الفصل الخامس فى زلة القارى)_

د "ض" تلفظ د کوشش کولو سره د نه صحیح کېدو باوجود لمونځ کېږي

سوال: په ماهنامه الفاروق کې یو خای کې د "غیر المغضوب" والا سوال راغلی و. چې که د غیر المغضوب" ض"د خپل مخرج نه "د" ادا کړل شي، نو ددې معنی بدلیږي د هغوی وینا ده چې مغدوب سختې غوښې ته وایي او د مغضوب معنی د غضب شوي ده او حواله یې د لسان العرب ورکړې وه او زموږ بریلوي علماء وایي چې ددې صحیح مخرج د لوی لوی علماء کرامو نه ادا نه شو. له دې وجه هغوی هم "د" دمخرج نه ادا کړو او هغوی دفتاوی مهریه حواله ورکړه

جواب: د "ض" مخرج د ظا او دال نه بیل دی. د یو ماهر نه دې ددې د ادا کولو مشق وکړي او کوم سړی چې د مشق باوجود په صحیح تلفظ باندې قادر نه وي د هغه لمونځ صحیح دی.[۱]

له قصده په فرض لمانځه کې یوازې فاتحه لوستلو باندې اکتفاء کول

سوال: زموږ د محلې د یو جومات امام صاحب د جمعې په یو رکعت کې خالي سورت فاتحه ولوستله او رکوع ته لاړ، مقتدي داوګڼله چې کېدای شي امام صاحب نه هیره شوي وي،وروسته چې یې له هغه نه پوښتنه وکړه، نو هغه وویل ما نه هیره شوې نه ده. ما په قصد داسې وکړل دا سنت دي ،ځکه چې د الله د رسولﷺنه دا ثابت دي چې هغه هم داسې کړي دي. له دې وجه ما صحیح وکړل

جواب: د رسول اللهﷺد سنت متواتره نه ثابت دي چې هغه به یوازې په سورت فاتحه باندې اکتفاء نه کوله. بلکې ددې نه وروسته به یې بل یو سورت لوستلو په هیڅ صحیح روایت کې دا خبره نشته چې رسول اللهﷺ یوازې سورت فاتحه لوستلو باندې اکتفاء کړې ده.حود امام بیهقي په کتاب سنن الکبری(ج۲ ص۲۱)کې ددې مضمون یو روایت د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دی[۲]

او حافظ په فتح الباري کې(ج۲ ص۲۴۳)کې دا روایت د ابن خزیمهؒ په روایت سره نقل کړی دی،[۳]خو دا روایت ضعیف او د سنت متواتره خلاف کېدو له وجې نه غلط او منکر

۱] وان كان لايمكن الفصل بين الحرفين الابمشقة كالظاء مع الضاد والصادمع السين والطاء مع التاء اختلف المشائخ قال اكثرهم لاتفسد صلاته...وكثير المشائخ افتوابه...الخ.(هندية ج:۱ص:۷۹،الفصل الخامس فى زلة القارى)

۲]......حدثنى عبدالله بن عباس رضى الله عنهما ان رسول الله صلى الله عليه وسلم صلى ركعتين لم يقرأ فيهما الا بفاتحة الكتاب، وكذالک رواه عبد الملک بن الخطاب عن حنظلة السدوسى الا انه قال:صلى صلوة لم يقرا الا بفاتحة.(سنن الكبرى للبيهقى ج:۲ ص:۶۱،باب الاقتصار على فاتحة الكتاب،طبع بيروت)۔

۳]ولا بن خزيمة من حديث ابن عباس رضى الله عنهما ، ان النبى صلى الله عليه وسلم قام فصلى ركعتين لم يقرا فيهما الا بفاتحة الكتاب۔

دی[۱] څو پورې چې ماته معلومه ده اهل حديث حضرات هم د رسول الله ﷺ په سنت متواتره باندې عمل کولو سره د سورت فاتحه نه وروسته يو سورت ضرور لولي، معلومه نه ده ستاسو امام صاحب څه سوچ کړی دی، هغه يو ضعيف او غلط روايت په سنت متواتره باندې ترجيح ورکړه د فرض په دوه رکعتونو کې د فاتحې سره د سورت يو ځای کول واجب دي او که واجب قصدا ترک کړل شي، نو لمونځ په دويم ځل کول واجب دي[۲]

شوافع د سهار د لمانځه له دويمې رکوع نه وروسته دعاء قنوت وايي

سوال: زه په مکه مکرمه کې د ډوډۍ په فيکټرۍ کې کار کوم او روزانه د مکې نه په لږه فاصله باندې وادي حينه (مسجد) کې د سهار لمونځ ادا کوم امام صاحب په لومړي رکعت کې رکوع هم کوي او سجده هم، خو دويم رکعت کې د قرات نه وروسته د رکوع په ځای الله اکبر ويلو سره لاس اوچتولو سره دعا کوي له دعا نه وروسته نيغ سجدې ته ځي رکوع نه کوي ايا د لمانځه دا طريقه صحيح ده او که نه؟ که صحيح ده، نو په کومه فقه کې صحيح ده؟

جواب: رکوع خود لمانځه فرض ده[۳] له دې نه پرته، خو لمونځ نه کيږي[۴] په اصل کې د امام شافعي په نزد په دويم رکعت کې د رکوع نه وروسته قنوت ويل کيږي دا به د امام شافعي په مسلک وي اوله رکوع نه وروسته به قنوت کوي دا ممکن نه ده چې هغه رکوع ونکړي، په هر حال چې کله امام قنوت وايي، نو تاسو چپ اوسئ.[۵]

۱] ولم ارهم فى نفى وجوب السورة الا مافى الفتح من حديث ابن عباس رضى الله عنهما عند ابن خزيمة:(ان النبى صلى الله عليه وسلم قام فصلى ركعتين لم يقرا فيهما الا بفاتحة الكتاب).وسكت عليه الحافظ،وفيه حنظلة السدوسى قال:هو نفسه فى التقريب ضعيف من السابعة.وفى التاريخ الصغير قال يحيى القطان:حنظلة السدوسى رايته وتركته على عمد وكان اختلط.(معارف السنن ج:۲ ص:۳۹۲،تحقيق حكم الفاتحة فى الصلاة). ايضا: عن حنظلة السدوسى عن عكرمة عن ابن عباس رضى الله عنهما........قلت حنظلة هذا هو ابن عبدالله قال البيهقى فى باب معانقه الرجل الرجل كان قد اختلط تركه يحيى القطان لاختلاطه وضعفه احمد وقال منكر الحديث يحدث باعاجيب وقال ابن معين ليس بشىء تغير فى آخر عمره.(الجوهر النقى فى ذيل سنن البيهقى ج:۲ ص:٦۱،طبع بيروت)_

۲] وان كان(ترك الواجب)سهوًا يلزمه سجود السهو...الخ. (خلاصة الفتاوى ج:۱ ص:۵۲).وتجب قراءة الفاتحة وضم السورة.......فى الاولين بعد الفاتحة...الخ.(الهندية ج:۱ ص:۷۱)_

۳]فرائض الصلوة ستة .....التحريمة........والقيام .....والقراءة.....والركوع والسجود لقوله تعالى واركعو ا واسجدوا (الجوهرة النيرة ج:۱،ص:٤۸، ٤۹)_

٤]وفى الولوالجية الاصل فى هذا ان المتروك ثلاثة انواع فرض وسنة وواجب، ففى الاول ان امكنةالتدارك بالقضاءيقضى والا فسدت صلواته.(عالمگيرى ج: ۱ ص: ۱۲٦ ، فصل فى سجود السهو).ايضا: وفى ردالمحتار اى بخلاف ترك الفرض فانه يوجب الفساد،وترك الواجب فانه يوجب سجودالسهو(ردالمحتار ج:۱ص: ٤۷٤)

۵] ان قنت الامام فى صلاة الفجريسكت عن خلفه كذافى الهداية(الهندية ج:۱ص :۱۱۱فصل فى صلاة الوتر)

په قیام کې په هیره باندې التحیات ، دعا او تسبیح او یا په رکوع او سجده کې قرات کول

سوال: که په قیام کې د قرات په ځای (التحیات) یا دعا یا تسبیح وغیره ولولي یا ددې په خلاف په رکوع سجده کې د تسبیح په ځای په هیره قرات وکړي، نو څه کول پکار دي؟

جواب: که د سورت فاتحه نه مخکې په هیره تشهد یا تسبیح ولولي، نوسجده سهوه نه لازمیږي او که د سورت فاتحه نه وروسته یې ولولي، نو سجده سهوه لازم ده.[۱]

که په رکوع یا سجده کې په هیره قرات وکړي، نو په دې کې دوه قوله دي.یو دا چې سجده سهوه لازمیږي، دویم دا چې سجده سهوه لازم نه ده صاحب د بحرالرائق لومړی قول نه ظاهر ویلي دي، یعنې په دې صورت کې سجده سهوه لازمیږي.[۲]

د ماسپښین یا مازدیګر په دویم رکعت کې شاملیدونکي به پاتې لمونځ څنګه ادا کوي؟

سوال: مولانا صاحب!که زه د ماسپښین یا مازدیګر په دویم رکعت کې شامل شم، نو د امام د سلام ګرځولو نه وروسته چې کله خپل پاتې شوی لومړی رکعت ادا کوم، نو زه به د سورت ترتیب څنګه قائموم؟ ځکه چې په دې لمونځونو کې قرات خفي وي دغه شان که زه د سهار ماښام یا ماسخوتن د جمعې په دویم رکعت کې شامل شم، نو د امام د سلام ګرځولو نه وروسته چې کله زه خپل پاتې رکعتونه ادا کوم، نو په دې صورت کې به زه د قرآن ترتیب څنګه قائموم؟ ځکه په دې لمونځونو کې په خاص طور سره د سهار او ماسحوتن کې د قرآن د مینځ نه، تلاوت کیږي ،ځکه چې زه حافظ نه یم.

جواب: کوم رکعتونه چې تاسو د امام د سلام ګرځولو نه وروسته پوره کوئ په دې کې تاسو د امام تابع نه یئ،بلکې خپل ځانته لمونځ کوئ[۳] ،له دې وجه به په دې رکعتونو کې تاسو د

۱] ومنهالوتشهدفی قیامه بعدالفاتحة لزمه السجودوقبلهالا...الخ.(البحرالرائق ج: ۲ص:۱۰۵)۔

۲] وکذالوقرآیة فی الرکوع والسجودوالقومة فعلیه السهوکمافی الظهیریة وغیرها،وعلله فی المحیط بتاخیر رکن او واجب علیه وکذالوقراها فی القعودان بدءبالقراءة وان بدبالتشهد ثم قراهافلاسهوعلیه کمافی المحیط،وفی البدائع لوقرا القرآن فی رکوعه او فی سجوده لاسهوعلیه لانه ثناء وهذه الارکان تواضع الثناءهـ ولایکفی مافیه ،فالظاهرالاول .(البحرالرائق ج: ۲ص:۱۰۵،طبع بیروت)۔

۳]ومنهاانه منفردفیمایقضی .(الهندیة ج: ۱ص:۹۲،الفصل السابع فی المسبوق واللاحق).ایضاً:والمسبوق من سبقه الامام بهااوببعضهاوهومنفردحتی یثنی ویتعوذویقرا.......فیمایقضیه ای بعدمتابعته لامامه (قوله حتی یثنی الخ)تفریع علی قوله منفردفیمایقضیه بعدفراغ امامه فیاتی بالثناءوالتعوذ لانه للقراءة ویقرالانه یقضی اول صلاته فی حق القراءة کمایاتی .(ردالمحتارمع الدرالمختارج:۱ص:۵۹۶،طبع ایچ ایم سعید)۔

خپل قرات د ترتيب لحاظ ساتل ضروري وي مثلا که ستاسو دوه رکعتونه پاتې شوي وي، نو په کوم رکعت چې تاسو کوم سورت لوستلی دی، په دويم رکعت کې به له هغه نه وروسته سورت ژاړلئ ،ددې نه مخکې به نه لولئ ،خو د امام د قرات د ترتيب لحاظ ساتل ستاسو په ذمه نه ده، امام چې کوم سورتونه لوستلي دي تاسو په پاتې رکعتونو کې دهغو نه مخکې سورتونه هم لوستلی شئ او دهغه نه وروسته هم.

په دريم او څلورم رکعت کې سورت فاتحه واجب نه ده

سوال: زموږ د جومات امام صاحب يو ورځ د ماښام په اخري رکعت کې د يو منټ نه هم کم قيام وکړ او رکوع ته لاړ لمانځه نه وروسته لمونځ ګزارو پوښتنه وکړه چې تاسو دومره زر فاتحه ولوستله؟، نو امام صاحب وويل چې زما بيړه وه له دې وجې ما دري ځله سبحان الله لوستلې وه لمونځ وشو ،خو زه ددې خبرې سره اتفاق نه کوم د مسجد کميټۍ د يو مفتي نه پوښتنه وکړه، نو مفتي صاحب وويل چې د ماښام په دريم رکعت کې سورت فاتحه واجب نه ده مستحب ده ايا دا فتوا صحيح ده؟ که نه ده، نو ايا زما د هغه امام سره لمونځ کيږي؟

جواب: د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په نزد قرات د فرض لمونځ يوازې په لومړيو دوو رکعتونو کې فرض ده په اخري دوه رکعتونو کې واجب نه ده، بلکې په هغه کې د سورت فاتحې لوستل مستحب دي له دې وجه د حنفي مذهب مطابق دا فتوا صحيح ده.[۱]

که د سنت موکد په څلورو رکعتونو کې يې په لومړي رکعت کې يې سورت فلق ولوسته نو څه وکړي؟

سوال: که په څلور رکعته سنت موکده په لومړي رکعت کې په هيره سورت فلق ولوست په باقي سورتونو کې کوم سورت يو ځای کول افضل دي او کوم ناجائز؟

جواب: په پاتې رکعتونو کې دې سورت الناس ولولي.[۲]

د وترو په لمانځه کې کوم کوم سورتونه لوستل افضل دي؟

سوال: ايا د وترو په لومړي، دويم او دريم رکعتونو کې د سورت فاتحه نه وروسته بالترتيب سورت اعلی، سورت الکافرون او سورت اخلاص لوستل ضروري دي؟ د سورت اعلی نه پرته بل سورت لوستلی شو؟

۱] وفی الفرائض محل القراءة الرکعتان حتی يفترض القراءة فی الرکعتين ..... وان کانت يقرا فی الاولين وفی الاخريين بالخيار ان شاء قرا وان شاء سبح وان شاء سکت .....روی الحسن عن ابی حنيفة انه لو سبح فی کل رکعة ثلاث تسبيحات اجزاه وقراءة الفاتحة افضل .(الفتاوی التا تارخانية ج: ۱ ص: ۴۴۴ ،طبع کوئته)۔

۲] واذا قرأ فی الرکعة الاولی قل اعوذ برب الناس ينبغی ان يقرا فی الرکعة الثانية ايضا قل اعوذ بربالناس. (التاتارخانية ج: ۱ ص: ۴۵۳ ، ايضا : الجوهرة النيرة ج: ۱ ص: ۶۸ ، طبع حقانية ملتان)۔

جواب: هم ددې درې سورتونو لوستل ضروري نه دي.بلکې بل سورت هم لوستلی شئ،خو د رسول اللهﷺ نه ددې درې سورتونو علی الترتیب لوستل نقل دي.له دې وجه د رسول اللهﷺ د اقتداء په نیت سره دا درې سورتونه ولوستل شي، نو ډیره غوره خبره ده خو کله کله نور سورتونه هم لوستل پکار دي.[1]

که د وترو په اول رکعت کې یې سورت فلق ولوستلو نو په اخري کې څه ولولي؟

سوال: د رمضان نه غیر زه د وترو د ادا کولو سره اکثر زما د خولې نه په لومړي رکعت کې سورت فلق وځي، په دویم رکعت کې سورت الناس لولم،ایا زه د وترو په دریم رکعت کې د سورت الفاتحه نه وروسته د سورت البقره ابتدائي آیتونه لوستلی شم یا مجبورا د سورت الفلق نه مخکې یو سورت ولولم؟

جواب: په دریم رکعت کې دې هم سورت الناس په دویم ځل ولوستل شي.[2]

د وترو په لومړي رکعت کې یې سورت الناس ولوستلو نو په پاتې دوو رکعتونو کې څه ولولي؟

سوال: موږ د وترو لمونځ ادا کاوو او په لومړي رکعت کې موږ سورت الناس ولوست.په اخري دوه رکعتونو کې کوم سورتونه لوستل پکار دي؟ دغه شان موږ د سنت موکده څلور رکعته ادا کوو او په لومړي رکعت کې موږ سورت الناس ولوست په اخري درې رکعتونو کې کوم سورتونه لوستل پکار دي؟

جواب: پاتې رکعتونو کې هم دا سورت ولولئ.[3]

که دعاء قنوت یې نه وي یاده نو څه ولولي؟

سوال: ما د صدر نه د اسان لمونځ کتاب اخیستی دی، کوم چې محمد عبدالمنان صاحب د مکتبه تهانوي نه شائع کړی دی چې دهغه په صفحه نمبر ۲ باندې لیکل شوي دي که دعاء قنوت یې نه وي یاد، نو "ربنا اٰتنا فی الدنیا" ولولئ، خو تعداد یې نه دی لیکلی.

۱] قال وماقرافی الوترفهوحسن وبلغنا عن رسول الله صلی الله علیه وسلم انه قرافی الوترفی الرکعة الاولی بسبح اسم ربک الاعلی ،وفی الثانیة بقل یا ایهاالکافرون،وفی الثالثة بقل هوالله احد،ولاینبغی ان یوقف شیئامن القران فی الوترکمامر......لکن لا یواظب علیه کیلایظنه الجهال حتماً.(البدائع الصنائع ج: ۱ص:۲۷۳،طبع ایچ ایم سعید)_

۲] واذا قرا فی الرکعة الاولی قل اعوذ برب الناس ینبغی ان یقرا فی الرکعة الثانیة ایضا قل اعوذ برب الناس .(التاتارخانیة ج: ۱ ص: ۴۵۳ ، ایضا : الجوهرة النیرة ج: ۱ ص: ۴۸ ، طبع حقانیة ملتان)_

۳]واذاقرافی الاولی قل اعوذبرب الناس یقرافی الثانیة قل اعوذبرب الناس ایضا.(الجوهرة النیرة ج:۱ص:۶۸)

جواب: يو ځل لوستل يې کافي دي. خو د قنوت دعا د يادولو اهتمام کول پکار دي[١]

په لمانځه کې لومړۍ د دعا بيا درود شريف لوستل

سوال: په لمانځه کې د درود شريف نه وروسته د عربي نقل شوې دعا ګانې (کومې چې د لمانځه نه وروسته عام طورسره لوستل کيږي) يا په هغو کې خپنې لوستل او بيا درود شريف لوستلو سره سلام اړول څنګه دي؟

جواب: جائز دي[٢] خو کوم ترتيب چې بيان شوی دی، د هغه خلاف ولې وکړل شي؟

د رکوع او سجدې نه پورته کېدو سره د مقررو الفاظو نه مختلف الفاظ ويل

سوال: (الف) او (جيم) په يو دفتر کې ملازمان دي يو ورځ (جيم) د ماسپښين امامت وکړ هغه د رکوع نه د پورته کېدو په وخت کې الله اکبر وويل او هغه ته سمع الله لمن حمده ويل پکار و. د دويمې سجدې نه د پورته کېدو په وخت کې (جيم) سمع الله لمن حمده وويل او الله اکبر ويل پکار و. همدغه شان يې د هرې رکوع نه وروسته الله اکبر وويل او د هر دويمې سجدې نه مخکې يې ربنالک الحمد وويل دغه شان څلور رکعته پوره شو او روزانه پنځه وخته لمونځ کوي په جومات کې د امام صاحب اواز برابر اوري او هيڅ ناپوه او ساده سړی نه دی. بلکې يو بالغ هوښيار پوه او ماشاء الله د څو بچو پلار دی، هغه د يو مولانا نه کم نه دی خپل ځان ښه پيژني نه هغه سجده سهوه وکړه نه يې لمونځ وکړ هغه ته چې د هغه غلطي بيان شوه، نو هغه ته احساس هم و نه شو، بلکې هغه د نورو غلطي بيانول شروع کړل (الف) تاسو ته په ادب سره عرض کوي چې داسې لمونځ ادا شو يا به يې تول په دويم ځل کوي؟

جواب: د رکوع نه د پورته کېدو په وخت کې **سمع الله لمن حمده** ويل او د سجدې نه د پورته کېدو په وخت کې تکبير ويل سنت دي[٣] د دې په خلاف کولو سره لمونځ خو وشو[٤] خو په قصد باندې

١] ومن لم يحسن القنوت يقول ربنا آتنا في الدنيا حسنة وفي آخرة حسنة وقنا عذاب النار. كذا في المحيط. (الهندية ج: ١ص: ١١١)۔

٢] فاذا فرغ من الصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم يستغفر لنفسه ولابويه وللمومنين والمومنات كذا في الخلاصة. (عالمگيرى ج: ١ص: ٧٦). ايضا ويستحب ان يقول المصلي بعد ذكر الصلاة في آخر الصلاة رب اجعلني مقيم الصلوة ومن ذريتي ربنا وتقبل دعاء...الخ. (عالمگيرى ج: ١ص: ٧٦)۔

٣] قال ابوهريرة رضى الله عنه :كان رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا قام الى الصلاة يكبر حين يقوم ثم يكبر حين يركع ثم يقول سمع الله لمن حمده حين يرفع صلبه من الركوع ......ثم يكبر حين يسجد...الخ. (حلبى كبير ص: ٣١٥)۔

٤] ولا يجب بترک التعوذ والبسملة في الاولى والثناء وتكبيرات الانتقالات. (عالمگيرى ج: ١ص: ١٢٦)۔

د سنت خلاف كول بد دي[۱] او كه د هغه مقصد د سنتو پورې ټوكې كول وي، نو دا كفر دی.[۲]

د ركوع په تسبيح كې د "وبحمده" اضافه كول

سوال: د ركوع او د سجدې په تسبيح كې د "**وبحمده**" اضافه كول څنګه دي؟

جواب: هيڅ حرج په كې نشته، خو غوره هم دا ده چې كوم الفاظ منقول دي د هغه پابندي دې وكړل شي.[۳]

د ركوع او سجدې د تسبيحاتو په ځای نورې دعاګانې لوستل

سوال: د فرض لمانځه ركوع او سجده كې د تسبيحاتو نه پرته بله دعا لوستل څنګه دي؟

جواب: د فرض لمونځ ركوع او سجده كې د تسبيحاتو نه پرته بله دعا لوستل غوره نه دي، خو كه ولوستل شي، نو لمونځ نه فاسد يږي.[۴]

په لمانځه كې لفظ د "محمد" راتلو سره درود شريف لوستل

سوال: كه په لمانځه كې د "محمد ﷺ" نوم راشي، يعنې په قراءت كې يا په درود شريف وغيره كې، نو ايا د لمانځه دوران كې هم "ﷺ" ويل پكار دي؟ دې سره لمونځ خو نه ماتيږي؟

جواب: په لمانځه كې د نبی كريم ﷺ نوم مبارك راتلو سره درود شريف نه لوستل كيږي، خو كه چا ولوستلو، نو له دې سره لمونځ نه فاسد يږي.[۵]

۱]وان اقتصرفی التسبيح علی مرة واحداوترک التسبيح بالكية جازت صلوته لعدم ركنيته ولكن يكره ذلک وهو الترک والاقتصارعلی مرة وكذا الاقتصارعلی مرتين للاخلال بالسنة .(حلبی كبيرص :۳۱۶،سهيل اكيدمی لاهور)

۲] كفرالحنفية بالفاظ كثيرة وافعال تصدرمن المتهتكين لدلالتهاعلی الاستخفاف ......وباستخفافه بسنة من السنن.(البحرالرائق ج: ۵ص:۱۳۰،طبع بيروت)_

۳]وكذا لاياتی فی ركوعه وسجوده بغيرالتسبيح علی المذهب وماوردمحمول علی النفل ...الخ.(الدرالمختارمع الردالمحتار ج: ۱ص:۵۰۵،طبع ايچ ايم سعيدكراچی)

۴]ايضاً_

۵]ولوسمع المصلی اسم الله تعالی فقال :جل جلاله،اوسمع اسم النبی صلی الله عليه وسلم فقال :صلی الله عليه وسلم ......لاتفسدصلاته ،لان نفس تعظيم الله تعالی والصلوة علی النبی صلی الله عليه وسلم لاينافی الصلوة فلايفسدها.(حلبی كبيرص:۴۴۴طبع سهيل اكيدمی لاهور)

❖ دلاوډ سپیکر استعمال ❖

په لمانځه کې د لاوډ سپیکر استعمال جائز دی

سوال: زموږ په جومات کې تیرو ورځو کې یو مولانا صاحب بهر نه تشریف راوړ. هغه وعظ او خطبه وغیره، خو په لاوډ سپیکر باندې وکړل. خو د لمانځه دورکولو په وخت یې وویل چې په لمانځه کې ددې استعمال جائز نه دی، د هغه دا خبره زموږ د پوهې نه بهر ده چې په کوم لاوډ سپیکر باندې لږ ساعت مخکې د قرآن کریم د آیتونو تلاوت وکړ په کوم یې چې وعظ او تبلیغ وکړ اوس هم هغه لاوډ سپیکر ناجائز ولې شو؟ موږ خلک خو د ماشوم والي نه تر اوسه پورې هم په دې باندې لمونځ کوو اوموږ داهم اوریدلي دي چې لوی لوی ددین علماء کرامو دې ته جائز ویلي دي، خو هغه مولانا صاحب دې ته ناجائز څنګه وایي دا خبره زموږ د پوهې نه بهر ده؟

جواب: په لمانځه کې د لاوډ سپیکر استعمال د عام اهل علم په نزد جائز دي.[1]

د لاوډ سپیکر سره د مکبر انتظام هم کول پکار دي

سوال: د جمعې لمونځ یا له دې نه پرته د ګڼې ګوڼې په وخت په لاوډ سپیکر باندې لمونځ ورکول کیږي،نو په دې صورت کې شاته د مکبر ضرورت نه پیښیږي. نو ایا وروسته د مکبر مقررول په شریعت کې جائز دي اوکه نه؟

جواب: د لاوډ سپیکر په صورت کې هم د مکبر کیدل پکار دي.که چرته بجلي لاړه شي. نو چې هغه تکبیر وایي او په لمانځه کې خلل پیدا نه شي.

د جومات نه بهر لاوډ سپیکر د اذان نه پرته چالانول ناجائز دي

سوال: ډیر تیز او وچت اواز والا لاوډ سپیکر سره تراویح، درس او لمونځونه کوم چې د ټولې محلې سکون،خوب، د ښځو لمونځونه ،د بوډا ګانو یا کمزورو ارام برباد کړي جائز دی اوکه ګناه ده؟ یوازې د جومات په حدودو کې د لاوډ سپیکر د استعمال شرعا جواز معلومیږي

جواب: د اذان له پاره ذ پورته سپیکرو چالانولو کې خو څه باک نشته.څکه چې د بهر خلکو ته د اذان آواز رسیدل مطلوب دي، خو لمونځ،تراویح، درس وغیره له پاره که د لاوډ سپیکر د استعمال ضرورت وي ،نو دهغه آواز دجومات د مقتدیانو پورې محدود کیدل پکار دي،بهر نه دي تلل پکار،د تراویح له پاره یا درس وغیره له پاره د بهر لاوډسپیکرچالانول عقلا او شرعا ډیر زیات بد دي چې وجې یې دا دي:

---

[1] تفصیل دپاره اوګورئ: ص:۳٤آلات جدیده ازحضرت مولانامفتی محمدشفیع صاحب رحمة الله علیه ،طبع ادارة المعارف کراچی)۔

(۱) بعض جوماتونه دومره نژدې نژدې وي چې د يو آواز د نورو سره جنګيږي چې د هغه له وجې لمونځ کونکي پريشانه کيږي او د هغوی په لمانځه کې خلل پيدا کيږي. داسې واقعات هم پيښيږي چې د يو جومات مقتديان کوم چې په وروسته صفونو کې وي،د دويم جومات په تکبير باندې رکوع او سجدي ته لاړل شي ،لمونځ کونکي په داسې شک کې اخته کول چې د هغوی لمونځونه ګډوډ شي ښکاره حرام دي او ددې حرامو وبال به ټول د هغو خلکو په څټونو باندې وي، کومو چې د لمانځه په دوران کې پورته لاؤډ سپيکر آزاد ګړی وي [۱]

(۲) د جومات لمونځ کونکو ته آواز رسول خو يو ضرورت شو ،خو په لمانځه کې د بهر لاؤډ سپيکرچالانول يوازې رياکاري ده چې په هغه سره د عبادت ثواب باطليږي.په رمضان مبارک کې ځينې حافظان صاحبان ټوله شپه په لاؤډ سپيکر باندې د قرآن کريم تلاوت کوي. چې په هغه کې د رياکاري نه پرته بل هيڅ غرض نه ښکاري.

(۳) په تراويح کې د بهر لاؤډسپيکرو د چالانولو يوه بدي داده چې په ګرځېدو کې او په کورونو کې د ناستو خلکو غوږونو ته د سجده تلاوت آواز راځي ،چې د هغه په وجه په هغوی باندې د تلاوت سجده واجبيږي. په هغوی کې به ډيرو خلکو ته دا معلومه وي چې دا د سجدې آيت دی. بيا هم هغه خلک سجده نه کوي[۲] د هغو بي شمېره خلکو د واجب د ترک وبال به هم د اورونکو په څټونو باندې وي.

(۴) لکه څنګه چې په سوال کې ذکر شوي دي د لاؤډ سپيکر په آواز سره د پوره محلې سکون برباد شي. بيمار آرام نه شي کولی. په کورونو کې د ښځو خپل لمونځ ګډوډ شي اوړاسې نور....او خلک په داسې تکليف کې اچول حرام دي.

(۵) ځينې قاريان صاحبان د خپل لحن داودي داورولو په شوق کې د تهجدو په وخت کې هم په لاؤډ سپيکر باندې تلاوت يا نعت خواني شروع کړي، چې د هغه په وجه د تهجدو د آرام او دعاګانو وخت په شور او هنګامو سره ختم شي. که هغه وخت څوک په تهجدو کې خپل منزل ويل غواړي. نو نه يې شي لوستلی او ځينې ظالمان هغه وخت د تلاوت ريکارډ لګولو سره د خلکو سکون بربادوي.

خلاصه دا چې کوم خلک د اذان نه پرته پنځه وخته لمونځ کې په تراويح کې يا درس او تقرير

---

[۱] هل يكره رفع الصوت بالذكروالدعاء؟ قيل نعم وفى الشرح :قوله قيل نعم يشعربضعفه مع انه مشى عليه فى المختاروالملتقى فقال وعن النبى صلى الله عليه وسلم انه كره رفع الصوت عندقراءة القرآن والجنازة والزحف والذكر...الخ.(ردالمحتار ج: ٦ص:٣٩٨،كتاب الحظر والاباحة).الجهرالمفرط ممنوع شرعا. وكذا الجهر الغير المفرط اذا كان ايذاءلاحدٍمن نائم اومصل اوحصلت فيه شبهة رياء اولوحظت فى خصوصيات غيرمشروعة .(مجموعه رسائل اللكنوى رحمة الله تعالى ج: ٣ص:٣٤،طبع ادارة القرآن)_

[۲] والاصل فى وجوب السجدة ان كل من كان من اهل وجوب الصلوة ،امااداءاوقضاءكان. اهلالوجوب سجدة التلاوة ومن لافلا،كذافى الخلاصة ،(عالمگیری ج: ١ص:١٣٢،الباب الثالث عشرفى سجودالتلاوة)_

کې د بهر سپیکر چالانوي هغوی په خپل خیال کې خو کیدای شي چې د نیکۍ کار کوي. خو د هغوی په دې کار باندې ډیر مفاسد مرتب کیږي او د ډیرو حرام کارونو ګناه په هغوی باندې لازمیږي، او دا ټول محرمات په ګناه کبیره کې داخل دي، په دي وجه د لاوډ سپیکر آواز د جومات د حد پورې محدود ساتل ضروري دي او د اذان نه پرته د نورو شیانو له پاره د بهر سپیکر چالانول ناجائز او د ډیرو کبائرو مجموعه ده .

د جومات لاوډسپیکر په کوڅه کې لګول

سوال: زموږ د محلې لاوډسپیکرې په کافي فاصله باندې په کوڅو کې لګول شوي دي. څکه چې د جومات فاصله د لیرې کېدو له وجې نه اواز نه اوریدل کیږي، ددې لاوډسپیکرو نه بوازې د اذان کار اخستل کیږي مقامي انتظامیه ته په دې لاوډسپیکرو باندې اعتراض دی. تاسو د مسئلې وضاحت وکړئ د انتظامیه اعتراض صحیح ده که غلط؟

جواب: دا مسئله د انتظام سره تعلق لري د اذان سنت، خو د جومات په اذان سره ادا کیږي. که پوره ابادي یې اوري او که نه وروسته که محلې والا ته د لیرې پورې په لاوډسپیکر لګولو باندې اعتراض نه وي، نو ودې لګول شي. که نه لګول یې نه دي پکار.

❖ د جمعې صف جوړول ❖

په جومات کې ناحقه ځای بندول

سوال: ځینې جوماتونو کې خاص خلک د خپل ځان له پاره خاص ځای ونیسي او د قبضې له پاره څه جامه وغیره واچوي او که یو سړی په دې ځای کیني. نو هغه سره جګړه کوي د شریعت دې باره کې څه حکم دی؟

جواب: کوم سړی چې لومړی جومات ته راشي هغه د خالي ځای مستحق دی. که یو سړی لومړی راتلو سره ځای ونیسي او بیا په اودس وغیره کې مشغول شي. نو دداسې ځای نیول صحیح دي، خو که د ځای له نیولو نه وروسته کور ته لاړ شي یا په بازار کې ګرځي. نو د داسې ځای نیول صحیح نه دي.[۱]

چاله پاره په صف کې جای نماز خورول او ځای خاص کول

سوال: دجمعې دریدو نه تقریباً یو ساعت یا درې پاوه وخت وړاندې جومات ته ددې له پاره خم چې په اولنې صف کې د ټولو نه مخکې ځای کې لمونځ ادا کړم څکه چې ما اوریدلي دي

۱] ویکره للانسان ان یخص لنفسه مکانا فی المسجدیصلی فیه .(الفتاوی ج: ص: ۱۰۸،الباب السابع، الفصل الثانی فیمایکره فی الصلاۃ ومالایکره)۔

چې ددې ډېر لوی ثواب دی.زه یوداسې پیشې سره تعلق لرم چې د یو ښار نه بل ښار ته په کې تګ راتګ وي.وړاندې ورځو کې ماته دحیدرآباد یو جومات کې یوځو ورځې د لمونځ کولو موقع ملاو شوه. زه چې کله جومات ته ورسیدم، نو هغه وخت کې هلته دوه کسان موجود وو او اولني صف کې اول ځای باندې د جومات په درې باندې یوه مصلی خوره شوې وه. ما په هغه باندې سنت ادا کړل او تقریباً نیمه ساعت ناست وم.د لمانځه شروع کیدو نه مخکې جومات ته کافي خلک راغلل.یو کس ماته وویل چې تاسو کوم ځای ناست یئ. نو ددې ځای نه پورته شه؛ ځکه چې دلته به یو بل صاحب لمونځ کوي.ما بحث مناسب ونه ګڼل.حالانکې دا خبره راباندې بده ولګیده او هغه ځای مې پرېښوده .بیا چې ځومره ورځې هم ما لمونځ وکړ. نو د هغه ځای نه مې جدا وکړ،د هغه صاحب د راتلو پورې به هغه ځای خالي و.ایا داسې قسم بزرګان زمونږ په شان ګنهګارانو ته د ثواب ګټلو موقع هم نه ورکوي؟معاشي حقوق په زبردستۍ سره اخستل، خو نن سبا په معاشره کې عام دي، خوثواب اخستل د حیرانتیا شی دی.مهرباني وکړئ د خپلو خیالاتو نه مونږ خبر کړئ.ایا ددې بزرګ دې اقدام سره زه د متوقع ثواب نه محروم شوم؟

جواب: جومات کې یو ځای دچا له پاره د خاص کولو حق هیڅ چاته هم نشته.بلکې کوم سړی چې مخکې راشي او کیني، نو دا ځای د هغه حق دی. داکس ددې ځای نه پورته کول صحیح نه دي.له دې وجې نه کومو خلکو چې تاسو پورته کړي یئ، نو دا کار دوی غلط کړی دی.[1]

امام ته نژدې به څوک ولاړ وي؟

سوال: امام صاحب پسې عین شاته یا نژدې چاته درېدل پکار دي د شریعت په نظر کې؟

جواب: کوم خلک چې باشریعته وي او د امام صاحب په لمانځه باندې صحیح پوهیږي او زده کولی یې شي، نو هغوی ته درېدل پکار دي.[2]

د جمعې صف کوم ترتیب سره جوړول پکار دي؟

سوال: د جمعې لمانځه له پاره صف کې په کوم ترتیب سره کیناستل پکار دي؟که جومات بالکل خالي وي، نو مقتدیانو ته د کوم طرف نه کیناستل پکار دي؟ایا دا صحیح ده چې د ټولو نه مخکې راتلونکی کس به امام صاحب وروسته کیني.بیا به راتلونکي خلک داولني کس سره ښي طرفته کیني،ترڅو چې دیوال پورې.بیا ګس طرفته دغه شان به وي؟که داسې نه

---

[1] یکره للانسان ان یخص لنفسه مکانافی المسجدیصلی فیه .(فتاوی عالمگیری ج: ۱ص:۱۰۸،الباب السابع، الفصل الثانی فیمایکره فی الصلاة ومالایکره)

[2] ویقف الاکثرمن واحدخلفه...ویصف الرجال ،لقوله علیه السلام لیلنی منکم اولوالاحلام والنهی، فیأمرهم الامام بذلک ...الخ.(مراقی الفلاح علی هامش حاشیة الطحطاوی ص:۱۶۷،طبع میرمحمدکتب خانه)

وي، نو صحیح طریقه د سنت مطابق څنګه ده؟ دغه شان اخوا دیخوا د خپلې مرضي مطابق ځان له پاره ځای خوښول او کیناستل صحیح دي او که نه؟ تفصیلي جواب راکړئ

جواب: کوم ځای چې پیدا کړي، نو هلته کیناستلی شي. خو د ټولو نه غوره ځای امام صاحب وروسته دی. بیا ښي طرف ته او بیا ګس (چپ) طرف ته [۱]

د لمانځه په حالت کې د اولني صف ډکولو طریقه

سوال: لمانځه کې د قیام په حالت کې که اولنی صف خالي وي، نو وړاندې کېدلو سره هغه ډکول پکار دي او که نه؟ که ډکول یې پکار دي، نو ددې طریقه څنګه ده؟

جواب: که لومړی صف ډکوئ، نو په تیزه مه ځئ، بلکې یو قدم اخستلو نه وروسته دریږئ، بیا دویم قدم اخستلو نه وروسته دریږئ، تردې چې لومړي صف سره یوځای شئ. والله اعلم. [۲]

مینځ کې خالي ځای پریښودل او دویم صف جوړول مکروه دي

سوال: اکثر په حرمین شریفین کې لیدل شوي دي چې د صف مینځ کې ښه کافي ځای پاتې شي چې په هغه کې څوڅو کسان لمونځ کولی شي. سوال دادی چې دې خالي ځای له وجې نه وروستني صفونو والو په لمانځه کې څه فساد نه راځي؟ او که فساد راځي، نو ایا د ښي او ګس او مخکې والاهم دا حکم دی یا بل څه؟ دا فساد څنګه لیرې کول پکار دي، تفصیل سره جواب راکړئ.

جواب: د اولني صف خالي ځای دویم صف والو ته ډکول پکار دي، صف کې خالي ځای پریښودل مکروه دي، خو جوماتونو کې دننه که ځای پریښودل شوی وي او صفونه جوړشوي وي، نو لمونځ نه فاسدیږي. [۳]

د صف ښي اړخ غوره ده

سوال: یو سړی وایي چې "د جمعې په لمانځه کې د امام ښي اړخ ته صف کې دریدو سره د لمانځه ثواب ډیر ملاویږي" په دې باندې ما وویل چې بیا خو به څوک هم د امام ګس (چپ) طرف ته لمونځ نه کوي. نو هغه وویل دا خبره ډیرو کمو خلکو ته معلومه ده دا خبره کوم ځای پورې صحیح ده؟

---

[۱] لانه روی فی الاخبار ان الله تعالی اذا انزل الرحمة علی الجماعة ینزلها اولاعلی الامام، ثم تتجاوزعنه الی من بحذائه فی الصف الاول، ثم الی المیامن، ثم الی المیاسر ثم، الی الصف الثانی. (شامی ج: ۱ ص: ۵۶۹، طبع ایچ ایم سعید کراچی)

[۲] مشی مستقبل القبلة هل تفسدان قدرصف ثم وقف قدر رکن ثم مشی و وقف کذلک وهکذا لاتفسد وان کثرمالم یختلف المکان. (الدرالمختار ج: ۱ ص: ۶۲۷، قبیل مطلب فی المشی فی الصلاة)

[۳] ولوصلی علی رفوف المسجد ان وجدفی صحنه مکاناکره کقیامه فی صف خلف فیه فرجة، قوله: کره، لان فیه ترکالاکمال الصفوف. (شامی ج: ۱ ص: ۵۷۰، باب الامامة)

جواب: د صف ښي طرف ته دریدل افضل دي په حدیث کې دي چې

"الله پاک او د هغه فرشتې رحمت لیږي د صفونو په ښی طرف باندې"(مشکواة ص ۹۸)[۱]

خو که ښي طرف ته سړي ډیر ولاړ وي، نو بیا ګس(چپ) طرف ته دریدل ضروري دي چې د دواړو طرفو توازن برابر وي.[۲]

د لومړي صف د شمولیت له پاره له روستنیو صفونو اوښتل

سوال: په لومړي صف کې د لمونځ کولو ډیر لوی ثواب دی، ډیر خلک ددې ثواب د حاصلولو له پاره د ناوخته راتلو په وجه د خلکو په څټونو اوړیدلو سره ځي او په لومړي صف کې د ځای نه کېدو په وجه په لومړي صف کې په زوره ننوځي چې په هغه سره د هغه صف لمونځ کونکو ته نه یوازې تنګسیا، بلکې تکلیف وي او ددې لمونځ ګزارو د طرف په زړه کې هم قسم قسم خیالونه راځي ایا داسې په څټونو باندې اوښتل او په زوره لومړي صف کې داخلیدل صحیح دي؟ په شرع کې د داسې خلکو له پاره څه سزا راغلې ده؟

جواب: که په لومړي صف کې ځای وي، نو د روستني صفونو نه اوښتلو سره مخکې تلل جائز دي،[۳] خو که ګنجائش نه وي، نو د خلکو په څټونو باندې اوښتل او د سړیو په مینځ کې په زور ننوتل جائز نه دي، په حدیث کې ددې ممانعت راغلی دی او په داسې سړي یې د خفګان او ناراضتیا اظهار کړی ده.[۴]

موذن ته د امام کوم طرف ته دریدل پکار دي؟

سوال: د جمعې ددریدلو نه وروسته موذن تکبیر کوي، نوهغه ته د مولوي صاحب کوم طرف ته دریدل پکار دي؟

۱] عن عائشه رضی الله عنهاقالت:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :ان الله وملائکته یصلون علی میامن الصفوف .(مشکوة ص: :۹۸).ایضاً:وافضل مکان المأموم حیث یکون اقرب الی الامام فان تساوت المواضع ففی یمین الامام وهوالاحسن .(عالمگیری ج: ۱ص:۸۹،باب الخامس فی الامامة والفصل الخامس)۔

۲] وینبغی للقوم اذا قاموا الی الصلوة ان یتراصوا ویسدوا الخلل ویسووا بین مناکبهم فی الصفوف .....وان وجدفی الصف الاول فرجة دون الصف الثانی یخرق الصف الثانی،"کذافی القنیة .(عالمگیری ج: ۱ص:۸۹)۔

۳]ولووجدفرجة فی الاول لاالثانی له خرق الثانی لتقصیرهم فی الحدیث ،من سدفرجة غفرله .....(وفی الشامیة)....وفی القنیة قام فی آخرصف وبینه وبین الصفوف مواضع خالیة فللداخل ...ان یمربین یدیه لیصل الصفوف،لانه اسقط حرمة نفسه فلایاثم المارین یدیه ،دل علیه مافی الفردوس عن ابن عباس عنه صلی الله علیه وسلم من نظرالی فرجة فی صف فلیسدهابنفسه..فان لم یفعل فمرمار فلیتخط علی رقبته فانه لاحرمة له، ای فلیتخط المارعلی رقبة من لم یسدالفرجة.(فتاوی شامی ج:۱ص:۵۷۱،مطلب فی الکلام علی الصف الاول)

٤] عن عبدالله بن بسر رضی الله عنه قال :کنت جالسا الی جانبه یوم الجمعة فقال :جاءرجل یتخطی رقاب الناس فقال له رسول الله صلی علیه وسلم :ای اجلس فقدآذیت .(نسائی ج: ۱ص:۲۰۷،طبع قدیمی)۔

جواب: د يوه طرف تخصيص نشته، مکبر چې کوم طرف ته هم ولاړ وي شرعا سهي دی.[۱]

د حي علی الصلاة په وخت دريدلو سره د لمونځ کونکو ګډ وډ کيدل

سوال: په خينو جوماتونو کې کتل شوي دي چې کله د جمعې د لمانځه له پاره تکبير کيږي، نو ټول لمونځ کونکي او امام صاحب ناست وي کله چې مکبر "**حي علی الصلاة**" ووايي. نو بيا امام صاحب او ټول مقتديان دريږي، په دې طريقه کې يوه ستونزه دا پيښيږي چې د اقامت ختميدو سره، خو امام صاحب خپل لمونځ شروع کړي او اکثر مقتديان لا خپل صفونه سموي. تکبير اولی د ډيرو مقتديانو نه پاتي شي. د تکبير اولی نه مخکې چې کومه دعا مسنون ده ډير خله دومره وخت خرچ شي چې مقتدي ثناء هم ونه ويلی شي او امام صاحب د الحمد قرات شروع کړي مجبورا موږ ثناء نه شو لوستلی، ځکه چې کله امام صاحب قرات کوي. نو دچپ دريدلو حکم دی، مهرباني وکړئ او بيان کړئ چې کومه طريقه صحيح ده. د اقامت د ابتداء نه دريدل يا په **حي علی الصلاة** باندې دريدل؟

ځينې حضرات د حي علی الصلاة نه مخکې قيام ته مکروه او ناجائز وايي. د مختلفو کتابونو حوالو سره دا مکروه او ناجائز ثابتولو کوشش کوي ددې له پاره اشتهارونه خوره وي.

جواب: زموږ په کتابونو کې "**حي علی الصلاة**" باندې پورته کيدل او "**قد قامت الصلاة**" باندې د امام لمونځ شروع کول په مستحباتو کې ليکل شوي دي اوس دلته يو څو خبرې د غور وړ دي.

(۱) دويم جز يعنې قد قامت الصلاة باندې د لمونځ شروع کولو په ځای د اقامت د ختمولو پورې وروسته کول يې د يو عارض په وجه ډير صحيح ليکلي دي په درمختار کې دي.

...ولو اخر حتی اتمها لا باس به اجماعا، وهو قول الثاني والثالث وهو اعدل المذاهب كما في شرح المجمع لمصنفه وفي القهستاني معزيا والخلاصة انه الاصح...

علامه شامي رحمه الله په دې باندې ليکلي دي: **(قوله انه الاصح) لان فيه محافظة على فضيلة متابعة المؤذن واعانة له على الشروع مع الامام...** (ردالمحتار ج ۱ ص ۴۷۹)

څنګه چې د يو عارض له وجې نه ددې تاخير ته اعدل المذاهب او اصح ويل شوي دي هم دغه شان حي علی الصلاة نه مخکې قيام د صفونو د صحيح والي له پاره اصح ويلی شي ځکه چې د تسويه الصفوف ډير سخت تاکيد راغلی دی.

(۲) علامه طحطاوي رحمه الله په حاشيه د درمختار کې ذکر کړي دي چې حي علی الصلاة باندې د

۱] ويستقبل بهما القبلة اى بالاذان والاقامة لفعل الملک النازل من السماء وللتوارث عن بلال ولو ترک الاستقبال جاز لحصول المقصود ويكره لمخالفة السنة، كذا في الهداية، والظاهر انه كراهة تنزيه لما في المحيط. (البحر الرائق ج: ۱ ص: ۲۷۲، باب الاذان، طبع بيروت)

پورته کېدلو مطلب دا دی چې له دې نه دې وروسته کوي . د تقدیم نفي مقصودنه ده. دهغه عبارت دا دي (**قوله والقیام لامام و مؤتم....الخ) مسارعه لامتثال امره والظاهر انه احتراز عن التاخیر لا التقدیم حتی لو قام اول الاقامه لا باس و حرر**..(طحطاوی حاشیه درمختار ج۱ ص ۲۱۵)

(۳) ددې دواړه کارونو نه پرته دا کار هم د غور قابل دی چې مستحب هغه فعل ته وایي چې دهغه پرېښودونکي ملامته نه کړل شي[1] خو اهل بدعت دا کار خپل عادت جوړ کړی دی او عملا یې دې ته د فرض او واجب درجه ورکړې ده. ددې په پرېښودونکو باندې نه یوازې دا چې ملامته ویل کیږي، بلکې د هغوی خلاف اشتهارونه خوره ول کیږي. لکه چې تاسو هم حواله ورکړې ده کله چې په یو مستحب کې داسې غلو کیږي، نو دهغه پرېښودل ضروري وي[2] باقي موږ دا اشتهارونه د توجه قابل نه ګڼو، نه اشتهارونه خپل روزګار جوړو. له دې وجه ددې اشتهار د رد ضرورت نشته.

د اقامت په وخت کې کیناستل او ګوتې ښکلول

سوال: د بریلوي مسلک په جوماتونو کې چې کله اقامت کیږي، نو ټول لمونځ کونکي او امام ناست وي یوازې تکبیر ویونکی صاحب په ولاړه باندې تکبیر وایي، کله چې هغه حي علی الصلاة ته ورسیږي، نو امام او مقتدیان ودریږي او د اشهدان محمد رسول الله په ویلو باندې خپلې ګوتې هم ښکلوي او سترګو ته یې وړي ایا دا دواړه کارونه صحیح دي؟

جواب: حي علی الصلاة پورې کیناستل جائز دي او له دې نه وروسته تاخیر کول نه دي پکار، خو غوره داده چې لومړی صفونه جوړکړل شي، بیا اقامت وویل شي، د حي علی الصلاة پورې ناستې باندې زور راوړل او دې ته دفرض او واجب درجه ورکول غلو في الدین ده، د رسول الله ﷺ په نوم اوریدلو باندې ګوتې ښکلول او دا ددین خبره ګڼل بدعت دي.[3]

په صفونو کې له اوږو سره اوږې یو ځای کول ضروري دي

سوال: زموږ د لمانځه صف چې کله جوړیږي، نو موږ لیرې لیرې ولاړ یو، نه مو د پښې سره پښه یو ځای کیږي نه د اوږې سره اوږه، نو ایا واقعي د پښې سره پښه او د اوږې سره اوږه یو ځای کول پکار دي؟

---

[1] المندوب اوالسنة :هو ماطلب الشرع فعله من المكلف طلباغيرلازم ،اوهوما يحمدفاعله ولايذم تاركه.(الفقه الاسلامی وادلته ج: ١ص:٥٢،طبع دارالفكر)_

[2] اوالتزام كالتزام الملتزمات،فكم من مباح يصيربالالتزام من غيرلزوم،والتخصيص من غيرمخصص.. مكروها. (مجموعة رسائل اللكهنوى ،سباحة الفكرفى الجهربالذكر،الباب الاول ج: ٢ص:٣٤طبع ادارة القرآن كراچی)

[3] وفى تيسيرالمقال للسيوطى :فان الاحاديث التى فى تقبل الانامل وجعلهاعلى العينين عندسماع اسمه صلى الله عليه وسلم عن الموذن فى كلمة الشهادة كلهاموضوعات..الخ(بحواله عمادالدين ص:١٢٣،فتاوى محمودية ج:٣ص:١٥٦)

جواب: د اوږې سره اوږه يو ځای کول ضروري دي ځکه که داسې ونکړل شي، نو په مينځ کې به فاصله راشي او دا مکروه ده او دښنګريو برابرساتل ضروري دي. يو بل سره يې يو ځای کول ضروري نه دي [۱]

د پنځلسو کالو د هلک په لومړي صف کې درېدل

سوال: زموږ په محله کې يو جومات دی، کله چې زه لمانځه ته لاړ شم، نو صفونه خالي وي او کله چې جمعه ولاړه وي، نو يو صف هم نه پوره کيږي هلته ځای خالي وي، نو زه په دې سوچ کولو سره چې صف پوره کړم په لومړي صف کې ودريږم.خو مشران وايي چې ستا عمر د شپاړسو کالو نه دی له دې وجه ته په يو بل صف کې ودريږه. بيا زه دريم صف ته لاړ شم زما عمر پنځلس کاله ده،ايا زه په لومړي صف کې نه شم درېدلی؟ ايا په لومړي صف کې د شپاړسو کالو کېدل ضروري دي، يا مشران غلطه خبره کوي؟ يو خبره بله ده چې يو هلک چې د هغه عمر پنځلس کاله دی، خو هغه زما نه لږ شان لوړ ده (زما عمر هم پنځس کاله ده)او هغه په لومړي صف کې ولاړ وي او ما وروسته کوي. نو ايا په لومړي صف کې د درېدو له پاره لوړوالی ضروري ده ؟

جواب: د پنځلسو کالو هلک شرعا بالغ دی. دهغه د بالغ سړيو سره په صف کې دريدل صحيح دي. [۲]

په لمانځه کې د ماشومانو صف

سوال: د نابالغه ماشومانو د جمعې په لمانځه کې د مشرانو سره شاملول شرعا څنګه دي؟ د دين د عالمانو نه موږ په ماشوم والي کې اوريدلي وچې د نابالغ او بې ګيرې ماشومانو صف د ټولو لمونځ کونکو نه وروسته پکار دی او که يوازې دوه ماشومان وي، نو د لويو سره دې چپ اړخ ته اخره کې ودريږي، خو نن سبا په هر صف کې هر لمانځه کې دوه څلور ماشومان راننوځي او کله چې جمعه دريږی، نو دا ماشومان يو بل ته ديکې ورکول شروع کړي او ښه شور يې جوړ کړی وي او د جمعې په ورځ، خو جومات ښه پوره د سيل ځای جوړ شوی وي که يو شريف سړی دا ماشومان رټي، نو ځينې ليوني خلک التـه جګړه شروع کړي.

جواب: کوم ماشومان چې بالکل کم عمره وي، د هغوی خو جومات ته راوستل جائز نه دي، [۱]

۱] عن ابن عمر رضی الله عنهما)قال :قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:اقيموا الصفوف وحاذوا بين المناكب وسدوا الخلل ولينوا بايدى اخوانكم ولاتذروا فرجات الشيطان ومن وصل صفاوصله الله ومن قطعه قطعه الله .(مشكوة ص:۹۹،باب تسوية الصفوف،الفصل الثالث)_

۲] (فان لم يوجدفيهما)شيء (فحتى يتم لكل منهماخمس عشرة سنة به يفتى)لقصراعماراهل زماننا.(درمختارمع الشامی ج: ۶ ص:۱۵۳،فصل بلوغ الغلام بالاحتلام ...الخ،طبع ايچ ايم سعيد کراچی)_

د نابالغ ماشومانو په باره کې اصل حکم خو دادی چې د هغوی دې بیل صف د سړیو د صف نه شاته وي، خو نن سبا ماشومان جمع کیدو سره ډیر زیات شور جوړوي له دې وجه مناسب هم داده چې د ماشومانو سربراهان هغوی د ځان سره ودروي ماشومان پوهول پکار دي او په مینې محبت سره هغوی ته په لمانځه کې د دریدلو طریقه ښودل پکاردي ماشومانو رټلو سره بالکل څه فائده نه کیږي

نابالغ ماشومان په صف کې کوم ځای کې ودرول شي؟

سوال: یو مولوي صاحب یو یادیو نه زیات نابالغ ماشومان کوم چې د فرض لمانځه په جمعه کې په لومړي صف کې ولاړ لیدو سره وویل چې نابالغ ماشومان په لومړي یا دویم صف کې مه دروئ، بلکې د ټولو نه شاته یې دروئ، تاسو ارشاد بیان کړی چې په شریعت محمدي ﷺ کې ددې څه حیثیت دی؟ دویمه خبره داده چې په مقتدیانو کې یو مقتدي وویل چې داددې مولویانو خپلې جوړې کړې خبرې دي، په شریعت کې ددې هیڅ اصل نشته. بلکې مقتدي وویل چې د نابالغه ماشومانو په دریدلو سره په لمانځه کې هیڅ فرق نه راځي، د شریعت په رڼا کې بیان کړئ مقتدي ته څه سزا پکار ده؟

جواب: که ماشوم یو وي، نو هغه دې د بالغ سړیو په صف کې ودرول شي[۲] که ماشومان ډیر وي نو د هغوی له ‌پاره بیل صف د سړیوله صف نه شاته پکار ده او حکم د وجوب په طور نه دی، بلکې په طور د استحباب دی، خو که ماشومان یو ځای کیدو سره په لمانځه کې لانجې کوي، یا د لوی مجمع کېدو په وجه د هغوی د ورکېدو خطره وي، نو هغه د لویانو په صف کې درول پکاردي چې د هغوی په وجه د لویانو په لمانځه کې څه خلل رانشي او دا حکم د هغه ماشومانو دی کوم چې د لمانځه او اودس فرق ساتلی شي، که نه د ډیرکم عمر والا ماشومان جومات ته راوستل نه دي جائز.

او د یوې دیني مسئلې په اوریدو باندې دا ویل چې دا د مولایانو د خپل ځانه جوړې کړې خبرې دي، ډیره د گستاخي او بې ادبي خبره ده چې ددې مقصد ددین عظمت نه کول دي، که نه ددې سړي په زړه کې به د عالمانو عظمت هم وي دې سړي ته ددې نه توبه کول پکار دي.

ماشومان به په کوم صف کې ولاړ وي؟

سوال: د جمعة المبارك په لمانځه کې نابالغ ماشومان مخکې صفونو ته راوستل یعنې خپل ځان سره کونج کې درول صحیح دي؟ایا لمونځ ادا شو؟یا مکروه دی؟حالانکې مشرانو کسانو ته وړاندې ځای نه پیداکیږي.

۱]عن واثلة بن الاسقع ان النبي صلى الله عليه وسلم قال:جنبوا مساجدكم صبيانكم(سنن ابن ماجة ج:۱ ص:۵۵)
۲]ويقتضي ايضاًان الصبي الواحدلايكون منفرداعن صف الرجال بل يدخل في صفهم ...الخ .(البحرالرائق ج: ۱ ص: ۳۷٤،باب الامامة ،طبع دارالمعرفة ،بيروت)۔

جواب: غوره خبره دا ده چې د ماشومانو خپل صف وي.خو که مشرانو سره نژدې ودريږي، نو بيا هم جائز دي.[1]

ماشومان چې جومات ته راوستل شي نو کوم ځای يې درول پکار دي؟

سوال: اکثرداخبره ليدل کيږي چې جومات يا عيدګاه ته لمونځ کونکي حضرات خپل ماشومان د عادت ورکولو لپاره يا شوق له پاره راولي.څنګه چې جمعه دريږي.ځينې په دوی کې د خپل ماشوموالي د فطرت له وجې نه د نورو خلکو په لمانځه کې خلل اچوي.داسې ماشومانو له پاره شرعي حکم څه دی؟

جواب: ناپوهه ماشومان جومات ته راوستل پکار نه دي او که پوهه لري، نو داسې واړه راوستل سهي دي.خودې ماشومانوته د جدا درولو په ځای خپل ځان سره درول پکار دي،ځکه چې که ماشومان جداودريږي، نو هغوی به د خپل ماشوموالي له وجې نه د خلکو په لمانځه کې خلل واقع کوي.[2]

د ماشومانو صف چېرته پکار دی؟

سوال: جومات کې د فرض لمونځ کولو له پاره چې کله جمعه دريږي، نو لمونځ کونکي ماشومانو ته يا خو د صف اخري ته د تللو له پاره وايي يا اخري صف کې ورته د دريدو له پاره وايي،دې سره د ماشومانو زړه ازاريږي.تاسو وفرمايئ چې صحيح کار کوم يو دی؟

جواب: شرعي مسئله خو دا ده چې د ماشومانو صف د سړيو د صف نه وروسته کول پکار دي،له دې نه وروسته د ښځو،د شرعي حکم په مقابله کې دزړه ازاري بانه جوړول د يو مسلمان له پاره څه ښه خبره نه ده.[3]

د شر نه بچ کېدو له پاره ماشومان اولني صف کې دريدلی شي

سوال: نابالغ ماشومان په اولني کې صف کې ودرول شي اوکه د ټولو نه اخري صف کې؟ که ماشومان اولني صف کې ودريږي، نو لمانځه کې خلل واقع کيږي اوکه نه ؟دغه شان که ماشومان اولني صف کې ودريږي، نو ګناه به چا باندې وي؟

جواب: د ماشومانو لپاره اصل حکم خو دادی چې ددوی صف د سړيو له صف نه وروسته

[1] ويقوم الرجال مايلى الامام ثم الصبيان.(عالمگيرى ج:١ص:٨٩،الفصل الخامس فى بيان مقام الامام والماموم)

[2] عن واثلة بن الاسقع ان النبى صلى الله عليه وسلم قال:جنبوا مساجدكم صبيانكم ...الخ .(سنن ابن ماجة ج: ١ ص: ٥٤ ،باب ما يكره فى المساجد ،طبع مير محمد)_

[3] ولو اجتمع الرجال والصبيان ....يقوم الرجال اقصى مايلى الامام ثم الصبيان ...الخ.(عالمگيرى ج: ١ ص: ٨٩ ،الفصل الخامس فى بيان مقام الامام والماموم)_

کول پکار دي[1] اخو تجربه داده چې ماشومان جمع شي. نو شرارت کوي او خینې وختونو کې د مشرانو لمونځونه هم خراب کړي، له دې وجې نه خینې علماوو فرمایلي دي چې ماشومان خپل ځان سره د رول سهي دي، دې له پاره چې خپل مینځ کې شور او شرارت نه کوي

په صفونو کې د ځای د نشتوالي له وجې وروسته صف کې یوازې دریدل

سوال: که یو سړی د لمانځه له پاره جوماتته داخل شي او د جمعې اولني صفونه برابر وي او دی یواځې وروسته صف کې ودریږي، دا کس دې نیت سره په دې صف کې یوازې نیت تړي چې نور کسان به راشي ماسره به شامل شي، خونور کسان ناوخته ده سره یوځای شي او دی څو رکعته په دې صف کې یوازې وکړي، نو په داسې صورت کې به ده ته د جمعې ثواب ورکول کیږي اوکه نه؟یعنې په کومو رکعتونو کې چې دی یوازې ولاړ و؟

جواب: داسې صورت کې چې هرکله مخکې صفونو کې ځای نه وي، نو دیوازې دریدلو نه پرته بله لار نشته، غوره خو داده چې د مخکې صف نه څوك راوروسته کړي اوله ځان سره یې ودروي، خو په دې باندې فتوا نه شي ورکول کېدای ،ځکه چې هغه بل کس به ورسره د بې علمي له وجې نه په جنګ شي.[2]

اخري صف کې یوازې دریدل

سوال: که جمعه شروع وي او یو سړی اخري صف کې یوازې ولاړ وي، نو ایا ده ته به د جمعې ثواب ورکول کیږي اوکه نه؟خینې خلک وایي چې ده ته پکار ده چې دی د اولني صف نه یو کس ځان له پاره راوروسته کړي اوپه خپل صف کې یې شامل کړي، دغه شان به ددغه کس لمونځ هم مات نه شي او دویم کس ته به هم، بلکې دواړو ته به د جمعې ثواب هم ورکول کیږي

جواب: تاسو چې د خینو خلکو په حوالې سره کومه مسئله لیکلې ده، نو دا صحیح ده، خو کوم کس چې د مخکې صف نه وروسته راکش کوي، که هغه ته دا مسئله معلومه نه وي، نو هغه به لمونځ مات کړي او تاسو سره به په جنګ شي، له دې وجې نه ښه داده چې بس یوازې ودریږي[3] او یوازې دریدونکي کس ته به هم د جمعې ثواب ورکول کیږي.[4]

---

[1] ولو اجتمع الرجال والصبيان .....يقوم الرجال اقصى مايلى الامام ثم الصبيان.(عالمگیری ج: ۱ ص: ۸۹)

[2] قال فى الشامية: وان وجد فى الصف فرجة سدها والا انتظر حتى يجيء آخر فيقفان خلفه وان لم يجيء حتى ركع الامام يختار اعلم الناس بهذه المسئلة فيجذبه ويقفان خلفه(شامى ج: ص:٥٦٨،باب الامامة،طبع سعيد)

[3] ولولم يجدعالمايقف خلف الصف بحذاءالامام للضرورة (شامى ج: ۱ص:٥٦٨،مطلب حل الاساءة دون الكراهة اوالفحش منها،طبع ايچ ايم سعيد)

[4] ولووقف منفردابغيرعذرتصح صلاته عندنا خلافا لاحمد(شامى ج: ۱ص:٥٦٨)ايضا:وان وجدفى الصف فرجة سدها.....حتى ركع الامام يختاراعلم الناس بهذه المسئلة فيجذبه ويقفان خلفه (شامى ج: ۱ص:٥٦٨)

د لمانځه پر مهال صف کې يوازې دريدل

سوال: جمعه کې که لومړی صف ډك شي،نو يوازې دويم صف کې دريدلوسره لمونځ کيږي اوکه نه؟

جواب: لمونځ کيږي.[1]

په لومړي صف کې د خالي ځای سره سره په دويم صف کې دريدل

سوال: يو سړی داسې دی چې کله جمعه دريږي، نو په لومړي صف کې د درې ځلورو کسانو د دريدلو ګنجائش وي د جومات نور لمونځ کونکي او امام صاحب دې سړي ته په لومړي صف کې د شامليدلو دعوت ورکوي، ځکه چې ځای خالي وي. خو ددې باوجود هغه په دويم صف کې يوازې د جمعې لمونځ ادا کوي،په پوښتنه کولو سره هغه سړی وايي له دې وجه چې زه دلته خپله وظيفه وايم، نولمونځ هم د وظيفې والا ځای باندې ادا کوم. نو ايا د وظيفې والا ځای دلومړي صف نه زيات افضليت لري؟

جواب: افضليت خو ښکاره ده چې دلومړي صف دی[2].د وظيفې والا ځای نه.بلکې په دويم صف کې ځانته دريدل خصوصا کله چې په لومړي صف کې ځای هم وي ډېر زيات بد دي، دې سړی ته به کېدای شي دا خيال وي چې د وظيفې والاځای پريښودلو سره به د وظيفې تسلسل مات شي، حال دا چې داسې نه ده او بيا د ټولو نه لويه وظيفه. خو لمونځ ده، د يوې بلې وظيفې له پاره لمونځ مکروه کول. خو ډېره د بې علمي خبره ده. هغه ته پکار دي چې خپله وظيفه په لومړي صف کې شروع کړي او که په دويم صف کې وظيفه شروع کړي. نو د جمعې په وخت کې دې په لومړي صف کې ضرور شريکيږي او د رسول الله ﷺ د حکم مخالفت کولو سره به د وظيفې څه برکت وي؟

په وروستني صف کې د يوازې ولاړ سړي لمونځ وشو

سوال: که لمونځ جمعې سره کيږی او بيا يو سړی راشي او په لومړي صف کې ځای نه وي او د دويم سړي د راتلو اميد هم پاتې نه شي او رکعت شروع وي او هغه سړی يوازې په اخري صف کې ودريد ، نو د هغه لمونځ وشو اوکه نه؟

جواب: لمونځ يې وشو.[3]

---

[1] ولووقف منفردابغيرعذرتصح صلاته عندناخلافالاحمد.(شامي ج: ۱ص:۵۶۸،باب الامامة)

[2] والقيام في الصف الاول افضل من الثاني ،وفي الثاني افضل من الثالث ،وان وجدفي الصف الاول فرجة دون الصف الثاني يخرق الصف الثاني ،كذافي القنية.(الهندية ج: ۱ص:۸۹\في بيان مقام الامام والماموم)_

[3] وفي الظهيرية ولوجاءوالصف متصل انتظرحتي يجي ءالآخر.....وان اقتدى به خلف الصفوف جاز...الخ. (البحرالرائق ج:۱ص:۳۷۴،باب الامامة طبع دارالمعرفة،بيروت)

د ښځې او خاوند په فاصلې سره لمونځ کول

سوال: ښځه او خاوند په یو لوی تخت باندې برابر برابر د یو فټ په فاصلې سره ولاړ لمونځ کولی شي؟ په دې کې څه بدي خو نشته؟

جواب: که خاتنه خاتنه لمونځ کوي، نو هیڅ کراهت نشته او د یو فټ یا د کم او زیات فاصله هم هیڅ شرط نه ده [۱]

د ښځې او سړي د جمعې لمونځ

سوال: ماله یو دیني عالم نه اوریدلي دي چې که دوه محرم یوه ښځه او یو سړی کور کې جمعې سره لمونځ ادا کوي. نو مقتدي ښځه به وروسته دریدو سره لمونځ کوي. ایا دا صحیح ده؟

جواب: دا مسئله تاسو صحیح نقل کړې ده چې که ښځه او سړی یوځای لمونځ کول غواړي، نو ښځه به سړي سره برابر نه دریږي، بلکې وروسته صف کې به دریږي. [۲]

که مجبوراً ښځې د سړیو په صف کې شاملې شي نو د لمانځه حکم

سوال: ځینې ښځې د رش له وجې نه د ماښام په لمانځه کې د سړیو په صف کې ودریږي او دلیل دا پیش کوي چې په مجبوري کې هرڅه جائز دي. ایا ددې خلکو لمونځ کیږی او که نه؟کومو خلکو چې د بې علمي له وجې نه کړي دي، نو ایا هغوی به دا لمونځونه په دویم ځل کوي او که نه ؟

جواب: که ښځې په لمانځه کې شریکې شي، نو د نبي کریم ﷺ حکم دادی چې ددوی صف به سړیو نه وروسته وي، که د جمعې په لمونځ کې ښځې سړیو سره برابرې ودریږي. نو د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد چې دوی سره برابر کوم سړي دي د هغوی لمونځ فاسد شو. دغه شان کوم سړي چې ترینه وروسته ولاړ دي، نو د هغوی لمونځ هم فاسد شو. دا په هغه صورت کې دي چې امام د ښځې د اقتدا نیت کړی وي، که امام د ښځو د اقتدا نیت نه وي کړی. نو د ښځې لمونځ به فاسد شي. له دې وجې نه ښځو ته پکار دي چې که په حرم شریف کې د لمونځ کولو موقع راشي، نو د سړیو نه جدا لمونځ کوي او که جدا ځای پیدا نه شي. نو په لمانځه کې دې نه شریکیږي، بلکې وروسته دې وکړي. [۳]

---

[۱] و(منها)ان تکون الصلاة مطلقة .....فلوحاذت الرجل المرأة فیمایقضیان لاتفسدصلاته ،کذافی التبیین .الهندیة ج: ۱ص:۸۹)وقیدبالاشتراک لان محاذاة المصلیة لیس فی صلاتهالاتفسدصلاته لکنه مکروه کمافی فتح القدیر.(البحرالرائق ج: ۱ص:۳۷۷،طبع بیروت ،الدرالمختارمع الردج:۱ص:۵۷٤،طبع ایچ ایم سعید)_

[۲] قوله اماالواحدة فتتاخر)وتاخرالواحدة محله اذا اقتدت برجل لابامراة مثلها...الخ(شامی ج: ۱ص:۵٦٦)

[۳] محاذاة المرأة الرجل مفسدة لصلاته،ومنها:ان تکون المحاذاة فی رکن کامل..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

ايا په حرم شريف کې د سړيو په صف کې د ښځو شامليدو سره لمونځ فاسديږي؟

سوال: په حرم شريف کې ښځې د سړيو صف ته راځي،ايا د سړيو او د ښځو لمونځ کيږي؟
جواب: زموږ په نزد که ښځه د سړي برابر ودريږي، نو ښي،چپ،ګس، او شاته کسانو لمونځ نه کيږي، په دې شرط چې امام د ښځو د امامت نيت هم کړی وي.له دې وجې نه حتی الوسع داسې ځای کې دريدل پکار دي، چېرته چې ښځې نه وي.باقي د عامې ابتلاء له وجې نه دې الله پاك معافي وکړي [۱]

دوه سړي اويوه ښځه که جمعه کوي نو څنګه به دريږي؟

سوال: درې کسان چې په کې يو ښځه هم وي جمعې سره لمونځ کول غواړي.يو سړی امام جوړ شي. نو ورسته يو سړی پاتې شي.اوس ښځه د وروستنې مقتدي کوم طرفته او څومره فاصلې باندې او څنګه ودريږي چې د درې واړه کسانو جمعې سره لمونځ ادا شي؟
جواب: کوم سړی چې مقتدي دی، هغه دې د امام ښي طرفته معمولي وروسته ودريږي، ښځه دې وروسته يوازې ودريږي.[۲]

❖ د جمعې لمونځ ❖

....

د مسواک سره د جمعې لمونځ څومره ثواب لري؟

سوال: دجمعې دلمونځ ثواب پنځويشت درجې زيات دی او د مسواک سره د لمانځه ثواب اوولس درجې زيات دی، مطلب داچې دمسواک سره شوي اودس سره دجمعې دلمانځه ثواب (۲۵×۱۷) درجې يعنې **۴۲۵** درجې دی،ايا همداسې ده؟
جواب: د اوولس درجو روايت خو ماته معلوم نه دی، خو د اويا درجو روايت شته[۱] ستاسو د رياضي د حساب سره د (۷۰×۲۵)د حاصل ضرب سره نه ۱۷۵۰ درجې وي او په يو روايت

...بقيه د تيرمخ]..حتى لوكبرت فى صف وركعت فى آخروسجدت فى ثالث فسدت صلاة من عن يمينها ويسارها وخلفها من كل صف .(عالمگيرى ج: ۱ص:۸۹)

[۱] محاذاة المرأة الرجل مفسدة الصلاة،ومنها:ان تكون المحاذاة فى ركن كامل حتى لوكبرت فى صف وركعت فى آخروسجدت فى ثالث فسدت صلاة من عن يمينهاويسارهاوخلفهامن كل صف .(عالمگيرى ج: ۱ص:۸۹)

[۲] وان كان معه رجل وامرأة أقام الرجل عن يمينه والمرأة خلفه. (عالمگيرى ج۱، ص:۸۸، طبع بلوچستان)ـ

کې د جمعې ثواب اوويشت درجې دی. نو کله چې اوويشتو ته په اويا کې ضرب ورکړل شي. نو حاصل ضرب ۱۸۹۰ راځي د الله پاک رحمت ډير فراخه دی او د هغه د ورکړې او رحمت مخې ته زموږ حسابي پيمانې ماتيږي.

په جوماتکې دويمه جمعه کول او په هغه کې شريکېدل

سوال: دلته اکثر په جوماتکې داسې کيږي چې ځينې لمونځ کونکي چې دلمونځ د ختميدو نه وروسته راځي. هغوی يوه بله جمعه جوړه کړي. په دې طريقې سره د جمعې افضليت ختم شي د جمعې له پاره حکم دادی چې خپل کاروباره بندولو سره راشه. خو په دې صورت کې لمونځ کونکي شاملولو سره خپل جمعه جوړ کړم دا طريقه ترکومه حده صحيح ده؟ که موږ جومات ته داخل شو او په داسې طريقه دويمه يا دريمه جمعه شروع وي. نو په هغه کې شامل شو يا خپل لمونځ ځانته وکړو؟

جواب: په جوماتکې دويمه جمعه (کله چې د يوې محلې جومات وي او د داسې لارې جومات نه وي چې هغه جومات ته د بهر خلک د خپلې محلې والانه زيات راځي) ،نو که داسې جومات نه وي. نو دويمه جمعه مکروه ده او د ځينې اهل علمو په نزد که ځای بدل کړل شي مثلاً د جومات په بهرنۍ برخه کې وکړل شي او دويمه جمعه د اقامت نه پرته وي. نو جائز ده. ددې قول مطابق په جمعه کې شريکيدل غوره دي[۲]

د يوازې لمونځ کونکي په لمانځه کې شاملېدل

سوال: په جوماتکې ډير ځله داسې هم کيږي چې زه ځانته لمونځ کوم. په دې دوران کې يو بل لمونځ کونکی هم جومات ته داخل شي او ما په لمانځه ليدو سره زما نه شاته ودريږي او زما په اوږه باندې لاس کيښودلو سره اشاره کوي چې زه هم ستا نه وروسته په جمعه کې شامل يم. يعنې اوس زه امام او هغه دويم سړی مقتدي دی، سره له دې چې ما ابتداء دځانته لمانځه نيت کړی دی، په دې طريقه ايا د وروسته راتلونکي لمونځ کيږي؟

جواب: لمونځ کيږي.که مقتدي يواځې وي. نو د امام ښي طرف ته لږ شان وروسته دې ودريږي[۳]

۱]عن عائشه رضی الله عنها قالت :قال رسول الله صلی الله عليه وسلم :تفضل الصلاة التی يستاک لهاعلی الصلاة التی لايستاک لهاسبعين ضعفا.مشکوة ص:۴۵،باب السواک ،الفصل الثالث)_

۲] ويکره تکرارالجماعةفی مسجدمحلة باذان واقامة.....عن ابی يوسف ان اذالم تکن الجماعة علی الهيئة الاولی لاتکره والاتکره وهو الصحيح، و بالعدول عن المحراب تختلف الهيئة کذافی البزازية انتهی .(شامی ج: ۱ص:۵۵۳،۵۵۲)_

۳] (ويقف الواحد)......(يمين امامه)علی المذهب درمختاروفی الشامية قوله علی المذهب .....ويامره الامام بذلک ،ای بالوقوف عن يمينه ولوبعدالشروع اشاربيده لحديث ابن عباس..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

له اذان پرته دشوې جمعې نه دویمه جمعه کول

سوال: که په یو جومات کې جمعه وشي او بیا وروسته پټه ولګیږي چې اذان نه دی شوی. نو څه کول پکار دي؟

جواب: کومه جمعه چې له اذان نه پرته شوې ده، هغه د سنت مطابق نه ده شوې. له دې وجې هغې ته اعتبارنشته.بیا دې له اذان او اقامت سره لمونځ ادا کړل شي (فتاوی هندیه ج۱ص٥٤ البحر الرائق ج۱ ص۲۸۰)[۱]

د جمعې پرمهال ناسته کول او په دویم ځل جمعه کول څنګه دي؟

سوال: زموږ د محلې په جامع مسجد کې له څه وخت نه ځینوخلکو دا سلسله شروع کړې ده چې په هاکلووختونو کې کله چې د قاعدې مطابق د جمعې لمونځ کیږي. نو هغوی یو طرف ته ناست وي او ټول لمونځ کونکي چې کله د جمعې سره لمونځ کولو نه فارغ شي. نو دا د شمار څه خلک بیا خپله ځانته جمعه کوي ایا داسې د جمعې د کیدو سره ناسته کول او ځانته خپله جمعه کول صحیح دي او که نه؟

جواب: داسې کول بالکل ناجائز او حرام دي، ځکه چې په دې سره د لومړۍ جمعې په وخت نه پاتې کیدل او په مسلمانانوکې د بدبختي او منافقت اچولو ارتکاب کول دي او دواړه خبرې ناجائزې او حرامې دي،[۲]جوماتونه د الله پاک د ذکر او د لمانځه او عبادت له پاره وي نه خپل

...بقیه د تیرمخ] ..انه قام عن یسارالنبی صلی الله علیه وسلم فاقامه عن یمینه سراج.(شامی ج: ۱ص:٥٦٦، ٥٦٧، باب الامامة،طبع ایچ ایم سعید)۔

۱] جماعة من اهل المسجد اذنوا فی المسجد علی وجه المخافتة بحیث لم یسمع غیرهم ثم حضر قوم من اهل المسجد ولم یعلموا ما صنع الفریق الاول فاذنوا علی وجه الجهر ثم علموا ما صنع الفریق الاول فلهم ان یصلوا بالجماعة علی وجهها ولا عبرة للجماعة الاولی کذا فی فتاوی قاضی خان فی فصل الاذان.(عالمگیری ج:۱ ص:٥٤،٥٥). ایضا: وفی الخلاصة جماعة من اهل المسجد اذنوا فی المسجد علی وجه المخافتة بحیث لم یسمع غیرهم ثم حضر من اهل المسجد قوم وعلموا فلهم ان یصلوا بالجماعة علی وجهها ولا عبرة للجماعة الاولی. (البحر الرائق ج:۱ ص:۲۸۰)۔

۲]قال تعالی:ومن اظلم ممن منع مساجدالله ان یذکر فیها اسمه وسعی فی خرابها ای هدمها وتعطیلها،وقال الواحدی:انه عطف تفسیر،لان عمارتها بالعبادة فیها.(تفسیر روح المعانی ج:۳۹٤،سورة البقرة آیت:۱۱٤، طبع دار احیاء التراث العربی) ایضا: وعن معاذ بن جبل رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم قال:ان الشیطان ذئب الانسان کذئب الغنم،یأخذ الشاة القاصیة،والناصیة،فایاکم والشعاب وعلیکم بالجماعة والعامه والمسجد.(مسند احمد ج:٦ ص:۳۰۷،رقم الحدیث:۱۲٥۲٤،طبع دار احیاء التراث العربی).وقال تعالی:ولا تنازعوا فتفشلوا وتذهب ریحکم،ان الله مع الصابرین.(الانفال:٤۷). ایضا: واما ان یجلس وهو مکروه ایضا لاعراضه عن الجماعة من غیر کراهة فی جماعتهم علی المختار.(رد المحتار ج:۱ ص:٥٦٤،باب الامامة)۔

مینځ کې د نفرت او جنګ جګړو له پاره. د مسلمانانو له پاره داسې صورت حال هلاکونکې دی. زر تر زره ددې د مخ نیوی کولو ضرورت دی. دویمه جمعه کول چې کله د یو صحیح غرض له پاره وي هغه خپله مکروه ده. زیات لا دا چې د یو فاسد غرض او حرام په بنیاد دویمه جمعه وکړل شي.[۱] ابراهیم نخعي رحمة الله علیه د عمر رضي الله عنه دا قول نقل کوي چې د یوې جمعې کېدو نه وروسته دې په دویم ځل جمعه نه کیږي[۲]. فقهاء کرامو دویمې جمعې ته مکروه ویلې دي. په حرمین شریفین کې د یوې زمانې پورې ډیرې جمعې د مختلفو امامانو په امامت کې کېدلې چې د هغو مقصد دا و چې مسلمانان د خپل خپل فقهي مسلک مطابق لمونځ ادا کړي. خو علماوو په دې سخت اعتراضونه وکړل او اعلان یې وکړ. چې په څلورو مذهبونو کې داسې ډیرې جمعې ادا کول ناجائز دي.[۳]

یوه جمعه کې لمونځ کولو سره په دویم ځای کې په جمعه کې شریکیدل

سوال: که یوکس له جمعې سره لمونځ وکړ او کوم کار له لپاره ځي .هلته لاړ شي او کوم ځای ته چې ورسیږي هلته جمعه نه وي شوي. نو ایا هماغه لمونځ کوم چې هغه د جمعې سره وکړ،په دویم ځل سره جمعې سره ادا کولی شي؟

جواب: د ماسپښین او ماسخوتن په لمانځه کې د نفلو په نیت په دویمې جمعې کې شریکیدلی شي ،خودسهار، مازدیګر او ماښام په جمعه کې نه شي شریکېدلی.[۴]

۱] ویکره تکرارالجماعة باذان واقامة فی مسجد محلة(قوله ویکره)ای تحریمًالقول الکافی:لایجوز،والجمع،لا یباح وشرح الجامع الصغیر،انه بدعة کمافی رسالة السندی...والمراد بمسجد المحلة ماله امام وجماعة معلومون کما فی الدرر وغیرها،ومقتضی هذا الاستدلال کراهة التکرار فی مسجد المحلة ولو بدون اذان،ویؤیده ما فی الظهیریة: لو دخل جماعة المسجد بعد ما صلی فیه اهله.یصلون وحدانا.وهو ظاهر الروایة.(ردالمحتار مع الدر المختار ج:۱ ص:۵۵۲،۵۵۴. ایضا: عالمگیری ج:۱ ص:۸۳باب الامامة،والبدائع ج:۱ ص:۶۵۵فصل فی بیان من هو احق بالامامة).تفصیل دپاره اوګورئ:معارف السنن ج:۲ ص:۲۸۳تا۲۹۰،طبع مکتبة بنوریة کراچی)

۲]عن ابراهیم قال:قال عمر:لایصلي بعد صلاة مثلها.(المصنف لابن شیبة ج:٤ ص:۲۹۳،رقم الحدیث: ۶۰۵۰،باب من کره ان یصلی بعد الصلاة مثلها،طبع المجلس العلمی).وفیه ایضًا عن ابراهیم والشعبی قالا:قال عبدالله:لا یصلی علی اثر صلاة مثلها.(نفس المرجع)۔

۳] عن هذا ذکر العلامة الشیخ رحمه الله السندی تلمیذ المحقق ابن الهمام فی رسالة ان مایفعله اهل الحرمین من الصلوة بائمة متعددة وجماعات مترتبه مکروه اتفاقًا،ونقل عن بعض مشائخنا انکاره صریحا حین حضر الموسم بمکة........وذکر انه افتی بعض المالکیة بعدم جواز ذالک علی مذهب العلماء الاربعة،ونقل انکار ذالک ایضًا عن جماعة من الحنفیة والشافعیة والمالکیة حضروا الموسم.(رد المحتار علی الدر المختار ج:۱ ص:۵۵۳،مطلب فی تکرار الجماعة فی المسجد. طبع ایچ ایم سعید)۔

٤] وان کان قد صلی وکانت الظهر والعشاء فلا باس بان یخرج،لانه اجاب داعی الله مرة الا اخذ المؤذن فی الاقامة،لانه یتهم لمخالفة الجماعة عیانًا،وان کانت العصر والمغرب او الفجر خرج وان اخذ المؤذن فیها لکراهیة النفل بعدها.(هدایة ج:۱ ص:۱۵۲،طبع شرکت علمیه،ملتان)۔

که له امام نه پرته بل چا په بيړۍ سره جمعه وركړه نو د دويمې جمعې حکم

سوال: د يوې علاقې په جومات کې کوم خاى چې ښځه وختد لمونځ جمعې سره ادا کيږي. يو ورځ د امام صاحب په نه موجوديت کې يو سړي د مازديگر دلمانخه جمعه زر وركړه. بيا وروسته د امام صاحب د راتلو نه وروسته خلكو د امام صاحب سره هم په هغه خاى باندې د جمعې لمونځ ادا كړ. ايا دا لمونځ وشو؟

جواب: صحيح جمعه هغه ده كومه چې امام صاحب او د محلې والا اداكړه.لومړۍ جمعې ته اعتبار نشته.لمونځ د دواړو وشو.[۱]

د محرمو ښځو سره جمعه کول

سوال: مور. ښځه. لور يا محرمو ښځو سره كه لمونځ وكړل شي او جومات نژدې نه وي په كور كې جمعه وكړي.نولمونځ به زموږدښځوسره وشي ياكه ښځوته په پرده كې لمونځ كول پكار دي؟

جواب: خپلې ښځې او محرمو ښځوسره جمعه كول جائز دي هغه دې وروسته ودريږي[۲] محرمې ښځې ته په پرده كې دريدل ضروري نه دي

د سړي په اقتدا کې د محرمو ښځو لمونځ

سوال: ايا دسړي په اقتداكې دهغه محرمې ښځې مور.خور.لور.ښځه جمعې سره لمونځ كولى شي؟

جواب: جائز ده.[۳]

د ښځې اوخاوند يوازې يا جمعې سره لمونځ کول صحيح دي؟

سوال: ايا ښځه د خپل خاوند سره لمونځ ادا كولى شي؟ كه ښځه او خاوند ځانته ځانته په خپله مصلى باندې ځانته لمونځ وكړي، نو جائز به وي اوكه نه؟

۱] ولو صلى بعض اهل المسجد باقامة وجماعة ثم دخل المؤذن والامام وبقية الجماعة فالجماعة المستحبة لهم والكراهة للاولى كذا فى المضمرات.(الهندية ج:۱ ص:٥٤،طبع بلوچستان)۔

۲]ولنا انه عليه السلام كان خرج ليصلح بين قوم،فعاد الى المسجد،وقد صلى اهل المسجد فرجع الى منزله فجمع اهله وصلى.(ردالمحتار ج:۱ ص:۵۵۳كتاب الصلوة.باب الامامة،مجمع الزوائد ج:۲ ص:٤۵باب فيمن جاء الى المسجد فوجد الناس قد صلو)۔

۳]ولو ام امه او امراته ونحوهما فى الخلوة لم يكره.(الفتاوى السراجية ص:۱۵).واذا فاتته الجماعة لا يجب عليه الطلب فى مسجد آخر.......وذكر القدورى انه يجمع فى اهله ويصلى بهم...الخ.(عالمگيرى ج:۱ ص:۸۳).

جواب: که دواړه خاتته خاتته خپل لمونځونه وکړي، نو هيڅ باک نشته. خو که له جمعې سره يې کوي، نوښځه دې ورسره برابرنه دريږي، بلکې دې ته په بل صف کې خاتته دريدل پکار دي.[1]

د امام نه د مخکې کيدو نکي مقتدي لمونځ نه کيږي

سوال: که د امام نه مقتدي مخکې شي، نو ايا لمونځ يې صحيح دی؟

جواب: د اقتداء د صحت له پاره شرط دادی چې مقتدي د امام نه مخکې نه شي کوم مقتدي چې د امام نه مخکې کيږي، د هغه اقتداء صحيح نه ده او د هغه لمونځ نه کيږي.[2]

په مسجد نبوي او بل جومات کې دې هم مقتدي له امام څخه نه مخکې کيږي

سوال: په مسجد نبوي ﷺ کې د امام مخې ته لمونځ کولی شو او که نه؟ سره له دې چې په نورو جوماتونو کې يې نه شو کولی د مسجدنبوي له پاره څه خاص حکم شته او که نه؟

جواب: د مسجد نبوي له پاره داسې څه خاص حکم نشته .ددې حکم هم هغه دی کوم چې د نورو جوماتونو دی، دمقتدي د امام نه مخکې کېدل د هغه د لمانځه له پاره مفسد دي که په جومات کې وي يا غير جومات کې، په مسجد نبوي ﷺ کې وي يا بل جومات کې.[3]

ايا په حرم شريف کې مقتدي د امام نه مخکې دريدلی شي؟

سوال: زما ديودوست سره بحث راغی، هغه وايي چې په خانه کعبه کې خلک د امام نه وړاندې نيت تړلودريږي، سره له دې چې زما په نظر کې دا خبره صحيح نه ده، ځکه چې د امام نه مخکې د مقتدي لمونځ نه کيږي، نو بيا هلته داسې څنګه کېدای شي؟ که کيږي، نو څنګه لږ په تفصيل سره مو خبر کړئ؟

جواب: دکعبې شريفې په کوم طرف کې چې امام ولاړ وي هغه طرف ته خو چې کوم سړی د امام نه مخکې شو د هغه لمونځ نه کيږي په بل اړخ کې که د يو سړي فاصله بيت الله ته د امام نه کمه وي، نو د هغه لمونځ صحيح دی.[4]

۱] (قوله اما الواحدة فتتاخر)......وتاخر الواحدة محله اذ اقتدت برجل لا بامرأة مثلها عن البر جندی.(الشامية ج:۱ ص:۵٦٦بعد مطلب اذا صلى الشافعى قبل الحنفى...الخ). وايضا ولو ام امه او امراته ونحوهما فى الخلوة لم يكره.(الفتاوى السراجية ص:۱۵،طبع ايچ ايم سعيد كراچى)۔

۲] ولوصلوا بجماعة يجزيهم ايضا الاصلاة من تقدم على امامه...الخ.(عالمگيرى ج:۱ص:٦۵،طبع بلوچستان)

۳] ايضا)۔

٤] واذا صلى الامام فى المسجد الحرام وتحلق الناس حول الكعبة وصلوا صلوة الامام فمن كان منهم اقرب الى الكعبة من الامام جازت صلاته اذا لم يكن فى جانب الامام كذا فى الهداية.(عالمگيرى ج:۱ ص:٦۵). (وفى الهداية بعد هذه العبارة)لان التقدم والتاخر انما يظهر عند اتحاد الجانب.(هداية ج:۱ ص۱٦۵،طبع شركت علميه،ملتان)۔

په حطیم کې سنت وتر او نفل کیږي

سوال: په حطیم کې دننه د فرض لمونځ نه کولو حکم دی. ایا موږ سنت وتر وغیره هم په حطیم کې کولی شو؟

جواب: فرض لمونځ، خو د جمعې سره کیږي له دې وجې د مقتدي د حطیم نه بهر کیدل ضروري دي، که نه د مقتدي لمونځ نه کیږي سنت او وتر په حطیم کې کولی شي او په رمضان المبارک کې د وترو جمعه کیږي کوم مقتدي چې په دې جمعه کې شریک وي هغه هم په حطیم کې نه شي دریدای.[۱]

د مازدیګر لمونځ د ماسپښین ګڼلو سره ادا کول

سوال: په لس منټه کم څلور بجې باندې د ماسپښین د لمانځه له پاره جومات ته لاړم هلته جمعه ادا کېدله، په جمعه کې شامل شوم، معلومه شوه چې دا د مازدیګر جمعه وه اوس زه څه اوکړم ایا زما د ماسپښین لمونځ وشو که د مازدیګر؟

جواب: که د امام نیت د مازدیګر وي او د مقتدي نیت د ماسپښین وي، نو د مقتدي لمونځ نه کیږي، له دې وجې ستاسو نه دماسپښین لمونځ شوی دی او نه مازدیګر. دواړه لمونځونه په دویم ځل وکړئ.[۲]

ایا په جمعې لمونځ کې د هر مقتدي په بدله کې یو درجه ثواب ورکول کیږي؟

سوال: ایا د جمعې دلمانځه په صورت کې د هر مقتدي په بدله کې یوه درجه ثواب ورکول کیږي، مثلا که د مقتدیانو تعداد شل وي، نو ایا د هر لمونځ کونکي ثواب هم شل درجې زیات وي دغه شان خو به په دې جمعه کې د مسواک په اودس سره ثواب ۸۵۰۰ درجې شي؟

جواب: جمعه چې څومره زیاته وي هغه هومره افضله وي او د افضل مطلب همدا دی چې هغومره ثواب به هم زیات وي، کوم حساب چې تاسو لګولی دی، دا په څه حدیث کې د نظر نه نه دی تیر شوی.[۱]

۱] ځکه چه په دې صورت کښې دمقتدی د امام نه مخکښې کیدل لازمیږی، اود مقتدی دامام نه مخکښې کیدلو سره د مقتدی مونځ فاسدیږی. صح فرض الصلاة ونفلها فى الكعبة ولو صلوا فى جوف الكعبة بجماعة واستدروا حول الامام........ومن جعل ظهره الى وجه الامام لم يجز هكذا فى الجوهرة النيرة والسراج الوهاج.(عالمگیری ج:۱ ص:٦٥،الفصل الثالث فى استقبال القبلة،كتاب الصلاة)_

۲] لايصح اقتداء مصلى الظهربمصلى العصر ومصلى ظهريومه بمصلى ظهرامسه..الخ.(عالمگیری ج:۱ ص:٨٦)

❖ په کورکې لمونځ کول ❖

له شرعي عذر نه پرته د سړي په کورکې لمونځ کول څنګه دي؟

سوال: سړی په کور کې لمونځ کولی شي او که نه؟ ایا د صحت په حالت کې د سړي لمونځ په کور کې کیږي؟ او په کوم وخت او کوم صورت کې د سړي لمونځ په کور کې کیږي؟

جواب: لمونځ خو په کور کې کیږي، خو د فرض لمانځه له پاره جومات ته تلل ضروري دي او د عذرنه پرته جومات ته د نه راتلونکو له پاره سخت وعید راغلی دی.[۲] صحابه کرامو به داسې سړی منافق ګڼلو چا به چې د جمعې د لمانځه پابندي نه کوله[۳] جومات د نه حاضریدو له پاره بیماري وغیره عذر کیدلی شي[۴]

په کورکې د لمونځ کولو عادت خپلول

سوال: زما یو دوست دی، هغه زیاتره لمونځ په کور کې کوي، حال دا چې د هغه کور ته جومات نږدې دی، انسان ته یوه ورځ مجبوري وي، نو هغه په کور کې لمونځ وکړي، خو روزانه نه، د لمانځه زیات ثواب په جومات کې له جمعې سره ورکول کیږي او په کور کې ثواب ورکول کیږي او که نه؟ او روزانه په کور کې لمونځ کولو سره به لمونځ قبلیږي او که نه؟

جواب: له عذرپرته د جومات او دجمعې د لمونځ پریښودلو عادت کبیره ګناه ده[۵]، له دې نه توبه کول پکار دي، که کله په جومات کې د جمعې لمونځ ونه موندل شي، نو په کور کې دې د خپل کورله خلکو سره جمعه وکړي.[۱]

۱] وفی المضمرات انه مکتوب فی التوراة صفة امة محمد وجماعتهم وانه بکل رجل فی صفوفهم تزاد فی صلاتهم صلاة یعنی اذا کانوا الف الف رجل یکتب لکل رجل الف صلاة.(البحر الرائق ج:۱ ص:۳٦۷،طبع بیروت)

۲]عن ابی هریرة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:لقد هممت ان آمر بالصلوة فتقام،ثم آمررجلاً فیصلی بالناس،ثم انطلق معی برجال معهم حزم من حطب الی قوم لا یشهدون الصلوة،فاحترق علیهم بیوتهم بالنار.(سنن ابی داؤد ج:۱ ص:۸۸،کتاب الصلوة باب فی التشدید فی ترک الجماعة،طبع امدادیه ملتان.صحیح مسلم ج:۱ ص:۲۳۲،طبع قدیمی کراچی،صحیح بخاری ج:۱ ص:۸۹،طبع نور محمد کراچی)

۳]عن عبدالله بن مسعود رضی الله عنه قال:لقد رایتنا وما یتخلف عن الصلوة الا منافق قد علم نفاقه او مریض ان کان المریض لیمشی بین رجلین حتی یاتی بالصلوة...الخ.(مشکوة ج:۱ ص:۹٦،باب الجماعة، الفصل الثالث)_

٤] (الجماعة سنة مؤکدة)......وصرح فی المحیط بانه لایرخص لاحد فی ترکها بغیر عذر حتی لو ترکها اهل مصر یؤمرون بها فان انتمروا والا یحل مقاتلهم.(البحر الرائق ج:۱ ص:۳٦۵،طبع بیروت)_

۵]ثم رایت الذهبی ذکر ان ذالک من الکبائر لکن علی غیر الوجه الذی ذکرته فانه قال:الکبیرة السادسة والستون الاصرار علی ترکه صلاة الجماعة من غیر عذر.(الزواجر عن ..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

له عذر پرته په کور کې د لمانځه عادت جوړول کبیره ګناه ده

سوال: یو پیر صاحب دی چې هر کال له کلي نه کراچۍ ته راځي. خو هغه پیر صاحب په جوماتت کې لمونځ نه ادا کوي. بلکې په کور کې لمونځ ادا کوي. خو جمعې لمونځ په جومات کې ادا کیږي.چې دهغې باره کې ما مسئله اوریدلې ده چې که جومات نژدې وي. نو په کور کې لمونځ نه کیږي؟ خلک هغه ته ورځي او هغه پیر مني. زما دوست ماته هم دعوت راکوي. خو زه نه ورځم.ځکه چې زړه مې مات شوی دی.له دې وجې چې په جومات کې لمونځ نه ادا کوي

جواب: له څه صحیح عذر نه پرته د جومات په جمعه کې نه شریکیدل کبیره ګناه ده. که پیر صاحب ته څه معقول عذر وي،خو صحیح ده. که نه د جمعې د ترک کولو په وجه فاسق دی[۲] او فاسق د دې لائق نه دی چې د هغه په لاس کې لاس ورکړل شي او له هغه نه بیعت وشي

که په کور کې عادتا لمونځ کول کبیره ګناه وي نو لمونځ کول پریږدو؟

سوال: څو میاشتې مخکې تاسو په کور کې لمونځ کولو ته له شرعي عذر نه پرته د ګناه کبیره ویلو فتوا ورکړې وه. په حدیث کې خو داسې دي چې په کور کې د لمانځه یوه درجه ثواب دی، په جومات کې کولو سره اوویشت درجې، په مسجد نبوي کې پنځوس زره درجې او په بیت الله کې یو لاکهـ درجې. زما په خیال کې به بیا په کور کې لمونځ نه کوو چې کم نه کم د کبیره ګناه نه خو بچ شو ستاسو څه خیال دی؟

جواب: له عذر پرته جمعه پریښودل کبیره ګناه ده.دا خو یوه داسې واضحه مسئله ده چې په دې کې د هیڅ عالم اختلاف نشته، پاتې شوه دا چې د جمعې د لمانځه ثواب اوویشت درجې زیات ورکول کیږي، له دې نه دا خبره هیڅ کله هم نه ثابتیږي چې له عذرپرته په کور کې لمونځ کول جائز دي او ستاسو دا ارشاد زما په پوهه کې رانغی. کله چې لمانځه له پاره جومات ته نه تلل ګناه ده. نو د لمانځه پریښودل. خو دهغه نه هم لویه ګناه ده. خلاصه داچې له عذر پرته جمعه پریښودل ګناه کبیره ده او د لمانځه بالکل پریښودل اکبر الکبائر دي[۳].

...بقيه د تیرمخ]..اقتراف الکبائر ج:۱ ص:۱٤٤،باب صلاة الجماعة. الکبيرة الخامسة والثمانون)_

۱] ولنا انه عليه السلام کان خرج ليصلح بين قوم،فعاد الى المسجد وقد صلى اهل المسجد فرجع الى منزله فجمع اهله وصلى.(رد المحتار،باب الامامة ج:۱ ص:۵۵۳)_

۲]وبه يظهرما دلت عليه هذه الاحاديث ايضا من ان ترک الجماعة......کبيرة.(الزواجر ج:۱ ص:۱٤٤)_

۳]قال تعالى مخبرا عن اصحاب الجحيم:ما سلککم فى سقر.قالوا لم نک من المصلين.......واخرج احمد:بين الرجل وبين الکفر ترک الصلاة ومسلم بين الرجل وبين الشرک او الکفر ترک الصلاة...الخ. اوګورئ: الزواجر عن اقتراف الکبائر ج:۱ ص:۱۳. ايضا: والجماعة سنة مؤکدة للرجال قال الزاهدى:ارادوا بالتاکيد الوجوب.وقيل واجبه وعليه عامة وفى الشامية:قال فى شرح المنية:والاحکام تدل على الوجوب من ان تارکها بلا عذر يعزر وتردشهادته...الخ.(رد المحتار مع الدر ج:۱ ص:۵۵۲تا۵۵٤.باب الامامة)_

په حديث کې ددې نه په کفر سره تعبير شوی دی[۱] او تاسو په مسجد نبوي ﷺ کې د لمونځ کولو پنځوس زره درجې بيان کړي دي دا مشهوره، خو په احاديثو کې ددې ثواب زر درجې ښودل شوی دی[۲]

په کور کې د لمانځه عادت جوړولو له پاره وعيدونه

سوال: په جنګ اخبار کې مي ستاسو فتوا لوستلې وه چې له عذر پرته په جومات کې د جمعې لمونځ پرېښودلو عادت کبيره ګناه ده. له دې نه توبه کول پکار دي. له دې نه وروسته مو ستاسو په خدمت کې عرض کړی و چې مهرباني وکړئ د قرآن او حديث حواله ورکړئ چې د کوم په بنياد تاسو دا فتوا ورکړې وه، خو په جواب کې تاسو وفرمايل چې د جمعې د لمانځه د پرېښودلو په باره کې په احاديثو کې ډېر سخت وعيدونه راغلي دي...او دا چې د مولانا زکريا صاحب رساله فضائل نماز وګوره...ما مخکې هم عرض کړی و چې د قرآن او حديث حواله ورکړئ. خو تاسو د مولانا د رسالې حواله ورکړه د الله خاطر وکړئ ما ته د قرآن او احاديثو حواله راکولو سره دا بيان کړئ چې د جمعې لمونځ پرېښودل کبيره ګناه ده. ما خو اورېدلي دي چې په جومات کې د لمانځه ثواب اوويشت درجې دی او سنت په کور کې کول غوره دي. ستاسو د خيال مطابق په کور کې لمونځ کول ګناه کبيره شوه. خو زه په دې نه پوهيږم چې په نيک او فرض کار کولو باندې کبيره ګناه څنګه کيږي په دې لحاظ سره. خو زموږ مذهب د عيسايانو په شان شو چې يوازې په ګرجا کې عبادت کيدلی شي او سره له دې زموږ په مذهب کې په هر ځای کې لمونځ کيدلی شي.

جواب: د جمعې د پرېښودلو عادت کبيره ګناه ده. تاسو په دې باندې دوه شکونه ذکر کړي دي. اول شک خو دا چې لمونځ کول عبادت دي، عبادت کول کبيره ګناه څنګه شوه؟ ددې شک حل دا دی چې په کور کې لمونځ کول خو بذات کبيره ګناه نه ده، خو په جومات کې د جمعې په لمانځه کې د نه شريکيدو عادت جوړول کبيره ګناه ده[۳] په جمعه کې شريکيدل د ځيني علماء کرامو په نزد فرض دي د ځينوپه نزد واجب او د ځينوپه نزد سنت موکد دي. کوم چې واجب ته نژدې دي[۴] او په احاديثو کې ددې ډېر زيات تاکيد راغلی دی او ددې په

۱]عن جابر رضي الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:بين العبد وبين الكفر ترک الصلوة.رواه مسلم.(مشكوة ج: ۱ ص:۵۸،كتاب الصلوة،الفصل الاول)_

۲] عن ابي هريرة رضي الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:صلوة فى مسجدى هذا خير من الف صلوة فيما سواه الا المسجدالحرام.متفق عليه.(مشكوة ص:٦٧، باب المساجد ومواضع الصلاة،الفصل الاول)

۳] قال فى شرح المنية:والاحكام تدل على الوجوب من ان تاركها بلا عذر يعزر وتردشهادته ويأثم الجيران بالسكوت عنه وقد يوفق بان ذلک مفيد بالمداومة على الترک كما هو ظاهر قوله صلى الله عليه وسلم:لا يشهدون الصلوة.(فتاوى شامي ج:۱ ص:۵۵۲،كتاب الصلوة،باب الامامة)_

٤]والجماعة سنة مؤكدة للرجال، قال الزاهدى:ارادوا بالتاكيد الوجوب،..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

پرېښودلو باندې ډېر وعیدونه راغلي دي ددې له پاره ما د شیخ زکریا صاحب د رسالې فضائل نماز حواله درکړې وه تاسو به په هغه کې تړول تفصیل وګورئ څو احادیث هم لیکم
(۱) اول حدیث: ما اراده وکړه چې د لرګو د جمع کولو حکم وکړم. بیا د لمانځه د اذان له پاره حکم وکړم. بیا یو سړي ته حکم وکړم چې هغه امامت وکړي او خپله هغو خلکو پسې لاړ شم کوم چې په لمانځه کې نه حاضرېږي او د هغوی کورونه وسیزم [۱] (مشکواة ص:۹۵ بحواله بخاری و مسلم)
(۲) دویم حدیث چا چې د موذن اواز واورېده او هغه ته د جومات په راتلو کې څه عذر ویره یا مرض مانع نه و او د هغه باوجود هغه رانغی. نو هغه چې کوم لمونځ په کور کې کړی دی هغه نه قبلیږي (مشکواة: ۹۶ بحواله ابوداود ودارقطنی) [۲]
(۳) دریم حدیث: که په کورونو کې ښځې او ماشومان نه وای، نو ما به خپلو ځوانانو ته حکم کړی و چې کوم خلک د ماسخوتن لمانځه ته نه حاضرېږي. د هغوی کورونه وسیزي (**مشکوٰة ص: ۹۷ بحواله مسند احمد**) [۳]
(۴) څلورم حدیث: کوم سړي چې اذان واورېده، بیا له عذر پرته جومات ته رانغی. نو د هغه لمونځ نه کیږي. (**مشکوٰة ص ۹۷ بحواله دار قطنی**) [۴]
په دې احادیثو کې د جمعې په پرېښودلو باندې چې د کومې غوسې اظهار شوی دی. دهغې نه صفا واضحه ده چې دا کار کبیره ګناه ده.

ستاسو دویم شک دادی چې که د فرض لمانځه له پاره جومات ته تلل ضروري دي، نو زموږ مذهب هم د عیسایي مذهب په شان شو چې یوازې په ګرجا کې عبادت کیدلی شي. ددې شک جواب دادی چې د لومړنیوامتونو عبادت به یوازې د هغوی په عبادت خانو کې کیده او که یو سړي به د یو عذر په بنیاد په عبادت خانه کې نه شو حاضریدلی. نو د هغه عبادت د موخر کولو حکم و. رسول الله ﷺ ته دا عزت ورکړل شو چې د هغه له پاره ټوله ځمکه

...بقیه د تیرمخ]..وقیل واجبة وعلیه العامة.(در مختار ج:۱ ص:۵۵۲، ۵۵٤، کتاب الصلوة، باب الامامة)_

۱] عن ابی هریرة قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:والذی نفسی بیده!لقد هممت ان آمر بحطب فیحطب ثم آمر بالصلاة فیؤذن لها ثم آمر رجلا فیؤم الناس ثم اخالف الی رجال وفی روایة لا یشهدون الصلاة فاحرق علیهم بیوتهم.(مشکوة ص:۹۵)_

۲]عن ابن عباس قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:من سمع المنادی فلم یمنعه من اتباعه عذر،قالوا:وما العذر؟ قال:خوف اومرض لم تقبل منه الصلاة التی صلی.رواه ابو داؤد والدار قطنی.(مشکوة ص:۹٦،باب الجماعة وفضلها)

۳] عن ابی هریرة عن النبی صلی الله علیه وسلم قال:لو لاما فی البیوت من النساء والذریة اقمت صلوة العشاء وامرت فتیانی یحرقون ما فی البیوت.رواه احمد.(مشکوة ص:۹۷،باب الجماعة وفضلها،الفصل الثالث)

٤] عن ابن عباس رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال:من سمع النداء فلم یجبه فلا صلوة له الا من عذر.(مشکوة ص:۹۷،باب الجماعة وفضلها)_

مسجد يعني د سجدې ځاى جوړ كړل شو. د رسول الله ﷺ د امت كوم سړي باندې چې په كوم ځاى كې د لمانځه وخت راغى هلته لمونځ كولى شي[1] جومات ته د نه رسيدلو په وجه هغه ته د لمانځه د وروسته كولو ضرورت نشته. خو كه څه عذر مانع نه وي، نو په جومات كې د جماعت لمونځ ادا كول ضروري دي. هو: د نفلونو په كور كې د ادا كولو حكم دى او د سنن موكده په باره كې خو اصل حكم هم دادى چې هغه دې په كور كې ادا كړي په دې شرط چې په كور كې يې په اطمينان او سكون سره ادا كولى شي. كه نه د سنن موكده ادا كول هم په جومات كې غوره دي[2]

كه لمونځ له جمعې نه پاتې شي نو څه كول پكار دي؟

سوال: كه له څه وجې د جمعې لمونځ ادا نه كړل شي يا د مجبوري له وجې نه د جمعې لمونځ پاتې شو. نو ايا لمونځ خاتته په كور كې ادا كړي يا په جومات كې؟ په دواړو كې كوم يو ته ترجيح وركړل شي؟ او واقعه داده چې د كور په ځاى په جومات كې د لمانځه ثواب زيات دى او بل طرف ته دا هم واضحه ده چې د جمعې پريښودونكى ګناه ګار دى او د هغه دا عمل يعني جمعه پريښودل په ګناهونو كې راځي او بيا جومات ته تللو سره دا اظهار كول چې زما نه دا ګناه شوې ده، سره له دې چې د ګناه او عيب د پټولو څه حكم دى؟

جواب: جمعه قصدا پريښودل ګناه ده كه د څه رښتيني عذر له وجې نه جمعه پاتې شوه، نو د جمعې د پاتې كيدلو ګناه به نه وي، غوره داده كه په يو بل جمعه كې د شامليدو اميد وي، نو هلته دې لاړ شي، يا دې په خپل كور كې جمعه وكړي كه نه په جومات كې دې خاتته وكړي[3]

د نژدې جومات باوجود د لوبو په ميدان كې لمونځ كول

سوال: نن سبا نوي كهول كې د كركټ لوبه ډيره مقبوله ده، ځينې حافظان يو ميدان ته د كركټ ميچ له پاره لاړشي، نوهغه ميدان كې د لمانځه اهتمام كوي، حالانكې د جومات فاصله د لسو دقيقو ده، نو په داسې صورت كې لمونځ جومات كې ادا كول پكار دي يا په دې ميدان كې؟

۱]عن جابر قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:اعطيت خمسًا لم يعطهن احد قبلى،نصرت بالرعب مسيرة شهر، وجعلت لى الارض مسجدًا وطهورًا،فايما رجل من امتى ادركته الصلاة فليصل...الخ.(مشكوة المصابيح ص:۵۱۲، باب فضائل سيد المرسلين صلوات الله وسلامه عليه،الفصل الاول)_

۲] والافضل فى السنن اداءها فى المنزل الا التراويح......وفى الخلاصة فى سنة المغرب ان خاف لو رجع الى بيته شغله شان آخر ياتى بها فى المسجد وان كان لا يخاف صلاها فى المنزل وكذا فى سائر السنن حتى الجمعة والوتر فى البيت افضل...الخ.(البحر الرائق ج:۱ ص:۵۲)_

۳] ذكر فى الاصل انه اذا فاتته الجماعة فى مسجد حية فان اتى مسجد آخر يرجوا ادراک الجماعة فيه فحسن وان صلى فى مسجد حية فحسن لحديث الحسن......وذكر القدورى انه اذا فاتته الجماعة جمع باهله فى منزله.(البدائع الصنائع ج:۱ ص:۱۵۶،وايضا فى بحر ج:۲ ص:۳۶۷)_

جواب: که جومات نژدې وي. نو لمونځ جومات کې کول پکار دي.حدیث مبارک کې ددې تعلیم ورکړل شوی دی [۱]

که جومات ته رسیدل ممکن نه وي نو کور کې لمونځ کول

سوال: زموږ په علاقه کې د غریزې علاقې له وجې نه جومات د کلي یا د محلې نه لیرې وي که نژدې هم وي. نو لاره سخته وي د هغه له وجې نه مشران یا هلکان چې لمونځ پرې فرض دی جومت ته نه شي رسیدلی.داسې صورت کې اذان کولوسره دوه یازیات کسان جمعې سره لمونځ کولی شي؟

جواب: فرض لمونځونه خو په جومات کې کول پکار دي.که جومات لیرې وي. نو نژدې جومات جوړول پکار دي. په هرحال که جومات ته رسیدل ممکن نه وي. نو کور کې جمعه کول صحیح دي خودجومات د فضیلت نه به محروم وي [۲]

که جومات کې د لمونځ کولو نه والدین منع وکړي نو څه کول پکار دي؟

سوال: زما والد صاحب ما جومات کې لمونځ کولو ته نه پریږدي او وایي چې کور کې لمونځ کوه، زه جمعة المبارك لپاره پټ ځم.لمونځ کولو نه وروسته راځم. نو ما وهي او د کور نه د ویستلو دهمکي راته راکوي.داسې څو خله شوي دي

جواب: جومات کې جمعې سره لمونځ کول واجب دي اوله عذرپرته دجومات لمونځ پرېښودل ګناه ده[۳] او مور پلار چې کله د ګناه حکم کوي. نو د هغوی خبره منل جائز نه دي[۴].له دې وجې نه تاسوجومات کې د لمونځ کولواهتمام کوئ اود والدصاحب د منع کولو پرواه مه کوئ

کور کې څو کسا نو سره لمونځ کول د جمعې ثواب لري

سوال: که کوروالو سره چې تعداد یې پنځه، شپږ وي.کور کې فرض لمونځ وکړل شي. نو ایا دې سره دجمعې فرض ثواب ورکول کیږي؟

---

[۱] وقال ان رسول الله صلى الله عليه وسلم علمنا سنن الهدى وان من سنن الهدى الصلوة فى المسجد الذى يؤذن فيه.(حلبى كبير ص:۵۰۹).

[۲] تجب على الرجال العقلاء البالغين الاحرار القادرين على الصلاة من غير حرج وفى الشامية فبالحرج يرتفع الاثم ويرخص فى تركها ولكنه يفوته الافضل...الخ.(شامى ج:۱ ص:۵۵٤،مطلب فى تكرار الجماعة فى المسجد).

[۳] قال عامة مشايخنا انها واجبة،وذكر الكرخى انها سنة،ثم فسرها بالواجب،فقال:الجماعة سنة لايرخص لاحد التاخر عنها الالعذر.وهو تفسير الواجب عند العامة.(بدائع ج:۱ ص:۱۵۵).

[۴] عن النواس بن سمعان رضى الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:لا طاعة لمخلوق فى معصية الخالق.رواه فى شرح السنة.(مشكوة ص:۳۲۱،كتاب الامارة والقضاء).

جواب: که جومات کې کله جمعه ونه موندل شي، نو دکورکسانو سره جمعې سره لمونځ کولو کې به د جمعې ثواب خامخا ورکول کیږی[۱]. خوقصداً د جومات جمعه پریښودل او له څه وجې نه پرته په کور کې لمونځ کول ناجائز دي.

د شرعي عذر نه پرته یوازې لمونځ کول

سوال: که یو سړی د شرعي عذر نه پرته یا له څه مجبوري نه پرته یوازې لمونځ کوي. نو ایا دده لمونځ کیږي؟حالانکې که ده غوښتل، نو جمعې سره یې لمونځ کولی شو.

جواب: پنځه وخته لمونځ جمعې سره کول قریب قریب واجب دي[۲] کوم کس چې د عذر نه پرته یوازې لمونځ کوي دا سخت ګناهګار دی[۳]. ده ته ددې نه توبه کول پکار دي او جمعې سره د لمانځه اهتمام کول پکار دي.

د فوج د نده(ډیوټي) او لمونځ

سوال: زما اولنۍ مسئله داده چې که د یو مسلم فوج سپاهي په دندې(ډیوټي) باندې وي او د لمانځه وخت شي او ډیوټي هم د لوی اهمیت وي، مثلاً د اسلحې ډیپو وغیره او د فوج انچارج د لمونځ کولو نه منع کوي، نو څه وکړل شي؟په بل صورت کې که ډیوټي د عام حالت وي،د امن زمانه وي یعنې جنګ نه وي. نو ایا ډیوټي پریښودلو سره لمونځ کېدای شي؟

جواب: که څه متبادل انتظام نه وي. نو لمونځ به قضا کړي [۴] او که حساس او خطرناك صورت نه وي، نو لمونځ دې نه قضا کوي[۵] که ملازمت ختمیږي، نو ملازمت دې پریږدي.[۶]

---

[۱] وذکر القدوری:یجمع باهله ویصلی بهم یعنی وینال ثواب الجماعة کذا فی الفتح.(شامی ج:۱ ص:۵۵۵).

[۲] والجماعة سنة مؤکدة للرجال قال الزاهدی:اراد بالتاکید الوجوب،وقیل:واجبة وعلیه العامة،قال فی شرح المنیة والاحکام تدل علی الوجوب من ان تارکها بلاعذر یعزر وترد شهادته...الخ.(در مختار ج:۱ ص: ۵۵٤ ،۵۵۲، باب الامامة). ایضا: تجب.......علی الرجال العقلاء البالغین الاحرار القادرین علی الصلوة من غیر حرج.(شامی ج:۱ ص:۵۵٤).

[۳] الاتفاق علی ان ترکها (الجماعة)مرة بلا عذر یوجب اثمًا...الخ.(شامی ج:۱ ص:۵۵۲). ایضا: عن ابن عباس رضی الله عنهماقال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:من سمع المنادی فلم یمنعه من اتباعه عذر قالوا: وما العذر؟قال:خوف او مرض،لم تقبل منه الصلوة التی صلی.(مشکوة ج:۱ ص:۹٦باب الجماعة).

[۴] وتؤخر (الصلاۃ)سبب اللص ونحوه.(خلاصة الفتاوی ج:۱ ص: ٦۹ ،طبع کوئته).

[۵] ان الصلوة کانت علی المؤمنین کتبا موقوتا(النساء:۱۰۳).

[۶] عن النواس بن سمعان لا طاعة لمخلوق فی معصیة الخالق.(مشکوة ص:۳۲۱).

که د اداري مشر د لما نځه اجازه نه ورکوي نو د هغه خبره مه منئ

سوال: ۱ اداري مشر که له څه وجې نه د جمعې نه منع کوي. نو ایا د هغه خبره ومنل شي؟ ځکه چې د هغه وینا ده چې د ډیوټۍ په وختونو کې کارکوونکي زموږ تابع دي. که موږ اجازه ورکړو، نو جمعې سره به لمونځ وکړي. که نه نه شي یې کولی

جواب: جمعې سره لمونځ ادا کول سنت مؤکد. بلکې واجب دي[۱] اوله عذر نه پرته جمعه پرېښودل ناجائز دي[۲] او په ناجائز کار کې د چاخبره منل هم جائز نه دي.له دې وجې نه د اداري مشرته دجمعې نه د منع کولو حق نشته.کارکنانو ته د هغه خلاف احتجاج کول پکار دي او د جمعې لمونځ اجازه حاصلول پکار دي او که هیڅ شان سره هم اجازه نه ورکوي. نو بیا هم مسلمان کارکنانو ته جمعې سره لمونځ ادا کول پکار دي اګرکه ملازمت ختم شي [۳]

د کلي په جوماتکې لمونځ ادا کوئ

سوال: زه چې کله کلي ته لاړ شم، نو یو وړوکی جومات دی،په هغه کې پنځه وخته لمونځ نه کیږي.زه هلته ورشم د هغه صفایي وغیره وکړم.که بل څوك راشي. خو جمعه وشي. که نه یوازې لمونځ وکړم.ایا په دې صورت کې به ماته د جمعې د لمانځه ثواب راکول کیږي؟

جواب: دوه، څلورو کسانو ته ترغیب ورکړئ او جومات ته یې راولئ او د جمعې اهتمام کوئ، دې له پاره چې جومات هم اباد وي او د جمعې د ثواب نه هم محروم پاتې نه شي. [۴]

---

[۱] قال عامة مشايخنا انها واجبة وذكر الكرخي انها سنة ثم فسرها بالواجب...الخ.(بدائع ج:۱،ص:۱۵۵).

[۲] الاتفاق على ان تركها مرة بلا عذر يوجب اثما...الخ.(شامي ج:۱ ص:۵۵۲).

[۳] ايضا حاشيه نمبر ۳صفحه هذا.

[۴] واما بيان من تنعقد به الجماعة فاقل من تنعقد به الجماعة اثنان وهو ان يكون مع الامام واحد.(بدائع ج:۱ ص:۱۵٦).

❖ د امام مسائل ❖

....

د اهل کېدو په وخت کې غير اهل امام جوړول

سوال: زيد او عمر دواړه په يو جومات کې اوسيږي.زيد امام مقرر دی کوم چې عالم حافظ او قاري دی، خودخو شامد يا ويري له وجي نه عمر د لمانځه له پاره مخکې کوي. کوم چې نه حافظ ، نه قاري او نه مولوي دی او قرآن پاک هم صحيح نه شي لوستلی. نو ايا د زيد په موجوديت کې د عمر په اقتداء کې د ټولو لمونځ صحيح کيږي؟

جواب: په دې مسئله کې دوه خبرې د غور قابل دي:اول دا چې زيد کله چې امام مقرر دی. نو عمرته امامت کول نه دي پکار ،که د زيد د اجازې نه پرته امامت کوي، نو مکروه تحريمي او که د زيد په اجازې سره يې کوي. نو بيا هم خلاف اولی دی.[۱] ځکه چې هغه د زيد نه ډير کم دی[۲].بله خبره داده چې زيد عالم، قاري او حافظ دی او ددې په خلاف عمر قرات صحيح نه لولي حافظ، عالم او قاري هم نه دی، په دې صورت کې دوه حالتونه دي چې د عمر د حروفو د مخارجو قرات د صفات ذاتيه سره دی که نه:اول که حروف او صفات ذاتيه نه ادا کوي، نو لمونځ صحيح نه دی[۳]او دويم که مخارج او صفات ذاتيه ادا کوي. خودصفات محسنه او مميزه(کوم چې د قرات د کتابونو مفيد بحثونه دي) نه ناخبره وي، نو په دې صورت کې به يې لمونځ وشي، خو د زيد په مقابله کې د هغه امامت مکروه تنزيهي او خلاف اولی دی.پاتې شوه دا چې قرات صحيح لولي اوکه نه؟ دهغه فيصله مستند قاريان کولی شي عوام يې نه شي کولی له دې وجه که زيد په دې مسئله کې نرمي کوي، نودعمر قرات يو بل قاري ته په اورولو سره دې فيصله واخلي.

۱]دخل المسجد من هو اولى بالامامة من امام المحلة فامام المحلة اولى كذا فى القنية.(عالمگيرى ج:۱ ص:۸۳،الباب الخامس فى الامامة). ايضا: ويكره للرجل ان يؤم الرجل فى بيته الا باذنه لما روينا حديث ابى سعيد مولى بنى اسيد ولقول النبى صلى الله عليه وسلم لا يؤم الرجل الرجل فى سلطانه ولا يجلس على تكرمة اخيه الا باذنه........ولان فى التقدم عليه ازدراء به بين عشائره واقاربه وذا لايليق بمكارم الاخلاق.ولو اذن له لاباس به لان الكراهة كانت لحقه...الخ. (بدائع الصنائع ج:۱ ص:۱۵۸،كتاب الصلاة،فصل فى بيان من هو احق بالامامة)_

۲] الاولى بالامامة اعلمهم باحكام الصلاة.(عالمگيرى ج:۱ ص:۸۳،الباب الخامس فى الامامة،الفصل الثانى)_

۳]ومنها القراءة بالالحان ان غير المعنى والا لا.(الدر المختار ج:۱ ص:۶۳۰طبع ايچ ايم سعيد)_

جمعه کې د یو عالم باوجود د متولي امامت

سوال: زموږ په جامع جومات کې د ماز دیګر لمونځ د امام صاحب د غیرحاضري له وجې نه غیرعالم متولي ورکړ، حالانکې د هغه ته دا خبره معلومه وه چې د محلې یو باقاعده عالم دین د جمعې په اولني صف کې موجود دی.ایا د متولي له پاره دا ښه نه وه چې د امامت له پاره یې عالم دین ته ویلي وای؟

جواب: هو! همداسې کول غوره و.[1]

د فقه حنفي مطابق په امام کې کوم صفات پکار دي؟

سوال: د حنفي مسلك مطابق په امام صاحب کې کوم صفات پکار دي؟تاسو خبر راکړئ.

جواب: امام متقي او پرهیزګار کېدل پکار دي.چې حلال او حرام پیژني.د لویو ګناهونو نه ځان ساتي او د لمانځه د ضروري مسئلو او د صحیح تلاوت نه خبردار وي.والله اعلم.[2]

په اعراب کې د غلطي کونکي امام په اقتداء کې لمونځ

سوال: که په قرات کې امام صاحب په اعراب کې غلطي کوي او متواتر غلطي کوي. نو ایا لمونځ به یې صحیح شي او که نه؟

جواب: په کومه اعرابي غلطي سره چې د قرآن کریم معنی بدله شي. په هغې سره لمونځ ماتیږي او که داسې تبدیلي رانشي، نو لمونځ صحیح دی.[3]

چې د سهي تلفظ والا ړوند موجود وي نو غلط تلفظ والا امام مه جوړوئ

سوال: د جومات امام صاحب د بلې علاقې دی چې هغه د څه کارله وجې یا بل څه غرض باندې لس دولس ورځې چوټي باندې لاړ شي، نو د هغه په غیرموجودګۍ کې موږ سره دوه کسان دي، یو حافظ صاحب چې سترګو باندې ړوند دی، هغه قرآن مجید صحیح طریقې سره

---

[1] (والاحق بالامامة تقديمًا الاعلم باحكام الصلاة)فقط صحة وفسادًا بشرط اجتنابه الفواحش الظاهرة(قوله تقديمًا)اى على من حضر معه...الخ.(فتاوى شامى ص:۵۵۷،باب الامامة).

[2] والاحق بالامامة تقديمًا بل نصبًا،الاعلم باحكام الصلاة فقط صحةً وفسادًا بشرط اجتنابه الفواحش الظاهرة وحفظ قدر فرض.......ثم الاحسن تلاوةً وتجويدًا للقراءة ثم الاروع اى الاكثر اتقاء للشبهات،والتقوى اتقاء المحرمات...الخ(قوله تقديمًا)اي على من حضر معه(قوله نصبًا)اى للامام الراتب(قوله يشترط اجتنابه الخ)....... الاعلم بالسنة اولى الا ان يطعن عليه فى دينه...الخ.(درمختار مع رد المحتار ج:۱ ص:۵۵۷،باب الامامة).

[3] اذا لحن فى الاعراب لحنًا يغير المعنى بان قرا لاترفعوا اصواتكم برفع التاء لا تفسد صلاته بالاجماع وغير المعنى تغيرًا فاحشًابان قراوعصى ادم ربه بنصب الميم ورفع الرب وما اشبه ذلک ممالو تعمد به لكفر اذا قرا خطا فسدت صلاته.(عالمگیری ج:۱ ص:۸۱،الباب الرابع فى صفة الصلاة،الفصل الخامس فى زلة القارى)۔

لولي او په مدرسه کې ماشومانو ته سبق ښيي اواودس وغیره بالکل صحیح کوي.خو سترګو باندې نابینا دی.داحافظ صاحب د امام صاحب په نه موجودیت کې امامت کولی شي او که نه؟ دویم کس هم لمونځ ورکوي. خو ځینې خلک وایي چې دا کس د قرآن تلفظ صحیح نه ادا کوي. سوال دادی چې په دې دواړو کې کوم کس ته امامت کول پکار دي؟

جواب: که نابینا سړی صفا وي،قرآن کریم صحیح لولي او د لمانځه د ضروري مسئلو نه خبر وي. نو هم دی امام جوړول پکار دي. کوم کس چې قران غلط لولي. نو هغه امام جوړول پکار نه دي.[۱]

کوم پرهیزګار چې نه امامت کوي نه اقتداء کوي هغه ګناهګار دی

سوال: که په یو محله یا کلي کې د جومات پیش امام له څه وجې نه جمعې ته رانغی او د هغه په ځای یو بل مشر لمونځ ورکړي او په پوره کلي کې یو سړی داسې وي چې خپله هم پرهیزګا، وي او هغه خپله امامت کول نه غواړي او نه هغه په چا پسې لمونځ کوي. نو د شریعت مطابق ددې سړي څه حکم دی؟

جواب: دا سړی ګناهګار دی.[۲]

د شریعت پابند خو په قرأت د غلطي کونکي امامت

سوال: ایا په داسې امام پسې لمونځ صحیح دی چې په صحیح طریقې سره د شریعت پابند وي. خو د لمانځه په دوران کې په قرات کې غلطي کوي؟

جواب: د قرات ځینې غلطي داسې وي چې په هغه سره لمونځ فاسدیږي له دې وجې داسې سړی امام جوړول صحیح نه دي.[۳]

د غلط قرات کونکي امام اقتداء

سوال: زموږ په کلي کې امام صاحب او خطیب کوم چې د تیرو دولسو کلنو نه امامت کوي چې د هغه ددیني تعلیم دا حالت دی چې په لمانځه کې د قرات په دوران کې داسې غلطي کوي چې په هغې سره لمونځ فاسدیږي مثلاً:د قرات دوران کې د زیر په ځای زبر.د زبر په ځای زیر

۱]وعند کراهة امامة الاعمى فى المحيط وغيره بان لايكون افضل القوم،فان كان افضلهم فهو اولى.(البحر الرائق ج:١ ص:٣٦٩وهكذا في الفتاوى الشامية ج:١ ص:٥٦٠.باب الامامة).

۲] قال:الجماعة سنة مؤكدة لايرخص لاحد التخلف عنها بغير عذر...الخ.(فتاوى سراجية ص:١٥) ايضاليس فى المحلة الا واحدًا يصلح للامامة لاتلزمه ولا ياثم بتركها.كذا فى القنية.(عالمگیری ج:١ ص:٨٤)۔

۳] اذا اتى بالادغام فى موضع لم يدغمه احد من الناس ويقبح العبارة ويخرجها عن معرفة الكلمة نحو ان يقرا......فسدت صلوته وان اتى بالادغام فى موضع لم يدغمه احد الا ان المعنى لا يتغير به ويفهم ما يفهم مع الاظهارنحو ان يقرا.....لاتفسد صلوته.(عالمگیری ج:١ ص:٨١، الباب الرابع،الفصل الخامس فى زلة القارى)

او د زبر زیر په ځای پیش او د واو زیات استعمال یا د واو حروف پرېښودل. د شد او مد خیال نه ساتل د ولاړ زبر په ځای یوازې زبر لوستل د لام د تاکید په ځای منفي لا لوستل او داسې نور د تیرو پنځو کلنو نه ما امام صاحب ته دا قسمه غلطۍ په نښه کړي دي. خو هغه بیا هم بند نه شو او هم هغه شان د الله پاک په کلام پورې مسخرې کوي اخر ما د ډیرې مجبورۍ له وجې نه په هغه پسې لمونځ کول پرېښودل او د کلي په سوونو خلک د هغه په اقتداء کې لمونځ کوي او د کلي څه مالدار خلک د مولوي صاحب حمایت کوي او دا دلیل پیش کوي چې موږ نا پوهه خلک یو. زموږ لمونځ کیږي حال دا چې ما ددې نه مخکې د څو مفتیانو نه فتوا حاصله کړې ده. خو دا خلک په خپل ضد باندې کلک ولاړ دي.

جواب: په داسې امام پسې لمونځ نه کیږي امام دې بدل کړل شي او څوک صحیح لوستونکی دې امام مقرر کړل شي. که نه ټول لمونځونه به برباد شي.

د ږیره لنډونکي عالم په شتون کې د کم علمه ږیره ور امامت

سوال: په جومات کې ټول خلک چې په هغه کې د علم خاوندان هم شته. ټولو ږیرې لنډې کړې دي، له یوسړي نه پرته اوس په دې صورت کې اقامت او امامت په کوم ترتیب سره وکړل شي؟ سره له دې چې د ږیرې والا سړی کم علمه دی.

جواب: که د ږیرې والا سړی لمونځ ورکولی شي او د لمانځه د ضروري مسائلو نه خبر وي. نو لمونځ هم هغه باندې ورکول پکار دي، اقامت دې هم هغه په خپله کوي. چې ږیره لنډوي هغه اهل علم نه، بلکې اهل جهل دي په قول د سعدي:

"علمی که راه حق نماید جهالت است"..

د مجبورۍ له وجې بې ږیرې پسې لمونځ کول دیوازې لمانځه نه غوره دي

سوال: د لمونځ اهتمام د یو مشر استاد د لاندې کیږي کوم چې ږیرې والا دي په ټول سکول کې پرته له هغه نه څوک هم دږیرې والا نشته هم هغه امامت کوي، خو په کومه ورځ چې هغه نه راځي دویم استاد چې ږیره نه لري امامت کوي. د بې ږیرې امام پسې لمونځ کولو په باره کې ستاسو څه خیال دی؟

جواب: مکروه تحریمي دی.[1] خو که په ټوله جمعه کې یو هم د ږیرې والا انسان نه وي، نو

١] ږیره خرئیل یا دومره کمول چه د یو موټی نه کمه شی دا حرام دی او مرتکب د حرامو فاسق دی.
والفاسق من فعل كبيرة او اصر على صغيرة.(شامي ج:٤ ص:٥٣١،طبع ايچ ايم سعيد). ويكره تقديم العبد ...... والفاسق لانه لايهتم لأمر دينه.(هداية ج:١ ص:١٠١). وايضا فى الشامية ج:١ ص:٥٦٠واما الفاسق فقد عللوا كراهة تقديمه بانه لايهتم لامر دينه،وبان فى تقديمه للامامة تعظيمه وقد وجب عليهم اهانته شرعًا...الخ.(فتاوى شامي ج:١ ص:٥٦٠،باب الامامة)۔

دیوازې لمونځ کولو په ځای داسې امام پسې لمونځ کول غوره دي.[۱]

د وړې وړې ږیرې سره امامت کول

سوال: مسئله داده کوم ځای چې زه کار کوم هلته ډیر ځله چې کله د لمانځه وخت شي، نو موږ پنځه شپږ ملګري یو، یو هم د شریعت مطابق نه وي، زما وړه وړه ږیره ده او قرات مې هم صحیح دی، د لمانځه د مسائلو نه هم خبر یم. ملګري ماته د لمانځه د ورکولو له پاره وایي، نو جمعه وکړو، خو کله چې یو پوره ږیرې والا وي، نو زه هغه په امامت باندې مجبور وم تاسو دا بیان کړئ چې په داسې صورت کې چې د مقتدیانو په صف کې یو هم د پوره ږیرې والا نه وي. زه لمونځ ادا کولی شم او که نه؟

جواب: که تاسو ته د لمانځه ورکولو موقع ملاویږي، نو تاسو ته پوره ږیره پریښودل پکار دي، تاسو ته به د صحیح امامت ثواب درکول کیږي او د مړ شوي سنت د ژوندي کولو ثواب به هم وي په موجوده صورت کې ستاسو امامت مکروه دی. خو د ځانته لمونځ کولو نه په دې طریقې سره جمعه کول غوره دي.[۲]

تراویحو لپاره د ږیره ساتونکي حافظ امامت

سوال: دې تیر رمضان شریف کې یو حافظ صاحب چې غالباً ملتان سره تعلق لري، د هغه ږیره د سنت مطابق نه وه، یعنې وړوکې وه، هغه کټ کړې وه او د جومات مولانا ورته وویل چې ستا ږیره وړه ده، دا تا ولې غټه کړې نه ده؟ هغه په جواب کې وویل چې زه بیمار وم او ددې له وجې نه زما ږیره وړه ده او څو ورځې وروسته هغه بیا ږیره کټ کړه، بیا مولانا صاحب د هغه نه خفه شو چې تا د حضورپاک ﷺ د سنت مبارك توهین کړی دی او تاپسې لمونځ نه کیږي، خو د جمعې ټولو ملګرو د حافظ صاحب تائید کاو او راروان رمضان لپاره یې هم دعوت ورکړی دی. مهرباني وکړئ زموږ رهنمایي وکړئ، ایا لمونځونه شوي دي یعنې د تراویحو لمونځ، چې خلکو دې حافظ صاحب پسې کړي دي د کوم حافظ چې ږیره بالکل وړه وه؟ د مولانا صاحب د منع کولو نه وروسته هم هغه کټ کړه، ایا حافظ صاحب ګناهګار دی او که نه؟ او د جمعې کومو ملګرو چې دده تاید کاوو هغه هم ګناهګار دي؟ ایا راروان کال کې دا حافظ صاحب لمونځ ورکولی شي؟

جواب: کوم حافظ چې ږیره کټ کوي، هغه پسې لمونځ جائز نه دی، مولاناصاحب صحیح وایي او دې حافظ ته د خلکو دعوت ورکول ګناه ده، دوی ته توبه کول پکار دي، داسې حافظ

۱] فان امکن الصلوة خلف غیرهم فهو افضل والا فالاقتداء اولی من الانفراد. (شامي ج: ۱ ص: ۵۵۹، باب الامامة)

۲] تیره شوی حاشیه (ږیره خرئیل یا دومره کمول چه د یو موټی نه کمه شی دا حرام دی.... الخ (فتاوی شامي ج: ۱ ص: ۵۶۰، باب الامامة)_

پسې لمونځ نه کيږي ا[۱]

که د ږيره خريلي امامت جائز نه دی نو امام کعبه په ضياء الحق باندې ولې امامت وکړ؟

سوال: د هغه امام په باره کې څه حکم دی. چې دا خبره کوي چې هغه سړي پسې لمونځ کيږي د چا ږيره چې غيرشرعي وي او ددې له پاره د جواز دليل دا پيش کوي چې امام کعبه په ضياء الحق صاحب باندې لمونځ کړی و، سره له دې چې د هغه ږيره نه وه؟

جواب: ددې امام دا ښودل شوې مسئله غلطه ده،د کوم کس ږيره چې غيرشرعي وي. نو هغه فاسق دی او د فاسق سړي اذان او امامت د امت د فقهاء کرامو د وضاحت مطابق مکروه تحريمي دي.[۲]

د تاکلې وظيفې نه لرونکي امام طرزعمل

سوال: زه ديو کلي کې په جومات کې خادم يم،ماشومانو ته درس قرآن او د امامت فريضه هم سر ته رسوم،زما څه تاکلې وظيفه نه شته،د هغه ځای شتمن خلک د ضرورت مطابق ماسره تعاون کوي. هرکال کې دوه مياشتې جمعې له پاره ورځم،د هغه خرچه هم د هغه نه اخلم يعنې هغوی ته دخرچې له پاره وايم. هغه خلک يې په خوشحالي سره راکوي،دغه شان د کور خرچې هم راکوي،په هرحال څه تاکلې وظيفه نه شته،ايا داسې عمل ماله پاره جائز دی؟

جواب: دا طرزعمل ستاسو له پاره جائز دی، خوددې نه ښه خبره داده چې تاسو د چا نه څه غواړئ، د الله پاك كار د الله پاك د رضا له پاره يوازې په الله پاك باندې توكل كولو سره كوئ. بيا چې الله پاك څه انتظام وكړي، نو هغه قبول كړئ.[۳]

ايا د امام له پاره په منبر باندې د خپل ځان له پاره زکات او عطيات غوښتل جائز دي؟

سوال: امام صاحب د جومات د کميټۍ له اجازې پرته په جمعه کې د لمانځه نه وروسته اعلان وکړي چې زه د جومات قرضدار يم او د خلکو هم قرضدار يم او دې وخت کې زما حالت

---

[۱] اوتجوز امامة الاعرابى والاعمى والعبد وولد الزنا والفاسق كذا فى الخلاصة الا انها تكره.(عالمگيرى ج:۱ ص:۸۵،باب الامامة).ويكره تقديم العبد......والفاسق لانه لايهتم لامر دينه.(فتح القدير ج:۱ ص:۲٤۷،هداية ج:۱ ص:۱۰۱).

[۲] ويكره اذان الفاسق.(عالمگيرى ج:۱ ص:٥٤)،ويكره تقديم العبد.......والفاسق لانه لايهتم لامر دينه.(فتح القدير ج:۱ ص:۲٤۷)،ايضا سابقه حواله جات.

[۳] ومن يتوكل على الله فهو حسبه الآية (الطلاق:۳).

د رحم وړ دی، لهذا دادرخواست کوم چې د زکات،عطیات او فطرانې په ذریعې سره ماسره تعاون وکړئ او خپل کسان یې د جومات په دروازو کې کینول.ایا د امام صاحب له پاره داسې غوښتنه جائز ده؟

جواب: تاسو چې څنګه ذکر کړل، نو د جومات امام صاحب له پاره داسې قسم اعلان کول ډیره د ذلت خبره ده،الله پاك دې په چا باندې هم سخت حالات نه راولي، زما عقیده خو دا ده چې د امام د لوړې نه مړ کیدل دداسې قسم ذلت آمیز سوال کولونه غوره دي. باقي محلې والو او جومات والو ته د امام صاحب د ضروریاتو په خپله خیال ساتل پکار دي.

د هغه کس امامت چې کورونو ته د قرآن پاك ددرس له پاره ځي او فیس اخلي

سوال: نن سبا عموماً په جوماتونو کې چې کوم امامان دي،د خلکو کورونو ته ځي او قرآن مجید ورته ښیي او ډیر فیسونه ترې اخلي،ایا داسې امام پسې لمونځ کول جائز دي؟

جواب: ددې د ناجائز کیدو شك درته ولې وشو؟ **والله اعلم**

که لاس باندې پټۍ وي ، نو د لمانځه حکم

سوال: که د امام په لاس باندې پټۍ تړلې وي چې د هغې له وجې نه اودس نه پوره کیږي، نو په دې صورت کې داکس امامت کولی شي؟دغه شان د امامت کولو په صورت کې د مقتدیانو په لمانځه کې به څه فرق راځي اوکه نه؟

جواب: که چاپه زخم باندې پټۍ تړلې وي او پټۍ لرې کولو سره د زخم وینځل تاوان کوي. نو حکم دا دی چې په دې پټۍ باندې مسح وکړي او ګیرچاپیره ځای ورسره ووینځي. په پټۍ باندې مسح کول د غَسل(د وینځلو)قائم مقام دی. له دې وجې نه داسې سړی امام جوړیدای شي چې په پټۍ باندې یې مسح کړې وي،دده په اقتدا کې څوك لمونځ کوي، نود هغوی لمونځ صحیح دی.[۱]

لمانځه کې دیوې بلې خوا کتونکي امامت

سوال: یو سړی چې کله لمونځ کوي، نو د قیام په حالت کې د سجدې ځای ته د کتلو په ځای یوې اوبلې خوا ته ګوري،که دی جمعه کوي، نو کیدای شي چې په جمعه کې به هم یوې اوبلې خواته ګوري،دداسې سړي په امامت کې لمونځ کول جائز دي؟

جواب: یوې اوبلې خواته کتل مکروه دي.[۲]

---

[۱] ویجوز المسح علی الجبائر وان شدها علی غیر وضوء...الخ.(الجوهرة النیرة ص:۲۸،مطبع مجتبائی دهلی)، ویجوز اقتداء الغاسل بماسح الخف وبالماسح علی الجبیرة.(عالمگیری ج:۱ ص:۸٤،باب الامامة،الفصل الثالث).

[۲] ویکره ان یلتفت بوجهه یمیناوشمالاً...الخ.(حلبی کبیر ص:۳۵۱).

د داسې سړي امامت چې د اسلام په باره کې معمولي معلومات لري

سوال: يو داسې سړی چې انګريزي خو يې ډېره زده کړې او لوستلي ده، خو د دين اسلام په باره کې دومره معلومات نه لري، ايا دی کله کله امامت کولی شي؟ ايا داسې صورت کې به دده ته ګناه نه وي؟

جواب: که د شريعت پابند وي، د لمانځه ضروري مسائلو باندې پوهيږي او قرآن مجيد باندې د ضرورت مطابق پوهيږي، نو امامت کولی شي.[1]

د پنځه وخته لمانځه اجرت اخستونکي اقتداء

سوال: زما د تره د زوی مسئله داده چې هغه پنځه وخته لمونځ کوي او د جمعې سره يې کوي. خو نن سبا له يو څو مولويانو پرته ټول اجرت اخلي. د هغوی د محلې امام هم اجرت د تنخواه په صورت کې اخلي او د تراويح اجرت د مخکې نه مقرروي، هغه ته يو جومات معلوم دی چې د هغه ځای امام څه نه غواړي هو! که څوک يې په خوشحالي ورکوي، نو اخلي يې. خو هغه جومات ډېر لرې په بله علاقه کې دی. هغه نوکري هم کوي، له دې وجه هغه هلته تللو سره لمونځ نه شي ادا کولی. تاسو بيان کړئ چې هغه ته د شريعت په رڼا کې تراويح کوم ځای ادا کول پکار دي. په جومات کې يا په کور کې؟

جواب: په تراويح اجرت جائز نه دی، ددې په ځای دې د الم تر کيف سره تراويح وکړل شي[2] د پنځه وخته لمونځ د امامت اجرت متاخرينو جائز کړی دی، له دې وجه دې جمعه نه پرېښودل کيږي، بلکې خپل جومات کې دې د جمعې سره لمونځ ادا کړل شي.[3]

د امام له اجازې پرته امامت کول

سوال: يو سړي ديارلس کاله د امامت فرائض ادا کړل او وروسته هغه د امامت نه استعفی ورکړه او محلې والا امام مقرر کړو، څه موده وروسته هغه هم امامت پرېښود او بيا محلې والا خلکو امام مقرر کړ اوس هغه امام چا چې ديارلس کاله امامت کړی دی هغه راتلو سره ددې امام په موجودګي کې پرته له اجازې نه په مصلی باندې ولاړ امامت کولی شي او که نه؟

---

[1]]والاحق بالامامة تقديما بل نصبا الاعلم باحكام الصلاة فقط صحةً وفسادًا بشرط اجتنابه الفواحش الظاهرة وحفظ قدر فرض.......ثم الاحسن تلاوةً وتجويدًا للقراءة...الخ (در مختار مع الشامی ج:۱ ص:۵۵۷، باب الامامة)

۲]قال العينى وشرح الهداية:ويمنع القارئ للدنيا،والآخذ والمعطى آثمان.(شامی ج:۶ ص:۵۶)۔

۳] لان ماجازوه فى محل الضرورة كالاستئجار لتعليم القرآن او الفقه او الاذان او الامامة خشية التعطيل لقلة رغبة الناس فى الخير.(شامی ج:۶ ص:۶۹۱،وايضا ج:۶ ص:۵۵،۵۶، كتاب الاجارة)۔

جواب: اوس چې کله هغه امام نه دی، نوپرته د امام له اجازې نه د هغه لمونځ ورکول صحیح نه دي.[۱]

ایا امام یوازې د ښځو او ماشوما نو امامت کولی شي؟

سوال: ایا امام یوازې د ښځو او ماشومانو امامت کولی شي؟ د امام نه پرته هیڅوک بالغ سړی نشته

جواب: که بالغ سړی نه وي، نو د ماشومانو او ښځو سره هم لمونځ کیږي د امام نه شاته د ماشومانو صف پکار دی اوله هغو نه وروسته د ښځو او که ماشوم یو وي، نو هغه دې د امام ښي طرف ته ودریږي او ښځه که یوه هم وي هغه دې په شاته صف کې ودریږي.[۲]

ایا یو امام په دوه جوماتونو کې امامت کولی شي؟

سوال: زموږ په کلي کې دوه جوماتونه په څه فاصله باندې موجود دي،په دې دواړه جوماتونو کې کافي لمونځ کونکي وي،خو په دې ټول کلي کې د امام جوړیدلو لائق یوازې یو سړی دی، ایا یو لمونځ په مختلفو وختونو کې په دواړه جوماتونو کې هغه یو امام ورکولی شي؟ څه گنجائش په شریعت کې موجود دی او که نه؟

جواب: یو سړی دوه ځله امامت نه شي کولی، ځکه چې د هغه لومړی لمونځ فرض دی او دویم نفل،د فرض لمونځ کونکي اقتداء په نفل کونکي پسې صحیح نه دی.[۳]

له یوازې لمانځه وروسته بل ته جمعه ورکول

سوال: یو سړی چې فرض لمونځ وکړي،ایا دی بیا وروسته راتلونکي کس ته د لمانځه له پاره امامت کولی شي؟

جواب: کوم سړي چې فرض لمونځ ادا کړی وي، نو هغه په دې لمانځه کې د بل چا امام نه شي جوړیدلی.[۴]

۱] (واما الامام الراتب فهو احق من غيره وان كان غيره افقه منه.(البحر الرائق ج:۱ ص:۳٦۸)،صاحب البيت اولى بالامامة من غيره.(فتاوى سراجية ص:۱٦)۔

۲] واطلق فى الواحد فشمل البالغ والصبى واحترز به عن المرأة فانها لاتكون الاخلفه فلو كان معه رجل وامراة فانه يقيم الرجل عن يمينه والمرأة خلفها...الخ.(البحر الرائق ج:۱ ص:۳۷٤).وان كان معه رجل وامراة اقام الرجل عن يمينه والمرأة خلفه...الخ.(عالمگیری ج:۱ ص:۸۸،الفصل الخامس،الباب الخامس فى الامامة)۔

۳] ولا يصلى المفترض خلف المتنفل لان الاقتداء بناء ووصف الفرضية معدوم فى حق الامام فلا يتحقق البناء على المعدوم.(هداية ج:۱ ص:۱۲۷،باب الامامة)۔

٤]لان الفرض لا يتكرر.(شامى ج:۲ ص:٦٤)،ولا يصلى المفترض خلف المتنفل،لان الاقتداء بناء ووصف الفرضية معدوم فى حق الامام فلا يتحقق البناء على المعدوم.(هداية ج:۱ ص:۱۲۷،باب الامامة).

د لمانځه په مهال که د امام اودس مات شي نو هغه ته پکار دي چې څوک خلیفه جوړ کړي

سوال: جمعه کې د امام صاحب اودس مات شو او د امام صاحب په ځای دویم څوك نشته.اوس به خلك پاتې لمونځ څنګه ادا کوي؟او ایا دا لمونځ پوره شو؟دویم دا چې امام د تللو په وخت په اولني صف کې یو کس په خپل ځای ودراو. نو دا دویم امام به د شروع نه لمونځ کوي یا د کوم ځای نه چې اولني امام صاحب لمونځ پرېښې و د هغه ځای نه به یې کوي؟او په سري لمونځ کې څه پته لګیږي چې سورة یې هم لوستلې و اوکه نه؟او ایا د امام په تللو سره د جمعې ثواب کیږي اوکه نه ؟یا به په دویم ځل جمعه کول ضروري وي؟واضح او تفصیلي جواب راکړئ.

جواب: امام ته په خپل ځای باندې بل څوک خلیفه جوړول پکار دي.که څوك خلیفه جوړ نه کړي، نو په مقتدیانو کې په خپله یو کس ته پکار دي چې وړاندې شي او خلیفه جوړ شي.که امام د خلیفه جوړولو نه پرته د جومات نه بهر شو او د هغه په ځای بل څوك رانغلل. نو د ټولو لمونځ فاسد شو.[۱]

لومړي امام چې لمونځ کوم ځای کې پرېښې دی، نو خلیفه ته پکار دي چې هم د هغه ځای نه یې شروع کړي،که د امام په ذمه قرات پاتې وي، نو خلیفه ته به اشاره وکړي مثلاً د ژبې طرفته به اشاره وکړي ددې مطلب به دا وي چې قرات پاتې دی او که قرات یې کړی وي. نو په ګونډو باندې لاس کېښودلو سره به ورته اشاره وکړي چې رکوع پاتې ده [۲]

که یوازې یو سړی او یو ښځه مقتدیان وي نو ښځه به کوم ځای دریږي؟

سوال: درې کسان چې په هغوی کې یو ښځه شامله ده،د جمعې لمونځ ادا کول غواړي.یو سړی خو دې امام جوړ کړل شي. نو شاته یو سړی پاتې کیږي اوس به ښځه د شاته مقتدي کوم طرف ته .په څومره فاصله باندې او څنګه دریږي چې درې واړه د جمعې لمونځ ادا کړي ؟

جواب: کوم سړی چې مقتدي دی هغه دې د امام ښي اړخ ته لږ وروسته ودریږی ښځه دې په شاته صف کې ځانته ودریږي.[۳]

---

[۱]]وله ان يستخلف مالم يجاوز الصفوف فى الصحراء وفى المسجد مالم يخرج عنه.(عالمگیری ج:۱ ص:۹۵).

[۲]]ولو تقدم يبتدئ من حيث انتهى اليه الامام.......ولوترک رکوعًا يشير بوضع يده على ركبته اوسجودًا يشير بوضعها على جبهته او قراءة بوضعها على فمه.(عالمگیری ج:۱ ص:۹۶).

[۳]] فلو كان معه رجل وامراة فانه يقيم الرجل عن يمينه والمرأة خلفها.(البحر الرائق ج:۱ ص:۳۷٤)_

امام ته محراب کې دريدل مکروه دي

سوال: نن سبا تقريبا په ټولو جوماتونو کې د امام صاحب د جاى نمازله پاره محراب جوړيږي، د امام صاحب جاى نماز په محراب کې په کوم خاى کې پکار دى؟

جواب: د جومات محراب خو د قبلې د پيژندګلوي له پاره وي، د امام جاى نماز د محراب نه لږ بهر پکار دى، ددې له پاره چې کله امام ولاړ وي، نو د هغه پښې د محراب نه بهر وي. د امام په محراب کې دننه دريدل مکروه دي.[1]

امام د پورتني منزل(پوړ) نه هم امامت کولى شي

سوال: که په جومات کې د يو نه زيات منزلونه وي ، نو ايا امام په پورتني منزل کې امامت کولى شي يا په لاندې منزل کې امامت کول ضروري دي؟

جواب: په پورتني منزل کې هم امامت کولى شي، خو غوره، مناسب او متوارث طريقه داده چې امام دې په لاندې منزل کې وي.[2]

ايير کنډيشن جومات او د امام اقتداء

سوال: که په جومات کې ايير کنډيشنډ ولګول شي اود جومات صورت حال داسې وي چې کله جومات ډک شي، نوخلک په برنډه کې لمونځ ادا کوي او د ايير کنډيشنډ له پاره ضروري ده چې د جومات دروازه بنده کړل شي، خو که دا صورت حال وي چې د جومات دروازې د شيشې وساتل شي چې دهغو نه دننه لمونځ کونکي ښکاري، نو څنګه به وي؟

جواب: که دروازې بندې وي، خو د بهر والاوو ته د امام د انتقالا توپه ته لګيږي، نو اقتداء صحيح ده، دغه شان که دروازې د شيشې ولګول شي، نوهم اقتداء صحيح ده، کله چې دامام تکبيرونه مقتد يانوته رسيږي.[3]

---

[1] (وقيام الامام فى المحرب لاسجوده فيه)وقدماه خارجه ،لان العبرة للقدم (مطلقا).....قلت اى لان المحراب انمابنى علامةلمحل قيام الامام ليكون قيامه وسط الصف كماهوالسنة لالان يقوم فى داخله فهولان كان من بقاع المسجدلكن اشبه مكاناآخرفاورث الكراهة .(فتاوى شامى ج: ۱ص:٦٤٦،٦٤٥،باب مايفسدالصلاة وما يكره فيها،مطلب اذا ترددالحكم بين سنة وبدعة)۔

[2] وكره .....وانفراد الامام على الدكان للنهى وقدر الارتفاع بذراع ولاباس بمادونه،وقيل مايقع به الامتياز وهو الاوجه ذكره الكمال وغيره (قوله للنهى)وهومااخرجه الحكم انه صلى الله عليه وسلم نهى ان يقوم الامام فوق ويبقى الناس خلفه وعللوه بانه تشبه باهل الكتاب ...الخ.(فتاوى شامى ج: ۱ص:٦٤٦،باب مايفسد الصلاة ومايكره فيها)۔

[3] وان كان الباب مسدودا والكوة صغيرة لايمكن النفوذمنهااومشبكة فان كان لايشتبه عليه حال الامام بروية اوسماع لايمنع على ما اختاره شمس الائمة الحلوانى قال فى المحيط وهوالصحيح وكذا اختاره قاضيخان وغيره (حلبى كبيرص:٥٢٤)۔

د اذان او اقامت ویونکي امامت صحیح دی

سوال: کوم سړی چې اذان او اقامت کوي، که هم هغه جمعه ورکړي. نو صحیح ده او که نه؟

جواب: صحیح ده.[۱]

د پنځلسو کلنو د هلک امامت

سوال: زما عمر پنځلس نیم کاله دی(زما قرات، مشق او تجوید ښه دی)د امام صاحب په نه شتون کې یو صاحب غلط قرات کولو سره لمونځ ورکوي. زه له دې وجې لمونځ نه ورکوم چې ایا ما پسې لمونځ جائز دی او که نه؟

جواب: دلته دوه مسئلې دي: ۱. د پنځلسو کالو هلک شرعاً بالغ وي او د هغه امامت صحیح دی. اګر که د هغه ږیره نه وي.[۲]

۲. د یو داسې سړي په شتون کې چې قرات صحیح کولی شي، که یو داسې سړی لمونځ ورکوي چې قرأت غلط کوي. نو په ټوله جمعه کې د هیچا لمونځ هم نه کیږي.[۳]

له دې وجې تاسو ته لمونځ ورکول پکار دي او که ستاسو په شتون کې غلط لوستونکی کس اما، جوړ شي. نو د ټولو لمونځ برباديږي.

د بالغ سړي که ږیره هم نه وي امامت یې صحیح دی

سوال: د امامت له پاره یو موټی ږیره ضروري ده. خو د کوم سړي چې قدرتي ږیره نه وي د هغه امامت څنګه دی؟ یا که بالغ دی. خو ږیره یې او سه پورې نه ده راغلې د هغه څه صورت دی؟

جواب: که د عمر په لحاظ بالغ وي او اوسه پورې یې ږیره نه ده راغلې د هغه امامت صحیح دی، هم د غه شان چې د کوم سړي قدرتي ږیره نه وي، د هغه امامت هم صحیح ده.[۴]

د بالغ هلک امامت څنګه دی چې ږیره یې نه وي راغلې؟

سوال: ستاسو په کتاب ستاسو مسئلې او د هغې حل کې دي چې داسې هلك چې پنځلس کالو ته رسیدلی وي او بالغ شوی وي، خو ږیره یې ښکاره شوي نه وي، نو دی امامت کولی شي، ما دلته د یو عالم نه پوښتنه وکړه، هغه وویل: داسې وخت کې دا هلك لمونځ کولی شي کله چې

۱] وجاء انس بن مالک الی مسجد قدصلی فاذن واقام وصلی جماعة .(صحیح البخاری ج: ۱ص:۸۹باب فضل صلوة الجماعة)۔

۲](فان لم یوجدفیهما)شیء(فحتی یتم لکل منهما خمس عشرةسنة به یفتی).(درمختارمع الشامی ج:۱ص:۵۷۷)

۳] اذا ام امی امیا وقارئاًفصلاة الجمیع فاسدة عندابی حنیفة ...الخ.(عالمگیری ج: ۱ص:۸۵)،ایضاامامة الامی بقوم ای جائزة ولوکان خلفه قاری فصلوة الکل فاسدة .(فتاوی سراجیة ص:۱۵)۔

٤] (ایضاحاشیه نمبر۲و) فالذکر البالغ تصح امامته للکل ...الخ (درمختارمع الشامی ج: ۱ص:۵۷۷)۔

بل څوك د لمانځه له پاره نه وي،خو مستقل امامت يې مکروه ده. تاسو د صحيح مسئلې طرفته زموږ رهنمايي وکړئ

جواب: ستاسو مولوي صاحب صحيح مسئله ښودلې ده.د پنځلس كالو نه وروسته به هلك بالغ شمېرل كيږي او د هغه امامت كول صحيح دي،خوكه په جمعه كې بل څوك امامت كولو والا موجود وي، نو دی امام جوړول پکار نه دي.

سماع موتی د نه منونکیو په اقتدا کې لمونځ کول

سوال: داسې علماء کرامو اوقاريانو پسې لمونځ كيږي اوكه نه چې د سماع موتی قايل نه وي؟

جواب: سماع موتی کې اختلاف دی،له دې وجې نه په دې باره کې څۀ فيصله نه شي کېدای. اګرچې زما او د زما د اکابرينو عقيده دا ده چې سماع موتی برحق ده **والسلام**

په غير مقلد پسې لمونځ کول

سوال: د مقلد په غير مقلد پسې اقتداء كيږي اوكه نه؟ كه جائز وي نو رفع اليدين هم كول پكار دي اوكه نه؟

جواب: غير مقلد كه دښې عقيدې والا وي،يعنې سلفو ته بد نۀ وايي او په مسائلو کې د مقتديانو د مذهب رعايت كوي. نو هغه پسې لمونځ جائز دی،په رفع اليدين کې دې مقلد د خپل امام په مسلک باندې عمل کوي.[1]

د شيعه امام په اقتداء کې لمونځ کول

سوال: كه امام شيعه وي او وروسته مقتدي سني وي، نو د سني لمونځ جائز دی؟

جواب: د اماميه شيعه ګانو عقائد د كفر دي، له دې وجې په شيعه امام پسې په اقتداء كولو سره لمونځ جائز نه دی.[2]

د ګناهونو نه د توبه کونکي امامت

سوال: عبدالله په ماضي کې د کبيره ګناهونو ارتکاب کونکی دی،اوس يې توبه وکړه او لمونځ ګزار شو.د لمانځه مسائل يې هم زده کړي دي،په تبليغي جماعت کې يې وخت هم لګولی دی،خلک د هغه ماضي نه پيژني، هغه نيک ګڼي،كه خلک هغه ته د فرض لمانځه د امامت له پاره ووايي، نو هغه امامت وكړي او كه نه؟

۱] اقتداء الحنفی بالشافعی يجوز اذا لم يكن متعصبا...ويحتاط فی مواضع الخلاف يعنی لايصلی الوتر ركعة...الخ .(فتاوی سراجية ص: ۱۵،وايضا هندية ج: ۱ص:۸٤_

۲] الصلوة خلف الرافضی الغالی وهوالذی ينكر خلافة ابی بكررضی الله عنه.....لاتجوز...الخ.(فتاوی سراجية ص:۱۵،وايضاًعالمگيری ج: ۱ص:۸٤)_

جواب: له توبې نه وروسته امامت کولی شي،ځکه چې د توبې په صورت کې مخکني ګناهونه داسې معاف کيږي لکه چې بالکل يې کړي نه وي.[۱]

مړي ته د غسل ورکونکي پسې اقتداء

سوال: مړي ته غسل ورکونکي پسې لمونځ کول څنګه دي، چې د شريعت احکامات هم شاته غورځوي؟

جواب: مړي ته غسل ورکول خو عبادت دي[۲]که بله څه وجه نه وي، نو په هغه پسې لمونځ کول له شک پرته جائز دي.

د ړوند عالم په اقتداء کې امامت صحيح دی

سوال: په سترګو معذور ړوند امام پسې لمونځ نه کيږي؟ حال دا چې زموږ امام صاحب ډير لوی عالم دی،خو په سترګو معذور دی،نو ايا زه په هغه پسې لمونځ کولی شم او که نه او د جمعې لمونځ پسې کولی شم؟

جواب: په ړوند امام پسې لمونځ په هغه وخت کې مکروه دی، کله چې هغه په پاکي او پليتي کې احتياط نه شي کولی. که نه له کراهت پرته صحيح دی. د جمعې او د پنځه وخته لمانځه يو حکم دی.[۳]

که ړوند د بل کس نه زيات علم لري نو امامت يې صحيح دی

سوال: ايا ړوند کس امامت کولی شي؟

جواب: که پاك صفاوي او د نورونه زيات علم لري، نو د ده امامت صحيح دی،که نه مکروه دی.[۴]

که مقتديان ناراضه وي نو د ړانده سړي امامت مکروه دی

سوال: ړانده سړي پسې لمونځ کول څنګه دي حالانکې ده ته په خپلې پاکي حاصلولو کې

۱] عن عبدالله بن مسعود رضی الله عنه قال :قال رسول الله صلی الله عليه وسلم :التائب من الذنب كمن لاذنب له .رواه ابن ماجة.(مشكوة ص: ۲۰۶،باب الاستغفاروالتوبة_

۲]عن الحسن عن عنی ابی عن النبی صلی الله عليه وسلم .....قالوا:يابنی آدم !هذه سنتكم فی موتاكم فكذاكم فافعلوا.(المستدرک حاكم ج: ۱ص:۳۴۵،كتاب الجنائز،طبع دارالفكر).ايضا:وهوواجب علی الاحياءبالاجماع .(العناية علی فتح القديرج:۱ص :۴۴۷،باب الجنائز،طبع دارصادر،بيروت)_

۳] (تبع ذلک صاحب البحر حيث قال)وقيدكراهة امامة الاعمی فی المحيط وغيره بان لايكون افضل القوم فان كان افضلهم فهواولی ...الخ .(شامی ج: ۱ص: ۵۶۰،البحرالرائق ج: ۱ص:۳۶۹)_

۴]وقيدكراهة امامة الاعمی فی المحيط وغيره بان لايكون افضل القوم،فان كان افضلهم فهواولی .(البحرالرائق ج: ۱ص:۳۶۹،كتاب الصلاة،باب الامامة ،طبع دارالمعرفة،بيروت)_

تکلیف وي او د نورو خلکو محتاج وي او ددې کس په موجودګي کې نور کسان د لمونځ کولو له پاره موجود وي او مقتدیان ددې ړانده په امامت نه ناراضه وي. چې له دې وجې نه هغوی ده پسې لمونځ کول نه خوښوي.

جواب: ړوند سړی که صفا او پاك وي او د نورو خلکو نه زیات عالم وي، نو دده امامت د څه کراهت نه پرته صحیح دی. که نه مکروه دی[۱] هرکله چې ددې نابینا امام نه مقتدیان خفه دي، نو دی امام جوړول مکروه دي.[۲]

د داسې سړي امامت چې د لاس ګوتې يې نه وي

سوال: زموږ په علاقه کې يو کس دی، د ۱۹۷۱ء د جنګ پرمهال يې د ګس(چپ) لاس دوه ګوتې شهیدې شوې دي، هغه سره ظاهري او باطني دواړه علوم موجود دي، سوال دادی چې ده پسې لمونځ کيږي او که نه؟

جواب: که دې صاحب کې د امامت نور شرائط موجود وي، يعنې د ضرورت په اندازه د مسئلو نه خبر وي، د صورت او سيرت په لحاظ سره د سنت نبوي پابند وي، د فسق و فجور نه پرهيز کوي، متقي او پرهيزګار وي، ږيره يې د شريعت مطابق وي، نو ددوو ګوتو شهيد کېدل د امامت نه مانع نه دي.[۳]

معذور سړی امام جوړول، غير مستند امام جوړول

سوال: انګلينډ(برطانيه) کې يو رجحان زيات شوی دي چې مستند امام نه وي، بس د شرط پوره کولو له پاره هرڅوك چې وي، نو امام جوړيږي. يا د جوماتونو انتظاميه د خپل سهولت او د بچت له پاره نااهله امام مقرروي. حالانکې په حديث شريف کې دي چې امام د الله پاك په نزد د مسلمانانو سفير وي، لهذا هرلحاظ سره د اسلامي تعليم يافته مستند امام کېدل ضروري دي، ددې سوال جواب په خپل کالم کې ورکړئ ددې له پاره چې د ټولو خلکو فايده وشي.

ايا معذور سړی يعنې يو غوږ يا يو سترګه يا يو لاس يا يو پښه يا د بدن هيڅ يو اندام نه وي، يا اسلامي تعليماتو کې يې اعلى تعليم نه وي، بس اردو ليکلو او لوستلو والا وي، يا قرآن

---

[۱]]وقيدكراهة امامة الأعمى في المحيط وغيره بان لايكون افضل القوم ،فان كان افضلهم فهواولى.(البحرالرائق ج: ۱ ص: ۳۶۹ ،كتاب الصلوة ،باب الامامة طبع دار المعرفة ،بيروت)_

[۲]]ولو ام قوما وهم له كارهون ان الكراهة لفساد فيه اولا انهم احق بالامامة منه كره له ذالک تحريما لحديث ابى داود لايقبل الله صلوة من تقدم قوما وهم له كارهون ،وان هو احق لا ،والكراهة عليهم ،(الدر المختارمع الرد ج: ۱ ص: ۵۵۹)_

[۳]]واولى الناس بالامامة اعلمهم بالسنة اى بما يصلح الصلوة ويفسدها والمراد بالسنة هناالشريعة فان تساووافاقروهم لكتاب الله تعالى ....الخ .(الجوهرةالنيرة ج: ۱ ص: ۵۸)_

پاك غلط لولي، نو داسې سړى د مسلمانانو امام ټاكل كېداى شي او كه نه؟ كه نه شي ټاكل كېداى، نو د ټاكونكو لپاره شرعا څه سزا ده؟

جواب: د سترګې، غوږ، لاس او د پښې نه معذور سړي كې كه د امامت شرطونه موجود وي. نو دى امام جوړول صحيح دي. خو غوره دا ده چې امام هر لحاظ سره كامل وي[۱]. د غه شان كه يو سړى عالم او قاري نه وي، نو د عالم او د قاري په موجوديت كې دې دى امام نه جوړيږي[۲]. خو كه څوك عالم او قاري پيدا نه شي. نو داسې سړى امام جوړيداى شي. كوم چې ماهر قاري نه وي، خو د حروف او تلفظ ادايګي يې صحيح وي. د جومات كميټي ته د امامت د شرطونو لحاظ ساتلو سره د امام انتخاب كول پكار دي او لمونځ كونكي حضراتو ته پكار ده چې خپل لمونځ كوي، هسې جګړې او اختلافات نه كوي. د هغوى لمونځ په هرحال كيږي. ځكه چې نبي كريم ﷺ فرمايي: هرنيك او فاجر سړي پسې لمونځ كوئ په دې شرط چې امام د خرابې او غلطې عقيدې والا نه وي[۳]. خو كه د ښه عالم او قاري انتظام كېداى شي. نو كميټي والاوو ته هم د خپلې خوښې مطابق جاهل او غير قاري امام جوړولو باندې اصرار پكار نه دى.

د ګوډ، شل امامت

سوال: ايا ګډ، شل سړي ته امامت كول پكار دي، چې غير معذور كسان هم موجود وي؟

جواب: كه د اركانو په ادا كولو كې څه خلل نه واقع كيږي. نو هيڅ حرج نشته [۴]

په معذور امام پسې اقتداء كول

سوال: كه يو امام صاحب د عمر د تقاضې له وجې نه د مجبوري په وجه د دوو سجدو مينځ كې په جلسه كې نه شي كيناستلى، چې له وجې د واجبو ترك لازميږي او هم د غه شان په قعده كې هم ددې عذر په وجه خپلې دواړه پښې غوړولو سره كيني. نو په هغه پسې د اقتداء شرعا څه حيثيت دى؟ ايا د بل عالم او قاري په موجوديت كې به د هغوى اقتداء صحيح وي؟ او چې ذكر شوي د ۲۵: ۲۲ كالو نه په يو جومات كې امام وي د مقتديانو لوى تعداد د امام صاحب د زوړ والي نه په هغه پسې لمونځ كولو باندې هيڅ اعتراض نه كوي، يوازې د څو عالمانو نه پرته، ايا په دې صورت كې ذمه داري د مسجد په انتظاميه باندې راځي؟

---

[۱] ثم الاحسن خلقا بالضم الفة بالناس ثم الاحسن وجها ...الخ. وفى الشرح: قال فى البدائع لاحاجة الى التكلف بل يبقى على ظاهره لانه صباحة الوجه سبب لكثرة الجماعة كما فى البحر .(شامى ج: ۱ ص: ۵۵۷)_

[۲] الاولى بالامامة اعلمهم باحكام الصلوة .(عالمگيرى ج: ۱ ص: ۸۳)_

[۳] قال صلى الله عليه وسلم : صلوا خلف كل برو فاجر . رواه مكحول عن ابى هريرة رضى الله عنه واخرجه الدار قطنى. (شرح عقيدة الطحاوية ص: ۴۲۱)_

[۴] وكذالک اعرج يقدم ببعض قدمه فالاقتداء بغيره اولى، تاتارخانية.(ردالمحتار ج:۱ ص:۵۶۲ مطلب فى امامة الامرد)

جواب: هر کله چې هغه د دوو سجدو مینځ کې کیناستلی نه شي د هغه په ځای د یو بل امام مقررول ضروري دي، که نه د ټولو لمونځونه خرابیږي[۱]،امام صاحب که زوړ دی، نو د محلې والاته پکار دي چې د هغه خدمت او امداد کوي.

د مسافر امام اقتداء

سوال: د قصر لمونځ به څنګه کیږي ؟ څو ورځې مخکې یو صاحب موږ ته یوې شپې له پاره راغی، د ماسخوتن په لمانځه کې موږ هغه خپل امام جوړ کړ، نوهغه د لمونځ راکولو نه مخکې موږ خبر کړو چې زه مسافر یم له دې وجې به دوه رکعته فرض کوم او تاسوت ته به یې هم درکوم. پاتې دوه رکعتونه تاسو پرته د سلام ګرځولو نه نور خپله وکړئ له دې نه وروسته امام صاحب پاتې سنت. وتر او نفل پوره کړل .پوښتنه داده چې ایا دا طریقه صحیح ده؟

جواب: امام که مسافر وي. نو هغه به د قصر لمونځ کوي او په هغه پسې خلک که مقیم وي، نو هغه به خپل رکعتونه پوره کړي هغه صاحب صحیح مسئله بیان کړې ده او که امام مقیم وي او مقتدي مسافر وي، نو د امام سره به ټول لمونځ کوي، خو څلور رکعته قضاءوالا لمانځهٔ کې د مسافر اقتداء په مقیم پسې صحیح نه ده.[۲]

د ناواده کړي امام اقتداء

سوال: په ناواده کړي امام پسې اقتداء کول صحیح دي اوکه نه؟ که صحیح وي، نو په کوم صورت کې؟ او که نه وي، نو په کوم صورت کې؟ ځینې خلک وایي چې په نا واده کړي پسې لمونځ بالکل نه کیږي او داسې انسان امام ټاکل صحیح نه دي.

جواب: نا واده کړی که نیک سړی وي، نو په هغه پسې لمونځ صحیح دی او د هغه امام جوړول هم صحیح دي.[۳]

ایا د حجام امامت صحیح دی؟

سوال: یو سړی دَ نایي توب کار و بار کوي هغه سړی د لمانځه نیت کوي، جومات ته ځي ، اتفاقا پیش امام نه راځي او د مقتدیانو په وینا باندې هغه لمونځ ورکوي، ایا په هغه پسې

۱]وبناء..الكامل على الناقص لا يجوزلان ضعيف لايصلح اساسا للقوى(الاختيارلتعليل المختار ج:۱ ص: ٦٠)

۲] وان اقتدى المسافر بالمقيم فى الوقت اتم اربعا لانه يتغير فرضه الى اربع للتبعية ......وان دخل معه فى فائتة لم تجزه لانه لايتغير بعد الوقت لانقضاء السبب....وان صلى المسافر بالمقيمين ركعتين سلم واتم المقيمون صلاتهم ...الخ ، (ج:۱ ص١٦٦ ، ١٦٧ ،باب صلوة المسافر)_

۳] فان تساوروافاورعهم لقوله عليه السلام : من صلى خلف عالم تقى فكانما صلى خلف نبى تولو فاورعهم الوع اجتناب الشبهات والتقوى اجتناب المحرمات ....وروى الحاكم عنه صلى الله عليه وسلم ان سركم ان تقبل صلاتكم فليومكم خياركم .(فتح القدير ج: ۱ ص: ٢٤٦ ،باب الامامة)_

لمونځ جائز دی؟

جواب: که هغه د شرع پابندوي د قرآن کريم لوستل ورته ورځي او د لمانځه د مسائلو نه خبر وي. نو دهغه امامت صحيح دی. يوحلاله پيشه سپکه ګڼل جاهلي تکبر دی. اسلام ددې تعليم نه ورکوي، خو که هغه د خلکو ږيرې خريي يا د شريعت خلاف ويښته جوړوي. نو هغه فاسق دی په هغه پسې لمونځ کول مکروه تحريمي دي.[۱]

په سجده کې د پښو ګوتې نه تاوونکي پسې اقتداء

سوال: زموږ د جومات د امام صاحب يو ګوته په لمانځه کې نه تاويږي. چې له وجې يې د شريعت مطابق سجده نه کيږي او د سجدې د نه کيدو په وجه لمونځ ونه شو. ما په دې باره کې امام صاحب متوجه کړ. خوهغه په دې هيڅ عمل ونه کړ. د جومات چير مين ته مې وليکل، خو هغه هم ددې هيڅ حل ونه ليکه، اوس تاسو بيان کړئ چې په دې امام پسې لمونځ وکړو اوکه نه؟ کوم ځای چې زه کار کوم د هلته نه دومره وخت چوتيې نه ملاويږي چې د محلې نه بهر جومات ته تللو سره لمونځ ادا کړم؟

جواب: که په سجده کې يې ګوتې نه تاويږي، خو په ځمکه باندې پرتې وي، نو سجده صحيح ده او د امام صاحب امامت هم صحيح دی.[۲]

په سر او ږيره باندې د رنګ لګونکي امامت

سوال: موږ چې په کوم دفتر کې لمونځ کوو هلته موږ يو ځای د لمانځه د ادا کولو له پاره خاص کړی دی، کوم ځای چې د دفتر په وختونو کې د ماسپښين او مازديګر لمونځ ادا کيږي، کوم حافظ صاحب چې ددې امامت کوي هغه دلته په دې اداره کې ملازم دی. خو واضحه دې وي چې د امامت په سلسله کې هيڅ اجرت نه اخلي . مسئله په اصل کې داده چې اوس له ځو ورځو نه هغه خپلې ږيرې او سرته رنګ ورکول شروع کړي دي چې دهغه په ظاهر کې هيڅ وجه نه ښکاري، ستاسو نه پوښتنه دا ده چې ايا د فقه حنفي د لاندې په هغه پسې لمونځ کول جائز دي؟ او کوم خلک چې په هغه پسې لمونځ ادا کوي ايا د هغوی لمونځ صحيح دی؟

جواب: کوم امام چې تور رنګ لګوي په هغه پسې لمونځ مکروه تحريمي دی.[۳]

۱] ويكره امامة عبد واعرابي وفاسق ... الخ .(درمختار) وفى الشامية (قوله وفاسق) من الفسق وهو الخروج عن الاستقامة...الخ (شامى ج: ۱ ص: ۵۶۰)۔

۲] (قوله وقدميه)يجب اسقاطه، لان وضع اصبع واحدة منها يكفى ...الخ. (شامى ج: ۱ ص: ۴۴۷)۔

۳] واما الخضاب بالسوادومن فعل ذلك ليزين نفس للنساء،وليحبب نفسه اليهن فذلك مكروه وعليه عامة المشائخ.(عالمگيرى ج:۵ص:۳۵۹،كتاب الكراهية،والباب العشرون)۔

د هغه شاګرد امامت چې استاد ورته ښېرې کړې وي

سوال: یو امام خپل شاګرد ته د خپلې ذاتي جګړې ،چې د خمکې جګړه وه، په وجه ښېرې ،بددعا، وکړې او څو ورځې وروسته پیش امام وفات شو او شاګرد هم په دې جومات کې امام وټاکل شو. اوس په مقتدیانو کې اختلاف دی. ځینې وایې چې موجوده امام ته استاد ښېرې کړې دي. له دې وجې په ده پسې لمونځ نه کیږي او دویمه ډله وایي چې لمونځ کیږي او سره له دې چې په کلي کې بل څوک د لمونځ ورکولو قابل نه دي.

جواب: د استاد ښېرې که بې وجې وې. نو الله پاک دې هغه معاف کړي او که په جائز وجه وې. نو شاګرد ته د استاد له پاره د اوچتو درجو له پاره دعا کول پکار دي او د الله پاک نه دې هم معافي غواړي لمونځ په هغه پسې صحیح دی.

د حدیث په مقابله کې ږیره لنډونکی امام سخت ترین مجرم دی

سوال: موږ سره دلته په جومات کې یو امام دی. د هغه ږیره تقریبا یو انچ وه. هغه ته چا وویل چې په حدیث کې دي چې ږیرې اوږدې کړئ.نو هغه وویل زه خو به یې نوره هم لنډوم. څو ورځې وروسته هغه نوره هم لنډه کړه او نیم انچ پاتې شوه.کله چې هغه ته وویل شو چې دا مو څه کړي دي؟ نو هغه جواب ورکړ چې ویښته مې برابر کړي دي او د هغه وینا ده چې چېرته هم د یو موټې ږیرې پرېښودلو حکم نشته.دا خبره د هغه کوم حده پورې صحیح ده؟ او په داسې امام پسې د لمونځ کولو څه حکم دی؟

جواب: امام ابو یوسف یو ځل حدیث بیان کړ چې د رسول اللهﷺ کدو خوښ و.په مجلس کې یو سړي وویل: زما خو نه دی خوښ! امام ابو یوسف وویل دی قتل کړئ!دا د رسول اللهﷺ د حدیث نه مخ اړوي،هغه توبه وکړه[۱].دا واقعه ستاسو په پیش امام باندې رښتیني راځي که د امام ابویوسف په مجلس کې دا امام راغلی وای. نو هغه به دده د قتل فتوا ورکړې وه. له دې وجې نه چې دی ږیره لنډوي، بلکې له دې وجې چې دی د رسول اللهﷺ د حدیث نه مخ اړوي.

پاتې شوه د هغه دا وینا چې چېرته هم په حدیث کې د یو موټې ږیرې حکم نه دی راغلی.د هغه نه دا پوښتنه وکړئ چې د ږیرې د کټ کولو حکم په کوم حدیث کې راغلی دی؟ رسول اللهﷺ خو د اوږدولو حکم کړی دی.[۲]خو د ځینو صحابه کرامو نه د یو مُوټې نه د زیاتو

---

[۱] وفی الخلاصة عن ابی یوسف انه قیل بحضرة الخلیفة المامون ان النبی صلی الله علیه وسلم کان یحب القرع ،فقال رجل:النطع والسیف فقال الرجل :استغفرالله مماذکرته.(شرح فقه اکبرص:۲۰٤)_

[۲] عن نافع عن ابن عمرعن النبی صلی الله علیه وسلم قال:خالفوا المشرکین وفروا اللحی واحفوا الشوارب. (صحیح البخاری ج:۲ص:۸۷۵،باب تقلیم الاظفار)_

وېښتو کټ کول ثابت دي[1] له دې وجې د امت ټول فقهاء کرامو د يو موټې نه زيات پرې کولو نه جائز ويلي دي او له دې نه کم ساتلو ته يې حرام ويلي دي.په هر حال خپل امام صاحب ته ووايئ چې د دې خپلې ګستاخانه کلمې نه توبه وباسي او د خپل ايمان خير دې وغواړي او که په دې سره هم خبره د هغه په عقل کې رانشي. نو هغه دې له امامت نه ليرې کړل شي.په هغه پسې لمونځ کول جائز نه دي تر څو چې يې توبه نه وي کړې[2]

د ښنګرو پټوونکي امامت صحيح نه دی

سوال: د داسې امام متعلق ستاسو څه رايه ده چې د پرتوګ د ښنګرو نه دلاندې ساتلو عادت لري؟

جواب: پرتوګ(پاجامه) د نيمې پنډۍ پورې ساتل د رسول الله ﷺ سنت دي. د ښنګرو پورې د ساتلو اجازه شته او د ښنګرو نه لاندې ساتل حرام دي[3]او په لمانځه کې دا کار کول نور هم بد دي .کوم امام چې د پرتوګ او پاجامې د ښنګرو نه د لاندې ساتلو عادت وي. که هغه منع نه شي. نو هغه د امامت نه ليرې کول ضروري دي[4]

د فاسق په اقتداء کې لمونځ ادا کول مکروه تحريمي دي

سوال: ايا د فاسق په اقتداء کې د لمانځه ادا کول صحيح دي؟

جواب: د فاسق په اقتداء کې ادا کيدونکي لمونځ مکروه تحريمي دی[5]د قاعدې په لحاظ خو دا راګرځول پکار دي. خوځينې علماء کرام فرمايي چې د راګرځولو ضرورت يې نشته.[6]

د تعويذونو له وجې په خپل وخت د امامت نه کوونکي شرعي حکم

سوال: زموږ د محلې د دويم جومات امام د جمعې د وخت پابندي نه کوي.هروخت د تعويذ ليکلو او د دم اچولو په فکر کې وي.د محرَمو او غيرمحَرمو ښځو په ډله کې ناست وي.د

١]وكان ابن عمراذاحج اواعمرقبض على لحيته فمافضل اخذه.(صحيح البخارى ج:٢ص:٨٧٥.باب تقليم الاظفار)

٢] ويكره امامة عبد......فاسق.وفي الشامية:واماالفاسق فقدعللوا كراهة تقديمه بانه لايهتم لامردينه .وبان فى تقديمه لامامة تعظيمه،وقدوجب عليهم اهانته شرعا.(شامي ج:١ص: ٥٢٠)_

٣]عن ابى سعيد الخدرى رضى الله عنه قال:سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: ازرة المومن الى انصف ساقيه، لاجناح عليه فيما بينه وبين الكعبين ، وما اسفل من ذالک ففى النار قال: ذالک ثلاث مرات . ولاينظرالله يوم القيامة الى من جر ازاره بطرا.رواه ابوداودوابن ماجة.(مشكوة ص:٣٧٤)_

٤] ويكره تقديم....الفاسق.(الفتح القديرج:١: ٢٤٧)_

٥]ويكره امامة فاسق.(الدر المختار ج: ١ ص: ٥٦٠ طبع ايم ايچ سعيد)_

٦] وفى المحيط لو صلى خلف فاسق اومبتدع احرز ثواب الجماعة.(فتح القدير ج: ١ ص: ٢٤٧ بابالامامة، طبع دارصادر بيروت).وفى الحاشية : والفاسق لانه لايهتم بامر دينه وقال مالک لاتجوز الصلوة خلفه لانه لما ظهر منه الخيانة فى الاموالدينيةلا يوتمن فى اهم الامور وقلنا عبدالله بن عمر وانس ابن مالک وغير هما من الصحابة والتابعين صلوا خلف الحجاج وكان افسق اهل زمانه.(فتح القديرج: ١ص: ٢٤٧)_

ماسپښین لمانځه روزانه ناوخته راتلو نه وروسته اول جمعه کوي. بیا وروسته سنت کوي، له دې وجې نه یوڅو کسان اوس بل جومات کې لمونځ کوي او دا جومات یې پرېښې دی. امام څو ځله پوه کړل شو چې د لمانځه د وخت پابندي کوه.خو هغه په خپل تعویذ لیکلو کې لګیدلی وي. په دې باره کې تفصیل سره جواب راکړئ چې ایا دی د امامت قابل دی اوکه نه؟

جواب: دا سړی ددې لائق نه دی چې امام وساتل شي. بدلول یې پکار دي [۱]

د تعویذ کوونکي په اقتدا کې لمونځ کول

سوال: دلته زموږ دځینو خلکو خپل مینځ کې اختلاف دی.اختلاف دادی چې یو مولوي صاحب تعویذونه کوي.هرقسم تعویذ کوي او په هغه باندې پیسې هم اخلي. نو دې مولوي صاحب پسې لمونځ کیږي اوکه نه؟ددې خبرې مکمل جواب راکړئ.د کتاب نوم.صفحه نمبر.جلد نمبر.

جواب: جائز مقصد له پاره تعویذ کول چې د قرآن اوحدیث په الفاظو باندې مشتمل وي. جائز دي او په دې باندې اجرت اخستل هم جائز دي[۲] اودداسې سړي په اقتداکې لمونځ هم صحیح دی.

وعده خلاف سړي پسې لمونځ کول

سوال: که یو سړي څه وعده کړې وي او هغه پوره نه کړي او وجه هم نه ښيي، نو ایا دا معامله د وعد خلافي په زمره کې نه راځي؟په پوښتنه کولو باندې دا عذر پیش کوي چې زموږ هیره ډیره ده، حالانکې هرکار پابندي سره د وخت مطابق کوي او هیڅ پریشاني ورته نشته.داسې سړی که امامت کوي، نو ده پسې لمونځ کول جائز دي اوکه نه؟

جواب: یو سړي سره وعده کول او بیا هغه وعده نه پوره کول دا د منافقت علامه ده[۳]، خو که عذر وي، نو د عذر اظهار کول پکار دي او کوم سړی چې له عذر نه پرته وعده خلافي کوي، نو هغه پسې لمونځ کول مکروه دي.[۴]

د دروغژن او کله کله شرک کوونکي سړي امامت

سوال: زما کور ته مخامخ چې کوم جومات دی د هغه امام صاحب دروغ هم وایي او کله کله

---

[۱]]ویکره تقدیم.... الفاسق .....الخ . (فتح القدیر ج: ۱ ص:۲٤۷)_

[۲]]استاجره لیکتب له تعویذالاجل السحرجاز،ای لاجل ابطاله والافالسحر نفسه معصیة بل کفر لایصح الاستجارعلیه .(الدرالمختار مع الرد المحتار ج: ۶ ص: ۹۳ ،مطلب فی اجرة صک القاضی والمفتی)_

[۳]]عن ابی هریرة رضی الله عنه قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :آیة المنافق ثلاث، زاد مسلم: وان صام وصلی زعم انه مسلم ،ثم اتفقا:اذا حدث کذب واذا وعد اخلف واذااوتمن خان.(مشکوة ص: ۱۷)_

[۴]]ویکره تقدیم .....الفاسق ..الخ . (فتح القدیر ج: ۱ ص: ۲٤۷)_

شرك هم كوي.ددروغو خو ماته پته ده. خود د شرك زه ته شك دى او هغه جادو او تعويذ وغيره هم كوي.ايا داسې سړي پسې لمونځ كول صحيح دي؟

جواب: دې امام پسې لمونځ كول مكروه تحريمي دي.دا امام بدل كړئ.[۱]

د زلمي سهره تړلو، د مزار نه د نذر شيا تو خوړونکي سړي امامت

سوال: زموږ د جومات امام د واده په ورځ ډول او باجې والا سره لاړ شي د واده د زلمي سهره تړي.جومات سره واقع د فقير مزار دى. هغه باندې د غيرالله د نذرچې كوم شيان پراته وي هغه هم خوري،كه څوك ورته د جومات له پاره روپۍ وركړي چې دا منتظم ته وركړه. نو هغه په خپله خوري او ددې واقعاتو د ګواهانو د موجوديت باوجود انكار كوي چې ماته پيسې نه دي راكړل شوي.دغه شان كه څوك ورته د قرباني څرمن ورنكړي. نو د هغه ماشومانو ته د قرآن پاك ښودلو نه انكار كوي. حالانكې امام صاحب په خپله صاحب نصاب دى.دده ددې انداز له وجې نه كافي خلك خفه دي.بايد څه وكړل شي؟

جواب: دا سړى امام مه ساتئ،بل څوك امام مقرر كړئ.**والله اعلم**.[۲]

د سهار لمونځ قضا کوونکي پسې لمونځ کول

سوال: داسې سړى چې مسلسل دسهارلمونځ قضا كوي(قصداً).نو ده پسې لمونځ كيږي اوكه نه؟

جواب: مكروه تحريمي دي.[۳]

د سود د پيسو نه د امام تنخواه

د اسټيټ بينك له طرفه تعميرشوي جومات كې امامت كول اود بينك له طرفه تنخواه وصولول جائز دي؟ايا دا هم په بينك كې د ملازمت په شان كار دى كوم ته چې حرام ويل كيږي؟

جواب: دا جومات كه د سود په پيسو باندې جوړ شوى وي، نو په دې كې لمونځ مكروه دى[۴] او كه امام ته تنخواه د سود له پيسو نه وركول كيږي، نو دا تنخوا هم حرامه ده.[۵]

---

[۱]]ويكره تقديم .....الفاسق ..الخ . (فتح القدير ج: ۱ ص: ۲۴۷)_

[۲]]ويكره امامة عبد ....وفاسق .(الدر المختار ج: ۱ ص: ۵۵۹، ۵۶۰

[۳]]ويكره تقديم ....الفاسق .(فتح القدير ج: ۱ ص: ۲۴۷)_

[۴]]قال تاج الشريعة:امالو انفق مالا خبيثا ومالا سببه الخبيث والطيب يكره،لان الله لايقبل الا الطيب. (شامي ج:۱ ص: ۶۵۸)_

[۵]]وفى حظر الاشباه:الحرمة تتعدد مع العلم بها الا فى حق الوارث .(وفى الشامية) .....ومانقل عن بعض الحنفية من ان الحرام لايتعدى ذمتين .....هو محمول على ما اذالم يعلم بذالک،امالورای المكاس مثلاياخذمن احدشيئامن المكس ثم يعطيه آخرثم ياخذمن ذالک الآخرفهوحرام.(ردالمحتار مع الرد ج:۵ص:۹۸،مطلب الحرمة تتعد).

دداسې حافظ د امامت شرعي حکم چې د لمانځه د مسائلو نه ناواقف وي

سوال: يوازې حافظ دقرآن دی او هغه د لمانځه د مسائلو نه بالکل بې خبره دی.نه ورته د واجباتو علم شته.نه ورته د فرائضو علم شته. نودی امام جوړول جائز دي اوکه نه ؟حالانکې ددې حافظ نه نيم مقتديان له دې وجې نه متنفر دي چې دی د لمانځه په مسائلو باندې نه پوهيږي او ناخبره دی، د جوماتو کميټيې والاوايي چې کار جاري وي.موږ ته د عالم ضرورت نشته. مهرباني وکړئ د قرآن او سنت او د فقه حنفي مطابق دليل سره موږ ته جواب راکړئ

جواب: کوم سړی چې د لمانځه د ضروري مسئلو نه ناواقف او بې خبره وي. نو د هغه امامت مکروه تحريمي دی او ددې وبال د جوماتو په انتظاميه باندې دی.[۱]

غله ، دروغژن او غلطه فتوا ورکوونکي امام پسې لمونځ کول

سوال: هرکله چې باخبره ذريعو سره معلومه شي چې د جومات امام په څو ناجائز کارونو کې شامل ده مثلاً د جومات مال پټول.دروغ ويل او د دروغو قسمونه خوړل او غلط قسم فتوا جاري کول او د خپل پلار او استاذ نافرماني کول اوداسې نور.... نوده پسې لمونځ کول جائز دي اوکه نه ؟

جواب: که شرعي شهادت سره دا کارونه ثابت شي. نو دداسې امام په اقتدا کې لمونځ کول مکروه تحريمي دي.[۲]

د کوم سړي کوروالا چې بې پردې وي هغه پسې لمونځ

سوال: منظور زيړه خريلي، خو د هغه په کور کې شرعي پرده ده. حکيم متقي دی. خو د هغه په کور کې پرده نشته په دې دواړو کې د امامت لائق څوک دی؟

جواب: په زيړه خريلي پسې لمونځ جائز نه دی او کوم سړی چې خپل کور والاد بې پردګۍ نه نه منع کوي او د هغه په رضا بې پردګي کيږي د هغه امامت هم جائز نه دی.[۳]

---

[۱] ويکره تقديم العبد لانه لايتفرغ للتعلم والاعرابی لان الغالب فيهم الجهل .(فتح القدير ج: ۱ ص: ۲٤۷)

[۲] ويکره تقديم ...... الفاسق ..الخ (فتح القدير ج: ۱ ص: ۲٤۷)ايضا: ويکره امامة عبد واعرابی وفاسق واعمی. (الدر المختار).(قوله وفاسق)من الفسق وهوالخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من يرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی واکل الربا ونحو ذالک.(رد المحتار ج: ۱ ص: ۵۵۹،۵٦۰)_

۳] ويکره تقديم ...... الفاسق .الخ (فتح القدير ج: ۱ ص: ۲٤۷)ايضا: ويکره امامة عبد واعرابی وفاسق واعمی. (الدر المختار).(قوله وفاسق)من الفسق وهوالخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من يرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی واکل الربا ونحو ذالک.(رد المحتار ج: ۱ ص: ۵٦۰،۵۵۹)_

د بینک د ملازم امامت مکروه تحریمي دی

سوال: که پیش امام په بینک کې ملازم وي. نو ایا په هغه پسې لمونځ کیږي اوکه نه؟ په خاصه توګه چې د هغه نوکري سودي لین دین وي او تنخواه یې حرامه ده که حلاله؟

جواب: د بینک ملازمت جائز نه دی[۱] او د داسې امام امامت مکروه تحریمي دی[۲] د بینک تنخواه چونکه په سود سره ملاویږي له دې وجې هغه هم حلاله نه ده

د ناحقه زکات اخستونکي امامت

سوال: یو صاحب مالدار دی صاحب نصاب دی هغه د زکات ورکولو په ځای زکات اخلي او امامت کوي. یو صاحب ډېر زیات دروغ وایي او د امامت فرائض هم کوي. یو صاحب درزي دی یا کشن میکر دی او د ضرورت نه زیاته جامه اخلي یعنې چې څومره اخلي هغه هومره لګوي نه. بچت کوي. په ځینو صورتو کې د نوي په ځای زوړ مال دننه لګوي او نوي بچت کړي او امامت هم کوي ایا په داسې امامانو پسې لمونځ جائز دی؟

جواب: د مال دار په چا چې زکات واجب وي زکات اخستل دروغ ویل او د درزي جامه پټول او خیانت کول ټوله ګناه ده او ددې کارونو کونکی فاسق دی او د فاسق امامت مکروه تحریمي دی. ځکه چې د امامت عهده د عزت او احترام عهده ده فاسق یې اهل نه دی. له دې وجې د داسې سړي په امامت کې لمونځ جائز نه دی. بلکې مکروه تحریمي دی.[۳]

د فاسق امام او د هغه د حمایت کونکي متولي حکم

سوال: کوم امام چې پنځه وخته لمونځ ورکوي. خطیب وي او داخترونو لمونځ هم ورکوي او ږیره یې پاؤباندې یو انچ ته نژدې وي او سره د مقتدیانو د زورنې پوره ږیره نه پریږدي او دا وایي چې د واده نه وروسته به پوره ږیره پریږدم، ایا د داسې امام امامت صحیح دی؟ ایا د جمعې لمونځ یې کیږي؟ او د جومات متولي ضد کوي چې زه به هم دا امام ساتم دا تنخواه کمه اخلي

جواب: دا امام د حرامو او د کبیره ګناه کونکی دی. ددې لائق نه دی چې دی امام وساتل شي او په هغه پسې لمونځ مکروه تحریمي دي او که توبه ونکړي. نو د محلې والا باندې فرض

---

۱ [عن جابر قال: لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم آكل الربا وموكله وكاتبه وشاهديه وقال هم سواء. رواه مسلم.(مشكوة ص: ۲۴۴ الفصل الاول،باب الربا)_

۲ [ويكره الصلاة خلف شارب الخمرواكل الربالانه فاسق.(الجوهرة النيرة ج: ۱ص: ۵۸،ايضاً:فتاوى شامى ج: ۱ص: ۵۶۰)_

۳ [ويكره امامة .....فاسق من الفسق وهوالخروج عن الاستقامة ولعل المرادمن يرتكب الكبائر كشارب الخمروالزانى وآكل الرباونحوذالك......واماالفاسق فقدعللواكراهة تقديمه بانه لايهتم لامردينه،وبان فى تقديمه للامامة تعظيمه وقدوجب عليهم اهانته شرعاً...الخ.(ردالمحتارمع الدر المختار ج: ۱ص: ۵۵۹، ۵۶۰)_

دي چې د هغه په ځاى بل څوک امام وساتي او که متولي د داسې امام په ساتلو باندې ضد کوي، نو هغه هم د ليرې کولو قابل دی. د خلکو لمونځونه بربادونکی د جومات متولي جوړول جائز نه دي.[۱]

د کبيره ګناه کونکي امامت

سوال: يو سړي کبيره ګناه وکړه او په خلکو کې بدنام شو ايا هغه سړی په حيثيت د امام لمونځ ورکولی شي؟ که هغه سړی په حيثيت د مقتدي ما سره ولاړ وي. نو ايا زما او د باقي لمونځ ګزارو لمونځ صحيح دی او که نه؟ سره له دې چې ټولو لمونځ کونکو ته د دې علم دی. ايا موږ د هغه سره دعا سلام کولی شو؟ ايا موږ په يوه خوښۍ (ښادۍ) کې يوځاى خوراک کولی شو؟ ايا د اختر نه وروسته اختر مبارکي ورسره کولی شو؟

جواب: کبيره ګناه کونکی که د توبې کولو سره د راروان وخت له پاره خپله اصلاح وکړي. نو د هغه امام ټاکل جائز دي، مسلمان که هر څومره ګناهګار وي د هغه په لمانځه کې شامليدو سره د چا لمونځ نه ماتيږي او د هغه سره خوراک څښاک کول جائز دي.يو مسلمان دومره سپک ګڼل پخپله کبيره ګناه ده.[۲]

د حرامي او بدعتي امامت

سوال: په بدعتي پسې لمونځ کول جائز دي او که ناجائز؟

جواب: د فاسق،حرامي او بدعتي امامت مکروه تحريمي دی، په دې شرط چې د بدعتي بدعت د کفر حد ته نه وي رسيدلی، که نه په هغه پسې لمونځ بالکل نه کيږي.[۳]

په جومات کې د تصوير ويستونکي امامت

سوال: په جومات په تقريب(محفل) کې د امام په حکم د هغه معاون تصويران باسي په منع کولو باندې د امام حواله ورکوي له دې نه امام صاحب قسم کولو سره انکار کوي، ايا دا فعل صحيح دی او د داسې امام څه حکم دی؟

۱] ايضاً۔

۲] عن خالدبن معدان عن معاذقال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:من عيراخاه بذنب لم يمت حتى يعمله يعني من ذنب قدتاب منه.رواه الترمذى.(مشكوة ص:٤١٤)۔

۳] تيره شوى حواله، ايضاً: قال المرغيناني:تجوزالصلاة خلف صاحب هوى وبدعة.....وحاصله ان كان هوى لايكفربه صاحبه تجوزالصلاة خلفه مع الكراهة والافلاهكذافى التبيين والخلاصة.(عالمگيرى ج:١ص:٨٤).
ايضاً: وانما يجوز الاقتداء به مع الكراهة اذالم يكن مايعتقده يودى الى الكفرعنداهل السنة امالوكان مودباالى الكفر فلايجوز اصلا كالغلاة من الروافض الذين يدعون الالوهية لعلى رضى الله عنه .(حلبى كبير ص:٥١٤،باب الاولى بالامامة،طبع سهيل اكيدمى)۔

جواب: تصویر جوړول او خصوصا جومات په دې ګندګي سره لړل حرام او سخته ګناه ده[1] که دا حضرات ددې نه ښکاره توبه باسي او د خپلې غلطي اقرار کولو سره د الله پاک نه معافي وغواړي خو صحیح ده، که نه دا صاحب دې د امامت او تدریس نه لیرې کړل شي په هغه پسې لمونځ ناجائز او مکروه تحریمي دی.[2]

دتصویر ویستونکي امام په اقتدا کې لمونځ مکروه دی

سوال: زموږ دمحلې د جومات امام صاحب چې الحمدلله حافظ، قاري، عالم دین دی او د شریعت پابند دی، خو په هغه کې ما دا خبره ثو څله ولیده او محسوس کړې مې ده چې هغه تصویرونه باسي په شریعت کې تصویر ویستل او په بل باندې خپل تصویر ویستل دواړه حرام دي، لهذا تاسو ووایئ چې داسې کار کوونکي پسې لمونځ کول جائز دي او که نه؟

جواب: که د څه قانوني مجبوري له پاره یې جوړ کړی وي، نو لمونځ جائز دی او که د شوق نه یې جوړ کړی وي، نو بیاپسې لمونځ کول مکروه دي.[3]

که یو جومات تاکلی امام نه لري نو داسې کس امام تاکل چې د امامت حق نه لري ددې پوښتنه به له چا نه کیږي؟

سوال: په کوم جومات کې چې امام مقرر نه وي یا موجود نه وي، نو د امامت حق چاته حاصل دی؟ نن سبا ږیره وړونکي امامان ډیر زیات دي؟

جواب: داسې ږیرې والا امام پسې لمونځ مکروه دی.[4]

سوال: چې د امامت حقدار نه وي، نو په ده باندې د امامت کولو ذمه دار څوک دی، امام، منتظمین یا مقتدیان؟

جواب: د دواړو نه به پوښتنه کیږي.

۱]وظاهر کلام النووی فی شرح مسلم الاجماع علی تحریم تصویر الحیوان وقال: وسواء صنعة لمایمتهن اولغیره فصنعته حرام بکل حال.(شامی ج:۱ص:٦٤٧)_

۲] ویکره امامة .....فاسق من الفسق وهوالخروج عن الاستقامة ولعل المرادمن یرتکب الکبائر کشارب الخمروالزانی وآکل الرباونحوذالک...... واماالفاسق فقدعللواکراهة تقدیمه بانه لایهتم لامردینه،وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقدوجب علیهم اهانته شرعاً...الخ.(ردالمختارمع الدرالمختار ج:۱ص:٥٥٩،٥٦٠)_

۳]ویکره تقدیم.....الفاسق...الخ.(فتح القدیرج:۱ص:۲٤٧،طبع دارصادر،بیروت)_

٤]واخذاطراف اللحیة والسنة فیهاالقبضة.....ولذایحرم علی الرجل قطع لحیته...الخ.قوله والسنة فیهاالقبضة وهوان یقبض الرجل لحیته فمازادمنهاعلی قبضة قطعه کذا ذکرمحمدفی کتاب الآثارعن الامام قال وبه اخذمحیط (شامی ج:٦ص:٤٠٧)_

د حرمین شریفین اماما نو پسې لمونځ ولې جائز دی حالانکې هلته هم ویډیو جوړیږي؟

سوال: د تیرو شوو څو ورځو نه ستاسو د یوې فتوا په حواله سره دا مسئله شائع کیږي چې د ویډیو جوړوونکي امام پسې لمونځ جائز نه دی.له دې وجې نه د حرمین شریفین د امامانو په اقتدا کې هم لمونځ کول جائز نه دي.ایا دا فتوا تاسو جاري کړې ده؟په دې سلسله کې وضاحت وکړئ.

جواب: ما د یو داسې سوال جواب ورکړی و چې د داسې امام په اقتدا کې لمونځ جائز دی؟ چې په خپله ویډیو جوړوي او تصویر وغیره باسي،که چیرته امام قصداً ویډیو جوړوي، نو دده په اقتدا کې لمونځ جائز نه دی،دې مسئلې ته ځنې خلکو بنیاد جوړ کړ او د حرمینو شریفینو د امامانو خلاف یې مهم شروع کړ چې د هغوی په اقتدا کې لمونځ جائز نه دی. حالانکې د مذکوره سوال په جواب کې چیرته هم د ائمه حرمین تذکره نشته. زموږ د اطلاع مطابق د حرمینو شریفینو امامان حنبلي المسلك دي او د هغوی په مسلك کې هم ویډیو او تصویر جوړول جائز نه دي[۱]په حرمینو کې چې کوم لمونځونه ټیلي کاسټ کیږي په هغه کې ددغه امامانو د رضا څه دخل نشته،له دې وجې نه د هغوی په اقتدا کې لمونځ جائزدی. ډیره د محرومي خبره به وي چې د بیت الله شریف او د مسجدنبوي شریف د امام په امامت کې لمونځ ونکړل شي، او دې امامانوته د متنازع جوړولو کوشش وکړل شي. د بیت الله شریف د لمانځه ثواب یو لاکهه او جومات نبوي.....**زاد الله شرفاً**.... کې د لمانځه ثواب د پنځوس زره لمونځونو برابر دی[۲]او د جمعې په صورت کې ددې ثواب د احادیث نبویه په رڼا کې څو چنده زیاتیږي.له دې وجې نه په جمعه کې خامخا شرکت کول پکار دي،د یو لمونځ نه محرومه کیدل هم ډیره لویه محرومي ده.

داسې امام پسې لمونځ جائز نه دی چې د قادیاني هلك نكاح كوي

سوال: زموږ د محلې د جومات امام صاحب د یو قادیاني سړی نکاح یو مسلماني (سني) انجیلۍ سره کړې ده ، کوم وخت چې مولانا صاحب دا نکاح تړله، نو هغه وخت هغه له دې خبرې نه خبر و چې هلك قادیاني دی،خود واده دوران کې(یعنې د تقریب دوران کې)مولانا صاحب خبر کړل شو چې هلك قادیاني دی،خو مولانا څه نوټس وانه خسته،وروسته راتلو باندې چې کله مولانا سره خبره کړل شو، نو هغه وویل چې زه به د نکاح رجسټري منع کړم، خو

---

[۱] ویکره تقدیم.....الفاسق...الخ.(فتح القدیرج:۱ص:۲۴۷،طبع دارصادر،بیروت)_

[۲] فی شرح المشکوة:فانه قال صلاة فی مسجدی بخمسین الف صلاة وصلاة فی المسجدالحرام بمائة الف صلاة.رواه ابن ماجة.(مرقاة المفاتیح ج:۱ص:۴۴۵،الفصل الاول،باب المساجدومواضع الصلوة)_

مولانا داسې ونه کړل او د نکاح رجسټري يې وکړه.ايا داسې سړي پسې لمونځ کول جائز دي؟

جواب: د قادياني نکاح يو مسلمان سره نه کيږي

کومو خلکو ته چې معلومه وه چې هلك قادياني دی او هغوی د قاديانانو د عقيدې نه هم خبر وو، نو دهغوی ايمان لاړو، هغوی دې دخپل ايمان اودخپلو نکاحونو تجديد وکړي[۱]امام صاحب بې خبره و، له دې وجې نه هغه معذور و،بيا چې هرکله امام صاحب ته معلومه شوه. نو دوی ته پکار و چې اعلان يې کړي وای، چې هلك قادياني دی.له دې وجې نه نکاح ونه شوه،خوکېدای شي هغه ته په دې اطلاع باندې اطمينان شوی نه وي او که اطمينان يې شوی وي چې دا هلك واقعي قادياني دی او ددې باوجود چوپ اوسېدلی وي، نو ګناهګار شو. ترڅو چې امام صاحب د خپل موقف اظهار کړی نه وي، يا يې د خپلې غلطي نه توبه کړې نه وي، نو ده پسې دې لمونځ نه کيږي.

د قاتل په اقتداء کې لمونځ

سوال: په قاتل پسې لمونځ کول که هغه قيدي(بندي) وي يا ازاد لمونځ کول جائز دي اوکه نه؟ ځکه چې دلته اکثر قاتلان خلک لمونځ ورکوي؟

جواب: په قاتل پسې لمونځ جائز دی د رسول اللهﷺارشاددی: **صلوا خلف كل بر و فاجر**[۲] يعنې په هرنيک او بدپسې لمونځ کوئ که قاتل د خپلې ګناه نه توبه وکړه. نو په هغه پسې لمونځ پرته د کراهت نه جائز دی. که نه مکروه تحريمي دی.[۳]

په دروغژن او کنځل کونکي امام پسې لمونځ کول

سوال: په کومه کمپنۍ کې چې موږ کار کوو، په هغه جومات کې د يو پيش امام مستقل بندوبست نشته يو صاحب دی کوم چې د ماسپښين لمونځ اکثر ورکوي. زه هغه د نږدې نه پيژنم دروغ وايي په لږه شان خبره باندې خفه کيدو سره ډير غلطې کنځلې کوي،تاسو ته دومره درخواست دی چې ايا په دې سړي پسې لمونځ کول جائز دي؟ کوم چې غيبت کوي کنځلې کوي او دروغ وايي

۱] لان الرضاء بالكفر كفر.(شرح فقه اكبر ص: ۴۹). ما يكون كفراً اتفاقا يبطل العمل والنكاح.....وما فيه خلاف يؤمر بالاستغفار والتوبة وتجديد النكاح.(الدر المختار مع الرد ج:۴ ص: ۲۴۷ ، مطلب جملة من لا يقتل اذا ارتد).

۲]بيهقى ج:۴ ص: ۱۹)_

۳] ويكره تقديم.....الفاسق لانه لا يهتم بامر دينه. (الجوهرة النيرة ج:۱ ص: ۵۸)_

جواب: په داسې امام پسې لمونځ مکروه دی[۱] خو د خاتنه کولو نه غوره دی[۲].

د سينما کتونکي امامت

سوال: کوم سړی چې سينما ته تللو سره فلم ګوري په ټي وي باندې ګډاګانې هم ګوري په ريډيو او ټيپ ريکارډ باندې ګانې او موسيقي هم اوري او په جومات کې امامت هم کوي په هغه پسې لمونځ جائز دی اوکه ناجائز؟

جواب: په داسې سړي پسې لمونځ مکروه تحريمي دی، داسې سړی دې امام نه ټاکل کيږي.[۳]

ټي وي کتونکي او ګانې اوريدونکي پسې لمونځ کول

سوال: کوم مولوي،قاضي يا د جومات امام چې د ټي وي او ګانې اوريدلو شوقي وي په داسې سړي پسې لمونځ کول صحيح دي اوکه نه؟

جواب: کوم سړی چې ټي وي ګوري او ګانې اوري هغه فاسق دی، هغه دې له امامت نه ليرې کړل شي، په هغه پسې لمونځ کول مکروه تحريمي دي.[۴]

حاجي، لمونځ کونکي ټي وي کتونکي پسې لمونځ کول

سوال: يو سړی حاجي، لمونځ کونکی ، ډيره وړه ونکی،ټي وي،فلم،ګانې اوداسې نور...هرڅه کوي او بيا د امامت له پاره هم تيار شي،نو ايا ده پسې لمونځ کيږي؟

جواب: جائز نه دي.[۵]

د فلم کتونکي امامت

سوال: يو قاري صاحب چې رمضان کې تراويح هم کوي او د امام صاحب په نه شتون کې امامت هم کوي او سينماګهر کې فلم هم ګوري،ايا داسې سړي پسې لمونځ جائز دی؟ايا زموږ

۱]عن عبدالله بن مسعود رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : سباب المسلم فسوق وقتاله كفر. متفق عليه.(مشكوة ص: ٤١١)_

۲] ولو صلى خلف مبتدع او فاسق فهو محرز ثواب الجماعة لكن لا ينال مثل ما ينال خلف تقى، كذا فى الخلاصة. (عالمگيرى ج:۱ ص: ٨٤)_

۳] ويكره امامة فاسق من الفسق وهو الخروج عن الاستقامة ولعل المراد من يرتكب الكبائر كشارب الخمر والزانى وآكل الربوا ونحو ذالک......وفى الشامية: واما الفاسق فقد عللوا كراهة تقديمة بانه لا يهتمم لامر دينه وبان فى تقديمة للامامة تعظيمة وقد وجب عليهم اهانته شرعًا. (ردالمحتار مع الدر المختار ج:۱ ص: ٥٥٩، ٥٦٠)_

٤] ايضا)_

٥] ويكره تقديم ......الفاسق لانه لا يهتم لامر دينه.(فتح القدير ج:۱ ص: ٢٤٧). ايضا حواله بالا)_

لمونځ کیږي؟

جواب: ده پسې لمونځ خو په هرحال کیږي، خو هرکله چې ددې خبرې معلومات دی چې ددې حافظ صاحب یا ددې امام صاحب کردار داسې دی، نو دده امام جوړول مکروه دي او ددې حافظ صاحب له پاره هم امام جوړیدل مکروه دي، خو که جوړ شو، نو لمونځ به وشي [1]

د ټي وي کتونکي او کنځل کوونکي سړي امامت

سوال: کوم امام چې اکثر ټي وي ګوري او فحش او خراب قسم کنځل هم کوي، نو داسې امام پسې لمونځ کیږي او که نه؟

جواب: ده پسې لمونځ کول مکروه دي.[2]

د داسې امام په اقتدا کې لمونځ کول چې د جومات په چت باندې او سیږي او ټي وي ګوري

سوال: زموږ دعلاقې د جامع جومات امام چې د ډیر وخت نه د جومات په چت باندې اوسیږي، یعنې د جومات په حدودو کې اوسیږي، هغه کره ټي وي هم دی، چې دومره زور سره چلیږي چې د هغه د اواز نه په لمانځه کې خلل واقع کیږي او امام صاحب د ماسخوتن یوازې فرض وکړي او پورته ځان رسوي چې ډرامه یا خبرنامه وګوري، نو مسئله دا ده چې داسې امام پسې لمونځ کول جائز دي او که نه؟ او د جومات په حدودو کې ټي وي کتل او چلول جائز دي؟ او که ناجائز دي، نو دداسې امام څه انتظام وکړل شي؟ وویستل شي یا ورته سزا ورکړل شي؟

جواب: ټي وي کتل او هغه هم د جومات په چت باندې لویه ګناه او ډیرزیات غلط کاردی، داسې سړی ددې لائق نه دی چې امام وساتل شي، دده په اقتدا کې لمونځ کول مکروه تحریمي دي.[3]

د شراب څښونکي پسې اقتداء او د جمعې ترک کول

سوال: ما یو سړی په شراب څښلو باندې پخپله لیدلی دی او یو ځل مې هغه د جمعې لمونځ ورکونکی اتفاقي طور سره ولید، په دې صورت کې په هغه پسې د جمعې لمونځ ادا کړم یا ځانته یې وکړم؟ د جمعې د لمانځه څه حیثیت دی واجب دی او که سنت؟

جواب: داسې سړی که توبه ونه باسي، نو فاسق دی په هغه پسې لمونځ کول مکروه دي[4]

---

[1] ویکره تقدیم ......الفاسق لانه لا یهتم لامر دینه.(فتح القدیر ج:۱ ص: ۲۴۷). ایضا حواله بالا.

[2] ویکره تقدیم.....الفاسق.....الخ.(فتح القدیر ج:۱ ص: ۲۴۷) ایضا حواله صفحه گزشته.

[3] ایضا.

[4] ویکره امامة عبد واعرابی.وفاسق. تنویر.(قوله فاسق) وهو الخروج..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

خو د ځانته کولو نه غوره دي.[۱] په جمعې سره لمونځ کول واجب دي[۲]. که اتفاقا جمعه تیره شي،نوخیر ده.خود جمعې د ترک کولو عادت جوړول ګناه کبیره ده[۳]،رسول الله ﷺ په دې وعیدونه فرمایلي دي او دې ته یې د منافقانو علامه ویلې ده[۴]،علامه حلبي د منیه په شرح کې(ص ۵۰۹)کې فرمایي ددې احکام په وجوب باندې دلالت کوي.کوم سړی چې پرته له عذر نه جمعه پریږدي هغه د سزا لائق دی او د هغه شهادت مرذوددی او که د هغه ګاونډیان په دې چپ شي. نو هغوی هم ګناه ګار دي[۵]

رشوت خور امام جوړول صحیح نه دي

سوال: که د جومات یو امام رشوت اخلي. نو د هغه په اقتداء کې لمونځ کول جائز دي؟

جواب: رشوت اخستل کبیره ګناه ده[۶] ددې مرتکب فاسق دی اوفاسق امامت مکروه تحریمي دی.[۷]

د سود خور په اقتداء کې لمونځ

سوال: زید له بینک نه له ملګري سره د سوسائټي والو سره په سود باندې پیسې واخیستلې،

...بقیه د تیرمخ]. عن الاستقامة، ولعل المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر. (شامی، کتاب الصلاة، باب الامامة ج:۱ ص: ۵۵۹، طبع ایچ ایم سعید)_

۱] فان امکن الصلاة خلف غیرهم فهو افضل ، والا فالاقتداء اولی من الانفراد .(شامی ، کتاب الصلاة ، باب الامامة ج:۱ ص: ۵۵۹، طبع ایچ ایم سعید)_

۲]الجماعة سنة مؤکدة للرجال، وقیل: واجبة ، وعلیه العامة ، فتسن او تجب.(درمختار ج:۱ ص: ۵۵۲، ۵۵٤، کتاب الصلاة ، کتاب الامامة)_

۳]وعند الخراسانیین انما یاثم اذا اعتاده کما فی القنیة .(شامی ، کتاب الصلاة ، باب الامامة، ج:۱ ص: ۵۵٤، طبع ایچ ایم سعید)_

٤]عن عبدالله بن مسعود قال: لقد رایتنا وما یتخلف عن الصلوة الا منافق قد علم نفاقه او مریض ان کان المریض لیمشی بین رجلین حتی یاتی الصلاة وقال ان رسول الله صلی الله علیه وسلم علمنا سنن الهدی وان من سنن الهدی الصلاة فی المسجد الذی یؤذن فیه.(مشکوة، باب الجماعة وفضلها ص: ۹۶ ، طبع قدیمی)_

۵] وکذا الاحکام تدل علی الوجوب من ان تارکها من غیر عذر یعزر وترد شهادته ویاثم الجیران بالسکوت عنه. (حلبی کبیر ص: ۵۰۹ ،طبع سهیل اکیدمی)_

٦]الکبیر الرابعة والخامسة والسادسة......والعشرون بعد الاربع ماة: آخذ الرشوة ولو بحق واعطائها بباطل والسعی فیها بین الراشی والمرتشی......قال تعالی: ولا تاکلوا اموالکم بینکم بالباطل وتدلوا بها الی الحکام لتاکلوا فریقا من اموال الناس وانتم تعلمون.....واخرج ابو داود والترمذی.......لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم الراشی والمرتشی......لعنة الله علی الراشی والمرتشی....والاحادیث التی ذکرتها صریحة فی اکثر ذالک لما فیها من الوعیدالشدید واللعنة للراشی والمرتشی وللسفیر بینهما. (الزواجر ج:۲ ص: ۱۸۸، ۱۸۹)

۷] (ویکره امامة فاسق) من الفسق وهو الخروج عن الاستقامة ولعل المراد من یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزنی وآکل الربوا ونحو ذالک.(درمختار ج:۱ ص: ۵۵۹)_

زيد وخت په وخت د لمانځه فرائض هم ادا كوي. زيد محكې دا نه و ويلي چې زه په سود كې اخته شوى يم، كله چې د جومات والاوو نه ددې معلومات وشو چې زيد هم په سود قرض اخيستى دى، نو د جومات والاوو د زيد له پاره فتوا راوغوښتله دا فتوا د زيد خلاف لاړه كله چې دا فتوا وكتل شوه، نو زيد وويل ما يو مياشت مخكې توبه كړې ده. زيد خو خپله وايي خو څوك ګواه نشته او نه يې د چا مخكې توبه كړې ده. چا ته وايي چې ما ټولې پيسې ادا كړې دي چا ته وايي چې دوه دوه نيم زره روپۍ پاتې دي او سره له دې چې اوود اته زره روپۍ د زيد په ذمه پاتې دي چې دهغه سود ادا كوي دروغ ويل هم كبيره ګناه ده

د سوسائټي والا د زيد ملګرو ته ويلي دي چې زيد په سود باندې د قرضه وركونكو ډايريكټر دى، د ډايريكټر په حيثيت زيد هم خپل ملګري قرض اخيستلو ته تيار كړل او د هغوى ګواه جوړ شو، بينک والو ته يې ګارنټي وركړه چې كه دېې خلكو قرض ادا نه كړ، نو زه به يې ادا كوم، په حديث شريف كې راځي چې سود اخيستونكي، وركونكي، ليكونكي، ګواه جوړيدونكي به ټول يوډول شميرل كيږي. ايا د دوى له پاره يو حكم دى يا بيل بيل؟ په دې صورت كې په زيد پسې فرض يا تراويح پرته د كراهت نه جائز دي؟ ايا زيد د امامت فرائض ادا كولى شي؟ شرعي طور سره چې كوم حكم وي هغه دې بيان كړل شي مهرباني به وي.

جواب: زيد كه راروان وخت كې د سودي كاروبار نه توبه كوي او په خپل تير كار باندې پښيمانه وي، نو په هغه پسې لمونځ جائز دى او كه هغه د خپلې غلطي اقرار كولو سره د راروان وخت له پاره د منع كېدو عهد نه كوي، نو په هغه پسې دې لمونځ نه كيږي.[1]

دداسې امام حكم چې د لمانځه د ټاكل شويو وختونو خيال نه ساتي

سوال: امام صاحب ټول مقتديان ذهني طور باندې پريشان كړي دي، وجه دا ده چې د لمانځه له پاره كوم وخت وټاكل شي. هغه د مولانا صاحب د حكم مطابق وي، خو مولانا صاحب په خپله د هغه پابندي نه كوي، د جومات په ساعت كې كه جمعې ته څلور پنځه دقيقې پاتې وي. نو لمونځ كونكي نفل شروع كړي، خوځنګه چې خلک نيت وتړي او لمونځ شروع كړي، نو مولانا صاحب جمعه ته ودروي، ددې خبرې له وجې نه څوځله داسې هم شوي دي چې دجمعې وخت پوره وي او مولانا صاحب چاسره په خبرو كې مشغول وي، نو د اصل وخت نه څلور پنځه دقيقه واوړي، كه څوك مولانا صاحب د وخت ياددهاني وكړي، نو هغه بې عزته كوي او وايي چې څوك لمونځ كوي، نو بل جومات ته دې لاړ شي، په خاصه توګه د جمعې په ورځ خو د جمعې لمونځ كله هم په خپل ټاكلي وخت باندې نه كوي، وخت دوه بجې مقرر دى، خوهميشه يې د دوه نيمو نه وروسته كوي، زيات تر لمونځ ګزار مزدوران وي، هغوى ته دخپلې ډيوټې هم غم وي، ستاسو نه د پوښتنې كولو مقصد دادى چې مقتديانو سره د امام صاحب داسې رويه

[1] وكذا(اي يكره) الاقتداء بمن كان معروفاً باكل الربا والفسق(فتاوى قاضيخان على عالمگيرى ج:۱ص: ۹۱)

ساتل او دوی ته ذهني تکلیف ورکول کوم حد پورې صحیح دي؟

جواب: امام ته پکار دي چې د مقتدیانو رعایت ساتي یا خو د لمانځه وخت نه تاکي یادې په تاکلي وخت باندې لمونځ کوي. کله که د څه ضرورت له وجې نه دوه څلور دقیقې زیاتې شي، نو جدا خبره ده او دومره رعایت مقتدیانو ته هم پکار دی چې امام ته یې باید ورکړي

زور سره مصلی (جای نماز) باندې د دریدو نکي سړي امامت

سوال: کوم امام چې اول د امامت نه انکار وکړي او ووایي چې ما د امامت له پاره مه رابلئ او بیا څه موده وروسته زور سره په مصلی (جای نماز) باندې کیني او وایي چې امامت به زه کوم، ده پسې لمونځ کول جائز دي او که نه؟

جواب: دی دې امام نه ساتل کیږي، دده په ځای بل څوك امام وساتئ

غسل نه کونکی امام که په هیره باندې جمعه وکړي نو اوس به څه کوي؟

سوال: امام صاحب لمونځ وکړ، بیا معلومه شوه چې امام صاحب غسل نه و کړی، حالانکې غسل کول پرې واجب و، (د احتلام وغیره له وجې نه)، نو کومو خلکو چې لمونځ کړی دی. هغوی ټولو ته اطلاع ورکول ضروري دي؟ که ده بل ځای چیرته جمعه کړي وي اوس هغوی ته اطلاع ورکولی نه شي، یا یې کلي کې لمونځ ورکړی وي، خواوس ورته پته نه لګیږي چې کومو کومو خلکو ده پسې لمونځ کړی دی او ددې واقعې دوه درې ورځې هم تیرې شوي وي، نو ددې له پاره څه وکړل شي؟

جواب: په کوم جوماتونو کې چې یې لمونځ کړی دی، نو په هغه کې ددې اعلان کول ضروري دي چې فلانی ورځ په لمانځه کې غلطي شوې وه، له دې وجې نه کومو حضراتو چې جمعې سره دا لمونځ کړی وي، نو هغوی دې دا لمونځ په دویم ځل وکړي.[1]

ایا امام د سنت موکدو له کولو پرته لمونځ ورکولی شي؟

سوال: ځینې وخت کې امام صاحب ناوخته راشي او د جمعې وخت شي، کله چې هغه ته د جمعې وویل شي، نو اول سنت ادا کوي او بیا امامت کوي ایا د امام له پاره ضروري ده چې که وخت شوی وي، نو هم هغه به سنت ضرور ادا کوي؟ ایا له هغه وروسته سنت نه شي ادا کولی؟ ددې دواړو مسائلو د جواب سره دې دا مسئله یاد وي چې موږ په کارخانه کې کار کوو له دې وجې د ډیوټۍ د وخت خیال ساتل هم پکار وي.

---

[1]] في الدر المختار: واذا ظهر حدث امامه وكذا كل مفسد في راى مقتد بطلت فيلزم اعادتها لتضمنها صلاة المؤتم صحة وفساداً كما يلزم الامام اخبار القوم اذا امهم وهو محدث او جنب او فاقد شرط او ركن. (الدر المختار مع الرد ج:۱ ص: ۵۹۱).

جواب: که امام سنت نه وي کړي. نو هم جمعه ورکولی شي. امام صاحب ته پکار دي چې د سنتو مخکې نه د فراغت اهتمام کوي او که کله فارغ نه شي. نو مقتديانو ته پکار دي چې امام ته د سنتو موقع ورکړي، خو که د کارکنانو د مشغولتيا له وجې نه وخت کم وي. نو امام دې له فرضو نه وروسته سنت وکړي.[۱]

د اقامت په وخت کې امام خلک په صف کې برابرولی شي

سوال: موږ سره په جومات کې چې کله له لمانځه نه مخکې اقامت ويل کيږي. نو امام صاحب لمونځ کونکو ته وايي چې تاسو هلته ودريږئ تاسو دلته ودريږئ. امام صاحب ته په دې ځای کې د څه حکم دی؟ ايا امام صاحب ته چپ اوسيدل پکار دي يا لمونځ کونکو ته هدايت ورکول جائز دي؟

جواب: که لمونځ کونکي مخکې وروسته وي يا په صف کې خالي ځای وي. نو امام ته لارښونه کول پکار دي.[۲]

د امام او مقتدي په لمانځه کې فرق

سوال: د مقتدي او د امام په لمانځه کې څه خاص فرق دی؟ هغه کوم کوم عبادتونه دي کوم چې انسان ځانته کوي او که امام جوړ شي، نو نه دې کوي؟

جواب: ځانته لمونځ او د امام په لمانځه کې خو هيڅ فرق نشته، خو مقتدي به په امام پسې قرات نهکوي، باقي ټول ارکان او دعا ګانې به کوي.[۳]

ايا امام به د مقتديانو نيت کوي؟

سوال: مقتديان حضرات د جمعې په لمانځه کې وايي چې په دې حاضر امام پسې.خو امام صاحب چې کله په مصلی باندې دريږي، نو هغه ته هم دا ويل پکار دي چې مخکې ددې مقتديانو نه، په دې باره کې تفصيل سره خبر راکړئ.

جواب: په ژبې سره د وينا ضرورت، خو مقتديانو ته هم نشته[۴] يوازې دا نيت کول کافي

۱] كفاية المفتى ج:۳ ص: ۱۲۵، خير الفتاوى ج:۲ ص: ۳۳۱)_

۲] وينبغي للقوم اذا قاموا الى الصلوة ان يتراصوا ويسدد الخلل ويسوو بين مناكبهم فى الصفوف ولا باس ان يامرهم الامام بذلك.(البحر الرائق ج:۱ ص: ۳۷۵، عالمگيرى ج:۱ ص: ۸۹)_

۳] عن عبادة بن الصامت ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لا صلوة لمن لم يقرا بفاتحة الكتاب فصاعداً، قال سفيان هذا لمن يصلى وحده.(ابوداود ص: ۱۱۹، علم ص: ۱۶۹). فاما المقتدى فلا قراءة عليه عندنا.......الخ. (البدائع الصنائع ج:۱ ص: ۱۱۰)_

٤]اما اصلها ان يقصد بقلبها فان قصد بقلبه وذكر بلسانه كان افضل....الخ.(قاضى خان ج:۱ ص: ۳۹)_

دي چې زه خاتته لمونځ نه کوم د امام سره کوم[۱] امام نه هم دا نیت کول پکار دي چې زه د نورو امامت کوم، خو که هغه نیت و نه کړي، نو بیا هم اقتداء صحیح ده[۲]

د ورو (ارام) اواز لرونکي امام اقتداء

سوال: ایا موږ ته په داسې امام پسې اقتداء کول پکار دي چې د هغه اواز موږ ته رارسیږي. خو په دې نه پوهیږو چې هغه څه لولي؟

جواب: دامام اواز که رسیږي یا نه رسیږي، اقتداء صحیح ده او په ثواب کې هم څه کمی نه راځي[۳]

د ترتیب خلاف کونکي امام پسې لمونځ کول

سوال: ایا په لمانځه کې قرآن په ترتیب سره لوستل پکار دي؟ که داسې ضروري وي. نو داسې امام چې د دې شي پابندي نه کوي، نو ایا په هغه پسې لمونځ جائز دی. چې هغه ته د دې خبرې پته هم وي؟

جواب: قرآن کریم د ترتیب خلاف لوستل مکروه دي، کله چې قصدا داسې وکړل شي. خو که په هیره داسې وشي، نو مکروه نه دي، څومره چې زما خیال دی. امام ته قصدا د ترتیب خلاف نه دي کول پکار، په هیره داسې کېدای شي له دې وجې لمونځ جائز دی.[۴]

دومره اوږد لمونځ دې نه ورکوي چې مقتدیان تنګ شي

سوال: زموږ په علاقه کې امام صاحب په عامو لمونځونو کې دومره اوږد قرات کوي چې ځینې وخت کې بوډا ګان لمونځ کونکي راوغورځیږي، ځینې نور مقتدیان په مینځ کې کیني رکوع ګاني او سجدې دومره اوږدې وي چې ځینې مقتدیان شل دیرش ځله تسبیحات لولي، په تشهد او قعدې کې دومره وخت لګوي ،چې ګمان کیږي امام صاحب ویده شوی دی. یاالله مه کړه......تاسو مهرباني وکړئ او د قرآن کریم او احادیثو په رڼا کې دا بیان کړئ:
۱ چې د امامت په باره کې څه احکام دي؟

۱] ولو كان مقتدياً ينوى ما ينوى المنفرد وينوى الاقتداء ايضا لان الاقتداء لا يجوز بدون النية...... الخ. (عالمگیری ج:۱ ص: ٦٦)_

۲] والامام ينوى ما ينوى المنفرد ولا يحتاج الى نية الامامة......الخ.(عالمگیری ج:۱ ص: ٦٦)_

۳] والحائل لا يمنع الاقتداء ان لم يشتبه حال امامه بسماع او رؤية ولو من باب مشبک يمنع الوصول فى الاصح. وفى الشامية: قوله بسماع اى من الامام او المكبر تتارخانية . قوله او رؤية ينبغى ان تكون الرؤية كالسماع ، لا فرق فيها بين ان يرى انتقالات الامام او احد المقتدين.(فتاوی شامي ج:۱ ص: ٥٨٦)_

٤] يجب الترتيب فى سور القرآن فلو قرا منكوسا اثم لكن لا يلزمه سجود السهو.....الخ.(درمختار مع الشامى ج:۱ ص: ٤٥٧)_

۲ ایا د رکوع او سجدې تسبیحات د اوو نه زیات خله او په تشهد او قعده کې چې وخت بچت شي، نو نورې دعا ګانې لوستلی شي؟

جواب: ستاسو امام صحیح نه کوي، امام ته پکار دي چې په لمانځه کې د مقتدیانو رعایت وساتي او دومره اوږد دې نه کوي چې خلک تنګ شي. په حدیث شریف کې دي چې کوم سړی امام وي هغه دې مختصر لمونځ ورکوي. ځکه چې په مقتدیانو کې به څوک کمزوري وي، څوک به بیمار وي. څوک به حاجتمند وي[۱] په یو بل حدیث کې حکم دی چې په جمعه کې چې د ټولو نه کمزوری سړی وي د هغه رعایت کولو سره دې لمونځ وکړل شي[۲]

امام ته پکار دي چې په لمانځه کې مناسب مقدار کې تلاوت کوي

سوال: زموږ د جومات امام صاحب پنځه وخته لمانځه کې د قرآن شریف ختم کوي. امام صاحب د ماسخوتن او د سهار په لمونځونو کې په خاصه توګه د سهار په لمانځه کې کم و بیش د تراویحو په شان تلاوت کوي. په مقتدیانو کې بیماران هم وي. کمزوري او بوډاګان هم وي، اوس یې د سهار په لمانځه کې دومره وږد تلاوت وکړ چې یو بزرګ سړی چې کافي کمزوری دی او په ولاړه باندې لمونځ جمعې سره ادا کوي. هغه کیناست. زه څه عالم دین نه یم. خواورو چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې کله په تاسو کې څوك د خلکو امام جوړ شي. نو پکار ده چې معمولي (مختصر) لمونځ کوي(یعني اوږدوالی نه کوي). ځکه چې په مقتدیانو کې بیماران هم وي او کمزوري هم وي. بوډاګان هم وي(چې د هغوی له پاره د لمانځه اوږدوالی د تکلیف سبب ګرځېدای شي)او کله چې په تاسو کې څوك یواځې لمونځ کوي. نو څومره چې خوښه وي اوږد لمونځ دې کوي.

جواب: تاسو چې د کوم حدیث شریف حواله ورکړې ده. نو دا صحیح ده[۳] امام صاحب که په لمانځه کې قرآن پاك ختموي، نو بیا هم مختصر قرات کولی شي. چې هغه سره کمزوري کسانو باندې بوجهـ نه وي ، په هرحال ستاسو امام صاحب ته دې یا خو په لمانځه کې قرآن پاك نه ختموي یا دې په مناسب مقدار کې تلاوت او قرات کوي.

۱]عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:اذا صلی احدکم للناس فلیخفف فان فیهم السقیم والضعیف والکبیر، واذا صلی احدکم لنفسه فلیطول ماشاء .متفق علیه.(مشکوة ص: ۱۰۱)_

۲] عن علی ان معاذا صلی بقومه الفجر فقرا سورة البقرة وخلفه رجل اعرابی معه ناضح لهفقال النبی صلی الله علیه وسلم : صل بهم صلاة اضعفهم ، فان فیهم الصغیر والکبیر وذا الحاجة لا تکن فتانا (کنزالعمال ج:۸ ص: ۲۷۰، ایجاز الصلوة ،هدایة ج:۱ ص: ۱۲۲، باب الامامة)_

۳]عن ابی هریرة ان النبی صلی الله علیه وسلم قال: اذا ام احدکم الناس فلیخفف ، فان فیهم الصغیر والکبیر والضعیف والمریض ، فاذا صلی وحده فلیصل کیف شاء . وفی روایة: فان فی الناس الضعیف والسقیم وذا الحاجة .(صحیح مسلم ج:۱ ص: ۱۸۸، باب امر الائمة بتخفیف الصلوة).

په لمانځه کې اوږد قرات ولې کیږي؟ سره له دې چې لمونځ کونکي ستړي وي

سوال: زما د بیکاره رایې مطابق د نوي نسل د دین نه د بې رغبتۍ یو وجه دا هم ده چې په جوماتونو کې امامان حضرات اوږد قرات کوي، عیسایان په هفته کې یو ورځ عبادت کوي .لهذا پادریان د ټولې هفتې کمې پوره کوي، نو له دې وجې نه په انګریزي کې د پادریانو متعلق په سوونو لطیفې مشهورې دي. زموږ په مذهب کې الله پاك ته حاضري ورځ کې پنځه خله ده. بلکې یو لحاظ سره د مؤمن ټول ژوند عبادت دی.لهذا د جومات عبادت(خصوصاً نن سبا خطرناك دور کې)چې څومره مختصر وي، نو خلك به هغومره زیات رغبت کوي.په جمعه کې اکثر لیدل کیږي چې امام صاحب په مصلی باندې دېنکې لاندې یخ ځای کې ولاړ وي او بهر لمونځ کونکي په خولو کې ډوب ولاړ وي،خو دقراءت د ختمیدو نوم نه اخلي. رمضان المبارك کې د ماسخوتن په لمانځه کې ددې خبرې خیال نه ساتل کیږي چې لمونځ کونکي به اوس د تراویحو مشقت هم برداشت کوي.دغه شان په وترو کې ددې خبرې خیال نه ساتل کیږي چې خلك په تراویحو کې ستړي شوي وي.

جواب: د نبي کریم ﷺ ارشاد مبارك دی چې په تاسو کې څوك امام وي، نو هغه دې مختصر لمونځ کوي، ځکه چې په لمونځ کونکو کې به څوك بیمار وي،څوك به کمزوري وي او څوك به ضرورتمند وي.[۱]

ډیر لوړ اواز سره تلاوت کول څنګه دي؟

سوال: زموږ د جومات قاري صاحب لمانځه کې قرآن مجید مختلف طریقو سره لولي،کله نعتیه انداز کې،کله ورو اواز سره او د زیات قرآن کیفیت دادی چې هغه قرآن پاك ډیر لوړ اواز سره لولي،سره له دې چې په جومات کې یوڅو کسان وي،په دې خبره باندې ټولو لمونځ کونکو ته اعتراض دی چې په دومره تیز اواز سره او طرزونو بدلولو سره ولې لولي؟که څوك اعتراض وکړي، نو وایي چې زه یې صحیح لولم.

جواب: د قاري صاحب مقصد لمونځ کونکو ته اورول دي ،اواز دومره لوړول پکار دي څومره چې لمونځ کونکي یې واوري،له دې نه زیات اواز لوړول بې ضرورته دي[۲]. **والله اعلم**

---

[۱] عن ابی هریرة رضی الله عنه یقول: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : اذا صلی احدکم للناس فلیخفف، فان فی الناس الضعیف والسقیم وذا الحاجة .رواه مسلم.(مسلم ج:۱ ص: ۱۸۸، طبع دهلی).

[۲] وفی الدرر: ویجهر الامام وجوبًا بحسب الجماعة فان زاد علیه اساء. وفی الشرح : قوله فان زاد علیه اساء وفی الزاهدی عن ابی جعفر: لو زاد علی الحاجة فهو افضل الا اذا اجهد نفسه او آذی غیره، قهستانی.(الدر المختار مع الرد المحتار ج:۱ ص: ۵۳۲، فصل فی القراءة).

دریم صف ته د اواز نه رسونکي سري امام تا کل

سوال: که د امام اواز دومره کم وي چې دریم صف والامقتدیان تکبیرنه اوري.نو ایا ده له پاره مکبر مقررول پکار دي؟ددې ذمه داري نوعیت په دین کې بیان کړئ

جواب: که د امام تکبیر مقتدیانو ته نه رسیږي. نو وروسته هر یو مقتدي ته اختیار دی چې په هغوی کې یو کس لوړ اواز سره تکبیر ولولي [۱]

په فرائضو کې امام ته فتح (لقمه) ورکول

سوال: ایا د تراویح د لمانځه نه پرته په نور لمونځونو کې مثلا سهار،ماښام یا ماسخوتن کې فتحه ورکول جائز دي او که نه؟ که امام فتحه قبلوي. نو ایا لمونځ فاسدیږي؟ او ایا په دې سلسله کې په علماء کرامو کې څه اختلاف شته؟

جواب: که امام قرات غلط لوستلی وي، نو بیا هغه ته فتحه ورکول ضروري دي چې په دویم ځل یې صحیح ولولي او که امام په قدر د ضرورت قرات کړی وي او له هغه نه وروسته په قرات کې بند شي،نو هغه ته پکار دي چې رکوع وکړي،مقتدیان دې په فتحه ورکولو نه مجبوروي. خو که یو مقتدي فتحه ورکړه، نو بیا هم لمونځ نه فاسدیږي [۲]

د امام صاحب هیره همیشه د مقتدي د غلط اودس له وجې نه نه وي

سوال: د ماښام د جمعې په دویم رکعت کې امام د التحیات نه وروسته دریدل هیر کړل.په فتحه ورکولو سره پاځېده او د سجده سهوه کولو سره یې خپل لمونځ پوره کړ. د لمانځه نه وروسته امام صاحب وفرمایل چې په تاسو کې د چا اودس صحیح نه دی په له دې وجه دا غلطي وشوه او رسول اللهﷺ هم فرمایلي دي. تاسو نه پوښتنه داده چې دا خبره صحیح ده؟ ځکه چې هغه وخت په جمعه کې د باران په وجه موږ یوازې پنځه لمونځ کونکي و.د امام صاحب دې خبرې موږ په شک کې واچولو.ما د یو بل صاحب نه دا خبره هم اوریدلې ده چې کله په جمعه کې د امام صاحب نه څه غلطي وشي. نو هغه وخت خضر علیه السلام جومات ته تشریف راوړي او د انسانو په شکل کې لمونځ ګزارو سره مصافحه کوي

جواب: دا وینا خو ګرانه ده چې د امام صاحب نه کله هم هیره وشي، نو د هغه سبب همیشه هم دا وي چې په مقتدیانو کې به د چا اودس صحیح نه وي،خو دا وینا صحیح ده چې د نورو

---

[۱] انه علیه الصلاة والسلام کان اماما وابوبکر مبلغا للناس تکبیره وبه استدل علی جواز رفع المؤذنین اصواتهم فی الجمعة والعیدین وغیرهما کما فی المجتبی.(البحر الرائق:ج:۱ ص: ۳۸۶ باب الامامة).

[۲] وان فتح علی امامه لم تفسد......واما اذا قرا او تحول ففتح علیه تفسد صلاة الفاتح ، والصحیح انها لا تفسد صلاة الفاتح بکل حال......ولا ینبغی للامام ان یلجئهم الی الفتح، لانه یلجئهم الی القراءة خلفه وانه مکروه بل یرکع ان قرا قدر ما تجوز به الصلاة والا ینتقل الی آیة اخری......الخ.(عالمگیریة ج:۱ ص: ۹۹)۔

اسبابو په شان دا سبب هم کېدلی سي. ستاسو امام صاحب چې د کوم حدیث حواله ورکړي ده هغه په سنن نسايي (ج ۱ ص ۱۵۱) کې ذي ... چې د هغې مفهوم دادی چې یو خل رسول الله ﷺ د سهار په لمانځه کې د سورت روم قرات وکړ. د قرات په دوران کې په هغه ګډوډي راغله. د لمانځه د فراغت نه وروسته یې وفرمایل د هغه خلکو څه حال دی کوم چې صحیح اودس نه کوي. هم دا خلک دي د چا په وجه چې زموږ په قرات کې ګډ وډي راځي. په هر حال د امام صاحب د هیرې سبب کله د مقتدیانو دا کوتاهي هم کېدلی شي او کله خپله د امام کوتاهي. بلکې همدا غالبه ده

د خضر علیه السلام د تشریف راوړلو او لمونځ کونکو سره د مصافحې خبره ما چېرته نه ده اوریدلې او نه مې لوستلې ده.

امام د خپل بچي د ژړا له وجې دلمونځ ماتول

سوال: زموږ د محلې په نژدې جومات کې چې کوم امام مقرر دی. یو ورځ د ماسخوتن د لمانځه په اخري رکعت کې امام صاحب سجدې ته لاړو. نو هغه د جومات سره نژدې د خپل کور نه د خپل ماشوم د ژړا اواز راغی. دا لمونځ په انګړ کې ادا کیده. د جومات د انګړ نه د امام صاحب کور ته یو دروازه ده. امام صاحب په سجده کې لمونځ پریښودو سره خپل کور ته لاړ. مقتدیان تر ډیر وخته پورې په سجده کې وو. نو په هغوی کې یو مقتدي پورته شو. ویې کتل چې امام صاحب غائب دی. هم دغه شان نورو مقتدیانو هم لمونځ مات کړ. چې کله مقتدیانو د امام صاحب نه پوښتنه وکړه. نو هغه وویل چې ما د خپل بچي اواز واوریده ما دا اوګڼله چې څوک هغه تښتوي حال دا چې د امام صاحب ښځه په کور کې وه. مقتدیانو لمونځ مات کړ. دا بیان وکړئ چې په دې صورت کې هغوی ته څه کول پکار وو. په دویم ځل دجمعې سره لمونځ کول پکار و؟ اوس څه ورځې مخکې امام صاحب د امامت دوران کې قرات کولو کې هیره وکړه. یو مقتدي د هغه نه ددې باره کې پوښتنه وکړ. نو هغه د مسئلې د بیان په ځای دا وویل چې په دې کې زما هیڅ قصور نشته. یو مقتدي به اودس صحیح نه وي کړی. تاسو بیان کړئ چې داسې عملونه کونکي امام پسې لمونځ جائز دی او که ناجائز؟

جواب: د ماشوم د ژړا په اوریدلو باندې د امام صاحب له پاره د لمونځ ماتول جائز نه و. که هغه داسې وکړل. نو غلط یې وکړل په دې سره د امام او مقتدیانو لمونځ مات شو او په دویم ځل دجمعې سره کول پکار و[۲]. د چا د اودس کولو یا نه کولو د امام په هیرولو کې همیشه څه

۱] عن النبي صلى الله عليه وسلم انه صلى صلاة الصبح فقرا الروم، فالتبس عليه، فلما صلى قال: ما بال اقوام يصلون معنا لايحسنون الطهور فانما يلبس علينا القرآن اولئك. (سنن نسائي ج:۱ ص:۱۵۱ القراءة في الصبح بالروم)

۲] المصلي اذا دعاه احد ابويه لا يجيب مالم يفرغ من صلاته الا ان يستغيث به لشيء لان قطع الصلاة لا يجوز الا لضرورة.....الخ. (عالمگيرى ج:۱ ص: ۱۰۹، الفصل الثاني فيما يكره في الصلاة وما لا يكره)

دخل نه وي، ډير خله ښه ښه علماء كرام هيره وكړي، دا دومره د عيب خبره نه ده. د دواړو مسئلو نه معلوميږي چې امام صاحب د فقه او د لمانځه د مسائلو نه ناخبره دی. غوره داده چې داسې امام چې قرات هم ورځي امام وټاكل شي.

امام ته خپل لمونځ د جمعې نه په زيات اطمينان سره كول پكار دي

سوال: ليدل شوي دي چې پيش امام صاحب جمعه. خو ډير په اهتمام سره وركوي او وروسته پاتې ركعتونه كوم چې د جمعې نه وروسته ادا كيږي زر زر كولوسره ختم كړي. سوال دادی چې داسې هغه سره د علمه كوي يا د هغه له پاره شرعي جواز دی؟ ايا د جمعې پرته ركعتونه په ارام سره ادا كول پكار دي يا د امام صاحب په شان زر زر؟

جواب: د فرائضو خو د مختصر وركولو حكم دی، ددې له پاره چې بيمارانو، بوډاګانو او د كمزورو رعايت وساتل شي، خپل ځانته لمونځ سړي ته ډير په ارام سره كول پكار دي. د كومې غلطې چې تاسو نښنه وركړې ده، هغه په حقيقت كې د اصلاح قابله ده.[1]

د امام د سنتو له پاره ځای بدلول

سوال: امام فرائض ادا كولو نه وروسته د مصلی نه ليرې كېدو سره سنت ادا كړي يا په هم هغه ځای باندې؟

جواب: ځای بدلول او لږ شان وروسته مخكې يا ښي، ګس طرف ته كېدل پكار دي.[2]

د لمانځه نه وروسته امام كوم طرف ته مخ كولو سره كيني؟

سوال: ايا د جمعې له هر لمانځه نه وروسته د امام صاحب د دعا له پاره مقتديانو ته مخ كول ضروري دي يا سنت دي؟

جواب: د لمانځه نه وروسته مقتديانو ته مخ كولو سره كيناستل بالكل ضروري نه دي، ښي او ګس كوم اړخ ته چې كيني، نو كيني دې.[3]

د امام صاحب لمونځ كونكي ته مخامخ كيناستل صحيح نه دي

سوال: د ماسخوتن لمانځه دسلام اړولو نه وروسته امام صاحب مقتديانو ته مخ كولو سره

۱] عن ابي هريرة رضى الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : اذا صلى احدكم للناس فليخفف فان فيهم السقيم والضعيف والكبير، واذا صلى احدكم لنفسه فليطول ماشاء .متفق عليه.(مشكوة ص: ۱۰۱)

۲] (وان) كانت صلاة بعدها سنة يكره له المكث قاعدا......لان المكث يوجب اشتباه الامر على الداخل فلا يمكث ولكن يقوم وينحى عن ذلک المكان ثم ينتقل.......الخ.(بدائع الصنائع ج:۱ ص: ۱۶۰)_

۳] ثم اختلف المشائخ فى كيفية الانحراف......وقال بعضهم هو مخير ان شاء انحرف يمنة وان شاء يسرة وهو الصحيح.....الخ.(البدائع الصنائع ج:۱ ص: ۱۶۰)_

دعا کوي، او دعا ختمه شي، امام صاحب اوس هم مقتدیانو ته مخ کړي. ناست وي امام صاحب ته مخامخ په اول صف کې یو ډېر کمزوري نظر او کمزوري غوږونو والا ډېر عمر بوډا سړی ناست وي،دا مشرد دعا د ختمیدلو نه وروسته د عادت مطابق د سنت موکده د ادا کولو له پاره د زیږي او نیت تړلو سره لمونځ ادا کوي، امام صاحب هم هغه سړي ته مخ کولو سره ناست وي

جواب: د لمونځ ګزار مخې ته مخ کولو سره کیناستل جائز نه دي[۱] او د لمونځ کونکي د مخې نه پورته کېدل او تلل جائز دي.

د لمانځه نه وروسته د امام کعبه طرف ته شا کول جائز دي

سوال: ایا د لمانځه نه وروسته د امام کعبه طرف ته یا قبله اول طرف ته شا کول جائز دي؟

جواب: امام ته پکار دي چې د لمانځه نه وروسته مقتدیانو ته شا کولو سره نه کیني.[۲] بلکې یا خو دې مقتدیانو ته مخ کړي، یا دې ښي او ګس طرف ته مخ کړي.[۳]

فرض لمانځه نه وروسته امام هم د قبلې په طرف مخ کولو سره ولې دعا غواړي؟

سوال: د لمانځه نه وروسته خصوصاً د فرض لمانځه نه وروسته امام د قبلې طرفته مخ وي او دعا غواړي.د مقتدیانو طرفته مخ نه ګرځوي،ایا داسې کول د احادیثو او د سلف صالحینو د اقوالو په رڼا کې جائز دي یا یې څه صورت دی؟

جواب: ددې د ناجائز کېدو شك دې ولې پیدا شو؟

د هر لمانځه نه وروسته د امام درې ځله دعا غوښتل

سوال: د هر لمانځه نه وروسته د امام صاحب درې ځله دعا غوښتل څنګه دي؟

جواب: یوځل چې څومره دعا غواړي، نو ودې کړي،یوځل دعا کول بیا په مخ لاس راښکل،بیا دعا کول بیا لاس راښکل بدعت دي.[۴]

د امام سره د اختلاف په بنیاد په مسجد نبوي ﷺ کې لمونځ نه کول ډېره لویه محرومي ده

سوال: د مسجد نبوي ﷺ طرف ته تلل او هلته لمونځ نه کول(کوم چې د څلویښتو لمونځونو برابر دي)یوازې د امام سره د اختلاف په بنیاد څنګه کار دی؟

---

[۱] ولكنه يستقبل القوم بوجهه ان شاء ان لم يكن بحذائه احد يصلي.....الخ.(بدائع الصنائع ج:۱ ص: ۱۵۹)

[۲] فلا باس بالقعود الا انه يكره المكث على هيئته مستقبل القبلة.....الخ.(بدائع ج:۱ ص: ۱۵۹)۔

[۳] هو مخير ان شاء انحرف يمنة وان شاء يسرة وهو الصحيح.(بدائع الصنائع ج:۱ ص: ۱۶۰)۔

[۴] ددعا نه پس درې ځله ددعا غوښتلوالتزام بدعت دې، كفاية المفتي ج:۳ص: ۳۳۰ كتاب الصلوة.

جواب: په مسجد نبوي شریف کې لمونځ کول د زرو لمونخونو برابر دی. په حدیث شریف کې دي چې چا زما په جومات کې څلویښت لمونخونه داسې ادا کړل. چې هیڅ لمونځ ترې پاتې نه شي، د هغه له پاره د دوزخ نه خلاصی او د عذاب نه نجات لیکل کیږي او هغه د نفاق نه بري کیږي،(مسنداحمد ج۳ص۱۵۵)[1] ددې فضائلو باوجود یوازې امام سره د فقهي اختلاف په وجه د رسول الله ﷺ د جومات لمونخونه پریښودل څومره لویه محرومتیا او د الله پاک د توفیق نه کېدل دي،ددې هم اندازه کېدلی شي. انا لله و انا الیه راجعون......

د امام نه د خفګان په صورت کې هغه پسې اقتداء

سوال: که څوک د یو امام نه خفه وي،نو په دې صورت کې په هغه پسې لمونځ کول جائز دي او که نه؟

جواب: د امام سره په څه دنیوي سبب ناراضتیا ساتل بد دي .لمونځ په هغه پسې جائز دي.

د امام د بې عزتي کونکي په همدې امام پسې لمونځ کول

سوال: د کلي د مالدارو خلکو یوه اجتماع د فلاح او ترقي له پاره مقرره شوه چې په هغه کې د جومات امام شریک شو،په خبرو خبرو کې یو سړي د مولوي صاحب په اعتراض باندې وویل چې مولوي صاحب بکواس کوي او دروغ وایي.ایا دا سړی د ټولې مجمعې مخکې د امام صاحب د بې عزتي کولو نه وروسته په یو ځای کې په فرض یا واجب وغیره کې ددې امام صاحب په اقتداء لمونځ ادا کولی شي؟ د هغه له پاره شرعي سزا یا تعزیر څه دی؟ چې د راروان وخت له پاره مخ نیوی وشي او د امام صاحب عزت محفوظ پاتې شي،یاد لرئ چې ذکر شوي امام صاحب د لسو کلنو نه خاص د الله پاک رضا له پاره دیني خدمات.د اخترونو لمونځ.د جمعې او جنازه وغیره ادا کوي.

جواب: د امام په ناحقه بې عزتي کولو سره هغه سړي ګناه کړې ده، هغه ته له دې نه توبه کول پکار دي او د امام صاحب نه معافي غوښتل پکار دي[2]د هغه لمونځ په امام صاحب پسې صحیح دی.

۱] عن انس بن مالک عن النبی صلی الله علیه وسلم انه قال: من صلی فی مسجدی اربعین صلاة لا یفوته صلاة کتبت له براءة من النار ونجاة من العذاب وبرئ من النفاق.(مسند احمد ج:۳ ص: ۱۵۵)۔

۲](قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :المسلم).......(من سلم المسلمون).......(من لسانه) ای بالشتم واللعن والغیبة والبهتان والنمیمة والسعی الی السلطان وغیر ذلک.....(ویده) بالضرب والقتل والهدم والدفع والکتابة بالباطل. (مرقاة شرح المشکوة ج:۱ ص: ۶۳)۔

که د امام سره په څه مسئله کې اختلاف پیدا شي نو په هغه پسې لمونځ کول څنګه دي؟

سوال: زما د دکان مخې ته جومات دی، د اتو میاشتو قیصه ده چې د ماز دیګر د جمعې نه وروسته یو لمونځ کونکی په دویم ځل د لمانځه له پاره ودریده، خوا کې یو لمونځ کونکي هغه وراته چې تا خو اوس له جمعې سره لمونځ کړی دی، د ماز دیګر د لمانځه نه وروسته لمونځ کول حرام دي، هغه صاحب جواب ورکړ چې زه به لومړي لمونځ قضاء کوم، په دې باندې ربتلو والاهم هغه خبره بیا وکړه چې هر یو لمونځ کول حرام دي، که غواړې، نو د امام صاحب نه پوښتنه وکړه، نور لمونځ ګزار د ربتلو والا سره ملاؤ شو او امام صاحب ته یې د لمونځ ګزار راوست. امام صاحب هم دا جواب ورکړ چې د ماز دیګر د لمانځه نه وروسته هر یو لمونځ کول حرام دي. په دې اوریدلو باندې ما لمونځ کونکو ته وویل زما د معلوماتو د لاندې دا قضاء لمونځ کولی شي، اوس خو لا ماښام ته یوه ګنټه پاتې ده، زما په جواب ورکولو باندې لمونځ کونکي ماته راستانه شو او ویې ویل تا د امام صاحب مخالفت کړی دی، له دې وجې خپل لمونځونه په دویم ځل وکړه، له دې واقعې نه وروسته ما په هغه جومات کې لمونځونه کول بند کړل، په لږه فاصله باندې مې په بل جومات کې کول شروع کړل، زه تاسو نه دا معلومول غواړم چې امام صاحب او لمونځ کونکو سره په دې اختلاف باندې په بل جومات کې لمونځ کول ایا جائز دي؟ او ایا ماته هغه لمونځونه کوم چې ما د هغه امام صاحب سره کړی دي په دویم ځل ادا کړم؟

جواب: ستاسو په سوال کې څو مسائل دي هغه بیل بیل لیکم:

۱: د سهار او د ماز دیګر د لمانځه نه وروسته نفل کول جائز نه دي[۱]، خو قضاء لمونځونه کول جائز دي، خو د خلکو په مخکې قضاء مکروه ده[۲] بیل ځای کې یې کول پکار دي.

۲: کوم سړی چې قضاء لمونځ کوي یوازې د هغه سړي مقتدي جوړیدلی شي، چې هغه قضاء لمونځ کوي، مثلاً د یوې ورځې د ماز دیګر لمونځ د دوه سړیو نه پاتې شوی و، هغه دواړه جمعه کولی شي، خو که امام یو لمونځ ورکوي او د مقتدي لمونځ بیل وي، نو اقتداء صحیح نه ده، مثلاً امام د نن د ماز دیګر لمونځ ادا کول غواړي او مقتدي د قضاء شوي پرون ماز دیګر لمونځ کول غواړي، نو اقتداء صحیح نه ده.[۳]

۱]الفصل الثالث فی بیان الاوقات التی لا تجوز فیها الصلاة وتکره فیها.....ومنها ما بعد صلاة الفجر قبل طلوع الشمس.....ومنها ما بعد صلاة العصر قبل التغیر.(عالمگیری ج:۱ ص: ۵۳)_

۲]ویکره قضاءها فیه، لان التاخیر معصیة فلا یظهرها.(الدر المختار مع الرد ج:۱ ص: ۳۹۱)_

۳] ولا یصلی المفترض خلف المتنفل لان الاقتداء بناء ووصف الفرضیة معدوم فی حق الامام فلا یتحقق البناء علی المعدوم، قال: ولا من یصلی فرضًا خلف من یصلی فرضًا آخر، لان الاقتداء شرکة وموافقةً فلا بد من الاتحاد.(هدایة ج:۱ ص: ۱۲۷)_

۳: د امام سره که په مسئله کې اختلاف پيدا شي، نو که د امام غلطي وي، نو هم په هغه پسې شوي لمونځونه صحيح دي هغه به نه راګرځول کيږي. له دې وجې چې کومو دوستانو تاته د لمانځه راګرځولو مشوره درکړې ده، هغه غلطه ده او ستاسو په هغه جومات کې لمونځ پريښودل او بل جومات ته تلل هم ددې غلطې مشورې نتيجه ده.له دې وجې دا هم غلطي ده،ستاسو لمونځ په دې امام صاحب پسې صحيح دی

که دمقتدي لمونځ خراب شو نو هغه هم ددې لمانځه په بل ځای کې امامت وکړي

سوال: په منی کې په خپله نژدې خيمه کې زه د لمانځه له پاره لاړم.هغه ځلک د طائف نه د ۵۳ميله، په فاصله باندې حج ته راغلي و،دهغه ماته وروسته علم وشو او د ماسپښين د لمانځه وخت و، هغوی لمونځ شروع کړ،زه هم په هغه کې شامل شوم.امام چې د قرآن کريم حافظ و، خو ږيره يې نه وه، هغه بالجهر قرات سره سورت فاتحه او سورت ولوستل.حال دا چې د وروسته نه يې څو ځله الله اکبر هم وويل، په دويم رکعت کې هم هغه شان سورت فاتحه اويوسورت ولوست،اوبيا د دوو رکعتونو نه وروسته سلام واړولو.ځکه چې هغه قصر هم کولو ما هم سلام واړولو، امام صاحب مې پوه کړ چې جناب په ماسپښين او مازديګر کې په جهر باندې قرات نه دي کول پکار.په هر حال زما په هغه لمانځه باندې تسلي ونه شوه، زه د مقامي يعني مکې مکرمې اوسيدونکی وم، له دې وجې ما د قصر لمونځ نه کاو،بلکې پوره به مې ادا کاو.له دې وجې خپلې خيمې ته راغلم، کوم ځای چې زما ملګري او ورونه د لمانځه له پاره تيار وو،هغوی ما ته د امامت له پاره وويل او ما د ماسپښين لمونځ ورکړ، مهرباني وکړئ دا وضاحت وکړئ چې ايا زما داعمل صحيح دی؟ خاص طور سره امامت کول مې څنګه و؟

جواب: د ورځې په لمونځونو کې جهري قرات صحيح نه دی[1] سره له دې چې تاسو د مقيم کېدو باوجود په دوه رکعتو باندې سلام واړو، نو ستاسوهغه لمونځ ونه شو. له دې وجې ستاسو امامت کول صحيح شو.

د حرمينو شريفينو د امام په اقتدا کې لمونځ نه کول لويه محرومي ده

سوال: زه يو څو ملګرو سره په مکه مکرمه کې کار کوم،اوس يو څو ورځو له پاره پاکستان ته راغلی يم.کله چې موږ په مکه مکرمه کې يو، نو زما په دوستانو کې څوك هم د حرمينو شريفينو د امام په اقتدا کې لمونځ نه کوي،ما څو ځله هغوی پوه کړل،هغوی وايي چې دا وهابيان دي، بيا به زه چوپ شوم،خودلته د راتلو نه وروسته هم د هغوی په عمل کې څه

[1] [ويجب الجهر فيما يجهر والمخافتة فيما يخافت هكذا في التبيين ويجهر بالقراءة في الفجر......ويخفيها الامام في الظهر والعصر.(عالمگيری ج:۱ ص: ۷۲)_

تبديلي رانغله. بلکې دلته هيڅ يو امام پسې هم لمونځ نه کوي. يو څو جوماتونه خاص دي او د هغو نه پرته نورو ټولو ته غيرمسلم وايي

جواب: حرمينو شريفينو ته رسيدلو نه وروسته هلته د جمعې لمانځه نه محرومه کېدل ډيره لويه محرومي ده[1] دحرمينو شريفينو امامان د حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله مقلدين دي.د سنتو تابعدار دي.اګرچې ځينې مسئلو کې ورسره زموږ اختلاف دی.خودا خبره نشته چې هغوی پسې دې لمونځ هم نه کيږي.

لمانځه کې د امام په سلګو سلګو ژړل

سوال: که امام صاحب د قرات دوران کې جهري لمونځ کې لومړي رکعت کې په سلګو سلګو په ژړا شي او ټول لمانځه کې همدا حالت وي(ښکاره خبره ده چې سترګې او پوزه به هم بهيږي)ايا په داسې صورت کې لمانځه کې څه قسمه نقصان واقع کيږي؟ژړلو او سلګو سره په قرات کې څو ځله رکاوټ جوړيږي،خود ضرروت په اندازه د قرات نه وروسته همدا اوږدوي،ايا په داسې موقع کې رکوع ته تلل غوره نه دي؟

جواب: لمانځه کې اواز سره ژړل او د آخرت ويره، يا د الله پاك دمحبت او د عظمت له وجې نه دي، نو له دې سره لمانځه کې خلل نه راځي او که د څه دنيوي حادثې له وجې نه وي يا د څه غم درد له وجې نه وي، نو له دې سره لمونځ ماتيږي.[2]

د زياتې تنخوا جعلي کاغذات جوړونکي امام او کميټي دواړه به ګناهګار وي

سوال: که د جومات امام صاحب ووايي چې زما تنخواه کمه ده(او حقيقت همدا دی)خو زما د ښځې او د بچو د ويزې معامله ده،له دې وجې نه د جومات کميټي والو ته پکار دي چې په کاغذاتو کې زما تنخوا زياته وليکي او يو سرټيفيکيټ جوړ کړي،ددې له پاره چې زما په ويزه کې اسانتيا وي،ددې مجبوري له وجې نه که د جومات کميټي سرټيفيکيټ جوړ کړي، نو امام صاحب يا کميټي والا به ګناهګار وي اوکه نه ؟

جواب: دا صحيح نه ده،ځکه چې که په کاغذاتو کې تنخوا زياته وليکل شي، نو امام صاحب ته به بيا دغه تنخوا هم ورکول کيږي او که زياته وليکل شي او بيا ورته کمه ورکول

---

[1] عن ابی هريرة قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم : صلوة فی مسجدی هذا خير من الف صلوة فيما سواه الا المسجد الحرام. متفق عليه.(مشکوة ص: ٦٧، باب المساجد ومواضع الصلاة).

[2] ولو ان فی صلاته او تاوه او ابکی فارتفع بکاؤه فحصل له حروف فان کان من ذکر الجنة او النار فصلاته تامة وان کان من وجع او مصيبة فسدت صلاته.(عالمگيری ج:١ ص: ١٠١).

کیږي، نو دا دروغ دي.[۱]

د پګړۍ نه پرته لمونځ کول

سوال: زموږ د محلې په جومات کې ځینې وخت کې امام صاحب د څه مجبوري له وجې نه لمونځ ونکړي، نو دهغه په غیرموجودیت کې موذن صاحب د پګړۍ نه پرته لمونځ کوي. یعنې یوازې خولۍ یې په سر وي، نو زه بلکې زموږ د محلې حضرات دا سوال کوو چې یوازې امام صاحب پګړۍ سره لمونځ کوي، نو دا لمونځ سنت مؤکد دی او که مقتدي پرته د پګړۍ نه لمونځ کوي. نو دا لمونځ سنت غیرمؤکد دی. یا دا هم سنت مؤکد دی؟

جواب: د پګړۍ نه پرته لمونځ کیږي، پګړۍ په سرول سنت مؤکدنه دي. بلکې سنت غیرمؤکد دي او دایوازې د لمانځه سنت نه دي، بلکې عام سنت دي.[۲]

که دا خیال وي چې زید امام دی او امام بکر وي نو د لمانځه حکم

سوال: په جومات کې دجمعې لمونځ کولو له پاره مستقل امام دی.خوکله کله زید او نور حضرات جمعه ورکوي،اواز کې یوشان والی وي،چې د هغه له وجې نه جمعه کې د شاملیدونکو کسانو خیال داوي چې خپل مستقل امام صاحب امامت کوي،د نیت کولو په وخت دې امام صاحب پسې نیت وکړي،خو د جمعې یا پوره لمونځ نه وروسته معلومه شي چې امامت بل چا وکړ.په داسې صورت کې ایا:

۱ جمعې سره لمونځ کیږي؟

۲: که ونه شو،نو اوس به څه کوو،ځکه چې داسې ډیرځله شوي دي،د هغه تعین هم ممکن نه دی؟ ۳: چې د جمعې نه وروسته معلومه شي، نو څه صورت به وي؟

۴: که د پوره لمونځ ختمیدو نه وروسته معلومه شي، نوباید څه وکړل شي؟

جواب: دانیت دې وکړي چې زه ددې امام صاحب په اقتداکې لمونځ کوم.لمونځ به وشي.[۳]

د بوډاوالي له وجې نه که امام صاحب د لمانځه په ارکانو کې تاخیر کوي نو مقتدیان څه وکړي؟

سوال: زموږ امام صاحب د څو کلنو نه موږ ته لمونځ راکوي او کافي کمزوری دی، کله چې

---

[۱] لان عين الكذب حرام. قلت: وهو الحق، قال تعالى: قتل الخراصون، وقال عليه الصلاة والسلام: الكذب مع الفجور وهما فى النار، ولم يتعين عين الكذب للنجاة وتحصيل المرام.(رد المحتار ج:٦ ص: ٤٢٧).

[۲] عن عبادة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : عليكم بالعمائم! فانها سيماء الملائكة وارخوها خلف ظهوركم . رواه البيهقى فى شعب الايمان .(مشكوة ص: ٣٧٧).

[۳] واذا اراد المقتدى تيسير الامر على نفسه ينبغى ان ينوى صلاة الامام والاقتداء به او ينوى ان يصلى مع الامام ما يصلى الامام كذا فى المحيط.(عالمگيرى ج:١ ص: ٦٧).

هغه سجدې ته ځي يا د سجدې نه پورته کيږي.نو الله اکبر وايي او مقتديان دريږي او هغه د مقتديانو نه وروسته دريږي، يعنې رکن ته اول مقتديان لاړ شي او بيا وروسته مولوي صاحب لاړ شي.نو ايا دې سره زموږ لمونځ کيږي؟حالانکې هغه ته ځوځله ويل شوي هم دي چې تاسو اوس استعفى ورکړئ او زموږ لمونځونه مه خرابوئ.خو هغه يې نه مني.ايا دې سره زموږ په لمونځونو باندې څه اثر پريوځي؟

جواب: د هغه د استعفى خبره ده.خو تاسو پوه شئ او هغه دې پوه شي. نبي کريم ﷺ به په اخري عمر کې فرمايل:اوس زه بوډا شوى يم.له دې وجې نه مانه مخکې مه ځئ. بلکې زه چې کله رکوع ته لاړ شم، نو بيا رکوع ته ځئ او چې کله سجدې ته لاړ شم، نو بيا سجدې ته ځئ"[۱] له دې وجې نه مقتديانو ته پکار دي چې د امام د حالت خيال ساتي.که امام بوډا دى يا کمزورى دى، نو د هغه نه وړاندې مه ځئ ځکه چې د امام نه مخکې تلل د وبال خبره ده.يو حديث مبارك کې دي:"ايا هغه سړى ددې نه نه ويريږي څوك چې د خپل امام نه وړاندې ځي چې دده سر د خره د سر سره بدل کړل شي".[۲]

❖ مقتدي ❖

په دويم ځل امامت کونکي پسې اقتداء کول

سوال: موږ سره په رياض کې عرب امام صاحب د ماسپښين جمعه ورکوي،که يو سړى د جمعې نه پاتې شي، نوپه دويم ځل د هغهٔ سره امام جوړ شي او جمعه ورکوي چې په دې طريقې سره د امام نيت د نفلو وي او مقتدي فرض کوي،پوښتنه داده چې کله د امام نيت د نفلو وي او د مقتدي د فرضو، نو جمعه کيږي اوکه نه؟ صحابه کرامو به د رسول الله ﷺ په اقتداء کې د لمانځه د ادا کولو نه وروسته په محلو کې د جمعې امامت کولو اوکه نه؟

جواب: د احنافو په نزد د فرض کونکي اقتداء په نفل کونکي پسې صحيح نه ده[۳]،د ځينې

---

[۱] عن ابى هريرة رضى الله عنه قال : سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: يايها الناس انى قد بدنت فلا تسبقونى بالركوع والسجود، ولكن اسبقكم انكم تدركون ما فاتكم. لم يضبط عن شيوخنا بدنت او بدنت واختار ابوعبيد بدنت بالشديد ونصب الدال يعنى كبرت ومن قال بدنت يرفع الدال فانه اراد كثير اللحم. (السنن الكبرى للبيهقى ج:۲ ص: ۹۳، باب يركع بركوع الامام ويرفع برفعه ولا يسبقه وكذلك فى السجود وغيره).

[۲] عن ابى هريرة رضى الله عنه قال: قال محمد صلى الله عليه وسلم : اما يخشى الذى يرفع راسه قبل الامام ان يحول الله راسه من راس حمار.(صحيح مسلم ج:۱ ص: ۱۸۲، مشكوة ج:۱ ص: ۱۰۲).

[۳] ولا(يصح) اقتداء المفترض بالمتنفل(هندية ص:۸٦،الفصل الثالث فى بيان من يصلح اماما لغيره،باب الامامة)

نورو امامانو په نزد جائز ده،[۱] هغه سړی به د خپل مسلک مطابق په دویم خل لمونځ ورکوي.
خویوحنفي ته دهغه د دویم ځل امامت اقتداء کول صحیح نه دي. که نه دهغه لمونځ به نه کیږي[۲]

ایایوازې په تکبر تحریمه سره مقتدي جمعه کې شریکشو؟

سوال: که مقتدي تکبیرتحریمه وویل،خو په قعده کې امام سره د شاملیدو له پاره یې ګونډې په ځمکه کیښودې چې امام سلام وګرځاو. نو ایا مقتدي په جمعه کې شریک شو؟

جواب: که د سلام نه مخکې یې تکبیرتحریمه ویلې وي. نو امام سره شریك شو [۳]

که امام په پورته منزل باندې وي نو د لاندې منزل والا لمونځ

سوال: زموږ د محلې جومات جوړیږي،دجومات یوه برخه جوړه شوې ده،کومه چې په دوه منزلو باندې مشتمله ده،د جومات د جوړیدلو دوران کې هم په هغه ځای باندې باقاعده لمونځ کیږي،دجمعې لمونځ داسې کیږي چې پیش امام صاحب په پورتني منزل باندې وي اومقتدیان په پورته او لاندې دواړو ځایونو کې جمعه ادا کوي. په دواړه ځایونو کې د لاؤډ سپیکر په ذریعه د امام صاحب د اواز پیژندلو انتظام و،مسئله داده چې د څو حضراتو وینا ده چې په لاندې منزل کې د لمونځ کونکو لمونځ نه کیږي، د امام مقتدي ته مخامخ کېدل ضروري دي او دا هم چې پیش امام په کوم ځای ولاړ دی او مقتدي چې په کوم ځای ولاړ دی دهغه د اوچت والي حد مقرر دی، ستاسو نه ددې مسئلې د پوښتنه کونکی یم، ایا هغه لمونځونه کوم چې موږ په لاندې منزل کې له جمعې سره ادا کړي دي وشو اوکه نه،نوبه دویم ځل ادا کول پکار دي؟ امید دی چې تاسو به تفصیل سره جواب راکولو سره د شکریه موقع راکړئ.

جواب: که په پورته منزل کې په امام پسې څو مقتدیان هم وي لکه څنګه چې په سوال کې ذکر دي، نو په لاندې برخه کې د لمونځ کونکو اقتداء صحیح ده[۴] خو په لاندې منزل پرېښودلو

۱]واکتفی الشافعیة باشتراط توافق نظم صلاتی الامام والمقتدی .....وتصح قدوة المؤدی بالقاضی (الاداء خلف القضاء) وعکسه والمفترض بالمتنفل وعکسه .....الخ.(الفقه الاسلامی وادلته ج:۲ ص: ۲۲۷، اتحاد صلوة الامام والماموم، طبع بیروت)۔

۲]ولا مفترض بمتنفل وبمفترض فرضًا آخر لان اتحاد الصلوة شرط عندنا.(الدرالمختارمع الردج:۱ص: ۵۷۹)

۳] وان ادرک الامام فی القعدة لایأتی بالثناء بل یکبرللافتتاح ثم للانحطاط ثم یقعد هکذا فی البحر الرائق. (ج:۱ ص: ۹۱)

۴]ویکره ان یکون الامام وحده علی الدکان وکذا القلب فی ظاهر الروایة کذا فی الهدایة وان کان بعض القوم معه فالاصح انه لا یکره، کذا فی محیط السرخسی.(فتاوی عالمگیری ج:۱ ص: ۱۰۸، الباب السابع، الفصل الثانی فیما یکره فی الصلاة وما لا یکره)۔

سره د امام صاحب په پورتني منزل کې امامت کول مکروه دي.[۱]

سوال: دلته یو مسئله ده هغه داده چې جومات دوه منزله جوړوو .څکه چې ځای وړوکی دی،د جمعې په لمانځه کې د لمونځ کونکو د ډیر والي له وجې نه او ماشومانو ته د قرآن کریم د تعلیم له وجې د دویم منزل پروګرام هم دی،څو ملګري دا وايي چې په لومړي منزل کې دې د محراب ځای ګیلري وساتل شي چې د امام صاحب اواز پورته ځي هسې لاؤډ سپیکري به هم ولګول شي که بجلي نه وي. نو د اواز مسئله به هلته پیدا کیږي او وايي که ګیلري پریږنبودل شوه. نو پورته منزل بیل شو او لاندې بیل شو. ددې مسئلې شرعي حل بیان کړئ مهرباني به وي ګیلري پریښودل ضروري دي اوکه نه؟

جواب: که پورتنو خلکوته د امام صاحب د انتقالاتو(یعنې هغه تکبیرونه کوم د یو رکن نه بل ته د منتقل کېدو له پاره ویل شي)علم وي که د لاؤډ سپیکر په ذریعه وي یا د مکبر په ذریعه وي. نو د پورتنوخلکو اقتداء صحیح ده که ګیلري وي اوکه نه وي هسې د ګیلري تجویز هم ډیر مناسب دی.[۲]

د امام سره دارکا نو ادا کول

سوال: د جمعې دلمانځه دوران کې امام چې کله رکوع او سجده کوي، ایا له ده سره یا وروسته سجدې ته لاړ شي. بیا مقتدي ته سجده کول پکار دي یا د امام سره سره؟

جواب: د مقتدي رکوع او سجده او قومه او جلسه د امام سره پکار دي په دې شرط چې مقتدي د امام د رکن د شروع کولو نه وروسته هغه رکن شروع کړي او دا هم چې د امام نه د مخکې کېدو ویره نه وي،که د امام د پورته کېدو، کیناستو رفتار سست وي او دا ویره وي چې ددې امام سره یې انتقال شروع کړي، نو د امام نه به مخکې شي، نو په دې حالت کې لږ ایساریدل پکار دي.[۳]

مقتدي دې ټول ارکان د امام په تابعداري کې ادا کوي

سوال: حضرت! ما ته د سعودي عرب نه یو میلمه راغلی و، هغه یو ورځ ماسره لمانځه ته لاړ، د لمانځه نه وروسته یې وفرمایل چې دلته دجمعې په لمونځ کې یوه خطا شوې ده. د لمانځه

۱] ولو صلى على رفوف المسجد ان وجد فى صحنه مكانًا كره كقيامه فى صف خلف صف فيه فرجة. وفى الشامية: قوله كره لان فيه تركا لاكمال الصفوف .(الدر المختار مع الردالمحتار ج:۱ ص: ۵۷۰ مطلب فى الكلام على الصف الاول)۔

۲] ولو قام على سطح المسجد واقتدى بامام فى المسجد ان كان للسطح باب فى المسجد ولا يشتبه عليه حال الامام يصح الاقتداء .(هندية ج:۱ ص: ۸۸، الفصل الرابع فى بيان ما يمنع صحة الاقتداء وما لا يمنع)۔

۳] والحاصل ان متابعة الامام فى الفرائض والواجبات من غير تاخير واجبة.(شامى ص: ۴۷۰)۔

حکم دا دی چې کله امام الله اکبر ووایي. نو له دې نه وروسته دې مقتدي الله اکبر وایي ددې له پاره یې وویل چې ضروري ده چې مقتدي هم خیال وکړي او امام هم لفظ د الله یا اکبر نه راکاږي، بلکې ډیر په تیزه دې الله اکبر وایي. همدغه شان یې دا هم وفرمایل چې حکم دادی چې کله امام رکوع ته لاړ شي یا سجدې ته لاړ شي. یا د سجدې نه پورته شي.نو تر څو چې امام الله اکبر پوره نه وي ویلی تر هغه وخته پورې دې مقتدي الله اکبر نه شروع کوي او نه دې رکوع ته یا سجدې ته ځي او نه دې د سجدې نه پورته کیږي.همدغه شان یې دا وفرمایل چې هم دا حکم د رکوع نه د پورته کېدودی هم په دې طریقه یې وفرمایل چې هم دا حکم د سلام د اړولو هم دی،حضرت! تاسو نه پوښتنه داده چې دا خبره د کوم ځای پورې صحیح ده؟ او که صحیح وي، نو زموږ په جوماتونو کې، خو اکثر د ډیرو مقتدیانو لمونځونه ددې حکم نه ډیر مختلف دي،چې د هغه لومړی وجه د خلکو نا خبري ده.او دویمه اهمه وجه داده چې زموږ په جوماتونو کې اکثرامامان حضرات په هررکن کې الله اکبریاسمع الله لمن حمده یا سلام کافي اوږد راکاږي.

جواب: ستاسو د سعودي دوست خبره تریوه حده پورې صحیح ده چې د مقتدي ارکان د امام نه مخکې ادا کول نه دي پکار او بیا په دې کې څه تفصیل دی او هغه دا چې د امام تحریمه لومړی تکبیر نه مخکې مقتدي تحریمه ختم کړي، نو اقتداء صحیح نه شوه. له دې وجې د مقتدي لمونځ ونه شو او په نورو ارکانو کې یې لمونځ فاسد نه دی، خو سخت ګناه ګار به وي،مثلا که رکوع سجده ته لومړي لاړو او امام هم د هغه سره رکوع سجدې ته تللو سره شریک شو، نو د مقتدي لمونځ خو وشو، خو ګناه ګار شو خلاصه دا چې د امام نه مخکې کېدل جائز نه دي او په ځینې صورتونو کې په دې سره لمونځ فاسدیږي.[1]

که مقتدي د رکوع نه وروسته راورسیږي نو ایا هغه امام سره لمانځه کې شریک شي؟

سوال: که یو سړی لمانځه له پاره لاړ شي،اودس وکړي او بیا د اودس کولو نه وروسته چې کله دننه لاړ، امام صاحب رکوع ته تللی وي. نو موږ ته څه کول پکار دي؟ ځکه چې هرکله رکوع کوي، نو بیا خو صحیح ده،خو که هغه د رکوع نه پورته شي او سجدې ته لاړ شي. نو څه وکړو؟رکوع کولو نه وروسته سجدې ته لاړ شو یا د دویم رکعت انتظار وکړو؟

جواب: وروسته راتلونکی سړی دې تکبیرتحریمه ووایي او بیا چې په کوم حالت کې امام ومومي، نو هغه سره دې شریك شي،که امام سره رکوع کې شریك شو. نو رکعت یې وموند.

---

[1] واجمعوا على ان المقتدى لو فرغ من قوله الله قبل فراغ الامام من ذلك لا يكون شارعًا فى الصلاة فى اظهر الروايات كذا فى الخلاصة.(الهندية ج:۱ ص: ۶۹، الباب الرابع) وايضًا: ويكره للماموم ان يسبق الامام بالركوع والسجود وان يرفع راسه فيهما قبل الامام كذا فى محيط السرخسى.(الهندية ج:۱ ص: ۱۰۷، الباب الرابع ، الفصل الثانى فيما يكره فى الصلاة وما لا يكره)۔

که نه دا رکعت دې نه شماروي [۱]

که امام د رکوع نه وروسته ومومي نو ایا شامل شي یا انتظار وکړي؟

سوال: که یو سړی امام د قیام یا د رکوع نه پرته حالت کې ومومي، نو څه وکړي؟ایا په لمانځه کې شامل شي یا د قیام(یعني د دویم رکعت)انتظار وکړي؟ځکه چې خینې خلک لیدل کیږي چې که د هغوی نه رکعت لاړ شي، نو هغوی دریږي او انتظار کوي، ددې له پاره چې امام د دویم رکعت له پاره ودریږي، نو موږ به ورسره شامل شو.

جواب: په کوم حالت کې چې امام ومومي، نو هغه سره دې شریك شي انتظار دې نه کوي [۲]

که امام په رکوع، سجده وغیره کې وي نو امام سره شریکیدل

سوال: که امام رکوع،سجده،التحیات یا بل یو عمل کې وي، نو تاخیر سره راتلونکی سړی څه وکړي؟ ایا ینت کولو نه وروسته د **الله اکبر** ویلو نه وروسته د قیام کولو نه پرته سجده کې شامل شي یا قیام هم وکړي؟

جواب: په ولاړه دې تکبیرتحریمه ووایي او امام سره دې شریك شي. [۳]

د امام حرکت لیدو سره د تکبیر ویلو نه مخکې رکوع او سجدې ته د تلونکي لمونځ

سوال: د جمعې دوران کې اولني صف کې یو کس د امام صاحب د الله اکبر ویلو نه مخکې یوازې د امام صاحب حرکت لیدو سره رکوع یا سجدې ته ځي، ایا یوازې د امام صاحب حرکت لیدو سره رکوع یا سجدې ته تلل صحیح دي؟یا د امام صاحب د **الله اکبر** اواز اوریدلو نه وروسته تلل پکار دي؟مهرباني وکړئ اوجواب خامخا راکړئ.

جواب: د امام د تکبیر انتظار پکار ده،خو که د امام د منتقل کیدو سره منتقل شي، نو بیا هم جائز ده. په دې شرط چې د امام نه وړاندې نه شي. [۴]

---

[۱] لو ادرک الامام وهو راکع فکبر قائمًا وهو یرید تکبیرة الرکوع جازت صلاته.....الخ.(عالمگیری ج:۱ ص: ٦٩، الباب الرابع فی صفة الصلاة).

[۲] وان ادرک الامام فی الرکوع والسجود یتحری ان کان اکبر رایه انه لو اتی به (الثناء) ادرکه فی شیء من الرکوع او السجود یاتی به قائمًا والا یتابع الامام ولا یاتی به.....الخ.(عالمگیری ج:۱ ص: ۹۱، الفصل السابع فی المسبوق واللاحق).

[۳] لو ادرک الامام وهو راکع فکبر قائمًا.(عالمگیری ج:۱ ص: ٦٩، الباب السابع فی صفة الصلاة).

[۴] ویکره للماموم ان یسبق الامام بالرکوع والسجود وان یرفع راسه فیهما قبل الامام.(عالمگیری ج:۱ ص: ۱۰۷، الباب الرابع، الفصل الثانی).

مقتدي به تکبير کله وايي؟

سوال: مقتدي امام پسې لمونځ څنګه ادا کړي؟ د امام د خولې نه چې الله ووځي فورا عمل شروع کړي؟

جواب: د امام د تکبيرشروع کولونه وروسته تاسو تکبير ويلى شئ، خو ددې خيال دې وساتل شي چې تکبير د امام نه مخکې شروع نه کړل شي او د امام نه مخکې ختم هم نه کړل شي [۱]

مقتدي ته تکبير په مزه ويل پکار دي

سوال: د سړيو له پاره په فرض رکعتونو کې تکبيرونه او ثناء(د ماسپښين او د ماز ديګر نه پرته)په اوچت اواز د لوستلو حکم دى، په جومات کې هم(د جمعې نه پرته ايا داسې کول پکار دي؟ عموما خلک په جوماتونو کې فرائض هم په چوپتياسره ادا کوي ايا دا صحيح ده؟

جواب: په اوچت اواز سره تکبير امام وايي، مقتدي او ځانته لمونځ کونکي ته تکبيرونه په مزه ويل پکار دي او ثناء خو به امام هم په مزه وايي [۲]

مقتدي به تکبيرونه څومره اواز سره وايي

سوال: ځينې خلک دجمعې لمونځ کولو سره د امام تکبيرونو سره تکبيرونه وايي او وايي يې هم تيز، يعني د هغه سره ولاړ دوه درې کسان د هغه اوازونه اوريدلى او په هغه پوهيدلى شي، ايا د هغوى لمونځونه کيږي؟

جواب: مقتدي ته تکبيرونه په مزه ويل پکار دي او د ورو مطلب دادى چې اواز يوازې د هغه غوږونو ته ورسيږي. [۳]

د امام په اقتداء کې ثنا ويل ترکوم وخت پورې پکار دي؟

سوال: په سري او جهري لمونځونو کې مقتدي ته ثناء څنګه ادا کول پکار دي، يعني په سري لمونځ کې څو پورې او په جهري لمونځ کې څو پورې لوستل پکار دي؟

۱] ويحرم مقارنا التحريمة الامام عند ابى حنيفة رحمه الله تعالى وعندهما بعد ما احرم والفتوى على قولهما هكذا فى المعدن......والمقارنة......ان يوصل المقتدى همزة الله براء اكبر كذا فى المصفى فى باب الحنفية. (الهندية ج:۱ ص: ۶۸_ ۶۹، الباب الرابع ، فى صفة الصلاة)_

۲] (وجهر الامام بالتكبير) بقدر حاجته للاعلام بالدخول والاستقلال وكذا بالتسميع والسلام، واما المؤتم والمنفرد فيسمع نفسه (والثناء والتعوذ والتسمية والتامين) وكونهن سرا.(درمختار مع الشامى ج:۱ ص: ۴۷۵، باب صفة الصلاة ، مطلب فى التبليغ خلف الامام)_

۳] (وجهر الامام بالتكبير) ....واما المؤتم والمنفرد فيسمع نفسه.(درمختار مع الشامى ج:۱ ص: ۴۷۵ ، باب صفة الصلاة ، مطلب فى قولهم الاساءة دون الكراهة)_

جواب: کله چې امام قرات شروع کړي، نو ثناء پرېښودل پکار دي او په سري لمونځ کې چې ترڅو دا خيال وي چې امام قرات شروع کړی نه دی ثناء دې وايي له دې نه وروسته دې پرېږدي.[۱]

دمقتدي د ثنا په مينځ کې که امام فاتحه شروع کړي نو مقتدي دې چپ شي

سوال: دامام د سورت فاتحې دشروع کولو نه مخکې ما ثناء لوستل شروع کړل او په مينځ کې امام سورت فاتحه شروع کړه، په دې وخت پاتې ثناء اوتعوذ اوتسميه لوستل جائز دي او که نه؟

جواب: کله چې امام قرات شروع کړي، نو ثناء لوستل دې هم هلته بند کړي، تعوذ او تسميه د قرات تابع دي، له دې وجې به هغه ځانته لمونځ کونکې وايي مقتدي نه. مقتدي دې يوازې ثناء ويلونه وروسته چپ شي.[۲]

ايا د امام د قرات په وخت مقتدي ثناء لوستلی شي؟

سوال: يو مقتدي هغه وخت د امام په اقتدا کې شامل شي کله چې امام د سورة الفاتحه قرات شروع کړی وي، نو ايا مقتدي د قرات دوران کې ثناء لوستلی شي او که نه ؟

جواب: چې کله امام قرات شروع کړي، نو مقتدي ته د ثنا ويلو اجازه نشته.[۳]

مقتدي به يوازې ثناء لولي، تعوذ او تسميه نه

سوال: امام سره د شروع کولو نه مخکې مقتدي ته ثنا، تعوذ او تسميه درې واړه کلمات ادا کول پکار دي ،که يوازې ثنا او تعوذ لوستل پکار دي لکه څنګه چې د جنازې په لمانځه کې يوازې ثنا او تعوذ لوستل کيږي؟

جواب: تعوذ اوتسميه د قرات له پاره دي،امام او ځانته لمونځ کوونکي له پاره د ثنا نه وروسته قرات هم کول دي، نو له دې وجې نه هغه به تعوذ او تسميه هم لولي او مقتدي ته قرات کول نشته، نو له دې وجې نه به مقتدي يوازې ثنا لولي،تعوذ او تسميه نه.[۴]

۱] ولو ادرک الامام بعد ما اشتغل بالقراءة قال ابن الفضل لا يثنى، وقال غيره يثنى، وينبغى التفصيل ان كان الامام يجهر لا يثنى وان كان يسر يثنى وهو مختار شيخ الاسلام.(الشامية ج:۱ ص: ۴۸۸، مطلب فى بيان المواتر والشاذة)_

۲] ولو ادرک الامام بعدما اشتغل بالقرآن قال ابن الفضل لا يثنى، وقال غيره يثنى، وينبغى. التفصيل ان كان الامام يجهر لا يثنى وان كان يسر يثنى وهو مختار شيخ الاسلام.(الشامية ج:۱ ص: ۴۸۸، مطلب فى بيان المواتر والشاذة)_

۳] واذا ادرک الامام وهو يجهر بالقراءة لا ياتى بالثناء بل يستمع وينصت للآية. (حلبى كبير ص: ۳۰۴، طبع سهيل اكيدمى لاهور).

۴] فاستعذ بالله الآية فلا ياتى به المقتدى لانه لا يقرا بخلاف الامام والمنفرد. (حلبى كبير ج:۱ ص: ۳۰۴).

ایا د رفع یدین کوونکي مقلد امام په اقتدا کې رفع یدین وکړل شي؟

سوال: که کله داسې امام پسې لمونځ کول راشي چې شافعي.مالکي یا حنبلي مسلك والا وي، نو ایا د امام په اتباع کولو کې ماته هم رفع یدین کول پکار دي؟که د اتباع کولوله وجې نه رفع یدین وکړم. نو ایا دا جائز دي؟حالانکې زه په حنفي مسلك باندې یم

جواب: تاسو په خپل مسلك باندې عمل کوئ او هغوی به په خپل مسلك باندې عمل کوي [۱]

د حنفي عالم په اقتدا کې د حنبلي مسلك والا وتر کول

سوال: زموږ یو خپلوان په دوحه قطر کې د یوجومات امام دی.د هغه خای خلک مسلکا حنبلیان دي او زموږ خپلوان حنفي مسلك سره تعلق لري.هلته وتر یو رکعت کیږي .ځکه چې د حنبلیانو په نزد وتر یو رکعت ده او امام حنفي دی، نو ایا دا لمونځ کیږي اوکه نه ؟که کیږي. نو د امام یا د مقتدیانو؟یا د دواړو؟

جواب: د فقه حنفي په نزد یو رکعت لمونځ نه کیږي.له دې وجې نه حنفي په یو رکعت وترو کې امام جوړول جائز نه دي،د حنفي امام اوحنفي مقتدیانو لمونځ به نه کیږي او هرکله چې د امام لمونځ ونه شو. نو د حنبلي مقتدیانو لمونځ جائز دی اوکه نه دی؟دا تحقیق دې د حنبلي عالمانو نه وکړل شي،ماته د دې تحقیق نشته.[۲]

شافعي امام چې کله د سهار په لمانځه کې قنوت وایي نو حنفي مقتدي دې چپ شي

سوال: اکثر د سهار د لمانځه په دویم رکعت کې شافعي امام لاس اوچتولو سره قنوت وایي چې په هغه کې پنځه یا اوو منټه لګیږي. په حیثیت د حنفي مسلک ماته لاس اوچتولو سره دعا کول پکار دي که چپ دریدل پکار دي؟ که د امام په اتباع کې د لاس اوچتولو سره دعا وکړل شي، نو په دې کې څه ګناه شته؟ لمونځ وشو که په دویم ځل کول غواړي؟

جواب: زموږ په نزد دسهار قنوت په شرع کې نشته له دې وجې دې په دې کې د شافعي امام متابعت نه کوي، بلکې چپ دې ولاړ وي.[۳]

---

[۱] واماالاقتداء بالمخالف فی الفروع کالشافعي فیجوز مالم یعلم منه ما یفسد الصلاة علی اعتقاد المقتدی علیه الاجماع. (حلبی کبیر ص: ۵۱۶).

[۲] قال فی البحر وهو صریح فی ان صلاة رکعة فقط باطلة.(شامی ج:۲ ص: ۵۳).

[۳] وان قنت الامام فی صلاة الفجر یسکت من خلفه کذا فی الهدایة ویقف قائمًا وهو الصحیح کذا فی النهایة. (الهندیة ج:۱ ص: ۱۱۱، الباب الثامن فی صلاة الوتر).

د سهار د لمونځ په دویم رکعت کې په قنوت لوستونکي امام پسې څه وکړل شي؟

سوال: دلته یعنې په ابوظبی کې په اکثرو جوماتونو کې ګورو چې د سهار لمانځه په دوران کې دویم رکعت کې د رکوع نه وروسته او د سجدې نه مخکې په ولاړه او لاس اوچتولو سره امام په اوچت اواز سره اوږده دعا کوي او د هغه سره ټول لمونځ کونکي هم دعا کوي او امین وایي، داسې خلک هم شته چې په هغوی کې زه هم شامل یم چې د امام سره د دعا لوستلو په ځای چپ ولاړ وي او کله چې امام دعا ختمولو سره سجدې ته ځي، نو ورسره سجدې ته ځي د قران کریم او احادیثو په رڼا کې د دې دعا متعلق په تفصیل سره جواب راکړئ.

جواب: دې ته دعاء قنوت وایي چې هغه شافعي حضرات همیشه د سهار په لمانځه کې لولي، زموږ په نزد د سهار په لمانځه کې قنوت همیشه نه لوستل کیږي، بلکې کله چې مسلمانانو ته یو اهمه حادثه پېښه شي، نو قنوت نازله لوستل کیږي ،ځکه چې د رسول اللهﷺنه په دې موقعو باندې دعا لوستل ثابت دي، وروسته که امام، شافعي المذهب وي او هغه د سهار په لمانځه کې همیشه قنوت وایي، نو د هغه قنوت لوستلو دوران کې لاس پریښودلو سره چپ دریدل پکار دي او کله چې امام سجدې ته لاړ شي، نو د هغه سره دې سجدې ته لاړ شي.[1]

په سري لمونځونو به مقتدي د ثناء نه وروسته څه کوي؟

سوال: په فرض لمانځه کې په امام پسې د لمونځ کولو دوران کې سهار، ماښام او ماسخوتن کې، خو امام صاحب په اوچت اواز سره قرات کوي، خو ماسپښین او مازدیګر کې اوچت اواز سره قرات نه کوي، ایا مقتدي ته په دې دواړو لمونځونو کې د ثناء نه وروسته څه لوستل پکار دي، که په چپوالي سره د امام اقتداء کول پکار دي؟

جواب: د جمعې په لمانځه کې قرات د امام وظیفه ده مقتدي ته دچوپوالي حکم دی. له دې وجې که د ورځې لمونځ وي یا د شپې مقتدي ته د ثناء نه وروسته چپ اوسیدل پکار دي[2] او په زړه کې دې سورت فاتحه ولولي، خو په ژبې سره دې الفاظ نه ادا کوي.

۱] وان قنت الامام فی صلاة الفجر یسکت من خلفه کذا فی الهدایة ویقف قائمًا وهو الصحیح کذا فی النهایة.(الهندیة ج:۱ ص: ۱۱۱، الباب الثامن فی صلاة الوتر)ـ

۲](قوله وانصات المقتدی) فلو قرا خلف امامه کره تحریما ولا تفسد فی الاصح.(الشامیة ج:۱ ص: ۴۷۰)، وایضا مؤطا امام محمد (ص: ۹۷)، وایضا وتکره القراءة خلف الامام عند ابی حنیفة وابی یوسف رحمهما الله تعالی هکذا فی الهدایة .(الهندیة ج:۱ص: ۱۰۹،الباب السابع، الفصل الثانی فیما یکره فی الصلاة وما لا یکره)

په امام پسې د قرات په معامله کې د خپل مسلک مطابق عمل کوئ

سوال: ځينې خلک په يو پيش امام پسې لمونځ ادا کوي سورتونه خپله هم لولي ايا دا مناسب دی؟

جواب: د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد د امام قرات د مقتدي له پاره کافي دی په امام پسې سورتونه لوستل صحيح نه دي او اهل حديث حضرات په امام پسې يوازې د فاتحه لوستلو حکم کوي، تاسو چې د کوم مسلک يئ په هغه عمل کوئ په اختلافي مسئلو کې د بل سره اينښتل نه دي پکار.[۱]

مقتدي ته د مازديګر او ماسپښين په لمانځه د سورت سوچ کول غوره دي

سوال: که له امام سره د ماسپښين يا مازديګر څلور رکعته کوو، نو ايا په اول او دويم رکعت کې په قيام کې مونږ الحمد شريف او څه سورت په ذهن کې لوستلی شو او که نه، چې په زړه کې دنياوي خيالات رانشي؟

جواب: په زړه کې سوچ ضرور کول پکار دي، خو په ژبې سره دې الفاظ نه ادا کوي.

ايا په سري لمونځونو کې مقتدي په زړه کې سورت لوستلی شي؟

سوال: په کومو لمونځونو کې چې(ماسپښين.مازديګر)اوچت اواز سره قراءت نه وي.دې لمونځ کې مقتدي په زړه کې قرات يعني الحمد شريف.قل هو شريف وغيره لوستلی شي او که نه ؟ما له چا نه پوښتنه وکړه، نو هغه وويل چې ويل پکار نه دي، حالانکې هغه دا چېرته لوستلي و چې که څوك وايي، نو ويلی شي او که نه وايي، نو څه حرج نشته.

جواب: د ژبې خوزولو نه پرته دې په زړه کې لولي.[۲]

مقتدي په رکوع او سجده کې څو ځله تسبيح ولولي؟

سوال: مقتدي په رکوع او سجده کې چې ورته څومره وخت ملاويږي هغومره تسبيح ويلی شي يا مقرر حد درې ځله دې وايي؟ داسې هم کېدای شي چې په رکوع کې پنځه ځله تسبيح په لومړۍ سجده کې اووه ځله او په دويمه سجده کې د امام صاحب د زر وچتيدلو په وجه يوازې درې ځله تسبيح ويلی شو ايا په دې طريقې سره څه قباحت شته؟

۱] عن جابر بن عبدالله ان النبى صلى الله عليه وسلم قال: من كان له امام فقراءة الامام له قراءة.(طحطاوی ج:۱ ص: ۱۵۹، باب القراءة خلف الامام ، طبع مكتبه حقانيه)_

۲] ځکه چه دا قرأت نه دې، قرأت لپاره په ژبه الفاظ اداکول ضروری دی.(واما حد القراءة فنقول تصحيح الحروف امر لا بد منه فان صح الحروف بلسانه ولو يسمع نفسه لا يجوز وبه اخذ عامة المشائخ هكذا فى المحيط .(عالمگيرى ج: ۱ ص: ۶۹، الفصل الاول فى فرائض الصلاة).

جواب: درې ځله د کمال ادنی درجه ده، له دې نه زیات چې څومره لوستلی شي. هغه دې ولولي، خو د طاق رعایت دې ساتي.[۱]

ربنا لک الحمد په ځای سمع الله لمن حمده ویلو سره څه خرابي نه راځي

سوال: بکر په غلطي سره په لومړي رکعت کې یو ځل د امام سره سمع الله لمن حمده ووایي د ربنا لک الحمد په ځای او بیا یې ربنا لک الحمد هم ووایي، نو ایا په لمانځه کې څه خرابي راغله؟

جواب: هیڅ خرابي نه راځي.

د امام نه مخکې سجده کول

سوال: ځینې مقتدیان د امام صاحب نه مخکې رکوع اوسجدې ته ځي، نوپوښتنه داده چې ایا ددې خلکو لمونځ کیږي ،کوم چې د امام نه مخکې رکوع اوسجده کوي؟

جواب: د مقتدي د امام نه مخکې رکوع سجده کول ډیر زیات غلط حرکت دی د صحیحینو په حدیث کې دي چې کوم سړی د امام نه مخکې سر اوچتوي ایا هغه ددې خبرې نه ویریږي چې الله پاک د هغه سر د خره په سر بدل کړي؟ (مشکواة ص۱۰۲)[۲]

کوم انسان چې د امام نه مخکې رکوع اوسجدې ته لاړ شي، که له امام سره په رکوع سجده کې شریک شي، نو د هغه لمونځ به وشي، خو که د امام د رکوع او سجدې د راپورته کېدو نه مخکې اوچت شي، نو د هغه لمونځ نه کیږي، خو دا چې د امام سره یا د امام نه وروسته په دویم ځل رکوع یا سجده وکړي.[۳]

ایا د امام نه مخکې رکوع او سجدې ته تلل ګناه ده؟

سوال: ایا د لمانځه دوران کې د امام صاحب نه مخکې رکوع او سجدې ته تلل ګناه ده؟

جواب: هو! مقتدي ته په هیڅ یو رکن کې د امام نه مخکې والی جائز نه دی، په حدیث شریف کې دي چې کوم کس د امام نه مخکې د رکوع یا د سجدې نه سر اوچتوي، ایا هغه ددې خبرې نه نه ویریږي چې الله پاك دده سر د خره دسر سره بدل کړي.[۴]

۱] واختلف فی معنی قوله ذلک ادناه فقیل ادنی کمال السنة وقیل ادنی کمال التسبیح وقیل ادنی القول المسنون والاول اوجه وعلی کل فالزیادة علی الثلاث افضل ویستحب ان یختم علی وتر خمس او سبع او تسع لحدیث الصحیحین : ان الله وتر یحب الوتر.(البحر الرائق ج:۱ ص: ۳۳۵)_

۲] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : اما یخشی الذی یرفع راسه قبل الامام ان یحول الله راسه راس حمار.متفق علیه.(مشکوة ص: ۱۰۲)_

۳] فلو لم یرکع اصلاً او رکع ورفع قبل ان یرکع امامه ولم یعده معه او بعده بطلت صلاته.(الشامیة ج:۱ ص: ۴۷۱،طبع ایچ ایم سعید ، مطلب مهم فی تحقیق متابعة الامام)_

۴] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

له امام نه مخکې بل رکن ته د تلونکي سړي شرعي حکم

سوال: نن سبا په هرکار کې تیزرفتاري زموږ عادت جوړ شوی دی. تردې چې د دین د ارکانو په ادا کولو کې هم موږ پرته دضرورت نه تیزي کوو. دمثال په طور لمانځه کې امام د رکوع نه سر پورته کړی نه وي چې موږ نیغ شوي یو. امام سجده کې وي چې موږ سر پورته کړی وي. اکثر خو امام سلام هم پوره ګرځولی نه وي چې موږ سلام ګرځولی وي او د لمانځه نه مو ځان فارغ کړی وي. همداسې څه صورت حال یو ملګري ته پیښ شو چې وړاندې ورځو کې د لمانځه دوران کې په دویمه سجده کې یې دامام نه مخکې سرپورته کړ. تاسووایئ چې دغه شان لمونځ صحیح شو؟

جواب: قصداً د امام نه مخکې پاڅیدل لویه ګناه ده[۱]. خوکه د غلطي له وجې نه اوچت شي، نو ګناه نشته. بیا د پاڅیدو نه وروسته که بل رکن کې امام سره شریك شي. نو بیا هم لمونځ صحیح شو او که د امام نه مخکې یې بل رکن هم ختم کړ، نو دده لمونځ فاسد شو. مثلاً: یو سړی د امام نه مخکې د سجدې نه سر پورته کړ او دویم رکعت له پاره پورته شو، امام دویم رکعت له پاره لا پورته شوی نه وي چې دی رکوع ته لاړ، نو دده لمونځ فاسد شو او که د دویم رکعت په قیام کې امام سره یوځای شو. نو لمونځ یې صحیح شو.[۲]

د امام نه مخکې رکوع او سجدې وغیره ته تلل

سوال: زما یو دوست دی، هغه لمانځه کې د امام نه مخکې مخکې ځي. کله چې موږ هغه منع کړو، نو وایي چې دې سره لمانځه کې څه خرابي نه راځي. سوال دادی چې ایا دې سره لمانځه کې څه فساد راځي اوکه نه؟ او که ددې کار په وعید کې څه حدیث وي، نو هغه ذکر کړئ او دا هم ووایئ چې د جمعې په لمانځه کې امام سره کله تلل پکار دي؟ رکوع سجده وغیره یعنې سنت طریقه څه ده؟

جواب: لمونځ د امام نه مخکې کول بیوقوفي ده، ځکه چې ترڅو لمونځ ختم شوی نه وي، نو دا سړی د لمانځه نه فارغیدای خو نه شي، بیا په ارکانو کې د مخکې کېدو څه فائده شوه؟ مقتدي ته د امام نه وروسته وروسته ارکان ادا کول پکار دي.[۳]

...بقیه د تیرمخ]... اما یخشی الذی یرفع رأسه قبل الامام ان یحول الله رأسه رأس حمار. متفق علیه. (مشکوة ج:۱ ص: ۱۰۲).

[۱] ویکره للماموم ان یسبق الامام بالرکوع والسجود وان یرفع رأسه فیهما قبل الامام. (عالمگیری ج: ۱ ص: ۱۰۷، الباب السابع، الفصل الثانی).

[۲] حواله سابقه.

[۳] ویکره للماموم ان یسبق الامام بالرکوع والسجود وان یرفع رأسه فیهما قبل الامام. (عالمگیری ج: ۱ ص: ۱۰۷، الباب السابع، الفصل الثانی).

مقتدي که له امام نه مخکې سر اوچت کړ نو د لمانځه څه حکم دی؟

سوال: ما د جمعة المبارک لمونځ کاو، د جمعې دوران کې چې کله امام صاحب د رکوع په حالت کې و، نو په موږ د پاسه هوايي جهاز تيريده چې د هغې اواز موږه وروستنی صف والا د امام اواز اوريدلو ته پرينښودلو، له دې نه وروسته امام صاحب سجدې ته لاړ، نو موږ هم ربنا لک الحمد وويل او د هغه سره يوځای شو، خو څو سيکنډه وروسته موږ په خپله اندازه د سجدې نه اوچت شو خو امام صاحب لا په سجده کې و، په دې سره موږ د رکن په ادا کولو کې مخکې شو او ما د علماء کرامو نه اوريدلي دي چې کوم سړی د جمعې په لمانځه کې د امام نه مخکې کيږي د هغه لمونځ ماتيږي او رسول اللهﷺ فرمايي چې د قيامت په ورځ به د داسې انسان شکل د خره په شان وي، په داسې صورت حال کې تاسو ته درخواست دی چې د قرآن او حديث په رڼا کې جواب راکولو سره موږ مطمئن کړئ چې زموږ لمونځ وشو او که نه؟ که مات شوی وي، نو بيا څه کول پکار دي؟

جواب: قصدا د امام نه مخکې پورته کېدل لويه ګناه ده، خو که په غلطي سره پورته شي، نو ګناه نشته[۱]، بيا د پورته کېدلو نه وروسته که په بل رکن کې د امام سره شريک شي، نو بيا خو لمونځ صحيح شو[۲] او که د امام نه مخکې يې رکن هم ختم کړ، نو د هغه لمونځ فاسد شو[۳] مثلاً که چا د امام نه مخکې له سجدې نه سر اوچت کړ او د دويم رکعت له پاره ودريد، امام بل رکعت له پاره دريدلی نه و، چې دی رکوع ته لاړ، نو د هغه لمونځ فاسد شو او که د دويم رکعت په قيام کې امام د هغه سره يوځای شو، نو لمونځ يې صحيح شو.

مقتدي په اخري قعده کې نورې دعا ګانې هم لوستلی شي

سوال: امام چې کله د اخري رکعت په قعده کې وي، نو مقتدي د درود شريف او دعا "**يوم يقوم الحساب**" د لوستلو نه وروسته نورې دعا ګانې لوستلی شي او که چپ به وي د امام د سلام اړولو پورې؟

جواب: د امام د سلام اړولو پورې چې کومې دعا ګانې يادوي په هغه چې څومره غواړي لولي دي[۴]

---

۱ [ويكره للماموم ان يسبق الامام بالركوع والسجود وان يرفع راسه فيهما قبل الامام.....الخ.(الهندية ج:۱ ص: ۱۰۷، الباب السابع ، الفصل الثاني)_

۲ [ويدخل فيها ما لوركع قبل امامه ودام حتى ادركه امامه فيه.(الشامية ج:۱ ص: ۴۷۱، طبع ايچ ايم سعيد)

۳ [فلو لم يركع اصلا او ركع ورفع قبل ان يركع امامه ولم يعده معه او بعده بطلت صلاته.(الشامية ج:۱ ص: ۴۷۱،طبع ايچ ايم سعيد ، مطلب مهم في تحقيق متابعة الامام)_

۴ [ودعا بما يشبه الفاظ القرآن والسنة لا كلام الناس.(البحر الرائق ج:۱ص: ۳۴۹كتاب الصلاة طبع بيروت)

د امام په اقتداء کې به مقتدي کله سلام اړوي

سوال: د جمعې په لمانځه کې امام صاحب لمونځ د ختمولو له پاره د التحیات درود شریف او دعا لوستلو نه وروسته سلام واړو، خو یو مقتدي لا درود شریف لوستلو، نو ایا مقتدي هم کله چې امام صاحب لمونځ ختمولو له پاره سلام اړولی و، سلام اړول پکار دي یا مقتدي ته درود شریف او دعا پوره کولو نه وروسته سلام ګرځول پکار دي؟

جواب: که التحیات یې نه وي پوره کړي، نو هغه دې پوره کړي او که التحیات یې پوره کړې وي، نو د امام سره دې سلام واړوي درود شریف دې نه پوره کوي.[1]

د امام د دویم سلام سره د مقتدي د قبلې نه مخ اړول

سوال: زمونږ د جومات امام صاحب په ډیر زیات وخت کې سلام اړوي، یو مقتدي د امام صاحب د دویم سلام اړولو سره د قبلې د طرف نه مخ واړوي او د امام صاحب سلام لا نه وي پوره شوی د هغه وبنا ده چې د دویم سلام کولو په وخت کې مقتدي د امام د اقتداء نه ازادیږي، ایا د هغه دا عمل صحیح دی؟

جواب: امام ته سلام دومره اوږدول نه دي پکار چې د مقتدیانو سلام په مینځ کې ختم شي، کوم مقتدي چې د امام د دویم سلام د اړولو نه مخکې د قبلې نه مخ واړوي د هغه لمونځ فاسدیږي نه، خو داسې کول مکروه دي، چې هغه پنځه یا اووه منټه د امام سره صبر کړی دی، نو یو څو سیکنډه دې نور هم صبر وکړي.[2]

له امام نه مخکې سلام ګرځول

سوال: دا مو لیدلي دي چې د جمعې په لمونځونو کې مقتدیان (بوډاګان، ځوانان او ماشومان) د امام نه مخکې سلام واړوي، د امام نه مخکې د مقتدي دا عمل کوم ځای پورې صحیح دی، ایا هغوی ګناه ګار نه شو؟ د داسې خلکو لمونځ وشو او که نه؟

جواب: په رکوع او سجده کې د امام نه مخکې تلل ګناه ده[3]، که مقتدي تشهد لوستلی

---

[1] اذا ادرک الامام فی التشهد وقام الامام قبل ان یتم المقتدی او سلم الامام فی آخر الصلاة قبل ان یتم المقتدی التشهد فالمختار ان یتم التشهد.....ولو سلم الامام قبل ان یفرغ المقتدی من الدعاء الذی یکون بعد التشهد او قبل ان یصلی علی النبی صلی الله علیه وسلم فانه یسلم مع الامام.(الهندیة ج:۱ ص: ۹۰، الباب الخامس فی الامامة ، الفصل السادس)۔

[2] والسنة فی السلام ان تکون التسلیمة الثانیة اخفض من الاولی.....اختلفوا فی تسلیم المقتدی قال الفقیه ابو جعفر المختار ان ینتظر اذا سلم الامام عن یمینه یسلم المقتدی عن یمینه واذا فرغ عن یساره یسلم المقتدی عن یساره .....الخ. (الهندیة ج:۱ ص: ۷۷، الباب الرابع، الفصل الثالث)۔

[3] ویکره للماموم ان یسبق الامام بالرکوع والسجود..الخ.(الهندیة ج:۱ ص:۱۰۷ الباب السابع الفصل الثانی)

وي، نو د هغه لمونځ وشو، خو د امام نه مخکې سلام اړول ناجائز او مکروه تحریمي دي.[1]

که مقتدي په اولنی قعده کې دواړو طرفو نو ته سلام وګرځوي نو څه وکړي؟

سوال: زید امام صاحب سره لمونځ کوي، په اولنی قعده کې زید په هیره باندې سلام وګرځاو، امام صاحب د دریم رکعت له پاره ودرید، په موجود صورت کې به زید څه کوي؟ او لمونځ به څنګه پوره کوي؟

جواب: مقتدي ته پکار نه دي چې امام پسې سلام وګرځوي که سهواً داسې وشي. نو دده لمونځ صحیح دی، دده لمونځ نه باطلیږي.[2]

د امام په اقتدا کې د رکوع پاتې کېدو نکو لمونځ نه کیږي

سوال: یوځل د مازدیګر په لمانځه کې امام صاحب د اولني رکعت رکوع ته د تکبیر نه پرته لاړ، لهذا هغه سره یوازې هغه کسان رکوع ته لاړل کوم چې بالکل شاته ولاړ وو، صف اوږد و لهذا د لمونځ کونکو لوی تعداد له رکوع نه پاتې شو امام صاحب چې کله "سمع الله لمن حمده" وویله او پورته شو، نو لمونځ کونکي پریشان وو چې دا څه قصه وشوه؟ څه خلک هغه وخت رکوع ته لاړل او څه پورته شول، بیا چې کله امام صاحب ته وویل شو چې ددې لمونځ کونکو به څه کیږي کومو چې رکوع نه ده کړې، نو امام صاحب وویل چې د هغوی لمونځ هم وشو، ځکه چې ما خو رکوع کړې وه او د امام په اقتدا کې هرڅه معاف دي.

جواب: کومو خلکو چې امام سره یا د امام د رکوع نه د پورته کېدونه وروسته رکوع وکړه، له دې نه وروسته سجدې ته لاړل د هغه لمونځ وشو او کومو خلکو چې رکوع ونکړه، د قیام نه وروسته نیغ سجدې ته لاړل، نو هغه لمونځ نه دی شوی، هغه دې خپل لمونځ بیا وکړي، امام صاحب چې کومه مسئله بیان کړې ده، هغه صحیح نه ده، واجبات چې پاتې شي، نو هغه معاف دي، خو رکوع او سجده فرض دي دا نه معاف کیږي.[3]

---

[1] والسنة فی السلام ان تکون التسلیمة الثانیة اخفض من الاولی.....اختلفوا فی تسلیم المقتدی قال الفقیه ابو جعفر المختار ان ینتظر اذا سلم الامام عن یمینه یسلم المقتدی عن یمینه واذا فرغ عن یساره یسلم المقتدی عن یساره ....الخ. (الهندیة ج:۱ ص: ۷۷، الباب الرابع، الفصل الثالث)۔

[2] لو سلم مع الامام ساهیًا او قبله لا یلزمه سجود السهو.(عالمگیری ج: ۱ ص: ۹۱، الباب الخامس فی الامامة، الفصل السابع فی المسبوق واللاحق).

[3] فلو لم یرکع (المسبوق) اصلاً ورکع ورفع قبل ان یرکع امامه ولم یعده معه او بعده بطلت صلاته.(شامی ج:۱ ص: ۴۷۱، مطلب مهم فی تحقیق متابعة الامام).

د معذور سړي په کور کې په لاؤډ سپیکر امام پسې اقتداء کول

سوال: زه یو معذور سړی یم د جمعې د لمانځه له پاره جومات ته نه شم تللي جومات زما کور ته ډیر نزدې دې په لاؤډ سپیکر باندې خطبه او پوره لمونځ واوریدل شي. ایا زه په کور کې په لاؤډ سپیکر باندې د جمعې لمونځ ادا کولی شم؟

جواب: د اقتداء له پاره یوازې د امام د اواز رسیدل کافي نه دي، بلکې دا هم ضروري ده چې صفونه هغه ځای ته رسیدلي وي، که په مینځ کې څه نهر یا سړک راځي نو اقتداء صحیح نه ده[1]، له دې وجې ستاسو په کور کې ناست د جمعې په لمانځه کې شریکیدل صحیح نه دي، که تاسو د عذر په وجه جومات ته نه شئ تللي، نو په کور کې د ماسپښین لمونځ ادا کوئ.

ایا په ټي وي پسې اقتداء جائز ده؟

سوال: جناب! ځیني وخت مخامخ د حرم پاک خانه کعبې نه د جمعې لمونځ ښودل کیږي، که یو انسان په بله کمره کې د هغه اواز تیز وساتي او د ټي وي د امام سره لمونځ وکړي. نو دا لمونځ به صحیح وي یا پرته د ټي وي نه یې وکړي؟

جواب: کومه طریقه چې تاسو لیکلې ده په دې سره به د امام اقتداء صحیح نه وي او نه به ستاسو لمونځ کیږي.[2]

د مستقل امامت تنخوا جائز ده

سوال: ما اوریدلي دي چې کله یو حافظ قرآن د تراویح د ورکولو له پاره تنخوا د مخکې نه مقرره کړي، نو په هغه پسې تراویح جائز نه دي، لکه چې نن سبا مولویان او د قرآن کریم حافظان په جوماتونو کې په مقرر شوي تنخواه ګانو باندې لمونځونه کوي. ایا په داسې حافظانو پسې د تراویح او نور لمونځونه کول جائز دي او که نه؟

جواب: د جومات د مستقل امامت د تنخواه سره جائز دی،[3] یوازې تراویح ورکولو اجرت جائز نه دی.[4]

---

[1] المانع من الاقتداء ثلاثة اشياء (منها) طريق عام يمر فيه العجلة والاوقار......ومنها نهر عظيم ....الخ. (الهندية ج:۱ ص: ۸۷، الباب الخامس فى الامامة ، الفصل الرابع)۔

[2] السابع فى المانع من الاقتداء يشترط لصحة الاقتداء اتحادمكان الامام والماموم...الخ.(حلبى كبيرج:۱ ص: ۵۳۳)

[3] ويفتى اليوم بصحتها لتعليم القرآن والفقه والامامة والاذان....الخ.(درمختار ج:٦ ص: ۵۵)۔

[4] وقال العينى فى شرح الهداية: ويمنع القارى للدنيا، والآخذ والمعطى آثمان.(شامى ج:٦ ص: ۵٦)۔

امام او یو مقتدي لمونځ شروع کړ بیا دویم مقتدي راغی، اوس به څه کوي؟

سوال: په بعض حکومات کې د امام صاحب نه پرته یو مقتدي دی. امام صاحب او مقتدي دواړه یوځای ودریږي او جمعه کوي، دې دوران کې دویم مقتدي راشي او په جمعه کې شامل شي. اوس امام وړاندې مصلی ته لاړ شي یا مقتدي وروسته شي؟امام به هلته ولاړ وي؟حالانکې امام صاحب ددې دویم مقتدي د راتګ اواز هم اوري او دې په زور سره الله اکبر ویلو لمانځه کې شاملیږي. امام او مقتدي دواړه هلته ولاړ وي، راتلونکی سړی د امام شا پریږدي او بل طرفته ودریږي او لمونځ کوي نو ایا دا لمونځ وشو او که نه؟

جواب: لمونځ خو وشو، خو ښه به دا وه چې اول مقتدي هم وروسته شوی وای او دواړه امام پسې ولاړ وی.[1]

په جهري لمونځ کې امام صاحب د دریو ایتونو لوستلو نه وروسته غلط شو یا ترینه هیر شو نو مقتدیان به څه کوي؟

سوال: جهري لمونځ کې امام صاحب قرات وکړ او د دریو ایتونو د تلاوت نه وروسته ترې وړاندې سبق هیر شو یا یې غلط ولولي، نو مقتدي ته له شانه نه فتحه ورکول پکار دي داسې حال کې چې فرض لمونځ ادا کوي؟

جواب: که امام د دریو ایتونو د تلاوت کولو نه وروسته هیر شي، نو ورته پکار دي چې رکوع وکړي، مقتدیان په لقمه باندې مجبور نه کړي[2] البته که مقتدي لقمه ورکړه، نو لمونځ نه فاسدیږي[3] او که امام غلطه ولوسته، نو ددې اصلاح ضروري ده.

فرض لمانځه کې امام ته فتحه ورکول

سوال: که امام صاحب فرض لمونځ کوي مثلاً د سهار لمونځ، د الحمد شریف نه وروسته په یو سورت لوستلو کې بند شو، نو وروسته نه فتحه ورکول پکار دي او که نه ؟ځینې خلک وایي چې په فرض لمانځه کې فتحه ورکول پکار نه دي او ځینې وایي چې په لقمه ورکولو کې څه حرج نشته، مهرباني وکړئ جواب د اخبار په ذریعې سره هم راکړئ او جوابي لفافه لیږم، مهرباني وکړئ جلد از جلد جواب راکړئ.

---

[1] واذا كان معه اثنان قاما خلفه.(عالمگیری ج: ٦ ص: ٨٨، الباب الخامس فی الامامة، الفصل الخامس فی بیان مقام الامام والماموم)_

[2] (وینبغی) للامام ان لا یلجئهم الیه بل یرکع او ینتقل الی آیة اخری.(هدایة ج:١ ص: ١١٦).

[3] فی الدر المختار: بخلاف فتح علی امامه فانه لا یفسد مطلقا لفاتح وآخذ بکل حال.....الخ.قوله بکل حال ای سواء قرا الامام قدر ما تجوز به الصلاة ام لا، انتقل الی آیة اخری ام لا تکرر الفتح ام لا هو الاصح ' نهر.(رد المحتار ج:١ ص: ٦٢٢ مطلب المواضع التی لا یجب فیها رد السلام).

جواب: که امام انبني وي، نو ورته پکار دي چې یوبل سورت شروع کړي یا دې رکوع وکړي. خلک دې په فتحه ورکولو باندې نه مجبوروي، خوکه لقمه ورکړل شوه، نو لمونځ وشو.[۱]

امام په رکوع کې لیدو سره شرکت کولو له پاره منډه وهل څنګه دي؟

سوال: اکثر لیدل شوي دي چې جمعه ولاړه وي، نو سړی ورو ورو روان وي، خوکله چې ووینې چې امام صاحب رکوع ته لاړ، نو بیا منډې وهي، ایا داسې کول د لمونځ حاصلولو له پاره صحیح دي؟که صحیح نه وي، نو ایا جمعه فوت کېدو سره ګناه خو نه کیږي؟

جواب: منډه کول جائزنه دي، البته د رکعت حاصلولو له پاره په تیز تللو کې څه حرج نشته.[۲]

که امام په هیره باندې قرات شروع کړي نو مقتدي به فتحه څنګه ورکوي؟

سوال: لمانځه کې که امام په هیره سره قرات شروع کړي، نو مقتدي ته څنګه یعنې په کومو الفاظو سره لقمه ورکول پکار دي؟ایا امام صاحب به هم بیا سجده سهو کوي؟

جواب: مقتدي دې"سبحان الله"ووایي، نو امام ته به خبر وشي[۳] په لمانځه د وړوکې درې ایتونو مقدار دیرش حروف دي،نو که سړي لمونځ کې امام د دیرش حرفونو په مقدار باندې جهراً قراءت کړی وي، نو سجده سهو لازم شوه.

امام سره به مقتدیان هم سجده سهو کوي

سوال: یو سړی جمعه کوي، یعنې امام، کله چې په ده باندې سجده سهو لازم شي، په اخري قعده کې چې کله د تشهد نه وروسته سلام ګرځوي، نو هغه وخت به مقتدیان هم سلام ګرځوي. یعنې په دوی باندې هم سلام ګرځول لازمي دي؟

جواب: مقتدیان به هم یو طرفته سلام ګرځوي،خود کومو مقتدیانو نه چې څه رکعتونه شوي وي(یعنې مسبوق وي)هغوی به امام سره سلام نه ګرځوي، بلکې د سلام ګرځولو نه پرته به امام سره سجده سهو وکړي.[۴]

---

[۱] ولا ینبغي للامام ان یلجئهم الی الفتح لانه یلجئهم الی القراءة خلفه وانه مکروه بل یرکع ان قرا قدر ما تجوز به الصلاة والا ینتقل الی آیة اخری. (عالمگیری ج: ۱ ص: ۹۹، الباب السابع فیما یفسد الصلاة وما یکره فیها ، الفصل الاول).

[۲] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: اذا اقیمت الصلاة فلا تاتوها تسعون واتوها تمشون وعلیکم السکینة،فما ادرکتم فصلواوما فاتکم فاتموا.(مسلم ج:۱ص: ۲۲۰،طبع اندیا).

[۳] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : التسبیح للرجال والتصفیق للنساء. (مسلم ج:۱ ص: ۱۸۰، طبع اندیا). ولو جهر الامام فیما یخافت او خافت فیما یجهر قدر ما تجوز به الصلاة یجب سجود السهو علیه وهو ای التقدیر بمقدار ما تجوز به الصلاة هو الاصح والا ای وان لم یکن ذلک مقدار ما تجوز به الصلاة فلا ای فلا یجب علیه سجود السهو.(حلبی کبیر ص: ۴۵۷).

[۴] ثم المسبوق انما یتابع الامام فی السهو دون السلام بل ینتظر الامام حتی ..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

❖ د لمانځه په دوران کې يا وروسته دعا او ذکر ❖

....

د دعا اهميت

سوال: د دعا په اهميت باندې رڼا واچوئ.

جواب: د الله پاك نه غوښتلو ته دعا ويل کيږي ،ددې په اهميت باندې خو پوره کتابونه ليکل کيږي،خودومره پوهيدل کافي دي چې بنده يوازې محتاج دی او الله پاك مطلق غني دی،بنده سره خپل هيڅ شی نشته او دمالك په خزانه کې د هيڅ شي کمی نشته، له دې وجې نه د الله پاك نه د هرشي غوښتل او هميشه غوښتل د بنده شان دی، بنده ته د بندګانو نه غوښتل پکار نه دي ،ځکه چې هغوی هم دده په شان يوازې محتاج دي، بلکې د الله پاك نه غوښتل پکار دي، که د بندګانو نه وغوښتل شي، نو هغوی خفه کيږي او که د الله پاك ونه غوښتل شي، نو هغه خفه کيږي.[1]

د دعا فضيلت

سوال: د دعا په اهميت باندې رڼا واچوئ.

جواب: د دعا معنی د الله تعالی نه غوښتنه او د هغه په دربار کې د خپل حاجت لمن خورول دي،د دعا اهميت هم ددې نه واضح دی چې موږ د سر نه پښو پورې حاجتمند يو او د اخرت د هرې کاميابي محتاج يو ،رسول الله ﷺ ارشاد فرمايي:

"دعا دمومن وسله ده،ددين ستن ده اودځمکې او اسمان نور دی"[2](مسند ابو يعلی مستدرک حاکم)

په يو بل حديث کې دي: "دعا د عبادت مغز دی" (ترمذی)[3]

په يو بل حديث کې دي: "دعا عين عبادت دی"[4] (مسند احمد،نسائی،ابوداود،ترمذی)

....بقيه د تيرمخ]..يسلم فيسجد فيتابعه فی سجود السهو لا فی السلام.(بدائع ج:۱ ص: ۱۷۶، فصل فی بيان من يجب عليه سجود السهو ومن لا يجب عليه، طبع ايچ ايم سعيد).

۱] عن ابی هريرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم : من لم يسال الله يغضب عليه. رواه الترمذی. (مشکوة ص: ۱۹۵، کتاب الدعوات).

۲]الدعاء سلاح المؤمن وعماد الدين ونور السماوات والارض.(کنز العمال ج:۲ ص: ۶۲، رقم الحديث :۳۱۱۷، طبع بيروت)_

۳] عن انس رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم : الدعاء مخ العبادة.(مشکوة ص: ۱۹۴، کتاب الدعوات)_

۴] عن النعمان بن بشير رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم ; الدعاء هوا العبادة. ثم قرا: وقال ربکم ادعونی استجب لکم.(مشکوة ص: ۱۹۴، مستدرک حاکم ج:۱ ص: ۴۹۱، کتاب الدعاء) _

په یو بل حدیث کې دي "دعا د رحمت کنجي (کیلي) ده، اودس د لمونځ کیلي ده او لمونځ د جنت کیلي ده" [۱] (دیلمی بسند ضعیف)

له دې ارشاداتو نه معلومیږي چې الله پاک ته دعا څومره محبوبه ده او ولې به نه وي؟ هغه غني مطلق دی او د بندګانو عاجزي او بې وسي د هغه په دربار کې د ټولو نه لویه ډالۍ ده، ټول عبادتونه هم ددې بې وسۍ، حاجتمندۍ او بندګۍ مختلف شکلونه دي. په دعا کې انسان د الله پاک په دربار کې د خپلې بې وسۍ، بې کسۍ او عاجزۍ او ګناه اعتراف کوي له دې وجې یې دعا ته عین عبادت، بلکې د عبادت مغز وفرمایه. په عبادت سره چې د کوم سړي په زړه کې دا کیفیت پیدا نه شي هغه د عبادت د خوږوالي او شیریني نه محروم دی.

سوال: د ټولو نه غوره دعا کومه یوه ده؟

جواب: په حدیث کې ارشاد دی چې تاسو د خپل رب نه د دنیا او اخرت ښېښنه غواړئ، ځکه چې دواړه شیان په دنیا کې هم ملاو شو او په اخرت کې هم ته کامیاب شوئ. (ترمذی) [۲]

په یو بل حدیث کې دي چې د چا له پاره د دعا ذروازه پرانستل شوه، د هغه له پاره د رحمت دروازې پرانستل شوې او د الله پاک نه چې څومره شیان غوښتل کیږي په هغو کې د ټولو نه زیات الله پاک ته دا خوښه ده چې انسان ښېښنه وغواړي. (ترمذی) [۳]

ددې احادیثو نه معلومه شوه چې د ټولو نه غوره دعا داده:

"اللهم انی اسئلک العفو والعافیه فی الدنیا والاخرة" [۴]

هم دغه شان د سورت بقره آیت: ۲۰۱ کې چې کومه دعا ذکر ده هغه هم ډیره جامع ترین دعا ده رسول الله ﷺ به اکثر هم دا دعا کوله. (صحیح مسلم وبخاری) [۵]

۱] الدعاء مفتاح الرحمة، والوضوء مفتاح الصلاة، والصلاة مفتاح الجنة. (کنز العمال ج:۲ ص: ۶۲، رقم الحدیث ۳۱۱۶، طبع مؤسسة الرسالة ، بیروت) ـ

۲] عن انس رضی الله عنه ان رجلا جاء الی النبی صلی الله علیه وسلم فقال: یا رسول الله ! ای الدعاء افضل؟ قال: سل ربک العافیة والمعافاة فی الدنیا والآخرة.....فاذا اعطیت العافیة والمعافاة فی الدنیا والآخرة فقد افلحت . رواه الترمذی. (مشکوة ج:۱ ص: ۲۱۹)ـ

۳] عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : من فتح له منکم باب الدعاء فتحت له ابواب الرحمة وما سئل الله شیئا یعنی احب الیه من ان یسال العافیة.رواه الترمذی. (مشکوة ج:۱ ص: ۱۹۵، کتاب الدعوات)ـ

۴] عن انس رضی الله عنه ان رجلا جاء الی النبی صلی الله علیه وسلم فقال: یا رسول الله ! ای الدعاء افضل؟ قال: سل ربک العافیة والمعافاة فی الدنیا والآخرة. ثم آتاه فی الیوم الثانی.....فقال له مثل ذلک.(مشکوة ج:۱ ص: ۲۱۹، باب جامع الدعاء)ـ

۵] عن انس رضی الله عنه قال: کان اکثر دعاء النبی صلی الله علیه وسلم : اللهم آتنا فی الدنیا حسنة وفی الآخرة حسنة وقنا عذاب النار.متفق علیه.(مشکوة ج:۱ص:۲۱۸باب جامع الدعاء مسلم ج:۲ ص: ۳۴۴)

سوال: د کومو وختونو دعا ګانې زیات اثر لري؟

جواب: د الله پاک د رحمت دروازه هر وخت پرانستې وي او کوم سړی چې کله غواړي .د هغه کریم رب په دربار کې پرته د څه منع نه غوښتنه کولی شي.له دې وجې دعا کول خو هر وخت اثر لري،خو شرط دادی چې څوک غوښتنې والا وي او په طریقه یې غواړي.په دعا کې د ټولو نه زیات اثر لرونکی شی د انسان عاجزي او د هغه منت(زاری) کول دي. کم نه کم په داسې منت. خو غوښتل پکار دي. لکه چې یو سوالګرسوال کوي.

په حدیث کې فرمایل شوي دي چې الله پاک د غافل زړه دعا نه قبلوي[1]او په قرآن کریم کې دي څوک دی چې قبوله کړي د بې قرار دعا کله چې هغه الله راوبلي[2] ...له دې نه معلومه شوه چې د دعا له پاره اصل قبولیت د غوښتونکي د نا قرارۍ کیفیت دی. د دعا د قبولیت له پاره یو اهم شرط حلاله روزي ده. په حدیث کې ارشاددی چې"یو سړی په خاورو باندې خړ ګېډو وډو ویښتو والا.د لیرې نه سفر کونکی. د حج له پاره راشي او هغه ډیر منت اوزاري کوي یا رب!...یا رب!...وايي خو د هغه خوراک حرام. د هغه څښاک حرام. لباس یې د حرامو. د هغه دعا به څنګه قبوله شي؟(صحیح مسلم)[3]

د دعا د قبولیت له پاره یو شرط دادی چې سړی دبیړې(جلدبازي) نه کار وانخلي.ځینې وخت داسې کیږي چې سړی د خپل یو حاجت له پاره دعا کوي .خو کله چې په ظاهر کې هغه مراد پوره نشي. نو په ناامیده کېدو سره نه یوازې دعا پریږدي. بلکې... نعوذ بالله... په الله پاک باندې بدګمانه شي. حدیث کې فرمایل شوي دي چې: د بنده دعا قبلیږي څو پورې چې هغه بیړه ونکړي، پوښتنه وشوه:د بیړې نه څه مراد دي؟ ویې فرمایل:چې داسې وايي ما ډیرې دعا ګانې وکړې، خو یوه هم نه قبلیږي.[4]

دلته دا هم یاد ساتل پکا ردي چې د انسان هره دعا الله پاک قبلوي. خو د قبولیت شکلونه مختلف وي. کله هم ورته هما غه شی ورکړل شي.کوم شی چې هغه غوښتی و.کله

۱]وعنه (ای ابی هریرة) قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : ادعوا الله وانتم موقنون بالاجابة واعلموا ان الله لا یستجیب دعاء من قلب غافل لاه.(مشکوة ص: ۱۹۵، کتاب الدعوات)_

۲]امن یجیب المضطر اذا دعاه ویکشف السوء.(النمل :۶۲)_

۳]عن ابی هریرة قال: قال رسول الله صلي الله علیه وسلم : ان الله طیب لا یقبل الا طیبا......ثم ذکر الرجل یطیل السفر اشعث اغبر یمد یدیه الی السماء یارب !یارب! مطعمه حرام ومشربه حرام وملبسه حرام وغذی بالحرام فانی یستجاب لذلک؟ رواه مسلم.(مشکوة ج:۱ ص: ۲۴۱، کتاب البیوع، باب الکسب وطلب الحلال)_

٤] وعنه (ای ابی هریرة) رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : یستجاب للعبد ما لم یدع باثم او قطیعة رحم، ما لم یستعجل ، قیل: یا رسول الله! ماالاستعجال ؟ قال : یقول: قد دعوت وقد دعوت فلم اریستجاب لی،فیستحسرعند ذلک ویدع الدعاء.رواه مسلم.(مشکوة ج:۱ ص: ۱۹٤، کتاب الدعوات)

دهغه نه غوره ورکړل شي. کله دهغه په برکت یو مصیبت لیرې کړل شي او کله دې بنده له پاره دا دعا د اخرت ذخیره جوړه شي.له دې وجې که یو وخت د انسان غوښتلې خواهش پوره نه شي، نو په زړه ماتې دې نه کیني. بلکې دا یقین دې ساتي چې د هغه دعا خو ضرور قبوله شوې ده، خو کوم شی چې غواړي هغه کېدای شي د الله په علم کې د هغه له پاره مناسب نه وي، یا الله پاک د هغه شي نه د غوره ورکړې فیصله کړې ده. په حدیث شریف کې راځي

الله پاک به مومن د قیامت په ورځ را وغواړي او هغه ته به په خپل دربار کې د حاضریدو اجازه وکړي، بیا به ورته ارشاد وشي چې:ما تا ته د غوښتلو حکم کړی و او د قبلولو وعده مې کړې وه.ایا تا به ماته دعا کوله؟ بنده به عرض وکړي یا الله دعا خو به ما کوله.ارشاد به وشي چې تا څومره دعا ګانې غوښتې وې ما ټولې قبولې کړې.ګوره:تا د فلانې مصیبت په وخت کې فلانی دعا کړې وه او ما هغه مصیبت تا نه لیرې کړ، بنده به اقرار وکړي. واقعي هم داسې شوي و ،ارشاد به وشي:هغه خو ما تا ته په دنیا کې درکړې وه.او ګوره:تا د فلانې مصیبت په وخت ما ته اواز کړی و .خو په ظاهر کې هغه مصیبت نه و لیرې شوی.بنده به عرض وکړي چې هو! اې ربه! هم داسې شوي وو. ارشاد به وشي:ما هغه ستا له پاره په جنت کې ذخیره کړې ده رسول اللهﷺ د دې واقعې نقل کولو نه وروسته فرمایلي دي

مومن بنده چې د الله پاک نه څومره دعا ګانې غواړي، الله پاک به د یوې یوې وضاحت فرمايي چې یا خو د هغه بدله په دنیا کې ورکړل شوه، یا هغه په اخرت کې ذخیره کړل شوه.په دې لیدلو باندې به هغه غوښتنه کوي چې ارمان!په دنیا کې د هغه یوه دعا هم نه وای قبوله شوې.(مستدرک)[1]

په یو بل حدیث کې دي چې: الله پاک رحیم او کریم دی. کله چې بنده هغه ته لاسونه پورته کړي، نوهغه ته حیاء ورځي چې هغه خالي لاس واپس کړي.(ترمذی،ابن ماجه)[2]

الغرض! د دعا کولو په وخت کې د قبولیت کامل یقین او اعتماد ساتل پکار دي او که په څه وخت کې په ظاهر کې دعا قبوله نه شي، نو بیا هم نا امیده کېدل نه دي پکار، بلکې په دې

۱] عن جابر بن عبدالله رضی الله عنهما عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: یدعوالله بالمؤمن یوم القیامة حتی یوقفه بین یدیه، فیقول: عبدی! انی امرتک ان تدعونی ووعدتک ان استجیب لک، فهل کنت تدعونی؟ فیقول: نعم یارب! فیقول: اما انک لم تدعنی بدعوة الا استجیب لک، فهل لیس دعوتنی یوم کذا وکذا لغم نزل بک ان افرج عنک، ففرجت عنک؟ فیقول: نعم یارب! فیقول: فانی عجلتها لك فی الدنیا ودعوتنی یوم کذا وکذا لغم نزل بك عن افرج عنکفلم تر فرجا؟ قال نعم یا رب! فیقول انی ادخرت لک بها فی الجنة کذا کذا وکذا. قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : فلا یدع الله دعوة علیها عبده المؤمن الا بین له اما ان یکون عجل له فی الدنیا واما ان یکون ادخر له فی الآخرة، قال: فیقول المؤمن فی ذلک المقام: یا لیته لم یکن عجل له فی شیء من دعائه.(مستدرک ج:۱ ص: ۴۹۴، کتاب الدعاء)۔

۲] عن سلمان قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : ان ربکم حیی کریم یستحیی من عبده اذا رفع یدیه ان یردهما صفراً. رواه الترمذی وابو داود.(مشکوة ج:۱ ص:۱۹۵، کتاب الدعوات)۔

ځان پوهول پکار دي چې الله پاک به زما ددې دعا په بدل کې ماته غوره شی راکوي. د مومن شان خو دا پکار دی چې

یابم او را یا نه یا بم جستجوئے می کنم   حاصل آید یا نیاید آرزوئے می کنم

عارفین حضرات په دې خبره ډیر ښه پوه شوي دي، هغوی د قبولیت په ځای عدم قبولیت اوچت مقام ګڼي او هغه د تفویض او تسلیم مقام دی.

شیخ عبدالقادر جیلاني رحمة الله علیه فرمايي:

کله چې په یو سړي باندې یو مصیبت راشي، نو هغه په خپل ځان باندې تیرول خوښوي او د هغه خبر بل چا ته ورکول نه خوښوي، خو کله چې هغه د قابو نه بهر شي، نو د خپلوانو او ملګرو نه د امداد غوښتونکی شي، ظاهري اسبابو طرف ته منډه وهي، کله چې په هغه سره هم کار نه کیږي، نو د الله پاک په دربار کې په دعا او التجاء سره متوجه کیږي. خپله هم په ژړا ژړا سره دعا ګانې کوي او په نورو باندې یې هم کوي او کله چې په ده باندې هم هغه مصیبت نه لرې کیږي، نو د الله پاک درباز کې سر ښکته کړي، د خپلې بندګي، بې وسي او عبدیت ته نظر کولو سره د الله پاک په رضا باندې رضا شي، شیخ فرمايي: دا د تفویض او تسلیم مقام دی، هغه چې الله پاک یې خپل بنده ته ورکوي. (تاریخ دعوت و عزیمت از مولانا ابوالحسن علی ندوی)

ځینې اکابرینو د قبولیت په باره کې ډیره عجیبه خبره لیکلې ده، عارف رومي رحمة الله علیه فرمايي چې ستاسو دعا ولې نه قبلیږي؟ ځکه چې تاسو په پاکه ژبه دعا نه کوئ. بیا په خپله سوال کوي: پوهیږئ چې په پاکه ژبه د قبولیت مطلب څه دی؟ په پاکه ژبه باندې د دعا کولو مطلب دا دی چې تاسو د بل چا په ژبه باندې دعا وکړئ، هغه اګر چې ګناه ګار وي، خو ستاسو په حق کې د هغوی ژبه پاکه ده.

دا ناکاره عرض کوي چې په پاکه ژبه باندې د دعا کولو یو بل صورت هم دی، هغه دا چې د یو مومن له پاره دعا وکړل شي، ستاسو چې کوم شی د خپل ځان له پاره مطلوب وي، د هغه دعا د یو بل مومن له پاره وکړئ، نو ان شاء الله تاسو ته به اول درکول کیږي. په حدیث کې ارشاد دی چې کله مومن د بل مومن له پاره پسې شا دعا کوي، نو فرشتې وايي:

اللهم آمین ولک.... یعنې یا الله دعا قبوله کړې او بیا دعا کونکی مخاطب کړي چې تا ته دې هم الله پاک داشی درکړي.[۱]

ګویا د فرشتو په پاکو ژبو باندې ځان ته د دعا کولو طریقه چې تاسو یو مومن ته دعا کوئ، په دې باندې فرشتې (امین) وايي او بیا د دعا کونکي په حق کې هم د دعا د قبلولو درخواست کوي له همدې وجې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې د بل مومن په حق کې غائبانه دعا قبلیږي.[۲]

۱] دعاء المرء المسلم مستجاب لاخیه بظهر الغیب عند راسه ملک موکل به کلما دعا لاخیه بخیر قال الملک: آمین ولک مثل ذلک. (کنز العمال ج:۲ ص: ۹۸، حدیث نمبر ۳۳۱۰)۔

۲] عن عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : ان اسرع الدعاء اجابة دعوة غائب لغائب. رواه الترمذی وابوداود (مشکوة ص: ۱۹۵، کتاب الدعوات)۔

په هر حال دعا خو د هر سړي قبلیږي او هر وخت قبلیږي،که د قبولیت حالت هر څنګه وي،،خو ځیني وختونه داسې دي چې په هغه کې د دعا د قبلیدلو زیات امید کېدای شي. په هغو کې ځو وختونه ذکر کوم

(۱) د سجدې په حالت کې. په حدیث کې دي چې انسان ته د الله پاک قرب د سجدې په حالت کې ډېر زیات حاصل وي، لهذا په دې وخت کې په کثرت او د زړه نه دعا کوئ (صحیح مسلم)[۱]

خود احنافو په نزد په فرض لمونځونو کې هغه تسبیحات لوستل پکار دي کوم چې په احادیثو کې راخي. یعنې (سبحان ربي الاعلی) د الله پاک ثناء هم د دعا او درخواست په ضمن کې شمیرل کیږي او د نفل لمونځونو په سجدو کې چې ځومره وخت غواړئ دعا ګانې کوئ[۲]

(۲) د فرض لمونځونو نه وروسته،رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړل شوه چې: د کوم وخت دعا زیاته اوریدلی شي؟ ویې فرمایل: د شپې د اخری برخې او د فرض لمونځونو نه وروسته.(ترمذی)[۳]

(۳) د پیشمني په وخت په حدیث کې دي چې کله دوه برخې شپه تیره شي. نو د ځمکې والا طرف ته د الله پاک د ورکړې نظر متوجه شي او اعلان کیږي چې: ایا ځوک غوښتونکي شته چې زه هغه ته ورکړم؟ شته ځوک دعا کونکي چې د هغه دعا قبوله کړم؟ شته ځوک ښښنه غوښتونکي چې زه هغه ته ښښنه وکړم؟ داسلسله د سهار د اذان پورې جاري وي.(صحیح مسلم)[۴]

(۴) د موذن د اذان په وخت.[۵] (۵) د رحمت د باران د نزول په وخت[۶]

۱] عن ابي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : اقرب ما يكون العبد من ربه وهو ساجد فاكثروا الدعاء . رواه مسلم.(مشكوة ص: ۸٤، باب التشهد)_

۲] وكذا لا يأتى فى ركوعه وسجوده بغير التسبيح على المذهب وما ورد محمول على النفل....الخ.(الدر المختار مع الردالمحتار ج:۱ ص: ۵۰۵)_

۳] عن ابي امامة رضى الله عنه قال: قيل: يا رسول الله ! اى الدعاء اسمع؟ قال: جوف الليل الآخر ودبر الصلوات المكتوبات . رواه الترمذى .(مشكوة ص: ۸۹، باب الذكر بعد الصلوات)_

٤] عن ابي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ينزل ربنا تبارك وتعالى كل ليلة الى السماء الدنيا حين يبقى ثلث الليل الآخر يقول: من يدعونى فاستجيب له؛ من يسالنى فاعطيه ، من يستغفرنى فاغفر له. متفق عليه .وفى رواية لمسلم : ثم يبسط يديه ويقول:من يقرض غير عدوم ولا ظلوم،حتى ينفجر الفجر .(مشكوة ص:۱۰۹،باب التحريض على قيام الليل)_

۵] عن عبدالله بن عمرو رضى الله عنهما ان رجلا قال:يا رسول الله!ان المؤذنين يفضلوننا، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم:قل كما يقولون،فاذا انتهيت فسل تعطه.(سنن ابى داؤد ج:۱ ص:۷۸،باب ما يقول اذا سمع الاذان)_

٦] تفتح ابواب السماء ويستجاب الدعاء فى اربعة مواطن:عند التقاء الصفوف فى سبيل الله،وعند نزول الغيث،وعند اقامة الصلاة،وعند رُؤية الكعبة.(كنز العمال ج:۲ ص:۱۰۱ حديث نمبر:۳۳۳٤)_

(۷) د سفر په حالت کې [۲]
(۸) د بيمارۍ (ناروغۍ) په حالت کې [۳]
(۹) د زوال په وخت کې [۴]
(۱۰) په شپه ورځ کې يو غير معين وخت. [۵]
دا وختونه په احاديثو کې روايت شوي دي
په حديث کې ارشاد دی چې خپل ځان، خپل اولاد، خپل تعلق دارانو او د خپل مال په حق کې بد دعا مه کوی. په ورځ او شپه کې يو وخت داسې دی چې په هغه کې کومه بد دعا وکړل شي هغه قبليږي. هسې نه چې ستاسو بددعا په هغه وخت کې وي او هغه قبوله شي، نو بيا به پښيمانه يئ. (صحيح مسلم وغيره) [۶]

د دعا صحيح طريقه

سوال: ځينې خلک وايي د رسول الله ﷺ په وسيله باندې دعا کول پکار دي. په دې طريقه باندې دعا قبليږي او د بزرګانو منښتې هم کوئ او ځينې په دې کې اختلاف کوي او وايي چې د مسائلو حل يعنې دعا يوازې الله پاک نه غوښتل پکار دي تاسو دا بيان کړئ چې دَ قرآن او سنت په رڼا کې د دعا صحيح طريقه کومه ده؟

جواب: د دعا غوښتلو صحيح طريقه داده چې اول د الله پاک حمد او ثناء ووايئ بيا په رسول الله ﷺ باندې درود ولېږئ او بيا د خپل ځان له پاره او د ټولو مسلمانانو له پاره د مغفرت دعا

۱] عن انس بن مالک رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا يرد الدعاء بين الاذان والاقامة. (سنن ابی داؤد ج: ۱ ص: ۷۷، باب فی الدعاء بين الاذان والاقامة)۔

۲] عن ابی هريرة رضی الله عنه ان النبی صلى الله عليه وسلم قال: ثلاث دعوت مستجابات، لاشک فيهن: دعوة الوالد ودعوة المسافر ودعوة المظلوم. (سنن ابی داؤد ج: ۱ ص: ۲۱۵، باب الدعاء بظهر الغيب)۔

۳] عن ابن عباس رضی الله عنهما عن النبی صلى الله عليه وسلم قال: خمس دعوات يستجاب لهن: دعوة المظلوم حتى ينتصر، ودعوة الحاج حتى يصدر، دعوة المجاهد حتى يفقد، ودعوة المريض حتى يبرا، ودعوة الاخ لاخيه بظهر الغيب، ثم قال: واسرع هذه الدعوات اجابة: دعوة الاخ بظهر الغيب. رواه البيهقی. (مشکوة ص: ۱۹۶، کتاب الدعوات)۔

٤] روی عن ثوبان ان رسول صلى الله عليه وسلم کان يستحب ان يصلی بعدنصف النهار، فقالت عائشة: يارسول صلى الله عليه وسلم! انی اراک تستحب الصلاة هذاالساعة. قال: تفتح فيهاابواب السماءوينظرالله تبارک وتعالى بالرحمة الى خلقه، وهی صلاة کان يحافظ عليهاآدم ونوح وابراهيم وموسى وعيسى. رواه البزار. (اعلاء السنن ج: ۷ ص: ۳۲، تتمة فی صلاة فیئ الزوال)۔

٥] عن جابر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا تدعوا على انفسکم، ولا تدعوا على اولادکم، ولا تدعوا على اموالکم، لاتوافقوامن الله ساعة يسال فيها عطاءً فيستجيب لکم. رواه مسلم. (مشکوة ص: ۱۹٤، کتاب الدعوات)

٦] ايضا.)۔

وکړئ او څه چې د الله پاک نه غواړې، غواړې دې[1] د ټولو نه لویه وسیله. خو د الله پاک د رحیمیت او کریمیت واسطه کول دي او د رسول اللهﷺ او بزرګانو په وسیله دعا کول جائز دي[2] په حدیث پاک کې دي چې رسول اللهﷺ به د غریبانانو مهاجرینو حواله ورکولو سره د الله پاک نه د فتح دعا کوله. (مشکواة ص:۴۲۷ بروایت شرح السنه)[3]

د الله رب العزت نه د دعا غوښتلو بهترینه طریقه

سوال: د دعا غوښتلو فضیلت ډیر ځله بیان شوی دی. ما په ډیرو کتابونو کې هم د دعا غوښتلو د برکت، قبولیت او ضرورت مطالعه کړې ده. پخپله الله پاک فرمايي چې غواړئ زه یوه ګناه ګاره عاجزه ښځه یم، زما معلومات او مطالعه محدود ده. د ژوند په مسائلو کې هم پریوتې یم، د الله پاک شکر دی حلال رزق راته حاصل دی. د لمانځه وروسته کومه دعا چې مو چیرته په ماشوموالي کې یاده کړې وي هغه کوو. هغه خو پخپله د ژبې نه وخي "ربنا اتنا فی الدنیا"خو له دې نه پرته که یوه بله دعا یا قرآن لوستل غواړم چې د خپلو مسائلو متعلق څه دعا وغواړم، نو ماته الفاظ نه ملاویږي زما ژبه ګونګه شي. بس داسې ښکاري چې زما د بدن هر ویښته دعا جوړ شوی دی، په زړه کې مې دا خیال راځي چې هغه وحده لا شریک عالم الغیب دی، هغه د هر زړه په خبره باندې پوهیږي. هغه ته څه وویل شي. اوس زه نه پوهیږم چې زما دا کار صحیح دی او که نه؟ امید دی تاسو به د قرآن او حدیث په رڼا کې جواب راکړئ

جواب: دا خو واضحه ده چې الله پاک ته هر څه معلوم دي. ددې باوجود یې موږ ته د غوښتنې حکم کړی دی، ښکاره ده چې په دې کې به څه حکمت وي او هغه حکمت زموږ د فقر او ضرورت اظهار وي، کوم چې د بندګي لوی مقام دی او د الله پاک نه په نه غوښتلو کې یو قسم بې پروایي ده کومه چې د بندګي د شان سره منافي ده. باقي دعا په زړه کې هم کېدلی شي او ستاسو دا جمله چې د بدن هر ویښته دعا جوړه شي.....د زړه د دعا طرف ته اشاره ده. خو غوره داده چې په ژبه هم وغوښتل شي که نور څه هم نه وي. نو داسې وایئ چې یا الله زه د سر نه پښو پورې فقیر یم. زه د یو یو شي محتاج یم. د خپلو ضرورتونو او حاجتونو نه خپله هم خبر نه یم او تاسو زما ټول ضرورتونه پیژنئ. ماته د دنیا او اخرت ټولې ښیګڼې راکړې او د ټولو

۱] عن عبدالله بن مسعود قال:کنت اصلی والنبی صلی الله علیه وسلم وابوبکر وعمر معهم فلما جلست بدات بالثناء علی الله تعالی ثم الصلوة علی النبی صلی الله علیه وسلم ثم دعوت لنفسی فقال النبی صلی الله علیه وسلم:سل تعطه سل تعطه.رواه الترمذی.(مشکوة ص:۸۷،باب الصلوة علی النبی صلی الله علیه وسلم)

۲]وقال السبکی:یحسن التوسل بالنبی صلی الله علیه وسلم الی ربه ولم ینکره احد من السلف ولا الخلف الا ابن تیمیة فابتدع مالم یقله عالم قبله.(شامي ج:٦ ص:۳۹۷،کتاب الحظر والاباحة،فصل فی البیع)۔

۳] عن امیة بن خالد ابن عبدالله بن اسید عن النبی صلی الله علیه وسلم انه کان یستفتح بصعالیک المهاجرین. رواه فی شرح السنة.(مشکوة ص:٤٤٧،باب فضل الفقراء وما کان من عیش النبی صلی الله علیه وسلم)۔

نقصانونو نه مې حفاظت وکړي.

د دعا الفاظ په زړه زړه کې ادا کول هم صحیح دي

سوال: څنګه چې په لمانځه کې قرات ادا کول صحیح نه دي، بلکې د قرات اواز غوږونو ته په واضحې طریقې سره رسیدل ضروري دي، ایا داسې د دعا الفاظ په اواز سره ادا کول ضروري دي؟ ما سره اکثر داسې کیږي چې د دعا غوښتلو دوران کې مې د شونډو حرکت ودریږي او د دعا الفاظ په زړه کې ادا کیږي ایا د دعا کولو دا طریقه صحیح نه ده؟

جواب: صحیح ده په زړه سره هم دعا کېدلی شي.[1]

د بد دعا د اثراتو نه د خلاصېدلو طریقه

سوال: په ټي وي‌ی باندې یو پروګرام راځي، په هغه باندې یو مولوي صاحب د سوالونو جواب ورکوي، دا ځل یې د یو سوال جواب ورکړ، چې بالکل پرې پوه نه شو. ستاسو په خدمت کې هغه سوال پیش کوم یقین دی چې جواب به ضرور راکړئ ډیره مهرباني به مو وي.

سوال داسې و چې یو سړي د چا له پاره بد دعا وکړه. نو هغه ځو ورځې وروسته په مشکلاتو کې اخته شو. نو کوم صاحب چې بد دعا وکړه هغه دا سوچ وکړ چې دا زما د بد دعا اثر دی. نو هغه پوښتنه وکړه چې دا د هغه بد دعا اثر دی. نو یو داسې طریقه بیان کړئ چې د هغې مخ نیوی وکړل شي. مولانا صاحب جواب ورکړ چې تکلیفونه خو د الله پاک له طرفه راځي او د لوموړې ورځې نه لیکل کیږي، د چا بد دعا نه لګیږي او په حدیث کې راځي چې د مظلوم او یتیم بد دعا ډیر زر قبلیږي، تاسو د قرآن او احادیثو په رڼا کې دا بیان کړئ چې بد دعا قبلیږي او که نه؟

جواب: د مولانا صاحب دا خبره خو بالکل صحیح ده چې هر تکلیف مخکې لیکل شوی وي. خو دا صحیح نه ده چې د چا بد دعا نه لګیږي، معاذ بن جبل رضی الله عنه چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم یمن ته لیږلی و، نو هغه ته یې د رخصت کولو په وخت کې ارشاد فرمایلی و چې د مظلوم د بد دعا نه ویریږه ،ځکه چې د هغه او د الله پاک په مینځ کې هیڅ پرده نه وي[2] له دې نه پرته په ډیرو

۱] قال تعالی:اُدعوا ربکم تضرعا وخفیة انه لایحب المعتدین(الاعراف:٥٥).عن ابی موسی قال:کنا مع النبی صلی الله علیه وسلم فی سفر فجعل الناس یجهرون بالتکبیر فقال النبی صلی الله علیه وسلم:ایها الناس!اربعوا علی انفسکم، انکم لیس تدعون اصم ولا غائبًا،انکم تدعونه سمیعًا قریبًا وهو معکم.....الخ.(صحیح مسلم ج:۲ ص: ٣٤٦، کتاب الذکر والدعاء)۔

۲] عن ابن عباس قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لمعاذ بن جبل حین بعثه الی الیمن.....واتق دعوة المظلوم فانه لیس بینه وبین الله حجاب .(صحیح بخاری ج:۲ ص: ٦٢٣، باب بعث ابی موسی ومعاذ بن جبل رضی الله عنهما الی الیمن قبل حجة الوداع، طبع میر محمد کتب خانه)

احاديثو کې د مظلوم او د کمزوري د بد دعا نه ويره ورکړل شوې ده

په اصل کې کوم سړی چې مظلوم وي او د خپلې کمزورتيا په وجه د خپل بدل اخستلو طاقت نه لري، نو د هغه مقدمه سرکاري شي او الله پاک د بدلې اخيستلو له پاره خپله رامخکې کيږي، موږ په سوونو ظالمان د الله پاک د انتقام په نښه کيدو کې ليدلي دي. له دې وجې د کمزورو سره ظلم او زياتی کولو سره سړي ته ويره پکار ده. الله پاک دې موږ د خپل قهر او غضب نه محفوظ وساتي او د مخ نيوي صورت يې دادی چې د مظلوم نه ښښنه وغوښتل شي او هغه راضي کړل شي او د الله پاک په دربار کې رښتينې توبه وشي. چې د نن نه وروسته به په چا هم ظلم نه کوو.

ظالم ته د مظلوم بددعا کول

سوال: ايا مظلوم ظالم ته بددعا کولی شي؟

جواب: ظالم له پاره د مظلوم بددعا کول جائز دي، خو که صبر وکړي او بددعا ونکړي. نو دا ډيره د ثابت قدمي خبره ده.

دعا څنګه کول پکار دي؟

سوال: ما دا خبره لوستې ده چې ددعا کولو په وخت د درود شريف نه وروسته د الله پاک- تعريف او صفت کې چې څومره ښائسته کلمات ويل کېدای شي. نو هغه دې ولولې او قرآني دعاګانې دې ولولي، له دې نه وروسته دې اسم اعظم او اسماء حُسنٰی ولولي، نو کومې کومې قرآني دعاګانې لوستل دي هغه راته ووايئ او د اسم اعظم نه مراد د الله پاک نهه نوي نومونه دي او که نه؟

جواب: د دعا په آدابو کې دي چې اول د الله پاک حمدوثنا بيان کړي. "الحمد لله رب العالمين" د ټولو نه غوره حمدوثناء ده، له دې نه وروسته دې په نبي کريم ﷺ درود شريف ولولي، بيا دې د ټولو مسلمانانو له پاره دعا او استغفار وکړي[۱]، بيا دې دعا وکړي، د الله پاک په نومونو کې اسم اعظم، په نهه نوي اسماء حُسنٰی کې هغه هم راځي.[۲]

---

[۱] عن عبدالله بن مسعود قال : كنت اصلى والنبى صلى الله عليه وسلم وابوبكر وعمر معه فلما جلست بدأت بالثناء على الله تعالى ثم الصلوة على النبى صلى الله عليه وسلم ثم دعوت لنفسى ، فقال النبى صلى الله عليه وسلم:سل تعطه، سل تعطه.رواه الترمذى.(مشكوة ص:۸۷ باب الصلوة على النبى صلى الله عليه وسلم)

[۲] عن اسماء بنت يزيد ان النبى صلى الله عليه وسلم قال: اسم الله الاعظم فى هاتين الآيتين: والهكم اله واحد لا اله الا هو الرحمن الرحيم، وفاتحة آل عمران : الم الله لا اله الا هو الحى القيوم. رواه الترمذى وابو داود وابن ماجة والدارمى.(مشكوة ص: ۲۰۰، كتاب اسماء الله تعالى).

د دعا اداب

سوال: دلمانځه نه وروسته له درود شريف پرته د بيمارانو له پاره دعا كول څنګه دي؟ دعا قبليږي او كه نه؟

جواب: د دعا په اداو كې داده چې اول د الله پاک حمد ووېل شي بيا په رسول اللهﷺ باندې درود ووايي، بيا د خپل ځان له پاره او د ټولو مسلمانانو سړيو او ښځو له پاره د مغفرت دعا وكړي. بيا بې چې كوم حاجت وي هغه وغواړي، عبدالله بن مسعودؓ فرمايي چې ما لمونځ كولو او رسول اللهﷺ ناست و. ابوبكرؓ او عمرؓ هم په خدمت كې حاضر وو، زه د لمانځه نه فارغ شوم اول مې د الله پاک ثناء وكړه، بيا مې په رسول اللهﷺ درود ووايه، بيا مې د خپل ځان له پاره دعا وكړه، نو رسول اللهﷺ وفرمايل غواړه تاته به دركول كيږي،غواړه تاته به دركول كيږي! (ترمذى،مشكوة ص۷۸)[1]

د عمرؓ ارشاددى چې دعا د ځمكې او اسمان تر مينځه ولاړه وي، په هغه كې هيڅ شى هم پورته نه خيژي، تردې چې تاسو په رسول اللهﷺ باندې درود ونه وايئ.(ترمذى مشكواة ص:۸۷)[2]

په دعا كې د يو بزرګ واسطه كول

سوال: د دعا غوښتلو په وخت دا وينا څنګه ده چې يا الله جل جلاله! د فلاني بنده په خاطر زما دا كار وكړه؟

جواب: د الله په نزد چې كوم خلک مقبول وي د هغوى په وسيله دعا كول جائز دي.[3]

د فرض، واجب او سنت لمانځه په سجده كې دعا كول

سوال: فرض يا واجب يا سنت او د نفل لمونځونو په سجدو كې دعا كول جائز دي او كه نه؟

۱] عن عبدالله بن مسعود قال: كنت اصلى والنبى صلى الله عليه وسلم وابوبكر وعمر رضى الله عنهما معه فلما جلست بدأت بالثناء على الله تعالى ثم الصلوة على النبى صلى الله عليه وسلم ثم دعوت لنفسى . فقال النبى صلى الله عليه وسلم : سل تعطه، سل تعطه . رواه الترمذى. (مشكوة ص: ۸۷، باب الصلوة على النبى صلى الله عليه وسلم)

۲] عن عمر بن الخطاب رضى الله عنه قال: ان الدعاء موقوف بين السماء والارض لا يصعد منها بشئ حتى تصلى على نبيک.رواه الترمذى.(مشكوة ص: ۸۷، كتاب الدعوات)_

۳] عندنا وعند مشائخنا رحمهم الله تعالى يجوز التوسل فى الدعوات بالانبياء والصالحين من الاولياء والشهداء والصديقين فى حياتهم وبعد وفاتهم بان يقول فى دعائه : اللهم انى اتوسل اليک بفلان ان تجيب دعوتى وتقضى حاجتى. الى غير ذالک.(المهند على المفند ، الجواب عن السوال الرابع ص: ۳۲، طبع مكتبة العلم). ايضا: ان التوسل بجاه غير النبى صلى الله عليه وسلم لا باس به ايضا ان كان المتوسل بجاهه مما علم ان له جاهًا عند الله تعالى كالمقطوع بصلاحه وولايته. (روح المعانى ج:٦ ص: ۱۲۸، سورة المائدة:۳۵،طبع دار احياء التراث العربى ، ايضا: امداد الفتاوى ج:۵ ص: ۴۰۳، طبع انديا)_

که په غیر عربي کې وي، نو څه ګناه شته او که نه؟

جواب: د لمانځه سجده کې د قرآن او احادیثو راغلې دعا ګانې کول جائز دي، پرته د عربي نه صحیح نه دي، فرض لمونځونو کې چې د سجدې د اوږوالي له وجې مقتدیان تنګیږي، نو امام ته پکار دي چې په هغه کې تسبیحاتو باندې اکتفاء وکړي[۱] په خپله خائسته لمانځه کې چې څومره دعا ګانې غواړې په سجده کې دې کوي.[۲]

د فرض لمانځه نه وروسته د دعا کیفیت څه ډول پکار دی؟

سوال: امام صاحب د هر لمانځه نه وروسته په عربي کې دعا کوي، ایا په اردو کې دعا غوښتلی شو او که نه؟ دا هم بیان کړئ چې دعا مختصره کول پکار دي یا اوږده؟

جواب: د فرض لمونځ نه وروسته دعا مختصر کول پکار دي[۳] او په مزه کول پکار دي[۴] خپله چې د انسان کوم حاجت وي د هغه له پاره دې دعا کوي عربي الفاظ دې همیشه تیز نه وایي[۵]

ایا د لمانځه نه وروسته تسبیحات ضروري دي؟

سوال: د هر لمانځه نه وروسته چې کومې دعاګانې وي مثلاً د استغفار دعا او ایت کرسي وغیره لوستل ضروري دي او که نه؟

۱]وان كان اماما لا يزيد على وجه يمل القوم كذا فى الهداية.(الهندية ج:۱ص:۷۵،الفصل الثالث فى سنن الصلاة)

۲] وكذا لا يأتى فى ركوعه وسجوده بغير التسبيح على المذهب وما ورد محمول على النفل....الخ.(الدر المختار ج:۱ ص: ۵۰۵، ۵۰۶، باب صفة الصلاة ، طبع ايچ ايم سعيد)۔

۳]عن عائشة رضى الله عنها قالت:كان رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا سلم لا يقعد الا مقدار ما يقول اللهم انت السلام ومنک السلام،تبارکت يا ذا الجلال والاكرام.(جامع الترمذى ج:۱ ص:۳۹،ابواب الصلاة،باب مايقول اذا سلم.صحيح مسلم ج:۱ ص:۲۱۸).ايضا:وفى الدر المختار(ج:۱ ص:۵۳۱،كتاب الصدقة).ويكره تاخير السنة الا بقدر اللهم انت السلام)۔

٤]عن النبى صلى الله عليه وسلم انه قال:خير الدعاء الخفى..............وعن انس رضى الله عنه مرفوعًا،ودعوة السر تعدل سبعين دعوة فى العلانية.(اعلاء السنن ج:٦ ص:۹۳،ابواب الوتر).وفى ردالمحتار (ج:۲ ص:۵۰۷)واما الادعية والاذكار فبالخفية اولى،قلت:ويجتهد فى الدعاء،والسنة ان يخفى صوته لقوله تعالى:ادعوا ربكم تضرعًا وخفية.وقال العلامة الآلوسى فى رُوح المعانى (ج:۸ ص:۱۳۹،طبع دار احياء التراث العربى)وجاء من حديث ابى موسى الاشعرى انه صلى الله عليه وسلم قال لقوم يجهرون : ايها الناس ارجعوا على انفسكم، انكم لا تدعون اصم ولا غائبًا، انكم تدعون سميعًا بصيرا، وهو معكم، وهو اقرب الى احدكم من عنق راحلته. والمعنى ارفقوا بانفسكم واقصروا من الصياح فى الدعاء)۔

۵] الاصرار على المندوب يبلغه الى حد الكراهة .(السعاية ج:۲ ص: ۲٦۵، كتاب الصلاة ، باب صفة الصلاة ، طبع سهيل اكيدمى). ايضاً: قال الطيبى: وفيه ان من اصر على امر مندوب وجعله عزمًا، ولم يعمل بالرخصة ، فقد اصاب منه الشيطان من الاضلال.(مرقاة المفاتيح ج:۲ ص: ١٤، كتاب الصلاة ، باب فى الدعاء فى التشهد ، طبع اصح المطابع بمبى)۔

جواب: د لمانځه نه وروسته اذکار ، ایت کرسي او تسبیحات ضروري نه دي.خو ددې لوی فضیلت راغلی دی.ددې اهتمام کول پکار دي[۱] اغیرضروري ګڼلول. وجې نه ددې پرېښودل لویه محرومي ده

د فرض لمانځه نه وروسته په سر باندې لاس کیښودل "بسم الله الذی لا اله الا هو الرحمن.....الخ" ویل

سوال: زما معمول دی چې زه د فرض لمونځ کولو نه وروسته سر باندې لاس کیږدم او دا دعا وایم "**بسم الله الذی لا اله الا هو الرحمن الرحیم ،اللهم اذهب عنی الهم والحزن**".نو یو کس په خبرو خبرو کې زما تعریف وکړ، یو بل صاحب چې زمونږ په محفل کې شریك و او دین دار سړی و ،هغه وویل چې دا هم څه خبره ده چې تاسو ددې صفت کوئ.دا څه خاصه خوبي خو نه ده، بلکې حقیقت خو دادی چې دا عمل بدعت دی. تاسو وواېئ چې دا بدعت دی اوکه نه؟که بدعت وي چې زه یې پرېږدم،مولاناصاحب!یو بزرګ قسم سړی و. نو هغه ماته دا مشوره راکړې وه چې ته په "حصن حصین" کې وظائف وغیره ګوره او هغه لوله.نو دا دعا هم ما د هغه کتاب نه زده کړې وه.اوس تاسو وواېئ چې دا کتاب مستند دی اوکه نه؟ځکه چې دغه صاحب دې دعا ته بدعت ویلو سره زه شك کې غورځولی یم.

جواب: د "حصن حصین" په حاشیه باندې لیکل شوي دي چې دا روایت طبراني په "الاوسط" کې او ابن سني په "**عمل الیوم والیلة**" کې د حضرت انس رضي الله عنه نه نقل کړی دی[۲] او ددې سند کمزوری دی.[۳]

---

[۱] عن ابی هریرة قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : لان اقول سبحان الله والحمدلله ولا اله الاالله والله اکبر احب الی مما طلعت علیه الشمس.(مشکوة ص: ۲۰۰). ایضًا: وعن کعب بن عجرة رضی الله عنه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: معقبات لا یخیب قائلهن او فاعلهن دبر کل صلوة مکتوبة، ثلاثًا وثلاثین تسبیحة، ثلاثًا وثلاثین تحمیدة ، واربعًا وثلاثین تکبیرة.(صحیح مسلم ، کتاب المساجد ، باب استحباب الذکر بعد الصلوة وبیان صفته ج:۱ ص: ۲۱۹). وفی الدر المختار (ج:۱ ص: ۵۳۰) کتاب الصلاة : ویستحب ان یستغفر ثلاثًا، ویقرء آیة الکرسی والمعوذات ویسبح ویحمده ویکبر ثلاثًا وثلاثین، ویهلل تمام المائة ویدعو، ویختم بسبحان ربک.

[۲] وګورئ: حصن حصین مترجم ص: ۲۲۳، طبع دار الاشاعت.

[۳] وعن انس بن مالک ان النبی صلی الله علیه وسلم کان اذا صلی وفرغ من صلاته مسح بیمینه علی رأسه وقال: بسم الله الذی لا اله الا هو الرحمن الرحیم ، اللهم اذهب عنی الهم والحزن.وفی روایة مسح جبهته بیده الیمنی، وقال فیها اللهم اذهب عن الغم والحزن. رواه الطبرانی فی الاوسط والبزار بنحوه باسانید، وفیه زید العمی وقد وثقه غیر واحد، وضعفه الجمهور، وبقیة رجال احد اسنادی الطبرانی ثقات، وفی بعضهم خلاف.(مجمع الزوائد ج:۱۰ ص: ۱۰۷، باب الدعاء فی الصلاة وبعدها، طبع دار الکتب العلمیة ، بیروت).

د فرض لمانځه نه وروسته دعا قبلیږي

سوال: زما په علم کې دي چې که د فرض لمانځه نه وروسته یو سړی لاس اوچتولو سره دعا نه کوي، نو الله پاك د هغه لمونځ واپس کوي. ځيني خلک وايي چې د لمانځه نه وروسته دعا کول فرض نه دي، زه وايم چې د فرض لمانځه نه وروسته دعا خامخا کول پکار دي. کومه نظريه صحيح ده؟

جواب: د فرض لمانځه نه وروسته دعا قبليږي[۱] اخوکه څوك دعا ونکړي، نو ګناه نشته

د فرض لمانځه نه وروسته ددعا شرعي حيثيت

سوال: د لمانځه نه وروسته ددعا شرعي حيثيت څه ده؟ځيني خلک سلام ګرځولو نه وروسته پرته ددعا غوښتلو نه پورته شي او وايي چې حضورپاك ﷺ د لمانځه نه وروسته دعا نه ده غوښتې، ځيني خلک وايي چې کله يې غوښتې ده او کله نه، صحيح صورت څه دی؟ دقرآن او سنت په رڼا کې وضاحت وکړئ.

جواب: لمانځه نه وروسته ددعا غوښتلو حکم راغلی دی، له دې وجې نه د فرض لمونځونو نه وروسته دعا خو خامخا کول پکار دي.[۲] خوپه دې دعا کې مقتديان د امام پابند نه دي، که څوك لږه دعا کوي او که څوك اوږده دعا کوي، خپله خپله دعا دې وکړي. **والله اعلم**

د فرض لمانځه نه وروسته د اواز نه پرته کلمه لوستل

سوال: موږ چې کله واړه وو، نو د فرض لمانځه نه وروسته به اوچت اواز سره کلمه لوستل کېده، خواوس په اکثرو جوماتونو کې کلمه شريفه اوچت اواز سره نه لوستل کيږي، ايا دا کلمه شريفه لوستل جائز دي يا بل شی لوستل پکار دي؟که بل څه لوستل پکار وي، نو هغه وليکئ.

جواب: د لمانځه نه وروسته ډير اذکار او دعاګانې منقول دي[۳] خوهغه ورو لوستل پکار

---

[۱] عن ابی امامة قال: قيل يا رسول الله ! ای الدعاء اسمع؟ قال: جوف الليل الآخر ودبر الصلوات المكتوبة. (مشكوة ص: ۸۹، جامع الترمذی ج:۲ ص: ۱۸۷، ابواب الدعوات).

[۲] عن معاذبن جبل قال: لقيت النبی صلی الله عليه وسلم ، فقال لی: يا معاذ! انی احبک فلا تدع ان تقول فی دبركل صلوة: اللهم اعنی علی ذكرک وشكرک وحسن عبادتک.(عمل اليوم والليلة لابن السنی ص: ۱۰۵، باب ما يقول فی دبرصلاة الصبح،رقم الحديث:۱۱۸،طبع مكتبة الشيخ). وعن انس بن مالک رضی الله عنه عن النبی صلی الله عليه وسلم انه قال: ما من عبد بسط كفيه فی دبر كل صلوة ثم يقول: اللهم الهی واله ابراهيم واسحاق ويعقوب، واله جبرئيل وميكائيل واسرافيل عليهم السلام ، اسالک، ان تستجيب دعوتی، فانی مضطر،وتعصمنی فی دينی فانی مبتلی ، وتنالنی برحمتک فانی مذنب، وتنفی عنی الفقر فانی متمسكن، الا كان حقا علی الله عزوجل ان لا يرد يديه خائبتين.(عمل اليوم والليلة لابن السنی ص:۱۲۱رقم الحديث :۱۳۸)

[۳] عن ام سلمة.....رضی لله عنهما....كان رسول الله صلی الله عليه وسلم ..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

دي.په تیز اواز په شریکه باندې کلمه شریفه لوستل جائز نه دي چې لمونځ کونکو ته تکلیف وي.[1]

د جمعې نه وروسته زور سره د "حق لا اله الا الله" ورد کول

سوال: د جمعې ختمیدو نه وروسته خلک زور و شور سره د تسبیح، حق لا اله الا الله، لوستل شروع کړي.له دې د وجې نه څوك چې لمونځ کوي، نو د هغوی په لمانځه کې خلل واقع شي.ایا د جمعې نه وروسته دا تسبیح لوستل جائز دي؟

جواب: جومات کې اوچت اواز سره ذکر کول چې لمونځ کونکو ته تکلیف وي او د هغوی په لمانځه کې خلل واقع کیږي جائز نه دي.[2]

د لمونځونو نه وروسته "سبحان الله، الحمد لله، لا اله الاالله" ویل

سوال: د لمونځونو نه وروسته سبحان الله، الحمد لله، لا اله الا الله او الله اکبر ویل څه حکم لري؟

جواب: تاسو سبحان الله، الحمد لله، لا اله الا الله، الله اکبر "لیکلي دي او په حدیث شریف کې دي چې د (قرآن مجید نه وروسته)دا څلور کلمات د ټولو نه افضل ترین کلمات دي.[3]

د فرض لمونځونو نه وروسته د دعا کانو ثبوت

سوال: د پنځه واړه لمونځونو نه وروسته د امام سره ټول لمونځ کونکو لاس اوچتولو سره دعا کوي، خو اوس څه خلک وايي چې په لاس اوچتولو سره د هر لمانځه نه وروسته دعا کول

...بقیه د تیرمخ]..اذا صلی الصبح قال: اللهم انی اسئلک علمًا نافعًا، وعملاً متقبلاً ورزقًا طیبًا.(عمل الیوم واللیلة لابن السنی ص: ۱۰۰، رقم الحدیث: ۱۱۰). عن ابی امامة قال: ما دنوت من رسول الله صلی الله علیه وسلم فی دبر صلوة مکتوبة ولا تطوع الا سمعته یقول: اللهم اغفرلی ذنوبی وخطایای کلها، اللهم اغننی واجبرنی واهدنی لصالح الاعمال والاخلاق ، انه لا یهدی لصالحها ولا یصرف سیئها الا انت.(ایضًا: ص: ۱۰۲، رقم الحدیث: ۱۱٤).

[1] وفی حاشیة الحموی عن الامام الشعرانی : اجمع العلماء سلفًا وخلفًا علی استحباب ذکر الجماعة فی المساجد وغیرها الا ان یشوش جهرهم علی نائم او مصل او قاری.(شامی ج:۱ ص: ٦٦٠، مطلب فی رفع الصوت بالذکر). ایضًا: نعم الجهر المفرط ممنوع شرعًا، وکذا الجهر الغیر المفرط اذا کان فیه ایذاء لاحد من نائم او مصل او حصلت فیه شبهة ریاء او لوحظت فی خصوصیات غیر مشروعة.(مجموعه رسائل اللکنوی . سباحة الفکر فی الجهر بالذکر ج:۳ ص: ۳٤).

[2] ایضًا.

[3] عن سمرة بن جندب قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :افضل الکلام اربع: سبحان الله والحمدلله ولااله الاالله والله اکبر،وفی روایة : احب الکلام الی الله اربع : سبحان الله والحمدلله ولا اله الاالله والله اکبر لا یضرک بایهن بدأت . رواه مسلم. (مشکوة ص: ۲۰۰ ،باب ثواب التسبیح والتحمید).

بدعت دي او دا په هیڅ حدیث کې هم ثابت نه دي. موږ په دې شک کې یو چې دعا کوو او که نه؟ امید دی تاسو به زموږ رهنمایي وکړئ.

جواب: لومړی په دې ځان پوه کول پکار دي چې بدعت څه ته وايي. بدعت د هغه عمل نوم دی چې د هغه د صاحب شریعت ﷺ نه خو قولاً تعلیم ورکړی وي نه یې عملاً کړی وي او نه هغه عمل د سلف صالحین په مینځ کې عام او رواج وي[۱] خو د کوم عمل چې صاحب شریعت ﷺ ترغیب ورکړی وي یا یې خپله په هغه باندې عمل کړی وي هغه بدعت نه دی. بلکې سنت دی.[۲]

له دې نه وروسته دا خبرې یاد ساتئ:

۱: رسول الله ﷺ په ډیرو احادیثو کې د فرض لمونځونو نه وروسته د دعا کولو ترغیب ورکړی دی او دا یې د دعا د قبولیت په موقعو کې شمیر کړی دی.[۳]

۲: په صحیح احادیثو کې په دعا کې لاس اوچتول او د دعا نه وروسته دلاسونو په مخ رابنکل د دعا په ادابو کې ذکر دي.[۴]

۳: په ډیرو احادیثو کې د رسول الله ﷺ دعا کول ثابت دي. دا ټول کارونه چې یو د علم خاوند چې د هغه په احادیثو باندې نظر وي له دې نه نا خبره نه دی. له دې وجې د امت فقهاء کرامو د فرض لمونځونو نه وروسته دعا په ادابو او مستحباتو کې شمیر کړې ده. امام نووي په شرح المهذب(ج۳ ص۴٤٨)کې لیکي:

"الدعا للامام والمأموم والمنفرد مستحب عقب کل الصلوٰة بلا خلاف"

یعنې د لمونځونو نه وروسته دعا کول پرته د څه اختلاف نه مستحب ده،د امام له پاره هم د مقتدي له پاره هم او د ځانته لمونځ کونکي له پاره هم.په علم حدیث کې چې د امام نووي لویه مرتبه چا ته معلومه وي هغه به کله هم دې متفق علیه مستحب ته د بدعت ویلو جرات نه کوي او فرض لمونځ چې کله په جمعې سره ادا شوی وي، نو ظاهره ده چې له دې نه وروسته به

۱]بانها (ای البدعة) ما احدث علی خلاف الحق المتلقی عن رسول الله صلی الله علیه وسلم من علم او عمل او حال بنوع شبهة واستحسان،وجعل دینا قویماوصراطا مستقیما،فافهم.(ردالمحتار ج:۱ ص: ٥٦٠، ٥٦١ کتاب الصلوٰة،باب الامامة)۔

۲] السنة معناها فی اللغة: الطریقة والعادة، وفی اصطلاح الفقهاء : العبادة النافلة . واصطلاح المحدثین والاصولیین: ما صدر عن النبی صلی الله علیه وسلم من غیر القرآن من قول او فعل او تقریر اهـ.(تیسیر الوصول ص: ۱۳۷، الباب الثانی فی مباحث السنة ، طبع مکتبه صدیقه ملتان)۔

۳] عن ابی امامة رضی الله عنه قال: قیل یا رسول الله ای الدعاء اسمع؟ قال: جوف اللیل الآخر ودبر الصلوات المکتوبات .(مشکوٰة ص: ۸۹، باب الذکر بعد الصلوات)۔

٤] عن عمر رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : اذا رفع یدیه فی الدعاء لم یحطهما حتی یمسح بهما وجهه.رواه الترمذی .(مشکوٰة ص: ۱۹٥، کتاب الدعوات)۔

دعا صورتا اجتماعي وي، خو امام او مقتدي د يو بل پابند نه دي. بلکې خپله خپله دعا کوي. له دې وجې د امام په تيزه تيزه دعا کول او د مقتديانو (امين امين) ويل صحيح نه دي. هر سړي ته خپله خپله دعا کول پکار دي[1] او د سنت او نوافلو نه وروسته امام د مقتديانو په انتظار کې کيناستل او بيا د ټولو په جمع باندې دعا کول هم صحيح نه دي[2]

سوال: د فرضو نه وروسته په اجتماعي طريقي سره د دعا کولو د حديث نه ثبوت شته؟

جواب: د فرض لمانځه نه وروسته د دعا په ډيرو احاديثو کې ترغيب او تعليم راغلی دی او لاس اوچتول يې د دعا په ادابو کې ښودلي دي د تفصيل له پاره د امام جزري رحمة الله عليه حصن حصين کتاب کتل پکار دي. امام بخاري په کتاب الدعوات کې يو باب **الدعا بعد الصلاة** (ج۲ ص ۹۳۷) باندې تړلی دی او يو باب **رفع الايدی فی الدعاء** (ج۲ ص ۹۳۸) باندې تړلی دی[3] او دواړه يې د احاديث طيبه نه ثابت کړي دي. له دې وجې د فرض لمانځه نه وروسته د اجتماعي دعا معمول د سنت خلاف نه دی. خلاف سنت عمل هغه ته وايي چې کوم شارع عليه السلام خپله نه وي

---

[1] هل يكره رفع الصوت بالذكر والدعاء؟ قيل: نعم، وفى الشامية (قوله :قيل:نعم) يشعر بضعفه مع انه مشى عليه فى المختار والملتقى ، فقال: وعن النبى صلى الله عليه وسلم انه كره رفع الصوت عند قراءة القرآن والجنازة والزحف والذكر. (ردالمحتار مع الدر المختار ج:٦ ص: ٣٩٨، كتاب الحظر والاباحة، فصل فى البيع).ايضًا: الجهر المفرط ممنوع شرعًا، وكذا الجهر الغير المفرط اذا كان فيه ايذاء لاحد من نائم او مصل او حصلت فيه شبهة رياء او لوحظت فى خصوصيات غير مشروعة.(سباح ا لفكر مشموله مجموعه رسائل لكهنوى ج:٣ ص: ٣٤)۔

[2] ورحم الله طائفة من المبدعة فى بعض اقطار الهند حيث واظبوا على ان الامام ومنه معه.....اذا فرغوا من فعل السنن والنوافل يدعو الامام عقب الفاتحة جهرًا بدعاء مرة ثانية والمقتدون يؤمنون على ذالك وقد جرى العمل منهم بذالك على سبيل الالتزام والدوام حتى ان بعض العوام اعتقدوا ان الدعاء بعد السنن والنوافل باجتماع الامام والمامون ضرورى واجب..... وايم الله ان هذا امر محدث فى الدين .(اعلاء السنن ج:٣ ص: ١٦٧، كتاب الصلاة، باب الانحراف بعد السلام وكيفيته وسنة الدعاء والذكر بعد الصلاة . طبع ادارة القرآن كراچى)۔

[3] عن ابى هريرة رضى الله عنه قالوا: يا رسول الله! ذهب اهل الدثور بالدرجات والنعيم المقيم ، قال: كيف ذاك؟ قالوا: صلوا كما صلينا وجاهدوا كما جاهدنا، وانفقوا من فضول اموالهم، وليست لنا اموال، قال: افلا اخبركم بامر تدركون من كان قبلكم وتسبقون من جاء بعدكم، ولا ياتى احد بمثل ما جئتم الا من جاء بمثله، تسبحون فى دبر كل صلاة عشرا وتحمدون عشرًا وتكبرون عشرًا. وعن وراد مولى المغيرة بن شعبة قال: كتب المغيرة الى معاوية ابن ابى سفيان رضى الله عنهما ان رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يقول فى دبر صلوته اذا سلم: لا اله الاالله وحده لا شريک له ، له الملک وله الحمد، وهو على كل شىء قدير، اللهم لا مانع لما اعطيت ولا معطى لما منعت، ولا ينفع ذا الجد منک الجد.(صحيح بخارى ج:٢ ص: ٩٣٧، كتاب الدعوات ، باب الدعاء بعد الصلوة). عن انس رضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم رفع يديه حتى رايت بياض ابطيه.(بخارى ج:٢ ص: ٩٣٧ باب رفع الايدى فى الدعاء ، طبع نور محمد كتب خانه)۔

کړي او نه یې د هغه ترغیب ورکړی دي

مقتدي د امام نه مخکې دعا کولی شي

سوال: د سهار په لمانځه کې امام د وظیفې لوستلو نه وروسته د دعا له پاره لاس اوچتوي. زه ملازم یم اته نیمي (۸:۳۰) بجې ډیوټۍ ته حاضریدل وي.شیدې راوړل.ناشته تیارول.بیا خوړل.جامې بدلول.تیاریدل د بس انتظار کول.په داسې صورت کې ایا زه د هغه سره په دعا کې شریکیدلی شم یا خپله مختصر دعا کولو سره د جومات نه راځم؟

جواب: د امام سره دعا کول هیڅ ضروري نه دي. تاسو د لمانځه نه فارغ کېدو سره خپله دعا کولو سره تللی شئ.[1]

ایا رسول الله ﷺ به د لمانځه نه وروسته لاس اوچتولو سره دعا کوله؟

سوال: ایا رسول الله ﷺ به د لمونځ د ادا کولو نه وروسته لاس اوچتولو سره دعا کوله؟ که کوله به یې، نو د یو حدیث حواله بیان کړئ؟

جواب: دلمانځه نه وروسته لاس اوچتولوسره د دعا کولو صراحت. خو نقل نه دی، خو د فرض لمانځه نه وروسته د دعا کولو ترغیب راغلی دی او لاس اوچتولو نه وروسته دعا کول د دعا په ادابو کې داخل دي له دې وجې د فرض لمانځه نه وروسته لاس اوچتولو سره دعا کول د رسول الله ﷺ د ارشاداتو بالکل مطابق دي. خو په اوچت اواز سره دعا کول نه دي پکار چې په هغه سره د لمونځ کونکو په لمونځ کې خلل رانشي.

د لمانځه نه وروسته په عربي یا اردو کې دعا ګانې

سوال: د لمانځه د فراغت نه وروسته زه درود ابراهیمي،سورت فاتحه او یو دعا ربنا اتنا فی الدنیا لوستلو نه وروسته پاتې دعا په اردو کې غواړم. ځکه چې نورې د عربي دعا ګانې یادې نه وي .ایا زما دا عمل مسنون دی؟

جواب: هیڅ باک نشته.

د سنتو نه وروسته اجتماعي دعا کول بدعت دي

سوال: د ماسپښین او د ماسخوتن د سنتو نه وروسته دوه ځله دعا کوم او دا دعا په هیئت اجتماعي سره کوم، د خواصو له پاره او د عوامو له پاره دعا په حیثیت اجتماعي بدعت سیئه دي یا بدعت حسنه؟ شرعي جواب را کړئ؟

---

[1] ځکه چه د امام د سلام اړولو نه پس د مقتدیانو تعلق دامام نه ختم شي، له دې وجې مقتدیانو له پاره د فرض مونځ نه پس امام سره اجتماعي طور باندې دعا کول ضروري نه دي)۔

جواب: د سنتونه وروسته اجتماعي دعا له پاره دامام اومقتديانوكيناستل اوبيا په جمع دعا كول صحيح نه دي،ددې اهتمام اوالتزام بدعت دى[1] د بدعت لفظ چې مطلق وويل شي. نو مراد ترې سيئه وي.

د لمانځه نه وروسته په اوچت اواز سره دعا كول

سوال: زيد وايي چې د امام د لمانځه نه وروسته په اوچت اواز سره دعا كول مكروه دي. د فقه حنفي په رڼا كې جواب راكړئ

جواب: د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په نزد دعا ورو كول پكار دي. په اوچت اواز د دعا عادت جوړول صحيح نه دي،كله كه د مقتديانو د تعليم له پاره يو جمله په تيزه ووايي. نو هيڅ باک نشته [2]

د دعا په وخت اسمان طرف ته سترګې اوچتول

سوال: د جابر بن سمره رضي الله عنه او ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل اې خلكو!په لمانځه نظر اسمان طرف ته مه اوچتوئ؛ ويره ده چې دا نظر واخيستل شي او بيا واپس نه شي. مسئله داده چې ايا دا حديث پاک د دعا په وخت اسمان ته چې كوم سړى نظر اوچتوي او لاس غوړلو سره د خپل رب نه دعا غواړي په هغه باندې صادقيږي؟ يعني د دعا په وخت ايا نظر اوچت نه كړل شي؟ (دا حديث په مسلم شريف كې دى)

جواب: امام نووي رحمه الله ددې حديث په شرح كې ليكلي دي چې ځينې حضرات د لمانځه نه بهر هم په دعا كې د نظر اوچتولو ته مكروه وايي. خو اكثر علماء ددې قائل دي چې دا

---

[1] ورحم الله طائفة من المبدعة فى بعض اقطار الهند حيث واظبوا على ان الامام ومن معه يقومون بعد المكتوبة بعد قراءتهم: اللهم انت السلام ومنک السلام الخ ثم اذا فرغوا من فعل السنن والنوافل يدعو الامام عقب الفاتحة جهرًا بدعاء مرة ثانية والمقتدون يؤمنون على ذالک وقد جرى العمل منهم بذالک على سبيل الالتزام والدوام حتى ان بعض العوام اعتقدوا ان الدعاء بعد السنن والنوافل باجتماع الامام والمامون ضرورى واجب....ومن لم يرض بذالک يعزلونه عن الامامة ويطعنونه، ولا يصلون خلف من لايصنع بمثل صنيعهم. وايم الله ان هذا امر محدث فى الدين .(اعلاء السنن ج:۳ ص: ۱٦۷، كتاب الصلاة، باب الانحراف بعد السلام وكيفيته وسنة الدعاء والذكر بعد الصلاة . طبع ادارة القرآن كراچى) ايضًا: عن عائشة رضى الله عنها قالت: قال النبى صلى الله عليه وسلم : من احدث فى امرنا هذا ما ليس منه فهو رد.(بخارى ج:۱ ص: ۳۷۰ كتاب الصلح). نيز تفصيل دپاره اوګورئ: كفاية المفتى ج:۳ ص: ۳۳٦تا ۳٤۰)_

[2] عن النبى صلى الله عليه وسلم انه قال: خير الدعاء الخفى......وعن انس رضى الله عنه مرفوعًا: دعوة السر تعدل سبعين دعوة فى العلانية (اعلاء السنن ج:٦ ص:۹۳ ابواب الوتر).وفى ردالمحتار (ج:۲ ص:۵۰۷) كتاب الحج: واما الادعية والاذكار فبالخفية اولى، قلت: ويجتهد فى الدعاء، والسنة ان يخفى صوته لقوله تعالى: ادعوا ربكم تضرعًا وخفية. وفى الفتاوى الهندية (ج:۵ ص: ۳۱۸) كتاب الكراهية ، الباب الرابع: اذا دعا بالدعاء المأثور جهراً ومعه القوم ايضا ليتعلموا الدعاء لا باس به.زيات تفصيل دپاره اوګورئ:نفائس مرغوبه. تاليف : مفتى كفايت الله صاحب)

مکروه نه دي ځکه چې اسمان د دعا قبله ده [۱]

د دعا غوښتلو په وخت کې لاس کوم ځای پورې اوچتول پکار دي؟

سوال: څه موده مخکې د ماشومانو په کالم کې د لمونځ ښودلو په طریقه کې لیکل شوي و. چې د دعا کولو په وخت خیال ساتل پکار دي چې لاس د اوږې نه وچت نه شي ایا دا خبره صحیح ده؟

جواب: هو! په عام حالاتو کې هم دا صحیح طریقه ده [۲] خو د استسقاء په لمانځه کې ددې نه زیات اوچتول ثابت دي. په دعا کې د عاجزي او فقر کیفیت پکار دی [۳]

ددعا غوښتلو په وخت لاسو نه چپرته پکار دي؟

سوال: د دعا مسنونه طریقه څه ده؟یعنې یوازې ناسته باندې دواړه لاسونه اوږو پورې اوچتولو سره دعا کېدای شي.له دې نه پرته بل څه طریقه اختیارول د ګناه ذریعه خو نه ده؟ایا د عاجزي په صورت کې بنده د خپل رب په حضور کې د سجدې په شان سر کېښودلو سره دعا که وکړي، نو دا طریقه خلاف سنت خو نه ده؟ د خینې اهل علم نه ما اوریدلي دي چې د سجدې په انداز کې دعا کول غیرمسنون دي،له دې نه ځان ساتل پکار دي؟

جواب: لاس اوچتولو سره دعا کول د سنت کمال دی[۴].که د لاس وچتولو نه پرته دعا وکړي. نو بیا هم څه حرج نشته او په سجده کې دعا کول جائز دي.خود لمانځه نه وروسته د ټولو خلکو په وړاندې دې داسې مه کوئ. بلکې که په کور کې یواځې والي کې داسې وکړل شي.نو څه حرج په کې نشته.

په سجده کې دعا غوښتل جائز دي

سوال: ما اوریدلي دي چې په سجده کې پریوتلو سره دعا غوښتل نه دي جائز. ځکه د نیت

۱] وفی شرح المسلم للنووی: قال القاضی عیاض: واختلفوا فی کراهة رفع البصر الی السماء فی الدعاء فی غیر الصلوة فکرهه شریح وآخرون وجوزه الاکثرون وقالوا لان السماء قبلة الدعاء کما ان الکعبة قبلة الصلوة....الخ. (مسلم شریف ج:۱ ص: ۱۸۱)۔

۲]عن سهل بن سعد عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: کان یجعل اصبعیه حذاء منکبیه ویدعو.(مشکوة شریف ص: ۱۹٦)۔

۳] عن انس قال: کان النبی صلی الله علیه وسلم : لا یرفع یدیه فی شیء من دعائه الا فی الاستسقاء فانه یرفع حتی یُری بیاض ابطیه . متفق علیه.(مشکوة ص: ۱۳۱، باب الاستقاء)۔

۴] وقال ابو موسی الاشعری رضی الله عنه : دعا النبی صلی الله علیه وسلم ثم رفع یدیه، ورایت بیاض ابطیه.(صحیح البخاری ج:۲ ص: ۹۳۸ کتاب الدعوات ، باب رفع الایدی فی الدعاء). (قوله فیبسط یدیه حذاء صدره) کذا روی عن ابن عباس من فعل النبی صلی الله علیه وسلم ، قنیه عن تفسیر السمان....الخ.(فتاوی شامی ج:۱ ص: ۵۰۷، کتاب الصلاة ، مطلب فی اطالة الرکوع للجائی).

نه پرته سجده نه کیږي.

جواب: په سجده کې د دعا کولو دا تفصیل دی: چې سجده یا خو به د لمانځه وي یا پرته د لمانځه نه، که د لمانځه وي، نو په سجده کې دعا ګانې کول جائز دي. خو شرط دا دی چې دعا به په عربي ژبه کې کوی. بلکې په قرآن او احادیثو کې چې کومې دعا ګانې راخې هغه دې اختیار کړي[۱] په فرض لمانځه کې امام ته په سجده کې دعا ګانې نه دي کول پکار چې په مقتدیانو باندې بار نه وي،[۲] او که سجده د لمانځه نه پرته وي، نو دخلکو مخکې اودفرض لمونځونو نه وروسته دې په سجدې کې تلو سره دعا ګانې نه کوي[۳] په تنهایي کې په سجده کې تلو سره دعا ګانې کولو کې هیڅ باک نشته.[۴]

د دعا نه وروسته په سینه پوکی کول

سوال: کله چې خلک دعا وکړي، نوځینې خلک په خپله سینه باندې پوکی کوی ایا دا جائز ده؟

جواب: څه وظیفه لوستلو سره به پوکی کوی او دا جائز ده.[۵]

امام د لمانځه نه وروسته د مقتدیانو طرف ته مخ کول او دعا کول

سوال: د سهار او مازدیګر د لمانځه وروسته امام د مقتدیانو طرف مخ کولو او قبلې ته تقریبا شا کولو سره ولې دعا غواړي؟

جواب: څکه چې د لمانځه نه ،خو فارغ شواوس مقتدیانو ته مخ کولو سره کیناستل پکار دي په باقي لمونځونو کې د مختصر دعا نه وروسته د سنتو له پاره ودریږي.له دې وجې په دې مختصر وقفې کې مقتدیانو طرف ته د مخ کولو اهتمام نه کیږي او په سهار او مازدیګر کې د تسبیحاتو د لوستلو نه وروسته دعا کیږي.له دې وجې د اوږدې وقفې له وجې نه مقتدیانو ته مخ کولو سره ناسته کول پکار دي.د لمانځه نه وروسته امام ته رخ بدلول پکار دي، که ښي طرف ته وي یا ګس طرف ته یا د مقتدیانو طرف ته. په هر حال مقتدیانو طرف ته دې شا کولو

---

[۱] ینبغی ان یدعو فی صلاته بدعاء محفوظ واما فی غیرها فینبغی ان یدعو بما یحضره...الخ.(شامی ج:۱ ص: ۵۲۳)

[۲] وان کان امامًا لا یزید علی وجه یمل القوم..الخ.(الهندیة ج:۱ص:۷۵، الفصل الثالث فی سنن الصلوة..الخ)

[۳] اما بغیر سبب فلیس بقربة ولا مکروه وما یفعل عقیب الصلاة فمکروه لان الجهال یعتقدونها سنة او واجبة وکل مباح یؤدی الیه فمکروه انتهی.(شامی ج:۲ ص: ۱۲۰، قبیل باب صلاة المسافر)۔

[۴] وحاصله ان ما لیس لها سبب لا تکره ما لم یؤد فعلها الی اعتقاد الجهلة سنیتها کالتی یفعلها بعض الناس بعد الصلاة ....الخ. (شامی ج:۲ ص: ۱۲۰، قبیل باب الصلاة المسافر)۔

[۵] عن عائشة زوج النبی صلی الله علیه وسلم ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان اذا اشتکی یقرا فی نفسه بالمعوذات وینفث فلما اشتد وجعه کنت اقرا علیه وامسح علیه بیده رجاء برکتها.(سنن ابی داود ج:۲ ص: ۱۸۹، باب کیف الرقی، حدیث نمبر:۲۹۰۵)۔

سره نه کيني[1]

د لمانځه په وخت کې په تيزاوازسره ذکر کول ناجائز دي

سوال: زموږ په جومات کې د ماسخوتن د لمانځه نه وروسته فورا د ذکر اذکار سلسله شروع کيږي ذکر دومره په ارچت اواز سره کيږي چې اواز د جومات د حد نه بهر اوريدل کيږي الاتي، بلب وغير بند کړل شي او لمونځ کونکي د ناوخته پورې د ماسخوتن لمونځ کوي په شور سره په لمانځه کې خلل پيدا کيږي، په تفصيل سره وليکئ چې دا تر کومه حده پورې صحيح ده؟

جواب: په داسې وخت کې په اوچت اواز سره ذکر کول چې کله خلک لمونځ کوي صحيح نه ده، فقهاء کرامو دا ناجائز ليکلي دي.[2]

په جوماتکې اجتماعي ذکر بالجهر کومه حده پورې جائز دی

سوال: زموږ په جومات کې بلکې ددې علاقې په ټولو جوماتونو کې د سهار د لمانځه نه وروسته. بلکې په ځينو ځايونو کې په لاؤډ سپيکر باندې د سلام نه وروسته د کلمې طيبې ذکر کيږي او وروسته درود شريف په دې الفاظو سره "**صلی علی نبينا صلی علی محمد**" خو زموږ په جومات کې مسبوق دخپل لمانځه يو رکعت يا دواړه رکعتونه ولولي. له دې نه وروسته اوچت ذکر په تيزه درميانه جهر هم نه... بلکې په زور سره په يو سر لمونځ کونکي کوي او بيا مسنون ذکر يعنې ايت کرسي او تسبيح ۳۳ ځله تحميد ۳۳ ځله تکبير ۳۴ ځله لولي او يو ځل اجتماعي دعا غوښتل کيږي. داسې ذکر کول جائز دي او که نه؟ په بل جومات کې د سلام نه وروسته

۱] عن سمرة بن جندب رضى الله عنه قال: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا صلى صلاة اقبل علينا بوجهه. (بخارى شريف ج:۱ ص: ۱۱۷). وفى صلاة لا تطوع بعدها كالفجر والعصر يكره المكث قاعدا فى مكانه مستقبل القبلة والنبى عليه الصلوة والسلام فسمى هذا بدعة....الخ.(عالمگيرى ج: ۱ ص: ۷۷). وكذا يكره مكثه قاعدًا فى مكانه مستقبل القبلة فى صلاة لا تطوع بعدها...الخ.(شامى ج:۱ ص: ۵۳۱). ايضًا: واما بيان ما يستحب للامام ان يفعله عقيب الفراغ من الصلاة ، فنقول اذا فرغ الامام من الصلاة فلا يخلوا اما ان كانت صلاة لا تصلى بعدها سنة او كانت صلاة تصلى بعدها سنة فان كانت صلاة لا تصلى بعدها سنة كالفجر والعصر، فان شاء الامام قام، وان شاء قعد فى مكانه يشغل بالدعاء....لما روى ان النبى صلى الله عليه وسلم كان اذا فرغ من صلاة الفجر استقبل بوجهه اصحابه.....ثم اختلف المشائخ فى كيفية الانحراف.......وقال بعضهم : هو مخير ان شاء انحرف يمنة ، وان شاء يسرة ، وهو الصحيح.......وان كانت صلاة بعدها سنة ،يكره له المكث قاعدًا.(بدائع الصنائع ج:۱ ص: ۳۹۳، ۳۹۴، كتاب الصلاة ، فصل واما بيان ما يستحب للامام، طبع رشيديه)_

۲] قوله ورفع صوت بذكر......اجمع العلماء سلفًا وخلفًا على استحباب ذكر الجماعة فى المساجد وغيرها الا ان يشوش جهرهم على نائم او مصل او قارى..الخ.(شامى ج:۱ ص: ۶۶۰، مطلب فى رفع الصوت بالذكر). وايضا فالاسرار افضل حيث خيف الرياء وتاذى المصلين او النيام....الخ.(شامى ج:۶ ص: ۳۹۸، طبع سعيد)

دري خله استغفار په مزه ویل کیږي او ایت الکرسي او "اللهم اجرنی من النار" اووه خله او تسبیحات مسنونه له دې نه وروسته یو خل دعا کیږي.تاسو بیان کړئ چې په ورو طریقه مسنون ده. د حضرت فرمایل شوي یا په تیزه ذکر کول یعنې په اوچت ذکر کونکو ته ثواب ملاویږي؟ په دې وخت کې څوک ویده نه وي که ویده وي. نو هغه د لمانځه له پاره پورته کولی شي چې د سهار لمونځ قضاء نه شي او جومات ته نږدې څوک بیمار هم نه وي او نه څوک لمونځ کونکي وي.د محلې اکثر خلک راځي او که ښځې یې په کور کې وایي. نو وایي به.په داسې وخت او داسې صورت کې کوم ذکرمسنون دی اوکوم ذکربدعت اومنع دی؟ چې موږخلک مسنون ذکروکړو او بدعي ذکربندکړو. اوچت ذکرکونکي لوی لوی اشتهارونه پیش کوي. چې رسول الله ﷺ علي رضی الله عنه او صحابه کرامو به اوچت ذکر کولو موږ هم اهل سنت والجماعت یو.بلکې دا علامت دی څوک چې کلمه په اوچت اواز سره کوي ،هغه سني حنفي دی او څوک چې په اوچت اواز سره ذکر نه کوي هغه د ذکر د مانعینو نه دی. د عذاب مستحق دي وهابي دی وغیره وغیره جګړه کوي.

جواب: ۱.د لمانځه نه وروسته په وچت اواز سره ذکر کول په کوم سره چې د مسبوق لمونځ کونکو په لمانځه کې خلل پیدا شي جائز نه دي او ددې مقصد له پاره د لاؤډ سپیکر استعمال نوز هم بد دي[1] په حدیث کې د قیامت په علاماتو کې یو دا هم ارشاد فرمایل شوي دي.

وارتفعت الاصوات فی المساجد[2] یعني په جوماتونو کې به اوازونه وچت شي له دې نه معلومیږي چې په جومات کې اوازونه وچتول په امت کې د بې اتفاقي علامه ده.

۲.د رسول الله ﷺ صحابه کرامو او سلف صالحین نه چې کومه طریقه نقل ده هغه داده چې د لمانځه د فراغت نه وروسته په مزه تسبیحات او مسنون اذکار اوکړل شي او په مزه دعا وکړل شي. رسول الله ﷺ به کله کله د تعلیم له پاره یو کلمه په وچت اواز سره ویله په تیز اواز سره که چرته دعا وشي چې کله په هغه سره په لمانځه کې خلل نه راځي. نو هیڅ بدي نشته. جهري دعا عادت جوړول او د سنت په شان ددې پابندی کول صحیح نه دي.

۳.د ذکر او د دعا تعلق د الله پاک او د بنده ترمینځه دی په تیز اواز سره خصوصا په لاؤډ سپیکر باندې د ذکر او دعا اجازه ورکول ددې د روح منافي دي او په دې کې ریا او د مخلوق طرف ته د رغبت ویره ډیره ده له دې وجې مسلمانانو ته ددې نه ځان ساتل پکار دي که څوک

---

[1] الجهر المفرط ممنوع شرعًا، وكذا الجهر الغير المفرط اذا كان فيه ايذاء لاحد من نائم او مصل، او حصلت فيه شبهة رياء اولوحظت فيه خصوصيات غيرمشروعة كما صرح به على القارى فى شرح مشكوة والحصكفى فى الدر المختار وغيرها.(سباحة الفكر فى الجهر بالذكر، الباب الاول، مشموله رسائل لكنوى ج:۳ ص: ۳۴)

[2] (وظهرت الاصوات) اى رفعها(فى المساجد) وهذا مما كثر فى هذا الزمان وقد نص بعض علمائنا بان رفع الصوت فى المسجد ولوبذكرحرام.(مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح ج:۵ ص:۱۷۶،باب اشراط الساعة)

ددې خلاف کوي. نو د هغه سره اینښتل نه دي پکار[1]

د لمانځه دوران کښې په ګوتو با ندې تسبیحات شمیرل

سوال: ما یو ځای کې لوستلي وو چې په لمانځه کې الحمد لله، سبحان الله، الله اکبر وغیره په لاس باندې یا په تسبیح باندې نه دي ویل پکار، له دې سره لمونځ مکروه کیږي که دا خبره صحیح وي. نو موږ څنګه دا الفاظ لوستلی شو؟

جواب: په لمانځه کې په ګوتو باندې تسبیح وغیره شمیرل واقعی مکروه دي صلوٰة التسبیح کې ددې کلماتو د شمیر کولو ضرورت راځي دهغه تدبیر دادی چې یو یو ګوته لږه شان زوروي[2]

ایتونه، سورتونه او تسبیحات په ګوتو با ندې شمیرل

سوال: ایتونه، سورتونه یا تسبیحات په ګوتو باندې شمیرل د لمانځه په مکروهاتو کې شامل دي ایا دا صحیح ده؟ د لمانځه نه وروسته چې موږ په ګوتو کوم تسبیحات کوو دهغه څه حکم دی؟

جواب: د ایتونو یا تسبیحاتو په ګوتو باندې شمیر کول په لمانځه کې مکروه دي[3] د لمانځه نه بهر مکروه نه دي، بلکې امر پرې راغلی دی.[4]

د تسبیحات فاطمه رضی الله عنها فضیلت

سوال: ما په یو حدیث کې لوستلي دي چې سبحان الله ۳۳، الحمد لله۳۳، الله اکبر ۳۴ ویلو مطلب د سل دانو دا تسبیح چې کوم سړی روزانه د سهار د لمانځه په وخت کې او د ماسخوتن د لمانځه نه وروسته یا د هر لمانځه نه وروسته لولي. نو د قیامت په ورځ به د هغه مرتبه ډیره اوچته وي؟

جواب: تاسو صحیح لیکلي دي، دې ته کلماتو ته تسبیحات فاطمي وایي ،ځکه چې رسول اللهﷺ خپلې ګرانې لور فاطمې رضی الله عنها ته ښودلي وو. په حدیث کې ددې ډیر فضائل راغلي دي[5] کوم چې شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا کاندهلوي مدني رحمة الله علیه په خپله رساله "فضائل

۱] ایضًا.)_

۲] ویکره عد الآیة والتسبیح بالید.....والاظهر ان الخلاف فی الکل کذا فی التبیین.(هندیة ج:۱ ص: ۱۰۵). اما خارجها فلا یکره کعده بقلبه او بغمزة انامله وعلیه یحمل ما جاء من صلاة التسبیح.(درمختار ج:۱ ص: ۶۵۰)_

۳]وکره تنزیها (عد الآیة والسور والتسبیح بالید فی الصلاة مطلقًا) ولو نفلا اما خارجها فلا یکره.(الدر المختار ج:۱ ص: ۶۵۰، باب ما یفسد الصلاة وما یکره فیها)_

٤]عن یسیرة رضی الله عنها وکانت من المهاجرات قالت: قال لنا رسول الله صلی الله علیه وسلم:علیکن بالتسبیح والتهلیل والتقدیس واعقدن بالانامل فانهن مسؤلات مستنطقات ولاتغفلن فتنسین الرحمة.(مشکوة ص:۲۰۲)

۵]عن کعب بن عجرة رضی الله عنه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم ..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

ذکر کې جمع کړي دي. دا پاک کلمات د هر لمانځه نه وروسته او هره شپه د ویده کېدو نه مخکې ډیر په اهتمام سره لوستل پکار دي

د لمانځه نه وروسته تسبيحات په ګوتو باندې شميرل غوره دي

سوال: ما چېرته دا مسئله لوستلې وه چې د لمانځه نه وروسته لوستل کېدونکي تسبيحات (سبحان الله۳۳، الحمدلله۳۳، الله اکبر۳٤) د لاس په ګوتو باندې شميرل مکروه دي. درخواست دی چې په دې سلسله کې تاسو دا بيان کړئ چې دا مسئله صحيح ده او که نه؟

جواب: په ګوتو باندې تسبيحات کول نه يوازې جائز دي، بلکې په حديث شريف کې د تسبيحاتو په ګوتو باندې د شميرلو حکم راغلی دی: **عن يسيرة رضي الله عنها وكانت من المهاجرات قالت: قال لنا رسول الله صلى الله عليه وسلم عخو بالتسبيح والتهليل والتقديس واعقدن بالانامل فانهن مسئولات مستنطقات ولا تغفلن فتنسين الرحمة.** (رواه الترمذي وابوداودمشكواة ص:۲۰۲)

ترجمه: يسيره رضي الله عنها کومه چې په هجرت کونکو کې وه هغه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم موږ ته فرمايلي وو چې تسبيح او تهليل او تقديس په خپل ځان باندې لازم کړئ او هغه په ګوتو باندې شميرئ ،ځکه چې ددې نه به سوال کيږي او دا به راغوښتل کيږي او د ذکر نه غفلت مه کوئ. که نه د رحمت نه به هير شئ.

په کرځيدو کرځيدو کې تسبې کول

سوال: ما په کراچۍ کې سړي اوښځې په لاره باندې تللو سره تسبې ويونکي ليدلي دي.اکثر مې دا هم ليدلي دي چې سړک باندې اوړي. خو د تسبو دانې روانې وي ،مخکې ورځو کې ما په بس استاپ باندې يو ښځه وليده چې د نيم نه يې زيات سر لوڅ دی ،په ولاړه يې تسبې اړولې زه تاسو نه دا پوښتنه کوم چې ايا د تسبو کولو دا صحيح طريقه ده؟

جواب: تسبې لوستل په ګرځيدو هم جائز دي،بلکې ښه خبره ده چې هر وخت سړی د الله پاک په ذکر کې مصروف وي که يو انسان د تسبيح کولو په دوران کې غلط کار کوي، نو هغه ته داسې نه دي کول پکار[1]

تسبې بدعت نه دي بلکې د الله پاک د ذکر ذريعه ده

سوال: تاسو د يو سوال په جواب کې ګرځيدلو کې تسبيح ويلو ته جائز ويلي و، بلکې ډير ښه

...بقيه د تيرمخ] ..قال: معقبات لا يخيب قائلهن او فاعلهن دبر كل صلوة : ثلاثا وثلاثين تسبيحة ، وثلاثا وثلاثين تحميدة، واربعًا وثلاثين تكبيرة.(صحيح مسلم ج:۱ ص: ۲۱۹، كتاب المساجد، باب استحباب الذكر بعد الصلاة وبيان صفته)۔

۱] قال(صلى الله عليه وسلم): لا يزال لسانک رطبًا من ذكر الله .(مشكوة ص: ۱۹۸، باب ذكر الله)۔

خبره مو لیکلي وه. دلته زما مقصود ستاسو په علم کې څه قسمه شک او شبه کول نه دي، بلکې ستاسو علم وسیع دی، خو څو پورې چې زما د معلوماتو تعلق دی هغه دا چې د تسبو دانې اړول د رسول الله ﷺ په سنت کې داخل نه و او نه دې ته د الله پاک ذکر ویل کیږي. د ذکر الله معنی ددې نه بالکل مختلفه ده دا یو شرعي بدعت دی.چې نن سبا زموږ په ژوند کې د فیشن په شکل کې داخل شوی دی،امید دی چې تاسو به دې مسئله باندې نوره هم رڼا واچوئ

جواب: ۱: تسبې په خپل ذات کې مقصود نه دي، بلکې د ذکر د شمیر کولو ذریعه ده. ډیرو احادیثو کې دا مضمون راغلی دی چې فلانی ذکر او فلانی کلمه که دومره خله وویل شي. نو دومره ثواب پرې ملاویږي .د احادیثو د طالبانو نه دا احادیث پټ نه دي او ښکاره ده چې ددې تعداد د شمار له پاره یو نه یو ذریعه ضرور شمیرل کیږي. که په ګوتو یې شمیر کړي یا په کاڼو سره یا په دانو سره او کومه ذریعه چې هم اختیار کړل شي هغه به په هر حال ددې شرعي مقصد د حصول ذریعه وي او کوم شی چې د شریعت د مطلوب شي ذریعه وي هغه ته بدعت نه وایي، بلکې د فرض له پاره د داسې ذریعه اختیارول فرض او د واجب له پاره د داسې ذریعه کیدل واجب هم دغه شان د مستحب له پاره دداسې ذریعه اختیارول مستحب دي.تاسو پوهیږئ چې د حج له پاره بحري او بري او فضایي ټولې لارې اختیار کېدای شي. خو که په یو زمانه کې په دې کې دوه لارې بندې شي اویوازې یو پرانستې وي، نو د هغه اختیارول به فرض وي،هم دغه شان که درې واړه پرانستې وي، نوبه هغه کې به یوپرته د تعین کولو نه اختیارول فرض وي. همدغه شان تسبیحات او اذکار شمارل د شرع په نزد مطلوب دي او دهغه د حصول یو ذریعه تسبې هم دي،نو دې ته به بدعت نه وایو،بلکې د نورو ذرائعو په شان یو ذریعه به یې ګڼو او چونکه په ټولو ذرائعو کې ډیره اسانه ده له دې وجې به دې ته ترجیح ورکول کیږي

۲: په ډیر احادیثو کې ثابت ده چې په کاڼو او دانو باندې شمیرل رسول الله ﷺ کتل خو انکار یې پرې نه دی کړی نو:

الف: په سنن ابی داود(ج۱ص۲۱۰ باب التسبیح بالحصی)او مستدرک د حاکم(ج۱ ص ۴۸۵)کې سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه روایت کوی چې:

"انه دخل مع النبی صلی الله علیه وسلم علی امراة وبین یدیها نوی او حصی تسبح به فقال: اخبرک بما هو ایسر علیک من هذا و افضل...الحدیث" (سکت علیه الحاکم وقال الذهبی صحیح)

ترجمه:هغوی د رسول الله ﷺ سره یو ښځې ته لاړل چې دهغې مخې ته د کجورو هډوکي او کاڼي پراته وو. په هغه باندې هغه تسبیحات لوستل. رسول الله ﷺ وفرمایل: زه تا ته داسې شی ونه ښایم چې هغه ددې نه زیات اسان او افضل دي....الخ

ب: ترمذی او مستدرک حاکم(ج۱ ص۵۴۷)باندې د صفیه رضی الله عنها نه روایت دی چې

**"قالت:دخل علیّ رسول الله صلی الله علیه وسلم وبین یدی اربعة آلاف نواة اسبح بهن، فقال:یا

بنت حيي!ما هذا؟ قلت اسبح بهن:قال:قد سبحت منذ قمت على راسك اكثر من هذا.
قلت:علمني يا رسول الله! قال:قولي:سبحان الله عدد ما خلق من شيئ.(قال الحاكم هذا حديث صحيح الاسناد ولم يخرجاه،وقال الذهبي صحيح)

ترجمه:رسول الله ﷺ ماته تشريف راوړ. ماته څلور زره هډوکي پراته وو چې په هغه باندې مې تسبيح لوستل رسول الله ﷺ وفرمايل دا څه دي؟ عرض مې وکړ زه په دې باندې تسبيحات لولم،ويې فرمايل زه چې کله تا نه لاړم ما ددې نه ډير تسبيحات ولوستل ما عرض وکړ يا رسول الله ﷺ ماته يې هم وښايئ ويې فرمايل داسې وايه:**سبحان الله عدد ما خلق من شيئ.**

د دې حديث لاندې صاحب د عون المعبود ليکي:

"**هذا اصل صحيح لتجويز السبحة بتقريره صلى الله عليه وسلم فانه في معناها اذ لا فرق بين المنظومة والمنثورة فيما يعد به ولا يعتد بقول من عدها بدعة**"(عون المعبود ج:۱ ص:۵۵۵)

ترجمه:د رسول الله ﷺ په هډوکو باندې انکار نه کول د تسبيح د جائز کيدو صحيح اصل دې. ځکه چې تسبې هم د هډوکو په معنى کې دي، ځکه چې د شمير له پاره په دې سره هيڅ فرق نه پريوځي چې هډوکي دې پېيل شوي وي يا دې پرته پېيل شوي وي او کوم خلک چې دې ته بدعت وايي د هغوی قول د اعتبار وړ نه دي.

۳ تسبې،په يو بل لحاظ سره هم د الله د تسبيح ذريعه ده او هغه دا چې تسبې په لاس کې وي، نو په ژبه خپله ذکر جاري کيږي او که تسبې نه وي، نو انسان ته ذکر ياد نه وي،هم په دې بنياد باندې تسبو ته "**مذکره**" يعنې يادونکې وايي او هم په دې بنياد صوفياء دې ته د شيطان له پاره کوړه وايي چې ددې په ذريعه شيطان لرې کيږي او انسان ته د الله جل جلاله د ذکر نه په غافل کولو کې نه کاميابيږي، کله چې د الله جل جلاله په ذکر مشغوليدل مطلوب دي او د تسبو په لاس کې کېدل ددې مشغولتيا ذريعه ده، نو دې ته بدعت ويل غلط دي، بلکې د الله جل جلاله د ذکر د ذريعه کېدو له وجې نه که دې ته مستحب وويل شي، نو ليرې نه ده.

د درود شريف ثواب زيات دی که د استغفار

سوال: د درود شريف ثواب زيات که د استغفار؟

جواب: د دواړو ثواب په خپل خپل ځای دی د استغفار مثال د لوښي وينځلو دی او د درود شريف مثال د لوښي د قلعي(کلايي) کولو دی.

مختصر درود شريف

سوال: موږ اکثر اورو چې په رسول الله ﷺ باندې په کثرت سره درود وايئ.نو مولانا صاحب! تاسو د درود ليږلو يو اسانه طريقه بيان کړئ او دا هم بيان کړئ چې په درود شريف کې کوم غوره دی؟

جواب: د ټولو نه غوره درود شریف خو هغه دی کوم چې په لمانځه کې لوستل کیږي او مختصر درود شریف دا هم دی **اللهم صلّ علی سیدنا و مولانا محمد و علی اله و اصحابه و بارک وسلم**...دديٍ درود شریف درې تسبيح د سهار او درې تسبيح د ماښام کول پکار دي که دومره اوزګارتیا نه وي، نو سهار ماښام دې يو يو تسبيح ولوستل شي. يعنې سل سل خله دې نه پرته چې کله هم موقع ملاؤ شي، نو درود شریف د ژبې ورد جوړول پکار دي.

د لمانځه والا درود شریف کې د سیدنا او د مولانا زیاتوالی کول

سوال: د لمانځه نه وروسته التحیات او د تشهد نه وروسته درود کې د رسول اللهﷺ او د ابراهیمعلیه السلام نومونو نه مخکې لفظ د سیدنا او د مولانا ویل څنګه دي؟

جواب: زموږ د امامانو نه خو دا مسئله نقل نه ده، په درمختار کې د شوافعو د حوالې نه يې دې ته مستحب ویلي دي او دهغه سره يې موافقت کړی دی.[۱]

په روضه مبارکه باندې درود شریف رسول اللهﷺ خپله اوري

سوال: په رسول اللهﷺ باندې درود او سلام جائز دي؟ او کله يې چې موږ وايو. نو رسول اللهﷺ يې خپله اوري؟

جواب: په رسول اللهﷺ باندې د درود او سلام لیږلو حکم دی او دديٍ بې شمیره فضائل راغلي دي.خو دديٍ الفاظ او دديٍ هغه طريقه صحيح ده کومه چې رسول اللهﷺ خپله ارشاد فرمایلې ده نن سبا چې خلک کوم د ګانې په انداز درود وايي دا طریقه نه یوازې د سنت خلاف ده، بلکې یوازې ریاکاری ده.درود شریف که د رسول اللهﷺ په روضه باندې وویل شي. نو رسول اللهﷺ يې خپله اوري،که نه فرشتې يې ورسوي.[۲]

په يو مجلس کې د رسول اللهﷺ په نوم اوریدو باندې يو ځل درود واجب او هر ځل مستحب دی

سوال: په لانډهي کالونی ایریا...۳ بي کې رحمانیه مسجد واقع ده هلته ماته د جمعې د لمانځه د ادا کولو موقع ملاویږي ،امام صاحب د لمانځه نه مخکې پاو کم يو ګنټه تقریر کوي.د رسول اللهﷺ او حضور نوم يې بار بار په ژبه باندې راځي. خو داسې چې رسول الله فرمایلي دي او حضور فرمایلي دي . رسول اللهﷺ نه وايي ماته ذاتي طور سره ډیر تکلیف

۱] وندب السیادة لان زیادة الاخبار بالواقع عن سلوک الادب فهو افضل من ترکه ذکره الرملی الشافعی وغیره.(الدر المختار ج:۱ ص: ۵۱۳، باب صفة الصلاة ، طبع ایچ ایم سعید)۔

۲] عن ابي هریرة قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : من صلی علی عند قبری سمعته ومن صلی علی نائیا ابلغته. رواه البیقی .(مشکوة ص: ۸۷، باب الصلوة علی النبی صلی الله علیه وسلم ، الفصل الثالث)

وي ايا داسې د هغه نوم مبارک اخيستل او درود نه ويل بې ادبي نه ده؟

جواب: په يو مجلس کې چې کله د رسول الله ﷺ نوم مبارک راشي، نو درود ويل واجب دي او هرځل د نوم مبارک سره درود ويل مستحب دي واجب نه دي، زړه نه غواړي چې د رسول الله ﷺ نوم واخيستل شي او درود شريف ونه لوستل شي، که په يو مجلس کې سل ځله هم د رسول الله ﷺ نوم واخيستل شي، نو هر ځل صلی الله عليه وسلم لوستل مستحب دي [۱]

د دعا د قبوليت له پاره په اول او اخر کې درود شريف لوستلو سره د قبليدلو ډېر اميد کيږي

سوال: ايا د دعا په اول او اخر کې په رسول الله ﷺ باندې درود شريف ولولئ پرته د نه ويلو دعا نه قبليږي؟

جواب: د دعا په اول او اخر کې درود شريف ويل د دعا د قبليدو له پاره ډېر اميد دی[۲]، د عمر رضی الله عنه قول دی چې دعا د اسمان او ځمکې تر مينځه معلق وي ترڅو چې د هغه په اول او اخر کې درود شريف نه وي.[۳]

بې اودسه درود شريف لوستل

سوال: بې اودسه درود شريف لوستل پکار دي اوکه نه؟ په اول او اخر کې درود شريف لوستلو سره د الله پاک نه دعا کوم ايا داسې طريقې سره دعا صحيح ده اوکه نه؟

جواب: بې اودسه درود شريف لوستل جائز دي او د دعا په اول او اخر کې درود شريف لوستل د دعا په ادابو کې داخل دي[۴] په حديث کې د دې حکم راغلی دی، د عمر رضی الله عنه ارشاد دی چې دعا د اسمان او ځمکې په مينځ کې ځوړنده وي، ترڅو چې په رسول الله ﷺ باندې درود ونه ويل شي.[۵]

۱] وقد جزم بهذا القول ايضًا المحقق ابن الهمام فى زاد الفقير فقال: ....وايجابها كلما ذكر الا ان يتحد المجلس فيستحب التكرار بالتكرار.....الخ.(شامی ج:۱ ص: ۵۱۶، ۵۱۷، مطلب هل نفع الصلاة عائد للمصلی)۔

۲]ونص العلماء على استحبابها (الصلاة على النبى صلى الله عليه وسلم)فى مواضع....واول الدعاء واوسطه وآخره. (شامی ج:۱ ص: ۵۱۸، مطلب نص العلماء على استحباب الصلاة على النبى فى مواضع)۔

۳] عن عمر بن الخطاب رضى الله عنه قال: ان الدعاء موقوف بين السماء والارض لا يصعد منها شيء حتى تصل على نبيک.رواه الترمذی.(مشکوة ص: ۸۷)، وکذا عن علی رضی الله عنه .(ترمذی ج:۱ ص: ۹۶)۔

٤](قوله ومستحبة فى كل اوقات الامكان) اى حيث لا مانع ونص العلماء على استحبابها فى مواضع .....واول الدعاء، واوسطه، وآخره.(الدر مع الشامية ج:۱ ص: ۵۱۸، مطلب نص العلماء على استحباب الصلاة على النبی)

۵] عن عمر بن الخطاب رضى الله عنه قال: ان الدعاء موقوف بين السماء والارض لا يصعد منها شيء حتى تصل على نبيک.رواه الترمذی.(مشکوة ص: ۸۷)، وکذا عن علی رضی الله عنه .ترمذی ج:۱ ص: ۹۶ ، باب الصلوة على النبى صلى الله عليه وسلم)۔

د درود شریف ډیر والی د بختوروالي او برکت سبب دی

سوال: زه د هر لمانځه نه وروسته د درود شریف یو تسبیح لولم ایا درود زیات نه زیات لوستلی شم؟

جواب: د خپل صحت، طاقت او فراغت لحاظ ساتلو سره چې څومره ډیر درود شریف لولئ هغومره د بختوروالي او سعادت سبب دی.[۱]

په خالي وختونو کې د درود شریف زیاتول ښکار دي

سوال: په خالي وختونو کې جوماتونو یا کورونو کې درود شریف یا استغفار لولو. نو په دواړو کې غوره کوم یو دی؟

جواب: دواړه په خپل ځای غوره دي تاسو د درود شریف کثرت کوئ.[۲]

درود شریف په ناسته او ولاړه جائز دی

سوال: درود شریف په ولاړه جائز دی او که نه؟ ځکه چې په ناسته ولاړه کې د الله پاک حمد او ثناء کول ښکار دي.

جواب: درود شریف هم په ناسته او هم ولاړه جائز دی.[۳]

د لمونځ پریښودونکي د دعا نه قبلیدل

سوال: ایا د لمونځ پریښودونکو دعاګانې نه قبلیږي؟ او داسې خلک چې کومې دعا ګانې کوي د هغه د الله جل جلاله په نزد څه مرتبه ده؟ داسې دعا ګانې څه مطلب لري؟

جواب: دعا خو د کافر هم قبلیدلی شي[۴] باقي کوم سړی چې لمونځ نه کوي د هغه تعلق د الله پاک سره صحیح نه دی، که د هغه دعا قبوله هم شي، نو داسې به وي لکه سپي ته چې ډوډۍ واچول شي.

۱] عن ابن مسعود رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : ان اولی الناس بی یوم القیامة اکثرهم علیّ صلوة.رواه الترمذی.(ترمذی ج:۱ ص: ٦٤). وعن انس قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : من صلی علی واحدة صلی الله علیه وسلم عشرصلوات وحُطت عنه عشرخطیئات،ورفعت له عشردرجات(مشکوة ص: ٨٦)

۲] ایضاً_

۳] ومستحبة فی کل اوقات الامکان ای حیث لا مانع.....الخ.(ردالمحتار ج:۱ ص: ۵۱۸، مطلب نص العلماء علی استحباب الصلاة)_

٤]قال الله تعالی: امن یجیب المضطر اذا دعاه ویکشف السوء ویجعلکم خلفاء الارض(النمل :٦٢) .قال تعالی: فاذا رکبوا فی الفلک دعوا الله مخلصین له الدین ای الدعاء ای لا یدعون معه غیره لانهم فی شدة ولا یکشفها الا هو، فلما نجاهم الی البر اذا هم یشرکون.(تفسیر جلالین ص: ۳٤۰، العنکبوت ، طبع قدیمی کتب خانه)_

اويا زره ځله کلمه ويلو سره د مړي نه عذاب ليري کيږي

سوال: ما څه موده مخکې يو ځای کې لوستي و . چې يو سړی وفات شو . بل کس په خوب کې وليد چې هغه په عذاب کې اخته دی. چا هغه ته ويلي و چې کلمه طيبه پاو باندې يو لاک ځله تعداد ماته صحيح ياد نه دي هغه ته دا ثواب وبښي، نو الله پاک به د هغه عذاب ليرې کړي. هغه دا اولوستلو او بيا يې په دويم ځل په خوب کې وليد چې د هغه سړي نه عذاب ليرې شوی و . په دې سلسله کې د څه بزرګانو نومونه و کوم چې ماته ياد کړي نه دي ايا داسې څه شی شته؟

جواب: داسې واقعه زموږ شيخ مولانا محمد زکريا مهاجر مدني رحمه الله د شيخ ابويزيد قرطبي رحمه الله نه نقل کړې ده، هغه فرمايي چې ما اوريدلي دي چې کوم سړی اويا زره ځله "لا اله الا الله" ووايي هغه ته به د دوزخ نه نجات ملاؤ شي ما په دې خبر اوريدو سره يو نصاب يعنې اويا زره ځله د خپلې ښځې له پاره وويل او څو نصابه مې د خپل ځان له پاره د اخرت ذخيره جوړه کړه. موږ سره يو ځوان اوسيده چې د هغه متعلق مشهوره وه چې هغه صاحب کشف دی. د جنت دوزخ هم هغه ته کشف کيږي. ما ته ددې په صحت کې څه تردد و . يو ځل هغه ځوان موږ سره په خوراک کې شريک و . چې ناڅاپه يې يو چغه وهله او ويې ويل چې زما مور په دوزخ کې سوزي د هغې حالت ما وليد .

قرطبي رحمه الله وايي چې ما د هغه ويره ليدله. زما خيال راغی چې يو نصاب د هغه مور ته اوبښم چې په دې سره به ددې خبرې د رښتيا کيدو به هم ماته خبر وشي. ما د يو نصاب د اويا زرو کومې چې ما د خپل ځان له پاره لوستلی و هغه ته وبښلو ما په خپل زړه کې په پټه بښلي وي او زما ددې لوستلو خبر هم زما نه پرته بل چا ته نه وه معلومه. خو هغه ځوان فورا وويل چې اې تره! زما د مور نه د دوزخ عذاب ليرې کړل شو.

قرطبي رحمه الله وايي چې ما ته ددې قيصې نه دوه فائدې وشوې يو خو د هغه برکت کوم چې د اويا زره ځله وينا باندې ما اوريدلي و د هغه تجربه هم وشوه . بل د هغه ځوان د رښتينې کيدو هم ماته يقين وشو.[1]

ايا د رسول الله ﷺ له پاره د مغفرت دعا کولی شو؟

سوال: عام طور سره موږ د خپلو خپلوانو (مړو) د مغفرت له پاره د الله تعالی نه سوال کوو او قرآن کريم او نفلونو کولو سره هغوی ته ثواب بښو او د الله پاک نه د هغوی له پاره د جنت الفردوس دعا غواړو. خو رسول الله ﷺ کامل انسان دی او د هغه متعلق د غلطې يا کمې سوچ کول هم ګناه ده، نو ايا د هغه له پاره د مغفرت دعا کول پکار دي او که نه؟

جواب: د رسول الله ﷺ په برکت خو به د ګناهګارانو ښښنه کيږي، له دې وجې د هغه له پاره د

---

[1] فضائل ذکر ص: ۸۴، ۸۵، طبع دهلی).

مغفرت د دعا کولو ضرورت نشته. بلکې د درجو د اوچتیدو دعا کول پکار دي د ټولو نه غوره ډالۍ د رسول الله ﷺ په اوچت دربار کې درود شریف ده او د نفلي عبادتونو ثواب هم رسول الله ﷺ ته ضرور بښل پکار دي چې زموږ د مینې او تعلق تقاضا ده مثلاً د قرباني په موقع که ګنجائش وي، نو د رسول الله ﷺ د طرفه دې هم قرباني وکړل شي صدقه او خیرات دې د رسول الله ﷺ د طرفه وکړل شي حج او عمره دې د رسول الله ﷺ له طرفه وکړل شي [۱]

استغفار د هر چا له پاره کیږي

سوال: د استغفار متعلق ویل شوي دي چې د خپلو ورونو له پاره استغفار کوئ.په دې مو پوه کړئ چې د ژوندي وروړله پاره یا د مړ وروړله پاره د استغفار څه طریقه ده؟ اوبیادا استغفار دې ورونو ته څه فائده رسوي؟

جواب: استغفار د مړو او ژوندو ټولو له پاره کیږي. مثلاً عربي کې دا الفاظ ډیر جامع دي

اللهم اغفر للمومنين والمومنات والمسلمين والمسلمات الاحياء منهم والاموات...او په پښتو کې دې دا الفاظ ووایي: یا الله جل جلاله! ماته او ټولو مسلمانانو سړیو اوښځو ته بښنه وکړې. پاتې شوه دا چې د استغفار څه فائده ده؟ نو ددې جواب دادی چې کوم مسلمان د ټول امت له پاره استغفار کوي الله پاک د هغوی هم بښنه کوي او د کوم سړي له پاره چې ډیر مسلمانان استغفار کوي الله پاک د هغوی د دعا په برکت د هغه سړي هم مغفرت کوي،ګویا پوره امت له پاره د استغفار کولو فائده پخپله استغفار کونکي ته هم رسیږي او هغو خلکو ته هم چې د چا له پاره استغفار وکړل شي،د چا له پاره چې استغفارکیږي، ګویا دهغه له پاره شفاعت کیږي اوالله پاک داهل ایمان شفاعت قبلوي.

د شپې د اخري برخې وضاحت او په دې کې عبادت

سوال: ما په کتابونو کې لوستلي دي چې کله د شپې اخري دریمه برخه پاتې شي. نو الله پاک اول اسمان ته(څنګه چې د هغه شان سره لائق وي)راکوزیږي او کومه دعا چې وکړل شي هغه قبلیږي. دریمه برخه باقي پاتې شي له دې نه کوم وخت مراددی؟ یعنی ۳ بجې یا ۲ بجې؟ یعنې صحیح وخت کوم یو دی؟ او دا چې د اودس دوه رکعته کول پکار دي او بیا دعا کول پکار دي یا که څه بل څه طریقه وي؟ جواب ضرور راکړئ انتظار به کوم؟

جواب: د لمر پریوتو نه تر د صبح صادق پورې وخت که په درې برخوکې تقسیم کړل شي، نو اخري دریمې برخه مراد ده،مثلاً نن سبا د لمر د پریوتلو نه تر د صبح صادق پورې نهه ګنټې

---

۱ [قلت: وقول علمائنا له ان يجعل ثواب عمله لغيره يدخل فيه النبى صلى الله عليه وسلم فانه احق بذلك حيث انقذنا من الضلالة، ففى ذلك نوع شكر واسداء جميل له، والكامل قابل لزيادة الكمال.(الشامى ج:۲ ص: ۲۴۴)_

شپه وي او د پاو باندې يوې بجې پورې دويمه برخه شپه تيره شي د يوې بجې نه د صبح صادق پورې هغه وخت دې د کوم فضيلت چې په حديث کې بيان شوی دی[1] په دې وخت کې اودس کولو سره د څلورو نه تر دولسو رکعتو پورې د څومره رکعتونو چې الله پاک توفيق ورکړی وي تهجد کول پکار دي له دې نه وروسته چې څومره دعاګانې غواړې کوي دې.

عهد نامه، دعاء گنج العرش او د درود تاج شرعي حيثيت

سوال: ما اربعين د امام نووي رحمه الله وکتلو چې د هغه په ۱۲۸ صفحه باندې يې د دعاء گنج العرش او د عهد نامې متعلق د شکونو او شبهاتو اظهار کړی دی، زه څو دعا ګانې ستاسو په رايه کې کتل غواړم .د هغو دعا ګانو په شروع کې چې کوم فضيلت ليکل شوی دی .د هغه نه تاسو ښه خبريږئ زيات فضيلت چې د هغه نه زيات نه شي ليکلی ايا دا خلکو په خپله خونه دي ليکلي؟

تاسو يوازې جواب راکړئ په دې کې کومه دعا د قرآن او حديث نه ثابته ده او کومه نه ده،که ثابته ده، نو د شروع فضيلتونه د قرآن کريم او احاديثو نه ثابت دي؟ که نه وي، نو موږ ته دا دعا ګانې لوستل پکار دي اوکه نه؟ ايا دا د اسلام د دښمنانو سازش خو نه دی؟

دعا ګانې دا دي: ۱ :وصيت نامه۲ :درود ماهي۳ :درود لکهي۴ :دعاء گنج العرش ۵ :دعاء جميله۶ :دعاعکاشه ۷ :عهد نامه۸ :درود تاج ۹ :دعاء مستجاب

جواب: د "وصيت نامه" په نوم چې کوم کتاب چاپ کيږي هغه، خو خالص دروغ دي او دا دروغ تقريبا د يوې پيړۍ نه خوريږي،همدغه شان نن سبا معجزه زينب رضي الله عنها او د بي بي سيده قصه هم سل دروغ د ځانه جوړ شوي خوريږي.

باقي کومې دعا ګانې چې تاسو ليکلي دي هغه په يو حديث کې خو راغلي نه دي، نه د دې څه فضيلت په احاديثو کې ذکر شوي دي، کوم فضائل چې د دې په شروع کې ليکل شوي دي هغه صحيح ګڼل جائز نه دي،ځکه چې هغه خالص دروغ دي او دروغ خبره رسول الله ﷺ ته منسوب کول ډيره لويه ګناه ده، ترڅو پورې چې د الفاظو تعلق دی دا خبره خو يقيني ده چې دا الفاظ د الله او د هغه د رسول ﷺ ويل شوي نه دي، بلکې چا په محنت او ذهانت سره دا ليکلي دي په هغه کې ځينې الفاظ في الجمله صحيح دي او د قرآن اود احاديثو سره مشابه دي او ځينې الفاظ د قواعد شرعيه په لحاظ سره هم صحيح نه دي دالله پاک اونبي عليه السلام ارشادات خو پريږده!

دا وينا خو ګرانه ده چې د دې دعا ګانو او درود رواج څنګه وشو؟ د يو سازش د لاندې شوی دی يا د کتابونو ناشرانو د مسلمانانو د بې علمي نه فائده اوچته کړې ده؟ زموږ اکابرين د دې

۱] عن ابي هريرة رضى الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: ينزل الله تبارک وتعالى الى السماء الدنيا كل ليلة يمضى ثلث الليل الاول فيقول: انا الملک من ذا الذى يدعونى فاستجب له.الحديث(ترمذى شريف ج:۱ص:۶۹)

دعاګانو په ځای په قرآن او حدیث کې نقل شوي الفاظ غوره ګڼي او خپلو تعلق دارانو او ملګرو ته هم ددې شیانو د وینا مشوره ورکوي

د لمانځه نه وروسته د لاس ورکولو (ستړي مشي) رسم بدعت دی

سوال: زه ګورم چې بالخصوص د سهار په او د مازدیګر د لمانځه نه وروسته.له دې نه پرته د ماسپښین ماښام او ماسخوتن لمانځه نه وروسته بالعموم په لمونځ ګزار حضرات جناب امام صاحب له دې نه وروسته د یو بل سره شرعي مصافحه کوي دا مصافحه وروسته د لمانځه نه څنګه ده؟ مهرباني وکړئ د شرعي احکام د فقه حنفي مطابق مو خبر کړئ

جواب: د لمانځه نه وروسته لاس ورکولو یعنې مصافحه کولو ته فقهاء کرامو بدعت لیکلي دي له دې وجې ددې خبرې التزام دې نه کوي.[1]

د لمانځه نه وروسته غاړه ورکول یا مصافحه کول بدعت دي

سوال: د جمعې د لمانځه نه وروسته د مقتدیانو د یو بل سره یو ځای کېدل یا لاس ورکول د ثواب سبب دي سنت دي یا واجب؟

جواب: نه سنت دي، نه واجب، بلکې بدعت دي[2].که یو سړی د لیرې نه راغلی وي او د لمانځه نه وروسته ملاؤ شي، نو د هغه سره مصافحه او معانقه کول جائز دي.[3]

د فرض لمونځونو نه فورا وروسته او د سنتو نه مخکې د چا سره ملاویدل څنګه دي؟

سوال: زما مشر رور په جومات کې لمونځ کولو، هغه د فرض کولو نه وروسته سلام واړولو. خوا کې یوسړي هم سلام واړولو هغه سړي د مشر رور ډیرپخوانی ملګري وخوت.له ډیرې مودې نه یې ملاقات نه و شوی، له دې وجې تولو مصافحه وغیره وکړه او بیا یې باقي لمونځ وکړ، څه خلکو وویل دا غلطه ده،اول به تاسو ټول لمونځ کړی و چا وویل هیڅ خبره نه ده تاسو ضرور بیان کړئ که واقعي غلطي وشوه؟

جواب: که د چا سره داسې ملاقات وشي لکه چې ستاسو د مشر رور د خپل دوست سره شوی دی، نو د فرض لمونځ نه وروسته هم مصافحه جائز ده. خو په اوچت اواز سره دې نه وي چې په

۱] ونقل فی تبیین المحارم عن الملتقط انه تکره المصافحة بعد اداء الصلاة بکل حال، لان الصحابة رضی الله عنهم ما صافحوا بعد اداء الصلاة ، ولانها من سنن الروافض. ثم نقل عن ابن حجر عن الشافعیة انها بدعة مکروهة لا اصل لها فی الشرع....الخ.(شامی ج:٦ ص: ۳۸۱، کتاب الحظر والاباحة ، باب الاستبراء)۔

۲] ایضا.)۔

۳] اعلم ان المصافحة مستحبة عند کل لقاء.(شامی ج:٦ ص: ۳۸۱)۔

هغه سره لمونځ گزار پريشانه شي[۱]

د اخترونو دعا کله کول پکار دي؟

سوال: ستاسو په کتاب"ستاسو مسائل اود هغې حل"کې د اخترونو په خطبه کې د دعا متعلق داسې ليکل شوي دي چې "ځينې حضرات دعا د لمانځه نه وروسته کوي او ځينې د خطبې نه وروسته، ددواړو گنجائش شته.د نبي کريمﷺ ،صحابه کرامو رضي الله عنهم او تابعين حضراتو نه په دې سلسله کې څه منقول نه دي" حالانکې هم ددې مسئلې متعلق په"**فتاوٰی دارالعلوم ديوبند" جلدنمبر۵، صفحه:۲۲۱** باندې د يوسوال په جواب کې ليکل شوي دي چې "د اخترونو د لمانځه نه وروسته دعا کول، خو د ټولو لمونځونو په شان مسنون او مستحب دي.خود خطبې نه وروسته دعا غوښتل ثابت او جائز نه دي" په دې سلسله کې صحيح مسئله کومه ده؟

جواب: ما خپل اکابرين دخطبې نه وروسته په دعا کولو باندې ليدلي دي.که د لمانځه نه وروسته دعا وکړل شي يا د خطبې نه وروسته دعا وکړل شي.ددواړو گنجائش شته.ددې نه زيات زه نه پوهيږم. **والله اعلم**

د هدايت او د الله پاک د رضا دعا

سوال: زه د الله پاك نه دعا کوم چې هغه ماته هدايت وکړي،زما مقصد دادی چې الله تعالی سل فيصده زما نه راضي شي او زما په ذمه چې کوم حقوق او فرائض دي د هغه ادايېگي وکړی شم. ايا داسې دعا غوښتل صحيح دي؟

جواب: بس دا دعا کافي ده چې يا الله!ماته د نبي کريمﷺ ،د صحابه کرامو رضي الله عنهم او د دين د بزرگانو په نقش قدم باندې د تلو توفيق نصيب کړې اوزما نه چې کومې کوتاهي اوغلطي کيږي نوهغه يوازې په خپل فضل او احسان سره معاف کړې خپل ځان له پاره د مغفرت دعا کوئ.

د تعريف او د صفت الفاظ هم دعا ده

سوال: زما چې څومره خيال دی، نو د لمانځه نه وروسته دعا کول دعايه الفاظو سره پکار دي،بيا د الله پاك تعريف او صفت سره دعا کيږي زموږ د جومات امام صاحب د ماښام د لمانځه نه وروسته لاس وچت کړي او د "**قل ياعبادي الذين اسرفو.......انه هوالغفور الرحيم**" لولي،په دې الفاظو کې اخراجاتو سره متعلق د الله پاك هدايت ده.دعايه په کې څه خبره نشته.دغه شان د سهار د لمانځه نه وروسته لاس اوچتولو سره"**قل اللهم مالك الملك......وترزق من تشاء بغير حساب**"لولي ، په دې کې هم دعايه الفاظ نشته. په دې کې

۱] اعلم ان المصافحة مستحبة عندكل لقاء.(شامي ج:٦ص: ۳۸۱،كتاب الحظر والاباحة، باب فى الاستبراء)

د الله پاك صفت خو شته. خود غوښتلو په کې هيڅ هم نشته د **بغير حساب** نه وروسته که په رزق کې د وسعت دعا وکړل شي. نو دعا جوړيږي په دې باندې دوه درې کسان **لاريب** وايي له دې نه پرته کله کله مولوي صاحب"**رب اجعلني مقيم الصلوة**"والا دعا هم غواړي کومه چې خالص انفرادي دعا ده،اجتماعي نه ده. زما موقف دادی چې دا دعا امام مقتديانو سره غوښتل پکار نه دي،په دې سلسله کې تاسو زما رهنمايي وکړئ۔

جواب: د الله پاك د تعريف او د توصيف کلمات ادا کول هم دعا ده.دغه شان"**قل اللهم مالك الملك**"نه "**بغير حساب**"پورې دا ټوله هم دعا ده او"**رب اجعلني مقيم الصلوة**"دا هم دعا ده، غرض دا چې څومره کلمات چې د الله پاك د تعريف او د صفت وويل شي، نو دا ټول په دعا کې شامل دي. **والله اعلم**

په دې شيانو باندې بحث ومباحثه کول پکار نه دي **والسلام!**

❖ د مسبوق او لاحق مسائل ❖

....

د جمعې د شروع کېدو نه وروسته شامليدل

سوال: مسبوق چاته وايي؟ دغسې لاحق چاته وايي؟

جواب: کوم سړي نه چې د امام سره د لمانځه څه رکعتونه پاتې شوي وي او هغه په روسته رکعتونو کې د امام سره شريک شوی وي، هغه ته مسبوق وايي او کوم سړی چې په شروع کې د امام سره شريک شوی وي، خوله څه وجې نه د هغه روستي رکعتونه د امام سره ونه شو هغه ته لاحق وايي. مثلاً کوم سړی چې د امام سره په دويم رکعت کې شريک شو هغه مسبوق دی او کوم سړی چې د امام سره په اول رکعت کې شريک و،خو په دويم رکعت له څه وجې نه شريک نه شو هغه لاحق دی.[1]

د مسبوق د لمانځه د ادا کولو طريقه

سوال: د فقه حنفي مطابق د ماسپښين،مازديګر او ماسخوتن دجمعې فرض لمانځه کې که يو سړی په دريم رکعت کې،څلورم رکعت کې،د څلورم رکعت د رکوع نه وروسته التحيات پورې يا د سلام ګرځولو نه مخکې ورته د شامليدو موقع پيداشي، نو دا سړی خپل لمونځ

---

[1] واعلم ان المسبوق هو من وقع شروعه مع الامام بعد ما فاته الركعة الاولى معه، واللاحق من شرع معه قبل فواتها ثم فاته شيء فيما بعد.....الخ.(حلبي كبير ص: ٤٦٧، فصل في سجود السهو)۔

څنګه پوره کړي؟ ددې تفصيل هم په کار ده چې په باقي رکعتونو کې په کوم رکعت کې يوازې سورة فاتحه او په کوم رکعت کې د سورة فاتحه نه وروسته سورت ولولي؟مجموعي طور باندې به څومره التحيات شي؟

دغه شان د ماښام په لمانځه کې که يو سړي ته په دريم رکعت کې د رکوع نه مخکې او د دريم رکعت د رکوع نه وروسته د التحيات يا د سلام ګرځولو نه مخکې جمعه کې د شامليدو شرف حاصل شي، نو کوم لمونځ چې ترينه شوی دی هغه به څنګه پوره کوي؟

جواب: د کوم سړي نه چې يو رکعت يا زيات رکعتونه شوي وي، نو هغه ته مسبوق وايي[1] او د مسبوق حکم دادی چې کوم رکعتونه د امام د فراغت نه وروسته پوره کوي هغه د قرات په لحاظ سره اولني دي، يعنې په اولني رکعت کې به ثناء،تعوذ ،تسميه،فاتحه او سورت لولي په دويم کې تسميه،فاتحه او سورت لولي او دريم کې به يوازې فاتحه لولي،دې سره به سورت نه يوځای کوي او التحيات په لحاظ سره دا وروستني رکعتونه دي،نو که امام سره يې يو رکعت کړی وي، نو يو بل رکعت کولو نه وروسته دې قعده وکړي،دا يې اولنۍ قعده شوه، بيا دې دوه رکعتونه وکړي او اخري قعده دې وکړي.[2]

د فرضو په اخري رکعت کې شامليدونکی کس باقي لمونځ څنګه ادا کړي؟

سوال: . څلور رکعته لمونځ کې اخري رکعت کې شامليدونکی مقتدي به باقي درې رکعته لمونځ څنګه ادا کوي؟

جواب: يو رکعت کولو نه وروسته دې قعده وکړي او دوه رکعته نور کولو نه وروسته دې اخري قعده وکړي[3] اول چې کوم رکعت کوي په هغه کې **سبحانك اللهم** ولولي[4] او يو سورت دې ولولي او په دويم رکعت کې يوازې الحمدشريف او سورت او په دريم رکعت کې يوازې الحمدشريف دې ولولي.

---

[1] المسبوق من سبقه الامام بجميع رکعاتها او بعضها.(قواعد الفقه ص: ۴۸۲، الميم).

[2] ومنها ان يصلى اولاً ما ادرک مع الامام ثم يقضى ما سبق......ومنها ان يقضى اول صلاته فى حق القراءة وآخرها فى حق التشهد حتى لو ادرک رکعة من المغرب، ففى رکعتين وفصل بقعدة فيکون بثلاث قعدات وقرا فى کل فاتحة وسورة ......ولو ادرک رکعة من الرباعية فعليه ان يقضى رکعة يقرا فيها الفاتحة والسورة ويتشهد ويقضى رکعة اخرى کذلک ولا يتشهد وفى الثالثة بالخيار والقراءة افضل هکذا فى الخلاصة، ولو ادرک رکعتين قضى رکعتين بقراءة.(فتاوى عالمگيرى ج: ۱ ص: ۹۱، الباب الخامس فى الامامة، الفصل السابع فى المسبوق واللاحق).

[3] ايضًا حواله بالا.

[4] والمسبوق ياتى بالثناء اذا ادرک الامام حال المخافتة ثم اذا قام الى قضاء ما سبق ياتى به ايضًا کذا ذکره فى الملتقط ووجهه ان القيام الى قضاء ما سبق کتحريمة اخرى للخروج به من حکم الاقتداء الى حکم الانفراد. (حلبى کبير ص: ۳۰۴، باب صفة الصلاة ، احکام المسبوق).

مسبوق به په امام پسې د څو رکعتونو نیت ترې؟

سوال: اکثر داسې کیږي چې جمعه دریدلې وي او موږ ناوخته په جمعه کې شریک شو او څو رکعتونه ځي، خو موږ نیت د ټولو رکعتونو په امام پسې ترو او زموږ نه څه رکعتونه لاړ هم شي کوم چې موږ وروسته پخپله پوره کوو تاسو نه پوښتنه داده چې موږته په جمعه کې د شریکیدلو په وخت کې په داسې حال کې چې ځینې وخت موږ ته دا هم معلومه نه وي چې څومره رکعتونه شوي دي؟ موږ ته د پوره رکعتونو نیت په امام پسې پکار دي یا یوازې د هغه رکعتونو کوم چې موږ ته په جمعه کې د امام سره ملاؤ شي؟

جواب: په امام پسې د اقتداء نیت کولو سره لمونځ شروع کړئ،څومره رکعتونه چې پاتې شوي وي هغه وروسته پوره کړئ د رکعتونو د تعیین ضرورت نشته.[۱]

وروسته شاملیدونکی به باقي رکعتونه څنګه پوره کوي؟

سوال: مسبوق یعنې د چا چې په امام پسې څه رکعتونه پاتې شوي وي،هغه به خپل پاتې رکعتونه څنګه ادا کوي؟ د امام سره یې درې رکعته ادا کړل او یو رکعت د هغه پاتې شو،یا امام سره یې دوه رکعته ادا کړل او د هغې دوه رکعته باقي پاتې شو،یا په امام پسې یې یو رکعت ادا کړ او درې رکعته د هغه باقي دي؟

جواب: که یورکعت یې باقي پاتې شوي وي، نو دپورته کیدلوسره څنګه چې رکعت کیږي **سبحانک اللهم** نه دې شروع کړي او سورت فاتحه او دسورت لوستلو سره دې رکعت پوره کړي[۲]او که دوه رکعته پاتې شوي وي، نو پورته کیدلوسره دې د اول رکعتونو په شان وکړي، یعنې په اول رکعت کې دې د **سبحانک اللهم**....نه شروع کړي او سورت فاتحه او یو سورت لوستلو سره دې رکعت وکړي اودویم رکعت دې د سورت فاتحه سره شروع کړي[۳] او که درې رکعته پاتې شوي وي، نو اول رکعت دې د **سبحانک اللهم**....نه شروع کړي او سورت فاتحه او سورت دې ولولي او په دې رکعت باندې دې قعده وکړي،په بل رکعت کې سورت فاتحه او یو سورت دې ولولي،په دریم کې دې یوازې سورت فاتحه ولولي او اخري قعده دې وکړي (یو طریقه داده کوم چې ذکر شوه او بله طریقه چې هغه هم صحیح ده او د سند په اعتبار غوره هم ده هغه داده چې:که یو رکعت تللی وي، نو هغه به د عوامو د اصطلاح مطابق تش وکړي او د

۱] (ومنها) انه یصلی اولاً ما ادرک مع الامام ثم یقضی ما سبق کذا فی محیط السرخسی.(فتاوی هندیة ج:۱ ص: ۹۲، الباب الخامس فی الامامة، الفصل السابع فی المسبوق واللاحق)۔

۲]فاذا قام الی قضاء ما سبق یاتی بالثناء ویتعوذ للقراءة......(وبعد اسطر) منها یقضی اول صلاته فی حق القراءة وآخرها فی حق التشهد..الخ.(عالمگیری ج:۱ص:۹۱،کتاب الصلاة، الباب الخامس ، الفصل السابع)

۳]ولو ادرک رکعتین قضی رکعتین بقراءة...الخ.(عالمگیری ج: ۱ ص: ۹۱،کتاب الصلاة ، الباب الخامس)

کوم رکعت نه چې دا سړی د امام سره ولاړ وي هغه به دهغه اول رکعت حساب شي. نوورروسته دريم رکعت اګر که تش دی. خودهغه به ډک حساب شي او د هغه له پاره به دويم وي.نو څلورم رکعت به هم.تش وي او چې کوم له امام نه پرته وکړي هغه به هم تش شي که دوه رکعته وي. نو دواړه به تش کوي که ذهن په مسئله کولاؤ شوی وي که دري رکعته وي. نو باقي دري رکعتونو کې به اول ډک وکړي او باقي دواړه به تش وکړي.حاصل دا دی چې مسبوق به يا د پاتې شويو رکعتونو قضاء راوړي دا د امام ابوحنيفه رحمه الله او د هغه د اصحابو مذهب دی اويا به هغه رکعت چې کوم کې دامام سره شريک شي خپل اول رکعت حساب کړي دا دامام شافعي رحمه الله مذهب دی ،خوغوره داده چې په دې دواړه طريقوباندې عمل وکړل شي.(والله اعلم)[1]

د مازديګر په آخري دوو رکعتونو کې شامليدونکی سړی به اولني دوه رکعته څنګه کوي؟

سوال: يو سړی د مازديګر لمانځه له پاره راغی او په اخري دوو رکعتونو کې مولوي صاحب سره شامل شو.دجمعې،خودا اخري دوه رکعتونه دي کوم چې د قرات نه پرته دي.خو کوم سړي چې په اخري دوو رکعتونوکې شامل شوی دی دهغه اولني رکعتونه دي.کله چې مولوي صاحب سلام وګرځاو او سړی د باقي دوو رکعتونو له پاره پورته شو. نو دا سړی به قرات سره دا دوه رکعتونه کوي يا د قراءت نه پرته؟او که دی قرات سره باقي دوه رکعته پوره کوي. نو دده لمونځ التهه خو نه شو؟ځکه چې د قراءت نه پرته لمونځ اولني او قراءت والا لمونځ اخري شو؟

جواب: په اخري دوو رکعتونو کې خو دی امام سره و کوم چې د امام رکعتونه وو. هغه د ده هم وو او دامام له فراغت نه وروسته به دی هغه دوه رکعتونه کوي کوم چې دده خپل شوي رکعتونه دي. له دې وجې نه به په هغې کې قرات کوي.ددې رکعتونو ترتيب د مجبوري له وجې نه التهه شو.[2]

امام سره اخري رکعت کې شامليدونکی کس به خپل لمونځ څنګه پوره کوي؟

سوال: که يوسړی جمعې سره اخري رکعت کې شامل شي. نوباقي لمونځ به څنګه ادا کوي؟ يعنې په اخري رکعت به الحمد ،رکوع اوسجدې نه وروسته ايا التحيات،درود اودعا لولي

---

[1] ولو ادرک رکعة من الرباعية فعليه ان يقضی رکعة يقرا منها الفاتحة والسورة ويتشهد ويقضی رکعة اخری کذلک ولا يتشهد...الخ.(عالمګيری ج:۱ ص:۹۱، کتاب الصلاة الباب الخامس . کذا فی الشامی ج:۱ ص: ۵۹۷)

[2] منها انه يصلی اولاً ما ادرک مع الامام ثم يقضی ما سبق کذا فی محيط السرخسی....ولو ادرک رکعتين قضی رکعتين بقراءة.(فتاوی عالمګيری ج: ۱ ص: ۹۱، کتاب الصلاة ، الباب الخامس، الفصل السابع).

یابه چوپ اوسیږي؟

جواب: امام سره به التحیات عبده ورسوله پورې ولولي بیا به چوپ شي د امام د سلام ګرځولو نه وروسته به پورته شي ثناء، تعوذ، تسمیه، فاتحه او سورة به ولولي رکعت پوره کولو نه وروسته به قعده وکړي او التحیات به د عبده ورسوله پورې لوستلو نه وروسته پورته شي، په دویم رکعت کې به بسم الله، سورة فاتحه او سورة ولولي او په دریم رکعت کې به بسم الله او سورة فاتحه لوستلو سره رکعت پوره کړي او بیا به اخری قعده وکړي [۱]

د مسبوق باقي رکعتونه به د هغه لومړی شمیرل کیږي یا اخري؟

سوال: د جمعې په لمانځه کې د وروسته شاملیدونکي مقتدي که یو یا دوه رکعته قضاء شي، نو هغه رکعتونه به په کوم ترتیب سره پوره کوي؟ د شروع ګڼلو سره یا اخري ګڼلو سره؟ ښکاره ده چې په دواړو کې فرق د سورت فاتحه نه وروسته د سورت لوستلو یا نه لوستلو سره ده او دا هم چې ثناء به څه وخت لولي په لمانځه کې د شمولیت په وخت یا د باقي رکعتونو د پوره کولو په وخت؟

جواب: باقي رکعتونه د ترتیب په لحاظ سره، خو اول دي وروسته پورته کېدلو سره دې اول رکعت د سبحانک اللهم نه شروع کړي[۲] او د فاتحې سره دې یو بل سورت هم ضم کړي او په دویم کې فاتحه او سورت او په دریم کې یوازې فاتحه به لولي، خو په التحیات کې د ناستې په لحاظ دا رکعتونه اخري دي، که د امام سره یو رکعت ملاؤ شوی وي، نو د یو رکعت د کولو نه وروسته قعده کول ضروري دي او باقي دوه رکعتونه دې په یو قعده کې ادا کړي [۳]

په رکوع کې شامليدونکي د ثناء او نيت نه پرته شامليدلی شي

سوال: که جمعه شروع شوي وي او موږ هغه وخت په جمعه کې شامليږو چې کوم وخت امام رکوع ته د تلو له پاره تکبیر وایي که موږ په دې وخت کې د نیت د تړلو الفاظ او ثناء وایو. نو

---

[۱] ان المسبوق ببعض الركعات يتابع الامام فى التشهد الاخير اذا اتم التشهد لا يشتغل بما بعده من الدعوات ..... ولو ادرك ركعة من الرباعية فعليه ان يقضى ركعة يقرا فيها الفاتحة والسورة، ويتشهد ويقضى ركعة اخرى كذلك ولا يتشهد وفى الثالثة بالخيار والقراءة افضل. هكذا فى الخلاصة .(فتاوى عالمگيرى ج: ۱ ص: ۹۱، الباب الخامس فى الامامة، الفصل السابع فى المسبوق واللاحق ، طبع رشيديه).

[۲] والمسبوق ياتى بالثناء اذا ادرك الامام حال المخافته ثم اذا قام الى قضاء ما سبق يأتى به ايضا كذا ذكره فى الملتقط .(حلبى كبير ص: ۳۰٤، صفة الصلاة ، احكام المسبوق، طبع سهيل اكيدمى)۔

[۳] ان المسبوق ببعض الركعات يتابع الامام فى التشهد الاخير اذا اتم التشهد لا يشتغل بما بعده من الدعوات ..... ولو ادرك ركعة من الرباعية فعليه ان يقضى ركعة يقرا فيها الفاتحة والسورة، ويتشهد ويقضى ركعة اخرى كذلك ولا يتشهد وفى الثالثة بالخيار والقراءة افضل. هكذا فى الخلاصة .(فتاوى عالمگيرى ج: ۱ ص: ۹۱، الباب الخامس فى الامامة، الفصل السابع فى المسبوق واللاحق ، طبع رشيديه)۔

په دومره ساعت کې به رکوع شوي وي او زمونږ یو رکعت تېرشي، ایا په دې وخت کې چې جمعه په رکوع کې وي او مونږ سره دومره وخت نه وي چې مونږ د نیت الفاظ او ثناء ووایو فورا په جمعه کې شاملیدلو سره رکوع ته تللی شو او که نه؟

جواب: په ژبې سره د نیت الفاظ ویل ضروري نه دي،بس په زړه کې نیت کولو سره چې فلاني لمونځ د امام په اقتداء کې کوم[۱]، په ولاړه ولاړه الله اکبر وایه او رکوع ته لاړ شه ثناء مه وایه[۲] کوم سړی چې په اول رکعت کې شریک شي هغه دومره وخته پورې ثناء لوستلی شي څو پورې چې امام قرات نه وي شروع کړی،کله چې امام قرات شروع کړ، نو مقتدیانو ته د ثناء ویلو اجازه نشته اوکه سري لمونځ وي، نو دا انداز لګول پکار دي چې امام به د ثناء د فراغت نه وروسته قرات شروع کړی وي اوکه نه؟ که اندازه وي چې امام قرات شروع کړی ده، نو ثناء دې نه وایي.[۳]

وروسته راتلونکي به په رکوع کې څنګه شامليږي؟

سوال: د لمانځه په دوران کې که امام په رکوع کې وي، نو نوي راتلونکي لمونځ کونکي فورا الله اکبر ویلو سره رکوع ته لاړ شي،ځینې خلک یو ساعت ولاړې سره رکوع ته لاړ شي، ځینې په ولاړه باندې ثناء وایي بیا رکوع ته ځي په دې دوران کې ځینې وخت یا خو امام صاحب د رکوع نه دریږي یا پورته شوی وي، نو په دې سلسله کې شرعي طریقه کار څه دی؟

جواب: حکم دادی چې وروسته راتلونکي سړي به په ولاړحالت کې تکبیرتحریمه وایي او رکوع ته به ځي د تکبیر نه وروسته د قیام په حالت کې دریدل بالکل ضروري نه دي ،بیا که د امام سره په عین رکوع کې یوځای شو، نو رکعت یې وموند، اګر که په رکوع کې د تللو نه وروسته فورا امام اوچت شي او هغه ته د رکوع د تسبیح ویلو موقع هم پیدانه شي او که داسې وي چې د هغه رکوع ته د رسیدلو نه مخکې امام د رکوع نه وچت شو، نو رکعت ورته نه دی پیداشوی.[۴]

۱] النية ارادة الدخول فى الصلاة والشرط ان يعلم بقلبه اى صلاة يصلى.....الخ.(هندية ج:۱ ص: ٦٥، كتاب الصلاة، الباب الثالث فى شروط الصلاة ، الفصل الرابع فى النية)_

۲] ومدرک الامام فى الركوع لا يحتاج الى تكبيرتين....الخ.(البحر الرائق ج:۲ ص: ۸۲)، وايضًا وان ادرک الامام فى الركوع او السجود يتحرى ان كان اكبر رايه انه لو اتى به ادركه فى شيء من الركوع او السجود ياتى به قائمًا والا يتابع الامام ولا ياتى به.(فتاوى هندية ج:۱ ص: ۹۱،الباب الخامس ، الفصل السابع)

۳] (منها) انه اذا ادرک الامام فى القراءة فى الركعة التى يجهر فيها لا ياتى بالثناء كذا فى الخلاصة.(عالمگیری ج: ۱ ص: ۹۰، كتاب الصلاة، الباب الخامس فى الامامة، الفصل السابع فى المسبوق واللاحق)_

٤] وان ادرک امامه راكعًا فكبر ووقف حتى رفع راسه لم يدرک الركعة ولو ركع مقتد فادركه امامه فيه صح.(كنز الدقائق مع البحر ج:۲ ص: ۸۲_ ۸۳)_

په دویم رکعت کې یو ځای شوي به په دویم رکعت کې سورت یو ځای کوي

سوال: زه د ماښام د لمانځه له پاره جومات ته لاړم، خو په ما ناوخته شو، جمعه کېدله او امام صاحب یو رکعت کړی و، زه د جمعې سره په دویم رکعت کې شریک شوم، تاسو دا بیان کړئ چې کله زه رکعت ادا کوم، نو زه په دې رکعت کې یوازې سورت فاتحه ولولم یا د سورت فاتحه نه وروسته بل سورت هم لوستل پکار دي؟ ځکه چې زما نه چې کوم سورت پاتې شوی و په هغه کې د سورت فاتحه نه وروسته یو قرآني سورت هم لوستل شوی و؟

جواب: کوم رکعت چې د امام سره تاسو ته پیدا نه شو، هغه ستاسو اول رکعت و، د امام د فراغت نه وروسته چې کله تاسو دا ادا کوئ په دې کې به سبحانک اللهم... بسم الله... اعوذبالله... سورت فاتحه او د هغه نه وروسته به سورت لولئ.[1]

د ماښام په دریم رکعت کې شاملیدونکي به باقي لمونځ څنګه ادا کوي؟

سوال: د ماښام په وخت فرض لمونځ کې څوک په دریم رکعت کې د جمعې سره شریک شي، نو باقي دوه رکعتونه به څنګه ادا کوي؟ قرات او التحیات درود، دعا د ټولو ادا کول په وضاحت سره مو پوه کړئ.

جواب: په اول رکعت کې به ثناء او سورت فاتحه او یو سورت ولولي او د رکعته پوره کولو نه وروسته به په قعده کیني او یوازې التحیات ویلو سره به پورته شي په دویم رکعت کې سورت فاتحه او یو سورت لوستلو سره رکعت پوره کړي او اخري قعده دې وکړي په دې کې دې درود شریف او دعا لوستلو نه وروسته سلام واړوي.[2]

که امام سره د یو رکعت نه وروسته شامل شي نو باقي لمونځ به څنګه کوي؟

سوال: د جمعې دوران کې تاخیر وشي، نو باقي لمونځ چې کوم شوی ده هغه څنګه پوره کړل شي؟ مثلاً د ماښام په لمانځه کې یو رکعت شوی ده. نو د امام د سلام ګرځولو نه وروسته چې دریږي. نو ثناء ولولي یا د سورة فاتحې سره نوی رکعت شروع کړي؟او په دې رکعت کې قرآني یو سورت ووایي او که نه ؟مختصر دا چې باقي لمونځ د امام پرېښودل شوي ترتیب سره پوره کړي یا د خپل لمانځه ترتیب قائم وساتي؟

۱] فاذا قام الی قضاء ما سبق یاتی بالثناء ویتعوذ للقراءة......منها یقض اول صلاته فی حق القراءة وآخره فی حق التشهد....الخ.(هندیة ج:۱ ص: ۹۱، الباب الخامس ، الفصل السابع ، شامی ج:۱ ص: ۵۹۶، باب الامامة ، مطلب فیما لو انی بالرکوع او السجود او بهما مع الامام او قبله او بعده)۔

۲] حتی لو ادرک (ای المسبوق) مع الامام رکعة من المغرب فانه یقرء فی الرکعتین الفاتحة والسورة ویقعد فی اولیهما لانها ثنائیة.(حلبی کبیر ص: ۴٦۸)۔

جواب: د کوم سړي نه چې یو یا زیات رکعتونه شوي وي هغه چې د امام صاحب سلام ګرځولو نه وروسته کله پورته شي، نو دا خیال دې وکړي چې لمونځ اوس شروع کوي. په اولني رکعت کې به ثناء، تعوذ، تسمیه، فاتحه او سورت ولولي، په دویم رکعت کې بسم الله سره سورة فاتحه او بیا سورت ولولي، په دریم کې دې یوازې بسم الله او فاتحه ولولي [۱]

د ماښام په لمانځه کې چې امام سره دریم رکعت کې شامل شي نو اولني دوه رکعته به څنګه کوي؟

سوال: یو مقتدي د ماښام جمعه کې دریم رکعت کې شامل شو. د اولني دوو رکعتونو اداېګي به د کوم ځای نه شروع کوي؟ او څنګه به یې ادا کوي؟ د دې جواب لږ تفصیل سره راکړئ.

جواب: ده خو یو رکعت امام سره وموند. د امام د سلام کولو نه وروسته دې پورته شي اولني رکعت کې دې ثناء، تعوذ، تسمیه، سورت فاتحه او یو سورت ولولي او رکعت پوره کولو نه وروسته دې قعده وکړي التحیات لوستلو نه وروسته دې پورته شي او دریم رکعت کې دې بسم الله او سورت فاتحه ولولي اوله دې سره دې سورت هم ضم کړي او د رکعت پوره کولو نه وروسته دې اخري قعده (التحیات) وکړي.[۲]

مسبوق، د امام په اخري قعده کې التحیات څومره ووایي؟

سوال: ځینې وخت داسې کیږي چې دلمانځه کولو له پاره جومات ته لاړ شو، نو جمعه دریدلې وي او دوه یا درې رکعتونه شوي وي د مسئلې مطابق نیت کولو سره په جمعه کې شاملیدل پکار دي او کله چې سلام واړوي، نو پرته د سلام د اړولو نه هغه انسان کوم چې ناوخته راغلی دی هغه دې پورته شي او خپل لمونځ دې پوره کړي چې هغه مخکې نه دی کړی، مسئله داده کوم وخت چې د څلورم رکعت نه وروسته ناسته کول وي، نو کوم سړی چې وروسته په لمانځه کې شامل شوی دی هغه به التحیات پوره لولي یا د درود شریف پورې به یې لولي او بیا به چپ شي؟

جواب: دا سړی به یوازې التحیات پوره کړي درود شریف او دعا دې نه وایي، غوره خو داده

---

[۱] والمسبوق من سبقه الامام بها او ببعضها وهو منفرد حتى يثنى ويتعوذ ويقرا.....فيما يقضيه اى بعد متابعة لامامه......(قوله حتى يثنى الخ) تفريع على قوله منفرد فيما يقضيه بعد فراغ امامه، فياتى بالثناء والتعوذ لانه للقراءة ويقرا لانه يقضى اول صلاته فى حق القراءة كما ياتى.(درمختار مع رد المحتار ج:۱ ص: ۵۹۶، باب الامامة، مطلب فيما لو اتى بالركوع او السجود أو بهما مع الامام او قبله او بعده).

[۲] يقضى اول صلاته فى حق القراءة وآخرها فى حق التشهد.....الخ.(عالمگيرى ج: ۱ ص: ۹۱)، حتى لو ادرک (اى المسبوق) مع الامام ركعة من المغرب فانه يقرا فى الركعتين الفاتحة والسورة ويقعد فى اولهما، لانها ثنائية.(حلبى كبير ص: ۴۶۸)

چې هغه دومره په مزه التحیات ووایي چې د امام د التحیات لوستلو پورې د هغه التحیات پوره شي او که د امام نه مخکې د التحیات نه فارغ شي. نو **اشهد ان لا اله الله واشهد ان محمدا عبده و رسوله**....دې بیا بیا وایي.[۱]

وروسته په جمعه کې شریکیدونکی به د امام سره سجده سهوه کوي

سوال: که یو سړی د جمعې په اخر کې شریک شو. په همدې حالت کې هغه انسان د قعدې اراده. مخکې د هغه د ناستې نه امام سجده سهوه وکړه ایا دې سړي ته څه حکم دی. د امام سره سجده سهوه وکړي او که نه؟ که ویې نه کړي، نو د هغه لمونځ کیږي او که نه؟

جواب: په دې سړي باندې په سجده سهوه کې د امام سره شریکیدل واجب دي[۲] که شریک نه شو، نو گناهگار به وي، ځکه چې مسئله داده چې امام په کوم حال کې وي مسبوق ته هم په هم هغه حال کې شریکیدل پکار دي[۳] امام ځینې وخت په قعده یا سجده کې وي. نو خلک د هغه د پورته کېدو په انتظار کې ولاړ وي چې قیام ته راشي. دا غلط کار دی. نو موږ به شریک شو.

مسبوق به د امام په متابعت کې سجده سهوه څنګه کوي؟

سوال: که امام سجده سهوه وکړه، نو مسبوق به هم سجده سهوه کوي، خو امام په متابعت کې به سلام هم اړوي یا یوازې سجده سهوه به کوي؟

جواب: مسبوق به د امام متابعت کې سجده سهوه ضرور کوي. خو سلام به نه اړوي. بلکې د سلام اړولو نه پرته دې د امام سره سجده سهوه وکړي.[۴]

۱] (ومنها) ان المسبوق ببعض الركعات يتابع الامام فى التشهد الاخير واذا اتم التشهد لا يشتغل بما بعده من الدعوات ثم ماذا يفعل تكلموا فيه وعن ابن شجاع انه يكرر التشهد اى قوله اشهد ان لا اله الاالله وهو المختار كذا فى الغياثية.(هندية ج:۱ ص: ۹۱، كتاب الصلاة ، الباب الخامس فى الامامة، الفصل السابع فى المسبوق واللاحق)_

۲]ثم المسبوق انما يتابع الامام فى السهو دون السلام بل ينتظر الأمام حتى يسلم فيسجد فيتابعه فى سجود السهو لا فى سلامه.(البدائع الصنائع ج:۱ ص: ۱۷۶)_

۳]لان متابعة الامام واجبة،قال النبى صلى الله عليه وسلم: تابع امامک على اى حال وجدته ...الخ.(البدائع الصنائع ج:۱ ص: ۱۷۵)_

٤] ثم المسبوق انما يتابع الامام فى السهو دون السلام بل ينتظرالامام حتى يسلم فيسجدفيتابعه فى سجود السهو لافى سلامه.(البدائع الصنائع ج:۱ص:۱۷٦)_

مسبوق که د امام سره سلام واړوي نو باقي لمونځ به څنګه کوي؟

سوال: که د څلورو رکعتو فرضو جمعه کیږي او یو سړی د دوه رکعتونو نه وروسته په جمعه کې شامل شي او په هیره د امام سره سلام واړوي، نو هغه ته څه کول پکار دي؟ په دویم ځل څلور فرض کول پکار دي یا دوه فرض کولو نه وروسته سجده سهوه کول پکا ردي؟ ځینې خلک وایي چې په امام پسې سجده سهوه کول جائز نه دي او ځینې وایي چې پورته کېدونه وروسته به د دوه رکعته کولو نه وروسته سجده سهوه وکړي ،نو څه به کوي؟

جواب: که د امام سره یې سلام واړولو، نو پورته کېدوسره دې خپل لمونځ پوره کړي د سجده سهوې ضرورت نشته او که د امام د فارغېدو نه وروسته یې سلام واړولو. نو لمونځ پوره کولو نه وروسته به په اخر کې سجده سهوه وکړي.[۱]

مسبوق به کله دریږي ؟

سوال: که په جمعه کې اول دویم یا دریم رکعت پاتې شي، نو کله دریدل پکار دي؟ کله چې امام یو طرف ته سلام واړوي یا دواړه طرفو ته د سلام اړولو نه وروسته؟

جواب: کله چې امام د دویم طرف سلام شروع کړي، نو مسبوق دې دریږي په یو طرف سلام اړولو دې نه دریږي، ځکه کېدای شي چې د امام په ذمه سجده سهوه وي.[۲]

ایا مسبوق به د امام د سلام ګرځولو نه وروسته تکبیرویلو سره پورته کیږي؟

سوال: د امام د سلام ګرځولونه وروسته مسبوق ته تکبیر ویلوسره پورته کېدل پکاردي یا پرته د تکبیر نه؟

جواب: تکبیر ویلو سره به پورته کیږي.[۳]

---

[۱] وهل يلزمه سجود السهو لاجل سلامه ينظر ان سلم قبل تسليم الامام او سلمامعا لايلزمه لان سهو سهو المقتدى وسهو المقتدى متعطل وان سلم بعد تسليم الامام لزمه لان سهو بسهو المنفردفيقضى مافاته ثم يسجد للسهو ف آخر صلوته ...الخ .(البدائع الصنائع ج: ١ص:١٧٦)_

[۲] لان او ان قيامه (اى المسبوق)للقضاء بعد خروج الامام من الصلوة ،فينبغى ان يو خر القيام عن السلام ...الخ .(بدائع الصنائع ج: ١ص: ١٧٧)_

[۳] لانه فيما يقضى بمنزلةالمفرد .(بدائع الصنائع ج:١ص:١٧٥).

د لمونځ کونکي مخې ته تیریدل ❖

. . . .

په بې خبرۍ کې د لمونځ کونکي مخې ته تیریدل

سوال: که یو سړی لمونځ کوي او بل څوک د هغه مخې ته په بې خبرۍ سره تیر شي، نو ایا لمونځ مات شو؟ او مخکې تیریدونکي ګناه ګار شو؟

جواب: د لمونځ کونکي مخې ته تیریدل ګناه ده[1] خو په دې سره لمونځ نه ماتیږي او که څوک په خطا کې تیر شو، نو معذور دی.[2]

د لمونځ کونکي بالکل د مخې نه پاسیدل

سوال: لمونځ کونکي سره څومره فاصله ساتلو سره تیریدل جائزدي؟ که یو سړی د لمانځه نه فارغ شي او د هغه په روستي صف کې بالکل هغه ته مخامخ څوک لمونځ کوي، نو ایا هغه سړی د خپل ځای نه تللی شي؟ که نه شي تللی، نو دا پابندي به تر څو صفونو پورې وي؟

جواب: که څوک په میدان کې یا په لوی جومات کې لمونځ کوي، نو دوه درې صفه پریښودلو سره د هغه مخې ته د تیریدلو ګنجائش شته او په وړوکي جومات کې بالکل ګنجائش نشته کوم انسان چې د لمونځ کونکي بالکل مخې ته ناست وي هغه ته د تلو اجازه ده.[3]

له عذر پرته د لمونځ کونکي مخې ته تیریدلو باندې سخت وعید دی

سوال: عموماً خلک د فرض لمانځه ادا کولو نه وروسته زر تر زره د صفونو نه د وتللو کوشش کوي او اکثر اوقات د لمونځ کونکو مخې ته تیریږي؟ دده له پاره څه حکم دی؟

جواب: که څه عذر نه وي، نو د مسبوق د لمانځه د ختمیدو پورې انتظار پکار دی، د لمونځ کونکي مخې ته تیریدلو باندې په احادیثو کې سخت وعید راغلی دی.[4]

۱] عن ابی جهیم قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : لو یعلم المار بین یدی الصلی ماذا علیه کان ان یقف اربعین خیراً له من ان یمر بین یدیه......الخ.(مشکوة ص: ۷۴، باب السترة). وفی البحر :ان المار آثم للحدیث لو یعلم المار بین یدی المصلی..الخ.(البحر الرائق ج:۲ص:۱۶، باب ما یفسد الصلوة وما یکره فیها)

۲] (قوله او مروره الخ)......ای لا یفسدها ایضًا مرورہ ذلک وان اثم المار.(شامی ج:۱ ص: ۶۳۴، باب ما یفسد الصلاة وما یکره فیها)

۳] فحاصل المذهب علی الصحیح ان الموضع الذی یکره المرور فیه هو امام المصلی فی مسجد صغیر وموضع سجوده فی مسجد کبیر وفی الصحراء..الخ.(البحرالرائق ج:۲ص: ۱۸، باب ما یفسد الصلاة وما یکره فیها)

۴]عن ابی جهیم یساله ماذا سمع من رسول الله صلی الله علیه وسلم ..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

د لمونځ کونکي مخې ته ځنګه واوړي کله چې خلک په نفلو مشغول وي

سوال: جومات کې د فرض لمانځه نه وروسته خلک مختلفو ځایونو کې نفل ادا کوي.داسې صورت کې به د اولنې صفونو نه د وتللو څه طریقه وي؟حالانکې د لمونځ کونکو مخې ته تیریدل سخته ګناه ده؟

جواب: د لمونځ کونکو مخې ته د تیریدو ضرورت نشته.که وروسته خلک لمونځ کوي. نو هغوی دې په خپل ځای باندې لمونځ کوي،خو څو انچ دې اخوا دیخوا شي.[۱]

لمونځ کونکي ته مخامخ دریدل

سوال: دلمونځ کونکي مخې ته د تیریدلو سخت وعید راغلی دی،په دې تقریباً هر مسلمان پوهیږي. خوما اکثر لیدلي دي چې ځینې حضرات لمونځ کونکي ته مخ کړي او ودریږي چې دی کله لمونځ ختم کړي، نو موږ به لاړ شو،ایا دغه شان لمونځ کونکي ته مخ کولو سره دریدل صحیح دي اوکه نه؟

جواب: لمونځ کونکي ته مخ کول او دریدل صحیح نه دي.که یو سړی لمونځ کونکي ته بالکل مخامخ ناست وي،هغه پورته کېدای شي او تلی شي،دی به د لمونځ کونکي مخې ته تیریدلو سره نه ګناهګاریږي او که د لمونځ کونکي د فارغیدو انتظار کول وي، نو هغه طرفته شا کولو سره کیناستل پکار دي.[۲]

ایا د سجدې په حالت کې د لمونځ کونکي مخي ته تیریدل جائز دي؟

سوال: تیرو ورځو کې د ماسپښین د لمانځه په وخت کې یو لمونځ کونکي د بل لمونځ کونکي مخې ته(د لمانځه په حالت)کې تیر شو،په منع کولو باندې موصوف وویل چې زه هغه وخت تیر شوی یم چې چې نوموړی د سجدې په حالت کې و او د سجدې په حالت کې د لمونځ کونکي مخې ته تیریدل جائز دي،د لمونځ کونکي مخې ته د تیریدلو څه حکم دی؟ د سجدې په حالت کې دلمانځه مخې ته تیریدل صحیح دي؟

جواب: ځنګه چې د قیام په حالت کې د لمونځ کونکي مخي ته تیریدل منع دي. همدغه شان

...بقیه د تیرمخ]..فی المار بین یدی المصلی فقال ابو جهیم : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : لو یعلم المار بین یدی المصلی ماذا علیه لکان ان یقف اربعین خیر له من ان یمر بین یدیه.(ترمذی ج:۱ ص: ۴۵، باب ما جاء فی سترة المصلی، ایضًا: مشکوة ص: ۷۴، باب السترة).

[۱]]ولو صلی الی وجه انسان وبینهما ثالث ظهره الی وجه المصلی لم یکره کذا فی التمرتاشی .(عالمگیری ج: ۱ ص: ۱۰۸، کتاب الصلاة، الباب السابع، الفصل الثانی فیما یکره فی الصلاة وما لا یکره).

[۲]]الاستقبال الی المصلی مکروه سواء کان المصلی فی الصف الاول او فی الصف الاخیر کذا فی المنیة. ولو صلی الی ظهر رجل یتحدث لا یکره.....الخ.(عالمگیری ج: ۱ ص: ۱۰۸، کتاب الصلاة ، الباب السابع).

د سجدې په حالت کې هم تیریدل منع دي په دواړو کې هیڅ فرق نشته.[۱]

په دې صورتونو کې به کوم یو ګناه ګار وي لمونځ کونکي یا مخې ته تیریدونکي؟

سوال: څه خلک په داسې ځای کې لمانځه ته دریږي چې هغه د تیریدلو ځای وي. په داسې حالت کې که د یو لمونځ کونکي مخې ته څوک تیر شي. نو کوم یو به ګناه ګار وي تیریدونکي یا لمونځ کونکی، کوم چې په قصد د خلکو لار بندوي؟

جواب: فقهاء کرامو د دې درې صورتونه لیکلي دي.

(۱) که لمونځ کونکي له پاره په بل ځای کې د لمانځه ګنجائش نه و او تیریدونکو له پاره بل ځای د تلو ګنجائش و، نو تیریدونکي به ګناه ګار وي.[۲]

(۲) دویم د دې برعکس، چې د لمونځ کونکي له پاره بل ځای کې د دریدلو ګنجائش و، خو تیریدونکو له پاره په بل ځای د تیریدلو ګنجائش نشته، نو په دې صورت کې به لمونځ کونکی ګناه ګار وي.[۳]

(۳) چې د دواړو له پاره ګنجائش وي لمونځ کونکي له پاره په بل ځای کې د لمونځ کولو او تیریدونکي له پاره په بل ځای د تیریدلو. په دې صورت کې به دواړه ګناه ګار وي. په هرحال په دې کې لمونځ کونکو ته هم احتیاط کول پکار دي او تیریدونکو ته هم.[۴]

د لمونځ کونکي مخې ته تیریدونکي منع کول

سوال: که څوک د لمونځ کونکي مخې ته تیرشي، نو ایا د لمانځه په حالت کې یې منع کولی شي؟

جواب: د لاس په اشارې سره دې منع کړي، که کلارنه شي، نو ځي دې هغه به خپله ګناه ګار وي.[۵]

۱] ویکره للمار ان یمر بین یدی المصلی....الخ.(البدائع الصنائع ج:۱ ص: ۱۲۷)۔

۲] الاولی ان یکون للمار مندوحة عن المرور بین یدی المصلی ولم یتعرض المصلی لذلک فیختص المار بالاثم ان مر. (شامی ج:۱ ص: ٦۳۵، باب ما یفسد الصلاة وما یکره فیها ، مطلب اذا قرا تعالی جد بدون الف)۔

۳] والثانیة مقابلتها وهی ان یکون تعرض للمرور والمار لیس له مندوحة عن المرور فیختص المصلی بالاثم دون المار ....الخ.(شامی ج:۱ ص: ٦۳۵، کتاب الصلاة ، باب ما یفسد الصلاة وما یکره فیها)۔

٤] الثالثة ان یتعرض المصلی للمرور ویکن للمار مندوحة فیاثمان اما المصلی فلتعرضه واما المار فلمرور مع امکان ان لا یفعل..الخ.(شامی ج:۱ص:٦۳۵طبع ایچ ایم سعید، مطلب اذا قرا تعالی جد بدون الف لا تفسد)

۵] ویدرء المار.......لقوله علیه السلام فادروا ما استطعتم ویدرء بالاشارة......الخ.(هدایة ج:۱ ص: ۱۳۹، باب ما یفسد الصلاة). ایضا: ان المار آثم لقوله علیه السلام : لو علم المار بین یدی المصلی ماذا علیه من الوزر لوقف اربعین....الخ.(هدایة ج:۱ ص: ۱۳۸، باب ما یفسد الصلاة)۔

که تکیه یا یوبل شی د لمونځ کونکي مخې ته وي، بیا یې مخې ته تیریدل څنګه دي؟

سوال: د لمانځه دوران کې د لمونځ کونکي مخې ته د تیریدو ممانعت شوی دی،ځینې وخت موږ د لمانځه نه وړاندې مخامخ تکیه یا یوبل شی کیږدو ،دې سره زموږ دا خیال وي چې اوس د ضرورت له وجې نه د لمونځ کونکي مخې ته تیریدل صحیح دي،ایا دا خبره صحیح ده؟

جواب: مخامخ کیښودونکی شی کم نه کم یو لاس اوږد کیدل پکار دي،یوازې تکیه کیښودل کافي نه دي.[۱]

د شیشې دروازې بندولو سره د لمونځ کونکي مخې ته تیریدل

سوال: د لمونځ کونکي مخې ته څومره فاصلې سره موږ تیریدای شو؟اکثرو جوماتونو کې د شیشې دروازې وي،خلک دغه دروازې بندې کړي او د لمونځ کونکو مخې ته تیریږي، حالانکې دې سره به د هغه لمونځ کوونکي توجه خرابه شوي وي،ایا داسې کولو تیریدل صحیح دي؟دویم دا چې په دې شیشو کې د لمونځ کونکو عکس ښکاري،داسې لمونځ کول صحیح دي؟

جواب: که د لمونځ کونکو مخې ته دروازه بنده کړل شي، نو تیریدل صحیح دي،اګرکه د شیشې دروازه وي.[۲]

د لمانځه لپاره د سُترې اوږدوالی اوپلن والی څومره پکار ده؟

سوال: د لمونځ کونکي مخې ته تیریدو له پاره چې کومه ستره کیښودل شوي وي،د هغه اوږدوالی او پلن والی څومره پکار دی؟

جواب: یو لاس یا له دې نه زیات پکار دی،د پیړوالي څهٔ لحاظ نشته بس چې د نژدې نه په نظر راځي.[۳]

د لمونځ کونکي مخې ته څومره فاصلې سره تیریدل جائز دي؟

سوال: د لمونځ کونکي مخې ته څومره فاصلې سره تیریدای شي؟ځینې خلک دوه درې صفه

---

[۱] سترة بقدر ذراع طولاً وغلظ اصبع لتبدو للناظر....الخ.(قوله بقدر ذراع) بيان لاقلها والظاهر ان المراد به ذراع اليد كما صرح به الشافعية وهو شبران.(درمختار مع الرد المحتار ص: ٦٣٧، مطلب اذا قرا تعالى جد بدون الف لا تفسد).

[۲] (ويغرز).....(سترة بقدر ذراع طولاً وغلظ اصبع) لتبدو للناظر.....الخ.(درمختار ج:١ ص: ٦٣٧).

[۳] سترة بقدر ذراع طولاً وغلظ اصبع لتبدو للناظر بقربه. وفى الشامية(قوله بقدر ذراع) بيان لاقلها، والظاهر ان المراد به ذراع اليد.(فتاوى شامى ج:١ ص: ٦٣٧، مطلب اذا قرا تعالى جد بدون الف لا تفسد).

وړاندې او ځينې خلک څه خولې وغيره کيږدي او تير شي،ايا داسې کول جائز دي؟
جواب: لوی جومات کې دوه درې صفونه پريښودلو نه وړاندې تيريدل صحيح دي.د سجدې ځای باندې تيريدل ممنوع دي.[۱]

د لمونځ کونکي د مخې نه څه شي وچتولولو سره په لمانځه باندې اثر

سوال: د لمانځه دوران کې که يو سړی د لمونځ کونکي يو طرفته ودريږي او د بل طرف نه څه شی(د مخې نه)اوچت کړي،نو ايا له دې سره د لمونځ کونکي نيت ماتيږي او که نه؟
جواب: د لمونځ کونکي د مخې نه څه شي وچتولو سره لمونځ نه ماتيږي.[۲]

ماشوم که مخې ته تير شي نو لمونځ نه فاسديږي

سوال: تيره جمعه د لمونځ کولو له پاره جومات ته تللم. نو زما ماشوم زوی چې د هغه عمر درې مياشتې کم درې کاله دی، په زور شامل شو. هغه مې په وروستي صف کې کيناوه. خو کله چې لمونځ شروع شو او امام صاحب قرات شروع کړ. نو هغه ماشوم د صفونو مينځ کې ګرځيده چې په هغه سره د لمونځ کونکو په لمانځه کې خلل واقع شو،ستاسو نه پوښتنه داده چې ايا د هغه لمونځ کونکو لمونځ خراب يا فاسد شو د کومو مخې ته چې ماشوم تير شوی و؟
جواب: دومره واړه ماشومان جومات ته بوول نه دي پکار. په حديث شريف کې واړه ماشومان راوستلو نه منع راغلې ده[۳] ،د هغه په تيريدو باندې د چا لمونځ فاسديږي نه. خو د ماشوم په داسې ګرځيدو سره د لمونځ کونکو توجه ضرور خرابيږي.[۴]

---

[۱]]ولو مر مار فی موضع سجوده لا تفسد وان آثم وتكلموا فی الموضع الذی يكره المرور فيه والاصح انه موضع صلاته من قدمه الى موضع سجوده كذا فی التبيين، قال مشايخنا اذا صلى راميًا بصره الى موضع سجوده فلم يقع بصره عليه لم يكره وهو الصحيح كذا فی الخلاصة.(عالمگيری ج: ۱ ص: ۱۰۴، الباب السابع فيما يفسد الصلاة وما يكره فيها، الفصل الاول).

[۲]]او مر مار فی موضع سجوده لا تفسد وان آثم ......وهو مرور المار فی موضع سجود المصلی فانما لا يفسدها عند عامة العلماء .(البحر الرائق ج:۲ ص: ۱۶، باب ما يفسد الصلاة وما يكره فيها، ايضًا هداية ج:۱ ص: ۱۳۸).

[۳]]وفی الدر المختار : ويحرم ادخال صبيان ومجانين حيث غلب تنجيسهم والا فيكره. وفی ردالمحتار (قوله ليحرم) لما اخرجه المنذری مرفوعًا جنبوا مساجدكم صبيانكم ومجانينكم......والمراد بالحرمة كراهة التحريم لظنية الدليل. (ردالمحتار على الدر المختار ج:۱ ص: ۵۷۱، ۶۵۶، مطلب فی احكام المسجد)۔

[۴]] عن ابی سعيد الخدری رضی الله عنه ان النبی صلى الله عليه وسلم قال : لا يقطع الصلاة مرور شیء فادروا ما استطعتم ولو مر لا تقطع الصلاة.(البدائع الصنائع ج:۱ ص: ۲۱۷)۔

د ماشومانو د لمونځ کونکو مخې ته تیریدل

سوال: زما واړه بچي چې د هغو عمر زیات نه زیات څلور کاله دی، د لمانځه دوران کې مخې ته تیریږي او زما مخې ته لوبې کوي،اګر چې زه خپلې مخې ته د لمانځه دوران کې وړوکی میز یا لوټه ږدم. ایا د ماشومانو مخې ته تیریدل د طرفینو ګناه خو نه ده؟

جواب: هیڅ ګناه نه ده، خو که ماشومان پوهیږي. نو هغوی دې پوه کړل شي چې د لمونځ کونکو مخې ته تیریدل ډیر غلطه خبره ده.[۱]

د پیشو وغیره د لمونځ کونکي مخې ته تیریدل

سوال: که د لمونځ کولو په وخت کې یو ځناور مثلا پیشو وغیره د جانماز مخې ته راشي. نو څه کول پکار دي؟ او د دې شیانو په لیرې کولو سره نیت خو نه ماتیږي؟ که مات شي. نو ایا په دویم ځل لمونځ کول پکار دي؟

جواب: د پیشو وغیره د لیرې کولو ضرورت نشته،نه د هغه مخې ته تیریدلو سره په لمانځه کې څه خلل راځي او که د لاس په اشارې سره یې پیشو لیرې کړه، نو لمونځ نه فاسدیږي.[۲]

د طواف کونکي د لمونځ کونکي مخې ته تیریدل جائز دي

سوال: د لمونځ کونکي مخې ته تیریدو کې څه ګناه ده؟ په خانه کعبه کې طواف کونکي هروخت د لمونځ کونکو مخې ته تیریږي.

جواب: د لمونځ کونکي مخې ته تیریدل جائزنه دي[۳]د طواف حالت د دې نه مستثنی دی،ځکه چې طواف هم دلمانځه په حکم کې دی، له دې وجې طواف کونکی دلمونځ کونکي مخې ته تیریدلی شي[۴]

۱] إن الصبي ينبغي ان يؤمر بجميع المامورات وينهى عن جميع المنهيات.(فتاى شامى ج:۱ ص: ۳۵۲، كتاب الصلاة ، طبع ايچ ايم سعيد)۔

۲] عن ابي سعيد الخدرى رضى الله عنه ان النبي صلى الله عليه وسلم قال : لا يقطع الصلاة مرور شيء فادروا ما استطعتم ولو مر لا تقطع الصلاة.(البدائع الصنائع ج:۱ ص: ۲۱۷)۔

۳]عن ابي جهيم قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : لو يعلم المار بين يدى المصلى ماذا عليه لكان ان يقف اربعين خيرا له من ان يمر بين يديه..الخ.(مشكوة ص:۷٤باب السترة، ايضًا:البحرالرائق ج:۲ ص: ۱٦)

٤] ذكر في حاشية المدني لا يمنع المار داخل الكعبة وخلف المقام وحاشية المطاف عن المطلب بن ابي وداعة انه راى النبي صلى الله عليه وسلم يصلي مما يلي باب بني سهم والناس يمرون بين يديه، وليس بينهما سترة، هو محمول على الطائفين فيما يظهر، لان الطواف صلاة.....الخ.(شامي ج:۱ ص: ۲۳٦)۔

حرم شریف او نبوي جوماتـ کې د لمونځ کونکي مخې ته د تیریدو حکم

سوال: حرم شریف، مسجد نبوي کې د لمونځ کونکي مخې ته د تیریدو ضرورت پیښ شي، بچ کېدل نه وي، هلته څه حکم دی؟

جواب: دا مې هم لیکلي دي چې د لمونځ کونکي د سجدې ځای سره مه تیریږئ، دومره ځای پرېښودو سره د تیریدو ګنجائش شته.[۱]

سوال: حرم شریف او نبوي جومات کې د لمونځ کونکي مخې ته تیریدل، زبردستۍ سره ځای جوړول، په خلکو دپاسه اوړیدل، ځای نه ورکول، جنګ کول، د چا شاته کیناستل او د قرآن پاك تلاوت کول، په پښو باندې قرآن پاك کیښودل، قبلې ته پښې کول، د قرآن مجید طرفته پښې کول، د څپلیو لاس کې نیول او د قرآن مجید دپاسه پښې اړول، قرآن مجید سره د څپلیو کیښودل، د حرم شریف او جومات نبوي په توسیع کې لاړې توکل، اکثر پاکستانیان لیدل شوي دي؟

جواب: ددې ټولو کارونو نه ځان ساتل پکار دي، خدای مکړه داسې نه چې نیکۍ برباد ګناه لازم شي.

❖ د ښځو د لمانځه څو مسائل ❖

....

په ښځو باندې لمونځ کله فرض کیږي؟

سوال: په څومره عمر کې په ښځو باندې لمونځ فرض کیږي؟

جواب: که د ځواني وخت یې معلوم وي، نو د هغه وخت نه پرې لمونځ فرض دی، که نه په ښځې باندې به د نهه کاله د پوره کیدو نه وروسته په لسم کال لمونځ فرض حسابیږي.[۲]

د ښځې په بدن کې څومره حصه پټول ضروري دي؟

سوال: اکثر خلک وايي چې د ښځې له پاره ضروري ده چې هغه د لمانځه په وخت کې ضرور پټه جامه (سینه بند) واچوي چې له دې نه پرته لمونځ نه کیږي، وجه دا بیانوي چې دا جامه یعنې سینه بند په کفن کې هم شامل دی او سره ددې په اکثر ځایونو باندې لیکل شوي دي چې د لاس پښو او مخ نه برته دې هر ځای پټ وي اوس تاسو بیان کړئ چې کومه خبره صحیح ده او ایا سینه بند د لمانځه په وخت کې ضروري ده؟

---

[۱] ایضاً۔

[۲] وادنی مدته له.....ولها تسع سنین هو المختار .....الخ.(درمختار مع شامي ج:٦ ص: ١٥٤)۔

جواب: د ښځې له پاره په لمانځه کې لاس، پښې او د مخ نه پرته پاتې ټول بدن پټول ضروري دي، سینه بند ضروري نه دی، څوک چې سینه بند ته ضروري وایي هغوی غلط وایي [۱]

داسې نرۍ جامه چې په هغو کې بدن ښکاري لمونځ نه کیږي

سوال: مور په ګرمي کې د لان او د وائل نرۍ جامې اغندو او په همدې حال کې لمونځ کوو. نو ایا زمونږ لمونځ قبلیږي؟ ځکه چې زمونږ یو خپلوان ویلي و چې په دې جامو کې لمونځ نه قبلیږي ،ځکه چې په دې کې بدن ښکاري.

جواب: کومې جامې چې داسې نرۍ وي چې د دننه نه بدن په نظر راځي په هغو کې لمونځ نه کیږي د لمانځه له پاره لوېته پیړه استعمالول پکار دي. [۲]

د ښځو د لوڅ سر او لوڅ لاس سره لمونځ کول

سوال: ډیرې ښځې د لمانځه دوران کې خپل ویښته نه پټوي،لوپټه ډیره زیاته نرۍ استعمالوي یا دومره وړه وي چې د څنګلو نه پورته لاسونه یې هم لوڅ وي، نو ستر یې هم پوره طریقې سره ممکن نه وي ، داسې ښځې ته چې کله وویل شي، نو وایي چې کله د بندګانو نه پرده نشته، نو د الله نه څه پرده؟ ستاسو په خیال داسې لمونځ کیږي؟ او که کیږي، نو څنګه؟

جواب: مخ،دواړه لاسونه تر مړوند پورې او دواړه پښې تر ګیټو پورې د دې درې اندامونو نه پرته په لمانځه کې پوره بدن پټول د ښځې د لمانځه د صحت له پاره شرط دي، له دې نه پرته به لمونځ نه کیږي[۳]د ښځو دا وینا چې هر کله د بندګانو نه پرده نشته، نو د الله نه څه پرده؟ بالکل غلطه خبره ده، د الله پاک نه خو د جامو سره هم انسان نه شي پټیدلی، نو ایا پوره جامو ویستلو سره به د لمونځ اجازه کولی شي؟ بیا د بندګانو نه پرده نه کول یو مستقله ګناه ده، کومه ښځه چې په دې ګناه کې اخته وي دهغې له پاره څنګه جائز شوه چې هغه دې په لمانځه کې هم سر نه پټوي؟ الغرض د ښځو دا شک، شیطان د هغوی د لمونځونو د بربادولو له پاره ایجاد کړې ده.

ماشوم که د لمانځه په دوران کې د مور سر لوڅ کړي نو ایا لمونځ کیږي؟

سوال: د شپږو میاشتو نه واخله تر درې کلنو پورې د ماشوم مور لمونځ کوي،ماشوم د مور د سجدې په ځای کې څملي کله چې مور سجدې ته لاړه شي، نو ماشوم د مور په شا باندې کیني

۱] ويستر عورته......وبدن الحرة كلها عورة الا وجهها وكفيها، لقوله عليه السلام : المرأة عورة مستورة والاستثناء لعضوين للابتلاء بابدائهما.(هداية ج:۱ ص: ۷۶، باب شروط الصلوة التي تتقدمها)_

۲] وفي شرح شمس الائمة السرخسي اذا كان الثوب رقيقًا بحيث يصف ماتحته اى لون البشرة لا يحصل به ستر العورة اذ لا ستر مع رؤية لون البشرة......الخ.(حلبي كبير ص: ۲۱٤)_

۳] (وبدن المرأة الحرة كلها عورة الا وجهها وكفيها وقدميها)....الخ.(حلبي كبير ص: ۲۱۰)_

او د سرنه یې لوپټه کوزه کړي او ویښته یې راخواره کړي، ایا په دې حالت کې د مور لمونځ کیږي؟

جواب: د لمانځه په دوران کې که سر ښکاره شي او دري ځله د سبحان الله ویلوپه مقدار ښکاره پاتي شي، نو لمونځ مات شو[۱] او که د ښکاره کېدو سره یې پټ کړ، نو لمونځ یې وشو[۲]

ساړي (غټ لنګ) ترلو سره لمونځ کول

سوال: هغه ښځې کومې چې ساړي تړي ایاهغوی په ولاړه لمونځ نشي کولی؟

جواب: هغوی ته په ولاړه لمونځ کول فرض دي[۳] او لباس دې داسې اغوندي چې په هغه کې بدن نه ښکاره کیږي، په ناسته به د هغوی لمونځ نه کیږي، که بدن پوره پټ شوی وي. نو لمونځ به یې ساړي کې هم وشي، خو ساړي صحیح لباس نه دی.

ایا ساړی اغوستونکې زنانه په ناسته لمونځ کولی شي؟

سوال: ساړي اغوستونکو د ځینو زنانه وو وینا دهٔ چې موږ ساړي اچوو له دې وجې موږ فرض او سنت لمونځ په ناسته هم کولي شو، ایا د هغوی دا عمل صحیح دی او که نه؟ سره له دې چې هغوی د ضعیف عمر والا نه دی، نه ورته بیماريږ شته او نه عذر.

جواب: د نفل لمونځ خو په ناسته د کولو اجازه شته[۴] اګرچې په ناسته به ورته نیم ثواب ورکول کیږي، خو فرض لمونځ په ناسته نه کیږي، ځکه چې قیام د لمانځه رکن دی د سړیو له پاره هم او د ښځوله پاره هم او اصول دا دي چې د لمونځ رکن پاتې شي، نو لمونځ نه کیږي. لهذا کومې ښځې چې فرض لمونځ له عذر پرته په ناسته کوي، د هغوی لمونځ نه کیږي[۵] هو! د بدن صحیح پټول ضروري شرط دي که ساړي وي، که پرتوګ وي او که پاجامه.[۶]

په لمونځ کې په سینه باندې لوپټه اچول او د غیږې پټول لازمي دي

سوال: ایا دلمونځ کولو په وخت په سینه باندې لوپټه اچول او لاسونه د لوپټې لاندې پټول لازمي دي؟

۱] ویمنع حتی انعقادها کشف ربع عضو قدر اداء رکن بلا صنعه من عورة غلیظة او خفیفة علی المعتمد.(وفی الشامیة)(قوله قدر اداء رکن) وذاک قدرثلاث تسبیحات..الخ.(فتاوی شامیة ج:۱ص:۴۰۸،باب شروط الصلاة)

۲] واحترز عما اذا انکشف ربع عضو اقل من قدر اداء رکن فلا یفسد اتفاقًا....واعلم ان هذا التفصیل فی الانکشاف الحادث فی اثناء الصلاة.(فتاوی شامیة ج:۱ص:۴۰۸،باب شروط الصلاة،مطلب فی النظرالی وجه الامرد)

۳]ومنها القیام...فی فرض....لقادر علیه وعلی السجود....الخ.(درمختار ج:۱ ص: ۴۴۵، باب صفة الصلاة)

۴]ویجوزان یتنفل القادرعلی القیام قاعداً بلاکراهة..الخ.(فتاوی هندیة ج:۱ص:۱۱۴الباب التاسع فی النوافل)

۵]وفی الدرالمختار(ج:۱ص:۴۴۵) ومنها القیام فی فرض لقادرعلیه...لان القیام رکن فلایترک مع القدرة علیه).

۶] (وبدن المرأة الحرة کلها عورة الا وجهها وکفیها وقدمیها)....الخ.(حلبی کبیر ص: ۲۱۰) ویمنع حتی انعقادها کشف ربع عضو قدر اداء رکن بلا صنعه من عورة غلیظة او خفیفة علی المعتمد.(وفی الشامیة) (قوله قدر اداء رکن) وذاک قدر ثلاث تسبیحات.....الخ.(فتاوی شامیة ج:۱ ص: ۴۰۸، باب شروط الصلاة)

جواب: که مړوند پورې لاس پرانستي وي، نو هيڅ باک نشته په سينه باندې لوپټه اچول پکار دي.[۱]

که په سجده کې لوپټه لاندې راشي نو هم لمونځ کيږي

سوال: زما مسئله داده چې کله زه لمونځ کوم، نو د لمونځ د کولو په وخت کې که لوپټه د سجدې په ځای راشي، نوایا سجده کيږي ؟ اکثر داسې کيږي چې په لوپټه باندې د پاسه سجده کولی شي.

جواب: هيڅ باک نشته لمونځ صحيح ده.[۲]

د ښځوله پاره د اذان انتظار ضروري نه دی

سوال: ايا ښځې په کور کې د لمانځه په وخت کې د اذان د اوريدو نه پرته لمونځ کولی شي. اوکه د اذان انتظار کول ضروري دي؟

جواب: د وخت کېدو نه وروسته د ښځو له پاره په اول وخت کې لمونځ کول افضل دي، هغوی ته د اذان انتظار ضروري نه دی، خو که د وخت پته نه لګيږي، نو د اذان انتظار دې وکړي.[۳]

د ښځوله پاره په چت باندې لمونځ کول څنګه دي؟

سوال: د ښځو يا جينکو په چت باندې لمونځ کول جائز دي اوکه نه؟

جواب: که باپرده ځای وي، نو جائز دي ،خو په کور کې د هغوی لمونځ افضل دی.[۴]

ښځه د خاوند په اقتداء کې لمونځ کولی شي

سوال: ښځه خو جومات ته نه شي تللی، خو ښځه په خپل خاوند پسې د جمعې لمونځ کولی شي اوکه نه،سره له دې چې د خاوند نه پرته بل څوک سړي نه وي يوازې خاوند او ښځه وي؟

جواب: ښځه دخاوندپه اقتداء کې لمونځ کولی شي[۵]خو برابره به ورسره نه دريږي، بلکې

۱] (وبدن المرأة الحرة كلها عورة الا وجهها وكفيها وقدمهيا).....الخ.(حلبی كبير ص: ۲۱۰)۔

۲] واشار بالكور الى ان كل حائل بينه وبين الارض متصل به، فان حكمه كذالک يعنی الصحة كما لو سجد على فاضل ثوبه او كمه على مكان طاهر.....الخ.(البحر الرائق ج:۱ ص: ۳۳۷)۔

۳] كان اولى للنساء ان يصلين فی اول الوقت لانهن لا يخرجن الى الجماعة......الخ.(فتاوى شامية ج:۱ ص: ۳۶۷، مطلب فی طلوع الشمس من مغربها)۔

٤] عن ابن مسعود رضیﷲ عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : صلوة المرأة فی بيتها افضل من صلاتها فی حجرتها، وصلوتها فی مخدعها افضل من صلوتها فی بيتها.رواه ابو داود.(مشكوة ج:۱ ص: ۹۶، باب الجماعة وفضلها، الفصل الثانی)۔

۵]وذكر القدوری انه اذا فاتته الجماعة جمع باهله فی منزله.....الخ.(البدائع الصنائع ج:۱ ص: ۱۵۶)۔

وروسته به ترې د ریږي.[۱]

په کور کې د ښځو د تراویح لمونځ په جمعې سره کول

سوال: ایا ښځه جمعې لمونځ نه شي کولی؟ سره د دې چې په کور کې د تراویح جمعه کیږي او یوازې د کور سړي لمونځ ادا کوي او که ادا کولی شي. نو ایا امام به د ښځې نیت کوي؟

جواب: که په کور کې د جمعې اهتمام وي، نو ډیر ښه خبره ده، نو د کور ښځې دې هم په دې جمعه کې شریکې شي، خو سړی دې فرض لمونځ په جوماتت کې کولونه وروسته راځي[۲] امام ته د ښځې نیت ضروري دي.[۳]

ښځه، د ښځو امامت کولی شي خو مکروه ده

سوال: په اسلام کې ښځه هم دامامت فرائض اداکولی شي اوکه نه؟ د قرآن او سنت په رڼا کې جواب راکړئ.

جواب: ښځې د سړیو امامت خو نه شي کولی که د ښځو امامت وکړي، نو دا مکروه دي.[۴]

د ښځو په یو کور کې جمع کېدل او په جمعې سره لمونځ ادا کول بدترین بدعت دي

سوال: زموږ په محله کې لس پنځلس کورونه دي، د جمعې په ورځ ټولې ښځې زموږ په کور کې لمونځ کوي په هغوی کې یو ښځه په اوچت اواز سره لمونځ وایي او پاتې ښځې دهغې نه وروسته، ایا دا طریقه صحیح ده؟ کومه ښځه چې لمونځ ورکوي د هغوی په لاس او پښو باندې نیل پالش لګیدلی وي او څه ښځې د نیمو لستونو والا قمیص اغوستلو سره راځي د هغوی متعلق د اسلام په رڼا کې بیان کړئ چې داسې لمونځ کیږي اوکه نه؟

جواب: په سوال کې دا ذکر نه دی شوی چې دا ښځې چې کوم لمونځ کوي ایا دا د جمعې لمونځ کوي یا نفل لمونځ کوي؟ که هغوی په خپل خیال کې د جمعې لمونځ کوي، نو د هغوی د جمعې لمونځ نه ادا کیږي ،ځکه چې د جمعې په لمانځه کې د امام سړی کېدل شرط دي ،د

۱] واذا كان مع الامام امراة اقامها خلفه، لان محاذاتها مفسدة.....الخ.(البدائع الصنائع ج:۱ ص: ۱۵۹)_

۲]وان اقيمت التراويح بالجماعة فى المسجد وتخلف عنها افراد الناس وصلى فى بيته لم يكن مسيئا......والصحيح ان للجماعة فى بيته فضله وللجماعة فى المسجدفضيلة اخرى.الخ(البحرالرائق ج:۲ص:۷۳،وايضا:حلبى كبيرص: ۴۰۲)

۳] امامة الرجل للمرأة جائزة اذا نوى الامام امامتها.....الخ.(عالمگيرى ج: ۱ ص: ۸۵، كتاب الصلاة)_

٤] ويكره امامة المرأة للنساء فى الصلوات كلها.....الخ.(عالمگيرى ج: ۱ ص: ۸۵، كتاب الصلاة، الباب الخامس فى الامامة، الفصل الثالث فى بيان من يصلح اماما لغيره.....وايضا البدائع الصنائع ج:۱ ص: ۱۵۷)

هغوی د جمعې لمونځ ونه شو[1]، (دا نفل لمونځ شو د کوم ذکر چې مخکې راغي) او د ماسپښين لمونځ د هغوی په ذمه پاتې شو او که نفل لمونځ کوي، نو د ښځو داسې جمع کېدل او نفل لمونځ په جمعې سره کول بدترين بدعت دی او د ډير غلطيو مجموعه ده چې د هغه په وجه هغوی سختې ګناه ګارې دي[2] او د نيل پالش[3] او د نيمو لستوڼو والا خو ښځو لمونځ هم نه کيږي[4]

ښځو ته د اذان نه ځومره وخت وروسته لمونځ کول پکار دي؟

سوال: ښځو ته د اذان نه ځومره وخت وروسته لمونځ کول پکار دي؟ ځکه چې عام طور سره په اوريدلو کې راغلي دي چې اول سړي د لمونځ کولو نه وروسته کور ته راشي، نو بيا دې ښځې لمونځ کوي؟

جواب: د سهار لمونځ خو د ښځو په اول وخت کې کول غوره دي او نور لمونځونه د جومات د جمعې نه وروسته غوره دي.[5]

ښځې د جمعې په ورځ لمونځ د کوم اذان نه وروسته ادا کړي؟

سوال: د جمعې په لمانځه کې دوه اذانونه کيږي او د جمعې لمونځ په ښځو باندې فرض نه دی، د څه خلکو خيال دی چې ښځو له په اول اذان باندې د ماسپښين لمونځ ادا کول پکار نه دي، بلکې کله چې په جوماتونو کې لمونځ ختم شي، نو هغوی دې د ماسپښين لمونځ ادا کړي تاسو موږ ته د دې شرعي حال ضرور بيان کړئ.

جواب: په ښځو باندې داسې هيڅ پابندي نشته، د وخت کېدو نه وروسته هغوی د ماسپښين لمونځ کولی شي.

۱]واما المرأة والصبی العاقل فلا يصح منهما اقامة الجمعة لانهما لا يصلحان للامامة فی سائر الصلوات ففی الجمعة اولی .....الخ.(البدائع الصنائع ج:۱ ص: ۲۶۲)۔

۲]واعلم ان النفل بالجماعة علی سبيل التداعی مكروه.....فعلم ان كلا من صلاة الرغائب......بالجماعة بدعة مكروهة.(حلبی كبير ص: ۴۳۳)۔

۳]وفی فتاوی ما وراء النهر ان لقی من موضع الوضوء قدر راس ابرة او لزق باصل ظفره طين يابس او رطب لم تجز. (فتاوی هندية ج:۱ ص: ۴ كتاب الطهارة ، الباب الاول ، الفصل الاول فی فرائض الوضوء)۔

۴] (وبدن المرأة الحرة كلها عورة الا وجهها وكفيها وقدميها)....الخ.(حلبی كبير ص: ۲۱۰) ويمنع حق انعقادها كشف ربع عضو قدر اداء ركن بلا صنعه من عورة غليظة او خفيفة علی المعتمد.(وفی الشامية) (قوله قدر اداء ركن) وذاک قدر ثلاث تسبيحات.....الخ.(فتاوی شامية ج:۱ ص: ۴۰۸، باب شروط الصلاة)۔

۵] الافضل للمرأة فی الفجر الغلس وفی غيرها الانتظار الی فراغ الرجال عن الجماعة.....الخ.(البحر الرائق ج:۱ ص: ۲۶۰)۔

ښځې به د جمعې څو رکعته کوي؟

سوال: دا بیان کړئ چې د زنانو له پاره د جمعې په لمانځه کې څو رکعتونه وي؟

جواب: ښځه که په جومات کې د جمعې سره جمعه ادا کوي، نو د هغې له پاره هم د سړیو برابر رکعتونه دي یعنې اول څلور سنت،بیا دوه فرض،بیا څلور سنت موکده،بیا دوه سنت غیر موکده[۱]، په ښځو باندې جمعه فرض نه ده. له دې وجې که هغه په خپل کور کې لمونځ کوي. نو د عامو ورځو په شان دې د ماسپښین لمونځ وکړي [۲]

د ښځو په جمعه او اخترونو کې شرکت

سوال: ځینې حضرات په دې باندې زور کوي چې ښځوته جمعه،دجمعې او اخترونو کې ضرور حاضریدل پکار دي،ځکه چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې به په جمعه،دجمعې او اخترونو کې ښځې شریکیدلې. کوم شریعت نازل شو چې ښځې د جوماتونو نه منع کړل شوې؟

جواب: جمعه،دجمعې او د اخترونو لمونځ د ښځو په ذمه نشته[۳]،د رسول الله ﷺ زمانه د شر او فساد نه خالي وه، یو طرف ته ښځو ته د رسول الله ﷺ نه د احکامو د زده کولو ضرورت و، له دې وجې ښځو ته په جومات کې د حاضریدلو اجازه وه او په هغه کې هم دا قید و چې پردې سره به راځي،خیرنې به ځي،ډول او سنګار به نه کوي. له دې سره سره به ښځو ته ترغیب ورکول کیده چې هغوی دې په خپلو کورونوکې لمونځ کوي.

وروسته د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه نقل دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

"**لا تمنعوا نساءکم المساجد، وبیوتهن خیر لهن**" **ترجمه**:خپلې ښځې د جوماتونو نه مه منع کوئ او د هغوی کورونه د هغوی له پاره ډیر غوره دي.

عبدالله بن مسعود رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: "**صلاة المراة فی بیتها افضل من صلوٰتها فی حجرتها وصلاتها فی مخدعها افضل من صلوتها فی بیتها**"

ترجمه: دښځې په خپله کوټه کې لمونځ کول د خپل کور په چار دیواري له لمانځه نه غوره دي او د کمرې په کونج کې لمونځ کول د کمرې د ښکاره برخې نه غوره دي.

په مسند احمد کې د ام حمید ساعدیه رضی الله عنها نه روایت دي چې هغې عرض وکړ یا رسول الله ﷺ!

۱] (وسن) مؤکدا قبل الظهر واربع قبل الجمعة واربع بعدها بتسلیمة.(درمختار ج:۲ ص: ۱۲، مطلب فی القنوت النازلة). ایضًا: وقبل الظهر والجمعة وبعدها اربع کذا فی المتون.(هندیة ج:۱ ص: ۱۱۲، الباب التاسع فی النوافل). ایضًا: وعن ابی یوسف انه ینبغی ان یصلی اربعا ثم رکعتین.....الخ.(البحر الرائق ج:۲ ص:۵۲)

۲]حتی لا تجب الجمعة علی العبید والنسوان..الخ.(هندیة ج:۱ص:۱۴۴)وکفاهم اداء الظهر(حلبی کبیرص: ۴۷۳)

۳]قال فی التنویر وشرحه: ویکره حضور هن الجماعة ولو جمعة، وعید، ووعظ مطلقا، ولو عجوزا لیلا علی المذهب المفتی به لفساد الزمان.....الخ.(درمختار علی الشامیة ج:۱ ص: ۵۶۶)۔

زه تاسو سره لمونځ کول غواړم نبي رسول الله ﷺ وفرمايل

"قد علمت انک تحبين الصلاة معي وصلوٰتک في بيتک خير لک من صلوٰتک في حجرتک، وصلوٰتک في حجرتک خير من صلوٰتک في دارک، وصلوٰتک في دارک خير لک من مسجد قومک، وصلوٰتک في مسجد قومک خير لک من صلوٰتک في مسجدي. قال: فأمرت فبني لها مسجد في اقصى شئ من بيتها واظلمه، فكانت تصلي فيه حتى لقيت الله عزوجل" (مسند احمد ج:۱ص:۳۷۱ وقال الهيثمي ورجاله رجال الصحيح غير عبدالله بن سويد الانصاري و ثقه ابن حبان مجمع الزوائد ج:۲ص:۳٤)

ترجمه:....ما ته معلومه ده چې تاته ماسره لمونځ کول خوښ دي، خو ستا د خپل کور په کوټه کې لمونځ کول ستا د کور په انګړ کې د کولو نه غوره دي او د کور په انګړ کې دې لمونځ کول د کور په چاپير چل کې د لمونځ کولو نه غوره دي او د خپلې محلې په جومات کې دې لمونځ کول زما په جومات کې لمونځ کولو نه غوره دي راوي وايي چې ام حميد رضي الله عنها د دې ارشاد په اوريدلو باندې د خپل کور خلکو ته حکم وکړ چې د خپل کور د ټولو نه ليرې او تياره کونج کې هغې د پاره د لمانځه ځای جوړ کړي، د هغې د هدايت مطابق ځای جوړ کړل شو. هغې به هم هلته لمونځ کولو تر دې چې وفات شوه.

په دې احاديثو کې د ښځو د جومات د راتګ په باره کې د رسول الله ﷺ مرضي هم معلوميږي او د صحابه کرامو او د صحابياتو شوق هم.

دا خو د رسول الله ﷺ د نيک دور خبره وه، خو وروسته چې کله ښځو په دې قيوداتو کې کوتاهي شروع کړه چې په کومو سره هغوی ته جوماتونو ته د تلو اجازه ورکړل شوې وه. نو د امت فقهاوو د دوی تګ مکروه کړ.

د ام المؤمنين عائشه صديقه رضي الله عنها ارشاد مبارک دی:

"لو ادرک رسول الله ﷺ ما احدث النساء لمنعهن المسجد کما منعت نساء بني اسرايل....

(صحيح البخاري ج:۱ص:۱۲۰ صحيح مسلم ج:۱ ص:۱۸۳ موطاء امام مالک ص:۱۸٤)

ترجمه:....ښځو چې کومه نوې طريقه اختيار کړې ده، که رسول الله ﷺ دا ليدلې وای، نو ښځې به يې د جومات نه منع کړې وې، څنګه چې د بني اسرايېلو ښځې منع کړل شوې وې.

د ام المؤمنين رضي الله عنها دا ارشاد د هغې د زمانې د ښځو په باره کې و، د دې نه اندازه کيږي چې زموږ د زمانې د زنانو به څه حال وي.....؟

خلاصه دا چې شريعت نه دی بدل شوی، د رسول الله ﷺ نه وروسته چا ته هم د شريعت د بدلولو اختيار نشته، خو د کومو قيدونو او شرطونو په لحاظ سره چې رسول الله ﷺ ښځو ته جومات د تللو اجازه ورکړې وه، کله چې ښځو د هغې شرطونو لحاظ ونه ساته، نو اجازه به هم باقي نه پاتې کيږي، په دې بنياد فقهاء امت چې په حقيقت کې حکماء امت دي، د ښځو جومات ته حاضريدل يې مکروه کړل، ګويا دا شی د خپل اصل په اعتبار سره جائز دی، خو د

څه عارض له وجې نه ممنوع شوی دی او ددې مثال داسې ده چې د يو مرض په زمانه کې يو طبيب د امرودو خوړولو نه منع وکړي اوس ددې مطلب دا نه دی چې هغه د شريعت حلال او حرام بدل کړي دي. بلکې مطلب دا دی چې يو شی کوم چې جائز او حلال دی. هغه د يو خاص موسم او ماحول په لحاظ سره صحت ته نقصان رسوي له دې وجې منع کړل شوی دی

جوماتونو کې د ښځو په حاضرۍ باندې ولې پابندي لګول شوې ده حالانکې د نبي کريم ﷺ په زمانه کې به ښځې راتللې؟

سوال: د نبي کريم ﷺ په زمانه کې به ښځو هم په جمعه کې شرکت کاو. نن سبا ګنده ماحول کې ښځو له پاره جمعه کې نه شريکيدل غوره دي.خوښځو ته جمعه کې د نه شريکيدو حکم چا لګولی دی، ځکه چې حضوراکرم ﷺ خو منع نه وه فرمايلې؟

جواب: بنديز خو چا لګولی نه دی،اوس هم ځينې ځايونو کې ځينې ښځې ځي.خوحضرات فقهاء کرامو د فتنې له ويرې نه اود زمانې د فساد له وجې نه د دوی تلل مکروه ګرځولی دي[1] صحيح بخاری.مسلم.مؤطا او ابوداؤد کې د حضرت عائشه رضي الله عنها ارشاد دی چې ښځو د نبي کريم ﷺ نه وروسته کوم نوي صورتونه اختيار کړي دي.که نبي کريم ﷺ دا ليدلی و. نو دوی به يې جوماتونو ته د راتلو نه منع کړې وې لکه څنګه چې د بنواسرايلو ښځې منع کړل شوې وې(جامع الاصول،ج:۱۱،ص:۲۰۱)[2]

جوماتونو کې د ښځو لمونځ کول

سوال: نن سبا جوماتونو کې د ښځو لمونځ کول ليدل شوي دي،ايا جوماتونو کې د ښځو لمونځ کول صحيح دي؟

جواب: جوماتونو ته د ښځو حاضري مکروه ده،خوکه د پردې انتظام موجود وي.[3]

ښځه دې د حيض په ورځو کې د لمونځ په ځای تسبيح کوي

سوال: لمونځ کول په ټولو مسلمانانو سړيو او ښځو باندې فرض دي. موږ ډيرې جينکۍ په دفتر وغيره کې کار کوو،د ماسپښين لمونځ د دفتر د کار دوران کې وي،مسئله داده چې د پاکوالي دوران کې خو موږ لمونځ وکړو، خو د حيض په ورځو کې څه وکړو؟ يو پيژندګلو وويل

---

[1]]ويکره حضورهن الجماعة ولو جمعة، وعيد، ووعظ مطلقًا، ولو عجوزاً ليلاً على المذهب المفتى به لفساد الزمان. (درمختار مع الشامي ج:۱ ص: ۵۶۶، باب الامامة).

[2]]ولو ادرک رسول الله صلى الله عليه وسلم ما احدث النساء لمنعهن المسجد كما منعت نساء بنى اسرائيل. (بخاری ج:۱ ص: ۱۲۰،طبع نورمحمد کراچی ، جامع الاصول ج:۱۱، ص: ۲۰۱، طبع دار البيان، بيروت)

[3]] ويكره حضورهن الجماعة ولو لجمعة وعيد ووعظ مطلقًا ولو عجوزاً ليلا على المذهب المفتى به لفساد الزمان. وفی الشامية ای مذهب المتاخرين.....الخ.(شامي ج:۱ ص: ۵۶۶، باب الامامة).

چې بيا هم لمونځ کوم (يعني هم داسې په جانماز باندې ناسته دو لس رکعته وکړم)زه په شک کې يم ايا په خاص ورځو کې زه د ماسپښين لمونځ نه کوم يا دهغې وينا کونکې په وينا باندې عمل کوم؟ (په اصل کې دفتر ډيرو ړوکى دى اويوازې چې کوم خاى کمره بندولوسره بنده کيني، نود لمونځ کولو ځاى نشته)

جواب: ښځوته دحيض په ورځو کې د لمونځ کولو اجازه نشته.له دې وجې هغې ښځې چې تا ته کومه مسئله بيان کړې ده هغه بالکل غلطه ده[1]،خوپه خاص ورځوکې د ښځوله پاره غوره داده چې دلمانځه په وخت کې اودس کولو سره په مصلى باندې ناسته څه ذکر او تسبيح کوي.[2]

د ښځو د لمانځه پوره وضاحت

سوال: د ښځو د لمانځه په باره کې تفصيل سره بيان کړئ،خاص طور سره د سجدې حالت به څنګه وي؟

جواب: د ښځو لمونځ هم د سړيو په شان دى،خو په څو کارونو کې د هغوى د زنانوالي او ستر په لحاظ د سړيو نه بيل حکم دى،لاندې قيام،رکوع،سجده او قعده په عنواناتو سره د هغوى مخصوص مسائل ذکر کوم.

قيام

(۱) ښځو ته په قيام کې دواړه پښې يو ځاى کول پکار دي، يعنې په دې کې دې فاصله نه ساتي، همدغه شان په رکوع او سجده کې دې هم ګيټې يو ځاى وي (او سړيو له پاره دا حکم دى چې د قيام دوران کې دې د هغوى د قدمونو ترمينځه د څلورو پنځو ګوتو فاصله وي).[3]

۱](ومنها) ان يسقط عن الحائض والنفساء الصلاة فلا تقضى هكذا فى الكفاية.(عالمگيرى ج: ۱ ص: ۳۸، الباب السادس فى الدماء المختصة بالنساء، الفصل الرابع فى احكام الحيض والنفاس). وعن ابى سعيد الخدرى ...قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : اليس اذا حاضت لم تصل ولم تصم.(بخارى ، كتاب الغسل ج:۱ ص: ٤٤، باب ترک الحائض الصوم، مسلم كتاب الايمان ج:۱ ص: ٦٠، باب بيان نقص الايمان). وعن معاذة قالت: سالت عائشة رضى الله عنها فقلت: ما بال الحائض تقضى الصوم ولا تقضى الصلاة؟ فقالت: احرورية انت؟ قلت: لست بحرورية ولكنى اسال : قالت: يصيبنا ذلک فنومر بقضاء الصوم ولا نومر بقضاء الصلاة. (ابو داود، كتاب الطهارة ج:۱ ص: ۳۵، باب فى الحائض لا تقضى الصلوات ، نسائى ج:۱ ص: ۳۱۹)

۲] ويستحب للحائض اذا دخل وقت الصلاة ان تتوضا وتجلس عند مسجد بيتها تسبح وتهلل قدر ما يمكنها اداء الصلاة لو كانت طاهرة كذا فى السراجية .(عالمگيرى ج: ۱ ص: ۳۸، الباب السادس فى الدماء ، الفصل الرابع فى احكام الحيض)۔

۳] وينبغى ان يكون بين قدميه اربع اصابع فى قيامه. كذا فى الخلاصة.(الهندية ج:۱ ص: ۷۳، الباب الرابع فى صفة الصلاة، الفصل الثالث فى سنن الصلاة وآدابها وكيفيتها)۔

(۲) ښځو له پاره که د یخني عذر وي او که نه وي،په هر حال کې څادر یا لوپټه کې دننه لاس اوچتول پکار دي،بهر ویستل نه دي پکار،او سړیو ته دا حکم دی که هغوی څادر وغیره اغوستي وي، نو د تکبیر تحریمه په وخت به د هغه نه لاس راوښکلو سره لاس اوچتوي.[۱]
(۳) ښځوته یوازې داوړو پورې لاس اوچتول پکاردي[۲]اودسړیو له پاره حکم دادی چې دومره یې اوچت کړي چې غټې ګوتې یې دغوږونود نرمیوبرابرشي.بلکې د غوږونو پوسکو پورې دې ورلګوي.[۳]
(۴) ښځو ته د تکبیر تحریمه نه وروسته په سینه باندې لاس تړل پکار دي[۴]او سړیو له پاره د نامه نه لاندې، (۵) ښځه به د لاس تړلو په وخت کې یوازې ښی لاس د خپل ګس لاس په شا باندې کیږدي،حلقه جوړول او ګس مړوند نیول نه دي پکار (او سړیو ته دا حکم ده د ښي لاس د غټې ګوتې حلقه جوړولوسره دې دګس لاس ګیتې ونیسي اودمینځ درې واړه ګوتې په مړوند باندې نیغې وساتي.[۵]

رکوع

(۱) په رکوع کې ښځوته ډیر ښکته کیدل نه دي پکار.بلکې دومره دې ښکته شي چې د هغوی لاسونه(کونډو ته ورسیږي[۶]او سړیو ته دا حکم ده چې دومره ښکته شي چې ملا یې بالکل نیغه شي او سر او شا یې برابر شي.[۷]
(۲) ښځوته په رکوع کې د دواړو لاسونو ګوتې پراخه ساتلو نه پرته[۸]بلکې یو ځای کیښودل پکار دي،او سړیو له پاره حکم دادی چې په رکوع کې به د لاس ګوتې پراخه ساتي.[۹]

۱] (اخراج الرجل كفيه من كميه عند التكبير) للاحرام لقربه من التواضع الا لضرورة كبرد، والمرأة تستر كفيها حذراً من كشف ذراعها.(مراقی الفلاح مع الحاشية الطحطاوية ص: ۱۵۱)۔
۲](و) اما(المرأة) فانها(ترفع) يديها عند التكبير (حذاء ثدييها) بحيث تكون رؤس اصابعها حذاء منكبيها لان ذلك استرلها وامرها مبنى على الستر.....الخ.(كبيرى ص: ۳۰۰، طبع سهيل اكيدمى لاهور)۔
۳] اذا اراد الدخول فى الصلاة كبر ورفع يديه حذاء اذنيه حتى يحاذى ابهاميه شحمتى اذنيه وبرؤس الاصابع فروع اذنيه كذا فى التبيين.(الهندية ج:۱ ص: ۷۳، كتاب الصلاة ، طبع رشيديه)۔
٤](و) اما (المرأة) فانها (تضعها تحت ثدييها) بالاتفاق لانه استرلها.(كبيرى ص: ۳۰۱)۔
۵] (ثم يضع يمينه على يساره) ....(ويقبضن بيده اليمنى رسغ يده اليسرى)......فكيفية الجمع ان يقع كف اليمنى على كف اليسرى ويحلق الابهام والخنصر على الرسغ ويبسط الاصابع الثلاثة على الذراع...... (ويضعهما) الرجل (تحت السرة).....الخ.(كبيرى شرح منية ص: ۳۰۰)۔
٦]والمرأة تنحنى فى الركوع يسيرا.(الهندية ج:۱ ص: ۷٤، الفصل الثالث فى سنن الصلاة وآدابها)۔
۷] ويبسط ظهره حتى لو وضع على ظهره قدح من ماء لاستقر ولا ينكس راسه ولا يرفع يعنى مسوى راسه بعجزه كذا فى الخلاصة.(الهندية ج:۱ ص: ۷٤، الفصل الثالث فى سنن الصلاة وآدابها)
۸]ولكن تضم يديها.(الهندية ج:۱ ص: ۷٤، ايضًا: حاشية الطحطاوى على المراقى ص: ۱٤۱)۔
۹] ويفرج بين اصابعه.(الهندية ج:۱ ص: ۷٤)۔

(۳) ښځه به په رکوع کې لاس په ګونډو ساتي، خو ډير زور به نه ورکوي[۱] او د سړيو له پاره حکم دا دي لاسونه له به په ګونډو باندې ښه زور ورکولو سره رکوع کوي.[۲]
(۴) په رکوع کې ښځه لاسونه په کونډو باندې ږدي، خو ګونډې دې نيسي نه[۳] او د سړيو له پاره حکم دادی چې په ګوتو سره دې ګونډې مضبوطې ونيسي.[۴]
(۵) په رکوع کې ښځوته خپلې څنګلې د خپلو ډډو سره يو ځای کول پکار دي، يعني راغونډې دې وي[۵] او د سړيو له پاره حکم دادی چې څنګلې به د ډډو نه بيلې ساتي.

سجده:

(۱) په سجده کې ښځوته څنګلې په ځمکه باندې غوړول پکار دي او د سړيو په ځمکه باندې څنګلې غوړول مکروه دي.[۶]
(۲) ښځوته په سجده کې دواړه پښې د ګوتو په څوکو درول نه دي پکار، بلکې دواړه پښې ښي طرف ته اوښکلو سره دې په کوناټو باندې کيني او ښه په راټوليدو سره او ښکته کيدلو سره دې سجده کوي، کوناټي دې نه اوچتوي[۷] او د سړيو له پاره حکم دادی چې په سجده کې دې دواړه پښې د ګوتو په څوکو ولاړې ساتي او کوناټي دې د پښو نه اوچت ساتي.[۸]

۱]ولا تعتمد ولا تفرج اصابعها.(الهندية ج:۱ ص: ۷٤)ـ
۲] ويعتمد بيديه على ركبتيه كذا فى الهندية ج:۱ ص: ۷٤)ـ
۳]وتضع على ركبتيها وضعا وتنحنى ركبتيها.(الهندية ج:۱ ص: ۷٤)ـ
٤] (سننها) واخذ ركبتيه بيديه.....الخ.(عالمگيرى ج: ۱ ص: ۷۲)ـ
٥]ولا تجافى عضديها كذا فى الزاهدى.(الهندية ج:۱ ص: ۷٤)ـ
٦] وفى مراقى الفلاح : وافتراش ذراعيه وهو بسطها على الارض حالة السجود الا للمرأة. وفى حاشية الطحطاوى : وافتراش ذراعيه لقول عائشة رضى الله عنها كان النبى صلى الله عليه وسلم ينهى عن عقبة الشيطان وان يفترش الرجل ذراعيه افتراش السبع. رواه البخارى .(حاشية طحطاوى على مراقى الفلاح ص: ۱۹۲، فصل فى المكروهات). ايضًا عن ابن عمر مرفوعًا اذا جلست المرأة فى الصلاة وضعت فخذها على فخذها الاخرى فاذا سجدت الصقت بطنها على فخذها كاستر ما يكون ، فان الله تعالى ينظر اليها يقول: يا ملائكتى! اشهدكم انى قد غفرت لها.(بيهقى ج:۲ ص: ۲۲۳)ـ
۷]وفى الطحطاوى : (ويسن وضع المرأة يديها.....الخ المرأة تخالف الرجل فى مسائل منها هذه ومنها : انها لا تخرج كفيها من كميها عند التكبير وترفع يديها حذاء منكبيها ولا تفرج اصابعها فى الركوع وتنحنى فى الركوع قليلاً بحيث تبلغ حد الركوع فلا تزيد على ذلك لانه استرلها وتلزق مرفقيها بجنبيها فيه وتلزق بطنها بفخذيها فى السجود وتجلس كلتارجليها من الجانب الايمن وتضع فخذيها على بعضها وتجعل الساق الايمن على الساق الايسر كما فى مجمع الانهر. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح شرح نور الايضاح ص: ۱٤۱، طبع مير محمد كتب خانه آرام باغ ، كراچى)
۸] واذا رفع راسه من السجدة الثانية فى الركعة الثانية افترش رجله اليسرى وجلس عليها ونصب اليمنى نصبا ووجه اصابعه نحو القبلة ووضع يديه على فخذيه وبسط اصابعه كذا فى الهداية.(عالمگيرى ج: ۱ ص: ۷۵، الفصل الثالث فى سنن الصلوة وآدابها)ـ

(۳) په سجده کې د ښځو خیټه ورنونو سره لګیدل پکار دي او لاسونه د غیږې سره یو ځای کیدل پکار دي ،لنډه دا چې ښه غونډه سجده کول پکار دي[1] او د سړیو خیټه د رونونو او د غیږې نه ...ل ساتل پکار دي[2]

قعده:

(۱) په التحیات کې د کیناستلو په وخت د سړیو په خلاف ښځوته دواړه پښې ښي طرف ویستلوسره په ګس کوناټي باندې کیناستل پکار دي، یعني کوناټي دې په ځمکه باندې وي، په پښه دې نه ساتي، [3] او د سړیو له پاره حکم دادی چې په قعده کې د خپله ښي پښه ولاړه ساتي او ګسه پښه خورولو سره دې په هغه باندې کیني. [4]

(۲) ښځه دې په قعده کې د لاسونو ګوتې یو ځای ساتي او سړیو ته پکار دي چې هغه په خپل حال باندې پریږدي نه دې پراخه ساتي او نه دې یو ځای کوي [5]

د ښځو د لمانځه نور مسائل

(۱) کله چې یو خبره په لمانځه کې پیښه شي مثلاً لمونځ کولو سره څوک مخې ته تیرشي او هغه بندول مقصود وي. نو ښځه دې لاس نه پړق وباسي چې د هغه طریقه داده چې د ښي لاس د ګوتو په شا سره دې د ګس لاس ورغوی ووهي [6] او د سړیو له پاره د داسې کار کولو په وخت

۱]عن یزید بن حبیب رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم مر علی امراتین تصلیان، فقال: اذا سجدتما فضما بعض اللحم الی الارض فان المرأة لیست فی ذلک کالرجل.(مراسیل ابی داود ص: ۸)۔

۲] وجافی ای باعد الرجل بطنه عن فخذیه وعضدیه عن ابطیه لانه ابلغ فی السجود بالاعضاء......والمرأة تخفض فتضم عضدیها لجنبیها وتلزق بطنها بفخذیها لانه استرلها ثم رفع راسه.(مراقی الفلاح شرح نور الایضاح علی هامش الطحطاوی ص: ۱۵٤، فصل فی کیفیة ترکیب افعال الصلاة)۔

۳] وان کانت امراة جلست علی ایستها الیسری واخرجت رجلیها من جانب الایمن.کذا فی الهدایة. (عالمگیری ج: ۱ ص: ۷۵). ایضًا ویسن افتراش الرجل رجله الیسری ونصب الیمنی وتوجیه اصابعها نحو القبلة کما ورد عن ابن عمر رضی الله عنهما. ویسن تورک المرأة بان تجلس علی الیتها وتضع الفخذ علی الفخذ وتخرج رجلیها من تحت ورکها الیمنی لانه استرلها.(مراقی الفلاح علی هامش الطحطاوی ص: ۱٤٦)

٤] واذا رفع راسه من السجدة الثانیة فی الرکعة الثانیة افترش رجله الیسری وجلس علیها ونصب الیمنی نصبا.....الخ.(مراقی الفلاح علی هامش الطحطاوی ج:۱ ص: ۷۵)۔

٥] واذا فرغ الرجل من سجدتی الرکعة الثانیة......ووضع یدیه علی فخذیه وبسط اصابعه وجعلها منتهیة الی راس رکبتیه.(مراقی الفلاح علی هامش الطحطاوی ص: ۱۵۵، فصل فی کیفیة ترکیب افعال الصلاة). ایضًا ویضع یدیه فی الرکوع علی رکبتیه متعمداً بهما ویفرج اصابعه ولا یندب الی التفریج الا فی هذه الحالة لیکون امکن من الاخذ بالرکبة والاعتماد ولا الی الضم الا فی حال السجود لتکون رؤس الاصابع متوجهة الی القبلة وفیما سواهما وهو حال الرفع عند التکبیر والوضع فی التشهد بترک علی ما علیه العادة من غیر تکلف ضم ولا تفریج لعدم ما یقتضی احدهما دون الآخر. (حلبی کبیر ص: ۳۱۵، باب صفة الصلاة)۔

٦] اما النساء فانهن یصفقن وکیفیته ان یضرب بظهور الاصابع الیمنی علی..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

کې د سبحان الله ویلو حکم دی.[۱] خو ښځه دې سبحان الله نه وایي. بلکې د پورتني لیکل شوي طریقې مطابق دې لاس وپړقوي)

(۲) ښځه دې د سړیو امامت نه کوي.[۲]

(۳) ښځه که جمعه کوي، نو کومه ښځه چې امامه وي هغه دې مخکې نه دریږي. بلکې د صف په مینځ کې دې ولاړه وي[۳] (د ښځو ځانته جمعه مکروه ده)[۴]

(۴) د فتنې او فساد له وجې نه د ښځو جومات ته حاضریدلو سره په جمعه کې حاضریدل مکروه دي[۵] (۵) ښځه که په جمعه کې شریکه شي، نو د سړیو او ماشومانو نه په روستني صف کې دې ودریږي.[۶]

(۶) په ښځې باندې جُمعه فرض نه ده، خو که د جُمعې په لمانځه کې شریکه شي. نو دهغې جُمعه به ادا شي او د ماسپښین لمونځ به ترې ساقط شي.[۷]

(۷) د ښځو په ذمه د اخترونو لمونځ واجب نه دی.[۸]

(۸) په ښځو باندې په ایام تشریق کې یعنې د فرض لمونځونو نه وروسته تکبیرات تشریق واجب نه دي، خو که یو ښځه په جمعه کې شریکه شوي وي. نو د امام په متابعت کې په هغې باندې هم واجب دي[۹].

...بقیه د تیرمخ]. صفحة الکف من الیسری....الخ. (عالمگیری ج: ۱ ص: ۱۰۴. کتاب الصلاة. الباب السابع ، الفصل الاول)_

۱]ویدرا المار اذا لم یکن بین یدیه سترة او مر بینه وبین السترة بالاشارة او بالتسبیح کذا فی الهدایة. وقالوا هذا فی حق الرجال.....الخ.(عالمگیری ج: ۱ ص: ۱۰۴، الباب السابع ، الفصل الاول)_

۲] لا یجوز اقتداء رجل بامراة هکذا فی الهدایة.(عالمگیری ج: ۱ ص: ۸۵، کتاب الصلاة ، الباب الخامس)_

۳]فان فعلن وقفت الامام وسطهن وبقیامها وسطهن لا تزول الکراهة.....الخ.(هندیة ج: ۱ ص: ۸۵)_

٤] ویکره امامة المرأة للنساء فی الصلوات کلها من الفرائض والنوافل......الخ.(هندیة ج: ۱ ص: ۸۵)_

۵] والفتوی الیوم علی الکراهة فی کل الصلوات لظهور الفساد....الخ.(هندیة ج: ۱ ص: ۸۹)_

٦] یقوم الرجل اقصی ما یلی الامام ثم الصبیان ثم الخنثی ثم لاناث....الخ.(هندیة ج: ۱ ص: ۸۹، کتاب الصلاة، الباب الخامس، الفصل الخامس ، طبع رشیدیه)_

۷] لا تجب الجمعة علی مسافر ولا امراة ولا مریض.....فان حضروا فصلوا مع الناس اجزاهم عن فرض الوقت ....الخ.(هدایة ج: ۱ ص: ۱۶۹، طبع شرکت علمیه ملتان)_

۸] تجب صلوة العیدعلی کل من تجب علیه الجمعة کذا فی الهدایة.(عالمگیری ج: ۱ ص: ۱۵۰،ولا تجب علیها الجمعة)

۹]دا دامام ابوحنیفه رحمه الله قول ده، حضرت شهید رحمه الله هم دا قول اختیارکړی دی، د صاحبینو په نزد د سړیو په شان په ښځو باندې هم تکبیرات تشریق ویل واجب دي اوپه دې مسئله کښې فتوا د صاحبینو په قول ده، لهذا په ښځو باندې هم تکبیرات د تشریق واجب دي،په الجوهرة النیرة کښې دی (قوله: والتکبیر عقیب الصلوة) هذا علی الاطلاق انما هو علی قولهما لان عندهما التکبیر تبع للمکتوبة فیاتی به کل من یصلی المکتوبة، واما عند ابی حنیفة لا تکبیر الا علی الرجال الاحرار المکلفین...... وفی الخجندی: التکبیر انما یؤدی بشرائط خمسة علی قول ابی حنیفة ..[بقیه حاشیه په رلووانه صفحه..

خوبه تيز اوازسره دې تکبير نه وايي خکه دهغې اواز هم عورت دی[١]

(٩) ښځو ته د سهار لمونځ په تياره کې کول مستحب دي او نور ټول لمونځونه په اول وخت کې کړل مستحب دي[٢]

(١٠) ښځو ته په لمانځه کې په اوچت اواز سره د قرات کولو اجازه نشته.لمونځ که جهري وي که سري.هغوی له په هر حال کې پټ قرات کول پکار دي.بلکې د ځينې فقهاء کرامو په نزد دښځې اواز هم عورت دی، له دې وجې که هغه په اوچت اوازسره قرأت کوي. نو دهغې لمونځ به فاسد شي.[٣] (١١) ښځه اذان نه شي کولی[٤]

(١٢) ښځه دې په جومات کې اعتکاف نه کوي.بلکې په خپل کور کې په هغه ځای کې کوم چې د لمانځه له پاره خاص وي.اعتکاف دې وکړي[٥] او که په کور کې يو ځای د لمانځه له پاره خاص نه وي، نو د اعتکاف له پاره دې يو ځای مقرر کړي.[٦]

...بقيه د تيرمخ]..وعلى الرجال دون النساء وان صلين بجماعة الا اذا اقتدين برجل ونوى امامتهن.....وقال ابو يوسف ومحمد التكبير يتبع الفريضة فكل من ادى فريضة فعليه التكبير والفتوى على قولهما....الخ. (الجوهرة النيرة ج:١ ص: ١١٥، باب صلاة العيدين ، طبع حقانيه ملتان، ايضًا: عالمگيری ج: ١ ص: ١٥٢، كتاب الصلاة ، ايضًا: درمختار ج:٢ ص: ١٧٩، كتاب الصلاة). قال فى البحر الرائق: واما عندهما فهو واجب على كل من يصلى المكتوبة لانه تبع لها، فيجب على المسافر والمرأة والقروى. قال فى السراج الوهاج والجوهرة: الفتوى على قولهما فى هذا ايضًا فالحاصل ان الفتوى على قولهما فى آخر وقته وفيمن يجب عليه.(البحر الرائق ج:٢ ص: ١٧٩، باب العيدين، عالمگيری ج: ١ ص: ١٥٢، الدر المختار ج:٢ ص: ١٨٠، طبع ايچ ايم سعيد كراچى)_

١] والمرأة تخافت بالتكبير لان صوتها عورة. (البحر الرائق ج:٢ ص: ١٧٩، باب العيدين)_

٢] والمستحب للرجل الابتداء فى الفجر.....الا لحاج بمزدلفة فالتغليس افضل كمراة مطلقًا، وفى غير الفجر الافضل لها انتظار فراغ الجماعة. قوله مطلقًا اى ولو فى غير مزدلفة لبناء حالهن على الستر وهو فى الظلام اتم.(الدر المختار مع ردالمحتار ج:١ ص: ٣٦٦ مطلب فى طلوع الشمس من مغربها)_

٣] وفى الدر المختار: وصوتها على الراجح.....(قوله على الراجح) عبارة البحر عن الحلية لانه الاشبة. وفى النهر وهو الذى نبغى اعتماده ومقابله ما فى النوال: نغمة المرأة عورة، وتعلمها القرآن من المرأة احب. قال عليه الصلاة والسلام: التسبيح للرجال والتصفيق للنساء فلا يحسن ان يسمعها الرجل. وفى الكافى ولا تلبى جهراً لان صوتها عورة ومشى عليه فى المحيط فى باب الاذان بحر. قال فى الفتح: وعلى هذا لو قيل اذا جهرت بالقراءة فى الصلاة فسدت كان متجها، ولهذا منعها عليه الصلاة والسلام من التسبيح بالصوت لاعلام الامام بسهوه الى التصفيق.(شامى ج:١ ص: ٤٠٦، باب شروط الصلاة، مطلب فى ستر العورة)_

٤] واما اذان المرأة فلانها منهية عن رفع صوتها لانها يؤدى الى الفتنة....الخ.(البحر الرائق ج:١ ص: ٢٧٧). ايضًا كره اذان المرأة فيعاد ندبا.....الخ.(هندية ج:١ ص: ٥٤، كتاب الصلاة ، الباب الثانى ، الفصل الاول)

٥]والمرأة تعتكف فى مسجد بيتها....الخ.(هندية ج:١ ص: ٢١١ الباب السابع فى الاعتكاف، كتاب الصوم)

٦] ولو لم يكن فى بيتها مسجد تجعل موضعا منه مسجداً فتعتكف فيه كذا فى الزاهدى.(هندية ج:١ ص: ٢١١، كتاب الصوم، الباب السابع فى الاعتكاف، طبع رشيديه كوئته)_

❖ په کوم شيانوسره لمونځ فاسديږي؟ ❖

غير اسلامي لباس اغوستلو کې لمونځ کول

سوال: د غير اسلامي زندګي طرز اختيارولو سره زموږ د الله په نزد څه حيثيت پاتې کيږي؟ په داسې صورت کې زموږ لمونځ قبليږي. کله چې موږ غير اسلامي لباس اغوستلو سره لمونځ کوو؟

جواب: د لمانځه د قبوليت دوه مطلبه دي،يو د فرضيت ليرې کېدل او دويم د لمانځه د هغه انوار او برکات نصيب کېدل کوم چې الله پاک په دې کې ايښې دي،کوم سړی چې غير اسلامي لباس اغوستلو سره يا غير شرعي کارونو کولو سره لمونځ کوي،فرض خو به د هغه ادا شي، خو عين د لمانځه په حالت کې هم هغه داسې شکل او وضع جوړه کړې ده کومه چې د الله پاک په نزد ناخوښه او مبغوضه ده. له دې وجې د هغه لمونځ مکروه دی او په هغه باندې به د لمانځه ثمره په پوره طريقې سره مرتب نه وي.[۱]

دلمانځه دوران کې د سړيو دښنګرو نه ښکته پاجامه ، پرتوګ اغوستل

سوال: سړيو له پاره دښنګرو نه ښکته پاجامه يا پرتوګ او د لمانځه په وخت د ښنګرو نه لاندې پاجامه يا پرتوګ شرعاً جائز دي يا حرام؟

جواب: د نبي کريمﷺ ارشاد مبارك دی چې کومه پاجامه د ښنګرو نه ښکته وي، نو دا په دوزخ کې ده، له دې وجې نه پرتوګ يا پاجامه دښنګرو نه ښکته کول حرام او لويه ګناه ده او په لمانځه کې لويه ګناه کول نوره هم ډيره بده خبره ده.[۲]

ايا د ږيره نه ساتونکي لمونځ مکروه دی؟

سوال: ايا دا خبره صحيح ده چې کوم کس ږيره نه ساتي، نو د هغه لمونځ مکروه دی؟

جواب: ږيره خريل حرام دي او د دې حرام کار اثر به په لمانځه کې هم وي،له دې وجې نه که

---

[۱] ثم القبول قسمان احدهما:ان يكون الشيء مستجمعًا للاركان والشرائط ويراد فيه الصحة والاجزاء، والثاني: كون الشيء يترتب عليه من وقوعه عندالله جل ذكره موقع الرضا وترتب عليه الثواب والدرجات وهذه المرتبة بعد الاولى ....الخ.(معارف السنن ج:۱ ص: ۲۹، باب ما جاء لا تقبل صلاة بغير طهور) وايضًا ويكره للمصلى كل ما هو من اخلاق الجبابرة عمومًا لان الصلوة مقام التواضع والتذلل والخشوع وهو ينافى التكبر والتجبر.(كبيرى ص: ۳٤۸)_

[۲] عن ابى هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ما اسفل من الكعبين من الازار فى النار.رواه البخارى.(مشكوة ص: ۳۷۳، كتاب اللباس، طبع قديمى).

لمونځ يې مكروه شي، نو څه ليرې خبره نه ده.[1]

په ناپاكه جاموكې شوى لمونځ دې په دويم ځل وشي

سوال: د لمانځه نه مخكې انسان ته معلومه وي چې زماجامې خرابې دي، خو كه هغه يې د لمانځه دوران كې هير كړي او لمونځ وكړي په لمانځه كې يادېدو سره يا وروسته كه راياد شي، نو ايا د هغه لمونځ وشو؟

جواب: كه په جامه يا بدن باندې دومره نجاست لګيدلى وي كوم چې د لمانځه نه مانع وي. نو لمونځ نه كيږي. كه په هيره يې لمونځ شروع كړ او په لمانځه كې ورته راياد شو. نو فورا دې لمونځ پريږدي او نجاست ليرې كولو نه وروسته دې په دويم ځل لمونځ وكړي او كه د لمانځه نه وروسته ورته راياد شو، نو بيا دې هم په دويم ځل وكړي.[2]

پرانستي ګريوان سره لمونځ كول څنګه دي؟

سوال: د لمونځ كونكو اكثريت په صحيح طريقې باندې لمونځ نه ادا كوي او د لمانځه د ټولو اركانو د ادا كولوپه ځاى د هغه نه د ځان خلاصولوكوشش كوي .كوم چې د لمانځه د اصل روح منافي ده، يو لويه غلطي چې دهغې طرف ته د نن پورې چا هم توجه نه ده كړې هغه داده چې د اكثرو لمونځ كونكو ګريوانونه د ملنګانو په شان پرانستي وي او ښكته كېدو سره په عاجزي سرۀ دريدلو په ځاى سينه ويستلو سره ولاړ وي او ددې په عكس كې كه يو سړى د وخت د بادشاه مخكې پيش شي. نو ايا د هغه عمل به داسې وي؟ بالكل نه.مولانا صاحب!جواب راكړئ چې د بادشاهانو بادشاه د دواړو جهانونو د خالق الله سبحانه و تعالى په مخكې د داسې عمل ښكاره كونكي خپل عملونه ضائع كوي يا په داسې كولو كې څه ګناه نشته؟

جواب: پرانستي ګريوان سره لمونځ كول جائز دي، خو بندول غوره دي اود قيام په حالت كې انسان ته په خپل اصلي وضع كې دريدل پكار دي نه په تكبر سره او نه ښكته كېدو سره.[3]

---

[1] عن عائشة رضى الله عنها قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : عشر من الفطرة : قص الشوارب واعفاء اللحية ....الخ.(صحيح مسلم ج:۱ ص: ۱۲۹). واما الاخذ منها وهى دون ذلک كما يفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال فلم يبحه احد، واخذ كلها فعل يهود الهند ومجوس الاعاجم.(فتاوى شامى ج:۲ ص: ۴۱۸، باب ما يفسد الصوم وما لا يفسده . مطلب فى الاخذ من اللحية، فتح القدير ج:۲ ص: ۷۷، البحر ج:۲ ص: ۲۰۲).

[2] النجاسة نوعان.....والغليظة اذا زادت على قدر الدرهم تمنع جواز الصلاة.(الفتاوى الخانية على هامش الهندية ج:۱ ص: ۱۸، كتاب الطهارة، فصل فى النجاسة التى تصيب الثوب)_

[3] وقوموا لله قنتين(البقرة: ۲۳۸). ايضًا ويكره للمصلى كل ما هو من اخلاق الجبابرة عمومًا لان الصلاة مقام التواضع والتذلل والخشوع وهو ينافى التكبر والتجبر.(حلبى كبيرص: ۳۴۸، طبع سهيل اكيدمى لاهور)

رومالي پرتوګ یا پاجامه کې لمونځ کول

سوال: پرتوګ یا پاجامه چې رومالي وي، نو لمونځ کیږي؟

جواب: کیږي؛ په دې شرط چې پرتوګ یا پاجامه پاکه وي او بدن جوړښت په نظر نه راځي.[1]

د زنځیر والا ګړۍ (ساعت) سره لمونځ کول

سوال: زموږ د محلې په جامع مسجد کې یو صاحب ماته د لمانځه نه مخکې وویل چې د زنځیر والا ګړۍ اچولو سره لمونځ مه کوه ،ځکه چې له دې سره لمونځ نه کیږي.ما د هغه نه وجه وپوښتله، نو ویې ویل چې زنځیر یو قسم دهات دی او هر قسم دهات په سړیو باندې حرام دی.لهذا له دې سره لمونځ نه قبلیږي، تاسو په دې سلسله کې وضاحت وکړئ زه په ډیر شک کې پریوتی یم.

جواب: د هغه صاحب فتوا غلطه ده.د زنځیر ګړۍ جائز ده او په هغه سره په لمانځه کې هیڅ خرابي نه راځي،د سړیو له پاره سره زر او سپین زر حرام دي،خو سړي سپین زرو ګوتمه چې دهغې وزن د درې نیمو ماشو نه زیات نه وي په ګوته کولی شي پاتې دهاتونه سړي له پاره حرام نه دي،خو کالي د سړیو له پاره نه وي د ښځوله پاره وي او د زنځیر ګړۍ په دې کالو کې شامله نه ده.[2]

سره زر اچولو سره لمونځ کول

سوال: یو اهمه مسئله ستاسو په خدمت کې پیش کول غواړم. هغه دا چې د سرو زرو ګوتمه اچولو سره لمونځ کیږي او که نه؟ سره زره د سړي له پاره حرام دي او حرام شي اچولو سره لمونځ د کوم حده پورې صحیح دی؟

جواب: لمونځ د الله پاک په دربار کې حاضري ده، کوم سړی چې عین د حاضریدلو په وخت کې هم د حرام کار کونکی وي او د الله پاک د احکامو ماتولو کې لګیدلی وي پخپله سوچ وکړئ هغه ته به د قرب او رضا دولت حاصل شي.....؟ الغرض سره زر یا یو بل حرام شي سره لمونځ کول صحیح نه دي اګر چې د لمانځه فرض به یې ادا شي.[3]

١] تطهير النجاسة من بدن المصلى.....واجب(وبعد اسطر).....ستر العورة شرط لصحة الصلاة اذا قدر عليه. (عالمگيرى ج: ١ ص: ٥٨، كتاب الطهارة ، الفصل الاول فى الطهارة وستر العورة)۔

٢] ولا يتحلى الرجل بذهب وفضة مطلقًا ولا يتختم الا بالفضة لحصول الاستغناء بها فيحرم بغيرها.(درمختار ج:٦ص:٣٥٨) وفى الشامية قال اتخذه من ورق ولا تتمه مثقالا..الخ.(ج:٦ص:٣٥٩،كتاب الحظر والاباحة)

٣] ويكره للمصلى كل ما هو من اخلاق الجبابرة عمومًا لان الصلاة مقام التواضع والتذلل والخشوع وهو ينافى التكبر والتجبر.(حلبى كبير ص: ٣٤٨، طبع سهيل اكيدمى لاهور)۔

وربښم ، سره زر اغوستل او له ږيرې پرته لمونځ کول

سوال: ما اوریدلي دي چې وریښم او سره زر په سړي باندې حرام دي او که یو سړی له دې سره لمونځ کوي، نو د هغه لمونځ نه قبلیږي دا خبره تر کومه خایه پورې صحیح ده؟ خکه چې ږیره خریل هم حرام دي ایا پرته د ږیرې نه لمونځ قبلیږي؟

جواب: دا ټول کارونه ناجائز او کبیره ګناهونه دي او کوم انسان چې د لمانځه په حالت کې د الله پاک نافرماني کوي،د هغه له پاره ظاهره ده چې د لمانځه پوره ثواب به ورته نه ورکول کیږي خصوصا چې هغه په دې نافرماني پښیمانه هم نه وي[۱] لمونځ خو به یې وشي. خو د سړي له پاره سره زر او وریښم اغوستل حرام دي[۲]او د ښځوله پاره وریښم او سره زر حرام نه دي،

د سروزرو غاښونو لګولو سره لمونځ کول

سوال: که یو سړي د سرو زرو غاښ لګولی وي، نو ایا له دې سره لمونځ کیږي؟ ایا د سرو زرو غاښ لګول جائز دي؟

جواب: د سرو زرو غاښ لګول جائز دي.لمونځ ورسره کیږي [۳]

سرتور سر جومات ته راتلل

سوال: عموما په ښارونو کې اکثر لمونځ کونکي جومات ته راځي د هغوی په سر باندې جامه نه وي، هلته د جومات والا سرتور سر حضراتو له پاره د خولې انتظام کوي،ډیر خله د خولې اوچتولو له پاره لمونځ کونکي د لمانځه والا مخې ته تیریږي. اوس پوښتنه دا ده چې د کور نه سر تور راتلل او د جومات والا د خولیوانتظام کول شرعا صحیح دي اوکه نه؟ او د ټوپیو ایښودونکي دا د خیر کار ګڼي

جواب: سرتور سر په بازارونو کې ګرځیدل د مروت او اسلامي وقار خلاف دي او فقهاء کرامو لیکلي دي چې د داسې انسان شهادت په شرعي عدالت کې معتبر نه دي،له دې وجې مسلمان ته سرتور سر کېدل نه دي پکار[۴] په جوماتونو کې چې کومې ټوپۍ کیښودل شوي دي که هغه صفا ستره او ښکلې وي، نو دهغه په سر کولو سره لمونځ کول صحیح دي اوکه هغه شلیدلې خیرنې ټوپۍ چې دهغې په سرکولو سره انسان کارتېن په نظر راځي دهغې سره لمونځ کول

۱] ایضاً تیره شوی حاشیه(ویکره للمصلی کل ما هو من اخلاق الجبابرة...الخ)۔

۲](قوله وکره الخ) لان النص حرم الذهب والحریرعلی ذکورالامة بلا قیدالبلوغ..الخ(شامی ج:٦ص:٣٦٢)

۳] اذا جدع انفه او اذنه اوسقط سنه فاراد ان یتخذسناآخر،فعندالامام یتخذ ذلک من الفضة فقط، وعند محمد من الذهب ایض.(ردالمحتارج:۵ص:۳۱۸،کتاب الحظروالاباحة ،فصل فی اللبس).

۴] ولاتقبل شهادة من یسمع الغناء...وکذا کل ما یخل بالمروءة....الخ.(درمختار مع الشامی ج:۵ ص:۴۸۲)

مکروه دي[۱] او د لمونځ کونکو مخې ته تیریدل ګناه ده.[۲]

د جامې نه شتون په صورت کې سرتور سر لمونځ کول

سوال: که په یو جومات کې ټوپۍ یا په سر باندې د اچولو له پاره جامه پیدانه شي. نو ایا هغه سرتور سر لمونځ کولی شي؟

جواب: دلته درې مسئلې دي:

۱: نن سبا په خلکو کې د سرتور سر او په همدې حالت کې بازارونو کې د ګرځیدلو رواج دی او د غیرت خلاف ده مسلمانانو ته په بازارونو کې سرتور سر ګرځیدل نه دي پکار

۲: عام طور باندې خلکو سره د سر د پټولو له پاره څه شی نه وي. له دې وجې په جومات کې د ټوپیو کیښودلو رواج دی چې خلک د لمانځه په وخت کې هغه په سر کوي په دې کې اکثر بدشکله خیرنې او زړې وي په داسې ټوپیو کې لمونځ کول مکروه دي.ځکه چې ددې په اغوستلو سره انسان د عزت مندو محفل ته نشي تللی. د احکم الحاکمین په دربار کې دهغې په سرکولو سره حاضري کول د ادب خلاف ده.[۳]

۳: په سرتور سر لمونځ کول مکروه دي.[۴]

په څنګه ټوپۍ کې لمونځ کول پکار دي؟

سوال: په څنګه ټوپۍ کې لمونځ کول پکار دي؟

جواب: د کومې ټوپۍ په سر کولو سره چې انسان د شریفانو محفل ته تللی شي په هغې سره لمونځ کول او ورکول جائز دي[۵].

د څرمنې په قراقلي ټوپۍ کې لمونځ کول جائز دي

سوال: د څرمنې په ټوپۍ (قراقلي) په سر کول څنګه دي؟ ځینې حضرات وایي چې په دې کې لمونځ نه کیږي؟

۱] وکذلك يكره ان يصلى فى ثياب البزلة وهو مالا يصان ولا يحفظ من الدنس ونحوه او فى ثياب المهنة.......... وهى الخدمة.........الخ. (حلبى كبير ص: ۳۴۹، طبع سهيل اكيدمى لاهور)

۲] قال ابوجهم: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لو يعلم المار بين يدى المصلى ما ذا عليه لكان ان يقف اربعين خيرا له من ان يمر بين يديه..الخ.(بخارى ج:۱ص:۷۳،طبع نورمحمد كراچى،مسلم ج:۱ص:۱۹۷،طبع قديمى)

۳] وكذا يكره ان يصلى فى ثياب البذلة.....او فى ثياب المهنة......وهى الخدمة والعمل تكميلاً لرعاية الادب فى الوقوف بين يديه تعالى بما امكن من تجميل الظاهر والباطن فى قوله تعالى: خذوا زينتكم عند كل مسجد اشارة الى ذالك.(حلبى كبيرص:۳۴۹، طبع سهيل اكيدمى لاهور، عالمگيرى ج: ۱ ص: ۱۰۶،طبع رشيديه)

٤] ويكره ان يصلى حاسراً اى حال كونه كاشفا راسه تكاسلاً اى لاجل الكسل..الخ.(حلبى كبيرص:۳۴۹)

۵] ايضا تيره شوى حاشيه (وكذا يكرّه ان يصلى فى ثياب البذلة....الخ)

جواب: قراقلي ټوپۍ په سر کول مباح دي او په دې کې لمونځ کول جائز دي

د جرابو اغوستلو سره لمونځ کیږي

سوال: که پایڅې پورته وي او جرابې واچوي، نوایا لمونځ کیږي؟ ځکه په جرابو اغوستلو سره ښنګري پټیږي؟

جواب: په دې کې هیڅ باک نشته [1]

چشمو سره که په سجده کې خلل نه راځي لمونځ صحیح دی

سوال: چشمې اچولو سره لمونځ کول یا ورکول څنګه دي؟ ایا دا جائز دي او که ناجائز؟ یو مشر وایي چې چشمو سره لمونځ کول نه دي پکار ځکه چې هغه مفتي کفایت الله رحمه الله او مولانا کرامت الله رحمه الله اولیدل چې هغوی به د چشمو ویستلو سره لمونځ کولو. خو د نورو خلکو خیال ددې په خلاف دی.

جواب: که د نظر چشمې وي چې د هغه نه پرته ځمکه وغیره ښه په نظر نه راځي، نو د چشمو لیرې کولو نه پرته که لمونځ وکړي، نو غوره ده او که د چشمې لیرې کولو سره د سجدې ځای په لیدو کې څه تکلیف نه وي یا د نظر چشمې نه دي، نو لیرې کول یې غوره دي.خو د چشمې اچولو سره هم لمونځ ادا کیږي.له دې سره په لمانځه کې خلل نه واقع کیږي.خو د چشمې لګولو سره که سجده په صحیح طریقې سره نه ادا کیږي، پوزه یا تندی په ځمکه نه لګیږي. نو چشمې لیرې کول ضروري دي، په هرحال که د چشمو سره په سجده وغیره کې خلل نه وي. نو لمونځ صحیح دی. خو که د سجدې ځای وغیره پرته د چشمې نه په نظر راځي. نو په دې صورت کې د چشمو لیرې کول غوره او افضل دي.[2]

په نوټ باندې تصویر ناجائز دی اګر که په جیب کې کیښودو سره یې لمونځ جائز دی

سوال: جومات د الله پاک کور دی. په دې کې د یوانسان د تصویر سوال نه پیدا کیږي سره له دې چې د مسلمانانو ورونو په جیبونو کې په نوټونو باندې تصویرونه وي او هغوی لمونځونه کوي په نوټونو باندې تصویر چاپ کول ولې ضروري دي؟ عوام خو د قائداعظم احترام کوي

---

[1] عن المغیرة بن شعبة قال: رایت النبی صلی الله علیه وسلم یمسح علی الخفین علی ظاهرهما. رواه الترمذی وابوداود عنه قال: توضا النبی صلی الله علیه وسلم ومسح علی الجوربین والنعلین . رواه احمد والترمذی وابوداود وابن ماجة.(مشکوة ص: ٥٤)_

[2] ولو سجد علی الحشیش.....ان استقر جبهته وانفه ویجد حجمه یجوز وان لم یستقر لا.....الخ.(خلاصة الفتاوی ج:١ ص: ٥٤، کتاب الصلاة ، طبع رشیدیه کوئته)_

که د هغوی تصویر په نوټ باندې نه وي، نو څه فرق پریوځي؟ ایا داسې په جیب کې تصویر کیښودو سره لمونځ کیږي؟ اوکه نه کیږي، نو ددې له پاره اسلام څه فرمایلي دي او موږ ته څه کول پکار دي؟

جواب: په نوټونو باندې د تصویر چاپ کول شرعي طور سزه ناجائزدي[۱]،دا د نوي دور ناروا بدعت دی او ددې په وجه تعلق لرونکي محکمه او د اقتدار صاحبان ګناه ګار دي او د نوټونو په جیب کې د کیښودو سره لمونځ صحیح دی.[۲]

په جومات کې د لګېدلې شیشې مخې ته لمونځ کول

سوال: زموږ په جومات کې،بلکې په ډیرو جوماتونو کې د شیشې کړکۍ او دروازې وي چې په هغو کې لمونځ کونکي ته خپل عکس په نظر راځي، تاسو نه پوښتنه داده چې په دې سره د لمونځ کونکي په لمونځ کې څه فرق راځي اوکه نه؟

جواب: که په دې سره د لمونځ کونکي توجه خرابیږي، نو مکروه دي که نه، نه دي.[۳]

په یو لیکل شوي شي باندې نظر پریوتو سره یا اواز اوریدو سره لمونځ نه ماتیږي

سوال: ایا د لمانځه په حالت کې که په جاې نماز باندې کیښودل شوی یو شی ولوستل شي، نو لمونځ ماتیږي؟ دا بیان کړئ چې په لمانځه کې د چا اواز واوریدل شي او د لمانځه په حالت کې د هغه اواز مطلب باندې هم پوه شي، نو ایا لمونځ ماتیږي؟

جواب: که یو لیکل شوی شي باندې نظر پریوځي یا انسان د هغه لیک په مفهوم باندې پوه شي، خو په ژبې سره یې تلفظ ادا نه کړي، نو په دې لمونځ نه ماتیږي[۴].همدغه شان د چا اواز په غوږونو کې پریوتو سره او د هغه په مطلب باندې پوهیدلو سره هم لمونځ نه ماتیږي.

د لمانځه دوران کې په ګړۍ کې وخت کتل، چشمې ویستل او خاورې ته پوکی ورکول

سوال: ۱ .... که یوانسان دلمانځه په دوران کې دلاس یا دیوال ګړۍ قصدا دوخت دمعلوملو

---

۱ [وظاهر كلام النووى فى شرح مسلم الاجماع على تحريم صورة الحيوان وقال: وسواء صنعه لما يمتهن او لغيره، فصنعته حرام بكل حال.(شامى ج:۱ ص: ٦٤٧، مطلب اذا ترد الحكم بين سنة وبدعة)۔

۲] (قوله لا المستتر بكيس او صرة) بان صلى ومعه صرة او كيس فيه دنانير او دراهم فيها صور صغار فلا تكره لاستارها بحر.(شامى ج:۱ ص: ٦٤٨). (وايضًا) ويكره التصاوير على الثوب.....اما اذا كانت فى يده وهو يصلى لا باس به لانه مستور بثيابه.....الخ.(خلاصة الفتاوى ص: ٥٨، كتاب الصلاة ، طبع رشيديه)۔

۳] فصل من آدابها....ومنها نظر المصلى سواء كان رجلاً او امراة الى موضع سجوده قائمًا حفظًا له عن النظر الى ما يشغله عن الخشوع .(مراقى الفلاح على هامش الطحطاوى ص: ۱۵۱، طبع مير محمد كتب خانه)

٤] لو نظر المصلى الى مكتوب وفهمه......ولم تفسد صلاته لعدم النطق بالكلام.....الخ.(مراقى الفلاح على هامش الطحطاوى ، فصل فيما لا يفسد الصلاة ص: ۱۸۷)۔

له پاره وکوري. ۲ د لمانځه په دوران کې ټوپۍ په سر باندې کيږدي چې د سجدې کولو په وخت يې ټوپۍ د سر نه غورځيدلې وي.۳ د سجدې کولو په وخت د سجدې ځای نه پوکې ورکولو سره خاوره اوچتولو نه وروسته سجده کول ۴... چشمې ليرې کول ترې هير شو. د سجدې کولو په وخت چشمې وباسي، ځکه چې د چشمې اچولو سره پوزه او تندی په يو وخت کې نه لګيږي

پوښتنه دا کول دي چې په دې خبرو سره په لمانځه کې څه فرق راځي. ايا لمونځ به په دويم ځل کيږي، يا به سجده سهوه کوي؟

جواب: په قصد باندې ګړی کتل مکروه دي او د خشوع منافي ده.[1]

۲..په يو لاس باندې ټوپۍ اوچتول او په سر باندې کيښودلو کې هيڅ باک نشته دواړه لاسونه دې نه استعمالوي[2] ۳... دا کار مکروه دی[3] ۴. که په يو لاس يې وباسي. نو دا مکروه نه دي په دې څلورو واړو صورتونو کې د لمونځ راګرځولو ضرورت نشته. نه د سجده سهوې کولو[4]

د لمانځه په حالت کې ساعت کې وخت کتل

سوال: لمانځه کې ګړی (ساعت) کې وخت کتل څنګه دي؟(قصداً او سهواً)؟

جواب: قصداً داسې کول مکروه دي، که د ارادې نه پرته وشي. نو څه حرج نشته [5]

لمانځه کې قرآن کتلو سره تلاوت کول

سوال: ايا په لمانځه کې قرآن کتلو سره تلاوت کيدای شي؟ ځکه چې زما حافظه ډيره کمزورې ده او ما په يو کتاب کې لوستلي دي چې د جمعرات او جمعة المبارك شپه کې څلور رکعته

۱] فالاصل فيه انه ينبغي للمصلى ان يخشع فى صلاته....الخ.(البدائع الصنائع ص: ۲۱۵)، ايضًا لو نظر المصلى الى مكتوب وفهمه سواء كان قرآنا او غيره قصد الاستفهام او لا اساء الادب ولم تفسد صلاته لعدم النطق بالكلام (قصد الاستفهام) بهذا علم ان ترك الخشوع لا يخل بالصحة بل بالكمال.....(اساء الادب) لان فيه اشتغالاً عن الصلاة وظاهره ان الكراهة تنزيهية وهذا انما يكون بالقصد.(حاشية الطحطاوى مع المراقى الفلاح ص: ۱۸۷، فصل فيما لا يفسد الصلاة، طبع مير محمد كتب خانه)۔

۲] لو سقطت قلنسوته فاعادها افضل الا اذا حتاجت لتكوير او عمل كثير.(شامى ج:۱ ص: ۶۴۱). وفيه ان القول الثانى ان ما يعمل عادة باليدين كثير.(ص: ۶۲۵). ايضًا ان رفع القلنسوة.....بعمل قليل اذ سقطت افضل من الصلاة مع كشف الراس.....الخ.(حلبى كبير ص: ۴۴۳، طبع سهيل اكيدمى لاهور)۔

۳] ان الله كره لكم ثلاثًا.....الخ.(شامى ج:۱ ص: ۶۴۰، مطلب فى الكراهة التحريمية والتنزيهية)۔

۴] ......بهذا علم ان ترك الخشوع لا يخل بالصحة بل بالكمال.....الخ.(حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح ، باب فيما لا يفسد الصلاة ص: ۱۸۷، طبع مير محمد كتب خانه)۔

۵]اعلم ان الفعل......فان كان اجنبيا من الصلاة ليس فيه تتميم لها ولا فيه دفع ضرر فهو مكروه ايضًا.(حلبى كبير ص: ۳۴۵، طبع سهيل اكيدمى لاهور).

داسې ادا کړي چې په اولني رکعت کې فاتحه او سورت یسین او په دویم رکعت کې سورت فاتحه او سورت دخان، دریم رکعت کې سورت فاتحه او سورت الم سجده، څلورم رکعت کې سورت فاتحه او سورت ملك ولولي او دا عمل درې یا اوو جمعو پورې برابر وکړي، نو حافظه به تیزه شي که لمانځه کې قرآن کتلو سره تلاوت نه شي کېدای، نو ماته داسې څه عمل وښیئ چې په هغې سره زما حافظه تیزه شي.

جواب: دقرآن حفظ کولوله پاره خوداعمل صحیح دی، خو لمانځه کې قرآن کتلوسره لوستل صحیح نه دي، له دې سره لمونځ نه کیږي[1] تاسو محنت وکړئ دا سورتونه یاد کړئ بیا دا لمونځ وکړئ.

په عمل کثیر سره لمونځ ماتیږي

سوال: زموږ یو ملګري په لمانځه کې په مختلف اندازونو کې خپلو اندامونو ته حرکت ورکوي مثلاً کله د سر په ویښتو باندې لاس راکاږي، جیب ته لاس دننه کوي، په ګوته کې ګوتمه خوځوي، یو خوا بل خوا ګوري، غرض دا چې داسې معلومیږي چې دی د لمانځه په حالت کې نه دی، د لمانځه په حالت کې په داسې حرکاتو باندې لمونځ فاسدیږي (بغیرد عذر نه) ما چې کله دا خبره هغه ته بیان کړه، نو هغه د لمونځ فاسد کېدل بالکل ونه منل، بلکې د ناراضتیا اظهار یې وکړ، د هغه څه اثر نه اخیستلو زه په شک کې واچولم.

جواب: د حنفي مذهب فتوا ده چې په عمل کثیر سره لمونځ فاسدیږي[2] او داسې عمل ته عمل کثیر وایي چې د هغه په لېدو سره لیدونکي دا ګڼي چې دا سړی په لمانځه کې نه دی[3]، د کوم کارله پاره چې د دواړو لاسونو استعمال وشي هغه هم عمل کثیر دی[4] او که په یو لاس سره په یو رکن کې بار بار یو عمل وکړل شي، نو هغه هم عمل کثیر جوړیږي[5] تاسو چې د خپل ملګري کوم حالت لیکلی دی، هغه د عمل کثیر د لاندې راځي او په دې سره لمونځ ماتیږي او د هغه دا مسئله نه منل د هغه ناخبري ده.

1]ویفسدها......قراءته من مصحف ای ما فیه قرآن مطلقًا لانه تعلم قوله لانه تعلم ذکروا لابی حنیفة فی علة الفساد وجهین، احدهما: ان حمل المصحف والنظر فیه وتقلیب الاوراق عمل کثیر، والثانی انه تلقن من المصحف فصار کما اذا تلقن من غیره.(شامی ج:۱ ص: ٦٢٤، باب ما یفسد الصلاة وما یکره فیها، طبع ایچ ایم سعید کراچی).

۲]ویفسدها کل عمل کثیر لیس من اعمالها ولا لاصلاحها......الخ.(درمختار مع الشامی ج:۱ ص: ٦٢٤)۔

۳](والثالث) انه لو نظر الیه ناظر من بعید ان کان لا یشک انه فی غیر الصلاة فهو کثیر مفسد، وان شک فلیس بمفسد....الخ.(الفتاوی الهندیة ج:۱ ص: ۱۰۳، کتاب الصلاة ، الباب السابع)۔

٤](الاول) ان ما یقام بالیدین عادة کثیر.....الخ.(هندیة ج:۱ ص: ۱۰۳، کتاب الصلاة ، الباب السابع)۔

۵]وما عمل بواحد قلیل.....الا اذا تکرر ثلاثًا متوالیة....الخ.(شامی ج:۱ ص: ٦٢٥، طبع ایچ ایم سعید)۔

لمانځه کې بدن ته په مختلفو ډولونو سره حرکت ورکول صحيح نه دي

سوال: ځيني حضرات لمونځ کولو سره د هغه د بنيادي روح او د هغه وضع قطع بدله کړي. يعنې دومره په بيړه سره يې وکړي چې داسې ښکاري چې په هغه څه بيړه ده. يو صاحب د رکوع نه وروسته پوره نه دريږي او فورا سجدې ته لاړشي. د تکبير له پاره لاس اوچتولو نه وروسته د لاسونو راوستلو په وخت لاسونو ته په مختلفو اندازونو سره حرکت ورکوي او سجدې ته د تللو نه مخکې د څه وخته پورې په پوندو ناست وي، غرض دا چې د هغه لمونځ بالکل مختلف او عجيبه تاثر کوي کله چې هغه ته ووېل شي، نو د قرآن او حديث نه ثبوت غواړي. داسې خلکو ته څه جواب ورکړل شي؟ او د هغوی لمونځ څنګه دی؟

جواب: د داسې حضراتو لمونځ په ځينو صورتونو کې خو کيږي هم نه او په ځينو صورتونو کې مکروه کيږي. د رکوع نه وروسته نيغ نه دريدل او د دواړه سجدو مينځ کې په اطمينان سره نه کيناستل د واجب ترک کول دي[۱] او د داسې لمونځ په دويم ځل راګرځول واجب دي[۲] او لاسونو ته غير ضروري حرکت ورکول او سجدې ته تللو سره په مينځ کې غير ضروري ايساريدل مکروه دي.[۳]

په لمانځه کې په بريتو باندې لاس راښکل عبث کار دی

سوال: زموږ په علاقه کې زيات تر پوليس والا دي او عام طور سره کتنل شوي دي چې کله هم هغوی د جمعې سره لمونځ کوي، نو زياتره په بريتو باندې لاس راکاږي، اوس دا بيان کړئ چې په لمانځه کې په بريتو باندې لاس وهلو سره لمونځ پوره کيږي او که نه؟

جواب: په بريتو باندې لاس راښکل عبث کار دی، په دې سره لمونځ مکروه کيږي.[۴]

په لمانځه کې جامې راغونډول او بدن سره لوبې کول مکروه دي

سوال: زه اکثر ګورم چې ځيني لمونځ کونکي د لمونځ کولو په وخت د خپلو جامو ګونجې هواروي ايا داسې کول صحيح دي؟

جواب: په لمانځه کې د خپلو جامو يا بدن سره لوبې کول مکروه دي.[۵]

۱] (قوله وكذا فى الرفع منهما) اى يجب التعديل ايضًا فى القومة من الركوع والجلسة بين السجدتين ....الخ.(شامي ج:١ ص: ٤٦٤، وايضًا حلبي كبير ص: ٢٩٥)۔

۲] (وان كان تركه) الواجب (عمداً اثم ووجب) عليه (اعادة الصلاة) تغليظًا له.(مراقى الفلاح شرح نور الايضاح على هامش الطحطاوى ص: ٢٥١ باب سجود السهو) ، قال فى التجنيس: كل صلاة اديت مع الكراهة فانها تعاد لا على وجه الكراهة.(مراقى الفلاح على هامش الطحطاوى ص: ١٨٩)۔

۳] يكره للمصلى ان يعبث بثوبه او لحيته او جسده...الخ.(هندية ص: ١٠٥، كتاب الصلاة، الباب السابع)

۴] ويكره ان يعبث بثوبه ا وبشيء من جسده....الخ.(حلبي كبير ص: ٣٤٩، طبع سهيل اكيدمي لاهور)۔

۵] وكره.....عبثه به اى بثوبه وبجسده للنهى الا لحاجة (قوله وعبثه) ..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

که رکوع ته د تللو په وخت تکبیر هیر شي نو هم لمونځ کیږي

سوال: که یو سړی په لمانځه کې د قیام نه رکوع ته تللو سره "الله اکبر"ویل هیر کړي یا اکثر هیروي. د هغه له پاره څه حکم دي؟

جواب: په لمانځه کې تکبیر تحریمه فرض ده[۱]. له دې نه پرته پاتې ټول تکبیرونه سنت دي[۲]. له دې وجې یې که رکوع ته د تللو په وخت تکبیر هیر کړي. نو لمونځ وشو او سجده سهوه هم لازمه نه ده[۳]

په رکوع کې د سجدې تسبیح ویلو سره لمونځ نه ماتیږي

سوال: د لمونځ کولو په وخت کې څه غلطي وشي مثلا په رکوع کې د سبحان ربي العظیم په ځای سبحان ربی الاعلی یا په سجده کې د سبحان ربي الاعلی په ځای بسم الله الرحمن الرحيم یا بل څه لفظ د خولې نه ووځي. نو ایا لمونځ کیږي؟

جواب: که په سجده کې یې سبحان ربي العظیم یا په رکوع کې یې سبحان ربي الاعلی وویل، نو په دې سره په لمانځه کې هیڅ خلل نه راځي لمونځ صحیح دی.[۴]

په لمانځه کې د مجبورۍ له وجې په ځمکه باندې تکیه لګولو سره پاڅیدو کې هیڅ باک نشته

سوال: زما عمر دې وخت کې څلویښتو کلنو ته نژدې دی، وجود مې دروند دی، زه په لمانځه کې پورته کېدو کیناستو سره په ځمکه باندې د موټي په شکل کې تکیه لګوم په دې سره لمانځه کې څه خلل خو نه راځي؟

جواب: ستاسو په ځمکه باندې داسې پورته کېدل د مجبورۍ له وجې دي په دې کې هیڅ باک

...بقیه د تیرمخ]..هو فعل لغرض غير صحيح ....(قوله للهى) وهو ما اخرجه القضاعي عنه صلى الله عليه وسلم ان الله كره لكم ثلاثا، العبث فى الصلاة.......وهى كراهة تحريم....الخ.(درمختار مع الشامى ج:۱ ص: ٦٤٠، مطلب فى الكراهة التحريمية والتنزيهية)_

۱] وهي اى الفرائض الست المتفق عليها تكبيرة الافتتاح.....الخ.(حلبى كبير ص: ٢٥٦). فرائض نفس الصلاة ستة: الاول: التحريمة قائمًا، لقوله عليه السلام : مفتاح الصلاة الطهور وتحريمها التكبير.(اللباب فى شرح الكتاب ج:۱ ص: ۷۹، باب صفة الصلاة ، طبع قديمى كتب خانه)_

۲](وسننها)...وتكبير الركوع وكذا الرفع منه بحيث يستوى قائمًا...الخ.(درمختارمع الشامى ج:۱ص: ٤٧٦)

۳] ترک السنة لا يوجب فسادا ولا سهوا...الخ.(درمختار مع الشامى ج:۱ ص: ٤٧٤، باب شروط الصلاة)

٤] السنة فى تسبيح الركوع سبحان ربي العظيم ،الا ان كان لا يحسن الظاء فيبدل به الكريم لئلا يجرى على لسانه العزيم فتفسد به الصلوة.(شامى ج:۱ ص: ٤٩٤، باب شروط الصلاة ، طبع ايچ ايم سعيد كراچى)_

نشته .له ضرورت پرته داسې نه دي کول پکار [۱]

ایا په لمانځه کې د ښې پښې غټه ګوته کلکه ساتل ضروري دي؟

سوال: ایا په لمانځه کې د ښې پښې غټه ګوته دومره مضبوطیا سره درول پکار دي چې که اوبه د پښوسره تیریږي، نود ګوتې ځای وچ وي؟

جواب: دا هیڅ مسئله نه ده

په سجده کې قدم په ځمکه باندې لګول

سوال: مادلمانځه په حالت کې خلک لیدلي دي چې هغوی خپله ښی پښه د ځمکې نه اوچته کړي او ما د جومات د امام صاحب نه دا مسئله معلومه کړه. نو هغوی وویل چې د لمونځ کولو په وخت کې د سجدې کولو په وخت کې پښه پوره طریقې سره اوچتولو سره لمونځ ماتیږي، ما د خلکو لمونځ دفساد نه د بچ کولو له پاره ستاسو نه دا مسئله پوښتلې ده؟

جواب: د سجدې په حالت کې د دواړو پښو ګوتې قبلې طرف ته متوجه کول سنت دي[۲] او دواړه پښې په ځمکه لګول واجب دي[۳] اوپرته د عذر نه د یو پښې اوچتول مکروه تحریمي دي او په دواړو پښو کې د یوې پښې څه برخه په ځمکه باندې لګول فرض دي اګر که یو ګوته ولګول شي فرض به ادا شي[۴] او که دواړه پښې یې د ځمکې نه اوچتې کړې او د درې ځله

۱] فاذا فرغ من السجدة الثانية ينهض قائمًا على صدر قدميه ولا يقعد ولا يعتمد بيديه على الارض عند النهوض الا من عذر....الخ.(حلبی کبیر ص: ۳۲۳، طبع سهیل اکیدمی لاهور)۔

۲] (قوله ووجه اصابع رجليه نحو القبلة) لحديث ابي حميد فى صحيح البخارى انه عليه الصلاة والسلام كان اذا سجد وضع يديه......واستقبل باطراف اصابع رجليه القبلة، ونص صاحب الهداية فى التجنيس على انه ان لم يوجه الاصابع نحوها فانه مكروه.(البحر الرائق ج:۱ ص: ۳۳۹، كتاب الصلاة ، باب صفة الصلاة ، ايضا: منحة الخالق على هامش البحر الرائق ج:۱ ص: ۳۳۶ طبع دار المعرفة، بيروت)۔

۳]وقال: فى الحلية: وَالْأَوْجَهُ عَلَى مِنْوَال مَا سَبَقَ هُوَ الْوُجُوبُ لِمَا سَبَقَ مِنْ الْحَدِيث ا هـ أَيْ عَلَى مِنْوَال مَا حَقَّقَهُ شَيْخُهُ مِنْ الِاسْتِدْلَال عَلَى وُجُوب وَضْع الْيَدَيْنِ وَالرُّكْبَتَيْنِ ، وَتَقَدَّمَ أَنَّهُ أَعْدَلُ الْأَقْوَال فَكَذَا هُنَا ، فَيَكُونُ وَضْعُ الْقَدَمَيْنِ كَذَلِكَ وَاخْتَارَهُ أَيْضًا فِي الْبَحْرِ وَالشُّرُنْبُلَالِيَّة(ردالمحتار على الدرالمختار ج: ۱،ص:۴۹۹،باب صفة الصلوة،مطلب فى اطالة الركوع للجائى،ايضاً: البحرالرائق ج: ج:۱،ص:۳۳۶،باب صفة الصلوة،طبع دارالمعرفة،بيروت)۔

۴] إذَا رَفَعَ قَدَمَيْهِ فِي السُّجُود فَإِنَّهُ لَا يَصِحُّ ؛ لِأَنَّ السُّجُودَ مَعَ رَفْعِهِمَا بِالتَّلَاعُب أَشْبَهُ مِنْهُ بِالتَّعْظِيمِ وَالْإِجْلَال ، وَيَكْفِيه وَضْعُ أُصْبُعٍ وَاحِدَة فَلَوْ لَمْ يَضَعْ الْأَصَابِعَ أَصْلًا وَوَضَعَ ظَهْرَ الْقَدَم فَإِنَّهُ لَا يَجُوزُ ؛ لِأَنَّ وَضْعَ الْقَدَم بِوَضْعِ الْأُصْبُعِ وَإِذَا وَضَعَ قَدَمًا وَرَفَعَ آخَرَ جَازَ مَعَ الْكَرَاهَة مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ كَمَا أَفَادَهُ قَاضِي خَانْ....الخ (البحرالرائق ج: ۱،ص:۳۳۶،كتاب الصلوة،طبع بيروت)ايضاً: ولو سجد ولم يضع قدميه على الارض لايجوز،ولو وضع احدهما جاز مع الكراهة ان كان بغيرعذر....ووضع القدم بوضع اصابعه وان وضع اصبعاً واحداً....الخ (فتاوى عالمگيريه ج:۱ص:۷۰،وايضاً حلبى كبيرص:۲۸۵)وفى الدر المختار..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

سبحان الله ویلو په مقدار یې اوچتې وساتلې، نو لمونځ به فاسد شي. د ګوتې د ځمکې سره د لګیدو شرط دادی چې یوازې نوک دې د ځمکې سره نه لګیږي. بلکې د ګوتې د سر غوښه هم د ځمکې سره ولګیږي. یعنې ګوته په ځمکه باندې کږه شي[۱]

په لمانځه کې ارږمی کول مکروه دي

سوال: ځینې حضرات په لمانځه کې غټې غټې ارږمي کوي چې په هغه سره نژدې خلکو ته ډیر کراهیت محسوسیږي د لمانځه دوران کې ارږمي کول شرعا څنګه دي؟

جواب: په لمانځه کې ارږمي کول مکروه دي. ددې د بندولو کوشش دې وشي او څو پورې چې ممکن وي اواز دې ښکته وساتل شي[۲]

په لمانځه کې خوږشی حلق ته تلو سره لمونځ ماتیږي

سوال: که د اودس نه وروسته یې څه خوږ شی وخوړ. بیا یې لمونځ وکړاو د لمانځه دوران کې په خوله کې هم خوږوالی محسوسیږي او دهغه د خوږ والي مزه پاتې ده او د لاړو سره حلق ته ځي، نو ایا لمونځ صحیح دی او که نه؟

جواب: که یوازې ذائقه باقي وي، نو لمونځ کیږي او که هغه خوږ شی په خوله کې باقي وي او حل کېدو سره حلق ته لاړ شي، نو لمونځ به فاسد شي[۳]

ایا په لمانځه کې منصوبې جوړول جائز دي؟

سوال: یو صاحب راته وویل چې په لمانځه کې د دنیاوي خبرو په باره کې سوچ کول او د یو کار له پاره منصوبې جوړول جائز او صحیح دي او مثال یې ورکړ چې ابوبکر صدیق رضی الله عنه او

...بقیه د تیرمخ]. (ومنها السجود) بجبهته وقدمیه، ووضع اصبع واحدة منهما شرط وفی الشامیة وافاد انه لولم یضع شیئامن القدمین لم یصح السجود...الخ (شامی ج:۱،ص:٤٤٧،بحث الرکوع والسجود)

۱] ویکره السعال والتنحنح قصداً وان کان مدفوعاً الیه لایکره کذا فی الزاهدی(هندیة ج:۱،ص:۱۰۷)ایضاً ومن الادب دفع السعال ما استطاع تحرزاً عن المفسد فانه اذا کان بغیر عذریفسد،وکذالجشاء(مراقی الفلاح مع الطحطاوی ص:۱۵۱،فصل من آدابها ای الصلوة،طبع میرمحمدکتبخانه)۔

۲] وآدابها.....کظم فمه عندالتثاؤب (عالمگیری ج:۱،ص:۷۳) ومن الادب کظم فمه عندالتثاؤب فان لم یقدر غطاه بیده او کمه لقوله صلی الله علیه وسلم التثاؤب فی الصلوة من الشیطان فاذا تثاوب احدکم فلیکظم مااستطاع(کظم فمه عندالتثاؤب) ای امساکه وسده ولو یاخذ شفتیه بسنه.....الخ (حاشیة طحطاوی مع المراقی ص:۱۵۱،فصل من آدابها،طبع میرمحمدکتب خانه)۔

۳] ولو اکل شیئاً من الحلاوة ابتلع عینها فدخل فی الصلوة فوجد حلاوتها فی فیه فابتلعها لا تفسد صلاته،ولو ادخل الفانیذ اوالسکر فی فیه ولم یمضغه لکن یصلی والحلاوة تصل الی جوفه تفسد صلوته کذا فی الخلاصة(الهندیة ج:۱،ص:۱۰۲،کتاب الصلوة،الباب السابع،ایضا ج:۱،ص:۶۵۱)۔

عمر رضی اللہ عنہ وغیره به په لمانځه کې د جنګ له پاره منصوبې جوړولې اوس زما په زړه کې دا خبره راځي چې موږ یقین ساتو چې په لمانځه کې څه دنیاوي خیال راشي. نو لمونځ نه ماتیږي. ستاسو څه رایه ده؟

جواب: ددې صاحب دا خبره غلطه ده.لمونځ د توجه الی الله له پاره وي او د دنیا د خبرو په خپله سوچ کول او دهغې منصوبې جوړول د توجه الی الله منافي دي د عمر رضی اللہ عنہ نه نقل دي چې زه په لمانځه کې لښکر تیاورم په دې باندې دنیاوي خبرې قیاس کول غلط دي.عمر رضی اللہ عنہ خلیفه راشد و او په لمانځه کې د حاضریدو په وخت به هغه ته د الله پاک د طرفه د جهاد تدبیرونه القاء کیدل،دا د هغه خپل سوچ نه و، بلکې د الله پاک القاء وه او بیشکه ددې مثال داسې دی چې د حاضریدو په وخت کې د بادشاه د طرفه وزیر اعظم ته هدایات ورکول کیږي. عمر رضی اللہ عنہ به د الله پاک د رضا تعمیل کولو، له دې وجې به هغه ته د الله پاک د طرفه د هغه هدایات القاء کېدل او په لمانځه کې د خیالونو راتلل بد نه دي کله چې هغه پوره طریقې سره لمانځه ته متوجه وي، خو خیالات راوستل بد دي له دې وجې د سوال دا فقره صحیح نه ده. چې که"په لمانځه کې څه دنیاوي خیال راشي، نو لمونځ نه کیږي".[1]

د لمانځه دوران کې لاحول لوستل

سوال: په لمانځه کې د شیطان د لیرې کولو له پاره لاحول لوستل څنګه دي؟

جواب: په لمانځه کې چې کوم اذکار مقرر دي هغه لوستل پکار دي .د لاحول په ځای چې لمانځه کې څه لوستل کیږي هغو ته توجه کول پکار دي، شیطان به په پخپله لیرې کیږي

د لمانځه دوران کې وسوسو لیرې کولو لپاره لاحول ولا قوة....الخ لوستل

سوال: زه پنځه وخته لمونځ پابندي سره کوم،ماته په لمانځه کې څه شیطاني وسوسې راشي، نو زه جمعې سره د لمونځ کولو دوران کې "لا حول ولا قوة الا بالله"وایم.ایا د لمونځ کولو دوران کې دا لوستل جائز دي؟

جواب: لوستل خو جائز دي،[2] خود وسوسو اصل علاج دادی چې ددې طرفته توجه ونکړل شي،د لمانځه طرفته توجه راګرځول پکار دي.

---

[1] (قوله للنهی) وهو مااخرجه القضاعی عنه صلی الله علیه وسلم ان الله کره لکم ثلاثاً: العبث فی الصلوة.....الخ (شامی ج:۱،ص:۶٤۰،مطلب فی الکراهة التحریمیة والتنزیهیة، طبع ایم ایچ سعید)۔

[2] ولو وسوسه الشیطان فقال لاحول ولا قوة الا بالله العلی العظیم ان کان ذلک فی امرالآخرة لا تفسد....الخ (عالمگیری ج:۱،ص:۱۰۰،کتاب الصلوة ،الباب السابع،الفصل الاول،طبع رشیدیه)

د لمانځه دوران کښې سترګې بندول نه دي پکار

سوال: داخبره خوزماپه علم کښې ده چې دلمانځه دوران کښې سترګې پټول نه دي پکار.بلکې دلمانځه په مختلفو ارکانو کښې نظر په خپلو خپلو ځايونو باندې ساتل پکاردي.خو زه يوازې د خپلې توجه د قائم ساتلو له پاره سترګې پټولو سره لمونځ کوم.که سترګې بندې نه کړم.نو د نظر سره سره ذهن هم ګډوډ کيږي.ځينې وخت زه دعا هم سترګو پټولو سره کوم.مهرباني وکړئ دا وضاحت وکړئ چې زما دا عمل صحيح دی يا ما ته په هر صورت کښې سترګو پرانستلو سره لمونځ کول پکار دي؟

جواب: سترګو پټول سره اګر چې په ذهن کښې خيال په يو طرف وي، خو افضل هم داده چې په لمانځه کښې سترګې بندې نه کړل شي.[1]

د خيالاتو نه دځان ساتلو لپاره سترګې بندول

سوال: زما مسئله داسې ده چې کله زه لمونځ کوم. نو سترګې مې سجدې طرفته وي. خو خوا په خوا شيان هم په نظر راځي او خيال هم د هغه طرف ته لاړ شي.له دې سره لمونځ ماتيږي. ايا په دې صورت کښې سترګې بندولی شو؟

جواب: غيراختياري طور که خوا په خوا شيانو باندې نظر پريوځي، نو په دې سره په لمانځه کښې هيڅ خلل نه راځي[2]،سترګې بندول نه دي پکار.په سترګو بندولو سره خيال په يو طرف شي او خيالات منتشر کيدو کښې امداد ملاويږي، ددې باوجود سترګو غړولو سره لمونځ کول غوره دي او سترګې بندول مکروه دي، که مستقل طور سره سترګې بندې وساتل شي او که کله يې بندوئ او کله يې پرانيزي، نو مکروه نه دي.[3]

که د لمانځه دوران کښې په زړه کښې بد بد خيالات راځي نو ايا لمونځ پريږدي؟

سوال: محترمه! زه چې کله هم لمونځ کولو له پاره جومات ته ځم، نو په لمانځه کښې مې قسم قسم دنياوي خيالات ذهن ته راځي او ځينې وخت خو داسې ګنده ګنده خيالات ذهن ته راځي چې بيا مې زړه وايي اوس به لمونځ نه کوم، ځکه چې دې سره خو به د ثواب په ځای نوره هم

1] وفى الدرر وتغميض عينيه للنهى الا لكمال الخشوع .وفى الرد(قوله للنهى)اى فى حديث اذا قام احدكم فى الصلوة فلايغمض عينيه...فى البدائع بان السنة ان يرى ببصره الى موضع سجوده...(قوله الا لكمال الخشوع) بان خاف فوت الخشوع بسبب رؤية ما يفرق الخاطر فلايكره.....الخ(درمختار مع الشامى ج:١،ص:٦٤٥)

2] واما النظر بمؤخرالعين يمنة أو يسرة من غير تحويل الوجه فليس بمكروه..الخ(البدائع الصنائع ج١ ص٢١٥)

3]وفى الدرر وتغميض عينيه للنهى الا لكمال الخشوع . وفى الرد(قوله للنهى) اى فى حديث اذا قام احدكم فى الصلوة فلايغمض عينيه...فى البدائع بان السنة ان يرى ببصره الى موضع سجوده...(قوله الا لكمال الخشوع) بان خاف فوت الخشوع بسبب رؤية ما يفرق الخاطر فلايكره.....الخ(درمختار مع الشامى ج:١،ص:٦٤٥)

ګناه وي، تاسو بیان کړئ، که د لمانځه دوران کې بدبد خیالونه راځي، نو لمونځ کیږي او که نه؟

جواب: په لمانځه کې پخپله د خیالاتو راوستل بده خبره ده، پرته د اختیار نه د هغه راتلل بد نه دي، بلکې خیالات دې راځي او تاسو د لمانځه طرف ته د توجه برابرولو کوشش کوئ او خیال د لمانځه سورتونو او په دعا ګانو باندې د غورځولو کوئ، نو تاسو ته به د مجاهد ثواب ملاویږي. په لمانځه کې د خیالاتو د راتلو نه د پریشان کېدو ضرورت نشته. که نه شیطان به خوشحاله شي، په حدیث کې دي چې شیطان په لمانځه کې خو وسوسې اچوي او د لمانځه نه وروسته وايي: تا څه لمونځ وکړ؟ له دې نه خو نه کول ښه دي داسې لمونځ به څه قبول شي؟ رسول الله ﷺ فرمايي چې: کله هغه داسې وسوسه اچوي، نو هغه ته وایئ چې: زما معامله تاسره نه ده د الله پاک سره ده![1] (کوم مالک چې ما ته په خپل دربار کې د سر ښکته کولو توفیق راکړی دی، هغه به په خپل رحمت سره د زړه د ښکته کولو توفیق هم راکوي. مردوده: ته خو خپله ملعون او د الله پاک د رحمت نه نا امیده یې، ما هم د رحمت نه نا امیده کولو سره د خپل ځان سره ملګری کول غواړې). له دې وجې ستاسو سوال چې په خیالاتو سره لمونځ کیږي او که نه؟ ددې جواب دادی چې کیږي او ان شاء الله بالکل صحیح به وي، که په لکونو وسوسې هم راشي (خو خیالات دې خپله نه راولي).[2]

په لمانځه کې د خیالاتو راتلل

سوال: د الله په فضل او کرم سره پنځه وخته لمونځ کوم، خو د لمانځه دوران کې غلط قسم خیالات راځي، د کوشش باوجود ددې خیالاتو نه نه خلاصیږم، امید دی چې تاسو به ماته داسې رایه راکړئ چې د هغې په خپلولو باندې به زه په اطمینان سره لمونځ کوم، یاد ساتل پکار دي

۱] عن القاسم بن محمد ان رجلاً ساله فقال: انی اهم فی صلاتی فیکثر ذالک علی، فقال له: امض فی صلوتک فانه لن یذهب ذالک عنک حتی تنصرف وانت تقول: ما اتممت صلوتی رواه مالک (مشکوة ص:۱۹) وفی المرقاة: فقال له امض فی صلوتک سواء کانت الوسوسة خارج الصلوة او داخلها ولا تلتفت الی موانعها فانه لن یذهب ذالک عنک ....حتی تنصرف ای تفرغ من الصلوة وانت تقول للشیطان: صدقت! ما اتمت صلوتی، لکن ما اقبل قولک ولا اتممها ارغاماً لک ونقضاً لما اردته منی وهذا اصل عظیم لدفع الوساوس وقمع هواجس الشیطان فی سائر الطاعات (المرقاة ج:۱، ص:۱۲۱، الفصل الثالث، باب فی الوسوسة، طبع بمبئ اندیا)

۲] وعن القاسم بن محمد ان رجلاً ساله فقال: انی اهم فی صلاتی فیکثر ذالک علی، فقال له: امض فی صلوتک فانه لن یذهب ذالک عنک حتی تنصرف وانت تقول: ما اتممت صلوتی رواه مالک (مشکوة ص:۱۹، باب الوسوسة) وفی مرقاة المفاتیح ج:۱، ص:۱۲۱ (وانت تقول للشیطن) صدقت! ما اتمت صلوتی، لکن ما اقبل قولک ولا اتممها ارغاماً لک ونقضاً لما اردته منی وهذا اصل عظیم لدفع الوساوس وقمع هو اجس الشیطان فی سائر الطاعات والحاصل: ان الخلاص من الشیطان انما هو بعون الرحمن والاعتصام بظواهر الشریعة وعدم الالتفات الی الخطرات والوساوس الذمیمة ولا حول ولا قوة الا بالله العلی العظیم (مرقاة شرح مشکوة ج:۱، ص:۱۲۱، طبع بمبی)۔

چې زه د جمعې د لمانځه نه پرته ټول لمونځونه ځانته کوم.ځکه چې زه د سعودي عرب په صحرا کې اوسیږم او کوم ملګري چې ما سره دي. هغوی په وخت باندې لمونځ نه کوي او زه په مقرر وخت باندې لمونځ کوم. ځکه په قرآن کې مې لوستلي دي چې بېشکه لمونځ په مومنانو باندې په مقرر وخت باندې فرض دي.

جواب: لمونځ د ځانته کولو په ځای د اذان او جمعې سره کول پکار دي،خپل دوه ځلور ملګري ددې له پاره تیارول هیڅ ګرانه نه ده.د لږ شان اهتمام ضرورت دی[۱]په لمانځه کې چې غیر اختیاري طور سره کوم خیالات راځي.په هغه کې هیڅ باک نشته.خپله د لمانځه طرف ته متوجه کېدل پکار دي او ددې تدبیر دادی چې څه په لمانځه کې لوستل کېږي. هغه طرف ته خیال ساتل پکار دي او په سوچ دې ولوستل شي.[۲]

سوال: زه طالب علم یم او د الله پاک په فضل پنځه وخته لمونځ کوم او د الله په وړاندې په عاجزي او د ګناه ګارانو په شان حاضرېږم.خو بیا هم د لمانځه کولو په وخت کې قسم قسم خیالونه راځي،سره د پرېښودلو هم نه ختمېږي.بلکې زیاتېږي،ددې له پاره ډېره پرېشانه یم چې څه وکړم؟ څه حل بیان کړئ.

جواب: په لمانځه کې د خیالاتو او وسوسو راتلل غیر اختیاري دي، په دې باندې د الله پاک د طرف نه نیول نشته،خو د خیالاتو راوستل اختیاري دي،له دې وجې که خیالات په خپله راځي، نو دهغې پروا دې نه کوي[۳]،نه دې هغې طرف ته توجه کوي. بلکې په لمانځه کې چې څه لوستل کېږي هغو طرف ته دې خیال ساتي او څه چې لولي په سوچ سوچ دې لولي،که خیال یې ګډوډ شي، نو بیا دې متوجه شي.که تاسو په دې تدبیر باندې عمل وکړ، نو یوازې دا نه چې د لمانځه په ثواب کې په کمي نه راځي،بلکې تاسو ته به ددې محنت او مجاهدې نور ثواب هم ملاوېږي.یوه ضروري خبره داده چې د لمانځه نه مخکې دا خیال وساتل شي چې زه د الله پاک په دربار کې حاضرېږم.

۱]عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضى الله عنهما قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « صَلاَةُ الْجَمَاعَةِ تَفْضُلُ عَلَى صَلاَةِ الرَّجُلِ وَحْدَهُ بِسَبْعٍ وَعِشْرِينَ دَرَجَةً(سنن ترمذى ج:۱،ص:۵۲،ابواب الصلوة،باب ماجاء فى فضل الجماعة. عنْ أبى هُرَيْرَة قالَ قالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه وسلم «صَلاةُ الرَّجُل فى جماعَة تزيدُ عَلى صلاته فِى بَيْته وَصَلاته فى سُوقه بِضْعًاوَعشْرِينَ دَرَجَةً(صحيح مسلم ج:۱،ص:۱۳٤،قديمى ،كتاب المسجد)والجماعة سنة مؤكدة للرجال،وقيل واجبة وعليه العامة فتسن او تجب.ثمرته تظهر فى الاثم بتركها مرة....على الرجال العقلاء البالغين الاحرار القادرين على الصلوة بالجماعة(درمختارمع ردالمحتارج:۱،ض:۵۵٤،۵۵۲،طبع سعيد،ايضاً حلبى كبيرص:۵۰۸،طبع سهيل اكيدمى)

۲] اوګورئ تېره شوې حاشیه (وعن القاسم بن محمد ان رجلاً ساله فقال...الخ)۔

۳] ایضاً تېره شوې حاشیه)۔

په مسکا باندې لمونځ نه ماتیږي، خو خندا سره ماتیږي

سوال: د لمانځه په وخت مسکا کولو سره لمونځ خو نه ماتیږي؟ زما خیال دی چې لمونځ ماتیږي او د دې خلاف زما د دوست خیال دی چې په مسکا کېدو سره لمونځ نه ماتیږي. بلکې په قهقهه سره ماتیږي.

جواب: یوازې په مسکا کولو سره لمونځ نه ماتیږي. په دې شرط چې د خندا اواز پیدا نه شي او که دومره اواز پیدا شي چې خوا کې ولاړ سړي یې واوري. نو په دې سره لمونځ ماتیږي [۱]

په لمانځه کې قصدا د پیر او مرشد تصور جائز نه دی

سوال: د یو صاحب وینا ده چې د لمانځه کولو په وخت کې د خپل پیر او مرشد تصور کول پکار دي ایا دا خبره صحیح ده؟

جواب: په لمانځه کې د پیر او مرشد قصدا تصور جائز نه دی. په لمانځه کې یوازې د الله پاک تصور کول پکار دي. [۲]

لمانځه او تلاوت کې راتلونکو وسوسو باندې توجه مه کوئ

سوال: زه چې کله هم لمانځه ته درېږم او نیت وتړم، نو مختلف قسم وسوسې او خیالات راتلل شروع شي، همدا حالت مې د قرآن پاك د تلاوت كولو په وخت هم وي، څه حل راته وښیئ.

جواب: دا خیالات ستاسو په ذهن کې د مخکې نه موجود وي. لمونځ او قرآن پاك یو رڼا ده. په دې رڼاکې هغه په نظر راتلل شروع شي او کله چې دا رڼا ختمه شي. نو هغه خیالات هم ختم شي، تاسو د لمونځ او د تلاوت طرفته توجه کوئ. د دې خیالاتو څه پرواه مه کوئ. تاسو ته به د لمانځه پوره پوره ثواب ملاویږي، که توجه خرابه شي، نو بیا یې راوګرځوئ [۳]

۱] القهقهة فى كل صلوة فيها ركوع وسجود تنقض الصلوة والوضوء، والضحک يبطل الصلوة ولا يبطل الطهارة، والتبسم لا يبطل الصلوة ولا الطهارة..الخ(الهندية: ج:۱،ص:۱۲وايضاً حلبى كبير ص:۲٤۱، ۲٤۲)

۲] فالاصل فيه (اى فى الاستحباب) انه ينبغى للمصلى ان يخشع فى صلوته (وبعد اسطر) ولا يتشاغل بشئ غير صلوته ....الخ(البدائع الصنائع ج:۱،ص:۲۱۵)۔

۳]عن ابى هريرة رضى الله،عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ان الله تجاوز لامتى عما حدثت به انفسها مالم تعمل او تتكلم به....الخ (مسلم،باب بيان تجاوز الله عن حديث النفس ج:۱،ص:۷۸،طبع قديمى كتب خانه) عن القاسم بن محمد ان رجلاً ساله فقال انى اهم فى صلوتى فيكثر ذلک على،فقال له: امض فى صلوتک فانه لن يذهب ذلک عنک حتى تنصرف وانت تقول ما اتممت صلوتى رواه مالک (مشكوة ج:۱،ص:۱۹،باب فى الوسوسة) وفى المرقاة فى شرح الحديث :(وانت تقول) للشيطان صدقت (مااتممت صلواتى) لكن ما اقبل قولک ولا اتمها ارغاماً لک ونقضاً لما اردته منى وهذا اصل عظيم لدفع الوساوس وقمع هواجس الشيطان فى سائر الطاعات(مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح ج:۱،ص:۱۲۱،طبع بمبئ)

د لمانځه دوران کې چې کوم خیالات راشي نو هغه طرفته توجه مه کوئ

سوال: زه د لمونځ او د روژي پابند یم، اکثر طور په لمانځه کې ماته ډیري وسوسې راځي. کله چې هم ځانته لمونځ کوم، نو ماته ډیر خیالات راځي، د الحمد شریف نه وروسته چې په خپلې ارادې سره کوم سورت لولم، نو زما نه هیر شي او د هغې په ځای بل سورت شروع کړم. کله چې د سورت لوستلو په وخت راته یاد شي، نو هغه سورت نیم پریږدم او هغه سورت شروع کړم. کوم چې د مخکې نه زما په خیال کې وي.

جواب: فرض لمونځ خو جمعې سره کوئ، ځانته لمانځه کې چې کوم خیالات راځي، هغه دې راځي اوداسې خیال کوئ چې تړل شوي سپي غاپي، دی خپلو غپلو ته پریږدئ. کوم سورت چې شروع کړئ، نو هغه پوره کوئ، د هغه د پرېښودو او دبل سورت د شروع کولو ضرورت نشته.[1]

لمانځه کې د راتلونکو وسوسو علاج

سوال: زه چې کله هم لمونځ شروع کړم، نو ذهن کې خراب خیالات راځي، لکه چې بالکل د هغه تصویر ماته مخامخ وي، زه ډیر کوشش کوم چې خیالات رانه شي، خو ډیر مجبور یم او که خوا کې څه شور اوزوږ وي، نو هیره رانه کیږي، ایا زموږ لمونځ کیږي اوکه نه؟ او ددې څه روحاني حل راته وښیئ.

جواب: د لمونځ شروع کولو نه لږ وړاندې دا تصور کوئ چې د الله پاك بارګاه کې زه وړاندې کیږم، که د جج په وړاندې یو سړی وړاندې کیږي چې قاتل وي اوکه نه وي، نو ښکاره خبره ده چې هغه ته خیالات نه راځي، نو تاسو دا تصور کوئ چې زه د ټولو نه لوی احکم الحاکمین ته پیش کیږم او زما له پاره د الله پاك له طرفه فیصله کیدونکې ده. ددې پابندي کوئ، نو انشاء الله تاسو ته به د وسوسو او د خیالاتو راتلو نه خلاصی ملاؤ شي.

د غیراختیاري غلطو خیالاتو پرواه مه کوئ

سوال: زما په ذهن کې د الله پاك اود نبي کریم ﷺ د شان خلاف کلمات راځي، زه په دې سلسله کې ډیر زیات پریشان یم، د ورځې په نورو وختونو کې کم، خو د لمانځه او د قرآن پاك د تلاوت دوران کې ډیر راځي، زه ډیره توبه وباسم، استغفار کړم، اکثر په دې خراب عادت باندې قابو بیامومم، خو بیا غلط او خراب خیالات راځي، مهرباني وکړئ ددې خرابو خیالاتو نه د بچ کیدو

---

[1] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : ان الله تجاوز لامتی عما حدثت به انفسها مالم تعمل او تتکلم به....الخ (مسلم، باب بیان تجاوز الله عن حدیث النفس ج:۱، ص:۷۸، طبع قدیمی کتب خانه) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :صلوة الرجل فی جماعة تزید علی صلوته فی بیته وصلوة فی سوقه بضعاً وعشرین درجة (مسلم ج:۱، ص:۱۳٤، طبع قدیمی کتب خانه)

له پاره ماته څه تدبیر وښیئ او ماته څه حل وښیئ. پته نه لګیږي چې روزانه به زه څومره ګناهګاریږم.

جواب: غیراختیاري خیالاتو باندې نه څه ګناه شته او نه مؤاخذه. نه پرې ایمان کې څه نقص راځي. له دې وجې نه د پریشانه کېدو ضرورت نشته. مه ددې په راتلو سره پریشانه کیږی. نه ددې د لیرې کولو او ختمولو فکر کوئ. دا خیال وکړئ چې یو سپی غاپي. نو هغه په خپلو غپیدو کې پریږدئ، انشاء الله په خپله به دفع شي.[1]

د غیراختیاري وسوسو علاج

سوال: مولانا صاحب! زه یو وخت پورې د وسوسو ښکار یم. حالانکې ماته احساس دی چې دا ټول فضول خیالات دي. د الله پاك شکر دی. زه پنځه وخته لمونځ کوم. له دې وجې نه زما زړه بې ارامه وي، وزن مې هم کم شو، ماته څه حل ووایئ، زه به ټول ژوند کې تاسو ته دعا کوم.

جواب: غیراختیاري طور باندې چې کوم خیالات او وسوسې راځي. د هغو له وجې نه په ایمان کې څه خلل نه راځي او نه ورسره انسان مردود کیږي. ددې وسوسو علاج دا دی چې ددې پرواه ونکړل شي. بلکې کله هم چې څه خراب خیال راشي. نو فوراً "لا اله الا الله" ویلو سره دې انسان بل طرفته متوجه شي. تاسو بالکل مطمئن اوسیږئ او سحر ماښام درې ځله **قل اعوذ برب الفلق، قل اعوذ برب الناس** لولئ او د الله پاك ته دعا کوئ.[2]

خرابو خیالاتو باندې مواخذه نشته

سوال: کله کله زما ذهن کې دا خیال راځي چې نعوذبالله زموږ مذهب اسلام صحیح دی او که نه؟ او کله د نبي کریم ﷺ په شان مبارك کې د ګستاخي خیال راشي او کله د الله پاك متعلق څه غلط خیال راشي، څو ورځې وړاندې مې یو حدیث شریف اوریدلی دی چې د چا په زړه کې شك وي، هغه ته په قبر کې سوالات سخت وي او کېدای شي چې دده حال د مسلمانانو په شان نه وي، زه د الله پاك په فضل سره د مذهبي دماغو هلك یم. ایا دې سوچونو سره انسان مسلمان

---

[1] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : ان الله تجاوز لامتی عما حدثت به انفسها مالم تعمل او تتکلم به....الخ (مسلم، باب بیان تجاوز الله عن حدیث النفس ج:۱، ص:۷۸، طبع قدیمی کتب خانه) عن القاسم بن محمد ان رجلاً ساله فقال: انی اهم فی صلواتی فیکثر ذالک علی، فقال له: امض فی صلواتک فانه لن یذهب ذالک عنک حتی تنصرف وانت تقول: ما اتممت صلواتی رواه مالک (مشکوة ج:۱ ص:۱۹، باب فی الوسوسة)

[2] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : ان الله تجاوز لامتی عما حدثت به انفسها مالم تعمل او تتکلم به....الخ (مسلم، باب بیان تجاوز الله عن حدیث النفس ج:۱، ص:۷۸، طبع قدیمی کتب خانه)

پاتې کيږي؟ددې خيالاتو له وجې نه ما تاسو ته دا خط ليکلى دى چې تاسو زما دا پريشاني ختمه کړئ.

جواب: که سړى دا غلط خيالات غلط ګڼي، نو په دې باندې څه مواخذه نشته ،ځکه چې دا غيراختياري شى دى.[1]

د لمانځه دوران کې که ذهن کې خيالات راشي نو څه وکړل شي؟

سوال: د لمانځه دوران کې خو زه د بدن څه برخه لاندې باندې کوم نه او نه ښکته پورته ګورم، خودننه ذهن کې خيالات راشي،د هغو د ليرې کولو کوشش هم کوم،خو بيا هم راځي.

جواب: د اندروني خيالاتو پرواه مه کوئ،خو کله چې لمانځه له پاره دريږئ، نو يو څو لمحې دا تصور کوئ چې زما وړاندې والى د الله پاك دربار کې کيږي او زه به يا خو معافي حاصله کړم يا به مجرم وګرځم......

لمانځه کې د وسوسو نه د بچ کېدو تدبير

سوال: د لمانځه دوران کې اخوا ديخوا خيالات راځي،ايا زما لمونځ کيږي؟څه داسې صورت راته ووايئ چې لمونځ صحيح کولى شم.

جواب: لمانځه کې چې څه لوستل کيږي هغه سوچ سمجهـ سره لولئ، يعنې د هغه طرفته خيال او توجهٔ کوئ.

لمانځه کې دد نيوي خيالاتو راتللو علاج

سوال: د لمانځه دوران کې که ذهن کې مختلف دنيوي خيالات راځي، نو ايا لمونځ قبليږي؟

جواب: د لمونځ شروع کولو نه لږ وړاندې ددې خبرې تصور کوئ، چې زه د الله پاك دربار کې پيش کيږم،الله پاك زما نه پوښتنه کوي، له دې نه وروسته دلمانځه طرفته توجه کولو سره لمونځ شروع کړئ،انشاء الله لمانځه کې به توجه نه خوريږي،په هرحال تاسو ددغو خيالاتو طرفته د توجه کولو نه پرته لمونځ کوئ.[2]

---

[1] عن ابى هريرة رضى الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ان الله تجاوز لامتى عما حدثت به انفسها مالم تعمل او تتكلم به..الخ (مسلم،باب بيان تجاوزالله عن حديث النفس ج:۱،ص:۷۸،طبع قديمى كتب خانه)

[2] ان تعبدالله كانک تراه فان لم تكن تراه فانه يراک الحديث(مسلم،كتاب الايمان ج:۱،ص:۲۷،طبع قديمى) ايضاً: فى المرقاة: وهذا من جوامع الكلم فإن العبد إذا قام بين يدي مولاه لم يترك شيئا مما قدر عليه من إحسان العمل ولا يلتفت إلى ما سواه ولذا قال فإن لم تكن تراه أي تعامله معاملة من تراه فإنه يراك.وفى رواية:فان لم تره اى بان غفلت عن تلك المشاهدة المحصلة لغاية الكمال فلا تغفل عما يجعل لك أصل الكمال وحاصل الكلام فإن لم تكن تراه مثل الرؤية المعنوية فلا تغفل فإنه يراك(مرقاة شرح المشكوة ج:۱،ص:۵۳،الفصل الاول،كتاب الايمان)

د لمونځ ادا کولو نه وروسته که په وخت کې شک شي

سوال: ما دوه ځله د ماښام لمونځ ادا کړی دی.ما د وخت مطابق اودس وکړ او فرض لمونځ مې وکړ.د سلام ګرځولو نه وروسته ما د اذان اواز واوریده. ما د اذان اوریدلو نه وروسته په دویم ځل د ماښام لمونځ(فرض او سنت)وکړل.زما اول لمونځ هم صحیح و(یوازې فرض مې کړي و) له دې نه وروسته دویم لمونځ(مکمل)مې ادا کړ.لهذا په دې سلسله کې ماته څه حکم دی؟

جواب: فرض لمونځ دوه ځله نه کیږي[1].غالباً تاسو ته د اذان اوریدلو نه وروسته شك شو چې تاسو لمونځ د وخت نه مخکې وکړ. له دې وجې نه تاسو په دویم ځل کول ضروري وګڼل. که سړي ته شك شي چې ما په وخت کې دننه لمونځ کړی دی یا د وخت نه مخکې نو هغه په دویم ځل کول پکار دي.[2]

په لمانځه کې په قهقهې سره اودس ماتیږي

سوال: په لمانځه کې په قهقهه باندې اودس ماتیږي او که نه؟

جواب: په حنفي مذهب په لمانځه کې په قهقهه باندې اودس ماتیږي.په دې شرط چې قهقهه لګونکي انسان بالغ وي، بیدار وي او لمونځ د رکوع او سجدې والا وي، که ماشوم یا په لمانځه کې ویده شوي قهقهه وکړي، نو اودس نه ماتیږي.خو لمونځ فاسدیږي[3].همدغه شان که د جنازې لمونځ کې قهقهه وکړي. نو لمونځ به یې فاسد شي.خو اودس یې نه ماتیږي[4]او د لمانځه نه بهر قهقهه کولو سره اودس نه ماتیږي. خو قهقهه کول مکروه دي، ځکه چې دا د غفلت علامه ده.[5]

لمانځه کې خندل

سوال: لمانځه کې خندل او داسې خندل چې یوازې د پوزې نه اواز راغی.د خلې نه اواز رانغی، نو ایا دې سره لمونځ ماتیږي؟

1]لان الفرض لا یتکرر(ردالمحتار مع الدرالمختار ج: ۱،ص:۴۵۸،مطلب کل صلوة ادیت مع کراهة التحریم)

2]وانما یجزیه ان ینوی فرض الوقت اذا کان یصلی فی الوقت....الخ (عالمگیری ج:۱،ص:۶۶،کتاب الصلوة)

۳]القهقهة فی کل صلوة فیها رکوع وسجود تنتقض الصلوة والوضوء عندنا....ولا تنقض الطهارة خارج الصلوة ....والقهقهة من الصبی فی حال الصلوة لا تنقض الوضوء کذا فی المحیط ولو قهقهة نائماً فی الصلوة فالصحیح انها لا تبطل الوضوء ولا الصلوة....الخ (هندیة ج:۱،ص:۱۲،کتاب الطهارة،الباب الثانی)_

۴] او فی الصلوة الجنازة تبطل ماکان فیها ولا تنقض الطهارة ....الخ (هندیة ج:۱،ص:۱۲،کتاب الطهارة، الباب الثانی،ایضاً الدرالمختار مع الردالمحتار ج:۱،ص:۱۴۴،ارکان الوضوء اربعة)_

۵] واما الافراط فیه فانه یورث کثرة الضحک تمیت القلب وتورث الضغینة فی بعض الاحوال وتسقط المهابة والوقار ....ولان الضحک یدل علی الغفلة عن الآخرة.قال صلی الله علیه وسلم:لو تعلمون ما اعلم،لبکیتم کثیراً ولضحکتم قلیلاً(احیاء العلوم ج:۳،ص:۱۲۸،النهی عن المزاح)_

جواب: دې سره لمونځ نه ماتيږي.[1]

په لمانځه کې ژړل

سوال: د لمانځه دوران کې يا قرآن پاک لوستلو سره که ژړا راشي. نو ايا لمونځ ماتيږي؟ او په يو اودس باندې څو لمونځونه کيږي؟ يا اودس د کوم وخته پورې قائم پاتې کيږي؟

جواب: که د الله پاک له ويرې نه ژړا راشي، نو په دې سره لمونځ نه ماتيږي،نه اودس. او که د يوې دنيوي حادثې په وجه په لمانځه کې په ژړا شي، نو په دې سره لمونځ ماتيږي[2]،اودس نه ماتيږي .د اودس کولو نه وروسته چې تر څو پورې د اودس ماتونکې څه خبره پيښه شوې نه وي،،مثلا: هوا خارجه شي،د هغه وخته پورې اودس قائم دی[3]او په يو اودس باندې چې څومره لمونځونه غواړي کولی يې شي.

په لمانځه کې د رسول الله ﷺ په نوم باندې درود ويلو سره اودس نه ماتيږي

سوال: که په لمانځه کې د رسول الله ﷺ نوم راشي يعنې په قرات کې يا په درود شريف وغيره کې، نو ايا په مينځ کې ﷺ لوستل پکار دي؟ په دې خو لمونځ نه ماتيږي؟

جواب: په لمانځه کې په رسول الله ﷺ باندې درود نه ويل کيږي. خو که چا ولوستلو. نو په دې باندې لمونځ نه ماتيږي.[4]

د لمانځه دوران کې که اينکې (پرنجی) راشي نو ايا الحمد لله ويل پکار دي؟

سوال: ايا دلمانځه په دوران کې که پرنجی راشي، نو "الحمد لله" ويل پکار دي لکه څنګه چې په عام حالت کې ويل کيږي؟

جواب: په لمانځه کې ويل نه دي پکار خو که ويې ويل، نو لمونځ نه فاسديږي.[5]

لمانځه کې رومال(دسمال) سره نزله صفا کول

سوال: مولانا صاحب! د لمانځه سره متعلق د يوې مسئلې پوښتنه ستاسو نه کوم،ما يو سړی جمعې سره په لمانځه باندې وليده چې هغه سره په لاس کې رومال و، په هغه يې نزله صفا

---

[1] والتبسم لا يبطل الصلوة ولا الطهارة (عالمگيری ص:١٠٢،الفصل الخامس فى نواقض الوضوء)

[2] (او بکی) فيها(فارتفع بکاؤه) ای حصل منه صوت مسموع (ان کان من ذکرالجنة او النار) او نحو ذلک.....لم يفسد صلوته....(وان کان من وجع او مصيبة).....تفسد صلوته ....الخ (حلبی کبير ص:٤٣٦)

[3] (قوله وينقضه خروج نجس منه) ای وينقض الوضوء خروج نجس من المتوضی .....الخ (البحرالرائق ج: ١،ص:٣١،کتاب الطهارة)_

[4] او سمع اسم النبی صلى الله عليه وسلم فقال صلى الله عليه وسلم .....وان لم يرد به الجواب بل قصد ثناء وصلوة: على سبيل الاستيناف لا تفسد صلوته.....الخ (حلبی کبير ص:٤٤٤)_

[5] ولوعطس المصلی فقال: الحمد لله لاتفسد صلوته...الخ (حلبی کبير ص:٤٣٩،ايضاً:هندية ج:١،ص:٩٨)

کوله، ما چې ترينه پوښتنه وکړه چې داسې کول صحيح دي؟ نو هغه وويل چې صحيح دي او هغه وايي چې فلاني مولانا صاحب ديته عذر وايي.هرکله چې ما د خپل جامع جومات د امام صاحب نه ددې مسئلې پوښتنه وکړه، نو هغه وايي چې په قيام کې خو هيڅ شی په لاس کې اخستل پکار نه دي که نزله رابهيږي، نولاس سره يې صفاکولی شي، مولاناصاحب په دې مسئله کې تاسوزما مددوکړئ

جواب: که د نزلې شدت وي،نزله زياته وي،نو څه حرج په کې نشته [۱]

د لمانځه په حالت کې خولې ته راتلونکی بلغم تيرول

سوال: که د لمانځه په حالت کې خولې ته بلغم راشي او دا تير کړل شي، نو لمانځه کې څه خلل خو نه واقع کيږي؟

جواب: نه صاحب! [۲]

په لمانځه کې په اردوژبه کې دعا کول څنګه دي؟

سوال: ايا موږ د لمونځ کولو دوران د سجدې په حالت کې په خپله ژبه (اردو) کې الله پاک ته خپل حاجت بيانولی شو؟

جواب: نه! داسې کولوسره لمونځ ماتيږي.[۳]

د اخرې قعدې پريښودلو سره لمونځ باطليږي

سوال: که امام صاحب څلور رکعته فرض لمونځ کې په دويم رکعت کې د ناستې په ځای په دريم رکعت کې کيني،هغه ناست و چې مقتدی الله اکبر وويل، نو هغه فورا ودريد،بيا يې په څلورم رکعت کې قعده ونکړه،په پنځم کې يې هم قعده ونکړه، بلکې په شپږم رکعت کې کيناستلو،نو هغه د التحيات د لوستلو نه مخکې سجده سهوه وکړه او بيا هغه ټول لوستلو سره سلام واړولو او لمونځ يئ ختم کړ،نو ايا لمونځ وشو؟ او که لمونځ وشو، نو څو رکعته وشو؟ د فرضو نه پرته نفل هم وشو اوکه نه؟

جواب: مقتديانو ته پکار و چې امام ته يې په څلورم رکعت باندې د کيناستلو له پاره فتحه ورکړې وای، په هر حال چې امام په پنځم رکعت سجده وکړه، نو فرض لمونځ باطل شو او دا

---

[۱] ويكره ان يرمى بزاقه الا ان يضطر فياخذه بثوبه او يلقيه تحت رجله اليسرى اذا صلى خارج المسجد (مراقى الفلاح على هامش الطحطاوى ص: ۱۹۱،فصل فيما يفسد الصلوة)

[۲] ايضاً _

[۳] (قوله يفسد الصلوة التكلم) لحديث مسلم ان صلوتنا هذه لا يصح فيها شئ من كلام الناس انما هو التسبيح والتكبير وقراءة القرآن.....الخ (البحرالرائق ج: ۲،ص: ۲،باب ما يفسد الصلوة وما يكره فيها)_

نفلي لمونځ شو ،ځکه چې اخري قعده فرض ده او د فرض په پرېښودلو باندې لمونځ نه کیږي،امام او مقتدیان دې په دویم ځل لمونځ وکړي.[1]

❖ د لمونځ ماتولو عذرونه ❖

....

په مالي نقصان باندې لمونځ ماتول جائز دي

سوال: زموږ د محلې په جومات کې پیش امام صاحب د ماښام لمونځ شروع کړ،د یو رکعت نه وروسته هغه سلام واړولو،له دې نه وروسته هغه اودس خانې ته لاړل او خپله ګړۍ یې راوړه ،بیا هغه په دویم ځل تکبیر وکړ او لمونځ یې شروع کړ، څه خلک وایي چې امام صاحب د ګړۍ له پاره لمونځ ولې مات کړ؟ او تکبیر یې په دویم ځل ولې وویلې؟

جواب: د یو درهم (تقریبا دري نیمې ماسې چاندي) د نقصان چې ویره وي، نو د لمونځ د ماتولو اجازه ده[2]که د اقامت کولو وخت نه څه موده تیره شي، نو اقامت دې په دویم ځل وکړل شي[3]امام صاحب په دواړه مسئلو کې د شریعت مطابق عمل وکړ،د خلکو اعتراض د ناخبرې په بنیاد دی.

که د یو درهم مال د ضایع کېدو خطره وي نو د لمونځ ماتول جائز دي

سوال: که دلمانځه دوران کې د جیب نه څه پیسې یا روپۍ وغورځیږي او څوک بل سړی هغه پیسې وړي، نو ایا لمونځ ماتولو سره د هغه نه دا پیسې اخستل پکار دي یا لمونځ کول پکار دي؟ دا حرکت که یو سړی په نفل،سنت یا فرض لمانځه کې کوي، نو موږته څه کول پکار دي؟

جواب: لمونځ ماتولو سره د هغو نیږول صحیح دي ،لمونځ که فرض وي ،یا نفل او د جمعې وي یا پرته د جمعې نه،د لمانځه دوران کې که یو درهم چاندي(۳.۴۰۲ ګرام)د مالیت برابر شي د ضایع کېدو خطره وي، نو لمونځ ماتول جائز دي.[4]

۱] (الاولى رجل صلى الظهر) ونحوها (خمساً) بان قيد الخامسة بالسجدة (ولم يقعد على راس الرابعة بطلت فرضيته وتحولت صلوته نفلاً....الخ (حلبى كبير ص: ۲۹۰،السادس القعدة الاخيرة)_

۲]رجل قام الى الصلوة فسرق منه شئ قيمته درهم له ان يقطع الصلوة.....الخ (هندية ج:۱،ص:۱۰۹)_

۳]ولا ينبغى للمؤذن ان يتكلم فى الاذان او فى الاقامة او يمشى فان تكلم بكلام يسير لا يلزمه الاستقبال (عالمگيرى ج:۱،ص:۵۵،الفصل الاول فى صفته واحوال المؤذن)_

٤] رجل قام الى الصلوة فسرق منه شئ قيمته درهم له ان يقطع الصلوة ويطلب السارق سواء كانت فريضة او تطوعا لان الدرهم مال..الخ (هندية ج:۱ص:۱۰۹،كتاب الصلوة،الباب السابع،ومما يتصل بذالک مسائل)

د لمانځه دوران کې د ورکشوي شي په یاد راتلو باندې لمونځ ماتول

سوال: د اودس دوران کې په اودس خانه کې که موږ خپل یو خاص شی کړی، یا چشمې وغیره هیرې شي او هغه موږ ته د لمانځه دوران کې را یاد شي، نو موږ په دې صورت کې څه وکړو؟

جواب: لمونځ ماتولو سره هغه شی اوچت کړئ.[1]

د یو انسان د نفس بچ کولو له پاره لمونځ ماتول

سوال: که یو انسان بیمار وي او د بیماري په حالت کې بې هوشه دی، د هغه سره ښځې ډیرې دي سړي یوازې دي، هغه هم د فرضو نیت کړی دی، لمونځ کونکي یوازې یو رکعت کړی دی، چې په دې کې ښځو شور جوړ کړ چې بیمار وفات کیږي، نو لمونځ کونکي لمونځ ماتولی شي؟

جواب: که د هغه د نفس بچ کولو څه تدبیر کولی شي، نو لمونځ دې مات کړي او که مړ شوی وي، نو د لمانځه ماتولو څه فائده؟[2]

که بې هوشه راپریوځي نو د هغه د اوچتولو له پاره لمونځ ماتولی شي؟

سوال: لمونځ د جمعې سره کیږی او یو لمونځ کونکی د کمزوري یا په څه بله وجه غورځیدو سره بې هوشه شي، نو ایا خوا کې ولاړ سړیو د هغه اوچتول پکار دي یا لمونځ جاري ساتل پکار دي؟ مهرباني وکړئ دا بیان کړئ چې موږ ته دې وخت کې څه کول پکار دي، په داسې حال کې چې لاندې انسان ټوپونه وهي.

جواب: لمونځ ماتولو سره هغه اوچتول پکار دي، داسې ونه شي چې هغه ته د مدد نه ملاویدو په وجه د هغه نفس ضایع شي.[3]

په لمانځه کې زهرلرونکی شی وژل

سوال: که په لمانځه کې چېرته ناڅاپه یو زهریله شی راشي او د لمونځ کونکي طرفته ورمخکې شي، نو ایا لمونځ کونکی نیت ماتولی شي؟

جواب: که د هغه د وژلو له پاره د عمل کثیر ضرورت نه وي، نو د لمانځه د ماتولو نه غیر دې هغه ووژنی او که د عمل کثیر ضرورت وي، نو لمونځ به مات شي او د هغه له پاره د لمانځه ماتول جائز دي، خلاصه داده که د لمانځه ماتولو نه پرته هغه وژل کیږي، نو صحیح ده، که نه

---

[1] ان القطع (ای الصلوة) یکون حراماً ومباحاً....والمباح اذاخاف فوت مال...الخ (شامی ج:۲،ص:۵۲)۔

[2] والحاصل ان المصلی متی سمع احداً یستغیث.....وکان له قدرة علی اغاثته وتخلیصه وجب علیه اغاثته وقطع الصلوة فرضاً کان او غیره (شامی ج:۲،ص:۵۱،باب ادراک الفریضة)۔

[3] ان القطع (ای الصلوة) یکون.....واجباً......والواجب لاحیاء نفس(شامی ج:۲،ص:۵۲)۔

دهغه له پاره لمونځ ماتول جائز دي.[۱]

د لمانځه په دوران کې مچۍ وغیره وژل

سوال: که د جمعې د لمونځ کولو په وخت په پښو یا سر یا غوږونو باندې مچۍ یا د شهدو مچۍ یا څه کرړی وښوري، نو دهغو(چې نومونه یې ذکر شو)د وژلو اجازه شته؟

جواب: که د تکلیف ورکولو ویره وي او د عمل کثیر نه پرته هغه وژل کیږي.نو مړ دې کړي په دې سره لمونځ نه ماتیږي، که نه لمونځ دې مات کړي او ودې وژني.[۲]

یوازې د دروازې ټک ټک اوریدو سره لمونځ ماتول جائز نه دي

سوال: مور لمونځ کاوو،هغه وخت مور ته څوک د بلې کمرې نه اواز راکړي چا ته چې دا معلومه نه ده چې مور په لمانځه کې مشغول یو،یا څوک دورازه وډبوي او مور لمونځ کاوو او په کور کې زمونږ نه سوا څوک نه وي په داسې وخت کې راتلونکي باندې هم بیره وي، نو ایا په داسې وخت کې نیت ماتولی شي؟ او که ماتولی شي، نو د لمانځه ماتولو طریقه بیان کړئ؟

جواب: دا به تاسو ته څنګه معلومه وي چې هغه په بیره کې دی؟ په هرحال د یو داسې سخت ضرورت له پاره چې دهغه د نقصان مخ نیوي نه شي کېدلی،نیت ماتول جائزدي[۳]او یوازې په ټک ټک اوریدلو باندې لمونځ ماتول جائز نه دي.

د مور او پلار په اواز باندې کله لمونځ ماتول جائز دي؟

سوال: یو صاحب په خپل مضمون "د مور و پلار احترام"تر عنوان لاندې لیکلي دي چې په حدیث شریف کې راغلي دي(د حدیث نوم یې نه دی لیکلی) چې د رب رضا د پلار په رضا کې ده او د رب ناراضګي د پلار په ناراضګي کې ده.

بیا لیکي چې:په روایت کې دي(د چا روایت دی؟ هیڅ حواله نشته) چې که مور پلار د څه تکلیف یا پریشاني په وجه اواز وکړي، نو فرض هم ماتولو سره دې هغوی ته جواب ورکړي او که پرته د ضرورت نه اواز وکړي،هغوی ته معلومه نه ده چې تاسو په لمانځه کې یئ، نو بیا هم سنت او نفل لمونځ ماتولو سره جواب ورکړئ،که دا معلومه نه وي چې تاسو په لمانځه کې یئ اواز وکړي، نو هر قسمه لمونځ ماتولو سره هغوی ته جواب ورکړئ.

۱] (لا)یکره (قتل حیة اوعقرب) ان خاف الاذی....(مطلقاً) ولو بعمل کثیر علی الاظهر لکن صحح الحلبی الفساد وقال الشامی (قوله لکن صحح الحلبی الفساد) حیث قال تبعاً لابن الهمام فالحق فیما یظهر هو الفساد، والامر بالقتل لا یستلزم صحة الصلوة مع وجوده کما فی صلوة الخوف،بل الامر فی مثله لاباحة مباشرته وان کان مفسداً للصلوة....الخ (شامی مع الدرالمختار ج: ۱،ص: ۶۵۱،مطلب الکلام علی اتخاذ المسجد)۔

۲] اوګورئ تیره شوی حاشیه: (لا)یکره (قتل حیة او عقرب) ان خاف الاذی .....(مطلقاً)....الخ)۔

مهرباني وکړئ چې په کوم حدیث کې دا حکم دی؟ دا کوم مستند روایت دی چې د موراو پلار په احترام کې د لمونځ ماتولو هدایت شوی دی؟

جواب: درمختار(**باب ادراک الفریضة**)کې لیکل شوي دي چې که فرض لمونځ کې وي، نو د موراو پلار په اواز دې نه ماتوي، خو که هغوی په څه ناګهاني افت کې اخته شوي وي او هغه ته د مدد له پاره اواز وکړي په دې صورت کې د موراو پلار خصوصیت نشته، بلکې د یو نفس بچ کولو له پاره لمونځ ماتول ضروري دي او که په نفل لمونځ کې وي او موراو پلار ته ددې علم وي، نو نه دې ماتوي او که هغوی ته علم نه وي، نو لمونځ ماتولو سره دې جواب ورکړي [۱]

خلاصه دا چې په دوه صورتونو کې به لمونځ نه ماتوي او په یو صورت کې به یې ماتوي. تر کومه چې د روایت تعلق دی، په حدیث کې د جریج راهب قصه راځي چې هغه ته د هغه مور اواز وکړ او هغه په لمانځه کې و، له دې وجې یې جواب ورنکړ .اخر دا چې مور ورته بددعا وکړه او هغه بددعا هغه ته ولګیدله اوږده قصه ده.هغه په نفل لمانځه کې و او د هغه مور ته ددې علم نه و، له دې وجې هغه ته لمونځ ماتولو سره هغې ته اواز ورکول پکار و.[۲]

لمونځ په کومو حالتونو کې ماتیدای شي؟

سوال: د کومې مجبوري له وجې نه لمونځ ماتیدای شي؟مثلاً:هوا خارج شي،خطرناك ځناور مخې ته راشي،کور کې سړي یواځې لمونځ کوي او دروازې ته څوك راشي،کور کې یوازې لمونځ کوي او ویده ماشوم ویښ شي او په ژړا شي،انغری کې کېښودل شوې کټوه هیره شي،د بدن نه وینه روانه شي،ایا داسې حالتونو کې لمونځ ماتولو باندې ګناه شته؟

جواب: کوم عذرونه چې تاسو لیکلي دي، نو دې کې لمونځ ماتول صحیح دي ،ځکه چې په داسې تشویش کې لمونځ کول مکروه دي. **والله اعلم**.[۳]

۱] ویجب القطع لنحو انجاء غریق او حریق،ولو دعاه احد ابویه فی الفرض لا یجیبه الا ان یستغیث به، وفی النفل ان علم انه فی الصلوة فدعاه لا یجیبه والا اجابه . والحاصل ان المصلی متی سمع احداً یستغیث وان لم یقصده بالنداء، او کان اجنبیاً وان لم یعلم ماحل به او علم وکان له قدرة علی اعانته وتخلیصه وجب علیه اغاثته وقطع الصلوة فرضاً کانت او غیره .....فلا تجوز اجابته(الام) بخلاف ما اذا لم یعلم انه فی الصلوة فانه یجیبه،لما علم فی قصة جریج الراهب،ودعاء امه علیه (شامی ج:۲،ص:۵۱، ۵۲)_

۲]عن أبي هريرة : عن النبي صلى الله عليه و سلم قال (لم يتكلم في المهد إلا ثلاثة عيسى وكان في بني إسرائيل رجل يقال له جريج كان يصلي جاءته أمه فدعته فقال أجيبها أو أصلي فقالت اللهم لا تمته حتى تريه وجوه المومسات وكان جريج في صومعته فتعرضت له امرأة وكلمته فأبى فأتت راعيا فأمكنته من نفسها فولدت غلاما فقالت من جريج فأتوه فكسروا صومعته وأنزلوه وسبوه فتوضأ وصلى ثم أتى الغلام فقال من أبوك يا غلام ؟ قال الراعي قالوا نبني صومعتك من ذهب ؟ قال لا إلا من طين.(بخاری ج:۱،ص:۴۸۹،باب قول الله عزوجل واذکر فی الکتب مریم)

۳]وکره....صلاته مع مدافعة الاخبثین او احدهما او لریح للنهی.وفی الشامیة:[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

❖ په لمانځه کې د اوداسه ماتیدل ❖

....

د لمانځه په دوران کې د هوا منع کونکي د لمانځه حکم

سوال: د لمانځه په دوران کې که د هوا د خارج کېدو ویره وي، نو ایا موږ هوامنع کولی شو؟ او که موږ یې منع کړو ،نو ایا لمونځ کیږي؟

جواب: داسې کول مکروه دي لمونځ کیږي.[۱]

د لمانځه په دوران کې د اودس په ماتیدلو باندې د پاتې لمونځ ادا کول

سوال: که د لمانځه دوران کې اودس مات شي، نو پاتې لمونځ څنګه ادا کول پکار دي؟

جواب: لمونځ دې په هغه ځای پریږدي او خاموشي سره دې اودس وکړي،د چا سره دې خبرې نه کوي او د کوم ځای نه چې یې لمونځ پریښی وي،بیا راتلو سره دې د هغه ځای نه شروع کړي، خو ددې مسائل ډیر زوږ دي،د عوامو له پاره مناسب ده چې د سر نه لمونځ شروع کړي او که د امام صاحب اودس مات شوی وي، نو په صف کې دې څوک مخکې کړي او خپله دې اودس کولو نه وروسته د مقتدیانو په صف کې شریک شي[۲]. بې اودسه لمونځ جاري ساتل جائز نه دي،بلکې سخته ګناه ده، ځینې علماء کرام فرمایي چې په دې کې د کفر ویره ده.[۳]

....بقیه د تیرمخ]..قال فی الخزائن:سواء کان بعد شروعه او قبله فان شغله قطعها ان لم یخف فوت الوقت وان اتمها اثم (شامی ج:۱،ص:۶٤۱،مطلب فی الخشوع)

۱] ویکره ان یدخل فی الصلوة وقد اخذه غائط او بول لقوله علیه السلام : لا صلوة بحضرة الطعام ولا وهو یدافعه الاخبثان.متفق علیه (کبیری ص:۳٦٦) وایضاً عن ابی هریرة رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: لا یحل لرجل یؤمن بالله والیوم الآخر ان یصلی وهو حقن حتی یتخفف (سنن ابی داؤد ج:۱، ص:۱۲،شامی ج:۱،ص:٦٤۱)_

۲]ومن سبقه الحدث فی الصلوة انصرف فان کان اماماً استخلف وتوضا وبنی.....ولنا قوله علیه السلام : من قاء او رعف او امذی فی صلوته فلینصرف ولیتوضا ولیبن علی صلوته ما لم یتکلم (هدایة ج:۱،ص:۱۲۸وکذا فی البدائع الصنائع ج:۱،ص:۲۲۰،فصل فی بیان ما یفسد الصلوة)_

۳] ان الصلوة بغیر الطهارة متعمداً لیس بکفر......وقیل کفر کالصلوة الی غیرالقبلة او مع ثوب النجس عمداً،لانه کالمستخف والاصح انه لو صلی الی غیرالقبلة او مع ثوب النجس لا یکفر،لان ذلک یجوز اداؤه بحال ولو صلی بغیر طهارة متعمداً یکفر،لان ذلک یحرم لکل حال فیکون مستخفاً (مرقاة شرح المشکوة ج:۱،ص:۲۷۳،باب ما یوجب الوضوء،الفصل الاول،طبع بمبی)_

كه د مقتدي يا امام اودس مات شي نو د جمعې نه په وتلو سره به څنګه لمونځ پوره كوي؟

سوال: ما د يو مولانا نه پوښتنه وكړه چې مقتدي په اول صف كې ولاړ وي جمعه ولاړ ده د هغه اودس مات شي، نو هغه به څه كوي؟ هغه وويل كه د وروسته تللو ځاى نه وي. نو هم هلته دې ناست وي، وروسته دې ځانته لمونځ وكړي، خو د بل مولانا نه مې پوښتنه وكړه. نو هغه وايي چې هر ممكن كوشش دې وكړي چې هغه بهر ته راوځي او اودس كولو نه وروسته دې په دويم ځل شامل شي، زه تاسو نه پوښتنه كول غواړم چې په ذواړه مسئلو كې كومه يوه صحيح ده؟ او كه د امام صاحب اودس مات شي، نو د هغه له پاره څه حكم دى؟

جواب: د كوم انسان چې اودس مات شي هغه دې په پوزه باندې لاس كيښودلو سره د صف نه راوځي او اودس كولو نه وروسته دې په دويم ځل په جمعه كې شامل شي. كه امام وي. نو وروسته يو مقتدي دې امام جوړ كړي او خپله دې اودس كولو نه وروسته په جمعه كې شامل شي، كه د صف نه د وتلو ګنجائش نه وي، نودصف مخې ته تيريدو سره دې يو اړخ ته ووځي. د چا چې اودس مات شوى وي د هغه له پاره غوره هم داده چې د اودس كولو نه وروسته لمونځ د سر نه شروع كړي او كه په هيڅ طريقې سره وتل ممكن نه وي. نو لمونځ ماتولو سره دې د لمانځه نه ووځي (يعنې په خپل ځاى دې ناست وي.[۱]

د دوه ركعتونو نه وروسته د اودس د ماتيدو نه وروسته څور ركعتونه كول پكار دي؟

سوال: فرض، سنت او نفل د څلور ركعتونو نيت يې وكړ،د دوه ركعتونو نه وروسته يې اودس مات شو،نو هغه دې څلور ركعته وكړي او دوه ركعته؟ ځكه چې هغه دوه ركعته كړي دي او د چا سره يې خبري هم نه دي كړي،فورا يې اودس وكړ؟

جواب: فرض،وتر او سنت موكده خو دې پوره دوباره وكړي،نفل او سنت غير موكده دوه كول كافي دي.[۲]

۲] (وان سبقه الحدث توضا وبنى) لقوله عليه السلام : من قاء او رعف او امذى فى صلوته فلينصرف وليتوضا وليبن على صلوته ما لم يتكلم فان كان منفرداً ان شاء عاد الى مكانه،وان شاء اتمها فى منزله والمقتدى والامام يعودان الا ان يكون الامام قد اتم الصلوة فيتخيران،والاستيناف افضل لخروجه عن الخلاف......وان كان اماماً استخلف لقوله عليه السلام :ايما امام سبقه الحدث فى الصلوة فلينصرف ولينظر رجلاً لم يسبق بشئ فليقدمه ليصلى بالناس (الاختيار لتعليل المختار،ايضاً:هداية ج:۱،ص:۱۲۸،باب الحدث فى الصلوة، ج:۱، ص:۶۳،طبع دارالمعرفة بيروت)۔

۲] ومن ثمة صرحوا بانه لو نوى اربعاً لا يجب عليه بتحريمتها سوى الركعتين فى المشهد عن اصحابنا وان القيام الى الثالثة بمنزلة تحريمة مبتداة،حتى ان فساد الشفع الثانى لا يوجد فساد الشفع الاول (شامى مع الدرالمختار ج:۱،ص:۴۵۹)۔

د لمانځه نه وروسته ورته یاد شو چې اودس مې نه و، نو دوباره دې وکړي

سوال: مسئله داسې ده چې ما د مازدیګر د لمانځه نه مخکې اودس وکړ، وروسته له دې نه زما اودس مات شو، خو د ماښام په وخت کې زما پوره یقین و چې زما د مازدیګر اودس تر اوسه پورې شته، همدغه شان ما د ماښام لمونځ ادا کړ، خو د نیمې ګنټې نه وروسته ما ته پوره رایاد شو چې ما دا لمونځ بې اودسه وکړ، ځکه اودس خو د مازدیګر د لمانځه نه وروسته مات شوی و، ایا زمونږ لمونځ اوشو که نه؟

جواب: چې کله ستاسو پوره یقین شو چې لمونځ مې بې اودسه کړی دی، نو بیا اودسه خو لمونځ نه کیږي، په دې وجه دهغه راګرځول فرض دي.[۱]

چې اودس یې مات شي نو د صف نه به څنګه اوځي؟

سوال: که د یو مقتدی اودس مات شي، نو د صف نه څنګه وتل پکار دي؟

الف: په صف کې د ولاړو کسانو مخې ته تلو سره بهر شي؟

ب: په خپل ځای باندې د وروستي صف والاکس ودروي او بهر شي؟

جواب: دواړه صورتونه صحیح دي، خو دویم صورت غوره دی.[۲]

که په لویه اجتماع کې اودس مات شي نو څه وکړل شي؟

سوال: مسئله دا ده چې اودس مات شي نو فوراً دې لمونځ مات کړي او له صفونو نه دې بهر راوځي، سوال دا دی چې په رایبونډ کې ډیره لویه اجتماع وي چې د هغې صفونه د شپیتو یا اویاوو نه زیات وي، که په اولني صف کې څوک ولاړ وي او اودس یې مات شي نو څه به کوي؟ او دومره لویې مجمع نه راوتل خو مشکل دي، ایا نیغ راووځي، د لمونځ کونکو مخې نه یا هلته ناست واوسیږي؟

جواب: که صف ته مخامخ تلو سره راوځی نو هم څه حرج نشته او که لمونځ مات کړي او هلته کیني، دجماعت ختمیدونه وروسته ځي نوهم صحیح ده، داودس ماتیدونه وروسته دې لمانځه کې نه شریکیږي.[ایضاً]

---

[۱] عن ابن عمر عن النبی صلی الله علیه وسلم : لا تقبل صلوة بغیر طهور الحدیث (ترمذی ج:۱،ص:۲)۔

[۲] (وان سبقه الحدث توضا وبنی) لقوله علیه السلام : من قاء او رعف فی صلوته فلینصرف ولیتوضا ولیبن علی صلوته ما لم یتکلم فان کان منفرداً ان شاء عاد الی مکانه،وان شاء اتمها فی منزله والمقتدی والامام یعودان الا ان یکون الامام قد اتم الصلوة فیتخیران،والاستیناف افضل لخروجه عن الخلاف......وان کان اماماً استخلف لقوله علیه السلام :ایما امام سبقه الحدث فی الصلوة فلینصرف ولینظر رجلاً لم یسبق بشئ فلیقدمه لیصلی بالناس (الاختیار لتعلیل المختار،ایضاً:هدایة ج:۱،ص:۱۲۸،باب الحدث فی الصلوة،ج:۱،ص:۶۳،طبع دارالمعرفة بیروت)

که لمانځه کې اودس مات شي، نو صف نه به څنګه اوځي؟

سوال: جمعه کې یو سړی په لومړي صف کې ولاړ وي،ناڅاپه يې اودس مات شي او د وتلو لپاره څه ځای هم نه وي،نوڅه ډول له صف څخه ووځي؟

جواب: د وروسته صف نه دې یو کس را وړاندې کړي، یا دې صف ته مخامخ لاړ شي او په دیوال دې واوړي [ایضاً]

که د لمانځه پرمهال اودس مات شی نو پاتې لمونځ به څنګه پوره کوی؟

سوال: د مقتدی اودس مات شو،د اودس کولو لپاره لاړ،دې دوران کې يې چاسره کلام نه دی کړی،بیا راشي ،نو خپل پاتې لمونځ به ادا کوی یا به دوباره پوره لمونځ ادا کوي؟

جواب: غوره خو دا ده چې د له سر نه لمونځ شروع کړي،خو که غواړي نو همدغه لمونځ دې پوره کړي او ددې طریقه دا ده چې که امام تردې وخت پورې د لمانځه نه فارغ شوی نه وي، نو د لمانځه چې څومره حصه دده په غیرحاضري کې شوې ده،اول دې هغه ادا کړي او بیا دې امام سره یوځای شی او که دده راتلو پورې امام فارغ شوی وي، نو څومره لمونځ چې ورته پاتې دې هغه دې هما غه شان ادا کړي، لکه چې امام پسې وي [ایضاً]

❖ د معذور احکام ❖

....

چې اودس او تیمم نه شي کولی ، لمونځ او تلاوت څنګه وکړي؟

سوال: ما ستاسو په کالم کې لوستلي و، چې له اوداسه پرته د قران پاک مسح کول جائز نه دي، خو زه اودس کولی نه شم،ځکه چې الله پاک زه معذورکولوسره په کټ کینولي یم،په ما کې دومره طاقت نشته چې زه د کټ نه ښکته شم،ما خپله مور لمبوي او هغه مي متیازو ته بیايي،زما د قرآن کریم د تلاوت ډېر زیات شوق دی، نو ایا زه له اوداسه پرته قرآن کریم مسح کولی شم؟ د الله پاک فرمان دی چې که تاسو لمونځ په ولاړه نه شئ کولی ،نو په ناسته يې کوئ او که په ناسته يې نه شئ کولی ،نو په ملاسته يې کوئ ،خو زه نه تیمم کولي شم نه اودس، نو لمونځ څنګه وکړم،که له اوداسه پرته لمونځ کیږي، نو تاسو يې ماته بیان کړئ

جواب: بل څوک دې تاسو ته اودس درکوي[1] او د قرآن کریم تلاوت تاسو له اودس نه پرته

۱] (وعدم بغيره) الا لعذر،واما استعانته عليه السلام بالمغيرة فلتعليم الجواز(وفي الشامية) وظاهر ما في شرح المنية انه لاكراهة اصلاً اذا كانت بطيب قلب ومحبة من المعين من غير تكليف من المتوضي وعليه مشى في هداية ابن العماد (الدرالمختار مع الشامي ج:۱،ص:۱۲۶،مطلب في مباحث الاستعانة في الوضوء بالغير)۔

هم کولی شئ د قرآن کریم پاڼې په څه کپړې وغیره سره اړوئ.[۱]

د معذور لمونځ څنګه وي؟

سوال: جناب زه د متیازو په بیماری کې اخته یم، پنځه وخته لمونځ ادا کوم او قران کریم هم لولم، مسئله داده چې زه کله هم د متیازو کولو نه وروسته پاځم یا استنجاء کولو سره پاځم ،نو د متیازو څاڅکي په جامو باندې وغورځیږي،دویمه خبره داده چې زه د ګیس تربل مریض یم او منټ منټ وروسته زما نه ګیس هم خارجیږي،ما د لمانځه په کتابونو کې لوستلي دي چې په لمانځه کې هوا بندول نه دی پکار او د استنجاء کولو نه وروسته که بیا هم متیازې اوڅاڅي. نو دلمونځ به څه صورت وي؟ دا لمونځ به د معذور لمونځ وي اوکه نه؟ بعضې وخت شیطان حمله وکړي چې په داسې صورت کې لمونځ نه کوم،خو زه لمونځ پریښودل نه غواړم،هر لمانځه ته تازه اودس کوم،د جمعې په ورځ دوه ځله اودس کوم زما دا پریشاني لیرې کړئ مهرباني به مووي.

جواب: لمونځ خو تاسو مه پریږدئ،ستاسو د حالاتو نه معلومیږي چې تاسو شرعا معذور یئ،د هر لمانځه له پاره یو ځل اودس کول کافي دي، د لمانځه له پاره جامه بیله ساتئ که هغه په لمانځه کې ناپاکه شي، نو هغومره برخه ووینځئ.[۲]

یو څوک معذور کله شماریږي؟

سوال: زما اودس نه پاتې کیږي، ما په اخبار کې د معذور مسئله لوستلې وه، زه ددې لږ وضاحت غواړم، زما اودس زیات تر د هوا د خارجیدوله وجې ماتیږي او کله زیات وخت هم پاتې کیږي، زه په دې باندې پوهیدل غواړم چې د لمانځه او د تلاوت له پاره څه وکړم؟

جواب: د لمانځه نه مخکې چې کله هم اودس کوئ، نو ښه اطمینان سره یې وکړئ، ددې له پاره چې اودس سره لمونځ وکړل شي، په هرحال تاسو معذور نه یئ.[۳]

معذور که د سهار د اذان نه مخکې اودس وکړي نو ایا لمونځ کولی شي؟

سوال: که یو سړی د معذور په حکم کې وي (یعني)د هر لمانځه له پاره نوی اودس کوي. په

۱] الحدث اذا كان يقراء القرآن بتقليب الاوراق بقلم او سكين لا باس به كذا في الغرائب (فتاوى عالمگيرى ج:۵،ص:۳۱۷) ايضاً: ولا يجوز للمحدث والجنب مس المصحف الا بغلافه (الاختيار ج:۱،ص:۱۳)۔

۲] (وصاحب عذر من به سلس) بول لا يمكنه امساكه(او استطلاق بطن او انفلات ريح او استحاضة) ......(ان استوعب عذره تمام وقت صلوة مفروضة) بان لا يجد في جميع وقتها زمناً يتوضا ويصلى فيه خالياً عن الحدث (ولو حكماً) (الدرالمختارمع التنوير ج:۱،ص:۳۰۵)۔

۳] وصاحب عذر..... ان استوعب عذره تمام وقت صلوة مفروضة) بان لا يجد في جميع وقتها زمناً يتوضا ويصلى فيه خالياً عن الحدث (ولو حكماً) (الدرالمختارمع التنوير ج:۱،ص:۳۰۵)

دې صورت کې د سهار په لمانځه کې د صبح صادق شروع کېدو نه وروسته که د سهار د اذان نه مخکې اودس وکړي، نو لمونځ پرې کیږي او که نه؟

جواب: چې د سهار وخت شي، نو دده اودس کول صحیح دي.[١]

که پښه د ښنګرو نه پرې شوې وي نو د مصنوعي پښې وینځل ضروري نه دي

سوال: زه په یو پښه معذور یم. هغه په یو حادثه کې ضائع شوې وه. زه مصنوعي پښې لګولو سره دفتر ته ځم. په دفتر کې د ماسپښین د لمانځه له پاره دا ممکن نه ده چې زه پښه پرانستلو سره اودس وکړم او په یو ځای باندې ناسته کولو سره لمونځ ادا کړم. په داسې صورت کې تیمم کولو سره په کرسۍ باندې لمونځ ادا کولی شم؟ اکثر د واده په محفلونو کې یا د چا مړګ ته لاړ شم. نو همدغه مشکل راته پیښیږي چې لمونځ څنګه ادا کړم؟ له دې وجې ماته څه داسې طریقه بیان کړئ چې، په هغې سره لمونځ وکړم؟

جواب: که د ښنګرو نه پورته پښه پرې شوې وي، نو د مصنوعي پښې د پرانستلو ضرورت نشته. ځکه چې ددې پښې وینځل ساقط شوي دي[٢]، که تاسو په ناسته باندې سجده کولی شئ، نو په کرسۍ باندې ناستې سره اشاره کافي نه ده او که رکوع او سجده دواړه اشارې سره کوئ، نو په کرسۍ باندې کیناستلو سره اشاره هم صحیح ده[٣]

د ناروغۍ له وجې د اودس نه تینګېدو سره د لمانځه ادا کول

سوال: تاسو د یو صاحب د سوال په جواب کې بیان کړي و، چې د مجبورۍ په حالت کې لمونځ قضاء کول نه دي پکار، حال دا چې د مجبورۍ په حالت کې اودس هم نه وي، مهرباني وکړئ ددې باره کې په تفصیل سره جواب راکولو سره د شکریه موقع راکړئ.

جواب: دا تاسو ته چا غلط ویلي دي، د شریعت حکم دادی چې که د چا اودس د ناروغۍ له وجې نه پاتې کیږي. نو هغه ته به معذور وایي او د لمانځه په وخت کې د هغه له پاره یو ځل اودس کول کافي دي. له دې نه وروسته په وخت کې دننه چې څومره لمونځونه کول غواړي کولی یې شي، ددې خاص عذر په وجه د هغه اودس نه ماتیږي او کله چې د لمانځه وخت تیر شي، نو د هغه اودس به مات شي. اوس دې په دویم ځل اودس وکړي. مثلاً یو معذور د سهار

---

[١] (حکمه الوضوء لکل فرض) اللام للوقت کما فی لدلوک الشمس قوله اللام للوقت ای فالمعنی لوقت کل صلوة ....الخ (شامی ج:١، ص:٣٠٦، مطلب فی احکام المعذور، طبع ایم ایچ سعید)

[٢] (والثالث غسل الرجلین) ویدخل الکعبان فی الغسل عند علمائنا الثلاثة والکعب هو العظم الناتی.....ولو قطعت یده او رجله فلم یبق من المرفق والکعب شئ سقط الغسل ولو بقی وجب کذا فی البحر الرائق (الفتاوی الهندیة ج:١، ص:٥، کتاب الطهارة، الباب الاول)۔

[٣] اذا عجز المریض عن القیام صلی قاعداً یرکع ویسجد......فان لم تستطع الرکوع والسجود او فی ایماء یعنی قاعداً لانه وسع مثله (هدایة ج:١، ص:١٦١، باب صلوة المریض)۔

په وخت اودس وکړ، نو کله چې لمر راوخت، نو د هغه اودس ختم شو، د لمر د راختلو نه وروسته چې کله اودس وکړي، نو د ماسپښین د لمانځه د وخت ختمیدلو پورې به د هغه اودس وي او کله چې د ماسپښین وخت ختم شي، نو د هغه اودس هم ختم شو. الغرض د لمانځه د هر وخت له پاره دې یو ځل اودس کوي بس کافي دی، په دې دوران کې په دې خاص عذر سره د هغه په اودس کې فرق نه راځي هو! که په څه بله وجه مات شي نو بیله خبره ده.[۱]

د متیازو او غټو بولو د حاجت باوجود لمونځ کول مکروه دي

سوال: زما یو مسئله ده چې زما قبض وي، چې د هغې په وجه لمونځ نه شم کولی، کله چې زه لمانځه ته درېږم، نو ماته حاجت پیښیږي، نو زه په دویم ځل اودس وکړم، خو کله داسې کیږي چې د نیت تړلو نه وروسته حاجت وي، بیا هم زه لمونځ پوره وکړم زه پوښتنه دا کول غواړم چې په دې حالت کې ماته لمونځ کول پکار دي او که نه؟ که نه دي کول پکار، نو دا بیان کړئ چې د اودس کولو نه وروسته څه رکعتونه کولو نه وروسته که اودس مات شي، نو په دویم ځل اودس کولو سره لمونځ وکړل شي، یا د هماغه ځای نه د کوم ځای نه چې اودس مات شوی و؟

جواب: که د متیازو یا غټو بولو تقاضا وي، نو لمونځ مکروه تحریمي دی، که اودس مات شي، نو اودس کولو نه وروسته په دویم ځل نیت کول پکار دي.[۲]

د لیکوریا ناروغي والا ښځه به لمونځ څنګه ادا کوي؟

سوال: نن سبا په ښځو کې د (لیکوریا) ناروغي عامه ده او تقریبا په سلو کې اتیا، پنځه اتیا ښځې په دې ناروغي کې اخته دي، ستاسو نه پوښتنه دا ده چې ایا په داسې صورت کې لمونځ هم په دې جامو کې کول پکار دي یا جامې بدلول پکار دي؟ نجاست که په جامې باندې وي او هغه ووینځي، نو بیا هم په هغو جامو کې لمونځ کولی شي؟ د لمونځ کولو دوران کې که نجاست خارج شي، نو لمونځ به په دویم ځل کوي؟

جواب: په دې ناروغي کې خارجیدونکې اوبه ناپاکې دي[۳] کومه جامه چې په دې باندې ګنده شي په هغې کې دې لمونځ نه کوي، خو د جامې ناپاکه برخه که وینځلو سره پاکه کړل شي، نو په هغې کې لمونځ درست دی.

۱] (وصاحب عذر من به سلس) بول لا یمکنه امساکه.....(وحکمه الوضوء لکل فرض ثم یصلی) به (فیه فرضاً ونفلاً) فاذا خرج الوقت بطل ای ظهر حدثه السابق (الدرالمختار مع التنویر ج:۱،ص:٦، ۳۰۵)۔

۲] ویستحب لمدافعة الاخبثین) وفی الشامیة: ان کان ذلک یشغله ای یشغل قلبه عن الصلوة وخشوعها فاتمها یاثم،لادائها مع الکراهة التحریمیة.....الخ (الدرالمختار مع الشامی ج:۱،ص:٦٥٤)۔

۳]ومن وراء باطن الفرج فانه نجس قطعاً ککل خارج من الباطن کالماء الخارج مع الولد او قبیله اهـ (شامی ج:۱،ص:۳۱۳،باب الانجاس،طبع ایم ایچ سعید)۔

ترڅو پورې چې د لمونځ د دویم ځل کولو خبره ده. ددې له پاره د معذور مسئله باندې ځان پوهول پکاردي. د کوم انسان چې د یوې ناروغۍ له وجې نه اودس نه پاتې کیږي. هغه ته معذور وایي. یو شرط د معذور جوړیدو له پاره دی او یو شرط د معذور پاتې کیدو له پاره دي. د معذور جوړیدو له پاره شرط دادی چې د لمانځه په پوره وخت کې هغه ته دا مهلت پیدا نه شي چې هغه د پاکوالي سره لمونځ وکړي[1]. د داسې سړي حکم دادی چې هغه دې د هر لمانځه له پاره یو ځل اودس کوي ،ځو پورې چې هغه وخت باقي وي د هغه خاص عذر له وجې به هغه اودس نه ماتیږي. کله چې وخت خارج شي. نوپه دویم ځل دې اودس وکړي کله چې یو سړی یو ځل معذور جوړ شي، نو د هغه د معذور کیدو حد دادی چې په وخت کې هغه ته کم نه کم یو ځل دا عذر پیښ شي که پوره وخت تیرشو او هغه ته دا عذر پیښ نه شو نو دا معذور نه دی.

نو کومې ښځو ته چې د حیض نه وروسته لیکوریا دومره سخته وي چې هغوی په پوره وخت کې د طهارت سره لمونځ نه شي کولی. په هغو باندې به د معذور حکم جاري وي او د هغو له پاره به د هر لمانځه په وخت کې یو ځل اودس کول کافي وي. خو که دومره سخته نه وي، نو هغه معذوره نه ده، که د اودس نه وروسته د لمانځه نه مخکې یا د لمانځه نه وروسته او به خارجې شي، نو هغوی ته په دویم ځل اودس کولو سره لمونځ کول ضروري دي.[2]

د ځاځکي ځاځکي متیازو راتلو سره لمونځ ادا کول

سوال: زید ته تکلیف دی چې متیازې یې ځاځکي ځاځکي راځي، جامې یې پاکې نه پاتې کیږي. نو هغه به د لمانځه له پاره څه کوي؟

جواب: هر لمانځه ته دې اودس کوي او د لمانځه له پاره دې صفا ځادر ځان سره ساتي، د لمانځه نه فراغت سره دې هغه لیرې کړل شي، خو که کله ځادر نه وي. نو د پاجامې دومره برخه چې د هغې باره کې دا ویره وي چې هغه به ناپاکه شوي وي، په وخت وخت دې وینځي. په هرحال څنګه چې هم کېدلی شي هغه دې لمونځ ضرور کوي.[3]

---

[1] وصاحب عذر.....ان استوعب عذره تمام وقت صلوة مفروضة بان لا يجد فى جميع وقتها زمناً يتوضا ويصلى فيه خالياً عن الحدث.....وهذا شرط فى العذر فى حق الابتداء وفى حق البقاء كفى وجوده فى جزء من الوقت ولو مرة وفى حق الزوال يشترط استيعاب الانقطاع تمام الوقت (الدرالمختار ج: ۱،ص:۳۰۵)۔

[2] ومن به سلس البول اى عدم استمساكه والمستحاضة....وكذا من به الرعاف الدائم وانفلات الريح او استطلاق البطن يتوضؤن لوقت كل صلوة فيصلون بذلك الوضوء فى الوقت ماشاؤا من الفرائض والنوافل ...فاذا خرج الوقت بطل وضوءهم...وكان عليهم استيناف الوضوء لصلوة اخرى..الخ(حلبى كبيرص:۱۳۳)

[3] تیره شوی حاشیه (ومن به سلس البول اى عدم استمساكه والمستحاضة....الخ) او گورئ)۔

د هوا د معذوري سره په جمعه کې شریکېدل

سوال: د تخلیق په اعتبار سره په انساني زندګي کې غټې بولې او متیازې او هوا وغیره جوړیدل او خارج کېدل فطري تقاضا ده،دا د ویستلو نه بندول د طب په اعتبار سره ډېر زیات نقصان ورکونکي دي،تر دې چې که د هوا د بندولو سره دهغې رخ د زړه طرف ته شي. نو د زړه د حرکت بندیدلو سره مرګ هم واقع کیدلی شي. له دې نه پرته ددې بندولو سره په لمانځه کې خلل هم پیدا کیږي،چې دهغه له وجې هم چې کله زړه متوجه نه وي، نو لمونځ باطل کېدلی شي،لهذا کله چې الله پاک ارشاد فرمایي چې په دین کې جبر نشته، نو بیا موږ ولې د هوا بندولو سره خپل ځانونه په فطري تقاضو باندې ظلم کولو سره په هلاکونکي مرضونو کې د اخته کېدو دعوت ورکوو. ددې شیانو په پوره کېدو کې هم د قدرت لاس دی. له دې نه پرته کوم انسان ته چې د هوا سخته ناروغي وي. نو هغه به د کوم وخته پورې اودس کوي؟ لمونځ به ماتوي؟ وروسته الله پاک د مجبوري له وجې نه معاف کولی هم شي،هو! دومره ضرورده چې داسې انسان له داحتیاط نه کاراخستلوسره په اخري صف کې لمونځ ادا کول ډېر زیات غوره معلومیږي چې د نورو لمونځ کونکو په لمانځه کې خلل پیدا نه شي.

جواب: داسې انسان چې د هغه اودس نه پاتې کیږي،معذور بلل کیږي. د معذور جوړیدو له پاره شرط دادی چې په هغه باندې د لمانځه پوره وخت په داسې حال کې تیر شي چې هغه پوره وخت کې فرض رکعتونه هم پرته د عذر نه نه شي کولی او کله چې یو ځل معذور شو، نو د معذور جوړیدو له پاره شرط دادی چې په پوره وخت کې کم نه کم یو ځل دا عذر ضرور پیښ شي،که پوره وخت تیر شي او هغه ته دا عذر پیښ نه شو(مثلاً هوا نه وي خارجه شوي)نو دا سړی به معذور نه وي،د معذور حکم دادی چې د هغه له پاره د هر لمانځه له پاره یو اودس کول کافي دي،ددې عذر له وجې د هغه اودس نه ماتیږي اوکله چې وخت ووځي. نودهغه اودس به مات شي،اوس به د بل وخت له پاره بل اودس کوي.[1]

ذهني معذور به څنګه لمونځ کوي؟

سوال: د فالج او د ذهني ناروغي له وجې زما نیم ذهن مفلوج شوی و .الحمدلله اوس یوڅه حد پورې صحیح شوی دی،خوزما په یاداښت باندې یې دا اثر پریښی دی. چې کله لمونځ ترتیب سره قیام، رکوع، سجده او متن سره یاد وي چې کله یې شروع کړم، نو نه یوازې متن ګډوډ شي، یعنې ایتونه وړاندې وروسته شي، بلکې غلط یادیږي. ټول وخت په شك کې اخته یم چې غلط مې څه لوستلي دي، په دویم او دریم ځل باندې د لوستلو کوشش کوم،خود

۱] تیره شوی حاشیه (وصاحب عذر.....ان استوعب عذره تمام وقت صلوة مفروضة....الخ) او وروستی حاشیه(ومن به سلس البول ای عدم استمساکه والمستحاضة.....الخ) اوګورئ)۔

لوستلو نه وروسته راته یاد شي چې صحیح نه و. زما زړه غواړي چې لمونځ وکړم.خو ددې ویرې له وجې ئه یې نه کوم چې د غلطي کولو له وجې نه به ګناهګار شم. ایا د لمانځه ارکان یعني قیام.سجده.رکوع د څه لوستلو نه پرته هم ادا کیږي؟دا هم وایم چې د ناروغي له وجې نه دجمعې لمانځه نه مکمل معذور یم.کورکې په ناستې سره د لمانځه ارکان ادا کولې شم. لوستلی یې نه شم، هسې خلکو ته د شریعت د مسئلې اردو کې د لمانځه طرفته رغبت او د لمونځ کونکو د پابندي تلقین کوم، په خپله هم نیك کارونه کوم او نورو خلکو ته هم په دې باندې د عمل تاکید کوم، زما له پاره څه مناسب دي؟

جواب: تاسو دذهني طور سره معذور یئ. له دې وجې نه چې څنګه هم درنه کېدای شي، نو لمونځ کوئ او د وړاندې وروسته کېدو له وجې د پریشانه کېدو ضرورت نشته، څومره چې ممکن وي، نو توجه سره د لمونځ کولو کوشش کوئ. بیا بیاد کولو ضرورت نشته.الله تعالی به یې قبول کړي.

د چا اودس چې نه پاتې کیږي هغه به لمونځ څنګه ادا کوي؟

سوال: زه ډیر زیات پریشان یم ،څکه چې رمضان المبارك راروان دی. له دې وجې نه ستاسو نه مسئله معلومول غواړم هغه داده چې زما اودس قائم نه پاتې کیږي چې له وجې یې زه لمونځ هم نه شم کولی. حالانکې زه مخکې د لمانځه او د قرآن پاك د تلاوت هم پابند وم.خواوس زه نه د لمانځه پابندي کولی شم او نه د قرآن پاك تلاوت کولی شم. څکه چې اودس مې قائم نه پاتې کیږي.له دې وجې نه ذهني پریشانه یم.کور کې جنګ وي چې لمونځ وکړه،تلاوت وکړه.اوس زه ډېر زیات ذهني پریشانه یم. څکه چې زه دجمعې لمونځ نه شم کولی او چې یوازې یې په دوکان کې یا کور کې وکړم، نو یو ذهني انتشار شان وي او نه راته د زړه اطمینان وي.

جواب: که ستاسو اودس قائم نه پاتې کیږي. مثلاً د سهار په پوره وخت کې تاسو دوه رکعته فرض اطمینان سره نه شئ کولی،دغه شان نوړلمونځونه، نو تاسو دمعذور په حکم کې یئ [۱] معذور سړي ته په وخت کې یو ځل اودس کول کافي دي.ترڅو چې همدغه وخت وي، نو ددې عذرله وجې نه دده اودس نه ماتیږي.خوکله چې وخت تیر شي. نو دده اودس به مات شي.دغه وخت به بیا نوی اودس کوئ، مثلاً: تاسو د ماسپښین د وخت د شروع کېدو نه وروسته اودس وکړ. نو ترڅو چې د ماسپښین وخت موجود وي. نو ستاسو اودس به باقي ګڼل کیږي او دې اودس سره چې تاسو څومره فرض، نفل. قضا او تلاوت کول غواړئ. نو کولی یې شئ.خوکله چې د ماسپښین وخت ختم شي، نو ستاسو دا اودس به ختم شي. د مازدیګر د لمانځه له پاره

---

[۱]]وصاحب عذر.....ان استوعب عذره تمام وقت صلوة مفروضة بان لا يجد في جميع وقتها زمنا يتوضا ويصلى فيه خالياً عن الحدث (الدرالمختار مع التنوير ج:۱،ص:۳۰۵،باب الحيض.طبع ايم ايچ سعيد)

نوی اودس وکړئ، دغه شان پنځو وختونو کې تاسو نوی اودس کوئ او وخت کې دننه هم دغه اودس سره چې څومره فرض، نفل، قضا او تلاوت وغيره کول غواړئ، نو کولی يې شئ.[1]

د لمونځ ورکولو په وخت ماته معلومه وه چې د مذي يا د بولو قطره زما په جامو باندې لګېدلې ده نو لمونځ وشو؟

سوال: کوم دفتر کې چې ما نوکري کوله، نو هلته به ما لمونځ هم ورکاو، نو ماته د قطرو ناروغي ده، يوځل ما لمونځ ورکړ، نو ماته معلومه وه چې د مذي يا د بولو قطره زما په جامو لګېدلې ده، خوما استنجا او اودس کړی و، خوجامه مې وينځلې نه وه او په دې حالت کې مې لمونځ ورکړ، نو ايا لمونځ وشو؟او که شوی نه وي، نو اوس به څه کول وي؟او چا چې زما په اقتدا کې لمونځ کړی و د هغوی د لمونځ به څه کيږي؟ او اوس خو هغوی دفتر هم پريښی دی.

جواب: د نجاست خوريدل که د يوې روپۍ (د کومې تصويرچې د يو روپۍ په نوټ باندې چاپ شوی وي) برابر و يا له دې نه کم و، نو لمونځ وشو، که نه، نه دی شوی، غالبه خبره دا ده چې د قطرې خوريدل به له دې نه کم وي.[2]

که زړه دې مطمئن نه وي، نو هلته دې د لمانځه په وخت کې اعلان وکړل شي چې په فلانی ورځ فلانی لمونځ چې ما کړی و، نو په هغه کې څه غلطي شوې ده.کوم حضرات چې دغه لمانځه کې شريك وو، نو هغوی دې خپل لمونځ په دويم ځل وکړي.

د قطرې شکايت والا شخه به لمونځ څنګه کوي

سوال: ماته د قطرې شکايت ده کوم چې د حد نه زيات شوی دی، تردې چې زه څلور رکعته فرض هم پاکي سره نه شم کولی، زه لمونځ کوم،خوددې ناروغۍ له وجې نه مې زړه نه کيږي او پابندي رانه نه کيږي ماته ووايئ چې د خدای پاك په نزد زما څومره مواخذه ده؟پښيمانه هم يم، ويريدونکې هم يم،د اخرت طرفته فکرمنده هم يم.

جواب: تاسو لباس (پرتوګ) بدلوئ،يا چېرته چې بول لګېدلي وي، نو هغه ځای ووينځئ که اودس نه پاتې کيږي، نو پرواه يې مه کوئ،دغه شان لمونځ کوئ،د هرلمانځه د وخت له پاره يو ځل اودس کوئ،ترڅو چې وخت باقي وي، نو ستاسو اودس به هم باقي وي،چې وخت ختم شي، نو په دويم ځل اودس کوئ او کوم لمونځونه چې قضا شوي دي، نو هغه هم ادا کړئ.[3]

---

[1] وحکمه الوضوء لکل فرض ثم یصلی‌به فیه فرضاً ونفلاً فاذا خرج الوقت بطل (وضوءه) (الدرالمختار مع التنویر ج:١،ص:٣٠٥،باب الحیض،طبع ایم ایچ سعید)

[2] وقدرالدرهم وما دونه من النجس المغلظ کالدم والبول وخرء الدجاج وبول الحمار جازت الصلوة معه وإن زاد لم تجز (فتح القدیر ج:٢،ص:١٤٠)

[3] وحکمه الوضوء لکل فرض ثم یصلی به فیه فرضاً ونفلاً فاذا خرج الوقت بطل (وضوءه) (الدرالمختار مع التنویر ج:١،ص:٣٠٥،باب الحیض،طبع ایم ایچ سعید)

د بولو قطرو والا به اودس څنګه کوي او لمونځ به کله کوي؟

سوال: ماته د بولو تکلیف دی،د بولو کولو نه وروسته تقریباً یو ساعت پورې یو یو قطره راځي، دغه شان نه زه صحیح طور سره لمونځ ادا کولی شم او نه نور کارونه (فرائض)کولی شم. بولې بندولو سره لمونځ کول هم منع دي او بل دا چې موجوده صورت کې د معذر لمونځ کیږي؟

جواب: کوم سړي ته چې د هوا د خارجیدو یا د قطرو د راتلو داسې ناروغي وي چې پوره وخت کې فرض رکعتونه هم ددې عذر نه پرته نه شي کولی، نو دی شرعاً معذور دی،د معذور حکم دادی چې دی به د هر لمانځه د وخت له پاره اودس کوي، ترڅو چې د لمانځه وخت باقي وي، نو دده اودس نه ماتیږي (که بل شي سره مات شي، نو په دویم ځل به اودس کوي) او کله چې د لمانځه وخت ختم شي، نو د معذور اودس هم ختم شو، اوس به د بل لمانځه له پاره نوی اودس کوي، غرض دا چې د لمانځه په وخت کې دننه به دده اودس قائم ګڼل کیږي، ددې عذر له وجې به نه ماتیږي، وخت کې دننه دې اودس سره چې څومره لمونځونه یا تلاوت کول غواړي، نو کولی یې شي.[1]

د بولو قطرې راتلونکی به څنګه لمونځ کوي؟

سوال: زه ستاسو نه د معذور د احکامو په باره کې څه سوالونه کول غواړم،که چاته د بولو کولو نه وروسته د قطرو د راتلو ناروغي وي، نو د هغه دجامو د پاکي یا د ناپاکي څه حکم دی؟که د اودس نه وروسته قطرې لاړې شي، نو څه حکم دی؟د قطرې تللو نه وروسته اودس مات شو؟د لمانځه نه مخکې جامې وینځل ضروري دي، نو دده اودس څومره وخت پورې قائم پاتې کېدای شي؟که د اودس دوران کې قطرې لاړې شي، نو څه حکم دی؟ د لمونځونو دوران کې که قطرې لاړې شي، نو څه حکم دی؟ که د بولو نه پرته نرمه ماده خارجه شي، نو څه حکم دی؟په رمضان کې احتلام وشي، نو څه حکم دی؟

جواب: دا سړی معذور دی او دده حکم دادی چې د هرلمانځه د وخت شروع کېدو نه وروسته دې یوځل اودس کوي، ترڅو چې وخت باقي وي، نو د بولو قطرې تللو سره دده اودس نه ماتیږي او چې وخت ختم شي، نو نوی اودس دې وکړي، غوره داده چې د لمانځه له پاره بېلې جامې وساتل شي او نورو وختونو کې دې بېلې جامې استعمالوي،د لمانځه په وخت کې یې چې کومه جامه اغوستې ده، که په دې کې بولې لاړې شي، نو دادې صفا کړي.[2]

---

[1] وصاحب عذر من به سلسل بول لا يمكنه امساكه او استطلاق بطن او انفلات ريح او استحاضة)..... (ان استوعب عذره تمام وقت صلوة مفروضة) بان لا يجد فى جميع وقتها زمناً يتوضا ويصلى فيه خالياً عن الحدث....... وحكمه الوضوء لكل فرض ثم يصلى) به (فيه فرضا ونفلاً) فاذا خرج الوقت بطل (وضوءه) ....الخ (الدرالمختار مع التنوير ج:۱،ص:۳۰۶)

[2] وحكمه الوضوء لكل فرض ثم يصلى به فيه فرضاً ونفلاً فاذا خرج الوقت[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

د همېشه بولو راتلل عذر دی

سوال: ماته ناروغي لګېدلې ده، مسلسل د بولو قطرې راځي چې د هغو له وجې نه زه مستقل اودس کې او پاك اوسېدلی نه شم،د حکیمانو او ډاکټرانو نه مې ډېر علاج وکړ،خوروغ نه شوم، ددې مرض له وجې نه زه دجمعې سره لمونځ ادا کولی نه شم. زما له پاره په شریعت کې څه حکم دی؟

جواب: که قطرې مستقل راځي، نو تاسو د معذور په حکم کې یئ. یوځل اودس کولو سره د یو وخت لمونځ ادا کوئ، دغه شان به د هر وخت له پاره جدا جدا اودس کول وي. الله پاك دې تاسو ته صحت درکړي.[1]

د بولو قطرې راتلو نکی به څنګه لمونځ ادا کوي؟

سوال: زه پنځه وخته لمونځ پابندي سره کوم، خویو سبب دی چې د هغه له وجې نه زه کله کله سوچ کوم چې لمونځ کول پرېږدم. وجه داده چې ماته د بولو کولو نه وروسته قطرې راځي،که هرڅومره وخت چې په بیت الخلاء کې تیر کړم. بیا هم د بولو قطره ځي، نو تاسو ماته ووایئ چې په داسې صورت حال کې لمونځ پرېږدم یا یې جاري وساتم؟ایا ماته به په لمونځ جاري ساتلو کې عذاب وي؟زر ترزره جواب راکړئ.

جواب: لمونځ جاري ساتئ،د هر لمانځه له پاره اودس کوئ،که قطرې راځي، نو راځي دې،خو داسې کوئ چې د لمانځه نه کافي وخت وړاندې ځان د بولو نه فارغوئ او کله چې قطرې بندې شي. نو بیا جامې بدلې کړئ او لمونځ وکړئ.[2]

د بولو ناروغي او د لمونځ هیریدو نکي د لمونځو نو حکم

سوال: زما والد صاحب مرحوم د لمانځه پابند و،اخري وخت کې د سختې ناروغي په حالت کې هم هغه لمونځ ترك نه کړ،خو په اخري عمر کې هغه ته د بولو سخت تکلیف و، چې د هغه له وجې نه اپریشن هم شو ،له هغه به هر وخت بولې تللې چې له امله به یې جامې او بستره لامده وو،خود لمانځه په وخت کې به هغه اودس وکړ او په بستره به یې په ملاسته لمونځ وکړ،داسې حالت کې د لمونځ ادا کول څنګه دي؟کله کله چې به هغه ویده و، نو مور به دهغه د ارام او د ناروغي په خاطر هغه نه پورته کاو چې له وجې به یې د هغه لمونځ قضا شو،هغه ته به

....بقیه د تیرمخ]..بطل (وضوءه) (الدرالمختار مع التنویر ج:۱،ص:۳۰۵،باب الحیض،طبع ایم ایچ سعید)

[1] وحکمه الوضوء لکل فرض ثم یصلی به فیه فرضاً ونفلاً فاذا خرج الوقت بطل.....الخ (الدرالمختار مع التنویر ج:۱،ص:۳۰۵،)

[2] وحکمه الوضوء لکل فرض ثم یصلی به فیه فرضاً ونفلاً فاذا خرج الوقت بطل.....الخ (الدرالمختار مع التنویر ج:۱،ص:۳۰۵،)

پته نه لګیده اونه به ورته وروسته بیا مور ویل. زمور دا عمل څنګه و؟

جواب: په دې حالت کې هم په هغه باندې لمونځ فرض و اوځنګه چې هغه ادا کاوو، نو دغه شان صحیح و، تاسو چې پرې کوم لمونځونه قضا کړل د هغه له وجې نه تاسو ګناهګار شوئ. د دې لمونځونه فدیه ورکړئ، وتروسره د ورځې د شپې ولمونځونو او د هر لمونځ فدیه د صدقه فطر برابر ده.[١]

د کوم سړي غوږ چې مسلسل بهیږي، هغه به معذور شمارل کیږي

سوال: زما ښي غوږ خراب دی چې اکثروخت بهیږي، زه یې په مالوچو سره صفا کړم او اودس وکړم او لمونځ ادا کړم، ځینې وخت کې د لمانځه نه وروسته که زه غوږ کې ګوته ورکړم، نو ګوتې سره اوبه ولګیږي، که زه د اودس نه وروسته غوږ کې مالوچ کیدم، نو لمونځ کیږي؟که د لمانځه نه وروسته ترینه مالوچ راوباسم او هغه سره اوبه لګیدلي وي، نو لمونځ وشو اوکه په دویم ځل یې وکړم؟که مالوچ کې نږدم او د لمونځ کولو نه وروسته ګوتې سره اوبه ولګیږي، نو لمونځ وشو اوکه نه؟

جواب: که غوږ بهیږي، نو تاسو معذور یئ، په غوږ کې مالوچ ږدئ او په وخت کې دننه چې څومره فرض او نفل لمونځونه کول غواړئ، نو کولی یې شئ، کله چې د نوي لمونځ وخت داخل شي، نو بیا اودس کوئ.[٢]

ایا د معذوري په صورت کې لمونځ اشارې سره جائز دی؟

سوال: د ګونډو د تکلیف له وجې نه زه لمونځ صحیح طریقې سره ادا کولی نه شم. لهذا کرسۍ باندې په ناسته لرګي وغیره باندې سر کیښودلو سره یا یوازې اشارې سره سجده کولی شم اوکه نه؟

جواب: د معذوري په صورت کې د دې اجازه ده.[٣]

د پاخانې (شاته عورت) په طرف باندې د چینجي پریوتونکي سړي لمونځ او اعتکاف صحیح ده

سوال: زما په خیټه کې چینجي دي چې د اودس ماتي نه پرته هم د دبر (شاته عورت) له لوري

---

[١] وفدیة کل صلوة ولو وترا......کصوم یوم علی المذهب (الدرالمختار مع الرد ج:٢،ص:٤٢٦،ایضا ج:٢،ص:٧٣)

[٢] وصاحب عذر...... وحکمه الوضوء لکل فرض ثم یصلی به فیه فرضاً ونفلاً فاذا خرج الوقت بطل.....الخ (الدرالمختار مع التنویر ج:١،ص:٣٠٥،)

[٣] ان المریض لو قدر علی القیام دون الرکوع والسجود فانه یخیر بین القیام والقعود(البحرالرائق ج:١،ص:٢٩٢)

غورځېږي، له دې وجې نه زه ډېر پریشانه یم چې ایا زه پاك یم او که نه؟ مهرباني وکړئ تاسو ماته د لمانځه، د جامو، غسل او اودس احکامات واضح کړئ او زه اعتکاف کولی شم؟

جواب: دداسې سړي لمونځ ورکول خو پکار نه دي، باقي د مجبوري له وجې نه به دده لمونځ وشي، اعتکاف کول هم صحیح دي. والله اعلم. [١]

بادي بواسیر والا دې هر لمانځه له پاره اودس کوي

سوال: ځیني خلک دبادي بواسیرو شکایت کوي او د اودس باوجود خپل ځان بې اودسه ګڼي، یعني که اودس هم وکړي، نو د پاخانې په مقام باندې هغوی داسې محسوسوي، لکه چې د پاخانې په مقام باندې چینجي وغیره حرکت کوي یا داسې محسوسیږي لکه چې هوا خارجیږي او ځینې داسې محسوسوي چې د ګرمائش له وجې نه ګویا د پاخانې په مقام باندې خوله ده، دا خلک دا حالات همیشه یا ځینې وخت کې کله کله محسوسوي، لهذا دده اودس څنګه قائمیدای شي او کوم وخت پورې؟ یا دا یوازې وهم دی او ددې طرفته توجه کول پکار نه دي؟

جواب: دا سړی دې د هرلمانځه له پاره اودس کوي. [٢]

که د هوا وتلو شکایت وي نو معذور به شمار ل کیږي

سوال: ماته د ګېس تکلیف دی او د هرلمانځه لۀ پاره تازه اودس کوم، تقریباً اویا نه نوي فیصده پورې لمونځونو کې د هوا وتلو په شکایت باندې ګمان یا دباو وي، ځیني عالمانو سره د مشوره کولو نه وروسته چې په دې صورت کې زما شمار په معذورو کې دی، زه د هر لمانځه له پاره اودس کوم، ایا ماله پاره هرلمانځه له اودس کول کافي دي؟

جواب: که اودس نه پاتې کیږي، نو تاسو معذور یئ. [٣]

که د ګېس له وجې نه په خیټه کې ګړزګړوز وي نو د لمانځه حکم

سوال: زه د ګېس ناروغ یم، د اودس نه وروسته اکثر د ګېس فشار وي، خو هوا نه خارجیږي چې د هغه له وجې نه په خیټه کې ګړزګړوز وي، ایا په دې حالت کې لمونځ کیږي؟

جواب: د معذوري په حالت کې لمونځ کیږي. [٤]

---

[١] لا يجوز بناء القوى على الضعيف....والطاهر بصاحب العذر للاصل المذكور (حلبى كبير ص:٥١٦)

[٢] وصاحب عذر...... وحكمه الوضوء لكل فرض ثم يصلى به فيه فرضاً ونفلاً فاذا خرج الوقت بطل.....الخ (الدرالمختار مع التنوير ج:١،ص:٣٠٥،)

[٣] وصاحب عذر ومن به سلس بول لا يمكنه امساكه ان استوعب عذر تمام وقت صلوة مفروضة....الخ (الدرالمختار مع التنوير ج:١،ص:٣٠٥)

[٤] وصاحب عذر ومن به سلس بول لا يمكنه امساكه ان استوعب عذر تمام وقت صلوة مفروضة....الخ (الدرالمختار مع التنوير ج:١،ص:٣٠٥)

❖ وتر لمونځ ❖

....

د تهجدو وخت کې وتر کول غوره دي

سوال: فرض لمونځ په جومات کې د جمعې سره کول پکار دي او نفل لمونځ په کور کې. په دې باره کې حدیث هم دی، دنورو معلوماتو له پاره مې تاسو ته رجوع کړې ده. که وتر د تهجدو سره وکړو، نو څنګه دي؟ د ماسخوتن په وخت کې غوره دي یا د تهجدو وخت افضل دی؟

جواب: کوم سړی چې د پورته کېدو یقین لري، د هغه له پاره د تهجدو وخت کې وتر کول غوره دي او د کوم سړی چې یقین نه لري د هغه له پاره د ماسخوتن نه وروسته کول غوره دي.[1]

وتر د تهجدو نه مخکې کول پکار دي که وروسته؟

سوال: که وتر د ماسخوتن نه وروسته ونکړل شي، بلکې تهجدو سره وشي، نو په دې صورت کې اول دوه رکعته وتر وکړل شي او وروسته تهجد که اول تهجد وکړل شي او بیا وروسته درې رکعته وتر؟ دغه شان که د تهجدو لمونځ کله څلور، کله شپږ، کله اته، کله لس او کله دولس وکړل شي، نو څه حرج خو نشته؟

جواب: که دپورته کېدو یقین لري، نو وتر د تهجدو سره کول غوره دي، له دې وجې نه که د صبح صادق نه مخکې دومره وخت وي چې د نفل کولو نه وروسته وتر کیږي، نو اول دې تهجد وکړي او بیا له دې نه وروسته وتر وکړي او که یو ورځ لیټ پورته شي او دا ویره وي چې که په نفلو کې مشغول شوم، نو وتر به قضا شي، نو په داسې صورت کې دې اول وتر وکړي او بیا که صبح صادق ته څه وخت پاتې وي، نو نفل دې هم وکړي، د تهجدو د لمانځه یو معمول مقرر ول پکار دي چې دومره رکعتونه به کوم، بیا د وخت له وجې نه که کمی زیاتی کیږي، نو څه حرج نشته.[2]

شب قدر، شب براءت وغیره کې وتر په اخري شپه کې کول

سوال: سا اوریدلي دي چې دعبادت په شپو یعنې شب براءت، شب قدر وغیره کې د ماسخوتن لمانځه سره وتر کول پکار نه دي، کله چې ټول عبادت ختم شي، نو اخره کې دې وتر وکړل

---

[1] وتاخیر الوتر الی آخراللیل لواثق بالانتباه والا فقبل النوم....الخ (التنویر وشرحه ج:۲،ص:۳۶۹) وایضاً: ویستحب تاخیره الی آخراللیل ولایکره کما یکره تاخیر سنة العشاء تبعاً لها (الفتاوی الهندیة ج:۱،ص:۱۱۱)

[2] (ویستحب) تاخیر العشاء الی ثلث اللیل والوتر الی آخر اللیل لمن یثق بالانتباه ومن لم یثق بالانتباه اوتر قبل النوم (عالمگیری ج:۱،ص:۵۲، کتاب الصلوة، الباب الاول، الفصل الثانی فی بیان فضیلة الاوقات)

شي، ایا دا صحیح دي؟

جواب: که د شپې د پورته کېدو نیت وي او معلومه وي چې اخري شپه کې وتر کولی شم، نو وتر هغه وخت کول پکار دي. **والله اعلم**. [۱]

د وترو نیت څه ډول وکړل شي؟

سوال: کله چې وتر د تهجدو نه وروسته کیږي، نو نیت کوم درې رکعته لمونځ د وتر وخت د ماسخوتن یا د تهجدو؟ ځکه چې د ماسخوتن وخت د سهار د لمانځه نه مخکې پورې وي.

جواب: په وترو کې د نن شپې د وترو نیت کیږي. [۲]

که د وترو کولو نه وروسته معلومه شي چې صبح صادق راختلی دی نو ایا وتر وشو؟

سوال: ما په تهجدو کې د صبح صادق نه درې دقیقې مخکې د وترو نیت وکړ او بیرې سره مې په درې دقیقو کې وکړل، خو کله چې مې ګړۍ وکتله، نو معلومه شوه چې ما خو حقیقت کې د صبح صادق د شروع کېدو نه وروسته د وترو لمونځ کړی دی، اوس ماته ووایئ چې زه به دا وتر په دویم ځل کوم او که نه؟

جواب: ستاسو د وترو لمونځ وشو، که وخت کې دننه شو، نو ادا شو او که وروسته شو، نو قضا شو. [۳]

له عذر پرته وتر په ناسته ادا کول صحیح نه دي

سوال: که څوک د څه وجې نه لمونځ په ناسته کوي، نو ایا د ماسخوتن په لمانځه کې وتر هم په ناسته وکړي یا په ولاړه باندې؟

جواب: پرته له عذر نه فرض او وتر په ناسته کولو سره لمونځ نه کیږي او که په ولاړه باندې قدرت نه وي، نو مجبوري ده. [۴]

یو رکعت وتر کول صحیح نه دي

سوال: ایا درې رکعته وتر کولو په ځای یوازې یو رکعت وتر کولی شو؟

جواب: نه! د رسول الله ﷺ نه یوازې په یو رکعت باندې اکتفاء کول ثابت نه دي! بلکې د

---

[۱] (ویستحب) تاخیر العشاء الی ثلث اللیل والوتر الی آخر اللیل لمن یثق بالانتباه ومن لم یثق بالانتباه اوتر قبل النوم (عالمگیری ج:۱،ص:۵۲،کتاب الصلوة،الباب الاول،الفصل الثانی فی بیان فضیلة الاوقات)

[۲] وفی الوتر ینوی صلوة الوتر (عالمگیری ج:۱،ص:۶۶)

[۳] ایضاً۔

[۴] ولا یجوز ان یوتر قاعداً مع القدرة علی القیام وعلی راحلته من غیر عذر هکذا فی محیط السرخسی (الفتاوی الهندیة ج:۱،ص:۱۱۱،کتاب الصلوة ،الباب الثامن فی صلوة الوتر)۔

رسول الله ﷺ معمول مبارک د درې رکعته وترو و. لکه چې په ډيرو روايتونو کې راغلي دي. له دې وجې د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد ځانته يو رکعت وتر نشته.ددې مسئلي په قدر د ضرورت تفصيل دې زما په کتاب "اختلاف امت او صراط مستقيم برخه دوم" کې وکتل شي [۱]

د وترو په دريم رکعت کې دعاء قنوت هيرول

سوال: د وترو په دريم رکعت کې سورت فاتحه او بل سورت لوستلو نه وروسته الله اکبر ويلو سره د غوږونو د نرميو پورې لاس اوچتولو نه وروسته په دويم ځل لاس تړلو نه وروسته دعاءقنوت لوستل دي، له دې نه وروسته رکوع ته تلل دي. که يو انسان سورت فاتحه او بل سورت لوستلو سره رکوع ته مکمل ښکته شي او هغه ته فورا راياد شي چې ما باندې دعاء قنوت لوستل هم و. ايا هغه د رکوع نه واپس راتللی شي؟ سره له دې چې هغه د رکوع يو تسبيح هم نه وي لوستلی، په بل صورت کې يې يو تسبيح په رکوع کې لوستلی ده. ددې مسئلي څه حل دی؟ ايا هغه د مکمل رکوع کولو نه وروسته سجده سهوه وکړي يا د رکوع نه واپس راتلو نه وروسته دعاء قنوت ولولي او وروسته سجده سهوه وکړي؟

جواب: که رکوع ته لاړ، يا هغه ته نژدې شو چې دواړه لاسونه يې ګونډو سره ولګيدل. نو واپس دې نه راځي، بلکې په اخر کې دې سجده سهوه وکړي [۲] او که دومره ښکته نه شو چې ګونډو ته يې لاسونه ورسيږي، نو دريدلو سره دې قنوت ولولي په دې صورت کې سجده سهوه نشته.

په وترو کې د قنوت په ځای قل هو الله احد لوستل

سوال: ايا په وتر کې د قنوت په ځای درې ځله قل هو الله احد لوستل جائز دي او که نه؟

جواب: قنوت يادول پکار دي څو پورې چې هغه ياد نه وي، نو **ربنا اتنا فی الدنيا الخ** والا دعا لوستل پکار دي يا کم نه کم **اللهم اغفرلي** درې ځله لوستل پکار دي سورت اخلاص د قنوت په ځای نه لوستل کيږي [۳]

د رمضان په وترو کې د مقتدي له پاره قنوت

سوال: په رمضان شريف کې چې کله امام په وترو کې قنوت لوستل شروع کړي، نو ايا مقتدي

۱] والوتر ثلث رکعات لا يفصل بينهن بسلام كذا فى الهداية (هنديه ج:۱،ص:۱۱۱) اختلاف امت او صراط مستقيم ج:۲،ص:۱۵۷ نه ۱۹۸ پورى،طبع مكتبه لدهيانوى)۔

۲]ولو نسى القنوت فتذكر فى الركوع فالصحيح انه لا يقنت فى الركوع ولا يعود الى القيام هكذا فى التاتارخانية (الهندية ج:۱،ص:۱۱۱،كتاب الصلوة،الباب الثامن فى صلوة الوتر)۔

۳] وليس فى القنوت دعاء مؤقت كذا فى التبيين والاولى ان يقراء اللهم انا نستعينک....الخ ومن لم يحسن القنوت يقول ربنا آتنا فى الدنيا حسنة وفى الآخرة حسنة وقنا عذاب النار كذا فى المحيط او يقول اللهم اغفرلنا ويكرر ذلک ثلاثاً وهواختيار ابى الليث كذا فى السراجية (الهندية ج:۱،ص:۱۱۱ كتاب الصلوة،الباب الثامن)

ته هم قنوت لوستل پکار دي؟

جواب: د قنوت لوستل په امام او مقتدي دواړو باندې واجب دي له دې وجې مقتديانو ته قنوت ضرور لوستل پکار دي.[1]

د رکوع نه وروسته ددعاء قنوت لوستلو حکم

سوال: که د رکوع نه وروسته دعاء قنوت ولوستل شي، نوپه دویم ځل به رکوع کول وي اوکه نه؟ یاد دې وي چې له دې مخکې یې رکوع کړې ده.

جواب: د رکوع نه وروسته د دعاء قنوت اجازه نشته،بس سجده سهو دې وکړي.[2]

له رکوع وروسته بیا قیام ته د واپس دقنوت له پاره تلل

سوال: یو سړی وترکوي، په دې کې ترینه دعاء قنوت هیره شوه،کله چې رکوع ته ورسید، نو دعاء قنوت ورته یاده شوه، درکوع نه وروسته بیا قیام ته لاړ او دعاء قنوت یې ولوسته. بیا یې رکوع وکړه، ایا دده لمونځ وشو یا په کې څه فرق شته؟

جواب: کله چې ترینه دعاء قنوت هیره شوه او رکوع ته لاړ، نو اوس بیا دریدل پکار نه دي،که لمونځ یې پوره کړی وي او سجده سهو یې کړې وي، نو لمونځ به یې صحیح شوی و، اوس چې د رکوع نه دعاء قنوت له پاره پورته شو،نو غلط کار یې وکړ او په دویم ځل چې یې رکوع وکړه، نو ددې ضرورت نه و،اولنۍ رکوع باقي وه، په هرحال که ده سجده سهوه کړې وي، نو لمونځ یې وشو. که نه په دویم ځل دې لمونځ وکړي.[3]

په وترو کې سجده سهوه

سوال: وترو کې که سجده هیره شي، نو په دې صورت کې سجده سهوه کیږي او که نه؟

جواب: په وترو کې به هم سجده سهوه کیږي.[4]

---

[1] والقنوت واجب على الصحيح......والمختار فى القنوت الاخفاء فى حق الامام والقوم هكذا فى الهداية (هندية ج:١،ص:١١١)_

[2] ومنها القنوت فاذا تركه يجب عليه السهو وتركه يتحقق برفع رأسه من الركوع (عالمگيرى ج:١، ص:١٢٨، كتاب الصلوة،الباب الثانى عشر فى سجودالسهو)

[3] ولو نسى القنوت فتذكر فى الركوع فالصحيح انه لا يقنت فى الركوع ولا يعود الى القيام فان عاد الى القيام وقنت لم يعدالركوع لم تفسد صلوته......ويسجد للسهو.....الخ (عالمگيرى ج:١،ص:١١١،الباب الثامن فى الوتر)

[4] وحكم السهو فى الفرض والنفل سواء كذا فى المحيط (عالمگيرى ج:١ص:١٢٦ كتاب الصلوة،الباب الثانى عشر)

د دعاء قنوت په ځای د سورة اخلاص لوستل

سوال: زموږ په محله کې ډیر خلک د وترو په لمانځه کې د دعاء قنوت په ځای سورة اخلاص لولي، دا څنګه دي؟

جواب: د دعاء قنوت په ځای سورة اخلاص لوستل غلط دي، که دعاء قنوت یاد نه وي، نو بله څه دعا دې لولي، مثلاً "ربنا آتنا.....الخ" یا درې ځله "اللهم اغفرلي" دې ولولي [۱]

که دعاء قنوت یاده نه وي نو بله دعا لوستلی شي

سوال: که دعاء قنوت یاده نه وي او ددې په ځای بله دعا ولوستل شي، نو د وترو لمونځ کیږي یا سجده سهوه کول هم پکار دي؟

جواب: که بله څه دعا ولوستل شي، نو لمونځ کیږي ترڅو چې دعاء قنوت یاده نه وي، دعاء قنوت یادول پکار دي [۲]

چې دعاء قنوت یاده نه وي نو "ربنا آتنا فی الدنیا حسنة" الخ لوستل

سوال: د ماسخوتن په لمانځه کې موږ ددعاء قنوت په ځای "ربنا آتنا فی الدنیا حسنة وفی الآخرة حسنة وقنا عذاب النار" ویلی شو؟

جواب: دعاء قنوت یادول پکار دي، ترڅو چې یاده نه وي، نو "ربنا آتنا فی الدنیا.....الخ" وایئ [۳].

د وترو په دریم رکعت کې د سورت اخلاص لوستل ضروري نه دي

سوال: د وترو په دریم رکعت کې د سورت فاتحې نه وروسته سورت اخلاص لوستل کیږي بیا په دویم ځل دغوږونو پورې لاس اوچتولو سره په دویم ځل تړي او بیا قنوت وایي ایا دا لازمي ده چې د وترو په دریم رکعت کې به سورت اخلاص لوستل کیږي؟ یا یو بل سورت هم که ولوستل شي، نو څه ګناه خو نه ده؟

جواب: د وترو په دریم رکعت یوازې د سورت اخلاص لوستل ضروري نه دي بل سورت هم

---

[۱] ومن لم یحسن القنوت یقول ربناآتنا فی الدنیا حسنة وفی الآخرة حسنة..الخ(عالمگیری ج:۱،ص:۱۱۱الباب الثامن فی الوتر)

[۲] والاولی ان یقراء اللهم انا نستعینک....الخ ومن لم یحسن القنوت یقول ربنا آتنا فی الدنیا حسنة وفی الآخرة حسنة وقنا عذاب النار کذا فی المحیط(عالمگیری ج:۱،ص:۱۱۱،کتاب الصلوة،الباب الثامن فی صلوة الوتر)

[۳] ایضاً _

لوستلی شئ.[۱]

د وترو په دریم رکعت کې دې الحمد په دویم ځل نه لولي

سوال: په وتر لمانځه کې په دریم رکعت کې د دویم تکبیر نه وروسته الحمد شریف او یو سورت یو ځای کولو سره قنوت لوستل پکار دي یا یوازې قنوت لوستل پکار دي (یعنې پرته د بل سورت یو ځای کولو نه)؟

جواب: په دریم رکعت کې اول الحمد شریف اوبیا سورت لوستل پکاردي بیا تکبیرکولو نه وروسته یوازې قنوت لوستل پکار دي د قنوت والا تکبیر نه وروسته په دویم ځل فاتحه نه لوستل کیږي.[۲]

له رمضان پرته د وترو جمعه ولې نه کیږي؟

سوال: د وتر لمونځ له رمضان پرته جمعه ولې نه کیږي؟

جواب: د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم د وخت نه هم دا سلسله شروع ده.[۳]

د ماسخوتن لمونځ پاتې کېدو با ندې ایا وتر د جمعې سره کولی شي؟

سوال: که یو انسان د ماسخوتن د فرض لمانځه نه وروسته راځي، یعنې د هغه نه جمعه لاړه، نو ایا هغه د تراویح نه وروسته د جمعې سره وتر نه شي کولي؟ لږ په تفصیل او حوالې سره جواب راکړئ.

جواب: علامه شامي د قهستاني په حوالې سره لیکلي دي چې کوم سړی فرض د جمعې سره نه وي کړي (بلکې ځانته یې کړي وي) هغه دوتر په جمعه کې شریکېدلی نه شي، خو دا قول ضعیف دی[۴] صحیح داده چې شریکېدلی شي، لکه چې علامه طحطاوي رحمہ اللہ د درمختار په حاشیه باندې تصریح کړې ده[۵] او که د فرضوجمعه ونه شوه، نود وتر لمونځ د جمعې سره کول

۱] ولا ینبغی ان یؤقت شیئاً من القرآن فی الوتر.....الخ (البدائع الصنائع ج:۱،ص:۲۷۳)۔

۲] اذا فرغ من القراءة فی الرکعة الثالثة کبر ورفع یدیه حذاء اذنیه ویقنت قبل الرکوع فی جمیع السنة (هندیة ج:۱،ص:۱۱۱)۔

۳] ویوتر بجماعة فی رمضان فقط علیه اجماع المسلمین،کذا فی التبیین(هندیة ج:۱،ص:۱۱۶)۔

۴]فی التاتارخانیة عن التتمة انه سأل علی بن احمد عمن صلی الفرض والتراویح وحده اوالتراویح فقط هل یصلی الوتر مع الامام؟ فقال: لا اهـ ثم رایت القهستانی ذکر تصحیح ما ذکره المصنف،ثم قال: لکنه اذا لم یصل الفرض معه لا یتبعه فی الوتر اهـ (فتاوی شامی ج:۲،ص:۴۸،مبحث صلوة التراویح)۔

۵]ولو ترکوا الجماعة فی الفرض لم یصلوا التراویح قوله ولو ترکوا الجماعة فی الفرض عبد بالجمع لان المنفرد لو صلی العشاء وحده فله ان یصلی التراویح مع الامام منح لکن تعلیل الشرح یعم المنفرد (حاشیه طحطاوی علی الدرالمختار ج: ۱،ص:۲۹۷،باب الوتر والنوافل،طبع رشیدیه)۔

صحيح نه دي.[۱]

د ماسخوتن لمونځ کولو نه وروسته معلومه شي چې لمونځ نه دی شوی نو ايا وتر هم په دويم ځل وشي؟

سوال: که چاته د ماسخوتن لمونځ کولو نه وروسته معلومه شي چې له څه وجې نه دده فرض نه دي شوي، نو ايا اوس به دی يوازې د فرضو قضا کوي يا وتر به هم په دويم ځل کوي؟ځکه چې دا کار قصداً نه و. بلکې په هيره شوی و

جواب: يوازې دفرضو قضا دې راوړي،د وترو قضا نشته.[۲]

د ماسخوتن د لمانځه نه مخکې وتر کول

سوال: ځينې خلک ما ليدلي دي چې د ماسخوتن د لمانځه نه مخکې وتر کوي،ايا داسې کول صحيح دي؟

جواب: د فرضو نه مخکې وتر نه کيږي او ما ترنن وخت پورې داسې څوك نه دي ليدلي.[۳]

وتر ځانته د ادا کولو په وخت جهر سره لوستل څنګه دي؟

سوال: وتر لمونځ جهر سره لوستل مکروه دي يا لمونځ ماتيږي کله چې يې ځانته ادا کوي؟

جواب: د وترو لمانځه کې جهر سره قراءت کول جايز دي.[۴]

ايا د وترو نه وروسته هر څنګه لمونځ کيږي؟

سوال: اجعلوا الصلاه العشاء الاخرة الوتر......د ماسخوتن د لمانځه نه وروسته هيڅ قسم لمونځ نه دی پکار(بخاري شريف، دا سوال يو ددين عالم کړی دی چې د وترو نه وروسته هيڅ

---

[۱] بقي لو ترکها الکل هل يصلون الوتر بجماعة؟قوله بقی الخ الذی يظهر ان جماعة الوتر تبع لجماعة التراويح وان کان الوتر نفسه اصلاً فی ذاته لان سنة الجماعة فی الوتر انما عرفت بالاثر تابعة للتراويح (الدرالمختار مع الردالمحتار ج:۲،ص:۴۸،مبحث صلوة التراويح)۔

[۲] لو صلی الوتر قبل العشاء ناسياً او صلاهما فظهر فساد العشاء دون الوتر فانه يصح الوتر ويعيدالعشاء وحدها عندابی حنيفة رحمه الله (عالمگيری ج:۱،ص:۵۱،کتاب الصلوة،الباب الاول فی المواقيت)

[۳] ولا يقدم الوتر علی العشاء لوجوب الترتيب....الخ (عالمگيری ج:۱،ص:۵۱،کتاب الصلوة،الباب الاول)

[۴] والمنفرد......إن کانت صلاة يجهر فيها بالقراءة فهو بالخيار إن شاء جهر و إن شاء خافت و ذکر الکرخي إن شاء جهر بقدر ما يسمع أذنيه و لا يزيد علی ذلك و ذکر في عامة الروايات مفسرا أنه بين خيارات ثلاثة إن شاء جهر و أسمع غيره و إن شاء جهر و أسمع نفسه و إن شاء أسر القراءة أما کون له أن يجهر فلأن المنفرد إمام في نفسه و للإمام أن يجهر(بدائع الصنائع ج:۱،ص:۱۶۱،فصل اما الواجبات الاصلية فی الصلوة)

قسمه لمونځ نه دي کول پکار. حال دا چې لوی لوی علماء کرام د وترو نه وروسته لمونځ کوي د دې څه حقيقت دی؟

جواب: تاسو چې کوم الفاظ نقل کړي دي هغه، خو د حديثو په هيڅ کتاب کې نشته، صحيح بخاري شريف(ج:١ص:١٣٦)کې يې ارشاد **اجعلوا اخر صلاتكم بالليل وترا**....يعنې د شپې په لمانځه کې، چې مراد ترې تهجد دي، په اخر کې وتر کوئ. دا حکم د اهل علم په نزد د استحباب له پاره دی او د رسول الله ﷺ نه د وترو نه وروسته دوه رکعته نفل لمونځ ثابت دی[١] خو عام معمول يې د وترو نه وروسته د نفل کولو نه و. له دې وجې که څوک د وترو نه وروسته نفل کوي، نو هغه دې نه منع کوي، خو عام خلک دا نفل په ناسته کوي دا غلطه ده دا نفل هم په ولاړه کول پکار دي.[٢]

که د وترو او تهجدو لمونځ پاتې شي نو؟

سوال: زه هره شپه د تهجدو لمونځ کوم له دې وجې په ماسخوتن کې وتر پريږدم او د تهجدو نه وروسته يې کوم. نن شپه موږ ناوخته پورته شو. پيشمنی ختم شوی و. له دې وجې د تهجدو لمونځ پاتې شو او س وتر چې کوم ما پريښي دي او د تهجدو لمونځ هم ايا د هغه قضاء کولی شم؟

جواب: که ناوخته سترګې خلاصې شي او په صبح صادق کېدو کې څه ساعت وي، نو وتر خو د صبح صادق نه مخکې کول پکار دي او که د صبح صادق نه وروسته سترګې خلاصې شي، نو

[١] عن ام سلمة رضی الله عنها ان النبی صلی الله عليه وسلم كان يصلی بعدالوتر ركعتين وقد روی نحو هذا عن ابی امامة وعائشة وغيرواحد من اصحاب النبی صلی الله عليه وسلم (ترمذی ج:١،ص:١٥٨) عن ثوبان ....فاذا اوتر احدكم فليركع ركعتين(دارمی ج:١،ص:٣١٢) عائشة رضیَ الله عنها ان رسول الله صلی الله عليه وسلم كان يوتر بتسع ركعات ....وركع ركعتين وهو جالس بعدالوتر....الخ (سنن ابی داؤد ج:١، ص:١٩٨،باب صلوة الليل) (تطبيق روايات از ابن قيم رحمه الله) علامه شوکانی صاحب رحمة الله عليه د ابن قيم صاحب رحمة الله عليه نه نقل کړې دی چې دا دوه نفل د دويم حديث يعنی ''د عشاء آخری لمونځ وتر کيدل پکاردی.، نه خلاف نهٔ دي بلکه دا رکعتينِ د وتر د تکميل دپاره دی لکه څنګه چې سنت د فرضو د تکميل دپاره وی نو هغوی نقل کوی:

قال ابْنُ الْقَيِّم فِي الْهَدْيِ : وَقَدْ أَشْكَلَ هَذَا ، يَعْنِي حَدِيثَ الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْوِتْرِ عَلَى كَثِيرٍ مِنْ النَّاسِ فَظَنُّوهُ مُعارضا لقوْله صلى اللَّهُ عَلَيْهِ وسلَّمَ : { اجْعَلُوا آخرَ صَلَاتِكُمْ بِاللَّيْلِ وِتْرًا } ثُمَّ حُكِيَ عَنْ مَالِكٍ وَأَحْمَدَ مَا تَقَدَّمَ . وحُكِيَ عنْ طائفة مَا قَدَّمْنَا عَنْ النَّوَوِيِّ ، ثُمَّ قَالَ : وَالصَّوَابُ أَنْ يُقَالَ : إنَّ هَاتَيْنِ الرَّكْعَتَيْنِ تَجْرِيَانِ مَجْرَى السُّنَّة وتكْميلُ الْوِتْرِ . فإنَّ الْوِتْرَ عبادةٌ مُسْتَقِلَّةٌ . ولَا سِيَّمَا إنْ قيل بوُجُوبه فتُجْرِي الرَّكْعَتَيْنِ بعْدهُ مجْرى سُنَّة الْمغْرب منْ الْمغْرب . فإنَّها وِتْر النَّهار ، والرَّكْعَتانِ بعْدها تكْميلٌ لها ، فكذلك الرَّكْعتان بعد وتْر اللَّيْل . واللَّهُ أعْلم ا هـ(نيل الاوطار ج:٣،ص:٤٦)۔

[٢] ويتنفل مع قدرته على القيام قاعداً....وفيه اجر غيرالنبی صلی الله عليه وسلم على النصف الا بعذر ....الخ (التنوير مع شرحه ج:٢،ص:٣٦، ٣٧،باب الوتر والنفل)۔

د سهار د سنتو نه مخکې وتر کول پکار دي[١]. د نفلو قضاء نه وي.[٢] خو د کوم سړي نه چې تهجد پاتې شوي وي هغه دې د اشراق په وخت د تهجدو نفل وکړي ان شاء الله هغه ته به د تهجدو ثواب ورکول کيږي.[٣]

❖ د سنت لمونځونو اداکول ❖

....

سنت موکد او غير موکد

سوال: سنت موکد او غير موکد څه ته وايي؟

جواب: د کوم شي چې رسول اللهﷺ اکثر پابندي کړې وي او د کوم شي پريښودل يې چې د ملامتيا لائق ګرځولي وي هغه ته سنت موکد وايي او د کوم شي يې چې ترغيب ورکړی وي. خو دهغه په پريښودلو باندې يې ملامتي نه وي کړي هغه سنت غير موکد دي او هم دې ته مستحب او مندوب هم ويل کيږي.[۴]

سنت او نوافل ولې او د چا له پاره کيږي؟

سوال: لمونځ په موږ باندې فرض دی هغه موږ کوو د فرضو نه پرته سنت ولې ضروري دي؟ فرض د الله له پاره او سنت د رسول اللهﷺ له پاره دي په دې تعلق باندې لږه رڼا واچوئ چې مسئله واضحه شي.

جواب: لمونځ که فرض وي که سنت وي که نفل ټول د الله پاک له پاره وي[۵] دا خيال غلط ده

١]ويجب القضاء بتركه ناسياً او عامداً وان طالت المدة ....الخ (هندية ج:١،ص:١١١)۔

٢] ان الاصل فى السنة ان لا تقضى لاختصاص القضايا بالواجب (هداية ج:١،ص:١٥٣،باب النوافل)۔

٣] عن عمر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : من نام عن حزبه او عن شئ ن فقراءه فيما بين صلوة الفجر وصلوة الظهر كتب له كانما قراءه من الليل رواه مسلم (مشكوة ص:١١٠) وفى المرقاة: واخرج عن الحسن انه قال: من عجز بالليل كان فى اول النهار مستعتب ومن عجز بالنهار كان له فى اول الليل مستعتب اهـ (مرقاة شرح المشكوة ج:٢،ص:١٤٦،باب القصد فى العمل،الفصل الاول،طبع بمبئ)۔

٤] والذى ظهر للعبد الضعيف ان السنة ما واظب عليه النبى صلى الله عليه وسلم ،لكن ان كانت لا مع الترك فهى دليل السنة المؤكدة، وان كانت مع الترك احياناً فهى دليل غيرالمؤكدة....الخ (الشامي ج:١،ص:١٠٥) ايضاًومن السنن سنة هدى هى ما واظب عليها النبى صلى الله عليه وسلم مع الترك احيانا على سبيل العادة ويقال لها السنة المؤكدة وما كانت على سبيل العادة فهى السنة الزائدة،وان واظب عليها النبى صلى الله عليه وسلم (قواعد الفقه لعميم الاحسان ص:٣٢٨،طبع صدف پبلشرز كراچى)۔

٥]قوله تعالى : واقم الصلوة لذكرى (طه:١٤)۔

چې سنت د رسول الله ﷺ له پاره وي، په فرض لمونځونو کې چې کوم کمی (د خشوع او خضوع کمی) پاتې شي دهغه د پوره کولو له پاره سنت او نفل دي[۱]

ایا نن سبا مشیني دور کې یوازې فرض کول کافي دي؟

سوال: ایا په فرض لمونځونو کې یوازې په فرض ادا کولو باندې فرض لمونځ ادا کیږي چې سنت نفل او وتر ونه شي؟ زموږ د یو خپلوان وینا ده چې نن سبا په مشیني دور کې څوک دومره اوزګار دي چې سنت او نفل هم وکړي؟ او دا غیرممالک کوم چې اسلامي دي مسلمانان سړي او ښځې هم په دې طریقې سره یوازې فرض ادا کوي او که هغوی منع شي، نو وایي چې د انسان نیت صحیح کېدل پکار دي او بالکل د لمونځ د پرېښودلو نه غوره ده. چې یوازې فرض وشي ایا د لمونځ کولو دا طریقه صحیح ده؟

جواب: فرض خو فرض دي او د وترو لمونځ واجب دی. ګویا دعمل په اعتبار هغه هم فرض دي، دهغه پرېښودل ګناه ده او که په وخت یې ونه کړل، نو قضاء لازمه ده[۲]. د سنت موکد پرېښودل بد دي او ددې دپرېښودلو عادت جوړول هم ګناه ده[۳] په سنت غیر موکد کې اختیار ده که کوي یې که پرېږدي یې.[۴]

د مشیني دور د مصروفیاتو باوجود د خرافاتو له پاره، د ګپ شپ له پاره د سیر او تفریح له پاره او پته نشته د کومو کومو شیانو له پاره وخت ویستل کیږي، نو د مشیني دور د فرصت نه ملاویدلو نزله په لمانځه باندې ولې راغورځولی شي؟ پاتې شوه دا چې د انسان نیت صحیح کېدل پکار دي بالکل په ځای ده. خو ددې نه دا څنګه لازمه شوه چې د انسان عمل خراب کېدل پکار دي؟ د نیت سره د عمل صحت هم ضروري دی! که نه یوازې په نیت څه کیږي ؟

۱] عن ابي هريرة رضى الله عنه قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « إِنَّ أَوَّلَ مَا يُحَاسَبُ بِهِ الْعَبْدُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ عَمَلِهِ صَلاَتُهُ فَإِنْ صَلُحَتْ فَقَدْ أَفْلَحَ وَأَنْجَحَ وَإِنْ فَسَدَتْ فَقَدْ خَابَ وَخَسِرَ فَإِنِ انْتَقَصَ مِنْ فَرِيضَتِهِ شَىْءٌ قَالَ الرَّبُّ عَزَّ وَجَلَّ انْظُرُوا هَلْ لِعَبْدِى مِنْ تَطَوُّعٍ فَيُكَمَّلَ بِهَا مَا انْتَقَصَ مِنَ الْفَرِيضَةِ ثُمَّ يَكُونُ سَائِرُ عَمَلِهِ عَلَى ذَلِكَ رواه الترمذى (ج:۱،ص:۵۵)_

۲]باب الوتر والنوافل (هو فرض عملاً وواجب اعتقاداً وسنة ثبوتاً) وفى الشامية (قوله هو فرض عملاً) اى يفترض عمله الفعله بمعنى انه يعامل معاملة الفرائض فى العمل فياثم بتركه...ويجب ترتيبه وقضائه...الخ (الشامى ج:۲،ص:۳)

۳] الذى يظهر من كلام اهل المذهب ان الاثم منوط بترک الواجب او السنة المؤكدة على الصحيح لتصريحهم بان من ترک سنن الصلوة الخمس قيل لا يأثم والصحيح انه ياثم (الشامى ج:۱،ص:۱۰۴)_

۴] من ترک صلوته لزمه قضاؤها سواء ترکها بعذر غيرمسقط او بغير عذر خلافاً لاحمد فان عنده اذا ترکها عمداً بغير عذر لا يلزمه قضاؤها لكونه صار مرتداً والمرتد لا يؤمر بقضاء ما ترکه الا اذا تاب (حلبى كبير ص:۵۲۹)_

د سنتو او د نفلو کولو شرعي حیثیت

سوال: ورځ کې پنځه لمونځونه فرض دي.دې فرائضو سره چې کوم سنت او نفل کیږي. ایا د هغه ادا کول هم دومره ضروري دي؟که ضروری وي. نو مونږ دیته فرض لمونځونه ولې نه وایو؟د سنتو په باره کې څه احکام دي؟ او ایا ددې نه کوونکي ګنهګار دي؟د مسلمانانو په ځینو ډلو کې د سنت کولو رواج نشته.له دې نه پرته د هغوی په نزد نفل کول هم ښه دي.خو ضروري نه دي. حالانکې هغوی هم اسلام منونکي دي. مهرباني وکړئ تفصیلي جواب راکړئ

جواب: دفرض لمانځه ادا کول ضروري دي او کوم سړی چې دا ادا نکړي. نو هغه د لوې درجې فاسق دی او دځینو امامانو په نزد کافر دی[1] ادغه شان د وترو لمونځ کول هم ضروري دی او سنت دوه قسمه دي: موکد او غیرموکد . د سنت موکد پریښودونکی د ملامتیا قابل دی او د الله پاك په نزد د درجاتو نه محروم دی او د غیرموکد پریښودونکی د ملامتیا لائق نه دی، خودا ویل کېدای شي چې د نورو خلکو په نسبت دده په درجاتو کې کمي ده.[2]

ایا د سنت لمونځ کولو حکم هم شته؟

سوال: مونږ چې ورځ کې کوم پنځه وخته لمونځ کوو،په دې لمونځونو کې یوازې د فرض کولو حکم دی اوکه دسنت لمونځ کول هم لازمي دي؟د محلې دوه کسان وایي چې په حدیث شریف کې یوازې د فرض لمونځ کولو حکم دی. لهذا سنت کول پکار نه دي د فرضو لمونځ حکم الله پاك کوي او سنتو نه کوي، زه ستاسو نه دا پوښتنه کول غواړم چې د سنتو لمونځ کولو حکم کله شوی دی؟د قرآن پاك په رڼا کې جواب راکړئ دې له پاره چې ددې دوو حضراتو غلط فهمي لیرې کړای شم

جواب: سنت او نفل لمونځونه د فرضو د تکمیل له پاره دي. په حدیث شریف کې دي چې د قیامت په ورځ کله د لمانځه حساب وي او د فرض لمونځونو په وزن کې کمي راشي. نو الله پاك به فرشتو ته وفرمايي چې زما د بنده په عمل نامه کې به څه نوافل هم وي،د هغه شاملولو سره وزن پوره کړئ[3] نبي کریم ﷺ به د خپلو اعلی درجاتو باوجود د سنتو او د نفلو اهتمام

---

[1] من ترک صلوته لزمه قضاؤها سواء ترکها بعذر غیرمسقط او بغیر عذر خلافاً لاحمد فان عنده اذا ترکها عمداً بغیر عذر لایلزمه قضاؤها لکونه صارمرتداً والمرتد لایؤمر بقضاء ما ترکه الا اذاتاب(حلبی کبیرص:٥٢٩)

[2] ان السنة المؤکدة والواجب متساویان فی استحقاق الاثم بالترک....الخ (شامی ج:٢،ص:١٧٧)

[3] رواه الترمذی ج:١،ص:٥٥،باب ان اول ما یحاسب به العبد یوم القیامة الصلوة . عن حریث بن قبیصة ....فقال (ابوهریرة) سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله علیه وسلم– یَقُولُ « إِنَّ أَوَّلَ مَا یُحَاسَبُ بِهِ الْعَبْدُ یَوْمَ الْقِیَامَةِ مِنْ عَمَلِهِ صَلاَتُهُ فَإِنْ صَلُحَتْ فَقَدْ أَفْلَحَ وَأَنْجَحَ وَإِنْ فَسَدَتْ فَقَدْ خَابَ وَخَسِرَ فَإِنِ انْتَقَصَ مِنْ فَرِیضَتِهِ شَیْءٌ قَالَ الرَّبُّ عَزَّ وَجَلَّ انْظُرُوا هَلْ لِعَبْدِى مِنْ تَطَوُّعٍ فَیُکَمَّلَ بِهَا مَا انْتَقَصَ مِنَ الْفَرِیضَةِ ثُمَّ یَکُونُ سَائِرُ عَمَلِهِ عَلَى ذَلِکَ رواه الترمذی (ج:١،ص:٥٥،کتاب الصلوة،باب اول ما یحاسب به العبد یوم القیامة الصلوة)

کاو، د کومو سنتو او نفلو اهتمام چې نبي کريم ﷺ کړی دی او د کومو چې په خپله نبي ﷺ فضائل بيان کړي دي، نو د يو امتي له پاره هم دهغه اهتمام ضروري دی، خو کوم سړی چې خپل ځان د نبي کريم ﷺ د تابعداري محتاج نه ګڼي، نو هغه سره بحث کول فضول دي.

دفتر کې د کار د زياتوالي له وجې نه د ماسپښين سنت پرېښودل

سوال: دفتر کې کار ډېروي، نو ايا زه د ماسپښين سنت پرېښودی شم د لمونځ مختصر کولو له پاره؟

جواب: د ماسپښين نه مخکې ځلور رکعته سنت موکد دي، دا حتی الوسع پرېښودل پکار نه دي، د مختصروالي نزله په لمانځه باندې ولې غورځول کيږي؟ نورغيرضروري کارونه. خو هم مختصر کېدای شي.[1]

ايا د ماسپښين سنت ضروري دي؟

سوال: زه په يو سکول کې استاذه يم، له دې وجې نه د اسکول نه په واپسي باندې د ستړي والي او د ليټ کېدوله وجې نه يوازې د ماسپښين فرض کوم، تاسو دا وفرمايئ چې دې سره زما د ماسپښين لمونځ کيږي يا يوازې فرض کولو سره لمونځ نه ادا کيږي؟

جواب: د ماسپښين په لمانځه کې د فرضو نه مخکې ځلور رکعته سنت موکد دي او د فرضو نه وروسته دوه رکعته سنت موکد دي، دا پرېښودل پکار نه دي، تاسو لږ ارام نه وروسته لمونځ کوئ. خو سنت موکد حتی الوسع پرېښودل پکار نه دي.[2]

د وخت د کمي له وجې نه سنت پرېښودل

سوال: زه په نهم جماعت کې سبق وايم، زمونږ سکول د ماسپښين د شفټ دی او ښکاره خبره ده چې د ماسپښين لمونځ زمونږ له پاره په سکول کې ضروري وي، دغه شان مونږ ته په سکول

---

[1] عن عائشة رضي الله عنها قالت:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : من ثابر على ثنتى عشرة ركعة من السنة بنى الله له بيتا فى الجنة،اربع ركعات قبل الظهر،وركعتين بعدها،وركعتين بعدالمغرب،وركعة بعدالعشاء رواه الترمذى (معارف السنن ج:٤،ص:٥٥) وعن عائشة رضى الله عنها ان النبى صلى الله عليه وسلم كان لا يدع اربعا قبل الظهر وركعتين قبل الغداة (معارف السنن ج:٤،ص:١٠٢) وسن مؤكداً اربع قبل الظهر....وركعتان بعدالظهر ...الخ (رد المحتار مع الدرالمختار ج:٢،ص:١٢ــ١٥،كتاب الصلوة،مطلب فى السنن والنوافل)

[2] عن عائشة رضي الله عنها قالت:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : من ثابر على ثنتى عشرة ركعة من السنة بنى الله له بيتا فى الجنة،اربع ركعات قبل الظهر،وركعتين بعدها، وركعتين بعدالمغرب،وركعة بعدالعشاء رواه الترمذى(معارف السنن ج:٤،ص:٥٥) وعن عائشة رضى الله عنها ان النبى صلى الله عليه وسلم كان لا يدع اربعاً قبل الظهر وركعتين قبل الغداة (معارف السنن ج:٤،ص:١٠٢) وسن مؤكداً اربع قبل الظهر....وركعتان بعدالظهر...الخ (رد المحتار مع الدرالمختار ج:٢،ص:١٢ــ١٥،كتاب الصلوة، مطلب فى السنن والنوافل)

کې د لمانځه له پاره يوازې دومره وخت ملاويږي چې يوازې څلور رکعته فرض په کې وکړل شي او د ماسپښين لمانځه نه مخکې څلو رکعته سنت موکد د کولو وخت راته نه ملاويږي،تاسو ووايئ چې موږ څه وکړو؟ لمونځ قضاکړو او بل لمانځه سره يې وکړو يا بس يوازې څلور رکعته فرض کوو؟

جواب: لمونځ خو مه قضا کوئ،خود سنتو پريښودل ډيره بده خبره ده.د استاذانو نه دومره وخت اخستل پکار دي چې سنت په کې هم وکړل شي [1]

د دکان خلاصولو له وجې نه سنت موکد پريښودل

سوال: زه په يو دوکان کې کار کوم او کله چې جمعې سره فرض لمونځ وکړم. نو اکثر د فرضو نه وروسته سنت موکد وي.د دوکان خلاصولوله وجې نه هغه سنت پريږدم.ددې په باره کې ماته تفصيل راکړئ

جواب: ددکان خلاصولو په بيړه کې سنت موکد پريښودل جائز نه دي.خو که نوافل پريښودل شي، نو څه باك نه لري.[2]

ايا سنت او نوافل جومات کې کول غوره دي؟

سوال: موږ هغوی ته وويل چې د فرض لمانځه نه وروسته سنت او نفل په کور کې کول غوره دي، نو هغوی ددې خبرې نه هم انکار وکړ، چې نه! په جومات کې کول غوره دي

جواب: نفل او سنت په کور کې کول غوره دي.په دې شرط چې کور کې اطمينان او سکون سره وکړل شي، خوپه کور کې د سکون او اطمينان سره د کولو موقع نه ملاويږي. نو جومات کې کول غوره دي.[3]

ايا نبي کريم ﷺ به سنت کور کې ادا کول؟

سوال: زموږ خطيب صاحب يو ځل وفرمايل چې حضوراکرم ﷺ به د فرض لمانځه نه وروسته پاتې لمونځ کور کې ادا کاو.له دې وجې نه سنت وغيره کور کې کول پکار دي.ايا دا خبره صحيح ده او که نه؟که صحيح وي، نو ايا د فرض لمانځه نه مخکې سنت په کور کې کول جائز دي اوکه نه ؟

جواب: د سنتو په کور کې د کولو حکم دی، خونن سبا د کورونو ماحول د اطمينان او د سکون

---

[1] السنة المؤكدة قريبة من الواجب فى لحوق الاثم ويستوجب تاركها التضليل واللوم(شامى ج:٢،ص:١٢)

[2] ايضا _

[3] الافضل فى السنن والنوافل فى المنزل لقوله عليه السلام :صلوة الرجل فى المنزل افضل الا المكتوبة....الخ (عالمگيرى ج:١،ص:١١٣،كتاب الصلوة،الباب التاسع فى النوافل)

والانه دی، له دې وجې نه هم په جوماتکې سنت کيږي که چاته په کورکې زيات اطمينان او سکون وي، نو په کورکې کول غوره دي [1]

د سنت موکد پريښودل څنګه دي؟

سوال: سنت موکد د کومو مجبورو په بنياد پريښودل کيږي؟ ايا دا د وخت د تيريدلو نه وروسته هم ادا کيږي ؟

جواب: سفر، مرض يا د وخت د تنګسيا له وجې که يې نه شئ کولی. نو بيله خبره ده که نه د سنت موکد پريښودل ډير بد دي [2]. د وخت د تيريدلو نه وروسته د سنتو قضاء نه کيږي او د سهار سنت د نيمې ورځې نه مخکې کول پکار دي. [3]

سنت په کور کې کول غوره دي يا په جومات کې؟

سوال: سنت انسان په جوماتکې هم کيږي او په کورکې هم . ايا په کورکې کول يې غوره دي؟

جواب: په کورکې سنت کول افضل دي،خو دهغه له پاره شرط دادی چې دکور ماحول پرسکون وي او کور ته تللو سره د کورنيو کارونو ويره نه وي، که داسې ويره وي، نوپه جوماتکې دسنتوکول افضل دي. [4]

ايا په سنت او نفل لمونځ کې د لمونځ د وخت نيت شرط دی؟

سوال: ايا په سنت او نفل لمونځ کې د لمونځ د وخت نيت شرط دی؟

جواب: د سنت او نفل له پاره يوازې د لمونځ نيت کول کافي دي په دې کې د وخت او د رکعتونو د نيت کولو ضرورت نشته. [5]

---

[1] الافضل فى السنن والنوافل فى المنزل لقوله عليه السلام : صلاة الرجل فى المنزل افضل الاالمكتوبة......الخ (عالمگيرى ج:١،ص:١١٣،كتاب الصلوة،الباب التاسع فى النوافل)

[2] ان السنة المؤكدة والواجب متساويان رتبة فى استحقاق الاثم بالترک.....الخ (شامى ج:٢،ص:١٧٧)_

[3] ولا يقضيها الا بطريق التبعية،وفى الشامية:اى لا يقض سنة الفجر الا اذا فاتت مع الفجر فيقضيها تبعاً لقضائه لو قبل الزوال.....الخ (درمختار مع الشامى ج:٢،ص:٥٧) ايضا: وقال محمد تقضى اذا ارتفعت الشمس قبل الزوال واحتج بحديث ليلة التعريس انه صلى الله عليه وسلم قضاهما بعد طلوع الشمس قبل الزوال فصار ذالک وقت قضائهما ....ولهذا لا يقضى غيرهما من السنن ولاهما يقضان بعدالزوال(بدائع الصنائع ج:١،ص:٢٨٨،فصل واما بيان ان السنة اذا فاتت عن وقتها)_

[4] الافضل فى السنن والنوافل فى المنزل لقوله عليه السلام : صلاة الرجل فى المنزل افضل الاالمكتوبة......الخ (عالمگيرى ج:١،ص:١١٣،كتاب الصلوة،الباب التاسع فى النوافل)_

[5] وكفى مطلقاً نية الصلوة......الخ (درمختار ج:١،ص:٤١٧) ايضاً: [بقيه حاشيه په راروانه صفحه

د سنت نفل او د وتر یو ځای نیت کول صحیح نه دي

سوال: ایا موږ یوځای د رکعتونو نیت تړلی شو؟ یعني مثلاً د ماسخوتن د لمانځه فرض د امام سره ادا کولونه وروسته باقي دوه رکعته سنت اودرې رکعته وتر او دوه رکعته نفلو په یوځل نیت تړلی شو؟

جواب: سنت،نفل او وتر بیل بیل لمونځونه دي ددې یو ځای نیت تړل صحیح نه دي [۱]

ایا سنت د رسول الله ﷺ له پاره کیږي

سوال: د فرض لمونځ او سنت په نیت کې څه فرق دی؟ ځکه چې د ځینوخلکو خیال دی چې فرض د الله پاک له پاره او سنت د رسول الله ﷺ له پاره کیږي. ایا دا صحیح دی؟

جواب: سنت لمونځ هم د الله پاک له پاره کیږي، خو د رسول الله ﷺ په تابعداري کې کیږي . له دې وجې د فرضو او سنتو په نیت کې هیڅ فرق نشته،بس د یو له پاره د فرضو نیت کول پکار دي او د بل له پاره د سنتو، عبادتونه دواړه د الله پاک له پاره دي [۲]

د فرضو نه مخکې سنت او وتر کول صحیح نه دي

سوال: زموږ په کلي کې دوه سړي د ماسخوتن سنت موکد او وتر د فرضو نه مخکې. یعنې د جمعې کېدو نه مخکې ادا کوي اودجمعې ناوخته کیږي له دې وجې هغوی داسې کوي ایا په دې طریقې سره لمونځ کیږي؟

جواب: دا خو ښکاره ده چې د فرضو نه وروسته چې کوم سنت دي هغه خو وروسته ادا کیږي ،ځکه چې هغه د فرضو تابع دي هم دا وجه ده که د فرضو او سنتو نه وروسته پته ولګیږي چې فرض لمونځ نه دی شوي، نو د فرضو سره به روستني سنت هم په دویم ځل کیږي او چې فرض لمونځ یې هم نه دی کړی روستنی سنت څنګه ادا کېدلی شي؟ د وتر لمونځ اګر چې مستقل لمونځ دی د فرضو تابع نه دی، خو په ماسخوتن او وترو کې ترتیب لازم دی. له دې وجې وتر د ماسخوتن د فرضو نه مخکې ادا کول صحیح نه دي [۳]،خو که د فرضو او سنتو او وترو نه وروسته معلومه شي چې فرض لمونځ په څه وجه باندې صحیح نه دي شوي، نو د فرضو او

...بقیه د تیرمخ].. ویکفیه مطلق النیة للنفل والسنة والتراویح وهو الصحیح......(وبعد اسطر) ولا یشترط نیة عددالرکعات (عالمگیری ج:۱،ص:۶۵، ۶۶ باب النیة)_

۱] الواجبات والفرائض لا تتادی بمطلق النیة اجماعاً.....الخ (عالمگیری ج:۱،ص:۶۵،کتاب الصلوة)_

۲] قوله تعالی: واقم الصلوة لذکری(طه :۱۴) ویکفیه مطلق النیة للنفل والسنة.....(وبعداسطر) والاحتیاط فی السنن ان ینوی الصلوة متابعاً لرسول الله صلی الله علیه وسلم ،کذا فی الذخیرة (عالمگیری ج:۱،ص:۶۵)

۳] اما قولهم انه لا وقت لها فلیس کذلک بل لها وقت وهو وقت العشاء الا ان تقدیم العشاء علیها شرط عند التذکیر(بدائع الصنائع ج:۱،ص: ۲۷۱،فصل واما الصلوة الواجبة فنوعان صلوة الوتر وصلوة العیدین)_

سنتو په دریم څل کول لازم دي، خو وتر صحيح دي.[۱]

ایا د سهار د سنتو هم قضاء وي

سوال: په قضاء لمونځ کې يوازې فرض کيږي، خو ځينې خلک وايي چې د سهار لمونځ قضاء شي، نو د هغه سنت هم کول پکار دي، که دا په دې وجه وي چې د سهار سنت موکد دي، نو بيا خو د ماسپښين هغه هم موکد دي، ايا د هغه هم قضا راوړل پکار دي؟

جواب: د سهار د سنتو تاکيد ډير زيات دی، له دې وجې که د سهار لمونځ قضا شي، نو دلمر د راختلو نه وروسته د زوال نه مخکې پورې د سنتو سره د کولو حکم دی، خو که د زوال نه مخکې يې د سهار د لمانځه قضاء ونکړه، نو وروسته دې يوازې فرض وکړي د وخت د وتلو نه وروسته د سهار د سنتو نه پرته د باقي هيڅ سنت قضاء نشته.[۲]

د قضاء سنت نيت څنګه وکړي؟

سوال: محترمه ! تاسو فرمايلي دي چې که د سهار لمونځ قضاء شي، نو ماسپښين نه مخکې د سنتو سره قضاء راوړل پکار دي، نو محترمه! سوال دادی چې د قضاء سنتو نيت به څنګه وي؟

جواب: بس د فجر د سنتو نيت کول پکار دي.[۳]

که د سهار سنت پاتې شي نو وروسته د لمر ختلو نه دې وکړي

سوال: په جنګ اخبار کې "ستاسو مسائل او د هغې حل" د عنوان لاندې تاسو ليکلي و چې د صبح صادق نه وروسته د سهار د سنتو نه پرته نفلونه مکروه دي د سنتو نه مخکې هم او وروسته هم، په دې سلسله کې دا خبره واضح کول غواړم چې که له چا نه سنت پاتې شي او هغه سنت کولو نه پرته د سهار په جمعه کې شريک شي، نو دا بيان شوي دي چې هغه به د لمر د راختلو نه وروسته سنت کوي، نو کله چې يوازې نفلونه مکروه دي، نو په سنتو باندې دا پابندي ولې ده؟ سنت، خو د نفلونو په تعريف کې نه راځي.

جواب: په دې مسئله کې د سنتو او نفلونو يو حکم دی د فرضو نه وروسته د لمر د راختلو نه مخکې د سهار سنت کول هم صحيح نه دي.[۴]

۱] حتی لو تبين ان العشاء صلاها بلاطهارة دون التراويح والوتر اعاد التراويح مع العشاء دون الوتر.....واما اعادة التراويح وسائر سنن العشاء فمتفق عليها.....الخ (هندية ج:۱،ص:۱۱۵،وايضا البحرالرائق ج:۱،ص:۲۵۹)

۲] والسنن اذا فاتت عن وقتها لم يقضها الا ركعتی الفجر اذا فاتتا مع الفرض يقضيهما بعد طلوع الشمس الی وقت الزوال ثم يسقط هكذا فی المحيط السرخسی.....واذا فاتتا بدون الفرض لا يقضی عندهما خلافا لمحمد.....الخ (الهندية ج:۱،ص:۱۱۲،كتاب الصلوة،الباب التاسع فی النوافل)۔

۳] ويكفيه مطلق النية للنفل والسنة.....الخ (هندية ج:۱،ص:۱۱۲،الباب التاسع فی النوافل)۔

٤] واذا فاتته ركعتاالفجر لا يقضيها قبل طلوع الشمس.....الخ [بقيه حاشيه په راروانه صفحه

د سهار د لمانځه نه وروسته د سهار سنت ادا کول

سوال: د سهار د لمانځه د دوه رکعته سنتو په باره کې مو اوریدلي دي چې دا د فرض لمانځه نه وروسته لاژمي کول پکار دي، خو زمونږ د محلې په جومات کې اکثر دا کتل کیږي، چې لمونځ کونکي حضرات ذکر شوي سنت پریښودلو سره فرض لمونځ د جمعې سره ادا کړي او د فرض لمونځ د پوره کیدو نه وروسته ځانته سره دوه رکعته سنت ادا کوي.

جواب: د فقه حنفي مسئله داده چې که د جمعې دویم رکعت (بلکې تشهد هم) د نیولو امید وي، نو په یو ځانته ځای کې دې د سهار سنت اول ادا کړي، بیا دې په جمعه کې شریک شي. که نه په جمعه کې دې شریک شي[۱] او سنت دې لمر د راختلو نه وروسته د اشراق په وخت کې وکړي[۲] د سهار د لمانځه نه وروسته لمر د راختلو پورې نفل لمونځ ممنوع دي. خو قضاء لمونځونه سجده تلاوت او د جنازې لمونځ جائز دي.[۳]

په سنت موکده وو کې د سهار د سنتو د غوره والي څه وجه ده؟

سوال: پنځه وخت سنت موکده وو کې د سهار دوه رکعته سنتو ته افضل ویل کیږي، ددې دافضلیت او غوره والي وجه څه ده؟

جواب: د سهار د سنتو په حدیث شریف کې ډیرزیات تاکید راغلی دی.[۴]

...بقیه د تیرمخ]. (هندیة ج:۱،ص:۱۵۲،) ایضا: عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : من لم یصل رکعتی الفجر فلیصلها بعد ما تطلع الشمس (جامع ترمذی ج:۱،ص:۵۷،باب ما جاء فی اعادتهما بعد طلوع الشمس)۔

[۱] ومن انتهی الی الامام فی صلوة الفجر وهو لم یصل رکعتی الفجر ان خشی ان یفوته رکعتا ویدرک الاخری یصلی رکعتی الفجر عند باب المسجد ثم یدخل لانه امکنه الجمع فضیلتین وان خشی فوتها دخل مع الامام (هدایة ج:۱،ص:۱۳۵) وفی حاشیة الهندیة: قوله مع الامام وحکی عن الفقیه ابی جعفر انه علی قول ابی یوسف وابی حنیفة یصلی رکعتی الفجر ان رجا وجدان القعدة ایضاً لان ادراک التشهد عندهما کادراک کله (حاشیه نمبر ۱۱ هندیة ج:۱،ص:۱۵۲،باب ادراک الفریضة.کذا فی الهندیة ج:۱،ص:۱۲۰،الباب العاشر فی ادراک الفریضة)۔

[۲] واذا فاتته رکعتاالفجر لا یقضیها قبل طلوع الشمس....الخ (هندیة ج:۱، ص:۱۵۲،) ایضا: عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : من لم یصل رکعتی الفجر فلیصلها بعد ما تطلع الشمس (جامع ترمذی ج:۱،ص:۵۷،باب ما جاء فی اعادتهما بعد طلوع الشمس)۔

[۳] وکره نفل.....ولو سنة الفجر بعد صلوة الفجر.... لایکره قضاء فائتة .....وسجدة تلاوة وصلاة جنازة.....الخ (درمختار ج:۱،ص:۳۷۵،مطلب یشترط العلم بدخول الوقت ،وایضاً البحر ج:۱،ص:۲۶٤)۔

[۴] والسنن آکدها سنة الفجرلما فی الصحیحین عن عائشة رضی الله عنها لم یکن النبی صلی الله علیه وسلم علی شئ من النوافل اشد تعاهدا منه علی رکعتی الفجر،وفی مسلم رکعتا الفجر خیر من الدنیا ومافیها،وفی ابی داؤد ولا تدعوا رکعتی الفجر ولو طردتکم الخیل(شامی ج:۲،ص:۱٤،کتاب الصلوة،مطلب فی السنن والنوافل)

چې د سهار جمعه دريږي نو سنت کله ادا کړل شي؟

سوال: د سهار د لمانځه له پاره جمعه دريږي، ايا وروسته راتلونکی سړی بيړې سره سنت ادا کولی شي؟کله چې دا ويره وي چې کم نه کم يو رکعت خو به جمعه سره و نه شي، که دده زړه نومړي رکعت سره شامليدل غواړي، نو سنت ورته کله کول پکار دي؟ايا د جمعې نه فوراً بعد سنت کېدای شي؟ يا د لمر راختلو نه وروسته؟د لمر راختلو نه وروسته سنت ادا کولو له پاره ايا هلته کيناستل ضروري دي يا کار روزګار کې سړی مشغوليدای شي؟

جواب: که دې سړي ته اطمينان وي چې د سنت ادا کولو نه وروسته جمعه کې شرکت کولی شم، نو ده ته پکار دي چې يو بېل ځای کې د سنتو کولو نه وروسته جمعه کې شريك شي او که دا خيال وي چې د سنتو کولو په صورت کې به جمعه پاتې شي نو سنت دې نه کوي .بلکې لمانځه کې دې شريك شي او سنت دې د لمر راختلو نه وروسته وکړي.[1]

د سهار سنت کله اداء شي؟

سوال: که جمعه ولاړه وي او امام د دويم رکعت په رکوع کې وي نو سنت پريښودل کيږي، نو بيا سنت کوم وخت ادا کړل شي؟ځينې خلک وايي چې د لمانځه نه فوراً بعد دې سنت ادا کړل شي.

جواب: د سهار د لمانځه نه وروسته د سنت کولو ممانعت په ډيرو احاديثو کې راغلی دی،له دې وجې که د سهار سنت اول ونکړل شي، نو د سهار د لمانځه نه وروسته کول جائزيږي نه دي، بلکې د لمر راختلو نه وروسته د اشراق وخت کې دې وکړي.[2]

که امام د سهار لمونځ کوي نو سنت کوم ځای کې وکړل شي؟

سوال: يو بزرګ د سهار سنتو سره متعلق مسائل بيانول نو هغوی وفرمايل:کله چې جمعه ولاړه وي، نو هلته سنت کول صحيح نه دي،خو که مينځ کې څه شی حائل وي مثلاً ديوال وي، پيلر وي يا څه پرده وغيره وي، نو د هغې شاته کول يې صحيح دي،خو يو بل صاحب وويل چې

---

[1] واذا خاف فوت ركعتى الفجر لاشتغاله بسنتها تركها لكون الجماعة اكمل والا بان رجا ادراک ركعة فى ظاهر المذهب،وقيل التشهد لا يتركها بل يصليها عند باب المسجد ان وجد مكاناً،والا تركها،لان ترک المكروه مقدم على فعل السنة(قوله:والا تركها) فان كان الامام فى الصيفى فصلوته اياها فى الشتوى اخف من صلوتها فى الصيفى وعكسه، واشد ما يكون كراهة ان يصليها مخالطاً للصف كما يفعله كثير من الجهلة (ردالمحتار مع الدرالمختار ج:۲،ص:۵۶، ۵۷)

[2] واذا فاتته ركعتاالفجر لا يقضيها قبل طلوع الشمس لانه يبقى نفلاً مطلقاً وهو مكروه بعد الصبح (هداية ج:۱،ص:۱۳۲،باب ادراک الفريضة) ايضاً: عن ابى هريرة رضى الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : من لم يصل ركعتى الفجر فليصلها بعد ما تطلع الشمس(ترمذى ج:۱،ص:۵۷،باب ما جاء فى اعادتهما بعدطلوع الشمس)

صرف ديوال يا د پردې کيدل کافي نه دي. بلکې کوم ځای پورې چې د امام د قراءت آواز رسيږي. نو هلته سنت کول جائز نه دي تاسو ددې وضاحت وکړئ

جواب: که جومات دوه برخې وی، امام دننه حصه کې لمونځ کوي نو صحن يا برنډه کې سنت کول جائز دي او که داسې دوه برخې نه وي. نو د يو شي پناه کيدو سره سنت کول جائز دي [1]

د سهار په سنتو کې په تقديم او تاخير باندې علمي بحث

سوال: د سهار دوه رکعته سنت، د فرض لمونځ د دريدو نه وروسته څنګه دي؟ په دې سلسله کې مي تاسو ته يو خل ليکلي و چې په هغه کې تاسو ويلي و چې په حديث تقريري باندې حديث قولي مقدم وي او د صحابه کرامو رضي الله عنهم آثار هم شته چې دفرض لمونځ د قيام نه وروسته په جمعه کې د شامليدو نه مخکې دوه رکعته سنت کول غوره دي. که نه د لمر د راختلو نه وروسته دې وکړي.

١ قولي حديث چې د سهار سنت د لمر راختلو نه وروسته کوئ (ترمذی جلد:١)

٢. قولي حديث چې د سهار د سنتو نه وروسته جمعه کوئ. اګر که جمعه ولاړه وي (د صحاح سته په يو کتاب کې دي)

٣. د فرض لمونځ د دريدو نه وروسته هيڅ لمونځ نشته.

۴. سنت د جمعې دوران کې کول مکروه دي. (درمختار جلد١)

۵. د سهار د فرضو نه وروسته سنت کيږي (هدايه جلد اول شرح وقايه)

٦. چې چا د سهار لمونځ ځانته شروع کړ او بيا يې تکبير ووايه .نو لمونځ دې مات کړي. اګر چې يو رکعت يې کړی وي (شرح وقايه،هدايه)

(چې فرض نه شي کولي نو سنت ولې کوي)

اوس پوښتنه داده چې قولي حديث دواړو طرفو ته دي. د تقريري حديث قاعده ساقطه شوه. زموږ فقه هم ددې خبري اجازه ورکوي چې د سهار د لمانځه نه وروسته دوه رکعته سنت کيږي که په وخت د ضرورت موږ هم داسې وکړو نو څه ګناه ده؟ که وخت وي نو د لمر د ختلو نه وروسته يې ادا کړو.

---

[1] ثم السنة المؤكدة التي يكره خلافها في سنة الفجر وكذا في سائر السنن. هو ان لا ياتي بها مخالطاً للصف بعد شروع القيام في الفريضة ولا خلف الصف من غير حائل،وان يأتي بها اما في بيته وهو افضل،او عند باب المسجد ان امكنه ذالك بان كان،ثم موضع يليق للصلوة وان لم يمكنه ذالك ففي المسجد الخارج ان كانوا يصلون في الداخل،او في الداخل ان كانوا في الخارج،ان كان هناك مسجدان : صيفي وشتوي، وان كان المسجد واحداً فخلف استوانة،ونحو ذالك كالعمود والشجر وما اشبههما في كونهما حائلاً،والاتيان بها خلف الصف من غير حائل مكروه،ومخالطاً للصف كما يفعله كثير من الجهال اشد كراهة لما فيه من مخالفة الجماعة ايضاً (حلبي كبير ص:٣٩٦،فصل في النوافل ،فروع)

جواب: زموږ د امامانو په نزد بالاتفاق د سهار قضاء شوي سنت د فرضو نه وروسته د لمر د راختلو نه مخکې د کولو اجازه نشته[1]،تاسو په نمبر**5** د هدایه او شرح وقایه حوالې سره چې لیکلي دی چې د سهار د فرضو نه وروسته سنت کیږي.دا صحیح نه دي ما هدایه او شرح وقایه دواړه وکتلې په دواړو کې منع لیکل شوي ده د هدایه عبارت دا دی

"**واذا فاتته رکعتا الفجر لا یقضیهما قبل طلوع الشمس لانه یبقی نفلا مطلقا وهو مکروه بعد الصبح**(هدایه ج:۱ص:۱۵۹ باب ادراک الفریضه...مکتبه رحمانیه لاهور)

١ قولی حدیث د لمر د راختلو نه وروسته د کولو په ترمذي (ج:۱ ص۵۷ باب ما جاء فی اعادتهما بعد طلوع الشمس)کې دی.[2]

دا روایت په مستدرک د حاکم(ج:۱ص:۲۷٤)کې هم دی امام حاکم او علامه ذهبي دې ته صحیح ویلي دي.

٢. قولی حدیث"د سهار سنت د لمانځه نه وروسته کوئ"ما ته په هیڅ کتاب کې نه دی لیدلی خو یوه واقعه په ابوداؤد او ترمذی کې ده چې یو سړي د سهار د لمانځه نه وروسته سنت وکړل،رسول الله ﷺ اوفرمایل چې ایاد سهارځلور رکعته دي؟ هغه وویل: یا رسول الله ﷺ! ما د سهار سنت نه و کړي، ویې فرمایل:**فلا اذن**....دا روایت اول خو کمزوری دی، ددې نه پرته زموږ په نزد ددې مطلب دادی چې"بیا هم جائز نه دي".[3]

١]ولا یصلی احدعند طلوع الشمس وعند الزوال وعندالغروب......فاما الصلوة فی الاوقات الثلاثة فالاصل ما روی عن النبی صلی الله علیه وسلم فی الآثار المتواترة انه نهی عن الصلوة فی هذه الاوقات الثلاثة، منها حدیث ابن عمر رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم لا یتحری احدکم فیصلی عند طلوع الشمس، ولا عندغروبها فانها تطلع بین قرنی شیطان (شرح مختصر الطحاوی ج:۱،ص:۵۲۷،طبع دارالسراج،بیروت)_

٢] الفاظ حدیث : عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : من لم یصل رکعتی الفجر فلیصلها بعد ما تطلع الشمس(ترمذی ج:۱،ص:۵۷،باب ما جاء فی اعادتهما بعدطلوع الشمس)_

٣] حدثنا ....محمد عن سعید بن سعید عن محمد بن ابراهیم عن جده قیس قال: خرج رسول الله صلی الله علیه وسلم فاقیمت الصلوة فصلیت معه الصبح ثم انصرف النبی صلی الله علیه وسلم فوجدنی اصلی فقال: مهلاً یا قیس! اصلاتان معاً؟ قلت: یا رسول الله ! انه لم اکن رکعت رکعتی الفجر،قال: فلا اذاً.....قال ابوعیسی:وانما یروی هذا الحدیث مرسلاً........ قال ابوعیسی: وسعد بن سعید هو اخو یحیی ابن سعید الانصاری وقیس هو جد یحیی بن سعید ویقال: هو قیس بن عمرو،ویقال: هو قیس بن فهد،واسناد هذا الحدیث لیس بمتصل محمد بن ابراهیم التیمی لم یسمع من قیس ....الخ (جامع الترمذی ج:۱،ص: ۵۷) قال العلامة البنوری رحمه الله ......فلا اذن......واختلف الحنفیة والشافعیة فی مراده فقال الحنفیة: معناه: فلا تصل اذن،وان لم تصلهما فکان قوله صلی الله علیه وسلم للانکار......ثم ان استعمال قوله فلا اذن للانکار کثیر منها ما فی صحیح مسلم: قال: شیخنا: لما سبق انکاره صلی الله علیه وسلم فسکوته بعده لا یدل علی الاذن (معارف السنن ج:٤،ص:۹۳، ۹۶) تفصیل دپاره اوګورئ : معارف السنن ج:٤،ص ۹۳ تا ۹۸ ،تحقیق قوله فلا اذن بذل المجهود :۲،ص:۲٦٤ ،باب من فاتته حتی یقضیها ،طبع امدادیه)_

۳. دا حديث صحيح دی چې کله فرض لمونځ ودريږی. نو د فرضو نه پرته بل لمونځ نه کيږي[۱]. په دې وجه زمونږ احناف علماء کرام فرمايي چې په جومات کې دې نه کوي. بلکې د جومات نه بهر دې په يو کونج کې وکړي لکه تاسو چې په نمبر ۴ کې د درمختار نه نقل کړي دي چې عين په صف کې کول مکروه دي.[۲]

۴. چې کله جمعه ودريږی، نو د فرض لمونځ ماتولو سره په جمعه کې د شامليدو حکم دی ځکه چې د يوازي لمونځ په ځای به يې د جمعې سره وکړي خو سنت پريښودو سره چې په جمعه کې شريکيږي نو سنت به ترې قضاء شی سره له دې چې دهغو د کولو تاکيد راغلی دی. په هر حال د سهار نه وروسته د سنتو کولو اجازت نشته. په متواترو احاديثو کې د سهار او د مازديګر نه وروسته د لمانځه نه منع راغلې ده.[۳]

د سنت کولو په وخت د اذان يا اقامت کيدل

سوال: که اذان يا اقامت وشي نو سنت ختمول پکار دي او که نه؟

جواب: په اذان باندې د سنت لمونځ ختمولوضرورت نشته. خود اقامت په باره کې سوال کيدای شي د دې تفصيل دا دی چې که د غير موکد يا نفل لمونځ نيت يې تړلی وي نو دوه رکعته پوره کولو سره دې سلام واړوي[۴]. او که د ماسپښين يا جمعې نه مخکې يې څلور رکعته سنتو نيت کړی وي چې دماسپښين لمونځ ودريد. يا د جمعې خطبه شروع شوه نو هغه دې پوره کړي، او ځينې فرمايي که په لومړيو دوه رکعته لمونځ کې وي، نو دوه رکعته پوره کولو نه وروسته دې سلام واړوي، او وروسته دې د څلور رکعتونو قضاء وکړي[۵] او که په

۱]عن ابی هريرة عن النبی صلی الله عليه وسلم قال: اذا اقيمت الصلوة فلا صلوة الا المكتوبة (صحيح مسلم ج:۱،ص:۲۴۷،ابوداؤد ج:۱،ص:۱۸۰)۔

۲] واذا خاف فوت ركعتی الفجر لاشتغاله بسنتها تركها لكون الجماعة اكمل والا بان رجا ادراک ركعة فی ظاهر المذهب،وقيل التشهد لا يتركها بل يصليها عند باب المسجد ان وجد مكاناً،والا تركها،لان ترک المكروه مقدم علی فعل السنة(قوله:عند باب المسجد)....... فان لم يكن علی باب المسجد موضع للصلوة يصليها فی المسجد خلف سارية من سواری المسجد،واشدها كراهة ان يصليها مخالطاً للصف مخالفاً للجماعة (ردالمحتار مع الدرالمختار ج:۲،ص:۵۶،ايضاً: عالمگيری ج:۱،ص:۱۱۳)۔

۳] عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: شهد عندی رجال مرضيون وارضاهم عندی عمر ان النبی صلی الله عليه وسلم نهی عن الصلوة بعد الصبح حتی تشرق الشمس وبعد العصر حتی تغرب (بخاری ج:۱،ص:۸۲، باب الصلوة بعدالفجرحتی ترتفع الشمس، ايضاً:شرح مختصرالطحاوی ج:۱ص:۵۳۷طبع دارالسراج، بيروت).

۴]ولو شرع فی التطوع ثم اقيمت المكتوبة اتم الشفع الذی فيه ولا يزيد عليه كذافی محيط السرخسی(هندية ج:۱،ص:۱۲۰،كتاب الصلوة ،الباب العاشر فی ادراک الفريضة)

۵]ولو كان فی السنة قبل الظهر والجمعة فاقيم او خطب يقطع علی راس الركعتين،يروی ذلک عن ابی يوسف رحمه الله وقدقيل يتمها،كذا فی الهداية(هندية ج:۱ص:۱۲۰كذا فی البحر ج:۲،ص:۷۶،باب ادراک الفريضة)

روستنيو دوه رکعتونو کې وي نو څلور رکعته دې پوره کړي په مينځ کې دې نه ماتوي [١]

که د ماسپښين او ماسخوتن سنت پاتې شي نو کله يې کول پکار دي؟

سوال: که يو سړی د ماسپښين لومړي څلور رکعته نه شي کولی او جمعه ولاړه وي او هغه د جمعې لمونځ د امام صاحب سره وکړي نو وروسته د دې سړي له پاره څه حکم دی چې هغه لومړي څلور رکعته سنت څنګه ادا کړي؟ حال دا چې د ماسپښين لومړي څلور رکعته سنت موکد دي او د ماسخوتن لومړي څلور رکعته غير موکد دي؟

جواب: هغه دې د فرضونه وروسته وکړي، لومړی دې دوه روستني رکعتونه وکړي. بيا دې څلور رکعته لومړني وکړي. که لومړی څلور او بيا دوه وکړي نو هم صحيح ده. [٢]

د فرضو نه مخکې څلور رکعته سنتو کې که يوازې دوه وشي نو څه حکم دی؟

سوال: د فرضو نه مخکې ادا کيدونکي سنت که څلور رکعتونه وي او وخت د دوه رکعتونو وي. يعنی جمعې دريدوته يوازې دوه منټه پاتې وي او يو سړي د نا خبري له وجې نه سنت کول شروع کړي نو دوه رکعته کولو سره سلام واړوي، ځکه چې جمعه دريدلې ده نو ايا د فرضو نه وروسته به هغه ته څلور رکعته سنت ادا کول پکار وي او که دوه کوم چې مخکې ادا کړي شوي دي يوازې دوه رکعته نور کول پکار دي؟

جواب: د ماسپښين نه مخکې څلور رکعته سنت موکده دي [٣]، که وخت کم وي نو د هغه د جمعې نه مخکې شروع کول نه دي پکار او که په غلطي سره يې شروع کړي وي نو هغه دې پوره کړي او سلام دې وګرځوي [٤] او که په دوه رکعته يې سلام وګرځولو نو د فرض لمونځ نه وروسته دې څلور رکعته وکړي [٥] او د مازديګر او ماسخوتن نه مخکې څلور رکعته سنت غير موکد دي که په دې دوران کې جمعه ودريږي نو په دوه رکعته دې سلام واړوي پاتې د دوه رکعتونو

---

[١] ثم اعلم ان هذا كله حيث لم يقم الى الثالثة اما ان قام اليها وقيدها بسجدة ففى رواية النوادر يضيف اليها رابعة ويسلم ......الخ (شامي ج:٢، ص:٥٤،مطلب صلوة ركعة واحدة باطلة)_

[٢] واما الاربع قبل الظهر اذا فاتته وحدها بان شرع فى صلوة الامام ولم يشتغل بالاربع فعامتهم على انه يقضيها بعد الفراغ من الظهر ما دام الوقت باقياً وهو الصحيح، هكذا فى المحيط وفى الحقائق يقدمها الركعتين عندهما، وقال محمد رحمه الله :يقدم الاربع وعليه الفتوى (هندية ج:١،ص:١١٢،كتاب الصلوة،الباب التاسع فى النوافل،وايضاً فى الشامي ج:٢،ص:٦٠،وايضاً فى البحر ج:٢،ص:٨١)_

[٣] سن.....وقبل الظهر......اربع .....الخ (هندية ج:١،ص:١١٢،وايضاً درمختار مع شامي ج:٢،ص:١٢)

[٤] واختلفوا فى السنة قبل الظهر او الجمعة اذا اقيمت او خطب الامام فالصحيح انه يتمها اربعاً.....الخ (البحر الرائق ج:٢،ص:٧٦)_

[٥] ولو افسدها قضى اربعاً......الخ (شامي ج:٢،ص:١١،مطلب فى لفظة ثمان) وايضاً: واختلفوا فى السنة قبل الظهر اوالجمعة اذا اقيمت او خطب الامام فالصحيح انه يتمها اربعاً....الخ (البحر الرائق ج:٢،ص:٧٦)

وروسته بيا ضرورت هم نشته [١]

د ماسپښين څلور رکعته سنت که د فرضو نه مخکې ونکړل شي نو کله وشي؟

سوال: که د فرض لمانځه نه مخکې لومړي سنت مثلاً د ماسپښين د فرضو نه مخکې څلور رکعته سنت پاتې شي نو ايا د فرض لمانځه نه وروسته ادا کول ضروري دي؟که ضروري وي نو کوم ترتيب سره ادا کړل شي؟يعنې مخکې ادا کړل شي يا وروسته؟

جواب: که د ماسپښين څلور رکعته سنت د فرضو نه مخکې ونکړل شي نو وروسته دې وکړي، اګرکه اول دوه رکعته سنت وکړي او بيا څلور رکعته سنت يا دا دې برعکس [٢]

د اذان نه مخکې سنت کول

سوال: که يو سړی جومات ته لاړشي او د ماسپښين سنت ادا کړي. خکه چې د ماسپښين وخت داخل شوی وي ،خو جومات کې اذان وروسته وکړي نو ايا سنت دوباره کول ضروري دي؟

جواب: که تاسو جومات ته تلو سره سنت کړي وي او اذان وروسته وشي نو د سنتو دوباره کول ضروري نه دي. [٣]

د سنتو پر مهال که جمعه ودريږي نو ايا په دويم رکعت کې سلام ګرځول پکار دي؟

سوال: که يو سړی د څلو رکعته سنتو نيت وکړي او فرض لمونځ جمعې سره شروع شي. نو دا کس قصداً که په دويم رکعت کې سلام وګرځوي نو ايا لمونځ وشو؟

جواب: که د سنتو نيت يې تړلی وي او هلته جمعه ودريده نو په دويم رکعت باندې سلام ګرځول صحيح دي.سنت دې بيا وروسته وکړي. [٤]

١] ولو شرع فى التطوع ثم اقيمت المكتوبة اتم الشفع الذى فيه ولا يزيد عليه،كذا فى محيط السرخسى (عالمگيرى ج:١،ص:١٢٠،كتاب الصلوة،الباب العاشر فى ادراك الفريضة)_

٢] واما الاربع قبل الظهر اذا فاتته وحدها بان شرع فى صلوة الامام ولم يشتغل بالاربع فعامتهم على انه يقضيها بعد الفراغ من الظهرما دام الوقت باقياً وهوالصحيح،هكذا فى المحيط(عالمگيرى ج:١،ص:١١٢،الباب التاسع فى النوافل)

٣] ومنها الوقت لان الوقت كما هو سبب لوجوب الصلوة فهو شرط لادائها .....الخ (بدائع ج:١،ص:١٢١)

٤] ولوكان فى السنة قبل الظهر والجمعة فاقيم او خطب يقطع على رأس الركعتين، يروى ذلك عن ابى يوسف رحمه الله وقدقيل يتمها.كذا فى الهداية (عالمگيرى ج:١ص:١٢٠كتاب الصلوة،الباب العاشرفى ادراك الفريضة) ٠

د سنت موکد په آخري دوه رکعتونو کې الحمد لوستل ضروري دي

سوال: ایا د سنت موکد په آخري دوه رکعتونو باندې الحمد شریف او سورت لوستل لازمي دي، یا یوازې سورت هم لوستلی شو؟

جواب: سنت موکد، غیر موکد، نفل او د وترو په ټولو رکعتونو کې د سورت فاتحه نه وروسته سورت لوستل واجب دي، که نه، لمونځ نه کیږي[1]. او که سورت فاتحه تري هیره شي یا سورت یو ځای کول ترې هیر شي نو سجده سهوه به واجب وي[2]. یوازې فرض لمونځ داسې دی چې دهغه په لومړیودوه رکعتونو کې قرات فرض دی، په روستي دوه رکعتونو کې قرات فرض نه دی[3] بلکې سورت فاتحه په طور د استحباب لوستل کیږي.[4]

د سنتو د پاره د ځای بدلول

سوال: له جمعې وروسته مې اکثر خلک په ځای بدلولو باندې لیدلي دي، ایا داسې کول صحیح دي؟ که صحیح وي نو کوم طرف ته ځای بدلول پکار دي؟ (او دا هم چې داسې کول سنت دي یا بدعت؟) امام هم داسې کوي چې د جمعې د کولو نه وروسته محراب پرېښودو سره شاته راشي او د خپل ځان په ځای بل څوک ولیږي ایا دا هم سنت دي؟

جواب: د فرض لمانځه نه وروسته د امام او مقتدي دواړو له پاره ځای بدلول مستحب دي، په سنن ابی داؤد (ج:١ص:١٤٤) کې د ابوهریره ﷜ نه د رسول الله ﷺ ارشاد نقل دی:

"**ایعجز احدکم ان یتقدم او یتاخر عن یمینه او عن شماله یعنی فی المسجد**"

ترجمه: ایا په تاسو کې یو انسان ددې خبرې نه قاصر دی چې د فرض لمونځ نه وروسته چې کله سنت شروع کوي نو لږ بنې، ګس طرف ته یا مخکې وروسته شي.

د څلور رکعتونو والا غیر موکد سنتو او نفلو نو غوره طریقه

سوال: زموږ په جوماتونو کې سنت لمونځ (غیر موکد) ماز دیګر او ماسخوتن د لمانځه نه مخکې

---

[1] (قوله وکل النفل والوتر) ای القراءة فرض فی جمیع رکعات النفل والوتر......الخ (البحر الرائق ج:٢،ص:٦٠، وایضاً: در مع الرد ج:٢،ص:٢٩، مطلب فی صلوة الحاجة)۔

[2] وان کان فی النفل والوتر وجب علیه لوجوبها فی الکل......الخ (وبعد اسطر) فلو لم یقراء شیئاً مع الفاتحة...... لزمه السجود......الخ (البحرالرائق ج:٢،ص:١٠١)۔

[3] (قوله والقراءة فرض فی رکعتی الفرض......الخ (البحرالرائق ج:٢،ص:٥٩، وایضا درمع الرد ج:٢،ص:٢٨)

[4] قراءة فاتحة الکتاب .... وضم سورة.....فی الاولین من الفرض وهل یکره فی الآخرین؟ المختار: لا.وفی ردالمختار: وفی اظهر الروایات لا یجب لان القراءة فیهما مشروعة من غیرتقدیر، والاقتصار علی الفاتحة مسنون لا واجب (الدرالمختار مع الردالمختار ج:١،ص:٤٥٩، مطلب کل صلوة ادیت مع کراهة التحریم)۔

په مختلفو طريقو سره ادا كيږي.زه اوخيني نور خلك خو يې د ماسپښين د سنتو په شان ادا كوو،خو ځيني خلك د دوه ركعته كولو سره د التحيات نه وروسته درود شريف او دعا هم لولي،بيا دريم ركعت كې **سبحانک اللهم** نه لوستل شروع كوي او پاتې لمونځ د عام لمونځ په شان كوي،تاسو مهرباني وكړئ او دا بيان كړئ چې كومه طريقه ډير غوره ده؟

سوال: ايا د مازديګر او ماسخوتن د څلور ركعته سنتو(غير موكد) دوه دوه سنت خانته خانته كيږي؟

جواب: (۱) غير موكد سنت او د نفلونه دوه ركعته پسې التحيات نه وروسته درود شريف او دعا كول،او په دريم ركعت كې **سبحانک اللهم** نه شروع كول غوره دي[۱] كه يوازې التحيات لوستلو سره پورته شي او دريم ركعت د الحمد نه شروع كړي نو هم څه باك نشته.

جواب: (۲) هو! كيږي.[۲]

د جُمعې د لمانځه د سنتو نيت څنګه وشي؟

سوال: د جمعې په لمانځه كې څلور ركعته سنت د فرضو نه مخكې او څلور ركعته او دوه ركعته د فرضو نه وروسته دی،ددې نيت بالترتيب وليكئ،او د فرضو نيت هم بيان كړئ او دا بيان كړئ چې كله د جمعې د دوه فرضو نه مخكې د څلور ركعتو سنتو وخت پيدا نه شي او خطبه شروع شوي وي نو هغه كله كُول پكار دي؟ هغه وخت د هغه سنتو په نيت كې څه ويل پكار دي؟

جواب: د سنتو له پاره يوازې د لمونځ نيت كول كافي دي[۳].د وخت او د ركعتونو تعين نه ضرورت نشته،خو كه څوک يې كول غواړي. نو په لومړيو سنتو كې سنت مخكې د جمعي نه

۱]وفى الدر المختار:(وفى البواقى من ذوات الاربع يصلى على النبى) صلى الله عليه وسلم (ويستفتح ويتعوذ.......الخ وفى الشامى: اما اذا كانت سنة او نفلاً فيبتدى كما ابتدا فى الركعة الاولى يعنى ياتي بالثناء والتعوذ.......الخ (درمختار مع الشامى ج:۲،ص:۱۱،مطلب قولهم كل شفع من النفل صلاة،وايضا البحر الرائق ج:۲،ص:۶۰)۔

۲] اما النفل فلان كل شفع منه صلوة على حدة ......ولهذا لا يجب بالتحريمة الاولى الا ركعتان فى المشهور عن اصحابنا.....الخ (البحرالرائق ج:۲،ص:۶۰) ايضاً السنة ركعتان قبل الفجر......واربع قبل العصر وان شاء ركعتين .....واربع قبل العشاء واربع بعدها وان شاء ركعتين.....وخير لاختلاف الآثار قوله لاختلاف الآثار فانه اخرج ابوداؤد واحمد وابن خزيمة وابن حبان فى صحيحيهما والترمذى عن ابن عمر رضى الله عنهما قال :قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : رحم الله امرأ صلى قبل العصر اربع،قال الترمذى حسن غريب واخرج ابوداؤدعن عاصم بن ضمرة عن على رضى الله عنه ان النبى صلى الله عليه وسلم كان يصلى قبل العصر ركعتين ورواه الترمذى واحمد فقالا اربعا بدل ركعتين(فتح القديرج:۱،ص:۳۱۵،باب النوافل،طبع بيروت)

۳] واما اذا كانت الصلوة نفلاً فانه يكفيه مطلق نية الصلوة ....وفى السنة[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

او په روستنو سنتو کې وروسته د جمعې نه نیت کول پکار دي، که د جمعې نه مخکې سنت پاتې شي نو دا دي د روستنو سنتو نه وروسته ادا کړي او په هغو کې دې مخکې د جمعې نه نیت وکړي.

د جمعې په لمانځه کې څومره سنت موکد دي؟

سوال: د جمعې په لمانځه دوه رکعته فرضو نه مخکې او وروسته کیدونکې سنتو باره کې بیان کړئ چې ایا لومړي څلور رکعته او وروسته شپږ رکعته (څلور او دوه) سنت موکد دي؟ که څوک یې ونکړي نو ګناه ګار به وي؟ زموږ یو مشر وایي د فرضو نه وروسته څلور رکعته سنت کول ضروري نه دي.

جواب: د جمعې نه وروسته په سنتو کې اختلاف دی. فتوا په دې ده چې د جمعې په ورځ شپږ رکعته سنت دي،لومړي څلور رکعته سنت موکد او بیا دوه غیر موکد او که څوک ترتیب بدل کړي چې لومړی دوه وکړي بیا څلور وکړي نو هم هیڅ باک نشته [۱]

د ماسخوتن څلور رکعته سنت موکد دي که غیر موکد؟

سوال: د ماسخوتن د لمانځه څلور رکعته سنت موکد دي یا غیر موکد؟ او د هغو کول لازم دي یا نه؟ رهنمایي مو وکړئ.

جواب: د مازدیګر او ماسخوتن نه مخکې څلور رکعته سنت غیر موکد دي، ددې کول غوره دي. خو ضروري نه دي [۲]

د ماسخوتن لمانځۀ نه وروسته دوه رکعته سنت مخکې کول صحیح نه دي

سوال: زموږ د علاقې په جومات کې څه ملګري داسې لمونځ کولو ته راځي، چې د ماسخوتن د لمانځه د شروع د څلورو رکعتو سنتو په ځای دوه کوي یو ملګري سوال وکړو ،نو هغوی جواب ورکړ چې موږ دا وروستني سنت مخکې ادا کوو ،نو ایا وروستني دوه رکعته مخکې کولی شو؟

جواب: دفرضونه وروسته سنت د فرضوتابع دي،دفرضو ادا کولونه مخکې یې اداکول صحیح

...بقیه د تیرمخ].. اذ ینوی السنة وفی الوتر ان ینوی الوتر وکذا فی صلوة العیدین (الجوهرة النیرة ج:۱،ص:٤٧)_

۱] وعلی استنان الاربع بعدها (الجمعة) ما فی صحیح مسلم عن ابی هریرة مرفوعاً اذا صلی احدکم الجمعة فلیصل بعدها اربعاً...... وعن ابی یوسف انه ینبغی ان یصلی اربعاً ثم رکعتین......والافضل عندنا ان یصلی اربع ثم رکعتین .....الخ (البحرالرائق ج: ۲،ص:۵۳) وروی عن علی بن ابی طالب رضی الله عنه انه امر ان یصلی بعدالجمعة رکعتین ثم اربعاً....الخ (جامع الترمذی ج:۱،ص:٦٩،ابواب الجمعة)_

۲] (قوله وندب الاربع قبل العصر والعشاء) ....الخ (البحرالرائق ج: ۲،ص:۵۳)_

نه دي،بلکې که د سنت او فرضو نه وروسته معلومه شي چې فرض لمونځ د څه وجې نه صحیح نه شو او سنت مو صحیح کړي وي نو د فرضو نه وروسته د سنتو راګرځول هم ضروري دي ،مخکې شوي سنت کافي نه دي [١]

❖ قضاء لمونځونه ❖

....

د قضاء لمونځ راګرځولو ثبوت

سوال: د اسلام په ارکانو کې لمونځ،روژه،زکات،او د حج ادا کول په هر مسلمان نارینه زنانه باندې د قرآن او سنت په رڼا کې فرض دي.د قضاء روژې په باره کې په قرآن کریم کې واضح حکم دی چې که یو مسلمان د رمضان په میاشت کې په سفر یا ناروغۍ کې روژې نه شي نیولی، نو وروسته دې چې کله عذر ختم شي روژې پوره کړي.تاسو نه پوښتنه دا کول دي چې ایا په قرآن کریم کې د لمونځ د قضاء او ادا کولو په باره کې همدغه شان واضح احکام شته؟ مهرباني وکړئ د آیتونو په حوالې سره خبر راکړئ؟

جواب: د لمونځ د قضاء په باره کې په قرآن کریم کې وضاحت نشته.په حدیث شریف کې دي **من نام عن صلاته او نسیها فلیصل اذا ذکرها او قال استیقظ**....یعنې کوم سړی چې د خپل لمونځ نه ویده پاتې شي یا ترې هیر شي نو هغه دې وکړي کله چې ورته رایاد شي او یا یې وفرمایل کله چې بیدار شي[٢]....د قصدا لمونځ قضاء کولو په اسلام کې ګنجائش بالکل نشته. په دې وجه چا چې لمونځ په قصد پریښود ،دهغه د قضاء په باره کې هم په قرآن کریم او احادیثو کې صریح حکم نشته.خو فقهاء امت د لمونځ د قضاء احکام بیان کړي دي[٣] او ځینې ددې هم قائل دي چونکه په قصد لمونځ پریښودونکی مسلمان نه پاتې کیږي. د هغوی د قول مطابق دې هغه د خپلې نکاح او ایمان تجدید وکړي(یعنی تازه دې کړي)[۴]

١] قال فی الهندیة: حتی لو تبین ان العشاء صلاها بلاطهارة دون التراویح والوتر اعادالتراویح مع العشاء ....فمتفق علیها.......الخ (هندیة ج:١،ص:١١٥،فصل فی التراویح .وایضا البدائع الصنائع ج:١،ص:٢٨٨)

٢]ولنا قول النبی صلی الله علیه وسلم من نام عن صلوة او نسیها فلیصلها اذا ذکرها........الخ (البدائع الصنائع ج:١،ص:١٣١) ....فی الصحیحین ....من نام عن صلوة او نسیها فلیصلها اذا ذکرها لاکفارة لها الا ذلک.......الخ (فتح القدیر مع الهدایة،باب قضاء الفوائت ج:١،ص:٣٤٧)۔

٣] باب قضاء الفوائت،لم یقل المتروکات ظنا بالمؤمنین خیراً لان ظاهر حال المسلم ان لا تترک الصلوة وانما تفوته من غیرقصد لعذر(حاشیة طحطاوی مع المراقی ص:٢٣٩،طبع میرمحمدکتب خانه،درمختار،ج:٢،ص:٦٢)

٤] وافاد بذکره الترتیب فی الفوائت والوقتیة لزوم القضاء وهو ما علیه الجمهور وقال الامام احمد: اذا ترکها عمداً بغیر عذر لا یلزمه قضاءها لکونه صاراً مرتدا والمرتد لا یؤمراذا بقضاء...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

د قضا لمونځ انکار او د دې جواب

سوال: زموږ يو دوست چې الحمدلله پنځه وخته لمونځ کوي او په اول کې دلمونځ کولو هرممکن کوشش کوي، خو د لمانځه د قضا قائل نه دی. د هغه دليل دا دی

١ **ان الصلوة کانت على المؤمنين کتاباً موقوتاً**". د دې آيت کريمه نه هغه دا دليل پيش کوي چې لمونځ په مقرره وخت باندې فرض دی، ځنګه چې د جهاز يو ملازم که په وخت باندې رانه شي، نو جهاز د هغه انتظار نه کوي او ملازم سره د خپلې نوکرۍ د بچ کولو نه پرته بله لاره نه وي چې هغه د منيجرصاحب نه معافي وغواړي، بالکل دغه شان د لمونځ پاتې کيدو په صورت کې انسان صرف دا لاره ده چې د خدای په دربار کې ژاړي او آئنده لپاره د داسې نه کولو پوخ عزم وکړي او پوره کوشش کوي چې آينده به داسې نه کوم.

٢ ښځوته د هغوی د حيض په ورځوکې لمونځ معاف دی، خود روژوقضا پرې شته، د دې مطلب دا دی چې د روژې قضا شته، خود لمانځه قضا نشته، که نه وروسته به بيا د دې قضا هم وه موږ ورته وويل چې "ځنګه قرض په خپل مقرره وخت باندې واپس کول فرض دي نو د وخت تيريدو نه وروسته هغه قرض نه معاف کيږي، بلکې قرض ورکوونکي ته به خپل قرض واپس کول ضروري وي بلکې د دې سره سره به د هغه نه معافي غوښتل هم ضروري وي" خو د هغه استدلال دا دی چې قرض حقوق العباد کې دی، د دې وجې نه د دې په خپل ټاکلي وخت کې واپس کول ضروري دي که حقوق الله قرض وی نو معاف شوی به و "د استغفار په شرط" او د دې دليل دا دی چې الله پاك انسان يوازې د دې لپاره پيدا کړی دی چې د الله تعالى عبادت وکړي.

خوکله چې انسان (**نعوذبالله**) مرتد شي او د الله پاك دشمن جوړ شي نو هغه وخت کوم چې يوازې د الله پاك د عبادت لپاره و، هغه د الله پاك په دشمنۍ کې خرچ کوي، د حقوق الله خلاف ورزي کوي، د دې نه وروسته هم الله پاك د هغه توبه قبلوي او خپل حق ورته معاف کوي او بيا د هغه اسلام راوړل قبلوي "**ان الذين آمنوا ثم کفروا ثم آمنوا ثم کفروا**" اميد دی چې د قرآن وحديث او د امامانو د فتاواګانو نه به استدلال وفرمايئ.

جواب: د فقهاء کرامو او امامانو ارشاد دی چې يو سړی قصداً لمونځ قضا کړي، نو په هغه باندې لازم دي چې د قضا کولو د ګناه نه توبه وکړي اود لمانځه قضا دې راوړي[١]. د دې مثال داسې دی چې د يو سړي په ذمه باندې سل روپۍ ادا کول ضروري وي ليکن هغه ادا نکړي، نو دا سل روپۍ عادتا دده په ذمه پاتې دي او په وخت باندې نه اداکول جدا جرم شو. که دا صاحب

...بقيه د تيرمخ] ..ماترکه اذا تاب (حاشية طحطاوی ص: ٢٣٩، باب قضاء الفوائت، طبع ميرمحمد کتب خانه)

[١] اذا التاخير بلاعذر کبيرة لا تزول بالقضاء بل بالتوبة ای بعدالقضاء واما بدونه فالتاخير باق فلم تصح التوبة منه لان من شروطها الاقلاع عن المعصية ..الخ(درمختار ج: ٢، ص: ٦٢ کتاب الصلوة، باب قضاء الفوائت)

قضا لمونځ نه مني نو ده سره بحث مه کوئ خکه چې د بحث هيڅ فائده نشته **والله اعلم**

د قضاء عمرئ شرعي حيثيت

سوال: د قضاء عمري د لمونځونو متعلق څۀ حکم دی؟ دا ادا کول پکار دي او که نه؟

جواب: کوم لمونځونه چې قضا شوي دي نو د هغو ادا کول ضروري دي. خکه چې که په ژوند کې يې ادا نکړي نو د مرګ نه وروسته به ددې سزا ورکول کيږي .ددې وجې نه آسان صورت دا دی چې هرلمانځه سره يو قضا لمونځ هم کيږي .ورو ورو به ټول قضا لمونځونه ادا شي او يو صورت دا کيدای شي چې که موقع وي نو په يو ورځ کې څو لمونځونه وکړي.څو څومره لمونځونه چې وشي د هغو حساب ياد ول پکار دي.[١]

ايا قضاء لمونځ کول ګناه ده؟

سوال: زما لور يوازې په دې وجه چا هغې ته ووېل چې قضاء لمونځ کولو باندې ګناه کيږي لمونځ کول پريښودل تاسو بيان کړئ چې څه اوکړو؟

جواب: ستاسو لور ته چا غلط ويلي دي د لمونځ قضاء کول ګناه ده. قضاء راوړل يې ګناه ده[٢]،بلکې فرض دي[٣]،عجيبه خبره ده هغې خو ګناه پريښې نه ده او د فرضو په پريښودو باندې په ګناه د پاسه يې ګناه زياته وکړه.توبه استغفر الله... هغې ته پکار دي چې د لمونځ پريښودو د ګناه نه توبه وباسي او د څو ورځو لمونځونه چې هغې پريښي دي د هغو دې قضاء راوړي.[٤]

د قضاء لمونځ نيت او طريقه

سوال: د قضاء لمونځ د نيت طريقه څه ده؟ او دا هم که د دوه درې وختو لمونځونه پاتې شوي وي او د هغې يو يا يو نيمه مياشت شوي وي، نو دهغه د لمانځه نيت به څنګه کيږي ؟

جواب: د هر لمانځه په وخت کې دې دا نيت کوي چې د هغه وخت(مثلاً د ماسپښين) څومره

---

[١] كل صلوة فاتت عن الوقت بعد وجوبها فيه يلزمه قضاءها ......سواء كانت الفوائت كثيرة او قليلة (عالمگيرى ج:١،ص:١٢١) لانه عليه السلام اخرها يوم الخندق ثم اداء......ذلک ان المشركين شغلوا رسول الله صلى الله عليه وسلم عن اربع صلوة يوم الخندق حتى ذهب من الليل ماشاء الله فامر بلالاً فاذن ثم اقام فصلى الظهر،ثم اقام فصلى العصر،ثم اقام فصلى المغرب،ثم اقام فصلى العشاء(ردالمحتار ج:٢،ص:٦٢،باب قضاء الفوائت،جامع ترمذى،ج:١،ص:٤٣)

٢]والتاخير بلاعذر كبيرة لا تزول بالقضاء بل بالتوبة او الحج فالقضاء مزيل لاثم الترک لا لاثم التاخير(حاشية طحطاوى ص:٢٣٩،باب قضاء الفوائت،ايضاً درمختار ج:٢،ص:٦٢،باب قضاء الفوائت)_

٣]وفى التنوير :وقضاء الفرض...فرض..الخ(الدرالمختار مع الردالمحتار ج:٢،ص:٦٦،مطلب فى تعريف الاعادة)

٤] ايضاً تيره شوى حواله)_

لمونځونه چې زما په ذمه دي په هغو کې لومړی ادا کوم.او د قضاء لمونځ هم هغه طريقه ده کومه چې د ادا لمونځ ده.يوازې په نيت کې به د قضاء لمونځ ذکر کوي [١]

د قضا دلمونځ کوم نيت صحيح دی؟

سوال: مخکې به ما د قضا لمونځ نيت داسې کاو چې نيت د څلور رکعته فرض ماسخوتن قضا لمونځ اوس داسې کوم چې زما په ذمه چې د ماسخوتن کوم لمونځونه دي.په هغو کې لومړی لمونځ ادا کوم ماته مخکې هم دا نيت معلوم و ،خود نه پوهيدو له وجې نه مې هغه لومړی نيت کاو.ايا دواړه نيتونه صحيح دي يا لمونځ دوباره کول پکار دي؟

جواب: دويم نيت صحيح دی.اولنی نيت صحيح نه دی [٢]

د قضاء عمری د لمانځه نيت څنګه کول پکار دي؟

سوال: د قضاء عمري د لمانځه نيت څنګه کيږي؟ ايا د سهار نه ماسخوتن پورې او د وترو لمونځ په يووخت يوځای ادا کيدای شي؟

جواب: د قضاء عمری څه وخت نه وي کله هم چې موقع پيداشي، د شپې يا د ورځې نو لمونځ کول جائز دي، په دې شرط چې مکروه وخت نه وي او نيت داسې کيږي چې ددې وخت څومره قضا لمونځونه زما په ذمه دي،په هغو کې اولنی لمونځ ادا کوم.[٣]

د ملازمت له وجې نه د ورځې ټول لمونځونه په يو وخت ادا کول

سوال: زموږ ځينې دوستان ټوله ورځ په ملازمت کې د مشغولتيا له وجې نه د شپې چې کور ته راشي نو ټول لمونځونه په يو وخت کوي.سوال دا دی چې ايا ددې دوستانو دا لمونځ کول

---

[١] كثرت الفوائت نوى اول ظهر عليه او آخره (قوله كثرت الفوائت......الخ) مثاله لو فاته صلوة الخمس والجمعة والسبت فاذا قضاها لا بد من التعيين لان فجر الخميس مثلاً غيرفجر الجمعة فان ارادالتسهيل الامر، يقول: اول فجر،مثلاً فانه اذا صلاه يصير ما يليه اولاً.....الخ (الدرالمختار مع الشامى ج:٢،ص:٧٦،باب قضاء الفوائت)_

[٢] اذا كثرت الفوائت نوى اول ظهر عليه او آخره ......الخ (شامى ج:٢،ص:٧٦،كتاب الصلوة،باب قضاء الفوائت ،طبع ايم ايچ سعيد) واذا كثرت الفوائت يحتاج لتعيين كل صلوة يقضيها لتزاحم الفروض والاوقات كقوله اصلى ظهر الاثنين ثامن عشر جمادى الثانية سنة اربع وخمسين والف وهذا فيه كلفة فاذا اراد تسهيل الامر عليه نوى اول ظهر (وقوله عليه) ادرک وقته ولم يصله فاذا نواه كذلک فيما يصليه يصير اولاً فيصح بمثل ذلک..الخ (مراقى الفلاح على هامش الطحطاوى ص:٢٤٢باب قضاء الفوائت،طبع ميرمحمد كتب خانه)

[٣] اذا كثرت الفوائت نوى اول ظهر عليه او آخره......الخ (شامى ج:٢،ص:٧٦) ثم ليس للقضاء وقت معين بل جميع اوقات العمر وقته الا ثلاثة وقت طلوع الشمس ووقت الزوال ووقت المغرب،فانه لا تجوز الصلوة فى هذه الاوقات، كذا فى البحرالرائق(الفتاوى الهندية ج:١،ص:١٢١،الباب الحادى عشر فى قضاء الفوائت) هم دغه شان پورتنی حواله_

جائز دي که ناجائز؟ نو ددوی لپاره د لمونځ کولو څه طريقه ده؟ او که دداسې حضراتو په باره کې څه حديث وي نو ضرور يې ذکر کړئ.

جواب: لمونځونه په خپل مقرروخت باندې اداکول پکار دي.لمونځونه قضاکول ډېرلوی وبال دی[۱]

د ماسپښين لمونځ مازديګر سره د کولو عادت جوړول

سوال: زما مسئله دا ده چې زه يو وکيل يم او کوشش کوم چې زما لمونځونه مکمل او په خپل وخت باندې ادا شي.خو تقريباً روزانه داسې کيږي چې کله زه د کورټ نه دفتر ته راشم نو د ماسپښين وخت وي.هغه وخت زيات تر کلائنټ يا په دفتر کې زما وکيلان ملګري ناست وي.چې کله څوك نه وي. نو بيا خو لمونځ کوم.خو اکثر څوك نه څوك وي او د هغوی په وړاندې ماته لمونځ کول مناسب نه ښکاري ځکه چې د ښځو لپاره حکم دی چې په لمانځه کې کوشش ددې خبرې وکړي چې په يوازې والي کې يې وکړي.لهذا زه تقريباً روزانه کورته د راتلو نه وروسته مازديګر لمانځه سره څلور رکعته فرض لمونځ کوم يعنی څلور رکعته فرض د ماسپښين او څلور رکعته د مازديګ.اوس تاسو ماته ووايئ چې روزانه زما نه د ماسپښين لمونځ قضا کيږی،ددې به څومره قدرې ګناه وي؟

جواب: فرض لمونځ قضا کول لويه ګناه ده[۲] او زه دا نه شم ويلې چې ددې به څومره وبال وي؟ خو دومره پوهيږم چې ددنيا هيڅ يو جرم د قضا د جرم نه زيات نشته او زه خو د ښځو وکالت هم جائز نه ګنم.په دې کې په زرګونو خرابياني او فسادات دي.خو په دې خبرو باندې ددې زمانې خلک پوهول مشکل دي، ترڅو چې ملك الموت ورته پيغام راوړی نه وي.دې وخت کې نظر په دنيا باندې دی، ددې وجې نه دا خبرې ليرې معلوميږي او د خلکو په پوهه کې نه راځي.خو کله چې ترينه د مرګ فرشته روح قبض کړي او د قبر کوټګی کې بند شی نو دا خبرې به بيا بغير د پوهولو نه په خپله په پوهه کې راشي.افسوس دی چې ددنيا دلچسپو او د غيرقومونو تقليد د مسلمانانو ايمان دومره کمزوری کړی دی چې دوی د دين په خبرو باندې پوهول هم مشکل دي.

قصداً لمونځ قضا کول لويه ګناه ده

سوال: زه يوه استاذه يم او په کوم سکول کې چې سبق ښايم هلته د اودس او د لمانځه اهتمام

---

[۱] ان الصلوة كانت على المؤمنين كتاباً موقوتاً(النساء:۱۰۳) والتاخير بلا عذركبيرة لا تزول بالقضاء بل بالتوبة او الحج فالقضاء مزيل لاثم الترک لا لاثم التاخير (مراقى الفلاح مع حاشية الطحطاوى ص:۲۳۹،باب قضاء الفوائت)

[۲] اذا التاخير بلاعذر كبيرة لا تزول بالقضاء بل بالتوبة اى بعدالقضاء واما بدونه فالتاخير باق فلم تصح التوبة منه لان من شروطها الاقلاع عن المعصية..الخ (شامى ج:۲،ص:۶۲،كتاب الصلوة،باب قضاء الفوائت)

نشته، ددې وجې نه د ماسپښين لمونځ لاړ شي، ايا زه د ماسپښين لمونځ د مازديګر لمونځ سره يوځای کولی شم؟ او قضا به يوازې د فرضو کيږي که دسنتو هم؟ د قضا نيت څنګه کيږي؟

جواب: هرکله چې تاسو د سکول استاذه يئ نو د اودس او د لمانځه انتظام معمولی اهتمام سره کيدای شي، تاسو آسانتيا سره هلته لوټه اومصلی کښېنودای شئ. يوازې ددې عذر د وجې نه د ماسپښين د لمانځه د قضا کولو معمول جوړول لويه ګناه ده[1]. په هرحال که د ماسپښين لمونځ قضا شي ،نو دا د مازديګر د لمانځه نه مخکې کول پکار دي[2]. قضا يوازې د فرض رکعتونو وي د سنتو قضا نشته[3]. د قضا لمونځ نيت هم د عامو لمونځونو په شان کيږي مثلاً دا نيت کوئ چې د نن ماسپښين قضا لمونځ کوم [4] .

په قصد لمونځ قضاء کول کبيره ګناه ده

سوال: زه يو استاذه يم او زه په سکول کې سبق ښايم هلته د لمونځ اودس د ځای انتظام نشته، په دي وجه د ماسپښين لمونځ لاړ شي، ايا زه د ماسپښين لمونځ د مازديګر سره کولی شم؟ او قضاء به يوازې د فرضو. يا که د سنتو به هم وي؟ د قضاء نيت څنګه کيدلی شي؟

جواب: هرکله چې تاسويه سکول کې استاده يئ ،نود اودس اودلمانځه انتظام په لږاهتمام سره کيږي تاسو هلته په آساني سره لوټه او مصلی ايښودلی شي ،يوازې په دې عذر سره د ماسپښين د لمونځ د قضاء کولو عادت جوړول کبيره ګناه ده، په هر حال که د ماسپښين لمونځ قضاء شيو نو هغه د مازديګر د لمانځه نه مخکې کول پکار دي، قضاء يوازې د فرض رکعتونو وي د سنتيو نه وي، د قضاء لمونځ نيت هم د عام لمونځونو په شان وي مثلا نيت کوئ چې د نن ماسپښين قضاء لمونځ ادا کوم.[5]

---

[1] اذا التاخير بلاعذر كبيرة لا تزول بالقضاء بل بالتوبة اى بعدالقضاء واما بدونه فالتاخير باق فلم تصح التوبة منه لان من شروطها الاقلاع عن المعصية......الخ (درمختار مع الشامى ج:٢،ص:٦٢،كتاب الصلوة،باب قضاء الفوائت)

[2] ومنها تقدم قضاء الفائتة التى يتذكرها اذا كانت الفوائت قليلة.....الخ (البدائع الصنائع ج:١،ص:١٣١)

[3] والسنن اذا فاتت عن وقتها لم يقضها.....الخ (هندية ج:١،ص:١١٢،الباب التاسع فى النوافل)

[4] اذا كثرت الفوائت نوى اول ظهر عليه او آخره ......الخ (شامى ج:٢،ص:٧٦،كتاب الصلوة،باب قضاء الفوائت ،طبع ايم ايچ سعيد) واذا كثرت الفوائت يحتاج لتعيين كل صلوة يقضيها لتزاحم الفروض والاوقات كقوله اصلى ظهر الاثنين ثامن عشر جمادى الثانية سنة اربع وخمسين والف وهذا فيه كلفة فاذا اراد تسهيل الامرعليه نوى اول ظهر (وقوله عليه) ادرک وقته ولم يصله فاذا نواه كذلک فيما يصليه يصير اولاً فيصح بمثل ذلک..الخ (مراقى الفلاح على هامش الطحطاوى ص:٢٤٢باب قضاء الفوائت،طبع ميرمحمدكتب خانه)

[5] اذا كثرت الفوالت نوى اول ظهر عليه او آخره ......الخ (شامى ج:٢،ص:٧٦،كتاب الصلوة،باب قضاء الفوالت ،طبع ايم ايچ سعيد) واذا كثرت الفوالت يحتاج لتعيين كل صلوة يقضيها لتزاحم الفروض والاوقات كقوله اصلى ظهر الاثنين ثامن عشر جمادى الثانية سنة ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

د قضاء لمونځونو حساب د بالغ کيدو له وخت نه دی او په لمونځ کې د سستوالي مناسب سزا

سوال: لمونځ کله فرض کيږي؟ يعني زه د شلو کالو جينۍ يم او د خپل ژوند ټول قضاء لمونځونه ادا کول غواړم، خو زه نه پوهيږم چې زه د څومره مودې لمونځونه ادا کړم؟ لکه څنګه چې فرمايل شوي دي چې د اوو کالو نه خپلو ماشومانو ته د لمانځه حکم کوئ او د لسو کالو په عمر کې يې وهئ .نو ايا د لسو کالو په عمر کې لمونځ فرض شو؟ يا د کوم وخت نه چې زه ځوانه شوم نو د روژې او پردې احکامات په ما باندې راغلل د هغه وخت نه لمونځ فرض شو؟ په دې صورت کې په ما باندې د پنځه کالو د لمونځونو قضاء ده او د لومړي حکم په تعميل کې که وکتل شي، نو د لسو کالو.که تاسو وضاحت وکړئ نو ډير شکر ګزاره به يم.دويمه خبره داده چې قضاء لمونځونه څنګه ادا شي؟ په اصل کې مولانا صاحب!په کومه زمانه کې چې ما د لمونځ پابندي نه کوله په هغه زمانه کې هم ما د رمضان المبارک او د امتحانونو د ورځو لمونځونه ادا کړي دي او اوس صحيح ياد نه دي چې څومره لمونځونه ادا دي او څومره قضاء؟ په دې وجه د لمونځونو د تعداد په باره کې څه طريقه ده،څه خلک وايي چې د هر لمانځه نه وروسته دې دوه رکعته فرض و شي. ځکه چې په رمضان المبارک کې خو يو لمونځ د اويا لمونځونو برابر وي. په دې طريقه به ستا قضاء لمونځونه ادا شي ايا دا طريقه صحيح ده؟ مهرباني وکړئ زما د سوالونو جواب راکولو سره ما د شکونو د حالت نه بهر کړئ. زه به ټول عمر ستاسو احسان منده يم زه په پابندۍ سره د لمونځ د ادا کولو کوشش کوم تاسو به دا بيان کړئ چې زه به په خپل ځان کې د لمونځ شوق څنګه پيدا کړم؟ د لمونځ قضاء کولو په صورت کې ما ځانته د سزا ورکولو فيصله کړې ده يعني د لوږې تيرولو سزا يا د خپل بدن د يو حصې زخمي کولو سزا ايا دا صحيح ده؟ اميد دی چې تاسو به زما د مطمئن کولو کوشش وکړئ او دعا به کوئ چې الله پاک دې بدنصيب او نالائقه لور ته د لمانځه شوق ورکړي آمين!

جواب: اګر چې ماشومانو ته د لمونځ کولو حکم دی، خو لمونځ فرض کيږی هغه وخت چې کله انسان ځوان يا بالغ شي،تاسو اندازه وکړئ چې د هغه وخت نه به څومره لمونځونه ستاسو په ذمه وي؟ بيا چې د څومره کلونو اندازه وشي هغه هومره کلونه د هر لمانځه سره يو قضاء هم کوئ،او که زيات وکړئ نو نوره هم غوره ده[1] باقي دا غلطه ده چې د فرض لمونځ کولو سره دِ

...بقيه د تيرمخ]..اربع وخمسين والف وهذا فيه كلفة فاذا اراد تسهيل الامر عليه نوى اول ظهر (وقوله عليه) ادرک وقته ولم يصله فاذا نواه كذلک فيما يصليه يصير اولاً فيصح بمثل ذلک.....الخ (مراقى الفلاح على هامش الطحطاوى ص:٢٤٢،باب قضاء الفوائت،طبع ميرمحمد كتب خانه)۔

١] كل صلوة فاتت عن الوقت بعد وجوبها فيه يلزمه قضاءها.....سواء كانت الفوائت كثيرة او قليلة ...... وبعد اسطر .....صبى صلى العشاء ثم نام واحتلم والتبه قبل طلوع الفجر...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

قضاء لمونځ فرض کوزیږي یا داچې په رمضان المبارک کې په قضاء لمونځ کولو سره اویا قضاء لمونځ ختمیږي[1] د لمونځ د پابندي له پاره مناسب سزا مقررکیدلي شي چې په هغې سره نفس خبردار وي د یو وخت لوږه یا څه صدقه یا په یو لمونځ قضاء کولو باندې لس نفلونه کول خو د بدن د زخمي کولو سزا نامناسب ده

د قضا لمونځونو حساب به د بلوغ نه وی یا د اوو کالو د عمر نه؟

سوال: د قضا لمونځونو د ادا کولو لپاره حکم دی چې هلك یا جینۍ بالغ شي. نو د هغه وخت نه موجوده وخت پورې به د لمونځونو حساب وکړي او هغه به ادا کړي، حالانکې لمانځه حکم د اوو کالونه ورکړل شوی دی، کوم کس چې د قضا لمونځونو د ادا کولو اراده وکړي. نو ایا هغه به یوازې هغه لمونځونه ادا کوي کوم چې د بلوغ نه وروسته قضا شوي دي یا هغه لمونځونه به هم ادا کوي کوم چې د بلوغ او د اوو کالو د عمر په مینځ کې قضا شوي دي؟

جواب: که لمونځونه د چا نه قضا شوي وي. نو د بالغ کیدو نه وروسته به حسابیږي یعنی څومره لمونځونه چې د بلوغ نه وروسته پاتې شوي دي او قضا شوي دي نو د هغو قضا پرې لازم ده[2] او دا تاسو چې د اوو کالو کوم ذکر کړی دی. په حدیث شریف کې فرمایل شوي دي چې کله ماشوم د اوو کالو شي. نو هغه باندې لمونځ کوئ او کله چې د لسو کالو شئ نو په لمونځ نه کولو يې ووهئ او د هلك او د جینئ بستره هم جدا کړئ.[3]

د لمانځه او روژې قضا څنګه راوړل شي؟

سوال: ما کله هم لمونځ او روژې وغیره پابندي سره نه دي کړي. کله کله مې روزانه لمونځ کړی

...بقیه د تیرمخ].. یقضی العشاء.....الخ (هندیة ج:١،ص:١٢١، الباب الحادی عشر فی قضاء الفوائت، وایضاً درمختار مع الشامی ج:٢،ص:٧٦) وفی الطحطاوی: من لا یدری کمیة الفوائت یعمل باکبر رایه فانه لم یکن له رای یقضی حتی یتقین انه لم یبق علیه شئ (حاشیة طحطاوی علی المراقی ص:٢٤٣)۔

[1] اعلم انهم قد احدثوا فی آخر جمعة رمضان اموراً مما لا اصل لها، والتزموا اموراً لا اصل للزومها.....فمنها: القضاء العمری، حدث ذلک فی بلاد خراسان واطرافها، وبعض بلاد الیمن واکنافها، ولهم فی ذلک طرق مختلفة ومسالک متشتة، فمنهم من یصلی فی آخر جمعة رمضان خمس صلوت قضاءً باذان واقامة مع الجماعة، ویجهرون فی الجهریة، ویسرون فی السریة، وینوون لها بقولهم: نویت ان اصلی اربع رکعات مفروضة قضاءً لما فات من الصلوات فی تمام العمر مما مضیٰ، ویعتقدون انها کفارة لجمیع صلوات الفائتة فما مضی (مجموعه رسائل اللکنوی، رسالة ردع الاخوان عن محدثات آخر جمعة رمضان ج:٢،ص:٣٤٩، طبع ادارة القرآن کراچی، ایضاً کفایت المفتی ج:٣، ص:٣٨٤، کتاب الصلوة، د قضاء عمری حیثیت)۔

[2] صبی صلی العشاء ثم نام واحتلم وانتبه قبل طلوع الفجر یقضی العشاء.....الخ (عالمگیری ج:١،ص:١٢١)

[3] عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :مروا اولادکم بالصلوة وهم ابناء سبع سنین، واضربوهم علیها وهم ابناء عشر سنین، وفرقوا بینهم فی المضاجع رواه ابوداؤد (مشکوة :٥٨، الفصل الثانی، کتاب الصلوة)

دي،خوځو ورځې وروسته مې بيا پرېښودې.همدا حال مې د روژو هم دی.ما کله هم پوره مياشت روژې نه دي نيولي. بلکې څېنوو څتونوکې مې په ټوله مياشت کې يوازې دوه درې روژې نيولي دي. ماته دا هم ياد نه دي چې ما څومره ورځې لمونځ کړی دی او کله مې څومره ورځې روژې نيولې دي؟ اوس که زه ددې لمونځونو قضا راوړل غواړم نو څنګه وکړم؟ اود څومره عمر په حساب سره يې وکړم؟

جواب: په ۱۲ کاله عمر پوره کيدو باندې په خپله ذمه باندې لمونځ او روژه فرض وګڼه او دهغه وخت نه تردې وخت پورې چې څومره لمونځونه او څومره روژې جوړيږي د هغو حساب وکړئ او بيا اندازه وکړئ چې تاسو به څومره لمونځونه کړي وي او څومره روژې به مو نيولي وي،څومره لمونځونه او څومره روژې چې ستاسو په ذمه وي، نو هغه د حساب په ذريعې سره قضا شروع کړئ او کله چې اطمينان اوشي چې ټول لمونځونه او ټولې روژې پوره شوې نو هغه قضا بنده کړئ.[1]

دګيس د ناروغي له وجې نه لمونځ پرېښودونکی به قضا لمونځ څنګه کوي؟

سوال: يو سړی په خپل ژوند کې د لمونځ شروع کولو نه وروسته قصداً يا مجبوراً د ګيس وغيره د خارجيدو له وجې ډير لمونځونه قضا کوي،څينې لمونځونه چې د هغو ورته حساب ياد نه دی يعنی بالکل يې نه ترک کوي،په ورځ کې دوه درې لمونځونه کوي،دا څنګه قضا راوړل پکار دي؟

جواب: دا خو هغه سړی اندازه لګولی شي چې د هغه به څومره لمونځونه قضا شوي وي؟د هغه حساب کولو نه وروسته دې قضا شروع کړي او کله چې هغومره لمونځونه پوره شي نو قضا کول دې بند کړي او د هر لمانځه د قضا کولو په وخت دې دا نيت کوي چې ددې وخت(مثلاً د سهار) څومره لمونځونه زما په ذمه قضا دي په هغو کې لومړی لمونځ ادا کوم.[2]

څومره موده قضاء لمونځونه وشي؟

سوال: زما عمر تقريبا شپيته کاله دي او د پيشې په اعتبار سره ډاکټر يم زما مسئله داده چې زه ددې تيرو څو کلونو نه د لمونځ قضاء ادا کوم او دا قضاء زه د هغو ورځو ادا کوم چې

[1] (خاتمه) من لا يدری کمية الفوائت يعمل باکبر رأيه فان لم يکن له رای يقضی حتی يتيقن انه لم يبقی عليه شئ (حاشية الطحطاوی علی المراقی ص:۲۴۳،باب قضاء الفوائت)

[2] اذا کثرت الفوائت نوی اول ظهر عليه او آخره ......الخ (شامی ج:۲،ص:۷۶،کتاب الصلوة،باب قضاء الفوائت ،طبع ايچ ايم سعيد) واذا کثرت الفوائت يحتاج لتعيين کل صلوة يقضيها لتزاحم الفروض والاوقات کقوله اصلی ظهر الاثنين ثامن عشر جمادی الثانية سنة اربع وخمسين والف وهذا فيه کلفة فاذا اراد تسهيل الامر عليه نوی اول ظهر عليه (مراقی الفلاح علی هامش الطحطاوی ص:۲۴۲) من لا يدری کمية الفوائت يعمل باکبررايه فانه لم يکن له رای يقضی حتی يتقين انه لم يبقی عليه شئ (حاشية طحطاوی علی المراقی ص:۲۴۳)

کله زه بالغ کیدو د کال (یعنی دولس کاله عمر) ته د رسیدلو نه وروسته یعنی په لومړي عمر (د سکول او کالج) د وخت قضاء کوم او دا عمر زما په یاد کې تقریبا شلو نه پنځویشت کالو پورې دی تاسو مشوره راکړئ چې دا قضاء ترڅوجاري وساتم؟ ایاقضاء دوه فرض ادا کړم یا سنت او دوه فرض؟

جواب: د څو کلونو لمونځونه چې د اندازې مطابق ستاسو په ذمه دي کله چې پوره شي .نو د قضاء سلسله بنده کړئ قضاء یوازې د فرضو او وترو وی[۱] د سنتو نه[۲] او قضاء یوازې د دوه فرضو نه وي بلکې کوم لمونځ چې قضاء شوی وي دهغو چې څومره رکعتونه وي د هغو قضاء به راوړل کیږي یعنی د سهار دوه رکعتونه د ماسپښین، مازدیګر او ماسخوتن څلور رکعتونه او د ماښام درې د ماسخوتن د څلور رکعتو فرضو سره د درې رکعتو وترو قضاء هم ضرور راوړل پکار دي.[۳]

د عمر په نامعلومه برخه کې چې لمونځونه قضاء شي نو څه به کوي؟

سوال: کوم سړي ته چې علم نه وي چې ما د عمر په کومه برخه کې باقاعده لمونځ شروع کړی دی.د عمر اندازه نه وه.هسې خو هغه په خپل یاد داشت کې هیڅ لمونځ نه دی پریښې. که یو لمونځ قضاء شو. نو د بل لمونځ سره یې ادا کړ اوس هغه سره ویره ده چې کیدای شي چې زما څه لمونځونه د بالغ کیدو نه وروسته پاتې شوي دي اوکه نه؟ نو اوس هغه ته د خپلې تسلۍ له پاره څه طریقه اختیارول پکار دي؟

جواب: احتیاطا دي څه موده قضاء لمونځونه کوي تر دې چې هغه مطمئن شي چې اوس به د هغه په ذمه هیڅ لمونځ نه وي[۴]،خو هغه ته پکار دي چې د هر رکعت نه وروسته د فاتحې سره سورت یو ځای کوي[۵]او دا هم ضروزي ده چې هغه لمونځونه دې د مازدیګر او د سهار نه وروسته نه کوي[۶]او دا هم چې د ماښام او وترو په دریم رکعت باندې قعده کولو سره یو رکعت

۱] وکذا حکم الوتر ....لانه فرض عملی عنده خلافاً (فتاوی شامی ج:۲،ص:۷۳،مطلب فی اسقاط الصلوة عن المیت) وفی الفتاوی رجل یقضی الفوائت فانه یقضی الوتر.....الخ (هدایة ج:۱،ص:۱۲٤)۔

۲]والسنن اذا فاتت عن وقتها لم یقضها(عالمگیری ج:۱،ص:۱۱۲،الباب التاسع فی النوافل)۔

۳] ومن حکمه ان الفائتة تقضی علی الصفة التی فاتت عنه.....الخ (هندیة ج:۱،ص:۱۲۱)۔

٤] وفی العنابیة عن ابی نصر رحمه الله فیمن یقضی صلوات عمره من غیر انه فاته شئ یرید الاحتیاط .... فحسن .....الخ (هندیة ج:۱،ص:۱۲٤،کتاب الصلوة، الباب الحادی عشر فی قضاء الفوائت)۔

۵]یقراء فی الرکعات کلها الفاتحة مع السورة.....الخ (هندیة ج:۱،ص:۱۲٤)۔

٦]والصحیح انه یجوز الا بعد صلوة الفجر والعصر وقد نقل ذلک کثیر من السلف لشبهة الفساد کذا فی المضمرات (هندیة ج:۱،ص:۱۲٤،کتاب الصلوة،الباب الحادی عشر فی قضاء الفوائت)۔

بل زيات كړي.[1][2]

قضاء لمونځونه مخكې وكړي يا وختي لمونځونه؟

سوال: قضاء لمونځونه مخكې كول پكار دي يا د پوره لمونځ د ادا كولو نه وروسته؟

جواب: د قضاء لمونځونو په باره كې څو مسائل دي.

اول:... د قضاء لمونځ د ادا كولو هيڅ وخت نه وي كله هم چې موقع پيدا شي و دې كړي. په دې شرط چې مكروه وخت نه وي.[3] **فليصل اذا ذكرها او قال اذا استيقظ** دې حديث نه معلوميږي چې د فرض لمونځ له پاره كله چې قضاء شي مكروه وخت هم نشته هر وخت يې ادا كولې شي.

دويم:... د كوم انسان په ذمه چې شپږ يا ددې نه ډير قضاء شوي لمونځونه وي د هغه له پاره قضاء لمونځ او د وختي لمونځ تر مينځه د ترتيب لحاظ ساتل ضروري نه دي، كه قضاء لمونځ مخكې كوي او كه وختي لمونځ دواړه جائز دي.[4]

دريم:... د كوم سړي په ذمه چې د شپږو نه كم لمونځونه وي هغه ته صاحب ترتيب وايي . په هغه لومړى د قضاء لمونځونو كول لازم دي بيا دې وختي لمونځ كوي[5] خو كه په هيره يې وختي لمونځ وكړ، نو هيڅ باك نشته، قضا دې اوس وكړي[6] او كه قضاء لمونځ خو ياد و. خو د وختي لمونځ وخت هم تنګ و، كه قضاء لومړى كوي نو وختي لمونځ به هم قضاء شي.نو

۱] وان لم يستيقن انه هل بقى عليه وتر او لم يبق فانه يصلى ثلاث ركعات ويقنت ثم يقعد قدرالتشهد ثم، يصلى ركعة اخرى .....الخ (هندية ج:۱،ص:۱۲۵)۔

۲] د تيرو شوو څلور حوالو سره متعلق، ومن قضى صلاة عمره مع أنه لم يفته شيء منها احتياطا قيل : يكره وقيل : لا يكره لأن كثيرا من السلف قد فعل ذلك لكن لا يقضي في وقت تكره فيه النافلة والأفضل أن يقرأ في الأخيرتين السورة مع الفاتحة لأنها نوافل من وجه فلأن يقرأ الفاتحة والسورة في أربع الفرض على احتماله أولى من أن يدع الواجب في النفل ويقنت في الوتر ويقعد قدر التشهد في ثالثته ثم يصلي ركعة رابعة فإن كان وترا فقد أداه وإن لم يكن فقدصلى التطوع اربعاً ولا يضره القعود وكذا يصلى المغرب اربعاً بثلاث قعدات (حاشية الطحطاوى على المراقى ص:۲۴۳)۔

۳] ثم ليس للقضاء وقت معين بل جميع اوقات العمر وقته الا ثلاثة وقت طلوع الشمس ووقت الزوال ووقت المغرب،فانه لا تجوز الصلوة فى هذه الاوقات(البحرالرائق ج: ۲،ص:۸۶)۔

٤] (قوله وصيرورتها ستاً) اى ويسقط الترتيب بصيرورة الفوائت ست صلوات لدخولها فى حد الكثرة المفضية للحرج ...الخ (البحرالرائق ج: ۲،ص:۹۱) ويسقط الترتيب باحد ثلاثة اشياء......والثالث اذا صارت الفوائت الحقيقة او الحكمية ستاً.....الخ (مراقى على هامش الطحطاوى ص:۲٤۱)۔

٥]الترتيب بين الفائتة والوقتية وبين الفوائت مستحق كذا فى الكافى حتى لا يجوز اداء الوقتية قبل قضاء الفائتة كذا فى محيط السرخسى (هندية ج:۱،ص:۱۲۱،الباب الحادى عشر فى قضاء الفوائت)۔

٦] ثم الترتيب يسقط بالنسيان وبما هو فى معنى النسيان كذا فى المضمرات (هنديه ج:۱،ص:۱۲۲)۔

په دې صورت کې وختي لمونځ کول ضروري دي قضاء دې وروسته وکړي[۱][۲]

تير شوي قضاء لمونځونه مخکې کول پکار دي که اوسني لمونځونه؟

سوال: چې د ډيرو کلونو لمونځونه قضاء شوي وي، نو ايا دهغو د ادا کولو له پاره موږ د يو يا دوه وختونو حاليه لمونځونو قضاء نه شو کولی؟ زما مطلب دا دی چې نن سبا زما نه د ماسپښين يا مازديګر د يو وخت لمونځ پاتې شي. نو زه د بل لمونځ د کولو نه مخکې د روستني لمونځ قضاء وکړم يا لومړی د مخکې کلونو قضاء لمونځونه وکړم؟ ما قضاء لمونځونه کول شروع کړي دي زه په ۱۹۲۱ء کې پيدا شوي يم او ما د ۱۹۷۱ء د شروع نه د قضاء لمونځونو ادا کول شروع کړي دي. نو محترمه! په دې مينځ کې که د قضاء لمونځ د نيت کولو په وخت د مياشت او کال د حوالې ورکولو له پاره اسلامي مياشت او تاريخ وايو. يا د عيسوی کال په مياشتو يا تاريخ به هم قضاء ادا شي؟ ځکه چې نيت خو الله تعالی ته معلوم دی. زه د عيسوی کال د مياشتې او تاريخ سره د فلاني وخت د قضاء لمونځ نيت کوم تاسو دا بيان کړئ زما دا عمل صحيح دی؟ ځکه د سپوږمۍ تاريخونه خو ياد نه دي. له دې نه پرته د خاصو ورځو لمونځونه پاتې کيږي هغه هم راګرځول پکار دي يا هغه لمونځونه معاف دي؟

جواب: کله نه چې تاسو د لمانځه پابندي شروع کړې ده نو نوي قضاء شوي لمونځونه خو ورسره لازمي کوئ هغه په پخواني قضاء شوي لمونځونو کې مه شميرکوئ[۳]. ډير قضاء شوي لمونځونه چې جمع شي نو ښکاره ده چې د هر لمانځه د ورځې ياد ساتل ګران دي په دې وجه په هر لمانځه کې بس دا نيت کوئ چې د هغه وخت د ماسپخين څو لمونځونه زما په ذمه دي په هغو کې لومړی لمونځ ادا کوم[۴] په خاصو ورځو کې لمونځ فرض نه وي که تاسو ته د ورځو صحيح تعداد معلوم وي نو دهغو ورځو د قضاء راوړلو ضرورت نشته.

د قضا لمونځونو ترتيب

سوال: د قضا لمونځونو روزانه ترتيب راته وښايئ.

۱] ويسقط الترتيب عند ضيق الوقت كذا فى محيط السرخسى (هنديه ج:۱،ص:۱۲۲)_

۲] د تيرو شوو دوه حوالو سره متعلق: ويسقط الترتيب باحد ثلاثة اشياء،الاول ضيق الوقت عن قضاء كل الفوائت واداء الحاضرة للزوم العمل بالمتواتر حينئذ....والثانى النسيان لانه لا يقدر على الاتيان بالفائتة مع النسيان لا يكلف الله نفساًالا وسعها ولانه لم يصر وقتها موجوداً بعدم تذكرها فلم تجتمع مع الوقتية (مراقى الفلاح على هامش الطحطاوى ص:۲۴۰، ۲۴۱)_

۳]((وَقَالُوا) فِيمَنْ تَرَكَ صَلَوَاتٍ كَثِيرَةً مَجَانَةً ثُمَّ نَدِمَ عَلَى مَا صَنَعَ وَاشْتَغَلَ بِأَدَاءِ الصَّلَوَاتِ فِي مَوَاقِيتِهَا قَبْلَ أَنْ يَقْضِيَ شَيْئًا مِنْ الْفَوَائِتِ ، فَتَرَكَ صَلَاةً ثُمَّ صَلَّى أُخْرَى وَهُوَ ذَاكِرٌ لِهَذِهِ الْفَائِتَةِ الْحَدِيثَةِ - أَنَّهُ لَا يَجُوزُ ، وَيَجْعَلُ الْفَوَائِتَ الْكَثِيرَةَ الْقَدِيمَةَ كَأَنَّهَا لَمْ تَكُنْ ويجب عليه مراعاة الترتيب......الخ (البدائع الصنائع ج:۱،ص:۱۳۷)

۴] اوګورئ تيره شوی حواله ((وَقَالُوا) فِيمَنْ تَرَكَ صَلَوَاتٍ كَثِيرَةً مَجَانَةً ثُمَّ نَدِمَ.....الخ)_

جواب: د قضا لمونځونو تعداد چې کله شپږ شي نو ترتيب مات شي.د ورځې لمونځونه د شپې او د شپې لمونځونه د ورځې کله چې وغواړئ نو کولی يې شئ [۱]

اقامت د حالت قضا لمونځونه به مسافر څومره کوي؟

سوال: داقامت په حالت کې قضا شوي لمونځونه که مسافر ادا کوي نو څه ترتيب به يې وي؟

جواب: کوم ترتيب چې د قضا لمونځ داقامت پر مهال دی، هغه په سفر کې هم دی په سفر او حضر سره د قضا لمونځ په ترتيب کې څه فرق نه راځي [۲]

که په ذمه باندې قضا لمونځونه وي نو صاحب ترتيب به کله وي؟

سوال: که د يو سړي نه تيرشويو کلونو کې لمونځونه قضا شوي وي او اوس پابندي سره لمونځ کوي. نو صاحب ترتيب دی يا به مخکې د قضاء عمري کولو نه وروسته کيږي؟

جواب: کله چې ټول قضا لمونځونه وکړي، نو صاحب ترتيب به شي [۳]

که د ترتيب خاوند جمعه کې شامل شي
او قضا لمونځ ورته ياد شي نو څه به کوي؟

سوال: داسې سړی چې عام طور ترينه لمونځونه نه قضا کيږي.کله کله ترينه د سهار لمونځ قضا شي او هغه د ماسپښين نه مخکې ادا کول ترينه هير شي او د ماسپښين په لمانځه کې شامل شي يا خانته د ماسپښين لمونځ کوي او د لمانځه دوران کې يا وروسته ورته خيال راشي چې د سهار قضا لمونځ پاتې شوی دی. نو په داسې صورت کې به دده د ماسپښين لمونځ وشي، يا دوباره کول لازم دي؟ما دا هم اوريدلي دي چې صاحب ترتيب که اول قضا ادا کړې نه وي، نو د هغه بل لمونځ نه کيږي که هغه جمعه کې شامل دی. نو په ياديدو سره دې جمعې نه ووځي؟ که دا سړی په آخري صف کې وي، نو بيا خو د جمعې نه وتل آسانه دي. خو که مينځ کې وي، نو داسې کول ممکن نه دي،ددې مسئلې وضاحت وکړئ.

جواب: دا مسئله د صاحب ترتيب ده،د کوم سړي په ذمه چې د پنځو نه زيات قضا لمونځونه

---

[۱] يسقط الترتيب عند كثرة الفوائت ان تصير ستا بخروج وقت الصلوة السادسة (عالمگيرى ج:۱، ص:۱۲۳) ويسقط الترتيب باحد ثلاثة اشياء....والثالث اذا صارت الفوائت الحقيقة او الحكمية ستا. لانه لو وجب الترتيب فيها لوقعوا فى حرج عظيم وهو مدفوع بالنص والمعتبر خروج وقت السادسة فى الصحيح.... الخ (مراقى الفلاح على هامش الطحطاوى ص:۲۴۱)

[۲] فلو فاتته صلوة المسافر وقضاها فى الحضر يقضيها مقصورة كما لو اداها وكذا فائتة الحضر تقضى فى السفر تامة(شامى ج:۲،ص:۱۳۵،مطلب فى الوطن الاصلى ووطن الاقامة)

[۳] ولو قضى بعض الفوائت حتى زالت الكثرة عاد الترتيب عندالبعض...الخ (حلبى كبير ج:۱،ص:۵۳۳)

نه وي نو هغه ته صاحب ترتیب و بل کیږي.دده له پاره ضروري ده چې اول دفوت شوي لمونځ قضا راوړي.بیا د وخت خپل لمونځ وکړي.که په هیره باندې یې د وخت لمونځ ادا کړ.وروسته ورته فوت شوی لمونځ یاد شو. نو دده لمونځ صحیح شو.دفوت شوي لمونځ دې قضا راوړي او که د وخت د خپل لمانځه نه مخکې ورته فوت شوی لمونځ یاد و یا د لمانځه دوران کې ورته یاد شو. نو دفوت شوي لمونځ دې قضا راوړي او بیا دې د وخت خپل لمونځ دوباره وکړي[1].تاسو چې کوم صورت لیکلی دی چې د سهار لمونځ دده په ذمه و او د ماسپښین په جمعه کې شامل شو او د جمعې نه وتل هم مشکل دي. نو جمعې سره دې لمونځ پوره کړي .خو دا د ده له پاره نفل لمونځ شو.د سحر د لمونځ قضا کولو نه وروسته دې د ماسپښین لمونځ دوباره وکړي.

د مختلفو وختونو قضا شوي لمونځونه څنګه ادا کړي؟

سوال: که له یو مسلمان نه فرض لمونځونه قضا شوي وي او دا د مختلفو وختونو وي.اوس به دی ددې لمونځونو قضا څنګه کوي؟د هرلمانځه په ټاکلي وخت کې یا هروخت کې په یوځای هم یې ادا کولی شي؟

جواب: د کوم سړي په ذمه چې د پنځو نه زیات قضا شوي لمونځونه وي.د هغه په ذمه ترتیب واجب نه دی.هغه د شپې او د ورځې کله چې هم غواړي نو ددې لمونځونه قضا راوړلی شي.اګرکه ټول په یوځا ی ادا کړي.[2]

د دویمې جمعې سره د قضاء عمري په نیت شریکیدل

سوال: یو وخت فرض لمونځ ځانته یا د جماعت سره ادا کړو.او بل ځای ته لاړ شو هغه وخت جمعه ولاړه وي. نو ایا موږ د قضاء عمري په نیت سره په هغې کې شاملېدلي شو؟ مثلا مازدیګر لمونځ موږ کړی دی اوس موږ یو ځای کې د مازدیګر لمونځ په ادا کیدو ولیده، نو موږ د مازدیګر څلور رکعته د قضاء عمري په نیت سره په دې کې شاملیدلي شو؟

جواب: په بل لمونځ کې د قضاء په نیت سره داخلیدل جائز نه دي[3].یوازې د نفلو په نیت شریکیدلي شئ او هغه هم صرف د ماسپښین او ماسخوتن په لمانځه کې.که د سهار مازدیګر

---

[1] ولو تذکره صلاة قد نسیها بعد ما ادی وقتیة جازت الوقتیة کذا فی فتاوی قاضیخان (عالمگیری ج:۱، ص:۱۲۲) واذا صلی الظهر وهو ذاکر انه لم یصل الفجر فسد ظهره....الخ (عالمگیری ج:۱،ص:۱۲۲)

[2] ویسقط الترتیب عند کثرة الفوائت وهو الصحیح،وحدالکثرة ان تصیر الفوائت ستا بخروج وقت الصلوة السادسة..الخ(عالمگیری ج:۱ص:۱۲۳،الباب الحادی عشر فی قضاء الفوائت،ایضا:مراقی الفلاح ص:۲٤۱)

[3] (قوله وبمفترض فرضا اخر) سواء تغایر الفرضان اسما او صفة کمصلی ظهر امس بمصلی ظهر الیوم....الخ (درمختار مع الشامی ج:۱،ص:۵۷۹،باب الامامة)_

او مابنام لمونځ یئ کړی وي نو د نفلو په نیت هم نشي شریکیدلی [۱]

ایا د سفر د مجبوري په وجه روزانه لمونځ قضاء کول جائز دي؟

سوال: زه په استیل میل، کوم چې په پیري کې واقع دی، ملازم یم. زما له پاره استیل میل ته د تلو اوبیرته راتلو له پاره د ګاډي انتظام موجوددی. د استیل میل د کار وختونه څه داسې دي چې که د چوټي کیدو نه وروسته د ګاډي په ذریعه زه نیغ کور ته راځم نو کله د مازدیګر کله د مابنام او کله مازدیګر او مابنام دواړو لمونځونو وخت تیر شي. مجبورا زه په لار کې لمونځ کوم ایا زما له پاره شرعا جائز دي چې زه روزانه ددې لمونځونو قضاء د ماسخوتن د لمانځه سره وکړم؟

جواب: د لمونځ قضاء کول جائز نه دي[۲] تاسو ته انتظامیه ته درخواست کول پکار دي چې ستاسو په سفر کې لمونځ اهتمام وی. ځکه چې دا مسئله د ټولو ملازمانو ده. یو صورت دا کیدلی شي چې تاسو په مثل اول کې د مازدیګر لمونځ کولو سره بس کې کیني. او د مابنام لمونځ په آخري وخت کې کور کې کوئ د مابنام لمونځ د ماسخوتن د وخت داخلیدلو پورې وي چې د ماسخوتن د لمانځه نه مخکې د مابنام لمونځ وکړل شي نو قضاء به نه وي [۳]

د میلمنو په احترام کې لمونځ قضاء کول

سوال: زه یواستاد یم الحمد لله پنځه وخته لمونځ کوم. هسې خو زموږ په کالج کې څه استاذان داسې هم دي کوم چې په پابندي سره لمونځ ادا کوي اوځیني یې بیخي کوی نه خو کوم چې پابندي سره په جمعه لمونځ کوي په هغوی کې یو پروفیسر ته څو جینکو طالباتو درخواست

۱] فان كان قد صلاها ثم دخل المسجد فان كان صلوة لا يكره التطوع بعدها شرع فى صلوة الامام والا لا (البدائع الصنائع ج:۱،ص:۲۸۷)وايضاً:ثلاثة اوقات لا يصح فيها شئ من الفرائض والواجبات....والاوقات الثلاثة المذكورة يكره فيها النافلة كراهة تحريم (مراقى الفلاح على هامش الطحطاوى ص:۱۰۱.فصل فى الاوقات المكروهة)

۲]والتاخير بلاعذر كبيرة لا تزول بالقضاء بل بالتوبة او الحج فالقضاء مزيل لاثم الترک لا لاثم التاخير (حاشية الطحطاوى مع المراقى ص:۲۳۹، باب قضاء الفوائت)۔

۳] فَعِنْدَ هُمَا إِذَا صَارَ ظِلُّ كُلِّ شَيْءٍ مِثْلَهُ خَرَجَ وَقْتُ الظُّهْرِ وَدَخَلَ وَقْتُ الْعَصْرِ وَهُوَ رِوَايَةُ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُمَا اللَّهُ تَعَالَى وَإِنْ لَمْ يَذْكُرْهُ فِي الكتاب نصاً فى خروج وقت الظهر(المبسوط،باب مواقيت الصلوة ج:۱،ص:۲۹۰،طبع المكتبة الغفارية كوئته) ....وقول الطحطاوى وبقولهما ناخذ يدل على انه المذهب (حاشية الطحطاوى على المراقى ص:۹٤،كتاب الصلوة،طبع ميرمحمد) واول وقت المغرب منه اى من غروب الشمس الى قبيل غروب الشفق الاحمر على المفتى به وهو رواية عن الامام وعليها الفتوى (مراقى الفلاح على هامش الطحطاوى ص:۹۵) ولا يجمع بين فرضين فى وقت.....بعذر كسفر مطر وحمل المروى فى الجمع على تاخير الاولى الى قبيل آخر وقتها وعند فراغه دخل وقت الثانية فصلاها فيه.....الخ (مراقى الفلاح على هامش الطحطاوى ص:۹۶)۔

راوړ. نو هغه د هغوی په احترام کې داسې مصروف شو چې د ماښام د لمانځه وخت شو.موږ د لمانځه له پاره پورته شو، نو موږ خپل ملګري ته وویل چې د لمانځه وخت شوی دی خه چې لمونځ وکړو ،نو هغه وویل چې د میلمنو په احترام کې لمونځ قضاء کیدلي شي.او واقعي زموږ هغه ملګري د هغو طالباتو په احترام کې لمونځ قضاء کړ، سره له دې چې د هغه دعوی ده چې هغوی تر اوسه پورې د جمعې لمونځ نه دی پریښی. ایا د میلمنو په احترام کې لمونځ قضاء کول صحیح دي؟

جواب: لمونځ خو د جنګ په میدان کې هم کله چې دواړه فوجونه په مقابله کې ولاړ وي قضاء کول صحیح نه دي، که نه د خوف د لمانځه حکم به نه نازلیده. د میلمنو په احترام کې لمونځ قضاء کول څنګه صحیح کیدای شي؟ [۱]

ستړی والي یا د خوب د غلبې له وجې لمونځ قضاء کول

سوال: یو انسان که د ستړی والي یا د خوب د غلبې له وجې نه لمونځ قضاء کولو نه وروسته کوي .ایا دا دواړه شیان به په عذر کې داخل وي او که دا انسان به ګناه ګار وي؟

جواب: که اتفاقا ستړکي ورغلې وي،ویده پاتې شو اوسترګې یې و نه غړیدلې نو ګناه ګار نه دی، او که د سست والي له وجې نه لمونځ قضاء کوي، یا د لمانځه په وخت د ویده کیدلو عادت جوړوي نو ګناه ګار دی.[۲]

که فرض دویم ځل وشي، نو روستنې سنت هم دوباره کول پکار دي

سوال: که د امام نه په جماعت کې غلطي وشي او د هغه غلطي احساس هغه وخت وشي چې د فرض لمانځه نه وروسته سنت او نفلونه هم شوي وي. نو دوباره د فرض ادا کولو نه وروسته به وروستني سنت هم دوباره کول پکار وي اوکه نه؟

جواب: وروستني سنت د فرضو تابع دي که د سنت کولو نه وروسته معلومه شوه چې فرض لمونځ صحیح نه دی شوی، نو د فرضو سره دې سنت هم دوباره و شي[۳]خو د وترو د دوباره کولو ضرورت نشته.[۴]

۱] لا خلاف ان صلوة الخوف كانت مشروعة فى زمن النبى صلى الله عليه وسلم اما بعده فعلى قول ابى حنيفة ومحمد رحمهماالله بقيت مشروعة وهو الصحيح هكذا فى الزاد....الخ (فتاوى عالمگيرى ج:۱، ص:۱۵٤،الباب العشرون فى صلوة الخوف،كتاب الصلوة) تفصيل دپاره اوګورئ : ابوداود ج:۱، ص:۱۷٤،كتاب الصلوة،باب صلوة الخوف طبع ايچ ايم سعيد كراچى)_

۲] والتاخير بلاعذر كبيرة(حاشيه طحطاوى على المراقى ص:۲۳۹) من نام عن صلوة او نسيها فليصلها اذا ذكرها (البدائع الصنائع ج:۱،ص:۱۳۱،وكذا فى الفتح ج:۱،ص:۳٤۷)_

۳]فلا تجوز قبل العشاء لانها تبع للعشاء فلا تجوز قبلها كسنة العشاء...الخ (البدائع الصنائع ج:۱،ص:۲۸۸)

٤] من صلى العشاء على غير وضوء وهو لا يعلم ثم توضا فاوتر ثم تذكر[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

د صاحب ترتیب لمونځ قضاء کیدلو سره په جمعه کې شرکت

سوال: که له صاحب ترتیب نه د ماسپښین لمونځ قضاء شو. د مازدیگر په وخت هغه جومات ته راغی. نو د مازدیگر جمعه کیده. نو ایا اوس هغه د مازدیگر لمونځ جمعې سره ادا کړي. یالومړی د ماسپښین قضاء راوړي؟

جواب: صاحب ترتیب ته لومړی د ماسپښین لمونځ کول پکار دي اگر که د مازدیگر لمونځ ورته ملاو هم نه شي.[1]

د صاحب ترتیب لمونځ

سوال: یوه پوښتنه چې صاحب ترتیب به قضاء لمونځ مخکې کوي اوکه فرض لمونځ له جمعې سره تاسو مخکې وویل قضاء به لومړی کوي او رسول الله ﷺ فرمایي چې کله جمعه ودریږي. نو بیا یو لمونځ هم له فرضو پرته نه کیږي. نو بیا په کوم دلیل باندې تاسو د جمعې د لمونځ په ځای له جمعې پرته د لمونځ کولو تلقین وکړ؟

جواب: د صاحب ترتیب په ذمه چې کوم لمونځ دی هغه هم فرض دی. په دې وجه به لومړی هغه اداکوي.[2]

قضاء لمونځ څه وخت کول ناجائز دي؟

سوال: قضاء لمونځ په کوم وخت کې کول پکار دي؟ ایا د مازدیگر د لمانځه نه وروسته قضاء لمونځ کیږي؟ ځکه چې زه د مازدیگر د لمانځه نه وروسته هم قضاء لمونځ کوم. زه ډیرو خلکو منع کړی هم یم چې د مازدیگر د لمانځه نه وروسته قضاء لمونځ نه کیږي.

جواب: درې وختونه داسې دي چې په هغو کې هیڅ لمونځ جائز نه دی نه قضاء او نه نفل

١ د لمر راختلو په وخت کې، تر دې چې لمر اوچت شي او د لمر زیړ والی لاړ شي

٢ د لمرد پریوتلو نه مخکې کله چې لمر زیړشي. له هغه وخت نه تر لمر پریوتو پورې، خو که د هغې ورځې دمازدیگرلمونځ یې نه وي کړی نوهغه وخت کې یېهم کول ضروری دي دلمونځ قضاء کول جائزنه دي،

...بقیه د تیرمخ].. اعادة صلوة العشاء بالاتفاق ولا یعیدالوتر...الخ (البدائع الصنائع ج:١،ص:٢٧٢،فصل واما بیان وقته،طبع ایچ ایم سعید)۔

[1] ومن فاتته الصلوة قضاها اذا ذکرها،وقدمها لزوماً علی صلوة الوقت فلو عکس لم تجزالوقتیة ولزمه اعادتها(اللباب فی شرح الکتاب ص:٩٦،باب قضاء الفوائت) الترتیب بین الفائتة والوقتیة وبین الفوائت مستحق کذا فی الکافی حتی لا یجوز اذا الوقتیة قبل قضاء الفائتة کذا فی محیط السرخسی (هندیة ج:١، ص:١٢١،الباب الحادی عشر فی قضاء الفوائت)۔

[2] ایضاً اوگوری تیره شوی حواله (ومن فاتته الصلوة قضاها اذا ذکرها،وقدمها لزوما...الخ)۔

۳. ۳_ د نیمې ورځې په وخت کې تر دې چې لمر زائل شي[۱]

په دې درې وختونو کې هیڅ لمونځ جائز نه دی. له دې نه پرته درې وختونه دي چې په هغو کې نفل لمونځ جائز نه دي قضاء لمونځ او د تلاوت سجده جائز ده[۲]

۱ د صبح صادق نه وروسته د سهار د لمانځه نه مخکې صرف د سهار سنت کیږي. له دې پرته هیڅ نفلي لمونځ په دې وخت کې جائز نه دی.[۳]

۲ د سهار د لمانځه نه وروسته تر لمر ختو پورې[۴]

۳ د مازدیگر د لمانځه نه وروسته(تر لمر زیړ یدو پورې)[۵]

په دې درې وختونوکې د نفل کولو اجازه نشته، نه د تحیه المسجد ونه د تحیه الوضو نه. د دوه رکعتو د طواف[۶]. خو قضاء لمونځ په دې‌ې وختونو کې جائز دی، خو دا ضروری ده چې په دې وختونو کې قضاء لمونځ د خلکو مخکې و نه کړل شی بلکې ځانته کول یې پکار دي[۷]

۱] عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ الْجُهَنِيِّ قَالَ ثَلَاثُ سَاعَاتٍ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صلي الله عليه وسلم- يَنْهَانَا أَنْ نُصَلِّيَ فِيهِنَّ أَوْ نَقْبُرَ فِيهِنَّ مَوْتَانَا حِينَ تَطْلُعُ الشَّمْسُ بَازِغَةً حَتَّى تَرْتَفِعَ وَحِينَ يَقُومُ قَائِمُ الظَّهِيرَةِ حَتَّى تَمِيلَ وَحِينَ تَضَيَّفُ الشَّمْسُ لِلْغُرُوبِ حَتَّى تَغْرُبَ(جامع ترمذی ج:۱،ص:۲۰۰،طبع ایم ایچ سعید)الاوقات التی یکره فیهاالصلوة خمسة،ثلثة یکره فیهاالتطوع والفرض،وذلک عندطلوع الشمس ووقت الزوال وعندغروب الشمس الاعصر یومه فانها لا یکره عند غروب الشمس(فتاوی تاتارخانیه ج:۱،ص:۴۰۷،کتاب الصلوة طبع ادارة القرآن)_

۲] قال رضی الله عنه: وعن التنفل بعد صلوة الفجر والعصر.لا عن قضاء فائتة وسجدة تلاوة وصلاة جنازة(تبیین الحقائق ج:۱، ص:۲۳۲،کتاب الصلوة،طبع بیروت دارالکتب العلمیة) وبعد صلوة فجر وصلوة عصر.....لا یکره قضاء فائتة ولو وتراً او سجدة تلاوة او صلوة جنازة (الدرالمختار مع الردالمحتار ج:۱،ص:۳۷۵)_

۳] (ويكره التنفل بعد طلوع الفجر بأكثر من سنته) قبل أداء الفرض لقوله صلى الله عليه و سلم " ليبلغ شاهدكم غائبكم ألا لا صلاة بعد الصبح إلا ركعتين " وليكون جميع الوقت مشغولا بالفرض حكما ولذا تخفف قراءة سنة الفجر (و) يكره التنفل (بعد صلاته) أي فرض الصبح (و) يكره التنفل (بعد صلاة) فرض (العصر) وإن لم تتغير الشمس لقوله عليه السلام " لا صلاة بعد صلاة العصر حتى تغرب الشمس ولا صلا بعد صلاة الفجر حتى تطلع الشمس " رواه الشيخان(مراقی الفلاح علی هامش الطحطاوی ص:۱۰۱،فصل فی الاوقات المکروهة،وایضا تبیین الحقائق ج:۱،ص:۲۳۴،طبع دارالکتب العلمیة بیروت،وکذا فی البحرالرائق ج:۱،ص:۴۳۸،طبع رشیدیه،مبسوط ج:۱،ص:۳۰۱،باب مواقیت الصلوة)_

۴] ایضا پورتنۍ حواله)_

۵] ایضا پورتنۍ حواله)_

۶] والاوقات الثلاثة المذکورة یکره فیها النافلة کراهة تحریم ولو کان لها سبب کالمنذور ورکعتی الطواف ورکعتی الوضوء وتحیة المسجد والسنن والرواتب .....الخ (مراقی الفلاح علی هامش الطحطاوی ص:۱۰۱)_

۷] ولا یقضی الفوائت فی المسجد وانما یقضیها فی بیته کذا فی الوجیز لکردی (الفتاوی الهندیة ج:۱، ص:۱۲۵، کتاب الصلوة،الباب الحادی عشر،طبع رشیدیه)_

قضاء لمونځونه په کور کې کول پکار دي که په جومات کې؟

سوال: ماپه یو مستند کتاب کیدای شي چې جنتي کالی کې مې لوستلي وي چې د قضاء لمونځونو په کور کې کول غوره دي.په جومات کې قضاء لمونځ منع شوی دی. زموږ یو خپلوان خپل مخکې وروسته ټول قضاء لمونځونه په جومات کې ادا کوي ما ورېل چې تاسو که قضاء لمونځونه په کور کې کوئ نو غوره به وي. هغوی دا خبره نه مني او وایي چې قضاء لمونځ د هغوی د علم مطابق په جومات کې کول غوره دی.په دې سلسله کې د کتاب او سنت مطابق زموږ رهنمایي وکړئ مهرباني به مووي؟

جواب: په جومات کې د قضاء لمونځونو کول جائز دي. خو خلکو ته باید دا پته و نه لګیږي چې دا قضاء لمونځونه ادا کوي. ځکه چې د لمونځ قضاء کول ګناه ده او د ګناه ښکاره کول هم ګناه ده.[1]

د جمعې دریدو نه مخکې قضا لمونځ کول

سوال: د سحر د اذان نه وروسته جمعې دریدوته نیم ساعت پاتې و.د تیرې شوې شپې د ماسخوتن لمونځ چې کوم قضا شوی و. نو ما څلور رکعته فرض او درې وتر وکړل.بیا مې د سهار سنت ادا کړل یو کس ماسره نژدې ناست و ویې ویل چې د صبح صادق نه وروسته یوازې د سحر سنت او فرض کیدای شی،بل هیڅ یو لمونځ نۀ کیږي.او زما د معلوماتو مطابق قضا لمونځ د مکروه وخت نه پرته هروخت کیدای شي،مهرباني وکړئ زما رهنمائي وکړئ.

جواب: ستاسو معلومات صحیح دي.قضا لمونځ کول جائز دي ،خو د خلکو په مخکې قضا لمونځ کول صحیح نه دي. ځکه چې دا هم د ګناه د ښکاره کولو یو شکل دی.[2]

قضا لمونځونه د پنځه وخته لمونځونو نه مخکې یا وروسته کول

سوال: زما نه ډیر لمونځونه او وتر قضا شوي دي(تعدادیې معلوم نه دی)زه روزانه د پنځو لمونځونو نه مخکې او وروسته خپل قضا شوي لمونځونه ادا کوم.مثلاً د مازدیګر د اذان نه وروسته جومات ته لاړ شم اول ۴رکعته فرض قضا کوم بیا امام سره د مازدیګر لمونځ کوم.ایا داسې کول صحیح دي؟زما رهنمائی وکړئ.

---

[1] وینبغي أن لا يطلع غيره على قضائه لان التأخير معصية فلا يظهرها.وفى الشامية (قوله وينبغى الخ) تقدم فى باب الاذان انه يكره قضاء الفائتة فى المسجد وعلله الشارح بما هنا من ان التاخير معصية فلا يظهرها .....الخ (الدرالمختار مع الشامى ج:۲،ص:۷۷،مطلب اذا اسلم المرتد هل تعود حسنته ام لا)_

[2] وفى شرح التنوير وينبغى ان لا يطلع غيره على قضاءه لان التاخر معصية فلا يظهرها(شامي ج:۲،ص:۷۷) وفي الشامية:(قوله وينبغى) تقدم فى باب الاذان انه يكره قضاء الفائتة فى المسجد وعلله الشارح بما هنا من ان التاخير معصية فلا يظهرها (پورتنی حواله)

جواب: صحيح دي ،خو خلکو ته ښکاره کول پکار نه دي چې دی قضا لمونځ کوي.[١]

د سهار د سنتو به هم قضا راوړي

سوال: که په سهار پورته کېدو کې تاخير وشي او د سهار لمونځ پاتې شي. نو ايا د لمر ختلو نه وروسته به د سهار د فرضو د قضا سره د سنتو قضا راوړل هم ضروري وي؟

جواب: که خدای مه کړه د سهار لمونځ کولو نه مخکې لمر راوخيژي. نو د اشراق په وخت دې اول سنت وکړي او بيا دې فرض وکړي.[٢]

د قضاء لمونځ په جمعه کول

سوال: د قضاء لمونځ جمعه کيږي اوکه نه ؟

جواب: که د څو کسانو نه د يو وخت لمونځ قضاء شي. نو هغوی له د جمعې سره ادا کول پکار دي. د **ليله التعريس** واقعه مشهوره ده چې رسول اللهﷺ او د هغه ملګرو په آخر شپه کې پړاو اچولی و ،د سهار د لمانځه له پاره رابيداړول د بلال رضي الله عنه په ذمه و. خو د سترړيا له وجې په ناسته ناسته د هغه سترګې پټې شوې او د لمر د راختلو نه وروسته د ټولو نه لومړی رسول اللهﷺ رابيدار شو هغوی ددې وادي نه د کوچ کولو حکم وکړ اوله مخکې تلو وروسته يې د اذان او اقامت سره جمعې سره ادا کړ،د لمونځ د قضاء کيدو دا واقعه رسول اللهﷺ ته غير اختياری طور سره پيښه شوه. په دې سره امت ته د قضاء لمونځ ډير مسائل معلوم شو.[٣]

د قضاء عمری اداکولو د ارزانو نسخو ترديد

سوال: ځينې خلک وايي چې د جمعة الوداع يعنی د رمضان د آخری جمعې په ورځ قضاء

---

[١] پورتنئ حواله_

[٢] والسنن اذا فاتت عن وقتها لم يقضها الا ركعتى الفجر اذا فاتتا مع الفرض يقضيهما بعد طلوع الشمس الى وقت الزوال ثم يسقط . عالمگيری ج:١،ص:١١٢،كتاب الصلوة،الباب التاسع فى النوافل)

[٣] عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِصلى الله عليه وسلم حِينَ قَفَلَ مِنْ غَزْوَةِ خَيْبَرَ سَارَ لَيْلَهُ حَتَّى إِذَا أَدْرَكَهُ الْكَرَى عَرَّسَ وَقَالَ لِبِلاَلٍ « اكْلأْ لَنَا اللَّيْلَ ». فَصَلَّى بِلاَلٌ مَا قُدِّرَ لَهُ وَنَامَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم وَأَصْحَابُهُ فَلَمَّا تَقَارَبَ الْفَجْرُ اسْتَنَدَ بِلاَلٌ إِلَى رَاحِلَتِهِ مُوَاجِهَ الْفَجْرِ فَغَلَبَتْ بِلاَلاً عَيْنَاهُ وَهُوَ مُسْتَنِدٌ إِلَى رَاحِلَتِهِ. فَلَمْ يَسْتَيْقِظْ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم وَلاَ بِلاَلٌ وَلاَ أَحَدٌ مِنْ أَصْحَابِهِ حَتَّى ضَرَبَتْهُمُ الشَّمْسُ فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم أَوَّلَهُمُ اسْتِيقَاظًا فَفَزِعَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ « أَىْ بِلاَلُ ». فَقَالَ بِلاَلٌ أَخَذَ بِنَفْسِى الَّذِى أَخَذَ بِأَبِى أَنْتَ وَأُمِّى يَا رَسُولَ اللَّهِ بِنَفْسِكَ قَالَ « اقْتَادُوا ». فَاقْتَادُوا رَوَاحِلَهُمْ شَيْئًا ثُمَّ تَوَضَّأَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم وَأَمَرَ بِلاَلاً فَأَقَامَ الصَّلاَةَ فَصَلَّى بِهِمُ الصُّبْحَ فَلَمَّا قَضَى الصَّلاَةَ قَالَ « مَنْ نَسِىَ الصَّلاَةَ فَلْيُصَلِّهَا إِذَا ذَكَرَهَا فَإِنَّ اللَّهَ قَالَ (أَقِمِ الصَّلاَةَ لِذِكْرِى رواه مسلم(مشكوة ص:٦٦، ٦٧،كتاب الصلوة،باب فيه وصلان،طبع قديمى كتب خانه)_

عمري کول پکار دي هغه داسې چې د جمعې په وخت کې دوه رکعته د قضاء عمري په نیت سره وکړل شي وایي چې په دې سره د ټول کال لمونځونه ادا کیږي .ایا دا صحیح ده؟

جواب: **لا حول ولا قوة الا بالله**.......په سوال کې چې کوم د خینو خلکو خیال ذکر شوی دی بالکل غلط دی او په هغه کې درې غلطي دي.

اول په شریعت کې د قضاء عمري هیڅ اصطلاح نشته په شریعت کې خو حکم دا دی چې مسلمان ته لمونځ بالکل قضاء کول نه دي پکار ځکه چې په حدیث کې دي چې کوم سړی یو لمونځ په قصد قضاء کړي د الله پاک ذمه د هغه نه بري ده[١]

دويم دا چې کوم سړی د غفلت او کوتاهي په وجه لمونځ پریښودونک شي، بیا هغه توبه وکړه او وعده یې وکړه چې هغه به هیڅ کله لمونځ نه قضاء کوي بیا به هم تیر شوي لمونځونه د هغه په ذمه پاتې وي.او دهغو قضاء ادا کول به په هغه باندې لازم وي[٢]او که په ژوند کې یې خپل لمونځونه پوره نه کړل، نو د مرګ په وخت د هغه په ذمه وصیت کول ضروري دي چې د هغه په ذمه دومره لمونځونه قضاء دي دهغو دي فدیه ادا شي همدا حکم د حج، زکات او روژې وغیره نورو فرائضو هم دی، د قضاء عمري په تصور سره د شریعت دا ټول نظام باطلیږي[٣]

دريم.....د یو شي د فضیلت له پاره ضروري ده چې هغه د رسول الله ﷺ نه ثابت وي.ځکه چې بغیر د الله پاک د وحې نه د یو شي فضیلت او دهغه ثواب نه معلومیږي د رجب د میاشتې د روژو او لمونځونو په باره کې.همدغه شان د رمضان د آخری جمعې د لمونځ او روژې په باره کې چې کوم فضائل بیانیږي، هغه د رسول الله ﷺ نه بالکل ثابت نه دي[٤].په دې وجه ددې

١] وعن ابی الدرداء رضی الله عنه قال: قال اوصانی خلیلی ان لا تشرک بالله شیئاً وان قطعت وحرقت .....ولا تترک صلوة مکتوبة متعمداً فمن ترکها متعمداً فقد برئت منه الذمة(مشکوة ص:٥٩.کتاب الصلوة،الفصل الثالث)

٢]والتاخیر بلاعذر کبیرة لا تزول بالقضاء بل بالتوبة او الحج فالقضاء مزیل لاثم الترک وافاد بذکره الترتیب فی الفوائت والوقتیة لزوم القضاء لا لاثم التاخیر(حاشیة طحطاوی ص:٢٣٩) کل صلوة فاتت عن الوقت بعد وجوبها فیه یلزمه قضاءها ......سواء ترک عمداً او سهواً او بسبب نوم سواء کانت الفوائت کثیرة او قلیلة (عالمگیری ج:١،ص:١٢١،الباب الحادی عشر ،قضاء الفوائت)۔

٣] ولزم علیه الوصیة بما قدر علیه.....وبقی بذمته حتی ادرکه الموت من صوم فرض وکفارة ظهار .....والوصیة بالحج والصدقة المنذورة......لصوم کل یوم......وکذا یخرج لصلوة کل وقت من فرض الیوم واللیلة حتی الوتر لانه فرض عملی عندالامام (مراقی الفلاح علی هامش الطحطاوی ص:٢٣٨)۔

٤] فعلم ان کلا من صلوة الرغائب لیلة اول جمعة من رجب وصلوة البرائة لیلة النصف من شعبان والصلوة القدر لیلة السابع والعشرون من رمضان بالجماعة بدعة مکروهة.....وقال الشیخ النووی وهاتان الصلاتان بدعتان مذمومتان منکرتان قبیحتان.....واما صلوة اللیلة القدر فلا ذکرها بین العلماء اصلاً ولیس فیها حدیث صحیح فهی اولی بالکراهة منهما..(حلبی کبیر ص:٤٣٣، ٤٣٤،تتمات من النوافل)۔

فضائلو عقیده ساتل بالکل غلطه ده د شریعت مسئله خو داده چې یو انسان یو فرض پریږدي، نو د هغه د ټول عمر نفل عبادت هم ددې یو فرض مخ نیوی نه شي کولی او دلته دا خبره مهمله بیانیږي چې په دوه رکعتو نفلو باندې د ټول عمر فرض ادا کیږي[۱]

په شپه کې د نوافلو په ځای قضاء لمونځونه کول

سوال: ایا ډیر لمونځونه د زر ادا کولو له پاره د عبادت په شپو کې د نفلو په ځای کې ادا کیدلی شي؟ او دا قضاء لمونځونه د نفلونو په ځای د جمعې دوران کې په خانه کعبه او مسجد نبوي ﷺ کې ادا کیدلی شي؟

جواب: قضاء لمونځ چې څه وخت هم کوې ادا کیږي[۲]د کوم انسان په ذمه چې قضاء لمونځونه وي، هغه ته د نفلو په ځای قضاء لمونځ کول پکار دي. اګر که د عبادت کولو په شپو کې یې کوي، یا په مسجد نبوی ﷺ یا په مسجد حرام کې[۳]

د قضاء لمونځونو د ادا کولو په باره کې یو غلط روایت

سوال: ستاسو په کالم کې مو اکثر د قضاء لمونځونو په باره کې ولوستل ،د قضاء لمونځونو په باره کې مي مخکې ورځو کې یو حدیث د مخې نه تیر شو، هغه ستاسو په خدمت کې پیش کوم: سیدنا علي رضی الله عنه بیان فرمایي:

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: د کوم سړي چې لمونځونه قضاء شو او هغه ته معلومه نه وي چې څومره قضاء شوي دي؟ نو هغه ته پکار دي چې د ګل(دوشنبې) په شپه کې پنځوس رکعته نفل وکړي په هر رکعت کې دې د سورت فاتحه نه وروسته سورت اخلاص ولولي او د فراغت نه وروسته دې درود ولولي،دا رکعتونو ته به الله پاک د ټولو لمونځونو کفاره وګرځوي، اګر که د سلو کلونو وي. دا و د قضاء لمونځونو په باره کې حدیث.

جواب: خو دا حدیث د اعتماد وړ نه دی، محدیثینو دې ته موضوعي یعنې له ځانه جوړ شوی ویلي دي[۴]د قضاء لمونځ کفاره همداده چې د لمونځ قضاء کولو نه توبه وایستل شي او د تیر عمر قضاء شوي لمونځونه یو یو کولو سره قضاء راوګرځوي[۵]،قضاء صرف د فرض او

۱] خیرالفتاوی ج:۲،ص:۶۰۹،ما یتعلق بقضاء الفوائت)_

۲]ثم لیس للقضاء وقت معین بل جمیع اوقات العمر وقت له.....الخ (هندیة ج:۱،ص:۱۲۱)_

۳] وفی الحجة والاشتغال بالفوائت اولی واهم من النوافل....الخ (هندیة ج:۱،ص:۱۲۵،الباب الحادی عشر فی قضاء الفوائت،وایضاً شامی ج:۲، ص:۷۴،باب قضاء الفوائت)_

٤]من قضی صلوة من الفرائض فی آخر جمعة من شهر رمضان کان ذلک جابراً لکل صلوة فاتة فی عمره الی سبعین سنة باطل قطعاً لأنه مناقض للاجماع علی ان شیئاً من العبادات لا یقوم مقام فائتة سنوات(الموضوعات الکبیر ص:۱۲۵،طبع نورمحمد کراچی)_

۵] من ترک صلوة لزمه قضائها....الخ (حلبی کبیر ص:۵۲۹) ایضاً: [بقیه حاشیه په راروانه صفحه

وترو ده[١]، د سنتو او نفلو نه ده[٢]

د رمضان په آخرى جمعه باندې د قضاء عمرى له پاره څلور ركعته نفل كول صحيح نه دي

سوال: د خلكو خيال دي چې د رمضان المبارك په اخري جمعه باندې د جمعې د لمانځه نه وروسته څلور ركعته د قضاء عمري په نيت كول پكار دي او داسې څلور ركعته كولو سره د ټول عمر قضاء لمونځونه معاف كيږي ايا دا خيال صحيح دى؟ په دې باندې په تفصيل سره رڼا واچوئ.

جواب: دا خيال بالكل عبث او باطل دى. كوم لمونځونه چې قضاء شوي دي دهغو يو يو ادا كول ضروري دي، په حديث شريف كې دي چې: كه چاد رمضان المبارك يوه روژه پريښودله كه هغه بيا ټول عمر هم روژې ونيسي د هغه نقصان مخ نيوى نه شي كيدلى.[٣]

ددې حديث نه معلومه شوه چې د ټول عمر نفلونه هم د يو فرض قائم مقام نه شي كيدلى. او دلته څلور ركعته نفل (قضاء عمرى) په ذريعه د ټول عمر له پاره د برابرولو كوشش كيږي. په هرحال د څلور ركعته قضاء عمري نظريه بالكل غلطه او د شريعت خلاف ده.[٤]

په حرمينوكې په نفل لمونځونو سره فرض لمونځونه نه برابريږي

سوال: يو ګناه ګار او لمونځ پريښودونكى سړى چې توبه اوباسي او قضاء لمونځونه شروع

...بقيه د تيرمخ]..ولا نعلم بين المسلمين خلافاً فى ان تارک الصلوة يجب عليه قضاؤها (المغنى والشرح الكبير ج:٢،ص:٣٠١)۔

١]وقد قالوا انما تقضى الصلوات الخمس والوتر على قول ابى حنيفة ....والقضاء فرض فى الفرض،واجب فى الواجب،سنة فى السنة.....الخ (البحرالرائق ج: ٢،ص:٨٦،باب قضاء الفوائت)۔

٢] وأما بيان أن السنة إذا فاتت عن وقتها هل تقضى أم لا؟ فنقول : وبالله التوفيق لا خلاف بين أصحابنا في سائر السنن سوى ركعتي الفجر أنها إذا فاتت عن وقتها لا تقضى سواء فاتت وحدها أو مع الفريضة....الخ (البدائع الصنائع ج:١،ص:٢٨٧)۔

٣] عن ابى هريرة رضى الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : من افطر يوماً من رمضان من غير رخصة ولامرض لم يقض عنه صوم الدهركله وان صامه(ترمذى ج:١،ص:٩٥،باب ماجاء فى الافطار متعمداً)

٤] اعلم انهم قد احدثوا فى آخر جمعة شهر رمضان اموراً مما لا اصل لها،والتزموا اموراً لا اصل للزومها.... فمنها: القضاء العمرى،حدث ذلک فى بلاد خراسان واطرافها، وبعض بلاد اليمن واكنافها، ولهم فى ذلک طرق مختلفة ومسالک متشتة،فمنهم من يصلى فى آخر جمعة رمضان خمس صلوت قضاءً باذان واقامة مع الجماعة، ويجهرون فى الجهرية،ويسرون فى السرية،وينوون لها بقولهم: نويت ان اصلى اربع ركعات مفروضة قضاءً لما فات من الصلوات فى تمام العمر مما مضى،ويعتقدون انها كفارة لجميع صلوات الفائتة فما مضى (مجموعه رسائل اللكنوى، رسالة ردع الاخوان عن محدثات آخر جمعة رمضان ج:٢، ص:٣٤٩، بع ادارة القرآن كراچى، ايضاً كفايت المفتى ج:٣، ص:٣٨٤، كتاب الصلوة، د قضاء عمرى حيثيت)۔

کړي،او الله پاک هغه ته د بیت الله د حج سعادت ورکړي هغه په مسجد نبوی ﷺ او مسجد حرام کې په کثرت سره نفلونه کوي او فرض لمونځونه هم ادا کوي. په حرمین شریفین کې د یو یو رکعت په زرګونو او لکهونو درجي ثواب دی ایا د هغه قضاء لمونځونه ادا شو؟ یا هغه ته قضاء لمونځونه جاری ساتل پکار دي؟

جواب: هغه حاجی صاحب ته به دفرض لمونځونه په هر حال قضاء اداکول وي.په حرم مکه مکرمه کې چې کوم لمونځونه و شي په هغو باندې یو لاکهـ درجي ثواب ورکول کیږي .خو هغه یو لمونځ دا معنی نه چې هغه به د یو لاکهـ لمونځونو قائم مقام وي.[1]

قضاء لمونځ په کعبه شریفه کې څنګه کیږي؟

سوال: د قضاء لمونځونو په باره کې تاسو فرمایلي دي چې هغه دې د خلکو مخکې نه کوي. دلته خو په حرم پاک څلریشت ګنټي خلک موجود وي. نو کوم ځای یې وکړو؟

جواب: کوم ځای چې لمونځ کوئ هغه ځای نه پورته کېدو سره په بل ځای کې یې وکړئ. خلکو ته به پته هم نه لګیږي چې تاسو قضاء لمونځ کوئ که ادا؟

په بیت المقدس یا رمضان کې به یو قضاء لمونځ یو شمیرل کیږي

سوال: په حدیث کې راځي چې په رمضان المبارک د فرض لمونځ ثواب اویا درجي وي او بیا د آخري جمعې فضیلت خو نور هم زیات دی، نو ایا هغه سړی چې د هغه ډیر لمونځونه قضاء شوي وي که هغه د رمضان المبارک په ورځ دیوه لمونځ قضاء وکړي نو یو لمونځ به ګنل کیږي یا د اویاوو برابر؟ او دهغو قائم مقام به وي؟ د یو مولانا وینا ده چې د چا ډیر لمونځونه قضاء شوي وي او هغه بیت المقدس ته تلو سره یو لمونځ وکړي. نو د هغه ټول لمونځونه ادا شو. ځکه چې مقصد خو د لمانځه نه د ثواب حاصلول دي او هغه دلته حاصلیږي نو همدا خبره په رمضان المبارک او د هغه میاشت په آخري جمعه کې هم ده.

جواب: دا صحیح ده چې په رمضان کې د نیک عملونو ثواب اویا درجې ملاویږي، خو ددي نه دا قیاس کول چې په رمضان کې قضاء ادا شوي یو لمونځ سره به اویا لمونځونه ادا شي، بالکل غلطه ده.یو مالک چې اعلان وکړي چې کوم خلک په فلانی ورځ راشي هغو ته به اویا چنده مزدوري ملاویږي. نو دهغې معنی به دا هرګز دانه وي چې د یوې ورځ کار کولو نه وروسته به اویا ورځې چوټي وي،یا دا چې د یو ورځ کار د اویا ورځو قائم مقام وګنل شي، ښکاره ده چې داسې ګڼلو والا به کم عقل وي،الغرض په یو عمل باندې زیاته مزدوري ملاویدل بیله خبره ده او د هغه عمل د څو ورځو قائم مقام کیدل بیله خبره ده،په رمضان المبارک کې په ادا شویو نیکو عملونو باندې اویا چنده اجر او ثواب ملاویږي، خو دا نه ده چې په دې میاشت

---

[1] خیرالفتاوی ج:٢،ص:٦٠٤،ما یتعلق بقضاء الفوائت)_

کې په یو فرض ادا کولو باندې به اویا فرض لمونځونه ادا شي.او کوم مولوي صاحب چې په بیت المقدس کې د یو لمونځ کول دقضاء شویو لمونځونو قائم مقام گرځولی دی. هغه هم ډیره غلطه خبره کړې ده.په مسجد حرام مسجد نبوی او بیت المقدس کې د لمونځونو ثواب زیاتیږي خو دامعنا نه ده چې یو لمونځ دې د ډیرو قائم مقام شي په بیت المقدس کې د لمانځه مشوره کیدای شي چې مولوي صاحب په دې وجه ورکړې وي چې نن سبا هغه د یهودیانو په قبضه کې دی هلته رسیدل ممکن نه دي .که نه د بیت المقدس نه په حرم نبوی ﷺ او د حرم نبوی ﷺ نه په حرم کعبه کې لمونځ کول غوره دي.[1]

۲۷ رمضان او قضاء عمري

سوال: اوریدلي مو دي چې د ۲۷ رمضان المبارک په شپه دولس رکعته قضاء عمري کیږي ایا دا صحیح ده او که نه؟

جواب: په شریعت مطهره کې د قرآن اوحدیث نه داسې هیڅ قانون ثابت نه دی چې په ۲۷ رمضان المبارک یا په بله یو ورځ باندې دولس یا څلور رکعته کولو سره دې د ټول عمر د قضاء لمونځونو کفاره شي په داسې اوریدل شویو خبرو باندې یقین مه کوئ.[2]

۱] فعلم ان کلا من صلوة الرغائب لیلة اول جمعة من رجب وصلوة البرائة لیلة النصف من شعبان والصلوة القدر لیلة السابع والعشرون من رمضان بالجماعة بدعة مکروهة.....ولا ینبغی ان یتکلف لالتزام ما لم یکن فی الصدر الاول کل هذا التکلف لاقامة امر مکروه....قال ابومحمد عز الدین بن عبدالسلام المقدسی لم یکن ببیت المقدس قط صلوة الرغائب فی رجب ولا صلوة نصف شعبان فحدث فی سنة ثمان واربعین واربعمائة ان قدم علینا رجل من نابلس یعرف بابن الحئی وکان حسن التلاوة فقام فصلی فی المسجد الاقصی لیلة النصف من شعبان فاحرم خلفه رجل ثم انضاف ثالث ورابع فما ختم الا وهو جماعة کثیرة ثم جاء فی العام القابل فصله معه خلق کثیر وانتشرت فی المسجد الاقصی وبیوت الناس ومنازلهم ثم استقرت الی یومنا هذا ....الخ (حلبی کبیر ص:۴۳۳،تتمات من النوافل)_

۲] فعلم ان کلا من صلوة الرغائب لیلة اول جمعة من رجب وصلوة البرائة لیلة النصف من شعبان والصلوة القدر لیلة السابع والعشرون من رمضان بالجماعة بدعة مکروهة.....الخ (حلبی کبیر ص:۴۳۲) اعلم انهم قد احدثوا فی آخر جمعة رمضان اموراً مما لا اصل لها،والتزموا اموراً لا اصل للزومها....فمنها: القضاء العمری، حدث ذلک فی بلاد خراسان واطرافها، وبعض بلاد الیمن واکنافها، ولهم فی ذلک طرق مختلفة ومسالک متشتة، فمنهم من یصلی فی آخر جمعة رمضان خمس صلوت قضاءً باذان واقامة مع الجماعة، ویجهرون فی الجهریة، ویسرون فی السریة،وینوون لها بقولهم: نویت ان اصلی اربع رکعات مفروضة قضاء لما فات من الصلوات فی تمام العمر مما مضی،ویعتقدون انها کفارة لجمیع صلوات الفائتة فما مضی (مجموعه رسائل اللکنوی، رسالة ردع الاخوان عن محدثات آخر جمعة رمضان ج:۲،ص:۳۴۹،طبع ادارة القرآن کراچی، ایضاً کفایت المفتی ج:۳،ص:۳۸۴)_

که د چا په ذمه قضا لمونځونه وي نو ايا هغه تهجد نه شي کولی؟

سوال: ماته د يو کس نه دا معلومه شوه چې تهجد هغه وخت پورې نه شي کيدی ترڅو چې قضاء عمري ادا شوي نه وي. ايا دا خبره صحيح ده؟

جواب: غالباً د هغه صاحب مطلب به دا وي چې د نفلو په ځای دې قضا شوي لمونځونه و شي، که نه. تهجد کول جائز دي.[1]

د قضا لمونځونو باوجود تهجد، اوابين وغيره کول

سوال: زما په ذمه ډير قضا شوې لمونځونه دي. زه دا قضا لمونځونه د نفلو په ځای کوم. سوال دا دی چې ايا زه د قضا لمونځونو د پوره کولو نه بغير اوابين او تهجد کولی شم؟

جواب: ستاسو لپاره غوره داده چې د تهجدو او اوابينو وغيره په ځای قضا لمونځونه پوره کړئ.[2]

د څو قضا شويو لمونځونو په ځای صلوة التسبيح کول

سوال: که په يو سړي باندې څو قضا شوي لمونځونه وي، نو ايا هغه صلوة التسبيح کولو سره دا ټول ادا کولی شي؟

جواب: صلوة التسبيح نفل لمونځ دی. او نفل لمونځ د فرض لمونځ قائم مقام کيدای نه شي.[3]

ايا په قضاء عمري کې د سورت په ځای درې ځله "سبحان الله" ويل کافي دي؟

سوال: ما اوريدلي دي چې که د يو سړي په ذمه باندې د ټول عمر لمونځونه قضا وي، نو دی دې په قيام کې د سورت فاتحه او دې سره د سورت يوځای کولو په ځای درې ځله "سبحان الله" ووايي نو څۀ حرج نشته. ايا دا صحيح ده؟

جواب: غلط دي، په لمانځه کې سورة فاتحه لوستل او دې سره وړوکی سورت يوځای کول (يا درې واړه آيتونه) واجب دي. د دې پرينښودو سره لمونځ نه کيږي.[4]

ايا په خانه کعبه کې د قضا لمونځ ثواب به د سلو برابر وي؟

سوال: ويل کيږي چې په خانه کعبه کې د شوي يو رکعت ثواب به د سلو رکعتونو د ثواب برابر

---

[1] في الحجة والاشتغال بالفوائت اولى واهم من النوافل الا السنن المعروفة....الخ (عالمگيرى ج:١. ص:١٢٥) الاشتغال بقضاء الفوائت اولى واهم من النوافل الا السنن المفروضة (ردالمحتار ج:٢،ص:٧٤، باب قضاء الفوائت،طبع سعيد)

[2] والاشتغال بالفوائت اولى واهم من النوافل....الخ (عالمگيرى ج:١،ص:١٢٥)

[3] كل صلوة فاتت عن الوقت بعد وجوبها فيه يلزمه قضاءها ......سواء كانت الفوائت كثيرة او قليلة (فتاوى هندية ج:١،ص:١٢١،وكذا في حاشية الطحطاوى على المراقى الفلاح ص:١٣٩)

[4] يضم الى الفاتحة سورة او ثلاث آيات (عالمگيرى ج:١،ص:٧٤،الباب الرابع فى صفة الصلوة)

وي نو اېا که قضا لمونځونه په خانه کعبه کې و شي، نو يو رکعت به د سلو رکعتونو برابر وي؟

جواب: ثواب به د سلو لمونځونو وي، خو لمونځ به يو وي. د دې وجې نه يو قضا لمونځ د سلو قضا لمونځونو قائم مقام نه شي کېداى [1]

قضاء شوي څو لمونځونه يو ځاى کول

سوال: که يو سړى پنځه وخته لمونځ کوي او د يو سړي نه کله د څه مصروفيت په وجه لمونځ پاتې شي، بيا هغه غواړي چې زه په ماسخوتن کې ټول لمونځونه يو ځاى وکړم .نو هغه يو ځاى لمونځ کولى شي؟

جواب: د مصروفيت په وخت کې د لمونځ قضاء کول سخته ګناه ده. د دې نه توبه کول پکار دي.د يو مسلمان له پاره د لمانځه نه اهم مصروفيت څه کېدلى شي؟ د کوم په وجه چې هغه لمونځ پرېږدي.په هر حال قضاء لمونځونه چې کله هم موقع ملاو شي ادا کول يې پکار دي.په دې شرط چې وخت مکروه نه وي قضاء شوي لمونځونه په يو ځاى هم کيږي.[2]

د قضاء لمونځونو فديه کله او څومره ادا کول پکار دي؟

سوال: که يو لمونځ قضاء شي نو د هغه فديه د نن سبا د رواج شوي روپيو په حساب سره په څومره مقدار کې ادا کول پکار دي؟

جواب: په ژوند کې خو د لمونځ فديه نه شي اداکېداى،بلکې د قضاء شويو لمونځونو ادا کول لازم دي، خو که يو سړى په داسې حال کې مړ شي چې د هغه په ذمه قضاء لمونځونه وي، نو د هر لمانځه فديه دې د صدقه فطر په مقدار ادا کړي.د صدقه فطر مقدار تقريبا دوه سيره غله ده د فديې د ادا کولو د ورځې قيمت نه اعتبار دى. په هغه ورځ چې د غلې څه قيمت وي په هغه حساب سره دې فديه ادا کړل شي او چونکې وتر يو مستقل لمونځ دى.په دې وجه د ورځې او شپې شپږ لمونځونه وي،او د قضاء کيدو په صورت کې د يوې ورځ او شپې په لمونځونو باندې شپږ صدقې لازمې دي،مړى که ددې وصيت کړى وي، نو د دريمې برخې د مال نه فديه ادا کول واجب دي،او که وصيت يې نه وي کړى، نو د وارثانو په ذمه واجب نه ده ،خو که ټول وارثان عاقلان او بالغان وي او هغوى په خپله خوشحالي سره فديه ورکول غواړي. نو اميد دى چې د مړى بوج به اوچت شي.[3]

---

[1]]والقضاء فرض فى الفرض وواجب فى الواجب....الخ(عالمگیری ج:١،ص:١٢١)

[2]] ثم ليس للقضاء وقت معين بل جميع اوقات العمر وقته الا ثلاثة وقت طلوع الشمس ووقت الزوال ووقت المغرب،فانه لا تجوز الصلوة فى هذه الاوقات (البحرالرائق ج: ٢،ص:٨٦،باب قضاء الفوائت)۔

[3]] اذا مات الرجل وعليه صلوة فائتة فاوصى بان تعطى كفارة صلواته يعطى لكل صلوة نصف صاع من بر وللوتر نصف صاع.....وفى فتاوى الحجة وان لم يوص لورثته وتبرع بعض...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

د لمانځه فدیه څنګه ادا کړل شي؟

سوال: زموږ یوه خپلوانه ددري میاشتونه سخته ناروغه وه چې د هغې په وجه یې وفات هم وشو اوس چې په دې موده کې د هغې کوم لمونځونه قضاء شوي دي د هغو فدیه څنګه اداکړل شي؟

جواب: د هر لمانځه په بدل کې د صدقه فطر په مقدار (یعنی سر سایه) فدیه ده. او وترمستقل لمونځ دی. په دې مقدار شپږ فدیې شوي دا فدیه که یو سړی د خپل مال نه ادا کوي خو صحیح ده او که د مړې شوې له پریښودل شوي مال نه یې ادا کوي. نو دهغه له پاره شرط دا دی چې ټول وارثان به بالغ او حاضر وي او هغوی په خوشحالۍ ددې اجازه ورکړي. دا په هغه صورت کې ده چې مړې شوې زنانه د فدیې د ادا کولو وصیت نه وي کړی. که وصیت یې کړی وي. نو دهغې د پریښودل شوي مال د دریمې برخې نه به د وارثانو د رضا نه پرته به فدیه ادا کیږي او که د دریمې برخې د مال نه زیاته فدیه وي نو دهغې له پاره هم هغه شرط دي کوم چې پورته ولیکل شو.[۱]

د قضا لمونځونو د فدیه ادا کولو طریقه؟

سوال: د مړي د قضا لمونځونو او د روژود د فدیې ادا کولو څه طریقه ثابته ده؟

جواب: شرعي حکم دا دی چې لمونځ او روژې قضا نه شي، که خدای مکړه قضا شي، نو فوراً دې ادا شي، او که خدای مکړه ادا یې هم نکړي ، نو وصیت دې وکړي چې زما په ذمه دومره لمونځونه او دومره روژې دي ددې فدیه دې ادا کړل شي، په دې صورت کې به د وارثانو په ذمه لازم وي چې د دریمې برخې مال نه دده فدیه ادا کړي.[۲]

چې د پنځو لمونځونو نه زیات بیهوشه پاتې شي نو دده لمونځونه معاف دي

سوال: یو سړي باندې د زړه دوره راغله او د هغې نه وفات هم شو. د زړه د دورې د تکلیف دوران کې ترینه څو لمونځونه قضا شو. علماء کرام وایي چې ددې لمونځونو فدیه ادا کړئ دې لپاره چې مرحوم د آخرت په اعتبار سره بري الذمه شي. ایا ددې لمونځونو مالي فدیه ورکول

...بقیه د تیرمخ]..الورثة وجوز.....الخ (فتاوی هندیة ج:۱، ص:۱۲۵) (قوله وعلیه صلوة فائتة) ای بان کان یقدر علی ادائها ولو بالایماء فلیزمه الایصاء.....(قوله :نصف صاع من البر) او او من دقیقه او سویقه او صاع من تمر او زبیب او شعیر او قیمته وهی افضل عندنا لاسرارها بسد حاجة الفقیر....(قوله وکذا حکم الوتر) لانه فرض عملی خلافا لهما(قوله وانما یعطی من ثلث ماله) فلو زادت الوصیة علی الثلث لا یلزم الولی اخراج الزائد الا باجازة الورثة الدرالمختار ج: ۲،ص:۷۲و ۷۳،باب قضاء الفوائت ،طبع سعید)

[۱] اوګورئ تیره شوی حاشیه (اذا مات الرجل وعلیه صلوة فائتة فاوصی بان تعطی کفارة..الخ)_

[۲] ومن مات وعلیه صلوة فاوصی بمال معین یعطی لکل صلوة کالفطرة وللوتر کذلک وکذا الصوم کل یوم وانما یلزم تنفیذها من الثلث وان لم یوص وتبرع به بعض الورثة جاز(حلبی کبیر ج:۱،ص:۵۳۵)

ضروري دي حالانکې مرحوم نيم بيهوشه و؟

جواب: که هوش اوحواس يې باقي وو نو دا لمونځونه د هغه په ذمه دي او ددې دې پوره فديه ادا کړل شي .خود مرحوم له طرفه وصيت نشته ددې وجې نه د وارثانو په ذمه واجب نه دي او که بيهوشه وو اودا بيهوشي د پنځو لمونځونو نه زيات وخت وه نو دا لمونځونه معاف دي ا[1]

ايا د قضا لمونځونو فديه په ژوند کې يا د مرګ نه وروسته ورکول کيږي؟

سوال: ايا د قضا لمونځونو فديه ورکول کيداى شي؟ددې سړي په ژوند کې يا د مرګ نه وروسته؟

جواب: په ژوند کې خو د لمونځونو ادا کول فرض دي.فديه ورکول صحيح نه دي ا[2] .د مرګ نه وروسته ورکول صحيح دي.بيا که د وصيت کولو نه وروسته وفات شو چې زما په ذمه دومره لمونځونه دي. نو د هغه فديه دې ورکړل شي او د مړي د ترکې پريښودل شوي مال په دريمه برخه کې ددې فديې ګنجائش هم وي نو فديه ورکول واجب دي .که نه واجب نه ده.وارث که فديه ادا کړي نو اميددى چې قبوله به شي ا[3]

د مورو پلار د قضا شويو لمونځونو د ادا کولو طريقه

سوال: که يو سړى پنځوس کاله عمر کې اولني ديرش کاله کې لمونځ پابندي سره نه کوي او آخري عمر کې شل کاله کې لمونځ کوي او د پنځوس کالو په عمر کې دا سړى وفات شي. نو ددې په بدله کې ددې سړي اولاد قضا لمونځ کولى شي؟او په يو ورځ کې څومره قضا شوي لمونځونه ادا کيداى شي؟

جواب: يو سړى د بل سړي له طرفه نه خو قضا لمونځ کولى شي او نه قضا روژه نيولى شي ا[4] .

---

[1]] ومن اغمى عليه خمس صلوات قضى ولو اكثر لا يقضى.....هذا اذا دام الاغماء ولم يفق فى المدة...الخ (عالمگيرى ج:۱،ص:۱۳۷) عن عبيدالله بن نافع قال اغمى على عبدالله بن عمر رضى الله عنهما يوما وليلة فافاق فلم يقض مافاته واستقبل كذا فى نصب الراية (ج:۱،ص:۳۰۵،اعلاء السنن ج:۷،ص:۱۹۱) كتاب الصلوة،باب المغمى عليه،طبع ادارة القرآن ،وايضا درمختار ج:۲،ص:۱۰۲،باب صلوة المريض)

[2]] وسئل جمير الوبرى وابويوسف بن محمد عن الشيخ الفانى هل تجب عليه الفدية عن الصلوات كما تجب عليه عن الصوم وهوحى؟ فقال: لا،كذا فى التاتارخانية(عالمگيرى ج:۱،ص:۱۲۵،كتاب الصلوة،الباب الحادى عشر)

[3]] اذا مات الرجل وعليه صلوة فائتة فاوصى بان تعطى كفارة صلواته يعطى لكل صلوة نصف صاع من بر وللوتر نصف صاع ولصوم يوم نصف صاع من ثلث ماله....الخ (عالمگيرى ج:۱،ص:۱۲۵)

[4]] فى الملتقط ولو امرالاب ابنه ان يقضى عنه صلوات وصيام ايام لا يجوز عندنا كذا فى التاتارخانية(عالمگيرى ج:۱،ص:۱۲۵) ولا يصح أن يصوم) الولي ولا غيره عن الميت (ولا) يصح (أن يصلي) أحد (عنه) لقوله صلى الله عليه و سلم " لا يصوم أحد عن أحد ولا يصلي أحد عن أحد ولكن يطعم عنه فما يفعله جهلة الناس الآن من إعطاء دراهم للفقير على أن يصوم أو يصلي عن الميت أو يعطيه شيئا من صلاته أو صومه ليس بشيء وإنما الله سبحانه وتعالى يتجاوز عن الميت.بواسطة الصدقة التي قدرها الشارع...]بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

کوم سړی چې د يو مرحوم د ذمې نه د هغۀ لمونځونه او روژې ختمول غواړي، نو ددې طريقه دا ده چې د لمونځونو او د روژو فديه ورکړي، کومه چې د صدقة الفطر برابر ده.ددې وجې نه د هرکال د رمضان د روژې ديرش فديې شوې او د هرلمانځه فديه هم د صدقة الفطر برابر ده او په يو ورځ کې د وترو سره شپږ لمونځونه دي نو د يو ورځې شپږ فديې شوې.که د قمري کال درې سوه څلور شپېته ورځې فرض کړل شي نو د يو کال دوه زره يوسل څلوراتيا، ٢١٨٤ فديې شوې او که د يو فديې قيمت ٨روپۍ فرض شي، نو د يو کال د لمونځونو د فديو قيمت ١٧٤٧٢ روپۍ شوې او که د يوې فديې قيمت ٧روپۍ وټاکل شي، نو د ټول کال د فديو قيمت ١٥٢٨٨ روپۍ شو.

د سهار لمونځ پرېښودو نکی لمونځ کله ادا کړي؟

سوال: که د سهار په وخت کې سترګې ناوخته وغړيږي په دې وجه زه د سهار قضاء لمونځ د ماسخوتن د لمانځه سره ادا کوم ايا زما دا عمل صحيح دی؟

جواب: غلط دی.اول خو د سهار لمونځ قضاء کول ډيره لويه ګناه ده.په حديث کې دي چې د سهار او ماسخوتن لمونځ په منافقانو باندې ډير درونددی. که هغوی ته ددې د اجر او ثواب علم وی نو دې لمونځونو ته به ضرور راته که هغوی ښويدل ولې نه [١]په دې وجه د سهار د لمانخه له پاره د پوته کېدو پوره اهتمام کول پکار دي.[٢]

خو يو ورځ الله مه کړه که څوک راپورته نه شي. نو د بيداريدو نه وروسته فوراً د سهار لمونځ قضاء ادا کول پکار دي. د ماسخوتن لمانځه پورې يې وروسته کول غلط دي

د سهار د لمونځ قضاء کونکي له پاره د توجه کولو دړې خبرې

سوال: موږ د شپې د دوه بجو پورې ګپ شپ لګوو او بيا ددې نه وروسته ويده شو دا صحيح ده چې موږ غلط کوو او بيا د سهار لمونځ قضاء شي زه خپله د سهار لمونځ د ماسپښين نه

....بقيه د تيرمخ]..كما بيناه(مراقى الفلاح على هامش الطحطاوى ص:٢٣٨،فصل فى اسقاط الصوم والصلوة) وإن كان مريضا وقت الإيجاب ولم يبرأ حتى مات فلا شيء عليه فإذا لم يف به الثلث توقف الزائد على إجازة الوارث فيعطي (لصوم كل يوم) طعام مسكين لقوله صلى الله عليه و سلم " من مات وعليه صوم شهر فليطعم عنه مكان كل يوم مسكين " وكذا يخرج (لصلاة كل وقت) من فرض اليوم والليلة حتى الوتر(مراقى الفلاح على هامش الطحطاوى ص:٢٣٨،فصل فى اسقاط الصلوة)

١]عن ابى هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :ليس صلوة اثقل على المنافقين من الفجروالعشاء ولويعلمون مافيهما لآتوهما ولو حبوا_متفق عليه(مشكوة ص:٦٢،باب فضائل الصلوة.الفصل الاول)

٢]واذا اخرالصلوة الفائتة عن وقت التذكر مع القدرة على القضاء هل يكره فالمذكور فى الاصل انه يكره،لان وقت التذكر انما هووقت الفائتة وتاخيرالصلوة عن وقتها مكروه بلاخلاف كذا فى المحيط(فتاوى هندية ج:١،ص:١٢٤)

وروسته کوم او یوازې دوه رکعته فرض کوم ایا زه چې کوم لمونځ کوم هغه صحیح دی که نه؟ که نه وي نو ایا موږ ګناه ګار یو؟

جواب: ستاسو په دې عمل باندې درې خبرې ستاسو د توجه لائق دي

اول دا چې رسول الله ﷺ د ماسخوتن نه وروسته د خبرو کولو نه منع فرمایلې ده[1]. درې صورتونه ددې نه مستثنی دي یو دا چې انسان د میلمه د خاطر د هغه سره خبرې کوي. دویم دا چې ښځه خاوند په خپل مینځ کې خبرې کوي[2] او دریم دا چې څه خلک په سفر کې وي او هغوی د شپې تیرولو له پاره خبرې کوي. ددې درې صورتونو نه پرته خبرې کول مکروه او ناخوښه دي. د مسلمان د ټولې ورځې خاتمه په نیکو عملونو باندې کیدل پکار دي او هغه د ماسخوتن لمونځ دې په دې وجه تاسو له د ټولې شپې ګپ شپ پرېښودل پکار دي. ځکه چې ستاسو ګپ شپ د سهار د لمانځه د قضاء کیدلو سبب دی او د حرامو ذریعه حرام وي په دې وجه ستاسو دا فعل حرام دی.

دویم دا چې تاسو د سهار لمونځ پرېږدئ او دا ډیر لویه ګناه ده د دنیا هیڅ ګناه زنا. غلا. ډاکه. وغیره د فرض لمونځ پرېښودلو برابر نه ده. ددې نه توبه کول پکار دي[3] خصوصاً د سهار د لمانځه خو نور هم تاکید راغلی دی[4] او ددې قضاء کول په خان باندې ډیر لوی ظلم دی

دریم دا چې که خدایې مه کړه د سهار لمونځ قضاء هم شي نو د ماسپښین پورې هغه وروسته کول نه دي پکار بلکې د بیداریدو نه وروسته هغه په لومړي وخت کې ادا کول پکار دي[5]. د

١]قوله وکان یکره....والحدیث بعدها...والسمیر بعدها قد یؤدی الی النوم عن الصبح او عن وقتها المختار .....الخ (فتح الباری شرح بخاری ج:٢،ص:٧٣)_

٢](باب السمر مع الاهل والضیف)..فیلتحق بالسمر الجائز..الخ(فتح الباری شرح بخاری ص:٧٦قبیل کتاب الاذان)

٣]وَرُوِيَ أَيْضًا:{ أَنَّ امْرَأَةً مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ جَاءَتْ إِلَى مُوسَى صَلَّى اللَّهُ عَلَى نَبِيِّنَا وَعَلَيْهِ وَعَلَى سَائِرِ النَّبِيِّينَ فَقَالَتْ : يَا نَبِيَّ اللَّهِ أَذْنَبْتُ ذَنْبًا عَظِيمًا وَقَدْ تُبْتُ إِلَى اللَّهِ – تَعَالَى – فَادْعُ اللَّهَ لِي أَنْ يَغْفِرَ ذَنْبِي وَيَتُوبَ عَلَيَّ . فَقَالَ لَهَا مُوسَى : وَمَا ذَنْبُكِ ؟ قَالَتْ يَا نَبِيَّ اللَّهِ زَنَيْتُ وَوَلَدْتُ وَلَدًا وَقَتَلْتُهُ ، فَقَالَ لَهَا مُوسَى – عَلَى نَبِيِّنَا وَعَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – اُخْرُجِي يَا فَاجِرَةُ ، لَا تَنْزِلُ نَارٌ مِنْ السَّمَاءِ فَتُحْرِقُنَا بِشُؤْمِكِ فَخَرَجَتْ مِنْ عِنْدِهِ مُنْكَسِرَةَ الْقَلْبِ فَنَزَلَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَقَالَ : يَا مُوسَى الرَّبُّ تَعَالَى يَقُولُ لَكَ لِمَ رَدَدْتَ التَّائِبَةَ ؟ يَا مُوسَى أَمَا وَجَدْتَ شَرًّا مِنْهَا ؟ قَالَ مُوسَى يَا جِبْرِيلُ وَمَنْ شَرٌّ مِنْهَا ؟ قَالَ : مَنْ تَرَكَ الصَّلَاةَ عَامِدًا مُتَعَمِّدًا(الزواجر عن اقتراف الکبائر ج:١،ص:١٣٧،الکبیرة السابعون والسبعون)_

٤]عن جندب القسری رضی الله عنه قال:قال رَسُولُ اللَّهِ –صلی الله علیه وسلم– « مَنْ صَلَّى صَلَاةَ الصُّبْحِ فَهُوَ فِي ذِمَّةِ اللَّهِ فَلَا يَطْلُبَنَّكُمُ اللَّهُ مِنْ ذِمَّتِهِ بِشَيْءٍ فَإِنَّهُ مَنْ يَطْلُبْهُ مِنْ ذِمَّتِهِ بِشَيْءٍ يُدْرِكْهُ ثُمَّ يَكُبَّهُ عَلَى وَجْهِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ رواه مسلم (مشکوة ص:٦٢،الفصل الاول،باب فضائل الصلوة)_

٥]واذا اخر الصلوة الفائتة عن وقت التذکر مع القدرة علی القضاء هل یکره فالمذکور فی الاصل انه یکره،لان وقت التذکر انما هو وقت الفائتة وتاخیر الصلوة عن وقتها مکروه بلاخلاف کذا فی المحیط(فتاوی هندیة ج:١،ص:١٢٤)_

سحر لمونځ که قضاء شي نو د زوال نه مخکې یې د سنتو سره قضاء راوړل کیږي او د زوال نه وروسته یوازې فرض کیږي.[١]

د سهار د لمانځه د قضا کولو وبال او ددې ازاله

سوال: زه سحر اکثر ناوخته پورته کیږم او کله چې پورته شم نو هغه وخت د سهار وخت تیر شوی وي او زه د سهار لمونځ ونه کړاېښیشم. کله چې سرې پورته شي. نو د سحر د لمانځه قضا هغه وخت کول پکار دي یا د ماسپښین لمانځه سره هم کیدای شیاو ددې قضا لمونځ نیت څنګه کیږي؟

جواب: د لمانځه قضا کول خاص کر د سحر لمونځ قضا کول ډیر لوی وبال دی او څومره لوی ګناهونه چې دي په هغو کې د لمونځ د قضا کولو نه لویه ګناه بله نشته. ددې وجې نه ددې اهتمام کول پکار دي چې د سهار دلمانځه جمعه هم نه لاړ نه شي. د شپې په وخت ویده کیږئ او د لمانځه په وخت کې د پورته کېدو انتظام کولو سره ویده کیږئ. مثلاً د ټائم پیس الارم لګوئ یا د چا په ذمه دا خبره اچوئ چې هغه تاسو په ه خت باندې بیدار کړي. په هرحال دا عزم کول پکار دي چې انشاء الله هیڅ یو لمونځ به نهٔ قضا کوم. ددې باوجود که خدای مه کړه کله لمونځ قضا شي. نو هغه فوراً ادا کول پکار دي. چې کله هم بیدار شي نو قضا دې وکړي.[٢]

قصداً لمونځ قضا کول د کفر نه وروسته تر ټولو لویه ګناه ده

سوال: ماته یو مسئله پیښه ده. هغه دا چې زما نه ډیر لمونځونه قضا شوي دي کوم چې ما ادا کړي نه دي. خو زه د یکم جنوری ١٩٩٠ء نه ترتیب سره لمونځونه کوم. د هغې ورځې نه چې زما نه کوم لمونځ هم قضا شوي دي. نو ما ادا کړي دي. یعنې د موجوده کال د هیڅ یوې ورځې هیڅ یو لمونځ زما په ذمه نشته. اوس سوال دا دی چې که زما یو لمونځ مثلاً د سهار لمونځ قضا شي، نو زه اول قضا اوکړم یا د ماسپښین د لمانځه نه وروسته قضا لمونځ وکړم؟ حالانکې ددې نه مخکې هم زما ډیر لمونځونه پاتې شوي دي

جواب: قصداً د لمانځه قضا کول د کفر نه وروسته د ټولو نه لویه ګناه ده. ددې وجې نه اینده د لمانځه د قضا کولو نه پخه توبه وکړئ او که خدای مه کړه غیراختیاري طور سره لمونځ قضا شي. مثلاً ویده پاتې شئ یا لمونځ کول یاد نه وي نو دا دې په تیرو شوو قضا لمونځونو کې نه

١] اذافاتتا مع الفرض یقضیهما بعدطلوع الشمس الی وقت الزوال ثم یسقط..الخ (فتاوی هندیة ج:١،ص:١١٢)

٢] اذا اخرالصلوة الفائتة عن وقت التذکر مع القدرة علی القضاء هل یکره فالمذکور فی الاصل انه یکره.لان وقت التذکرانماهووقت الفائتة وتاخیرالصلوة عن وقتها مکروه بلااخلاف کذا فی المحیط(فتاوی هندیة ج:١،ص:١٢٤) من نام عن صلوة اونسیها فلیصلها اذاذکرها لاکفارة لها الاذلک(فتح القدیرمع الهدایة ج:١، ص:٣٤٧،باب قضاء الفوائت)

شمارل کيږي، بلکې فوراً دې د دې د ادا کولو اهتمام وشي.د سحر لمونځ ماسپښين پورې مؤخر کول هم جائز نه دي [۱]

د سهار لمونځ ماسپښين سره کول

سوال: زه د ماسپښين او د مازديګر لمونځ خو جمعې سره کوم او د سهار لمونځ قضا د ماسپښين په وخت کې کوم

جواب: تاسو کوشش کوئ چې هر لمونځ په خپل وخت کې ادا کوئ، ځکه چې لمونځ قضا کول ډير لوی وبال دی.

۲.که لمونځ قضا شي نو څومره زر چې ممکن وي هغه دې وکړل شي.د دويم لمونځ انتظار کول پکار نه دي ځکه چې څومره تاخير کيږي نو هغومره ګناه زياتيږي

۳ که د سهار لمونځ دې کړی نه وي چې د ماسپښين وخت شو. نو اول د سهار لمونځ وکړی بيا وروسته د ماسپښين لمونځ وکړئ [۲]

د سهار نه وروسته قضا لمونځ

سوال: ايا د سهار د فرض لمونځ کولو نه وروسته د لمر ختلو نه مخکې سجده جائز ده او که نه؟ مثلاً: موږ د سهار فرض کړي دي.له دې نه وروسته د لمر ختلو نه مخکې سجده کولی شو او که نه؟

جواب: د سهار د لمانځه نه وروسته د لمر ختلو پورې نفل لمونځ جائز نه دی.قضا لمونځ او د تلاوت سجده جائزدي.خوقضا لمونځ دې دخلکوپه مخکې نه کوي بلکې ځانته دې وکړي [۳]

د لمونځ قضا کولو په ګناه با ندې اشکال او د هغو جواب

سوال: ستاسو کالم ستاسو مسائل او د هغې حل مؤرخه ۱۵مئ بروزجمعه زما په وړاندې دی. په دې کې څه مسائل ليکل شوي دي چې زما په خيال کې تاسو د بل چا په ذريعې سره

---

[۱] واذا اخرالصلوة الفائتة عن وقت التذكر مع القدرة على القضاء هل يكره فالمذكور فى الاصل انه يكره(عالمگيرى ج:۱،ص:۱۲۴) والتاخير بلاعذر كبيرة لا تزول بالقضاء بل بالتوبة (حاشية الطحطاوى مع المراقى ص:۱۳۹) وعن ابى الدرداء رضى الله عنه قال: قال اوصانى خليلى ان لا تشرك بالله شيئا وان قطعت وحرقت.....ولا تترک صلوة مكتوبة متعمداً فمن تركها متعمداً فقد برئت منه الذمة(مشكوة ص:۵۹،كتاب الصلوة،الفصل الثالث)

[۲] اذا اخرالصلوة الفائتة عن وقت التذكر مع القدرة على القضاء هل يكره فالمذكور فى الاصل انه يكره(عالمگيرى ج:۱،ص:۱۲۴،كتاب الصلوة ،الباب الحادى عشر فى قضاء الفوائت)

[۳] تسعة اوقات يكره فيها النوافل وما فى معناهما لا الفرائض فيجوز فيها قضاء الفائتة وصلوة الجنازة وسجدة التلاوة...منها مابعد صلوة الفجرقبل طلوع الشمس..الخ(عالمگيرى ج:۱ص:۵۳،كتاب الصلوة،الباب الاول)

لیکلي دي او اخبار ته مو لیږلي دي او دا د یو مبتدي جواب دی.تاسو کله هم داسې جواب چې مبهم،غیر واضح او مشکوك وی په اخبار کې نه شائع کوئ.وګورئ یو سوال د سهار لمانځه سره متعلق شوی او خواب داسې ورکړل شوی "د لمانځه قضا کول خصوصاً د سهار د لمانځه قضا کول ډیر لوی وبال دی او څومره لوې ګناهونه چې دي په هغو کې د لمانځه د قضا کولو نه لویه ګناه بله نشته" لیکل شوې جمله دا ثابتوي چې زنا ،شرك،سود ،شراب خوري وغیره دا ټول واړه ګناهونه دي یعنې په دې ګناهونو باندې چې کوم حد جاري کیږی هغه د قضا لمونځ په نسبت کم دی ،حالانکې ذکرشوی سړی همیشه له پاره د لمانځه تارك نه دی بلکې مجبوراً د سهار د قضا مرتکب شوی دی.

جواب: ستاسو خط سره ډیر زیات خوشحاله شوم،په کومو دواړو جوابونو باندې چې تاسو تنقید کړی دی هغه د بل چا په قلم سره نه بلکې داسې غیرذمه دارانه جواب هم ددې ظالم او جاهل کیدای شي

زما په زړه کې هم دا خبره تیره شوې وه چې په دې باندې خامخا څوك تنقید کوي .خو چا ونکړ او دا شرف تاسو ته حاصل شو اوس دوه وضاحتونه واورئ:

اول: زما بحث او ګفتګو اضطراری طور باندې د لمانځه د قضا کیدو باره کې نه ده بلکې د هغه لمانځه د قضا کولو په باره کې ده چې په خپل اختیار سره قضا شي،د ویده سړي نه بیداریدل خو غیراختیاري شی دی ،خو دولسو،یوې بجې پورې تې وي باندې ډرامې کتل،بیا دوه بجې ویده کیدل او لمانځه لپاره د پورته کېدو څه اهتمام نه کول،چې ددې په نتیجه کې اکثر د سهار لمونځ قضا شي،دا غیراختیاری شی نه دی،نه اضطراري دي. بلکې دا استمراري او اختیاري دي.

دویم: دا چې قصداً لمونځ قضا کول داسې لویه ګناه ده چې په قرآن وحدیث کې په دې باندې د کفروشرك او د نفاق حکم لګولی شوی دی او خینو اکابرینو د لمونځ په پریښودونکي باندې د کفر فتوی لګولې ده.دلته د شیخ ابن حجر مکي رحمه الله د کتاب "**الزواجر عن اقتراف الکبائر**"نه یو اقتباس نقل کوم:

"اهل علم،صحابه کرامو او د هغوی نه وروسته حضراتو د لمونځ د پریښودونکي په کفر کې اختلاف کړی دې او ډیر احادیث مخکې تیر شوې دي چې په هغو کې د لمانځه د پریښودونکي د کافر،مشرك او د ملت نه د خارج کیدو وضاحت شوی دی او دا چې دده نه د الله پاك او د رسول صلی الله علیه وسلم ذمه بري ده او دا چې دده اعمال ضائع کیږي او دا چې دده دین نشته او دا چې دده ایمان نشته،دی بې دینه او بې ایمانه دی،او دا قسم ډیر تغلیظات تیر شوي دي،د صحابه کرامو رضی الله عنهم، تابعینو او د ورستنو حضراتو یو جماعت ددې احادیثو ظاهر اخستی دی او فرمایي چې کوم سړی قصداً عمداً یو لمونځ قضا کړي تردې چې د لمانځه پوره وخت لاړ

شي، نو دی کافر دی. دده وینه تویول حلال دي.په دې حضراتو کې حضرت عمر.حضرت عبدالرحمن بن عوف.معاذ بن جبل. ابوهریره. ابن مسعود.ابن عباس.جابر بن عبدالله. ابوالدرداء رضی الله عنهم او په غیرصحابو کې احمدبن حنبل.اسحاق بن راهویه.عبدالله بن مبارک. حکم بن عیینه.ایوب سختیانی. ابوداؤد طیالسي. ابوبکرابن ابی شیبه.زهیر بن حرب او نور اکابرین شامل دي.نو دا ټول امامان ددې خبرې قائل دي چې د لمونځ پریښودونکی کافر دی او دده وینه مباح ده [۱]

لوی ګناهونه خو ډیر دي .خو په هیڅ یوه ګناه باندې مسلسل دومره وعیدونه نه دي راغلي څومره چې قصداً په لمونځ قضا کولو باندې راغلي دي او په هیڅ یوه ګناه باندې د کفر فتوا نه شي ورکول کېدای .خود لمونځ په پریښودونکي باندې ډیرو زیاتو اکبرینو د کفر فتوا جاري کړې ده.که دا ټولې خبرې په ذهن کې ساتلو سره دا فقره وکتل شي چې څومره لوی ګناهونه دي.په هغو کې د لمونځ د قضا کولو نه زیاته لویه ګناه نشته.نو اګرکه تاسو دې سره اتفاق ونکړئ .خو یوه ورځ به ددې وزن خامخا محسوس کړئ

د ماسپښین او د مازدیګر قضا د ماښام نه څو دقیقې مخکې کول

سوال: که د مازدیګر او دماسپښین قضا لمونځ د ماښام نه یوڅو دقیقې مخکې وکړل شي نو ایا ادا کیږي؟

جواب: دې وخت کې د ماسپښین قضا خو جائز نه ده .خو ددې ورځې د مازدیګر لمونځ د لمر پریوتو پورې کیږي اګرچې د تاخیر له وجې به ګنهګار وي [۲]

د سهار او مازدیګر نه وروسته قضاء لمونځ کول

سوال: ایا قضاء لمونځ د مازدیګر او سهار د لمانځه نه مخکې ادا کیږي؟

جواب: دسهار او مازدیګر نه وروسته قضاء لمونځونه کول جائزدي. یوازې نفل کول مکروه دي[۳] خو د مازدیګر او سهار نه وروسته قضاء لمونځونه د خلکو مخکې نه دي کول پکار.

---

[۱] منها: اختلف العلماء من الصحابة ومن بعدهم في كفر تارك الصلاة . وقد مر في الأحاديث الكثيرة السابقة التصريح بكفره وشركه وخروجه من الملة . وبأنه تبرأ منه ذمة الله وذمة رسوله . وبأنه يحبط عمله . وبأنه لا دين له ، وبأنه لا إيمان له . ونحو ذلك من التغليظات . وأخذ بظاهرها جماعة كثيرة من الصحابة والتابعين ومن بعدهم فقالوا : من ترك الصلاة متعمدا حتى خرج جميع وقتها كان كافرا مراق الدم .منهم عمر وعبد الرحمن بن عوف ومعاذ بن جبل وأبو هريرة وابن مسعود وابن عباس وجابر بن عبد الله وأبو الدرداء . ومن غير الصحابة أحمد بن حنبل وإسحاق بن راهويه وعبد الله بن المبارك والنخعي والحكم بن عيينة وأيوب السختياني وأبو داود الطيالسي وأبو بكر بن أبي شيبة وزهير بن حرب وغيرهم . فهؤلاء الأئمة كلهم قائلون بكفر تارك الصلاة وإباحة دمه(الزواجر عن اقتراف الكبائر ص:۱۳۸،طبع بیروت)

[۲] وعنداحمرارها الى ان تغيب الا عصريومه ذلك فانه يجوز ادائه عندالغروب...الخ (عالمگیری ج:۱،ص:۵۲)

[۳] وعن التنفل بعد صلوة الفجر والعصر لا عن قضاء فائتة وسجدة تلاوة...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

ځکه چې د لمونځ قضاء کول ګناه ده او د ګناه اظهار جائز نه دی [۱]

ایا د سهار د لمانځه قضاء د ماسپښین نه مخکې راوړل ضروري دي؟

سوال: زمانه د سهار لمونځ د څه مجبوري له وجې نه قضاء شو. د ماسپښین د اذان نه مخکې مې دا فرض لمونځ ادا نه کړې شو. د ماسپښین د اذان سره جوماټ ته ورسیدلم. نو ایا دا قضاء لمونځ د ماسپښین د لمانځه نه مخکې ادا کولی شم. یا د پوره لمونځ ختمیدو نه وروسته یې وکړم؟

جواب: د چا په ذمه چې د پنځو لمونځونو نه زیات لمونځونه قضاء نه وي. نو موږ ته صاحب ترتیب وایي [۲]. د هغه له پاره حکم دا دی چې مخکې دې قضاء لمونځ وکړي د هغه نه وروسته دې وختي لمونځ وکړي. تر دې که د ماسپښین جمعه کیږي او د هغه په ذمه د سهار لمونځ پاتې وي. نو مخکې دې د سهار لمونځ وکړي. اګر که د ماسپښین جمعه لاړه شي [۳] او که صاحب ترتیب نه وي. نو قضاء لمونځ مخکې هم کولی شي او وروسته هم. [۴]

د ماسپښین په سنتو کې د قضاء لمونځ نیت کول

سوال: تاسو د قضاء عمري په باره کې وضاحت وکړئ. ځکه چې ما اوریدلي دي چې کله موږ د ماسپښین څلور رکعته سنت کوو. نو د هغه سره دې د عمرقضاء فرض ویلو سره نیت تړو. په دې سره به سنت هم ادا شي او د عمرقضاء به هم ادا شي ایا دا طریقه صحیح ده؟

جواب: د ماسپښین په سنتو کې د قضاء لمونځ نیت کول صحیح نه دي. موکد سنت ځانته ادا کول پکار دي او قضاء لمونځ ځانته کول پکار دي. خو د غیرموکد سنتو او نفلو په ځای قضاء لمونځونه ادا کول پکار دي. [۵]

...بقیه د تیرمخ].. (تبيين الحقائق ج:۱، ص:۲۳۲، كتاب الصلوة،طبع دارالكتب العلمية،بيروت)۔

۱] وفى الدرالمختار: وينبغى ان لا يطلع غيره على قضاءه لان التاخر معصية فلا يظهرها،وقال الشامى: قلت والظاهر ان ينبغى هنا للوجوب وان الكراهة تحريمية،لان اظهار المعصية معصية.....الخ (درمختار مع الشامى ج ۲،ص:۷۷)

۲]صاحب الترتيب: من لم تكن عليه الفوائت ستا غيرالوتر من غير ضيق الوقت والنسيان(قواعدالفقه ص:۳٤٥. طبع صدف پبلشرز)۔

۳]الترتيب بين الفائتة والوقتية وبين الفوائت مستحق كذا فى الكافى حتى لا يجوز اداء الوقتية قبل قضاء الفائتة كذا فى محيط السرخسى (هندية ج:۱،ص:۱۲۱،الباب الحادى عشر فى قضاء الفوائت)۔

٤] وكثرة الفوائت كما تسقط الترتيب فى الاداء تسقط فى القضاء....الخ (هندية: ج.۱:ص:۱۲۳)۔

٥] والاشتغال بالفوائت اولى واهم من النوافل الا السنن المعروفة وصلوة الضحى وصلوة التسبيح والصلوات التى رويت فى الاخبارفيها سورمعدودة واذكارمعهودة فتلك بنية النفل وغيرها بنية القضاء(عالمگيرى ج:۱،ص:٦٥)

د ډیرو کلونو د ماسخوتن او د وترو قضاء څه ډول کول پکار دي؟

سوال: که د تیرو کلونو د لمونځونو قضاء لمونځونه راوړل کیږي. نو د ماسخوتن د فرضو نه پرته اب وتر کول هم ضروري دي؟ که ضروري وي. نو ایا موږ د ماسخوتن د لمانځه د ټولو ورځو فرض وکړو. ددې نه وروسته د ټولو ورځو وتر وکړو یا د هر فرض سره وتر وکړو .یې صرف فرض کول کافي دي؟

جواب: دلته دوه مسئلو باندې ځان پوه کول پکار دي:

اول پنځه وخته لمونځ فرض دی او وتر واجب دي .څنګه چې د فرضو قضاء ضروري ده همدغه شان د وترو قضاء هم ضروري ده [۱]

دویم دا چې که وتر لمونځ قضاء شي. نو دهغه د ماسخوتن د لمانځه سره کول ضروري نه دي. بلکې ځانته کله چې غواړي کولی یې شي. ځکه چې وتر د ماسخوتن تابع نه دي [۲]

د اخترونو، وترو او جُمعې قضاء

سوال: د ماسخوتن وتر که پاتې شی یا قضاء شی نو وروسته یې قضاء راوړل کیږي اوکه نه؟ که قضاء یې نه شي کولی .نو دهغه کفاره به څه وي؟ که د جمعې لمونځ لاړ شي نو دهغه هم قضاء کیدلی شي اوکه نه؟ زما نه تقریبا درې څلور ځله د جمعې لمونځ لاړ. نو ما وروسته دهغه قضاء راوړه او د اختر دلمونځ هم قضاء راوړل کیږي اوکه نه؟ هسې د اختر لمونځ خو کله هم نه دی تللی خو کیدای شي چې ډیر خلک یې نه کوي. نو هغه خلک د اختر لمونځ قضاء راوړی شي اوکه نه؟

جواب: که وتر پاتې شي. نو دهغو قضاء شته[۳] د جُمعې د لمانځه قضاء نشته[۴] .په دې وجه که د جمعې لمونځ ونه موندل نه شي، نو دهغې په ځای دې د ماسپښین لمونځ وکړي[۵] او د اخترونو د لمونځ قضاء نشته او نه دهغو څه بدل شته.[۶]

---

۱ | انما تقضى الصلوات الخمس والوتر ....الخ (البحرالرائق ج: ۲،ص:۸٦)،والقضاء فرض فى الفرض وواجب فى الواجب....الخ (فتاوى عالمگيرى ج:۱،ص:۱۲۱،كتاب الصلوة،الباب الحادى عشر)_

۲| كان (الوتر) اصلاًبنفسه فى حق الوقت لا تبعاً للعشاء..الخ (البدائع الصنائع ج:۱،ص:۲۷۲،فصل فى بيان وقته)

۳ | ايضاً_

٤ |وقضاء الجمعة فى غيروقتها لا يجوز(البحرالرائق ج: ۲،ص:۱۵۸،باب صلوة الجمعة)_

۵ |وحرم لمن لا عذرله صلوة الظهر قبلها اما بعدها فلا يكره،بل هو فرض عليه لفوات الجمعة (الدرالمختار مع الردالمحتار ج:۲،ص:۱۵۵)_

٦| واما بيان وقت ادائها.....فان تركها فى اليوم الاول فى عيدالفطر بغير عذر حتى زالت الشمس سقطت اصلاً سواء تركها لعذر او لغيرعذر وما فى عيدالاضحى فان تركها فى اليوم الاول لعذر او لغيرعذر صلى فى اليوم الثانى فان لم يفعل ففى اليوم الثالث...الخ (البدائع الصنائع ج:۱،ص:۲۷٦،فصل فى بيان وقت ادائها)_

د مثانې د آپريشن له وجې كه لمونځونه قضا شي نو يوازې فرض او وتر به كوي؟

سوال: زما د مثانې آپريشن شوى دى،په هسپتال كې تړوله ورځ بولېې راځي،لمونځ نه شم كولى. كورته د راتلو نه وروسته مې پوره د اتو ورځو قضا لمونځونه وكړل،چا وويل چې يوازې د فرض او د وترو قضا ده،ايا ماته د فرضو او وترو قضا راوړل پكار دي يا پوره لمونځونه كول ضروري دي؟

جواب: يوازې د فرضو او وترو قضا ده[۱]،پكار دا و چې تاسو په هغه حالت كې لمونځ كړې واى، ځكه چې تاسو معذور وئ.

د ماسخوتن قضاشوى فرض لمونځ له بل لمونځ سره كول

سوال: د ناروغۍ يا د كمزورۍ په صورت كې كه د ماسخوتن قضا لمونځ فرض لمونځ سره وكړل شي او وتر بيا وروسته بل فرض لمونځ سره وكړل شي، نو ايا دا لمونځ به وشي؟

جواب: الله دې نه كړي چې يو سړي ته داسې ناروغي يا معذوري وي چې لمونځ قضا كوي،سړى چې هرڅنګه معذور وي، نو لمونځ په هرحال كې په خپل وخت ادا كول پكار دي او كوم لمونځ چې قضا شي د هغه څه وخت نه وي،كله چې هم موقع پيدا شي نو ادا دې كړي.[۲]

وتر او نفل د تهجدو د وخت لپاره پرېږدي او بيا يې ونكړي نو؟

سوال: كه د ماسخوتن درې ركعته وتر د تهجدو د وخت لپاره پرېښودل شي او د سترګو خلاصيدو باوجود د خوب له وجې نه ونكړل شي. نو بيا وروسته يوازې وتر قضا وكړل شي يا پوره لمونځ؟

جواب: درې ركعته وتر واجب دې وكړي او كه څه نفل ورسره وكړي نو نوره هم ښه خبره ده.[۳]

د كومو سنتو قضا راوړل كيږي؟

سوال: زما مشر ورور د ماسپښين او د ماښام وغيره د سنتو قضا كوي،سوال دا دى چې ايا د سنتو قضا وي او كه نه؟كه نه وي. نو هغه د كوم لمانځه سنت دي چې د هغو په حديث وغيره كې ډير اهميت راغلى دى؟

جواب: قضايوازې د فرضو او د وترو وي[ايضاً] د سنتو قضا نه وي[۴] البته كه د سهار سنت

---

[۱] وقد قالوا انما تقضى الصلوات الخمس والوتر....الخ (البحرالرائق ج: ۲،ص:۸۶،باب قضاء الفوائت)

[۲] ليس للقضاء وقت معين بل جميع اوقات العمر وقت له........الخ (عالمگيرى ج:۱،ص:۱۲۱)

[۳] وقد قالوا انما تقضى الصلوات الخمس والوتر....الخ (البحرالرائق ج: ۲،ص:۸۶،باب قضاء الفوائت)

[۴] والسنن اذا فاتت عن وقتها لم يقضها الا ركعتى الفجر اذا فاتتا مع الفرض يقضيهما بعد طلوع الشمس الى وقت الزوال ثم يسقط (عالمگيرى ج:۱،ص:۱۲۱،كتاب الصلوة،الباب التاسع فى النوافل)

قضا شي او دا د ماسپښین که قضا کولی شي. نو فرضو سره دې سنت هم قضا وکړل شي

که د سهار لمونځ قضا شي. نو د ماسپښین نه مخکې څومره او د ماسپښین نه وروسته څومره وکړل شي؟

سوال: که د سهار لمونځ قضا شي. نو د زوال نه مخکې اول د ادا کولو په صورت کې دوه سنت او دوه فرض اداکوم .خود زوال نه وروسته اول یوازې دوه فرض قضا راوړم.ایا داسې کول صحیح دي؟یعنی د هغو سنتو قضا هم د زوال نه مخکې لازمي ده که اختیاري؟

جواب: که لمونځ قضا شي. نو په لومړي فرصت کې د دې د ادا کولو حکم دی[1].دا خیال چې د ماسپښین په وخت کې به یې وکړو.نو دا خیال غلط دی.فرض کړه که د ماسپښین نه مخکې سړی وفات شي. نو دده په ذمه د الله پاك فرض باقي پاتې شو.ددې وجې نه په لومړي فرصت کې قضا لمونځ کول پکار دي او ورسره سنت هم ادا کول پکار دي [2]

د سهار او د ماسپښین لمونځ کله قضا کیږي؟

سوال: د سهار او د ماسپښین لمونځ کله قضا کیږي؟ او کوم وخت پورې قضا لمونځ کیدای شي؟

جواب: د سهار وخت لمر راختلو پورې او د ماسپښین وخت د مازدیگر د وخت شروع کیدو پورې دی.دې وخت پورې به لمونځ ادا کېږل کیږي او ددې نه وروسته به قضا وي.قضا لمونځونه عین د لمر راختلو.د زوال او لمر پریوتو په وخت نه ادا کیږي[3] او ددې نه پرته هروخت قضا لمونځونه کیدای شي.د قضا لمونځ په ادا کولو کې تاخیر کول پکار نه دي.

د ماسپښین، ماښام او ماسخوتن د نفلو په ځای قضا لمونځونه کول

سوال: زه اکثر داسې کوم چې د ماسپښین.ماښام او د ماسخوتن د نفلو په ځای مخکې پاتې شوي قضا لمونځونه کوم.ایا زما دا عمل صحیح دی؟

جواب: د نفلو په ځای قضا لمونځونه ادا کول صحیح او غوره دي.[4]

---

[1] واذا اخرالصلوة الفائتة عن وقت التذكر مع القدرة على القضاء هل يكره فالمذكور في الاصل انه يكره،لان وقت التذكر انما هووقت الفائتة وتاخيرالصلوة عن وقتها مكروه بلااخلاف كذا في المحيط(فتاوى هندية ج:١،ص:١٢٤)

[2] والسنن اذا فاتت عن وقتها لم يقضها الا ركعتى الفجر اذا فاتتا مع الفرض يقضيهما بعد طلوع الشمس الى وقت الزوال ثم يسقط (عالمگيرى ج:١،ص:١٢١،كتاب الصلوة،الباب التاسع فى النوافل)

[3] ثلاثة ساعات لا تجوز فيها المكتوبة ولا صلوة الجنازة ولا سجدة التلاوة:اذا طلعت الشمس حتى ترتفع. وعندالانتصاف الى ان تزول، وعند احمرارها الى ان تغيب(عالمگيرى ج:١،ص:٥٢،كتاب الصلوة، الباب الاول)

[4] وفي الحجة والاشتغال بالفوائت اولى واهم من النوافل الا السنن المعروفة....الخ(عالمگيرى ج:١،ص:١٢٥)

په قضا لمونځونو کې یوازې فرض او وتر ادا کیږي

سوال: که د یو سړي د بچپن نه پوهیدو تر زمانې پورې د اوو اتو کالو لمونځونه قضا شوي وي او کله چې ورته د لمانځه د اهمیت او د حقیقت اندازه وشي، نو دی پابندي سره لمونځ شروع کړي،سوال دا دی چې دی به دغه داوو اتو کالو لمونځ څنګه ادا کوي؟ایا ددغه ټولو لمونځونو فرض او وتر ادا کولو سره به دغه لمونځونه ادا شي یا سنت او نفل وغیره به هم کول ضروري وي؟په دې قضا لمونځونو کې مې تقریباً ۵۰۰فرض او وتر کړي دي.ایا دا لمونځونه وشو؟ که د تبې(بخار)په حالت کې پنځه،شپږ لمونځونه قضا شي نو فرض او وتر کولو سره به دا لمونځونه ادا شي یا سنت او نفل به هم کول وي؟او داسې څه لمونځونه مې فرض ادا کړي دي چې د هغو تعداد راته یاد نه دی.نو ایا زما لمونځونه شوي دي یا نه؟

جواب: په قضا لمونځونو کې یوازې فرض او وتر ادا کیږي.اندازه دې ولګول شي چې ددومره کلونو لمونځونه به قضا شوي وي او بیا ورو ورو هغه ادا کوئ،تردې چې ټول لمونځونه پوره شي.[1]

د وترو قضا هم شته

سوال: که د ماسخوتن لمونځ قضا شي نویوازې دفرضو به قضاء راوړل کیږي اوکه دې سره دوترو هم؟

جواب: وتر هم واجب دي،ددې وجې نه ددې قضا هم واجب ده.[2]

ایا د وترو د قضا راګرځولو په ځای یوازې سجده سهوه کافی ده؟

سوال: د وترو د قضا په صورت کې یوازې سجده سهوه کول کافي دي، یا پوره درې رکعتونه ادا کول دي؟

جواب: د پوره درې رکعتونو قضا به راوړل کیږي.[3]

ایا د سنتو هم قضا وي؟

سوال: زما نه ډیر زیات لمونځونه قضا شوي دي چې د هغو حساب هم راته نشته.الله پاک

---

[1] وقد قالوا انما تقضى الصلوات الخمس والوتر....الخ (البحرالرائق ج: ۲،ص:۸٦،باب قضاء الفوائت)

[2] .والقضاء فرض فى الفرض،واجب فى الواجب،سنة فى السنة.....الخ(عالمگيرى ج:۱،ص:۱۲۱)

[3] وعن الحسن البصري أنه قال : أجمع المسلمون على أن الوتر حق واجب وكذا حكى الطحاوي فيه إجماع السلف ومثلهما لايكذب ولأنه إذا فات عن وقته يقضى عندهما.....وذا من أمارات الوجوب والفرضية ولأنها مقدرة بالثلاث والتنفل بالثلاث(البدائع الصنائع ج:۱،ص:۲۷۱) فصل واما الصلوة الواجبة فنوعان: صلوة الوتر وصلوة العيدين)

دې راته معافي وکړي .خوښ به ما مې پنځه وخته لمونځ پابندي سره شروع کړي دی.سوال دا دی چې ټول قضا لمونځونه څنګه ادا کړل شي؟ایا یوازې فرائض ادا شي یا مکمل لمونځونه؟ دویم دا چې دسفر دوران کې پوره لمونځ اداکړل شي یعنیې قصرلمونځ یوازې فرائض نیم ادا شي؟

جواب: څومره لمونځونه چې ستاسو نه فوت شوي دي د هغو حسابولو سره قضا شروع کړئ قضایوازې د فرضو او د وترو دہ[۱] .د سنتو قضا نشته[۲] د سفر د لمونځونو صحیح اندازه نه شي کیدای.له دې وجې نه دا هم پوره کوی [۳] خو که یقین سره معلومه وي چې د فلانی وخت د سفر لمونځ زما په ذمه دی. نو د هغه قصر وکړئ [۴]

که یوازې د ماسخوتن قضا فرض ادا کوي نو د وترو به څه کوی؟

سوال: څه وخت مخکې ما ستاسو په صفحه کې لوستلي وو چې قضایوازې د فرضو کیږي. نو ددې وجې نه ما د ماسخوتن په قضا لمونځ کې صرف فرض وکړل .خوڅه ورځې وړاندې تاسو ولیکل چې د وترو قضا هم کیږي. نو تردې وخت پورې چې ما د ماسخوتن څومره قضا لمونځونه کړي دي.هغه ټول دوباره وکړم یا یوازې وتر وکړم؟

جواب: د وترو قضا هم ضروري ده.د کومو لمونځونو وتر چې تاسو نه دي کړي. نو د هغو وتر وکړئ.د پوره لمونځ د دوباره کولو ضرورت نشته.[۵]

---

[۱] وقد قالوا انما تقضى الصلوات الخمس والوتر....الخ (البحرالرائق ج: ٢،ص:٨٦،باب قضاء الفوائت) ایضاً: وفى الفتاوى رجل قضى الفوائت فانه يقضه الوتر وان لم يستيقن انه هل يبقى عيه وتر او لم يبق فانه يصلى ثلاث ركعات ويقنت ثم يقعد قدرالتشهد ثم يصلى ركعة اخرى فان كان وتراً فقد اداه وان لم يكن فقد صلى التطوع اربعاً ولايضره القنوت فى التطوع (عالمگیری ج:١،ص:١٢٥كتاب الصلوة،الباب الحادى عشر)

[۲] أن السنة إذا فاتت عن وقتها هل تقضى أم لا ؟ فنقول:وبالله التوفيق لا خلاف بين أصحابنا في سائر السنن سوى ركعتي الفجر أنها إذا فاتت عن وقتها لا تقضى سواء فاتت وحدها أو مع الفريضة....الخ (البدائع الصنائع ج:١، ص:٢٨٧)ایضاً: والسنن اذا فاتت عن وقتها لم يقضها.....الخ (عالمگیری ج:١، ص:١١٢، الباب التاسع فى النوافل)

[۳] فى العتابية عن ابى نصر رحمه الله فيمن يقضى صلوات عمره من غير أن فاته شئ يريد الاحتياط فان كان لاجل النقصان والكراهة فحسن وان لم يكن لذالک لا يفعل والصحيح انه يجوز الا بعد صلوة الفجر والعصر وقد فعل كثير من السلف لشبهة الفساد كذا فى المضمرات (عالمگیری ج:١،ص:١٢٤.كتاب الصلوة،الباب الحادى عشر)

[۴] فلو فاتته صلوة السفر وقضاها فى الحضر يقضيها مقصورة كما لو اداها وكذا فائتة الحضر تقضى فى السفر تامة (ردالمحتار ج:٢،ص:١٣٥،باب صلوة المسافر)

[۵] كان الوتر اصلاً بنفسه فى حق الوقت لا تبعاً للعشاء....الخ (البدائع الصنائع ج:١،ص:٢٧٢،فصل فى بيان وقته) والقضاء فرض فى فرض وواجب فى الواجب....الخ (عالمگیری ج:١،ص:١٢١،كتاب الصلوة،الباب الحادى عشر)

د نفلو او سنت موکد په ځای قضا لمونځ کول

سوال: تاسو مؤرخه ۱۷ فروری په کالم کې د یو کس د مسئلې په جواب کې لیکلي و چې په لمانځه کې نفل او غیرمؤکده سنت که ونکړل شي نو څه ګناه نشته. اوس سوال دا دی چې ایا ددې نفلو او د سنتو په ځای دومره رکعتونه د قضاء عمري په نیت سره وکړل شي او که نه؟ مثلاً د مازدیګر په لمانځه کې څلور رکعته سنت غیرموکد دي. نو د ۴ رکعته سنتو په ځای ۴ رکعته فرض د قضاء عمري په نیت سره کیدای شي؟ او داسې کولو سره به د څلور رکعته سنت غیرموکد ثواب هم ملاویږي؟

جواب: د غیرموکد سنتو په ځای قضا لمونځونه کیدای شي. ثواب به زیات ملاو شي [۱]

داقامت او سفر د حالت د لمونځونو قضا څنګه وکړل شي؟

سوال: مسافر به داقامت د حالت د قضا شوي لمونځونو ادا څنګه کوي؟ دغه شان په سفر کې قضا شویو لمونځونو ادا به د سفر نه د واپسي په خپل مقام کې څنګه کوي؟

جواب: داقامت په حالت کې چې کوم لمونځونه قضا شوي دي که په سفر کې د هغو ادایګي کوي نو په هغو کې به قصر نه وي. پوره لمونځ به کیږي. خو کوم لمونځونه چې د سفر په حالت کې قضا شوي دي. نو هغو کې به د اقامت په حالت کې هم قصر کیږي [۲]

بس کې د سفر له وجې نه مجبوراً د قضا شویو لمونځونو به څه کیږي؟

سوال: مسئله بس کې د لمانځه د ادا کولو ده. اکثر د چکوال نه لاهور ته په بس کې سفر کوم. دا سفر تقریباً د اوو ساعتو دی. ددې وجې نه د دوه دریو لمونځونو وختونه په دې کې لاړ شي. لمانځه لپاره د بس د دریدو اهتمام نه وي او که معمولي وخت لپاره چرته بس ودریږي. نو په استاپ باندې داسې څه ځای نه وي چې هلته لمونځ وکړل شي. سړی خو هرچېرته چې ځان ته مصلی خوره کړي. نو لمونځ ادا کولی شي. خو د ښځې په حیثیت سره زما لپاره دا ممکن نه دي او په بس کې ښکاره خبره ده چې په ناسته باندې د لمونځ کولو لپاره ځای هم نه وي. داسې صورت کې ماته په لمونځ قضا کیدو باندې ډیره پریشانی وي. اګرچې د سفر په ختمیدو باندې قضا لمونځونه ادا کوم. مهربانی وکړئ د زړه په اطمینان سره ددې جواب راکړئ.

جواب: په سفر کې د لمانځه هم دا صورت کیدای شي چې بس والاوو سره اول خبره وکړل شي چې هغوی به اهتمام سره د لمونځ کولو موقع راکوي که دا خلک مجبور کړل شي نو اکثر دوی

---

[۱] والاشتغال بالفوائت اولی واهم من النوافل.....الخ (عالمگیری ج:۱،ص:۱۲۵)

[۲] فلو فاتته صلوة المسافر وقضاها فی الحضر یقضیها مقصورة کما لو اداها وکذا فائتة الحضر تقضی فی السفر تامة(ردالمحتار ج:۲،ص:۱۳۵،باب صلوة المسافر)

مني، په هرحال په دوی باندې دې زور وکړل شي.بیا هغوی که لمونځ دربانديې کوي خو ډېره ښه ده.که نه د قضا نه پرته بله لار نشته.[۱]

ایا قضاء عمري په ناسته باندې کیدای شي؟

سوال: زما عمر ۶۵ کاله دی،صحت مې نشته او فرض لمانځه کې زیاته ولاړه نه شم کولی. فرض لمونځ خو په ولاړه کوم،خو په سنتو او نفلو کې کینم.که زه قضاء عمري کوم نو آیا زه یې په ناسته کولی شم؟

جواب: که د دریدو همت وي، نو کوشش دې وکړل شي چې قضا لمونځونه په ولاړه باندې وکړل شي او که همت نه وي، نو په ناسته یې وکړئ.[۲]

ایا د تهجدو هم قضا وي؟

سوال: د تهجدو هم قضا وي؟ که څوک بیدار نه شي .نو بیا دتهجدو قضا راوړلو ضرورت شته او که نه؟

جواب: په کومه ورځ څوک بیدار نه شي، نو هغه ورځ د اشراق په وخت(یعنی د لمر ختلو نه وروسته)دې هغومره رکعتونه وکړل شي.انشاء الله د تهجدو ثواب به ورکول شي.[۳]

تهجدو ته په پورته کېدو کې سستي به څنګه لرې شي؟

سوال: ډیروخت پورې مې د تهجدو لمونځ کاو،خو بیا رانه پاتې شو.زړه مې غواړي چې د تهجدو د لمانځه لپاره پورته شم ،خوله لاسه مې نه کیږي.څه دعا راته وښایئ چې دا سلسله بیا شروع شي.

جواب: د نن نه پُرعزم فیصله وکړئ چې په هرحال کې به زه تهجد کوم.د ویده کیدو په وخت دا عزم وکړئ او د رابیدارېدو نه وروسته فوراً پورته شئ.ددې باوجود هم که کله پاتې شي. نو د اشراق په وخت کې یې د قضا په طور وکړئ.[۴] .

---

[۱] ان الصلوة كانت على المؤمنين كتاباً موقوتاً (النساء:۱۰۳)

[۲] ومنها القيام وهو فرض في صلوة الفرض والوتر(عالمگیری ج:۱،ص:۶۹) ایضا: اذا تعذر على المريض القيام صلى قاعداً يركع ويسجد،اختلفوا في حدالمرض الذى يبيح له الصلوة قاعدا فقيل: ان يكون بحال اذا قام سقط من ضعف او دوران الرأس والاصح ان يكون بحيث يلحقه بالقيام ضرر واذا كان قادراً على بعض القيام دون تمامه امر بان يقوم مقدار ما يقدر فاذ عجز قعد.....الخ(الجوهرة النيرة ج:۱،ص:۷۹،باب صلوة المريض)

[۳] وفي رواية سعد بن هشام عن ام المؤمنين عائشة رضى الله تعالى عنها.....وكان اذا غلبه نوم او وجع عن قيام الليل صلى من النهار ثنتى عشرة ركعة..الخ (مسلم ج:۱،ص:۲۵۶باب صلوة الليل وعددركعات...الخ)

[۴] ایضاً _

❖ سجده سهوه ❖

سجده سهوه په کوموشيانو لازميږي او څنګه کول يې پکار دي؟

سوال: د لمانځه کولو په وخت چې کوم ډول غلطي وشي: نو سجده سهوه ادا کول پکار دي؟ او د سجده سهوې له پاره د التحيات نه وروسته سلام اړول پکار دي که د درود شريف او دعا نه وروسته سلام اړول پکار دي؟

جواب: د سجدې سهوې د واجبيدو اصول دا دي چې د فرضو په تاخير، د واجبو په پرېښودو اويا د واجبو په تاخير سره سجده سهوه واجبيږي[1] دپورتهذکر شويو اصولو جزئيات بې شميره دي.د سجده سهوې طريقه داده چې په آخري قعده کې به د عبده ورسوله پورې لمونځ ولولي او يو طرف ته به سلام واړوي بيا به ددوه سجدو کولو نه وروسته دوباره التحيات ولولي او د درود شريف او دعا نه وروسته دې سلام واړوي.[2]

په لمانځه کې د کيدونکې غلطي مخ نيوی کول

سوال: که موږ ته محسوسه شي چې موږ په لمانځه کې څه غلطي کړې ده. يعنې د دوو سجدو په ځای مو درې کړي دي؛ نو ددې دمعاف کيدو طريقه به څه وي؟

جواب: که په غلطي سره د لمانځه يو واجب پاتې شي يا د يو فرض يا واجب په ادا کولو کې تاخير راشي؛نو د داسې غلطي اصلاح په سجده سهوې سره کيږي.که دلمانځه يو فرض پاتې شوی وي؛ نو د لمانځه راګرځول ضروري دي او که يو سنت پاتې شي: نو معاف دی. په دې وجه لمونځ کونکي ته د لمانځه فرضونه، واجبات ، سنت او مستحبات پيژندل پکار ي[3]که په غلطي سره د دوه سجدو په ځای درې وکړي؛ نو سجده سهوه به لازمه وي.[4]

---

[1]]ولايجب السجودالابترک واجب اوتاخيره او تاخير رکن اوتقديمه اوتکراره اوتغييره واجب (عالمگيرية ج: ١ص:١٢٦ کتاب الصلاة ،باب سجودالسهو،طبع رشيديه)۔

[2]] وکيفيته ان يکبربعدسلامه الاول ويخر ساجداً ويسبح فی سجوده ثم يتشهد ثانيا ثم يسلم وياتی بالصلوة علی النبی صلی الله عليه وسلم والدعاء فی قعدة السهوکذا فی التبيين (ايضاً عالمگيرية،باب سجود السهوج:١ ص: ١٢٥)

[3]]الاصل فی هذا ان المتروک ثلاثة انواع فرض وسنة وواجب ففی الاول ان امکنه التدارک بالقضاء يقضی والا فسدت صلاته وفی الثانی لاتفسد ،لان قيامها بارکا منها وقدوجدت .وفی الثالث ان ترک ساهيًا يجبر بسجدتی السهو کذا فی التتارخانيه ،(عالمگيرية ج:١ ص:١٢٦ ،باب سجود السهو طبع رشيديه)۔

[4]] لورکع رکوعين اوسجد ثلاثاً فی رکعة لزمه السجود، البحرالرائق ج:٢ ص:١٠٥ کتاب الصلاة ، باب سجود السهو ،طبع بيروت)۔

د سجده سهوې په مختلفو طريقو کې غوره طريقه

سوال: الف سجده سهوه د التحيات لوستلو نه وروسته او د درود شريف نه مخکې کول پکار دي؟

ب آيا د سجده سهوې نه وروسته به التحيات، درود شريف وغيره دوباره لوستل کيږي؟
شافعي حضرات عموماً د سجده سهوې نه فورا وروسته سلام گرځوي آيا دا طريقه زمونږ د مسلک مطابق ده؟

جواب: سجده سهوه د سلام نه مخکې هم جائز ده او وروسته هم. د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد غوره طريقه هماغه ده کومه چې تاسو په الف او با کې ليکلې ده [۱]

که چاته په لمانځه کې ياد شي چې يوه سجده يې هيره شوې ده نو ودې کړي او سجده سهوه دې وکړي

سوال: که يوځوک په يو رکعت کې په هيره يوازې يوه سجده اداکړي او د سلام نه مخکې ورته ياده شي چې يوه سجده يې کړې ده: نو نوموړي ته څه کول پکار دي؟

جواب: کله چې ورته ياده شي:نو سجده دې اداء کړي اوددستور مطابق دې سجده سهوه وکړي [۲]

که په هيرې سره په لمانځه کې فرض پاتې شي نو په سجده سهوې سره نه پوره کيږي

سوال: که په لمانځه کې په هيره سره فرض پاتې شي؛ نو د سجده سهوې سره به لمونځ پوره شي؟

جواب: د فرض دساقطيدو او په هيره سره د پاتې کيدو له وجې د لمانځه اعاده ضروري ده. يوازې سجده سهوې سره لمونځ نه پوره کيږي [۳]

که چيرې يو سړی په دريم رکعت کې غلط شي؛ نو ايا سجده سهوه پرې لازمه ده؟

سوال: که چيرې يو سړی د ماسپښين لمونځ کوي او په دويم رکعت کې په التحيات کيني او

---

[۱] ومحله بعدالسلام سواء كان من زيادة اونقصان ولوسجد قبل السلام اجزاه عندنا هكذا رواية الاصول كذا فى الهداية (عالمگيرية ج:۱ ص: ۱۲۵، باب السجود السهو)۔

[۲] ان المتروک ثلاثة انواع فرض وسنة وواجب ففى الاول ان امكنه التدارک بالقضاء يقضى والافسدت صلاته (عالمگيرية ج:۱ص: ۱۲۵ كتاب الصلاة ،باب سجود السهو)

[۳] ان المتروک ثلاثة انواع فرض وسنة وواجب ففى الاول ان امكنه التدارک بالقضاء يقضى والافسدت صلاته (عالمگيرية ج:۱ص: ۱۲۵ كتاب الصلاة ،باب سجود السهو)

بیا په دریم رکعت کې هم کینې او سجده سهوه ونه کړي: نو آیا لمونځ یې وشو او که نه؟

جواب: په کوم لمانځه کې چې سجده سهوه واجب وي او دی یې اداء نه کړي: نولمونځ په دویم خل کول واجب دي [۱]

په اول یا دویم رکعت کې که سجده هیره شوه:
نو سجده به ادا کړي او سجده سهوه به وکړي

سوال: کله چې د یو سړي په اول رکعت یا دویم رکعت کې سجده هیره شي: نو د دې به څه طریقه وي؟ او د دې د دویم خل کولو به څه صورت وي؟

جواب: که چیرې د یو رکعت یوه سجده پاتې شوه: نو د سلام د اړولو نه مخکې چې کله یې د د شي: نو اداء دې کړي او که د سلام د اړولو نه وروسته یاده شي: نو لمونځ دې په دویم خل اداء کړي [۲]

په لمانځه کې د رکعتونو په کمي یا زیادت سجده سهوه کول

سوال: که چیرې د لمانځه په دوران کې په هیره سره یو رکعت کم یا زیات شي. په دویم صورت کې که د اول نه یې سلام واړوه. نو سجده سهوه به کوي یا په دویم ځل لمونځ کول پکار دي؟

جواب: د کوم سړي چې درې رکعتونه شوي وي او یو رکعت پاتې وي چې امام سلام وګرځاو: نو دی دې ودریږي او خپل رکعت دې پوره کړي او التحیات دې ولولي او سجده سهوه دې وکړي او په دویم خل دې تشهد، درود شریف او دعا ووایي او سلام دې وګرځوي [۳] که چیرې څلور رکعتونه یې کړي وي: خواخري قعده یې نه وه کړې او پنځم رکعت ته ودرید: نو ده ته پکار دي چې بیرته لاړ شي او سجده سهوه دې وکړي او لمونځ دې پوره کړي او که چیرې پنځم رکعت یې هم مکمل کړی وي: نو د ده فرض باطل شو یو رکعت دې بل وکړي او سجده سهوه دې وکړي او لمونځ دې پوره کړي. دا به نفل شي او څلور کعته فرض دې نور وکړي [۴]

---

[۱] کل صلاة ادیت مع کراهة التحریم تجب اعادتها وفی الشامیة :لکن قولهم کل صلاة ادیت مع کراهة التحریم یشمل ترک الواجب وغیره .الخ (شامی ج:۱ ص۴۵۷. مطلب کل صلاة ادیت مع کراهة التحریم تجب ادعاتها)

[۲] ان المتروک ثلاثة انواع فرض وسنة وواجب .ففی الاول ان امکنه التدارک بالقضاء یقضی والا فسدت صلاته (عالمگیریة ج:۱ ص:۱۲۶ .کتاب الصلاة، باب سجود السهو طبع رشیدیه کونته)

[۳] ویسجد للسهو ولومع سلامه ناویًا مالم یتحول عن القبلة اویتکلم لبطلان التحریمة (شامی ج: ۲ص: ۹۱)

[۴] رجل صلی الظهر خمسًا وقعد فی الرابعة قدر التشهد ان تذکر قبل ان یقیدالخامسة بالسجدة الخامسة عادالی القعدة وسلم کذا فی المحیط ویسجدللسهو ...... وان لم یقعد علی راس الرابعة حتی قام الی الخامسة وان فیه بالسجودفسد ظهره عندنا (عالمگیری ج:۱ص: ۱۲۹ باب سجودالسهو)

كه څوك د وترو په اخري ركعت كې د دعا قنوت نه پرته ركوع وكړي: نو سجده سهوه دې وكړي

سوال: كه څوك د ماسخوتن د لمانځه د وترو په اخري ركعت كې د دعا قنوت د لوستلو نه پرته ركوع وكړي: نو وتر به يې وشي او كه نه؟
جواب: كه سجده سهوه يې وكړه: نو لمونځ به يې وشي او كه نه: په دويم ځل به لمونځ كوي [١].

كه په اوله قعده كې درود شريف ولولي: نو سجده سهوه به لازمه وي

سوال: ما د ماسپښين د لمانځه په دويم ركعت كې د تشهد (التحيات) نه وروسته درود شريف (اللهم صلّ على محمد) په هيره سره ولوست: نو ايا سجده سهوه لازمه ده؟ ما سجده سهوه ونه كړه. نو د دې به څه كفاره اداء كول وي؟
جواب: د فرض، واجب او سنت موكده په لومړۍ ناسته قعده كې كه چيرې درود شريف (اللهم صل علي محمد) ولولي: نو سجده سهوه به لازمه شي [٢] كه سجده سهوه يې ونه كړه: نو لمونځ په دويم ځل كول واجب دي [٣]

كه سجده سهوه يې هيره شي: نو څه به كوي؟

سوال: په لمانځه كې چې كله څه غلطي وشي: نو د سجده سهوې حكم دى. خو څيني وخت سجده سهوه هم هېرېږي: نو په داسې صورت كې څه كول پكار دي؟
جواب: كه چيرې داسې غلطي وشي چې په هغې سره سجده سهوه لازميږي او سجده سهوه يې ونه كړه: نو لمونځ په دويم ځل كول واجب دي [٤]

كه له مقتدي نه غلطي وشي: نو سجده سهوه دې نه كوي

سوال: كه د جمعې لمونځ كيږي په دې دوران كې كه انفرادي ډول سره د يو لمونځ كونكي نه

---

[١] ومنها القنوت فاذا تركها يجب عليه السهو (عالمگيرى ج:١ص: ١٢٨،باب سجودالسهو)

[٢] ولو كررالتشهد فى القعدة الاولى فعلبه السهو وكذا زاد على التشهد الصلاة على النبى صلى الله عليه وسلم كذا فى التبيين وعليه الفتوى (عالمگيرى ج:١ص:١٢٧،باب سجودالسهو)

[٣] كل صلاة اديت مع كراهة التحريم تجب اعادتها وفى الشامية :لكن قولهم كل صلاة اديت مع كراهة التحريم يشمل ترک الواجب وغيره .الخ (شامى ج:١ص:٤٥٧،مطلب كل صلاة اديت مع كراهة التحريم تجب اعادتها)

[٤] كل صلاة اديت مع كراهة التحريم تجب اعادتها وفى الشامية :لكن قولهم كل صلاة اديت مع كراهة التحريم يشمل ترک الواجب وغيره .الخ (شامى ج:١ص:٤٥٧،مطلب كل صلاة اديت مع كراهة التحريم تجب اعادتها)

څه غلطي وشي؛ نو ايا هغه دامام د سلام اړولو نه وروسته سجده سهوه کولی شي؟

جواب: د جمعې په لمانځه کې که د مقتدي نه داسې غلطي وشي چې په هغې سره سجده سهوه لازميږي، په هغې سره د مقتدي په ذمه سجده سهوه نه راځي. له دې وجې د امام د سلام اړولو نه وروسته د سجده سهوه کولو ضرورت نشته[١]

ايا دمقتدي په غلطي په نوموړي سجده سهوه شته؟

سوال: که چيرې يو سړی د جمعې سره لمونځ کوي او دا لمونځ د څلورو رکعتونو والاوي. د دوو رکعتونو نه وروسته په مينځني تشهد کې د التحيات نه وروسته نيم درود شريف هم په غلطي سره ولولي: نوووروسته به سجده سهوه څنګه اداء کوي؟ ځکه چې د امام د سلام ګرځولو نه وروسته خو ټول لمونځ کونکي هم سلام ګرځوي. جواب راکړئ؟

جواب: دمقتدي په داسې غلطي سره سجده سهوه نه واجبيږي. که چيرې امام مينځني تشهد کې درود شريف په هيره باندې ولولي؛ نو د امام په ذمه سجده سهوه لازمه ده[٢] خو که چيرې دامام پسې مقتدي په هيره سره ولوست؛ نودمقتدي په ذمه باندې سجده سهوه نه لازميږي [٣]

په اخرې ناسته (قعده) کې شريک مقتدي به له امام سره سجده سهوه کوي؟

سوال: که چيرې يو سړی اخر کې د جمعې سره په لمونځ کې د شريکيدو له پاره راغی. په دې حالت کې دې سړي د قعدې اراده وکړه ددې نه مخکې امام سجده سهوه وکړه؛ نو ايا ددې سړي له پاره څه حکم دی؟ د امام سره دې سجده سهوه وکړي اوکه نه؟ که چيرې نه کوي: نو دده لمونځ وشو اوکه نه؟

جواب: ده ته په سجده سهوه کې د امام سره شرکت کول واجب دي که چيرې شريک نه شو: نو ګناهګار به وي.[٤]

---

[١] فاما المقتدى اذاسها فى صلاته فلاسهوعليه (بدائع الصنائع ج: ١ص:١٧٥، فصل فى بيان من يجب عليه سجود السهو ومن لايجب عليه ،طبع سعيدكراچى)۔

[٢] ولو كررالتشهد فى القعدة الاولى فعليه السهو وكذا زاد على التشهد الصلاة على النبى صلى الله عليه وسلم كذا فى التبيين وعليه الفتوى (عالمگيرى ج:١ص:١٢٧،باب سجودالسهو)

[٣] فاما المقتدى اذا سها فى صلاته فلا سهو عليه. (بدائع الصنائع ج:١ ص: ١٧٥) فصل فى بيان من يجب عليه سجود السهو ومن لا يجب عليه، طبع سعيد كراچى)

[٤] لان متابعة الامام واجبة قال النبى صلى الله عليه وسلم :تابع امامک على اى حال وجدته ......الخ (البدائع ج:١ص:١٧٥)فصل فى بيان من يجب عليه ومن لايجب عليه ص٥٥) ،ايضًا سهو الامام يوجب عليه وعلى من خلفه السجود كذافى المحيط ولايشترط ان يكون مقتديابه وقت السهو حتى لو ادرک الامام بعدماسها يلزمه ان يسجد مع الامام تبعًا له (عالمگيرى ج:١ ص: ١٢٨ ،باب سجود السهو)

که مقتدي په ګمان سره په دويم رکعت کې ثناء وويله يا يې لومړی رکعت دويم وګڼه او ثناء يې ونه ويله : نو سجده سهوه پرې نه شته

سوال: که چيرې يو سړي د امام سره د فرض رکعتونو نه دويم رکعت ونيو او دا خيال يې وکړ چې دا لومړی رکعت دی. ثناء يې وويله: نو بيا به هغه سجده سهوه کوي؟ يا که يو چا لومړی رکعت دويم وګڼه او ثناء يې ونه ويله: نو بيابه هغه په دويم رکعت کې ثناء وايي؟

جواب: په دواړو صورتونو کې دده په ذمه باندې سجده سهوه نه شته[1]

دجمعې په لمانځه کې دمقتدي په هيره د التحيات په ځای سورت فاتحه ويل

سوال: يو ځل داسې وشول چې ما په قعدې کې د التحيات په ځای په هيره الحمد شريف ولوستله. په دې صورت کې زما لمونځ شوی دی اوکه نه؟ حلانکې زه په جمعې کې شامل وم

جواب: لمونځ شوی دی. د يوازې والي(انفراد) په صورت کې سجده سهوه لازمه ده[2]

ايا په قضايي لمونځونو کې هم سجده سهوه شته؟

سوال: که ديووخت فرض لمونځ قضاء شي ايا سجده سهوه کول لازم دي؟ که لازم وي: نوسجده سهوه په اخري رکعت کې اداکړل شي يا يوازې؟

جواب: لمونځ که ادا وي که قضاء. فرض وي که واجب وي يا سنت[3]. که په هغو کې داسې غلطي وشي چې واجب پاتې شي يا دلمونځ په يو فرض کې تاخير وشي يا په يو واجب کې تاخير وشي: نو سجده سهوه لازميږي[4] او سجده سهوه هميشه د اخري ناستې (قعدې)د عبده ورسوله نه وروسته کيږي او د سجده سهوې کولو نه وروسته دې په دويم ځل التحيات درود شريف او دعا کولو نه وروسته سلام واړوي[5]

دسجده سهوه له پاره نيت کول

سوال: دسجده سهوې له پاره که ضرورت پيښ شي: نو ايا دهغې له پاره به هم نيت کول پکار وي. يا که کله دسجده سهوې ضرورت وي: نو د طريقي مطابق سجده سهوه وکړل شي؟

---

[1] فالمقتدی اذا سها فی صلوته فلاسهو علیه (بدائع :ج١ ص :١٧٥)

[2] فالمقتدی اذا سها فی صلوته فلاسهو علیه (بدائع :ج١ ص :١٧٥)

[3] وحکم السهو فی الفرض والنفل سواء کذا فی المحیط (عالمگیری ج: ١ ص:١٢٦،باب سجودالسهو)۔

[4] ولایجب السجود الابترک واجب اوتاخیره اوتاخیر رکن اوتقدیمه اوتکراره اوتغییر واجب (عالمگیری ج:١ص:١٢٦،کتاب الصلاة ،باب سجود السهو ،طبع رشیدیه کوټه)۔

[5] وکیفیته ان یکبر بعد سلامه الاول ویخر ساجداً ویسبح فی سجوده ثم یتشهد ثانیا ثم یسلم ویاتی بالصلوة علی النبی صلی الله علیه وسلم والدعاء فی القعدة السهو کذا فی التبیین(عالمگیری ج:١ص:١٢٦باب سجودالسهو)

جواب: چې د سجده سهوې په ارادې سره سجده کوي: نو همدا د سجده سهوې نیت دی. په ژبې سره د نیت الفاظ نه ادا کیږي [1]

په سجده سهوه کې څو سجدې کول پکار دي؟

سوال: په سجده سهوه کې څو سجدې کول پکار دي؟

جواب: د سجده سهوې له پاره دوه سجدې کول پکار دي [2]

سجده سهوه څو ځله کیدلای شي؟

سوال: سجده سهوه او سجده تلاوت یو ځل کیدلای شي یا د لمانځه په شان دوه ځله؟

جواب: سجده سهوه دوه ځله کیدلای شي [3] او سجده تلاوت یو ځل. والله اعلم [4]

په لمانځه کې غلطي سره څو ځله سجده سهوه کول پکار دي؟

سوال: زما مسئله دا ده که په لمانځه کې غلطي وشي یا هیره وشي: نو یو ځل به سجده سهوه کوي یا هرې غلطي یا هیرې باندې دې بیله بیله سجده سهوه وکړل شي. مثلا په سنتو کې غلطي وشي. بیا په فرضو کې وشي: نو څو سجده سهوې کول پکار دي؟

جواب: د نیت تړلو نه وروسته د سلام اړولو پورې هر لمونځ مستقل وي د لمانځه د نیت تړلو نه د سلام ګرځولو پورې که څو ځله هیره وشي: نو یوه سجده سهوه واجب ده [5] او که د سلام اړولو نه وروسته یې بل لمونځ شروع کړ او په هغې کې ترې هیره وشوه: نو سجده سهوه به بیا واجب وي [6] مثلاً د سنتو نیت یې وتاړه: نو د سلام اړولو پورې که په هغه لمانځه کې څو ځله هیره وشوه: نو یو ځل به سجده سهوه واجب وي او د سنتو نه وروسته یې چې کله د فرضو نیت وتاړه او په هغه کې ترې هیره وشوه: نو په هغه کې به بیله سجده سهوه واجب وي

که ثناء لوستل ترې هیر شي؛ نو بیا هم لمونځ وشو

سوال: یو ځل زه سره د انکار کولو سره امام جوړ کړای شوم. خو ثناء را نه هیره شوه نو ر ټول لمونځ

---

[1] ولیس من شرط السجود ان یسلم ومن قصده السجود بل لوسلم ذاکرا للسهو ومن عزمه ان لا یسجد کان علیه ان یسجد ولایبطل سجوده (فتح القدیر ج: ۱ ص: ۳۵۵، باب سجود السهو، طبع بیروت)۔

[2] یسجد للسهو فی الزیادة والنقصان سجدتین بعد السلام ......الخ (هدایة ج: ۱ ص ۱۳۶، کتاب الصلاة. باب سجود. طبع محمدعلی کارخانه کراچی)۔

[3] ایضا۔

[4] فاذا اراد السجود کبر ولایرفع یدیه وسجدثم کبرورفع راسه ولاتشهد علیه ولاسلام (عالمگیری ج: ۱ ص: ۱۳۵، کتاب الصلاة. الباب الثالث عشر فی سجود التلاوة)

[5] ولوسها فی صلاته مرارا یکفیه سجدتان کذا فی الخلاصة (عالمگیری ج: ۱ ص: ۱۳۰، سجود السهو)۔

[6] فان سجود السهو فی مطلق الصلاة ولا یختص بالفرائض (البحرالرائق ج: ۲ ص: ۹۸، باب سجوالسهو)۔

مې پوره کړيبا مې سجده سهوه هم ونه کړه. اوس شک دادی چې لمونځ خو ضائع شوی نه دی؟
جواب: که ثناء مو نه وي لوستلي: نو لمونځ ادا شو د سجده سهوې ضرورت نه شته [۱]

ايا په يو سورت پريښودو وړاندې بل سورت لوستو سره سجده سهوه لازميږي؟

سوال: يوازې لمونځ کونکی(منفرد) يا امام صاحب وړوکی سورت په لومړي رکعت کې لولي. دمثال په ډول سورت فيل يې په لومړي رکعت کې ولوست. اوس په بل رکعت کې سورت ماعون لولي. هغه ته سجده سهوه کول پکار دي اوکه نه؟ علماء کرام فرمايي چې ب خو دې دلومړي سورت سره متصل سورت لولي يا دې کم نه کم دوه سورتونه پريښودو سره دريم سورت لولي.
جواب: په وړو سورتونوکې يو سورت لوستونه وروسته بل سورت لوستل مکروه دي. [۲] خو په دې باندې سجده سهوه واجب نه ده.

په ايتو هيرونکي باندې سجده سهوه

سوال: موږ دلته لس دولس کسان يو ځای لمونځ کوو خپل امام مو يو سړی جوړ کړی دی.چې د قرآن کريم مختلفې سپارې يې يادې دي. مسئله داده چې کله لمانځه کولو په وخت کې ايتونه هير کړي: نو د لمانځه په اخر کې سجده سهوه کوي ايا د يو ايت په هيرولو باندې سجده سهوه لازميږي يا دهغه په پريښودو باندې يو بل ايت لوستل کيدلای شي؟
جواب: په قرات هيريدو باندې سجده سهوه نه لازميږي. خو که د قرات د هيرولو له وجې نه د درې ځله سبحان الله ويلو په مقدار خاموش ودريږي: نو سجده سهوه لازم ده [۳]

د فرضو په اخري دوه رکعتونو کې سورت يو ځای کولو سره سجده سهوه نه لازميږي

سوال: لمونځ کونکی يوازې (له جمعې پرته) څلور رکعته فرض کوي حالت دا وي چې په لومړيو دوو رکعتونو کې خو سورت يو ځای کول وي په باقي دوو رکعتونو کې يوازې سورت فاتحه لوستو سره رکوع کول وي. که په هيره سره په هغو دوه رکعتونو کې چې په هغو کې يوازې سورت فاتحه لوستل دي سورت يو ځای کړل شو يا يې يوازې تسميه لوستلې وه چې

۱] ولايجب بترک التعوذ والبسملة فی الاولی والثناء ......الخ (عالمگيری ج:۱ ص۱۲۶)۔
۲]واذا جمع بين سورتين ......واما فی رکعتين ان کان بينهما سورلايکره وان کان بينهما سورة واحدة قال بعضهم يکره وقال بعضهم ان کانت السورة طويلة لايکره هکذا فی المحيط (عالمگيری ج:۱ص:۷۸)۔
۳] اذا شغله التفکر اداء عن واجب بقدر رکن ___ولم يبينوا قدر الرکن وعلی قياس ماتقدم ان يعتبرالرکن مع سنته وهو مقدر بثلاث تسبيحات(الطحطاوی علی مراقی الفلاح ص:۲۵۸.باب سجودالسهو .طبع ميرمحمد)

ورته رایاده شوه او رکوع ته لاړ، اوس به په هغه باندي سجده سهوه لازم وي او که نه؟

جواب: دفرض لمانځه په اخري دوو رکعتونو کې د فاتحې نه وروسته سورت نه شي یو ځای کیدلای که څوک یې په هیره یو ځای کړي؛ نو په دې سره سجده سهوه نه واجبیږي.[۱]

که په لمانځه کې سورت لوستل هیر شي؛ نو سجده سهوه واجبیږي؟

سوال: د څلورو رکعتو والا لمانځه کې که د الحمد شریف سره د سورت یوځای کول هیر شي؛ نو په سجده سهوې سره به لمونځ درست وي او که نه؟ ځکه چې د سورت فاتحې (الحمد) سره د سورت یو ځای کول واجب دي او د واجبو په پریښودو سره سجده سهوه لازمیږي

جواب: په اول دوو رکعتونو کې سورت یو ځای کول واجب دي[۲] که هیر شي: نو سجده سهوه لازمه ده.[۳]

که په اول او دویم رکعت کې سورت یو ځای کول هیر شي او په دریم او څلورم کې یوځای کړل شي؛ نو کافي ده

سوال: که په اول او په دویم رکعت کې که سورت یو ځای کول هیر شي: له یادېدو وروسته په دریم اوڅلورم رکعت کې (چې په هغو کې یوازې الحمدلله ویل کیږي)، له سورت فاتحې سره سورت یو ځای کیدای شي؟

جواب: که په اول او دویم رکعت کې سورت یو ځای کول هیر شي؛ نو په دریم او څلورم رکعت کې دې سورت یو ځای کړي. خوسجده سهوه دې هم وکړي.[۴]

که په لمانځه کې سورت فاتحه په هیره پاتې شي او سجده سهوه وکړي؛ نو د لمانځه حکم

سوال: که دیو لمونځ کونکي نه سورت فاتحه په هیره پاتې شوه. خو یو سورت یې لوستلی و. بیا ورته یاد شو او سجده سهوه یې وکړه. ایا دده لمونځ مکمل شو او که نه؟

جواب: لمونځ یې صحیح شو.[۵]

---

[۱] ولوقرا فی الاخریین الفاتحة والسورة لایلزمه السهو وهو الاصح (عالمگیری ج:۱ص:۱۲۶)۔

[۲] وتجب قراءة الفاتحة وضم السورة اومایقوم مقامها ثلاث آیات قصارا وآیة طویلة فی الاولیین بعد الفاتحة (عالمگیری ج:۱ص: ۷۱،کتاب الصلاة ،الباب الرابع فی صفة الصلاة، الفصل الثانی)

[۳] ولایجب السهو الابترک واجب ......الخ (عالمگیری ج:۱ص:۱۲۶،کتاب الصلاة ،الباب الثانی عشر)

[۴] وان قرأ الفاتحة ولم یزد علیها قرأ فی الاخریین الفاتحة والسورة....ویسجد للسهو (عالمگیری ج:۱ص: ۷۱)

[۵] والسهو یلزم اذا زاد فی الصلاة فعلا من جنسها لیس منها اوترک فعلا مسنونا ،او ترک قرأة فاتحة الکتاب (اللباب فی شرح الکتاب ص:۱۰۳ باب سجودالسهو ،طبع قدیمی)

د نفل او سنت لمانځه په دویم . یا دریم رکعت کې د فاتحه یاد یو بل سورت هیریدو نکي دلمانځه حکم

سوال: د فرض لمانځه نه پرته، د سنتو یا نفلو د څلورو رکعتیز لمانځه په دویم. یا دریم رکعت کې د فاتحه یا بل سورت یو خای کول هیر شي. د ده له پاره څه حکم دی؟

جواب: په دغه صورت کې سجده سهوه لازمه ده [۱]

که د سنتو په دریم یا څلورم رکعت کې د سورة فاتحې نه وروسته سورة لوستل هیر شي؛ نو سجده سهوه کافي ده

سوال: د سنتو په دریم یا څلورم رکعت کې د الحمد شریف نه وروسته سورت لوستل هیر شي: نو سجده سهوه کافي کیږي او که نه؟

جواب: په سجده سهوې سره په لمانځه کې کمی پوره کیږي. [۲]

سوال: که چادڅلورو یا دریو رکعتونو فرض لمانځه په دریم یا څلورم رکعت کې د الحمد شریف نه وروسته په هیره سره یو سورت ولوست: نو نوموړي څه کول پکار دي؟

جواب: هیڅ لازم نه دي په دې صورت کې سجده سهوه هم لازم نه ده [۳]

په یو رکعت پاتې کیدونکي د الحمد سره سورت نه یو ځای کولو با ندي سجده سهوه

سوال: د مقتدي نه یو رکعت پاتې شوی دی: نو مقتدي ته په خاتمه رکعت کې د سورت فاتحې نه وروسته یو سورت لوستل لازمي دی، خو که مقتدي په غلطي سره رکوع ته ولاړ: نو هغه به څه کوي؟یوازې په سجده سهوه به یې لمونځ وشي او که بیا به لمونځ راگرځول وي؟

جواب: که سجده سهوه یې وکړه: نو لمونځ یې وشو [۴]

[۱] (وکل النفل والوتر) ای القراءة فرض جمیع رکعات النفل والوتر......الخ (البحرالرائق ج:۲ص:۶۰ ،باب الوتر والنفل فلو لم یقرأ شیئًامع الفاتحة.....لزمه السجود.....الخ (ایضًا ج:۲ص:۱۰۱ باب السجود السهو)

[۲] فلو لم یقرا شیئًا مع فاتحة.....لزمه السجود.....الخ (البحرالرائق ج: ۲ص: ۱۰۱باب السجود السهو)

[۳] ولوقرا فی الاخرین الفاتحة والسورة لایلزمه السهو وهو الاصح (عالمگیری ج: ۱ص: ۱۲۶)

[۴] واماالمسبوق اذاسها فیما یقضی وجب علیه سهو لانه فیما یقضی بمنزلة المفرد (بدائع الصنائع ج:۱ص:۱۷۵) فصل فی بیان من یجب علیه سجود السهو ومن لا یجب علیه)۔

په قیام کې په هیره تشهد(التحیات) لوستو با ندې په کله سجده سهوه لازم کیږي

سوال: ایا د لمانځه په قیام کې د ثناء او سورت نه وروسته یو سړي په هیره سره التحیات ولولي او په یاد راتلو باندې یو سورت ولولي: نو ایا لمونځ کامل شو او که نه؟ مختصر شان جواب راکړئ؟

جواب: که د ثناء په ځای یې تشهد(التحیات) ولوست: نو سجده سهوه واجب نه ده او که د سورت فاتحه په ځای یې تشهد ولوست: نو سجده سهوه به لازم وي. همدغه شان که د سورت فاتحه نه وروسته د سورت په ځای التحیات ولولي بیا هم سجده سهوه واجب ده[۱]

په قیام کې تشهد یا تسبیح لوستل او په رکوع او سجده کې قرات کول

سوال: که یوڅوک په هیره په قیام کې د قرات په ځای تشهد، دعا یا تسبیح وغیره ولولي یا ددې په خلاف په رکوع او سجده کې د تسبیح په ځای قرات وکړي : نو بیا به څه کوي؟

جواب: د قرات په ځای تشهد لوستو سره سجده سهوه واجبیږي. په دعا یا تسبیح سره هم[۲] په رکوع او سجده کې قرات نه کیږي. خو په دې سره سجده سهوه نه واجبیږي.[۳]

که په اخري دوو رکعتونو کې د الحمد نه وروسته بسم الله ولوستل شي؛ نو سجده سهوه واجب نه ده

سوال: یو سړی ځانته فرض لمونځ کوي په لومړیو دوو رکعتونو کې یې د سورت فاتحه نه وروسته بسم الله لوستو سره یو بل سورت شروع کوي. روستني دوه رکعته خالي دي، که په غلطي سره بسم الله ولولي: نو ایا سجده سهوه واجب ده او که نه؟

جواب: په وروستنیو دوو رکعتونو کې یوازې سورت فاتحه لوستل کیږي. د سورت فاتحه نه وروسته که سورت ولولي: نو سجده سهوه نه واجبیږي. لهذا په بسم الله ویلو سره هیڅ نه دي شوي[۴]

---

[۱] ولوتشهد فی قیامه قبل قراءة الفاتحة فلاسهو علیه وبعدهایلزمه سجودالسهو وهو الاصح لان بعدالفاتحة محل قراءة السورة فاذا تشهدفیه فقد آخر الواجب وقبلها محل الثناء کذا فی التبیین (عالمگیری ج: ۱ص:۱۲۷ باب سجودالسهو)۔

[۲] ایضا تیره شوی حاشیه)۔

[۳] ولو قرأ القرآن فی رکوعه اوفی سجوده اوفی قیامه لاسهوعلیه لانه ثناء ،وهذه الارکان موضع الثناء (بدائع الصنائع ج:۱ ص: ۱۷۲بیان محل السجودللسهو)۔

[۴] وان قراء الفاتحة)فی احدی (الاخریین مرتین اوضم فیهما) الیهما(سورة) ..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

په الحمد یا بل سورت پر یښودو سره سجده سهوه واجب ده

سوال: په لمانځه کې قرات کول فرض دي چې د هغه په پرېښودو باندې به لمونځ را اګرځول کیږي او په سجده سهوه کار نه کیږي. د اکثر مولوي صاحبانو رایه داده که د سورت فاتحه نه وروسته بل سورت په هېره سره پاتې شي او رکوع ته لاړ شي: نو په سجده سهوه سره لمونځ کیږي. ایا سورت فاتحه لوستل د قرات د ادا کولو شرط پوره کوي یا سورت فاتحه په قرات کې نه شاملیږي؟ که سورت فاتحه په قرات کې شامل نه وي: نو بیا به فرض پاتې شي سجده سهوه به څنګه دا کمی پوره کړي؟

جواب: لمانځه کې مطلق قرات فرض دی[1] او معین ډول سره سورت فاتحه لوستل او ددي سره یو سورت یو ځای کول (یا یو لوی ایت یا دري واړه ایتونه) دا دواړه واجب دي[2]. له دي وجې که بالکل یې قرات ونه کړ: نو لمونځ یې نه دی شوی او که سورت فاتحه یې نه وي لوستلي یا سورت یې نه وي یو ځای کړی: نو سجده سهوه به واجب وي[3] او وریسي حاشیه (ولو قراء القرآن فی رکوعه اوفی سجوده ...الخ(بدائع الصنائع ج:١ ص: ١٧٢ بیان محل السجود للسهو) ایضاً (ولایجب السجود الابترک واجب اوتاخیره ...الخ(عالمگیریة ج: ١ص: ١٢٦ کتاب الصلاة .باب سجود السهو .طبع رشیدیه، وګورئ) او په سجده سهوه کولو باندې لمونځ صحیح شو

که په ماسپښین یا ماز دیګر کې یې په هېره سورت فاتحه په اوچت اواز شروع کړه: نو ایا سجده سهوه به لازم وي؟

سوال: د ماسپښین یا ماز دیګر په لمانځه کې که چیرې امام سورت فاتحه په جهر شروع کړي او د یادیدو سره خاموش شي: نو ایا لمونځ مات کړي؟ او سجده سهوه به پرې لازم وي او که نه؟

جواب: که د دریو نه کم ایتونه یې لوستلي وو: نو سجده سهوه واجب نه ده. که په پوره رکعت کې یې قرات په تیز اواز سره وکړ: نو بیا پرې سجده سهوه واجب ده[4]

...بقیه د تیرمخ] .وکذا لوقراء السورة دون الفاتحة (اوقراء التشهد مرتین اماتکرار الفاتحة وضم السورة فلان الاخریین محل القراءة مطلقا ولم یلزم منه ترک الواجب ولا تاخیره (حلبی کبیر ص ٤٦٠ طبع سهیل اکیدمی لاهور)۔

[1] قوله والقراءة لقوله تعالی فاقروا ماتیسرمن القرآن وحکی الشارح الاجماع علی فرضیتها (البحرالرائق باب صفة الصلوة .ج: ١ص: ٣٠٨ طبع بیروت)۔

[2] وتجب قراءة الفاتحة وضم السورة اومایقوم مقامها......الخ (عالمگیری ج: ١ص: ٧١.باب صفة الصلوة).

[3] تیره شوی حاشیه (ولوتشهد فی قیامه قبل قراءة الفاتحة فلاسهو علیه وبعدهایلزمه...الخ(عالمگیری ج ١ص: ١٢٧ باب سجودالسهو)۔

[4] لوجهر فیما یخافت اوخافت فیمایجهروجب علیه سجودالسهو واختلفوا ..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه .

كه له چا دعا قنوت هيره شي؛ نو سجده سهوه به كوي

سوال: كه يو څوك دوترو په دريم ركعت كې سورت فاتحه او سورت لوستلو نه وروسته ركوع ته لاړ شي، دعا قنوت لوستل يې هير شي: نو څه به كوي؟ ايا لمونځ راوګرځوي يا واپس شي؟ په تفصيل سره جواب راكړئ؟

جواب: دعا قنوت واجب ده. كه هيره شي؛ نو په سجده سهوه كولو سره به لمونځ صحيح شي [١]

كه د(تشهد) التحيات نه وروسته غلطي وشي ؛ نو ايا سجده سهوه لازميږي؟

سوال: كه په لمانځه كې څه غلطي وشي: نو سجده سهوه لازميږي. خو كه له تشهدنه وروسته څه غلطي وشي: نو څه به كوي؟ يا كه د لمانځه دوران كې څه غلطي وشي اودسلام اړولو نه وروسته ورياد شي: نو څه به كوي؟

جواب: د اخري التحيات نه وروسته كه سهوه وشي: نو سجده سهوه نه شته[٢]. لمونځ پوره شو، د سلام اړولو نه وروسته راياد شو چې زما په ذمه سجده سهوه وه؛ نو كه سلام اړولو نه وروسته په خپل ځاى باندې ناست وي، د لمونځ منافي يو كار يې نه وي كړى؛ نو سجده سهوه كولو سره دې بيا تشهد ولولي او كه دخپل ځاى نه پورته شوى وي يايې د لمونځ منافي يوكاركړى وي: نولمونځ دې په دويم ځل وكړي [٣]

څلور ركعته سنت موكد لمانځه كې په لومړۍ ناسته (قعده) كې دتشهد نه زيات لوستلو باندې سجده سهوه

سوال: دماسپښين څلور ركعته موكد سنت يې وكړل، لومړۍ ناسته(قعده) كې درود شريف يا دعا وغيره يې هم ولوستل، ايا سجده سهوه لازميږي اوكه نه؟ حال دا چې په فرضو كې په داسې كيدو باندې سجده سهوه لازميږي.

...بقيه د تيرمخ]..ف مقدار مايجب به السهو منهما قيل يعتبرف الفصلين بقدر ماتجوز به الصلوة وهوالاصح ولافرق بين الفاتحة وغيرها......الخ (عالمگيرى ج:١ ص:١٢٨)

١] ومنها القنوت فاذا تركه يجب عليه السهو (فتاوى عالمگيرى ج:١ص:١٢٨ باب سجودالسهو)۔

٢]لوشك بعد الفراغ منها اوبعد ماقعد قدر التشهدلايعتبر(شامى ج:٢ص: ٩٢، كتاب الصلاة ،باب سجودالسهو)

٣] ان السجود لايسقط بالسلام ولو عمدًا الا اذا فعل فعلا يمنعه من البناء بان تكلم اوقهقه اواحدث عمدًا اوخرج من المسجد اوصرف وجهه من القبلة (البدائع الصنائع ج: ١ص: ١٧٥ فصل فى بيان من يجب عليه سجودالسهو.....الخ)۔

جواب: که د څلور رکعته موکده سنتو په لومړۍ ناسته(قعده) کې په هیره باندې درود شریف ولولي؛ نو د ځینو په نزد به سجده سهوه واجب نه وي. خو صحیح داده چې په دې سره سجده سهوه واجبیږي له دې وجې د احتیاط خبره داده چې سجده سهوه وکړي [۱]

سوال: څلور رکعته فرض یا سنت لمانځه کې دوه رکعته کولو نه وروسته یو سړی په غلطي سره تشهد لوستلو نه پرته ودریږي او په دریم رکعت کې ناستې سره تشهد ولولي او بیا دریدو سره څلورم رکعت وکړي ددې نه وروسته سجده سهوه وکړي؛ نو ایا د هغه لمونځ به وشي او که بیا به یې په دویم ځل کوي؟

جواب: هغه ته په دریم رکعت کې ناسته نه ده پکار، بلکې په اخري قعده کې سجده سهوه کول پکار دي، خوکه سجده سهوه یې وکړه؛ نو لمونځ یې صحیح شو. [۲]

که د سجده سهوې نه وروسته په غلطي سره دوه ځله تشهد ولوستل شي، په دویم ځل د سجده سهوې ضرورت نه شته

سوال: که چیرې د سجده سهوې نه وروسته په غلطي سره دوه ځله تشهد ولوستل شي؛ نو اوس به په دویم ځل سجده سهوه کول وي؟

جواب: په دویم ځل د سجده سهوې ضرورت نه شته. [۳]

که چاد درود شریف او دعا نه وروسته سجده سهوه وکړه؛ نو هیڅ ګناه نه شته

سوال: سجده سهوه خو په اخري رکعت کې د التحیات نه وروسته یو طرف ته سلام اړولو نه وروسته کیږي، خو زه درود شریف او دعا هم لولم. سجده سهوه په کوم وخت کې کول پکار دي؟ ایا بیا به لمونځ اداکول واجب وي او که لمونځ اداء شو؟

جواب: که چیرې د درود شریف د لوستلو نه وروسته سجده سهوه وشي؛ نو هیڅ ګناه نشته. د سجده سهوې نه وروسته په دویم ځل التحیات ووایه او درود شریف او دعا هم ووایه او لمونځ پوره کړه. [۴]

---

[۱] ولوکررالتشهد فی القعدة الاولی فعلیه السهو وکذا لوزاد علی التشهد الصلاة علی النبی صلی الله علیه وسلم کذافی التبیین وعلیه الفتوی کذا فی المضمرات (عالمگیری ج:۱ص:۱۲۷)۔

[۲] کل قعدة لیست اخیرة سواء کان فی الفرض اوفی النفل فانه یلزمه سجودالسهو بترکها ساهیًا ......الخ (البحرالرائق ج:۲ص:۱۰۲طبع بیروت کتاب الصلاة ،باب سجودالسهو)۔

[۳] لوشک بعد الفراغ منها اوبعد ماقعدقدر التشهد لایعتبر (شامی ج: ۲ص:۹۲کتاب الصلاة ،باب سجودالسهو)

[۴] وکیفیته ان یکبر بعد سلامه الاول ویخرساجدًا ویسبح فی سجوده ثم یتشهد ثانیًا ......الخ (عالمگیری ج:۱ص:۱۲۵الباب الثانی عشر فی سجودالسهو طبع رشیدیه کوئته)

که په تشهد کې د کلمه شهادت نه وروسته د اودس دعا له ژبې ووځي؛ نو سجده سهوه نه شته

سوال: مايوځل په تشهد کې د کلمه شهادت نه وروسته په هيره داودس دعا ولوسته په اخيري قعده کې مې بيره وه، له دې وجې په غلطي سره دا الفاظ اداء شو، دا راته ووايه چې لمونځ وشو او که نه؟ ايا په داسې حالت کې سجده سهوه کول پکار دي او که نه، يا لمونځ په دويم خل کول پکار دي؟

جواب: په دې سره سجده سهوه نه لازميږي، لمونځ وشو.[۱]

د وترو په لمانځه کې هم لومړۍ ناسته (قعده) واجب ده

سوال: په درې رکعته وتروکې د دوه رکعتو نه وروسته په تشهد کې ناسته کول پکار ده او که نه؟

جواب: د وترو په لمانځه کې هم په دوه رکعتو باندې قعده واجب ده[۲]، که ناسته ترې هيره شوه: نو سجده سهوه به لازم وي.[۳]

په وترو کې په دويم رکعت باندې په غلطي سره سلام اړولو باندې تصحيح

سوال: په وترو کې که په غلطي سره په دويم رکعت باندې سلام واړوي او فورا ورته د غلطي احساس وشي؛ نوورسره دريم رکعت مکمل کولوسره سجده سهوه وکړي او که له سرنه وتر کول پکار دي؟

جواب: سجده سهوه کول کافي دي.[۴]

ايا په التحيات کې لږ ساعت ناستې والا به سجده سهوه کوي؟

سوال: که څوک دمازديگر فرض ځانته کوي، دلومړي رکعت ددويمې سجدې نه وروسته دويم رکعت ګڼلو سره په التحيات کې لږ ايسارشي تشهد يې شروع کړی نه و چې ورته ياد

---

[۱] واذاكان آخرالصلاة دعا لنفسه بماء شاء(هداية ج:۱ص: ۱۱۱باب صفة الصلاة طبع مكتبه شركت علميه)

[۲] وتجب القعدة الاولى قدرالتشهد اذا رفع راسه من السجدة الثانيه فى الركعة الثانيه فى ذوات الاربع والثلاث وهو الاصح هكذا فى الظهيرية (عالمگيرى ج:۱ص:۷۱كتاب الصلاة ،الباب الرابع الفصل الثانى عشرفى واجبات الصلاة)

[۳] ثم ذكرالتشهد يحتمل القعدة الاولى والثانية والقراءة فيهما وكل ذلك واجب وفيها سجدة السهو هوالصحيح هداية ج:۱ص:۱۵۸كتاب الصلاة باب سجودالسهو)_

[۴] ويسجدللسهو ولومع سلامه ناويًا للقطع مالم يتحول عن القبلة اويتكلم لبطلان التحريمة......الخ (ردالمحتارج:۲ص:۹۱كتاب الصلاة باب سجودالسهو، طبع سعيد)_

شي چې داخو لوړې رکعت دی ودریږي: نو ایا سجده سهوه به لازمه وي او که نه؟

جواب: په لږ ایساریدو باندي سجده سهوه نه لازمیږي په یاد راتلو باندې فورا دریدل پکار دي د لږ وخت نه مراد دادی چې د درې خله سبحان الله ویلو په مقدار پاتې نه شي.[۱]

د التحیات لوستلو په ځای سورت لوستلو باندې سجده سهوه

سوال: د لمونځ پوره کولو له پاره چې کله التحیات لولي: نو که د التحیات په ځای یو سورت ولولي یا التحیات غلط ولولي؛ نو ایا سجده سهوه به لازمه او که نه؟

جواب: په دې صورت کې سجده سهوه واجب ده.[۲]

د تشهد په ځای الحمد لوستو نکی به سجده سهوه کوي

سوال: ځینې وخت زه په لمانځه کې د التحیات په ځای په غلطي سره الحمد شریف لولم او داسې عموما په نفل لمونځ کیږي سره ددې چې نفل په ناسته کیږي سجده سهوې سره لمونځ ادا کیږي یا یې په دویم ځل کول واجب دي؟

جواب: په سجده سهوې سره لمونځ ادا کیږي[۳]، نفل په ناسته کول جائز دي، خو غوره داده چې په ولاړه وشي په ناسته کولو سره ثواب نیم پاتې کیږي.[۴]

ایا د رکوع په تکبیر هیریدو باندې سجده سهوه لازمیږي؟

سوال: که یو سړی د قیام نه رکوع ته تلو سره الله اکبر ویل هیر کړي؛ نو سجده سهوه خو به نه لازمیږي؟

جواب: سجده سهوه د واجبو په پریښودو واجبیږي او د سجدې تکبیرونه سنت دي واجب نه دي، که یو سړی هغه په هیره ونه وایي؛ نو سجده سهوه واجب نه ده.[۵]

---

[۱] والتاخیر الیسیر وهومادون رکن معفوعنه .....الخ (شامی ج:۱ص: ۴۶۰باب سجودالسهو ،طبع سعید) ایضًا: وعلی قیاس ماتقدم ان یعتبر الرکن مع سنته وهو مقدر بثلاث تسبیحات.....الخ (مراقی الفلاح ص: ۲۵۸باب سجودالسهو طبع سعید)۔

[۲] واذا قراء الفاتحة مکان التشهد فعلیه السهو کذالک اذاقراء الفاتحة ثم التشهد کان علیه السهو (عالمگیری ج:۱ص: ۱۲۷کتاب الصلاة الباب الثانی عشرفی سجودالسهو)۔

[۳] ایضًا)۔

[۴] یجوزالنفل قاعداً ولکن له نصف اجر القائم .....الخ (مراقی الفلاح ص: ۲۲۰کتاب الصلاة فصل فی صلاة النفل جالسًا طبع میرمحمد کتب خانه)۔

[۵] ولایجب بترک .....تکبیرات الانتقالات .....الخ (عالمگیری ،کتاب الصلاة ،الباب الثانی عشرفی سجود السهوج: ۱ص:۱۲۶) ایضًا فلایجب بترک السنن والمستحبات .....وتکبیرات الانتقالات والتسبیحات .....الخ (حلبی کبیر ص:۴۵۵فصل فی سجودالسهو)۔

په درې سجدو کولو باندې سجده سهوه واجب ده

سوال: ما نن د مازديګر لمونځ په نژدې جومات کې له جمعې سره ادا کړ. چې کله امام صاحب د څلورم رکعت سجدې ته لاړ؛ نو د دوو سجدو په ځای يې درې سجدې وکړې. ايا داسې لمونځ وشو په داسې حال کې چې يو سجده زياته ده؟

جواب: که په يو رکعت کې د دوو سجدو په ځای درې سجدې وکړي؛ نو په دې سره سجده سهوه واجبيږي، که هغه امام صاحب سجده سهوه کړې وي؛ نو لمونځ وشو[1] او که سجده سهوه يې نه وي کړې؛ نو په هغه باندې لمونځ په دويم ځل کول واجب دي.[2]

که څوک په لومړۍ قعده کې کيناستل هير کړي؛ نو څه وکړي؟

سوال: که يو سړی څلور رکعته لمونځ ادا کوي د دوو رکعتونو نه وروسته په التحيات کې کيناستل ونه کړي او نيغ ودريږي او بيا چې کله ودريږي؛ نو راياد شي چې زه په التحيات کې نه وم ناست؛ نو په دې صورت کې څه وکړي؟

جواب: لومړۍ ناسته (قعده) واجب ده او که څوک د لمانځه واجب هير کړي؛ نو لمونځ فاسديږي نه، بلکې سجده سهوه لازميږي، له دې وجې که يو سړی په هيره ودريد؛ نو اوس دې نه کيني، بلکې په اخر کې دې سجده سهوه وکړي لمونځ به صحيح شي.[3]

که په لومړۍ ناسته (قعده) کې درود هم ووايي؛ نو ايا سجده لازميږي؟

سوال: که څوک په درې يا څلور رکعتيز لمانځه کې په لومړۍ ناسته کيني؛ خو دتشهد نه وروسته په هيره نيم يا ټول درود شريف هم ولولي؛ نو په دې صورت کې څه کول پکار دي؟ څنګه چې ياد شي؛ نو نيم درود پريږدي او ودريږي او که څه وکړي؟

جواب: درود شريف دې په مينځ کې پريږدي او ودې دريږي او په دې هيره باندې سجده سهوه لازمه ده.[4]

---

[1] وذکر فى الذخيرة ان سجودالسهو يجب بستة اشياء ......ويجب بتكرار الركن هذا الثالث من الستة نحو ان يركع مرتين اويسجد ثلاث مرات..الخ (حلبى كبيرص:٤٥٦فصل فى سجودالسهو،طبع سهيل اكيدمى لاهور)

[2] (ولهاواجبات) لاتفسد بتركها وتعاد وجوبًا فى العمد والسهو ان لم يسجد ......(قوله وتعاد وجوبًا) اى بترک هذه الوجبات او واحد منها ..... (قوله ان لم يسجد له) اى للسهو وهذا قيد لقوله والسهو، اذ لاسجود فى العمد (ردالمحتار مع الدرالمختار ج:١ص:٤٥٦باب صفة الصلاة ،مطلب واجبات الصلاة ،طبع ايچ ايم سعيد، ايضًا البحرالرائق ج: ١ص:٥١٥باب صفة الصلاة طبع رشيديه)۔

[3] لايجب بترک سنة.....والتسميع والتحميد – الخ (البحرالرائق ج:٢ص: ١٠٦ طبع بيروت ايضًا فتاوى عالمگيرى ج:١ص:١٢٦ :كتاب الصلاة الباب الثانى عشرفى سجودالسهو)۔

[4] لوكررالتشهد فى القعدة الاولى فعليه السهو وكذا لو زاد على التشهد الصلاة على النبى صلى الله عليه وسلم (عالمگيرى ج:١ص: ١٢٧ كتاب الصلاة الباب الثانى عشرفى سجودالسهو ،طبع رشيديه)

په لومړۍ قعده کې په هیره درېدو نکي ته په یادېدو باندې کیناستل او سجده سهوه کول

سوال: څلور رکعته فرض لمانځه کې زموږ حافظ صاحب په اوله قعده کې ناسته ونه کړه او حافظ صاحب بلکل نېغ ودرید او موږ الله اکبر وویلو او امام کیناست او بیا یې التحیات ولوستله. دوه رکعته یې پوره کړل اوبیا یې سجده سهوه وکړه. دا معلومول دي چې زموږ لمونځ وشو او که نه؟

جواب: که چیرې د دوو رکعتو نه وروسته نېغ ودرېږي؛ نو په دویم ځل کیناستل نه دي پکار. بلکې سجده سهوه کول پکار دي، بیا هم که چیرې په دویم ځل واپس شو او سجده سهوه یې وکړه؛ نو لمونځ یې وشو.[1]

که په دویم رکعت کې د سورت په لوستلو او یا په اوله قعده کې شکوي؛ نو سجده سهوه ضروري ده

سوال: که یو سړي ته شک پیدا شي چې ما په دویم رکعت کې سورت لوستلی دی او که نه؟ یا دا شک وي چې ما لومړۍ قعده کړې ده او که نه؟ نو که د شک په بنا باندې یې سجده سهوه وکړه؛ نوایا لمونځ یې وشو؟

جواب: که چیرې د واجبو په پرېښودو کې شک وي؛ نو سجده سهوه کول ضروري دي.[2]

که په لومړۍ ناسته (قعده) کې ودرید؛ نو نه دې واپس کیږي، بلکې په اخر کې دې سجده سهوه وکړي

سوال: یو ځل زموږ امام صاحب په هیره ددویم رکعت نه وروسته د قعدې کولو نه پرته ودرید، لمونځ کونکو په الله اکبر سره فتح ورکړه، خو هغه له یادانښت نه مخکې نېغ ولاړ و. له دې وجې هغه لمونځ جاري وساته په اخري رکعت کې یې سجده سهوه وکړه. د پوښتنې کولو نه وروسته

---

[1] فلوعادالی القعود بعد ذلک تفسد صلاته لرفض الفرض لمالیس بفرض ،وصححه الزیلعی وقیل لاتفسد لکنه یکون مسیئا ویسجد لتاخیر الواجب ،وهو الاشبه کما حققه الکمال وهو الحق بحر ......الخ (درمختارف الشامیة :قوله بعد ذلک ای بعدها مااستقام قائمًا .الخ قوله لکنه یکون مسیئا ای یاثم کمافی الفتح (ردالمحتار ج:۲ص:۸٤ کتاب الصلاة باب سجودالسهو طبع ایچ ایم سعید)

[2] وکذا ان شک انه الظهراوفی العصر مثلاً اوشک انه صلی ثلاثًا اواربعًا وشغله عن التسلیم ونحوذلک اوفرغ من الفاتحة وتفکر ای سورة یقرأ وطال تفکره یجب علیه سجودالسهو .الخ (حلبی کبیرص:٤٦٥ فصل فی سجودالسهو طبع سهیل اکیدمی لاهور)

امام صاحب وفرمایل چې د قیام په حالت کې د قعدې نه زیات داغوره ده چې سجده سهوه وشي، غالبا دوی د واجب او د سنتو الفاظ هم استعمال کړل. تاسو ووایئ چې د ایا امام صاحب دا لمونځ صحیح کړی دی او که نه؟

جواب: امام صاحب صحیح کړي دي، که چیرې څوک اوله قعده پریږدي او نیغ ودریږي: نو واپس نه دې راتلل پکار. په اخره کې سجده سهوه کول پکار دي.[۱]

که څوک په لومړۍ قعده کې شکي شو؛ نو سجده سهوه دې وکړي

سوال: که څوک په لمانځه کې دا هیر کړي چې لومړۍ قعده یې کړې ده او که نه؟ نو په اخر کې څه کول پکار دي؟

جواب: که د سوچ کولو نه وروسته غالب خیال همداوي چې لومړۍ قعده یې نه ده کړې؛ نو سجده سهوه دې وکړي.[۲]

په هیره د امام په اخري قعده کې دریدل

سوال: په یوجومات کې دجمعې لمونځ کیده، امام صاحب په اخري رکعت کې د التحیات لوستو نه پرته بالکل نیغ ودرید، خو د خلکو په الله اکبر ویلو باندې کیناست، سجده سهوه یې وکړه او لمونځ یې ختم کړ، د سائل او د هغه د ملګري رایه دا وه چې لمونځ دې په دویم ځل و شي، ځکه چې اخري قعده فرض ده او هغه ادا نه شوه. خلکو ونه منله او سائل او د هغه دوست په دویم ځل لمونځ وکړ، په بل لمونځ کې سائل موجود نه و. خو اوریدلي مې دي چې امام صاحب جنتي کالي لوستو سره خلکو ته وویل چې د هغه طریقه صحیح وه. خو بیا مې خیال راغی چې کیدای شي په جمعه کې ددې رعایت راغلی وي او د امام صاحب خبره صحیح وي تاسو ددې صحیح حال بیان کړئ؟!

جواب: اخري قعده فرض ده که یو سړی په هیره ودریږي: نو تر څو یې چې د پنځم رکعت سجده نه وي کړې، هغه ته راواپس کیدل پکار دي، د فرضو د تاخیر له وجې په هغه باندې سجده سهوه واجب ده او لمونځ یې وشو، خو که د پنځم رکعت سجده یې وکړه: نو فرض لمونځ

---

[۱] السادس القعود الاول وكذا كل قعدة ليست اخيرة سواء كان فى الفرض اوفى النفل فانه يلزمه سجود السهو بتركها ساهيًا (البحرالرائق ج:۲ص:۱۰۲باب سجودالسهو طبع دارالمعرفة بيروت) ايضًا سها عن القعود الاول من الفرض ثم تذكره عاد اليه وتشهد .ولاسهوعليه فى الاصح مالم يستقم قائمًا فى ظاهرالمذهب وهو الاصح والاى وان استقام قائما لاوسجد للسهو (درمختار ج:۲ص:۸۳باب سجودالسهو)

[۲] السادس القعود الاول وكذا كل قعدة ليست اخيرة سواء كان فى الفرض اوفى النفل فانه يلزمه سجود السهو بتركها ساهيًا (البحرالرائق ج:۲ص:۱۰۲باب سجودالسهو طبع دارالمعرفة بيروت)۰ ايضًا سها عن القعود الاول من الفرض ثم تذكره عاد اليه وتشهد ،ولاسهوعليه فى الاصح مالم يستقم قائمًا فى ظاهرالمذهب وهو الاصح والاى وان استقام قائمًا لاوسجد للسهو (درمختار ج:۲ص:۸۳باب سجودالسهو)_

بې باطل شو بل رکعت یو ځای کولو سره دې لمونځ پوره کړي او له سره دې بیا فرض لمونځ وکړي.[1] تاسو چې کوم صورت لیکلی دی په هغه کې د امام صاحب خبره صحیح ده: ځکه چې په هغه کې فرض نه دي پریښودل شوي، بلکې هغه وروسته شوي دي چې د هغې مخ نیوی په سجده سهوه سره و شو.

امام که د قرات په مینځ کې ایت پریږدي: نو ایا سجده سهوه شته؟

سوال: د جهري لمانځه د قرات په دوران کې که امام د درې ایتونو نه زیات لوستو نه وروسته پوره یو ایت پرېښود. یا څه الفاظ پرېښودو سره هم هغه سورت مخکې ولولي نه یې مقتدي منع کړي ایا د لمانځه راګرځول پکار دي یا سجده سهوه کافي ده؟

جواب: که پوره یو ایت یې پرېښود یا څه قرآني الفاظ یې پرېښودل او د هغه په پرېښودو په معنا کې څه تبدیلي پیدا نه شوه: نو په داسې صورت کې نه د لمانځه اعاده واجب ده نه سجده سهوه لازم ده لمونځ به صحیح وي.[2]

فتح (لقمه) ورکولو باندې صحیح لوستو سره سجده سهوه لازم نه ده

سوال: زمونږ په محله کې یو جومات دی. زه په هغه جومات کې لمونځ کوم. اتفاقي ډول سره یو ورځ امام صاحب څه کار پسې تللی و: نومونږ لمونځ کونکو یو بل سړي ته د امامت له پاره وویل هغه لمونځ ورکړ: خو د هغه صاحب نه په دوه ځایونو کې غلطي وشوه او لمونځ کونکو هغه ته فتح(لقمه) ورکړه او قرات یې پرې صحیح ووایه او دغه شان لمونځ ختم شو څنګه چې لمونځ ختم شو :نو څه لمونځ کونکوویل چې امام صاحب ته سجده سهوه کول پکار دي. لهذا لمونځ دې په دویم ځل وکړي او چا ویل چې لمونځ صحیح شو ددویم ځل کولو ضرورت نه شته. سوال دادی چې د امام صاحب نه په فرض لمانځه کې داسې غلطي وشي ،څنګه چې پورته بیان شوه): نو سجده سهوه لازمیږي اوکه نه؟

جواب: دامام صاحب په قرات هیریدو او بیا لقمه ورکولو باندې صحیح لوستو سره سجده سهوه نه لازمیږي لمونځ صحیح شو.[3]

---

[1] (وان سها عن الاخير عاد مالم يسجد)لان فيه اصلاح صلاته ......(وسجد للسهو) لتاخيره فرضا وهو القعود الاخير ......(فان سجدبطل فرضه برفعه)لانه استحكم شروعه فى النافلة قبل اكمال اركان المكتوبة ......الخ (البحرالرائق ج:۲ص:۱۱۰،۱۱۱ كتاب الصلاة باب سجودالسهو طبع درالمعرفة بيروت ايضا: ردالمحتار ج:۲ ص:۸۷ كتاب الصلاة باب سجودالسهو)ـ

[2] ومنها حذف حرف وان لم يكن على وجه الايجاز والترخيم فان كان لايغير المعنى لاتفسد صلاته .....الخ (عالمگيرى ج:۱ص: ۷۹كتاب الصلاة الفصل الخامس فى زلة القارى)ـ

[3] بخلاف فتحه على امامه فانه لايفسد مطلقا لفاتح وآخذ بكل حال.....الخ (ردالمحتارمع درمختار ج:۱ ص:۶۲۲باب مالايفسدالصلاة ومايكره فيهاطبع سعيد)ـ

د مسبوق او لاحق د سجده سهوې حکم

سوال: زموږ امام صاحب د ماښام لمونځ ورکاو او په دويم رکعت کې چې کله هغه تشهد له پاره کيناست؛ نو پورته کيدل ترې هير شو او زيات لوستل يې شروع کړل. له شا نه چا الله اکبر وويل امام صاحب پورته شوپه دريم رکعت کې مقتدي راتلو سره شامل شو امام سجده سهوه وکړه ورسره وروسته راتلونکي مقتدي هم سجده سهوه وکړه امام سلام وګرځاو مقتدي ودريد کله چې مقتدي په خپل اخري رکعت کې التحيات لوستو؛ نو زموږ د کلي مولانا صاحب هغه ته وويل چې سجده سهوه وکړه. هغه و نه کړه حال دا چې غلطي د امام صاحب نه شوې وه او مقتدي د هغه سره سجده سهوه هم کړې وه، خو د امام وينا ده چې هغه ته په خپل رکعت کې هم سجده سهوه کول پکار و، امام صاحب سره يو کتاب رکن دين دی چې په هغه کې يې ليکلي دي چې مقتدي ته په خپل اخري رکعت کې سجده سهوه کول پکار دي، سره ددې چې موږ په نورو کتابونو کې وکتل خو هلته يې ليکلي و چې سجده سهوه به نه کوي. موږ ټول د اهل سنت سره تعلق لرو او ددې مسئلې جواب مهرباني وکړئ د قرآن اوحديث او فقه حنفي په رڼا کې راکړئ، ځکه چې هغه لمونځ کونکي په دې مسئله کې د جګړې په بنياد په هغه امام پسې لمونځ کول پريښودل، مقتدي ځو ځايه تصديق وغوښت؛ نو جواب ورته ملاو شو چې سجده سهوه به نه کوي او امام صاحب دا خبره کوي چې څه په دې کتاب کې ليکل شوي دي هغه صحيح دي، امام صاحب په دې خپله خبره کلک ولاړ دی او تصديق نه غواړي، تاسو دا بيان کړئ چې په دې جګړه کې مقتدي په امام پسې لمونځ کول پريښی دی. ايا د هغه دا کار صحيح دی اوکه غلط؟ او مقتدي لمونځ په کور کې کوي کوم صاحب چې دا کتاب ليکلی دی د هغه نوم (مولانا شاه رکن الدين صاحب)دی،په دې کتاب کې دا سوال دی چې که د لاحق امام په خپله سجده سهوه وکړه؛ نو لاحق به څه کوي؟ د هغه جواب دادی چې په دې سره په لاحق باندې هم سجده سهوه واجب ده اوس دې لاحق د لمانځه په اخر کې سجده سهوه وکړي لکه چې د هغه امام په اخر کې کړې ده او که د امام سره يې وکړي؛ نو بيا هم هغه ته دويم ځل کول پکار دي؟ (درمختار)

جواب: کوم سړی چې په دويم يا وروسته په يو رکعت کې راتلو سره جمعې کې داخل شوی وي، هغه ته مسبوق وايي[١]. مسبوق ته پکار دي چې کله امام سجده سهوه وکړي؛ نو هغه دې سلام اړولو نه پرته د امام سره سجده وکړي، بيا د امام د لمونځ ختميدو نه وروسته دې خپل پاتې شوي رکعتونه پوره کړي په هغو رکعتونو کې که ترې څه سهوه وشي؛ نو په دويم ځل دې

[١] والمسبوق من سبقه الامام بها اى بكل الركعات بان اقتدى به ركوع الاخيرة قوله اوببعضها اى بعض الركعات (درمختارمع ردالمحتارج: ١ص:٥٩٦باب الامامة)۔

سجده سهوه وکړي ګني، نه[1]

په در مختار کې دي **والمسبوق يسجد مع امامه مطلقاً سواء كان السهو قبل الاقتداء او بعده ثم يقضي ما فاته ولو سها فيه سجد ثانيا**.(ج:۲ص:۸۳)

رکن دین کې چې کومه مسئله ذکر کړې ده هغه صحیح ده، خو د مسبوق نه ده، بلکې د لاحق ده او لاحق هغه سړي ته وايي چې کوم د شروع نه د امام سره شریک وي. خو د څه وجې نه د لمانځه اخري برخه هغه ته د امام سره نه وي ملاو شوې[2]. ستاسو د امام صاحب نه دا غلطي وشوه چې هغه د لاحق او مسبوق مینځ کې فرق ونه کړ. له دې وجې یې د لاحق مسئله په مسبوق باندې ولګوله.

مسبوق که په امام پسې په هيره درود شريف ولولي؛ نو په هغه سجده سهوه نشته

سوال: لمونځ لا پاتې دی: خو یو سړي(د امام)په آخري رکعت کې درود شریف هم ولولي. نو آیا سجده سهوه لازمیږي؟

جواب: نه![3]

مسبوق که د امام سره سلام واړوي؛ نو څه به کوي؟

سوال: که موږ د یو یا دوه رکعتو نه وروسته په لمانځه کې شریک شو: خو د امام سره سلام واړوو؛ نو په دې صورت کې لمونځ دوباره ادا کول ضروري دي او که نه؟

جواب: لمونځ دوباره کولو ته ضرورت نه شته،که د امام سره یې سلام اړولی وي: نو له یاد وروسته دې فورا پوره ته شي، په دې صورت کې د سجده سهوې ضرورت هم نه شته او که له امام نه وروسته یې سلام واړو؛ نو بیا خو سجده سهوه لازم ده.[4]

له جمعې پاتې شويو رکعتونو کې غلطي باندې د سجده سهوې حکم

سوال: د جمعې نه پاتې شويو رکعتونو کې که غلطي وشي نو سجده سهوه کول پکار دي او که نه؟

---

[1] ثم المسبوق انما يتابع الامام فى السهو اى فى سجدة السهوبان سجدهو دون السلام بل ينتظر الامام حتى يسلم فيسجد فيتابعه فى سجود السهولافى سلامه (بدائع الصنائع ج:۱ص:۱۷۶فصل فى بيان من يجب عليه السهو...الخ)۔

[2] واللاحق من فاتته الركعات كلها اوبعضها لكن بعد اقتدائه بعذر كغفلة وزحمة وسبق حدث ......وكذا بلاعذربان سبق امامه....الخ (درمختار ج:۲ص:۵۹۴باب الامامة مطلب فى احكام المسبوق والمدرک واللاحق)

[3] (فان سها المؤتم)حالة اقتدائه لم يلزم الامام ولاالمؤتم السجود لانه اذا سجد وحده كان مخالفا لامامه ،وان تابعه الامام ينلقب الاصل متبعًا قيدنا بحالة الاقتداء لان المسبوق اذاسها فيما يقضه يسجدله (اللباب فى شرح الكتاب ج:۱ص:۱۰۳سهوالامام)۔

[4] ان سلم قبل تسليم الامام وسلم معًا لايلزمه ......وان سلم بعد تسليم الامام لزمه ......الخ(بدائع الصنائع ج:۱ص:۱۷۶)۔

جواب: د امام د فراغت نه وروسته چې کوم رکعتونه مسبوق ادا کوي، په هغو کې نوموړی دیوازې لمونځ کونکي(منفرد) په حکم کې دی، په دې وجه که په هغو کې داسې غلطي وشي چې په هغې سره سجده سهوه لازمیږي نو سجده سهوه واجب ده [۱]

په هیره د امام سره سلام اړونکی که فوراً سجده سهوه وکړي نو څه حکم دی؟

سوال: ما په امام پسې لمونځ کاو؛ خو په لومړي رکعت کې شامل نه شوم، د سلام اړولو په وخت ما هم سلام واړولو خو فوراً رایاد شو :نوما سجده سهوه اوکړه او پورته کیدو سره مې یو رکعت وکړ او سلام مې واړولو .آیا په دې طریقې سره زما لمونځ صحیح شو؟ که په کوم رکعت کې غلطي وشي: نو په هماغه رکعت کې سجده سهوه کولو کې څه بدي خو نه شته؟

جواب: که په هیره امام سره سلام واړوي او فوراً ورته رایاد شي چې زما رکعت پاتې دی: نو په دې سره به سجده سهوه واجب نه وي[۲] ،سجده سهوه همیشه په آخري رکعت کې کیږي.په کوم رکعت کې چې غلطي شوي وي،په هماغه رکعت کې یې ادا کول صحیح نه دي. [۳]

که یو رکعت یې زیات وکړ نو آیا سجده سهوې سره به لمونځ صحیح شي؟

سوال: د ماښام په فرض لمانځه کې امام صاحب د درې رکعتو په ځای څلور وکړل.سلام اړولو نه وروسته خلکو وویل: څلور رکعته وشو امام صاحب سجده سهوه وکړه او لمونځ یې ختم کړ او ویې ویل: کومو خلکو چې خبرې کړې وي، هغوی دې دوهم ځل لمونځ وکړي، دپاتې تولو لمونځ وشو،سره له دې چې امام صاحب کله څلورم رکعت ته پورته شه؛ نو مقتدیانو فتحه(لقمه) هم ورکړې وه،مقتدیانو امام صاحب ته د لمانځه ددوباره کولو له پاره وویل؛خو امام صاحب راضي نه شو او ویې ویل چې لمونځ وشو،په دې طریقې سره تقریبا نیمو لمونځ کونکو دوباره جمعه وکړه، نیم د امام صاحب په خبره باندې پاتې شو چې لمونځ وشو،امام صاحب دوباره لمونځ ونه کړ.اوس تاسو دا واضح کړئ چې لمونځ شوی دی او که نه؟ په دې

---

[۱] والمسبوق یسجدلسهوه فیما یقضی الصلاة (فتاوی عالمگیری ج:۱ص:۱۲۹،الباب الثانی عشرفی سجودالسهو) وایضًا:ولوسها المسبوق فیمایقضیه سجدله ای لسهوه ایضًا ولایجزیه سجوده مع الامام (مراقی الفلاح علی هامش الطحطاوی ص:۲۵۳ کتاب الصلاة باب سجودالسهو ،طبع میرمحمدکتب خانه ،ایضًا :فتاوی شامی ج:۲ ص:۸۳،۸۲باب سجودالسهو)۔

[۲] وان سلم (ای المسبوق) مع الامام مقارنًا له اوقبله ساهیًا فلاسهوعلیه لانه فی حال اقتدائه .وان سلم بعده یلزمه السهو لانه منفرد (مراقی الفلاح علی هامش الطحطاوی ص:۲۵۳ باب سجودالسهو)ایضًا :المسبوق یتبع امامه ......فان سلم مع الامام فان کان عامداً فسدت صلاته والالا (ردالمحتار ج:۲ص:۸۲باب سجودالسهو)۔

[۳] لان سجودالسهو آخر عن محل النقصان بالاجماع وانما کان لمعنی ذلک المعنی یقتضی التاخیر عن السلام (بدائع الصنائع ج:۱ص:۱۷۳فصل فی بیان محل سجودالسهو)۔

وجه که لمونځ شوی وي: نو کومو خلکو چې دوباره لمونځ کړی دی. د هغوی له پاره څه حکم دی؟ او کومو خلکو چې نه دی کړی. د هغوی له پاره څه حکم دی؟

جواب: که امام صاحب په دريم رکعت کې په التحيات ناست و او د سلام اړولو په ځای څلورم رکعت ته پورته شوی وي: نو سجده سهوې کولو سره د هغه او کومو مقتديانو چې خبرې نه وي کړي د هغوی لمونځ وشو[1]. او که په دريم رکعت کې ناست نه و، بلکې نېغ پورته شوی و: نو د هيچا لمونځ هم نه دی شوی. دوباره کول يې ضروري دي[2]

درې رکعته فرض لمونځ په هيره سره څلور رکعته ادا کول

سوال: د ماښام د لمانځه په آخری رکعت کې امام صاحب په (التحيات) ناست و. د وروسته نه يو مقتدي (سبحان الله) ووېل او په دې باندې امام صاحب ناست و. بيا يو بل مقتدي (سبحان الله) ووېل او په دې سره امام صاحب پورته شو او څلورم رکعت پوره کولو سره يې سجده سهوه وکړه او بيا يې سلام واړولو. د ځينې خلکو د قول مطابق درې رکعته فرض ادا شو او يو زياتې رکعت باطل شو: خو د ځينې مقتديانو خيال دی چې لمونځ دوباره کول پکار دي: ځکه چې آخري قعده فرض ده.

جواب: په آخري قعده کې د تشهد په مقدار کيناستل فرض دي که آخري قعده بالکل پاتې شي يا د تشهد په اندازه کينې: نو د فرض د نه ادا کيدو په وجه به لمونځ فاسد شي، اعاده به يې ضروري وي[3] کله چې د دويم مقتدي په (سبحان الله) ويلو باندې امام صاحب پورته شو: نو که هغه د هغه وخته پورې د تشهد په مقدار ناست و: نو بيا خو د سجده سهوې ادا کولو نه وروسته د ماښام درې رکعته فرض ادا شو او که امام صاحب د تشهد لوستلو په مقدار نه و ناست، بلکې د دې نه مخکې ودريده: نو د سجده سهوې باوجود د ماښام لمونځ فاسد شو. دا لمونځ به بيا راګرځول کيږي، خو شوی څلور رکعته لمونځ به نفل شي[4]

---

[1] وان قعدفی الرابعة مثلاً قدر التشهد ثم قام عادوسلم صح (قوله مثلاً) ای اوقعد فی ثالثه الثلاثی اوفی ثانیه الثنائی (حاشیه الطحطاوی علی الدرالمختار ج:۱ص:۳۱۴باب سجودالسهو)۔

[2] وانما تجب الاعادة اذاترک واجباً عمداً جبراً لنقصانه (البحرالرائق ج: ۲ص:۲۶۱باب سجودالسهو)۔

[3] ومنهامن الفرائض الصلوة القعود الاخیرمقدار التشهد...... والقعدة الاخیر فرض فی الفرض والتطوع حتی لوصلی رکعتین ولم یقعدفی آخرهما وقام ذهب تفسد صلاته کذا فی الخلاصة ...... الخ (عالمگیری ج:۱ ص:۷۱، الباب الرابع فی صفة الصلوة الفصل الاول فی الفرائض الصلاة)۔

[4] ولوسهاعن القعود الاخیر کله اوبعضه عادمالم یقیدها بسجدة ...... وسجدللسهو لتاخیر القعودوان قیدها بسجدة تحول فرضه نفلاً برفعه ...... وان قعده فی الرابعة مثلاً قدرالتشهدثم قام عاد وسلم ...... وان سجد للخامسة سلمواوضم الیه السادسة ...... لتصیر الرکعتان له نفلاً وسجد للسهو(تنویرالابصارمع الدرمختار ج:۲ ص:۸۵،۸۷باب سجودالسهو)۔ وفی الطحطاوی علی الدرالمختار،باب سجودالسهو (ج:۱ص:۳۱۴ طبع رشیدیه) (قوله مثلاً)ای وقعدفی ثالثه الثلاثی اوثانیه الثنائی۔

د څلورو رکعتو په ځای پنځه رکعته کونکی به سجده سهوه څنګه کوي؟

سوال: که څوک د څلورو رکعتو په ځای پنځه رکعته وکړي او په آخر کې یې سجده سهوه وکړه ؛نو لمونځ یې وشو او که بیا یې راګرځول ضروري دي؟

جواب: که د پنځم رکعت د سجدې نه مخکې ورته رایاد شي؛ نو فوراً دې په قعده کیني او سجده سهوه دې اوکړي، لمونځ یې وشو؛خو که هغه وخت ورته رایاد شو چې د پنځم رکعت سجده یې کړې وه ؛نو یو رکعت بل یو ځای کولو سره دې شپږ رکعتونه پوره کړي، اوس که د څلورم رکعت نه وروسته یې قعده کړې وه؛ نو بیا خو د هغه فرض ادا شو ګني دا شپږ رکعته نفل شو فرض به دوباره کوي خو په دواړو صورتونو کې به سجده سهوه کوي.[۱]

که په غلطي سره پنځه رکعتونه وکړي نو آیا په سجده سهوې سره به صحیح شي

سوال: دماسپښین په فرض لمانځه کې امام په غلطي سره پنځه رکعتونه وکړل، د سلام د اړولو نه وروسته امام وفرمایل چې لمونځ به دوباره کیږي، حالانکې ما آوریدلې دي چې پنځه رکعتونه په غلطي سره وکړل شي اوپه آخرکې سجده سهوه وکړل شي؛ نو لمونځ صحیح کیږي.

جواب: که په څلورم رکعت باندې کیناست او د پنځم له پاره ودریده؛ نو بیا خوبه د سجده سهوې په کولو سره لمونځ کیږي او که چیرې په څلورم رکعت باندې یې آخرې قعده ونه کړه او پنځم رکعت د پاره ودریده او د پنځم رکعت سجده یې هم وکړه؛ نو فرض لمونځ به بلکل باطلیږي،اوس به د ده له پاره دوباره لمونځ کول ضروري وي، په دې صورت کې سجده سهوه کول کافي نه دي.[۲]

---

[۱] رجل صلی الظهر خمسًا وقعدفی الرابعة قدرالتشهد ان تذکر قبل ان یقید الخامسةبالسجدة انهاخامسة عادالی القعدة وسلم ویسجد للسهو وان تذکر بعد ما قید الخامسة بالسجدة انها الخامسة لایعودالی القعدة ولایسلم بل یضیف الیها رکعة آخری حتی یصیرشفعًا ویتشهد ویسلم ویسجدللسهو....... وان لم یقعدعلی راس الرابعةحتی قام الی الخامسة ان تذکر قبل ان یقیدالخامسة عادالی القعدة هکذا فی المحیط ...... وان قید الخامسة بالسجدة فسد ظهره عندناکذا فی المحیط...... وتحولت صلاته نفلاًعندابی حنیفة وابی یوسف رحمهماالله تعالی (عالمګیری ج:۱ص:۱۲۹الباب الثانی عشرفی سجودالسهو)۔

[۲] رجل صلی الظهر خمسًا وقعدفی الرابعة قدرالتشهد ان تذکر قبل ان یقید الخامسةبالسجدة انهاخامسة عادالی القعدة وسلم ویسجد للسهو وان تذکر بعد ما قید الخامسة بالسجدة انها الخامسة لایعودالی القعدة ولایسلم بل یضیف الیها رکعة اخری حتی یصیرشفعًا ویتشهد ویسلم ویسجدللسهو...... وان لم یقعدعلی راس الرابعةحتی قام الی الخامسة ان تذکر قبل ان یقیدالخامسة عادالی القعدة هکذا فی المحیط ...... وان قید الخامسة بالسجدة فسد ظهره عندناکذا فی المحیط...... وتحولت صلاته نفلاًعندابی حنیفة وابی یوسف رحمهماالله تعالی (عالمګیری ج:۱ص:۱۲۹الباب الثانی عشرفی سجودالسهو)۔

که امام د اختر تکبیرات زیات یا کم ولوستل؛ نو سجده سهوه به کوي

سوال: د اختر په لمانځه کې زائد شپږ تکبیرونه ،که امام اووه یا اته تکبیرونه وویل. یا د امام نه په اول یا په دویم رکعت کې زائد شپږ تکبیرونه پاتې شي: نو څه کول پکار دي؟

جواب: په دواړوصورتونوکې سجده سهوه واجب ده[1]:خوکه چیرې مجمع زیاته وي اوپه سجده سهوې کولوسره دمقتدیانوپه لمونځونو کې د فساد راتللو ویره وي: نو سجده سهوه دې نه کوي.[2]

په جمعه او اخترونو کې د سجده سهوې نه کولو گنجائش شته

سوال: د جمعې دلمانځه په آخري رکعت کې مولوی صاحب د التحیات نه وروسته الله اکبر ویلو سره دوباره ودریده او تقریبا دوه یا یو نیم منټ پوري نیغ دریدو نه وروسته فورا کیناست او ددې نه پس یې سلام واړولو؛ خو سجده سهوه یې ونه کړه، بیا خپله مولوي صاحب دا اعلان وکړ چې موږ په آخري رکعت کې التحیات لوستلي وه،په دې وجه سجده سهوه لازم نه ده.او د جمعې په لمانځهٔ کې اگر که فرض یا واجب پاتې شي، نه لمونځ دوباره کول پکار دي او نه سجده سهوه کول پکار دي. آیا دا مسئله صحیح ده؟

جواب: په آخري رکعت کې التحیات لوستلو نه وروسته که ودریږي: نو سجده سهوه لازمیږي:[3]خو د جمعې او اخترونو په لمانځه کې که مجمع زیاته وي او په سجده سهوه کولو سره لمونځ کونکو ته د پریشاني ویره وي؛ نو سجده سهوه نه کول غوره دي[4]او د مولوي صاحب دا وینا چې د جمعې په لمانځه کې اگر که فرض پاتې شی د لمونځ راگرځول ضروري نه

---

[1] والسهو یلزم ای یجب ......اذا زاد فی صلوته فعلاً من جنسها لیس منها ...... اوترک فعلاً مسنونًا ای واجبًا عرف وجوبه بالسنة اوترک ...... تکبیرات العیدین اوبعضها اوتکبیرة الرکعة الثانیة منهما (اللباب فی شرح الکتاب ج۱، ص۱۰۲، ۱۰۳، باب سجود السهود، طبع قدیمی) ایضاً: (قوله او تکبیرات العیدین) او البعض لانه واجب وکذا اذاترک تکبیرة الرکوع من صلوة العید یجب السهو (الجوهرة النیره ج:۱ص:۹۲باب سجودالسهو)

[2] السهو فی العیدین والجمعة والمکتوبة والتطوع واجب الاان مشایخنا قالوا لایسجدللسهو فی العیدین والجمعة لئلایقع الناس فی الفتنة (عالمگیری ج:۱ص:۱۲۸الباب الثانی عشرفی سجودالسهو)

[3] ولایجب السجودالابترک واجب اوتاخیره اوتاخیر رکن اوتقدیمه ...... الخ (فتاوی عالمگیری ج:۱ص:۱۲۶باب سجودالسهو) ایضًا :وان قعدالاخیر ثم قام عادوسلم من غیراعادة التشهد ...... وسجدللسهو (مراقی الفلاح مع حاشیه طحطاوی ص:۴۷۰ باب سجودالسهو)۔

[4] ان مشایخنا قالوا لایسجدللسهوفی العیدین والجمعة لئلایقع الناس فی فتنة کذا فی المضمرات (عالمگیری ج:۱ص: ۱۲۸ ایضًا ولایاتی الامام بسجودالسهو فی الجمعة والعیدین دفعاً للفتنة بکثرة الجماعة ۰ ۰حاشیة طحطاوی مع مراقی الفلاح باب سجودالسهو ص:۴۶۶،۴۶۵طبع قدیمی)۔

دي غلطه ده او د واجب ویه پریښودو باندې سجده سهوه لازمیږي.خوجمعه او اخترونوکې که مجمع زیاته وي: نوسجده سهوه دې نه کوي

که په فرضوکې ورته رایاد شي چې په سنتو کې سجده سهوه کول و ؛ نو اوس به څه کوي؟

سوال: که څوک دماسپښین لمونځ یوازې کوي او څلور سنت وکړي او په هغو کې داسې غلطي وکړي چې په هغې سره سجده سهوه واجب شي او سجده سهوه کول ترې هیر شي اوس څلور رکعته فرض هم شروع کړي د فرضو په دویم رکعت کې ورته رایاد شو چې سجده سهوه ترې په سنتو کې هیره شوې ده؛ نو آیا دا څلور سنت به د فرضو نه وروسته کوي یا به د فرضو په دویم رکعت کې سلام اړوي او بیا به څلور رکعته سنت کوي او ددې نه وروسته څلور فرض او بیا به لمونځ پوره کړي؟

جواب: فرض لمونځ دې پوره کړي وروستني دوه سنت دې هم وکړي بیا دې هغه څلور رکعته را وګرځوي.[1]

نفل لمونځ یې په ناسته شروع کړ بیاودرید ؛ نو سجده سهوه پرې نه شته

سوال: د نفل لمونځ نیت یې په ناسته وتاړه،د سورت فاتحې نه وروسته ورته رایاد شو چې ثواب به نیم ملاویږي او پورته شو او سورت لوستلو سره یې رکوع وکړه یا یو رکعت په ناسته کولو نه وروسته یې خیال راغی؛ نو دویم رکعت یې په ولاړه وکړ،د داسې سړي له پاره څه حکم دی آیا سجده سهوه به کوي اوکه لمونځ به دوباره راګرځوي؟

جواب: کوم صورت چې تاسو لیکلی دی هغه په اتفاق سره جائز دی،[2]په دې وجه نه سجده سهوه لازمه ده او نه د لمونځ راګرځول،ددې په خلاف نفل لمونځ په ولاړه شروع کول او په ناسته ختمول د امام ابوحنیفهرحمه الله په نزد جائز دي او د امام ابویوسفرحمه الله او امام محمدرحمه الله په نزد جائز نه دي.[3]

سجده سهوه کله پورې کیږي؟

سوال: په لمانځه کې د غلطي په صورت کې سجده سهوه کول وي،اکثر رانه هیره شي سلام

---

[1] (ولها واجبات) لاتفسدبترکها، وتعاد وجوبًا فی العمد والسهوان لم یسجد...... قوله (وتعادوجوبًا) ای بترک هذه الواجبات او واحد منها (قوله :ان لم یسجدله) ای للسهو، وهذا قید لقوله والسهو،اذ لاسجودفی العمد (ردالمحتارعلی الدرالمختار ج:۱ ص:۴۵۶ کتاب الصلوة ،مطلب واجبات الصلاة)_

[2]]ولو افتتح التطوع قاعدًا فادی بعضها قاعدًا وبعضها قائمًا اجزائه ......الخ (بدائع ج:۱ ص:۲۹۸)_

[3]] ولو افتتح التطوع قائمًا ثم اراد ان یقعدمن غیر عذر فله ذلک عندابی حنیفة استحسانًا وعندابی یوسف ومحمدلایجوز(بدائع الصنائع ج:۱ص:۲۹۷فصل فی بیان مایفارق التطوع الفرض فیه)_

اړولو ته نژدې رایاد شي هغه وخت په سوچ کې پریوځم چې سجده سهوه وکړم او که نه؟ خو په دې سوچ باندې سجده سهوه وکړم چې دنه کولو نه یې کول غوره دي، تاسو دا بیان کړئ که بالکل هیره شي اوددواړو سلامونو اړولو نه وروسته رایاد شي: نو څه کول پکار دي؟ څکه سجده سهوه کول هیر شو

جواب: په لمانځه کې دننه چې کله هم رایاد شي سجده سهوه دې وکړل شي. او د سلام اړولو نه وروسته چې څوې د قبلې په طرف ناست وي او یو داسې کار یې هم نه وي کړی چې په هغه سره لمونځ ماتیږي هغه وخته پورې سجده سهوه کیږي[1] سجده سهوه کولو نه وروسته دې دوباره التحیات وغیره لوستلو سره سلام واړول شي[2] او که د سلام اړولو نه وروسته یې یو داسې کار وکړ چې په هغه سره لمونځ ماتیږي: نو د لمونځ دوباره راګرځول واجب دي [3]

دواړو طرفوته د سلام اړولو نه وروسته هم سجده سهوه کیږي

سوال: په لمانځه کې دواړو طرفوته د سلام کولونه وروسته سجده سهوه کولوسره لمونځ کیږي او که نه؟

جواب: که چیرې یې په هیره سره دواړو طرفونو ته سلام ګرځولی وي: نو سجده سهوه کیږي. په دې شرط چې د خپل ځای نه نه وي خوځېدلی.[4]

که د درود شریف دلوستلو په وخت کې سجده سهوه یاده شي؛ نو کله به سجده سهوه کوي

سوال: د لمونځ په کتاب کې د سجده سهوې طریقه لیکل شوې ده چې که په لمونځ کې څه غلطي راشي؛ نودلمانځه په آخرکې به د التحیات د لوستلو نه وروسته یو طرف ته سلام وګرځوي او دوه سجدې به وکړي او که چیرې د لمانځه په آخر کې سجده سهوه کول هیرشي، د درود شریف لوستلو په وخت یا د درود شریف نه وروسته ددعا د لوستلو په وخت سجده سهوه یاده شي: نو په دې صورت کې آیا التحیات لوستلو نه وروسته سجده سهوه کیږي؟ او بل دا

---

[1]]ویسجدللسهو ولومع سلامه ناویًا للقطع مالم یتحول عن القبلة اویتکلم لبطلان التحریمة (ردالمحتار ج:۲ ص:۹۱ کتاب الصلاة باب سجودالسهو)۔

[2]]وکیفیته ان یکبربعد سلامه الاول ویخر ساجدًا ویسبح فی سجوده ثم یفعل ثانیًا کذالک ثم یتشهد ثانیًا ثم یسلم ،کذا فی المحیط (فتاوی عالمگیری ج:۱ص: ۱۲۵ کتاب الصلاة الباب الثانی عشرفی سجودالسهو)۔

[3]] ویسجد لسهو ...... مالم یتحول عن القبلة اویتکلم لبطلان التحریمة (قوله لبطلان التحریمة) ای بالتحول اوالتکلم وقیل ...... اویخرج من المسجد (ردالمحتار علی الدرالمختار ج: ۲ص:۹۱باب سجودالسهو)۔

[4]] ویسجد للسهو ولومع سلامه ناویًا للقطع مالم یتحول عن القبلة اویتکلم لبطلان التحریمة ......الخ (درمختارج:۲ص:۹۱ کتاب الصلاة باب سجودالسهو)

چې پوره درود شریف یا د پوره دعا لوستلو نه وروسته سجده سهوه کول یا په مینځ کې چې کوم وخت هم یاد شي په دغه وخت سجده سهوه کول دي؟
جواب: کله چې وریاد شي سلام دې وارَوي او دوباره دې التحیات، درود شریف او دعا دې ووایي او سلام دې وارَوي[1]

د الحمد په ځای التحیات ویل او لمونځ پوره کول، که د وترو په دوو رکعتو باندې یې سلام وګرځاو؛ نو آیا په سجده سهوې سره لمونځ کیږي؟

سوال: زه په سفر کې وم، ما د ماسخوتن په لمانځه کې قصر وکړ. بیا مې دوه رکعته سنت شروع کړل، په دویم رکعت کې د الحمد په ځای د التحیات د دعا د لوستلو په وخت راته یاد شو چې دا خوغلطي وشوه. سوچ مې وکړ چې لمونځ پوره کړم؛ نو بیا به سجده سهوه وکړم. خو سجده سهوه مې هم هیره شوه. لمونځ مې پوره کړ. بیا مې درې رکعته وتر شروع کړل، په دویم رکعت کې یاد شو چې په سنتو کې سجده سهوه هیره شوې وه، په دې وجه هغه لمونځ به مې په نیشت حساب شي، لهذا ددې وترو په دویم رکعت مې سلام وګرځولو چې دا دوه رکعته به د سنتو بدل جوړ شي، ددینه وروسته مې بیا له سره درې رکعته وتر پوره کړل، سوال دادی چې که چیرې ما د سنتو د دویم رکعت په قعده کې سجده سهوه کړې وه؛ نو آیا لمونځ به شوی و؟ یا د الحمد د نه لوستلو په وجه لمونځ د سجده سهوې نه کولو باوجود صحیح کیده؟ دویم سوال دادی چې ما د لمونځ په مینځ کې وترو ته په دې دوو رکعتو سنتو بدل کړ؛ نو هغه صحیح شو که غلط؟

جواب: د سنت لمونځ (او دنفلو) په ټولو رکعتونو کې قراءت فرض دی، که چیرې دې په هیره سره التحیات شروع کړ او بیا د یادیدو په وجه سورة فاتحه او ددې سره یو سورت ولوست او رکوع دې وکړه؛ نو د سجده سهوې کولو نه پرته به ستا لمونځ صحیح کیږي، په تا باندې سجده سهوه کول واجب نه دي[2] او که چیرې التحیات ولوستلو او رکوع ته لاړې، قراءت دې پریښود؛ نو ستا لمونځ نه صحیح کیږي، ځکه چې د لمونځ فرض (یعني قراءت) ستا نه پاتې

---

[1] ومحله بعدالسلام سواء کان من زیادة اونقصان (عالمگیری ج:١ص:١٢٥)ایضًا: وکیفیته ان یکبربعد سلامه الاول ویخر ساجدًا ویسبح فی سجوده ثم یفعل ثانیًا کذالک ثم یتشهد ثانیًا ثم یسلم ،کذا فی المحیط (فتاوی عالمگیری ج:١ص: ١٢٥ کتاب الصلاة الباب الثانی عشرفی سجودالسهو)۔

[2] ولوقرأ التشهد فی القیام ان کان فی الرکعة الاولی لایلزمه شیء وان کان فی الرکعة الثانیة اختلف المشائخ فیه والصحیح انه لایجب کذافی الظهریة ولوتشهد فی قیامه قبل قراۃ الفاتحة فلاسهوعلیه ......الخ (فتاوی عالمگیری ج:١ص:١٢٧ الباب الثانی عشر فی سجودالسهو) ؛ ایضًا: (وکل النفل والوتر)ای القراۃ فرض فی جمیع رکعات النفل والوتر ......الخ (البحرالرائق ج: ٢ص: ٦٠)

شو[۱] او که چیرې د لمونځ واجب پاتې شي: نو د دې پوره والي په سجده سهوې سره کیږي. که فرض پاتې شي: نو د دې پوره والي په سجده سهوې سره نه کیږي. بیا تا چې د وترو په لمونځ کې په دوو رکعتونو باندې سلام وګرځولو: نو تا ته داسې کول نه و پکار. چونکې تا لمونځ مات کړ په دې وجه سنت اداء نه شو

❖ د مسافر لمونځ ❖

....

په څومره فاصله کې دقصر لمونځ کیږي؟

سوال: د قصر دلمانځه له پاره درې منزله کیدل ضروري دي. یومنزل د څومره کلومیتریا میل برابر وي؟

جواب: د مختار قول مطابق یو منزل (۱۲) میله او درې منزله د (۴۸) اته څلویښت میله برابر وي او (۴۸) میله (۷۷) کلو میټر جوړیږي.[۲]

د لمانځه د قصر رعایت تر قیامته پورې دی

سوال: آیا د قصر دلمانځه رعایت یوازې د لومړي وختونو له پاره و، کله به چې خلکو پیدل سفر کاوو یا اوس هم دی؟

جواب: قصر یوازې د لومړي زمانې له پاره نه و، بلکې تر قیامته پورې دی.[۳]

---

[۱] فان کان المتروک فرضًا تفسد الصلاة وان کان واجبًا لاتفسد ولکن تنتقص وتدخل فی حد الکراهة ......الخ (بدائع الصنائع ج:۱ص:۱٦۷کتاب الصلاة فصل فی بیان ان المتروک ساهیًا هل یقضی ام لا)۔ ولایجب السجود الابترک واجب اوتاخیره...اوتغیره واجب...الخ (فتاوی عالمگیری ج:۱ص:۱۲٦،الباب الثانی عشرفی سجودالسهو)

[۲] قال فی النهایة التقدیربثلاث مراحل قریب من التقدیر بثلاثة ایام لان المعتاد من الیسیر فی کل یوم مرحلة واحدة خصوصًا فی اقصر ایام السنة کذافی المبسوط (ردالمحتار ج:۲ ص:۱۲۳باب الصلاة المسافر ،طبع سعید)۔ په فتاوی رشیدیه کې دي: سوال: په څومره سفرکې دقصرلمونځ کول پکاردي داحادیث صیحیحه وو مطابق ؟ جواب: څلور بریده دکوم چې شپاړس شپاړس میله درے منزله وي حدیث دموطاامام مالک نه ثابت دے مګردمقداردمیلونومختلف دی لهذا درې منزله جامع ټولواقوال ته دے(فتاوی رشیدیه تالیف حضرت ګنګوهی رحمه الله :شامله په تالیفات رشیدیه باندې ص:۳۵۸طبع اداره اسلامیات لاهور)

[۳] عن ابن عباس رضی الله عنهما قال :ان الله تعالی فرض الصلوة علی لسان نبیکم علی المسافر رکعتین وعلی المقیم اربعًا وفی الخوف رکعة(صحیح مسلم ج:۱ص:۲٤۱)۔ایضًا: عن عائشة رضی الله عنها قالت فرض الله الصلاة حین فرضها رکعتین رکعتین فی الحضر والسفر،فاقرت صلاة المسافر،وزیدت فی صلاة الحضر (صحیح البخاری ج:۱ص:۵۱کتاب الصلاة باب کیف)۔

د سفر حد (اندازه) څومره ده؟

سوال: د سفر حد څومره مقرر دی؟ او آیا سفر کې به قضا فرض لمونځونه هم نیم نیم اداء کیږي؟
جواب: د سفر حد (۴۸) میله دی[1] او د سفر قضاء لمونځونه به هم نیم نیم اداء کیږي.[2]

د قصر لمانځه له پاره د سفر اندازه څومره ده؟

سوال: د سفر مقرر حد څومره دی چې د هغه نه وروسته د سفر لمونځ قصر اداء کیږي. یعنې د څلورو فرضو په ځای دوه فرض اداء کیږي؟ او که چیرې په سفر کې فرض لمونځ په جماعت سره اداء کیږي؛ نو څومره فرض به اداء کیږي؟ د سفر په لمانځه کې پوره رکعتونه یعنې پوره لمونځ به اداء کیږي یا یوازې فرض لمونځ؟ تر څو ورځو پورې چې قیام وي بیا پوره لمونځ نه شي اداء کولی؟ ددې په باره کې څه حکم دی؟
جواب: د سفر لمونځ د (۴۸) میله پورې کیږي، یعنې چې سړی خپل کلی پریږدي او د (۴۸) میله لرې اراده ولري؛ نو قصر دی[3] په سفر کې که چیرې جمعې سره لمونځ کیږي: نو قصر به وي، خو که چیرې لمونځ ورکونکی مقیم وي؛ نو شاته مسافر به هم پوره لمونځ کوي[4]

د سفر په دوران کې لمونځونه وروسته کول او په کور کې یې په اطمینان سره کول

سوال: آیا د سفر په دوران کې لمونځونه وروسته کول او کور ته چې ورسیږي او په اطمینان سره ټول یوځای کول صحیح دي؟

---

[1] قال فی النهایة التقدیربثلاث مراحل قریب من التقدیر بثلاثة ایام لان المعتاد من الیسیر فی کل یوم مرحلة واحدة خصوصًا فی اقصر ایام السنة کذاف المبسوط (ردالمحتار ج: ۲ ص: ۱۲۳ باب الصلاة المسافر ،طبع سعید) په فتاوی رشیدیه کې دي: سوال: په څومره سفرکې دقصرلمونځ کول پکاردي دسهي حدیثونو مطابق؟ جواب: څلور بریده دکوم چې شپاړس شپاړس میله درې منزله وي حدیث دموطاامام مالک نه ثابت دي مګر د دمیلونو مقدار مختلف دي لهذا درې منزله جامع ټولواقوالو ته دي (فتاوی رشیدیه تالیف حضرت ګنګوهي رحمه الله: مشتمله په تالیفات رشیدیه باندې ص: ۳۵۸ طبع اداره اسلامیات لاهور)
[2] (والقضاء یحکی) ای یشابه الاداء سفراً وحضراً لانه بعدماتقررلایتغیر (قوله والقضاء) ای فلوفاتته صلوة المسافروقضاها فی الحضر یقضیهامقصورة کمالو اداها (فتاوی شامی ج: ۲ ص: ۱۳۵ باب صلاة المسافر)
[3] من خرج من عمارة موضع اقامته قاصدًا مسیرة ثلاثة ایام ولیالیها بالسیر الوسط مع الاستراحات المعتادة من اقصر ایام السنة.....صلی الفرض الرباعی رکعتین حتی یدخل موضع مقامه (درمختار ج: ۲ ص: ۱۲۱ باب صلاة المسافرایضًا فتاوی قاضیخان ج: ۱ ص: ۱۶٤ باب صلاة المسافر)
[4] وان اقتدی مسافربمقیم اتم اربعًا......الخ (عالمگیری ج: ۱ ص: ۱٤۲ ،الباب الخامس عشرفی صلاة المسافر) ایضًا: واماقتداء المسافربالمقیم فی الوقت اتم اربعًا (الهدایة ج: ۱ ص: ۱٦٦ باب صلاة المسافرطبع شرکت علمیه)

جواب: دا جائز نه دي؛ بلکې د سفر لمونځ په سفر کې کول پکار دي[1] که چیرې اوبه پیدا نه کړې ؛نو تیمم دې وکړي[2]

یوځوک د کور نه د وتلو په وخت مسافر کیږي یا چې استیشن ته ورسیږي؟

سوال: آیا که یوځوک له کور نه ووځي؛ نو انسان مسافر کیږي یا چې استیشن ته ورسیږي؟ لکه د ښار استیشن او د کینټ استیشن یا د ښار نه د وتلو نه وروسته؟

جواب: کله چې سړی د خپل کلي د حدودو نه بهر ووځي نو هلته مسافر کیږي. تر څو پورې چې د خپل ښار په حدوودو کې دننه وي تر هغه پورې به مقیم وي مسافر به نه وي. استیشن چې که د آبادي نه بهروي؛ نو لکه څنګه چې د کراچۍ استیشن دی؛ نو هلته به سړی مقیم وي مسافر به نه وي[3]

په ښار کې په موټر کې دوه رکعته کول

سوال: ځینې حضرات لیدل شوي دي چې دوه، دوه نیمې بجې د کور نه ووځي او د ماسپښین لمونځ په استیشن یا موټر کې اداء کوي، یوازې دوه رکعته لمونځ کوي. آیا داسې کول صحیح دي؟

جواب: موټر چې کله د ښار نه بهر ووځي؛نو په هغه وخت کې مسافر وي. په ښار کې دننه په استیشن یا موټر کې دوه رکعته کول غلط دي[4]

مسافر به د ښار د ابادۍ نه وتلو سره قصر کوي

سوال: یو مسافر چې د یوموټر په ذریعه سفر کوي هغه موټر څه وخت وروسته وتونکی یا روان شوی دی، خو هغه تر اوسه پورې اته څلویښت میله (۴۸) مزل نه دی کړی په دې وخت کې که د لمانځه وخت راشي؛ نو ایا دا لمونځ به هم قصر کوي؟

---

[1] عن ابن مسعودرضی الله عنه :والذی لااله الاغیره ! ماصلی رسول الله صلی الله علیه وسلم صلاة فقط الاوقتها......الخ (ادلة الحنفیة ص:۱۱۹ ،باب لایجمع بین صلاتین) ۔ ایضًا عن عبدالله قال: مارایت النبی صلی الله علیه وسلم صلی صلاة لغیرمیقاتها ......الخ (بخاری ج:۱ص:۲۸۸کتاب المناسک ،باب متی یصلی الفجربجمع ،ایضًا :صحیح مسلم کتاب الحج طبع قدیمی)

[2] وان کنتم مرضی اوعلی سفراوجآء احدمنکم من الغآئط او لمستم النسآء فلم تجدوا مآء فتیمموا صعیدًا طیبًا فامسحوا بوجوهکم وایدیکم منه (المائدہ:٦) ایضًا:ومن عجز عن استعماله لبعده میلاً...... تیمم لهذه الاعذارکلها (ردالمحتارج:۱ص:۲۳٦،۲۳۲باب التیمم)

[3] فلایصیرمسافراً قبل ان یفارق عمران ماخرج منه من الجانب الذی خرج منه حتی لوکان ثمة محلة منفصلة عن المصر وقدکانت متصلة به لایصیرمسافراً مالم یجاوزها ولوجاوز العمران من جهة خروجه وکان بحذائه محلة من الجانب الآخریصیرمسافرًا ......الخ (حلبی کبیر ج: ۱ص:۵۳٦فصل فی صلوة المسافر)

[4] ثم المعتبر المجاوزة من الجانب الذی خرج منه حتی لوجاوزعمران المصر قصر(عالمگیری ج:۱ص:۱۳۹، کتاب الصلاة الباب الخامس عشرفی صلاة المسافر)

جواب: کله چې مسافر (۴۸) میله یا د دې نه د زیاتې فاصلې د سفر نیت کولو سره د خپل ښار د ابادۍ نه ووځي؛ نو قصر شروع شي [۱]

د قصر لمانځه له پاره د کومې لارې اعتبار دی

سوال: زموږ د کلي نه پیښور ښار ته درې لارې دي. یوه لاره اته څلویښت میله ده کومه چې د سړک او سورلۍ ده او همېشه موږ (۴۸) میله والا لار باندې د پیښور ته خو او بله لار د څلویښت میله سورلۍ لار ده او دریمه لار (۳۵) میله پیاده ده. کله چې زه په (۴۸) میله لار باندې پیښور ته ځم؛ نو ماته د قصر لمانځه حکم دی یا د دویمې لارې حکم دی؟ قصر لمونځ کوم یا پوره لمونځ ادا کوم؟ شرعي حکم بیان کړئ!

جواب: په کومه لار چې سفر وکړل شي د هغې اعتبار دی. که هغه (۴۸) میل وي :نو قصر لازم دی اګر که بله لار د هغې نه د کمې فاصلې وي [۲]

که د ښار یوه لنډه لاره وي او بله اوږده وي نو د قصر له پاره به د مسافې اعتبار وي

سوال: دخرم زئي او د کوئټې په مینځ کې دوه لارې دي، یوه لاره د (۷۸) کلو میټره فاصله کې ده او بله لاره (۴۵) یا (۵۰) کلو میټره فاصله کې ده، موږ چې کله د (۷۸) کلو میټره فاصله باندې سفر کوو؛ نو قصر لمونځ کوو او کله چې موږ د (۴۵یا د ۵۰) کلو میټره فاصلې باندې سفر کوو: نو موږ ته پوره لمونځ کول پکار دي او که قصر؟

جواب: په کومه لاره چې تلل وي د هغې اعتبار به وي، که چیرې هغه د سفر مسافت وي: نو قصر کوئ، کنه؛ نو مه یې کوئ! [۳]

که چیرې چا د اته څلویښت میل نه په کمه لاره سفر شروع کړ او په لاره کې یې د اوږد سفر اراده وکړه؛ نو قصر به کوي

سوال: یو سړی د (۴۸) میل نه په کمې لارې باندې سفر شروع کړ او دیرش یا څلویښت میله

---

[۱] ومن خرج من عمارة موضع اقامته من جانب خروجه وان لم يجاوز من الجانب الآخر قاصدًا مسيرة ثلاثة ايام ولياليها من اقصرايام السنة ......صلى الفرض الرباعى ركعتين وجوبًا لقول ابن عباس رضى الله عنهما ان الله فرض على لسان نبيكم صلاة المقيم اربعًا والمسافر ركعتين وفى الشامية:(قوله من جانب خروجه الخ) قال فى شرح المنية :فلايصيرمسافراً قبل ان يفارق عمران ماخرج منه من الجانب الذى خرج......الخ (ردالمحتارعلى الدرالمختار ج:۱ص:۱۲۳،۱۲۱كتاب الصلاة ،باب صلاة المسافر،طبع ايچ ايم سعيد)۔

[۲] فاذا قصدبلدة والى مقصده طريقان احدهما ثلاثة ايام ولياليها والآخر دونها فسلک الطريق الابعدكان مسافراً عندنا وان سلک الاقصريتم(عالمگيرى ج:۱ص:۱۳۸كتاب الصلاة الباب الخامس عشرفى صلاة المسافر)

[۳] فاذاقصد بلدة والى مقصده طريقان احدهما مسيرة ثلاثة ايام ولياليها والآخردونها فسلک الطريق الابعد كان مسافرًا عندنا وان سلک الاقصر يتم كذا فى البحر الرائق۔ (عالمگيرى ج:۱ص:۱۳۸ كتاب الصلاة الباب الخامس عشرفى صلاة المسافر)

وروسته یې اراده د شپیته میله لاره باندې د سفر کولو شوه. اوس چې دی لمونځ کوي: نو قصر به کوي اوکه پوره لمونځ به کوي؟

جواب: د سفر په دوران کې که چیرې دده اراده بدله شي: نو هغه به مسافر وي. د ارادې د بدلیدو نه وروسته به هغه قصر کوي.[1]

ټول کال سفر کونکی ډریور به همیشه قصر کوي

سوال: دلته سعوي عرب کې د یوې ټریلې ډریور کال دولس میاشتې په سفر وي. مثلاً که نن د کراچۍ نه لاهور ته ورسیږي او سبا د لاهور نه کراچۍ ته روان شي: نو ایا په دې صورت کې چې هغه ټول کال په سفر کې وي، لمونځ به پوره کوي اوکه قصربه کوي؟

جواب: کله چې د خپل کور نه بهر وي: نو قصر لمونځ به کوي.[2]

سل میله سفر کولو نه وروسته فورا بیرته راتلونکی به لمونځ قصر ادا کوي که پوره؟

سوال: یو سړی سل میله لرې مثلا د تفتان نه نوکنډې ته (۱۰۰) میله لاړشي. یعنې د خپل ښار نه بل ښار ته د ضروري کار له پاره: نو په درې ګنټو کې واپس رارسیږي. د ماسپښین لمونځ په لاره کې یا په هغه مذکوره ښار کې ادا کوي. د مازدیګر د لمانځه په وخت بیرته خپل ښار یا کلي ته رارسیږي. پوښتنه دا ده چې هغه به د ماسپښین لمونځ سفرانه کوي اوکه پوره؟

جواب: د ماسپښین د لمانځه وخت یې په سفر کې دی، له دې وجې به قصر کوي.[3]

ایا د ښار نه اویا کلو میټره لرې د ټرک ډریور به مسافر وي؟

سوال: زه د شګې (باجرۍ) ټرک چلوم او په سپر هائی وے روډ باندې تقریبا اویا کلو میټره لرې تلو سره باجري راوړم. که زه هلته نهر ته ورسیږم او د لمانځه وخت شي: نو ایا زه به لمونځ قصر کوم یا پوره لمونځ کوم او الله مه کړه که قضاء شي: نو واپس راتلو سره د سفر قضاء قصرکوم اوکه پوره؟

---

[1] من خرج من عمارة موضوع اقامته قاصداً مسيرة ثلاثة ايام ولياليها (تنويرالابصار)وفى الشامية قوله قاصدًا اشاربه مع قوله خرج الى انه لوخرج ولم يقصد اوقصد ولم يخرج لايكون مسافرًا وفى البحر واشاربه الى ان النية لابد ان تكون قبل الصلاة (ردالمحتارمع الدرالمختار ج:۲ ص:۱۲۲باب صلاة المسافر.طبع سعيد)

[2] ولايزال على حكم السفرحتى ينوى الاقامة فى بلدة اوقرية خمسة عشرة يوماً اواكثر(عالمگيرى ج:۱ص: ۱۳۹ كتاب الصلاة الباب الخامس عشرفى صلاة المسافرطبع رشيديه)

[3] قال :ومن مسافرآخر الوقت قبل ان يصلى، صلى صلاة مسافر، ولوقدم مسافرآخرالوقت قبل ان يصلى صلى صلاة مقيم (شرح مختصر الطحاوى ج:۲ص:۹۹باب صلاة المسافر)

جواب: که تاسو د کراچۍ د حدود ختمیدو نه وروسته (۴۸) کلو میټره یا د دې نه زیات لرې ځئ؛ نو قصر لمونځ به کوئ د سفر قضاء شوی لمونځ که په کور کې ادا کوئ؛ نو بیا به هم قصر کوئ[1] خو او یا کلو میټره د قصر فاصله نه ده له دې وجې به تاسو هلته پوره لمونځ کوئ!

د ریلوې د ملازم مسافر لمونځ

سوال: زه په ریلوې کې ملازم یم زما ډیوټي (دنده) د ټرین سره وي، زه د کراچۍ نه کوئټې ته موټر سره ځم د کوئټې نه کراچۍ بیا د کراچۍ نه سکهر او واپس د کراچۍ نه سرګودها ته ځم. په دې طریقه زما د ډیوټي چکر راځي، زما رهائش او خاندان په کراچۍ کې دی. اوس سوال دا دی چې ما ته د سفر دوران کې د قصر لمونځ کول پکار دي یا پوره لمونځ کول پکار دي، سره له دې چې په موټر کې ما ته پوره سهولتونه حاصل دي. اسپیشل کمره ما سره ده چې په هغې کې ایر کنډیشن دی، زه او زما عمله پوره لمونځ کوو. تاسو د قرآن او سنت په رڼا کې جواب راکړئ چې مونږ قصر لمونځ وکړو او که پوره؟ الله پاک دې تاسو ته دخیر بدله درکړي.

جواب: د کراچۍ نه بهر سفر دوران کې به تاسو قصر کوئ[2] او کراچۍ راتلو سره به پوره لمونځ کوئ[3] ستاسو سفر اګر که د ډیوټي (وظیفې) په حیثیت دی: خو د سفر احکام پرې جاري دي.

کوم ځای چې د انسان جایداد او کور نه وي هغه د هغه اصلي وطن نه دی

سوال: زما د پلار نیکه کلی د حیدر آباد نه (۱۵۰) کلو میټره لرې دی، په کلي کې زما دوه وروڼه او د کورنۍ نور خلک هم اوسیږي، د کورنۍ قبرستان هم په دې کلي کې دی، زما سرکاري ملازمت زیاتر په حیدر آباد کې پاتې شوی دی، د ماشومانو تعلیم مې هم زیات په حیدر آباد کې شوی دی، یو دوه ماشومان اوس هم په حیدر آباد کې سبق وايي. بلکې یو دوه بچیو ملازمت مې هم په حیدر آباد کې دی، په حقیقت کې د ملازمت په زمانه کې ما خپله کوټه په حیدر آباد کې جوړه کړې وه او د پنشن (تقاعد) اخیستو نه وروسته مې خپله استوګنه (رهائش) په حیدر آباد کې قائمه کړې ده. بلکې، د کر ځمکه مې هم تقاعد اخیستو نه وروسته حیدر آباد ته نژدې اخیستې ده، مطلب دا چې مستقل طور سره اوسیدل مې په حیدر آباد کې اختیار کړی دی. ښادي غم او د کورنۍ په معاملاتو کې مې د کلي سره تعلق قائم ساتلی دی او اکثر کور ته ځم راځم. اوس پوښتنه داده:

---

[1]]فلو فاتته صلوة المسافروقضاها فى الحضر يقضيها مقصورة كمالوٲداها......الخ(شامى ج:۲ص:۱۳۵)۔

[2]]من خرج من عمارة موضوع اقامته قاصداً مسيرة ثلاثة ايام ولياليها (تنويرالابصار) وفى الشامية قوله قاصدًا اشاربه مع قوله خرج الى انه لوخرج ولم يقصد اوقصد ولم يخرج لايكون مسافرًا ٠وفى البحر واشاربه الى ان النية لابد ان تكون قبل الصلاة (ردالمحتارمع الدرالمختارج:۲ص:۱۲۲باب صلاة المسافر،طبع سعيد)۔

[3]]وكذا اذاعاد من سفره الى مصره لم يتم حتى يدخل العمران ...... الخ (عالمگيرى ج:۱ص:۱۳۹،الباب الخامس عشرفى صلاة المسافر)۔

(الف) که زه یا زما بچیو کې څوک کلي ته ځي: نو کلي ته تلو راتلو لار کې به کوم لمونځ کوو قصر او که پوره؟

(ب) که په کلي کې پوره لمونځ کول وي او د کلي نه یو خوا بل خوا، ۵۰۰، میله د ننه تګ راتګ راشي نو هلته به کوم لمونځ کوو قصر او که پوره؟

جواب: ستاسو کلي چونکې د حیدر آباد نه (۱۵۰) کلو میټره لرې دی، په دې وجه هلته تلو سره به تاسو په لار کې قصر کوئ اصل سوال دا دی چې کلي ته رسیدو سره به تاسو مسافر یئ یا مقیم؟ او هلته به قصر کوئ که نه پوره لمونځ؟ ددې جواب دا دی چونکې تاسو هلته اوسیدل ترک کړي دي، نه هلته ستاسو کور شته او نه سامان، په دې وجه هغه ستاسو وطن اصلي نه دی، هلته تاسو مسافر یئ او قصر به کوئ.[۱]

په کوم ښار کې چې کور په کرایه وي یا خپل وي هلته رسیدو سره مسافر مقیم جوړیږي

سوال: زموږ یو مستقل کور په صوبه سرحد کې دی او یو مستقل کور مو په کراچۍ کې دی او که موږ د سرحد نه کراچۍ ته د څه کار له پاره راځو او په کراچۍ کې مو د پنځلسو ورځو نه د کم اوسیدو اراده وي: نو آیا قصر لمونځ به کوو که پوره؟

(الف) کله چې کور د کرایې وي (ب) کله چې کور خپل وي؟

جواب: کراچۍ ستاسو وطن اقامت دی، څو پورې چې ستاسو په کراچۍ کې د اوسیدو اراده ده او هلته مو د کرایې له پاره کور اخستی دی، ترهغه وخته به تاسو کراچۍ ته د راتلو سره مقیم شئ او تاسو له پاره به پنځلس ورځې دلته د اوسیدو نیت کول ضروري نه وي، په دې صورت کې به تاسو دلته پوره لمونځ کوئ، او کله چې تاسو د کراچۍ نه خپله استوګنه ختمولو سره ددې ځای نه خپل سامان منتقل کړئ اود کرایې کورهم پرېږدئ. هغه وخت به کراچۍ ستاسو د اقامت وطن نه وي، بیا که چېرته کراچۍ ته راتګ وي: نو که د پنځلسو ورځو د قیام نیت وي؛ نو تاسو به دلته مقیم یئ او که د پنځلسو ورځو نه د کم وخت تیرولو نیت مو وي: نو بیا به مسافر یئ.

لنډه دا چې څو پورې ستاسو دلته د کرایې کور وي او ترڅو پورې چې دلته ستاسو سامان وي او ستاسو نیت وي چې تاسو به واپس راتلو سره دلته اوسیږئ، ترهغه پورې دا ستاسو د اقامت وطن دی.[۲]

---

[۱] ویبطل الوطن الاصلی بالوطن الاصلی اذا انتقل عن الاول باهله..الخ (عالمگیری ج:۱ ص:۱۴۲ صلاة المسافر)

[۲] الوطن الاصلی هوموطن ولادته اوتاهله اوتوطنه یبطل بمثله اذالم یبق له بالاول اهل فلوبقی لم یبطل بل یتم فیهما ای بمجرد الدخول وان لم ینو اقامة ......الخ (شامی ج:۲ ص:۱۳۲ صلاة المسافر)

د یوې هفتې پاتې کیدو په نیت له خپل کوره شپیته میله لرې سړی دې لمونځ قصر کوي

سوال: زه د نوکرۍ له پاره له کور نه زیاتر بهر یم او منزل مو اکثر پنځوس شپیته میله نه زیات وي.او زه همیشه د یوې هفتې نیت کولو سره د کورنه ځم او هره پانشنبه (زیارت) بیرته راځم،په دې ځایونو کې قصر لمونځ پکار دی که پوره؟

جواب: د ملازمت په ځای کې که د پنځلسو ورځو نیت وکړئ ؛نو بیا به تاسو هلته مقیم یئ ګڼي مسافر،[1]تاسو لمونځ په جومات کې په جمعه کوئ چې د قصر سوال پیدا نه شي[2]. په هر حال که د یوازې لمانځه ضرورت راشي: نو قصر کوئ!

چې استوګنه یې بل چېرته وي او د مور پلار ملاقات ته راشي؛ نو کوم لمونځ به کوي؟

سوال: مسئله دقصر دلمانځه ده، زما مورو پلار دلته په چکوال کې اوسیږي. خو زه له څه وخت په کوئټه (بلوچستان) کې د خپل مشر رور سره مقیم یم. اوس که زه د هفتې یا لسو ورځو له پاره خپل مور پلار کره راشم؛ نو آیا قصر لمونځ به کوم؟

جواب: که تاسو په کوئټه کې مستقل رهائش اختیار کړی وي او چکوال خپل وطن نه ګڼئ؛ نو تاسو په چکوال کې قصر لمونځ کوئ په دې شرط چې هلته مو د پنځلسو ورځو نیت نه وي.[3]

د کوئټې نه چکوال ته د یوې نیمې میاشتې له پاره تلونکی که له هغه ځای نه د درې یا څلورورځو له پاره لاهور ته لاړشي؛ نو قصر دې کوي

سوال: مسئله دا ده چې زه دلته د پنځلسو ورځو نه زیات تقریبا د یوې نیمې میاشتې له پاره

---

[1] وان نوى الاقامة اقل من خمسة عشريومًا قصر (عالمگيرى ج:١ص:١٣٩كتاب الصلاة، الباب الخامس عشر فى صلاة المسافرطبع رشيديه كوئته)۔

[2] وان اقتدى مسافربمقيم اتم اربعًا ......الخ (عالمگيرى ج:١ص:١٤٢كتاب الصلاة الباب الخامس عشر)۔

[3] الوطن الاصلى يبطل بمثله فلوكان له ابو ان ببلد غيره مولده وهو بالغ ولم يتاهل به فليس ذلك وطنًا له الا اذاعزم على القرار فيه وترك الوطن الذى كان قبله (شامى ج:٢ص:١٣٣باب الصلاة المسافر)، ايضًا :والوطن الاصلى هو وطن الانسان فى بلدة اوبلدة اخرى اتخذها دارًا، او توطن بها مع اهله وولده وليس من قصده الارتحال عنها ،بل التعيش بها، وهذا الوطن يبطل بمثله لاغير ،وهو ان يتوطن فى بلدة اخرى وينتقل الاهل اليها ،فيخرج الاول من يكون وطنًا اصليًا حتى لودخل مسافرًا لايتم قيدنا بكونه انتقل عن الاول باهله لانه لولم ينتقل بهم ،ولكنه استحدث اهلاً فى بلدة اخرى ،فان الاول لم يبطل ويتم فيها (البحرالرائق ج:٢ص:١٤٧،باب المسافر،طبع درالمعرفة،بيروت)

(کوئټې نه چکوال) ته راغلی یم، او پوره لمونځ کوم:خو د درې ځلورو ورځو له پاره د لاهور (چکوال) نه تلل پیښ شو، ما په لاهورکې تقریبا قصر لمونځونه ادا کړل. آیا دا صحیح ده؟ که نه وي نو څه کفاره ده؟

جواب: کله چې تاسو د چکوال نه لاهور ته لاړئ نو په لاهور کې مسافر وې په دې وجه قصر کول پکار و، په دې وجه تاسو صحیح کړي دي.[1]

یوځای کې درې نیمې میاشتې تیرونکی به څومره لمونځ کوي؟

سوال: یو سوال دا دی چې موږ د کوئټې نه د پنجاب یو کلي ته لاړو. هلته موږ درې نیمې میاشتې تیرې کړې، نو آیا په دې دوران کې موږ ته پوره لمونځ کول پکار و او که قصر؟

جواب: که سړی په یوځای کې د پنځلسو ورځو ایساریدو نیت وکړي: نو مقیم کیږي. په دې صورت کې پوره لمونځ کول ضروري دي. د سفر لمونځ نه شي کولی.[2]

د کراچۍ اوسیدونکی چې په میر پور کې اته ورځې اوسیدو سره کراچۍ ته راشي؛ نو هلته به څومره لمونځ کوي؟

سوال: زما د کراچۍ نه میر پور ته د غیرمعیني مودې له پاره تبدلي شوې ده. زما کور او اهل په کراچۍ کې دي، زه هره هفته په پابندي سره کراچۍ ته راځم. زه په میر پور کې د یکشنبې نه تر چارشنبې پورې یم، او د پانشنبې په ورځ کراچۍ ته راځم. زه دا معلوموم چې

۱: ماته قصر لمونځ کوم ځای کې ادا کول پکار دي؟

۲: یا ماته په دواړو ځایونو کې پوره لمونځ ادا کول پکار دي؟

۳: په ماښام او ماسخوتن کې ټول څومره قصر رکعتونه وي.

جواب: کراچۍ خو ستاسو وطن دی، دلته به تاسو په هر حال کې پوره لمونځ کوئ. په میر پور کې که ستاسو قیام یو ځل پنځلس ورځې یا د دې نه د زیات اقامت په نیت سره وشي: نو تاسو به هلته مقیم شئ[3]، او ترڅو چې مو هلته ملازمت وي هلته تلو سره مقیم کیږئ، که هلته د پنځلس ورځو قیام حاجت نه راځي؛ نو تاسو هلته مسافر یئ، قصر به کوئ. ماسپښین، مازدیګر او ماسخوتن کې د قصر دوه دوه رکعتونه دي. د سحر دوه او د ماښام درې رکعتونه

---

[1] من خرج من موضع اقامته قاصدًا مسيرة ثلاثة ايام ولياليهامن اقصر ايام السنة ......صلى الفرض الرباعى ركعتين (درمختار ج:٢ص:١٢١باب صلاة المسافر)

[2] ولايزال على حكم السفرحتى ينوى الاقامة فى بلدة اوقرية خمسة عشراواكثر(عالمگيرى ج:٢ص:١٣٩. الباب الخامس عشرفصل فى صلاة المسافر)

[3] واما فى غيروطنه فلا يصير مقيما الا بنية الاقامة واقل الاقامة عندنا خمسة عشر يوما...الخ (حلبى كبير ج١. ص٥٣٩ فصل فى صلاة المسافر)

په سفر کې هماغه شان وي، د وترو به درې رکعتونه په سفر کې ادا کول وي.[1]

د کراچۍ اوسېدونکی که په حیدرآباد کې ملازمت کوي؛ نو آیا قصر به کوي؟

سوال: تاسو ته درخواست دی چې زما په یو مسئله کې تشفي وکړئ. زما مستقل ملازمت نن سبا په حیدرآباد کې دی او زما مستقل رهائش په کراچۍ کې دی. په هفته کې یو ځل او کله دوه ځله کراچۍ ته ځم، لهذا زه به پوره لمونځونه چېرته ادا کوم؟ او قصر لمونځونه چېرته؟ ځکه چې نن سبا زه په دواړو ځایونو کې پوره لمونځونه ادا کوم.

جواب: په کراچۍ کې ستاسو استوګنه ده. په دې وجه دا خو ستاسو وطن اصلي دی، او هلته راتلو سره به تاسو پوره لمونځ کوئ، په حیدرآباد کې ستاسو ملازمت دی. که تاسو یوځل مسلسل پنځلس ورځې پاتې کیږئ؛ نو هلته به هم مقیم شئ، او ترڅو چې ستاسو هلته ملازمت وي، هلته رسیدو سره به مقیم کیږئ.[2]

د کور نه سل میله لرې شپږ ورځې اوسېدونکی به څومره لمونځ کوي؟

سوال: زه د نوکري په سلسله کې هره هفته د خپل کلي نه سل میله لرې ځم، او د پنشنبې (زیارت) په ورځ بیرته خپل کلي ته راځم، آیا زه قصر لمونځ وکړم او که نه؟ ځیني ملګري وایي چې ته خپل کور ته باقاعده واپس راځې او د نوکرۍ په ځای کې یوازې شپږ ورځې د هفتې نه تر زیارته اوسیږې، په دې وجه ته هلته دی په ځای کې مسافر یې، او د قصر لمونځ (دوه رکعته) فرض لمونځ ادا کوئ.

جواب: که تاسو په یو ځل د ملازمت په ځای کې پنځلس ورځې مسلسل د اوسیدو نیت وکړئ؛ نو ته به هلته مقیم شې، د دې نه وروسته چې ترڅو ستاسو هلته ملازمت وي چې کله هم هغه ځای ته ځې، نو مقیم به یئ، او پوره لمونځ به کوئ، خو ترڅو پورې چې تاسو پنځلس ورځې قیام نه کوئ، هلته به مسافر یئ.[3]

د سفر په دوران کې به لمونځ پوره کیږي او که قصر؟

سوال: ماښام تقریبا پنځه بجې موږ د نوري آباد نه کراچۍ ته روان شو، او د نوري آباد نه

---

[1] اصلی الفرض الرباعی رکعتین حتی یدخل موضع مقامه اوینوی اقامة نصف شهر بموضع صالح لها فیقصر لها ان نوی اقل منها ......الخ (تنویرالابصارمع الدرالمختار ج:٢ص:١٢٣، ١٢٨باب صلاة المسافر،ایضًا تبیین الحقائق ج:١ص:٥٠٩، ٥١٣باب صلاة المسافرطبع دارلکتب العلمیه)

[2] واماف غیروطنه فلایصیرمقیماً الابنیة الاقامة واقل الاقامة عندناخمسة عشریومًا......الخ(حلبی کبیر ج:١ ص:٥٣٩ فصل فی صلاة المسافر،طبع سهیل اکیدمی لاهور)

[3] ایضاً _

پنځوس کلومیټره (یو دیرش میله) لرې د سفر په دوران کې د ماز دیګر لمونځ کوو. د ماز دیګر لمونځ هم مونږ قصر ادا کولی شو او که پوره ادا کول غواړې حال دا چې کله کله د ماز دیګر وخت (٣٠ ٥) هم وي

جواب: ددې حکم هماغه دی کوم چې پورته ولیکل شو ځکه چې که د کراچۍ د آبادۍ نه د وتلو نه وروسته د نوري آباد پورې فاصله د سفر مقدار جوړیږي؛ نو تاسو به په لاره باندې تلو راتلو کې هم مسافر یئ، او که په لاره کې یو لمونځ کوئ نو هغه به هم قصر کوئ. او که د هغه ځای نه هغه ځای پورې فاصله د سفر نه وي: نو تاسو به په لاره کې هم مقیم یئ او پوره لمونځ به کوئ.

د حیدرآباد نه نوري آباد ته د نوکرۍ له پاره راتلونکی به هلته پوره لمونځ کوي

سوال: زما سوال دا دی چې ماته د نوکرۍ په سلسله کې روزانه د حیدرآباد نه نوري آباد پورې تلل راتلل وي، چې د حیدرآباد نه تقریبا اویا کلومیټره فاصله کې دی. پوښتنه داده چې ماته په نوري آباد کې قصر لمونځ کول پکار دي که پوره؟

جواب: پوره لمونځ کوئ![1]

د سفر په دوران کې د لمانځه مسائل

سوال: مونږ په نوري آباد کې نوکري کوو او روزانه د نوري آباد نه کراچۍ ته او د کراچۍ نه نوري آباد ته د بس په ذریعه سفر کوو او د ماسپښین لمونځ اکثر په فیکټرۍ کې ادا کوو چې د کراچۍ نه تقریبا (١٠٠) کلومیټره (٦٢میل) لرې ده، آیا مونږ د ماسپښین لمونځ قصر ادا کولی شو او که پوره لمونځ ادا کړو؟

جواب: د سفر فاصله د خپل ښار نه د وتلو نه وروسته شروع کیږي؛ نو که د کراچۍ د آبادۍ نه بهر وتلو نه وروسته د نوري آباد فاصله د سفر فاصله وي: نو تاسو به په نوري آباد کې مسافر یئ، او هلته به قصر لمونځ کوئ (یوازې په سړکونو لیکل شویو میلونو ته مه ګورئ) او که د کراچۍ د آبادۍ نه د وتلو نه وروسته د نوري آباد فاصله د سفر فاصله نه وي؛ نو تاسو به هلته مقیم یئ پوره لمونځ به کوئ. [2]

[1] ولابد للمسافر من قصدمسافة مقدرة بثلاثة ايام حتى يترخص المسافرين......الخ (عالمگیری ج:١ ص:١٣٩، كتاب الصلاة ،الباب الخامس عشرفى صلاة المسافر،طبع رشيديه كوئته)

[2] ثم المعتبرة المجاوزة من الجانب الذى خرج منه حتى لوجاز عمران المصر قصر......ولابدللمسافرمن قصد مسافة مقدرة بثلاثة ايام حتى يترخص برخصة المسافرين ......الخ (عالمگیری ج:١ ص:١٣٩، كتاب الصلاة، الباب الخامس عشرفى صلاة المسافر،طبع رشيديه كوئته)

په نوري اباد فیکټرۍ کې پاتې کیدونکي د کراچۍ اوسیدونکي به څومره لمونځ کوي؟

سوال: زموږ څه ملګري داسې هم دي چې هغوی د هفتې په ورځ فیکټرۍ ته راځي او بیا پوره هفته همدلته په فیکټرۍ کې قیام کوي او بیا د هفتې په ورځ بیرته کراچۍ ته لاړ شي. یعنې هغوی پوره هفته دلته قیام کوي، د هغوی له پاره د قصر د لمانځه په باره کې څه حکم دی؟

جواب: د هغوی حکم هماغه دی کوم چې د روزانه راتلونکو دی، خو که نوري اباد د کراچۍ نه د سفر په فاصله باندې واقع وي او څه خلک هلته پنځلس ورځې قیام کولو سره مقیم شي: نو ترڅو پورې چې د هغوی هلته ملازمت وي، هلته تلو سره به مقیم کیږي او پوره لمونځ به کوي[1]، خو په لاره کې تلو راتلو سره به مسافر وي.

سوال: د مازدیګر لمونځ چې د ګرمۍ په ورځو کې د نوري آباد نه کراچۍ ته ځو: نو د نوري آباد نه څلور شپیته کلومیټره لرې تقریبا (۴۰) میله، د کراچۍ نه شپږ دیرش کلومیټره تقریبا دوویشت میله، په فاصله باندې یې د سفر په دوران کې ادا کوو په دې صورت کې به لمونځ قصر ادا کول وي که پوره به ادا کول وي؟

جواب: د دې جواب پورته ذکر شو.

په یو وخت دوه ښارونو کې مقیم به څنګه قصر لمونځ کوي؟

سوال: زما مستقل رهائش په سمندري کې دی، چې د فیصل آباد نه (۳۰) میله لرې دی. په فیصل آباد کې مستقل ملازمت کوم او د ملازمت له وجې فیصل آباد د استوګنې ځای ګڼم. د سفر دوران کې به د قصر لمونځ له پاره کوم یو ښار مخې ته ساتو، مستقل خانداني رهائش یا کوم ځای کې چې ملازمت کوم؟

جواب: د دواړو اعتبار به وي، د کوم ښار نه چې تاسو سفرشروع کوئ د هغه ځای به هم اود دویم به هم، د مثال په ډول تاسو د فیصل آباد نه سرګودها طرف ته سفر کوئ: نو که هغه ځای د فیصل آباد نه (۴۸) میله لرې وي، هلته به تاسو مسافر یئ او که تاسو د فیصل آباد نه ټوبه یا ګوجره طرف ته سفر شروع کړئ؛ نو سمندري ته راتلو سره به تاسو مقیم شئ، اوس که مخکې ځای د سمندري نه (۴۸) میله لرې وي؛ نو تاسو به مسافر شئ ګڼي نه، همدغه شان که تاسو د سمندري نه سرګودهې طرف ته تلل غواړئ په لار کې فیصل آباد راځي تاسو به هلته رسیدو سره مقیم شئ، اوس که د دې نه مخکې فاصله (۴۸) میله وي؛ نو تاسو به مسافر یئ، ګڼي نه[2]

---

[1] ولایزال علی حکم السفرحتی ینوی الاقامة فی بلدة اوقریة خمسة عشریومًا اواکثر (عالمګیری ج:۱ص:۱۳۹ کتاب الصلاة الباب الخامس عشرفی صلاة المسافر، طبع رشیدیه کوئټه)

[2] ولابد للمسافر من قصدمسافة مقدرة بثلاثة ایام حتی یترخص برخصة.. [بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

مسافر که نژدې نژدې مختلفو ځايونو کې اوسيږي بيا به هم قصر کوي

سوال: (الف) زيد د کراچۍ نه پيښور ته لاړ او په پيښور کې يې د پنځويشت ورځو د استوګنې اراده وکړه: خو په مختلفو ځايونو باندې دوه درې ورځې اوسيدل دي، په کومو مختلفو مقامونو چې اوسيږي هغه نژدې نژدې دي يو فرلانګ يا نيم فرلانګ لرې لرې مختلفو کليو کې، آيا هغه به لمونځ پوره کوي؟

سوال: (ب) عمرو پيښور نه کراچۍ ته راغی او د پنځلسو ورځو نه زيات کراچۍ کې اوسيږي؛ خو دوه ورځې په ناظم آباد کې درې ورځې په ټاور کې او درې ورځې په کيماړۍ کې يا ددې نه لږ لرې يا ددې نه هم نژدې نژدې ځايونو کې اوسيږي، ايا پوره لمونځ به کوي؟

جواب: مسافر چې کله په يو معلوم ځای (کلي يا ښار) کې پنځلس ورځې يا ددې نه د زياتو ورځو تيرولو نيت وکړي: نو هغه مقيم شي او د هغه په ذمه پوره لمونځ کول ضروري دي او که په يو ځای کې يې د اوسيدو نيت ونه کړ: نو هماغه شان به مسافر اوسيږي[۱] او قصر لمونځ به کوي[۲]، په سوال کې ذکر شوي لومړي صورت کې به هغه مسافر وي، ځکه چې نيت د هغه په يو ځای د پاتې کيدونه دی، بلکې په مختلفو ځايونو باندې د پاتې کيدو دی، اګر که په دې ځايونوکې زياته فاصله نه وي او په دويم صورت کې به هغه مقيم وي: ځکه چې د کراچۍ پوره ښار يو دی، ددې په مختلفو علاقو کې اوسيدو سره هغه په يو ښار کې دی.

ښځه او سړی به په خپله خسرګنۍ کې مقيم وي که مسافر؟

سوال: سړی چې کله خپلې خسرګنۍ کره لاړ شي؛ نو ايا هلته به د سفر لمونځ ادا کوي؟ او که ښځه د خپل مور و پلار کره لاړه شي: نو ايا هغه هم مسافره ده او که مقيمه؟

جواب: د سړي خسرګنۍ که د سفر په فاصله وي: نو نوموړی هلته مسافر دی او د ښځې که رخصت (واده) شوی وي او هغه خپل مورو پلار سره ملاقات ته راځي: نو هغه به هلته مسافره وي چې د هغې نيت هلته د پنځلسو ورځو د پاتې کيدو نه وي.[۳]

...بقيه د تيرمخ]..المسافرين والا لايترخص ابداً (فتاوٰی عالمگيری ج:۱ص:۱۳۹،الباب الخامس عشرفی صلاة المسافرطبع رشيديه کوئته) ايضًا : وتعتبرالمدة من ای الطريق اخذفيه کذافی البحرالرائق ٠ايضا (ج:۱ ص:۱۳۸طبع دارالمعرفة بيروت)_

[۱] ولايزال علی حکم السفرحتی ينوی الاقامة فی بلدة اوقرية خمسة عشريوماً اواکثر(عالمگيری ج:۱ص:۱۳۹ کتاب الصلاة ،الباب الخامس عشرفی صلاة المسافر،طبع رشيديه کوئته)_

[۲] ولونوی الاقامة خمسة عشريومًافی موضعين فان کان کل منهما اصلاًبنفسه نحومکة ومنی والکوفة والحميرة لايصيرمقيمًا......الخ (عالمگيری ج:۱ص:۱٤٠کتاب الصلاة الباب الخامس عشرفی صلاة المسافر)_

[۳] ثم المعتبرفی السفروالاقامة نية الاصل دون التبع کالخليفة والاميرمع الجند والزوج مع زوجته ......الخ (شرح حلبی کبيرص:۵٤۱فصل فی صلاة المسافرطبع لاهور)_

میرمن به د پلار په کور کې قصر لمونځ کوي که پوره؟

سوال: زما مور وپلار په مورو سندهـ کې اوسیږي او زما کور په کراچۍ کې دی. لهذا ستاسو نه پوښتنه داده چې کله زه د کراچۍ نه د هفتې یا لسو ورځو له پاره مورو ته د خپل مور وپلار کور ته راځم؛ نو د ځلور فرض به دوه کوم او که پوره ځلور به کوم؟ ځکه چې دا هم زما د مورو پلار کور دی، دویمه خبره داده چې زما خاوند هم چې ماسره راشي؛ نو هغه به قصر کوي او که د خسرګنۍ له وجې به پوره لمونځ کوي؟

جواب: د واده نه وروسته د انجیلۍ له پاره د خاوند کور د هغې وطن دی، د مور وپلار کور د هغې وطن نه پاتې کیږي. له دې وجې چې کله تاسو مورو پلار کره ځئ؛ نو که هلته مو نیت د پنځلسو ورځو نه د زیاتو تیرولو وي؛ نو بیا پوره لمونځ کوئ، ګني قصر کوئ. ستاسو د خاوند هم که د پنځلسو ورځو نه دکم اوسیدو نیت وي؛ نو هغه به هم هلته مسافر وي.[1]

د واده کړې هلک مستقل استوګنه به کومه حسابیږي؟

سوال: ویل کیږي چې د هلک کور د واده نه مخکې د مورو پلار وي او د واده نه وروسته هغه ځای حسابیږي چیرته چې د هغه ښځه وي، که په داسې صورت کې دا دوه کورونه په دوو مختلفو ښارونو کې وي: نو د دې هلک استوګنه به له کوم یو ځای نه حسابیږي؟

جواب: چیرته چې هغه مستقل د استوګنې اراده کړې وي.[2]

له بچیو سره په بل ښار کې د اوسیدونکي د لمانځه حکم

سوال: خپلو بچیو سره په بل ښار کې اوسیدونکی به د قصر لمونځ په کوم کور کې ادا کوي، د مور وپلار په کور کې او که نه؟

جواب: که د مور وپلار کور یې د همیشه له پاره پریښی وي؛ نو دلته به مسافر وي او که هغه یې مستقل ډول د پریښودو اراده نه وي کړې؛ نو په دواړو ځایونو کې به مقیم وي او پوره لمونځ به کوي.[3]

---

[1] الوطن الاصلی یبطل بمثله وفی الشامیة فلوکان له ابوان یبلدغیرمولده وهوبالغ ولم یتاهل به فلیس ذلک وطناً له الااذا عزم علی القرار فیه وترک الوطن الذی کان له قبله ......الخ (شامی ج:۲ص:۱۳۲باب الصلاة المسافر)

[2] الوطن الاصلی یبطل بمثله وفی الشامیة فلوکان له ابوان یبلدغیرمولده وهوبالغ ولم یتاهل به فلیس ذلک وطناً له الااذا عزم علی القرار فیه وترک الوطن الذی کان له قبله ......الخ (شامی ج:۲ص:۱۳۲باب الصلاة المسافر)

[3] الوطن الاصلی یبطل بمثله اذالم یبق له بالاول اهل فلوبقی لم یبطل بل یتم فیهما ای بمجرد الدخول وان لم ینو اقامة (شامی ج:۲ص:۱۳۲کتاب الصلاة باب صلاة المسافر طبع ایچ ایم سعید)

شپږ پنځوس (٥٦) میله لرې د پنځلس ورځو نه د کم اوسیدونکي د لمانځه حکم

سوال: زه د خپل ښار نه تقریبا شپږ پنځوس میله لرې د بل ښار په کالج کې پروفیسر یم، هره هفته باقاعده د پانشنبې (زیارت) په ورځ کور ته راځم او د هفتې په ورځ بیرته کالج ته تلو سره پنځه ورځې تیروم، په دې ورځو کې کله کله د جمعې د لمانځه نه پاتې شم: نو خپل لمونځ قصر ادا کوم، ایا ماته د قصر اجازه شته او که نه؟ په دې کالج کې مې د اووه کلونو راهیسې ملازمت دی؟

جواب: که یو ځل د خپل کالج والا ښار کې پنځلس ورځې تیرې کړئ؛ نو د هغه نه وروسته چې مو ترڅو پورې په هغه کالج کې ملازمت وي هلته به پوره لمونځ کوئ، خو که د پنځلس ورځو قیام موقع رانغله: نو تاسو هلته مسافر یئ. [١]

په هاسټل کې اوسېدونکی طالب علم به هلته څو رکعته لمونځ کوي او کورکې به څو رکعته کوي؟

سوال: زه په مهربان پوهنتون (یونیورسټي)، جامشورو کې تعلیم حاصلوم، زما کلی له دې ځای نه یو کم پنځوس میله لیرې دی، زه په هاسټل کې اوسیږم او د هرې پانشنبې (زیارت) په ورځ کورته راځم، همدغه راز زما د کلي نه لیرې د پنځلسو ورځونه کم قیام دی، سوال دا دی چې ما ته دسفر لمونځ کول پکار دي او که پوره؟ او یاده دې وي چې په هفته کې کور کې یوه شپه کوم.

جواب: که تاسو یو ځل په هاسټل کې د پنځلسو ورځو نیت وکړئ: نو هاسټل به ستاسو د اقامت وطن جوړشي او څو پورې چې تاسو د طالب علم په حیثیت هلته مقیم یئ هلته به پوره لمونځ کوئ، او که تاسو هلته یو ځل هم د پنځلسو ورځو قیام نه دی کړی؛ نو تاسو هلته مسافر یئ او قصر به کوئ او په کورکې خوبه تاسو په هرحال کې پوره لمونځ کوئ، اګر که د یوې ګنټې له پاره راغلی یې. [٢]

---

[١]]ووطن الاقامة وهوان يقصد الانسان ان يمكث فى موضع صالح للاقامة خمسة عشر يومًا اواكثر(بدائع الصنائع ج:١ص:١٠٣صلاة المسافرطبع ايچ ايم سعيد)۰ ولايزال على حكم السفرحتى ينوى الاقامة فى بلدة اوقرية خمسة عشريومًا اواكثر(عالمگيرى ج:١ص:١٣٩كتاب الصلاة ،الباب الخامس عشرفى صلاة المسافر)

[٢]] ولايزال على حكم السفر حتى ينوى الاقامة فى بلدة اوقرية خمسة عشرة يوماً اواكثر(فتاوى عالمگيرى ج:١ص:١٣٩،كتاب الصلاة الباب الخامس عشرفى صلاة المسافر)۰ايضًا : ووطن الاقامة وهوان يقصد الانسان ان يمكث فى موضع صالح للاقامة خمسة عشرة يوماً اواكثر(بدائع الصنائع ج:١ص:١٠٣)۔

ايا د سفر نه په واپسي با ندي به هم لمونځ قصر کول وي؟

سوال: د سفر له واپسي نه وروسته څومره ورځو پورې د سفر لمونځ ادا کول پکار دي يا د سفر په پوره کيدو باندي بند کړل شي؟

جواب: د سفر نه په واپسي کې چې کله انسان د خپل ښار په حدودو کې داخل شي، د سفر لمونځ ختميږي د ښار په حدود کې داخليدو سره پوره لمونځ کول لازم دي.[1]

د سفر په دوران کې به قضاء شوي لمونځونه څومره کول وي؟

سوال: که په سفر کې لمونځونه قضاء شي؛ نو وروسته به پوره لمونځ کوي يا که هماغه دوه رکعته کول پکار دي؟

جواب: قضاء به هم دوه رکعته وي.[2]

د قصر لمونځ قضاء به هم قصر وي

سوال: که يو سړى د سفر په دوران کې د مجبوري له وجې لمونځ ادا نه کړي؛ نو ايا قضاء لمونځ قصر ادا کړي يا که پوره به يې کوي؟

جواب: کوم لمونځونه چې د سفر په دوران کې ادا نه شي، د هغو قضاء به د قصر مطابق ادا کيږي.[3]

که څوک په بيړۍ (بحري جاز) کې د حج سفر وشي؛ نو ايا قصر به کوي

سوال: ايا د حج سفر ته هم قصر ويل کيږي؟ که داوبو په جاز کې موږ سفر کوو؛ نو ايا لمونځ به قصر ادا کول وي؟

جواب: د سفر په دوران کې به لمونځ قصر ادا کول وي.[4]

په مختلفو علاقو او څو ورځې اووه ميله ليرې کلو کې تيرونکي تبليغي جماعت به پوره لمونځ ادا کوي

سوال: ځنګه چې د (۸) ذوالحجه نه پنځلس ورځې مخکې رسيدونکو باندې په مکه مکرمه،

---

[1] وكذااذا عاد من سفره الى مصره لم يتم حتى يدخل العمران...الخ (عالمگيرى ج:۱ص:۱۳۹،صلاة المسافر)

[2] وفى الدرالمختار:والقضاء يحكى اى يشابه الاداء سفرًا وحضرًا لانه بعده ماتقرر لايتغيروفى الشامية ،فلوفاتته صلوة المسافروقضاها فى الحضريقضيها مقصورة كما لواداها، وكذا فاتته الحضر تقضى فى السفر تامة (شامى ج:۲ص:۱۳۵باب صلاة المسافر)

[3] ايضاً_

[4] قال محمدرحمه الله تعالى :يقصرحين يخرج من مصره ويخلف دورالمصركذا فى المحيط(عالمگيرى ج:۱ ص:۱۳۹كتاب الصلاة الباب الخامس عشرفى صلاة المسافر)

منی او مزدلفه او عرفات کې د مقیم کیدو له وجې پوره لمونځ دی. د تابع کیدو له وجې . حال دا چې عرفات د مکې مکرمې نه تقریبا نهه میله لیرې دی. نو همدغه شان که د تبلیغي جماعت ملګري په کراچۍ ښار کې د پنځلسو ورځو نه زیات په مختلفو علاقو او بیا یوه هفته هم په دې وخت کې اووه میله لیرې په یو کلي کې تیرې کړي، یا د ښار نه دوه میله لیرې په یو کلي کې یې تیرې کړي او مقامي لمونځ په یو مسجد کې که له څه وجې ونه کړي: نو دا حضرات به په دې دوران کې د پنځلسو ورځو نه زیات په مختلفو ځایونو ښار او کلو کې لمونځ پوره کوي او که قصر به کوي؟

جواب: منی، عرفات، مزدلفه او مکه مکرمه څلور واړه بیل بیل ځایونه دي. حاجیان په دې ځایونو کې ګرځي، که مجموعي ډول سره د هغوی د اقامت موده پنځلس ورځې وي: نو مسافر به وي هو! منی ته د تلو نه مخکې یا د منی نه د واپس راتلو نه وروسته که د هغوی په مکه مکرمه کې د استوګنې موده پنځلس ورځې وي: نو هغوی به مقیم وي.

کوم خلک چې کراچۍ ته د جماعت په شکل راځي، که د هغوی تشکیل د کراچۍ په حدود کې وي او د پنځلسو ورځو له پاره هغوی د کراچۍ په حدود کې اوسیږي: نو هغوی به دلته مقیم وي او د دې نه وروسته که هغوی د کراچۍ نه بهر ځي: نو په دې صورت کې به مسافر وي، په داسې حال کې چې د (۴۸) میلو په فاصله باندې ځي او که د کراچۍ نه بهر دوه څلور میله ځي او بیا کراچۍ ته راځي: نو هغوی به مقیم وي او که هغوی د کراچۍ نه بهر ځي او د هغوی د سفر فاصله د (۴۸) میلو د فاصلې نه زیاته ده: نو هغوی به د کراچۍ نه په وتلو باندې مسافر شي، اګر که هغوی په دوه څلور میله نژدې ابادۍ کې شپه تیره کړي. والله اعلم! [۱]

د حج په سفر کې به لمونځ قصر کوو که پوره؟

سوال: په (۱۹۷۹ء) کې موږ د حج له پاره مکې معظمې ته تللي وو او هلته موږ درې میاشتې قیام وکړ او سفر موږ د بیړۍ (بحري جاز) په ذریعه وکړ او په جاز کې موږ فرض لمونځ قصر ونه کړ او نه موږ لمونځونه په مکه مکرمه، مدینه منوره او د عرفات میدان کې قصر وکړل. لهذا پوښتنه دا ده چې موږ ته د سفر په دوران ،مکه معظمه ، مدینه منوره او د عرفات په میدان کې لمونځ قصر کول پکارو او که پوره لمونځ ؟

جواب: په جاز کې خو تاسو مسافر وئ قصر لمونځ کول پکار وو [۲] او مکې مکرمې ته که

---

[۱]]فاذا قصدبلدة مسيرة ثلاثة ايام ولياليها كان مسافرًا عندنا......ولونوى الاقامة خمسة عشريومًا فى موضعين فان كان كل منهما اصلاً بنفسه نحومكة ومنى ......لايصيرمقيماً ...... ذكر فى كتاب المناسك ان الحاج اذا دخل مكة فى ايام العشرونوى الاقامة نصف شهر لاتصح لانه لابدله من الخروج الى العرفات فلايتحقق الشرط(عالمگيرى ج:۱ص: ۱۳۸،۱٤۰كتاب الصلاة الباب الخامس عشرفى صلاة المسافر)

[۲] الاصل ان كل صلاة ثبت وجوبها فى الوقت وفاتت عن وقتها فى كيفية..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

تاسو هغه وخت رسیدلي وئ چې د حج له پاره منی او عرفات ته په تلو کې د پنځلسو ورځو نه کمه فاصله وه: نو دومره ورځې تاسو ته په مکه مکرمه کې هم قصر کول پکار و.[۱] د حج نه چې کله تاسو واپس راغلئ او هلته د پنځلسو ورځ قیام مقرر و: نو تاسو مقیم شوئ[۲]، پوره لمونځ کول پکار و، چې د مکې مکرمې نه تاسو مدینې منورې ته لاړئ: نو په لاره کې هم تاسو مسافر وئ او مدینې منورې ته رسیدو سره که هلته پنځلس ورځې قیام کول وئ: نو هلته تاسو مقیم شوئ، ګنې مسافر پاتې شوئ

حاجی به په مکه معظمه کې مقیم وي که مسافر؟

سوال: حاجی به په مکه کې مقیم وي که مسافر؟ په داسې حال کې چې هغه پنځلس ورځې د قیام نیت وکړي؛ خو د دې قیام په دوران کې هغه منی او عرفات ته هم د پنځو ورځو له پاره لاړشي راشي. په داسې صورت کې به هغه مقیم وي او که مسافر؟ او منی او مکه د یو ښار په حکم کې دي او که دوه بیل بیل ښارونه دي؟

جواب: مکه، منی، عرفات او مزدلفه بیل بیل مقامات دي، په دې کې مجموعی طور د پنځلسو ورځو اوسیدو نیت کولو سره انسان نه مقیم کیږي: نو کوم سړی چې په (۸) ذوالحجة باندې منی ته د تلو نه پنځلس ورځې مخکې مکې ته لاړشي؛ نو هغه په مکه کې مقیم شو، اوس به هغه په منی، عرفات، او مزدلفه کې هم مقیم وي او پوره لمونځ به کوي: خو که مکې مکرمې ته په راتلو کې یې پنځلس ورځې نه وې پوره شوې چې منی ته روان شو: نو داسې سړی به په مکه مکرمه کې هم مسافر وي او په منی، عرفات او مزدلفه کې به هم قصر لمونځ کوي. په دیارلسم تاریخ د منی نه په واپسي باندې که د هغه اراده پنځلس ورځې په مکه مکرمه کې د اوسیدو وي: نو اوس به داسړی په مکه مکرمه کې مقیم شي: خو که د منی نه په واپسي باندې هم په مکه مکرمه کې د پنځلسو ورځو تیرولو موقع نه وي: نو دا سړی به هماغه شان مسافر وي.[۳]

...بقیه د تیرمخ]. قضائها وقت الوجوب وتقضى على الصفة اللتى فاتت عن وقتها......الخ (بدائع الصنائع ج:۱ص:۵۶۳،۵۷۲ کتاب الصلاة)

[۱] فاذا قصدبلدة مسيرة ثلاثة ايام ولياليها كان مسافرًا عندنا......ولونوى الاقامة خمسة عشريومًا فى موضعين فان كان كل منهما اصلاً بنفسه نحومكة ومنى.....لايصيرمقيماً ...... ذكر فى كتاب المناسك ان الحاج اذا دخل مكة فى ايام العشرونوى الاقامة نصف شهر لاتصح لانه لابدله من الخروج الى العرفات فلايتحقق الشرط(عالمگیری ج:۱ص:۱۳۸،۱۴۰ کتاب الصلاة الباب الخامس عشرفى صلاة المسافر)

[۲] ولايزال على حكم السفرحتى ينو الاقامة فى بلدة اوقرية خمسة عشريوماً اواكثر(عالمگیری ج:۱ ص:۱۳۹، کتاب الصلاة الباب الخامس عشرفى صلاة المسافر)

[۳] فاذا قصد بلدة مسيرة ثلاثة ايام ولياليها كان مسافرًا عندنا.....الى ان ...... فلايتحقق الشرط(عالمگیری ج:۱ص:۱۳۸،۱۴۰ کتاب الصلاة الباب الخامس عشرفى صلاة المسافر)، ..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

په عرفات کې قصر ولې کیږي؟

سوال: د حج په ورځ (نهمه ذی الحجه) د عرفات په مقام کې په مسجد نمره کې د ماسپښین او مازدیګر لمونځونه یو ځای کیږي. هغه همیشه قصر ولې کیږي؟ سره له دې چې مکې معظمې نه د عرفات دمیدان فاصله درې څلور میله ده او د قصر له پاره د قیام د مقام نه (۴۸) میله یا هم د داسې څه فاصله ضروري ده؟

جواب: زموږ په نزد د عرفات په میدان کې د قصر لمونځ یوازې دمسافر له پاره دی.[۱] مقیم به پوره لمونځ کوي دسعودي حضراتو په نزد قصرد مناسکو له وجې دی. په دې وجه امام ک مقیم هم وي قصربه کوي. اوس مو اوریدلي دی چې د احنافو دمسلک په رعایت کې امام د ریاض نه راوستل کیږي.

په منیٰ کې قصر

سوال: یو سړی پاکستان نه یا د نور ملکونو نه د حج یا عمرې له پاره ځي؛ نو په مکه مکرمه کې پنځلسو یا زیاتو ورځو د اوسیدلو نه وروسته د حج احرام تړلو سره منیٰ او عرفات ته ځي. اوس پوښتنه داده چې په منیٰ، عرفات او مزدلفه کې به قصر کوي او که پوره لمونځ به کوي؟ ځینې حضرات وایي چې قصر به کوي؛ ځکه چې رسول اللهﷺ په مکه کې د مقیم کیدو باوجود لمونځ قصر کړی دی، که حنفی مسلک لرونکي قصر لمونځونه وکړل: نو د هغه لمونځونه وشو که دوباره به یې کوي؟

جواب: د قصرحکم یوازې د مسافر له پاره دی.[۲] کوم سړی چې منیٰ ته دتلونه مخکې مقیم شي که څه هم په دې وجه وي چې هغه دمکې مکرمې اوسیدونکی دی او که په دې وجه وي چې هغه د پنځلسو یا ددې نه زیاتې ورځې په مکه مکرمه کې اوسیدلی دی، هغه ته په منیٰ، عرفات او مزدلفه کې د قصر اجازت نشته، هغه به پوره لمونځ کوي او که قصر یې کړی وي: نو هغه لمونځونه یې نه دي شوي هغه به دوباره کوي.

لنډه دا چې کوم حاجیان صاحبان په داسې وخت کې مکې مکرمې ته ځي چې اتم (۸) تاریخ چې

...بقیه د تیرمخ]..ایضاً: ولایزال علی حکم السفرحتی ینوی الاقامة فی بلدة اوقریة خمسة عشریومًا اواکثر(عالمگیری ج:۱ص:۱۳۹ کتاب الصلاة ،الباب الخامس عشرفی صلاة المسافر)

[۱]]فاذا قصدبلدة مسیرة ثلاثة ایام ولیالیها کان مسافرًا عندنا......ولونوی الاقامة خمسة عشریوما فی موضعین فان کان کل منهما اصلاً بنفسه نحومکة ومنی ......لایصیرمقیماً ...... ذکر فی کتاب المناسک ان الحاج اذا دخل مکة فی ایام العشرونوی الاقامة نصف شهر لاتصح لانه لابدله من الخروج الی العرفات فلایتحقق الشرط(عالمگیری ج:۱ص:۱۴۰،۱۳۸ کتاب الصلاة الباب الخامس عشرفی صلاة المسافر)_

[۲]] اوګورئ تیره شوی حاشیه (فاذا قصدبلدة مسیرة ثلاثة ایام ولیالیها کان مسافرًا عندنا......الخ) (عالمگیری ج:۱ص:۱۴۰،۱۳۸ کتاب الصلاة الباب الخامس عشرفی صلاة المسافر)_

منى ته د تلو ورځ ده،پورې په مكه مكرمه كې د هغوى پنځلس ورځې نه كيږي. هغه په مكه مكرمه كې هم مسافر شميرلې كيږي او په منى او عرفات كې هم[1]،نو قصر به كوي او كه د اتم تاريخ پورې په مكه مكرمه كې د هغوى پنځلس ورځې پوره شوې ؛نو هغوى به په مكه مكرمه كې مقيم شي او په منى او عرفات كې به هم مقيم حسابيږي.

په مسافر امام پسې مقيم مقتدي ته هم د جمعې فضيلت ملاويږي

سوال: زه په دهوراجي كې په يو اداره كې تعليم حاصلوم.دې ادارې ته نژدې يو جومات دى. چې هلته زه د ماسپښين لمونځ ادا كوم،څه موده مخكې زه د عادت مطابق د ماسپښين لمونځ د ادا كولو له پاره هغه جومات ته ولاړم؛ نو جمعه ولاړه وه،چې د اودس نه فارغ شوم: نو دويم ركعت جاري و،نژدې وه چې په جمعه كې شامل شوى واى،امام د دوه ركعتونو نه پس سلام واړولو،په پوښتنې كولو باندې پته ولګيده چې جومات ته يو پير صاحب راغلى دى. هغوى امامت وكړ،اعلان وكړل شو په دې وجه چې پير صاحب په سفر كې دى د څلور ركعتو په ځاى دوه فرض كوي ؛نو تاسوټول لمونځ كوونكي څلور ركعته فرض په انفرادي طور ادا كړئ.دا خبره خو په پوهه كې راځي چې پير صاحب د سفر دوران كې په كراچۍ كې په مختصر قيام باندې دى،په دې وجه هغه دوه ركعته فرض وكړل،خو د جومات لمونځ كوونكي خو مقامي خلک دي،پوښتنه داده چې خلک جومات ته د جمعې دلمانځه له پاره ځي چې د هغې ډير تاكيد هم راغلى دى،د هغوى جمعې ديو مسافر پير امامت كولو سره ضائع كول او د جمعې د فضائلو نه محرومول آيا د قرآن او سنت په رڼا كې جائز دي؟ او دا چې د جمعې سره د لمونځ نه ادا كولو ګناه به په چا باندې وي،په لمونځ كونكو،يا پير صاحب،يا د جومات په منتظمينو باندې؟ زه د دې نه وروسته بيا هغه جومات ته د لمانځه له پاره نه يم تللى. وروسته پته ولګيده چې د درې څلورو ورځو پورې پنځه وخته لمونځونه پير صاحب هما غه شان وكړل.مهرباني وكړئ د قرآن او سنت په رڼا كې جواب راكړئ،په دې سره به مو ډير شكونه او شبهات ختم شي.

جواب: كه امام مسافر وي؛ نو د دوه ركعتونو نه وروسته به سلام واړوي او په هغه پسې چې كوم مقيم مقتديان دي، هغوى به پورته شي او خپل دوه ركعتونه به پوره كړي[2]مقتديانو ته يوازې د څلورو ركعتونو كولو ضرورت نه شته او د مسافر په امامت سره اقتداء كونكو مقيمو

---

[1] ايضاً_

[2] وصح اقتداء المقيم بالمسافرفى الوقت فاذا قام اى بعد سلام الامام الى الاتمام لايقرا (درمختار ج:٢ص:١٢٩، باب صلاة المسافر)، ايضًا :وان صلى المسافربالمقيمين ركعتين سلم واتم المقيمون صلاتهم وصاروا منفردين كالمسبوق الا انهم لايقرون فى الاصح ......الخ(عالمگيرى ج:١ص:١٤٢كتاب الصلاة الباب الخامس عشرفى صلاة المسافر)_

مقتديانو ته هم د جمعې ثواب پوره ملاويږي.په دې وجه ستاسو دا سوال بې ځايه دى چې په جمعې سره د لمونځ نه کولو ګناه به په چا وي؟ ځکه چې لمونځ د جمعې سره شوى دى.په دې وجه د جمعې د ترک کولو سوال هم نه پيدا کيږي.خو کوم مقتديان چې د خپل سست والي له وجې ستاسو په شان ناوخته راشي او له جمعې محروم شي. د هغوى ګناه خپله هم د هغوى په سست والي باندې ده او ستاسو د بيا له پاره دې جومات ته تلل بندول هم غلط دي

د مقيم امام په اقتداء کې به مسافر مقتدي د څومره رکعتونو نيت کوي؟

سوال: امام مقيم، مقتدي مسافر؛ نومقتدي به د څومره رکعتونو نيت کوي؟ اوريدلي مودي چې نيت به د دوه رکعتونو کوي اوکوي به څلور رکعته؟

جواب: چې امام مقيم وي؛ نو مقتدي به د هغه په اقتداء کې پوره لمونځ هم کوي او د پوره لمونځ نيت به هم کوي، مسافر ته د قصر حکم په هغه صورت کې دى، چې کله هغه يوازې لمونځ کوي، يا د مسافر امام په اقتداء کې لمونځ کوي.[۱]

که د مسافر مقتدي په مقيم امام پسې لمونځ مات شي؛ نو په دويم ځل به څو رکعتونه کوي؟

سوال: يو مسافر، د مقيم امام په اقتداء کې څلور رکعته لمونځ کاو، چې له څه وجې يې لمونځ مات شو، چې کله امام لمونځ پوره کولو نه وروسته سلام واړوي، وروسته چې مسافر يوازې فاسد شوى لمونځ په دويم ځل ادا کوي؛ نو څو رکعتونه به کوي؟

جواب: مقيم به لمونځ (پوره) کوي.[۲]

په هوايي جاز کې په ناسته لمونځ کول او د خوراک په ميز سجده کول

سوال: په هوايي جاز کې خلک په سيټ باندې کيناستو سره د خوراک په ميز باندې سجده کوي، د غه شان لمونځ صحيح دى؟

جواب: په جاز کې هم د قبلې طرف معلومولو سره لمونځ کول ضروري دى، په سيټ باندې کيناستو او د خوراک په ميز باندې سجده کولو سره لمونځ نه کيږي.[۳]

---

[۱] وان اقتدى منسافربمقيم اتم اربعًا(عالمگيرى ج:۱ص:۱٤۲،صلاة المسافر) • ايضًا:وان اقتدى مسافرفى الوقت صح واتم هكذا روى عن ابن عباس وابن عمررضى الله عنهم ولانه تبع لامامه فيتغيرفرضه الى اربع كما يتغير بنية الاقامة لاتصال المغيربالسبب وهوالوقت (تبيين الحقائق، باب صلاة المسافر ج۱ ص۵۱۵ طبع بيروت)۔

[۲] اذا اقتدى المسافربالمقيم فى الوقت صح ولزمه الاتمام......لواقتدى به فى الوقت ثم خرج الوقت قبل تمامها لانه حين اقتدى صارفرضه اربعًا للتبعية مع قبول الصلوة للتغيروصاركالمقيم فى حق تلك الصلوة وصلوة المقيم لاتصيرركعتين بخروج الوقت..الخ(حلبى كبيرج:۱ص:۵٤۲فصل فى صلاة المسافر،طبع لاهور)

[۳] ومنهاالقيام وهوفرض فى صلاة الفرض والوترللقادرعليه ..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

ايا په بس يا هوايي جاز کې لمونځ ادا کول پکار دي؟

سوال: په بس يا هوايي جاز کې د سفر دوران کې که د لمانځه وخت شي: نو ايا په بس يا هوايي جاز د سفر دوران کې لمونځ ادا کول لازمي دي؟ ځکه چې د بس ډرايور خو عام ډول بس نه دروي او د هوايي جاز معامله خو بالکل ګرانه معامله ده. ځکه چې هغه خو د انسان له وس خبره نه ده. له دې وجې په بس يا هوايي جاز کې لمونځ څنګه ادا کړل شي؟ او ايا ادا کول لازمي دي؟

جواب: لمونځ خو د بس او هوايي جاز د سفر دوران کې هم فرض دی. قضاء کول يې نه دي پکار. په هوايي جاز کې خويې انسان په اطمينان سره کولی شي. خو په بس کې لمونځ نه شي کيدای[١]. له دې وجې يا خو دې د بس ډرايور سره لومړی معاهده وشي. چې هغه د لمونځ کولو له پاره به بس دروي. که نه. د بس ټکټ دې د دومره سفر واخيستل شي چې هلته په رسيدو باندې د لمونځ کولو اميد وي. د لمونځ کولو نه وروسته دې دويم بس ونيسي.

په هوايي جاز کې د لمونځ کولو څه حکم دی؟

سوال: ايا په هوايي جاز کې لمونځ کولو سره لمونځ ادا کيږي؟

جواب: په هوايي جاز کې لمونځ د اکثر علماء کرامو په نزد صحيح کيږي. په دې شرط چې لمونځ د هغو ټولو شرطونو سره ادا کړل شي. قبلې ته مخ کولو او نورو شرطونو کې څه نقص پاتې نه شي[٢]. ځينې علماء کرام فرمايي چې په هوايي جاز کې د لمونځ ادا کولو نه وروسته

...بقيه د تيرمخ]. (عالمګيری ج:١ص:٦٩.کتاب الصلوة الباب الرابع فی صفة الصلوة)٠ ايضا:ثم (هی) ستة......والسادس (استقبال القبلة) حقيقة اوحکما کعاجزوالشرط حصوله لاطلبه.وهوشرط زائدللابتلاء يسقط للعجز (درمختارج:١ص:٤٢٧)٠باب شروط الصلاة (ومنهاالقيام فرض لقادرعليه)وعلى السجود (تنويرالابصارمع الدرمختارج:١ص:٤٤٥.باب صفة الصلاة)

[١] ځکه چې دمونځ صحيح کيدو دپاره قبلې ته مخ کول ضروری دی اوپه بس کې داممکن نه وی٠ لايجوزلاحد اداء فريضة ......الامتوجهاالى القبلة ......الخ (عالمګيری ج:١ص:٦٣کتاب الصلاة .الباب الثالث فی شروط الصلاة)٠ايضا:ومن اراد ان يصلى فی سفينة فرضا اونفلا فعليه ان يستقبل القبلة متى قدرعلى ذالک .وليس له ان يصلى الى غيرجهتها.حتى دارت السفينة وهويصلى وجب عليه ان يدور الى جهة القبلة حيث دارت ......ومحل کل ذالک اذا خاف خروج الوقت قبل ان تصل السفينة او القاطرة الى المکان الذى يصلى فيه صلاة کاملة ولاتجب عليه الاعادة ومثل السفينة القطر البخارية البرية. والطائرات الجوية ونحوها (کتاب الفقه على مذاهب اربعة ج:١ص:١٩٧.طبع بيروت)_

[٢] الصلاة فی السفينة ومثلها الطائرة والسيارة :تجوزصلاة الفريضة فی السفينة والطائرة والسيارة قاعدا ولو بلاعذر عند ابی حنيفة ولکن بشرط الرکوع والسجود.وقال الصاحبان لاتصح الالعذر وهوالاظهر....الخ (الفقه الاسلامی وادلته ج:٢ص:٤٤)٠ايضا:واماالطيارات حالة طيرانها ..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

که په خمکه باندې احتیاطا د هغه لمونځ اعاده هم وکړي: نو غوره ده. ضروري او واجب نه ده

د بحري جاز عمله مسافر دي، د ښار په بندرګاه باندې هغوی مقیم جوړیدای شي

سوال: زه په یو بحري جاز (بیړۍ) کې چیف انجینر یم. د ژوند اکثره برخه مو په سمندرونو کې په سفر کولو باندې تیریږي. ما او زما نور وملګرو ته د عهدې مطابق رهائش، خوراک او ټول ضروریات (د مجوزه قانون لاندې) حاصل دي. دا صحیح ده چې موږ ته خینې وخت مسلسل پرته د دریدو نه دوه دوه میاشتې سفر کې پاتې کیدل وي. څو ورځې په یو بندرګاه باندې دریدو او بیا سفر شروع شي. جاز په یو بندرګاه کې هم د پنځلسو ورځو نه زیات نه دریږي (خینې وخت یو میاشت هم دریږي) زه د الله پاک په فضل د خپلو ملګرو سره د جمعې لمونځ ادا کوم او خینې ځل ځانته چې څنګه موقع وي. خپل لمونځونه د فقه حنفي لاندې د اهل سنت والجماعت په طریقه باندې ادا کوم. موږ ټول خپل ځانونه مسافر نه ګڼو (ځکه چې لکه څنګه چې ما په شروع کې عرض وکړ چې موږ ته د رهایش او خوراک او پرسکون ماحول د عهدې مطابق حاصل دی) څو ورځې وشوې زموږ یو نوی ملګری کوم چې د کیپټن په عهدې باندې فائز کیدو سره زموږ د جاز په عملې کې راشامل شو، زموږ د لمونځ په ادا کولو باندې اعتراض کړی دی او د خپل اعتراض په جواز کې یې د یو مولانا صاحب تحریري فتوا هم ښودلې ده، چې د هغه حاصل دادی "د بحري جازونو عملې او کارکنانو ته خپل لمونځونه د مسافر په حیثیت ادا کول پکار دي. (یعنې د اختصار سره فرض لمونځ نیم) که داسې نه کوي: نو هغوی به د رسول الله ﷺ د سنت منکر وي" مولانا صاحب! تاسو د پورتنیو حالاتو لاندې چې څه لیکل شوي دي د فکر مندي نه وباسئ، ایا د بحري جاز عملې (کارکنانو) ته د پوره سهولتونو د حاصلیدو نه وروسته خپل ځانونه مسافرګڼل پکار دي؟ یا خپل لمونځونه په پوره طریقې سره ادا کول پکار دي؟ تر څو چې زما د معلوماتو تعلق دی مسافر ته د اختصار سره د ادا کولو حکم (سنت نبوي ﷺ او د الله پاک د حکم لاندې) ورکول، د سفر د تکلیفونو او د مشکلاتو له وجې نه دی، مولانا صاحب! د دې خبرې څه جواز دی چې مسافر د سهولت له وجې فرض لمونځ خو په اختصار سره وکړي او د باقي لمونځ سنتونه او نفلونه پوره ادا کړي؟ زما د عرض کولو مدعا داده چې مسافر ته که سهولت پکار دی: نو یوازې د فرض لمونځونو له پاره ولې، د پوره لمونځ له پاره ولې نه؟ که سنت او نوافل پوره ادا کول که اسان کیدای شي: نو په پوره لمونځ ادا کولو کې څه مشکلات کیدای شي؟ مولانا صاحب! د شریعت محمدي ﷺ او د قرآن پاک په رڼا کې د دلائلو سره جواب راکړئ او موږ د ذهني تکلیف او پریشانۍ نه

...بقیه د تیرمخ]..في جو السماء او عند وقوفها في الفضاء فيصلي فيها قائماً بركوع وسجود مستقبلاً للقبلة عند القدرة على القيام كما يكن ذلك في الطيارات الكبيرة...الخ(معارف السنن ج:۳ص:۳۹۵ طبع مكتبة بنورية)

خلاص کړئ، په دې سره به د ډېرو ښېګړه وشي

جواب: ستاسو د سوال مختصرجواب دادی چې د بحري جاز عمله د ټولو سهولتونو باوجود مسافر دی[۱]، خو جاز چې کله په یو ښار کې لنګر انداز وي او بندرګاه د یو ښار برخه ګڼل کیږي او هلته پنځلس ورځې یا له دې نه زیاتو ورځو قیام اراده وي؛ نو پوره لمونځ به ادا کیږي[۲] ستاسو دا ارشاد په ځای دی "چې په سفر کې د قصر د لمونځ حکم ورکول د سفر د تکلیفونو او د مشکلاتوله وجې نه دی" خو په سفر کې عموما تکلیف او مشقت راپیښیږي. له دې وجې شریعت د قصر مدار په مسافت باندې کیښودلی دی، ګني خلکو ته به په دې فیصله کولو کې مشکلات و چې په دې سفر کې تکلیف او مشقت شته اوکه نه؟ خلاصه دا چې د حکم اصل علت تکلیف او مشقت دی، خو د دې څه پیمانه مقرر کول ګران و. له دې وجې شریعت د احکامو بنیاد په تکلیفونو باندې کینښوده، بلکې په سفر یې کیښوده که په هغه کې مشقت وي اوکه نه وي، له دې وجې به تاسو لمونځ د قصر کوئ. قصریوازې په فرض رکعتونو کې وي، په سنتو او نفلونو کې نه، ځکه په سفر کې سنت د نفلو حیثیت اختیاروي او د دې لوستل اختیاري امر جوړ شي[۳]نو که په سفر کې فراغت او اطمینان وي؛ نو سنت او نفلونه ضرور کول پکار دي، خو فرض لمونځ به قصر وي پوره کول جائز نه دي.

د بحري جاز ملازم به په بحري جاز کې څو رکعته لمونځ کوي؟

سوال: یو سړی په بحري جاز کې ایګریمنټ وکړي، اوس به هغه په جاز کې قصر لمونځ کوي او که پوره لمونځ به کوي؟ چې کله په یو ملک کې جاز کله د میاشتې یا د څو میاشتو له پاره ودریږي؛ نو هلته څنګه لمونځ کول پکار دي؟

جواب: که په سفر کې وي؛ نو قصر دې کوي او که په یو ښار کې یې د میاشتو دوه میاشتو (د پنځلسو ورځو نه زیات) قیام وي؛ نو پوره لمونځ به کوي.[۴]

---

[۱]اومسافرته دقصرمونځ حکم دے: عن عائشة ام المومنين رضى الله عنها قالت: فرض الله الصلاة حين ركعتين ركعتين فى الحضروالسفر،فاقرت صلاة السفر،وزيد فى الصلاة الحضر (صحيح البخارى ج:۱ ص:۵۱ كتاب الصلاة ،باب كيف فرضت الصلاة فى الاسراء)۰وقال عمران بن حصين:مارايت النبى صلى الله عليه وسلم يصلى فى السفرالاركعتين وصلى بمكة ركعتين(شرح مختصر الطحاوى ج:۲ص:۹۳،باب صلاة المسافر)

[۲]عن ابن عباس رضى الله عنهما قال:ان الله تعالى فرض الصلاة على لسان نبيكم على المسافرركعتين وعلى المقيم اربعاً وفى الخوف ركعةً (صحيح المسلم ج:۱ص:۲٤۱)۰ايضًا:ولايزال على حكم السفرحتى ينوى الاقامة فى بلدة اوقرية خمسة عشريومًا اواكثر (عالمگيرى ج:۱ص:۱۳۹صلاة المسافر)ـ

[۳]واحترز بالفرض عن السنن والوتربالرباعى عن الفجروالمغرب ......الخ(شامى ج:۱ ص:۱۲۳)۰وياتى المسافربالسنن ان كان فى حال امن وقرار والابان كان فى خوف وفرار لاياتى بهاهوالمختار......الخ (درمختارمع ردالمحتارج:۲ص:۱۳۱كتاب الصلاة باب صلاة المسافرطبع سعيد)ـ

[۴]عن ابن عباس رضى الله عنهما قال:ان الله تعالى فرض الصلاة على لسان..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

بحري جاز او قصر لمونځ

سوال: زما ملازمت په غیر ملکي بحري جاز کې دی، په جاز کې زموږ رهائش ډېر ښه وي، یعنې کمره کې ایر کنډیشن وي، قالینه خوره وي، ایا په دې صورت کې به موږ قصر لمونځ کوو او ایا د قصر په صورت کې به سنت هم ادا کوو؟

جواب: د سفر په حالت کې به لمونځ قصر وي، که وخت وي؛ نو په فراغت کې دې سنت وکړل شي، که نه، په نه کولو کې یې ګناه نه شته. [۱]

که قدرت وي؛ نو په ریل ګاډي کې په ولاړه باندې لمونځ کول ضروري دي او قبلې ته مخ کول خو په هر حال کې ضروري دي

سوال: تاسو د (۲۹) ستمبر (۱۹۹۵ء) په اخبار کې څو مسائل ذکر کړي وو، په یوه مسئله باندې موږ پوه نه شو، په اخبار کې مسئله داسې وه.

سوال: په روان ریل ګاډي کې لمونځ په ناسته کېږي؟ اکثر خلک په تخته باندې کیناستو سره لمونځ کوي، (قبلې ته د مخ کولو نه پرته) قیام کول ضروري دي په دې حالت کې او که نه؟

جواب: په ریل ګاډي کې لمونځ کولو په وخت کې قیام فرض دی، په دې شرط چې په دریدو قدرت وي او قبلې ته مخ کولو سره لمونځ ادا کول شرط دی، په تخته باندې ناستې سره لمونځ کول صحیح نه دي.

اوس زموږ مسئله دا ده چې په روان ریل ګاډي کې قبلې ته مخ کول ډېر ګران دي، ځکه چې که ریل قبلې طرف ته روان وي؛ نو موږ په تخته یا سیټ باندې قبلې ته مخ کولو سره نه شو دریدلی، ځکه چې په تخته او سیټ باندې د شمال او جنوب طرف ته دریدلی شو.

جواب: چې کله لمونځ شروع کوئ؛ نو قبلې ته مخ کړئ، چې کله د لمونځ په دوران کې د ریل ګاډي مخ بدل شي؛ نو لمونځ کونکی دې د قبلې طرف ته تاو شي، غرض دا چې مخ د قبلې

..بقیه دتیرمخ] نبیکم علی المسافر رکعتین .وعلی المقیم اربعاً وفی الخوف رکعةً (صحیح المسلم ج:۱ص:۲۴۱). ایضًا:ولایزال علی حکم السفرحتی ینوی الاقامة فی بلدة اوقریة خمسة عشریومًا اواکثر (عالمگیری ج:۱ص:۱۳۹صلاة المسافر)۔

[۱] اومسافرته دقصرمونځ حکم دے: عن عائشة ام المومنین رضی الله عنها قالت: فرض الله الصلاة حین رکعتین رکعتین فی الحضر والسفر.... (صحیح البخاری ج:۱ ص:۵۱ کتاب الصلاة ،باب کیف فرضت الصلاة فی الاسراء) ،وقال عمران بن حصین:مارایت النبی صلی الله علیه وسلم یصلی فی السفر الا رکعتین وصلی بمکة رکعتین (شرح مختصر الطحاوی ج:۲ص:۹۳،باب صلاة المسافر)۔ ایضاً: واحترز بالفرض عن السنن والوتربالرباعی عن الفجروالمغرب ......الخ(شامی ج:۱ ص:۱۲۳) ،ویأتی المسافر بالسنن ان کان فی حال امن......الخ (درمختارمع ردالمحتار ج:۲ص:۱۳۱ کتاب الصلاة باب صلاة المسافرطبع سعید)

طرف ته کیدل پکار دي. په دې شرط چې پته ورته ولګیږي [۱]

سوال: تاسو لیکلي دي چې په تختې باندې کیناستو سره لمونځ صحیح نه دی. عرض دادی چې له تختې پرته څوک لمونځ نه شي ادا کولی او سیټ هم د تختې وي. په ریل ګاډي کې اکثر زیات رش وي چې د هغه له وجې نه پوره سیټ د لمونځ له پاره خالي کول ډیر ګران وي او د سیټ لاندې لازه وي چې په هغه باندې لمونځ کول صحیح نه دي

جواب: د پوره سیټ د خالي کولو ضرورت نه شته. لاندې په فرش باندې دې لمونځ و شي او د دوه منټو له پاره دې لمونځ کونکو ته وویل شي چې د بل له پاره خای جوړ کړئ. زه همیشه جمعې سره د لمونځ کولو کوشش کوم. والله اعلم!

ایا د سفر په دوران کې د لمونځ ادا کول ضروري دي؟ که دي؛ نو څنګه ادا کړل شي؟

سوال: که د لمانځه وخت د سفر په دوران کې راشي: نو ایا په سورلۍ باندې کیناستو سره لمونځ ادا کیږي. یا که منزل ته رسیدو سره ادا کړل شي او ددې څه طریقه ده؟

جواب: که منزل ته د وخت نه مخکې ورسیږي: نو په منزل باندې لمونځ ادا کیدای شي. خو که د وخت د تیریدو ویره وي: نو په سورلۍ باندې دریدو سره دې قبلې طرف ته لمونځ ادا کړل شي. پرته له څه وجې په سیټ باندې کیناستو سره د قبلې طرف ته مخ کولو نه پرته لمونځ کول صحیح نه دي. که د دریدو ځای نه وي او قبلې ته د مخ کولو امکان نه وي: نو په دې صورت کې په سورلۍ باندې کیناستو سره لمونځ ادا کیږي.[۲]

د سفر په دوران کې په موټر کې لمونځ

سوال: که چا سفر په دوران کې په موټر کې کیناستو سره لمونځ (فرض لمونځ) ادا کړی وي: نو مقام ته رسیدو سره به هغه په دویم ځل کوي او که نه؟

---

[۱] لایجوز لاحد اداء فریضة ولانافلة ولاسجدة تلاوة ولاصلاة جنازة الامتوجها الی القبلة ......ومن اراد ان یصلی فی سفینة تطوعًا اوفریضة فعلیه ان یستقبل القبلة ولایجوزله ان یصلی حیثماکان وجهه حتی لو دارت السفینة وهویصلی توجه الی القبلة حیث دارت ......الخ (عالمگیری ج:۱ص:۶۴کتاب الصلوٰة الباب الثالث فی شروط الصلاة الفصل الثالث فی استقبال القبلة ،طبع رشیدیه کوئته)

[۲] الفریضة فی السفینة والطائرة والسیارة قاعدًا ولوبلاعذر عند ابی حنیفة ......قال الصاحبان لاتصح الا لعذر، والعذر کدوران الراس ،وعدم القدرة علی الخروج ،ویشترط التوجه للقبلة فی بدا الصلاة.....ولوترک الاستقبال لاتجزنه الصلاة وان عجز عن الاستقبال یمسک عن الصلاة حتی یقدرعلی الاتمام مستقبلا......الخ (الفقه الاسلامی وادلته ج:۲ص:۵۴،تتمه الصلاة الصلاة فی السفینة ،طبع درالفکربیروت ایضا: عالمگیری ج:۱ص:۶۳ کتاب الصلاة الباب الثالث فی شروط الصلاة طبع رشیدیه) (۴) ومنهاالقیام وهوفرض فی صلاة الفرض والوتر للقادرعلیه (عالمگیری ج:۱ص:۶۹کتاب الصلاة ،باب الرابع فی صفة الصلاة)

جواب: که په ولاړه یې د کولو قدرت و، اګر که تکیه لګولو سره وي، نو په ناسته باندې لمونځ نه کیږي. په دویم خل کول یې ضروري دي او که قدرت یې نه و: نو لمونځ شوی دی [۱]

د سفر په دوران په ریل ګاډي کې لمونځ کوم طرف ته کول پکار دي؟

سوال: د سفر په دوران په ریل ګاډي کې لمونځ کوم طرف ته کول پکار دي؟

جواب: د قبلې طرف ته [ایضا]

که قیام ممکن وي: نو په ریل ګاډي کې د لمانځه قیام فرض دی

سوال: په روان ریل ګاډي کې که لمونځ کونکی په ولاړه تکبیر اولی ووایه او باقي لمونځ یې په ناسته ادا کړ: نو قیام یې ادا شو اوکه نه؟ له دې سره لمانځه کې څه نقصان خو واقع نه شو؟

جواب: که قیام ممکن وي: نو په پوره لمانځه کې قیام فرض دی [۲]

په روان ریل ګاډي کې په ناسته لمونځ کول

سوال: په روان ریل ګاډي کې په ناسته لمونځ کولی شو؟ اکثر خلک په برتهٔ باندې کیناستو سره لمونځ کوي (قبلې ته د مخ کولو نه پرته)، قیام کول ضروري دي په دې حالت کې، اوکه نه؟

جواب: په ریل ګاډي کې د لمونځ کولو په دوران هم قیام فرض دی. په دې شرط چې په قیام یې قدرت وي او قبلې ته مخ کولو سره لمونځ ادا کول شرط دی. په تختې باندې لمونځ کول صحیح نه دي [۳]

ایا په ریل ګاډي کې په سیټ ناستې سره هر طرف ته مخ کولو سره لمونځ کولی شو؟

سوال: په اخبار جهان د "کتاب او سنت په رڼا کې" د عنوان لاندې یو مسئله لیکل شوې ده.

---

[۱] ایضاً۔

[۲] ومنها القيام وهوفرض فى صلاة الفرض والوترللقادرعليه (عالمگيرى ج:۱ص:۶۹كتاب الصلاة باب الرابع فى صفة الصلاة)

[۳] ومنها القيام وهوفرض فى صلاة الفرض والوترللقادرعليه (عالمگيرى ج:۱ص:۶۹كتاب الصلاة باب الرابع فى صفة الصلاة)، ايضًا:ثم الشرط (هى) ستة ...... والسادس(استقبال القبلة)حقيقة اوحكما كعاجز والشرط حصوله لاطلبه ،وهوشرط زائد للابتلاء ويسقط للعجز (درمختار ج:۱ص:۴۲۷باب شروط الصلاة) ايضًا: ومن اراد ان يصلى فى السفينة فرضًا اونفلاً فعليه ان يستقبلة متى قدرعلى ذلک ،وليس له ان يصلى الى غيرجهتها...... ومحل كل ذالک اذاخاف خروج الوقت قبل ان تصل السفينة اوالقاطرة الى المكان الذى يصلى فيه صلاة كاملة ولاتجب عليه الاعادة ومثل السفينة القطرالبخارية البرية والطائرات الجوية ونحوها ...الخ(كتاب الفقه على المذاهب الاربعة للجزائرى ج:۱ص:۲۰۶كتاب الصلاة ،مبحث صلاة الفرض فى السفينة وعلى الدابة ونحوها،طبع داراحياء التراث العربى بيروت)۔

چې د هغې عبارت دادی:

سوال: اکثر کتل شوي دي چې په ریل گاډيواو بسونو کې د لمانځه په وخت خلک په سيټ باندې کیناستو سره کوم طرف ته هم چې مخ وي لمونځ کوي. د کتاب او سنت په رڼا کې جواب راکړئ، چې په داسې طریقه لمونځ کیږي او که نه؟

جواب: لمونځ کیږي په دې سلسله کې ستاسو څه رایه ده؟

جواب: په لمانځه کې قبلې طرف ته مخ کول شرط دي او قیام د قدرت په شرط باندې فرض دی[1] او د شرط فوت کیدو سره لمونځ هم نه کیږي، د اخبار جهان لیکل شوې مسئله غلطه ده په ریل گاډي کې په ولاړه باندې قبلې ته مخ کولو سره لمونځ کول پکار دي.

په ریل گاډي کې لمونځ څنګه وکړل شي؟

سوال: د ریل گاډي په سفرکې که په تخته باندې لمونځ وکړل شي او مخ قبلې شریفې طرف ته نه وي؛ نو لمونځ کیږی او که نه؟ ځینې خلک وايي چې داسې لمونځ صحیح نه وي او ځینې وايي چې کیږي؟

جواب: کوم خلک چې دریل گاډي په تختې باندې په ناسته لمونځ کوي په درې وجو باندې د هغوی لمونځ صحیح نه دی:

اول: ...... د لمونځ د ځای پاکیدل شرط دي[2] او د ریل گاډي د تختې پاکیدل مشکوک دي تاسو به اکثر لیدلي وي چې واړه ماشومان په دې باندې متیازې وکړي.

دویم: ...... په لمانځه کې قبلې طرف ته مخ کول ضروري دي له دې نه پرته لمونځ نه کیږي او د ناخبره خلکو دا خیال چې د قبلې دطرف پابندي نه شته غلطه خبره ده. په سفر کې هم قبلې ته مخ کول هماغه شان ضروري دي، څنګه چې په وطن کې ضروري دي، بلکې د شریعت حکم خو دادی چې په سفر کې د لمانځه په دوران که د قبلې طرف بدل شي؛ نو لمونځ کونکی دې هم

---

[1]]ومنها القيام وهوفرض فى صلاة الفرض والوترللقادرعليه (عالمگيرى ج:١ص:٦٩كتاب الصلاة باب الرابع فى صفة الصلاة)۔ ايضًا:ثم الشرط (هى) ستة ...... والسادس(استقبال القبلة)حقيقة اوحكماً كعاجز والشرط حصوله لاطلبه ،وهوشرط زائد للابتلاء ويسقط للعجز (درمختارج:١ص:٤٢٧باب شروط الصلاة) ايضا:ومن اراد ان يصلى فى السفينة فرضًاونفلاً فعليه ان يستقبل قبلة متى قدرعلى ذلك ،وليس له ان يصلى الى غيرجهتها ...... ومحل كل ذالک اذاخاف خروج الوقت قبل ان تصل السفينة اوالقاطرة الى المكان الذى يصلى فيه صلاة كاملة ولاتجب عليه الاعادة ومثل السفينة القطرالبخارية البرية والطائرات الجوية ونحوها ......الخ(كتاب الفقه على المذاهب الاربعة للجزائرى ج:١ص:٢٠٦كتاب الصلاة ،مبحث صلاة الفرض فى السفينة وعلى الدابة ونحوها،طبع داراحياء التراث العربى بيروت)۔

[2]] تطهيرالنجاسة من بدن المصلى وثوبه والمكان الذى يصلى عليه واجب هكذا فى الزاهدى فى باب الانجاس (عالمگيرى ج:١ص:٥٨ كتاب الصلاة الباب الثالث فى شروط الصلاة)۔

په دې حالت کې قبلې طرف ته مخ کړي[1] او په سفر کې که د قبلې د طرف پته ونه لګیږي او څوک صحیح طرف ښودونکی هم نه وي: نو ښه د سوچ او فکر نه کار اخیستو نه وروسته دې هم پخپله اندازه ولګوي چې قبله به دې طرف ته وي او په هماغه طرف دې لمونځ وکړي. اوس که ورته د لمانځه نه وروسته معلومه شوه چې هغه کوم طرف ته لمونځ کړی دی هغه د قبلې طرف نه دی: نو بیا هم د هغه لمونځ وشو. په دویم حل د کولو ضرورت نه شته او که په لمانځه کې دننه ورته د قبلې د طرف پته ولګیږي: نو د لمونځ ماتولو ضرورت نه شته. په لمانځه کې دننه دې د قبلې طرف ته تاو شي.[2]

دریم....... په لمانځه کې قیام (دریدل) فرض دي، سړی که په کور وي او که په سفر، تر څو چې هغه ته د دریدو طاقت وي په ناسته دهغه لمونځ صحیح نه دی[3] او په دې کې د سړیو تخصیص نه شته. دښځوله د پاره هم دا حکم دی، ځینې ښځې په ناسته باندې لمونځ کوي، دا جائز نه ده. فرض او وتر هم په ولاړه باندې کول لازم دي. ددې نه پرته لمونځ نه کیږي. خو نفلونه په ناسته هم کیږي.

په سفر کې ځینې پاخه لمونځ کونکي هم لمونځونه قضاء کړي، عذر دا کوي چې په داسې رش کې لمونځ څنګه وکړو؟ دا ډیره د کم همتې او د غفلت خبره ده او بیا په ریل ګاډي کې د خوراک څښاک او نور طبعي ضرورتونو پوره کول هم ګران وي: خو د مشکل باوجود دا طبعي ضرورتونه په هر حال پوره کیږي. که سړی لږ شان همت وکړي: نو مسلمان څه غیر مسلم هم د لمانځه له پاره ځای ورکوي او د ټولو نه زیاته د افسوس خبره داده چې ځینې خلک د حج په مقدس سفر باندې د لمانځه اهتمام نه کوي، هغوی په خپل خیال کې خو د یو فرض ادا کولو پاره روان وي: خو په ورځ کې د الله پاک پنځه فرض برباد کړي. حاجیانو ته دا اهتمام کول پکار دي چې د حج د سفر دوران کې د هغوی یو لمونځ هم د جمعې نه فوت نه شي، بلکې په ریل ګاډي کې د اذان اقامت او جمعې اهتمام کول هم پکار دي.

---

[1]]وتجوز صلاة الفريضة فى السفينة والطائرة والسيارة .....ويشترط التوجه للقبلة فى بدء الصلاة ويستدير اليها كلما استدارت السفينة ولوترک الاستقبال لاتجزئه الصلاة ، وان عجزعن الاستقبال يمسک عن الصلاة حتى يقدرعلى الاتمام مستقبلاً (الفقه الاسلامى وادلته ج:۲ص:٥٤تتمة الصلاة فى السفينة طبع دارلفكر بيروت)_

[2]] وان اشتبهت عليه القبلة وليس بحضرته من يساله منها اجتهد وصلى ،فان علم انه اخطابعدماصلى لايعيدها وان علم وهوفى الصلاة استدارالى القبلة وبنى عليها(عالمگیری ج:۱ص:٦٤كتاب الصلاة الباب الثالث فى شروط الصلاة)

[3]]ومنها القيام وهوفرض صلاة الفرض والوتر(عالمگیری ج:۱ص:٦٩كتاب الصلاة الباب الرابع فى صفة الصلاة)

په ریل ګاډي کې لمونځ څنګه وکړي؟ په داسې حالت کې چې اوبو ته په رسیدو باندې قادر نه وي؟

سوال: ځینې وخت د سفر په دوران ریل ګاډي کې دومره زیات رش وي چې بیت الخلاء ته تلل خو لرې خبره ده. د یو سیټ نه بل سیټ ته تلل هم ګران شي: نو په دې حالاتو کې یو خو د سړي اودس او پاکوالي ته رسیدل نه کیږي او دویم دا چې د لمونځ د ادا کولو له پاره مناسب ځای ملاویدل نا ممکن وي او خاص کر کله چې د ګاډي رخ د کعبې طرف ته وي یا د کعبې په مخالف طرف کې وي. (مثلاً کراچۍ ته تلونکي او راتلونکي ریل ګاډي) ځکه چې په دې حالت کې که په سیټ باندې ځای ملاو هم شي: نو لمونځ کونکی سجده نه شي کولی. نو مولانا صاحب! د دې مجبوریاتو مخې ته کتو نه وروسته که د لمانځه وخت شي: نو لمونځ کونکي به لمونځ څنګه ادا کوي؟

جواب: داسې مجبوري کله کله مخې ته راتلای شي عام ډول په موټرو کې رش وي، خو که لږ د همت نه کار واخیستل شي؛ نو سړی په یو لوی سټیشن باندې لمونځ کولی شي. په هر حال که ربښتیا داسې حالت پېښ شي؛ نو ددې نه پرته به څه وکړي چې د لمانځه قضاء راوړي. خو دا په هغه صورت کې ده چې پاکوالی او اودس د امکان د حد نه بهر وي. یعنې د لمونځ کول بالکل ممکن نه وي.[1]

په بس کې په ناسته لمونځ نه کیږي په مناسب ځای کې دریدو سره دې وکړي

سوال: په بس کې د اوږد سفر دوران کې په فرش لمونځ ادا کول غوره دي او که په سیټ ناستې سره. په داسې حالت کې چې فرش ناپاکه وي او په سیټ باندې ناستې سره قیام نه کیږي؟

جواب: په بس کې په ناسته لمونځ نه کیږي[2]. د بس والا خلکو سره دې دا خبره وشي چې لمانځه په وخت کې دې په څه مناسب ځای کې بس ودروي او که هغه ونه دروي: نو د لمونځ قضاء راوړل ضروري دي، غوره به دا وي چې په بس کې چې څنګه ممکنه وي لمونځ دې ادا کړي، خو کور ته راتلو سره دې قضاء وکړي

که ډریور بس نه دروي؛ نو ایا په سیټ کې کیناستو سره لمونځ کیږي؟

سوال: په بس کې سفر کولو سره که د لمانځه وخت شي او ډریور بس نه دروي چې زه به په

---

[1]] والمحصور فاقد الماء والتراب الطهورين بان حبس فى مكان نجس ولايمكنه آخراج تراب مطهر وكذا العاجز عنهما لمرض يوخرهاعنده وقالايتشبه ،وفى الشامية :قوله يوخرهاعنده لقوله عليه السلام.....لاصلاة الابطهور،،......الخ (شامي ج:۱ص:۲۵۲باب الشهيد)_

[2]]ومنها القيام وهوفرض فى الصلاة الفرض والوترللقادرعليه (عالمگيرى ج:۱ص:۶۹كتاب الصلاة الباب الرابع فى صفة الصلاة)_

مقرر وخت باندې ځان وړاندې منزل ته رسوم: نو په داسې صورت کې په سیټ کېنستو سره په اشاره باندې لمونځ ادا کېږي او که نه؟

جواب: په بس کې سیټ باندې کیناستو سره لمونځ نه کېږي.[۱] یا خو د ډریور سره دې اول فیصله و شي چې هغه به بس د لمانځه له پاره په یو داسې ځای کې ودروي چیرته چې اودس او لمونځ ممکن وي. هسې هم ډریوران د سفر په دوران کې وقفه ضرور کوي. په دغه وقفه کې که د لمانځه وخت شي: نو لمونځ دې و شي. په هر حال که په بس کې یې لمونځ وکړ: نو په دویم ځل را اګرځول یې ضروري دي.

د لمانځه له پاره بس درونکی ډریور که خپله لمونځ نه کوي: نو څه حکم دی؟

سوال: زه ډریور یم. د هر لمانځه په وخت موټر دروم او خلکو ته وایم چې د لمانځه وخت شوی دی ای خلکو لمونځ ادا کړئ! تقریبا پنځوس مسافروي. لمونځ ادا کړي. څه مسافریې نه ادا کوي نو څومره خلک چې لمونځ ادا کوي د هغو ماته هم ثواب ملاوېږي. نو زما د یو کس په نه کولو باندې هیڅ فرق نه راځي. ماته خو د پنځوسو لمونځونو ثواب ملاو شو. ایا دا صحیح ده؟

جواب: ماشاء الله! تاسو ته به د ټولو لمونځ کونکو برابر ثواب ملاوېږي. ان شاء الله. باقي خپل لمونځ په هیڅ صورت کې مه پرېږده. ځکه چې هغه په خپل ځای فرض دی.[۲]

په روان موټر کې لمونځ کول صحیح نه دي، په جومات دې ودرېږي او ادا دې کړي

سوال: یو ځل زما او زما د ورور کار و. د ماښام په لمانځه کې ډېر وخت و. بیا هم ما د ورور نه پوښتنه وکړه چې په کار کې به څومره وخت لګیږي؟ ویې ویل چې د اذان نه مخکې به کور ته راشو. له دې وجې موږ لاړو. خو هلته رسیدو سره په کور کتلو باندې ډېر ناوخته شو او د ماښام اذان وشو زموږ کور ددې ځای نه کافي لرې و او رش هم ډېر زیات و. له دې وجې د لمانځه د وخته پورې کور ته رسیدل ناممکن و. ما ورور ته وویل: نو هغه وویل په روان موټر کې لمونځ وکړه. ما وویل نه مې اودس شته او طرف هم بار بار بدلیږي: نو زه څنګه لمونځ وکړم؟ خو هغه هم دا ویل لمونځ خو په هر حال کې کول دي او دا خو مجبوري ده. ته هم داسې وکړه او موټر یې ونه دراوه. اوس تاسو بیان کړئ چې کله داسې موقع وي او موږ په دې خبره قادر نه یو چې موټر ودرول شي په داسې حالت کې چې په ښار کې دننه یو: نو موږ څه وکړو؟

---

[۱] ایضاً

[۲] ....انّ الصّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤمِنِيْنَ كِتٰبًامَّوْقُوْتًا.،(النساء ۱۰۳) ایضًا:عن ابی الدرداء قال:اوصانی خلیلی :ان لاتشرک بالله شیئاً وان قطعت وحرقت ولاتترک صلاة مکتوبة متعمدا .فمن ترکهامتعمدا فقدبرئت منه الذمة......الخ (مشکوة ج:۱ص:۵۹کتاب الصلاة)

جواب: په موټر کې له اوداسه پرته ځنګه لمونځ کيدلای شي؟[۱] تاسو د يو جومات سره موټر درولی شو او په اسانۍ سره مو لمونځ کولی شو، خو کيدای شي ستاسو ورور ته د لمانځه اهميت معلوم نه وي.

که چا د سفر په حالت کې فرض لمونځونه پوره وکړل نو ايا لمونځ يې کيږي؟

سوال: د سفر دوران کې فرض څومره وکړي؟ که موږ فرض پوره وکړو: نو ايا لمونځ به وشي؟ اګر که مسئله چا ته معلومه وي او که نه؟

جواب: په سفر کې د څلور رکعته لمونځ يوازې دوه رکعته فرض دی[۲]، کوم سړی چې څلور رکعته کوي د هغه مثال به داسې وي چې څوک د سهار د دوه رکعتونو په ځای څلور فرض وکړي، ښکاره داده چې د هغه لمونځ نه کيږي، بلکې په دويم ځل کول يې واجب دي.[۳]

که مسافر امام څلور رکعته لمونځ ورکړي؛ نو.......؟

سوال: که مسافر امام د ماسپښين لمونځ د قصر په ځای پوره څلور رکعته وکړي، د مقيم مقتديانو لمونځ صحيح دی يا د لمونځ اعاده وکړي؟ ځکه د امام اخري دوه رکعتونه نفل وي له دې وجې د فرض لمونځ کونکي اقتداء په نفل لمونځ کونکي پسې صحيح ده او که نه؟

جواب: د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد د مسافر له پاره دوه رکعتونه داسې دي لکه د سهار دوه رکعتونه، څنګه چې د سهار په دوه رکعتونو کې زيادت کول جائز نه دي[۴] همدغه شان د مسافر د ماسپښين، مازديګر او ماخوستن څلور رکعته کول هم جائز نه دي، کوم مقيم چې د داسې امام اقتداء کوي: نو د هغوی لمونځ ښکاره خبره ده چې نه کيږي، ځکه هغوی په دوه رکعتونو کې د امام اقتداء کوي[۵] او خپله د امام او د هغه د مسافر مقتديانو حکم دا دی چې که امام په هيره څلور رکعته کړي و او په دويم رکعت باندې يې قعده هم کړې وه او په اخرکې

---

[۱] عن ابن عمررضی الله عنهما عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: لاتقبل صلاة بغیرطهورولاصدقة من غلول (ترمذی ج:۱ص:۲کتاب الطهارة طبع دهلی)۔

[۲] قال: وصلاة المسافرركعتان الاالمغرب والوترفانهماثلاث ثلاث...وقال ابن عباس رضی الله عنهما: فرض الله الصلاة علی لسان نبیکم فی الحضراربعًا وفی السفرركعتین(شرح مختصرالطحاوی ج:۲ص:۹۱،۹۲باب صلاة المسافر)

[۳] كل صلاة اديت مع كراهة التحريم تجب اعادتها (درمختارج:۱ص:۴۵۷باب صفة الصلاة)۔

[۴] صلی الفرض الرباعی ركعتين وجوبًا قوله وجوبًافيكره الاتمام عندناحق روی عن ابی حنيفة رحمه الله انه قال: من اتم الصلاة فقداساء وخالف السنة(ردالمحتارعلی الدرالمختارج:۲ص:۱۲۳باب صلاة المسافر،ايضًا:فتح القديرج:۱ص:۳۵۹)

[۵] ولا يصح اقتداء مفترض بمتنفل و بمفترض فرضًا آخر لان اتحاد الصلاتين شرط عندنا......الخ شامی ج:۱ص:۵۷۹باب الامامة)۔

يې سجده سهوه هم کړې وه؛ نو د هغه لمونځ وشو[1] او که مسافر امام قصدا څلور رکعته وکړل او په دويم رکعت باندې يې قعده هم کړې وه: نو فرض خو ادا شو خو دا سړی ګناهګار شو په دې باندې توبه کول لازمي دي او د لمونځ اعاده کول هم واجب دي.[2]

د سفر په دوران کې که سنت پاتې شي؛ نو څه ګناه ده؟

سوال: که په سفر کې ريل ګاډي يا بله سورلۍ کې د بيړې له وجې سنت ونه کړل شي؛ نو ګناه ګاريږي خو به نه؟

جواب: په شرعي سفر کې که دبيړې له وجې سنت پاتې شي؛ نو هيڅ باک نه شته که د اطمينان موقع وي؛ نوکول يې پکار دي.[3]

يادونه:...... چې کله يو سړی د خپل کلي نه دداسې ځای په اراده باندې ووځي کوم چې د هغه کلي نه اته څلويښت (٤٨) ميله لرې وي؛ نو دا شرعي سفر دی.

د سفر په دوران کې لمونځ څنګه کول پکار دي؟ بله دا چې نيت به کوي اوکه نه؟

سوال: د سفرپه دوران کې لمونځ څنګه کول پکار دي؟ او نيت به کوي اوکه نه؟

جواب: په سفر کې څلورو رکعتو والا فرض لمونځ دوه رکعته کيږي. دې ته قصر وايي. نيت هماغه دی کوم چې هميشه کيږي، د څلورو په ځای دې د دوه رکعتو نيت و شي.[4]

امام مسافر دی يا مقيم که معلومه نه وي؛ نو اقتداء به څنګه کوي؟

سوال: يو هوټل سره د مازديګر لمونځ په جمعې سره کيده، هلته زموږ نه مخکې يو موټر هم ولاړ و. کيدای شي چې د هغه سورلۍ وي او خيال مو رانه غی چې پوښتنه مو کړې وای چې امام مقيم دی يا مسافر؟ لهذا نيت مو وکړ او دوه رکعته مو د امام سره ومونډل، اوس موږ د امام سره سلام واړوو که پوره وکړو؟ د بيا له پاره د داسې صورت څه علاج دی؟ او که دا

---

[1]]ولايجب السجودالابترک واجب اوتاخيره اوتاخيرركن اوتقديمه اوتكراره اوتغير واجب (عالمگيری ج:١ص:١٢٦كتاب الصلاة الباب الثانی عشرفی سجودالسهو)۔

[2]] كل صلاة اديت مع كراهة التحريم تجب اعادتها (درمختارج:١ص:٤٥٧باب صفة الصلاة)۔

[3]] وياتی المسافربالسنن ان كان فی حال امن وقرار والاہان كان فی خوف وفرار لاياتی بها هوالمختاروفی الشامية قيل: الافضل الترک ترخيصًا وقيل: الفعل تقربًا وقال الهندوانی :الفعل حال النزول والترک حال السير...قال فی شرح المنية: والاعدل ماقاله الهندوانی(ردالمحتارعلی الدرالمختارج:٢ص:١٣١باب صلاة المسافر)

[4]]وفرض المسافرفی الرباعية الركعتان لايزيدعليهما......الخ (فتح القديرج:١ص:٣٩٥ كتاب الصلاة باب صلاة المسافر،ايضًا:شرح مختصرالطحاوی للجصاص ج:٢ص:٩١،٩٢باب صلاة المسافر)

راګرځوو؛ نو څومره رکعتونه حال دا چې موږ مسافر وو؟

جواب: په سوچ کولو سره اندازه کول پکار دي چې دا خلک به مسافر وي يا مقيم؟ کوم طرف ته چې زړه مائل شي د هغه مطابق دې لمونځ وکړي او د سلام اړولو نه وروسته دې له چا نه پوښتنه وکړل شي او کوم صورت حال چې ښکاره شي په هغه باندې دې عمل وکړل شي

په سفر کې به يوازې فرض کوي که سنت او وتر هم؟

سوال: په سفر کې مختصر لمونځ وکړي باقي لمونځ وکړي او که نه؟ يا که پرته د قصر نه لمونځ وکړي؟

جواب: په سفر کې څلورو رکعتونو والا لمونځ دوه فرض کيږي په سنتو کې اختيار دی، که وخت او ګنجائش ؤي خو ودې کړي، که نه، پرې دې ږدي، وتر کول واجب دي.[1]

په سفر کې سنت او نوافل ادا کول څنګه دي؟

سوال: څه خلک په سفر کې قصر کوي، خو سنت او نفل په پوره اهتمام سره کوي او څه خلک يوازې فرض او هغه هم قصر کوي، حنفي مسلک څه دی؟

جواب: په سفر کې به په فرض لمونځونو کې قصر کيږي او سنت او نفل که موقع وي: نو ودې کړي ګني نه.[2]

په قصر لمانځه کې دې د التحيات، درود شريف او د سلام نه وروسته سلام واړوي

سوال: په سفر کې چې د فرض لمونځ کوم قصر کيږي ، يعنې د څلور رکعتونو په ځای يوازې دوه رکعته فرض کيږي؛ نو ايا د دوه رکعتو نه وروسته تشهد (التحيات) لوستو سره سلام واړوي يا لومړی دواړه درود شريف ولولي او بيا التحيات (تشهد) لوستلو نه وروسته سلام واړوي؟

جواب: څنګه چې د سهار په لمانځه کې په ناسته لومړی التحيات بيا درود او بيا دعا کولو نه وروسته سلام اړوي، په قصر لمونځ کې هم داسې کول پکار دي، ستاسو په سوال کې دوه

---

[1] وفرض المسافرفى الرباعية ركعتان كذافى الهداية والقصرواجب عندنا كذافى الخلاصة ......ولاقصرفى السنن كذافى محيط السرخسى وبعضهم جوزوا للمسافرترك السنن والمختارانه لاياتى بها فى حال الخوف وياتى بهافى حال القرار والامن هكذا فى الوجيز للكردى (عالمگيرى ج:١ص:١٣٩الباب الخامس فى صلاة المسافرطبع رشيديه)، ايضًا: وفرض المسافر فى الرباعية ركعتان لايزيد عليهما....الخ (فتح القدير ج١ ص٣٩٥، كتاب الصلاة، باب صلاة المسافر) ايضاً: وياتى المسافربالسنن ان كان فى حال امن وقرار،والا بان كان فى خوف وفرارلاياتى بها هوالمختار (درمختار ج:٢ص:١٣١باب صلاة المسافر،طبع ايچ ايم سعيدكراچى دزيات تفصيل دپاره اوګورئ :شرح مختصرالطحاوى للجصاص ج:٢ص:٩١نه ٩٨ پورې باب صلاة المسافرطبع دارالسراج بيروت)

[2] ايضاً_

غلطیاني دي یو دا چې تاسو لیکلي دي: لومړی دواړه درود شریف لولي او بیا التحیات (تشهد) نه وروسته سلام اړوي. حال دا چې التحیات لومړی لوستل کیږي او درود شریف د التحیات نه وروسته لوستل کیږي. دویمه غلطي دا ده چې تاسو "دواړه درود شریف" لفظ استعمال کړی دی حال دا چې "اللهم صل"........او........."اللهم بارک".......دواړه چې یو ځای شي؛ نو یو درود دی.[۱]

که مسافر یو ځای کې قیام کوي؛ نو ایا موکد سنت کول ضروري دي؟

سوال: د قصر لمونځ څنګه او څو رکعته کیږي؟ درې مختلفې رایې اوریدل کیږي:

اول:.....په سفر کې به د فرضو قصر وي، یعنې د ماښام د لمانځه نه پرته به پاتې نورو لمونځونوکې به دوه رکعته فرض، د سهار د لمانځه دوه سنت او د ماخوستن درې وتر هم ضروري دي. دماښام په لمانځه کې درې فرض. ددې مطابق د سهار د لمانځه د دوه سنتو نه پرته په نورو لمونځونو کې سنت نه دي کول پکار.

دویم:.....د سفر دوران یعنې ریل ګاډي، بس او داسې نورو... کې د سفر کولو سره یوازې فرائض د قصر کولوسره کیږي، خو کله چې یو ځای کې قیام وشي؛ نو ټول موکده سنتونه هم کیږي.

دریم:........د سفر دوران یا قیام کې سنت موکده نه پریږدو، بلکې فرائض د قصر سره کوو خو سنت پوره کوو.

جواب: په سفر کې سنت کول ضروري نه دي، خو د سهار سنت په هیڅ حال کې پریښودل نه دي پکار، پاتې سنت که ګنجائش وي کول یې پکار دي که ویې نه کړي؛ نو هیڅ باک نه شته.[۲]

ایا په سفر کې تهجد او اشراق او داسې نور... کولی شو؟

سوال: ایا په سفر کې مونږ د تهجد، اشراق، څاښت او د جمعې په ورځ صلاة تسبیح کولی شو؟

جواب: چې وخت او فراغت وي؛ نو بیشکه کولی یې شئ.[۳]

---

[۱] ویجلس فی الاخیرة ویتشهدفاذا فرغ من التشهد یصلی علی النبی صلی الله علیه وسلم ،فاذافرغ من الصلاة علی النبی صلی الله علیه وسلم ...... ویدعو......ثم یسلم تسلیمتین......الخ (عالمگیری ج: ۱ص: ۷۶کتاب الصلاة الباب الرابع فی صفة الصلاة طبع رشیدیه کوئته)۔

[۲] ویاتی المسافربالسنن ان کان فی حال امن وقرار،والاںان کان فی خوف وفرار لایاتی بها ، هوالمختار (درمختار) ، قال الشامی:قیل:الافضل الترک ترخیصًا ،وقیل :الفعل تقربًا ،وقال الهندوانی :الفعل حال النزول ،والترک حال السیر،وقیل:یصلی سنة الفجرخاصةً وقیل:سنة المغرب ایضًا،بحرقال فی شرح المنیة:والاعدل ماقاله الهندوانی.....الخ (ردالمحتارمع الدرالمختارج: ۲ص: ۱۳۱باب صلاة المسافر)

[۳] ایضاً تیره شوی حاشیه (ویاتی المسافربالسنن ان کان فی حال امن وقرار...الخ(درمختار) قال الشامی: قیل: الافضل الترک ترخیصًا ،وقیل :الفعل تقربًا.....الخ (ردالمحتارمع الدرالمختارج: ۲ص: ۱۳۱باب صلاة المسافر)

په سفر کې د مازدیګر لمونځ د شافعي وخت مطابق کولی شو

سوال: د عالمانو نه مې اوریدلي دي چې که په سفرکې یې یا د سفر بیړه وي: نو حنفي هم د مازدیګر لمونځ د شافعي وخت مطابق کولی شي. ددې دلیل څه دی؟

جواب: د مازدیګرلونځ د صاحبینو رحمهماالله په نزد د دوه مثله نه هم مخکې کیږي.له دې وجې که څوك په سفرکې وي؛ نو دا صحیح ده.[1]

ایا په سفر کې (جمع بین صلاتین) کولی شو؟

سوال: دکراچۍ ریډیودسهارپه نشریاتوکې د سفرپه دوران کې دقصرکولواوجمع بین صلاتین په باره کې جواب داسې ورکړ چې د سفر په دوران کې لمونځونو کې قصر کیږي، خوددې نه پرته د ماسپښین او مازدیګر اود ماښام او ماخوستن لمونځونویوځای کول هم سهي دي، که دا صحیح ده؛ نو سوال دا پیدا کیږي چې که د ماسپښین وخت وي؛ نو مازدیګر لمونځ له وخت نه مخکې یوځای کولوسره څنګه اداکیږي؟ اویا که د مازدیګر وخت دی: نو دماسپښین لمونځ ولې قضا کیږي؟ هم دا صورت حال د ماښام او ماخوستن په لمانځه کې هم دی.

جواب: ریډیو والو د فقه حنفي مطابق مسئله نه ده ښودلې، زموږ په نزد یو لمونځ د بل په وخت کې کول صحیح نه دي، ځکه که اول لمونځ د وروستني لمونځ په وخت کې و شو؛ نو اول به قضا شي او وروستنی لمونځ که د اول په وخت کې وشو؛ نو دا تر اوسه پورې (د وخت نه مخکې) فرض شوی هم نه دی، له دې وجې ددې اداکول به هم صحیح نه وي،خو مسافرته اجازه شته چې لوړی لمونځ مثلاً د ماسپښین لمونځ ددې په اخروخت کې او وروستنی لمونځ مثلاً د مازدیګرلمونځ ددې په اول وخت کې اداکړي، دغسې به دواړه لمونځونه په خپل خپل وخت کې اداشي، خو صورتاً به جمع شي، نبي کریم (ص) به په خپلو سفرونو کې همدغسې کول.[2]

---

[1] وآخر وقتها عند ابي حنيفة اذا صارظل كل شيء مثليه سوى في الزوال ......وقالااى ابويوسف ومحمد وهو قول الائمة الثلاثة آخر وقتها اذا صار كل شيء مثله سوى فى الزوال.....الخ (حلبى كبير ج:١ ص:٢٢٧فروع فى شرح الطحاوى ،طبع سهيل اكيدمى لاهور)

[2] وفى البحر واما ماروى من الجميع بينهما فى وقت واحدمحمول على الجمع فعلاً بان صلى الاولى فى آخر وقتها والثانية فى اول وقتها......الخ (البحرالرائق ج:١ص٢٦٧ كتاب الصلاة ،طبع دارالمعرفة بيروت)

❖ د جمعې لمونځ ❖

د جمعې ورځ له ټولو (ورځو) غوره ده

سوال: د جمعې ورځ له ټولو (ورځو) غوره ده. په دې باره کې مختصر. خو جامع طریقې سره بیان وکړئ؟

جواب: د هفتې په ورځو کې د جمعې ورځ له ټولو (ورځو) غوره ده[1] او د کال په ورځو کې د عرفې ورځ د ټولو نه غوره ده او عرفه چې د جمعې په ورځ وي: نو،نور علی نور ..دی. داسې ورځ به افضل الایام شمیرل کیږي.[2]

الله پاک د جمعې ورځ سید الایام ګرځولې ده

سوال: د جمعې مبارکې ورځې اهمیت او فضیلت څه دی؟ لږ په تفصیل سره ولیکئ - الحمد لله موږ خو مسلمانان یو. د جمعې اهمیت او فضیلت منو. خو زموږ دخلکو بدقسمتي دا ده چې د خپل مذهب متعلق زیات څه نه پیژنو. زموږ د یو ملګري نه په یو کمپنۍ کې یوسک پوښتنه وکړه چې تاسو د جمعې په ورځ چوټې ولې کوئ؟ نو زموږ ملګري سره هیڅ تاریخي جواب نه و: نو موږ ډیر شرمنده شو.

جواب: د جمعې د ورځې فضیلت دادی چې دا ورځ د هفتې د ټولو ورځو سرداره ده[3]، په یو حدیث کې دي چې د ټولو ورځو نه غوره ورځ په کومه چې لمر راخیژي د جمعې ورځ ده. په دې ورځ جناب آدم علیه السلام پیدا شو. په همدې ورځ باندې جنت ته داخل کړای شو. په همدې ورځ د جنت نه راویستل شو او دنیا ته راولیږل شو او په همدې ورځ باندې به قیامت قایمیږي[4] - په یو بل حدیث کې دي چې په همدې ورځ د آدم علیه السلام توبه قبوله کړای شوه او په همدې ورځ هغه

---

[1] عن ابی هریرة عن النبی صلی الله علیه وسلم قال:خیریوم طلعت فیه الشمس یوم الجمعة فیه خلق آدم وفیه ادخل الجنة وفیه آخرج منها ولاتقوم الساعة الایوم الجمعة (ترمذی ج:۱ص:٦٤باب فضل یوم الجمعة)_

[2] عن ابن عباس رضی الله عنهما انه قرأ: الیوم اکملت لکم دینکم الایة وعنده یهودی فقال :لونزلت هذه الایة علینا لاتخذناها عیدًا فقال : ابن عباس رضی الله عنهما :فانهانزلت فی یوم عیدین فی یوم جمعة ویوم عرفة۰رواه الترمذی (مشکوة ص:۱۲۱،الفصل الثالث عن باب الجمعة)_

[3] عن ابی لبابة رضی الله عنه قال:قال النبی صلی الله علیه وسلم :ان یوم الجمعة سیدالایام..الخ(مشکوة ص:۱۲۰)

[4] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :خیریوم طلعت علیه الشمس یوم الجمعة فیه خلق آدم وفیه ادخل الجنة وفیه آخرج منها لاتقوم الساعة الایوم الجمعة رواه مسلم (مشکوة ص:۱۲۰باب الجمعة)

عليه السلام وفات شو.[۱] په ډيرو احاديثوکې دا مضمون دی چې د جمعې په ورځ يو داسې ساعت دی چې په هغه کې مومن بنده کومه دعا وکړي هغه قبليږي[۲]، د جمعې په ورځ په رسول الله ﷺ باندې ډير ډير درود ويلو حکم دی[۳] دا ټول احاديث په (مشکاة) کې دي، له دېنه پرته نور هم ډيرو احاديثو کې دجمعې فضيلت راغلی دی، هغه سک چې کوم سوال کړی و د هغه جواب دا و چې هسې خو زمونږ په مذهب کې يو ورځ هم چوټي کول ضروري نه دي، خو که په هفته کې يو ورځ چوټي کول وي؛ نو دهغې له پاره دجمعې له ورځې نه غوره ورځ نه شته، ځکه چې يهوديانو به د هفتې ورځ لويه ګڼله او په همدې ورځ به يې چوټي کوله. عيسايان ديکشنبې ورځ د تعظيم لاق ګڼي او په دې ورځ باندې چوټي کوي او الله پاک مونږ مسلمانانو ته دجمعې د ورځې افضل ترين نعمت راکړی دی او دايې سيد الايام ګرځولې ده. له دې وجې دا ورځ ددې ډيره مستحقه ده چې دا د عبادت له پاره خاص کړای شي او په دې ورځ باندې عام کاروبار نه وي.

د جمعې د لمانځه اهميت

سوال: مونږ اوريدلي دي چې چا په قصد درې جمعې پريښودلې هغه په کفر کې داخل شو او د نوي سر نه دې کلمه ولولي. ايا دا حديث صحيح دی؟

جواب: د حديث کوم الفاظ چې تاسو نقل کړي دي هغه خو ما ته پيدا نه شو؛ خو په دې مضمون باندې ډير احاديث روايت شوي دي. يو حديث دا دی:

"**من ترک ثلاث جمع تهاونا بها طبع الله على قلبه**" (رواه ابوداؤد والترمذی والنسائی وابن ماجه والدارمی عن ابی الجوزاء الضمری ومالک عن صفوان بن سليم و احمد عن ابی قتادة رضی الله عنه) (مشکوة: ص ۱۲۱)

ترجمه: "کوم انسان چې درې جمعې يوازې د سست والي او د سپک ګڼلو له وجې پريښودلې، الله پاک به د هغه په زړه باندې مهر ولګوي".

په يو بل حديث کې دي: "**لينتهين اقوام عن ودعهم الجمعات او ليختمن الله على قلوبهم ثم ليکونن من الغافلين**" (رواه مسلم، مشکوة ص: ۱۲۱)

ترجمه: ...."خلک دې د جمعې د پريښودلو نه منع شي، که نه؛ نو الله پاک به د هغوی په زړونو باندې مهر ولګوي بيا به هغوی په غافلانو کې شمار شي".

---

[۱] عن ابی هريرة رضی الله عنه قال: خرجت الى الطور...... فيه خلق آدم وفيه اهبط وفيه يتب عليه وفيه مات وفيه تقوم الساعة......الخ (مشکوة ص: ۱۲۰، باب الجمعة طبع قديمی کتب خانه)۔

[۲] عن ابی هريرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم ان فی الجمعة لساعة لايوافقها عبدمسلم يسال الله فيهاخيراً الا اعطاها اياه (مشکوة ص: ۱۱۹ باب الجمعة، طبع قديمی)۔

[۳] عن ابی الدرداء رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: اکثروا الصلوة علی يوم الجمعة فانه مشهود......الخ (مشکوة ص: ۱۲۱ باب الجمعة طبع قديمی)۔

په یو بل حدیث کې دي "**من ترک الجمعة من غیر ضرورة کتب منافقًا فی کتاب لا یمحی ولا یبدل**" (رواه الشافعي.مشکواة:۱۲۱)

ترجمه: کوم چا چې پرته له ضرورت او عذر نه جمعه پریښوده: نو هغه منافق لیکل کیږي په داسې کتاب کې چې هغه نه ورانیږي او نه بدلیږي

د ابن عباس رضی الله عنهما ارشاد دی "**من ترک الجمعة ثلاث جمعات متوالیات فقد نبذ الاسلام وراء ظهره**" (رواه ابو یعلی.ورجاله الصحیح،مجمع الزوائد:ج:۲ص:۱۹۳)

ترجمه: "کوم سړي چې پرله پسې درې جمعې پریښودلې هغه اسلام خپلې شاته وغورځاو"

ددې احادیثو نه معلومیږي چې د جمعې پریښودل بدترینه کبیره ګناه ده. چې د هغې له وجې په زړه باندې مهر ولګیږي، زړه بند شي او په هغه کې د خیر د قبلولو صلاحیت نه پاتې کیږي. د داسې سړي شمار د الله پاک په دربار کې په منافقانو کې کیږي. چې په ظاهر کې خو مسلمانان دي. خو زړه یې د ایمان د حلاوة (خوږ والي) نه خالي دی. داسې سړي ته ددې کبیره ګناه نه توبه کول پکار دي او د الله پاک نه په ریښتینې زړه سره معافي غوښتل پکار دي.

د جمعې لمونځ فرض دی او که واجب؟

سوال: د جمعې لمونځ فرض دی او که واجب؟ د جمعې د لمونځ ادا کولو نه وروسته د ماسپښین د لمونځ ادا کولو ضرورت باقي پاتې وي او که نه؟ د جمعې د لمانځه د شروع کیدو نه مخکې او وروسته عام ډول سره خلک لمونځ کونکې په نظر راځي، هغوی کوم لمونځ کوي؟

جواب: د جمعې لمونځ فرض دی[۱] او دا د ماسپښین د لمانځه قائم مقام دی، له دې وجې د جمعې نه وروسته د ماسپښین ضرورت نه شته[۲] د جمعې نه مخکې او وروسته سنت ادا کیږي د جمعې د لمانځه نه وروسته لومړی څلور رکعته موکد[۳]. بیا دوه رکعته غیرموکد. ددې سنتو نه پرته څه خلک نوافل هم کوي.

د اور تائم (له د ندې (ډیوټي) نه زیات وخت) له وجې د جمعې لمونځ پریښودل سخته ګناه ده

سوال: درخواست دی زه چې په کوم ځای کې کار کوم اکثر د جمعې په ورځ اور ټائم لګیږي،

---

[۱] ان الجمعة فریضة محکمة بالکتاب والسنة والاجماع یکفرجاحدها (فتح القدیر ج:۱ص:۴۰۷کتاب الصلاة باب الصلاة الجمعة)۔

[۲] حتی لوادی الجمعة یسقط عنه الظهر وتقع الجمعة فرضًا.....الخ (بدائع الصنائع ج:۱ص:۲۵۶)۔

[۳] والسنة قبل الجمعة اربع وبعدهااربع......وعندابی یوسف رحمة الله تعالی السنة بعدهاالجمعة ست کعات وهو مروی عن علی رضی الله عنه والافضل ان یصلی اربعاثم رکعتین للخروج عن الخلاف (حلبی کبیر ص:۳۸۹،۳۸۸فصل فی النوافل ،طبع سهیل اکیدمی لاهور)۔

د کمپنۍ په جوماتو کې هیڅوک امام نه شته، ټول د کمپنۍ سړي کارکوي څوک هم دجمعې لمونځ کولو له پاره نه ځي، ټول د کار ختمولو نه وروسته کور ته د تلو سوچ کوي، په داسې صورت کې زه د جمعې لمونځ بهر تلو سره کوم یا یې قضاء کوم؟

جواب: که هلته د جمعې لمونځ نه کیږي؛ نو یو بل جامع مسجد ته ځه، د جمعې لمونځ پریښودل خو ډیره لویه ګناه ده، درې جمعې پریښودو سره په زړه باندې د منافقت مهر ولګیږي[1] یوازې د معمولي لالچ په خاطر د دومره لویې ګناه ارتکاب کول د ایمان د کمزورتیا علامه او د کم عقل توب خبره ده. دکمپنۍ واکدارانو او مالکانو ته پکار دي چې هغوی د جمعې د لمانځه له پاره چوټې ورکوي

د جمعې شرطونه

سوال: ما دځینو علماء کرامو نه اوریدلي دي چې د جمعې د لمانځه له پاره د نورو شرطونو نه پرته دا هم شرط دی چې هغه جومات په کوم کې چې د جمعې لمونځ کیږي د هغې اوږدوالی دې ۲۰ ګزه او پلن والی دې هم د نورو کورونو په نسبت زیات وي. ددې نه پرته په یو جومات یا عیدګاه کې لمونځ کولو سره لومړی د قاضي یا د حکومت د یو سړي نه اجازه حاصلول پکار دي، مولانا صاحب! ایا دا شرطونه صحیح دي؟

جواب: دجمعې د جوازله پاره د جومات خاص اوږدوالی او پلن والی ضروري نه دی او د حاکم یا قاضي شرط د جګړې د ختمولو له پاره دی[2] که مسلمانان په یو امام باندې متفق شي؛ نو د هغه په اقتداء کې جمعه جائز ده[3]. ګویا تاسو چې کوم شرطونه ذکر کړي دي دا دواړه غیر ضروري دي

جمعه په ښاراو غټې کلي کې جائز ده په وړوکي کلي کې نه

سوال: زموږ کلی په پنځوس یا شپیتو کورونو باندې مشتمل دی او په هغه کې یو پوخ جومات دی چې په هغه کې لاؤډاسپیکر وغیره هم لګیدلي دي. په ټول کلي کې یو دکان هم دی او زموږ په ځای کې د جمعې لمونځ کیږي، څه خلک دا د جمعې لمونځ کوي او څه خلک وایي چې دا د جمعې لمونځ نه کیږي، مهرباني وکړئ د قرآن او سنت په رڼا کې موږ ته دا بیان

---

[1]]من ترک ثلاث جمع تهاونا بها طبع الله علی قلبه. رواه الترمذی (مشکوة ج:۱ص:۱۲۱باب الجمعة)_

[2]]لانه لولم یشترط السلطان لادی الی الفتنة لان هذه صلاة تودی بجمع عظیم والتقدیم علی جمع اهل المصریعدمن باب الشرف واسباب العلو والرفعة فیتبارع الی ذلک کل من جبل علی علو الهمة والمیل الی الریاسة فیقع بینهم التجاذب والتنازع ......الخ (بدائع الصنائع ج:۱ص:۲۶۱کتاب الصلاة ،واما بیان شرائط الجمعة)_

[3]]ذکرالکرخی رحمة الله علیه انه لاباس ان یجمع الناس علی رجل حتی یصلی بهم الجمعة (بدائع الصنائع ج:۱ص:۲۶۱)_

کړئ چې ایا زمونږ په کلي کې د جمعې لمونځ جائز دی او که نه؟ هغه بله ورځ یو مولانا صاحب د ریډیو پاکستان لاهور نه دخطونوجواب ورکولوسره وفرمایل چې جمعه یوازې دښار والا خلکو باندې فرض ده، په کلو باندې والا باندې نه خو جمعه فرض ده اونه په یوبانډه یا کلي کې دجمعې لمونځ کیږي ترهغه وخته پورې چې هغه کلی یا بانډه د ښار په شان ټول سهولتونه حاصل کړي.

جواب: د فقه حنفي مطابق جمعه یوازې په ښار او غټو کلو کې جائز ده په وړوکلوکې جمعه جائز نه ده.[1]

د غټو کلو سره تړلیو وړو وړو بانډو کې جمعه کول

سوال: په لویو کلیو کې کوم ځای چې جمعه کیږي له هغه سره واړه واړه کلي دي. کوم ځای ته چې دجمعې داذان اواز رسیږي. یاپه لږ لږ فاصلو باندې واړه واړه کلي (بانډې) دي. هلته د جمعې اوازنه رسیږي په هغه بانډوکې د اذان اواقامت سره باجماعت لمونځ صحیح دی اوکه نه؟

جواب: کوم ځای چې د ښار په حدودو او تړلې علاقو کې شمارل کیږي. هلته جمعه جائز ده او کوم چې داسې نه وي. هلته جائز نه ده[2] له دې وجې په تړلیو کلیو کې جمعه جائز نه ده. ځکه هغه د ښار برخه نه ده. بلکې ځانته ابادي شمار کیږي.

په غټو کلیو کې جمعه فرض ده که د پولیسو تها نه وي اوکه نه وي

سوال: زمونږ یو کلی دی چې د هغه نوم کربلا دی. چې د هغه ابادي تقریبا په لس زره افرادو باندې مشتمله ده، چې په هغه کې نهه جوماتونه هم دي.څلور جوماتونه خو دومره لوی دي چې په یو وخت کې تقریبا دوه نیم سوه کسان په یو جومات کې لمونځ کولی شي او په دې کلي کې د ژوند د ضروریاتو سامان هر وخت پیداکیږي، هایي سکول، پرائمري سکول، ډاک خانه، هسپتال، ټیلیفون، بجلي، غرض دا ټول شیان موجود دي، مدرسه هم شته چې په هغه کې واړه لوی تقریبا درې سوه طالبان سبق وایي، خو دلته د جمعې لمونځ نه کیږي. زمونږ د ځای نه تقریبا اته میله لرې په ضلع پشین کې د جمعې لمونځ همیشه کیږي. ددین علماء کرامو فتوا جاري کړې ده چې دلته د جمعې لوستل واجب دي دافتوا چې کومو علماء کرامو ورکړې ده د

---

[1] عن حذیفة رضی الله عنه لیس علی اهل القری جمعة ،انماالجمع علی اهل الامصارمثل المدائن (اوجزالمسالک باب ماجاء فی الامام ینزل بقریة یوم الجمعة ج:۲ص:۲٤٦طبع اداره اسلامیات) ٠عن علی رضی الله عنه انه قال:لاجمعة ولاتشریق الافی مصرجامع (اعلاءالسنن ج:۸ص:۱ ابواب الجمعة) ٠ ایضا:وتقع فرضافی القصبات والقری الکبیرة التی فیهااسواق......الخ(شامی ج:۲ص:۱۳۸کتاب الصلاة باب الجمعة)_

[2]]لایصح الجمعة الا فی المصر وتوابعه فلا تجب علی اهل القری التی لیست من توابع المصر ولا یصح اداء الجمعة فیها..الخ(بدائع الصنائع ج۱ص۲۵۹،واما بیان شرائط الجمعة، ایضاردالمحتارج۲ ص۱۳۸باب الجمعة)

هغوی نوموړنه دادي مولانا عبدالحق صاحب ضلع اکوړه خټک، مفتي محمد شفیع صاحب رحمه الله دارالعلوم کورنګي، مفتي زین العابدین فیصل آباد، مولانا محمد یوسف رحمه الله بنوري ټاؤن کراچی، مقامي علماء دین دا فتوا نه مني، زموږ د علماء کرامو وینا داده چې دلته د پولیس تهانه نه شته او داسې به جمعه په خواوشا کې کلي والو باندې واجب شي او که تاسو خلک څوک هم دلته جمعه کوئ؛ نو خواوشا ته خلک به جګړه کوي اوس بیان کړئ. ایا په دې کلي کې د جمعې لمونځ کول ضروري دي؟

جواب: چې ستاسو مقامي علماء کرام د هغو لویو علماء کرامو فتوا نه مني؛ نو زما طالب علم خبره به څه ومني؟ خو هغوی ته درخواست دی چې په دغه کلي کې د جمعې لمونځ فرض دی[1] او هغوی یو اهم فرض پریږدي، که د تهانه د نه کیدو له وجې هغوی ته د جګړې ویره ده؛ نو د هغې حل خو ډیراسان دی په دې سلسله کې حکومت ته درخواست کیدلی شي چې دلته یو پولیس چوکۍ جوړه شي، په هر حال د تهانې هلته موجود کیدل د جمعې د صحت له پاره ضروري شرط نه دی.

په وړوکي کلي (بانډه) کې جمعه کول صحیح نه دي

سوال: څه فرمایي د دین عالمان او د شریعت مفتیان په دې مسئله کې چې یو وړوکی کلی چې په هغه کې تقریبا اتیا کورونه دي او نه خو یو چونۍ یا مرکزي مقام دی، په همدې کلي کې خلک جمعه اداکوي، کافي کلونه وشول، اوس دا عاجز دلته مقیم شوی دی؛ نو ما نه څو ملګرو پوښتنه وکړه چې دا وړوکی کلی دی او د احنافو په نزد په وړوکي کلي کې جمعه جائز نه ده؛ نو بل ملګري وویل او د امام شافعي رحمه الله په نزد خو جائز ده او دویمه خبره داده چې علماء کرام فرمایي چې کوم ځای جمعه شروع شوې وي، هلته یې بندول نه دي پکار؛ نو دې عاجز وویل چې بدعت راویستونکي خلک هم دا دلیل ورکوي چې ښه کار دی. اوس دا مه بندوئ چې کله شروع شوی پرته د دلیل او ثبوت نه دی؛ نو ددې قائم ساتل خو جائز نه دي. هغوی وویل بس څه ته یې کوه، اګر چې د احنافو په نزد هیڅ شرط د جمعې د صحت هم نه وي؛ نو همدا لوی دلیل دی چې جمعه خلک ډیرې مودې نه کوي، اوس که بنده کړل شي؛ نو انتشار به پیدا شي تاسو مهرباني وکړئ او په دې باره کې مو خبر کړئ.

---

[1] وعبارة القهستانی تقع فرضاً فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق، قال ابوالقاسم: هذا بلا خلاف اذا اذن الوالی او القاضی ببناء المسجد الجامع واداء الجمعة لان هذا مجتهد فیه فاذا اتصل به الحکم صار مجمعاً علیه. (فتاوی شامی ج۲ ص۱۳۸، کتاب الصلاة، باب الجمعة) وحاصله ادارة الامرعلی رای اهل کل زمان فی عدهم المعمورة مصراً فماهومصرفی عرفهم جازت الجمعة فیه ومالیس بمصرلم یجزفیه الاان یکون فناء المصر (الکوکب الدری ابواب الجمعة ج:۱ص:۱۹۹طبع مکتبة یحویة سهارنپور)۔

جواب: د امام صاحب رحمه الله په نزد په وړوکي کلي کې جمعه جائز نه ده[1] او اګر که د نورو امامانو په نزد جائز ده، خو د هغوی په مذهب باندې عمل کول ځکه ممکن نه دي چې د هغوی د مذهب مطابق د لمانځه ډېر شرطونه داسې دي د کومو چې زموږ خلکو ته علم نه شته او کله چې د هغو شرطونو نه پرته په وړوکي کلي کې لمونځ وکړل شو؛ نو لمونځ نه د امام صاحب رحمه الله په نزد صحیح شو او نه د امام شافعي رحمه الله په نزد. نود ماسپښین لمونځ بربادول به بالکل جائز نه وي او د هغه وبال به په سر باندې پاتې وي او دا چې وویل شي چې کوم ځای جمعه شروع شي؛ نو بیا دې بنده نه کړل شي مطلب دادی چې په مسئله باندې خلک پوه کړل شي ددې سره چې بیا څوک نه مني؛ نو هغه د خپل عمل خپله ذمه واردي. خو خپله جمعه کول په هیڅ حال کې هم صحیح نه دي او دا چې وویل شي چې په دې سره به خلکو کې انتشار پیدا شي دا هم په یو درجه کې صحیح ده چې په خلکو باندې جهالت غالب دی، خو دا هم ددې امرله پاره کافي عذر نه دی چې ددې بدعت خپله ارتکاب وکړل شي. راقم الحروف (مولانا لدهیانوي صاحب) به د طالب علمي په زمانه کې خپله په خپل کلي کې جمعه ورکوله. خو چې کله د مسئلې علم وشو؛ نو د جمعې د بندولو اعلان یې وکړ، الحمد لله! نه څوک مرتد شو او نه چا لمونځ پرېښود، خو داسې بې دینه خلک چې د هغوی د جومات او لمانځه سره څه تعلق نه شته هغوی تر اوسه پورې خبرې کوي، دداسې خلکو د خبرو نه په ویریدو سره که شرعي مسائل بدل کړل شي؛ نو د دین اسلام شکل به بالکل خراب شي، مسئله خوما لیکلې ده، اوس مخکې مشوره درکوم تاسو د خپل کلي دین دار او پوه کسان جمع کولو سره زما دا خط د هغوی مخې ته کیږدئ که هغوی په شرعي مسئله باندې عمل کولو ته تیار شي؛ نو په هغوی کې چې کوم مخ لري هغوی دې خپله ددې مسئلې اعلان کولو سره د مسئلې د بندولو اطلاع وکړي او که د دې کلي دین دار او پوه خلک هم په دې مسئله باندې د عمل کولو نه مخ واړوي: نو تاسو د هغه کلي امامت پرېږدئ، امام ددې له پاره ناکل کیږي چې هغه د شرعي مسائلو مطابق د خلکو امامت وکړي نه دا چې د شریعت خلاف د خلکو مهمل تابعدار وي.

په هغه کلي کې د جمعې لمونځ کول په کوم کې چې یو نیم سل کورونه وي

سوال: یو کلي چې د هغې آبادي تقریبا یو نیم سل کورونو باندې مشتمله ده، څلور دکانونه دي چې په هغې کې د ضرورت شیان ملاویږي مثلاً: غوړي، اوړه، چای، چیني(بوره)، کپړه او داسې نور....، دا کلي په کوڅو او لارو باندې هم مشتمل دی او په دې کلي کې د شپاړسو کالونه د جمعې لمونځ کیدلو آیا د شرع په رڼا کې په دې کې د جمعې لمونځ جائز دی او که نه؟

[1] تیره شوی حاشیه (لایصح الجمعة الا فی المصر وتوابعه...الخ) او وروستی حاشیه(وعبارة القهستانی تقع فرضاً فی القصبات...الخ) او ګوری)۔

جواب: دا کلی د ښار یا یو لوی کلي په حکم کې نه دی، په دې وجه د امام صاحب رحمه الله د مسلک مطابق په دې کې د جمعې لمونځ جائز نه دی.[١]

آیا د جمعې د جواز له پاره د آبادي په تعداد کې مسلمانان، کافر، زنانه او ماشومان ټول داخل دي؟

سوال: د جمعې د جواز له پاره د آبادي تعداد څه دی؟ آیا د آبادي په تعریف کې زنانه، ماشومان او غیر مسلم هم شامل دي او که نه؟ آیا سول او فوج یوځای کولو سره مطلوبه آبادي پوره کیدای شي؟

که په سول او فوج باندې مطلوبه آبادي پوره کړل شي؛ نو په دې صورت کې به آیا فوج د خپل ځان له پاره بیل د جمعې اهتمام کوی یا هغوی به سول ته تلو سره جمعه ادا کوي.

څه فوجیان د سول آبادۍ نه لرې او څه نژدې دي. په دې لحاظ سره متصل او منفصل شرعي حیثیت څه دی؟

څه فوجی مقامات داسې دي چې په هغو کې فوجیان د سلو کسانو نه تر د (٣٠٠) پورې بغیر د ښځې بچیو ټول کال اوسیږي، آیا هلته جمعه جائز ده؟ حال دا چې هلته د دشمن فوري خطره هم نشته؟

جواب: د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد جمعه یوازې په ښارونو یا لویو کلیو کې جائز ده، په وړو باندېو کې جائز نه ده، عموما چې د کوم کلي آبادي په دوه دوه نیم زره خلکو باندې مشتمله وي او هلته د ضرورت ټول شیان ملاویږي او د ګیرچاپیره خلک د ژوند د ضروریاتو د سوداګري له پاره هلته راځي؛ نو په داسې آبادي کې جمعه جائز ده.[٢]

٢. فوج که هلته په مستقله چونۍ کې اوسیږي؛ نو هغه به هم په دې آبادي کې شمیرل کیږي، که د فوج هلته مستقل قیام نه وي؛ نو هغوی به نه شمیرل کیږي. مستقل اوسیدونکي که مسلمانان وي که کافر، که سړي وي او که ښځې وي، لوی وي که ماشومان وي، هغوی ټول به شمیرل کیږي.

---

[١] اما المصر الجامع فشرط وجوب الجمعة وشرط صحة ادائها عند اصحابنا حتى لاتجب الجمعة الاعلى اهل المصرومن كان ساكنا فى توابعه وكذا لايصح اداء الجمعة الافى المصر وتوابعه فلاتجب على اهل القرى التى ليست من توابع المصرولايصح اداء الجمعة فيها......ولنا ما روى عن النبى صلى الله عليه وسلم انه قال: لاجمعة ولا تشريق الافى مصرجامع (بدائع الصنائع ج:١ ص٢٥٩ شرائط الجمعة)_

[٢] وتقع فرضًا فى القصبات والقرى الكبيرة التى فيهااسواق (شامى ج:٢ ص:١٣٨ كتاب الصلاة ،باب الجمعة) ٠ ايضًا:عن ابى حنيفة رحمه الله تعالى :انه بلدة كبيرة فيهاسكك واسواق ،ولهارساتيق وفيهاوال يقدرعلى انصاف المظلوم من الظالم بحشمته وعلمه اوعلم غيره ،يرجع الناس اليه فيمايقع من الحوادث، وهذا هوالاصح (ردالمحتارج:٢ ص:١٣٧ كتاب الصلاة باب الجمعة)

۳: په کوم کلي کې چې جمعه جائز وي، هلته فوج د خپلې جمعې بیل انتظام کولی شي [۱]
۴: کوم کلي چې موږ لوی کلي شمارو، د هغه له پاره ضروري ده چې د هغه کورونه متصل وي، بیا د دې کلي په ملحقه آبادي کې د فوج جمعه کول هم جائز دي، که د اصل آبادي په لحاظ سره هغه ځای وړوکی کلی شمارل کیږي: نو که په څه فاصلې باندې فوجي کیمپ وي: نو هغه دې په کلي کې شمار نه کړای شي، بلکې دا به مستقله ابادي شمیرل کیږي
۵: یوازې د څو فوجیانو په استوګنه کې جمعه صحیح نه ده اګر که د هغوی قیام ټول کال هم وي، کتل دا دی چې په کوم ځای کې د هغوی قیام دی، هغه ځای داسې دی چې هلته جمعه جائز وي؟ د دې نکتې وضاحت مې پورته کړی دی.

چرته چې چاته د راتلو اجازت نه وي هلته جُمعه ادا کول

سوال: زما سوال دا دی چې زه د منشیاتو په هسپتال کې د جُمعې لمونځ کوم، دا عمل تقریبا د څلورو کالو نه کوم، خو دلته باقاعده طور مسجد نه دی جوړ شوی، خو د لمونځ کولو له پاره یو ډیر لوی هال دی، چې په هغه کې د جُمعې لمونځ هم ادا کیږي، ځکه چې هلته د منشیاتو د عادي کسانو علاج کیږي، چې د نشې عادت یې ختم شي، په دې وجه هغوی ته د هسپتال نه د بهر تلو اجازت نشته، او که هغوی بهر د لمانځه له پاره پریښودل شي: نو خطره وی چې بهر ته تلو سره به نشه حاصله کړي او دوباره به یې استعمال شروع کړي، په دې وجه احتیاطي طور هم هغوی بهر نه پریښودل کیږي، د جمعې په لمانځه کې تقریبا دیرشو نه څلویښتو کسانو پورې شریکیږي، د قرآن او حدیث په رڼا کې د دې مسئلې نه خبر راکړئ چې زه کوم عمل کوم دا صحیح دی او که نه ؟
جواب: کوم ځای کې چې جُمعه کیږي، که هلته هر چاته د راتلو اجازت نه وي: نو جُمعه به نه کیږي. [۲]

د پنځه وخته لمونځ د انتظام نه کیدو په صورت کې په کلیو کې د جُمعې لمونځ

سوال: کنډیار ښار ته نژدې درې یا څلور کلومیټره فاصله باندې څو کلي دي، چې په هغو کې تقریبا دیرش یا څلویښت کورونه د مسلمانانو دي، په دې کلو کې د پنځه وخته لمونځونو انتظام نشته، د اته یا لسو کالونه دلته د جُمعې او اخترونو لمونځونه کیږي، د یو مولوي

---

[۱] ایضاً حواله، او د زیات تفصیل دپاره اوګورئ: بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع للکاسانی ج:۱ ص:۲۵۸تا۲۶۹،واما بیان شرائط الجمعة ،طبع ایچ ایم سعید

[۲] والشرط السادس الاذن العام......لاتجوز جمعته الی قوله والاذن العام والاداء علی سبیل الشهرة من جملة تلک الخصوصیات فلاتجوز بدونه (شرح حلبی کبیر ص:۵۵۸فصل فی صلاة الجمعة)

صاحب په وینا باندې په څه کلیو کې جُمعه کول بند شوي دي. آیا په دې کلیو کې د جُمعې لمونځ کیږي؟

جواب: د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد جُمعه په ښار یا لوی کلي کې کیږي، په بانډو کې نه کیږي.[1] په دې وجه دې دلته د ماسپښین لمونځ وکړل شي، دلته جُمعه کول جائز نه دي.[2]

په دوه سوه کورونو باندې مشتمله آبادۍ کې د جُمعې شرعي حکم

سوال: داسې کلی چې د هغه د ښار نه فاصله تقریبا د یوې نیمې ګنټې په اندازه وي او په موټر کې د یوې ګنټې وي. د کلي ډاکخانه. تهانه او یونین کونسل دفتر (مرکزی مقام) هم په ښار کې دی، آیا داسې کلی د ښار د مضافاتو په تعریف کې راځي، حال دا چې د کلي اکثر ضروریات د ښار نه پوره کیږي، په کلي کې نه کوڅې شته نه بازار، یوازې واړه واړه درې دکانونه دي، د کلي مجموعي آبادي تقریبا په دوه سوه کورونو باندې مشتمله ده، کومه چې په کلي کې په څلورو مختلفو آبادیو تقسیم ده. په دې کې د جُمعې لمونځ کول څنګه دي؟

جواب: فناء مصر د ښار ماحول ته وايي، کوم چې د ښار د ضروریاتو له پاره خالي ځای وي،[3] دا کلی چې په بیلو بیلو څلورو آبادیو تقسیم دی، نه لوی کلی دی، نه قریه کبیره او نه په فناء مصر کې واقع دی، لهذا دلته جُمعه جائز نه ده[4]. خلکو باندې لازم دي چې د جُمعې په شوق کې د ماسپښین لمونځ برباد نه کړي.

په سلو کورونو باندې مشتمل کلي کې د جُمعې د لمانځه حکم

سوال: زمونږ کلی تقریبا په سلو کورونو باندې مشتمل دی، ګیرچاپیره هم ورسره په زیات تعداد کې کلي آباد دي، دا کلی د ښار نه دوه کلومیتره فاصله باندې دی، د شروع نه په دې کلي کې د جُمعې لمونځ نه کیږي، دې ته نژدې یو بل کلی دی چې د هغه آبادي هر لحاظ سره کمه ده، هغوی د جُمعې لمونځ شروع کړی دی. د قرآن او حدیث په رڼا کې په دې کلي کې د

---

[1] امالمصرالجامع فشرط وجوب الجمعة وشرط صحة ادائهاعنداصحابناحتى لاتجب الجمعة الاعلى اهل المصرومن كان ساكنًا فى توابعه وكذا لايصح اداء الجمعة الافى المصر وتوابعه فلاتجب على اهل القرى التى ليست من توابع المصرولايصح اداء الجمعة فيها......ولناماروى عن النبى صلى ا لله عليه وسلم انه قال:لاجمعة ولاتشريق الافى مصرجامع (بدائع الصنائع ج:١ص٢٥٩ شرائط الجمعة)_

[2] وفيماذكرنا اشارة الى انه لاتجوز فى الصغيرة التى ليس فيهما قاض ومنبر وخطيب ،كذا فى ا لمضمرات (ردالمحتار ج:٢ص:١٣٨باب الجمعة)

[3] فناءالمصر: ماتصل به معدا لمصالحه (قواعدالفقه ص:٤١٧طبع صدف پبلشرز)

[4] لايصح اداء الجمعة الافى المصر وتوابعه فلاتجب على اهل القرى التى ليست من توابع المصرولايصح اداء الجمعة فيها......روى عن النبى صلى الله عليه وسلم :لاجمعة ولاتشريق الامصرجامع (بدائع الصنائع ج:١ص:٢٥٩وامابيان شرائط الجمعة ،طبع سعيد)

جُمعې لمونځ کیدای شي او که نه؟

جواب: که ستاسو دا کلی د ښار په حدود کې واقع وي: نو دلته جُمعه کیدای شي. که نه، نه شي کیدای. تاسو چې کوم تفصیلات د خپل کلي بیان کړي دي. د هغو مطابق دلنه جُمعه نه کیږي. د دې یوازې یو صورت دی چې دا د ښار په حدود کې واقع وي [۱]

په کوم کلي کې چې د ژوند ضروریات نه وي. هلته د دیرشو کلنو راهیسې د جُمعې د ادا شویو لمونځونو حکم

سوال: په کوم کلي کې چې د ژوند دضروریاتو شیان نه پیداکیږي او هلته د جُمعې لمونځ کیږي؛ نو ایا دا به ادا کیږي؟ که نه ادا کیږي: نود دیرشو کلنو راهیسې چې شوي دي دهغو تیرشویو لمونځونو به څه حکم وي؟

جواب: په داسې کلي کې د جمعې لمونځ جائزنه دی. د څومره کلونو څخه یې چې د جُمعې لمونځ کړي دي دهغود ماسپښین لمونځونو قضا راوړل لازمي دي.[۲]

اته سوه کسانو باندې مشتمل کلي کې د جُمعې لمونځ

سوال: د سائل په کلي کې آبادي تقریبا په اته سوه کسانو (سره دښځواو ماشومانو) مشتمله ده، د جُمعې په ورځ په جامع مسجد کې په اته یا نهو صفونو کې مجتمع وي او په هر صف کې تقریبا دیرش کسان وي. د سائل په کلي کې نور سهولیات لکه هایي سکول، ډاک خانه او هسپتال موجود نه دي. یوازې دوه درې دکانونه دي، له هغو نه پرته نور اهم ضروریات، لکه موچي، ترکان او د حجام د موجودګۍ نه زموږ کلې محروم دی. په کلي کې یوازې د جینکو له پاره پرائمري سکول موجود دی. لهذا ستاسو په خدمت کې عرض کیږي چې زموږ په دې وړوکي شان کلي کې د جُمعې یا اخترونو لمونځ کیدای شي او که نه؟ واضحه دې وي چې په دې کلي کې دډیر مودې نه د جمعې او اخترونو لمونځونه کیږي.

جواب: داکلي وړوکی دی اوپه وړوکي کلي کې دامام ابوحنیفهرحمه الله په نزد د جُمعې لمونځ جائز نه دی، کوم خلک چې دلته جُمعه کوي هغوی خپل د ماسپښین لمونځ بربادوي، له دې وجې دې دلته دجُمعې لمونځ نه کیږي، که څوک دجُمعې لمونځ کوي؛ نوهغه دې ښار ته لاړ شي.[۳]

---

[۱] ایضاً_

[۲] وفی الجواهرلوصلوا فی القری لزمهم اداء الظهر (شامی ج:۲ص:۱۳۸،کتاب الصلاة باب الجمعة)

[۳] شرط اداها المصر ای شرط صحتها ان تودی حتی فی مصرلاتصح فی قریة ولامفازة ......الخ (البحرالرائق ج:۲ص:۱۵۱)ایضًا:قال رحمه الله تعالی:(هو) ای المصر(کل موضع له امیروقاض ینفذالاحکام ویقیم الحدود) وهذا روایة عن ابی یوسف وهواختیار الکرخی ،وعنه انهم لواجتمعوا فی اکبر مساجدهم لایسعهم وهواختیار البلخی،وعنه: وهوکل موضع یکون فیه کل محترف ویوجد فیه جمیع مایحتاج..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

له ماشومانو او ښځو سره په درې سوه کسانو باندې مشتمله آبادي کې د جُمعې لمونځ

سوال: زموږ کلی د هري پور نه (۲۲) کلومیټره لیرې دی، چې د هغه آبادي د ښځو او ماشومانو په یوځای کولو سره تقریبا (۳۰۰) ده او دلته درې مسجدونه دي، چې د درې مسجدونو لمونځ کونکي یوځای کړل شي؛ نو تقریبا درې سوه به وي. اوس زموږ په مسجد کې خلک د تیرو پنځو میاشتو نه د جُمعې لمونځ ادا کوي. اوس څه خلک وایي چې لمونځ نه کیږي، حال دا چې زموږ په کلي کې د بجلي سهولت، د اوبو او د ټرانسپورټ سهولت موجود دی او دلته څلور د کریانې دکانونه دي، چې په هغو کې سبزي هم موجوده وي، خو دلته هوټل نه شته، نه د کپړې(ټوکر) یو دکان شته، د بهر نه راتلونکي په مسجد کې دیره کوي. بل یوځای هم نه شته، له کله چې د جُمعې لمونځ شروع شوی دی، ګیرچاپیره خلک هم د جُمعې د لمانځه له پاره راځي، مسجد ډک شي، دلته هسپتال هم نه شته.

جواب: د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد جُمعه یا خو په ښار کې کیږي یا په لوی کلي کې، په وړو باندو کې جُمعه نه کیږي، په درې سوو کسانو باندې آباد کلی وړوکی دی، دلته جُمعه صحیح نه ده.[1]

په درې زره کسانو باندې مشتمله آبادي لوی کلي دی، په هغه کې د جُمعې لمونځ جائز دی

سوال: زموږ کلی له ښار نه تقریبا د نهه لس کلومیټرو په فاصله باندې واقع دی، په کلي کې یو لوی جامع مسجد دی، د مسجد سره وړوکی بازار او کچې سړک هم دی، د کلي آبادي تقریبا دوه نیم درې زره نه زیاته ده، زموږ په کلي کې د پنځلسو شلو کلونو نه د جُمعې لمونځ کیږي او په جامع مسجد کې په پابندي سره پنځه وخته د جَمعې لمونځ نه کیږي، اکثریوازې د

...بقیه د تیرمخ].. الیه الناس فی معایشهم وفیه فقیه وقاض یقیم الحدود ،وعنه انه یبلغ سکانه عشرة آلاف وقیل یوجدفیه عشرة آلاف مقاتل..الخ (تبیین الحقائق ج:۱ص:۵۲۳باب صلاة الجمعة)طبع دارالکتب العلمیة)

[1]وتقع فرضا فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق (شامی ج:۲ص:۱۳۸کتاب الصلاة باب الجمعة) ایضًا: شرط اداها المصرای شرط صحتها ان تودی فی مصر حتی لاتصح فی قریة ولامفازة ......الخ (البحرالرائق ج:۲ ص:۱۵۱)۰ایضًا: قال رحمه الله تعالی:(هو) ای المصر(کل موضع له امیروقاض ینفد الاحکام ویقیم الحدود)هذا روایة عن ابی یوسف وهواختیارالکرخی ،وعنه انهم لواجتمعوا فی اکبرمساجدهم لایسعهم وهواختیار البلخی ،وعنه :وهو کل موضع یکون فیه کل محترف ویوجد فیه جمیع مایحتاج الیه الناس فی معایشهم وفیه فقیه وقاض یقیم الحدود وعنه انه یبلغ سکانه عشرة آلاف وقیل یوجدفیه عشرة آلاف مقاتل ......الخ (تبیین الحقائق ج:۱ص:۵۲۳باب صلاة الجمعة ،طبع دارالکتب العلمیة)

ماسپښين، ماز ديګر لمونځونه په جمعې سره ادا کيږي. تاسو مهرباني وکړئ او پوره تحقيق سره جواب راکړئ چې ايا زمونږ په کلي کې د جُمعې او اخترونو لمونځ صحيح دی اوکه نه؟ که جائز وی، خو صحيح ده او که جائز نه وي؛ نو ايا ترک کړل شي حال دا چې په هره جمعه کې ۲۵، ۳۰ يا ۳۵، کسان شريکيږي. که پريښودل شي؛ نوپوره د فتنې ويره ده. براه کرم ددې د تسلي او تشفي والاجواب راکړئ؟

جواب: ستاسو په علاقه کې داسې کلی چې د هغه آبادي دوه دوه نيم زره وي او دهميشه ضروريات هم هلته پيداکيږی، هغه د لوی کلي په حکم کې دی. په دې کې جُمعې لمونځ جائز دی.[1]

په داسې کلي کې د جُمعې او اخترونو لمونځ چې هغه ته نژدې کلي کې د جُمعې لمونځ کيږي

سوال: زمونږ کلي ته نژدې يو بازار دی، چې په هغه کې د جُمعې او اخترونو لمونځ کيږي. زمونږ د کلي او ددې بازار د آبادي په مينځ کې تقريبا د يو فرلانګ نه کمه فاصله ده. خو زمونږ د مسجد او د جامع مسجد ترمينځه د درې کلوميټرو فاصله ده. نومونه يې هم بيل بيل دي. پوښتنه دا ده چې زمونږ د کلي په خلکو باندې د جُمعې لمونځ فرض دی اوکه نه؟ که فرض وي: نو چا چې به قرباني د اخترونو د لمانځه نه مخکې کوله هغه قرباني به قبوله وي اوکه نه؟ که نه وي؛ نو مونږ ته څه کول پکار دي؟

جواب: د کوم کلي او ستاسو د کلي ترمينځه چې د يو فرلانګ فاصله ده. ګويا هغه د يو کلي په حکم کې دي، که په دواړو کې د جُمعې او اخترونولمونځ کيږي: نو د جُمعې او اخترونو لمونځ صحيح دی.[2]

په ځنګل کې د جُمعې لمونځ د هيچا په نزد هم صحيح نه دی

سوال: مولانا صاحب! مونږ دلته د ابوظبي له ښار نه تقريبا ديرش کلوميټره ليرې په ځنګل کې کارکوو، دلته نورې هم ډير کمپنۍ دي، خو دلته نه بازار شته او نه مستقل څه آبادي شته: نو ايا په داسې ځای کې د جُمعې لمونځ کيږي چې هلته څه بازار يا ښار نه وي؟ لکه څنګه چې تاسو يو ځل ليکلي و چې کوم ځای بازار نه وي، هلته د جُمعې لمونځ نه کيږي او حال دا چې

---

[1] وتقع فرضاف القصبات والقرى الكبيرة التى فيها اسواق (شامی ج:۲ص:۱۳۸،کتاب الصلاة باب الجمعة)، ايضًا:(وهو) ای المصر(كل موضع له اميروقاض ينفد الاحكام ويقيم الحدود)...... وعنه هوكل موضع يكون فيه كل محترف يوجد فيه جميع مايحتاج الناس اليه فى معايشهم وفيه فقيه مفت وقاض يقيم الحدود وعنه:انه يبلغ سكانه عشرة آلاف..الخ(تبيين الحقائق ج:١ص:٥٢٣باب صلاة الجمعة طبع دارالكتب العلمية)

[2] وګوری:بدائع الصنائع ج:١ص:٢٦٠بيان شرائط الجمعة طبع سعيد

موږ دلته باقاعده د جُمعې لمونځ کوو. مولانا صاحب د قرآن او سنت په رڼا کې جواب راکړئ چې زموږ دجُمعې لمونځ کیږي اوکه نه؟

جواب: په ځنګل کې د هیڅچا په نزد هم دجُمعې لمونځ نه کیږي، [۱] تاسو دماسپښین لمونځ کوئ.

په جیل (زندان) کې د جُمعې لمونځ ادا کول

سوال: په جیل (زندان) کې د جُمعې لمونځ کیږي اوکه نه؟

جواب: دامام صاحب په نزد د جُمعې د صحت له پاره چې څنګه نور شرطونه دي هلته د "اذن عام" شرط هم دی [۲]، یعنې دجُمعې لمونځ داسې ځای کې کیدای شي کوم ځای کې چې هر خاص او عام ته د راتلو اجازه وي او هر مسلمان په هغه کې شرکت کولی شي که دا شرط ونه موندل شي؛ نو جُمعه صحیح ده، ګني نه کیږي، دا مسئله خو په عامو کتابونو کې لیکل شوې ده. خو مولانا مفتي محمود رحمه الله فرمايي چې په جیل (زندان) کې جُمعه جائز ده او ددې له پاره د فقه حنفي د کتاب حواله هم ورکوي کومه چې ما سره نه شته. خپله د مفتي صاحب عمل هم په جیل کې د جمعې کولو و. [۳]

په فوجي کیمپ کې جُمعه ادا کول

سوال: چې کله اسلامي فوجونه د ټریننګ له پاره له ښار نه لیرې په کیمپ کې قیام کوي او هلته هغوی ته طبعي سهولتونه حاصل دي، تعداد څلور یا پنځه سوه وي، په دې صورت کې ایا دجُمعې لمونځ فرض دی اوکه نه؟ که نه دی؛ نو د ثواب نه به محروم وي اوکه نه؟ که امام جُمعه ونکړي؛ نو ایا هغه د امیر د حکم د مخالفت کونکی خو نه دی؟ او کوم خلک چې د امام سره په دې صورت کې مخالفت وکړي د هغوی څه حکم دی؟

جواب: جُمعه د ښار په آبادي کې کیږي په لیرې ځنګل کې جُمعه نه کیږي چې د هغه دلیل دادی چې رسول الله ﷺ د حجة الوداع په موقع باندې د ماسپښین لمونځ کړی و حال دا چې د

---

[۱] لاتودى الجمعة فى البرارى لان الجمعة من اعظم الشعائرفتختص بمكان اظهار الشعائر وهوالمصر (بدائع الصنائع ج:١ص:٢٥٩واما بيان شرائط الجمعة)_

[۲] الشرط السادس الاذن العام ......الاذن العام والاداء على سبيل الشهرة من جملة تلك الخصوصيات فلا تجوز بدونه ......الخ (شرح حلبى كبير ص:٥٥٨فصل فى صلاة الجمعة)_

[۳] حضرت مفتى محمود رحمه الله تعالى چې په جوازباندې دکوم عبارت نه استدلال کړې دې هغه دادې: والسابع (الاذن العام)...... فلايضر غلق باب القلعة ،لعدو ،اولعادة قديمة لان الاذن العام مقرر لاهله وغلقه لمنع العدو ولاالمصلى ولى الشامية تحت قوله (اوقصره) قلت وينبغى ان يكون محل النزاع ماذا كان لاتقام الاقى محل واحد امالوتعددت فلالانه لايتحقق التفويت كماافادة التعليل فتامل (ردالمحتارمع الدر المختار ج:٢ ص:١٥١،١٥٢) ،تفصيل دپاره اوګوره فتاوى مفتى محمودج:٢ص:٣٧٣په جيل كى جمعه قائمول ج:٢ ص:٣٨٥ ج:٢ص:٤٢٧ طبع الجمعية پبليكيشنـــز لاهور)_

جُمعې ورځ وه[۱] په ځنګل کې جُمعه صحيح نه ده، له دې وجې چې تاسو خلکو څومره جُمعې کړې دي دومره ورځې د ماسپښين لمونځ ستاسو په ذمه باقي دی، د هغه قضاء راوړئ.[۲] کوم ځائ کې چې شرعا جمعه جائز نه ده که امير هلته امام صاحب ته د جُمعې د کولو حکم ورکړی وي؛ نو د هغه دا حکم غلط و او هغه ددې غلط حکم ورکولو له وجې خپله ګناهګار دی. امام صاحب له پاره ددې منل جائز نه دي، که د شريعت خلاف حکم يې ومانه: نو داسې امام د امامت اهل نه دی.

په حديث شريف کې دي: "**السمع والطاعة على المرء المسلم فيما احب وكره مالم يومر بمعصية فاذا امر بمعصية فلا سمع ولا طاعة**" (متفق عليه، مشكواة ص:۳۱۹)

ترجمه:......."په مسلمان باندې د امير حکم اوريدل او منل فرض دي، که هغه حکم د هغه خوښ وي او که ناخوښه، په دې شرط چې هغه ته د ګناه حکم ورنکړل شي، کله چې د ګناه حکم ورکړل شي؛ نو نه يې اوريدل شته او نه منل".

په يو بل حديث کې دي: "**لا طاعة فى معصية انما الطاعة فى معروف**" (ايضا)

ترجمه:........"د الله پاک د نافرماني په کار کې د چا منل نه شته، منل يوازې په معروف (نيک) کار کې دي".

"**لا طاعة لمخلوق فى معصية الخالق**" (شرح السنة، مشكواة ص:۳۲۱)

ترجمه:........."د خالق د نافرماني په کار کې د مخلوق منل نه شته"

په فيکټرۍ کې د جُمعې لمونځ

سوال: په حب کې واقع يوه فيکټرۍ کې جمعة المبارک د کار ورځ مقرر کيدو نه وروسته چې کله مزدورانو د جُمعې د لمانځه له پاره مسجد ته تلل وغوښتل: نو انتظاميې کارکونکي مسجد ته د تلو نه منع کړل، (ياد ساتئ چې په فيکټري کې مسجد نه شته او نه پکې باقاعده لمونځ کيږي) او په فيکټرۍ کې جبري ډول د جُمعې لمونځ ادا کړل شو، چې په هغه باندې خلکو احتجاج هم وکړ او د دې شرعي حيثيت يې چيلنج کړ، خو هغوی يې غوږ هم ونه ګراو. حال دا چې نزدې ورته مساجد هم شته، د پورته صورت حال په رڼا کې تاسو ته درخواست دی چې، ايا د خلکو د جُمعې لمونځ ادا شو که نه؟ که ادا نه شو؛ نو ددې وبال په چا باندې دی؟ او د بيا له پاره د دې صورت حال څه علاج کيدای شي؟

جواب: چيرته چې د جُمعې لمونځ کيږي، هلته د جُمعې د لمانځه د ادا کولو له پاره غوره داده

---

[۱] في حديث جابربن عبدالله رضى الله عنهما فى قصة حجة الوداع ......ثم اذن بلال ثم اقام فصلى الظهر ......الخ (مشكوة ص:۲۲۵باب قصة حجة الوداع ،الفصل الاول طبع قديمى)۔

[۲] وفى الجواهرلوصلوفى القرى لزمهم اداء الظهر (شامى ج:۲ص:۱۳۸كتاب الصلاة باب الجمعة)۔

چې مسجد وي او هلته پنځه وخته لمونځ کیږي. [۱] خو که په داسې ځای کې نه مسجد وي او نه جمعه کیږي، خو د جُمعې شرطونه موندل کیږي: نو هلته د جمعې لمونځ کول جائز دي.[۲] خو د کراهت سره. [۳]

د مارکیټ په تاخانه کې د جُمعې لمونځ

سوال: په تاخانه کې یو مسجد دی. چې په هغې کې درې وخته په جمعه لمونځ کیږي. د هغه له پاسه مارکیټ دی. له هغه نه پورته په دویم منزل باندې هم مارکیټ دی او په دریم منزل باندې کار پارکنګ دی او په څلورم منزل باندې د استوګنې کور دی. ایا په دې مسجد کې د جُمعې لمونځ ادا کولی شو؟

جواب: د جمعې لمونځ ادا کیدای شي،[۴] خو دې ځای ته د مسجد نوم ورکول ګران دي.[۵]

د تفریح یا اجتماع په ځای کې د جُمعې لمونځ ادا کول

سوال: د تفریح په ځای کې د اجتماع په موقع باندې د جُمعې لمونځ ادا کیدای شي؟

جواب: داسې ځای کې د جُمعې لمونځ کول مکروه دي.[۶]

نژدې مسجد پریښودو سره په لرې مسجد کې د جُمعې لمونځ ادا کول

سوال: زه د جُمعې لمونځ خپل کوز ته نژدې مسجد کې نه ادا کوم. بلکې یو بل مسجد ته تلو سره یې ادا کوم، ایا زما د جُمعې لمونځ به قبول وي او که نه؟

جواب: خپل نژدې مسجد کې جمعه کول غوره دي، خو د ضرورت یا د لوی مسجد کیدو له وجې نه په بل مسجد کې جُمعه ادا کیدای شي.[۷]

---

[۱] قال البرهان الحلبی کل ماشرع بجماعة فالمسجد فیه افضل لزیادة فضیلة المسجد وتکثیرالجماعة واظهارشعار الاسلام (مراقی الفلاح مع حاشیه طحطاوی ص:۲۲۵)

[۲] وفی الفتاوی الغیاثیة لوصلی الجمعة فی قریة بغیر مسجد جامع والقریة کبیرة لها قری وفیها وال حاکم جازت الجمعة بنوا المسجد اولم یبنوا (حلبی کبیر ص:۵۵۱، فصل فی الجمعة)

[۳] تفصیل دپاره اوګورئ: الفقه الاسلامی وادلته ج۲ ص۲۷۸، المطلب الخامس، شروط صحة الجمعة)

[۴] والمسجد الجامع لیس بشرط ولهذا اجمعوا علی جوازها بالمصلی فی فناء المصر (حلبی کبیر ص:۵۵۱)

[۵] وحاصله ان شرط کونه مسجدًا ان یکون سفله وعلوه مسجدًا لینقطع حق العبد عنه (ردالمحتار ج:۴ ص:۳۵۸ کتاب الوقف مطلب فی احکام المسجدطبع سعید)

[۶] الصلاة فی الطریق ای فی طریق العامة وعلله فی المحیط بمایفید انها کراهة تحریم بقوله لان فیه منع الناس عن المرور والطریق حق الناس اعد للمرور فیه فلایجوز شغله بما لیس له حق الشغل (البحرالرائق ج:۲ص:۲۰ باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها)

[۷] ومسجد حیه افضل من الجامع ای الذی جماعته اکثر من مسجد الحي هذا احد قولین حکاهما فی القنیة والثاني العکس وماهنا جزم به فی شرح المنیة (شامی ج:۱ص:۶۵۹ مطلب فی افضل المساجد)

په کوم جومات کې چې پنځه وخته لمونځ نه کیږي په هغه کې جُمعه ادا کول

سوال: زمونږ په علاقه کشمیر کې دوه جامع مسجد موجود دي چې په هغه کې امام هم مقرر دی، لاؤډاسپیکر وغیره هر څه موجود دي، خو په دې جوماتونو کې پنځه وخته لمونځ نه کیږي، یوازې د جُمعې لمونځ کیږي، خلک زورنه کوي، خو امام صاحب پنځه وخته لمونځ نه ورکوي، ایا په داسې جومات کې د جُمعې لمونځ کیږي؟ او ایا په داسې امام پسې لمونځ کول جائز دي کوم چې پنځه وخته لمونځ په جومات کې شروع نه کړي؟ او ایا د مقتدیانو دا خبره صحیح نه ده چې پنځه وخته لمونځ شروع کړل شي؟

جواب: د جُمعې لمونځ صحیح دی، خو که امام پنځه وخته لمونځ نه ورکوي: نو د محلې والا باندې فرض دي چې داسې امام لرې کړي او یو داسې امام مقرر کړي کوم چې پنځه وخته لمونځ ورکوي[1] په جومات کې پنځه وخته اذان او په جمعه لمونځ د جومات حق دی او د دې حق د نه ادا کولو له وجې د محلې والاتول ګناهګار دي.[2]

په کوم جومات کې چې امام مقرر نه وي، هلته هم د جُمعې لمونځ جائزدی

سوال: ایا په داسې جومات کې د جُمعې لمونځ جائز دی کوم ځای چې یو مستقل امام مقرر نه وي؟ خو مختلف لمونځ کونکي د پنځه وخته لمونځ د امامت فرائض په خوشالي باندې سر ته رسوي؟

جواب: په داسې جومات کې هم جُمعه جائز ده.

د جُمعې دلومړي اذان نه وروسته په دنیاوي کارونو کې مشغولیدل حرام دي

سوال: د علماء کرامو متفقه فیصله د جمعې د اذان د حرمت ده (د دویم اذان) حال دا چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې به د جمعې په ورځ یو اذان کیده: که د دویم اذان نه حرمت شروع کیږي؛ نو د لمونځ د تیارې وخت نه پیدکیږي او که دلومړي نه د اذان حرمت شروع کیږي: نو اخر ولې؟

جواب: رسول الله ﷺ او شیخین ابوبکر او عمر رضي الله عنهما په زمانه کې اذان یوازې یو و، یعنې د خطبې اذان دویم اذان کوم چې د جمعې د وخت په کیدو باندې کیده، ددویم اذان زیادت سیدنا

---

[1]]رجل ام قوم وهم له كارهون ان كانت الكراهة لفساد فيه اولانهم احق بالامامة يكره له ذلك وان كان هواحق بالامامة لايكره (عالمگیری ج:١ص:٨۶، ٨٧ الباب الخامس فى الامامة)۔

[2]] لولم يكن لمسجد منزله موذن فانه يذهب اليه ويوذن فيه ويصلى ولوكان وحده لان له حقا عليه فيوديه (شامي ج:١ص:٦٥٩باب مايفسد الصلاة ومايكره فيها ،مطلب فى الفضل المساجد)۔

عثمان رضي الله عنه کړی و[١] په قرآن کریم کې د جمعې په اذان باندې د کاروبار د پرېښودو او د جمعې له پاره د تللو حکم فرمایلی دی. د صحیح قول مطابق دا حکم د لومړي اذان سره متعلق دی: نو په لومړي اذان باندې د جُمعې له پاره سعي واجب ده او د جُمعې د تیاري نه پرته په یو بل کار کې مشغولیدل ناجائز او حرام دي.[٢]

د لومړي اذان نه وروسته نکاح کول او خوراک ورکول جائز نه دي

سوال: نن سبا زمونږ د مسلمانانو عادت جوړ شوی دی چې د واده، نکاح پروګرام د جُمعې په ورځ باندې مقرر کړي او عموما د خوراک څښاک او نکاح پروګرام بالکل د جُمعې لمانځهٔ ته نژدې دلومړي اذان نه وروسته مقرر وي، د قرآن اوحدیث په رڼا کې په دې باندې رڼا واچوئ چې د جُمعې په ورځ د لومړي اذان نه وروسته واده، نکاح او د خوراک وغیره انتظام کول شرعا جائز دي اوکه نه ؟

جواب: دجُمعې له اذان نه وروسته دجُمعې دتیاري نه پرته بل شغل جائز نه دی.[٣]

د جُمعې دریم اذان صحیح نه دی

سوال: جناب! زمونږ په علاقه کې یو جومات دی عام ډول د جُمعې په لمانځه کې دوه اذانونه کیږي. خو په دې جومات کې درې اذانونه کیږي. لومړی اذان خو په خپل وخت باندې کیږي او دویم اذان چې کله مولانا صاحب وعظ وکړي بیا کیږي او دریم اذان د سنتو د ادا کولو نه وروسته کیږي او په نورو جوماتونو کې دوه اذانونه کیږي، یو په خپل وخت باندې او بل د سنتو د ادا کولو نه وروسته جناب! زه ستاسو نه دا معلومول غواړم چې دا طریقه ترکومه حده صحیح ده او په اسلام کې د دې حقیقت څه دی؟

جواب: د جُمعې دوه اذانونه وي[٤] دریم اذان مو نه چیرته لیدلی دی اونه مو اوریدلی دی. الله پوهیږي دې صاحب د کوم ځای نه راویستلی دی؟ په هرحال دریم اذان بدعت دی.[٥]

---

[١] اعلم ان اذان الجمعة فی عهده صلی الله علیه وسلم کان واحد خارج المسجد عند الشروع فی الخطبة وکذلک استمر العمل به فی عهد الشیخین ابی بکروعمررضی الله عنهما ثم زاد عثمان اذانًا خارج المسجد علی الزوراء حین کثر المسلمون وذلک قبل اوان الخطبة (معارف السنن ج:٤ ص: ٣٩٥ طبع المکتبة البنوریة کراچی)، ایضاً اوګورئ: شرح مختصرالطحاوی ج:٢ص: ١١٤باب صلاة الجمعة ،طبع دارالسراج)۔

[٢] ویجب السعی وترک البیع بالاذن الاول ، عالمګیری ج:١ص:١٤٩الباب السادس عشرفی صلاة الجمعة)۔

[٣] دغه شان اوګورئ: شرح مختصرالطحاوی للجصاص ج:٢ ص:١١٤ تا ١١٦باب صلاة الجمعة)۔

[٤] اعلم ان اذان الجمعة فی عهده صلی الله علیه وسلم کان واحدًا خارج المسجد عند الشروع فی الخطبة وکذلک استمرالعمل به فی عهد الشیخین ابی بکروعمررضی الله عنهماثم زاد عثمان اذانًا خارج المسجدعلی الزوراء حین کثرالمسلمون وذلک قبل اوان الخطبة (معارف السنن ج:٤ ص:٣٩٥)۔

[٥] بانها(البدعة)مااحدث علی خلاف الحق المتلقی عن رسوّل الله صلی الله علیه وسلم[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

ايا د جُمعې د لمانځه په وخت کارخانه بندول هم ضروري دي؟

سوال: زمونږ د متهايي دکان دی، د هغه له پاسه کارخانه ده. د جُمعې د اول اذان په وخت مونږ خپل دکان بند کړو بيا يې د لمانځه نه وروسته پرانيزو. ايا په مونږ باندې د جُمعې د لمانځه له پاره کارخانه بندول هم لازم دي؟ يا که کاريګر خپل اختيار ته پريږدو؟

جواب: د جُمعې په دوران کې هر قسم کاروبار ممنوع دی، تردې چې فيکټرۍ هم جاري ساتل جائز نه دي. [۱] والله اعلم!

د جُمعې اول اذان او شل رکعته تراويح کله شروع شوي دي؟

سوال: الله پاک دې ما معاف کړي، د معلوماتو او اطمينان له پاره معلوموم. د بزرګانو نه مې اوريدلي دي چې په يو صحابي رسول ﷺ باندې هم تنقيد کول سخت منع او ناقابل معافي ګناه ده، خو د ايمان د مضبوطوالي له پاره معلومات کول غواړم، هغه دا چې زمونږ رسول الله ﷺ دين کامل کولو نه وروسته تشريف يوړو. اوس په دين کې د هيڅ قسم ترميم يا تخفيف چاته اجازه نه شته او نه د دې خبرې ګنجائش باقي پاتې شو. نوحضرت عمر رضي الله عنه د جُمعې په لمانځه کې دويم اذان څنګه ايجاد کړ. همدغه شان تراويح رسول الله ﷺ اته کړې وې؛ نو عمر رضي الله عنه څنګه شل مقررې کړې؟

جواب: د جُمعې د اول اذان ذيادت حضرت عثمان رضي الله عنه کړی و[۲] او په شلو رکعتو باندې حضرت عمر رضي الله عنه اجماع کړې وه، د رسول الله ﷺ نه شل تراويح هم منقول دي :خو د هغه سند کمزوری دی.[۳] حضرت عمر رضي الله عنه د صحابه کرامو رضي الله عنهم په موجودګۍ کې د تراويح جمعه شروع

...بقيه دتيرمخ]..من علم اوعمل اوحال بنوع شبهة واستحسان وجعل دينًا قويما وصراطًا مستقيماً (ردالمحتار كتاب الصلاة باب الامامة مطلب البدعة خمسة اقسام ج:١ص:٥٦٠طبع سعيد)_

[۱] ويجب السعي وترک البيع بالاذان الاول (عالمگيرى ج:١ص:١٤٩الباب السادس عشرفى صلاة الجمعة) ايضًا:قال ابوبكراحمد :وذالک لقول الله تعالى :يايهاالذين امنوا اذا نودى للصلوة من يوم الجمعة فاسعوا الى ذكرالله وذروا البيع، فانتظمت الآية معانى منها ......وترک الأشتغالْ بالبيع والنهى عن البيع وان كان مخصوصًا بالذكرفليس المقصدفيه البيع دون غيره من الامورالشاغلة عن الجمعة وانماذكرالبيع لان اكثرمن كان يتخلف عنهالاجل البيع (شرح مختصرالطحاوى للجصاص ج:٢ص:١١٤،١١٥باب صلاة الجمعة طبع دارالسراج بيروت)

[۲] وروى عن انس رضى الله عنه ان النبى صلى الله عليه وسلم كان يصلى الجمعة اذامالت الشمس وكان الاذان والاقامة كماذكره ابوجعفرفى عهدالنبى صلى الله عليه وسلم وابى بكروعمررضى الله عنهما فلماكان خلافة عثمان رضى الله عنه وكثرالناس امرعثمان يوم الجمعة • بالاذان الثالث كذالک رواه الزهرى عن السائب بن زيد رضى الله عنه (شرح مختصرالطحاوى لابى بكرالجصاص ج:٢ص:١١٥باب صلاة الجمعة طبع دارالبشائرالاسلامية)

[۳] عن ابن عباس رضى الله عنه قال:كان النبى صلى الله عليه وسلم يصلى..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

کړه او په شلو رکعتونو باندې يې خلک راجمع کړل: نو يقينا هغوی به سنت نبوي ﷺ خپل کړي وي. د درې خلفاء راشدينو په زمانه کې د صحابه کرامو رضي الله عنهم په دې باندې اتفاق وو او وروسته ائمة اربعه هم شل رکعته اختيار کړل. چې له هغه نه واضح کيږي چې همدا مقصود نبوي ﷺ و، دحضرت عثمان رضي الله عنه اذان اول شروع کول د اجتهاد په بنياد و، هغه دا وګڼله چې د اذان مشروعيت د خبر ورکولو له پاره دی او د خطبې کوم اذان چې د مسجد په دروازه باندې کيږي، د ابادي د زياتيدو له وجې هغه د خبر له پاره کافي نه دی. له دې وجې هغه يو بل اذان ددې نه مخکې په زوره باندې ويل شروع کړل او په صحابه کرامو رضي الله عنهم کې چا هم د هغه په دې فعل باندې نکير نه دی کړی، بلکې ټولو اتفاق وکړ او د خلفاء راشدينو رضي الله عنهم فيصلو ته په شريعت کې قانوني حيثيت حاصل دی؛ نود رسول الله ﷺ ارشاد دی: لازم ونيسئ زما سنت او زما د خلفاء راشدينو سنت. (مشكاة ص ٣٠) [١] او د دين تکميل د اصول او کلياتو په اعتبار سره دی، ددې اصولو او کلياتو په رڼا کې چې خلفاء راشدينو کومې فيصلې وکړې يا وروسته مجتهدينو کومې فيصلې وکړې هغه هم ددين په تکميل کې داخلې دي.

ايا د جُمعې له پاره يوازې څلور سنت او دوه فرض کافي دي؟

سوال: نن سبا بالخصوص يو غلط روايت عام کيږي چې يو خو هسې هم د نوم مسلمانان په خپل روزمره ژوند کې الله پاک ډير کم يادوي او لمونځونه وغيره هم نه کوي او د جُمعې په ورځ که د جمعې د کولو له پاره مسجد ته راشي: نو هم د واپس تښتيدو يې دومره بيړه وي چې د دوه رکعتو فرضو کولو نه وروسته نيم مسجد د لمونځ کونکو نه خالي شي، هر چې زما د معلوماتو تعلق دی فرض لمونځ په مسجد کې کول افضل دي او د سنتو او نوافلو وغيره ادا کول په کور کې د زيات ثواب د حصول سبب جوړيږي. خو د عامو خلکو اکثريت کوم چې په مسئله باندې نه پوهيږي چې په هغوی کې بالخصوص ځوانان او ماشومان شامل دي د هغه څو صحيح کسانو په تقليد کې چې په مسئله باندې پوهيږي په ناپوهي کې يوازې ددوه رکعتو د ادا کولو نه وروسته دمسجد نه د تيښتې لاره اختيار کړي او کور ته تلو سره پاتې لمونځ نه کوي او دا ګڼي چې هغوی د پوره هفتې قرض ادا کړی دی، ايا د دوه رکعتو فرضو په ادا کولو سره د جُمعې لمونځ ادا کيږي او پاتې رکعتونه کول ضروري نه دي؟ دې مسئلې دومره وسعت اختيار کړی دی چې هغه ماشومان چې نن ماشومان دي هغوی د جمعې لمونځ يوازې د څلور

...بقيه د تيرمخ].. فى رمضان عشرين ركعة والوتر (رواه الطبرانى فى الكبيروالاسط وفيه ابوشيبة ابراهيم وهوضعيف (مجمع الزوائد ج:٣ص: ٣٠٤باب قيام رمضان)

[١] عن العرباض بن سارية رضى الله عنه قال:صلى بنارسول الله صلى الله عليه وسلم ......فعليكم بسنتى وسنة الخلفاء الراشدين المهديين تمسكوابها وعضواعليها بالنواجذ.......الخ(مشكوة ص: ٣٠الفصل الثانى باب الاعتصام بالكتاب والسنة)

سنتو او دوه فرضو برابر ګڼي

جواب: پنځه وخته لمونځ کول د اسلام قبلولو نه وروسته د ټولو نه اهم ترين فرض دي. په دې کې سستي او کوتاهي کول د ټولو نه لويه کبيره ګناه ده. په حديث کې راغلي دي د هغه مفهوم دادی، چې د قيامت په ورځ باندې به د ټولو نه اول د بنده نه د لمانځه حساب اخيستل کيږي، که هغه په لمانځه کې کامياب شو: نو انشاء الله په باقي ټولوشيانو کې به هم کامياب شي او که په لمانځه کې ناکام شو؛ نو په باقي ټولو شيانو کې به په درجه اولی ناکام کيږي [۱] له دې وجې مسلمانانو ورونو ته په فرض لمونځونو کې بالکل سستي نه دي کول پکار او د لمونځونو په مسجد کې د جمعې سره ادا کول د ايمان نښه ده او د جُمعې په لمانځه کې کوتاهي او سستی کول د نفاق علامه ده له دې وجې د جُمعې لمونځ ادا کول اهم ترين واجب دي [۲]

او د لمانځه سنت او نوافل په حقيقت کې د فرائضو د تکميل له پاره دي، ځکه چې د کومې درجې سکون او اطمينان، خشوع او خضوع او حضوز قلب سره لمونځ ادا کول پکار دي. موږ د هغه لسمه برخه هم نه شو ادا کولی. له دې وجې الله پاک په خپل رحمت سره د فرائضو د تکميل له پاره سنت او نفل لمونځونه مقرر کړي دي چې د فرائضو کمي په هغو سره پوره شي.له دې وجې سنت هم پوره په اهتمام سره ادا کول پکار دي[۳] د جُمعې د لمانځه نه مخکې څلور رکعته سنت موکده دي او د جُمعې د لمانځه نه وروسته څلور رکعته سنت موکده او دوه سنت غير موکده دي[۴] په دې کې کوتاهي نه دي کول پکار. الله پاک دې ټولو مسلمانانو ورونو ته توفيق ورکړي او د اخرت کاميابي دې ورته نصيب کړي.

---

[۱] عن حريث بن قبيصة قال: قدمت المدينة فقلت :اللهم يسرلى جليسًا صالحًاقال:فجلست الى ابى هريرة فقلت :انى سالت الله ان يرزقنى جليسًا صالحًا،فحدثنى بحديث سمعته من رسول الله صلى الله عليه وسلم لعل الله ان ينفعنى به فقال :سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول:ان اول مايحاسب به العبد يوم القيامة من عمله صلاتهٔ ،فان صلحت فقد افلح وانجح وان فسدت فقد خاب وخسرفان انتقص من فريضة شيئًا قال الرب تبارک وتعالى :انظرواهل لعبدى من تطوع فيكمل بهامااانتقص من الفريضة ثم يكون سائرعمله على ذالک (ترمذى ج:۱ص۵۵ باب ماجاء فى اول مايحاسب به العبد يوم القيامة الصلاة)

[۲] الجماعة سنة موكدة لقوله عليه السلام الجماعة من سنن الهدى لايتخلف عنها الامنافق (هداية ج:۱ص:۱۲۱باب الامامة)

[۳] عن تميم الدارى قال: اول مايحاسب به العبد يوم القيامة الصلاة المكتوبة ،فان اتمها والاقيل :انظرواهل له من تطوع ؟ فاكملت الفريضة من تطوعه فان لم تكمل الفريضة ولم يكن له تطوع اخذ بطرفيه فيقذف فى النار (كنزالعمال ج:۸ص:۳كتاب الصلاة ،طبع موسسة الرسالة ،بيروت)

[۴] (والسنة قبل الجمعة اربع وبعدها اربع)امالاربع بعدها فلماروى مسلم عن ابى هريرة قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :اذاصليتم بعد الجمعة فصلوا اربعًا وفى رواية للجماعة الاالبخارى :اذا صلى احدكم الجمعة فليصلى بعدها اربعا واول يدل على الاستحباب والثانى .....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

د جُمعې د رکعتونو تعداد تفصيل او نيت

سوال: مسئله داده چې د جُمعې په لمانځه کې څومره فرض او څومره سنت دي؟ او د دې نيت به څنګه کوو، يعنی د لمانځه وخت کوم وي؟ او کوم رکعتونه چې د جُمعې نه مخکې کيږي د هغو نيت به څنګه کوو؟

جواب: د جُمعې د لمانځه د رکعتونو تفصيل دا دی.

١ څلور سنت ٢ دوه فرض ٣ څلور سنت ۴ دوه سنت

۵ دوه نفل لومړي او وروستي څلور رکعته سنت موکد دي[1] او دوه غير موکد د سنت او نفل له پاره د مطلق لمانځه نيت کافي دی.[2]

په يو وخت د جُمعې او د ماسپښين د ادا کولو حکم

سوال: مولانا صاحب! دا بيان کړئ چې د جُمعې په ورځ جُمعه او ماسپښين دواړه ادا کيږي؟ او دا چې دا دواړه لمونځونه په يو وخت کولی شو؟

جواب: د جُمعې په ورځ د جُمعې لمونځ د سړيو له پاره د ماسپښين قائم مقام دی، له دې وجې هغوی به يوازې جُمعه کوي.د ماسپښين لمونځ به نه کوي[3] په ښځو باندې د جُمعې

...بقيه د تيرمخ]...على الوجوب فقلنابالسنية موكدة جمعا بينهماواماالاربع قبلهافلماتقدم فى سنة الظهر من مواظبته عليه الصلاة والسلام على الاربع بعدالزوال وهويشمل الجمعة ايضًا:ولايفصل بينهاوبين الظهر (وعندابى يوسف)السنة بعدالجمعة (ست) ركعات وهومروى عن على رضى الله عنه والافضل ان يصلى اربعًاثم ركعتين للخروج عن الخلاف (حلبى كبيرص:٣٨٨،٣٨٩فصل فى النوافل طبع سهيل اكيدمى لاهور)•وروى عن على بن ابى طالب انه امران يصلى بعدالجمعة صلى ركعتين ثم اربعًا (ترمذى ج:١ص:٦٩باب فى الصلاة قبل الجمعة وبعدها)

[1] (والسنة قبل الجمعة اربع وبعدها اربع)اماالاربع بعدها فلماروى مسلم عن ابى هريرة قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :اذاصليتم بعد الجمعة فصلوا اربعًا وفى رواية للجماعة الاالبخارى :اذا صلى احدكم الجمعة فليصلى بعدهااربعاواول يدل على الاستحباب والثانى على الوجوب فقلنابالسنية موكدة جمعا بينهماواماالاربع قبلهافلماتقدم فى سنة الظهر من مواظبته عليه الصلاة والسلام على الاربع بعدالزوال وهويشمل الجمعة ايضًا:ولايفصل بينهاوبين الظهر (وعندابى يوسف)السنة بعدالجمعة (ست) ركعات وهومروى عن على رضى الله عنه والافضل ان يصلى اربعًاثم ركعتين للخروج عن الخلاف (حلبى كبير ص:٣٨٩، ٣٨٨ فصل فى النوافل طبع سهيل اكيدمى لاهور) وروى عن على بن ابى طالب انه امران يصلى بعدالجمعة صلى ركعتين ثم اربعًا (ترمذى ج:١ص:٦٩باب فى الصلاة قبل الجمعة وبعدها)_

[2]]ويكفيه مطلق النية للنفل والسنة والتروايح هوالصحيح (عالمگيرى ج:١ص:٦٥ الباب الثالث فى شروط الصلاة)

[3]]ولان اقامة الجمعة مقام الظهر عرف بنص الشرع بشرائط الجمعة (بدائع الصنائع ،كتاب الصلاة الجماعة من شروط الجمعة ج:١ص:٢٦٧طبع ايچ ايم سعيد)• ايضًا:(فرض الوقت هوالظهر،والجمعة بدل عنها) قال: (ومن صلى فى بيته يوم الجمعة الظهر،اجزاه مالم يخرج بعدذالك يريدالجمعة) ..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

لمونځ فرض نه دی[۱]، هغوی ته حکم دی چې هغوی په خپل کور کې یوازې د ماسپښین لمونځ وکړي او که یوه ښځه جومات ته لاړه شي او د جمعې سره د جمعې لمونځ ادا کړي: نو د هغې دا د جمعې لمونځ به هم د ماسپښین قائم مقام شي. خلاصه داچې د جمعې او د ماسپښین د دواړو د ادا کولو حکم نه شته، بلکې چا چې جمعه وکړه د هغه نه د ماسپښین لمونځ ساقط شو[۲]

د جُمعې د لمانځه په تشهد کې یو ځای کیدونکی به د جُمعې لمونځ کوي که د ماسپښین؟

سوال: د جُمعې د لمانځه د دواړو رکعتونو د پوره کیدو نه وروسته که په تشهد کې د امام اقتداء ملاو شي: نو امام سره د سلام اړولو نه وروسته به مقتدي پاتې لمونځ د جُمعې لمونځ کوي (دوه رکعته) یا د ماسپښین (څلور رکعته)؟

جواب: د سلام نه مخکې چې کوم سړی د جُمعې په لمانځه کې شریک شي. هغه به د جُمعې لمونځ پوره کوي د ماسپښین نه.[۳]

د جُمعې لمونځ د کور په بیټهک کې ادا کول

سوال: ایا د جُمعې لمونځ د یو کور په بیټهک کې اداکیدای شي چې د هغه رقبه (۱۰×۱۰) فټ وي؟

جواب: د جامع مسجد نه پرته په نورو ځایونو کې جُمعه کول مکروه دي، خو که هلته هر یو سړي ته د راتلو اجازه وي: نو جُمعه به یې ادا شي.[۴]

...بقیه د تیرمخ]..وذالک لان فرض الوقت عندابی حنیفة وابی یوسف هوالظهروالجمعة بدل منها • والدلیل علی ذلک قول النبی صلی الله علیه وسلم واول وقت الظهر حین تزول الشمس ولم یفرق بین الجمعة وغیره (شرح مختصرالطحاوی ،کتاب الصلاة باب صلاة الجمعة ج:۲ص:۱۴۳طبع دارالسراج ایضًا:المبسوط ج:۲ص:۱۳۲طبع دارالفکر)۔

[۱] اماشروط الوجوب فستة فاولها الذکورة فلاتجب علی المراة (حلبی کبیرص:۵۴۸)ایضًا:لاتجب الجمعة علی مسافرولاعبدولا امراة ......وان صلوا اجزاهم وذالک لماحدثنا......عن النبی صلی الله علیه وسلم قال:اربعة لا جمعة علیهم :المرأة والعبد......الخ (شرح مختصرالطحاوی ج:۲ص:۱۴۱، ۱۴۳باب صلاة الجمعة)۔

[۲] ومن لاجمعة علیه اداهاجازعن فرض الوقت (عالمگیری ج:۱ص:۱۴۵الباب السادس عشرفی صلاة الجمعة) دتفصیل دپاره اوگوری: شرح مختصرالطحاوی ج:۲ص:۱۴۳طبع دارالسراج بیروت)۔

[۳] ومن ادرکهافی التشهداوفی سجودالسهواتم جمعة عندالشیخین رحمهماالله (عالمگیری ج:۱ص:۱۴۹الباب السادس عشرفی صلاة الجمعة)• ایضًا: ومن ادرک الامام فی یوم الجمعة فی التشهد اوفیما سواه صلی وما ادرک معه وقضی مافاته فی قول ابی حنیفة وابی یوسف ......الحجة للقول الاول قول النبی صلی الله علیه وسلم :ماادرکتم فصلوا ومافاتکم فاقضوا ومعلوم ان المراد مافاتکم من صلاة الامام......ویدل علیه ایضًا: اتفاق الجمیع انه لوادرک معه رکعة بنی علی الجمعة (شرح مختصرالطحاوی ج:۲ص:۱۱۸،۱۱۹)۔

[۴] والاذن العام والاداء علی سبیل الشهرة من جملة تلک الخصوصیات فلاتجوزبدونه (حلبی کبیرص:۵۵۸)

که د جمعې لمونځ ملاو نه شي؛ نو په کورکې کول څنګه دي؟

سوال: که له څه وجې د جمعې لمونځ پاتې شي: نو ایا په کور کې یې کولی شو؟

جواب: که په خپل نږدې جومات کې جمعه ملاو نه شي؛ نو کوشش پکار دي چې په بل یو ځای کې جُمعه ملاو شي او که چیرته هم ملاو نه شي؛ نو د ماسپښین څلور رکعته دې وکړي او په جُمعه کې په سست والي باندې دې استغفار وکړي په کورکې یوازې جُمعه نه کیږي.[۱]

کوم ځای کې چې د جُمعې لمونځ نه کیږي، هلته دې د ماسپښین لمونځ وکړل شي

سوال: زما یو دوست په امریکه کې مقیم دی هغه ته دا پریشاني ده چې په کوم ښار کې هغه اوسیږي هلته د جُمعې د خطبې انتظام نه شته او داسې له خطبې پرته د جُمعې لمونځ نه شي ادا کولی؛ نو تاسو ته درخواست دی چې د قرآن او سنت په رڼا کې بیان کړئ چې هغه ته څه کول پکار دي؟ او په داسې حالت کې چې هغه مجبور دی په هغه باندې به د جُمعې د پرېښودو ګناه لازمیږي (او که نه؟) او د لمونځ د پرېښودو کفاره څه ده؟

جواب: که هلته د جُمعې د لمانځه د کولو انتظام نه شته: نو هغه معذور دی. هغه دې د ماسپښین لمونځ ادا کوي[۲]،(ځکه چې هغه د عذر له وجې جُمعه نه اداکوي،له دې وجې په هغه باندې هیڅ کفاره نه شته) خو که څه مسلمانان هم هلته آباد دي؛ نو ټولو ته په یو ځای کیدو باندې د جمعې انتظام کول پکار دي.

صاحب ترتیب دې لومړی د سهار د لمانځه قضاء راوړي بیا دې جُمعه کوي

سوال: زما یودوست وایي چې که دجُمعې په ورځ د سهار لمونځ ونکړل شي؛ نو د جمعې لمونځ هم نه کیږي،دا خبره څومره صحیح ده؟

جواب: ستاسو ملګري چې کومه مسئله ذکر کړې ده هغه د صاحب ترتیب له پاره ده، صاحب ترتیب هغه سړی دی چې د هغه په ذمه باندې د پنځو لمونځونو نه زیات قضاء لمونځونه نه وي[۳]،د داسې سړي له پاره حکم دی چې مثلاً دهغه د سهار لمونځ قضاء شو: نو ترڅو چې د سهار لمونځ ونکړي د ماسپښین او د جمعې لمونځ نه شي کولی، که د سهار لمونځ یې ونکړ او جُمعه یې وکړه وروسته یې د سهار لمونځ وکړ؛ نو جمعه به یې باطله شي او هغه به د

---

[۱] ولایتمکن من اداء الجمعة بنفسه وانما یتمکن من اداء الظهر......الخ (المبسوط لشمس الدین السرخسي ج:۲ص:۲۲طبع دارالفکر بیروت)۔

[۲] قال ابوحنیفة وابویوسف ان فرض الوقت هوالظهرفي حق المعذور.....الخ (بدائع الصنائع ج:۱ص:۲۵٦)

[۳] صاحب الترتیب :من لم تکن علیه الفوائت ستا غیرالوتر غیرضیق الوقت والنسیان (قواعد الفقه ص:٤٤)۔

ماسپښين لمونځ په دويم ځل کوي[1] او کوم سړي چې صاحب ترتيب نه وي هغه که د سهار لمونځ نه وي کړی او جُمعه يې وکړه؛ نو د هغه جمعه صحيح شوه[2] :خو هغه ته قضاء شوي لمونځونه ادا کول پکار دي

د جُمعې په ورځ د خطبې نه مخکې جومات ته د رسيدو ثواب او د خطبې نه په غير حاضرۍ باندې محرومتيا

سوال: ايا د جُمعې د خطبې د اوريدو نه پرته هم د جُمعې لمونځ کيږي؟

جواب: د جُمعې د لمانځه له پاره د خطبې د شروع کيدو نه مخکې جومات ته تلل پکار دي. ځکه په حديث شريف کې راځي چې د جُمعې د حاضرۍ له پاره خاص ملائکې مقررې وي. ځوک چې په لومړي وخت کې راشي د هغوی له پاره د اوښ د قرباني ثواب ليکل کيږي او وروسته راتلونکو ثواب کميږي. تر دې چې کله خطبه شروع شي: نو ملائکې خپلې صحيفې راټولې کړي او په خطبه اوريدو مشغولې شي.[3] له دې نه معلوميږي چې کوم خلک د خطبې د شروع کيدو نه وروسته راځي د هغوی حاضري نه لګيږي کوم سړي چې خطبه نه وي اوريدلې د امام سره خو به لمونځ د هغه هم وشي، خو د جمعې په ورځ د حاضرۍ د لګولو نه هغه محروم شو.

د جُمعې په ورځ باندې په زر راتلونکو او ناوخته راتلونکو کې ځوک غوره دي؟

سوال: د جُمعې په لمانځه کې، ما اکثر خلک ليدلي دي. په هغوی کې ماشومان. ځوانان او بوډاګان تقريبا ټول شامل وي. خو زياتر هغه خلک هم وي کوم چې په دې کوشش کې وي چې ټول په ټول ثواب يوازې ماته حاصل شي، په دې کې زياتره برخه د بوډاګانو خلکو وي؛ نو ما دا ويل چې د جُمعې په لمانځه کې ډير خلک داسې هم وي چې د لمانځه له پاره ډير مخکې لاړ شي او د جُمعې د لمانځه نه پوره فايده اوچتوي او که وکتل شي؛ نو هغوی ته فايده هم کيږي. هغوی نوافل ادا کوي. سنت ادا کوي. خطبه اوري. وغيره اوځينې نور خلک داسې وي کوم

---

[1] لوتذكر الفجرعندخطبة الجمعة يصليها مع ان الصلوة حينئذ مكروه بل فى التتارخانيه انه يصليها عندهما وان خاف فوت الجمعة مع الامام ثم يصلى الظهر(شامى ج:۲ص:٦٧باب قضاء الفوائت مطلب فى تعريف الاعادة)

[2] ويسقط الترتيب عن كثرة الفوائت وهو الصحيح هكذا فى محيط السرخسى وحد الكثرة ان تصير الفوائت ستا بخروج وقت الصلاة السادسة (عالمگيرى ج:۱ص:۱۲۳الباب الحادى عشرفى قضاء الفوائت)_

[3] عن ابى هريرة رضى الله عنه قال :قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :اذا كان يوم الجمعة وقفت الملائكة على باب المسجد يكتبون الاول فالاول ومثل المهجر كمثل الذى يهدى بدنة ثم كالذى يهدى بقرة ثم كبشاثم دجاجة ثم بيضة فاذاخرج الامام طووا صحفهم ويستمعون الذكر.متفق عليه(مشكوة ص۱۲۳باب التنظيف والتكبير،الفصل الاول)

چې عين هغه وخت راشي چې کله امام خطبه ويل شروع کړي او يا خطبه په ختميدو باندې وي او هغوی د پريشانۍ په حالت کې راځي. ايا دا خلک صحيح وي. په صحيح وخت باندې راځي او که په غلط وخت؟ ددوی متعلق څه ويل شوي دي؟ اوس هغه خلک دچا چې ما مخکې ذکر کړي دی دومره زر راځي چې ګېډه اودس يې وکړي. يا يې د کور نه اودس وکړي په يو لاس کې يې پيزار يا چپل اود څنګلو او ګوتونه اوبه بهيدو سره په لمونځ کونکو له پاسه اوړي او تيريږي او په پيزار چپلو کې يې د بهر ګندګي لګيدلې وي. ورسره هغه هم په لمونځ کونکو باندې غورځوي او زموږ مخې ته کيني او يا کوشش کوي چې په څه طريقه ورته د امام صاحب برابر ځای پيدا شي. چې امام صاحب ته د برابر اودريدو ثواب ورته ملاو شي. ايا په دين کې د داسې خلکو له پاره زيات ثواب ليکل شوی دی؟ که د داسې خلکو په باره کې هيڅ نه دي ويل شوي؟

جواب: تاسو ډيره لويې او اهمې مسئلې ته توجه ورکړې ده، د جُمعې د لمانځه له پاره د وختې راتلو رسول اللهﷺ تاکيد فرمايلی دی او د هغه يې ډير فضايل هم بيان کړي دي، جُمعې ته د راتلونکو د حاضرۍ ليکلو له پاره ملائکې مقررې وي او چې کله خطبه شروع شي: نو هغوی خپلې صحيفې بندولو سره په ذکر الهي ليکلو مشغولې شي[1] (ګويا د خطبې شروع کيدو نه وروسته چې کوم خلک راځي د هغوی د نومونو اندراج نه کيږي) د اذان کيدو نه وروسته د جُمعې د تيارۍ نه پرته په يو کار کې د مشغول کيدو ممانعت دی، له دې وجې د آذان نه وروسته فورا مسجد ته راتلل ضروري دي او دې وخت کې کاروبار کول ناجائز دي[2] کوم خلک چې وروسته راځي هغوی ته حکم دی چې وروسته ورته کوم ځای کې د ناستې ځای پيدا شي هم هلته دې کيني، د وړاندې تلو کوشش دې نه کوي، په حديث کې فرمايل شوي دي چې کوم خلک د نورو په څټونو باندې اوښتلو سره د وړاندې تلو کوشش کوي دهغوی د جمعې ثواب باطليږي[3] په حديث کې دي چې رسول اللهﷺ د جُمعې خطبه فرمايله، يو سړی راغی او وړاندې لاړ، رسول اللهﷺ وفرمايل چې : کينه ! تا په راتلو کې ورستوالی وکړ او خلکو ته دې تکليف ورکړ[4] الغرض د جُمعې له پاره مخکې راتلل پکار دي، چې په اطمينان

---

[1] عن ابی هريرة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله عليه وسلم :اذاکان يوم الجمعة وقفت الملائکة علی باب المسجد الاول فالاول....فاذاخرج الامام طووا صفحهم ويستمعون الذکر..الخ (مشکوة ص:١٢٢)

[2] ويجب السعی وترک البيع بالاذان الاول (عالمگيری ج:١ص:١٤٩) ، ايضًا:واذا زالت الشمس يوم الجمعة جلس الامام علی المنبرواذن الموذنون بين يديه ،وامتنع يديه وامتنع الناس من الشراء والبيع ......وذالک لقول الله عزوجل :يآيهاالذين امنوا اذا نودی للصوة من يوم الجمعة فاسعوا الی ذکر الله وذرواالبيع ......الخ (شرح مختصرالطحاوی ج:٢ص:١١٤)

[3] عن عبدالله بن عمرو بن العاص قال:قال:رسول الله صلی الله عليه وسلم ......ومن لغا وتخطی رقاب الناس کانت له وزرًا (الترغيب والترهيب ج:١ص:٢٩٣،٢٩٤ طبع دار الکتب العلمية)

[4] عن ابی الزاهرية قال:کنامع عبدالله بن بسرصاحب النبی صلی الله عليه وسلم..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

سره سنت هم وکړي، د اطمينان خاى هم پيدا شي. وعظ او نصيحت هم واوري د ملائکو په رجسټر کې يې نوم هم وليکل شي او کوم خلک چې ناوخته راشي هغوی دې د خاى په لټون کې وړاندې نه ځي او په لمونځ کونکو له پاسه دې نه اوړي.

ايا د جُمعې د خطبې د اوريدو نه پرته به د جُمعې لمونځ وشي؟

سوال: په اسلام کې دي چې دجمعې لمونځ د خطبې نه پرته ناپوره وي. ستاسو نه دا پوښتنه کول دي چې که له څه وجې نه د جُمعې د خطبې اواز موږ ته نه رارسيږي: نو ايا په دې صورت کې به د خطبې د اوريدو نه پرته لمونځ ادا شي.

جواب: کوم سړى چې د جُمعې په خطبه کې شريک و، خو د امام اواز هغه ته نه رارسيده: نو هغه ته به پوره ثواب ملاويږي. په دې شرط چې د خطبې په دوران کې خاموش وي [1]

د خطبې په وخت کې د التحيات په شکل کيناستل

سوال: دجُمعې دخطبې په وخت ايا دالتحيات په شکل کيناستل او لاسونه تړل ضروري دي؟

جواب: د جُمعې په خطبه کې په يوخاص هيئت باندې کيناستل ضروري نه دي، نه لاسونه تړل ضروري دي. څنګه چې ورته سهولت وي هغه شان دې کيني.[2] خو په پلترى، پرلت، کيناستل مکروه دي.

د جُمعې په اوله خطبه کې لاسونه تړل او په دويمه کې د تشهد په شان کيناستل

سوال: ايا د جمعې په اوله خطبه کې لاسونه تړل او په دويمه خطبه کې د تشهد په شان کيناستل ضروري دي؟

جواب: نه! د خطبې په دوران کې په څه خاص هيئت باندې کيناستل ضروري نه دي، څنګه چې ورته سهولت وي هغه شان دې کيني،[3] خطيب طرف ته دې متوجه وي.[4]

...بقيه د تيرمخ]... يوم الجمعة فجاء رجل يتخطى رقاب الناس يوم الجمعة والنبى صلى الله عليه وسلم يخطب. فقال له النبى صلى الله عليه وسلم :اجلس ! فقد آذيت (ابوداود ج:١ص:١٥٩ كتاب الصلاة باب تخطى رقاب الناس يوم الجمعة)

[1] فى الدرالمختار:بل يجب عليه ان يستمع ويسكت بلا فرق بين قريب وبعيد فى الاصح ،محيط (الدرالمختارمع ردالمحتار ج:١ص:١٥٩)

[2] اذا شهد الرجل عند الخطبة ان شاء جلس محتبياً او متربعاً او كما تيسر، لانه ليس بصلاة عملاً وحقيقة كذا فى المضمرات (عالمگيرى ج١ ص١٤٨، الباب السادس عشر فى صلاة الجمعة)

[3] ايضًا_

[4] قوله بل يجب عليه ان يستمع ظاهره انه يكره الاشتغال بمايفوت السماع..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

د جُمعې په خطبه کې خلکو ته څنګه کیناستل پکار دي؟

سوال: د جُمعې د خطبې دوران کې امام د لږ شان وقفې له پاره کیني، عام ډول موږ ګورو چې خلک د امام د کیناستو نه مخکې د (التحیات) په شکل کیني او لاسونه هم د لمانځه په شان تړي، خو د وقفې نه وروسته یې د قعدې په شان په ګونډو باندې کیني، ایا دا طریقه صحیح ده او که نه؛ نو بیا صحیح طریقه څه ده؟

جواب: دجُمعې دخطبې دوران کې په څه خاص هیئت باندې کیناستل سنت نه دي، څنګه چې ورته اسانه وي هغه شان دې کیني، خو د امام طرف ته دې متوجه وي او په غور دې خطبه اوري.[۱]

د خلکو کوم دستور چې تاسو ذکر کړی دی دا له ځانه جوړشوی دی، په شریعت کې ددې اصل نه شته (ځینې خلک د وقفې دوران کې دعا کوي دا هم یو بدعت دی، له دې نه ځان ساتل پکار دي)[۲]

د جُمعې د خطبې دوران کې په صفونو باندې اوښتل

سوال: د جُمعې د لمانځه نه مخکې خطبه کیږي او د هغه اوریدل لازمي دي او کوم خلک چې وختي راځي هغوی په مخکې صفونو کې کیني، کوم خلک چې وروسته راځي هغه په وروسته صفونو کې کیني دا خبره بالکل صحیح ده، سره له دې ځینې خلک په لومړیو صفونو کې د ناستې ډیر شوق لري او راځي ناوخته او د راتلونکو طریقه څه داسې وي ګویا د هغوی له پاره په مخکې صفونو کې ځای خالي دی، حال دا چې په مخکې صفونو کې هیڅ ځای نه وي، ددې باوجود هغه خلک ناست لمونځ کونکي په لاسونو باندې لیرې کولو سره مخکې صف ته ورسیږي او هلته بالکل ځای نه وي، خو د ناستو لمونځ کونکو مینځ کې لږ شان ځای جوړولو سره کیني، ددې ځای د جوړولو له پاره د صف د دواړو طرفونو تقریبا لمونځ کونکي لږ لږ خوځیږي او دغه شان د ټولو لمونځ کونکو د خطبې اوریدو نه خیال پورته شي؛ نو کوم خلک چې داسې کوي دا صحیح ده او که غلط؟

...بقیه د تیرمخ].. وان لم یکن کلاما وبه صرح القهستانی حیث قال اذا الاستماع فرض کمافی المحیط او واجب کمافی صلاة المسعودیة اوسنة وفیه اشعاربان النوم عندالخطبة مکروه ،الا اذا غلب علیه کما فی الزاهدی (ردالمحتار ج:۲ ص:۱۵۹،مطلب فی شروط وجوب الجمعة)

[۱]]وکذا السنة فی حق القوم ان یستقبلوه بوجوههم لان الاسماع والاستماع واجب للخطبة واذا لایتکامل الابالمقابلة (بدائع الصنائع ج:۱ص:۲۶۳بیان شرائط الجمعة)۔

[۲]] اذا شهد الرجل عند الخطبة ان شاء جلس محتبیا اومتربعا اوکما تیسر لانه لیس بصلاة عملاً وحقیقة ......الخ (عالمگیری ج:۱ص: ۱۴۸الباب السادس عشر فی صلاة الجمعة کذا فی اغلاط العوام ص:۷۰ طبع زمزم پبلشرز)۔

جواب: که په لومړیو صفونو کې ځای وي؛ نو بیا د مخکې تلو اجازه شته. ګني کوم ځای کې چې ورته ځای ملاوشي هلته دې کيني، کوم صورت چې تاسولیکلی دی داسې دخلکو په څټونو باندې اوښتلو سره مخکې تلو باندې د جُمعې ثواب باطل شي، ددې نه ځان ساتل پکار دي.[۱]

د خطبې په دوران کې په ګوتو کې ګوتې ورکولو سره کیناستل منع دي

سوال: یو امام صاحب څو ځله دا وفرمایل چې د خطبې په دوران کې د لاسونو ګوتې په یو بل کې ورکولو سره کیناستل حرام دي، په دین کې د دې قسم پابندیو بنیاد څه دی؟

جواب: په حدیث کې د دې ممانعت راغلی دی، همذا ممانعت ددې پابندي بنیاد دی.[۲]

د جُمعې خطبې په عربي کې ولې ویل کیږي؟

سوال: د جُمعې خطبې پخوانۍ ولې اورول کیږي؟ حال دا چې د رسول اللهﷺ په زمانه کې به په حاضر حالاتو باندې خطبه ورکول کیده، په اردو کې یې ترجمه ولې نه شي کولی چې خلک پوه شي چې په خطبه کې څه لوستل کیږي؟

جواب: په خطبه کې د الله پاک ذکر وي او هغه د اسلام په سرکاري ژبه (عربي) کې ضروري ده[۳]، د خطیب له پاره د هیڅ خاص خطبې پابندي نه شته دعربي دخطبې نه مخکې په حاضر حالاتوباندې تقریرونه کیږي.

له عربي پرته په بله ژبه د جُمعې خطبه

سوال: دلته په ګلستان جوهر (کراچی) کې یو مسجد دی، په دې مسجد کې د جُمعې خطبه په سندهي ژبه ویل کیږي، داسې کیږي چې د جُمعې د خطبې له پاره اذان کیږي، له دې نه وروسته امام صاحب یوه نیمه جمله د عربي ولولي او له هغه نه وروسته په سندهي کې شروع

---

[۱] عن عبدالله بن عمرو قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :يحضر الجمعة ثلاثة نفر،فرجل حضرها بلغوا فذلک حظه منها ورجل حضرها بدعاء فهورجل دعا الله ان شاء اعطاه وان شاء منعه ،ورجل حضرها بانصات وسكوت ولم يتخط رقبة مسلم ولم يوذ احدًا فهى كفارة الى الجمعة التى تليها وزيادة ثلاثة ايام وذلک بان الله يقول:من جآء بالحسنة فله عشر امثالها،رواه ابوداود(مشکوة ص:۱۲۳باب التنظيف والتكبير ،الفصل الثالث)

[۲] ابوثمامة الحناط ان كعب بن عجرة ادركه وهويريد المسجد ادرک احدهما صاحبه قال: فوجدنى وانا مشبک بيدى فنهانى عن ذلک وقال: ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: اذا توضا احدكم فاحسن وضوءه خرج عامدًا الى المسجد فلايشبكن يديه فانه فى الصلاة (باب ماجاء فى الهدى فى المشى الى الصلوة ،سنن ابى داود ج:۱ص ۸۳)۔ وفى حاشيه سنن ابى داود :ان النهى والكرهة انماهى فى حق المصلى وقاصد الصلوة (حاشيه نمبر۸سنن ابى داود ج:۱ص:۸۳)

[۳] فانه لاشک فى ان الخطبة بغير العربية خلاف السنة المتوارثة من النبى صلى الله عليه وسلم والصحابة فيكون مكروها تحريمًا (عمدة الرعاية ج:۱ص۲۰۰تفصيل دپاره اوګورئ : جواهر الفقه ج:۱ص: ۳۵۲ تاليف مفتى اعظم پاکستان حضرت مولانامفتى محمد شفيع رحمه الله طبع مكتبه دارالعلوم كراچى)۔

شي او په دې خطبه کې عجیب قسم خبرې کیږي او څه ناقابل یقین واقعات کوم چې امام صاحب د هغه خطبې په دوران کې بیانوي دا ټوله سلسله د لسو نه پنځلس منټو پورې وي. د خطبې په دوران کې د توقف کولو نه وروسته یو منټ په عربي کې خطبه لولي او بیا د جُمعې جمعه دریږي، قابل احترام مولوي صاحب ته عرض دادی چې ایا داسې خطبه ادا کیږي او که نه؟ بله دا چې عربي زموږ د خوږ نبي ﷺ ژبه ده دا هغه ژبه ده چې په هغه کې قران کریم نازل شوی دی، آخر ددې نه اجتناب ولې؟ قابل احترام مولوي صاحب! دا بیان کړئ چې ایا هغه د جُمعې لمونځونه ادا شوي دي او که نه، کوم چې داسې ادا شوي دي؟ په هر حال ما تر اوسه پورې په خپل ژوند کې داسې په بله ژبه کې خطبه ورکول نه دي لیدلي، امام صاحب څوک منع کولی نه شي، ځکه چې ددې ځای زیاتر آبادي د بې علمه خلکو ده.

جواب: دجمعې دخطبې حکم (د ځینوامورو په اعتبار سره) د لمانځه دی. څنګه چې د لمانځه قراءت د عربي ژبې نه پرته په بله ژبه کې نه شي کیدای، همدغه شان خطبه هم پرته د عربي نه نه شي کیدای.[١] ګویا عربي د اسلام سرکاري ژبه ده، کوم خلک چې په فارسي، اردو او انګریزي یا په بل څه ژبه کې خطبه لولي هغوی غلط کوي، خو څو جملې چې په عربي کې وویل شي د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد د خطبې فرض ادا کیږي؟[٢] له دې وجې د جمعې لمونځ به ادا شي، خو په خطبه کې غیر سرکاري ژبه یوځای کولو والا بې طریقې خبره کولو له وجې ګنهګار دی.

د جُمعې د خطبې شرعي حیثیت

سوال: ایا د جُمعې خطبه لوستل فرض دي؟ او اوریدل یې واجب دي؟ د اخترونو خطبه لوستل سنت دي او اوریدل یې واجب دي؟ ایا دا صحیح ده؟

جواب: هو! د جُمعې خطبه د جُمعې له پاره لازمي شرط دی،[٣] له دې نه پرته جُمعه نه کیږي. د اخترونو خطبه سنت ده،[٤] د دواړو اوریدل واجب دي.[٥]

---

[١] ایضًا_

[٢] فان اقتصر علی ذکر الله جاز عند ابی حنیفة، وقالا لابد من ذکر طویل یسمی الخطبة (هدایة ج:١ص:١٦٩)

[٣] وشرائط فی غیره المصر والجماعة والخطبة ....الخ (فتح القدیر ج:١ص:٤٠٨)

[٤] ویشترط للعید مایشترط للجمعة الا الخطبة کذا فی الخلاصة فانها سنة بعد الصلوة وتجوز الصلاة بدونها (عالمگیری ج:١ص:١٥٠ الباب الرابع عشر فی صلاة العیدین)

[٥] وکل ماحرم فی الصلاة حرم فیها ای فی الخطبة خلاصة وغیرها فیحرم اکل وشرب وکلام ......به یفتی وکذا یجب الاستماع لسائر الخطب کخطبة نکاح وخطبة عید وختم علی المعتمد (الدرالمختار مع الرد المحتار ج:٢ص:١٥٩)

د جمعې خطبه د عربي ژبې نه پرته په بله ژبه کې ورکول یا دا چې د یو سردار یا حاکم تعریف کول

سوال: د جمعې خطبه د عربي ژبې نه پرته په بله ژبه کې ورکول کیدای شي او که نه؟ بله دا چې په خطبه کې د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ د تعریف او توصیف نه پرته د یو سردار یا حاکم تعریف کولی شي؟

جواب: عربي د اسلام سرکاري ژبه ده، له دې وجې د جُمعې او اخترونو خطبه د عربي نه پرته په بله یوه ژبه کې هم جائز نه ده[1] په خطبه کې دا مضامین پکار دي د الله پاک حمد وثناء. په رسول الله ﷺ باندې درود شریف لوستل، د توحید او رسالت شهادت . مسلمانانو ته وعظ او نصیحت، د خلفاء راشدینو او آل او اصحاب رضي الله عنهم ذکر، د نیک سیرت حاکم اسلام او د عامو مسلمانانو سړیو اوښځو له پاره دعا کول. [2]

د جُمعې د خطبې د عربي نه پرته په بله ژبه کې ورکول

سوال: زموږ په علاقه (تربت) کې ځینې خلک دجُمعې خطبه په علاقایي ژبه کې ورکوي. د اذان نه وروسته خطیب تقریر شروع کړي. د تقریر په دوران کې د څه وقفې له پاره کیني. بیا تقریر شروع کړي او په تقریر ختمیدو باندې لمونځ شروع شي، ایا داسې کول صحیح دي؟

جواب: خطبه یوازې د رسول الله ﷺ په ژبه کې کیدل پکار دي. له دې وجې په بلوچي ژبه کې یا مقامي ژبه کې چې کومه لولي. هغه صحیح نه ده. [3]

که د جُمعې خطبه په یادو لوستل ګران وي؛ نو له کتابه دې لولي

سوال: په خطبه کې خطیب اکثر اینښلي یا د هیریدو له وجې داسې غلطي وکړي چې معنا بدله شي؛ نو ایا هغه ته خطبه په کتاب کې کتلو سره ویلو کې څه تردد کیدل پکار دي؟

---

[1] تفصیل دپاره اوګورئ : جواهرالفقه ج:۱ص:۳۵۲فانه لاشک فی ان الخطبة بغیر العربیة خلاف السنة المتوارثة من النبی صلی الله علیه وسلم والصحابة فیکون مکروهاتحریمًا (عمدة الرعایة هامش شرح الوقایة ج:۱ص:۲۰۰)

[2] الخطبة تشتمل علی فرض وسنة فالفرض شیئًا ان الوقت ......والثانی ذکرالله تعالی کذا فی البحرالرائق وکفت تحمیدة اوتهلیلة اوتسبیحة ......واماسننها فخمسة عشر......البداء ة بحمدالله ......الثناء علیه بما هو اهله.....الشهادتان ...... الصلاة علی النبی علیه الصلاة والسلام.....العظة والتذکیر......زیادة الدعاء للمسلمین والمسلمات......وذکر الخلفاء الراشدین والعمین رضوان الله تعالی علیهم اجمعین مستحسن بذالک جری التوارث کذا فی التجنیس ......الخ (عالمگیری ج:۱ص:۱۴۶،الباب السادس عشرفی صلاة الجمعة)

[3] فانه لاشک ان الخطبة بغیر العربیة خلاف السنة المتوارثة من النبی صلی الله علیه وسلم والصحابة فیکون مکروهًا تحریمًا (عمدة الرعایة هامش شرح الوقایة للعلامة عبدالحی اللکنوی ج:۱ص:۲۰۰)

جواب: خطبه دې ښه یاده کړل شي، یا دې کتلو سره ولوستل شي.

که خطبه د ماسپښين نه مخکې شروع شي؛ نو سنت به کله کوي؟

سوال: د جمعې په لمانځه کې اولني څلور رکعته سنت د خطبې دوران کې کيږي؟ ځکه چې خطبه بالکل هغه وخت شروع کيږي چې د ماسپښين اول وخت داخليږي، بلکې اکثر دوه درې منټه مخکې شروع کيږي.

جواب: که اذان د زوال نه وروسته کيده؛ نو د اذان کيدو سره دې سنت شروع کوي. د خطبې شروع کيدو سره به پوره شي او که د وخت نه مخکې اذان او خطبه شروع کيږي؛ نو سنت د جُمعې نه وروسته ادا کوي.[1]

وصلى الله تعالى على خير خلقه واله واصحابه اجمعين

[الحمدلله! دريم جلد ختم شو]

....

[1] اذا خرج الامام فلاصلاة ولاكلام الى تمامها......الخ (شامى ج:۲ص: ۱۵۸)، ايضًا:قال ابوجعفرومن دخل المسجد يوم الجمعة والامام يخطب جلس ولم يركع وذالک لقول الله تعالى :واذا قرى القرآن فاستمعوا له وانصتوا، فروى انها نزلت فى شان الخطبة ،ومن جهة السنة ......قال (اى ابن عمر)سمعت النبى صلى الله عليه وسلم يقول:اذا دخل احدكم المسجدوالامام على المنبر،فلاصلاة له ولا كلام حتى يفرغ الامام ......الخ (شرح مختصرالطحاوى ،لابى بكرالجصاص الرازى ج:۲ص:۱۳۰كتاب الصلاة ،باب صلاة الجمعة طبع دارالبشائر الاسلامية بيروت)۔